دورۂ موقوف علیہ کے طلباء و طالبات کے لیے گراں قدر تحفہ

اَلْاِمْدَادُ الرَّجِیْح

شرح

مِشْکٰوۃُ الْمَصَابِیْح

جلد دوم

تالیف

شیخ الحدیث حضرت مولانا امداد الحق صاحب بشیلوی حفظہ اللہ

ناشر: مدرسہ تبلیغ القرآن والسنۃ
[illegible] صوابی

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

1/A

بسم الله الرحمن الرحيم

(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا)

اصل دین آمد کتاب اللہ معظم داشتن :: پس حدیث مصطفی بر جاں مسلم داشتن

دورہ موقوف علیہ کے طلباء وطالبات کے لئے گراں قدر تحفہ

الامداد الرجيح

شرح

مشكوة المصابيح

يعني دلائل الترجيح لمن درس مشكوة المصابيح



جلد ثاني

تاليف

شيخ القرآن والحديث علامه امدادالحق شيووي حفظه الله

بسم الله الرحمٰن الرحيم

ټول حقوق په حق د مؤلف محفوظ دی

د كتاب نوم : الامداد الرجيح شرح مشكوٰة المصابيح (جلد ثانى)
(يعني دلائل الترجيح لمن درس مشكوٰة المصابيح)

تاليف : شيخ القرآن والحديث علامه امدادالحق شيووي حفظه الله

كمپوزنگ : مفتى عطاء الله نارنجى، صوابى

د چهاپ كال : محرم 1444هـ - اگست 2022ء

تعداد : 1100

ناشر : مدرسه تبليغ القرآن والسنه نارنجى صوابى

رابطه نمبر : 03078301297

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست مندرجات

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

تقريظ

ضرغام المؤحدين، رافع لواء حفاظة الدين المتين وقامع اساس المبتدعين والملحدين، طيب القول والعقيدة ودرة اليتيمة الفريدة فضيلة الشيخ محمد طيب الفنج فيري وبارک الله في اوانه وساعاته

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله منزل الكتاب ، والصلاة والسلام علي من ارسل بالآيات البينات وعلي آله واصحابه ومن تبعهم في العبادات والمعاملات أما بعد

دَ ډيرے مودے داسے زما آرزو وه چه په پښتو ژبه يو حنفي عالم دَ مشكوة المصابيح شرح اوليکي ځکه چه دَ آحاديثو په خدمت کښې د افغاني علماء يو لوے او لوړ مقام دے چه دَ هغے نه مكحول ، نافع ، مقاتل بن حيان ، مقاتل بن سليمان ، عطا بن ميسره ، ابو مسلم خراساني امام ضحاک، مكي بن ابراهيم قتيبه بن سعيد بغلاني ، امام ابوداود ، ملاعلي قاري هروي ، امام ابوحنيفهؒ او داسے نور ډير لوے لوے جبال العلم تير شوے دي،

نن چه ما دَ مولانا امدادالحق صاحب شرح مشكوة په نامه دَ (الامداد الرجيح) اوليده نو ډير زيات خوشحاله شوم او دَ زړه نه دعا کوم چه الله تعالي دے دَ دوي په علم ، عمر ، عمل او قلم کښې نور برکت کړي ، الله تعالي دے دا خدمت دَ دوي دَ رفعت او ترقئ سبب او دَ آخرت دَ نجات ذريعه اوګرځوي، آمين،

احقر محمد طيب طاهري

Maktaba Tul Ishaat.com

تقريظ للعلامة المحدث الفقيه زبدة الأماثل الحبر الماهر والبحر الهامر شيخي المفتي رضاء الحق و اوصله الي غاية الحق

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علي رسوله محمد المجتبي وعلي آله وصحبه نجوم الهدي وعلي الأئمة الأربعة وعلي من بهم اقتدي ، امابعد :

مولانا امدادالحق صاحب دَ شيوے ضلع صوابي يو باصلاحيت عالم دے دجامعه علوم اسلاميه علامه بنوري ټاون كراچي نه فارغ التحصيل دے دَ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په تقليد كلک اولاړ دے او دَ هغو خلقو ترديد او مخ نيوے كوي كوم چه دَ ائمه كرامو دَ تقليد نه انكار كوي او فقه حنفي ته خود ساخته او غلطه وائي او شپه او ورځ دَ احنافو تنقيد جهاد ګنړي ،

په دغه سلسله كښې مولانا امدادالحق صاحب دَ مشكوة المصابيح مفصله شرحه اوليكله او لګيا دے ليكي، ما ددے شرح څه حصه اوكتله په دے شرح كښ مے دَ غير مقلدو په مذهب حنفي باندے اعتراضات او دَ هغے جوابات اوكتل ، دا شرحه په حقيقت كښې دلائل الترجيح لمن درس مشكوة المصابيح ده ، دا دَ غيرمقلدو خلاف دَ مضبوطو دلائلو يو قلعه ده مولانا امدادالحق صاحب ددے نوم "الامدادالرجيح شرح مشكوة المصابيح" ايخے دے،

يو كتب خانے ته لاړو دَ هغے مشر نګران دَ عربو دَ جامعے نه فارغ وو ، او دَ شمس الدين سلفي شاګرد او ډير معتقد وو او غير مقلد وو ، هغه ماله دَ شمس الدين سلفي يو كتاب هم راكړو او ماته ئے برملا دا خبره اوكړه چه زمونږ مقصد مقلدين غيرمقلد كول دي او دَ هغے طريقه مونږ ته مشرانو دا خودلے ده چه مونږ په تبلغي جماعت كښې لاړ شو او چه كوم نوے خلق په تبليغ كښې شامل شي او ديني ذهن ئے جوړ شي نو هغوي ته مونږ اوايو چه ستاسو خو مونځ نه كيږي ځكه چه تاسو پكښې سورة فاتحه نه وائي او ستاسو مونځ دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ مونځ سره موافق نه دے ددے واقعے نه معلومه شوه چه غير مقلد زمونږ دَ عوامو او دَ خواصو په حقله څومره خطرناکے ارادے لري ،

الله تعالي دے دا شرحه مقبوله اوګرځئ او دَ طالبانو او عالمانو دپاره دے دَ علم دَ رنړا مشال اوګرځئ او دَ مصنف او دَ هغوي دَ اکابرو دپاره دے صدقه جاريه اوګرځئ ، وصلي الله علي رسوله محمد وآله واصحابه اجمعين،

رضاءالحق عفاالله شاه منصوري تحصيل صوابي

۲۹ شعبان : ۱۴۴۳ هـــ

Maktaba Tul Ishaat.com

تقريظ

رئيس دارالافتاء جامعة الامام محمد طاهر دارالقرآن فنج فير زينة العلماء ، تقي الأتقياء ، زبدة السلف وبقية الأولياء الشيخ مفتي سراج الدين حفظه الله تعالي،

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله المبتدي بالنعم ورزاق الأمم وصلي الله علي خاتم النبيين وعلي آله وصحبه اجمعين اما بعد :

دَ حضرت شيخ القرآن والحديث علامه محقق العصر مولانا امدادالحق شيووي حفظه الله ورعاه "الامدادالرجيح شرح مشكوة المصابيح" جلد ثاني څه مواضع اوکتل دا شپاړس امتيازات چه ابتدا کښ ذکر شوے دي دَ کتاب دَ فهم دپاره اهم مباحث دي ،

بيا مسح علي الجوربين باندے کما حقه تحقيق او نور مباحث نظر لاندے راغلل انتهائي خوشحال شوم،او دَ دې دَ اخلاص دعاګو يم چه الله دا شرح مقبول او متداول للطلباء والمدرسين اوګرځوي ،او علامه صاحب تحقيقاتو نه مونږ ټول مستفيد او ګرځوي ، او دَ نجات دَ آخرت ذريعه اوګرځوي ،

وانا الاحقر سراج الدين ٤ مارچ ٢٠٢٢

التقريظ لفقيه النفس شيخ التفسير والحديث فخر المسلمين صاحب البيان والقلم الشيخ المفتي محمدمسلم حفظه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم :اما بعد

محترم قارئين صاحبان مشكوة المصابيح دَ آحاديثو مباركو يو مخدوم كتاب دے دَ كوم رخت نه چه ليكلے شوے دے نو ترنن پورے په هر زمانه كښې خدمت شوے دے دَ يو متبحر عالم دَ وينا مطابق ددے كتاب دَ ديرشو (۳۰)نه زياتے شرحے موجودے دي او شرقا او غربا په ټوله دنيا كښې ددهٔ تدريس كيږي دا ددے كتاب په افاديت او مصنف عليه الرحمة په اخلاص دلالت كوي ، شيخ القرآن والحديث مولانا غلام حبيب صاحب رحمة الله به فرمائيل چه مشكوة المصابيح دَ صحاح ستو نچوړ او خلاصه ده هغوي به فرمائيل چه كوم سړے دَ مشكوة المصابيح آحاديث صحيح طريقے سره تدريس كولے شي نو هغه صحاح سته هم تدريس كولے شي او دَ هغے حديثونه حل كولے شي ، شيخ مرحوم په دے الفاظو كښې دير وزن دے ، بلكه يوه عملي تجربه داده كوم طالب علم چه په موقوف عليه كښې مشكوة المصابيح تحقيق سره اوائي نو دته په دوره حديث كښې فهم آحاديث نهايت آسان وي،

قلم دَ تقدير چه ددے كتاب دَ خدمت دپاره دَ كومو شخصياتو نومونه منتخب كړے دي نو په هغے كښې يو محقق دوران دَ توحيد او سنت عظيم داعي زمونږ قدرمند او عزتمند مشر شيخ القرآن والحديث علامه امدادالحق صاحب بارك الله في عمره دے چه هغوي مدت دراز نه ددے كتاب تدريس خدمت كړے او اوس هم ددے كتاب تدريس كښې امتيازي شان سره مصروف دي دَ موقوف عليه مكمل كتابونه تدريس كوي په سوونو طالبان ترے مستفيد شوے دي او اوس هم دغه سلسله آب وتاب سره جاري ده اَللّٰهُمَّ زد فزد

ګرانو لوستونكو خنګه چه شيخ صاحب محترم ته الله تعالي ددے كتاب دَ كامياب تدريس توفيق وركړے دے نو دا رنګ هغوي ته الله تعالي ددے كتاب دَ خائسته شرح ليكلو توفيق هم وركړو چه "الامداد الرجيح" په نوم سره ئے په پښتو ژبه كښې يو قيمتي شرح اوليكله الحمدلله ،

Maktaba Tul Ishaat.com

4/A

راقم الحروف ددے شرحے دَ جلد اول او جلد دوم څه ځایونه مطالعه کړل ماشاءالله بارک الله نهایت محقق او مدلل بحثونه او تشریحاتو باندے مشتمله ده دَ کتاب امتیازي خبري خو مؤلف مدظلهم دَ جلد ثاني په ابتداء کښ څه قدرے لیکلے دي چه هغه یو حقیقت دے زما دَ ناچیز بنده په نظر کښ ددے شرح دَ مشکوۃ یوه غټه خوبي دا ده چه نن زمانه کښ دَ تحقیق په نوم باندے دَ سلفو په کاوشونو باندے چه کوم خلق اوبه اړوي او په خپل زعم باطل کښ یو ګونه دَ اجتهاد دعوے کوي دَ هغوي دَ اصلاح دپاره او دَ هغوي دَ فتنو نه دَ امت دَ بچ کولو دپاره دا یو زبردست کوشش دے ، دَ اهل علم خصوصا دَ مشکوۃ المصابیح دَ طالبانو استاذانو دپاره دا یوه تحفه نایاب ده ،

دَ رب کائنات در کښ سوال دے چه دے شرحے ته قبولیت نصیب کړي او دَ مؤلف دپاره ئے صدقه جاریه اوګرځوي ؛

احقر محمد مسلم نستوي عف الله عنه

جامعه روضة الاسلام نسته چارسده

۱۹ ذوالقعدة ۱٤٤۳ هـ

دَ کتاب انتساب

دَ هغه مجتهدینو او خصوصا دَ امام ابوحنیفهؒ په نوم چه دَ قرآن و سنت دَ سمندر نه دوي خه قیمتي او پرقیدونکے ملغلرے راؤباسلے دي ،او خپل هغه مشائخ او مور پلار چه دَ دوي دَ تولو په دعاګانو خصوصي توجه ، تربیت او دَ دوي دَ عاطفت دَ سوري دَ وجے ددے قابل شوم چه لاس کښ قلم نیسم او ددے بے ربطه کرخو دَ لیکلو حوصله الله رب العزت راکړه،

جذبات شکر : زما عزیز او محترم مولانا مفتي عطاءالله صاحب مهتمم مدرسه تبلیغ القرآن والسنه نارنجي صوابي، دَ کراؤ شکر ګزار یم چه ددے مسودے په تسوید ، تبییض ، کمپوزنګ ، تصحیح ، تقطیع او تخریج کښ دَ هغوي محنت شامل حال دے دَ هغوي په وجه زما دَ کمزورو اوګو نه بوج کښ سپک والے راغلے دے الله دے دَ دوي علم ، عمل ، اخلاص او دیني جزبات ثمرآور کړي او مونږ تول دے دَ تعصب نه بچ کړي،

تعصب کی نگاہوں میں نہ یوسف بھی حسین ٹھہرے   محبت کی نگاہوں میں تو زنگی ماہ جبین ٹھہرے،

دَ کتاب کتلو نه مخکښ ضروري خبرے

الحمد لذي العظمة والكبرياء المنفرد بوجوب الأزلية والبقاء استخلص العلماء الجهابذة لحفظ الشريعة الغراء التي ليلها كنهارها ، والصلاة والسلام علي صفوة الأنبياء صلاة تبلغ الفردوس وتنزله عنه في اعلي الدرجة العلياء هو تبيّن وشيّد أحكامها و إحكامها ، وعلي آله النجباء وصحبته الأتقياء الشرفاء ، اللّهمّ ارحم علي نخبة الفضلاء وعلي الأئمة الفقهاء لاسيما الامام الذي له رأس في استنباط الأحكام فانه مختص بين الأئمة المدونين بكونه من التابعين والعلماء المعتبرين : اما بعد

الحمدلله چه ددے نه مخکښ اول جلد ته الله تعالي دَ قبوليت جامه اغوستولے ده الله دے ورله مقبوليت هم ورکړي ، اول جلد دَ دوه درے مختلف کالونو دَ کيسهونو نه دَ نقل معلوماتو مجموعه ده چه څه لګه غوندے اضافه پرے شوے وه او دا دوئم جلد چه دَ قاري په لاسونو کښ دے يو مستقل دَ تأليف حيثيت لري ،

يو څو امتيازات

(۱): اول جلد کښ دَ آحاديثو ترجمه نه وه شوے ليکن دَ بعض دوستانو په اصرار ددے جلد ټول آحاديث په پښتو روانه ژبه کښ ترجمه شوے دي،

(۲): دَ بعض مشکل ټکو وضاحت او دَ بعض راويانو لږ غوندے وضاحت ته پکښ پام شوے دے دَ ضرورت مطابق دَ راوي دَ توثيق يا دَ تضعيف نشاندهي دَ اسماء الرجال دَ کتابونو په وساطت شوے ده ،

(۳): بعض عربي اوګده عبارات خکه نه دي ترجمه شوے چه دَ کتاب ضخامت کښ ډيره اضافه راتلله او دَ موقوف عليه طالب علم ته ترجمه يا دَ هغے دَ مفهوم نه أخذ څه ګرانه نه ده ،

(٤): کوشش شوے دے چه حواله خپله اوکتلے شي "قلندر هر چه ګويد ديدۀ ګويد" دَ طبعے دَ چهاپ سره دَ صفحاتو دَ نوعيت اختلاف دَ نيوَکے قابله خبره نه ده ليکن زياتے حوالے دَ سترګو دَ نظر دَ لاندے راغلے دي ،

(٥): دَ حنفي مسلک دَ هغے مفتي بها اقوالو دَ بے ځايه متعصبانه اعتراضاتو نه جواب شوے دے چه دَ بعض غير مقلدينو عادت دَ فقه حنفي دَ بدنامولو دپاره نن صبا دَ دنيوي مفاداتو په بناء جوړ شوے دے ،

(٦): دَ مسئلې سره ګران مباحث په دلائلو خائسته کړے شوے دي چه لوستونکي له به قناعت ان شاء الله ورکوي،
(٧): دَ علمائے احناف متداول کتابونو په حواله دَ هغې عبارات دَ اطمينان قلب دپاره ذکر شوے دي،
(٨): دَ مخالف دَ شک يا هغه ته چه دليل ښکاري يا نفس الامري دليل وي دَ هغې دَ وضاحت کوشش شوے دے چه شک، شبه ختم شي دَ ضد او دَ تعصب علاج نشته،
(٩): دَ احنافو دَ ترجيح دپاره دَ دوي دَ مستدلاتو تذکره بغير دَ سب و شتم نه شوے ده،
(١٠): که جواب بعض ځايونو کښې لږ سخت، ترم او تيز محسوسيږي دا دَ رد عمل يو فطري نتيجه ده، انفعالي قوت الله انسان کښې کيخودلے دے "والبادئ أظلم"
(١١): بعض هغه مجمل عبارات چه دَ طالب علم ذهن کښې خلجان پيدا کوي يا بعض فضول اعتراضاتو جوابات چه تقليدا نقل کيږي په خائسته اسلوب شوے دے دے باب کښې خاموشي مداهنت ګڼړم،

نالے بلبل کے سنوں اور ہمہ تن گوش رہوں ہم نوا میں بھی کوئی گل ہوں کہ خاموش رہوں

(١٢): تحقيقي جواباتو سره که ضرورت وو نو الزامي جوابات او دَ مخالف دَ فتاوي او دَ هغوي دَ فقهي عباراتو نه مدد اغستلے شوے دے،
(١٣): دَ خپلو استاذانو او دَ مشائخو دَ تدريسي تجرباتو مغز، خلاصه او دَ هغې دَ نچوړ ذکر شوے دے،
(١٤): بعض آحاديثو کښې که ظاهرا تعارض ښکاري دَ هغې دَ تطبيق او يا دَ ترجيح کوشش دَ محکنو علماؤ دَ عباراتو نه نقل شوے دے يا که دَ نسخ توجيه وي هغه باحواله ذکر شوے ده،
(١٥): کله کله ګران مباحث دَ سوال و جواب شکل کښې آسان شوے دي،
(١٦): بعض ځايونو کښې دَ ائمه اربعه دَ فقه حوالے ذکر دي داسے نور مباحث چه دَ مطالعې سره تعلق ساتي او دا وسعت دَ معلوماتو تر حده ذهن کښې وي چه دَ نورو فقهاؤ مطمع نظر واضح شي،
دَ مشکوة المصابيح دَ درس دوران کښې طالب علم ته دَ خپل صلاحيت ښکاره کولو او دَ هغې زيات خصوصي مواقع معلوميږي، سوانح يوسفي کتاب کښې دي چه مولانايوسف کاندهلوي دَ طالب علمئ زمانه کښې دَ صحابؤ او دَ تابعينو دَ تحقيقاتو کار شروع کړے وو او دغسے تسلسل سره ورستو ددے نه ضخيم جلدونه دَ "حياة الصحابه" دَ عظيم کتاب شکل کښې دنيا ليدلے دي، مولانا مناظر احسن ګيلاني

Maktaba Tul Ishaat.com

په فرمائیل چه دَ حجة الله په تصنیف کښې دَ شاه ولي الله یو مأخذ مشکوة المصابیح هم وو دغه خبره دَ مصفاة الینابیع اول کښې شته ،

دَ کتاب او دَ بعض فني غلطو نه دَ بچ کیدو دعوي غلطه ده انساني کاوش کښې غلطئ یه ضرور وي ، او بیا زما غوندے کم علم والا کس نه ددے صدور به یو نفس الامري حقیقت وي دَ هغے دَ نشاندهئ سره تاکل به چه کله په دلیل وي قبلولے شي ،

یا الله کتاب له محبوبیت ، مقبولیت اومرجعیت ورکړه او دا اخلاصي کوشش خپل دربار کښې قبول او منظور کړئ او موږ دَ خپلو اسلافو ، او دَ سند دَ مشائخو په ترجیحاتو داسے مقام ته اورسوه چه په هغے زموږ زړونه اوبه اوڅکي او دنیوي مفادات دَ هغے مینځ کښې حائله نه شي ځکه نن صبا خپل حق پرست مشران او نیکان دَ تحقیق په نوم دَ خپو لاندے شوے دي ،

الله دے زموږ حفاظت ددے کرشمے نه اوکړي چه :

ناموس چند سالہ اجداد نیک نام   در زیر پائے غرب رہزن نہادہ ایم

شکر دے چه الله ددے کمزوری او عاجز نه دا کار واغستلو :

ان المقادیر اذا ساعدت : : الحقت العاجز بالقادر

څه به ګوګل ، کمپیوټر او لپ ټاپ وي څه به په دغه تحقیق اکتفاء وي ، الله دے مونګ ته دَ اصل کتاب دَ مطالعے اصلي حلاوت نصب کړي

اخوکم فی الله

امدادالحق ادامه الله علي الحق

۲۰۲۲-۲-۲۱

بسم الله الرحمن الرحیم

صاحب دهٔ مشکوة اول دهٔ ایمان مباحث ځکه ذکرکړل چه دهٔ ټولو احکامو دپاره موقوف علیه ایمان دے او عبادت دهٔ علم نتیجه ده دهٔ علم نه بعد عباداتو کښې دهٔ ټولو نه افضل مونځ دے ، ځکه چه مانځه کښې دهٔ روژے یو جهلک دے چه دهٔ خوراک څکاک او شهواتو نه به اجتناب کوے او ستر عورت دپاره جامو اغستلو ضرورت به وي نو مالي قرباني مثلا زکوة دهٔ هغے تمرین پکښې دے او قبلے ته مخ اړولو کښې دهٔ حج سره من وجه مشابهت راځي ، او قیام کښې دهٔ اونے، قعود کښې دهٔ غرونو او دهٔ مار سره مشابهت دهٔ سجدے حالت کښې دے ، ځناور دهٔ رکوع په شکل کښې وي ، ملائک څه همیشه سجده کښې وي څوک په قعود کښې وي ،

کتاب الطهارت

دهٔ کتاب او کتابة لغوي معني جمع ده او اصطلاحي تعریف دهٔ کتاب دادے "طَائِفَةٌمِنْ الْمَسَائِلِ الْفِقْهِيَّةِاُعْتُبِرَتْ مُسْتَقِلَّةً شَمَلَتْ أَنْوَاعًاأَوْلَمْ تَشْمَلْ" دهٔ انواعو نه مراد وضوء غسل ، په اوبو یا خاورے سره طهارت حاصلول دي او چه په انواعو نه وي مشتمل دهٔ هغے نه مراد دا وي چه دهٔ هغے لاندے باب او فصل نه وي لکه کتاب اللقطه ، لقیط یا آباق او دهٔ مفقود مباحث شو ،

طهارت : دهٔ طهارت لغوي معني ده :"النظافة من الدنس ولو معنويا" قرآن کریم کښې دي (إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ)(الاعراف : ۸۲)او (وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ)(المدثر:٤) "اي اخلاقک فطهر" طهارت بفتح الطآء مصدر دے طهور الشئ کښې دهٔ نظافت معني پرته ده او که په کسرے سره وي نو بیا ترے آله مراد ده او په ضمے سره "فضل مايتطهر" ترے مراد دے ،

طهارت په شرع کښې وئیلي کیږي :"حکم یظهر بالمحل الذي تتعلق به الصلاة لاستعمال الماء الطاهر"

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ مالکیه په نزد تعریف

"الطهارة: مصدر طهر بضم الهاء أو فتحها، وهي لغة النظافة والنزاهة من الأدناس، وشرعا صفة حكمية توجب للموصوف بها جواز استباحة الصلاة به"دا هغه حکمي صفت دے چه دَ چا ورسره اتصاف راشي نو دَ مونځ اباحت ثابتوي (اسهل المدارک شرح ارشاد السالک في مذهب امام الأئمه مالک:۱: ۳٤)

او التعريفات للجرجاني کښې دي : په اصطلاح کښې طهارت وائي په مخصوص صفت سره مخصوص اندامونه وينځل"

او علامه ابن حجر هيثمي په فتح الاله کښې داسے تعريف کوي : "فعل مايترتب عليه رفع حدث ولو بالنسبة لبعض آثاره كالتيمم"

او نيل الاوطار کښې دي :"في الشرع صفةحكميةتثبت لموصوفها جوازالصلاة به أوفيه أوله" ليکن دا دمطلق طهارت تعريف دے طهارت زوال النجاسة ته وائي او نظافة دهٔ زوال الأوساخ نوم دے ،

التقريرالرفيع کښې دي : " الطهارة النظافة من كل عيب حسي او معنوي" امام غزالي ليکلي دي چه يو ظاهر دهٔ نجس نه پاکول دي بيا اندامونه دهٔ جرمونو نه بچ ساتل دي او دهٔ خپل سِر پاکي دهٔ "عماسوي الله"

دَ طهارت قسمونه

بدائع الصنائع کښې دي:"فَالطَّهَارَةُ فِي الْأَصْلِ نَوْعَانِ:طَهَارَةٌعَنْ الْحَدَثِ،وَتُسَمَّى طَهَارَةًحُكْمِيَّةً، وَطَهَارَةٌ عَنْ الْخَبَثِ، وَتُسَمَّى طَهَارَةً حَقِيقِيَّةً أَمَّاالطَّهَارَةُ عَنْ الْحَدَثِ فَثَلَاثَةُ أَنْوَاعٍ : الْوُضُوءُ،وَالْغُسْلُ،وَالتَّيَمُّمُ" طهارت عن الحدث ته طهارت حکميه وائي اوطهارت دهٔ خباثت نه ديته طهارت حقيقيه وائي او طهارت عن الحدث درے قسمه دي،اودس ، غسل ، تيمم،

التعليق کښې شيخ الحديث مولانا محمد ادريس کاندهلوي ليکلي دي چه درے قسمه اودس دے،

(۱): فرض: لکه فرض مونځ ، سجده دهٔ تلاوت ، او جنازے له اودس کول،

(۲): واجب : دهٔ بيت الله د طواف کولو دپاره اودس کول،

(۳): مندوب: لکه چه څوک دهٔ چا غيبت اوکړي يا دروغ اوائي اودهٔ مړي دهٔ غسل ورکولو نه پس اودس کول ، (كذا في البحرالرائق) اسلام کښې ددے طهارت ډير اهميت دے چه باطن دهٔ باطني اقذارو او

گندگو نه پاک کړے چه ورته شرکيات وئيلے کيږي ، سيد عبدالعزيز الديريني" کتاب ليکلے دے "کتاب طهارت القلوب والخضوع لعلام الغيوب" دين اسلام کښې دۀ طهارت ډير اهميت دے حديث کښې دي "فَنَظِّفُوا أُرَاهُ قَالَ أَفْنِيَتَكُمْ وَلاَتَشَبَّهُوابِالْيَهُودِ"(سنن الترمذي: رقم الحديث: ۳۰۲۹) چه کله د کور دۀ مخے صاف ساتلوحکم دے نو دننه صحن بيا دۀ کمرے بيا د بدن دپاکوالي اهميت واضح دے بيا ضروري دي چه بدن دۀ گناه نه او زړه دۀ خرابو اخلاقو نه او غلطو عقيدو نه پاک اوساتلے شي ،

الفصل الاول

(۱): "عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَآنِ أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالصَّلَاةُ نُورٌ وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَائِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ تَمْلَآنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ» . لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيحَيْنِ وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَا فِي «الْجَامِعِ» وَلَكِنْ ذَكَرَهَا الدَّارِمِيُّ بدل «سُبْحَانَ الله وَالْحَمْد لله»"

ترجمه : دَ ابو مالک اشعري" نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل پاکي نيم ايمان دے ، او الحمدلله ميزان ډکوي ، او سبحان الله او الحمدلله تله ډکوي او يا ئے اوفرمائيل او ډکوي هر هغه څيز چه دَ اسمانونو او زمکے مينځ کښې دي ، مونځ رڼړا ده او صدقه دليل دے ، او صبر رڼړا ده او قرآن ستا دپاره يا ستا خلاف دليل دے هر انسان صبا کوي نو خرڅوي خپل ځانونه ، نو هغه ځان ازادوي يا ئے هلاکوي ، او په يو روايت کښې دي "لااله الاالله والله اکبر" ډکوي هغه څه چه په مينځ دَ اسمانونو او زمکے کښې دي ، وي دا روايت ما په صحيحينو کښې نه دے موندے او نه په کتاب دَ حميدي کښې او نه په جامع الاصول کښې ، ليکن دارمي دا روايت په ځائے دَ سبحان الله او الحمدلله ذکر کړے دے،

تشريح : (دَ ابومالک اشعري" مختصر پيژندگلو)

Maktaba Tul Ishaat.com

د ابو مالک اشعري خپل نوم کعب بن عاصم دے دۀ سیدنا عمرؓ په خلافت کښ وفات شوے دے امام نووي ئے "اذکار"کښ نوم حارث بن عاصم لیکلے دے دا وهم دے

الطهور شطر الایمان : سوال راځي د مونځ ثواب دۀ ایمان دۀ ثواب په نیمائي نه دے د حدیث څه معني ده؟ جواب دادے : چه دۀ شطر دوه معاني راځي یو "نیم" او دوئم : جزء ، مطلق جزء ترے مراد دے نه نصف حقیقي مطلب دادے چه طهارت دۀ ایمان یوه حصه او برخه ده

(۲): دې ایمان نه مونځ مراد دے ، قرآن کښ دي (وَمَاكَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ) (البقره : ۱۴۳) دلته ئے دا معني شوه الطهور نصف الصلاة "

(۳): ایمان دکبائر او صغائرو دواړو دپاره مکفر ګرځي "الاسلام یهدم ماکان قبله"(مسلم ۱.۷۸:رقم:۳۳٦) او اودس دۀ صغائر مکفر ګرځي نه دۀ غټو ګناهونو ، په دے اعتبار سره نیمه مراد ده ،

(٤): التعلیق الصبیح کښ شیخ محمدادریس کاندهلويؒ لیکلي دي : چه امام توریشتيؒ فرمائي : ایمان کښ دۀ شرک نه پاکي ده لکه اودس چه د حدث نه دۀ پاکئ سبب ګرځي دواړه طهارتونه شو یو باطني او بل ظاهري ، نو دا ظاهري نیم جوړیږي ،

(۵): امام غزاليؒ فرمائي : چه ایمان دۀ دوو حصو نه عبارت دے یو تحلیه او دوئم تخلیه ، په طهارت سره تخلیه حاصلیږي طهارت ئے نیمه شوه ،

(٦): د طهارت اصلي او اعزازي سیوائي ثواب د ایمان د اصلي ثواب نیمه ګرځیدے شي او د اودس موقوف علیه ایمان دے په دے وجه ئے ورته شطر وئیلےدے ،

علامه طیبي الکاشف عن حقائق السنن کښ لیکلي دي "هذا حدیث عظیم واصل من اصول الاسلام ومشتمل علي مهمات قواعد الدین"

والحمدلله تملأ المیزان :ربط دادے چه د ظاهري پاکئ نه پس ئے باطني پاکي ذکرکړه ، تملأ مؤنث ئے د کلمة په تأویل سره راوړو یعني که ددے ثواب له جُثه ورکړے شي میزان به ترے ډک شي ، سبحان الله کښ تنزیه او الحمدلله کښ تنویه افتقار او تفویض دے ،

سوال راځي :چه میزان په الحمدلله ډک شي نو نور ثوابونه عملونه څو هم شته هغه به چرته ځائے کیږي؟ داسے غټه تله به کوم ځائے وي چه ټول عملونه پکښ راشي ، د روژے او دۀ حج ثوابونه به کوم ځائے کښ کیخودلے شي ،

جواب دادے: چه دۀ اجسام لطيفه خپل مينځ کښې تداخل کيږي لکه که کمره کښې که دوه بلپونه وي، نو نور هم زيات پکښې راتلے شي دا رڼړا ئے په يو بل کښې داخليږي ليکن ټهوس اجسامو کښې خپلو کښې تداخل نه وي،

حديث د وزن اعمال دپاره دليل دے اسباب د ثقل دۀ ميزان به په خپل ځائے باندے کلمتان خفيفتان علي اللسان په وضاحت کښې ان شاء الله راشي،

والصلاة نور: صحيح مونځ سره انسان د فحشاء او منکر نه نه بچ شي، دے روشن خيال، روشن قلب، او روشن دماغ شي په دنيا او آخرت کښې ورله دۀ نور سبب اوګرځي قرآن کښې دي: (سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ)(الفتح: ۲۹) او د دوي دۀ آخرت حال ئے قرآن کښې داسے بيان کړے دے: (يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ) (آل عمران: ۱۰۶) او (وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ) (عبس: ۳۸)او (نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ الخ)(التحريم: ۸) پل صراط قبر کښې به ورته رڼړا جوړيږي،دنيا کښې هم دَ کرامت په حيثيت عباد بن بشر او اسيد بن حضير ته تياره لاره کښې دۀ هغوي د عصا نه رڼړا جوړه شوے وه لکه صحيح بخاري کښې دۀ کرامت دغه واقعه موجود ده،

"والصلاة نور" دا تشبيه بليغ ده والصلاة کالنور لکه قرآن کښې راځي (حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا)(الكهف: ۹۶) "يعني کالنار" او دا سبب ګرځي د معارفو د انوارو د پرقا دپاره،

والصدقة برهان: د برهان نه مراد دادے چه صدقه به د ايمان په صدق يو واضح دليل ګرځي، او څنګه چه مناظره او بحث کښې براهين پکاريږي دغسے به دۀ ايمان دا صدقه برهان ګرځي د قيامت په ورځ دغه ايماني نښه به دۀ جنت دۀ تللو سبب ګرځي، او دے ټولو امورو کښې به هله قوت وي چه دۀ شريعت په طريقه وي،

والصبرضياء: دۀ ضياء کامل که حصول ذريعه کامل صبر دے بعض علماء دۀ صبر نه صوم اخلي څکه دا دۀ شهواتو دپاره دۀ ختميدو يا دۀ کميدو سبب ګرځي چه دۀ زړه دۀ رڼړا ئےغټه ذريعه ده، او حديث کښې راځي: "الصوم لي وأنا أجزي به" (بخاري: رقم الحديث: ۷۴۹۲) ضياء کښې دۀ نور په نسبت رڼړا زياته وي قرآن کښې دي: (هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً)(يونس: ۵) او دۀ صبر نه درے واړه قسمونه مراد دي (۱): صبر علي الطاعات (۲): صبر عن المعاصي (۳): صبر في المصائب (إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ)(الزمر: ۱۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

والقرآن حجة لک او عليک:دا اهمه شعبه ئے بالکل آخر کښې راوړه "ختامه مسک" دا قرآن دۀ حق او باطل په مينځ کښې يو کسوټئ ده او حجة الله علي الخلق دے ، په قرآن باندے عمل به تاسره يو حجت وي ، او ترمذي ثاني کښې روايت دے :"من احتج بالقرآن فقد افلح" (سنن الترمذي: رقم الحديث: ٣٤٤٠)

کل الناس يغدو :هر کس چه سحر پاسي گټي که نيک عمل اوکړي نفس به د دوزخ نه آزاد کړي او که بد عمل کوي ځان تباه کوي انسان چه يا دَ بد عمل نه شي عمل نه نشي خالي کيدے ځکه چه فلا محاله ده انسان خو دۀ عمل مشين دے خه عمل ورله فائده مند دے بعض علماء دۀ بيع نه خرڅول اخلي ، ځان په الله خرڅوي ، (إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ)(التوبه : ١١١)او دغسے (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَمَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ)(البقره : ٢٠٧)ځکه علامه هيثمي ليکلي دي : "بائع نفسه من الله تعالي أي ملزمها بطاعة : إِنَّاللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ"ددے جملے ربط مخکښې سره علامه طيبي دا ذکرکوي چه تر اوسه دۀ رشد او دۀ غيّ وضاحت اوشو ليکن سوال راځي چه چه دۀ خلقو به څه حال وي جواب ئے ورکړو چه خلق دوه قسمه دے ،

و في رواية "لااله الاالله والله اکبر : کشف المناهج کښې دي : "قلت وهذه الرواية لم اقف عليها في مسلم انما رواها النسائي في اليوم والليلة من حديث ابي مالک الأشعري " او امام مسلم ددے صحابي نه صرف دوه حديثه راغستے دي يو دا روايت او بل دا چه : " اربع من أمر الجاهلية الخ

ولکن ذکرها الدارمي بدل : يعني التزام دۀ فصل اول هغه خبره په أصول الأحاديث کښې ده نه په هغه صورت کښې چه زيادت په اصل متفرع وي،

(٢):"وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَى إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاة فذلكم الرِّبَاط»"

ترجمه : دَ ابو هريره [رض] روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل: آيا زه تاسو ته اونه ښائم هغه څه چه لرے کوے الله په هغے سره گناهونه او پورته کوي په هغے سره درجات ، صحابو اوفرمائيل آو ولے نه يا

رسول الله ، نو نبي علیه السلام اوفرمائیل اودس پوره کول په وخت دَ تکلیف کښې او دیر قدمونه جماعت ته اغستل او انتظار دَ یو مانځه نه بل مانځه ته کول نو دا رباط دے ،(دَ باډر دَ حفاظت غونډے ثواب لري)

تشریح : "ألا" حرف استفتاح دۀ د روستو عبارت د مؤکد کولو دپاره دے

"یمحو الله به ألخطایا" خطاګانے معاف کوي یا دۀ عمل نامے نه ګناه ختموي ،یمحو بمعني یغفر دے دا دواړه فائدے یو سرې ته حاصلیږي لکه(قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي) (ال عمران:۳۱)سره دۀ الله د محبت او د ګناه دۀ مغفرت فائده شوه ، دۀ عامو انسانانو نه خطایا صدور ته راځي او دۀ پیغمبرانو باره کښې میر سیّد شریف جرجاني حنفي لیکلي دي چه زمونږ په نزد غوره داده چه پیغمبران علیهم السلام دۀ خپل نبوت په زمانه کښې مطلقا دۀ غټ ګناه نه او عمدا دۀ وړوکي ګناه نه معصوم دي (شرح مواقف: ۶۸۹) او امام رازي دۀ محققینو مختار مسلک دا ذکرکړے دے چه دۀ نبوت په زمانه کښې هیڅ ګناه نه کیږي که صغیره وي یا کبیره او دۀ حشویه عقیده داده چه عمدا دۀ هغوي نه ګناه کبیره صادریدل جائز دي (العیاذ بالله)حالانکه دۀ پیغمبرانو بشریت دۀ مادي کثافتونو نه پاک وي او دۀ الله دۀ قرب دۀ کمال دۀ وجے ئے زړونه دۀ الله دۀ انواراتو مرکزوي او مراد دۀ خطایا دۀ آثارو محو ده ، دلته یمحوالله به الخطایا دا دفع دۀ مضرت ده او رفع دۀ درجاتو ته جلب منفعت وائي ،

اسباغ الوضوء علي المکاره : اودس کښې دۀ غسل او مسح عمل پوره په آدابو ، کلماتو صدور ته راشي چه وضوء ئے واقعي وضوء جوړ شي ځکه چه وضوء دۀ وضاءت نه دے په معني دۀ حسن او نظافت راځي او اودس هم اودس کونکے خائسته کوي ،"المکاره" جمع دۀ مکره ده کره مشقت ته وائي

(۱): دۀ ټولو آدابو سره په شوق دۀ مکمل کولو اهتمام کول ، کامل اودس کول ،

(۲): په لیږو اودس له اوبه استعمالول ،

(۳): اطالت غرّه دے ضروري نه ګڼري لیکن احیانا پرے عمل کول کیدے شي،

وکثرة الخطي الي المساجد : چه دۀ مسجد په تلو همیشوالے کوي قدمونه به ئے زیاتیږي که څوک دۀ لرے ځائے نه مسجد ته راشي نو ثواب به ئے دیر وي او دۀ مسلم روایت دے چه بنو سلمه ته ئے فرمائیلے وو "دیارکم تکتب آثارکم" (مسلم: رقم الحدیث:۱۵۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

ليكن يو روايت كښې راځي چه كه كور دهٔ مسجد نه لرې وي دا په شوم يعني بدبختۍ كښې راځي "دا په دوو اعتبارو سره واخله من وجه دا لرې والے كله دهٔ مانځه دهٔ خپل وخت دهٔ تفويت ذريعه جوړيدے شي په دے اعتبار سره خه نه دے ليكن دَ ثواب ډيرولو باعث دے من وجه ورله فضيلت شته ليكن مرقات كښې ملا علي قاري ليكلي دي "لا دلالة في الحديث علي فضل الدار البعيدة عن المسجد"ليكن علامه ابن حجر ليكلے دي:چه في ذاته لرے والے فضيلت نه لري بلكه هغه مشقت برداشت كول چه دهٔ ته دَ لرے نه راتلو كښې موجود دے په هغه اعتبار ئے فضيلت دے ، ځكه قاري صاحبؒ ليكلے دي كه دهٔ چا دهٔ كور نه مسجد ته دوه لارے وي ،مختصر، او اوګده او دے بيا هم په اوګده لار راځي د.ے كښې فضيلت نشته دے ،

وانتظار الصلاة بعد الصلاة : علامه طيبي ليكي : چه دا انتظار عام دے كه په مسجد كښې ئے كوي يا كوركښې او يا په خپل كار كسب كښې مشغول وي ليكن زړه ئے مسجد سره انښتے وي كنكشن ئے برابر وي ، كوم ووه(٧) قسمه خلق چه دهٔ عرش دهٔ سوري دهٔ لاندے به وي يو پكښې هغه دے : "رجل قلبه معلق في المسجد"(المعجم الكبيرللطبراني:رقم الحديث:١٠٥)لكه ظاهري دشمن سره مقابله دهٔ ثوابونو ذريعه ده ، مانځه كښې دهٔ باطني دشمن يعني شيطان سره مقابله ده ځكه چه دا عمل دهٔ شيطان د داخليدو لارے په نفس باندے بندوي نفس او شيطان به دے نه ګمراه كوي ځكه دَ خواهش غلبه به ئے ختمه شي حزب الله كښې به شامل شي ، (أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)(المجادله:٢٢)

فذالكم الرباط : دا جمله ئے درے ځله تكرار كړه (١): دهٔ ډير ترغيب وركولو دپاره يا دوئمه نكته داده چه اول كښې دهٔ ربط خپل اهميت ته او دوئم كښې جهاد بالنفس ته او دريم ځل كښې طلب الحلال ته اشاره ده او دا حصر اضافي دے او تعريف الحرفين الدال علي الحصر ، دے او "رجعنا من الجهاد الأصغر الي الجهاد الأكبر ته پكښې اشاره ده چه صرف معني ئے ثابته ده" او الفاظ نه دي ثابت،

(٣):"عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تخرج من تحت أَظْفَارِه»"

ترجمه : دَ عثمان رضی الله عنه نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي چا چه اودس اوكړو په خائسته شان سره نو اوځي گناهونه دَ هغه دَ هغه دَ بدن تر دے چه دَ هغه دَ نوكونو دَ لاندے هم گناهونه اوځي،

تشريح : دۀ قرآن درے آيتونو كښې دي چه چه دۀ مسلمان نه أحسن عمل مطلوب دے او "فأحسن"كښې "فا" دۀ ترتيب ذكري دپاره ده ،

خرجت خطاياه من جسده : واړه گناهونه ترے مراد دي خطيئة او اثم كښې فرق دے قرآن كښې دي: (وَمَن يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْمًا)(النساء:١١٢)او اثما أي كبيرة، او خطيئة صغيره وي ، علامه آلوسي ليكلي دي : خطيئة اي صغيرة او اثما اي كبيرة او تفسير خازن كښې دي چه كوم گناه دۀ فاعل سره خاص وي لازمي وي دا خطيئة دے او متعدي الي الغير ته "اثم" وائي علامه نسفي مدارك كښې داسے تفسير كوي چه : ذنب بين الرب" يعني حق الله ، دۀ حديث په تشريح كښې ابن حجر هيثمي رحمه الله ليكلي دي "الصغائر المتعلقة بالله" ځكه چه كبائر په توبه معاف كيږي او حق العبد كښې قانون دے، امّا الأداء او الأبراء ، دۀ عبد رضا كه نه وي نه معاف كيږي او دۀ جسد نه دَ اودس اندامونه مراد دي،

حتي تخرج من اظفاره : دۀ نوكونو ذكرئے دۀ قلت دپاره اوكړو دفع دۀ وهم ده چه نوكونه كلك او مضبوط دي ليكن بيا به هم ددے نوكونو نه خطايا وځي ، او شاه صاحب انوركشميري رحمه الله دا خروج په حقيقي معني حمل كوي ليكن په اعتبار دۀ عالم الأمثال ،

متفق عليه : بعض وائي دا صرف دۀ مسلم روايت دے ،

(٤): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ أَوِ الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خرجت من يَدَيْهِ كل خَطِيئَة بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوب) (رَوَاهُ مُسلم)"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دَ ابو هريره ؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي : كله چه ارداه دَ اودس اوكړي مسلمان بنده يا مؤمن او خپل مخ اوينځي نو اوځي دَ هغه دَ مخ نه ټول ګناهونه چه كتلے وي هغهٔ طرف ته په سترګو سره ، سره دَ اوبو يا آخري څاڅكي دَ اوبو سره ، كله چه لاسونه اوينځي نو اووځي دَ هغه دَ لاسونو نه هر هغه ګناه چه لاسونو ئے نيولے وي سره دَ اوبو يا آخري څاڅكي دَ اوبو سره ، او كله چه خپے اوينځي نو اووځي هر هغه ګناه چه تلل ئے كړے وي په هغے سره ، سره دَ اوبو يا سره دَ آخري څاڅكي دَ اوبو نه تر دے چه دے پاک شي دَ ګناهونو نه ،

تشريح : مسلم يا مسلمه مؤمن يا مؤمنه مذكر او مؤنث دواړه مراد دي ، اسلام او ايمان كښې ترادف دے ، چه كله حقيقي ايمان او حُقيقي اسلام مراد واخلے،

فغسل وجهه : فا تفسيريه ده چه كله دهٔ اودس اراده كوے ،

كل خطيئة نظر اليها بعينه : دهٔ سترګو خاص ذكر ئے ځكه اوكړو چه پوزه، خُله او غوږ له خپله وظيفه شته ، او سترګه رائد القلب حسابيږي ، سترګه دهٔ زړه جاسوس دے چه استنشار و استنشاق ، مضمضه او مسح ده يا دفع دهٔ وهم ده چه سترګو ته دننه اوبه نه رسي چه دهٔ هغے اوبه به معاف كيږي يا نه ، التعليق كښې شيخ الحديث مولانا محمدادريس كاندهلوي ليكلے دي چه حجر اسود دهٔ جنت سپين ياقوت دے ليكن دهٔ مشركانو په لاس لګولو او ښكلولو تورشو نو چه ګناه په حجر باندے خپل اثر پريږدي نو په اندامونو ئے هم پريخودلے شي دهٔ هغے ازاله په اودس كيږي ،

"بطشتها يداه"لكه محرمه له لاس واوړل ،

"مشتها"أي مشت بهامنصوب بنزع الخافض دے يا مصدر دے مشت المشيةلكه حديث كښې راځي"واجعله الوارث مني"(مستدرک:رقم الحديث:١٩٤١) أي اجعل الجعل چه كله بسم الله وائي واړه ټول ګناهونه معاف شي او چه نه وي صرف دهٔ هغے اندامونو ګناهونه معاف شي چه كوم ئے وينځلے وي ، يو انتهائي ضعيف روايت دهٔ شيعه ګانو كتاب "فروع كافي:١: ٢٩ كتاب الطهارت" كښې جديث:٢ دے "عدة من اصحابنا عن احمد بن محمد عن الحسين بن سعيد عن ابن ابي حمير عن بعض اصحابنا عن ابي عبدالله عليه السلام قال : اذ سميت في الوضوء طهر جسدک كله واذا لم تسم يطهر من جسدک الا ما مر عليه من الماء" داسے غونډے ضعيف روايت دهٔ باب سنن الوضوء په آخر كښې مشكوة كښې شته په خپل ځائے به ان شاء الله په هغے كلام اوينځ،

(٥): "وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً وَذَلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ» .رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ عثمان رضی الله عنه نه روایت دے فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي کوم یو مسلمان چه حاضر شي فرض مونځ ته او خائسته او په خه شان اودس اوکړي او مونځ کښې خشوع او رکوع اوکړي مګر وي به کفاره ددۀ دپاره دَ مخکښې ګناهونو تر کومے پورے چه کبیره ئے نه وي کړے او دا به همیشه دپاره وي ،

تشریح : "فیحسن وضوءها" چه فرائض او سنن ورله پوره اوکړے

"وخشوعها" دۀ رکن په آدا کولو کښې تواضع ، عاجزي دۀ زړه خشوع او یره وي او دۀ سجدے په ځائے نظر برابر لګوي حافظ ابن کثیر تفسیر کښې دَ دوئمے پارے دَ اولے رکوع تشریح کښې لیکلے دي "قال شريك القاضي: ينظر في حال قيامه إلى موضع سجوده كما قال جمهور الجماعة، لأنه أبلغ في الخضوع وآكد في الخشوع وقد ورد به الحديث، وأما في حال ركوعه فإلى موضع قدميه، وفي حال سجوده إلى موضع أنفه وفي حال قعوده إلى حجره"

یعني دَ اولاړے وخت کښې دَ سجدے ځائے ته او دَ رکوع په حالت کښې دَ قدمونو ځائے ته او په سجده کښې دَ پوزے ځائے ته او په التحیات کښې به جولئ بانے نظر اچوے ، دَ علامه وحیدالزمان کتاب دے كنزل الحقائق من فقه خيرالخلائق دا کتاب دوي دَ نزل الابرار نه پس لیکلے دے ددے په صفحه:۲۱ باندے لیکلے دي والنظر الي موضع سجوده حال قيامه والي ظهر قدميه حال ركوعه والي ارنبة انفه حال سجوده والي منكبيه الايمن والايسر عند تسليمة الاولى والثانية"

یعني دَ اول سلام جار باسلو وخت کښې ښۍ اوګه باندے او دوئم سلام دَ ګرځولو وخت کښې به کسه اوګه باندے نظر غورځوے،

او خپل ټول توجه داسے مونځ ته برابر کړي چه الله ته ئے کامله توجه وي چه ما الله ویني کني کم از کم دا وي چه الله راته ګوري ،

فتوی ہمی دیم کہ نمازش قضا کند	ہر کس کہ در نماز نہ بیند جمال دوست

Maktaba Tul Ishaat.com

خشوع ديته هم وائي چه مانځه کښ به التفات نه کوے دلته ملاعلي قاري روايت نقل کړے دے : چه يو تن مانځه کښ دۀ گيرے يا دۀ جامے سره لوبے کولے پيغمبر عليه السلام اوفرمائيل :"لوخشع قلبه لخشعت جوارحه"ليکن علامه آلوسي دۀ سورة المؤمنون په ابتداء کښ ليکلے دي : چه ددے سند ضعيف دے ، مانځه کښ به په تشي لاس نه ابړدے لکه روستو به ان شاء الله راشي ، سيدنا حذيفه ؓ فرمائي :"ان اول ماتفقدون من دينکم الخشوع وآخر ماتفقدون من دينکم الصلاة" (مستدرک:رقم الحديث:٨٤٤٨ ، تهذيب الاثارللطبري:رقم الحديث:٢٠٠٢)

"ورکوعها"دلته ئے دۀ سجدے ذکر اونۀ کړو ځکه سجده هر امت کښ وه او دا مستقل عبادت نه دے لکه سجده تلاوت او شکر ، يا التقرير الرفيع کښ دي:"لانکار المشرکين عندي"يا دۀ اکثر په اعتبار رکوع يهودي امت کښ نه وه ، ځکه دۀ بي بي مريم په واقعه کښ راځي(يَامَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ)(آل عمران:٤٣) او په رکوع کښ ټول بوجهـ په راکع وي په خلاف دۀ سجدے نۀ ، او دَ بي بي مريم واقعه دَ يهودي ملت سره تعلق نه لري ،

"مالم يؤت کبيرة "دۀ عمل په ځائے ئے ذکر دۀ ايتاء اوکړوځکه فاعل خپله عمل کوي، قرآن کښ دي : (ثُمَّ سُئِلُواالْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا)(الاحزاب:١٤) معني ده "اعطوها من نفسهم" که دا توجيه واغستلے شي چه "ما" دلته شرطيه نه ده بلکه وقتيه ده په معني دۀ "مادام"دے او "الذنوب" کښ استعراق دے يعني په طاعاتو ټول صغائر په هغه وخت کښ معاف کيږي چه دۀ کبيرے گناه نه ئے ځان بچ کړے وي ، ليکن اصل دادے چه مفهوم مخالف له اعتبار نشي ورکولے کيدے ، حديث دۀ بخاري: رقم الحديث:٥٦٤٠ کښ راځي "مَايُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ، وَلاَوَصَبٍ،وَلاَهَمٍّ، وَلاَحُزْنٍ، وَلاَأَذًى، وَلاَغَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلاَّكَفَّرَاللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ " او دا هم دۀ بخاري روايت دے:رقم الحديث:٥٦٦٧ :"مَامِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى مَرَضٌ فَمَاسِوَاهُ إِلاَّحَطَّاللَّهُ سَيِّئَاتِهِ كَمَاتَحُطُّالشَّجَرَةُ وَرَقَهَا"او بخاري رقم:٥٦٤٨ باندےداسے راځي: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى شَوْكَةٌ فَمَافَوْقَهَا إِلاَّ كَفَّرَاللَّهُ بِهَا سَيِّئَاتِهِ كَمَاتَحُطُّالشَّجَرَةُ وَرَقَهَا"معلومه شوه چه دۀ خطايا دۀ معافۍ دپاره مرض ، وصب ، نصب ، هم ، حزن ، غم ، او اذي اسباب دي لکه دۀ اوچے ونے نه پاڼړے دوړيږي دغسے دۀ انسان واړه گناهونه چه حق العبد سره ئے تعلق نه وي معاف کيږي ،

واضحه دے وي : چه په الحق الصريح كښې دلته كوم لس اسباب دۀ گناه دۀ مغفرت ذكر شوے دي ددے پوره وضاحت دپاره مجموع فتاوي: ٤ :٣٠٧، اصل مأخذ ته مراجعه به ډير معلومات ترلاسه كړي ، څلورم سبب أدعية المسلمين فيما بينهم ، او دۀ هغوي الفاظ دي دعاء المؤمنين للمؤمن او دۀ جنازے مونځ شيخ الاسلام په مثال كښې وركړے دے چه جنازه دعا ده ، او پنځم سبب مولانا صاحب ليكلے دي :"ما يعمل للميت من اعمال البر" لكه دۀ مور پلار دپاره صدقه وركول (دۀ مور پلار قيد مجموع فتاوي كښې نشته) دا دوي دۀ خپل تحقيق مطابق اضافه كړے ده شيخ الاسلام خو ليكي : "كالصدقة ونحوها فان هذا ينتفع به بنصوص السنة الصحيحة الصريحة"

ملحوظه : يو مؤلف او مصنف له دا عمومي شعار جوړول پكار دي چه اجمالا يا تفصيلا دۀ مأخذ حواله وركړي لوستونكي به په اسانئ سره مأخذ ته رجوع اوكړي يا دۀ مؤلف ذاتي تحقيق نه به هم مينه وال خبر شي چه كتاب كښې نه وي دا به صدري نكته وي ، داسے مقام كښې علماء ليكي : مثلا: "الكامل في ضعفاء الرجال لابن عدي دارالكتب العلميه بيروت لبنان" چه په مأخذو كښې اصلي مأخذ او مرجع اليه ده ، په دغه كتاب كښې جلد:١صفحه:٢٥٩ باندے دي "عن ابي امامة قال كان يقال سرقة العلم اشد من سرقة المال"

نو دۀ معتزلو استدلال ددے روايت نه باطل دے ځكه چه صرف دۀ عفو جواز نه واجبيږي چه ددۀ بيا په گمان عدم عقاب وي ورنۀ په گناه به زړه ور شي ځكه عمومي وعيدونه او تهديدات دۀ زجر دپاره كافي كرځي او قاضي شمس الدينؒ "التعليق الفصيح" كښې ليكلے دي چه دۀ حديث سياق كښې دۀ مغفرت وعده ده نفس مغفرت پكښې نه دے ذكر او دۀ گناه دۀ مغفرت وعده هغه خائسته اودس كونكي له ده چه اودس ئے خشوع او خضوع سره كړے وي چه كبيره نه كوي او كۀ كبيره ترے صدور ته راغله نو دا وعده دۀ هغه دپاره بيا نشته دا نۀ چه مغفرت ورله دۀ سرنه نشته ، او التقرير الرفيع كښې شيخ الحديث مولانا محمدذكرياؒ ليكي : چه دلته دا معني ده چه كبائر ورته نه معاف كوي او صغائر معاف كيږي ليكن دۀ امام نووي ددے عبارت دا مطلب نه دے چه دۀ گناه مغفرت موقوف دے په كبيره نه كولو باندے بلكه غوره داده چه كه كبائر كوي نو دۀ هغے حكم مسكوت عنه دے ، علامه الباني هداية الرواة الي تخريج آحاديث المشكوة كښې ليكلے دي "واقول لعل عدم تكفير الصلاة الكبائر كان اول الأمر ثم رفعه الله تبارك وتعالي رحمة لعباده بعد ان انزل قوله "إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَاتُنْهَوْنَ "

Maktaba Tul Ishaat.com

(٦): "وَعَنْهُ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ ثَلَاثًا ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرَى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا ثُمَّ الْيُسْرَى ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا ثُمَّ قَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوئِي هَذَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ نَفسه فيهمَا بِشَيْءٍ إِلَّا غفر لَهُ مَا تقدم من ذَنبه» . وَلَفظه لِلْبُخَارِيِّ"

ترجمه : دَ عثمان رضي الله عنه نه نقل دي چه دهٔ اودس اوکړو او راوئے چولے اوبه په خپلو لاسونو باندے درے کرته بيا ئے خوله کنګال کړه بيا ئے پوزه کښې اوبه واچولے يعني پوزه ئے سونړ کړه بيا ئےمخ اوينځو درے کرته بيا ئے ښي لاس اوينځو تر څنګلو پورے درے کرته او بيا ئے ګس لاس اوينځو درے کرته تر څنګلو درے کرته بيا ئے په خپل سر مسح اوکړه بيا ئے ښۀ خپه اوينځله درے کرته او بيا ئے ګسه خپه اوينځله درے کرته بيا ئے اوفرمائيل ما نبي عليه السلام ليدلے وو په داسے اودس باندے بيا ئے اوفرمائيل : څوک چه زما دَ اودس پشان اودس اوکړي او بيا دوه رکعته مونځ اوکړي او مونځ کښې خپل زړه سره خبرے اونه کړي نو دَ هغه مخکښې ګناهونه به معاف کړے شي ،

تشريح : "نحو وضوئي هذا" امام نووي ليکي : چه نحو په ځائے ئے مثل ذکر نه کړوچه داسے اودس چه بالکل دهٔ پيغمبر مثل دے دهٔ چا طاقت کښې نشته ليکن علامه ابن حجر او علامه عيني دا دهٔ امام نووي توجيه څکه رد کوي چه بخاري کښې دهٔ مثل لفظ شته "من توضأ مثل هذا الوضوء"(بخاري :٦٤٣٣)او بيا دلته ملاعلي قاري دهٔ ابن حجر قول رد کړے دے شيخ صاحب التقرير الرفيع کښې ليکلے دي "والعجب من الأكابر تنازعوا بلا ضرورة فان النحو وان كان اعم من لفظ المثل لكن لايجب في مماثلةالمثلية كل جزء " او عامه قاعده دهٔ ابن حجر نخبة الفكر کښې ذکر کړے ده چه تشبيه کښې مساوات من كل الوجوه نه وي

"لايحدث نفسه فيهما" دوو رکعاتوکښې ظاهرا او باطنا الله ته توجه برابرېکار ده دنيوي امور مراد دي چه دا ئے خيال ته رانشي او دغه شان هغه امور چه دهٔ مانځه سره ئے تعلق نه وي ليکن که څه خبره

زړه کښې اوتغرېدله او فورا ئې ترې ډډه اوکړه دۀ ته به فضیلت حاصلیږي او "تعلیق" کښې کاندهلوي صاحب دۀ علامه ابن تیمیه قول نقل کړے دے چه سیدنا عمرؓ به فرمائیل "اني لأجهزجیشي وأنا في الصلاة" چه زه دۀ هغې مونځ ګزار غونډے یم چه دۀ دشمن موجود ګئ کښې صلاة خوف کښې مشغول وي او هغه مأمور دۀ مانځه او دۀ جهاد کولو دواړه وي ، یا دۀ

"لایحدث نفسه" مطلب دادے چه مونځ ریا او طمع له نه کوي کنایه ده دۀ خشوع او خضوع نه

"غفرله" اودس کښې خاص دۀ اودس اندامونه پاکیږي او داسے مونځ سره ټول اندامونه پاک شي یا اودس کښې اثر په ظاهر اوشو او دے مونځ سره ئې اثر په ظاهر او باطن دواړو اوشو ،

مولانا اشرف علي تهانويؒ خپل تفسیر بیان القرآن کښې لیکلي دي "وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ" دۀ لاندے : چه دۀ انسان زړه آزاد ګرځیدو په میدانِ خیال کښې عادت دے او اندامونه دۀ زړه تابع دي چه زړه آزاد وي اندامونه آزاد وي او مانځه کښې پابند وي چه خوراک څکاک او ګرځیدل وغیره به نه وي په دے قیدونو اول زړه مقید شي او دَ قید اثر زړه ته اورسي هغه تنګ شي غرض دۀ زړه دۀ حرکت څکه علاج سکون دے خشوع سره سکون پیدا شي څکه نفس په یو آن کښې دوه طرفه نشي متوجه کیدے دۀ توجه في الصلاة دا یو اهم سبب دے

(٧): "وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مقبل عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ». رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ عقبه بن عامر نه روایت دے چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي کوم مسلمان چه خه شان سره اودس اوکړي او بي دوه رکعته مونځ اوکړي او په زړه او مخ سره هغې ته متوجه وي نو دَ هغه دپاره جنت واجبیږي ،

تشریح : (دَ عقبه بن عامر پیژنګلو)

عقبه بن عامر بن عبس الجهني دۀ اصحابِ صفه نه دے او تیر انداز وو دۀ سیدنا معاویهؓ دۀ طرفه دۀ مصر ګونر وو درے کاله مصر کښې حاکم پاتے شوے دے "قاري" فقیه" دۀ میراث په مسائلو کښې ماهر ، کاتب او شاعر وو مخکنو هغې کسانو کښې وو چه هجرت ئې کړے دے یو دۀ هغې کسانو نه دے

چه قرآن ئې جمع کړے دے ابن یونس وائي چه دۀ دوي مصحف دۀ دوي په خط تر اوسه مصر کښې شته (٦٠) هجرئ ته نزدے وفات شوے دے بعض (٥٨) هجري ذکرکوي لکه اشعه کښې دي دۀ دوي نه جابر بن عباس روایت کوي (نثرالأذهار علي شرح معاني الأثارلشيخي المکرم محمد آمين اورکزي: ١٧٠)

"فيحسن وضوءه" ملاعلي قاري ليکلي دي : چه دۀ اودس مکملات خه خائسته طريقے باندے پوره کړي ،

(٨): "وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ أَوْ فَيُسْبِغُ الْوُضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَفِي رِوَايَةٍ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ". هَكَذَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي صَحِيحِهِ وَالْحُمَيْدِيُّ فِي أَفْرَاد مُسلم وَكَذَا ابْنِ الْأَثِيرِ فِي جَامع الْأُصُول وَذكر الشَّيْخ مُحي الدّينِ النَّوَوِيُّ فِي آخِرِ حَدِيثِ مُسْلِمٍ عَلَى مَا رويناه وَزَاد التِّرْمِذِيّ: «اللهُ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ» وَالْحَدِيثُ الَّذِي رَوَاهُ مُحْيِي السُّنَّةِ فِي الصِّحَاحِ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ» إِلَى آخِرِهِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِي جَامِعِهِ بِعَيْنِهِ إِلَّا كَلِمَةَ «أَشْهَدُ» قَبْلَ «أَن مُحَمَّدًا»"

ترجمه : دَ عمر بن خطاب ؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي : چا چۀ په تاسو کښې اودس اوکړو او هغه انتهاء ته اورسوي ، يا نبي عليه السلام داسے اوفرمائيل چه پوره اودس اوکړي او بيا اووائي اشهد ان لااله الاالله واشهد ان محمدا عبده ورسوله ، نو دَ هغه دپاره دَ جنت دروازے کولاو کړے شي چه اته دي په کومه دروزه چه داخليدل غواړي داخل دے شي ،

او امام ترمذي پکښې زيادت کړے دے اے الله ما دَ توبه کونکو نه اوګرځوے او ما پاکي کونکو نه اوګرځوے ،

او هغه حديث چه امام محي السنه په صحاح كښ ذكر كړے دے "چا چه اودس اوكړو او خه اودس ئے اوكړو" تر آخر پورے امام ترمذي بعينه داسے ذكركړے دے ليكن دَ ان محمدا نه مخكښ ئے دَ اشهد ذكر نه دے كړے ،

تشريح : "او" د راوي شک دے ابلاغ او اسباغ دواړه دۀ كمال نه عبات دے

(باباجي دۀ غرغشتو) -

التقرير الرفيع كښ دي چه ترمذي كښ : اَللّٰهُمَّ اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين ، ذكر چه كوم ځائے راغلے دے دۀ علماؤ اتفاق دے چه دا ورسره يو ځائے كړه ، او نسائي عمل اليوم والليل كښ مرفوعا روايت نقل كړے دے چه : "سبحانک اَللّٰهُمَّ وبحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب اليک" ذكر هم راغلے دے چه دۀ باطن او ظاهر دواړو پاكئ ته پكښ اشاره اوشي ،

او هداية الرواة كښ علامه الباني ليكلي دي چه :"اَللّٰهُمَّ اجعلني من التوابين" صحيح اضافه ده او وي ما ددے په ارواء الغليل كښ تحقيق كړے دے علامه هيثمي شرح كښ ليكي : چه دے كښ صريح دعاء نشته بلكه كله چه گناه اوشي دۀ هغے نه توبه پكار ده ليكن نورے دعاء گانے وئيل لكه بعض فقهاء دۀ هغے ذكر كتابونو كښ كوي اجتناب ترے اولي دے ،

جمع الجوامع جلد:۱ صفحه:۱۰رقم: ۱۳۹،چه دۀ موضوعات او ضعائف دپاره مختص جلد دے هغے كښ دي چه دۀ اودس په هر اندام كښ چه كومے دعاگانے وائي په دے كښ راوي "احمد بن مصعب مروزي" دے، لسان كښ دي چه دا متهم بالوضع دے او بل راوي "مقاتل بن سليمان بن محمد بن فضل" ضعيف دے،

جمع الجوامع جلد:۱۰ صفحه: ۵۲ ، او بل سند كښ "اصرم "باندے كلام دے او گوته اوچتول پكښ په صحيح روايت كښ نشته ،

او الحق الصريح كښ دي چه آسمان ته كتل پكښ په ضعيف روايت كښ شته ،

(۹):"وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «إِن أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غرته فَلْيفْعَل»"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دَ ابوهريره ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : يقينا زما امت به دَ قيامت په ورځ داسے رابللے شي چه پړقيدونکي به وي او روښانه به وي دَ اودس په وجه باندے هغه اندامونه ، نو څوک چه طاقت لري په تاسو کښې چه خپله رڼړا زياته کړي نو داسے دے اوکړي،

تشريح : "غرا" جمع دۀ اغر ده معني ئے ده سپين مخے مراد ترے دۀ اس سپينے خپے دي

دۀ "تحجيل" معني قيد ده او ددے محجلين عطف بيا بناء بر حاليت دے او يا "غرا"په ترکيب کښې دۀ "يدعون" دپاره دوئم مفعول دے په معني دۀ يسمعون چه دوي به په دغه نوم مسمي کيدے شي ځکه چه دۀ اوداسه نښے نخانے به په دوي ښکاري او دا به داسے علامت وي چه ددے امت او دۀ مخکښې اومتونو مينځ کښې به امتياز راولي ،

آيا اودس صرف ددے امت خصوصيت دے؟

اودس دۀ مخکنو امتونوکښې هم وواو دے امت کښې هم دے او دا زليدل او پړقيدل صرف ددے امت خصوصيت دے دۀ علامه ابن تيميه فتاوي جلد:۲۳: صفحه:۱۰۲ کښې دي "فَإِبْرَاهِيمُ وَالنَّبِيُّونَ بَعْدَهُ كَانُوا يَطُوفُونَ بِغَيْرِوُضُوءٍ كَمَا كَانُوا يُصَلُّونَ بِغَيْرِوُضُوءٍ"

او علامه طيبي په الکاشف کښې ليکلے دي چه "هذا وضوءي و وضوء الأنبياء من قبلي" دا روايت ضعيف دے ، او بعض وائي : او که صحيح وي بيا ترے امتونه نه دي مراد صرف پيغمبران ترے مراد دي اودس ئے صرف دۀ پيغمبرانو خصوصيت دے ،

امام نووي ؒ هم دۀ هذا وضوءي روايت متعلق ليکي : چه ضعف ئے معروف دے او بل طرفته بخاري کښې ده جريج او دۀ ساره نه دۀ اودس تذکره شته ،

دغسے حافظ ابن کثير دۀ سوره نمل دۀ يو آيت په وضاحت کښې ليکلے دي چه اصف بن برخيا اودريدو " قام فتوضأ ودعا الله قال مجاهد : يا ذا الجلال والأكرام" معلومه شوه پخوانو امتونو کښې هم اودس وو ليکن دا پړقا ددے امت خصوصيت دے،

علامه قسطلاني ؒ ارشاد الساري : جلد:٤: صفحه:٢٩٦ باندے ليکلے دي "ان الوضوء ليس من خصائص هذه الأمة"

سوال راځي : روايت کښې دي چه دۀ مؤمن کالي به دۀ اندمونو هغه ځائے ته رسي کومو ته چه اوبه رسي،، دۀ مخکښې سره ئے تعارض دے چه اندامونو کښې به دۀ دوي "حليه" وي او که "غره" ؟

ليکن جواب دادے چه غره به په محشر کښ وي او حليه به جنت کښ وي او يا "حليه" هم دغه غره ده ، دۀ حديث وضاحت کښ بعض محدثين "يدعون غرا" په معني دۀ "ينادون" اخلي "ينادون ايهاالغرّ المحجلون"

ليکن التقرير الرفيع کښ دي "والصحيح يُدعون حال کونهم غرّا محجلين " چه دۀ نورو رواياتو سره ئې مطابقت او توافق راشي ،

"فمن استطاع منکم أن يطيل غرته" علامه عيني ليکلے دي چه:ابن السين ، قاضي عياض او ابن بطال دۀ عالمانو اتفاق نقل کړے دے چه دۀ څنګل او ګيټئ نه پورته حصه وينځل مستحب نه دي ،

قدر مستحب کښ دۀ علماؤ اقوال

او بيا په قدر مستحب کښ دۀ علماؤ درے اقوال دي اول قول: تر اوګو دوئم قول : تر متو او درئم قول: اودۀ څنګلو دپاسه

شيخ الحديث دۀ مُنية المصلي په حواله ليکي : " ان لا يتعدي في الزيادة والنقصان في المرات والمواضع"او کبيري کتاب کښ دي چه زيادت هغه وخت به مکروه وي چه کله دۀ اطمينان دۀ حصول دپاره نه وي يا دۀ اطالے په نيت نه وي او دۀ مواضعو زيادت ناجائز دے ،

دۀ مشائخو او ددے عبارتونو نه عدم استحباب معلوميږي ليکن قاضي شوکاني نيل الأوطار کښ ، نووي ، او ابن حجر او طحاوي علي المراقي الفلاح کښ ليکلے دي "ومن الأداب مجاوزة حدود الفروض للغرة" او دۀ اول فريق دليل دا حديث دے "فمن زاد علي هذا او نقص فقد تعدي وظلم" (مصنف ابن ابي شيبه:۱:۸: رقم الحديث:۵۸ ، المعجم الکبيرللطبراني:۲۸۷:۹: رقم الحديث:۱۰۹۲۸) او بل روايت کښ راځي "فقد أساء وتعدي وظلم "(انسائي: ۱:۸۸:رقم الحديث:۱۴۰ ، مسند احمد: رقم الحديث: ۶۶۸۴)

ليکن دلته تعداد دۀ مراتو دۀ سياق نه معلوميږي او شيخ الحديث ليکي چه: الشيخ الأمجد دغسے بذل المجهود کښ ليکلے دي ليکن اشکال دادے : چه دغه روايات په مراتو او حدودو دواړو دلالت کوي څنګه ئے تاسو دۀ يو دپاره منع او دۀ بل دپاره نه؟ ليکن رواياتو کښ جمع داسے ده چه تر"ابط" آدابو کښ نه دے داخل او دغه مطلب دۀ مانعينو به وي ،

علامه طيبي ليکي : تبلغ دۀ يتمکن معني لره متضمن دے ، لکه راتلونکي روايت کښ "تبلغ" راغلے دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(١٠): "وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنَ حَيْثُ يبلغ الْوضُوءِ» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ ابو هريره ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل :په جنت کښ به مؤمن ته کالي يعني زيورات هغے ځائے ته رسي کوم ځائے ته چه دَ اودس اوبه رسي،

تشريح : دَ حديث تشريح مخکښ روايت کښ تيره شوے ده دَ مؤمن دا کالے ددهٔ دپاره اعزاز دے دَ سورة الشعراء آيت : قال لمن حوله الاتستمعون" په تشريح کښ علامه آلوسي ليکلے دي چه دَ فرعون خواص (٥٠٠) کسان وو او دوي به لاسونو ته باهوکان يعني خصوصي بنګړي دَ خائست اچولے وو دَ اودس اوبه ذريعه دَ قيامت دَ ورځے دَ خائست ده،

الفصل الثاني

(١١): "عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْتَقِيمُوا وَلَنْ تُحْصُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ خَيْرَ أَعْمَالِكُمُ الصَّلَاةُ وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ» . رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ"

ترجمه : دَ ثوبان ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل: استقامت باندے اوسئ او چرے به تاسو طاقت اونه شئ لرلے ، يقينا غوره په اعمالو کښ مونځ دے او حفاظت نه کوي دَ اودس مګر مؤمن ،

تشريح : "استقيموا ولن تحصوا"شيخ محمد ادريس کاندهلوي ؒ تعليق کښ ليکي: "چه ددے نه دهٔ حق اتباع مراد ده ،

"ولن تحصوا" الكاشف کښ وائي الأحصاء التحصيل بالعد، عرف کښ ئے خلق شمار کښ استعمالوي کله چه مونږ په کتو شمار کوؤ مقصد ئے مکلفينو له تنبيه ورکول دي چه انسان کمزورے دے او محنت او کوشش کښ ورله اضافه پکار ده يعني پوره استقامت ګران دے ليکن ميروس په خپل وس پر دے ، او دوئم مطلب ئے دا هم کيدے شي چه تاسو ئے شمار هم نشي کولے چه تاسو ته به څومره اجر ميلاويږي يعني په استقامت به تاسو ته په کثرت سره اجر ميلاويږي (التقرير الصبيح)"ان خير اعمالكم الصلاة"وجه ئے داده چه امهات السادات موجود دي لکه قراءت تسبيح ، تحميد ، تهليل ،

تکبير ، امساک عن الشهوات دا دۀ مؤمن دۀ سترګو يخوالے دے ، "ولا يحافظ علي الوضوء" مصداق اوداسه کښې پاتے کيدلو باندے دوام دے (فتح الاله)

(۱۲): "وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ"

ترجمه : دَ ابن عمرؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : چا چه دَ اودس دپاسه اودس اوکړو نو دَ هغه دپاره لس نيکئ ليکلے شي ،

تشريح : "من توضاعلي طهر"هداية الرواة کښې الباني صاحب دۀ ابن حجر قول نقل کړے دےچه امام ترمذي فرمائي: چه سند ئے ضعيف دے عبد الرحمن بن زياد الأفريقي ضعيف دے عن ابي غطيف وهو مجهول ، دۀ حديث نه معلوميږي چه تجديد دۀ اودس مستحب دے ،

علامه هيثمي ليکلي دي : که په اودس دے مونځ نه وي کړے او بيا اودس کوے نو دۀ شوافعو په نزد حرام بلکه مکروه دي ،

الکاشف کښې علامه طيبي ليکلي دي : چه په اول اودس نفل يا فرض مونځ اوکړے هله مستحب دے او التقرير الرفيع کښې دۀ کراهت دپاره عقلي وجه دا ذکر کړے ده چه په اودس کښې دۀ اوبو اسراف منع دے ګويا استحباب په هغے وخت کښې دے چه دۀ اول اودس نه پس ئے داسے کار کړے وي چه هغه يے اودسه نشي کيدے لکه مونځ کول او دۀ جمهورو په نزد قرآن ته ګوتے واوړل ، ارشاد الطالبين کښې آخري مسائل دي په دے کښې دا مسئله ده چه اخون بابا وائي چه پير بابا يو ځل سوچ کولو ما ترے تپوس اوکړو نو اوئے فرمائيل چه اودس پسے مي عبادت اوکړو اوس بيا اودس اوکړم يا نه ئے کوم دے کښې سوچ کوم ، اوليائے کرام ځان دۀ خلاف سنت نه ساتي،

الفصل الثالث

(۱۳): "عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دَ جابرؓ نه روايت دے چه نبي اوفرمائيل : كنجي دَ جنت دپاره مونځ دے او كنجي دَ مونځ دپاره طهارت دے ،

تشريح : "مفتاح الجنة الصلاة" كيدے شي چه درجات دهٔ جنت مراد وي دهٔ هغه چا دليل نشي جوړيدے چه دهٔ مونځ تارک کافر دے دهٔ جنت دپاره اهمه مقدمه مونځ داسے حساب کړه لکه چه اودس دهٔ مونځ مقدمه ده لکه چه بے اودسه مونځ نه کيږي دغسے بے دهٔ مونځ دهٔ اعتقاد نه دهٔ جنت دخول به ګران وي دهٔ جنت تلل محض دهٔ الله په رحمت به کيږي "لن يدخل الجنة احد منكم الا بعمله قالوا ولا انت يا رسول الله قال ولا انا الا أن يتغمدني الله برحمة" او ابن حجرهيثمي اګر چه شافعي دے ليکلے ئے دي : "ليس فيه تصريح لكفر تارک الصلاة کيدے شي چه هغه چابي او کونجي ترے مراد وي چه بے دهٔ عذابه کولاويږي په دے سوال راځي چه جنت ته تلل دهٔ کلمے دهٔ اعتقاد دهٔ وجے وي جواب ئے دادے چه جنت ته به دهٔ کلمے په اعتقاد داخليږي ليکن دهٔ درجاتو دهٔ حصول دپاره مونځ به ضروري وي او دا ئے غټه چابي ده ځکه چه درے څيزونه او شرائط پکښں جمع دي ، دهٔ ځائے ، دهٔ جسم ، او دهٔ کپړو پاکيدل ددے نه علاوه وړے وړے نورے چابۍ شته ،

(١٤): "وَعَن شبيب بن أبي روح عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَقَرَأَ الرُّومَ فَالْتَبَسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ: «مَا بَالُ أَقْوَامٍ يُصَلُّونَ مَعَنَا لَا يُحْسِنُونَ الطَّهُورَ فَإِنَّمَا يلبس علينا الْقُرْآنَ أُولَئِكَ» . رَوَاهُ النَّسَائِيّ"

ترجمه : دَ شبيب بن ابي روح نه روايت دے او هغه نقل کوي په صحابؤ کښں دَ يو صحابي نه چه يقينا نبي عليه السلام دَ سحر مونځ اوکړو او سوره روم ئے پکښں اولوستو نو ګډ وډ شو په هغے کښں نو کله ئے چه مونځ پوره کړو نو اوئے فرمائيل چه خلقو له څه شوے دي چه مونږ سره مونځ کوي چه اودس نه کوي په ښه شان سره يقينا ګډ وډ کړو دغے خلقو قرآن په مونږ باندے،

تشريح : (شبيب بن ابي روح)

ملاعلي قاري ليکي چه يوه نسخه کښں ابن نشته ، جامع الأصول کښں دي ابو روح شبيب بن نعيم دے ، التقرير الرفيع کښں دي چه دهٔ کتابونو دهٔ تتبع نه معلوميږي چه شبيب ابي روح دهٔ لفظ "ابن" نه بغير

دے لیکن دۀ مشکوۃ نسخه مناسبه ده شبیب ابي روح ، دا دۀ نسائي سره موافقه ده ، مرقات کښې دي دۀ اهل حمص نه دے او شامي تابعي دے او دۀ ابوهریره نه روایت کوي او صالح الحدیث دے او مؤلف د دوي اندراج نه په صحابۇ کښې کړے دے نه تابعینو کښې ، دلته صحابي که مجهول دے نقصان نه کوي "الصحابة کلهم عدول"او بعض وائي نوم ئے اغر الغفاري دے نبي کریم صلی الله علیه وسلم په یو رکعات کښې یا په دوو رکعاتونو کښې دۀ صبا مونځ کښې تول یا بعض حصه دۀ سورة الروم اولوستله قراءت کښې په پیغمبر علیه السلام ګډوالے راغے دۀ مانځه نه پس ئے اوفرمائیل دۀ کډ وړ والي وجه داده چه تاسو کښې چا ښکلے او برابر اودس نه دے کړے کیدے شي څوک نو مسلم پکښې موجود وي حدیث دلیل دے چه ادني کله په اعلي اثر واچوي په دے وجه ادني او اعلي چه تول په صفاتو برابر وي هم دغه کمال دے حدیث کښې اشاه ده چه دۀ اودس دۀ سننو او دۀ آدابو خیال ساتل پکار دي ،دا هم دۀ حدیث نه معلومه شوه چه دلته په نبي علیه السلام اثر اوغورزیدو سبق ترے خطا شو دۀ هغه چا به په حال وي چه دۀ هغوي صحبت بدعتیانو سره وي او ناسته پاسته ئے دۀ خواهش پرستو سره وي ، دۀ مبتدعینو دۀ ،مجلس نه احتراز پکار دے ، ځکه دۀ صالحینو دۀ مجلس برکات دي "هم القوم لایشقي جلیسهم"

په دکان دۀ عطاري سرے عطار شي	په اور سوزي چه ملګرے دۀ لوهار شي

دۀ روایت باره کښې هدایة الرواة کښې علامه الباني لیکلي دي چه ددے روایت اسامي ثقات رجال دي لیکن دۀ عبدالملک بن عمیر حافظه لږه خرابه وه او ابن معین وائي مخلوط دے او ابن حجر وائي کله تدلیس کوي او بیا ما دے قوي کړو په نوے ایډیشن کښې (صفة الصلاة :۱۱۰)او دغسے ئے تخریج المشکوة کښې هم لیکلے دي بیا لیکي :"اقول : عبد الملک بن عمیر ثقة مخرج له في الصحیحین وغیرهما" والحدیث رواه الأمام احمد وقال ابن کثیر في تفسیره :۳: ٤٤١، هذا الاسناد حسن ومتنه حسن "

(۱۵):"وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ قَالَ: عَدَّهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَدِي أَوْ فِي يَدِهِ قَالَ: «التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ يَمْلَؤُهُ وَالتَّكْبِيرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ وَالطُّهُورُ نِصْفُ الْإِيمَانِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دَ قبيله بنو سليم دَ يو سړي نه روايت دے اوئے فرمائيل : اوشمارل نبي عليه السلام زما په لاس باندے يا په خپل لاس باندے ، او اوئے فرمائيل تسبيح نيم ميزان دے (يعني سبحان الله) او الحمدلله پوره ميزان ډکوي او الله اكبر هغه څه ډکوي چه په مينځ دَ آسمانونو او دَ زمکه کښې دي او روژه نيم صبر دے او پاکي نيم ايمان دے ،

تشريح : "والصوم نصف الصبر" : وجه داده چه صبر به يا په طاعت وي يا به دۀ معصيت نه وي دوئم ته روژه واڼي ځکه نيم صبر شو ،او په روژه کښې صبر دۀ بطن دۀ معصيت نه وي ليکن دۀ ژبے هغه پاتے ږي ځکه روژه نيم صبر دے دغسے په التقرير الرفيع کښې دي ليکن علامه هيثمي ئے وجه ذکر کوي چه روژه به يا دۀ باطن يا دۀ ظاهر په اعتبار سره وي او روژه کښې دۀ باطن حفاظت ئے چه کله اوکړودغه نيمه شوه ،

(١٦):"عَن عبد الله الصنَابِحِي قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ فَمَضْمَضَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ فِيهِ وَإِذَا اسْتَنْثَرَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ أَنفه فَإِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ وَجْهِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ فَإِذَا غسل يَدَيْهِ خرجت الْخَطَايَا مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ يَدَيْهِ فَإِذَا مَسَحَ بِرَأْسِهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رَأْسِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ أُذُنَيْهِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رِجْلَيْهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ رِجْلَيْهِ ثُمَّ كَانَ مَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً لَهُ» . رَوَاهُ مَالك وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه : دَ عبدالله بن صنابحي روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : کله چه بنده مؤمن دَ اودس اراده اوکړي او خوله کښې اوبه واچوي نو گناهونه دَ هغه دَ خولے نه راوځي او کله چه پوزه کښې اوبه واچوي او پوزه سونړ کړي نو گناهونه دَ دۀ دَ خولے نه اووځي او کله چه مخ اووينځي نو ددۀ دَ مخ نه گناهونه اووځي تر دے چه راوځي دَ سترګو دَ بڼړو دَ لاندے نه کله چه لاس اوينځي نو ددۀ دَ لاس نه گناهونه راوځي تر دے چه دَ لاسو دَ نوکونو نه هم راوځي او کله چه دَ سر مسح اوکړي نو ددۀ دَ سر نه گناهونه راوځي تر دے چه ددۀ دَ غوږونو نه هم راوځي او کله چه خپے اوينځي نو اووځي گناهونه ددۀ

دَ خپو نه تر دے چه دده دَ خپے دَ نوکونو نه هم اوځي او بيا جماعت ته تلل او دَ دهٔ دَ مونځ دداٰ په اعمالوکښې زياتے دے ،

تشريح : (عبدالله الصنابحي)

صحيح ابو عبدالله الصنابحي دے چه نوم ئے عبدالرحمن دے دهٔ صنابحي په نوم درے نومونه راځي (١): عبدالله الصنابحي (٢): صنابح يا نسبة پکښې نشته دهٔ ته کله صنابحي وائي دادواړه صحابه دي (٣): عبدا الرحمن الصنابحي دے او دا تابعي دے مرقاة کښې دي چه دا صنابح بن ظاهر دهٔ بنو مراد قبيلے سره تعلق ساتي دهٔ نبي عليه السلام دهٔ وفات نه مخکښې دهٔ هجرت په غرض روان شو چه کله جحفه ته اورسيدو دوي ته دهٔ نبي عليه السلام دهٔ وفات خبر راوسيدو صحيح داده چه ابو عبدالله تابعي دے مصنف له پکار وو چه روايت ئے مرسل خودلے وو ،

"واذا استنثر"اول ئے مضمضه ذکرکړه چه په دے کښې دهٔ اوبو راوباسل پکار دي او استنشاق کښې انتثار مقصود دے چه عادة هغه په استنشاق سره نه راځي،

"خرجت الخطايا من رأسه حتي تخرج من أذنيه" دے کښې دهٔ امام ابوحنيفه دليل دے چه غوږونه په مسح کښې دهٔ سر نه حسابيږي نوے اوبه ورله ضروري نه دي لکه چه امام شافعي فرمائي : دهٔ سر دهٔ مسح په پاتے اوبو ئے هم مسح جائز ده ،" نافلة له " يعني دهٔ رفع درجات سبب به وي او دا دهٔ فضيلت سبب دے لکه چه قرآن کښې دے "نافلة لک" يا "ويعقوب نافلة"

(١٧): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم أَتَى الْمَقْبَرَةَ فَقَالَ «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا قَالُوا أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ أَنْتُمْ أَصْحَابِي وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا بَعْدُ فَقَالُوا كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ وَأَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ» . رَوَاهُ مُسلم"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دَ ابو هريره ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام يو ځل مقبرے ته راغے او اوئے فرمائيل السلام عليکم ، په تاسو دے سلام وي اے دَ مؤمنانو تولکيه او يقينا مونږه که الله اوغواړي نو مونږه تاسو سره يوځائے کيدونکي يو او زه اميد ساتم چه مونږ به خپل رونړه اوينو ، صحابؤ اوئيل اے دَ الله رسوله آيا مونږه نه يو ستاسو رونړه نبي عليه السلام اوفرمائيل تاسو زما ملکري ئے او زما رونړه هغه دي چه لا نه دي راغلے ، صحابؤ اوفرمائيل اے دَ الله ارسوله چه لا نه دي راغلے ستا دَ امت نه نو څنګه به ئے پيژنئ نبي عليه السلام اوفرمائيل : ماله خبر راکړئ که يو سړي سره سپين تندي او سپين لاسونو والا اسونه وي او د هغه دَ تورو اسونو سره يو ځائے شوے وي نو آيا هغه به خپل اسونه نه پيژني نو صحابؤ اوفرمائيل ولے نه يا رسول الله نبي عليه السلام اوفرمائيل هغوي به راځي سپين مخ او سپين لاسو خپو سره ، او زه به دَ حوض کوثر سره دَ هغوي دپاره يم ،

تشريح : دے حديث کښ په دے دلالت شته چه زائر پيژني او يا دۀ کلام ادراک کولے شي او آواز ئے اوري ، دۀ سلام دولس قسمه دي دا دۀ دعاء سلام دے او ندا کښ اوريدو سره ملازمه نشته ،

"ان شاء الله" علامه خطابي وائي : دا دۀ تحسين الکلام دپاره وائي يا شک ديکښ دے چه دغه خاص مري او خاصه مقبره به زما دپاره برابر شي يا نۀ، يا "ان" بمعني "اذ" دے ملاعلي قاري ليکي "والأظهر أنه وارد علي سبيل التبرک کمافي قوله تعالي : لتدخلن المسجد الحرام ان شاءالله آمنين"

"وددت انا قد رأينا أخواننا"شاه اسماعيل شهيد باندے معاندين اهل بدعت اعتراض کوي چه نبي عليه السلام ته ئے رور وئيلے دے نبي عليه السلام خپله صحابه او نور اُمتيانو ته رور وئيلے دے" سيدنا عمرؓ ته ئے وئيلے وو "يا أخي لاتنسنا في دعائک انتم اصحابي " تاسو کښ دۀ اخوت نه علاوه بل اهم او غوره صفت دۀ صحابيت موجود دے ، دۀ معاويه رضي الله عنه شخصيت په ځوچنده دۀ عمربن عبدالعزيز نه دۀ صحابيت په وجه غوره دے ،

"بين ظهري" ظهر مقحم دے ، "دُهم بُهم" جمع دا دۀ دهم ده ، تور ته وائي او دهمة تور والي ته وائي ملاعلي قاري ليکي: بُهم هغے خيز ته وائي چه دغے رنګ سره پکښ بل رنګ نه وي ګډ شوے يعني تک تور،

6/A

(۱۸): "عَنْ أَبِي الدَّرْدَاء قَالَ: قَالَ رَسُولُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ بِالسُّجُودِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ أَنْ يرفع رَأسه فَأنظر إِلَى بَيْنَ يَدِي فَأَعْرِفُ أُمَّتِي مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ وَمِنْ خَلْفِي مِثْلُ ذَلِكَ وَعَنْ يَمِينِي مِثْل ذَلِك وَعَن شِمَالِي مثل ذَلِك ". فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تَعْرِفُ أُمَّتَكَ مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ فِيمَا بَيْنَ نُوحٍ إِلَى أُمَّتِكَ؟ قَالَ: «هُمْ غُرٌّ مُحَجَّلُونَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ لَيْسَ أَحَدٌ كَذَلِكَ غَيْرَهُمْ وَأَعْرِفُهُمْ أَنَّهُمْ يُؤْتونَ كتبهمْ بأيمانهم وأعرفهم يسْعَى بَين أَيْديهم ذُرِّيتهمْ». رَوَاهُ أَحْمد"

ترجمه : دَ ابو درداء ؓ نه روایت دے چه نبي علیه السلام اوفرمائیل: زه اول یم دَ هغه چا نه چه حکم به اوکړي شي هغه ته دَ سجدے دَ قیامت په ورځ او زه به اول دَ هغه چا نه یم چه حکم به اوکړي شي هغه ته دَ سجدے نه دَ سر پورته کولو ، نو زه به خپلے مخے ته ګورم او زه به دَ امتونو مینځ کښې خپل امت پیژنم او بیا به زه روستو طرف ته او ښي طرف ته او ګس طرف ته هم داسے ګورم یو سړي ورته اووئیل یا رسول الله څنګه به تاسو خپل اومت پیژنئ دَ امتونو مینځ دَ نوح علیه السلام نه تر خپل امت پورے نبي علیه السلام اوفرمائیل: زما امت به دَ اودس دَ اثر دَ وجے مخونه سپین او تندي سپین او لاس او خپے سپین وي ، ددے امت نه سیوا دَ بل امت دا نښه به نه وي او زه به پیژنم دوي چه دوي ته به عملنامے په ښي لاس ورکولے شي ، او پیژنم به دوي لره په دے چه دَ دوي اولاد به دَ دوي مخے ته منډے وهي ،

تشریح : "فیما بین نوح" نوح اول رسول او ابوالبشر ثاني دے ټول خلق د دوي دۀ اولاد حام، سام ، یافث نه خواره شوے دے (وَجَعَلْنَاذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ) (صافات:۷۷) ځکه ئے دۀ دوي ذکر اوکړو ،

"لیس احد کذالک عندهم" دلیل ددے خبرے دے چه"غره" ددے اُمت خصوصیت دے ،

"أنهم يؤتون كتبهم بأيمانهم" ظاهره دا ده چه دۀ هر امت نیکانو له به عمل نامه په ښي لاس کښې میلاویږي ، او ابن حجر وائي چه دده دے اُمت خصوصیت په ظاهرکښې معلومیږي لیکن کیدے شي چه خصوصیت ئے دا وي چه نورو اُمتونو نه به ورته اول میلاویږي یا به ددے اُمت دۀ عمل نامو نور دۀ نورو اُمتونو نه زیات وي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

باب ما يوجب الوضوء

الفصل الاول :

(١): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ»"

ترجمه : دَ ابو هريرهؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل نه قبليږي مونځ دَ هغه چا چه بے اودسه ئے تر دے چه اودس اوکړي ،

تشريح : ددے نه نواقض الوضوء مراد دي او ددے نه وجوب الاداء مراد دي ځکه اصل الوجوب دۀ دخول وقت سره تعلق ساتي او طهارت په دخول وقت سره نه واجب کيږي بلکه چه کله مانځه ته دۀ اودريدو اراده اوکړي هغه وخت کښې به واجب وي او اصل واجبونکے الله دے دا خو صرف اسباب دي ، بعض نواقض هغه دي چه دۀ بدن نه اوځي دوئم قسم هغه چه بدن کښې داخليدونکے څيزونه وي او درئم قسم انساني احوال ،

دۀ بدن نه وتونکي دوه قسمه څيزونه دي واړه بول او غټ اودس ماتے چه معتاد امور دي او دوئم دۀ سبيلين نه علاوه دۀ بدن د څه حصے زخم وغيره نه وتونکي مواد دا خلاف عادت څيزونه دي چه دۀ زخم نه وينه ، پيپ ، يا چينجے وغيره اوتلو ، کوم چه دوئم قسم دے چه بدن ته داخليږي دا يو هغه صورت دے چه مريض حقنه کوي چه دۀ دبر ذريعه دوائي دننه کوي او بل صورت دادے چه په اوړبوخ شوے خوراک اوکړي او درئم قسم انساني احوال دي ددے هم دوه قسمه دي په طريقے دۀ عادت لکه اوده کيدل او خلاف عادت لکه داسے مونځ چه هغه ذات رکوع وسجود وي بالغ انسان پکښې په زوره په برق برق اوخاندي ، بعض پکښې اتفاقي دي لکه وروکے او غټ اودس ماتے او بعض پکښې دۀ أئمه په نزد اختلافي دي ، لکه دۀ اوښ غوښه خوړل يا مس ذکر شو دغسے دۀ بدن نه وينه وتل ، دے باب کښې اهم مباحث دغه دي ، حجة الله کښې شاه صاحب موجبات الوضوء بحث کښې صفحه:١٧٦ باندے په دريو درجاتو تقسيم کړے دے

(١): جمهور صحابه په هغے متفق دي لکه بول او غائط ، هوا اومذي ،

(٢): فقهاء صحابه او تابعين او سلف پکښې اختلاف کوي لکه مس ذکر ،

(۳): دۀ حديث دۀ لفظ دۀ وجې شبه راغلے ده دے ته فقهاء، صحابه او تابعين او خلفاء روستو منسوخ وائي لکه اودس دَ "ممامسته النار" نه

دے حديث کښې دي چه بے اودسه مونځ نه کيږي که يو کس قصدا، تذليلا، تحقيرا او اهانةً بے اودسه مونځ اوکړي کافر کيږي ځکه چه دۀ د شرع خلاف اعتقاد لرلے دے او که اهانت او تذليل ئې مقصد نه وي نو فقهاء حتي الوسع ددۀ په کفر کښې احتياط کوي، امام نووي ليکلي دي چه : "ولو صلي محدثا معتمدا بلا عذر أثم ولا يكفر عندنا وعند الجماهير وحكي عن ابي حنيفة أنه يكفر لتلاعبه ودليلنا أن الكفر للاعتقاد وهذاالمصلي اعتقاده صحيح" (شرح النووي علي مسلم :۳:۱۰۳ : باب وجوب الطهارة للصلاة)

ليکن درمختار کښې دي چه دے کښې اختلاف دے ليکن قطعيت سره ديته مذهب حنفي وئيل صحيح نه دي بيا دا وئيل چه دۀ کفر تعلق دۀ زړه اواعتقاد سره وي دا هم محل نظر دے ځکه چه هر ځائے داسے نه وي بلکه بعض اعمال دۀ جحود قلب قرينه جوړه شي مثلا يو کس په ژبه دۀ توحيد او رسالت نه انکار کوي نو مفتي به دۀ کفر فتوي په هغه لګوي ځکه چه په ژبه وئيل دَجحودقلب قرينه ده لکه شرح عقائد کښې دي "ولا نزاع في أن من المعاصي ما جعله الشارع امارة للتكذيب وعلم كونه كذالک بالادلة الشرعية كسجود للصنم والقاء المصحف في القاذورات والتلفظ بكلمات الكفرونحو ذالک مما يثبت بالأدلة أنه كفر" دا علامات دۀ کفر دي اګر چه انکار قلب ئې معلوم نه دے ،دا اعتراض دفع شو چه دۀ کفر دارومدار خو په عقيده وي نه په عمل نو دۀ بے اودسه مونځ دۀ عمل اثر په اعتقاد څنګه اوغورزيدوچه کافر ورته وئيلے کيږي (معارف ترمذي)

(۲): "وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ». رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ ابن عمرؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : چه نه کيږي مونځ دَ بے اودسه او نه خيرات دَ حرام مال نه،

تشريح : "لاتقبل"ابن حجر هيثمي ليکي : اي لا يصح صلاته، دۀ نه قبليدو په مصداق نفي دۀ صحت وي دلته دا مراد دے او کله ئې معني نفي دۀ ثواب وي لکه "من اتي عرافا لم تقبل له صلاة اربعين يوما"يو

Maktaba Tul Ishaat.com

قبوليت په دے معني وي چه يو څيز له څومره ارکان او شرائط ضروري وي هغه ټول موجود وي دامرادف دۀ صحت وي لکه "لاتقبل صلاة حائض الابخمار"

(۲): کون شئ يترتب عليه وقوعه عندالله موقع الرضا لکه "لاتقبل صلاة العبد الآبق " دلته اجماع ده چه اوله معني مراد ده ، دۀ امام شعبي مسلک دادے چه دۀ جنازے مونځ او سجده تلاوت له اودس نه دے ضروري دا ابن عُليه او ابن جرير هم وائي ليکن په ډيرو آحاديثو او آثارو کښ په جنازه دۀ صلاة اطلاق راغلے دےاو سجده پکښ اعلي او اوچت رکن دے نو اهتمام دۀ طهارت مؤکد پکار دے ، زړه نسخه دۀ مجموع فتاوي :جلد:۲٦: صفحه: ۱۹۵ باندے دي"فذهب بعضهم إلى انّه لايشترط لها الطهارةلكن هذاقول ضعيف"مراقي الفلاح ، فتح القدير کښ دي چه دجنازے دَ مونځ دپاره هم طهارت حقيقي ضروري دے او دا دَ مونځ ګزار او دَ مړي دواړو دپاره دے دغسے دا په منار السبيل: ۱: ۷۱ باندے دي او عون المعبود کښ عظيم آبادي صفحه:٤۹ باندے ليکي : سيدنا ابن عمر فرمائي : لأن تقبل لي صلاة واحدة احب الي من جميع الدنيا قال ابن عمر :لأن الله تعالى قال: (إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ) (المائدة: ۲۷)

طواف له طهارت

دَ احنافو مذهب کښ دَ طواف دپاره طهارت حقيقي دَ شرط درجه کښ نه دے مراقي الفلاح او فتح القدير او المغني کښ دي چه دَ اکثرو په نزد سنت موکده دے بعض احناف ورته واجب وائي او دغه صحيح ده ،

او دۀ سجدے تلاوت دپاره امام بخاري طهارت ضروري نه ګنړي او په لاتقبل صلاة کښ نکره په سياق دۀ نفي کښ ده نو دۀ تعميم فائده ورکوي ، امام نووي ليکلے دي :"ولا فرق بين الصلاة المفروضة والنافلة وسجود التلاوة والشكر وصلاة الجنازة الا ماحكي عن الشعبي ومحمد بن جرير الطبري من قولهما تجوز صلاة الجنازة بغير طهارة وهو مذهب باطل اجمع العلماءعلي خلافه"(هكذا في الفتح والمراقي كذا في المغني مع الشرح الكبير)

مسئله دَ فاقد الطهورين

که يو سړے په داسے کوټه کښې بند دے چه په ديوالونو باندے ئے ورله څوټے تپلے وي او اوبه نشته يا اوبه شته ليکن لاس خپے ئے ورله تړلے دي نه په اوبو قادر دے چه اودس اوکړي او نه په تيمم نو دمونځ ئے څه حکم دے؟

امام بخاريؒ فرمائي چه دغسے مونځ دے اوکړي او اعاده په دهٔ بيا نشته ،

د ائمه اربعه دَ دے مسئلے په تنقيح کښې اختلاف دے (۱): امام شافعيؒ او امام احمدؒ او اکثر محدثين فرمائي چه په دغے حالت کښې په دهٔ مونځ واجب دے تردے دَ امام شافعي او امام احمد اتفاق دے ليکن دَ دوي خپلو کښې دا اختلاف دے که په طهارت قادر شو ددے مونځ اعاده پرے شته يا نشته ، امام شافعي فرمائي : اعاده په ده واجب ده دا يو نادر عذر دے ليکن امام احمد فرمائي چه اعاده نشته او امام منذر او دغه دَ امام بخاري قول مخکښې ذکر شو ليکن دَ امام ابوحنيفه ، امام مالک ، امام اوزاعي او ابو سفيان ثوريؒ رحمهم الله مسلک کښې په دے حالت کښې ددهٔ نه واجب ساقط دے تر دے پورے دَ دوي اتفاق دے ، وړاندے دَ طهارت دَ قدرت نه پس امام مالکؒ فرمائي : چه اعاده پرے واجب نه ده واجب مونځ ترے ساقط شو دَ احنافو دا مذهب دے چه دغه وخت دے مونځ نه کوي او روستو پرے دَ مونځ قضاء واجب ده او صاحبين فرمائي چه مونځ گزار سره دے مشابهت اختيار کړي بغير دَ قراءت نه دے ارکان ادا کړي لکه ښځه چه حائضه شوه يا کافر اسلام قبول کړو دَ رمضان بقيه ورځ کښې به دَ مونځ گزار سره به مشابهت اختيار کړي يا حج فاسد شو نو دَ احرام نه باهر شو ليکن تشبيه به ضرور کوي او امام صاحب فرمائي چه تشبيه دے نه کوي ځکه چه اهليت ورله پکار دے او صاحب دَ درمختار دَ امام صاحب رجوع دَ صاحبينو قول ته ذکرکړے ده او بذل المجهود کښې دي چه دَ امام محمد قول کښې اضطراب دے واضحه دے وي چه دَ شوافعو صحيح قول دادے چه ادا مونځ پرے واجب دے او روستو به دَ مونځ قضاء کوي،

Maktaba Tul Ishaat.com

مسالک اربعه

(۱): امام مالک لایصلي ولا یقضي (۲): دَ امام شافعي مشهور قول یصلي ویقضي (۳): امام ابوحنیفه لا یصلي ویقضي (٤): امام احمد یصلي ولا یقضي ، او صاحبین دَ مصلي سره به مشابهت اوکړي او قضاء به روستو کوي وعلیه الفتوي ،

لطیفه : امام مالک بھی، امام شافعی بھی، احمد بھی ہے اور ھم:: لالا ،نعم نعم ، نعم لا ، اور لا نعم

په دے شعر کښې دَ اول حرف تعلق دَ ادا سره او دوئم دَ قضاء سره تعلق لري نو دَ امام شافعي په نزد ادا او قضاء دواړه واجب به وي (دَ نعم نعم صورت دے)

(۲): دَ امام احمد مسلک کښې صرف ادا شته او قضاء نشته (دا دَ نعم لا صورت دے)

(۳): احناف وائي صرف قضاء ده او ادا نشته (لا، نعم، لایصلي ویقضي) دے حدیث کښې دَ یتوضأ معني یتطهر ده که اودس وي یا تیمم ،

شاه ولي الله په شرح دَ تراجم الابواب البخاري کښې باب اذا لم یجد ماء ولا ترابا دَ لاندے لیکي : چه دَ بخاري مسلک دے چه بے اودسه او بے تیممه به مونځ کوي او اعاده په ده نشته او دَ ظاهر حدیث نه دلیل نیسي چه نبي علیه السلام ورته دَ اعادے حکم نه دے ورکړے لیکن دَ دغے قوم دَ خاورے نه موندل حکمي دي چه تر اوسه دَ تیمم مشروعیت نه وو او دَ تیمم دَ حقیقي طور باندے مونځ دَ جواز او دَ نه اعادے حکم دے ، لیکن واضحه دے وي چه حدیث کښې دَ خاورے دَ نه موندلو حکم ذکر شوے دے ،

علامه ابن حجر هیثمي وائي : چه دَ یتوضأ ضمیر بے اودسه ته په اعتبار دَ "ماکان" راجع دے لکه چه قرآن کښې دي (النساء:۲)

ولا صدقة من غلول : غلول اجتماعي مال کښې خیانت ته وائي لکه غنیمت کښې خیانت ، اګر چه ددۀ په کښې په دے لحاظ چه مجاهد دے حصه ده لیکن قبل از تقسیم تصریف پکښې خیانت دے او مراد ددے نه حرام دي لکه څنګه چه دَ بے اودسه مونځ نه قبلیږي دغسے دَ حرامو نه صدقه هم نه قبلیږي او صحیح اودس او دَ حلالو نه صدقه ورکول دَ نفس تزکیه دپاره ذریعه ګرځي احناف علماء لیکي چه چا فقیر له حرام مال په نیت دَ ثواب او دَ تقرب الي الله ورکړو دا کفر دے دا علامه شامي لیکلے دي او شرح العقائد النسفیه کښې دي: معصیت حقیقة حلال ګنړل کفر دے چه کله معصیت په دلیل قطعي

سره ثابت وي نو که حرمت بعینه وي نو کفر دے لیکن هدایه کښې دي که څوک په مِلک خبیث سره دَ مال مالک شو او ممکنه نه ده چه مالک ته ئے واپس کړي نو دَ هغے لاړ په فقراؤو باندے تصدّق دے نو صاحب دَ هدایه ورته تصدق وائي او دغسے بدائع الفوائد کښې علامه ابن قیم ترے تعبیر په تصدق سره کوي لیکن جواب ئے دادے چه دلته دوه حثیته دي یو دَ شارع حکم ته تسلیم کیدل او په دے دَ ثواب امید ساتل ، دے کښې حرج نشته ، کیدیشي ثواب ورکړي او دوئم دَ مال خبیث په تصدق ثواب ګنړل دا نشته ، او دَ عقیدے نقصان دے ، ددے نه معلومه شوه چه غصب او ناجائزه طریقے سره مال حاصلول په دلالت النص څکه نه قبلیږي چه دا خالص دَ بل حق دے او دَ حق العبد خیانت په توبه هم نه کیږي ددے لاړ یا ورکول دي یا معافي غوښتل دي چه دَ زړه نه ئے معاف کړي "اما الاداء واما الابراء"

(۳): "وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً فَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ: «يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ»"

ترجمه : دَ علي رضی الله عنه نه روایت دے فرمائي چه ماته به مذي ډیره راتلله نو ما به حیاء کوله چه زه دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوکړم دَ وجے دَ لور دَ نبي علیه السلام نه نو ما مقداد رضی الله عنه ته اووئیل نو هغه دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو نو نبي علیه السلام ورته اوفرمائیل اودے وینځي خپل اندامے مخصوصه او اودس دے اوکړي۔

تشریح : مذي نرمي لاړجنے سپینے اوبه دي چه دَ ښځے سره دَ ملنډو کولو او یا دَ جماع دَ مزے په وخت کښې بے دَ شهوته او دَ توپه خارجیږي او ددے نه روستو بدن کښې څه فتور نه راځي او کله دَ هغے په وتلو څه احساس هم اونشي دَ سړو په نسبت دَ ښځو نه دغه شان مذي ډیره اوځي دَ بخاري روایت کښې راځي چه ما یو سړي ته حکم اوکړو چه دَ نبي صلي الله علیه وسلم نه تپوس اوکړه څکه چه دَ مشرانو او "خصوصا" دَ سخر نه داسے قسم تپوس کولو کښې بنده شرم محسوسوي ، او دَ نسائي روایت کښې دَ سیدنا عمار رضي الله نوم راځي چه هغه ته مي دَ تپوس کولو حکم ورکړو او دَ مقداد نوم بعض روایاتو کښې راځي ابن حبان فرمائي چه اول ئے عمار رضی الله عنه او بیا ئے مقداد رضی الله عنه ته اووے روستو ئے خپله تپوس اوکړو لیکن روایت کښې دا راځي چه ما حیاء دَ بي بي فاطمے رضی الله عنها دَ زوجیت دَ وجے کوله نو مجاز باندے حمل کړه

چه تپوس خو بعض راویانو کړے دے نسبت ئے مجازا سیدنا عليؓ ته ځکه کړے دے چه هغوي امر کړے وو ، او علامه عیني لیکي : دواړه تپوس کولو کښې مشترک وو کیدے شي اوّلا سبقت مقدادؓ یا عمارؓ کړے وي حتماً دَ یو نوم اغستل غوره نه دي ، او کیدے شي چه کله دَ نبي علیه السلام نه تپوس کیدے شو امیرالمؤمنین مجلس کښې موجود وو او سوال جواب ئے اوریدو او سیدنا عليؓ "لمکان ابنته" ددے شبهے دَ جواب په طور اوکړو چه علمي حیاء مناسب نه ده ،

صفوة الصفوة :١: ١٦٤ باندے مقداد بن عمرو بن ثغلبه " او ص: ١٥٩ باندے دي "ذابطن"

نوټ : دَ سیدنا مقدادؓ متعلق الثقات : ٢٠٦ نمبر:٣٩٧ باندے دَ دوي بیان دے چه دَ دوي خیټه غټه وه ، رومي غلام اوئیل چه دَ خیټے اپریشن به ورله اوکړم او وازده به راوباسم کله چه ددے کار نه پس ئے ورله خیټه اوګندله وفات شو او غلام اوتختیدو دا واقعه دَ مدینے نه درے میله لرے په جوف مقام کښې شوے ده اویا کاله عمر ئے وو او لاش مدینے ته راوړے شو او عثمانؓ ورله جنازه اوکړه او جنت البقیع کښې دفن شو (سیراعلام النبلاء:٣: ٣٨١)

او دَ "ودي" تعریف دادے (مَاءٌ ثَخِينٌ أَبْيَضُ كَدِرٌ يَخْرُجُ عَقِبَ الْبَوْلِ) (شامي : ١: ١٦٥) یعني ټنګے سپینے خړے اوبه چه دَ بولو نه پس اوځي،

فقال یغسل ذکره : څنګه چه نورو نجاستونو کښې وینځل وي امام احمد فرمائي چه دَ ټول شرمګاه وینځل واجب دي اګر چه څه ورسره لګیدلے نه وي او دوئم روایت کښې ورسره دَ خصیتین وینځل هم راغلے دي دا وینځل صراحة په نجاست دلیل دے ، ابن حجر هیثمي او علامه طیبي دواړه لیکي چه دا احتمال شته چه دوي به دَ بولو غونډے دَ مذي نه ځان نه بچ کولو او دا به ئے ګنړله چه دَ بولو غونډے پاکي به واجب نه وي نو دَ وینځلو حکم ئے ورکړو او علامه طیبي دَ امام شافعي دَ مسلک په تنقیح کښې دوه قوله ذکرکړے دي چه کله دَ وینے او دَ مذئ غونډے دَ احد السبیلین نه غیر معتاد څیز خارج شي ، یو قول دادے چه وینځل ئے صرف متعین دي او په ګټه اکتفاء کول ناجائز دي او مذي کښې خو لاړجن والے او انتشار موجود وي ، او دا حدیث ئے ظاهرا ملا تړي کوي ، او دوئم قول دادے چه په ګټه یا لوټه اکتفاء جائز ده او وینځلو کښې دا فائده ده چه دَ مذي په بندیدو کښې دا معاونت ګرځي ،

ویتوضأ: دلیل دے چه دا مذي وتل داسے حدث دي لکه چه دَ قُبُل او دُبُر نه خارج حدث دي بلکه که چینجے سر صرف راوباسي او بیا دننه لاړ شي هم اودس مات شو،

دَ امام احمد نه علاوه نور دريواړه أئمه فرمائي لکه څنګه چه العرف الشذي کښې دي چه صرف دَ احليل وينځل او هغه ځائے وينځل واجب دي چه کوم ځائے سره مذي لګيدلے وي ، او التقرير الرفيع کښې دي چه ملاعلي قاري هم دَ غسل او دَ اکتفاء بالحجر قائل دے حالانکه ظاهر روايت دَ احنافو تائيد کوي څکه چه دَ علي رضي الله عنه نه روايات مختلف راغلےدي بعض کښې لکه دلته دَ "ذکر" وينځل دي او بعض کښې بے دَ غسل نه صرف دَ اودس ذکر دے لکه دَ بخاري په روايت کښې امام مجاهد صرف دَ حشفه دَ وينځلو ذکر دَ سيدنا ابن عباس نه کوي دغسے سفيان ثوري او سعيد بن جبير فرمائي ، ليکن حديث کښې ظاهرا تول "ذکر" راغلے دے "ليغسل ذکره ويتوضأ" نو حمل ئے په عموم اولي دے او الاستذکار:۱: ۱۷۱ کښې علامه ابن عبدالبر ليکلے دي " وليس في شيءمن أحاديث المذي ذکرللاستنجاء علی کثرتهاواختلاف طرقها"

مسئله: ابن ابي ذئب خپل موطا کښې ليکلے دي چه دَ يو کس دَ عذر او دَ بيمارئ دَ وجے مذي نه بنديده آثار به هر وخت ښکاره وو نو قاسم بن محمد ورله فتوي ورکړه "انما ذالک من الشيطان" او دے ته توجه مه ورکوه هغه وائي "فلهوت عنه فانقطع مني" نو که داسے واقعه نادره صدور ته راشي چه دَ صحت او د شهوت دَ وجے نه بلکه دَ بيمارئ دَ فساد دَ وجے دغه عذر وي چه مذئ کښې انقطاع نۀ راځي يا واړه بول دغسے دَ څاڅکي په شکل کښې دَ بيمارئ ، بوډا توب او دَ ډيرے سړخئ او يخ دَ وجے اوځي ، نو دَ علماؤ اجماع ده چه فرض مونځ دَ دۀ نه ساقط نه دے او دے به ئے دغه حالت کښې څکه په خپل وخت کوي چه ددے نه علاوه بل صورت نشته او دَ امام مالک مسلک کښې دغه معذور له اودس هر مانځه له واجب نه دے بلکه مستحب دے ، قياس ئے په مستحاضه کوي ، او امام شافعي رحمه الله فرمائي چه هر مانځه له به اودس کوي ، او امام اوزاعي رحمه الله فرمائي په يو اودس به دَ ظهر او دَ عصر مونځ نه جمع کوي ، ليکن دَ امام مالک رحمه الله نه علاوه جمهور امام شافعي رحمه الله ، امام ابو حنيفه رحمه الله ، وغيرهما فرمائي چه مستاضه ښځے له هر مانځه دپاره اودس واجب دے ، دغسے حکم ددۀ هم دے ،

(٤):"وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «توضؤوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ الشَّيْخُ الإِمَام الْأَجَل محيي السّنة هَذَا مَنْسُوخ بِحَدِيث ابْن عَبَّاس:" (قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صلى وَلم يتَوَضَّأْ)

ترجمه : دَ ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : كوم څيز چه په اور پوخ کړے شوے وي نو دَ هغے دَ خوړلو نه پس اودس کوئ،

امام محيي السنه فرمائي : دا منسوخ دے په حديث دَ ابن عباس سره ، فرمائي چه نبي عليه السلام دَ چيلي ولے اوخوړو او اودس ئے اونهٔ کړو،

تشريح : الحق الصريح جلد:۲: ۲۲ باندے (دَ چيلي دَ پتون غوخه ئے اوخوړه)دا ترجمه غلطه ده ، كتف هيڅ لغت کښې پتون ته نه وائي،

دے مسئله کښې احاديثوکښې دواړه قسمه روايات دي امام نووي په شرح دَ صحيح مسلم کښې دا ضابطه ذکرکړے ده چه اول محدثين روايات ذکرکوي چه په اور کوم شي پوخ شي دَ هغے په خوړلو اودس ماتيږي ، دوئم قسم روايات هغه دي چه پکښې دَ نه ماتيدو ذکر دے داسے ځائے کښې به دوئم قسم روايات دَ اول دپاره ناسخ وي دَ موطا مالک نه معلوميږي چه خلفائے راشيدينو عمل په نه اودس دليل دَ نسخ دے او "الاستذكار: جلد:۱: ۲۱۵" کښې علامه ابن عبدالبر ليکلے دي"وأن الآثارالواردةبذلك ناسخة للآثار الموجبة له وقدجاء هذا المعنى عن مالك أيضا" دَ سيدنا ابوبکر واقعه "الاستذكار:۲۱۵:۱" کښې ذکرده چه سيدنا ابوبکر رضی الله عنه دَ ميخے غوښه اوخوړه مونځ ئے اوکړو اودس ئے اونکړو خو مکحول به بيا ددے دَ وجے اودس نه کولو چا ترے تپوس اوکړو چه ولے اودس نه کوے نو هغه ورته جواب کښې اووے "لأن يقع أبوبكرمن السماءإلى الأرض أحب إليه من أن يخالف رسول الله صلى الله عليه وسلم"سيدنا ابوبکر به دَ اسمان نه راغورځيدل خه گنړي ليکن دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم خلاف به چرته اونکړي، او دغسے منهاج الرسوخ :۲: ۲۶۹ باندے دي، او خالد الحذاء فرامائي :چه سلفو به گنړل چه ابو بکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه عمل دليل دَ نسخ دے ، او جابر بن عبدالله فرمائي : " كان آخرالأمرين من رسول الله صلى الله عليه وسلم ترك الوضوء ممامست النار" "وإنمايؤخذبالآخرفالآخرمن فعل النبي صلى الله عليه وسلم" (بخاري مع فتح الباري:۲:۱۴۴) او دَ عائشه رضی الله عنها قول علامه ابن عبدالبر نقل کړے دے " كَانَ آخِرَالْأَمْرَيْنِ مِنْ رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْكُ ا لْوُضُوءِ مِمَّامَسَّتِ النَّارُ" صاحب دَ

مشكوة هم آثار دے سلسله کښې ذکرکړے دے هم دغه مسلک دَ خلفائے راشدينو ، ابن عباس ، ابن مسعود، ابي بن کعب ، ابوالدرداء او دَ ابو امامه رضوان الله عليهم اجمعين دے، منهاج الرسوخ :۱: ۳۴۹ :چه عزفي او حازمي نسخ له ترجيح ورکوي ځکه دَ خلفائے راشدينو او دَ ائمه الامصار اجماع باندے اعتماد کوي او ابن جوزي دَ نسخ دعوي دلته رد کوي او وائي چه دَ اُودس نه مراد صرف دَ لاسو وينځل دي، ليکن امام احمد اواسحاق دَ اوښ دَ غوښے دَ خوراک نه بعد اودس واجبوي او ائمه ثلاثه ،ثوري ،اوزاعي او ليث بن سعد رحمهم الله تول اوښ اوبل مايؤکل لحمه کښې فرق نه کوي ، هريو خوراک سره اودس نشته ، معلومه شوه که اودس شرعي وي نو منسوخ دے او يا وضوء لغوي مراد دے لکه دَ ترمذي په روايت کښې راځي " برکة الطعام الوضوء قبله والوضوء بعده" او علامه طيبي دَ اوښ دَ غوښے دَ خوراک نه بعد وضوء لغوي الکاشف کښې اغستلے دے چه دَ امام احمد نه علاوه نور امامان فرمائي :"المراد منه غسل الکفين لما في لحم الابل رائحة کريهة ودسومة غليظة" او شاه ولي الله دا حکم دَ خواصو سره خاص کوي چه دَ اوښ دَ غوښے دَ خوړلو نه پس دے اودس اوکړي غوره دي ، حجة الله کښې ليکي چه تورات کښې دَ اوښ غوښه حرامه وه او بني اسرائيلو له دا حرمت اتفاقي وو مونږ له چه جائز شوه نو دَ نعمت دَ شکريه دَ وجے اودس پکار دے په احنافو کښې صاحب دَ نورالايضاح دَ استحباب قول کړے دے چه شرعي اودس دے ، امام نووي ليکي چه : مامست النار عام او لحوم الابل خاص دے نو عام ظني به پريخودلے کيږي ليکن دَ احنافو باره کښې ځکه دا خبره صحيح نه ده چه دَ احنافو په نزد دواړه په حکم کښې برابر دي (معارف ترمذي)

او ابن حجر هيثمي شرح کښې ليکي "الخاص مقدم علي العام" نصب الرايه کښې دَ عبدالله بن مسعود واقعه ده چه طعام نه پس ئے اودس نه دے کړے او اوئے فرمائيل : " هذا وضوء لمن لم يحدث" منهاج الرسوخ الي علم الناسخ والمسوخ کښې:۲: ۹۶۹ باندے دي که چرته آخري عمر دَ ايجاب الوضوء وے نو دَ ابوبکر ، عمر وزيرينو باندے به پته نه پاتے کيدو محمدبن حسن دَ مالک بن انس نه اوريدلي دي فرمائيلے وو "اذا جاء عن النبي صلي الله عليه وسلم حديثان مختلفان وبلغنا انّ ابابکر الصديق وعمربن الخطاب عملا بآخرهما الحديثين وترکا الاخر کان ذالک دلالة علي ان الحق فيما عملا به"

Maktaba Tul Ishaat.com

(٥): "وَعَن جَابر بن سَمُرَة أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ؟ قَالَ: «إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ وَإِنْ شِئْتَ فَلَا تَتَوَضَّأْ» . قَالَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ؟ قَالَ: «نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ» قَالَ: أُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَالَ: «نَعَمْ» قَالَ: أُصَلِّي فِي مبارك الْإِبِلِ؟ قَالَ: «لَا» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ جابر بن سمره ؓ نه روايت دے چه يقينا يو سړي تپوس اوکړو دَ نبي عليه السلام نه چه آيا دَ چيلۍ دَ غوښے خوړلو نه پس به اودس کوو نبي عليه السلام اوفرمائي : که ستاخوښه وي نو اودس اوکړه بيا هغه کس تپوس اوکړو آيا دَ اوښ دَ غوښے دَ خوراک نه پس اودس اوکړم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل آو دَ اوښ دَ غوښے نه پس اودس اوکړه ، بيا ئے تپوس اوکړو آيا دَ څارو دَ پاتے کيدو ځائے کښ مونځ کوم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل آو بيا ئے تپوس اوکړو آيا دَ اوښانو دَ تړلو ځائے کښ مونځ کووم؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل نه،

تشريح : دَ ګډو بيزو جاړو کښ مونځ کولے شم؟ اوئے فرمائيل : آو دَ اوښانو پندغالي او دَ چوکيدو ځائے کښ؟ اوئے فرمائيل : چه نه ،منهاج الرسوخ::؟: ٩٧٣ باندے دي چه دَ مالک و شافعي ، ابوحنيفه، ثوري ، ليث او اوزاعي غوخے دَ اوښانو او دَ ګډو بيزو يوشان ګنړي چه ددے په خوراک اودس نه ماتيږي ځکه مطلقا دۀ غوښے ذکر آحاديثو کښ بغير دَ تخصيص دَ اوښانو نه راځي عبدالله بن عباس فرمائي "مازادته النار الا طيباً، اُور پکښ نور ښکلے والے پيدا کړو ، انماالوضوء مما يخرج وليس ممايدخل" مبسوط دَ محمد الشيباني:١: ٥٩)

لمعات التنقيح کښ شيخ عبدالحق ليکلے دي "في حديث ابي هريرة ،فانها من دواب الجنة" چه بيزے دَ جنت دَ دواب نه حسابيږي دَ سورة آل عمران آيت :١٤ والانعام والحرث" دَ لاندے تفسير قرطبي کښ دَ ابن ماجه په حواله روايت دے دَ عروه البارقي مرفوع روايت "الغنم برکة" په ګډو بيزو کښ برکت دے ، ارشاد الساري کښ قسطلاني ليکلي دي "اتخذي الغنم فان منها برکة" (جلد:٦:١١٩) او(صحيح الجامع الصغير للالباني صفحه:٨١)

او سيدنا ابن عمر ؓ مرفوع روايت ئے نقل کړے دے "امررسول الله صلي الله عليه وسلم الأغنياء باتخاذ الغنم" دا روايت خو ضعيف دے ليکن ام هاني ؓ ته پيغمبر يو ځل اوفرمائيل چه بيزے ساته په دے کښ

برکت دے او تفسیر قرطبي کښې دي اسناد صحیح وهکذا في مسند احمد:٤٥: ٣٧٨ بیزه عاجز خو په خناور دےانتهي ، پیغمبرانو بیزے ساتلے دے سره زمونږ دَ پیغمبر صلي الله علیه وسلم په یو څو قراریطو ئے دَ نبوت نه مخکښې څرولے دي او دَ موسي علیه السلام دغه شغل ته قرآن کریم کښې اشاره موجود ده چه دَ نبوت نه مخکښې راجحه دا ده چه لس کاله په اجرت شعیب علیه السلام سره پاتے شوے دے دَ سورة النساء آیت: ١٦٣ دَ لاندے قرطبي مفسر دَ وهب بن منبه په حواله واقعه نقل کړے ده چه دَ الله نه موسي علیه السلام تپوس اوکړو ولے کلیم شوم؟ ورته ئے اوفرمائیل "أتذكرإذ ندمن غنمك جدي فاتبعته أكثرالنهار وأتعبك،ثم أخذته و قبلته وضممته إلى صدرك" پسکوریٔ پسے دے دَ ورځې ډیره حصه منډے اوهلے چه دے لاندے کړه غصه نه شوے بلکه سینے سره دے یوځائے کړه او ښکلے دے کړه (والله اعلم وهب ډیر مؤثق روایت هر وخت کښې نه کوي لیکن اسرائیلي واقعه ده "لانصدق ولانكذب")

التقریر الرفیع کښې دي چه ابن حجر غوا هم دَ بیزے په حکم حساب کړے ده لیکن وفیه بحث او پیغمبر علیه السلام دَ بیزے او دَ اوښ په ځایونو کښې مانځه کښې فرق اوکړو لکه چه څوک اوښان او بیزے ساتي دَ هغوي دَ طبعیت ئے داسے فرمائیلے دے "الفخر والریاء في الفدادین اصحاب الابل والسكينة في اصحاب الغنم" دَ عربو معاشرت کښې به دَ بیزو دَ جارو دَ صفائي اهتمام کیدے شو او دَ اوښانو دَ پنډغالو به خاص اهتمام نه وو او جارو کښې به ورسره نزدے دنګاچې وے او پنډغالو دَ اوښانو کښې به نه وے او اوښ کیدے شي اوتربړي او ددهٔ مونځ کډوډ شي او بیزه کښې دغه احتمال نشته او دَ دوارو متیازو مینځ کښې پیغمبر علیه السلام فرق نه دے کړے لیکن دَ امام ابو حنیفه او امام شافعي مسلک دادے که دواړه ځایونو ځائے صفا وي او پچې متیازے نهٔ وي نو مونځ صحیح دے ځکه چه عام قانون دے جعلت لي الارض مسجدا و طهورا دے فرقونو له زیات اهتمام امام مالک او امام احمد ورکوي او دا فرق عرف کښې ښکاره دے چه دَ اوښ متیازے اوګدے او په اولاړه وي دَ تتي کولو احتمال زیات دے او بیزه لګه چیته شي او متیازے په آرام کوي او دا مطلب نه دے چه په پچو به اودربړي او مونځ به کوے بلکه نزدے مقام ملحوظ دے لکه قرآن کښې "بطن مکه" نه مراد مکے ته قریب مفسرین اخلي ځکه چه مراد حدیبیه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

واضحه دے وي مبارک الابل کښ مونځ صرف مکروه تنزيهي دے دَ مصلي دَ تشويش دَ وجے سوال راځي چه بخاري کښ روايت دے " وصلي ابو موسي فی دارالبريد" او په هغے کښ به اسونه اولاړ وو خواکے ورسره ځنګل وو او مونځ ئے دلته اوکړو ،

حنفيه وائي : چه دا خو نه معلوميږي چه خشنړودپاسه اودريدلے دے او مونځ ئے کړے دے څه کپړا به ئے پرے غوړولے وي ، طبيعت ددے نه انکار کوي چه صفا ځائے پريږده او دپاسه پرے اودريږه چه دے سره جامے او بدن به خوامخوا ککړے شي ، دَ خشنړو سره نزدے اولاړ وو او که دغسے هم ي دا صرف دَ ابو موسي اشعري اجتهاد دے خپله صحابوٓ کښ مسئله کښ اختلاف موجود دے دغسے دا مرابض دَ مونځ نه نهٔ معلوميږي چه لازمي به متيازو دَ پاسه خلق اودريدل ،

(٦):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ ابو هريرهؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : هر کله چه اوموي يو تن په تاسو کښ په ګيډه خپله کښ څه شي (يعني څه ګړګوړ) او دا خبره ذهن ته راشي چه دَ دهٔ دَ نه څه شي خارج شو او که نه نو نه دے اووځي دے دَ جماعت نه تر دے چه دے واوري آواز يا څه بوئي محسوس کړي،

تشريح : او دَ بخاري روايت کښ دي "شکي الي النبي صلي الله عليه وسلم الرجل يخيل اليه انه يجد الشيئ في الصلاة فقال لاينصرف حتي يسمع صوتا او يجد ريحا" مطلب دَ حديث دادے چه يقين ئے اوشي چه هوا ترے خارجه شوے ده يا ئے ظن غالب وي ، شک سره اودس نهٔ ماتيږي او حسن بصريؒ فرمائي که مانځه کښ شک راغے اودس پرے نشته او که باهر وي اودس په دهٔ لازم شو احنافو مسلک کښ که دَ قُبل نه هوا اوتله دا شاذ نادر وي اودس پرے نه ماتيږي نص ورته نه دے شامل او امام شافعي فرمائي : او يجد ريحا عام دے که دَ دُبر نه اوتله او که دَ قُبل نه اوتله ، احناف وائي چه دَ قُبل نه هوا نه اوځي دا اختلاج دے ،

درمختار كښې دي ١:٩٦ "ريح من قُبل" غير مفضاة اما هي فيندب بها الوضوء لو ختنه و(ذكر) لانه اختلاج ، حديث په ظاهر نه دے كه كونړ وي او كه زكام ئے وي نۀ اوري او نۀ بوئي محسوسوي پكار دے چه اودس ئے مات نه شي حالانكه اودس ئے مات دے ، ځكه يقيني او يا ظنِ غالب كښې ترے هوا خارجه ده او حديث كښې حصر اضافي دے په نسبت دَ شكي ته نو په نورو نواقضو به اودس خواه مخواه ماتيږي ،

علامه الباني هداية الرواة كښې ليكلے دي چه دا واقعه بالكل خرافاتو سره تعلق ساتي او عقل ته هم نه راځي چه يو صحابي بے اودسه شو نو شرميدو كه اودس له پاسم نو معلوميږم نو نبي عليه السلام اوفرمائيل چه اودس اوكړي نو ډيرو هغه سره اودس كښې ملګرتيا اوكړه وحلت المشكلة " البته يو واقعه كښې دغسے مشوره دَ سيدنا جريرؓ سيدنا عمرؓ ته دَ يو كس متعلق ثابته ده چه ټولو اودس اوكړو ځكه چه جريرؓ النصح لكل مسلم باندے پيغمبر عليه السلام سره بيعت كړ وو خو د؟ مخكښې واقعه اصل نشته ،

(٧):وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ وَقَالَ: «إِنَّ لَهُ دسما" متفق عليه،

ترجمه : دَ عبدالله بن عباسؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام يو ځل پئ اوڅكل او بيا ئے خوله كنګال كړه او اوئے فرمائيل : پيو كښې غوړ والے دے ،

تشريح :خوله كنګالول دَ هغے پئ څكلو نه بعد پكار وي چه پكښې غوړوالے وي علامه ابهري دَ خپل شيخ نه نقل كوي چه دَ تنظيف او صفائي دپاره لاس وينځل پكار وي امام نووي دَ طعام نه مخكښې لاس وينځلو كښې اظهر قول دَ استحباب نقل كړے دے ليكن كه ئے يقين وي چه خيرے اونجاست نشته نو بيا وينځل كه نه وي صحيح ده ، او ابن الحاج مدخل كښې:١ : ١٥٨ باندے ليكلے دي كه لاس صفا وي نو اختيار دے او بيا ئے التزام كول بدعت دے اوامام مالک بيا لاس مخكښې دَ وينځلو اهتمام ته " زي العجم " وئيلے دي او التقرير الرفيع كښې دَ صاحب مرقات قول دَ خوراک نه بعد دا ذكر كړے دے چه مستحب دي ليكن كه په ګتو او لاسونو ئے څه اثر نه وي مثلا اوچ وي بيا حاجت نشته دسومت علت ددے دے علامه طيبي ليكلے دي چه خبره عامه ده "ينبغي ان يمضمض من كل ما خيف

Maktaba Tul Ishaat.com

منه الوصول الي بطنه في الصلاة طردا للعلة " او حديث سويق په دے دلالت کوي ، معلومیږي چه دا دَ دسومت خشوع الصلاة کښې فرق راولي او حدیث کښې اشاره ده چه دَ مضمضه لغة اطلاق په لغوي اودس کیدے شي ، ددے نه بعد که توکانړي مانځه کښې بیا تیري نو هیڅ قسم کراهت به بیا نه وي ، احناف وائي ځکه چه ظهیریه کښې مسئله ده که یو تن حلوا یا شکره ، کوره او خوره اوخوره او مونځ ئے شروع کړو او توکانړو سره دَ خولے نه خوند کښې خوږوالے تیریدو مونځ نه فاسدیږي ،

(٨):وَعَنْ بُرَيْدَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الصَّلَوَات يَوْمَ الْفَتْح بِوضُوء وَاحِد وَمسح عل خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ فَقَالَ: «عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عمر». رَوَاهُ مُسلم،

ترجمه : بریده ؓ فرمائي : چه نبي علیه السلام پنځه مونځونه دَ فتح مکے په ورځ په یو اودس اوکړل اوپه موزو ئے مسح اوکړله ، نو عمر ؓ ورته اوفرمائیل :تاسو نن هغه څه اوکړل چه داسے مو چرته مخکښې نه دي کړے، نبي علیه اوفرمائیل اے عمر ؓ دا مے قصدا اوکړل ،

تشریح : بریده : آخر من مات بخراسان من الصحابة اسلم قبل بدر ولم یشهدوها"

علامه طیبي فرمائي چه حدیث دلیل دے چه په یو اودس څوک ډیر مونځونه کولے شي هیڅ کراهت نشته لیکن که دَ اودس ماتي تقاضا پرے غالبه وي بیا نه ده پکار ، دَ سیدنا عمر ؓ دَ سوال په جوا ب کښې اوفرمائیل "عمدا صنعته" دا ئے هر مانځه له دَ اودس دَ منسوخ کولو دپاره اوفرمائیل یا پیغمبر علیه السلام به استحبابا مونځ له اودس کولو لیکن په یو اودس ئے عمدا یو څو مونځونه دے له اوکړه چه دَ هر مانځه دپاره دَ اودس استحباب دے ضروري نه ده ځکه چه وضوء لکل صلاة دَ فضیلت دَ حصول دپاره وي لیکن هغوي له بیان جواز ښکاره کول هم ضروري وو ، دَ ابراهیم نخعي مسلک دادے چه دَ پنځوؤ مونځونو نه علاوه په یو اودس زیات مونځونه به نه کوے لیکن هر څومره مونځونه چه کوي نو جواز لري ، امام نووي اجماع نقل کړے ده چه هر مانځه له اودس واجب نه دے ، لیکن علامه ابن عبد البر او امام طحاوي دَ بعض سلفو قول دَ وجوب نقل کړے دے کیدے شي چه روستو دور کښې دَ اجماع انعقاد شوے وي ،

(۹):وَعَن سُوَيْد ابْن النُّعْمَان: أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا كَانُوا بالصهباء وَهِي أَدْنَى خَيْبَرَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِيقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِيَ فَأَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثمَّ صلى وَلم يتَوَضَّأ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ"

ترجمه : دَ سوید بن نعمان نه روایت دے چه یقینا دے لاړو دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم سره دَ خیبر دَ فتح په کال کله چه صبهاء مقام ته اورسیدو چه خیبر ته نزدے دے نو دَ مازیګر مونځ ئے اوکړو بیا نبي علیه السلام توښے اوغوښتے دَ ستوانو نه علاوه بل شي نبي علیه السلام ته ورنه کړے شو نبي علیه السلام حکم اوکړو چه لامده ئے کړئ نو هغه لامده کړے شو نو نبي علیه السلام او مونږه هغه اوخوړل بیا دَ ماښام مانځه دپاره اودریدو نبي علیه السلام خُله کنګال کړه او مونږه هم کنګال کړه بیا ئے مونځ اوکړو او اودس ئے اونه کړو ،

تشریح : ستوان دَ غنمو یا دَ وریشو نه جوړیږي په اور ئے ریته کړي بیا ئے میده کړي کیدے شي چه دَ کجهورو ستوان وي دا حدیث دلیل دے چه ستوان په اُور تیار شوے دي او دَ خوراک نه پس اودس ئے نه دے کړے دَ حدیث نه معلومیږي چه سفر کښې توښه دَ توکل خلاف نه ده ، اجتماعي خوراک بهتر دے دَ مازیګر نه پس که دوډئ خوړلے شي باک ئے نشته لکه بعض مدارسو کښې معمول دے او دَ ستوانو دَ خوشته کولو دا فائده وي چه دَ مرئ نه په آسانه تیریږي،

الفصل الثاني

(۱۰):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:لَا وُضُوءَ إِلَّا مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيحٍ» . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ"

ترجمه : دَ ابو هریره رضي الله نه روایت دے چه نبي علیه السلام اوفرمائیل نهٔ واجبیږي اودس مګر په آواز سره او په بوئي سره ،

تشریح : حدیث په ظاهر نه دے حمل : دَ حدیث مطلب دادے چه په شک اودس نه ماتیږي څو څورے چه ظن غالب او یقین نه وي، دَ "صوت" نه مراد دَ آواز اوریدل دي او "ریح" دَ بوئي محسوسیدل دي دا

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب نه دے چه نواقض الوضوء صرف دغه دوه دي نواقض نور هم شته دا دَ سوال کونکي دَ جواب په حیثیت دوه ذکر شو ،

(۱۱):وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ الْمَذْيِ فَقَالَ: مِنَ الْمَذْيِ الْوُضُوءُ وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغسْل»رَوَاهُ التِّرمِذِيّ"

ترجمه : دَ علي رضي الله عنه روایت دے فرمائي چه ما دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو دَ مذي په باره کښ یعني چه په دے غسل واجب کیږي اوکه نه ؟ نو نبي علیه السلام اوفرمائیل دَ مذي نه اودس کول دي او دَ مني نه غسل کول دي،

تشریح : حدیث کښ دي "ومن المني الغسل" دا دَ مزید فائده فائدے ورکولو دپاره ذکر شو او دا دَ اسلوب حکیم یوه نوعه ده لکه مخکښ یو حدیث کښ "انتوضأ بماء البحر" دَ جواب په صورت کښ ورته دَ خوراک ذکر اوکړو "والحل میتته" چه ددے مهے هم حلال دے چه زیاتي فائده حاصله شي،

(۱۲) :وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم: «مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ والدارمي"

ترجمه: دَ علي رضي الله عنه نه روایت دے فرمائي چه نبي علیه السلام اوفرمائیل دَ مونځ چابي اودس دے او دَ مونځ له بندونکے څیز تکبیر دے یعني الله اکبر وئیل دي او دَ مونځ تحلیل سلام کرځول دي،

تشریح : الله اکبر وئیلو سره خوراک څکاک او دَ منافي کارونه حرامیږي او سلام جارباسلو سره حلالیږي دَ تکبیر تحریمه نه پس چونکه مونځ شروع کیږي نو تکبیر تحریمه بے اودسه نشي وئیلے کیدے په تکبیر تحریمه او منونځ کښ سخت اتصال دے ددے په مینځ کښ فصل نشته ،

اختلاف په الفاظو دَ تکبیر تحریمه کښ

(۱): امام احمد او مالک فرمائي: صرف الله اکبر وئیل ضروري دي که بل څه ئے اوئیل نو مونځ نه کیږي،

(۲): امام شافعي فرمائي : الله اکبر ، الله الاکبر سره به مونځ شروع کوي،

(۳): امام ابو يوسف فرمائي : چه الله اکبر ، الله الاکبر ، الله کبير او الله الکبير دا څلور داسے دي چه مونځ به ستا صحيح کيږي

(٤): طرفين وائي : چه هر هغه کلمه چه دَ الله په تعظيم دلالت کوي نو مونځ ورسره کيدے شي، لکه الله اعظم ، الله اجل ، الله اکبر ، الله جليل ، الرحمن اعظم وغيره ، خاص دَ الله اکبر وئيل سنت مؤکده دي او ددے امت دپاره داسے سنت دي چه اتباع به ئے کيدے شي او دَ الله اکبر نه علاوه دَ الله په بل نوم سره مونځ کول دَ سنت دَ مخالفت دَ وجے مکروه دي ،

ملاعلي قاري په شرح نقايه کښ ليکلے دي : فالتکبير يجوز بلفظ الله اکبر وبکل ما دل علي تعظيمه تعالي لقوله تعالي "وذکراسم ربه فصلي" فانه باطلاقه يدل علي جواز الشروع في الصلاة بکل ذکر علي سبيل التعظيم ، الله اجل ، الرحمن اکبر ،والله اعظم الي آخره ، (شرح النقايه: ۱: ۲۹) که څوک الله اکبر باندے طاقت لري او په بل لفظ شروع کوي دا مکروه تحريمي دي ، دغسے شيخ ابراهيم الحلبي غنية المستملي کښ : ۲۲٦ باندے ليکي :و ذالک لان التکبير المذکور في قوله تعالي "وربک فکبر" وقوله عليه السلام وتحريمها التکبير وفيما ذکر من المنصوص معناه التعظيم مکان من المطلوب بالنص التعظيم ويؤيده قوله تعالي "وذکراسم ربه فصلي" وهو اعم من لفظة الله اکبر وغيره ولا اجمال فيه ، فالثابت بالفعل المتوارث حينئذ يفيد الوجوب لاالفرضية وبه نقول حتي يکره لمن يحسنه ترکه ، او التعليق الفصيح کښ علامه کاندهلوي هم ليکلے دي : فيجب العمل به حتي يکره لمن يحسنه ترکه ، او توارث دَ تعامل دَ نبي عليه السلام مفيد دَ سنتيت يا دَ وجوب وي او احناف دغه مني احناف خاص الله اکبر لفظ ته که فرض يا رکن نه وائي ليکن واجب ورته وائي ،دَ فرضيت دَ ثبوت دپاره دَ دليل قطعي ضرورت وي چه قطعي الثبوت او قطعي الدلالت دواړه وي او دغسے دَ الله اکبر فرضيت دليل نه دے موجود او اخبار آحاد سره ظنيت راځي چه دَ وجوب فائده ورکوي نه دَ قطعيت ، دَ آيت نه فرضيت ثابت دے چه آيت عام دے او تکبير واجب دے په دے ابن همام صراحت کړے دے ، دَ امام ابوحنيفه رح په نزد دَ عظمت معني له او دَ امام شافعي رح په نزد خاص لفظ له اعتبار دے ، معني متعبده ده ، او بداية المجتهد کښ دي چه دَ تحريمها التکبير الف لام دَ حصر دپاره دے نور الفاظ ناجائز دي او دَ احنافو غوره تعبير په دے مسئله کښ داسے دے چه دَ الله په کتاب په اخبار آحاد په مرتبه دَ وجوب او دَ سنتيت کښ جائز دے نه په مرتبه دَ قطعي فرض په مرتبه کښ ،، احناف په خبر واحد عمل لغو نه ګڼري او نه ئے العياذ بالله

Maktaba Tul Ishaat.com

احاديثو غورځولو نه چل جوړ کړے دے او خاص الله اکبر وئیل ظني درجه کښې دے او دَ ذکر مشعر بالتعظیم په کمال کښې "الله اکبر" کښې منحصر کول اصل دے او فقط تعامل سره فرضیت نه ثابتیږي لکه مواظبت دَ نبي علیه السلام سره په فرضیت دلالت کول نه راځي مواظبت چه ترک ورسره نه وي نو دَ ابن همام په نزد وجوب له او دَ ابن نجیم په نزد سنتیت له راځي وجوب او سنتیت یو بل ته نژدے دي او دَ نحو قاعده ده چه خبر کله معرف بلام الجنس وي فائده دَ قصر ورکوي لیکن دا قضیه دائمه نه ده بلکه حینیه ده ، دلائل الاعجاز کښې دي "وقد لا یفید الحصر" بلکه کله خو کلام کښې طرفین معرف بللام وي او بیا جمله دَ قصر فائده نه ورکوي لکه "الکرم" الخلق الحسن، دلته حصر مسند الیه کښې دے نه ددے عکس معني دادهٔ لیس التکبیر الاللتحریم لان التحریم منحصر في التکبیر ،

معارف السنن : قاعده اکثریه ده چه که مسند معرف بللام وي نو دَ حصر دپاره فائده منده کرځي ،

اختلاف دَ فقهاؤ په رکنیت دَ تکبیر کښې

دَ فقهاؤ په دے مسئله کښې اختلاف دے چه تکبر رکن دے یا شرط امام شافعي ورته رکن وائي او دا بعض احناف هم وائي او امام ابو حنیفه ته شرطیت منسوب دے هدایه کښې دي : وهو شرط عندنا خلافا للشافعي" دَ شرطیت دلیل دے "وذکر اسم ربه فصلي" دَ "صلي" عطف په "ذکر" باندے دے او عطف تغائر غواړي او بعض حنفیه هم دَ رکنیت قائل دي په دے کښې اختلاف کمزورے دے لیکن فرضیت کښې دَ چا اختلاف نشته ،

ابوبکر رازي لیکلے دي : "وذکراسم ربه فصلي" دلیل دے علي جواز افتتاح الصلاة بسائر الاذکار لانه لما ذکر عقیب ذکر اسم الله الصلاة متصلا به اذ کانت الفاء للتعقیب بلاتراخ دل علي ان المراد افتتاح الصلاة (احکام القرآن)

دوئم دلیل التعلیق الصبیح کښې کاندهلوي" ذکرکوي "ولله الاسماء الحسني فادعوه بها ، او دغسے ایاماتدعوا فله الاسماء الحسني"

درئم دلیل مصنف ابن ابي شیبه کښې دے دَ ابوالعالیه روایت دے "حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زِيَادِ بْنِ أَبِي مُسْلِمٍ، قَالَ:سَمِعْتُ أَبَا الْعَالِيَةِ سُئِلَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ الْأَنْبِيَاءُ يَسْتَفْتِحُونَ الصَّلَاةَ؟ قَالَ:بِالتَّوْحِيدِ وَالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ"

څلورم دلیل : قرآن کښې راځي : اکبَرنَه اي عظمنه ، او دغسے راځي "وکبره تکبیرا" (بني اسرائیل)

جلالین کښې علامه سیوطي لیکي : عظمه عظمة تامة" دَ تکبیر معني ئے په تعظیم سره اوکړه ،

وتحليلها التسليم : لمعات التنقيح کښې شيخ عبدالحق ليکلے دي دَ مانځه نه دَ سلام په لفظ وتل دَ امام شافعي ، امام مالک ، او امام احمد ، په نزد فرض دي او دغسے به لازم وي ، صحيح مسلم کښې ۴۹۸ باندے يو روايت دے دَ عائشه رضي الله عنها نه "وكان يختم الصلاة بالتسليم" او فرمائيلے ئے دي "صلوا كما رأيتموني اصلي" ليکن امام ابوحنيفه رحمه الله ورته واجب وائي که قصدا ئے سلام پريخودلو گنهگار دے او مانځه نه داسے حال کښې باهر شو چه مونځ ئے ناقص دے او که سهوا ترے دغسے اوشو سجده سهو به کوي او وتل په داسے څيز فرض دي چه مانځه سره ئے تناقض وي ، او دَ سفيان ثوري او امام اوزاعي په نزد سنت دي دَ احنافو دليل دادے چه پيغمبر عليه السلام أعرابي ته چه کله مونځ خودلو نو که فرض وے دا به ئے خودلے وو او حديث دَ ابن مسعود رضي الله عنه کښې دي "اذا فعلت هذا فقد تمت صلاتک ان شئت أن تقوم فقم وان شئت ان تقعد فاقعد " دَ استدلال طريقه داده چه نبي عليه السلام دَ سلام نه مخکښې دَ مونځ دَ پوره والي حکم اوکړو او دَهٔ ته ئے دَ قعود او دَ قيام په مينځ کښې اختيار ورکړو او دا په فرضيت قطعا دلالت نه کوي او دَ عائشه رضي الله عنها روايت دے "كان يختم الصلاة بالتسليم" په فرضيت دلالت نه کوي دَ پيغمبر عليه السلام په فعل دلالت کوي ،

علامه قسطلاني ارشاد الساري کښې دَ بخاري باب التسليم دَ لاندے ۲: ۱۳۴ رقم الحديث : ۸۳۶ داسے روايت راوړے دے "اذا قعد الامام في آخر صلاته ثم احدث قبل ان يسلم فقد تمت صلاته"

اګر چه بعض ئے تضعيف کوي ليکن : تهذيب الکمال: کښې دي :وقال ابواداود قلت لاحمد بن صالح يحتج بحديث الافريقي قال نعم ، وقال سعيد بن عمرالبرذعي قلت يعني لابي زرعه يروي عن يحي بن القطان انه قال الافريقي ثقه، ،

وقال احمد صالح يقول ثقه وقال سحنون عبدالرحمن بن زياد بن انعم ثقه (تهذيب التهذيب:۶: ۱۷۵)

دغسے ابو نعيم حيلة الاولياء :۵: ۱۱۷ باندے روايت ليکي : "عن عمر بن ذر، عن عطاء، عن ابن عباس: " أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان إذا فرغ من التشهد أقبل علينا بوجهه وقال: من أحدث حدثا بعد مافرغ من التشهد فقد تمت صلاته"

مجموع رسائل ملاعلي قاري :۹: ۲۰۷ (الرساله:۸۲ تشيع الفقهاءالحنفية لتشنيع سفهاء الشافعية) ثم اعلم انه ذكر الشيخ ابوالحسن ابن بطال في شرح البخاري ان لفظ السلام ليس بواجب يعني ليس بفرض ، قال وهو قول علي وابن مسعود وسعيد بن المسيب والنخعي والثوري والاوزاعي رضي الله عنهم اجمعين، ثم قوله

وضرط في آخره من غير سلام مبني علي القول بان الخروج من الصلاة بفعل مناف فرض واما بلفظ السلام فواجب"

او دَ امام طحاوي شرح معاني الاثار: دَ باب السلام في الصلاة هل هو من فروضها او من سننها: ۱: ۲۷۴ روايت دے "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: «إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ آخِرِ السُّجُودِ ، فَقَدْ مَضَتْ صَلَاتُهُ إِذَا هُوَ أَحْدَثَ" او مولانا عبدالحي دغه رساله باندے ص:۲۰ باندے مرفوعا روايت راوړے دے "إِذَا قَضَى الْإِمَامُ الصَّلَاةَ ، فَقَعَدَ ، فَأَحْدَثَ هُوَ أَوْ أَحَدٌ مِمَّنْ أَتَمَّ الصَّلَاةَ مَعَهُ ، قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ الْإِمَامُ ، فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ ، فَلَا يَعُودُ فِيهَا" طحاوي :۱: ۲۷۴ داسے نور ډير روايت ذکر کوي چه دا اعتراض در اصل په نبي عليه السلام دے،

او صحابۇ دَ پيغمبر عليه السلام ټول مونځ په شمول دَ فرائضو او دَ سنن او واجباتو بلکه دَ آدابوسره ليدلے دے لکه ابو حميد الساعدي رض وغيره په روايت کښ راځي ، نو په حديث صلوا کما رئيتموني کښ امر صرف په فرضيت نه دے بند بلکه فرضيت ته او غير فرضيت دواړو ته شامل دے ،

التقرير الرفيع کښ دي چه "اذا قلت هذا الخ " دَ سيدنا ابن مسعود مدرج نه دے او دَ رواياتو تطبيق په دے سره راځي چه فرض نه دے بلکه واجب دے، او دَ تسليم روايت خبر واحد دے او ددے نه فرضيت نه ثابتيږي او دَ شيخينو دَ وجوب غوندے خبره عطاء بن ابي رباح او سعيد بن المسيب هم کړے ده او دا هم يو اختلاف دے چه دواړو طرفته سلام واجب دے اوکه يو طرفته ، درمختار کښ دي (ولفظ السلام) مرتين فالثاني واجب علي الاصح او عام فقهاء وائي چه دواړو طرفته سلام جار باسل واجب دي ،او امام نووي چه فرمائي : چه دَ امام ابوحنيفه رح په نزد سلام سنت دے ليکن که دَ سنت نه ئے مراد سنت متعارفه وي صحيح حُکه نه ده چه لفظ دَ سلام ته واجب وائي او که دَ سنت نه مراد ثابت بالسنة وي نو په دے صورت کښ دَ أئمه سره تقابل جوړول صحيح نه دي دا دَ امام نووي تسامح دے چه وقال ابوحنيفة هو سنة لکه دَمسلم شرح کښ جلد:۱ : ۲۱۷ باندے ليکلے دي : او علامه طيبي الکاشف کښ ليکلے دي : مستحب عند ابي حنيفة ، دا خبره هم صحيح نه ده بهرحال دَ احنافو مسلک کښ خروج بصنعه فرض او سلام واجب دے که دَ درود نه بعد مانځه کښ نينے او دانے چيچل شروع کړے، او يا باسيدو روان شو نو فرض آدا شو او واجب ترے پاتے شو اعاده به کوي (التقرالرفيع) او مخ ښي او ګس طرفته کرځول سنت عمل دے ، امام طحاوي دَ سيدنا علي رض فتوي چه ددے حديث راوي دے را نقل

کړے ده چه دَ تشهد نه بعد سبق حدث راغـے نو مونځ ئے تام دے، "أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا رَفَعَ الْمُصَلِّي رَأْسَهُ مِنْ آخِرِ صَلَاتِهِ , وَقَضَى تَشَهُّدَهُ , ثُمَّ أَحْدَثَ , فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُه" (شرح معاني الاثار ١:٢٧٥: رقم: ١٦٤٠)

بعض وائي چه تعالیٰ په لفظ دَ سلام دَ رکنيت فائده ورکوي ليکن تعامل سره رکنيت لازم نه وي دَ پيغمبر عليه السلام مواظبت چه يو ځل ئے نه وي پريخودے دَ وجوب دليل دے او دَ دے نه احناف انکار نه کوي او خپله امام ابوحنيفهؒ دَ خروج بصنع المصلي تخريج نه دے کړے دا دَ ابو سعيد البردعي تخريج دے،

ملحوظه : الحق الصريح کښې دلته دَ احنافو دَ مونځ بيهوده نقشه چه دَ محمود غزنوي په حواله ده دَ شيعه گانو ددغے اعتراض نه منهاج السنة کښې ابن تيميه :٢: ٩٢ کښې جواب کړے دے، او مولاناعبدالحي لکهنوي : (٨٢) نمبر رساله کښې تفصيلا ددے جواب کړے دے او مرآة الجنان او المنخول دَ غزالي جوانه ئے کړي دي اصل کتاب ته رجوع اوکړه،

نوټ : الفوائد البهيه :٢٩١ شمس الائمه محمد بن عبدالستار الکردي رد المنخول کتاب ليکلے دے امام غزالي چه کوم امام ابوحنيفهؒ باندے تشنيع کړے ده دَ هغه په يو يو قول ئے رد کړے دے ،الفوائد البهية : ٢٩١ رسالة نفيسة حسنة جدا مشتملة علي ابحاث الشريعة الا انه بسط الکلام في بعض مواضعها بالشناعة علي امام الشافعي واتباعه لکنه بالنسبة الي تشنيع الغزالي علي ابي حنيفة قليل جدا"

(١٣):وَعَن عَلِيّ بن طلق قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسلم:«إِذا فسا أحدكُم فَلْيَتَوَضَّأ وَلَا تأتو النِّسَاءَ فِي أَعْجَازِهِنَّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ،

ترجمه : دَ علي بن طلق نه روايت دی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل کله چه تاسو کښې يو تن بې اودسه شي (يعني هوا ترې لاړه) نو اودس دی اوکړي او تاسو ښځو ته دَ هغوي په شا کښې راتلل مهٔ کوئ (دبر کښې ورسره جماع مه کوئ)

تشريح : اذا فسا احدکم فليتوضأ : دَ هوا وتلو سره اودس مات شو او بيا ئے ورسره دا حکم ځکه يو ځائے کړو چه ښځو سره دَ دبر نه وطي مهٔ کوئ چه دا حرام او ډير دَ غصے خبره ده چونکه دواړه څيزونه دبر سره تعلق لري يو ځائے ذکر اوکړو ، دواړه جملو کښې يو قسم له مناسبت دے او په دے

Maktaba Tul Ishaat.com

اجتناب به هغه څوک مواظبت اوکړي شي چه دَ تېولو پليتو نه ځان بچ ساتي چي يو پکښې هر چا سره دَ دبر دَ اتيان نه دَ اجتناب حکم دے بلکه دا هغه کبيره ده چه حديث کښې په دے لعنت راغلے دے او لعنت دَ غټ گناه په کولو سره ذکرکيږي ، دَ "فسا" او "ضراط" مينځ کښې دغه فرق دے چه "فسا" الريح الخارجه من الدبر من غير صوت ته وائي او "ضراط" ما خرجت بالصوت ته وئيلے کيږي ، لمعات کښې شيخ عبدالحق ليکلے دي : "اعجاز" جمع دَ عجز ده دَ مشهور قول مطابق،

(١٤) :وَعَن مُعَاوِيَة بن أَبِي سُفْيَان أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ: «إِنَّمَا الْعَيْنَانِ وِكَاءُ السَّهِ فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنُ اسْتطْلق الوكاء» . رَوَاهُ الدَّرَامِي ،

ترجمه :معاويه بن ابي سفيان نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل سترگے دَ کوناتو سرتړون دے چه سترگے اوده شي نو سرتړون پرانستلے شي.

تشريح : دواړه سترگے سرتړونې (پرتوغاښ) دَ دبر دَ سر دے چه سترگے اوده شي نو سرتړونے پرانستلے شي ،

تشريح : په خوب دَ ريح وتل اکثر واقع کيدل وي نو خوب ئے دَ ريح قائم مقام جوړ کړواو دا ناقض الوضوء جوړشو لکه سفر کښې قصدا اکثر سفر کښې مشقت وي نو سفر کښې مطلقا دَ قصر حکم دے که سفر کښې تکليف وي يا نه،

مذاهب

(١)ابو موسي اشعري ، سعيد بن المسيب ، ابن حزم اوزاعي ، ابن عمر وغيرهم فرمائي چه مطلقا خوب سره اودس په هيڅ حال کښې نه ماتيږي ،

ابن حزم محلي : ١٨٩ : باندے دَ اوزاعي دا قول نقل کوي او بيا ئے ليکلے دي وهو قول صحيح من جماعة الصحابة ،

(٢) : حسن بصري ، مزني ، اسحاق بن راهويه رحمهم الله فرمائي : چه هر حال کښې نوم ناقض دے او محلي کښې ص:٨٨ باندے دي : قالنوم في ذاته حدث ينقض الوضوء سواء قل او اکثر قاعدا او قائما في صلاة او غيرها او راکعا کذالک او ساجدا کذالک او متکئا الخ"

(۳) : ډير خوب سره ماتيږي او لږ سره په هيڅ حال نه ماتيږي دا امام مالک ، زهري ، ربيعه ، او امام اوزاعي فرمائي ،

(٤) : چه دَ مونځ ګزار په هيئت لکه رکوع ، سجده ، قيام او قعود کښې اوده شي اودس ئې نه ماتيږي که مانځه کښې وي يا نه وي ليکن که ستونِ ستاخ يا په ډډه سملاستو بيا اودس ماتيږي دا دَ امام ابوحنيفه ، داود ظاهري ، حماد بن ابي سليمان او سفيان قول دے حافظ ابن حجر ليکلے دي چه دَ امام ابو يوسف قول دے او شمس الأئمه سرخسي مبسوط کښې ليکلے دي که په سجده کښې اوده شے دَ اوده کيدو په نيت سره نو بيا اودس ماتيږي ليکن مشهور قول نه ماتيدل دي او علامه شامي ليکلے دي چه دَ مانځه دَ هيئت نه دَ سړو حق کښې هيئتِ منسوخه مراد دے نه دَ ښځے ، فقهاؤ ليکلے دي : که په ناسته اوده شو او لګ ټيټ شولو ليکن زمکے ته دَ رسيدلو نه مخکښې سترګے اوغوړيدے نو اودس نه ماتيږي او که سترګے ئے روستو اوغوړيدلے نو اودس ئے مات شو ، دے حديث کښې "وکاءالسه" کنايه دَ ريح دَ وتلو نه ده په سبب دَ استرخاء المفاصل ، التعليق الصبيح کښې دي چه دَ انسان دَ سترګے او دَ دبر تشبيه به ئے دَ هغے مشکيزے سره ورکړے ده چه په مزي ئے تړلے ده ، او دَ خوب په وخت کښې دَ غفلت سره هغه تشبيه ورکړے شوے ده چه دَ مشکيزے نه ئے پرانځي ، او دَ انسان ددے غفلت يو قبيح صورت تصوير په دے کښې خودلے شوے دے ځکه دَ خروج دپاره دَ ظن درجه کښې سبب جوړيدے شي چه اودس ماتوي، ځکه په هغه خوب اودس نه ماتيږي چه په زمکه ئے مقعد خه مضبوط کيخودلے وي ، امام محي السنه شافعي المذهب دے نو مسئله دَ امام شافعي دَ فقه سره مطابق کول غواړي هغه وائي چه په ناسته اوده کيدو سره اودس نه ماتيږي ځکه چه صحابؤ به دَ ماسخوتن دَ مونځ انتظار کولو تر دے چه سرونه به ئے خوزيدل ، ليکن په ناسته اوده کيدو سره دَ احنافو په نزد هم اودس نه ماتيږي دے وخت کښې استرخاء المفاصل نه کيږي ، خوب ، جنون ، ، بے هوشي سره کيګي دے ټولو کښې دَ حدث دَ خروج ظن غالب شته او دے سره دَ انسان اختيار سلب شي ،

فائده : دَ ثقيل او خفيف خوب په تجربه سره فرق کيږي داسے استغراق چه په عقل دَ هغے غلبه راشي او دَ قوت ماسکه زوال اوشي ثقيل دے ورنه بيا خفيف دے ، دَ "العينان وکاء السه" باره کښې علامه الباني "هداية الرواة" کښې ليکلے دي چه دا دَ معاويه بن ابي سفيان روايت دے ابن حجر وائي : په دے کښې ضعف دے علامه الباني ليکي چه دے کښې ابوبکر بن ابي مريم ضعيف دے دَ اختلاط دَ وجے نه ليکن

Maktaba Tul Ishaat.com

دے له بل شاهد دَ سيدنا علي رضي الله عنه روايت او دَ صفوان بن عسال روايت دے چه باب المسح عي الخفين کښې فصل الثاني کښې ذکر دے ،(ولکن من غائط وبول) انتهي ، هدايه کښې دي "لا وضوء علي من نام قائما او قاعدا او راکعا او ساجدا انما الوضوء علي من نام مضطجعا فانه اذا نام مضطجعا استرخت مفاصله (نصب الرايه)علامه ابن همام په دے حديث کښې کلام کړے دے او ضعيف ئے ورته وئيلے دے ليکن شيخ محمد ادريس کاندهلوي تعليق کښې ليکلے دي "لکنه بلغه بتعدد الطرق ونقل الاختلاف في تضعيفه الي درجة الحسن"

الحق الصريح :۲: ۵۸ کښې دي : "فاذا اضطجعت استرخت مفاصله " ليکي : رواه ابوداود والترمذي واسناد الحديث ضعيف په دے کښې يزيد بن عبدالرحمن ابي خالد الدولاني راوي دے چه امام بخاري ، ترمذي په العلل المفرد کښې او احمد بن حنبل او دارقطني او منذري ، بيهقي او ابوداود او بغوي ورته ضعيف وئيلے دے ، قال ابوداود قوله الوضوء علي من نام مضطجعا هو حديث منکر ،

دا خو غټ تبع تابعي دے ابن معين وائي ليس به بأس دغسے نسائي هم وائي او ابو حاتم ورته صدوق ثقه وائي ، ابو احمد وائي بعض حديث باندے کلام دے ليکن امام احمد فرمائي لابأس به دے او ابن حبان وائي کثير الخطأ فاحش الوهم دے ليکن حاکم دَ ابو احمد قول نقل کړے دے وائي: لا يتابع في بعض حديثه ،

وقال الحاکم: ان الأئمة المتقدمين شهدوا له بالصدق والاتقان وقال ابن عبدالبر ليس بحجة ، تهذيب التهذيب : ۱۲ صفحه:: ۷۳ ، تهذيب الکمال :۳۳: ۲۷۳،

(۱۵):وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

قَالَ الشَّيْخ الإِمَام محيي السّنة هَذَا فِي غير الْقَاعِد لما صَحَّ عَن أنس قَالَ: كَانَ أَصْحَاب رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَظِرُونَ الْعشَاء حَتَّى تخفق رؤوسهم ثمَّ يصلونَ وَلَا يتوضؤون. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ إِلَّا أَنه ذكرفيه: ينامون بدل: ينتظرون الْعشَاء حَتَّى تخفق رؤوسهم"

ترجمه : دَ علي ؓ نه روايت دے چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دَ كوناتو تسمه ستركے دي نو څوک چه اوده شو نو هغه دے اودس اوکړي ، امام محيي السنه فرماائي: دا دَ هغه چا دپاره چه ناست نه وي ځکه چه دَ انس ؓ نه روايت دے چه دَ نبي عليه السلام ملګري به دَ ماسختن دَ مانځه په انتظار ناست وو تردے چه دَ خوب په وجه به ئے سرونه ښکته شو بيا به هغوي مونځ کولو او اودس به ئے نه کولو ، خو امام ترمذي ينتظرون العشاء حتي تخفق رؤوسهم ، په ځائے "ينامون" ذکر کړے دے ،

تشريح : صاحب دَ مشکوة وائي دا دَ ابوداود روايت دے او ملاعلي قاري ليکلے دي چه ابن حجر او ابن ماجه وائي چه ضعيف سند کښې دي او ميرک وائي ددے په سند کښې الوضين بن عطاء او بقيه بن الوليد "و فيهما مقال" او دواړو کښې څه خبره شته، هر چه هغه صورت دے چه په ناسته داسے اوده دے چه کوناتي ئے په زمکه کلک يخے دي بيا راويخ شو او کوناتي ددهٔ دَ مخکښې غوندے مضبوط وو بيا ئے اودس نه دے مات هر څومره که ددهٔ خوب اوګد شي ،

تخفق رؤوسهم : دَ تخفيق معني خوزيدل راخوزيدل دي ،علامه طيبي وائي "خفقة" معمولي جهوټے ته وائي دا ځنے به دَ دوي سينو سره لګيدلے" او دَ مسلم روايت دَ انس ؓ نه دے چه صحابه به اوده کيدل بيابه دوي مونځونه کول او اودس به ئے نه کولو ، نو دَ "ينتظرون العشاء حتي تخفق رؤوسهم" تعبير ئے په يے په "ينامون" سره اوکړو (مرقات)

(١٦):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الْوُضُوءَ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا فَإِنَّهُ إِذَا اضْطَجَعَ اسْتَرْخَتْ مفاصله. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد"

ترجمه : دَ ابن عباس ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه اودس په هغه چا لازم دے چه هغه په يو اړخ باندے اوده شو پس کله چه دے څملي نو ددهٔ دَ بدن جوړونه سست شي ،

تشريح : مفاصل جمع دَ مفصل ده دَ هډوکو او دَ رګونو سرونو ته وائي ، عادة داسے وخت کښې څه نا څه وتلو امکان وي عادةً او عادت دَ يقين غوندے وي ، ميرک دے حديث ته منکر وائي دا دَ قتاده نه صرف يزيد الدالاني ذکر کوي او قتاده دا دَ ابوالعاليه نه نقل کوي ليکن ابوداود وائي چه قتاده دا حديث دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوالعاليه نه اوريدلے نه دے نو منقطع دے او ابن حبان وائي چه يزيد دالاني به ډير خطا کيدو ، وهم پکښ زيات وو او دَ ثقه نه خلاف کونکي وو،

(١٧):وَعَن بسرة قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ» . رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه والدارمي"

ترجمه : دَ بسره نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : تاسو کښ چه کوم سړے خپل اندام مخصوصه له لاس واوړي نو اودس دے اوکړي ،

تشريح : بسره بنت صفوان بن نوفل وريره کبري ، دا دَ امام شافعي دے چه مس ذکر سره اودس هله ماتيږي چه بے دَ څه حائل نه بالذات په ورغوي دا مس اوکړي شي يعني په قول دَ ابن حجر په تلي کښ ښکاره اونيولے شي ځکه يو روايت کښ دي "اذا افضي احدکم بيده الي فرجه" افضاء دغه معني ده اګر چه لغت کښ مطلقا ايصال ته وائي امام طحاوي فرمائي : چه دَ حديث مطلب دے استحبابا لاس وينځل،

(١٨):وَعَن طلق بن عَلِيٍّ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَمَا يَتَوَضَّأُ. قَالَ: «وَهَلْ هُوَ إِلَّا بَضْعَةٌ مِنْهُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نحوه قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللَّهُ: هَذَا مَنْسُوخٌ لِأَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَسْلَمَ بَعْدَ قدوم طلق"

ترجمه : طلق بن علي فرمائي چه يو ځل دَ نبي عليه السلام نه تپوس اوشو چه سړے خپل ذکر له لاس واوړي دَ اودس نه پس نو نبي عليه السلام اوفرمائيل هغه هم دَ غوښے يوه ټکړه ده، امام محي الدين ورته منسوخ وائي ځکه ابوهريره دَ طلق دَ راتلو نه پس اسلام قبول کړے دے،

مسئله دَ مسّ ذکر

دَ احنافو په نزد مسح ذکر سره اودس نه ماتیږي لیکن امام شافعي دَ باطن کف قید لګوي بلا حائل ، او امام مالک ئے عام اخلي ، بدایة المجتهد کښې ابن رشد مالکي په درے شرطونو مس ذکر ته ناقض وائي: (۱): چه په باطن دَ کف سره وي،(۲): بے دَ حائل نه وي ،(۳): نیولو سره ورته یو خوند محسوسیږي ،او لمعات کښې دي صِرف فرج ترے اخلي او دَ امام احمد په نزد ناقض دے لیکن بحرالرائق :۱: ٤٤ باندے دَ څلورو کسانو په موجودګئ کښې دَ مسئلے دَ بحث په دوران کښې یحیي بن معین دَ اودس ماتیدو دَ خبرے په دوران دَ بُسره حدیث پیش کړو ، او علي بن مدیني فرمائي چه اودس نه ماتیږي ، امام احمد فرمائیلے دي په آخر دَ بحث کښې "فمن شاء اخذ هذا ومن شاء اخذ هذا" لیکن امام ترمذي سنن کښې دَ امام احمد او دَ امام شافعي مسلک یو شان ذکر کړے دے په احنافو کښې صاحب دَ نورالایضاح او صاحب دَ درمختار په دے مسئله کښې لیکلے دي چه دَ اختلاف لحاظ ساتل مستحب دي ، نورالایضاح کښې دي "وللخروج من اختلاف العلماء کما اذا مس امرءة " او درمختار:۱ : ۱۰۳ باندے دي "لکن یندب للخروج من الخلاف لاسیما للامام" اصل مسلک دَ امام ابوحنیفه ، سفیان ثوري ، حسن بصري ، ربیعه الرأي او دَ عروه دادے چه نه ماتیږي، دغسے دَ علي او ابن مسعود او دَ عمار نه روایت دے، امام طحاوي دَ طلق بن علي روایت له ترجیح ورکوي چه دَ بُسره دَ اسناد نه قوي دے او امام طحاوي دا هم نقل کوي چه دَ مونږ باره کښې راځي چه ددے قوام اودس دے "فلم یکن في صحابة رسول الله صلی الله علیه و سلم من یقیم هذا الدین إلا بسرة" او ربیعه اوفرمائیل که بُسره په یو "نعل" هم ګواهي ورکوي نه ئے منم، علامه ابن همام فرمائي چه دَ بُسره روایت کښې شرطي او مروان دوره متکلم فیه دي او امام طحاوي فرمائي چه دَ سیدنا ابن عمر دَ نقض وضوء قول نقل کړے دے لیکن دَ ابن عباس ، عمار او عبدالله بن مسعود رضوان الله علیهم نه دَ عدم وضوء قول منقول دے "فتقلید من ذکرنا اولي من تقلید ابن عمر وقد روي ذالک عن سعید بن المسیب والحسن" (طحاوي: ۱: ٤۷)

او فتح القدیر کښې دي چه عمربن علي الفلاس فرمائي چه: حدیث طلق عندنا اثبت من حدیث بسرة بنت صفوان ، او شوافع دَ طلق حدیث منسوخ ګڼړلے دے ،لیکن صاحب دَ بحرالرئق :۱: ٤٤ کښې وائي : ولأن حدیث طلق غیرقابل للنسخ لأنه صدر علي سبیل التحلیل فانه علیه السلام ذکر ان الذکر قطعة لحم فلاتأثیر لمسه في الانتقاض ، آخر کښې لیکي "وهذا المعني لایقبل النسخ ، او دواړو روایاتو کښې جمع

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې کيدې شي دَ ترجيح دَ صورت نه پس چه دَ بُسره روايت کښې مس ذکر دَ واړه بول نه کنايه ده او داسې کنايه قرآن وحديث کښې ذکر کيږي لکه "او جاء احد منكم من الغائط" او امام زيلعي نصب الرايه :١: ٧٠ باندې دَ سفيان ثوري او دَ ابن جريج مناظره نقل کړې ده چه ابن جريج ورته ناقض وضوء وائي نو سفيان اوئيل که دَ چا لاس په منځ اولګي اودس ماتيږي يا نه اوې وئيل چه نه ، سفيان ورته اوې چه مني زياته اغلظه ده يا اندام مخصوص فسكت ابن جريج ، اوې وئيل "ماالقاها علي لسانک الا الشيطان" په دې ژبه دې سم شيطان خبرې کوي،

صاحب دَ مشکوة فرمائي چه دَ طلق روايت منسوخ دې صاحب دَ بحر وائي منسوخ ځکه نه دې چه ددې تعلق دَ امر ونهي قبيله سره نه دې چه علت ئې هل هو الا بضعة منه فرمائيلې دې نو ولې دا مطلب ئې دې چه اوس دَ بدن ټکړه نه ده او امام طحاوي دَ نقلي دلائلو دَ بيان سره عقلي دليل دا ذکرکوي چه نورو اندامونو سره دَ مس په صورت کښې نه ماتيږي او دَ کف په ظهر سره نه ماتيږي نو دَ بطن کف سره وضوء لازم شوه ؟

علامه الباني هداية الرواة کښې ليکي چه هل هو الا بضعة منه قلت وسنده صحيح وقد صح القول به عن جماعة من الصحابة منهم ابن مسعود ، وعمار بن ياسر ، او دَ منسوخ وجه چه ذکر کوي "لان اباهريرة اسلم بعد قدوم طلق الخ " الباني صاحب فرمائي ثم ان استدلال محيي السنة به علي نسخ حديث طلق فيه نظر عندي من وجهين الاول ان اباهريرة لم يصرح بسماعه له من رسول الله فيجوز ان يكون قد اخذ عن بعض الصحابة الذين سموه منه قبل ان يحدث طلق ويمكن الجمع بين الحديثين الخ " انتهي

مرقات کښې ملاعلي قاري ليکي : "اعترض الشيخ التوربشتي رحمه الله على الشيخ محيي السنة رحمه الله بأن ادعاء النسخ فيه مبني على الإحتمال وهو خارج عن الإحتياط إلا إذا اثبت هذا القائل أن طلقا توفي قبل إسلام أبي هريرة أو رجع إلى أرضه ولم تبق له صحبة بعد ذلك وما يدري هذا القائل أن طلقا سمع هذا الحديث بعد إسلام أبي هريرة وذكر الخطابي في المعالم أن أحمد بن حنبل كان يرى الوضوء من مس الذكر وكان ابن معين يرى خلاف ذلك وفي ذلك دليل ظاهر على أن لا سبيل إلى معرفة الناسخ والمنسوخ لهما كذا نقله الطيبي ونقل بعض عن الخطابي أنه قال إن أحمد بن حنبل وابن معين مع بعد شأويهما وجلالة قدرهما في معرفة الحديث ورجاله تذاكرا وتكلما في الأخبار التي رويت في هذا الباب وكان عاقبة أمرهما أن اتفقا على سقوط الإحتجاج بحديث طلق وبسرة أي لأنهما تعارضا فتساقطا وهذا دليل ظاهر على أن لا

سبيل إلى معرفة الناسخ والمنسوخ منهما اه ، او دَ ابو هريره نه سماع په صيغه روايت نه دِے نقل نو احتمال شته چه دهٔ هغے بعض صحابؤ نه ئے اوريدلے وي دَ طلق دَ سماع نه مخکښ نو دَ طلق حديث دے ورله ناسخ شي او دَ مراسيل الصحابه نه دے شمار شي »، او نخبة الفكر کښې ابن حجر او دَ اصول الحديث ماهرين ليکي چه دَ صحابي متاخراسلام روايت دلالت په نسخ نه کوي ،

علامه ابن حجر ليکي : نخبه کښې : وليس منها مايرويه الصحابي المتأخرالاسلام معارضا للمتقدم عليه لاحتمال ان يكون سمعه من الصحابي آخر اقدم من المتقدم المذكور اومثله فارسله ، ګويا نسخ احتمالي شو قطعي نه دے او مخکښې واقعه چه سفيان دَ روايت نه استدلال ئے کړے دے نو منسوخ څنګه شو، صحيح ابن حبان کښې دي چه حديث طلق ځکه منسوخ دے چه دَ مسجد جوړولو وقت کښې په اول کال راغلے دے .ليکن ابن سعد تصريح طبقاتو کښې: ١:٥٥ باندے کړے ده چه مسيلمه كذاب دَ بنو حنفيه وفد کښې وو او ابن هشام صراحة ليکلے دي چه نهم کال عام الوفود کښې راغلے وو او دے کښې ئے راتلل ابن حبان ذکرکړے دي او مسجد اول ځل مدينه کښې جوړيدو او بيا دَ خيبر نه بعد هم دے کښې توسيع شوے ده صرف دَ مسجد دَ تعمير وخت کښې اول راتلل دليل ددے نه دے چه بيا هدو راغلے نه دے ،

التعليق الفصيح کښې قاضي صاحب دَ شاه ولي الله په حواله دَ هذا منسوخ باره کښې ليکلے دي "ايں فقيررا دريں جواب نظراست،" روستو ئے بيا ليکلي دي چه حديث دَ طلق دے بل حديث له ناسخ کرځي ، التعليق الصبيح کښې دي چه علامه توريشتي فرمائي چه طلق اول کال دَ هجرت باندے راتلل او دَ ابو هريره ووم کال يعني دَ خيبر په کال مسلمان کيدل دَ نسخ دليل جوړيدل صرف احتمالي خبره ده "واطلاق النسخ على كتاب الله وسنة رسوله من طريق الاحتمال خارج عن الاحتياط " او که دا ثابته شي چه طلق دَ سيدنا ابوهريرة دَ اسلام نه مخکښې وفات شوے دے او يا چه خپلے علاقے له تلے دے بيا ئے نبي عليه السلام سره دَ صحبت اتفاق نه دے شوے بيا دَ خبرے وزن شته ليکن ددے نقل نه دے ثابت ، دَ سيدنا ابوهريره دَ اسلام نه بعد دا حديث طلق دَ خپل پيغمبر نه اوريدلے دے او علامه ابن حجر هيثمي هم ليکلي دي : اما احتمال المتأخرين فلا يثبت به نسخ ومن ثم كان الأصح في الاصول أن تأخرالراوي لايثبت به نسخ ، اګرچه هيثمي دَ خپل مسلک مطابق ترجيح دَ امام شافعي مسلک له ورکړے ده ،

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب المجموع شرح المهذب :۲:۳۳ باندے دي چه لمس ناقض وضوء دے که عمدا وي یا سهوا او دَ مالکیانو مسلک دے چه فرج دَ آدمي معتاد او معروف اغستل صحیح دي نو دَ ځناورو فرج مسح کولو سره اودس نه ماتیږي او که چرته سړے یا ښځے خپل "قُبل" یا دَ غیر صغیر یا کبیر ژوندي یا مړي مذکر یا مؤنث مسح اوکړه اودس ماتیږي که وړوکے ماشوم وي ذکر ئے ورله مسح کړو نو اودس ماتیږي او دَ امام مالک ،ابوحنیفه مسلک کښې مسِ دُبرناقض نه دے ،

او الاستذکارکښې دي : وقال الشافعي من مس دبره فعليه الوضوء لأنه فرج،

دَ سړي او دَ ښځے حکم یو دے یا جدا؟

دَ ابوهریره روایت دے : (إذا أفضى أحدكم بيده إلى فرجه وليس بينهما ستر ولا حجاب فليتوضأ) (صحیح ابن حبان: ۱۱۱۸) او دا حکم دَ سړي غوندے دَ ښځے هم دے ځکه دَ عبدالله بن عمرو دَ نبي علیه السلام نه روایت داسے دے "وَأَيُّمَا امْرَأَةٍ مَسَّتْ فَرْجَهَا فَلْتَتَوَضَّأْ" (مسند احمد:۲: ۲۲۲) چه کومه زنانه شرمگاه له لاس واوړي پس اودس دے اوکړي،

الحق الصریح کښې یو تنبیه ده : که یو شخص دَ ماشوم یا دَ بل چا ذکرله گوتے یوسي نو ددے څه حکم دے نو راجح داده چه ددۀ اودس مات دے کله چه په شهوت سره وي (۲: ۷٤)

قطع لحاظ دَ مسئلے نه عرض دے چه فقهاؤ باندے دا انکار صحیح نه دے چا به ترے دَ مسئلے تپوس نه وي کړے او کله دا دعوي چه واقعه به هم دغسے نشي او دوي فتاوي په هغے جوړے کړے دي دلته چا دَ دوي نه دَ مسئلے تپوس نه دے کړے چه یو کس وئیلے وي چه ما دَ بل ذکر له گوتے واوړے قرآن سنت کښې څه حکم دے هغه راته بیان کړه بلکه مقصد دَ مسائلو استیعاب وي اگرچه امکان ئے وي ترخپلو معلوماتو نو دا مدح وي ذم نه وي ، دَ "سیقول السفهاء" آیت لاندے کشاف کښې دي : ان الجواب العتيد قبل الحاجة اليه اقطع للخصم" ځکه چه دَ ویشتلو نه مخکښې غشے برابریږي ،دغسے علامه قاسمي په محاسن التاويل کښې لیکلے دي نو دَ احنافو داسے غوندے جزئیات باندے اعتراض دَ تعصب نښه ده ،

دَ احنافو مسلک مؤطا امام محمد کښې داسے ذکردے (التعلیق الممجد:۱:۲۰) لاوضوء في مس الذكر وهوقول أبي حنيفة وفي ذالک آثار کثيرة" او سیدنا ابن عباس فرمائي که نجس ئے گڼړے نو کټ ئے کړه ، مجمع الزوائد قدیم: ۱: ۹۹باب من مس فرجه : وعن أرقم بن شرحبيل قال : حكيت جسدي وأنا في

الصلاة فأفضيت إلى ذكري فقلت لعبد الله بن مسعود فقال لي : اقطعه وهو يضحك أين تعزله منك ؟ إنما هو بضعة منك رواه الطبراني في الكبير ورجاله موثقون"

(١٩):وَقد روى أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا أَفْضَى أَحَدُكُمْ بِيَدِهِ إِلَى ذَكَرِهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ فَلْيَتَوَضَّأْ» . رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ والدراقطني،

ترجمه : روایت کړے دے ابوهریره رضي الله دَ نبي علیه السلام نه چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي: هرکله چه په تاسو کښې دَ چا لاس ذکر ته اورسي او دَ لاس او دَ ذکر مینځ کښې څه حائل نه وي نو هغه له پکار دي چه اودس اوکړي

ورواه النسائي : عن بسرة الا انه لم يذكرليس بينه وبينه شيئ،

تشريح : حافظ عبدالحق دے حدیث ته صحیح وائي ،مرقات کښې ملا علي قاري لیکلے دي : چه امام احمد به دَ مس ذکر دَ وجے اودس کړو او ابن معین به ددے خلاف کولو، معلومیږي چه ناسخ او منسوخ والا خبره بقول دَ طیبي صحیح نه ده، دغسے په احتیاط عمل اولي دے لیکن که دَ حکم خبره وي چه ماتیږي یا نه ماتیږي نو دَ علي ، ابن مسعود ، ابوالدرداء ، حذیفه او عمار رضوان الله علیهم په نزد نه ماتیږي او دغه امام ابوحنیفهؒ وائي ، لیکن عمر ، ابن عمر ابن عباس ، سعد ، ابوهریره ، او عائشه ؓ وائي ماتیږي او دغه امام شافعي وائي بیا مالکي مذهب او دَ احمد یو روایت دادے چه شهوت سره لاس لګیدو سره ماتیږي کني نه ماتیږي ،

منهاج الرسوخ الي علم الناسخ والمنسوخ ابوالعباس البستي :٢: ٩٥٩ باندے دَ جانبینو دَ دلائلو او تفصیلي بحث نه پس وائي "وممن قال لا وضوء فيه من الصحابة.علي ابن ابي طالب وعمار بن ياسر وابن مسعود وابن عباس وحذيفه وعمران بن حصين وابوالدرداء واختلف فيه عن سعد بن ابي وقاص وابي هريرة" نو دَ صاحب مرقات سعد ، ابوهریره په ماتونکو کښې حسابول غوره نه دي ، او منهاج الرسوخ کښې تابعینو کښې ربیعه ذکر کوي او دَ سعیدبن مسیب اصح قول کښې اودس نه ماتیږي دغسے سفیان ثوري ، شریک ، حسن بن حي ، او ابوحنیفهؒ او ددهٔ ملګري او دغسے عبدالله بن الحسن چه دَ سیدنا عليؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

نسبے دے هم دَ نه ماتيدو دَ اودس حكم كوي او دَ عراق كوفے او دَ بصرے عالمانو خلفا او سلفا قول دے دغه ابوبكر بن المنذر هم وائي ،

(٢٠):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ ثُمَّ يُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا يَصِحُّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا بِحَالٍ إِسْنَادُ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَأَيْضًا إِسْنَادُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْهَا وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا مُرْسل وَإِبْرَاهِيم التَّيْمِيّ لم يسمع من عَائِشَةَ"

ترجمه : عائشه رضي الله نه روايت دے فرمائي چه : نبي عليه السلام به خپلے بعض ببيانے ښكل كړے بيا به ئے مونځ كولو او اودس به ئے نه كولو ، او امام ترمذي فرمائيلے ده چه صحيح نه دے زمونږ دَ علماؤ په نزد په هيڅ حال كښ سند دَ عروه عن عائشه او دَ ابراهيم تيمي دَ عائشه نه او ابو داود فرمائيلے دي چه چه دا مرسل دے ځكه دَ ابرهيم تيمي اوريدل دَ عائشه نه نه دي كړے

تشريح : علامه الباني په هداية الرواة كښ ليكلے دي قلت يمكن الحديث صحيح فقد جاء من طريق اخري بعضها صحيح كما حققناه في صحيح سنن ابي داود ، ورجح ايضا بتحقيق احمد شاكر علي الترمذي،

لمعات التنقيح كښ دي : چه دَ ائمه ثلاثو مسلك دادے كه په شهوت سره وي او كه بے دَ شهوته وي اودس ماتيږي كه پردئ وي يا خپله ليكن امام شافعي دا قيد لګوي چه حائل نه وي شهوت وي يا نه وي او علامه طيبي ليكي : چه امام مالك دَ شهوت قيد لګوي

او دَ احنافو په نزد مطلقا نه ماتيږي "اولا مستم النساء" اولي داده چه كنايه دَ جماع نه ده،

(١):متفق عليه روايت كښ دي عائشه رضي الله عنها فرمائي كنت انام بين يدي النبي صلي الله عليه وسلم ورجلاي في قبلته فاذا سجد غمزني فقبضت رجلي " وفي لفظ ، فاذا اراد ان يسجد غمز رجلي ،

(٢): اوعائشه رضي الله عنها فرمائي :"فقدت رسول الله صلى الله عليه وسلم ليلة من الفراش فالتمسته فوقعت يدي على بطن قدميه وهو في المسجد وهما منصوبتان وهو يقول اللَّهُمَّ أعوذ برضاك من سخطك وبمعافاتك من عقوبتك وأعوذ بك منك لا أحصي ثناء عليك أنت كما أثنيت على نفسك"(مسلم : ١: ١٩٣)

(٣): اوعائشه رضي الله عنها فرمائي : ان النبي صلي الله عليه وسلم قبل بعض نسائه ثم خرج الي الصلاة ولم يتوضأ ،، رواه احمد والاربعة بسند رجاله ثقات،

(٤): الاستذكار :١: ٢٩٦ دَ سيدنا عمر رضي الله عنه نه ثابت دي باسناد ثابت من اسانيد اهل المدينة انه كان يقبل امرءته ويصلي قبل ان يتوضأ عمر رضي الله عنه ،عاتكه ابنة زيد دَ روژے حالت كښ ښكل كړے وه مانځه له تللو او مونځ له ئے اودس اونه كړو او بعض عكس قول دَ عمر رضي الله عنه نه نقل كوي او عبدالله بن مسعود فرمائي چه چا ښځه ښكل كړه اودس پرے واجب شو ،،

المجموع كښ نووي دَ داود دا قول نقل كړے دے چه لمس عمدا سره اودس ماتيږي ليكن څوي ترے خلاف كوي چه په هيڅ حالت كښ نهٔ ماتيږي

او متفق عليه روايت دَ احنافو دليل دے چه مانځه كښ پيغمبر امامه بنت زينب اوچتوله ، دا هغوي دَ بيان جواز دپاره كړے وو سنت عمل نه دے

امام ترمذي چه ډيرو مسئلو كښ دَ امام شافعي په تحقيق روان دے دَ خپل مذهب دپاره ئے په سنن ترمذي كښ هډو باب نه دے منعقد كړے او دَ احنافو دليلونه ئے ضعيف كړے دي ، ابوداود ، نسائي هم دَ حديث تضعيف كوي ، سنن نسائي :١: ٣٩ كښ دي چه حديث الاعمش عن حبيب بن ابي ثابت عن عروة عن عائشة ، باره كښ يحي القطان وائي لاشيئ ،،

علامه ابن همام فتح القدير كښ ليكي: چه الله تعالي دوه قسمه وظيفے بيان كړے دي يو دَ واجد الماء دوئم دَ فاقد الماء دپاره ، واجد الماء له اودس او غسل دواړه يعني حدث اصغر او اكبر بيان كړل او دَ فاقد الماء دپاره كه "اولامستم" كښ دَ ملامسه نه لمس باليد واغستلے شي نو صرف دَ حدث اصغر بيان به وي ليكن دَ حدث اكبر به نه وي حالانكه ددے زيات ضرورت دے او دَ اصغر سره دَ اكبر دپاره ئے اثبات نشي كيدے او دَ واجد الماء دپاره هم وظيفه خلافه شوه څكه دَ واجدالماء دپاره د دواړو احداثو حكم بيان شو او دا دَ قرآن دَ فصاحت هم خلاف دے په دے وجه دَ ابن عباس رائے زياته راجحه ده چه جماع ترے واغستلے شي،

الحق الصريح:٢: ٨٤ كښ دي : احناف دا دعوي كوي چه فقه حنفي ابن مسعود كړلے ده حال دا چه دَ ابن مسعود ډيرے فتوے دَ فقه حنفي خلاف دي يو دَ هغے نه دا فتوي ده چه دَ ښځے ښكلولو كښ اودس

Maktaba Tul Ishaat.com

لازم دے مونږ دلته دَ ابن مسعود خبره پریدو ځکه چه دلیل ورسره نشته په امت باندے دَ دلیل تابعداري فرض ده تقلیدونه په دین کښ نشته ،، انتهي ،

عرض دادے التعلیق الفصیح :٥٩ باندے دي چه شاه ولي الله په المصفي :٣٥ باندے لیکلے دي : تحقیق آنست که منشا اختلاف دریں مسئله اختلاف اشیاں است در تفسیر قوله تعالی "اولامستم النساء" حضرت عمر وابن مسعود حمل کردند آنرا برادست رسانیدن بغیر جماع وبریں تفسیر لازم آمد که لمس نه ناقض وضوء دارند ونزدیک ایشاں آیت از نیابت تیمم غسل راساکت باشد پس مذهب ایشان همس بود وعبد الله بن عباس حمل کرد بر جماع پس لازم آمد که آیت از دلالت نقض لمس مد وضوء راساقط باشد ودلالت کند بر نیابت تیمم از غسل پس مذهب ابن عباس همیں بود ،،

شاه صاحب دغه فرمائي چه دَ آیت نه په تخریج کښ دَ صحابؤ اختلاف دے آخر کښ لیکي چه دلته دَ ابن عباس قول راجح دے چه قرآن کښ په ډیرو ځایونو کښ ملامست او جماع کنایه دَ جماع نه راغلے ده او دَ صحابؤ اقوالو کښ اختلاف دے او ماخذ چه کتاب وسنت کښ معلوم وي ماخذ کښ دے دپاره تأمل ضروري وي چه دَ بعض رجحان په بعض ښکاره شي "وظاهر ابو حنیفه دریں مسئله مذهب ابن مسعود وابراهیم نخعي را بهمیں سبب گزاشت است باوجود اتباع او ایشاں را در سائر مواضع انتهی" شاه صاحب ددغے اشکال حل داسے پیش کوي چه ظاهر کښ امام ابوحنیفه دَ ابن مسعود او ابراهیم نخعي مذهب په دے وجه پریخودلے دے چه امام ابوحنیفه ته دغه ترجیح دلته ظاهره شوے ده او په نورو ډیرو ځایونو کښ ددے دواړو دلیل ته ترجیح ورکوي یعني دا مطلب نه دے چه من کل الوجوه التزام دَ ابن مسعود دَ اقوالو هغوي کوي کما هو ظاهر، او کوم ځائے چه احناف دَ ابن مسعود قول اخلي هلته دلیل موجود وي لکه مسئله دَ رفع الیدین او ترک رفع الیدین،

شاه ولي الله حجة الله :١: ١١٧ باندے موجبات الوضوء کښ لیکلے دي : وکان إبراهیم یقلد ابن مسعود حتی وضح علی أبي حنیفة حال الدلیل الذي تمسك به ابن مسعود، فترك قوله مع شدة اتباعه مذهب إبراهیم"

وقال الترمذي لا یصح : ابن حجر هیثمي وائي که عروه مزني وي لکه بعض حفاظ وائي نو هغه دَ عائشه ادراک نه دے کړے او که عروه ابن زبیر وي چه ئے خورئے دے لکه دَ کلام دَ ترمذي نه معلومیږي نو بیا حبیب دَ عروه سره ملاقات ثابت نه دے بیا روایت منقطع شو ، دَ علامه طیبي قول التعلیق الفصیح کښ علامه کاندهلوي نقل کوي چه ډیر ځایونه دَ صحیحینو کښ داسے دي چه دَ عروه سماع دَ عائشه نه چه ډیر ځایونو کښ راغلے ده عروه خو دَ عائشه شاګرد دے لکه چه سید جمال الدین محدث لیکلے

دي "هذا كلام لايصح بحال لانه وقع في الصحيحين كثيرا مايدل علي صحة سماع عروة عن عائشة مما لا محال الخ " او وائي چه دَ ترمذي نه دا بعيده ده چه داسے خبرے كوي دَ دوي كتاب خو دلالت كوي چه دَ عروه سماع دَ عائشه رض نه صحيح ده انتهي ، او كه لانعرف لابراهيم التيمي ، ثابت هم شي روايت بيا مرسل دے چه دَ امام ابوحنيفه رح او دَ امام مالك او دَ امام احمد په يو روايت كښ حجت دے او امام زيلعي دارقطني نه مينځ كښ دَ عن ابيه واسطه نقل كړے ده "قد روي هذا الحديث معاوية بن هشام بن الثوري عن ابي روق عن ابراهيم التيمي عن ابيه عن عائشة فوصل سنده ، (زيلعي:١ : ٧٣) څكه ابن همام فتح القدير كښ ليكلے دي "وتضعيف الترمذي وقوله لايصح في هذا الباب عن النبي صلي الله عليه وسلم مؤول والا فخطأ"

واضحه دے وي : چه عروه مطلق ذكر دے فرد كامل او اشهر به مراد وي چه هغه عروه بن زبير دے او"ان هي الا انت"غوندے بے تكلفي هغه سره څكه خائيږي چه داددے نزدے رشته داردے مزني نشي كيدے او دَ ابن ماجه صفحه:٣٨ روايت كښ صراحة ابن زبير راغلے دے او چه سفيان ثوري وائي چه بيا دارروايت دَ حبيب دَ عروه بن زبير نه ثابت نه دے دا صحيح نه ده محدثينو په څلورو آحاديثو كښ ددوي سماع ثابته كړے ده لكه ابن حجر درايه كښ دا قول كړے دے ، ابوداود كه خبره مبهمه كړے ده ليكن ترجيح ابن زبير له وركوي او ميلان ئے ديته دے چه دَ حبيب سماع ترے ثابته ده څكه چه باب الوضوء من القبلة ،، كښ وئيلے دي "قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَقَدْ رَوَى حَمْزَةُ الزَّيَّاتُ عَنْ حَبِيبٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ حَدِيثًا صَحِيحًا" څكه امام زيلعي ليكي چه ابوداود ثوري په قول خوشحاله نه دے او زيلعي نصب الرايه كښ وائي چه ابن عبدالبر وائي چه كوفيان روايت صحيح كوي او راويان ئے ثقات او ائمة الحديث دي او دَ حبيب دَ ملاقات نه دَ عروه سره څكه انكار نه دي كول پكار ، چه حبيب دَ عروه نه اكبر او اقدم موتا نه روايت كوي نو دَ حبيب سماع دَ ابن الزبير نه ثابته ده ،

(٢١) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أَكَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتِفًا ثُمَّ مَسَحَ يَده بِمِسْحٍ كَانَ تَحْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه وَأحمد.

ترجمه : ابن عباس رض فرمائي نبي صلي الله دَ چيلئ پتون وريته كړے غوښه اوخوره بيا ئے خپل لاس په ټاټ سره وچ كړل چه لاندے غوړيدلے وو بيا اودريدو مونځ ئے اوكړو ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : ثم مسح يده لاس ئے په ټاټ وچ کړو دَ حديث نه معلومه شوه چه دَ خوراک نه بعد لاسونه وينځل واجب نه دي دومره تاکيد ئے نشته اګر چه مستحب دي ، په ټاټ به ئے لاس وچ کړل سيدنا عمرؓ به لاندے دَ خپو په تلو کله لاس اومږلو دا حکم دَچيلۍ دَ ليچے خوړلو پورے خاص نه دے اودلته الحق الصريح صفحه:۸۸ قديم چهاپ کښ ددے روايت ترجمه کښ اجتهادا مترجم خطاشوے دے ترجمه ئے کړے ده "دَ چيلي دَ پتون وريته غوښه ئے اوخوړله" او تشريح کښ دادي چه دَ "جنب" نه مراد اړخ او ليچه ده ليکن شارح صفحه: ۹۰ باندے دَ ذراع معني صحيح کړے ده ليچه ،

(۲۲):وَعَن أم سَلمَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: قَرَّبْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ،

ترجمه : دَ ام سلمه نه روايت دے چه نبي عليه السلام ته دَ چيلۍ وريته کړے ليچه اوړله نبي عليه السلام دَ هغے نه اوخوړله بيا مونځ دپاره اودريدو او اودس ئے اونه کړو ،

تشريح : علامه طيبي ليکلے دي چه په اُور څيز پوخ شي اودس نه خرابوي دَ "قربت" معني ملاعلي قاري ليکلے ده ماورته نزدے کړه هيڅ قسم اودس دوي نه اوکړو نه شرعي نه لغوي ، دا دَ بيان جواز دپاره ،

رواه احمد : ابن حجر وائي : دَ روايت سند حسن دے،

الفصل الثالث

(۲۳):عَن أَبِي رَافِع قَالَ: أَشْهَدُ لَقَدْ كُنْتُ أَشْوِي لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَ الشَّاةِ ثُمَّ صلى وَلم يتَوَضَّأ. رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : ابو رافع فرمائي : زه قسم خورم چه ما به دَ نبي عليه السلام دپاره دَ خيټے دننه څيزونه يعني اينه وغيره وريتول نبي عليه السلام به دَ هغے نه خوراک اوکړو او بيا به ئے مونځ اوکړو او اودس به ئے نه کولو ،

تشريح : ابو رافع دَ نبي عليه السلام غلام وو اول کښ دَ سيدنا عباسؓ غلام وو بيا ئے نبي عليه السلام ته اوبخلو ځکه چه نبي عليه السلام ته ئے کله زيرے دَ عباسؓ دَ اسلام اوکړو نو دَ خوشحالۍ نه ئے آزاد

کړو او دَ بطن شاة نه مراد هغه څيز دے چه دَ بيزے په کيډه کښې وي لکه زړه اوکليجي او نور لونړماس دغسے شيخ عبدالحق وائي،

ثم صلي : يعني خوراک ئے اوکړو بيا ئے مونځ اوکړو ، او صلي ماضي ئے اوے او يصلي مضارع ئے اونه وے ځکه چه "کنت اشوي" دَ معني په اعتبار سره ماضي ده دا دَ ماضي دَ حال په صورت يو حکايت دے،

(٢٤):وَعَنْهُ قَالَ: أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ فَجَعَلَهَا فِي الْقِدْرِ فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هَذَا يَا أَبَا رَافِعٍ فَقَالَ شَاةٌ أُهْدِيَتْ لَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَطَبَخْتُهَا فِي الْقِدْرِ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ يَا أَبَا رَافِعٍ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ الْآخَرَ ثُمَّ قَالَ ناولني الذّراع الآخر فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا لِلشَّاةِ ذِرَاعَانِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي ذِرَاعًا فَذِرَاعًا مَا سَكَتُّ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ فَاهُ وَغَسَلَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِمْ فَوَجَدَ عِنْدَهُمْ لَحْمًا بَارِدًا فَأَكَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً. رَوَاهُ أَحْمد وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ إِلَى آخِرِهِ"

ترجمه : يو ځل ابو رافع ته دَ چيلي غوښه هديه کړے شوه ما دَ هغے غوښه په کټوئ کښې واچوله نو نبي عليه السلام راغے نو ماته ئے وے ابو رافع دا څه دي؟ ما عرض اوکړو يا رسول الله دَ چيلئ غوښه ده چه ماته هديه شوے ده ما په کټوئ کښې پخ کړے ده نبي عليه السلام اوفرمائيل اے ابورافع ماله ترے يوه ليچه راکړه نوما نبي عليه السلام لره يوه ليچه ورکړه بيا نبي عليه السلام افرمائيل يوه ليچه راکړه نو مادوئمه ليچه هم نبي عليه السلام لره ورکړه بيا نبي عليه السلام اوفرمائيل بله راکړه نو ما عرض اوکړو يا رسول الله دَ چيلئ خو دوه ليچے وي نبي عليه السلام هغه ته اوفرمائيل که ته چپ پاتے شوے وے نو ماته به دے ليچه په ليچه راکوله خويورے چه ته چپ وے او بيا نبي عليه السلام اوبه اوغوښتلے او خوله ئے کنګال کړه او دَ ګوتو طرفونه ئے اووينځل او بيا پاسيدو او مونځ ئے اوکړو بيا دوي له راغے نو

دوي سره ئې يخه غوښه اوليده نو نبي عليه السلام هغه اوخوړله بيا نبي عليه السلام مسجد ته لاړو او مونځ ئې اوكړو او اوبه ئې مسه هم نه كړے يعني اودس ئې اونه كړو،

تشريح : ابو رافع فرمائي چه پيغمبر عليه السلام له بيزه په هديه كښې وركړے شوه اول ئې اظهار دَ غائب په صيغه او بيا دَ متكم په صيغه او په آخر كښې بيا دَ غائب په صيغه اوكړو عبارت كښې حذف دے چه ماذبح كړه غوښه مے كټوئ كښې باندے كړے وه چه نبي عليه السلام كورته راغے تپوس ئې اوكړو چه ابورافع دا څه څيز دے؟ نو ماورته خبره ښكاره كړه دوه ليچے دي دواړه مے ورله وركړے دَ نبي عليه السلام به دَ ليچے غوښه خوښه وه دا مخكښې حصه ئې نرمه وي څكه چه ورستو باندے بيزه كيني او څناور چه دَ بدن په كومه حصه كيني نو هغه سخت وي په نبي عليه السلام دَ استغراق كيفيت راغلے وو غوښے ته ئې پوره توجه نه وه اوئے فرمائيل بله راكړه ، ورته ئې اوئيل چه بله نشته پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمائيل كه تا چپه كړے وے نو ماله به الله يو بل پسے دغسے ليچے راكولے دا به زما معجزه وه كيدے شي دا مونځ ئې دَ هغوي په كور كښې بطور نفل دَ بركت په نيت كړے وے دَ مانځه نه پس ئې دَ ابو رافع كورته تشريف راوړو او يخه غوښه ئې اوخوړله او اوبه ئې استعمال نه كړے ضروري خو نه وے

كيدے شي ابو رافع او عبيد ته جدا جدا واقعے مخے ته راغلے وي يا قصه يوه ده او بيان ئې ابو رافع كړے دے او دا هم دَ حديث نه معلومه شوه چه دَ طعام خوړلو نه پس تول لاس وينځل شرط نه دي وينځل دَ هغے قدر چه غوړ شوے وي كافي ده،

ذراعا فذراعا : علامه طيبي ليكي : "فا" دَ تعاقب ده لكه چه "الامثل فالامثل " كښې ده او "ما" "فيماسكت" كښې دَ مدت دپاره ده ، اي ذراع الي ما نهاية له ما دمت ساكتا فلما نطقت انقطعت"

(٢٥):وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: كُنْتُ أَنَا وَأُبَيٌّ وَأَبُو طَلْحَةَ جُلُوسًا فَأَكَلْنَا لَحْمًا وَخُبْزًا ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوءٍ فَقَالَا لِمَ تَتَوَضَّأُ فَقُلْتُ لِهَذَا الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْنَا فَقَالَا أَتَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَمْ يَتَوَضَّأْ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْك. رَوَاهُ أَحْمد"

ترجمه : انس ابن مالک فرمائي : زه او ابي ابن كعب او ابو طلحه ناست وو مونږ غوښه او ډوډئ اوخوړله بيا ما دَ اودس اوبه اوغوښتلے ابي ابن كعب او ابو طلحه اوئيل ولے اودس كوے ما اووے ددے طعام دَ

وجے چه ما وس اوخوړلو نو هغوي دواړو اوئيل آيا پاکيزه څيزونه خوړلونه اودس کوے ددے څيزونو خوړلو نه پس هغه سړي اودس نه دے کړے کوم چه تانه بهتر دے يعني نبي عليه السلام ،

تشريح : دَ ابو طلحه تعارف

الحق الصريح کښې دَ ابو طلحه تعارف کړے دے چه دَ نبي عليه السلام دَ وفات نه ورستو څلويښت کالو پورے ژوندے وو تول عمر ئے روژه نيوله سوا دَ اخترونو نه او دَ نبي عليه السلام په ژوند کښې روژو نيولو ته اوزګار نه وو ځکه چه په غزواتو او جهادي امورو باندے مشغول وو (صفحه: ۹٤) انتهي ،

او تهذيب الآثار :۱:۱۲۲ باندے دي "كان أبو طلحة يقل الصوم على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم، فلما مات ، كان لا يفطر إلا في سفر أو مرض"

معلومه شوه که څلويښت کاله مسلسل څوک روژے نيسي دے ته بدعت وئيل بدعت دے ، التمهيد:۲: ۲۵۳ باندے ددے دَ دريو واړو نه دَ نه اودس تذکره موجود ده او صفحه: ۲۵۰ باندے عن انس قال لي ابن شهاب اطعني وتوضأ مما مست النار قال قلت لا اطيعک وادع سعيد بن المسيب" او داسے الاستذكار: ۱: ۲۱۷ باندے ، دلائل طرفينو ته وو ليکن يونس ورته اوئيل چه دَ سعيد بن المسيب په تحقيق پاتے کيدل غواړم دے روايت کښې نقلي دليل هم ذکر کړو چه ستا نه غوره نبي عليه السلام ددے خوراک نه پس اودس نه دے کړے دا نقلي دليل شو او عقلي دليل ئے ورته ذکر کړو چه دَ طيبات نه ولے اودس کول غواړے نو مسئله ئے عقلي او نقلي دواړو دليلونو سره مبرهنه کړه ،

لم يتوضأ منه من هو خير منک : هداية الرواة کښې علامه الباني ليکي : يدل على ان الصحابة كانوا ينكرون التقرب الي الله بعمل لم يشرعه رسول الله صلي الله وسلم بقوله وفعله " دليل دے چه کوم عمل نبي عليه السلام عملا او قولا نه دے مشروع کړے دَ الله دَ نزديکت دَ ذريعے جوړيدلو نه به صحابؤ انکار کولو چه په هغے مسلمان الله ته نشي نزدے کيدے انتهي ،

قرآن کښې دي "وليس البر بان تاتوا البيوت من ظهورها"(البقره: آيت: ۱۸۹)

ددے آيت په وضاحت کښې تفسير قرطبي کښې دي "وفي هذه الاية بيان ان مالم يشرعه الله تعالي قربة ولا ندب اليه لا يصير قربة بان يتقرب به متقرب"

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢٦):وَعَنِ ابْنِ عمر كَانَ يَقُولُ: قُبْلَةُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَجَسُّهَا بِيَدِهِ مِنَ الْمُلَامَسَةِ. وَمَنْ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَسَّهَا بِيَدِهِ فَعَلَيهِ الْوضُوء. رَوَاهُ مَالك وَالشَّافِعِيّ"

ترجمه : دَ ابن عمرؓ نه روايت دے دَ به فرمائيل چه دَ سړي دَ خپلے ښځے نه کوګه اغستل او هغه په لاس سره مسه کول هم ملامست دے او کوم سړي چه دَ خپلے ښځے نه کوګه واغسته يا ئے هغے له لاس واوړو نو په هغه باندے اودس واجب دے ،

تشريح : دَ جسّها : معني ده ګوتے واوړل ،

الملامسه : کومه چه قرآن ذکر کړے ده په "اولامستم النساء" کښ

فعليه الوضوء : تفريع ده چه کله ګوتے واوړل ملامسه کښ داخل شو نو بيا اودس پکار دے،

(٢٧):وَعَنِ ابْنِ مَسْعُود كَانَ يَقُولُ: مِنْ قُبْلَةِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ الْوُضُوءُ. رَوَاهُ مَالِكٌ"

ترجمه : ابن مسعود نه روايت دے چه دَ به فرمائيل چه په سړي باندے دَ خپلے ښځے نه بوسه اغستلو سره اودس دے

تشريح : امرأته : ترکيب کښ دَ "قبلة" دپاره مفعول دے ځکه چه دا اسم مصدر دے او "من قبلة الرجل" خبر مقدم دے او "الوضوء" مبتدا مؤخر ده،

(٢٩):وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: إِن الْقبْلَةَ من اللَّمْس فتوضؤوا مِنْهَا"

ترجمه : ابن عمر نه روايت دے چه عمرؓ به فرمائيل چه بوسه يعني کوګه اغستل په لمس کښ داخل دي نو اودس اوکړي ،

تشريح : دَ لمس نه مراد دغه قرآني آيت دے"اولامستم النساء" دا ټول آحاديث دَ بعض صحابؤ موقوفات دي،

مجتهد ته حق حاصل دے چه دَ صحابؤ په اقوالو کښ بعض له ترجيح ورکړي، خاص کر هغه صورت کښ چې دَ نبي عليه السلام نه په "لمس" نقض نه دے ثابت او امام شافعي مجتهد له دَ صحابي تقليد نه مني (مرقات)

(۳۰):وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْوُضُوءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ» . رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيُّ وَقَالَ: عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ وَلَا رَآهُ وَيَزِيدُ بن خَالِد وَيزِيد بن مُحَمَّد مَجْهُولَانِ،

ترجمه : عمر بن عبدالعزيز دَ تميم داري نه روايت نقل كوي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه هر بهيدونكے وينے سره اودس لازميږي دواړه روايتونه دارقطني نقل کړے دي او فرمائيلے ئے دي چه عمربن عبدالعزيز دَ تميم داري نه اوريدل نه دي كړے او نه ئے هغه ليدلے دے او ددے روايت دوه راويان مجهول دي يو يزيد بن خالد او دوئم يزيد بن محمد ،

تشريح : دَ شوافعو مسلک دادے چه دَ غير سبيلين نه که وينه اوځي اودس نه ماتيږي او دَ سبيلين نه ناقض به وي كه معتاد وي لكه وينه يا غير معتاد وي لكه حيض ونفاس او امام مالک فرمائي : چه دَ غير سبيلين نه وتلے وينه مطلقا اودس نه ماتوي او دَ سبيلين نه غير معتاد كه استحاضه وي ، اودس نه ماتيږي او چه معتاد وي لكه حيض ونفاس شو اودس ماتيږي ليكن امام ابوحنيفه ،احمداو دَ صاحبينو په نزد او دَ سفيان ثوري په نزد مطلقا وينه اودس ماتوي چه كله دَ زخم فم نه كير چاپيره سرايت اوكړي او خوره شي ، امام ترمذي فرمائي چه بعض اهل علم فرمائي چه په قيئ كښ يا كه پوزه ماته شي دَ امام مالک وشافعي په نزد اودس نه ماتيږي "وقد راي غير واحد من اهل العلم من اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم وغيرهم من التابعين الوضوء من القيئ والرعاف وهو قول سفيان الثوري وابن المبارک واحمد واسحاق " انتهي ،

صحابه كښ عشره مبشره عبدالله بن مسعود، ابن عمر ، زيدبن ثابت، ثوبان رضوان الله عليهم اجمعين او تابعين لكه سعيدالمسيب ، علقمه ، عطابن ابي رباح، او قتاده ، رحمهم الله فرمائي او امام خطابي فرمائي چه دا دَ اكثر فقهاء مسلک دے او دَ بعض صحابؤ لكه ابن عباس ، ابن ابي اوفي ، جابر بن عبدالله ، ابوهريره او عائشه رضوان الله عليهم اجمعين په نزد نه ماتيږي، دَ امام ابوحنيفه دليل دے الوضوء من كل دم سائل" دارقطني:۱: ۵۷، نصب الرايه : ۱: ۳۷، دوه صحابه دا روايت نقل كوي ، تميم داري ، او زيدبن ثابت رضوان الله عليهم دَ تميم داري حديث دار قطني خپل سنن كښ او دَ زيد بن ثابت روايت ابن عدي "كامل" كښ نقل کړے دے او مصنف كښ هم سند متصل دے ، صاحب دَ مشكوة دوه(۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

اعتراضونو کښې يو دا اعتراض کړے دے چه سند کښې يزيد بن خالد او يزيد بن محمد مجهول راويان دي ليکن ددے جواب دادے چه ابن عدي "الکامل" کښې په بل سند دَ زيدبن ثابت دا روايت نقل کړے دے او ددے ټول رجال ثقه دي صرف په احمدبن الفرج بعض علماء کلام کوي ليکن ابن ابي حاتم کتاب العلل کښې وائي : محله عندنا الصدق ،، چه رشتونے خلقو کښې دے ،نصب الرايه :١: ٣٧ ، او ابن حجر تهذيب التهذيب کښې دواړه قسمه اقوال نقل کړے دي دا ئے ليکلے دي چه عراقيانو دَ هغه حديث اغستلے دے او دَ هغوي باره کښې به ئے خه رائے لرله او سلمه بن قاسم وائي مشهور ثقه دے او محمد بن عون به ئے تضعيف هم کولو او حديث به ئے ترے خپله اغستلو او خلقو به هم دَ هغوي حديث اغستلو (تهذيب التهذيب) متفق عليه نو دا حديث حسن شو ،

دَ مولانا ارشادالحق اثري کتاب دے "امام بخاري پر اعتراضات کا جائزه" ليکلے دي چه احمد بن فرج ثقه دے او ابو زرعه ددهٔ نه خپل صحيح کښې روايت اغستلے دے او دَهٔ فرمائيلے دي چه زه به صحيح روايت ذکرکوم او ابن حبان ئے ثقات کښې تذکره کوي ،

الوضوء من کل دم سائل : احمد بن فرج بن سلمان ته محمد بن عوف ضعيف وائي دَ حديث پوره سند دادے "حدثنا شعبة عن محمد بن سليمان بن عاصم بن عمر بن الخطاب عن عبد الرحمن بن أبان بن عثمان عن زيد بن ثابت قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الوضوء من کل دم سائل" (الکامل لابن عدي: ٧: ٢٧٧)

احمد بن فرج ، تاريخ اسلام کښې :٤٨ نمبر ترجمه دَ دوي ده : ٦: صفحه:٤٩١ ، ابن ابي حاتم وائي محله عندناالصدق قال ابن عدي کان محمدبن عوف يضعفه ويتکلم فيه ليکن ليکي مع ضعفه قد احتمله الناس وليس ممن يحتج به ،،

دَ ابن عدي دَ خبرے مطلب دادے چه بعض ئے حجت نه ګنړي ليکن بيا ډيرو خلقو دا راوي قابل برداشت ګنړلے دے او لسان الميزان کښې دَ ابن عدي دَ قول دَ نقل نه بعد ليکي "قلت وهو وسط" وقال مسلمة ثقة مشهور وذکره ابن حبان في الثقات وقال يخطئ ، او ابو حاتم دَ تره قول نقل کوي چه کذاب دے ليکن صاحب دَ لسان وائي "قلت ووثقه الحاکم " (لسان الميزان: ١: ٥٧٥ ، هکذا في تاريخ بغداد : ٥: ١٥) دے مقام کښې نه بلکه بل يو ځائے کښې ئے علامه الباني سلسلة الضعيفه کښې ليکي : قلت فمثله يشهد به ولا يحتج به خصوصا فيما خالف فيه الثقات ، (سلسله: ٢: ١٣٧)

او دوئم اعتراض دادے : چه یزیدان دواړه مجهول دي ، لیکن داد ټولو رأي نه ده بعض ئے توثیق کوي حالانکه دَمجهول راوي توثیق نشي کیدے،

او السعایه :۱:۲۰۷ باندے مولانا عبدالحئ لکهنوي لیکلے دي چه محدث عبدالحق دهلوي فتح المنان کښ فرمائي : چه دوي کښ اختلاف دے بعض محدثین ئے توثیق کوي ، انتهي ، او دَ توثیق نه بعد وصف دَ جهالت ختمیږي او مجهول الذات پاتے نشو او که عمربن عبدالعزیز دَ تمیم داري نه اوریدل نه وي کړے حرج نشته ځکه چه بل سند متصل مخکښ ذکر شوے دے ، او الحق الصریح کښ دَ حجة الله په حواله دَ بحث موجبات الوضوء کښ دي دَ قيئ او دم نه روستو اودس کول مستحب دي ځکه چه واجب قوي دي هغه قوي دلیل غواړي او هغه نشته،، انتهي ،

دغه صفحه باندے شاه ولي الله لیکي : وقال إبراهيم بالوضوء من الدم السائل والقيء الكثير ، او لیکي : فلا عجب أن يأمر الشارع بالوضوء من هذه ، ولا عجب أن لا يأمر ، ولا عجب أن يرغب فيه من غير عزيمة ،، بغوی درے اقوال ذکر کړے دی اول ئے دَ اودس کولو او دوئم ئے دَ نه کولو حکم او درئم ئے دَ عزیمت نه صرف ترغیب له ذکر کړے دے او دا پکښ نشته ځکه چه واجب قوي ، قوي دلیل غواړي او هغه نشته ،

دَ بل فریق بنیادي دلیل

ابوداود کښ روایت دے چه غزوه ذات الرقاع کښ عمار بن یاسر او عباد بن بشر انصاري پیغمبر علیه السلام چوکیداري دپاره مقرر کړل بیا عمار اوده شو او عباد بن بشر رض مونځ کښ سورة الکهف شروع کړو او یو مشرک قسم خوړلے وو ، چه زه به ضرور یو صحابي وژنم نو په عباد رض ئے پرله پسے درے غشي راوویشتل تر دے چه مونځ ئے ختم کړو او ملګرے ئے راویښ کړو ملګري چه اوکتل "مَا بِالْأَنْصَارِيِّ مِنَ الدَّمِ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ أَلاَ أَنْبَهْتَنِي أَوَّلَ مَا رَمَى قَالَ كُنْتُ فِي سُورَةٍ أَقْرَأُهَا فَلَمْ أُحِبَّ أَنْ أَقْطَعَهَا" امام شافعي او دَ هغوي تحقیق پسے تلونکي وائي چه دَ عباد نه وینه وتلے وه او مونځ ئے مات نه کړو جاري ئے ساتلے دے وي ځکه وینه اودس نه ماتوي لیکن احناف دا تپوس کوي چه وینه پلیته بالاتفاق ده او وینه یقینا به جامو ته او بدن ته لګیدلے وي نو مونځ څنګه صحیح شو حافظ ابن حجر فتح الباري کښ دوه جوابه ورکړے دي یو ئے دَ علامه خطابي نه نقل کړے دے شائد چه وینے توپ والي او نیغه داسے کیرله وتلے وي چه ظاهر بدن او جامي سره نه وي لګیدلے لیکن حافظ وائي "وفيه بُعد"

Maktaba Tul Ishaat.com

واقعي حافظ ابن حجر انصاف اوكړو چه دے ته بعيده توجيه وائي ځکه ويني خو تعليم نه وو حاصل کړے نو غير تعليم يافته او غير ذوي العقول بلکه غير ذوي الشعور ځنکه اختيارا بدن او جامي ته نه لګي،

دوئم جواب ئے دا کړے دے چه دا وينه جامے ته اولګيده خو قميص ئے فورا اوباسلے دے او په بدن نه ده بهيدلے، او لګه وينه معاف ده حالانکه حديث کښ دي "ما بالانصاري من الدم" چه درے غشو باندے لګي او بدن باندے نه خوريکي دا خلاف عادت دے يو غشي سره ډيره وينه راوځي، آخر کښ ليکي چه وينه اودس نه ماتوي، ليکن که حنفي اوائي چه دَ وينے اودس ماتول پريږده دومره خواه مخواه معلومه شوه چه وينه بيا ستا په تحقيق پاکه ده که بدن سره اولګي حرج نه لري، دوئمه داده: چه صحابي اوفرمائيل: ماله سورت مزه راکړے وه دا ئے نه دي وئيلے چه زما مونځ صحيح شو هغه کښل له اودس مات دے کپړے پليتے دي، درے غشو لګيدو سره هسے مے مرګ نزدے ښکاري مونځ نه خرابوم چه دَ مانځه په هيئت وفات شم او دَ هغے نظير دَ ابن ماجه صفحه: ۲۲۳ روايت دے يو حاجي دَ حج په دوران کښ وفات شو دَ احرام په حالت کښ نبي عليه السلام اوفرمائيل "لاتخمروا وجهه ولا رأسه فانه يبعث يوم القيامة ملبيا" هيئت ئے ورله وران نه کړو او دا دَ دوي خصوصيت وو او نبي عليه السلام ته دَ واقعے اطلاع او دَ هغے تصديق يقيني او قطعي نه دے معلوم،

کتاب الجنائز کښ علامه الباني ليکلے دي: دَ سيدنا ابو سعيد په قبر باندے ابو جندل مسجد تعمير کړے وو او دا غټه واقعه وه نبي عليه السلام ډير لرے نه وو، او علامه ليکي: چه پيغمبر ته دَ مسجد دَ تعمير علم نه وو دغسے دلته هم دغه احتمال دے چه هغوي ته علم نه وو، او دا واقعه دَ غلبة الحال ده، او ابن حبان، بيهقي او دَ حاکم دَ روايتونو نه معلوميږي "وَايْمُ اللّٰهِ لَوْلاَ أَنْ أُضِيعَ ثَغْرًا أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم بِحِفْظِهِ لَقُطِعَ نَفْسِي قَبْلَ أَنْ أَقْطَعَهَا أَوْ أُنْفِدَهَا" معلوميږي چه مونځ ئے پوره کړے نه دے تر څه حده ئے اوکړو، دومره صحيح محتملاتو نه باوجود وينے سره عدم نقض الوضوء واجب نه ګڼړل بعيده خبره ده احناف استدلال دَ ابن ماجه صفحه: ۸۵ نه کوي عائشه رض فرمائي: من اصابه قيئ او رعاف او قلس او مذي فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن علي صلاته وهو في ذالک لا يتکلم، امام ذهبي دا روايت ذکر کړے دے "من قاء او رعف فاحدث في صلاته فليذهب فليتوضأ ثم ليبن علي صلاته قال احمد صوابه مرسل" (ميزان الاعتدال: ۱: ۴۰۲) مکتبه رحمانيه لاهور، او اعلام المؤقعين: ۱: ۳۲ کښ دي:

مع ضعف الخبر وارساله سره ئے دَ امام شافعي په دے مدح کړے ده مانحن فيه کښ ، امام شافعي فرمائي چه ددے نه دَ وينے وينځل مراد دي نه دَمانځه دپاره اودس احناف دا جواب کوي چه په دے سورت کښ به خو مونځ فاسد شي نو بناء کول به څنګه صحيح شي حالانکه حديث کښ "ثم ليبن" لفظ ذکر دے په دے کښ دَ اسماعيل بن عياش توثيق ابن معين کړے دے (التحقيقات:٦٦)

او علامه الباني دَ ذاذان توثيق کښ ليکي : چه دَ يحي بن معين توثيق کافي دے او زيلعي دَ ابن ماجه دَ روايت توثيق کړے دے او زيلعي ليکي: وذاد في الاسناد ، عن عائشة [رض] والزيادة من الثقة مقبولة والمرسل عند اصحابنا حجة والله اعلم ، بعض وائي چه دا حديث ضعيف دے اسماعيل بن عياش باندے کلام دے ليکن ډيرو دا وئيلے دي چه ثقه او عادل دے "اعلم الناس بحديث اهل الشام" او علماء ليکي: چه يزيد بن هارون ددۀ نه افضل دے (تهذيب الكمال)

او يزيد بن هارون ته مولانا عبدالعزيز نورستاني په حقيقة الالحاد کښ ميزان اهل الحديث وئيلے دي صفة الصفوة :٢: ١٩ باندے "كان يزيد بن هارون إذا صلى العتمة لا يزال قائماً حتى يصلي الغداة بذلك الوضوء نيفاً وأربعين سنة." چه دوي به دَ څلويښتو کالو نه زيات دَ ماسختن په اودس دَ سحر مونځ کړے دے او فرمائيل به دوي څوک چه بے وخته مشري غواړي په خپل وخت به ئے هم دَ مشرئ نه الله اوساتي او دَ ابن جريج ډير حفاظ ملګري دا روايت ابن ابي مليکه نه دَ عائشه [رض] دَ واسطے نه بغير دَ نبي عليه السلام نه روايت کوي او دَ ابن جريج صرف يو شاګرد اسماعيل بن عياش دا روايت متصلا يعني دَ عائشه [رض] په واسطے روايت کوي، ليکن الجوهرالنقي کښ دي چه يعقوب بن سفيان وائي چه ثقه او عادل دے او که چه اسماعيل ثقه شو نو دَ دوي روايت نقصاني نه دے څکه چه محدثينو تصريح کړے ده که ثقه او قابل اعتبار راوي که چرته زيادت کوي نو زيادت ئے قبول دے او رفع اوصل هم په روايت کښ يو زيادت صفت دے ، او که مرسل وي نو بيا هم دَ جمهورو په نزد لائق دَ احتجاج او حجت وي ،

اولا وضوء الا من حدث او ربح کښ حصر اضافي دے او په اعتبار دَ اغلب او دَ اعم سره دے ، او نافع فرمائي چه دَ عبدالله بن عمر به پوزه ماته شوه نو اودس به ئے اوکړو او بناء به ئے اوکړه او دَ ابن عمر نه بخاري کښ تعليقا دَ عدم نقض قول شته او دے کښ دَ تابعينو اقوال دواړو طرفته شته او په نقض الدم کښ دَ ابن سيرين جواب کله داسے کوي چه ابن سيرين تابعي دے دوي وائي چه فتوي ئے هيڅ کله دليل نشي کيدے او بيا دَ دلائلو دَ نمبر زياتولو دپاره دَ بعض تابعينو مثلا دَ سعيد بن المسيب او دَ سعيد بن

جبير دَ اقوالو نه استدلال کوي صحيح بخاري کښې يو روايت دے چه فاطمه بنت ابي جحش رضي الله عنها نبي عليه السلام له راغله "يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ، إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ، وَلَيْسَ بِحَيْضٍ" دے حديث نه معلومه شوه چه دَ رګ وينه اودس ماتوي دَ هر ځائے نه چه وي دَ مخکښې نه يا دَ بل ځائے.نه نور علماء فرمائي : دا دَ ماخرج من السبيلين وينه خو زمونږ په نزد هم ناقض وضوء وي ليکن احناف وائي چه پيغمبر صلي الله عليه وسلم دا نه دي فرمائيلے چه دَ سبيلين دَ خروج دَ وجے اودس کوه بلکه يوه قاعده کليه ئے بيان کړه چه دَ رګ وينه ده نو مدار سيلان دے او خروج دم من العروق دے ،دا علت که سړي کښې وي يا ښځه کښې يا حائضه زنانه کښې،

داجمله ! چه زما پلار عروه فرمائي : چه هر مونځ له اودس کوه کله چه ئے وخت راغے په دے کښې دَ محدثينو کلام شته چه دا په عروه باندے موقوف ده يا دَ نبي عليه السلام خبره ده ليکن ابن الترکماني خپله دَ بيهقي په حواله ددے رفع دَ اوو(٧) محدثينو نه ثابته کړے ده ، او انوارالباري کښې دي چه ډيرو محدثينو زيادت ته صحيح وئيلے دي او ابوعمر بن عبدالبر ئے هم تصحيح کړے ده ، دلته دا مقصد نه دے چه دا معذوره وه هغه خو وه دا مقصد دے چه په وينه وتلو اودس نه ماتيږي ،که ناقض نه وه نو ولے به ورته پيغمبر فرمائيل چه هر مانځه له بيا بيا اودس کوه ،

بخاري کښې دَ حسن روايت دے : مازال المسلمون يصلون في جراحاتهم ، چه مسلمانانو به په زخمونو کښې برابر مونځ کولو (باب من لم يرا الوضوء الا من المخرجين ،، ليکن جواب دادے چه په زخمونو کښې دَ مونځ کولو نه دا نه ثابتيږي چه سيلان دَ وينے به کيدو کيدے شي چه زخم به اوچ هم نه وي ليکن وينه ترے نه بهيږي بله دا چه په وينه هله اودس ماتيږي چه دَ زخم نه سرايت اوکړي اوبهيږي،

باب آداب الخلاء

آداب دَ ادب جمع ده هغه قول او فعل چه محمود وي ، فرض یا واجب نه وي سنت یا مستحب وي بعض آداب واجب ، بعض سنت ، بعض مستحب وي لمعات کښې دي چه بعض ترے تعبیر کوي په "الاخذ بمکارم الاخلاق"

خلاء : انسان دغه وخت خلوت خانه کښې ناست وي او خیته خالي کوي لرے کولے ځنډي محاورة استعمال دے ،

شاه ولي الله حجة الله کښې لیکي : (۱)تعظیم القبله پکښې ملحوظ دے

(۲): بیان دَ تنظیف دے چه استحباب الجمع بین الحجر والماء

(۳): چه خلقو ته ضرر وي دَ هغے نه به اجتناب کوے ، په سوري کښې ، لارو کښې ، اولاړو ابو کښې به استنجاء نه کوے دَ هډوکي نه به ځان بچ کوي په سوړه کښې به واړه بول نه کوے

(٤): محاسن العادات کښې دي چه ښي لاس به نه ستعمالوي ، او ناتکي استعمال خه ذے

(٥): دَ پردے رعایت به کوے ، لرے به ځے ، لرے به ځے تر څو نزدے شوے نه ئے زمکے ته کپړا به نه اوچتوي، کجهور یا نورو جاړو بوټي په آړکښې به ناسته کوے ، که مناسب ځائے نه وي نو دَ شړو دیرکئ به جوړه کړے پرده کښې به کینے ځکه چه شیطان دَ بني آدم مقاعد سره لوبے کوي ، افکارِ فاسده راوستل غواړي

(٦): پوست او نرم ځائے به گورے چه تتي اونشي ،

(۷): دَ وسواس نه به ځان بچ کوے نو غسل خانه کښې به واړه بول نه کوے

(۸): په اولاړه به واړه بول ځکه نه کوے چه دَ محاسن عادات او دَ وقار سره منافي ده ،بے دَ ضرورته به ددے نه ځان ساتلو کوشش کوئ

(۹) دننه کیدلو او راوتلو کښې به مسنون دعاګانو اهتمام کوے چه دَ شیطانانو دَ تسلط نه بچ شے ،او نهي رسول الله صلي الله علیه وسلم ان یبول الرجل قائما چه کوم حدیث دَ جابر بیهقي کښې دے یو راوي پکښې ضعیف دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۰): استبراء واجب ده لګ انتظار به کوے چه ظن غالب دے راشي چه څاڅکي تول ختم شو او نجاست سره مخالطت رانه شي دا دَ مرحاض يعني دَ قضائے حاجت آداب دي انتهي ، دا پکښ مؤکد حکم دے چه قبلے ته به مخ او شا په آبادئ او صحراء دواړو کښ نه کوے ،

الفصل الاول

(۱):عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»

قَالَ الشَّيْخُ الإِمَامِ محيي السّنة هَذَا الْحَدِيثُ فِي الصَّحْرَاءِ وَأَمَّا فِي الْبُنْيَانِ فَلَا بَأْس لما رُوِيَ: عَن عبد الله بن عمر قَالَ: ارْتَقَيْتُ فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجته مستدبر الْقبْلَة مُسْتَقْبل الشَّام"متفق عليه،

ترجمه : ابو ایوب انصاري نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : کله چه تاسو قضاء حاجت ته ځئ نو قبله طرفته مۀ مخ کوئ او مۀ ورته شا کوئ بلکه مشرق يا مغرب طرفته کينئ ، امام محي السنه فرمائي دا حديث په باره دَ صحراء کښ دے او هر چه په آبادئ کښ وي نو څه حرج نشته ځکه چه دَ عبدالله بن عمر نه روايت دے فرمائي چه زه دَ حفصه رض دَ کور چت ته اوختم دَ څه ضرورت دپاره نو ما نبي عليه السلام اوليدو په قضائے حاجت باندے قبلے طرفته ئے شا او شام طرفته ئے مخ کړے وو،

تشریح : دَ ابو ايوب انصاري خپل نوم خالد بن يزيد دے ميزبان رسول دے ، (۱۵۰) حديث ترے نقل دي

مذاهب

(۱): دَ امام شافعي مذهب دادے چه صحراء کښ مخ په قبله حرام او آبادئ کښ جائز دي دا امام مالک رح ،اسحاق هم وائي صحابه کرامو کښ دَ عباس بن عبدالمطلب قول دے ،

(۲): آبادئ او صحراء کښې جائز دے دا دَ عروه بن زبير ، ربيعه او دَ داود ظاهري قول دے ،

(۳): استقبال صحراء او بناء کښې حرام دے او استدبار آبادئ او صحراء دواړو کښې جائز دے يو روايت دَ امام ابو حنيفه دے ،

(٤): دواړه مطلقا ناجائز دي دَ امام ابوحنيفه مسلک دے ، ابو ايوب ، مجاهد ، ابراهيمي نخعي او دَ امام احمد رحمهم الله نه يو روايت دے ،

(٥): استقبال مطلقا نا جائز او استدبار صحراء کښې ناجائز او آبادئ کښې جائز دا دَ امام ابو يوسف مسلک دے

(٦): کعبه او بيت المقدس دواړو غاړو ته استقبال و استدبار ناجائز دے دا دَ محمد بن سيرين مسلک دے ،

(۷): نهي دَ مدينے او گير چاپيره خلقو له ده ، چه کوم دغه سمت کښې نه وو هغه له ممنوع نه ده ،

(۹): ممانعت دَ حرمت دپاره نه دے صرف خلاف اولي دي ، دا پکښې بعض وائي،

ولکن شرقوا وغربوا : دا حکم علامه ابن حجر فرمائي : چه دَ مدينے خلقو له دے چه دَ بيت الله دَ توهين نه بچ شي ځکه دَ مدينے خلق که جنوب يا شمال ته مخ کړي نو استقبال و استدبار به بيا راځي، تولو خلقو له دا حکم نه دے صرف دَ مدينے او دَ شام وغيره طرفونو کښې پاتے کيدونکي خلقو له دے ،

علامه ابن قيم ذاد المعاد ۳:۷۱ کښې ليکلے دي : دَ نبي خطاب دوه قسمه دے عام او بعض خلقو سره خاص ، اکثر خطابات عمومي وي او خاص خطاب ولکن شرقوا وغربوا خطاب نه مشرق والا نه مغرب والا او نه عراق والو لره دے بلکه دا دَ مدينے او په هغه طرف اوسيدونکي شام وغيره له دے ، دغه شان دا حديث چه مابين المشرق والمغرب قبلة ،، نو خطاب حجازيانو ، او گيرچاپيره خلقو له دے لکه بخاري کښې دَ تبے وخت کښې دَ غسل حکم هر سړي له او هره تبه کښې نه دے دَ هغه چا دپاره دے چه قوي وي گرم وي پرسوب پکښې نه وي او غسل دے دَ حکيم حاذق په مشوره اوکړي ، حاصل دا چه بعض احکام بعض سړو سره خاص وي دَ مکان او زمان تعميم پکښې نه وي او قاضي فضل الله توربشتي وائي چه علت ئے دَ قبلے احترام دے نو عام اغستل پکار دي لکه قبلے طرفته خراشکي توکانړي غوړځول يا قبلے ته خپے غوځول دَ قبلے احترام سره منافات لري مولانا بدرالعالم ترجمان السنه کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ليکلې دي :چه دَ امام ابوحنيفه دلائل كليات وي ، جزئيات کښې تاويل كوي ، هداية الرواة کښې الباني صاحب ليکلې دي "ان الاولي عندي ابقاء حديث ابي ايوب علي عمومه وعدم تخصيصه بحديث ابن عمر لاحتمال ان يكون هذا قبل النهي او يكون لامر آخر لا نعلمه ، والعموم الذي فهمه راوي الحديث" كه دغسې خبره يو حنفي مقلد اوکړه بيا راشه كه توديګې،

دَ ترجيح وجوهات

(۱): حديث دَ ابوايوب رض هم صحيح او هم صريح دے ،

(۲): دے کښې امت له تشريع ده او عمومي هغه قانون پکښې دے چه وهم دَ خصوصيت پکښې نه راځي ددے نه دَ استقبال و داستدبار حرمت راځي او دَ تعارض په وخت کښې مبيح مقدم وي ،

(۳): دَ فقاهت په اعتبار سره صحراء او آبادئ کښې څکه فرق نشته چه صحراء کښې غرونه غونډئ ، خشکې او غتې اونې ددۀ او دَ قبلې په مينځ کښې حائل وي نو دَ آبادئ او دَ صحراء فرق معقول نه دے په دے وجه قاضي ابوبكر ابن العربي اګرچه مالكي دے دَ امام صاحب مذهب له ئې ترجيح ورکړې ده او ابن حزم سره دَ خپل تشدد دَ مزاج نه دے مسلک له ترجيح ورکوي ابن حزم ليکي المحلي کښې : ولا يجوز استقبال القبة واستدبارها للغائط والبول لا في بنيان ولا في صحراء ولا يجوز استقبال القبلة فقط كذالک في حال الاستنجاء "

او علامه ابن القيم الحنبلي تهذيب السنن دَ ابوداود شرح کښې دَ احنافو قول مضبوطوي ، هم دغه دَ جمهورو مسلک دے ،

الحق الصريح :۲: ۱۲۳ باندے عبارت دے : او كه تعارض راشي نو قولي روايت لره ترجيح وي په فعلي روايت باندے لكه چه داد اصول فقه قاعده ده څکه فعلي روايت کښې احتمال دَ خصوصيت يا دَ ضرورت وي او په قولي کښې دا نه وي ، انتهي ،

دغسې صورت حال دَ صبا مونځ کښې دے په حالت دَ اسفار کښې چه صحيح قولي روايت په دے کښې راغلې دے ،او خلاف کښې قولي روايت نشته،

لما روي عن عبدالله بن عمر رض قال ارتقيت فوق حفصة :دا دَ امام شافعي رح استدلال دے چه هغوي نبي عليه السلام دَ حفصه رضي الله عنها دَ كور په چهت نبي عليه السلام مستدبر القبله او

مستقبل الشام ليدلے وو دے حديث کښې دَ يو داسے فعل ذکر دے يقيني نه ده معلومه چه په کوم هيئت ناست دے او کوم هيئت باندے ناست دے ځکه چه نظر ئے قصداً نه وو ناڅاپه نظر ئے اتفاقي طور اولګيدو دَ غلطئ احتمال کيدے شي دا "تخطئة الصحابي" نه دے امام شافعي دا خاص فعل عام کړو چه هر سړے آبادئ کښې قبله ته مخ کولے او شاکولے هر وخت او هر ځائے شي او دَ حديث عام نهي ئے خاصه کړه دَ عام تخصيص جائز دے احناف هم داسے کوي ، او دے اصطلاح ته عام مخصوص منه البعض وائي ګويا امام شافعي دے مسئله کښې آحاديث جمع کړل او دغسے عمل ئے پرے اوکړو او جمع اولي ده په يو باندے دَ عمل په نسبت ليکن بلے غاړے ته ئے خاص واقعه عامه اوکليه جوړه کړه او عام کلي ئے خاص کړو او دے حديث دَ سيدنا ابن عمر رضی الله عنه نه دا معلوميږي چه اودس ماتے په پرده کښې يا جوړه شوے بيت الخلاء کښې کولو بلکه ظاهر دَ روايت ترے انکار کوي داسے معلوميږي چه دَ هغوي قضائے حاجت دَ صحراء غوندے وو نو بيا امام شافعي له پکار دي چه په صحراء کښې دَ جواز قول له ترجيح ورکړي لهٰذا دادهٔ چه دلته تقريب تام نه دے يعني دليل دَ دوي دَ دعوي سره مطابقت نه لري پکښې دَ پردے صراحت نشته کيدے شي په چهت ناست وي او دَ بنيان او آبادئ نه مراد بلکه کوم ځائے چه پرده راتلے شي او دا هم واضحه ده چه دَ استقبال او استدبار دَ عدم جواز وجه دَ کعبه احترام دے که استقبال او استدبار آبادئ کښې وي دَ احترام نه خلاف ده نو ځکم دواړه ځايه برابر پکار دے دَ دوي په نزد حجاب او پردے له اعتبار دے پکار دي چه استقبال او استدبار په صحراء کښې دے دواړه جائز وے ليکن امام شافعي دغسے ناجائز ګڼړي ليکن علت خو ورک دے ، ددے جواب ابن حجر رحمه الله دَ حکيم ترمذي دَ روايت نه داسے کوي چه دَ حفصه رضی الله عنها کور کښې چارديواري برابره وه او دَ اودس ماتي ځائے پکښې جوړ وو او اودس ماتے داسے حال کښې کوله چه قبلے ته ئے شاه کړے وه ليکن امام ابوحنيفه رحمه الله دَ سيدنا ابوايوب رضی الله عنه روايت عام کړو او حديث دَ ابن عمر ئے په تخصيص باندے حمل کړو دوئمه داده چه کيدے شي چه مستقبل بالفرج نه وي علامه شامي ليکي چه دوه قسمه استقبال دے يو مونځ کښې دے او يو دَ اودس ماتي وخت کښې دے مانځه کښې په سينے سره او قضائے حاجت کښې په شرمګاه سره استقبال کيږي که په مانځه کښې دَ سينے رخ خطاء شي مونځ کښې نقصان راځي او که اودس ماتي کښې که چرته شرمګاه ته استقبال راشي نو ګناهګاريږي او استقبال بالفرج عبدالله بن عمر ځکه معلوم نه کړے شو چه داسے ځائے کښې او وخت کښې انسان په غور نشي کتلے بلکه دَ حياء نه

Maktaba Tul Ishaat.com

نظر اړوي او كه دَ پردي سري په كشارو او ښكالو پوهه شي نو خپل حالت برقرار نشي ساتلے او ابن عمر ؓ خو دغه تفتيش او معلوماتو له نه وو تلے دومره سره دا فعل محتمل شو او محتمل دَ قطعي مقابله كښې معمول به څنګه جوړيدے شي او وجوه دَ ترجيح كښې ددے ذكر اوشو چه دَ اباحت او دَ حرمت تعارض وخت كښې به عمل په حرمت كيږي ځكه كه واقعي حرمت وي او اباحت باندے عمل اوشو نو دَ حرامو ارتكاب ئے اوكړو او كه نفس الامر كښې اباحت وو او په حرمت ئے عمل اوكړو نو يو مباح ئے پريخودلے دے او قول له هم څنګه چه الحق الصريح كښې دي په فعل ترجيح وركولے كيدے شي ،

ليكن ابن ماجه كښې يو قولي حديث دے دَ دے قولي مقابله كښې پيش كيدے شي : "عن عراك بن مالك عن عائشة قالت ذكر عند رسول الله صلى الله عليه و سلم قوم يكرهون أن يستقبلوا بفروجهم القبلة. فقال أراهم قد فعلوها . استقبلوا بمقعدتي القبلة" (١: ٢٧)

نو دواړه روايتونه قولي دي دَ سيدنا ابو ايوب او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نو دَ قولي قولي سره تعارض راغے ، او شرح دَ مسلم كښې :١ : ١٣٠ باندے روايت ته حسن وئيلے دے او دَ ابن همام دَ صنع نه دا معلوميږي : ليكي: فان مخرجه حسن ، او ليكي چه عراک دَ عائشه نه سماع ثابتيدل ممكن دي چه دَ ابو هريره نه سماع ثابته ده نو عائشه او ابو هريره په يو كال وفات شوے دي او علاقه هم يوه ده او مسلم حديث دَ عراک عن عائشه تخريج كړے دے چه : جاءتني مسكينة تحمل ابنتين بها" ليكن وضاحت دادے چه حديث دَ ابو ايوب يقيني اصح مافي الباب دے او دا حديث دَ عراک عن عائشه حسن دے لكه ابن همام چه فرمائي تعارض مساوي روايتونو كښې راځي يو صحيح دے او بل صرف اَللّٰهُمَّ سره قابل دَ احتجاج دے عمل په صحيح پكار دے ، ليكن نور علماء وائي حديث منكر دے (ميزان الاعتدال) او علل الترمذي كښې دي چه حديث كښې اضطراب دے او صحيح اضطراب دے (عيني على البخاري)

او امام احمد دَ عراک دَ سماع عن عائشه نه انكار كوي او فرمائي : من اين سمع عائشه " او امام ذهبي ميزان كښې ليكي : خالد بن ابي الصلت منكر دے او ابن حزم ورته مجهول وائي ،(معارف السنن)

ضعيف حديث څنګه دَ حديث صحيح معارضه كښې پيش كيدے شي دَ سيدنا ابن عمر ؓ دَ روايت بعض طريقو كښې "بيت حفصه" الفاظ دي او بعض كښې بيتي دے او بعض كښې بيت النبي صلي الله عليه وسلم " ابن حجر داسے تعارض دفع كوي چه كور اول كښې دَ پيغمبر قبضه كښې وو دَ هغوي دَ وفات نه

بعد حفصه پکښې اوسیدله او دَ حفصه وفات نه بعد ابن عمر ته راورسیدو گویا دَ کور نسبت ابن عمر ته مجاز دے دَ خور کور هم خپل کور گڼرلے کیږي ،

کله چه مسئله کښې گنجائش وو نو استدبار کښې دے په حرمت قطعي او تاکید سره دَ رد کولو نه احتراز اوشي او چونکه آحادیث دَ نهي زیات دي عمل له اهمیت ورکول ظاهره ده ،

او مفتي رشیداحمد صاحب په احسن الفتاوي :۳: ۱۰۹ ، باب القراة والتجوید باندے لیکي "ایک اور اہم بات سماعت فرمائیں آبادی کے اندر بول براز کی حالت میں قبلہ کی طرف رخ کرنے کا جواز مختلف فیہ ہے اس لئے احتیاط بہر حال اسمیں ہے کہ اس سے احتراز کیا جائے مگر اہل حدیث کے ہاں تو دوسرے مذاہب کی مخالفت ہی بہت بڑا جہاد ہے چنانچہ کراچی میں انہوں نے اپنی مسجد کے استنجاء خانے گرا کر از سر نو قبلہ رخ تعمیر کرائے ہیں، وجہ دریافت کرنے پر ارشاد ہوا کہ یہ سنت چودہ سو سال سے مردہ تھی ہم نے اس کو زندہ کیا، الحمدللہ الذی عافانا مما ابتلاکم بہ" انتهي،

(۲):وَعَن سلمَان قَالَ: نَهَانَا يَعْنِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ أَو أَن نستنتجي بِالْيَمِينِ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ بِعَظْمٍ. رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : سلمان رض فرمائي چه نبي علیه السلام مونږ ددے نه منع کړے یو دا چه مونږ دَ غټ اودس ماتي په وخت یا دَ وړوکي اودس ماتي په وخت قبلے ته مخ کړو ، او دا چه مونږ استنجاء اوکړو په ښي لاس باندے او ددے نه هم چه دَ دریو نه کم کاڼري استعمال کړو او ددے نه هم چه منع کړے یو چه استنجاء یا په غوشانو سره یا په هډوکي سره اوکړو ،

تشریح : دَ سلمان رض تعارف

سلمان ابو عبدالله الاصفهاني دَ غوره صحابه ، فقهاؤ زاهدانو نه دے دَ نبي علیه السلام مولي وو مدائن کښې ۳۶ ه کښې وفات دے اتفاق دے چه دوه نیم سوه کاله عمر ئے وو زیات کښې اختلاف دے ،

څنگه چه دَ اودس ماتي وخت کښې قبلے ته استقبال منع دے دغسے دَ استنجاء ، دَ جماع ، وغیره کښې حرمت هغه شان نشته څکه چه استنجاء او جماع دواړه دَ اودس ماتي غوندے نه دي ،

فتح الاله کښې هیثمي وائي : ښي لاس باندے استنجاء مکروه تنزیهي ده ، استنجاء دَ "نجو" نه ده معني ئے ده نجاست قطع کول عرب وائي :نجوت الشجرة"ما دَ زمکے نه ونه کټ کړه ، کتاب المجموع :۲: ۷۹

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے دي چه دَ امام ابوحنيفهؒ په نزد استنجاء سنت عمل دے او دا يو قول دَ امام مالک دے ،دَ مذهبي حنفي دَ قواعدو مقتضي داده چه کله نجاست دَ مخرج نه تجاوز اونه کړي استنجاء سنت ده او چه کله دَ مخرج نه تير اوځي بيا دے صورت کښې گټے او لوټے سره سره په اوبو ددے ازاله پکار ده دلته دَ ښځے دپاره دَ استنجاء دَ کيفيت تذکره نه کيږي، (ابن عابدين)

او امام ابوحنيفهؒ دا دَ پليتو اصل گڼري که دَ درهم مقدار وي معاف ده ورنهٔ نه ده او که په استنجاء کښې دَ درهم نه زيات مقدار لر کول واجب دي چه اوبه ورله ضروري دي او استنجاء بالحجر ضروري نه گڼري ، دَ مالکيانو ، امام احمدؒ، او امام اسحاق داود په نزد او يو روايت دَ امام مالک کښې دَ مانځه دَ صحت دپاره واجب ده دَ هر احد السبيلين نه چه څه خارج شي او دوي ئے دَ صحت صلاة شرط گڼري او استنجاء په حجر او په هر هغه څيز صحيح ده چه دَ حجر قائم مقام جوړيدے شي چه جامد او طاهر وي دَ عين ازاله کوي او قابل احترام نه وي او نه دَ حيوان جزء وي که لرگے وي يا کپړا وي او هغه خخته چه پرے گندگي نه وي کوم شي چه دَ عين نجاست ازاله نشي کولے لکه سکاره يا شيشه په هغے استنجاء صحيح نه ده،

په خشنړو استنجاء کول

(۱):شوافع ، حنابله ، دَ مالکيانو قول او دَ ثوري او دَ اسحاق په نزد ناجائز ده که پاک وي يا ناپاک وي (المجموع، دغسے عمده القاري)

(۲): احناف دَ خشنړو استنجاء مکروه گڼري ځکه دَ گټو دَ استنجاء باره کښې دَ نص علت طهارت دے او من وجه دا په اوچو خشنړو کيدے شي اگر چه دَ گټو غوندے طاقت پکښې نه وي په دے وجه دَ کراهت قول ذکر کوي چه استعمال خو په کښې دَ نجس راځي دوئمه داده چه پيريانو دَ ځناورو رزق خرابيږي،(بدائع صنائع)

په دوړئ دَ احترام دَ وجے استنجاء صحيح نه ده ، کوم کاغذ چه واضع وضع کړے دے دپاره دَ استنجاء دے ټائلټ پيپر ورته وائي په هغے استنجاء صحيح ده ، ليکن کاغذ باندے اگر چه په هغے انگريزي ده يا منطق ليکلے شوے او په انگريزي کاغذ دَ الله يا بل محترم نوم وي نو استنجاء صحيح نه ده ، جامع الرموز وغيره کښې چه دَ منطق په پاڼړو استنجاء جائز گڼرلے ده صحيح نه ده ،

دَ حيوان جزء لکه لکئ وغيره دَ خر په هغے استنجاء اصح دا ده چه نه ده پکار که دَ يوے گټے با لوټي باره کښې شک دَ طهارت يا دَ نجاست وي استنجاء صحيح ده ځکه اصل ئے طهارت دے "رجيع" باندے استنجاء صحيح نه ده علامه طيبي ليکي: سمي الرجيع رجيعا لرجوعه عن حال الطهارة الي النجاسة" دا ز پاکئ دَ حالت نه پليتئ ته واپس شوے ده،

دَ "کټو" په تعداد کښې اختلاف

امام احمد ، اسحاق او امام مالک فرمائي چه درے احجار ضروري دي اگر چه دَ دريو نه کم باندے انقاء يعني صفائي راغلے وي ليکن دَ امام مالک او دَ داود ظاهري مسلک کښې انقاء واجبه ده که په يو گټه صفائي راشي کافي کيږي ، او دغسے دَ سيدناعمرؓ قول دے ، او دغسے امام ابوحنيفهؒ استنجاء واجبوي چه مقصود صفائي ده او که څوک په اوبو استنجاء کوي عدد شرط نه دے دغسے لوټو کټو کښې شرط نه دے ، شوافع وائي که دَ يوے گټے درے څوکے وي په هغے يو اکتفاء جائز ده ليکن دَ دريو استعمال افضل دے او ترمذي کښې روايت دے چه عبدالله بن مسعود نه نبي عليه السلام حجرين واغستل او غوشيان ئے اوغورځول چه دا پليت دي امام طحاوي فرمائي که درے گټے ضروري وے نو ابن مسعودؓ ته به ئے دَ دريمے دَ طلب کولو وئيلے وو، ابن حجر وائي چه طحاوي نه غفلت شوے دے يو ځل ئے ورته درے وئيلے وو هغه به دَ مخکښې حکم دَ وجے دريمه گټه راوړلے وي ، او مسند احمد کښې دَ معمر روايت دے چه "ائتني بحجر" علامه عيني وائي : چه طحاوي ته څوک مغفل وائي خپله مغفل دے ځکه روايت دَ معمر منقطع دے لکه چه دَ ترمذي دَ طرز عمل نه معلوميږي چه باب الاستنجاء بالحجرين ئے يخے دے او دَ ترمذي او دَ ابن حجر اختلاف کښې دَ امام ترمذي قول معتبر دے ځکه چه دَ ترمذي درجه ترے اوچته ده ، مظاهر حق کښې دي چه دا يو گمراه کن خيال دے چه نبي عليه السلام استنجاء کښې لوټه نه ده استعمال کړے مونږه نه استعمالو ځکه که دا مزاج دَ دهٔ قوي او مضبوطوي نو دا ځانله خبره ده ليکن که دَ نبي عليه السلام نه ثابت نه وي مکر کول ئے څه نه څه درجه کښې مطلوب او ضروري وي که اوکړے شي خير دے لکه رگ وهل ليکن بشکرے لکول دَ نبي عليه السلام نه نه دي ثابت او مصنف ابن ابي شيبه کښې دَ سيدنا عمرؓ قول دے "کان اذا بال مسح ذکره بحائط او حجر لم يمسه ماء " او شاه ولي الله دَ ورو بولو نه بعد دَ لوټے په استعمال دَ اهل لغت اجماع نقل کړے ده انتهي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

احناف وائي چه دَ ښځے دَ انتقال په صورت کښ درے کرته دَ وينځلو حکم دے، او ددے نه دَ شوافعو په نزد شرط دے او نه زمونږ په نزد،
التعليق الصبيح کښ دي وقد تواترت الاخبار عن النبي صلي الله عليه وسلم الاستنجاء بالاحجار قولا وفعلا او دَ شاه ولي الله قول ئے نقل کړے چه لوټه او اوبه جمع کول جائز دي ،
السنن والمبتدعات المتعلقه بالاذکار والصلاة : صفحه:۱۲ باندے دي "وصح فعل النبي صلى الله عليه وسلم للاستجمار بالأحجار ، کما صح استنجاؤه بالماء" او الاستذکار :۱: ۱۸۱ باندے دي : وأما الأنصار فمشهور عنهم أنهم کانوا يتوضؤون بالماء ومنهم من کان يجمع بين الطهارتين فيستنجي بالأحجار ثم يتبع آثار الأحجار الماء" او دَ آيت "رجال يحبون ان يتطهروا" په شان نزول کښ دَ ګټے او دَ اوبو په جمع کښ الباني صاحب "ارواء " صفحه: ۸۳ باندے کلام کړے دے چه دے کښ صرف دَ اوبو استعمال راغلے دے،
صحابؤ کښ دَ اوبو استنجاء کښ بعض دَ عدم جواز قائل دي لکه سيدنا ابن عمر او سيدنا حذيفه ځکه چه لاس په نجاست ککړيږي او امام ترمذي سنن کښ باب الاستنجاء بالماء ، يحٰے دے امام مالک دَ اوبو استنجاء بالکل نه مني او ددے دَ ثبوت نه انکاري دي که دَ ورو بولو نه پس وي يا دَ غټ اودس ماتي نه پس ، مطلقا ترے انکار کوي (نيل الاوطار:۱:۹۶)
نوټ : دَ نبي عليه السلام نجاست به زمکے راښکلو صحيح دَ سند په اعتبار سره نه ده اول سند کښ حسين بن علوان دے ، امام احمد او يحيي بن معين ورته کذاب ، او نسائي ، دارقطني او حاکم ورته متروک الحديث وائي ، ابن عدي وائي آحاديث به دهٔ دَ ځان نه جوړول ،
او دوئم سند باره کښ دارقطني ليکلے دي : چه دا روايت دهٔ محمد بن حسان نه علاوه څوک نه روايت کوي او هغه کذاب دے،(العلل المتناهيه:۱: ۱۸۸)
که بل چا ته ئے عورت ښکاره کيږي اوبه دے نه استعمالوي ، اکتفاء علي الحجر ورله کافي دے ليکن که شرع کښ ممنوعيت نه وي کشف دَ عورت نه کيږي نو "لوټه" او اوبه دے دواړه استعمال کړي اوکه چرته دَ مخرج نه نجاست تجاوز کړي وي نو علامه شامي ليکلے دي بيا دَ اوبو استعمال ضروري او واجب دے اعلي درجه داده چه اوبه او لوټه دواړه دے استعمال کړي ، اوسط درجه صرف دَ اوبو استعمال دے او ادني درجه صرف اکتفاء علي الحجر ده دغسے علامه شامي ليکلے دي حديث دَ اهل قباء

کښې جمع دَ حجارة او ماء راځي امام نووي کتاب المجموع شرح دَ مهذب کښې : ۲: ۸۲ باندے ليکلے دي
چه ددے اصل دَ حديثو په کتابونو کښې نشته ،، ليکن يمکن تصحيحه من جهة الاستنباط ،، هغه
داسے چه استنجاء بالحجر هغوي ته ځکه معلومه وه چه ټولو دغسے کار کولو ، ليکن دَ اوبو استنجاء
معروفه نه وه ذکر ئے ددے کړے دے ،، ولم يذکر الحجر لانه مشترک بينهم وبين غيرهم ولکونه
معلوما،، روايت کښې راځي چه کله به صحابؤ دَ ليټرين نه راووتل دا به ئے خوښوله چه په اوبو استنجاء
اوکړو ځکه چه دَ بيت الخلاء نه به هله راوځي چه اوبه يا لوټه ئے استعمال کړے وي او صفحه: ۸۳
باندے ليکي دي : قال اصحابنا يجوز الاقتصار علي الاحجار والافضل ان يجمع بينهما " او که په يو
اکتفاء کول غواړے بيادَ اوبو استعمال ځکه افضل دے چه دا محل خه پاکوي او زيديه او قاسميه چه دَ
شيعه ګانو قسم دے هغوي وائي چه اوبه وي نو استنجاء په لوټو کول هډو جائز نه دي ،

نوټ : علامه نسفي وغيره چه ليکي : ليس منه عدد مسنون " مطلب ئے دَ سنت مؤکده نفي ده دَ مطلق
سنت نفي نه کوي (معارف السنن)

دَ جرير روايت نسائي کښې دے چه نبي عليه السلام اودس ماتے اوکړو ماته ئے باهر اوئيل : يا جرير هات
طهورفأتيته بالماء" دے حديث کښې انقطاع شته

او علامه کاساني البدائع کښې ليکي چه دَ لوټو نه پس په اوبو استنجاء کول دَ علي، معاويه ، ابن عمر ، او
حذيفه رضوان الله عليهم اجمعين ثابت دي او ابن عمر فرمائي دے کښې پاکي او دوائي دواړه مونږ موندلے
ده ، او سيدنا عليؓ فرمائي : إن من کان قبلکم کانوا يبعرون بعرا وإنکم تثلطون ثلطا فاتبعوا الحجارة
بالماء"(مصنف ابن ابي شيبه)

او نصب الرايه کښې امام زيلعي ورته "اثر جيد" ليکلے دے ،او دَ ابوحنيفهؒ او مالک په نزد دَ هډوکو
استنجاء مکروه ده که چا اوکړه اوشوه ليکن دَ زخم خطره ده او دَ پيريانو خوراک جوړيږي او نجاست
لري نو استنجاء نه ده پکار،

(۳):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ يَقُولُ:
«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبثِ والخبائث"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه:انس ؓ فرمائي : چي نبي عليه السلام به كله بيت الخلاء ورداخليدو نو دا دعاء به ئې لوستله اے الله زه پناه غواړم په تاسره دَ خبيث نارينؤ او دَ ښحو پيريانو نه ،

تشريح خُبث دَ باء ضمه جمع دَ خبيث ده او خبائث جمع دَ خبيثة ده مراد مذكر او مؤنث شيطانان دي او خبث سكون الباء مصدر دے ، او دَ خبيث جمع خبث بسكون الباء " دپاره دَ تخفيف راځي لكه سبيل او سبُل او دا باب دَ عربو په كلام كښ نادر نه دے چاله ئې مخالفت نه دے پكار هوا كه دا زعم اوكړے چه تخفيف پكښ ځكه اولي دے چه دَ خبث مصدر سره ئې مشابهت راتشي دا جدا خبره ده (الكاشف) او لمعات التنقيح كښ دي ؛ چه دَ لفظ مصدر نه "الشيئ المكروه "مطلقامراد دے

علامه خطابي فرمائي : "الخبث" بضم الباء جماعة الخبيث ، والخبائث جمع الخبيثة مراد ذكور او مؤنث شياطين دي "وعامة المحدثين يقولون "خبث" "بالسكون" والصواب الضم نو باء له سكون غلط گنړي ، خپل كتاب "صلاح غلط المحدثين" كښ ليكلے دي : :١: ٤٨ يروونه الخبث ساكنة الباء وكذالک رواه ابو عبيده وانما هو الخبث مضموم الياء ،جمع خبيث ليكن خبره ئې ځكه صحيح نه ده چه التقرير الرفيع كښ دي چه قاضي عياض فرمائي : دَ شيخينو اكثر روايات په سكون دي او ابن دقيق العيد فرمائي : ديته غلط وئيل ځكه مناسب نه دي چه "فُعل" بضم الفاء والعين ساكن العين قياسا راځي ، ابن الاعرابي فرمائي : چه دَ عربو كلام كښ خُبث مكروه ته وائي كه خبره وي شتم يعني كنزل دي اوكه دَ ملت سره تعلق ساتي كفر دے او كه طعام وي نو حرام دے او كه شراب وي ضرري او نقصان ته وائي امام نووي كتاب المجموع شرح مهذب للشيرازي :٢: ٦٤ باندے ليكي : وهذا الذى غلطهم الخطابي فيه ليس بغلط بل انكار تسكين الباء وشبهه غلط فان التسكين في هذا وشبهه جائز تخفيفا بلا خلاف عند أهل النحو والتصريف" ليكن ليكلي ئې دي چه دَ خطابي عبارت موهم دے او تاويل پكښ داسے كيدے شي چه دَ خطابي به مراد وي چه دا اصل كښ ساكن نه دے ، او تخفيفا ، سكون وركولو نه به ئې انكار مقصود نه وي ځكه باءله سكون وركول ابو عبيده القاسم چه ددے فن امام دے صراحة جائز گنړي انتهي،

بسم الله ، سره شيطان په ټپو روند شي او اللّٰهُمَّ اني اعوذ" سره دَ شيطان دَ نجاست نه بچ شي ،، ائمه ثلاثه فرمائي چه دَ بيت الخلاء دننه كيدو نه مخكښ او امام مالک فرمائي چه روستو به ئې وائي الأدب المفرد كښ دي : كان اذا اراد ان يدخل" او البراهين القاطعه كښ مولانا خليل احمد سهارنپوري ؒ ليكلے دي

چه كله دَ ذكر جهت غالب وي او دَ دعاء هغه مغلوب وي ، هلته رفع اليدين نه دے پكار دَ دغو مواضعو نه دا ځائے هم دے دَ نبي عليه السلام دا دعاء دَ عبوديت دَ اظهار دپاره تواضعا او دَ صحابو تعليم دپاره ده عامو خلقو له دَ شياطينو دَ اثراتو نه دَ بچاو زريعه ده ، دا واقعه چه سعد بن عباده ... كښې يو دوغل كښې واړه بول كول راوغورزيدو ، او استيعاب علامه ابن عبدالبر ليكلے دي : ولم يختلفوا أنه وجد ميتاً في مغتسله وقد اخضر جسده "

ارواء الغليل: ۱: ۹۵باندے علامه الباني ليكلے دي : ولكني لم أجد له اسنادا صحيحا على طريقة المحدثين " او ابن عساكر دَ ابن سيرين نه مرسلا دا روايت نقل كړے دے او رجال ئے ثقات دي او الباني ليكي سره دَ معضل كيدو نه دا عبدالاعلى نه پيژنم . عن محمد بن عائذ ثنا عبد الأعلى به . وهذا مع إعضاله فعبد الأعلى لم أعرفه

الاستيعاب :۲: ۵۵۰ باندے دے سلسله كښې اشعار نقل كړے دي

قتلنا سيد الخز : : رج سعد بن عبادة

ورميناه بسهم : : فلم يخط فؤاده

او التعليق الصبيح كښې علامه كاندهلوي دَ واقعے نه بعد ليكلے دي "والله اعلم بصحته" دا واقعه صفة الصفوة كښې :۱۹۲ باندے ابن جوزي ليكلے ده، او په يو سند كښې محمد بن عمر واقدي متروك او سخت مجروح دے،

مجمع الزوائد زوړ چهاپ :۱: ۸۳ باب البول قائما دَ لاندے رواه الطبراني في الكبير وابن سيرين لم يدرك سعد بن عبادة وقتادة لم يدرك سعدا ايضا او دا خبره يقيني ده چه داسے مواضعو كښې شياطين وي دَ ملائكو زړه مسجد سره معلق وي ، خوشبو خوښوي او دَ شياطينو محبت دگنده ځيزونو سره وي ، الجنس يميل الي الجنس

كند هم جنس باهم جنس پرواز كبوتر با كبوتر باز با باز

فائده : دَ اللّٰهُمَّ اني أعوذ بالله من الخبث والخبائث نه مخكښې بسم الله وئيل هم په رواياتو كښې شته علامه ابن حجرؒ په دے باب كښې فتح الباري كښې ليكلے دي "وقد روى العمري هذا الحديث من طريق عبد العزيز بن المختار عن عبد العزيز بن صهيب بلفظ الأمر قال: "إذا دخلتم الخلاء فقولوا: "بسم الله، أعوذ بالله من الخبث والخبائث " وإسناده على شرط مسلم"

Maktaba Tul Ishaat.com

او مولانا عبدالرحمن مباركپوري صاحب په تحفة الأحوذي کښې صفحه: ۳۳ باندے ليکلے دي "قُلْت:وَالْأَوْلَى أَنْ يَخْتَارَ مِنْ أَنْوَاعِ الِاسْتِعَاذَةِ مَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ ، وَقَدْ ثَبَتَ زِيَادَةُ بِسْمِ اللَّهِ مَعَ التَّعَوُّذِ"

او علامه عيني په عمدة القاري:۲: ۲۷۲ کښې ليکي : "وَيَسْتَحب أَن يَقُول بِسم الله مَعَ التَّعَوُّذ"

الشرح الممتع علي زاد المستقنع لمحمد العثيمين :۱: ٦٤ "قَولُ: بِسمِ الله، أعوذُ بالله من الخُبْثِ والخَبَائِثِ».......قوله: بِسم الله» ، هذا سُنَّةٌ لما رواه عليُّ بن أبي طالب رضي الله عنه عن النبيِّ صلّى الله عليه وسلّم أنه قال: «سَتْرُ ما بين أعيُنِ الجِنِّ، وعَوْرَاتِ بني آدم، إذا دخل أحدُهم الكَنيفَ أن يقول: بسم الله"

الملخص الفقهي لصالح الفوزان :۱:۱۳ باندے دي "فإنه يستحب له أن يقول : بسم الله , أعوذ بالله من الخبث والخبائث"

(٤):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أحدهمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ - وَفِي رِوَايَةٍ لمُسلم: لَا يستنزه مِنَ الْبَوْلِ - وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ أَخذ جَرِيدَة رطبَة فَشَقهَا نِصْفَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً قَالُوا يَا رَسُول الله لم صنعت هَذَا قَالَ لَعَلَّه يُخَفف عَنْهُمَا مَا لم ييبسا" مُتَّفق عَلَيْهِ،

ترجمه : دَ ابن عباس ؓ نه روايت دے فرمائي چه : نبي عليه السلام په دوو قبرونو باندے تير شو نو اوے فرمائيل دے دواړو قبرونو والا ته عذاب ورکولے کيږي عذاب نه ورکولے کيږي دوي ته په غټ څيز کښې يو ددے دواړو نه دا وو چه دَ ورو بولو نه به ئے ځان نه بچ کولو او دوئم چغل خور وو بيا نبي عليه السلام يوه لونده څانګه راواغسته دوه حصے ئے کړه او په دواړو قبرونو ئے يوه يوه ښخه کړه صحابه کرامو تپوس اوکړو اے دَ الله رسوله تاسو داسے ولے اوکړل نبي عليه السلام اوفرمائيل کيدے شي ددے دواړو په عذاب کښې تخفيف اوشي هغه وخت پورے چه تر کومے دا څانګے وچے شوے نه وي.

تشريح : راجحة داده چه دَ مديني واقعه ده يو روايت کښې دَ "بقيع" ذکر دے او بل روايت کښې دا هم شته "من دفنتم ههنا اليوم" او ظاهره داده چه مسلمانان دي او دَ ابن ماجه روايت نه مسلمانان معلوميږي او بعض وائي کافران دي ځکه چه پيغمبر عليه السلام دعاء کوي او "لعل" پکښې فرمائي او

خبره دَ تخفیف کوي او هغه هم یو مؤقت وخت پورے نو کافران معلومیږي لیکن چه څوک ې
مسلمانان ګنړي هغوي وائي که کافران وو بیا دَ کبیرے خبره نه ده بلکه اکبر الکبائر وئیل پکار وو او
دَ کافرو سره "لعله ان یخفف عنهما" ډیر نه لګي کافر له په کفر عذاب ورکوي نه په دے وجه چه
بولو نه ځان نه بچ کوي یا چغلي کوي ،دا روستو دوئم نمبر خبره ده ،

لعله ان یخفف عنهما: لمعات کښې دي چه ضمیر میت ته راجع دے او تذکیر دَ شخص او تانیث دَ نفس په
اعتبار سره دے او مجمع البحار کښې دَ کرماني نه نقل کړے دے چه دا دَ نبي علیه السلام دَ لاس برکت
وو ځکه علامه خطابي په قبر دَ څانګے کیخودلو انکار کړے دے علامه طیبي کاشف کښې دَ جریدتین
دَ کیخودلو حکمت دا بیانوي چه په دے حمل شي چه دواړو له دوي خپل شفاعت اوغوښتلو ، چه څو
پورے څانګے شنے وي عذاب کښې تخفیف به کوي محققین وائي چه دَ شنو تخصیص هم نشته بلکه
"وان من شیئ الایسبح بحمده" بلکه محققین فرمائي چه تسبیح حقیقة وائي دَ نص دَ وجے نه دغه وئیل
واجب دي او بخاري صحیح کښې روایت راوړي چه "حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ مُجَاهِدٍ
عَنْ طَاوُسٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ
وَمَا يُعَذَّبَانِ مِنْ كَبِيرٍ ثُمَّ قَالَ بَلَى أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ يَسْعَى بِالنَّمِيمَةِ وَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ قَالَ
ثُمَّ أَخَذَ عُودًا رَطْبًا فَكَسَرَهُ بِاثْنَتَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى قَبْرٍ ثُمَّ قَالَ لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا"
او علامه خطابي دداسے عمل نه انکار کړے دے او وئیلے ئے دي "لااصل له ولا وجه له" او دے
روایت کښې "لایستنزه من البول" غلط دے علامه طیبي آخر کښې لیکلے دي چه ددے تسبیح چه څو
پورے لمدے وي عذاب به ورله نه وي ددے په حکمت الله پوهیږي لکه زبانیه دَ ملائکو په تعداد الله
پوهیږي چه دا نولس(۱۹) ولے دي،

ومایعذبان في کبیر : غوره مطلب دادے چه دا عقاب او دَ معصیت په اعتبار سره کبیره ده ، خو دَ
چغلئ او دَ وړو بولو تنو څاڅکو نه ځان ساتل څه ګران نه دي ، ابن دقیق العید ، بغوي او خطابي رحمهم
الله دغسے لیکلے دي ،

(۲): ددۀ په نزد وړه خبره ده په نفس الامر کښې شرعي طور غټ ګناه دے لکه چه قرآن کښې راځي
"وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ"(النور:۱۵) ځکه چه نمیمه دیته وائي :نقل کلام الغیر بقصد
الاضرار" دغسے وړے راوړے ډیر نقصاني وي کله ددے وجے قتل ته نوبت اورسي او قتل ګناه کبیره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

، چغلي مفضي دَ قتل او سبب بعيده دَ قتل جوړيدے شي او دَ ورو بولو څاڅکو دَ عدم اجتناب دَ وجے دَ مانځه دَ پابندئ اهميت ختم شي، وي جامي مے ناپاکے دي بيا نوبت گناه کبيره ته رسي دغسے استمرار چه رشاش البول نه په عدم اجتناب اصرار و دوام کوي گناه کبيره ده لمعات کښ دي چه سيدنا عمرؓ دَ کعب الاحبار نه تپوس اوکړو چه تورات کښ کوم لوے گناه دے ورته ئے جواب اوکړو چغلي ده او قتل او نور شرور دَ چغلئ نه پيدا کيږي ،

حديث کښ دَ "لا تستتر، لايستبري، لاتستنزه ، ولا ينزه لايستتر وغيره الفاظ صراحة راغلے دي معني ئے يوه ده

ملحوظه : معارف السنن کښ دي : قال الراقم اتفق واصل التعليل قريب بما ذكره القرطبي والمازري والنووي فاتفقوا علي القدر المشترک من ان ذالک اجل ومدة لتخفيف العذاب ، يقول ابن حجر الحافظ : قد استنكر الخطابي ومن تبعه وضع الناس الجريد ونحوه في القبر عملا بهذا الحديث وقال الطرطوشي لان ذالک خاصة ببرکة يده وقال القاضي عياض لانه علل غزرها علي القبر بأمر مغيب ،" (قبر باندے څانګے لګول منع دي)قال الراقم اتفق الخطابي والطرطوشي والقاضي عياض علي المنع ، وقولهم اولي بالاتباع حيث اصح مثل تلک المسامحات والتعللات مثارا للبدع المنكرة والفتن السائرة فتري العامة يلقون الزهور علي القبور ، وبالاخص علي قبور الصلحاء والاولياء والجهلة منهم ازدادوا اصرارا علي ذالک وتغالوا فيه ،

علامه سيد بنوريؒ محدث فرمائي : دا دَ پيرنګيانو تقليد دے آخر کښ ليکي : وكل هذه بدع ومنكرات لا اصل لها في الدين ولا من الكتاب والسنة ويجب علي اهل العلم ان ينكروها "

په علماؤ ددے ترديد ضروري په قبرونو ګلونه کيخودل بدعات ومنکرات دي ، دَ سيد محدث بنوريؒ خصوصي شيخ شاه انور کشميريؒ فيض الباري : ۱:۳۱۱ باندے ليکي چه ګلونه په قبرونو کيخودلو ته فتاوي کښ جائز وئيلے دي او ددے حديث نه دليل نسي ليکن زه وايم چه علامه عيني ديته عبث او لغو وائي او علامه خطابي ليکلے دي چه دا خلق په قبرونو چه څه کوي ددے اصل نشته او دغسے امام نووي ليکلے دي ، او دا "غلو" دَ دوي دے حد ته او رسيده چه دا دَ حنفيت علامه کرخي څوک چه دَ دوي دا خواهش نه مني هغوي په وهابيت بدناموي توقے وريورے کوي او په غلطو القاباتو ئے ولي، او

ظاهره ده چه دغسے کارونو کښې بدعت جاري کيږي که ماده ئے معصيت نه وي بلکه کله طاعت وي چه هيئت ورله دَ ځانه جوړ کړي او دَ شارع منصب کيني دغه ګمراهي ده او دوي ورته خه وائي، انتهي
او ابن حجر هيثمي ډير دَ تساهل نه په داسے امورو کښې کار اخلي فرحمة الله رحمة واسعة، او فتح الملهم کښې علامه عثماني ليکلے دي چه قبرونو باندے ګلونه "کما يفعله کثيرمن المبتدعة في عصرنا" دَ بدعتيانو کار دے حديث کښې دغه نشته دهوکه پرے نشے،

فائده : دَ انساني بول نه اجتناب ضروري دے او دَ ځناورو دَ بولو نه مناسب دي چه ځان بچ کړے شي،
علامه ابن حزم ليکي : قال أبو محمد : فَافْتَرَضَ رَسُولُ اللّٰهِ (عَلَى النَّاسِ اجْتِنَابَ الْبَوْلِ جُمْلَةً , وَتَوَعَّدَ عَلَى ذَلِكَ بِالْعَذَابِ , وَهَذَا عُمُومٌ لاَ يَجُوزُ أَنْ يُخَصَّ مِنْهُ بَوْلٌ دُونَ بَوْلٍ , فَيَكُونُ فَاعِلُ ذَلِكَ مُدَّعِيًا عَلَى اللّٰهِ تَعَالَى وَعَلَى رَسُولِهِ (مَا لاَ عِلْمَ لَهُ بِهِ بِالْبَاطِلِ إلاَّ بِنَصٍّ ثَابِتٍ جَلِيٍّ , وَوَجَدْنَاهُ (قَدْ سَمَّى الْبَوْلَ جُمْلَةً وَالنَّجْوَ جُمْلَةً الأَخْبَثَيْنِ " وَالْخَبِيثُ مُحَرَّمٌ , قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى ؟ يُحِلُّ لَهُمْ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمْ الْخَبَائِثَ فَصَحَّ أَنَّ كُلَّ أَخْبَثَ وَخَبِيثٍ فَهُوَ حَرَامٌ." (المحلي لابن حزم:۱: ۱۵۵ بتحقيق احمد شاكر)

(۵) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اتَّقُوا اللَّاعِنَيْنِ. قَالُوا: وَمَا اللَّاعِنَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ . قَالَ: «الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظلهم» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ ابوهريرهؓ نه روايت دے ځان دَ دوو څيزونو نه چه دَ لعنت سبب دے بچ کړئ صحابوؤ عرض اوکړو هغه څه دي اوے فرمائيل هغه کس چه اودس ماتے دَ خلقو په لارو کښې يا دَ دوي سوري کښې کوي،

تشريح : دا دوه داسے کارونه دي چه عادة په دوي خلق لعنت وائي چه کله دواړه دَ لعنت سبب ګرځي نسبت ئے ورته اوکړو علامه خطابي فرمائي چه لاعن کله په معني دَ ملعون راځي يعني "اتقوا الملعون فاعلها " او دَ سوري نه هغه سورے مراد دے چه خلق عمومي طور هلته ناسته پاسته کوي او هر قسم سوري څکه نه دي مراد چه دَ مسلم دَ روايت نه ثابته ده چه نبي عليه السلام دَ کهجورو دَ اونو دَ سوري لاندے اودس مات کړے دے چونکه مسلمانانو ته دے سره تکليف ميلاويږي نو دا کار مکروه دے او ابن حجر هيثمي ليکي : چه دغسے په ژمي کښې دَ نمر ليګيدو او دَ پيتاو ځايونو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

اودس ماتے ده دا هغه وخت کښ چه مباح ځائے وي او که دَ چا ملکیت وي نو دَ بغیر دَ اجازت دَ مالک نه قضاء الحاجة حرام دے،

(٦):وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِذا شرب أحدكُم فَلَا يتنفس فِي الْإِنَاءِ وَإِذَا أَتَى الْخَلَاءَ فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَلَا يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ»"

ترجمه : ابو قتاده نه روایت دے چه نبي علیه السلام اوفرمائیل : کله چه یو تن په تاسو کښ اوبه څکي نو دغے دَ اوبو څکلو لوخي کښ دے ساه نه اخلي او کله چه بیت الخلاء ته لاړ شي نو خپل ذکر دے په ښي لاس باندے نه مسح کوي ،

تشریح : التقریر الرفیع کښ دي : کیدے شي چه دَ نهي علت دا وي چه دَ ساه په گرمئ یخوالي کښ بدل والے راشي یا کیدے شي چه دَ خُلے نه څه توکانړي یا لاړے اوځي اوبو کښ اوغورزیږي یا جراثیم لاړ شي طبعیت ترے انکار کوي او شمائل کښ روایت کښ چه راځي چه "تنفس في الاناء ثلاثا" دَ هغے مطلب دادے او دلته هم دغسے ده چه لوخے دَ خُلے نه بیرته کړه او درے گوټه اوکړه بیا ساه اخله ، درے ساه اغستلو کښ هضم کښ آساني وي او تنده پرے ماتیږي او خه عادت دے ځکه په یو ساه په غړمب اوبه څکل په معده بوجهـ راولي او دَ حرص علامت دے قبیح عادت دے ، ددے حدیث دے سره تعلق نشته لکه حزب الله والا نظریه لري چه لوخے دم کول منع دي بلکه دغسے ساه اغستل چه لوخے دَ خُلے سره متصل دے دَ ځناورو کار دے ، درے ساه کښ افضل دے ، جائز یو ، دوه ، درے ساهونو کښ هر قسم دے ،

اودس وچول په ښي لاس نه دي پکار ، دا آسان کار بعض محدثینو له گران شوے دے حال دادے چه عرف کښ ورو هلکانو ته طریقه معلومه ده پرتوغانړ په ښي لاس کښ اونیسه او گس لاس سره ټائلټ پیپر یا لوټه اولگوه ښے لاس بالکل بچ وي ، امساک په ښي لاس مکروه تنزیهي دے ظاهریه او بعض شوافع او حنابله ئے حرام گنړي ، علامه هیثمي لیکي : چه آله دے په گس لاس اونیسي ، دیوال یا په غټه یا وړه گټه دے راکاږي او په گس لاس دے حرکت ورکوي (عجیبه تماشه به وي امداد)

دَ عائشه رض روایت کښ دي چه دَ نبي علیه السلام ښے لاس دَ طعام دپاره وو او گس لاس ئے په اذي کښ استعمالولو ، بیا جامه ، موزه ، څپلئ ، مسواک ، رانجه ، نوکونه کټ کول ، منگز وهل ، دَ ترخونو زیر

ناف ويښته اغستلو وغيره کښې ځي لاس لره اوليت دے ، او بيت الخلاء ته تلل د مسجد او استنجاء خانے ته راوتل ،پرتوګ يا موزه اوباسلو کښې دَ ګس لاس استعمال بهکار دے مرقاة کښې ملا علي قاري ليکلے دي : چه بعض طالبانو دَ جهالت يا دَ غفلت دَ وجے کتاب ګس لاس کښې او پيزار ځي لاس کښې نيولے وي نه دي پکار،

(۷):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: (قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فليوتر "(متفق عليه)

ترجمه : دَ ابو هريرهؓ روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي : چاچه اودس کولو نو پوزه دے سونړ کړي او چا چه استنجاء کوله په کانړو نو ناتکئ کانړي دے استعمال کړي ،

هداية الرواة کښې علامه الباني دَ قاري قول نقل کړے دے بيا بيا دَ پوزے سونړولو اصل نشته لکه په سختئ سره دغسے کول يا داشت خرابوي او وسوسے پيدا کوي ملا علي قاري ليکلے دي دَ علامه ابن حجر نه نقل کوي چه ظاهري امر نه وجوب معلوميږي ليکن دَ التقرير الرفيع په حاشيه کښې دي چه دَ نبي عليه السلام کله پوزه سونړولو نه دَ اودس وصف بيانونکوصحابؤ سکوت کړے دے دغسے فتح الاله کښې هم دي ، ملا علي قاري ليکي چه مواظبت په دے کار دَ هغوي نه ثابت نه دے امر دَ استحباب دے ، دَ امام احمد او دَ ظاهريه مسلک دَ وجوب دے ،

ومن استجمر فليوتر: کوم علماء چه ددے نه اګربتئ بلول اخلي دلته دا اغستل بعيد ځکه دي چه دَ باب الاستنجاء سره ئے بيا تعلق بعيد دے نو مراد ترے الاستنجاء بالاحجار دے ، علامه طيبي ليکي "استجمر" اي مسح بالاحجار الصغار " او دَ ايتار مطلب ناتکئ استعمالول دي ، امام نووي الاستذکار کښې ليکي : معني الاستجمار ازالة الاذي من المخرج بالاحجار"

(۸):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يستنجي بِالْمَاءِ"(متفق عليه)

ترجمه : انسؓ فرمائي : کله به چه نبي عليه السلام بيت الخلاء ته ورداخليدو نو ما او يو هلک به دَ اوبو مشکيزه او نيزه رواغسته او نبي عليه السلام به اوبو سره استنجاء کوله ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : دے حديث کښې دَ غلام مصداق ابن مسعود يا بلال يا ابو هريره رضوان الله عليهم اجمعين دي خصوصي خدمت به انس ؓ کولو يا ترے ابو رافع يا ثوبان مراد دے دلته تعيين مشکل دے ، لمعات کښې دي عنزه قدر نصف الرمح او اکبر شيئا ، په دے کښې سنبه لګيدلے وي دلته دَ "عنزه" ذکر دَ سترے دپاره اغستل صحيح نه دي دا به ددے دپاره وه که پردے به ضرورت وو اوبه ئے تومبله او کپړا وغيره به ئے پرے واچوله يا به ددے په وساطت به په ځان سورے کيدو شو،

دوئمه دا ده چه مدينے منورے زمکه سخته وه نو کله به ئے په دے لوټے رانوړولے،

درئم دا چه دَ ابوداود روايت کښې دي چه دَ وړو بولو نه مخکښې به ئے په دے زمکه دے له نرموله چه دَ متيازو څاڅکي رانشي ،

څلورم دا ده چه : مدينه کښې هوام هغه وخت کښې ډير وو دَ هغے نه دَ ځان ساتلو يا دَ دشمن دَ تحفظ دپاره به ئے دا نيزه ځان سره ساتله ، لکه دَ موسي عليه السلام دَ "عصاء" ئے فوائد ډير وو دَ حديث نه معلوميږي چه دَ خلقو موجودګئ کښې يا هغوي ته نزدے دغسے کول خلاف سنت دي ، ابن حجر هيثمي ليکلے دي : ربما اخل بالمروءة في بعض الاکابر" لهذا اکابرو له دَ پردے خصوصي اهتمام پکار دے او ليکلے ئے دي : چه ډير کرته به نبي عليه السلام لوټه او اوبه دواړه جمع کولے او دغه افضل دي ځکه چه ګټے لوټے سره عين نجاست ختم شي بيا لاس سره څه نه لګي،

الفصل الثاني

(۹):عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ. وَفِي رِوَايَتِهِ وَضَعَ بَدَلَ نزع"

ترجمه : انس ؓ فرمائي : چه کله به نبي عليه السلام بيت الخلاء ته وردننه کيدو نو خپله ګوتمه به ئے اويستله ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح غريب دے او امام ابوداود وائي دا حديث منکر دے او په يو روايت کښې دَ "نزع" په ځائے "وضع" دے،

تشريح : علماء ليکي چه کوم څيز باندے دَ الله نوم ليکلے شوے وي او بيت الخلاء استعمالول غواړے ،مستحب دي چه هغه څيز لرے کړے ، څوک ئے واجب ګڼړي ليکن علامه شيرازي او شيخ نصير المقدسي وغيرهما ئے مستحب ګڼړي که هغه درهم يا دينار يا خاتم ولے نه دي او دغسے تعميم علامه رافعي کوي او امام الحرمين فرمائي : چه اسم معظم بيت الخلاء ته اوړل نه دي پکار او که خاتم وي نو امام نووي په المجموع کښې فرمائي : چه دَ ورننوتلو نه مخکښې دَ اوباسي ليکن سهوا يا عمدا دننه شو، بيا دے کوشش اوکړي چه ښکاره نه شي، انتهي، دغسے حکم دَ هغ موبائيل دے چه قرآني آيات پکښې وي کله چه بټن آف وي باک ئے نشته ، ليکن ابن المسيب ، حسن بصري ، ابن سيرين ، او بعض تابعي اجازت دَ خاتم ورکوي دا روايت ابو داود منکر ګڼړي او وائي چه انس ؓ دَ سپينو ګوتمه جوړه کړے وه بيا ئے اوغورزوله ، امام نسائي حديث ته غير محفوظ وائي ليکن امام ترمذي ئے حسن صحيح غريب ګڼړي او دَ پيغمبر عليه السلام خاتم باندے محمدرسول الله صلي الله عليه السلام نقش وو ، علامه طيبي ليکلے دي چه دَ الله ، رسول نوم يا قرآن پرے ليکلے دے نو واجب ئے لر کول دي او ابن حجر هيثمي ليکلے دي چه مستحب دي اګر که دَ ملک نوم يا مشترک نوم ولے نه وي لکه عزيز يا احمد ، بے ضرورته مصحف ځان سره دننه کول فتح الاله کښې دي چه دَ بعض شوافعو په نزد حرام دي چه بعض متاخرين ئے مختار ګڼړي انتهي،

ليکن که سخت ضرورت وي يا بهر ځائے نه وي دَ غلا خطره وي بيت الخلاء کښې دَ مجبورئ دَ وجے کيخودے شي ګنجائيش ، ابو داود چه ورته منکر وائي صحيح نه ده شاذ دے ځکه علم مصطلح کښې دَ محفوظ منکر تعريف کښې دَ منکر تعريف کوي چه ضعيف پکښې دَ ثقه خلاف کړے وي يا ضعيف دَ اضعف خلاف کړے وي ليکن دلته ضعيف راوي نشته دَ قتاده شاګردانو کښې همام خلاف کړے دے چه دَبخاري او مسلم ثقه راوي دے نو شاذ وئيل پکار وو ، دلته ثقه دَ اوثق نه خلاف کوي او مسند احمد کښې دَ همام متابع يحيي بن متوکل الناحي موجود دے واضحه دے وي چه دَ قتاده عام شاګردان دَانس ؓ نه خاتمه من ذهب فالقي الناس خواتيمهم نقل کوي ، او همام دلته "اذا دخل الخلاء نقل کوي نو دَ قتاده دَ ثقه شاګردانو نه دے همام خلاف کړے دے ، التقرير الرفيع کښې دَ علامه خليل احمد سهارنپوري ؒ نه نقل کوي چه دَ نکارت وجه دَ ابن جريج او زهري مينځ کښې واسطه پريخودل دي : په مينځ کښې راوي زياد بن سعد واسطه ئے نه ده ذکر کړے انتهي ، دوئم اعتراض کيږي چه اصل متن کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ سپینو کوتمه ئے بالکل پریخودلے وه او همام وائي چه صرف بیت الخلاء کښ پریخودلے وه او امام ترمذي چه ورته صحیح وائي یا خو ځکه چه دا دوه متنونه جدا جدا دي یو بلا واسطه یو په واسطے دَ زیاد ، نو بیا شبه راځي چه دوه سندونه شو نو غریب ورته ولے وائي؟ دَ هغے جواب کوي چه بعض یحیي بن متوکل ته ثقه وئیلے دے نو دَ دوي په قول حسن لذاته صحیح لغیره جوړیږي او چونکه بعض ورته ضعیف وائي نو په دغه قول غریب شو او متن کښ دا خبره صحیح ده چه نبي علیه السلام دَ سرو زرو کوتمه پریخودلے وه او دَ سپینو هغه ئے نه وه پریخودلے او غلطي دَ همام نه نه ده شوے بلکه دَ زهري نه شوے ده چه دَ سرو په ځائے ئے سپین نقل کړي حالانکه دَ سپینو کوتمه تر مرګه نبي علیه السلام سره وه او دَ هغوي نه پس شیخینو سره وه بیا سیدنا عثمان سره وه چه دَ هغوي نه "بیراریس" کښ اوغورزیدله چه تر اوسه نه ده راوتلے دغے کوهي ته بیرخاتم وائي مشهور دے،

(۱۰):وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ حَتَّى لَا يَرَاهُ أَحد. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ"

ترجمه: دَ جابر نه روایت دے فرمائي چه نبي علیه السلام کله چه به اراده اوکړه نبي علیه السلام دَ قضائے حاجت نو دومره لرے به تلو چه چا به نه لیدو،

تشریح : سوال راځي چه ددے روایت نه معلومیږي چه اودس ماتي له به لرے تللو ، او بل روایت کښ دي چه کور په چهت ئے اودس ماتے کړے وو دَ هغے جواب دادے چه کله کورونو کښ بیت الخلاء نه وه جوړه شوے نو صحراء ته به ئے تشریف اوړلو ،

دوئم جواب دادے : چه دَ سفر په موقع به صحراء ته تللو او حضر کښ به ئے بیت الخلاء استعمالوله ،

درئم جواب : صحراء ته تلل اولي او بهتر دي او کور کښ تقاضا پوره کول رخصت دے ، او دَ امت دَ تعلیم دپاره به لرے تلو (براز) علامه طیبي لیکي : اسم للفضاء الواسع ، کنایه دَ انساني حاجت پوره کولو نه ده ، دَ ادب تقاضا داده چه داسے لفظ چي من وجه ئے تذکره خه نه وي دَهغے کنایه کول پکار دي انتهي،

داحدیث په لرے تللواویه پرده کولودواړو دلالت کوي په یو اکتفاء نه ده پکار ،

دَ لړے تللو مقدار او حکمت

نافع ددے بُعد باره کښې تقريبا دوه ميله يادوي ، مسند ابو يعلي او دَ جمع الفوائد په حواله دا خبره ذکر شوے ده ، ابن حجر هيثمي فتح الاله کښې ليکي : حکمت دادے چه دَ عامو خلقو وتلو کښې دَ بدبوئ دَ محسوسولو نه حفاظت دے او آواز څوک نه آوري ، دَ عذر مسئله جدا ده پيغمبر عليه السلام دَ سيدنا حذيفه رض سره نزدے واړه بول کړي دي دغه واړه بول ئے په اولاړه باندے کړے دي ، قانون لرے تلل دي ،

(١١):وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَرَادَ أَنْ يَبُولَ فَأَتَى دَمِثًا فِي أَصْلِ جِدَارٍ فَبَالَ ثُمَّ قَالَ: «إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَبُولَ فليرتد لبوله». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد،

ترجمه: ابو موسي فرمائي : زه يو ورځ دَ نبي عليه السلام سره وم نبي عليه السلام سره نبي عليه السلام دَ وړو بولو دپاره نرمے زمکے ته دَ يوال ويخ ته راغے واړه بول ئے اوکړل ، بيا نبي عليه السلام اوفرمائي کله چه تاسو کښې دَ وړو بولو اراده اوکړي نو هغه له پکار دي چه وړو بولو دپاره نرمے زمکے ته لاړ شي ،

تشريح : فليرتد : نرم ځائے دَ اولټوي ، دا باب افتعال دے دَ "رود" لکه چه ابتغاء دَ بغي نه ده ، رائد هغه چا ته وائي چه دَ ورشوګانو طالب وي علامه طيبي ددے سوال جواب کوي چه نبي عليه السلام دَ ديوال بے اجازته داسے استعمال ولے اوکړو ، ځکه چه دا دَ چا ملک نه وو دَ ډيرے زمانے نه غير مملوک ديوال وو ځکه چه مسلسل وړو بولو سره دَ ديوال بنياد کمزورے کيږي او پيغمبر بے دَ مالک دَ اجازته داسے تصرف نه کوي او يا دَ ديوال دَ بنياد نه لرے يو غاړے ته به هغوي داسے ناست وي چه ديوال ته نقصان به نه رسيدو دغسے ابن حجر هيثمي رح فتح الاله " کښې هم ليکلے دي او پيغمبر عليه السلام ته دلالةً اجازت دَ هر مسلمان دَ طرف نه موجود دے دَ نرم ځائے طلب دے له پکار دے چه څاڅکي رانشي کوم کس چه برے غاړے ته واړه بول کوي دا دَ لږ ساعت جاهل دے ډاکټران هم وائي چه واړه بولو کښې خطرناک تيزابيت او جراثيم موجود دي اجتناب ترے ضروري دے نبي عليه السلام سره به عنزه وه ددے

په حکمتونو کښې یو حکمت دَ ورو بولو په وخت کښې کلک ځائے پسنول هم وو لکه مظاهرحق کښې دي ،او ځکښې نور شو،

(۱۲): وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْحَاجَةَ لَمْ يَرْفَعْ ثَوْبَهُ حَتَّى يَدْنُوَ مِنَ الأَرْضِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد والدارمي"

ترجمه: انس" فرمائي چه کله به نبي علیه السلام دَ قضائے حاجت اراده اوکړه نه به ئے پورته کوله جامه خپله تر هغې پورے چه نزدے به شو زمکے ته ،

تشریح: پیغمبر علیه السلام به زمکے ته نزدے شو نو لنګ به ئے پرانستو دَ بعضو خلقو دا غلط عادت دے چه اولاړ به وي چه لړ بشکته شي نو لمن په ځان راواړوي علامه طیبي لیکلے دي چه داحکم صحراء او آبادئ دواړو کښې دے ځکه چه جامه پورته کولو سره کشف عورت کیږي او دا دَ ضرورت وخت کښې جائز دي څو پورے چه دَ زمکے ناستے ته نزدے شوے نه وي نو دَ جامے بیرته کولو ضرورت نشته که چا ته هم څه قسم معلومات وي چه پیریان راته ګوري نو دَاستنجاء وخت کښې دَ پیریانو دَ سترګو نه په ځان بچ کولو کښې کوشش پکار دے ،

(۱۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ أُعَلِّمُكُمْ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ وَنَهَى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ وَنَهَى أَنْ يَسْتَطِيبَ الرَّجُلُ بِيَمِينِهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ،

ترجمه: ابو هریره" فرمائي : نبي علیه السلام فرمائیلے دي زه ستاسو دپاره په مثل دَ پلار یم لکه څنګه چه پلار دپاره دَ خپل بچي وي (یعني په تعلیم او آدابو کښې) تعلیم درکوم تاسو له دا چه : کله چه راشئ تاسو اودس ماتي له نو قبلے ته مه مخ کوئ او مه ورته شا کوئ او حکم ئے کړے دے په دریو کاڼړو سره او منع ئے کړے ده دَ استنجاء کولو نه په غوشائي او هډوکو سره او منع ئے کړے ده په ښي لاس سره دَ استنجاء کولو نه ،

تشريح : نهي عن الروث والرمة : دَ خشنړو او زوړ هډوکي دَ استعمال نه ئے منع کړے ده ليکن مراد مطلقا هډوکے دے، او تفصيلي بحث دَ استنجاء دَ بحث ابتداء کښې ددے ذکر شوے دے،
"لايستطيب" علامه ابن حجر هيثمي وائي چه خاص کټه شرط نه دے خو ددے دواړو او ددے غوندے څيزونو نه استنجاء نه دي کول پکار او هډوکي دَ پيريانو خوراک دے ،
انما انا لکم : دَ ترغيب دَ عمل دپاره دَ مقصد نه مخکښې ئے تمهيدا داسے اوفرمائيل ، نبي عليه السلام دَ امت دَ تأديب خائسته قواعد ذکر کړے دي والدينو ته ترغيب دے چه بچو تربيت دے دغسے اوکړي،
شرح المهذب کښې :١ : ٦٤ باندے ليکلے دی : قال الشافعي والاصحاب رحمهم الله على الآباء والامهات تعليم أولادهم الصغار ما سيتعين عليهم بعد البلوغ فيعلمه الولى الطهارة والصلاة والصوم ونحوها الخ،
ورستو ليکی دا دليل دے دَ وجوب تعليم "الولد الصغير" او استنجاء ته استطابت ځکه وائي چه په دے کښې نجاست صفا کيږي او نفس هم ددے نه پس خوشحاله شي ،

(١٤):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيُمْنَى لِطُهُورِهِ وَطَعَامِهِ وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرَى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه :عائشه رض فرمائي : چه دَ نبي عليه السلام ښے لاس دَ پاکئ او دَ خوراک دپاره وو او کس لاس ئے دَ قضائے حاجت او کرکجن څيز دپاره وو،
تشريح : علامه طيبي ليکي :دلته كانت استمرار له به وي عادت ئے دا وو ،اګر چه کان له دوام ضرروي نه دے،
الاذي : چه پاک نفس ترے کرکه کوي ، حيض ته ئے هم اذي فرمائيلے ده ، بيت الخلاء ته به کسه خپه مخکښې اوړے ځکه چه ددے مشابهت کښې به کس لاس هم وردننه شي او دَ مسجد داخله کښې ښئ خپه مقدم کول پکار دي ،
ماکان : محلا مجرور دے عطف ئے په "خلائه" دے او "من" بيانيه ده ،
دَ طهارت کار په ښي او دَ کراهت کار په کس لاس پکار دے دَ جمهورو په نزد مسواک ښي لاس کښې به وي ، دَ ابن تيميه تحقيق صحيح نه دے چه په کس لاس دَ مسواک استعمال پکار دے ، مصافحه کښې اولي داده چه دواړو لاسو باندے دے اوشي عمل نامه اغستلو کښې صرف ښي لاس ځکه دے چه

Maktaba Tul Ishaat.com

په ګس لاس به ئے کافر اخلي ، دَ امام بخاري والد ماجد به په دواړو لاسو مصافحه کوله ، چا له څه ورکول نبي لاس باندے پکار دي ، دغسے سر منګز کولو کښې لاس مقدم کول پکار دي ،

(۱۵):وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ يَسْتَطِيبُ بِهِنَّ فَإِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ"

ترجمه :او دَ دغے عائشه ؓ نه رویت دے چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي چه کله یو تن په تاسو کښې قضائے حاجت له ځي نو درے کاڼړي دے ځان سره رواخلي چه ځان پاک کړي په هغے سره بے شکه دا به پوره شي دهٔ لره ،

تشریح : صفائي کښې آیا درے کاڼړي ضروري دي؟

دَ امام ابوحنیفه ؒ او امام مالک رحمهماالله مسلک دادے چه صفائي واجبه ده دَ طاق رعایت کول مستحب دي ، دا حدیث دلیل ګرځوي او دغسے دَ سیدنا ابو هریره ؓ مرفوع روایت "من استجمر فلیوتر من فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج" دغه معلومه شوه چه دَ احجارو عدد مستحب دے که درے وي ، پنځه وي ، یا زیات او دَ انقاء نه پس اګر چه ناتکئ نه وي اکتفاء پرے جائز دهٔ ، شرح دَ مسلم دَ نووي کښې دَ داود ظاهري هم دغه مسلک خودلے دے صفحه:۱۳۰ ، شوافع نهي په تحریم او احناف په تنزیه حمل کوي دواړه قسم روایات شته دَ یو نه لزوم دَ دریو احجارو معلومیږي او داسے قسم آحادیثو نه عدم لزوم ثابیږي ، او امام شافعي که چرته دَ دریو نه کم کښې انقاء اوشي نو په دریو احجارو والا روایت عمل کوي ورنه "فلاحرج" والا حدیث باندے عمل کوي دَ "فلاحرج" محمل بعد ثلاثه احجار دے او امام ابو حنیفه فرمائي چه دَ دریو نه دَ کم نهي ځکه راغلے ده چه عموما ددے نه په کم کښې انقاء نه کیږي که چرته په کم کښې انقاء اوشي نو بیا پرے اکتفاء کول ناجائز نه دي او طبراني کښې دَ خزیمه بن ثابت روایت دے "من استطاب بثلاثة احجار لیس منهن رجیع کن له طهورا" دَ احنافو دلیل دے او "یستطیب" لفظ دَ احنافو تائید کوي او دَ "من فعل فقد احسن "نه معلومیږي چه دا قطعي او فرض امر نه دے او چرته هیڅ روایت کښې دَ دریو نه پورته دَ پنځو یا دَ اوؤ(۷) ذکر نشته چه دَ فلیوتر دا تاویل اوکړے شي چه ددے نه دَ دریو نه پورته ایتار مراد دے لکه بعض داسے تاویل کوي دا خو دَ هغے

وصف چه بداهة معلوم دے دَ هغے باطلول دي امام ترمذي په "باب ما جاء في غسل الميت" وضاحت كښ ذكر كوي چه مړي له غسل وركړئ ، دا به ثلاثا او خمسا وي بيا ليكي : و ان اتفقوا في اقل من ثلاث مرات أجزأ" دلته خو شوافع دَ ايتار صريح حكم پريږدي چه فرض انقاء دے او امام ترمذي ئے كلكوي "وكذالک قال الفقهاء هم اعلم لمعاني الحديث" دغسے محرم ته نبي عليه السلام اوفرمائي : اما الطيب الذي بک فأغسله ثلاث مرات" چه واجب دَ خوشبو لرے كول دي كه په يو ځل لرے كيږي كافي كيږي او زيادت واجب نه دے او دغسے امام نووي دَ كتاب الحج اوائيل :١: ٣٧٢ باندے ليكلے دي (معارف السنن:١١٧)

فائده : آحاديثو كښ كله دے مسئله كښ لفظ دَ استجمار راځي چه طلب الجمره ته وائي او كله لفظ دَ استنجاء راځي چه طلب موضع النجو" دے يعني قطع الاذي والخبيث دے او دے حديث كښ "يستطيب" راغلے دے استطابة طلب الطيب ته وائي چه طهارت دے ، دَ الاستذكار: ١: ٢٢١ دَ باب جامع الوضوء دَ لاندے ددے حديث په ذيل كښ دي : سئل عن الاستطابة " چه استطابة او استنجاء كښ دا فرق دے چه استطابت په اوبو او كټو دواړو سره وي او استنجاء صرف په كټو لټو سره وي او صفحه: ٢٢٢ باندے علامه ابن عبدالبر ليكي : الاستطابة فهي ازالة الاذي عن المخرج بالحجارة او بالماء" دَ دريو واړو الفاظو بنيادي مقصد يو دے او علامه طيبي ليكي : يستطيب" لفظ دلالت كوي چي دے رخصت سره نفسونو ته استطابت ميلاويږي ، علامه الباني ليكي : ذا ذهب احدكم الي الغائط فليستطب بثلاثة احجار فانها تجزئ عنه" دَ حديث په وضاحت كښ ارواء الغليل :١: ٨٣ : انما قلت بصحة الحد يث لان له شاهدا من حديث أبي أيوب الأنصاري عند الطبراني وآخر من حديث سلمان الفارسي بمعناه أخرجه مسلم وأبو عوانة في " صحيحيهما " وخرجنا . في " صحيح أبي داود برقم (٥) ،

(١٦):وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهَا زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: «إِخْوَانِكُمْ من الْجِنِّ»"

ترجمه : دَ ابن امسعودؓ روايت دے استنجاء مه كوئ تاسو په غوشانو او په هډوكو بے شكه دا هډوكي توښه ده ستاسو دَ رونړو دَ پيريانو نه ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : التعليق الفصيح كښ قاضي شمس الدينؒ دَ ابن کثیر دَ تفسیر په حواله سره دَ مسلم روايت ذكر کړے دے : كل عظم ذكر اسم الله عليه يقع في أيديكم أوفر ما يكون لحما وكل بعرة علف لدوابكم" په کومو هډوکو چه دَ الله نوم اغستلے شوے وي او غوښے ئے انسان خوړلے وي په هغے ورله زياته غوښه پيدا کوي ، معلومه شوه غوښيان پاک نه دي دے کښ ورله دانے پيدا کوي ، ضروري نه ده هر هډوكي باندے غوښه پيدا کيږي ځکه بعض خوسپي کرپوي او په هغے يو بل سره جنګ کوي ،

چوں می پرسی سیاست از ملنگے سگاں راست برمردار جنگے

بعض وائي بويوي ئے ، دَ حديث مطلب دادے چه هډوکي هم دَ نورو څيزونو سره دَ دوي په خوراک کښ شامل دي ، او خشنړو کښ ورله دَ پيريانو دَ څناورو دپاره خوراک پيدا کړي ،

فانها زاد اخوانكم : علامه طيبي ليكي : حديث کښ دليل دے چه دا مسلمانان پيريان ځکه دي چه دوي ته ئے مسلمانان رونړه بهائي ګان وئيلے دي دا هم معلومه شوه چه پيريان خوراک کوي او چه دَ پيريانو په خوراک استنجاء ئے بنده کړه نو انساني خوراک ډوډئ باندے استنجاء نه کول ضروري خبره ده ،

"فانه" ه ضمير په اعتبار دَ مذکر سره روث او عظام ته راجع دے لکه دے آيت کښ "وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا" (سورة الجمعه:۱۱)

لمعات کښ شيخ عبدالحق ليکلے دي : چه رواياتو کښ دي چه هډوکي پيريانو له او غوشيان ئے څناورو له دي ، او څناورو اضافت جنات ته ځکه شوے دے چه څناور دَ پيريانو تابع دي بعض وائي چه اصل عبارت داسے دے "كل عظم ذكر اسم الله عليه او لم يذكر" هر هډوکي باندے غوښه پيدا کيږي که بسم الله پړے او نه وائي نو هم ليکن بعض راويان يو جانب ذکر کوي او بل جانب نه ذکر کوي ، دا دَ قبيلے "حفظ مالم يحفظ الآخر" نه حسابوي سوره کښ واړه بول دَ ضرر يا دَ اضرار دَ وجے بند دي (ابوداودحديث:۳۹)

نماز نبوي کښ دا روايت صحيح کړے دے او دَ سيالکوتي صاحب دَ کتاب په حاشيه ئے د سند ضعف ذکر کړے دے، سړے يو دے فياللعجب!

(١٧):وَعَن رويفع بن ثَابت قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رُوَيْفِعُ لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُولُ بِكَ بَعْدِي فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ أَوْ تَقَلَّدَ وَتَرًا أَوِ اسْتَنْجَى بِرَجِيعِ دَابَّةٍ أَو عظم فَإِن مُحَمَّدًا بَرِيء مِنْهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد،

ترجمه:رويفع بن ثابت رضی الله عنه فرمائي چه نبي صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل :يا رويفع كيدے شي عمر ستا اوگد شي زما نه پس نو خلقو له دا خبر ورکړه چه چا خپله گيره غوټه کړه يا ئے غاړه کښ تار واچولو يا ئے دَ څناورو په خشنړو يا هډوکو سره استنجاء اوکړه نو محمد صلي الله عليه وسلم دَ هغه نه بري دے ،

تشريح : تقلد وترا : په غاړه کښ "جي" واچوله ،

لعل الحيوة : الله ورله دومره عمر ورکړے وو چه دا روايت څلويښت کاله پس دے ذکر کوي او که رحمي ورته شوي وي بيا "لعل" په هغے کښ يقين دپاره دے، شيخ عبدالحق لمعات کښ ليکلے دي چه جاهليت کښ به ئے غوټے گيري له دَ تکبر دَ وجے ورکولے ، يا دا به ددے دپاره بعض خلقو کول چه پيژني ئے نه او غلاگانے اوکړي يا چه به څومره دَ چا ښځے وے هغه مقدار باندے دوي گيري له غوټے ورکولے دے کښ تشبيه بالنساء هم راځي (التعليق الفصيح)

په تکلف سره داسے کول يا گيره دننه په زوره ورمنډل دَ سنت طريقے خلاف دي ، التعليق الصبيح کښ ليکلے دي چه دا کار به ئے جاهليت کښ په جنگونو کښ کولو دے کښ دَ الله پيدائيش بدلول راځي، گيرے له دغسے غوټے ورکول بعض سکهان کوي ،

تقلد وترا : أي خيطا فيه تعويذ أو خرزات لدفع العين والحفظ عن الآفات كانوا يعلقون على رقاب الولد والفرس (مرقاة)

تارونه او مزي دي چه تعويذونه او مشکنړے به ئے په دے کښ کيوّلے وے چه دَ نظره نشي او دَ آفاتونو نه بچ شي ، ماشومانو او اسونو سره به دغسے کول ، دا هم خطره وه چه دغه جي دَ څاروي خپو کښ انجل بنجل شي او نقصان ورکړي او يا دَ څناورو مرئ خپي شي ، د لينده جي مؤثر بالذات گنړل دَ عقيدے نقصان دے، علامه طيبي ليکلے دي دَ ليندو دَ "جي" دَ مزو دَ کټ کولو حکم نبي عليه السلام ځکه ورکړو چه دَ مصيبتونو لر کونکے او دَ سختو نه بچ کونکے صرف يو الله دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فان محمدا منه برئ : ددے حدیث نه معلومه شوه چه هر کله دے کارونو سره چه معمولي ښکاري او دَ کبائرو حد ته هم نه دي رسیدلے او دَ پیغمبر صلي الله بیزاري راځي نو چه څوک په غټو غټو کارونو کښې دوي سره مشابهت کوي چه "حد" دَ کبیرے ته هم رسیدلے وي دَ هغوي به څه حال وي،

(۱۸):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حرج وَمن أكل فَمَا تخَلّل فليلفظ وَمَا لَاكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ وَمَنْ أَتَى الْغَائِط فليستتر وَمن لَمْ يَجِدْ إِلَّا أَنْ يَجْمَعَ كَثِيبًا مِنْ رَمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِي آدَمَ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ والدارمي"

ترجمه:دَ ابوهریره؄ نه روایت دے چه نبي علیه السلام اوفرمائیل :څوک چه رانجه اچوي نو طاق دے اچوي چا چه دا کار اوکړو بے شکه خه ئے اوکړل او چا چه اونۀ کړل نو څه حرج نشته او څوک چه په کاڼرو سره استنجاء کوي نو طاق یعني ناتکۍ کاڼري دے استعمال کړي ، چا چه دا کار اوکړو خه ئے اوکړو او چا چه اونه کړو نو هیڅ حرج نشته او چا چه خوراک اوکړو چه راي خکلو په خلال نو دے اوغورزوي او هغه چه په ژبه ئے رابهر کړو پس تیر دے کړي چاچه دا کار اوکړو نو خه ئے اوکړل او چا چه اونه کړو نو څه حرج نشته او څوک چه اودس ماتي له لاړ شي نو ځان دے پټ کړي نو چه څه ئے اونه موندل مګر دا چه دَ شګو یوه ډیره کړۍ دے جوړه کړي نو هغے ته دے شا کړي ځکه شیطان لوبے کوي دَ انسان مقاعدو(شرمګاهونو) سره چا چه دا کار اوکړو نو خه ئے اوکړل او چا چه او نه کړو نو څه حرج نشته ،

تشریح : استجمر: استنجاء کوي ، فماتخلل فلیلفظ : چه رائے خکلو په خلال اودے غورزوي ، وما لاک بلسانه : او هغه چه په ژبه ئے رابهر کړو پس تیر دے کړي، کثیبا من رمل : ډیرکۍ دَ شګے ، مقاعد: شرمګاهونه ،

من استجمر : روايت دَ احنافومستدل دے او كفن خوشبويه كول باب سره تعلق نه ساتي او دا بعيده
معني ده رانجه لګولو کښې سنت دادي چه درے سلائي څڼ سترګه کښې او دوه ګسه سترګه کښې واچوه،
مجموعه سلائي به طاق شي طبراني کښې صحيح روايت دغسے موجود دے دوئمه طريقه دَ امام ترمذي
کتاب کښې ده هر يوه سترګه کښې درے سلائي ، حافظ ابن کثير دَ سورت حجر: آيت: ۹۲ "فَوَرَبِّكَ
لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ" دَ لاندے ليکلے دي : عن معاذ بن جبل قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم:
"يا معاذ، إن المؤمن ليسأل يوم القيامة عن جميع سعيه، حتى كُحل عينيه،
دَ قيامت په ورځ به دَ رنجو او ددے دَ کيفيت متعلق هم تپوس کيږي ، مظاهرحق کښې دي چه دا غوره
ده چه هره سترګه کښې درے سلائي استعمال شي ، او ارواء کښې دَ ابن عباس روايت راوړے دے چه دَ
شپے اوده کيدو نه مخکښې نه اثمد رانجه لګول په روايت کلام کړے دے او وائي چه دَ شيخ احمد شاکر
تصحيح دَ مسند په تعليق دَ مسند صحيح نه ده ،
فماتخلل : "ما" که شرطيه وي نو فليلفظ ئے جزاء ده او دَ "مالاک" عطف په تخلل دے او که "ما"
موصوله وي بيا ئے اکل باندے عطف دے او فليلفظ ئے خبر دے دوئمه توجيه غوره ده (الكاشف)
چه کله په خلال راوځي چه وينه به په خلال لګيدلے وي او که يقيني وينه وي بيا ئے خوړل حرام دي
او ژبه پسته ده که ژبه ئے راوباسي دغه احتمال نشته تيرول ئے صحيح دي ،
فان الشيطان يلعب : دَ تعليل مطلب هغه وخت کښې واضح کيږي چه کله ځان پرده کښې نه کړي نو
شيطان کله چا ته وسوسه اوکړي چه ګناتو ته ورله اوګوره ښکلے او غټ دي ، او فليستدبره: ځکه فرمائي
: چه مخے ته لمن به دَ پردے کار اوکړي او دَ تقاضا کولو دَ وجے روستو لمن نشي پورته کولے ،
التقريرالرفيع کښې دي چه دا باب العلاج سره تعلق ساتي لکه نبي عليه السلام فرمائي : په لوځي سر
کدئ که څه نه مومئ نو يو ډکے پرے کيږده ،

(۱۹):وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي مُسْتَحَمِّهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيهِ فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ إِلَّا أَنَّهُمَا لم يذكرَا: «ثمَّ يغْتَسل فِيهِ أويتوضأ فِيهِ»"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: دَ عبدالله بن مغفلؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام فرمائي تاسو کښې دے څوک غسل خانه کښې بول نه کوي ، بيا پکښې غسل يا اودس کوي ځکه چه اکثر وسوسے ددے نه پيدا کيږي

تشريح : بعض داسے ځايونه دي لکه سوړه ياغسل خانه چه دَ وړو بولو دَ وجے مرضونه پيدا کيږي يا سوړه کښې دَ ضرر يا دَ اضرار خطره کيدے شي دَ حشرات الارض کور روان شي يا ورله تکليف ورکړي ،

مستحم : هغه ځائے چه چرته دَ حميم استعمال وي عامه ده که دَ ګرمو اوبو استعمال کوے يا دَ يخو اوبو شريعت دَ عمل مطابق بدل ورکوي چه دَ بول نه بعد غسل کولو سره ئے دَ وسوسو مرض کښې اخته کړے چه دَ دۀ نه بيا دَ پاکئ او نه پاکئ بيلتون ختم شي ، بعض داسے وسوسے کونکي شته چه بيا بيا اندامونه وينځي او تسلي ئے نه کيږي که په خوړ کښې دا سر په اوبو کښې ډوب کړي بيا ئے هم وسوسے نه ختميږي ، ليکن ابن ماجه : ۱: ۲٦ باندے روايت دے چه نن صبا غسل خانے پخے وي او دَ چونے وغيره استعمال پکښې وي او داسے جوړيږي چه اوبو باندے اوبه اوبيوے نو هغه آثار ئے ختم شي هغے کښې بيا باک نشه او امام نووي شرح کښې ليکي دا منع لامبلو نه هغه وخت کښې ده چه تږي دَ بولو ورته راځي که دغه يره نه وي او دَ وتلو لار ئے برابر وي بيا کراهت نشته (زهرالربي علي النسائي : ١٦)

دَ شريعت مقصد دَ ايذاء نه بچ کول وي که دَ بدبو خطره وي بيا ناجائز دي که شکه وي دَ جذب دَ وجے دَ تنو يره نه وي بيا نشته حديث کښې تعميم دے نهي عام کچو او پخو دواړو غسل خانو ته شامل ده ، ابن سيرين فرمائي باک نه کوي "ربنا الله لا شريک له " دَ هغوي دَ خبرے مطلب دادے چه مؤثر حقيقي او موجد الله دے که الله اوغواړي سبب باندے مسبب مرتب کړي که غواړي نه به ئے کړي يا به هغوي ته دا حديث نه وي راسيدلے ،

فان عامة الوسواس منه : ددے تعليل نه معلوميږي چه نهي تنزيهي ده زمونږ دَ فائدے دپاره ده چه وسوسے راشي او که درے ځله اوبه اوبيولے شي بيا کراهت تنزيهي نشته ، او لمعات کښې دي : چه مجمع البحار کښې دي چه دا وسواس دَ ليونتوب يو قسم دے ليکن که بے احتياطي کيږي نو دَ ماليخوليا خطره وي او دَ نسيان سبب جوړيدے شي ليکن عرف الشذي کښې دي : النسيان ليس بشئ " بهر حال ددے عادت نه اجتناب پکار دے وسوسه عامه ده جامو وينځلو اودس غسل او مونځ ته شامل ده او دَ پيريانو چهير چهاړ له سبب جوړيږي ،

ان عامة الوسواس : نحويان وائي : چه دَ عامه لفظ مضاف نه استعماليږي ليکن شرح المقاصد کښې علامه تفتازاني ليکلے دي چه دَ سيدنا عمر فاروق خط کښې ئے په اضافت استعمال موجود دے نو دَ نحويانو انکار له اعتبار نشته،،

(۲۰):وَعَن عبد الله بن سرجس قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي جُحْرٍ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه: عبد الله بن سرجس فرمائي نبي عليه السلام فرمائيلے دي په تاسو کښې دے څوک په سوړه کښې واړه بول نه کوي ،

تشريح : ابن حجر سرجس ته غير منصرف دَ علميت او دَ عجمے دَ وجے وائي ، او بعض منصرف هم وائي ، دا مزني دے يا دَ هغوي حليف دے ، عاصم الاحول دهٔ دَ شاګرد دے،

وجه دَ منع ضرر يا اضرارده او دَ پيريانو دَ نقصان خطره ده،،

(۲۱):وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ: الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَالظِّلِّ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه"

ترجمه: دَ معاذؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : دَ دريو لعنت له سبب جوړيدونکي څيزونو نه ځان اوساتئ اودس ماتے په ګودرونو کښې او په لارو او سورو کښې ،

تشريح : ملاعن : التعليق الصبيح کښې دي جمع دَ ملعن ده مصدر ميمي دے يا اسم مکان دے ،يعني لعنت له راښکونکي څيزونه،

قارعة : علامه طيبي ليکي : ارته لار چه خلق ئے په څپو وهي او تيريږي ، فتح الاله کښې دي او دا هم صحيح ده چه ټوله لار مراد ده او دا اضافت بياني دے نو دَ لارے په هر جزء کښې اودس ماتے کول مکروه دي درے ئے ذکر کړي دي ليکن اسم عدد کښې حصر نشته ، ارواء الغليل کښې علامه الباني دَ حديث څلور شواهد ذکر کړے دي ليکي چي کم از کم دَ حسن درجے حديث دے ،

امام نووي کتاب المجموع شرح المهذب :۲: ۷۳ باندے ليکي : چه دَحديث راوي معاذ دا ابو عبدالرحمن معاذ بن جبل بن عمرو الانصاري مدني په غټو صحابؤ او فقهاء کښې دي په احکاماتو کښې خه پوهه وو،

بدر او نورو غزواتو کښې شریک وو ، طاعون عمداس کښې په اردن کښې شهید شوے دے او قبر دَ دوي په غورسیان کښې دے ،

واضحه دے وي : دے مواضعو کښې اودس ماتي دَ بعض په نزد مکروه تنزیهي دے لیکن دَ علامه خطابي کلام کښې دي چه دا مکروه تحریمي دي،

(۲۲):وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَخْرُجِ الرَّجُلَانِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ فَإِنَّ اللَّهَ يَمْقُتُ عَلَى ذَلِكَ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ"

ترجمه : دَ ابو سعید رض نه روایت دے نبي علیه السلام اوفرمائیل چه نه دے اوځي دوه سړي چه ځي اودس ماتي له داسے حال کښې چه بربنډونکي وي دَ خپلو شرمګاهونو چه دَ یو بل سره خبرے کوي بے شکه چه الله سخته غصه په دے ورځي ددے روایت سند حسن دے او ام حاکم مستدرک کښې لیکي : هو حدیث صحیح"

کاشفین : یا حال دے یا خبر دَ مبتدا محذوف دے :اي وهما کاشفین لیکن اول اصوب دے ،

مقت : سختے غصے ته وائي هر قسم خبرے بیت الخلاء کښې بند دي او دَ ضرورت مواضع ترے مستثني دي مثلا ړوندکوهي ته غورزیږي یا یو مار دَ انسان قصد کوي نو بیا کلام کول واجب دي او چي کوم دَ مقت موجبات کښې حسابیږي دَ هغے کراهت یقیني دے ،

واضحه دي : چه دَ مقت تعلق کشف عورة سره دے کلام سره نه دے او که دواړو کښې کلام او کشف عورت هر یو سره ئے تعلق وي نو بیا حرمت نه ثابتیږي ځکه چه دَ مقت درجات مختلف دي لکه دَ بُغض ، حدیث کښې دي ابغض الحلال عندالله الطلاق ، او طلاق اګر چه أبغض دي بیا هم حلال دي او حرام نه دي ،

لا یخرج الرجلان : نفي بمعني نهي ده او ښځے هم په دے حکم کښې داخل دي(فتح الاله) مظاهرحق کښې دي چه تکلیف ورکونکے دا صورت دے چه ښځے غسل وغیره کښې دَ یو بل عورت ته کتل معیوب نه ګنړي ،

يضربان الغائط : يفعلان الغائط په معني ئے واخله علامه هيثمي وائي ترکيب کښې يضربان ، حال يا صفت دے ځکه چه دَ الرجلان الف لام دَ جنس دپاره ، تلخيص الحبير کښې دي دَ "لا يتغوط الرجلان" رجال ثقات دی ، علامه طيبي کاشف کښې ليکلے دي : چه جماع او اودس ماتي کښې په ژبه ذکر بند دے زړه کښې دهيان برابرول جدا خبره ده او که بيت الخلاء کښې چاله پرنجے ورشي زړه کښې دے دَ الله حمد کوي دغسے حسن ، شعبي ، او نخعي رحمهم الله فرمائيلے دي انتهي،

ددے نه معلوميږي چه دَ قضائے حاجت په وخت کښې دَ موبائيل دَ استعمال نه اجتناب ضروري دے والله اعلم،

(۲۳):وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْخُبُثِ والخبائث "رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْنِ مَاجَه"

ترجمه :دَ زيد بن ارقم نه روايت دے چه : نبي عليه السلام اوفرمائيل : دا دَ ضرورت ځايونه چه دي حاضري ورته دَ شيطانانو او پيريانو کړے شوے ده کله چه په تاسو کښې بيت الخلاء ته لاړ شي نو او دے وائي : (يعني دا دعاء دے اوائي) زه پليت نارينه او زنانه پيريانو نه دَ الله پورے پناه غوارم ،

تشريح : لمعات التنقيح کښې دي چه حشوش جمع دَ حش ده اصل کښې باغ او دَ کهجورو نښرته وائي ، علامه طيبي ليکلے دي : چه دوي به اکثر اودس ماتے داسے ځايونو کښې کول ، او اشعة اللمعات کښې دي دَ اودس ماتي وخت کښې انسان بربنډ وي او دَ الله ذکر نشي کولے دا حکم ئے ورکړو چه دَ شيطانانو مراد دَ تکليف نه په حفاظت شے،

(۲٤):وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُهُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُولَ بِسْمِ اللَّهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَإِسْنَاده لَيْسَ بِقَوِي"

ترجمه :دَ علي رضي الله عنه نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل دَ پيريانو دَ سترګو او دَ انسانانو دَ شرمګاهونو تر مينځه پرده ده ، کله چه انسان بيت الخلاء ته ورننه کيږي نو بسم الله وئيل دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : ستر، حجاب په يوه معني استعماليږي علامه الباني حديث کښې درے علل ذکر کوي ،
(۱): دَ ابو اسحاق عنعنه او اختلاط ددهٔ نوم عمرو بن عبدالله السبعي دے
(۲): حکم بن عبدالله مجهول الحال دے يے دَ ابن حبان نه چا توثيق نه دے کړے ، او توثيق دَ ابن حبان له اعتبار نشته مولانا ابو محمد گوندهلوي غير مقلد ليکي : چه دَ ابن حبان تساهل مشهور دے (خيرالکلام:۲۵۲) او مولانا عبدالله روپړي ليکلے دي : چه دَ ابن حبان تساهل مشهور دے په معمولي اعتماد باندے راوي په ثقوٗ کښې شماري (فتاوي اهل حديث:۲: ۵۰۸) او مولانا زبيرعلي زئي صاحب ليکي : مجہول اور مستور راویوں کی توثیق میں امام ابن حبان متساہل تھے لہذا ایسے مقام پر اگر وہ منفرد ہو تو ان کی توثیق مقبول نہیں۔ (فتاوي علميه:۱: ۵۸۲) او ابن حجر مقبول وئيلےدے چه دَ تفرد وخت کښې په لين الحديث دلالت کوي ،
(۳): علت دادے چه محمد بن حميدالرازي اګر چه حافظه ئے برابر ده ليکن مطعون دے ، ليکن روستو ليکي : "ثم الحديث صحيح لمجموع طرقه الاتية" ارواء الغليل : ۱: ۸۹ ، لمعات التنقيح کښې دي : چه محمد بن حميد رازي مختلف فيه راوي دے ليکن ملا علي قاري ليکلے دي او مظاهرحق کښې دي فضائل الاعمال کښې به پرے عمل کيدے شي امام بخاري دَ محمد بن حميد باره کښې فيه نظر وائي ليکن ابن معين ليکلے دي چه ددهٔ باره کښې راي حسن راغلے ده و نورو ئے توثيق کړے دے انتهي ، بهر حال دا اتفاقي ده چه معني دَ حديث ثابته ده،
ستر: ستر دَ سين په کسرے سره حجاب ته وائي ،
ترکيب : ستر مبتدا ده او خبر ئے ان يقول دے او "فا" موصوله مضاف اليه ده او صله ئے ظرف بين اعين الجن وعورات بني آدم دے (طيبي)

(۲۵):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ «غفرانك» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجَه والدارمي"

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي کله چه به نبي عليه السلام دَ بيت الخلاء نه راوتلو نو اوبه ئے فرمائيل غفرانک اے الله ستا بخنه غواړم ،
تشريح : غفرانک مصدر دے معني ده اسئلک غفرانک يا اغفر غفرانک يا مفعول به يا مفعول مطلق دے ،

(۱): بيت الخلاء كښې دَ ژبې ذكر بند شي دغې لږ وخت كښې دَ عدم ذكر دَ وجې غفرانک فرمائيلې دي،
(۲): دَ غفرانک نه شكر مراد دے لكه الحمد لله الذي اذهب عني الاذى وعافاني" دَ پاخانې په اخراج انسان عافيت محسوسوي،
(۳):آدم عليه السلام چه اول دنيا ته تشريف راوړو چه كله ئې اودس ماتې اوكړو هغه اجتهادي خطا ورته ياده شوه او استغفار ئې اوكړو په دغې سنت ئې عمل كولو اګر چه ددے توثيق نشي كيدے،
(٤): دَ نظام انهظام مرحله ډيره اهمه او قابل عبرت ده موږ چه خوراک اوكړو معدے ته چه اورسي معده ځله بنده كړي دَ هغې تحليل قدرتي طور باندے شروع شي، ددے دوه حصې وي فائده مند او غير فائده مند، فائده منده برخه اينې ته اورسي وينه ترے جوړه شي بيا ركونو، هډوكو، غوښې وازدے او وينښتو وغيره كښې جوړيدونكې وينه خپلې خپلې حصې ته اورسي بيا بدن ته اورسي هډوكي ئې دَ بدن حصې جوړه شي، علامه آلوسي تفسير كښې دَ سورة النحل آيت : وان لكم في الانعام لعبرة" دَ لاندے ددے پوره قيمتي تفصيل بيان كړے دے، او غير مفيد او رف غذا دَ بدن نه باهر شي ددے كاركردګي دَ شكر آدا كولو نه قاصر يو دَ كوتاهئ دَ احساس دَ وجې استغفار كوؤ او نبي عليه السلام به امت ته دَخودلو دپاره مغفرت طلب كولو، او يا دَ دوي تواضع وه او واقعي قوت بشريه ددے نعمت دَ وفاء او دَ شكر نه قاصر دے، دغسې علامه طيبي فرمائي، او دغسې تفصيل علامه عيني بيان كړے دے،
شيخ الحديث علامه سيد بنوريؒ خپله وجه دا ذكر كوي چه دَ پيغمبر صلي الله عليه وسلم به هر وخت مراقبه وه دَ مراقبې وخت كښې په داسې وخت كښې طبعا به لږ خجالته كيدو چه دَ كبرياء سره منافي جوړيږي نو استغفار به ئې طلب كولو كويا ذكر قلبي به دوي نه منقطع كولو، بهر حال دَ دوي استغفار مستلزم ګناه له نه دے، او دَ علامه رشيد احمد ګنګوهي توجيه دَ ټولو بهتره ده، چه دَ ګندګئ دَ احساس نه بعد دَ هغوي ذهن انتقال اوكړو چه باطني طهارت په غفرانک سره حاصل شي او موږه به دا په نيت دَ اتباع سنت وايو، او بل روايت كښې راځي الحمد لله الذي اذهب عني الاذى وعافاني" بهتره داده چه دواړه جمع كړه، علامه ابن حجر هيثمي فتح الاله كښې ليكلې دي : والاصح عند الاكثرين ان يضم اليها بعدها ماجاءني رواية اخري الحمدلله الذي اذهب الخ ابن ماجه: رقم الحديث: ۳۰۰) او مستحب دي چه بيت الخلاء ته دَ تلو په وخت كښې ګسه خپه او راوتلو كښې ښۍ خپه وړاندے كړے شي "

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۶):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِي تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ فَاسْتَنْجَى ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ فَتَوَضَّأَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وروى الدَّارِمِيّ وَالنَّسَائِيّ مَعْنَاهُ"

ترجمه : ابو هريره رض فرمائي كله به چه نبي عليه السلام بيت الخلاء ته لاړو نو مابه ورله په پيالۍ يا بتكي كښ اوبه راوړلے نبي عليه السلام به هغے سره استنجاء كوله بيا به ئے لاس په زمكه باندے راښكو بيا به مي ورله په بل لوښي كښ اوبه راوړلے نو په هغے به ئے اودس اوكړو،

تشريح : تور : هغه لوښے چه دَ پيتلو يا دَ كتے نه جوړ وي،

ركوة : هغه چه دَ څرمنے نه جوړ وي، لوښے دَ كتے يا دَ څرمنے كوزه دَ ركوة جمع ركاء راځي "او" دَ تنويع دپاره راځي كله يو قسم كښ او كله بل قسم كښ به ئے اوبه راوړلے، او دَغه مطلب چونكه دَ دارمي روايت كښ دَ نسائي په نسبت اظهر او اتم وو په دے وجه دارمي ئے په نسائي مقدم كړے دے (فتح الاله)

(۲۷):وَعَنِ الحكم بن سُفْيَان قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَالَ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه :حكم بن سفيان فرمائي : كله چه به نبي عليه السلام واړه بول اوكړل نو اودس به ئے اوكړو او شرمكاه ته به ئے اوبه ترمتيا كړے،

تشريح : پيغمبر عليه السلام دَ تعليم امت دپاره دَ وسوسے دَ ختمولو علاج وخودلو چه بے دليله دَ وسوسو دَ وجے كه ورته نه شي، چه دا وهم ختم شي چه دَ وړو بولو يوه قطره دَ بدن نه وتلے ده نو دَغه علاج دداسے قسم وسوسے دے،

روايت دَ حكم بن سفيان دے څوك وائي سفيان بن الحكم دے يعني قلب دے داسے امام ترمذي وائي اوليكي دے حديث كښ اضطراب دے دَ بعض سلفو نه دَ اودس نه بعد دا عمل ثابت دے صوفيه دے عمل ته "بَلّ السراويل" وائي او كه واقعي څاڅكي راوتي بيا ئے اودس مات دے، التقرير الرفيع كښ توضأ دَ استنجي په معني اغستلے دے او واو دَ مطلق جمع دپاره دے اي استنجي وتوضأ " ليكن دَ نسائي لفظ

ددے توجیه انکار کوي، نسائي کښې دي "توضأ فنضح فرجه" په نضح الفرج کښې قولي حدیث نشته، بعض علماء وائي دَ نضح معني ده وینځل او اوبه اچول کنایه ده دَ وړے استنجاء نه دا په اودس مقدم وي ، او التعلیق الصبیح کښې دي چه دا نضح الفرج یعني په خختک اوبه ئے دے له ترمتیا کولے چه دے سره دَ فرج شهوت کښې سپکوالے راځي او دَ اودس نه روستو اوبه څکلو کښې دَ خیتے دَ شهوت تسکین راځي ،

(۲۸):وَعَن أُمَيْمَة بنت رقيقة قَالَتْ: كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ مِنْ عَيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيرِهِ يَبُولُ فِيهِ بِاللَّيْلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه : اُمیمه بنت رقیقه فرمائي : دَ نبي علیه السلام دپاره دَ لرګي یوه پیاله وه دَ کټ لاندے او نبي علیه السلام به پکښې دَ شپے واړه بول کول ،

تشریح : عیدان ددے مفرد عیدانة راځي دَ اوګدے کهجورے دَ لرګي نه جوړوي (نووي)

التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوي لیکلے دي دا دَ "عود" جمع ده محققین وائي دا عیدان بفتح العین دے ، دَ کهجورے تنه ئے کنستلے وه پیاله ئے ترے جوړه کړے وه که عیدان بالفتح وي دَ عیدانة جمع ده او که دَ عین کسره وي نو دَ عود جمع ده اولي معني اولي ده ،علامه طیبي لیکي چه دا جمع په اعتبار دَ اجزاء سره ده ، دَ حدیث نه معلومه شوه چه دَ ضرورت دَ وجے داسے کول جائز دي او دا هم معلومه شوه چه نبي علیه السلام به عموما کټ کښې ملاسته کوله او کله به ئے ورله بستره دبل کړه په شګو به ملاست وو دومره تواضع پکښې وه ، دلته مظاهرحق کښې دي چه نقل دے صحابي بے خبرئ کښې دَ نبي علیه السلام واړه بول څکلے وو چه تر څو ژوندے وو دَ بدن نه به ئے خوشبو راتله بلکه دَ څو نسلونو نه دا خوشبو محسوسیدله انتهي ، لیکن توثیق ئے مشکل دے ، او ملائک هله نه راځي چه ډیر وخت دا بول کیخودلے شوے وي او صبا ئے غورزوے بیا څه قباحت نشته خصوصا چه عذر وي (بذل المجهود)

ملا علي قاري لیکي : چه امت ته تعلیم وو ،

(۲۹):وَعَن عمر قَالَ: رَآنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبُولُ قَائِمًا فَقَالَ: «يَا عُمَرُ لَا تَبُلْ قَائِمًا» فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السّنة قد صَحَّ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سباطة قوم فَبَال قَائِما. قيل: كَانَ ذَلِك لعذر"

ترجمه :عمرؓ فرمائي زه اوليدم نبي عليه السلام په داسے حالت کښ چه ما واړه بول کول په اولاړه باندے نبي عليه السلام اوفرمائيل اے عمره په اولاړه واړه بول مه کوه ، عمرؓ فرمائي ما به دے نه پس په اولاړه واړه بول نه کول ،

امام محيي الدين فرمائي : چه دَ حذيفه نه نقل دي چه نبي عليه السلام دَ يو قوم ډيران ته راغے او په اولاړه ئے واړه بول اوکړل ، وئيلے شوے چه دا نبي عليه السلام دَ عذر دَ وجے کړے دے ،

تشريح : په اولاړه واړه بول کول

دَ عذر او تکليف وخت کښ بالکل صحيح ده او امام احمدفرمائي چه اولاړه باندے هيڅ حرج نشته او امام مالک فرمائي که په اولاړه ورته تتي راځي مکروه دي کني نه دي او دَ جمهورو په نزد مطلقا مکروه تنزيهي دي ، علامه وحيدالزمان نزل الابرار :۱: ۵۳ باندے ليکي : ولو بال قائما بلا عذر جاز مع الکراهة" چه بے دَ عذر نه په اولاړه واړه بول مکروه دي دَ نماز نبوي : ۲۸ باندے دي چه دَ عذر په وجه په اولاړه دَ واړه بولو کولو کنجائش شته ، قاضي شوکاني نيل الاوطار: ۱ : ۱۵۷ احياء التراث بيروت باندے ليکي: والحاصل انه قد ثبت عنه البول قائما وقاعدا والکل سنة" په اولاړه بول کولو ته مستقل سنت وائي حالانکه مطلقا دا سنت نه دي ، الحق الصريح کښ دي مستحب طريقه داده چه په ناسته بول اوکړي شي ، او السنن والمبتدعات:۱: ۴۰ کښ دي "فإن فعل ذلك وأفهم هؤلاء وأصروا على الإنكار عليه فليبل عليهم" انتهي ، عجيبه ده چه ددے بولو کيفيت به څنګه وي يا للعجب ولضيعفة الادب ،

سباطة قوم : دغسے روايات قدوري کښ دي خو صاحب دَ قدوريؒ دَ حذيفه او مغيره رضوان الله عليهما دواړه روايتونه جمع کړے دي څکه دَ حذيفه په حديث کښ دَ ناصيه ذکر نشته او په حديث دَ مغيره کښ دَ اولاړه ذکر نشته (عرف الشذي) ، دَ سيدنا حذيفه روايت فبال قائما بخاري متعدد ځايونو کښ نقل کړے دے چه يو ځکښ دَ اودس بحث دے او دَ سيدنا مغيره روايت دَ مسلم دَ طهارت بحث کښ موجود دے ، او دَ سيدنا عمرؓ روايت قولي دے ، ما بلت قائما منذ اسلمت رواه الترمذي ، علامه هيثمي مجمع الزوائد کښ راوړے دے او فرمائي چه رجال ئے ثقات دي ،

په اولاړه بولو کښې احتمالات

الحق الصريح کښې دي دَ مقلدينو دا عادت دے چه هغوي دَ خپل مذهب دَ موافقت دپاره دَ نبي عليه السلام اعمال په عذر حمل کوي هغه ئے بيمار کړے دے ، انتهي

دا عذر دَ مقلد نه دے بلکه دا دَ امام شافعي مجتهد دے او دغسے امام احمد مجتهد هم فرمائي، او د دوي دَ ملا دَ تکليف ذکر دَ غير مقلد "السنن والمبتدعات" کښې صفحه: ۴۰ باندے شته علامه طيبي الکاشف کښې ليکي : قال الشافعي: كانت العرب تستشفي لوجع الصلب بالبول قائماً، فلعله كان به ذلك وإلا فالمعتاد من فعله البول قاعداً، وهو الاختيار" انتهي ،

او دَ فصل ثالث اول حديث کښې علامه طيبي ليکي ان بوله قائما كان لعذر اضطره اليه " او دَ امام شافعي دغه توجيه علامه بيهقي دَ معرفة السنن والاثار په حواله ذکر کړے ده او امام غزالي احياء العلوم کښې ليکلے دي چه دَ ټولوښتو طبيبانو اتفاق دے چه دا دَ مرض علاج دے امام نووي فرمائي دا عذر وو چه زنګون کښې ئے زخم وو که روايت ضعيف هم دے ليکن يوه نکته جوړيدے شي او دا ئے هم ليکلے دي چه دَ ناستے مناسب ځائے نه وو او يا دے په بيان جواز حمل شي او دَ پيغمبر دَ بيان جواز دَ تشريع بيان کښې اګر چه ارتکاب دَ تنزيه راځي خو خاص پيغمبر له پکښې اجر دے عام عادت مبارکه دَ هغوي لرے تلل وو لکه ابوداود روايت کښې دي ، په ډيران دَ ورو بولو مسئله دَ عذر دَ وجے وه قاضي عياض فرمائي چه دَ مسلمانانو امورو کښې مشغول وو لرے نشو تلے ،

الحاصل : دا نهي عن البول قائما په تأديب حمل دے نه په تحريم او يا فعلاً نبي صلي الله عليه وسلم دَ بيان جواز دَ خاطره داسے خپله اوکړل چه اطمينان صحابؤ ته حاصل شي او پيغمبر عليه السلام ته په مستحب دَ غير مستحب باندے دَ عمل په نسبت داسے خاص صورت کښې زيات ثواب ميلاويږي لکه دَ ماسپخين نه مخکښې دوه رکعاته سنت يا تحية الوضوء ، که څوک فرض ګڼړي نو ترک واجب دے نو امت باندے ترک دَ مستحب دَ استحباب دَ بيان دپاره واجب دے نو په شارع باندے بطريق اولي واجب دے امام ترمذي هم قاعدا بول ته ادب او قائما ته جائز وئيلے دي ، مسند امام اعظم کښې هم دَ جواز په خاطر دَ اولاړے واړه بول ذکر شوے دے ،

فائده ؛ دا سباطة قوم دَ خاص قوم نه وه بلکه دَ شاملاتو ډیران وو اضافت دَ ملکیت نه دے بلکه تخصیص دپاره دے او په یو ځل نیم ورو ورو بولو سره دیوال کچه کیږي نه په دوام سره خطره وي نن صبا دَ اولاړے واړه بول دَ فیرنگیانو شعار دے نو دَ ناستے تاکید له ځکه زور وکیدے شي ،

نوټ : څوک چه هر وخت کښې ورته سنت وائي او فیسبک باندے دا خبره ښکاره کوي چه بغیر دَ عذر نه ما نن بول په اولاړه کړے دي او ورسره وائي چه پیغمبر علیه السلام سرو ښځو دواړو ته مبعوث دے دَ عباداتو طریقه کښې فرق کول احنافو کوره ایجاد کړے دے نو هغوي به آیا داسے اوائي چه دا نسبت ښځو له هم دے هغوي به څنګه دغه دَ دوي مخترعه نسبت باندے عمل اوکړے شي ، فسبحان من انصف ولم يتعسف،،

ارواء الغليل :۹۵ باندے علامه الباني دَ ابن مسعود قول نقل کړے دے او وئیلے دي چه موقوف روایت صحیح دے چه څلور څیزونه جفاء کښې حسابیږي،

(۱): په اولاړه بول،

(۲): داسے ځائے کښې مانځه ته اودریدل چه خلق مخے ته تیریږي او ستره نه استمالوي،

(۳): دَ مخ نه خاوره په مانځه کښې څنډل،

(٤): او دَ مؤذن آذان اوري او ایجابت ئے نه کوي ، الحق الصريح کښې جلسه استراحت مثال کښې پیش کړے دے چه دا هم مقلدین په عذر محمولوي ددے ذکر اول جلد کښې مختصرا شوے دے او تفصیل خپل ځائے کښې به راشي ، مسنداحمد :٥: ٣٤٣ "ثُمَّ كَبَّرَ فَانْتَهَضَ قَائِمًا" دا په صحیح حدیث کښې دي چه پیغمبر علیه السلام آخري عمر کښې کمزورے وو او الله کمزورے کړے وو نۀ مقلدینو ، هغوي خپله فرمائي "اني قد بدنت" بوډا توب سره ئے بدن غټ شوے وو کنه داسے عمر کښې روغ کس ته څه مسئله نه وي ، احناف اصل جواب دا ورکوي چه دا دَ پیغمبر علیه السلام دائمي هدي نه ده او نه سنن الصلاة دااصل سنت سره هروخت کښې تعلق ساتي چه دا مطلقا سنت او لائق اقتداء ده ، زادالمعاد ته رجوع کول پکاردي هلته داسے دي "وَفِي حَدِيثِ ابْنِ عَجْلَانَ مَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ كَانَ يَنْهَضُ عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عِدَّةٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَسَائِرُ مَنْ وَصَفَ صَلَاتَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَذْكُرْ هَذِهِ الْجِلْسَةَ، وَإِنَّمَا ذُكِرَتْ فِي حَدِيثِ أَبي حميد، ومالك بن الحويرث. وَلَوْ كَانَ هَدْيُهُ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِعْلَهَا دَائِمًا لَذَكَرَهَا كُلُّ مَنْ وَصَفَ صَلَاتَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمُجَرَّدُ فِعْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهَا لَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهَا مِنْ سُنَنِ الصَّلَاةِ، إِلَّا إِذَا عُلِمَ أَنَّهُ فَعَلَهَا عَلَى أَنَّهَا سُنَّةٌ يُقْتَدَى بِهِ فِيهَا"،

او ابن تیمیه مجموع فتاوي کښې جلد:۱: ۱۹۹ باندے لیکي : چه اشتباه په ډیرو عالمانو څکه راغلے ده چه دا استحبابا ده او لحاجة عارضة ده "وهذا هو الأصل، فإن المتابعة فى السنة أبلغ من المتابعة فى صورة العمل؛ ولهذا لما اشتبه على كثير من العلماء جلسة الاستراحة : هل فعلها استحباباً أو لحاجة عارضة" احناف ددے حمل په حاجت عارضي باندے کوي چه هغه کمزورتیا ده،

او احادیثو کښې عدم جلسه استراحت تذکره شته ، بخاري: رقم الحدیث: ۶۲۹۰ کښې کتاب الایمان والنذر :۹۸۶ کښې دَ جلسه استراحت عدم مروي دے "ثم ارفع حتي تستوي قائما" اول فعل دَ رسول الله صلي الله وسلم دے او دوئم مقام تعلیم کښې ذکر شوے دے او مقام تعلیم راجح وي ، پکښې راجح مرجوح موجود وي (فتاوي فریدیه)

او مسند احمد کښې دي: ۱۵: ۴۰۰ "ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا"

دَ جلسه استراحت اصطلاح شائع ذائع ده دَ شیخ عبدالسلام انکار او دَ هغے نه تعبیر "تھوڑی دیر بیٹھے" باندے کلکیدل عجیبه دي "انکار حدیث سے انکار قرآن تک" صفحه: ۸۷ باندے لیکي : "سجدوں سے سر اٹھا کر کچھ معمولی وقت بیٹھ جائے" صلوا کما رأیتموني اصلي او نیل المرام کښې مجتهد عبدالعزیز محترم نورستاني لیکي جلسه استراحت په بوډا توب او کمزور توب حمل کول بے ځایه دي انتهي

دَ حدیث په رڼرا کښې ترک له ترجیح به څنګه وي؟

الفصل الثالث

(۳۱):عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: «مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبُولُ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوهُ مَا كَانَ يَبُولُ إِلَّا قَاعِدًا» . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :عائشه رضي الله عنها فرمائي چا چه په تاسو کښې دا خبره اوکړه چه نبي عليه السلام به په اولاړه واړه بول کول نو تصديق ئې مهٔ کوئ بلکه هغوي به صرف په ناسته واړه بول کول ،

تشريح : دَ حذيفه رضي الله عنه روايت کښې دَ اولاړے واړه بول ثابت دي او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها انکار دے ليکن تعارض ځکه نشته چه تعارض له وحدت مکان ضروري وي او دَ عائشه رضي الله عنها خبره دَ کور او دَ حذيفه رضي الله عنه خبره دَ بهر ده ،

(۲): دَ حذيفه روايت بيان جواز باندے حمل دے دا په قول او فعل دواړو سره معلوميږي ليکن اعلي درجه ئې فعل دے او دَ عائشه رضي الله عنها خبره په عادت باندے حمل ده چه دغسے عادت مبارکه نه وو ، دَ هغوي عادت قاعدا وو دَ ابن ماجه او نسائي روايت کښې دي چه پيغمبرعليه السلام يو ځل په ناسته چه کله بول اوکړل نو چا دا اعتراض اوکړوچه دَ ښځو غوندے متيازے کوي معلومه شوه چه دغه وخت کښې رسم اکثر دَ سړو په اولاړه بول کول وو ددے رسم دَ ماتولو دپاره پيغمبر صلي الله وسلم به واړه بول په ناسته کول غوره کړو ، او اوس دَ پيرنګيانو دَ مشابهت دَ وجے په ناسته ږکښې نور هم تاکيد راغلے دے ، ابن حجر فتح الباري کښې نقل کړي دي "والجواب عن حديث عائشة انه مسند الي علمها فيحمل علي ما وقع منه في البيوت وأما في غير البيوت فلم تطلع معي عليه" او ما نحن فيه " روايت ته المجموع شرح المهذب :۲: ۷۱ باندے ليکلي دي اسناده جيد وهو حديث حسن ، علامه الباني تخريج المشکوة کښې ليکي : سند ئې ضعيف دے شريک ابن عبدالله القاضي سيئ الحفظ دے ليکن يواځے شريک نه دے سفيان ئې متابع موجود دے لکه حکم وغيره ئې روايت کړے دے او مصنف خپله په دے تنبيه ورکړے ده ځکه په سلسلة الاحاديث الصحيحه کښې صحيح کړے دے او په صحيح سنن الترمذي کښې ۱۱ نمبر او په صحيح ابن ماجه ۲۴۹ نمبر ئې ذکر کړے دے ، او ابن مسعود ، شعبي ، او ابراهيم بن سعد په اولاړه بولو ته مکروه وئيلے دي لکه ابراهيم بن سعد فرمائي چه په اولاړے بولو عادت ئې جوړ کړے وي کواهي ئې معتبره نه ده علامه طيبي کاشف کښې ليکي : چه دا حديث ځکښې خبره مضبوطوي چه دَ هغوي په اولاړه بول دَ عذر دَ وجے وو چه ورته مجبوره شوے وو او قاضي شمس الدين په خپل تعليق کښې ليکلے دي چه دَ حذيفه رضي الله عنه واقعه حال ده او شائد چه دَ بهر دغه عمل ام المؤمنين ته نه وي رسيدلے، هيڅ تعارض نشته ،

نوټ : دے روایت ته الباني صحیح وائي سلسله صحیحه:۲۰۱ او صحیح مشکوة: ۱:۷۸ باندے ورته ضعیف وئیلے دي ،

(۳۲):وَعَن زيد بن حَارِثَة عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَاهُ فِي أَوَّلِ مَا أُوحِيَ إِلَيْهِ فَعَلَّمَهُ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْوُضُوءِ أَخَذَ غُرْفَةً مِنَ الْمَاءِ فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ» . رَوَاهُ أَحْمد وَالدَّارَقُطْنِيّ،

ترجمه : زید بن حارثه دَ نبي علیه السلام نه نقل کوي چه جبریل علیه السلام په اوله وحي نبي علیه السلام ته راغے نو نبي علیه السلام ته ئے اودس اوخودلو بیا ئے ورته مونځ اوخودلو کله چه نبي علیه السلام دَ اودس نه فارغ شو نو یوه لپه اوبه ئیے راوغستے او هغه ئے خپل عورت باندے ترمتیا کړے،

تشریح : دَ زید بن حارثه کنیت ابو اسامه او دَ مور نوم ئے سعده وو، مور دَ قوم ملاقات له بوتلو په جاهلیت کښ دَ بنوالقین بن الحرلښکر حمله اوکړه زید ئے اوچت کړو او دَ اتهٔ کالو هلک وو او سوق عکاظ کښ خرڅولو او حکیم بن حزام دَ خپلے ترور دَ خدیجه دپاره په څلور سوه درهمه واغستو او چه نبي علیه السلام سره نکاح ددے اوشو نو نبي علیه السلام ته ئے دے هبه کړو اول به نبي علیه السلام ام ایمن سره نکاح اوکړو اسامه ترے پیدا شو،

فلما فرغ من الصلاة" دلیل دے چه نضح او ترمتیا کول به دَ اودس نه پس وي او دا عمل نبي علیه السلام دَ امت دَ تعلیم دپاره اوکړو یا دَ قطع بول په مقصد کیدے شي ددے روایت سند حسن دے،

(۳۳):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "جَاءَنِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَانْتَضِحْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَعْنِي الْبُخَارِيَّ يَقُولُ: الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْهَاشِمِي الرَّاوِي مُنكر الحَدِيث"

ترجمه :ابو هریره ﷺ فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي ماله جبریل علیه السلام راغے او ماته ئے وے اے محمدا کله چه ته اودس اوکړے نو خپل عورت ته اوبه ترمتیا کوه،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح : علامه ابن حجر هیثمي لیکي : اي لیس ثقة ولا ضابط لیکن ضعف ئے ورله ځکه ډیر بیان نه کړو چه مخکښ مختلف سندونو سره ددے بیان شوے دے نو فضائل کښ حجت دے دغسے زمونږ ائمه وائي او ملاعلي قاري هم لیکلے دي "وَمَعَ ذَلِكَ فَهُوَ لَمْ يَشْتَدَّ ضَعْفُهُ لِتَعَدُّدِ طُرُقِهِ السَّابِقَةِ فَيَكُونُ حُجَّةً فِي فَضَائِلِ الْأَعْمَالِ" (مرقاة :۱: ۳۹۰) او امام بخاري خو فرمائي : "اذا قلت في الراوي فلان منكر الحديث فلا تحل الرواية عنه" لکه دغسے قول دَ هغوي نه شائع او ذائع دے ، علامه طیبي الکاشف کښ دَ ابن صلاح قول نقل کوي : قال ابن الصلاح: قیل: هو ما تفرد به من لیس ثقة ولا ضابطاً" لکه دغسے خبره دَ ابن حجر هیثمي نه مخکښ نقل شوه ، او علامه بردیجي فرمائي : هو الفرد الذي لایعرف متنه من غیر روایة" لیکن دَ ابن صلاح په اصطلاح کښ صواب دے ،

(۳٤):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: " بَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهُ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ فَقَالَ: مَا هَذَا يَا عمر؟ قَالَ: مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِهِ. قَالَ: مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ أَنْ أَتَوَضَّأَ وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَتْ سُنَّةً «.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه "،

ترجمه: عائشه فرمائي چه نبي علیه السلام واړه بول اوکړل او دَ نبي علیه السلام شاته عمر رض دَ اوبو کوزه نیولے وه نبي علیه السلام ورته اوفرمائیل دا سه دي اے عمر نو عمر رض اوفرمائي دا اوبه دي چه تاسو پرے اودس اوکړئ نبي علیه السلام ورته افرمائیل ما ته دا حکم نه دے شوے چه هر کله زه بول اوکړم نو اودس کوم او که دا کار اوکړم نو زما دا کار به سنت شوے وو،

تشریح : اشعة اللمعات کښ شیخ عبدالحق لیکلے دي : همیشه اوداسه کښ ګرځیدل بلا خلافه مستحب دي او دا حدیث دلالت په دے کوي چه پیغمبر به هر کار کولو یا خبره ئے کوله دَ الله په امر به ئے کوله او دا ترے هم معلومه شوه چه پیغمبر صلي الله علیه وسلم ته په کولو دَ سنتو سره هم حکم کیدلو اګر که فرض به پرے نه وو او دا ترے هم معلومه شوه چه دوي به کله کله بهتر کار هم دَ امت دَ آسانتیا دپاره پریخودو، علامه طیبي هم دغه امور لیکلے دي او آخر کښ لیکلے دي چه دَ امر بنا په یسر وي ،

لکانت سنة : مراد ترے سنت مؤکده دے چه کوم فعل نبي علیه السلام په دوام سره کړے وي هغه سنت مؤکده وي ملا علي قاري لیکي : چه دَ اوبو استنجاء او اودس کښ دوام بالاتفاق مستحب دے معلومه

شوه آحاديثو كښې بعض مسائل دَ وجوب ، ځنې دَ استحباب او بعض لبيان العمل وي هر حديث واجب العمل نه وي او ابن حجر هيثمي: "لكانت سنة" په تشريح كښې ليكلے دي : اي طريقة محتملة ، اما السنة التي هي التطوع فانها موجودة"

(٣٥):وَعَن أَبِي أَيُّوب وَجَابِر وَأنس: أَن هَذِه الْآيَة نَزَلَتْ (فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يحب المطهرين)

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَثْنَى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُورِ فَمَا طُهُورُكُمْ قَالُوا نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ قَالَ فَهُوَ ذَاك فعليكموه» . رَوَاهُ ابْن مَاجَه"

ترجمه : د ابو ايوب ، او دَ جابر ، او دَ انس ﷺ نه روايت دے چه كله دا آيت نازل شو "فيه رجال يحبون الخ " نو نبي عليه السلام اوفرمائيل اے دَ نصاراؤ تولكيه يقينا الله تعالي صفت كړے دے ستاسو په پاكئ كښې نو ستاسو هغه پاكي څه ده نو هغوي اوے مانځه له اودس كو او غسل كو دَ جنابت نه او استنجاء كو په اوبو نبي عليه السلام اوفرمائيل ، څه چه دا ده نو دا لازم كړئ دے لره ،

تشريح : ابن حجر هيثمي ليكي : عليكموه : اي الزموا كمال التطهير مااستطعتم" او دغه دَ غټ محبت په اسبابو كښې يو سبب دے دوي له ئے دَ استنجاء په تكميل ترغيب وركړے دے ،

امام نووي خلاصة الاحكام كښې ليكلے دي چه دَ فقه او دَ تفسير كتابونو كښې چه دَ لوټو او دَ اوبو جمع ده "لايعرف" ليكن حافظ زيلعي دَ دوي نصب الرايه كښې تعاقب كړے دے چه دَ شيخ محيي الدين نووي به دے حديث ته فكر نه وي تلے ،

فعليكموه : دا امر دَ استحباب دے او په مستحب دوام ثابت دے ليكن التزام غلط دے ، ليكن په بدعت دوام او التزام دواړه ناجائز دي ،

واضحه دے وي چه يواځے اوبه او يواځے لوټه كته سره استنجاء كولو كښې غوره بيا دَ اوبو استعمال دے ځكه چه لوټے كتے سره څه لږ غوندے اثرات باقي پاتے كيدے شي او دَ اوبو استعمال سره صفائي څه راځي او تول اثرات ختميدل په اوبو كيږي ، امام ترمذي ليكي : چه اهل علم استنجاء بالماء غوره كوي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

سيدنا حذيفه ؓ، ابن عمر ؓ او امام مالک استنجاء بالماء مکروه گنړي او "فيه رجال يحبون ان يتطهروا" نه استحباب معلوميږي امام ترمذي دَ اباب الاستنجاء بالماء " باب منعقد کړے دے ،

(٣٦):وَعَنْ سلمَان قَالَ قَالَ لَهُ بعض الْمُشْرِكين وَهُوَ يستهزئ بِهِ إِنِّي لأرى صَاحبكُم يعلمكم كل شَيْء حَتَّى الخراءة قَالَ أَجَلْ أَمَرَنَا أَنْ لَا نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَلَا نَسْتَنْجِيَ بِأَيْمَانِنَا وَلَا نَكْتَفِي بِدُونِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ لَيْسَ فِيهَا رَجِيعٌ وَلَا عَظْمٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَحْمد وَاللَّفْظ لَهُ"

ترجمه : دَ سلمان ؓ روايت دے چه بعض مشرکانو اوئيل دَ استهزاء په طور چه يقينا زه ستاسو ملګرے يعني نبي عليه السلام وينم چه تاسو له تعليم درکوي تر دے چه دَ اودس ماتي دَ ناست طريقه هم درته درښائي ما اوئيل آو مونږ ته ئے حکم کړے دے چه قبلے ته به نه مخ کوے او نه به ښي لاس باندے استنجاء کوئ او دَ دريو کاڼړو نه په کم به اکتفاء هم نه کوے چه په دے کښې به غوشيان او هډوکي هم نه وي ،

تشريح : شيخ عبدالحق ليکي : خراءة په کسرے سره او مد سره څائے دَ ناستے دَ اودس ماتي ته وائي اکثر راويان په کسرے سره ئے نه لولي بلکه په فتح دِ خاءَ او بغير دَ مد نه لولي يعني خَراءة ، او خُراءة ، دَ مرغئ ګندګئ ته وائي ،

علامه ابن الاثير ليکي : بالکسر والمد دے علامه خطابي وائي اکثر دَ خاء فتحه ذکر کوي خِرئ خراءة ، لکه کره ، کراهة بالفتح مصدر او بالکسر اسم دے امام نووي وائي الخراء بالکسر او مد سره دَ حدث هيئت ته وائي او نفس حدث دَ تاء او دَ مد نه بغير وي خراءة نه مراد اودس ماتے دي دَ مشرکانو کار دَ پخوا نه په ښي او صحابؤ پورے ټوقے کول دي ليکن سيدنا سليمان ورله جواب علي اسلوب الحکيم ورکړو او استهزاء ته ئے التفات هم اونه کړو (مجمع البحار:١: ٣٣٣)

امام نووي المجموع :٢: ٧٨ باندے ليکلے دي چه مستحب دي چه اودس ماتي په وخت کښې خپل شرمګاه ته او آسمان ته نه ګوري او په لاس لوبے نه کوي او کومه پاخانه ترے راوځي نو په هغے دے قصدا نظر نه اچوي ، که چرته نظر په دے پريوځي عبرت ترے واخلي ، سورة عبس آيت: ٢٤ کښې دي

"فلینظر الانسان الي طعامه" تفسیر قرطبي کښې دي: "الي مدخله ومخرجه" نبي علیه السلام یو ځل دَ
ضحاک بن سفیان الکلابي نه تپوس اوکړو یا ضحاک ما طعامک؟ قلت یا رسول الله اللحم واللبن "
پیغمبر علیه السلام بیا تپوس اوکړو چه دَ پیو او دَ غوښے نه بیا څه جوړشي جواب ئے ورکړو هر چا ته دَ
هغے پته ده ، اوبے فرمائیل : ان الله ضرب ما یخرج من ابن آدم مثلا للدنیا" اخرجه احمد ، وکذا في مجمع
الزوائد ، او ابن الحاج مدخل کښې :۷ باندے لیکي : اذا صار رجیعا " او دغسے دَ ابن عطیه دَ ابي بن
کعب ، ابن عباس ، حسن ، او مجاهد نه نقل کړي دي او امام سیوطي په درمنثور کښې لیکي : الي خرائه
مایخرج منه " انساني کارخانه کښې دَ ښکلے خوراک بعض حصه سخا کیږي او په عامو کارخانو کښې دَ
خام مال نه قیمتي اشیاء جوړیږي ، التواضع والخمول دَ ابن ابي الدنیا کتاب دے ددے په صفحه: ۲۰۰ دَ
روایت نمبر:۲۱٤ دے لیکلے دي چه یو سړے یولس (۱۱) کاله دَ کعب احبار سره شاگردي کړے وه دَ
وفات وخت ئے چه رانزدے شو ، نو تپوس ئے ترے اوکړو ، اخبرني مابال ابن آدم اذا قام من طوفه" چه
کله اودس ماتي انسان اوکړي غیر اختیاري نظر په دغه پاخانه ولے غورزیږي ، کعب احبار جواب
ورکړو "والذي نفس کعب بیده " ورته بزبان حال وائي : انظر الي دنیاک التي تجمع" چه کومه دنیا دے
جمع کړے وه په وتلو کښې ورته اوګوره ،

علامه طیبي لیکي : سلمان دغے مشرک ته وائي عناد پریږده نیغه لار اونیسه ظهر او باطن دے دَ ارجاس
او انجاس نه پاک کړه لکه چه قوم صالح دَ سیدنا صالح علیه السلام نه تپوس اوکړو "اتعلمون ان صالحا
مرسل" جواب ئے علي اسلوب الحکیم داسے ورکړو دَ هغوي دَ الله دَ طرفه راتلل معلوم او مکشوف دي
خبره داده چه مونږه پرے ایمان راوړے دے او دَ دَ حکمونو پوره کول کوواو دَ نواهي نه اجتناب کوو
،انتهي، یعني چه کومه توحیدي مسئله ستاسو بدي شي هغه مونږ منلے ده په دے کښې مبالغه ده په
مشرک باندے دَ رد کولو په باره کښې او دَ سیدنا سلمان دَ کلام دَ مشرک په حماقت تنبیه ورکول دي
چه دغه شان آداب دَ عقل ، فهم سره موافق دي هغه خو داسے جواب په انتظار کښې نه وو شریعت
اسلامیه کښې ټول تشریعات ، تشریحات ، آداب ،احکام ، اخلاق او عقائد موجود دي چه دداسے دین
خصوصي امتیاز او شرافت دے ، او ورته ئے اوخودله چه دَ استقبال و استدبار مسئله کښې دَ حقوق الله
رعایت دے او په ښي لاس دَ استنجاء په بندیز کښې دَ حقوق النفس رعایت کول ملحوظ دي او

Maktaba Tul Ishaat.com

"لانكتفي" كښ دَ نظافت او ستهرائي ذكر دے ، او په ليس برجيع كښ دَ ګاوند او دَ بندګانو حقوقو ته اشاره ده دَ يو پاخانے په شرعي تقاضا سره پوره كولو كښ دومره جامعيت دا دَ اسلام خصوصيت دے ،

(۳۷)وَعَن عبد الرَّحْمَن بن حَسَنَةَ قَالَ: " خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي يَده كَهَيئَةِ الدَّرَقَةُ فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَلَسَ فَبَالَ إِلَيْهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ: انْظُرُوا إِلَيْهِ يَبُولُ كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ فَسَمعهُ فَقَالَ أَو مَا عَلِمْتَ مَا أَصَابَ صَاحِبَ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانُوا إِذا أَصَابَهُم شَيْء من الْبَوْلُ قَرَضُوهُ بِالْمَقَارِيضِ فَنَهَاهُمْ فَعُذِّبَ فِي قَبْرِهِ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ،

ترجمه :عبدالرحمن بن حسنه فرمائي : چه نبي عليه السلام په مونږ باندے راوتلو او په لاس كښ ئے دال وو هغه ئے كيخودلو او كيناستو او هغه ډال طرفته ئے واړه بول اوكړل نو بعض اووے يعني يو مشرک اووے اوګورئ دَهٔ ته داسے واړه بول كوي لكه ښځكه چه ښځه واړه بول كوي نبي عليه السلام دا خبره واوريدله وي هائے ! آيا ته هغه څه پيژني چه دَ بني اسرئيلو ملګرو ته اورسيدل بني اسرائيلو ته به چه متيازے اورسيدے نو هغه به ئے په قينچئ سره كټ كولو نو هغوي به ددے حكم نه خلق منع كول نو الله هغه لره دَ قبر په عذاب سره مبتلا كړو ،

تشريح : شيخ عبدالحق ليكي : دَ راوي دَ مور حسنه نوم دے او دَ پلار نوم ئے عبدالله وو مګر دے دَ مور په نامه مشهور وو دَ دوي په صحابي كيدو كښ دَ اختلاف دَ وجے دَ حديث مرفوع او مرسل كيدونه دے غوره داده چه صحابي دے ،

الدرقة : هغه ډال چه لرګے او پلے پتے پكښ نه وي (لمعات التنقيح)

اليها : اي طرفها ، دا اعتراض په پيغمبر چرته منافق يا مشرک كړے دے بني اسرائيلو به په اوبو پاكي نه حاصلوله يو عالم پكښ دَ دوي نه خلاف اوكړو او دَ الله دَ حكم مخالف شو او خلق ئے په نجاست كښ مبتلاء كړل او استهزاء په رسول او دَ هغوي په حكمونو سبب دَ عذاب دے لكه سورة بني اسرائيل كښ په ځلورو سببونو كښ يو سبب دادے ،علامه طيبي ليكي : ددے منافق چه دَ امر بالمعروف نه مسلمانان منع كوي تشبيه ئے دَ بني اسرائيل هغے كس سره وركړه مراد ددے نه توبيخ ، تهديد دے دَ حياء په كار

عار ورکول او دَ ښځو سره تشبیه ورکول دا ډیره بې شرمي ده ګویا دا خبره په مخکښې او روستو امتونو کښې مشهوره ده ، چه کله به بني اسرائیلو کښې دَ چا کپړے ته بول اورسیدل په قینچئ به ئې دغه کپړه پریکوله لکه بخاري: ۱: ۳٤ کښې دي او په ابوداود :۵ باندے دَ ابو موسي په دے حدیث کښې "جلد احدهم" راغلے دے لیکن دَ جلد نه پوستین مراد دے او دَ "جسد" لفظ په معني کښې دَ راوي تفسیر دے (التعلیق الفصیح)

او که دا اعتراض دَ مسلمان وي نو دَ یو کار تحقیق او وضاحت معلومول غواړي ځکه صحابه قطعاً دَ استهزاء نه الله محفوظ ساتلے دي یا ئې دَ تعجب دَ وجے دغسے اوئیل ، او دَ صاحب بني اسرائیل مصداق دَ موسي علیه السلام نه علاوه بل سړے دے چه بني اسرائیل ئې ددے شرعي حکم دَ عمل نه منع کول الله ورله عذاب ورکړو ځکه چه نبي علیه السلام کښې دَ پیغلے جینئ نه ډیره حیاء وه یعني هغه اسرائیلي دَ امر شرعي نه ئې خلق منع کول عذاب ئې ورله ورکړو او تاسو هم دَ ستر دَ حکم نه خلق منع کوئ چه درته عذاب درکړي ،

(۳۸):عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ قَالَ: «رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ثُمَّ جَلَسَ يَبُولُ إِلَيْهَا فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هَذَا قَالَ بَلَى إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ فِي الْفَضَاءِ فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ فَلَا بَأْسَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ"

ترجمه:مروان الاصفر فرمائي : ما ابن عمر اولیدو قبلے ته سورلئ اودرولے وه او بیا کیناستو او هغے طرف ته ئې واړه بول اوکړل ما عرض اوکړو اے ابو عبدالرحمن آیا داسے طریقے سره واړه بول منع نه دي نو هغه اووے بیابان کښې ددے نه منع راغلے ده لیکن کله چه دَ قبلے او ستا تر مینځه څه شي وي چه ستر راولي تالره نو بیا څه باک نشته ،

تشریح : ددے حدیث سند کښې حسن بن زکوان ضعیف دے ،(۲): دا دَ سیدنا ابن عمر خپل انفرادي اجتهاد دے (۳): صرف دومره ترے ثابته شوه چه ځنګل کښې کله مخے ته څه رکاوټ نه وي نو ممانعت دے حالانکه دَ دوي دا مسلک دے که رکاوټ وي یا نه وي ممانعت دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فاذا کان بینک وبین القبلة شیئ : ابن حجر هیثمي فتح الاله کښ لیکي: شیئ مطلق دے لیکن مقید په داسے شي دے چه پرده راولي چه دلته راحله ده دَ زمکے نه غالبه دا دهٔ چه دوه ثلثه اوچته ده لکه دَ مصلي مخے ته چه سُتره وي،

باب السواک

علامه طحطاوي دِ مسواک باره کښې تصنیف کړے دے ، علامه شامي دَ مسواک ډیر فضائل لیکلے دي، خُله صفا کوي ، رب رضا کیږي ، ملائک خوشحالیږي ، نظر او فصاحت تیزوي ، دَ خُلے بدبوئي ختموي ، غاښونه سپینوي ، اُوربۍ مضبوطوي ، دَ طعام هضم کښې ممد دے ، بلغم ختموي ، دَ قرآن دَ لوستلو لار صفا کوي ، معده مضبوطوي ، شیطان خفه کوي ، دَ غاښ درد ختموي روح په آساني اوځي او دَ مرګ وخت کښې کلمه ورته یادیږي وغیره۔

واضحه دے وي : درمختار کښې بعض خبرے تشریع سره تعلق نه لري بلکه تجربے سره تعلق لري هسے عقلي احتمالات دي څه خاص دلیل په هغے نشته مثلا چه اودس کښې به مسواک چپے نه کني پروند به شي ، استعمال نه پس به ئے وینځئ کني شیطان بیا مسواک کوي (دَ شیطان مسواک سره څه کار دے امداد) او دَ یو لیشت نه به سیوا نه وي کني بیا پرے شیطان سوریږي ، او کدے به ئے نه بلکه اودروے به ئے کني لیونتوب به پرے راشي ، دَ سري او ښځے دواړو دپاره مسواک دے لیکن دَ ښځے اوربۍ کچه وي نو څکه دے دَ دنداسے استعمال کوي ، دے کښې اکثر بے دلیله تعمقات دي۔

البدورالبازغه کښې شاه ولي الله لیکلے دي : ددے فلسفه اوحکمت دادے چه دَ خُلے بدبوئي ختموي او عقل او طبیعت کښې فساد پیداکونکي بلغمي مواد صفا کوي، دَ مسواک په استحباب دَ نووي اجماع دے۔

په ګوته دَ مسواک حکم

درے قوله دي : (۱): مطلقا کافي کرخي دَ مالکیه ، حنابله ، او شافعیه رائے ده علي رضي الله عنه داسے اوکړل چه داسے دَ پیغمبر اودس وو (نیل الاوطار)

(۲): که مسواک نه وي نو دَ ګوتے استعمال کافي دے دا دَ احنافو مذهب دے (ابن عابدین)

دا روایت یجزئ من السواک الأصابع دَ بیهقي روایت دے پکښې عبدالحکم ته بخاري منکرالحدیث وائي او دا چه علي رضي الله عنه اودس کولو فأدخل بعض اصابعه في فیه ، کښې ابو مطر مجهول دے او عن کثیربن عبدالله عن ابیه عن جده قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم الأصابع تجري مجری السواک إذا لم یکن

Maktaba Tul Ishaat.com

سواك" په دے کښ کثیربن عبدالله انتهائي ضعیف دے او متهم دے اخرجه الطبراني في الاوسط ایضاً، نیل الاوطار، او تلخیص الحبیر،

(۳): گوته نه کافي کیږي دَ شوافع او دَ حنابله یو رائے دغسے ده شریعت په دے نه دے وارد او په دے دَ مسواک غوندے صفائي نه کیږي، (ابن عابدین، المجموع)

دَ مسواک استهزا تباهي ده

البدایه والنهایه : :۷: ۲۹۰ طبع پشاور باندے علامه ابن کثیر دَ ابن خلکان په حواله واقعه نقل کړے ده چه دَ بصرے طرفته ابو سلامة نوم والا یو بے هوده کس اوسیدو دَدَهٔ مخکښ چه کله دَ مسواک فضیلت بیان شو اوے وئیل "والله لا أستاك إلا في المخرج یعني دبره فأخذ سواکا فوضعه في مخرجه ثم أخرجه، فمکث بعده تسعة أشهرفوضع ولدا علی صفة الجرذان له أربعة قوائم، ورأسه کرأس السمکةوله دبر کدبر الارنب."چه زه قسم دے خپل دبر کښ به دا مسواک کوم او بیا ئے مخرج کښ وردننه کړو بهر ئے راوباسلو ددے نه نهه میاشتے پس هغه خیته او دغه دبر کښ دَ درد شکایت کولو یو منږک غوندے داسے بچے ترے راوتلو چه څلور خپے ئے وے او سر ئے دَ مهي غوندے وو او څلور تیره ښکاره داړے ئے وے او دَ سوئي لکئ ئے وه یو لیشت ، او څلور گوتے او دَ سوئي (خرگوش) غوندے دبر ئے وو ، او کله چه دغه اعجوبه پیدا شوه درے چغے ئے اوهلے او دَ دغے سري لور پاسیده او سرئے ورله اوچقوو مړ شو ددے نه پس دغه سړے په درئمه ورځ مړ شو او وئیل ئے چه دے حیوان مړ کړے یم او کولے ئے راله کټ کړے او دَ دغے طرف خلقو ددے مشاهده کړے ده او دَ هغه ځائے خطباء ئے هم ذکر کوي او چا دغه حیوان په ژوند کښ او چا دَ مرگه پس لیدلے دے انتهي،

دَسنت استخفاف او دَ استهزاء او دَ هغے نه دَ درامے جوړولو دغه انجام نه هر مسلمان له یره پکار ده ،

دَ مسواک سره متعلق بے اصله واقعه

السنن والمبتدعات المتعلقة بالاذکار والصلاة چه دَ شیخ محمد بن عبدالسلام کتاب دے دَ هغے په ۲۹ باندے لیکلے دي "والحکایة مشهورة علي السنة کثیر من الناس، الخ" دَ خلقو په ژبه دا واقعه مشهوره ده ،او دیر دا واقعه درسونو کښ بیانوي چه صحابه یو غزا له تلے وو او کافرانو پرے غلبه موندله چه سوچ ئے اوکړو ، صحابه محسوسوي چه مسواک مونږ پریښودے دے چه کله دوي مسواک شروع کړو نو

کافران او تختیدل او یریدل چه مونږ ته غابنونه تیروي او مونږه خوري ، "لا اصل لها" تعجب دَ هغې علم نما غوندے خلقو نه اوکړه چه داسے بے هوده خبرے په درس او مجلس کښې خوَروي او دا باطلے خبرے دي ، انتهي

واقعي دا صحیح فضائل دَ مسواک څه کم دي؟

دَ التمهید : ٤: ٨٨ باندے ابن عبدالبر لیکلے دي چه یحیي بن معین فرمائي : وقال یحیي بن معین لا یصح حدیث الصلاة بأثر السواك أفضل من الصلاة بغیر سواك" روژه دار مسواک کولے شي څکه ددے تعلق نه دَ مأکول سره دے او نه دَ مشروب سره دے که دَ لوند مسواک استعمال وي روژه کښې هم دَ سفیان ثوري ، ابوحنیفه رحمهم الله په نزد باک نه کوي ،

علامه ابن تیمیه لیکي : چه غوره داده چه مسواک به کس لاس کښې نیسے او دا دَ امام احمد په یو روایت کښې صراحة ذکر دے چه ابن المنصور الکوسج دَ هغوي په مسائلو کښې ددے ذکر دے او ماته دَ یو امام باره کښې معلومات نشته چه ددے به ئے خلاف کړے وي څکه چه مسواک دَ دَ پوزے سونړولو غوندے دَ اماطة الاذي سره تعلق ساتي "وقد استقر قواعد الشریعة علي ان الافعال التي تشترک فیها الیمني والیسري تقدم فیها الیمني اذا کانت من باب الکرامة "مجموع فتاوي:۲۱: ٦٥، مشهور روایت کښې دي اربع من سنن المرسلین ، چه په هغے کښې مسواک دے لیکن دغه روایت ضعیف دے ، الحافظ ابو الشمال مجهول دے ، التقریب:۸۲۲، حاشیه کشف المناهج ،او مسواک له مسنون طریقه په خي لاس کول دي نه په کس لکه چه علامه ابن تیمیه وائي،

التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوي دَ علي بن ابي طالب مرفوعا روایت ذکر کړے دے " إن العبد إذا تسوك ثم قام یصلي قام الملك خلفه فیستمع لقراءته فیدنو منه أو کلمة نحوها حتی یضع فاه علی فیه،فما یخرج من فیه شيء من القرآن إلا صار في جوف الملك، فطهروا أفواهکم للقرآن" ورجاله رجال الصحیح ، او دا روایت مصنف عبدالرزاق رقم: ٤١٨٤ باندے موجود دے صفحه: ٤٨٧ ،مجمع الزوائد: ٢٥٦٤،

حاشیه کښې علامه کاندهلوي لیکي : چه دَ امام ابو حنیفه په قراءة خلف الامام کښې دلیل دے چه کوم کلک اولاړ مقتدي دے دَ امام قراءة ته غوږ کدي او روستو ترے قراءت نه کوي ،(اګرچه کلک ولے نه وي)

Maktaba Tul Ishaat.com

لمعات التنقیح کښ دَ بیهقي په روایت دَ سیدنا انس رض روایت دے "قال قال رسول الله صلي الله علیه وسلم یجزئ من السواک الاصابع" که مسواک نه وي صرف گوته په غاښونو مکل ئے قائم مقام جوړیدے شي او دغسے روایت دَ عائشه رض په الامعجم الاوسط :٦: ٣٨١ کښ موجود دے ،لیکن په دے روایت مخکښ کلام شوے دے،

علامه طیبي الکاشف کښ لیکلے دي چه زیکه کپړا ، اشنان او گوته هم کافي ده که ددے نه سیوا بل څه نه موي او مستحب دي چه دَ خُلے په پلنو کښ په مسواک شروع اوکړي او په اوگدو به مسواک نه کوے چه دَ غاښونو غوښه ئے وینے نشي که ددے خلاف اوکړے سره دَ کراهته به صحیح وي ، لمعات التنقیح کښ دي چه دَ نبي علیه السلام نه عام مجالسو کښ مسواک کول نقل دي لیکن مسجد یا محفل کښ داسے مسواک کول څه نه دي چه دَ خُلے نه دَ چا لاړے بهیږي یا توکانړي راوځي ،

اسعد المفاتیح کښ زما شیخ عبدالغني جاجروي رح لیکلے دي چه دَ خُلے دَ صفائي مسئله د تولو نه مخکښ ده او واقعه نقل کوي چه زبیده خاتون یوه ورځ دَ هارون الرشید بادشاه نه شکایت اوکړو چه زما دَ ځوي "امین" دومره قدر نه کوے څومره چه دَ وینځے دَ ځوي "مامون" قدر کوے اتفاقا امین او مأمون دواړه دغه وخت دَ درس گاه نه واپس راتلل او دَ اودس کولو لاس کښ مسواک وو هارون اول امین نه تپوس اوکړو "مافي یدي" ورته ئے اوئیل چه مسواک ، بیا ئے تپوس اوکړو چه ددے جمع څه ده اوے وئیل مساویک لیکن چه کله هارون دَ مامون نه تپوس اوکړو چه جمع ئے څه ده نو هغه ورته اوئیل "ضد محاسنک" گویا دَ مامون ادبي لهجه دَ امین نه اوچته وه ،

واضحه دے وي : دَ مساوي معني بدئ ذي چه دغه معني ډیره اولي دَ وجے دَ ایهام نه دلته نه وه ،

السواک بالکسر دے او علامه طیبي لیکلے دي چه مسواک وئیلے کیږي "مایدلک به الانسان من العیدان" ته ، ابن حجر هیثمي فتح الاله کښ وائي مصدر یا اسم آله دے "ساک فاه" اي دلکه بالسواک " او چه دَ خُلے ذکر نه وي بیا استاک وئیلے کیږي که مصدر یا اسم مصدر وي نو مضاف محذوف دے استعمال السواک به مراد وي ، دَ اهل الظواهر مثلا داود ظاهري په نزد مسواک واجب او جمهورو په نزد سنت دے ابن همام ورته مستحب وائي ظاهریه وائي دَ عمدا تارک السواک مونځ باطل دے دَ ظاهریه دلیل دادے "ان رسول الله صلي الله وسلم امر بالوضوء لکل صلاة طاهر او غیر طاهر فلما شق ذالک علیه امر بالسواک لکل صلاة" امر په وجوب دلالت کوي لیکن جمهور جواب کوي چه امر استحبابي

دے او دوئم دا چه دغه دَ نبي علیه السلام خصوصیت دے او دَ جمهورو دلیل دادے چه بخاري کښ تعلیقا دَ ابو هریره رض روایت دے "لو لا ان اشق علي امتي لامرتهم بالسواک عند کل وضوء" او په مسند احمد کښ عند کل طهور دے دَ ابن حزم په نزد دَ جمعه په ورځ فرض دے (بذل المجهود)

مسواک دَ مانځه سنت دے یا مونځ؟

بیا دَ شوافعو په نزد مسواک دَ مانځه سنت دے او دَ جمهورو په نزد دَ سنن وضوء نه دے ابوداود کښ دَ انس رض مرفوعا روایت دے "التفل في المسجد خطیئة" دَ توکانړو مسجد کښ دَ غورزیدو دَ بعض کسانو احتمال شته او که دغه احتمال نه وي او دَ وینے دَ راوتلو احتمال ناشي عن دلیل نه وي ، حنفي هم بیا دَ مانځه وخت کښ مسجد کښ مسواک کولے شي او دَ نبي علیه السلام نه عملاً یو ځل دَ مونځ وخت کښ مسواک نه دے ثابت چه دَ مخکښ نه ئے اودس دے او صرف دغه وخت کښ مسواک اوکړي او مونځ ئے کړے وي حالانکه په یو اودس ترے څو مونځونه صراحة ثابت دي ،

امام نووي شرح مسلم کښ :۱: ۱۴۷ باندے لیکلے دي چه پنځه اوقاتو کښ استحباب زیات مؤکد دے،

(۱): دَ مانځه وخت کښ که اودس ئے کړے وي یا ئے تیمم کړے وي ،

(۲): دَ اودس وخت کښ ،

(۳): دَ قرآن دَ لوستلو وخت کښ ،

(٤): دَ خوب نه دَ پاسیدو په وخت کښ ،

(٥): دَ خُلے خوند ئے که خراب وي ، لکه چه سکوت ئے طویل وي یا ئے

خاموشي ډیره اختیار کړے وي ، (هکذا في کتاب المجموع شرح المهذب للشیرازي::۱: ۱۵۱)

نبي علیه السلام به دَ مسواک ډیر اهتمام کولو تر دے چه مرض الموت کښ په آخري حالاتو کښ مسواک کړے وو ، مستحب دي چه په خُله کښ په ښي طرف اول مسواک اوکړے شي ، حدیث کښ دي " کان یحب التیامن في تطهره وترجله وشأنه کله" او ماشوم له ئے ترغیب ورکول پکار دي چه دَ اول نه ئے عادت جوړ شي، فقه السنه کښ سید سابق دَ ام المؤمنین عائشه رض روایت راوړے دے چه دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوشوچه که دَ چا غاښونه نه وي مسواک به څنګه کوي ، اوے فرمائیل : یدخل اصبعه في فیه" ورواه الطبراني " چه خُله کښ دے خپله ګوته وردننه کړي ، او التمهید:٤: ۸۸ کښ علامه ابن عبدالبر لیکلے دي چه دَ علماؤ طائفه وائي ان الاصبع تغني من السواک" او کان یشوص فاه

Maktaba Tul Ishaat.com

بالسواکِ " بعض دا مطلب بيانوي چه نبي عليه السلام به غاښونه په گوته مکل چه دا دَ مسواک په ځائے کافي جوړيږي انتهي ،

اصل منصوصي او معروف مسواک دے ، که نه وي شائد چه گوته کافي شي اگر چه په داسے بعض قسم روايتونو موږ کلام شته دے لکه يجزئ من السواک الاصابع" عبد الحکم قلمي باندے تفصيلي ډيره جرحه دَ اسماء الرجال په کتابونو کښ موجود ده ،

دَ صاحب الحق الصريح ظاهري تعارض

الحق الصريح کښ کثير بن عبدالله عن ابيه عن جده راوي باره کښ دلته ليکلے دي ، وفيه کثير وهو ضعيف جدا ومتهم اخرجه الطبراني في الأسط"

الحق الصريح کښ دَ باب الاعتصام بالکتاب والسنه : ۲۹ نمبر روايت باندے په صفحه : ٥٠٤ باندے دي دا لا څه کوے ابن خزيمه په خپل صحيح کښ دَ کثير بن عبدالله په روايت اجماع کوي دا دليل دے چه دا حديث حسن درجه کښ دے ، انتهي ،

ليکن دَ امدادالرجيح اول جلد: ٥٨٥ باندے په کثير باندے دے عاجز مضبوط کثير کلام نقل کړے دے چه دَ دروغو ستن ده ليکن الحق الصريح کښ دي دا لا څه کوے په صفحه : ۲۱۸ دلته دَ مسواک دَ بحث په ذيل کښ ليکي : وفيه کثير وهو ضعيف جدا ومتهم " اخرجه الطبراني في الاوسط ايضا"

ے شوق ديدار وفکر سر بھی ہے　　آپ ادھر بھی ہے دل ادھر بھی ہے

دَ کثير بن عبدالله روايتدَ غير مقلد دپاره دَ اخترونو دَ تکبيراتو په تعداد کښ دليل دے،

الفصل الاول

(۱):عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيرِ الْعِشَاء وبالسواك عِنْد كل صَلَاة»"

ترجمه :ابو هريره ؓ فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلےدي که ما گرانه نه گنړلے په خپل امت باندے نو مابه حکم کړے وو دوي ته چه دَ ماسختن مونځ تاخير سره اوکړئ او مابه حکم کړے وو په مسواک سره دوي ته دَ هر مانځه دپاره،

تشريح : دلته دوه اشکاله دي ،

اول : لو لا دے له راځي چه دَ ثاني انتفاء دَ اول دَ موجود کیدو دَ وجے نه وي دا صورت دلته ځکه نشو کیدے چه دَ مشقت وجود خو نشته چه دَ مسواک حکم نفي شي ،

دوئم اشکال دادے : چه نه دَ مسواک امر منتفي شو او نه دَ ماسختن روستو کول منتفي شوے دي ،

ددے دواړو اعتراضونو جواب مظاهرحق کښ داسے موجود دے چه دَ اول سوال دَ دفع کولو دپاره ئې وئیلے دي چه دَ "خشیت" لفظ محذوف دے یعني دَ مشقت خوف موجود دے او دوئم سوال دَ دفع دپاره داسے ئے لیکلے دي : چه دَ "وجوبا" لفظ محذوف دے که زما په خپل امت په مشقت کښ وجوبا دَ واقع کیدو یره نه وے ما به ورته ددے دَ فرضیت حکم دَ هر مانځه وخت کښ کړے وو چه حکم ئے ور نه کړو نو مستحب دے ، داسے امر چه وجوب ترے معلومیږي دا ئے دَ مشقت دَ وجے نه دے ورکړے معلومه شوه چه مطلق امر دپاره دَ وجوب وي چه کله ددے نه علاوه نور داسے قرائن نه وي چه دَ وجوب نه ئے واړوي ، دَ فقهاؤ دا قاعده چه "الامر للوجوب "دے ددے ځائے نه ددے استنباط کړے شوے دے ،

عند کل صلاة : بعض آحادیثو کښ عند کل وضوء راغلے دے دَ احنافو په نزد دا نسبت اودس او دَ شوافعو په نزد نسبت صلاة ته دے او که دَ وینے دَ راتلو احتمال نه وي دواړه ځایه صحیح دي ، بحرالرائق کښ ثمره دَ اختلاف ذکرکړے ده چه یو سړي مثلا دَ ماسپخین مانځه دپاره داسے اودس اوکړو چه مسواک ئے کړے وو او په زوړ اودس دَ مازیګر مونځ اوکړي نو زمونږ په نزد چونکه دَ اودس سنت دے په دے وجه به ورته دَ مسواک ثواب میلاویږي او دَ شوافعو په نزد چه ترڅو ئے دَ مسواک استعمال نه دے کړے سنت نه آدا کیږي ، انتهي

په معارف ترمذي کښ دي چه کله دَ قرآن دَ تلاوت په موقع مسواک مستحب دے په مانځه کښ قرآن وئیلے کیږي مستحب کیدل ئے ښکار دي حاصل دادے چه دَ شوافعو په نزد دَ مانځه په وخت کښ سنت او زمونږ په نزد مستحب دے نو دَ عند کل صلاة سره دَ "مضاف" دَ محذوف منلو ضرورت نشته چه "عندوضوء کل صلاة" یو ځائے دَ سنت وئیلو نه بل ځائے دَ سنت نفي نه راځي دَ عند وضوء نه نفي دَ عند کل صلاة ، نه راځي ، دَ احنافو استدلال عند کل وضوء

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې دَ مستدرک حاکم او دَ صحيح ابن خزيمه د روايت نه دے او د نسائي په روايت کښې عند کل وضوء شته دے امام بخاري دَ کتاب الصوم په تعليقات کښې ددے ذکر عند کل وضوء سره کوي او عند مقارنت منفصله دپاره اغستلے شي ، دَ نبي عليه السلام نه عملاً دَ مانځه وخت کښې نه دے ثابت بلکه دَ عائشه روايت چه ابوداود کښې دے هغے کښې "الاتسوک قبل ان يتوضأ" ، او دَ مسلم: ١: ٢٦١ روايت کښې : "عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فَاسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ" دَ مانځه وخت کښې که وينه نه راوځي نو رطوبات بعض وخت کښې دَ بعض کسانو دَ خُلے نه راوځي که دغه مسواک غوړ يا فرش وغيره باندے کيخودلے شي دَ هغے رواياتو خلاف راځي چه پکښې مسجد کښې دَ توکانړو ممانعت راغلے دے ، او اصلي جواب اوشو چه علامه ابن همام کړے دے چه دَ مانځه وخت کښې مستحب دے ،(که وينه نه اوځي)

التمهيد کښې علامه ابن عبدالبر :٤: ٨٧ کښې دَ ابو هريرهؓ روايت کښې دَ حميد بن عبدالرحمن نه دوه کرته "مع کل وضوء" الفاظ نقل دي او يو روايت کښې "لامرتهم بالسواک " سره ابوهريرهؓ يو قيد نه لکوي ، او ليکلے دي چه دَ "لولا ان اشق" نه دا قاعده معلوميږي چه په امورو دَ ديانت کښې آسانتيا مطلوب وي ،انتهي،

دَ مسواک باره کښې "مع کل وضوء" ددے روايت تخريج امام بخاري په صوم کښې کړے دے ، او ابن خزيمه حديث:١٤ کښې او بيهقي په سنن :١: ٣٥ باندے کړے دے،

حاصل دادے: چه دَ احنافو په نزد زيات تاکيد دَ اودس وخت کښې دے او دِ نصوصو او دَ قياس نه ددے ترجيح معلوميږي او دَ شوافعو په نزد ئے تاکيد دَ مانځه وخت کښې دے ، کتاب المجموع :١: ١٥٧ کښې امام نووي ليکلے دي چه زمونږ بعض شوافع دَ مسواک په ابتداء کښې مستحب کڼري چه دا دعاء اولولے "اللّٰهُمَّ بيض به اسناني وشد به لثاني وثبت به لهاتي وبارک لي فيه يا ارحم الراحمين" اګر چه ددے اصل نشته ليکن باک ئے ځکه نشته چه دا خائسته دعاءده ، انتهي ،

ليکن چه اصل ئے نه وي او ثواب ئے ګنړے نو حسن پکښې دَ کومے راغے؟ لأمرتهم : نبي عليه السلام چه امر کوي دلته ځان ته نِسبت کوي ليکن عامه قاعده داده چه الله ورته حکم کړے دے ځکه امر کوي قرآن کښې راځي "وبذالک امرت" او اسماعيل عليه السلام پلار ته وائي "يأبت افعل ماتؤمر" ځکه دَ نبي خوب وحي وي دَ حديث نه معلومه شوه چه دَ ماسختن مونځ په تاخير کول مستحب دي يا دَ

شپے تر درئمے حصے یا تر نیمے شپے ، او دَ نیمے شپے نه پس مکروه تنزیهي دي ، او نفي دَ امر وجوبي ده دَ امر استحبابي نه ده ،

ملاعلي قاري دے بحث کښې لیکي : "قال في التاتارخانية نقلا عن التتمة ويستحب السواك عندنا عند كل صلاة ووضوء" ، او دَ لولا ان اشق علي امتي امام بخاري كتاب الجمعه هي "باب السواک يوم الجمعة" راوړے دے

دلته علامه محدث بنوري ؒ لیکلے دي : قال الراقم وقيل في مثل هذا ان يستاک بالاسنان واللسان بالرفق دون اللثة حتي يؤدي السنة والله اعلم " گویا مطلقا د مانځه وخت کښې دَ مسواک نفي نه کوي ، الحق الصريح کښې دي : الله دے دَ مقلدینو انصاف روزي کړي چه تاویل په حدیث کښې یا آیت کښې اونه کړي نو ساعت پرے نه تیریږي خامخا به حدیث دَ خپل مذهب سره په زوره برابروي داسے نه کوي چه حدیث ته خپل مذهب ورواړوي او دَ خپل امام خبره هم عملي کړي چه "اذا صح الحديث فهو مذهبي" فيا للتقليد !كم من عاقل القاه في ورطة الهلاک" انتهي

دَ هر مانځه ته دَ اودریدو وخت کښې دَ مسواک حکم دَ فقه حنفي نه واضح شو لیکن الله دے غیر مقلد دَ تعصب نه جمهور مسلمانان بچ کړي دوي ته تقليد مافيا" مرض داسے جوړ دے چه څو پورے دَ دین په مشرانو افتراء اونه کړي نو دوډئ ئے نه هضمیږي ، حنفي مذهب دے مسئله کښې دَ حدیث سره برابر دے ، فيالعدم التقليد كم من مجتهد مخترع البس نفسه قميص التعصب فوقع في بير الهلاک وما شعر" فرحم الله من انصف ولم يتعسف،

"اذا صح الحديث فهو مذهبي" وضاحت

زمونږ دَ امام خبره عملي ده دَ هغے مصداق چه معلوم شي بیا شک ختمیږي او دَ مجتهد یو اجتهادي وضاحت سره دَ بل مجتهد اتفاق ضروري نه وي

(١): علامه شاطبي :١ ٤٨ "صح عن الامام انه قال اذا صح الحديث فهو مذهبي " وقد حكي ذلك ابن عبد البر عن أبي حنيفة وغيره من الائمة اه.

Maktaba Tul Ishaat.com

ونقله أيضا الامام الشعراني عن الائمة الاربعة ولا يخفي أن ذلك لمن كان أهلا للنظر في النصوص ومعرفة محكمها من منسوخها، فإذا نظر أهل المذهب في الدليل وعملوا به صح نسبته إلى المذهب الخ " (هكذا في رد المحتار:١: ٧٣)

معلومه چه حكم هر چا ته نه دے چه نصوصو كښ دَ نظر اهل وي يعني دَ اجتهاد صلاحيت ورله الله وركړے وي هغوي ته خطاب دے ،

(٢): كتاب المجموع:١: ١٣٦ كښ دي : وهذا الذى قاله الشافعي ليس معناه ان كل أحد رأى حديثا صحيحا قال هذا مذهب الشافعي وعمل بظاهره: وانما هذا فيمن له رتبة الاجتهاد في المذهب على ما تقدم من صفته أو قريب منه: وشرطه أن يغلب على ظنه أن الشافعي رحمه الله لم يقف على هذا الحديث أو لم يعلم صحته: وهذا انما يكون بعد مطالعة كتب الشافعي كلها ونحوها من كتب أصحابه الآخذين عنه وما أشبهها وهذا شرط صعب قل من ينصف به: وانما اشترطوا ما ذكرنا لان الشافعي رحمه الله ترك العمل بظاهر أحاديث كثيرة رآها وعلمها لكن قام الدليل عنده على طعن فيها أو نسخها أو تخصيصها أو تأويلها أو نحو ذلك: قال الشيخ أبو عمرو رحمه الله ليس العمل بظاهر ما قاله الشافعي بالهين فليس كل فقيه يسوغ له أن يستقل بالعمل بما يراه حجة من الحديث"

آخر كښ ليكي "قال الشيخ أبو عمرو فمن وجد من الشافعية حديثا يخالف مذهبه نظران كملت آلات الاجتهاد فيه مطلقا: أو في ذلك الباب أو المسألة كان له الاستقلال بالعمل به" معلومه شوه "اذا صح الحديث فهو مذهبي" هغه چاته وائي چه دَاجتهاد آلات كاملاً په هغه كښ مطلقا يادغه باب اومسئله كښ موجودوي،

(٣): دغسے ابن حجر فتح الباري دَ امام شافعي رحمه الله دَ صح الحديث فهو مذهبي دَ مقولے مطلب هم بيان كړے دے (فتح الباري:٢: ١٧٧)

د علامه ابن الصلاح شافعي په أدب المفتي والمستفتي كښ دي ، او حنابله هم دے قاعدے سره دوه قيده لګوي (١): چه حديث دَ معارض يا ناسخ نه خالي وي ،(٢):او دَ نظر اهليت پكښ بخپله وي يا هغه چا ته رجوع كولے شي چه چا ته اهلية النظر حاصل وي، ، او دغسے مالكي عالم.شيخ شهاب الدين ابو العباس القرافي المالكي په خپل كتاب شرح تنقيح كښ ليكلے دي ،

امام سبكي په دے موضوع يوه رساله ليکلے ده چه نوم ئے دے "معني قول الامام المطلبي "اذا صح الحديث فهو مذهبي" دے فرحم الله من انصف،
دَ ځلورو وارو امامانو دَ غټو مشرانو عالمانو نه ددے حقيقت واضح شو، قرآن کښ "جعلا له شرکاء فيما آتاهما" کښ چه کوم مشهور روايت ذکر کيږي حافظ ابن کثير تفصيلا او الکامل في ضعفاء الرجال ۷: ۸۷ او ۴: ۳۰۵ باندے په دے روايت رد کوي او علامه آلوسي فرمائيل چه اذا صح الحديث فهو مذهبي ليکن حديث صحيح نه دے ،اگر چه علامه آلوسي ئے صحيح مني ، دَ شام محدث شيخ عبدالغفار عيون السمود حمصي په خپلے رساله "دفع الاوهام عن مسئلة قرءة الخلف الامام" ص: ۱۵ باندے ابن الشحنه قول او دَ علامه ابن عابدين شامي دَ استدراکاتو دَ نقل نه پس ليکي : هوحسن لانا نري في زماننا کثيرا ممن ينسب الي العلم مغترا في نفسه يظن انه فوق الثريا وهو في الخفيض الاسفل فربما يطالع کتابامن کتب الستة مثلا فيري فيه حديثا لمذهب ابي حنيفة فيقول اضربوا مذهب ابي حنيفة علي عرض الحائط وخذوا بحديث رسول الله صلي الله عليه وسلم وقد يکون هذا الحديث منسوخا او معارضا بما هو اقوي منه سندا ذالک من موجبات عدم العمل به، وهو لايعلم بذالک ، فلو فوض کمثل هؤلاء العمل بالحديث مطلقا لضلوا کثيرا من المسائل واضلوا من اتاهم من مسائل »

ترجمه : دَ علامه ابن عابدين قيد ډير خه دے ځکه مونږ دَ خپلے زمانے ډير داسے خلق پيژنو چه علم ته منسوب دي ځان ته ډيره ګوته نيسي ځان دَ ثريا نه اوچت ګڼړي حالانکه په تحت الثري کښ وي ډير کرته چه کله دَ کتب سته وغيره مطالعه کوي او يو صحيح حديث دَ امام ابوحنيفه ؒ دَ مذهب خلاف (ظاهرا) اوموي نو وائي چه دَ ابوحنيفه مذهب په ديوال اوَله او حديث دَ پغمبر واخله حالانکه هغه حديث منسوخ کيدے هم شي او يا ددۀ سره دليل معارض به وي چه دَ سند په اعتبار سره به ددغے نه مضبوط وي يا بل څه مانع به وي چه په دے حديث دَ عمل نه رکاوټ کرځي او دے غريب ته پته نه وي که خلقو ته په حديث باندے دغسے دَ عمل اجازت ورکړے شي خپله به هم ګمراه وي او چه څوک ترے تپوس له راځي هغه به هم ګمراه کړي ،

(۲):وَعَن شُرَيْح بن هَانِئ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دخل بَيته؟ قَالَت: بِالسِّوَاكِ. رَوَاهُ مُسلم"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: شریح بن هاني فرمائي : ما دَ عائشه ؓ نه تپوس اوکړو چه نبي علیه السلام به کله کور ته تلو په څه به ئې شروع کوله؟ هغې اوئیل په مسواک وهلو باندې ،

تشریح : " شریح تعارف"

دَ دوي باره کښې مصنف لیکلي دي چه دا ابو المقدام الحارثي دې دَ نبي علیه السلام زمانه ئې موندلې وه او پیغمبر علیه السلام دَ دوي پلار له هاني بن یزید کنیت ذکر کړې دې او ورته ئې فرمائیلي وو چه ته ابو شریح ئې ، شریح من جمله دَ علي ؓ دَ ملګرو نه دې او خپل ځوئي مقدام ددهٔ نه روایت کړې دې دې تابعي شو دَ غټو تابعینو او مجتهدینو نه دې ، مرآة کښې احمد یارخان بریلوي صاحب لیکلي دي چه دَ دوي پلار هاني نه پیغمبر علیه السلام تپوس اوکړو چه ستا څو بچي دي؟ ورته ئې اوئیل درې شریح ، عبدالله او مسلم نبي علیه السلام اوفرمائیل چه ستا کنیت ابو شریح دې دَ سیدنا علي ؓ دَ طرفه مشهور قاضي وو ،انتهي

لمعات کښې شیخ عبدالحق لیکلي دي چه کور ته دَ تلو وخت کښې مسواک کولو کښې امت ته تعلیم دې چه خپل اهل سره په خه طریقې سره ژوند تیرول پکار دي ، دا خبره ډیره اولي نه ده چه پیغمبر علیه السلام لار کښې غالبا خبرې نه کولې او سکوت سره دَ خُلې خوند پیدا کیدل ئې په مسواک ختمولو څکه دَ کور او دَ هغوي مجلس مینځ کښې ډیر وخت نه لګیدو څکه کور دَ مسجد سره متصل وو دَ امام شافعي قول امام مزني په "المختصر" کښې لیکلي دي چه کوم حالت کښې هم په خُله کښې څه تغیر محسوس کړې مسواک مستحب دې ، ددې نه معلومه شوه مسواک اودس سره خاص نه دې احناف وائي چه کله هم ضرورت وي کول پکار دي لیکن زیات تاکیدي حکم دَ اودس سره متعلق دې ، دَ حدیث نه معلومه شوه چه "کان" هر ځائې دوام له نه راځي دلته ربط له دې او پیغمبر علیه السلام دور کښې فتنې نه وې که دَ صحابیې نه چا دَ مسئلې تپوس کولو صحیح ده ، لیکن دَ ښځې دَ کیسټ اوریدلو یا دَ لوډ سپیکر نه غائبانه آواز اوریدلو سره په دې ماحول کښې اجتناب څکه پکار دې چه ،

نه تنہا عشق از دیدار خیزد   بساں کین دولت از گفتار خیزد

دَ خبرو انداز لهجه ، دَ زنانو نزاکت کله کله بعض انسانان فتنه کښې اخته کوي کما هو مشاهد چه شدید ضرورت نه وي دې دور کښې اجتناب کښې احتیاط دې، بعض ئې دا مطلب بیانوي چه کور ته به اول

دننه شو نو اول به ئے دَ اودس كولو په وخت كښ دَ مسواك استعمال كولو ليكن دا معني ډيره راجح نه ده ،

(۳):وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ لِلتَّهَجُّدِ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ"

ترجمه :دَ حذيفهؓ نه روايت دے كله به چه نبي عليه السلام دَ شپے تهجدو له پاسيدو نو دَ خُلے غاښونه به ئے مسواك باندے مګل ؛

تشريح : تهجد دَ هجود نه دے ، خوب ختمول ، بيداريدل ، لمعات كښ دي "اصل التهجد ترک الهجود وهو النوم " دَ باب تفعل يو خاصه سلب مأخذ وي لكه تأثم دَ ګناه ئے ازاله اوكړه تفسير بيضاوي كښ "فتهجد به " معني ئے كړے ده "فاترک الهجود للصلاة" او تهجد دَ خوب په معني هم راځي لكه قاموس كښ دي ،

"يشوص" په لاس مګل او مسواك جوئيل او په غاښونو مسواك دَ لاندے برے ته كرځولو ته وائي، ملاعلي قاري ليكلے دي چه دَ "شوص" اصلي معني وينځل دي ، كتاب المجموع كښ :۱: ۱۵۰ باندے چه دَ شوص معني ده " دلک الاسنان عرضا بالسواک" چه علامه خطابي وغيره ئے معني كوي چه غاښونه په پلنو مسواك باندے خه مګل ، دغسے معني ابن الاعرابي ، ابراهيم حربي هم كړے ده (نووي شرح مشكوة) او دا معني ډيره ظاهره ده ،

دَ مسلم روايت كښ دي :۱: ۱۲۸ چه عبدالله بن عباسؓ فرمائي چه نبي عليه السلام دَ شپے په آخر كښ راپاسيدو آسمان ته ئے اوكتل ، دَ سورة آل عمران آيتونه "ان في خلق السموات" ئے اولوستل "فتسوک وتوضأ" بيا ئے مسواك اوكړو او اودس ئے اوكړو ، التمهيد كښ علامه ابن عبدالبر ليكلے دي :٤: ۸۸ باندے "وتأول بعضهم في الحديث المروي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يشوص فاه بالسواك أنه كان يدلك أسنانه بأصبعه ويستجزي بذلك من السواك والله أعلم" يعني غاښونه به ئے په ګوته كلک كلک مګل او دَ مسواك په ځائے به ئے كله په دے اكتفاء كوله ،

Maktaba Tul Ishaat.com

من الليل : علامه طيبي ليكلے دي : من تبعيضيه دے او دا دَ تهجد دپاره مفعول به ده لكه الله فرمائي "ومن الليل فتهجد به نافلة لک" يعني عليک بعض الليل فتهجد به عبادة زائدة لک علي الصلاة الخمس"

واضحه دے وي : چه اصلي او حقيقي تهجد دَ خوب کولو نه پس ادا کيږي علامه ابن تيميه ليکلے دي: "قَالَ أَحْمد وَغَيْرُهُ: وَ النَّاشِئَةُ "لَا تَكُونُ إِلَّا بَعْدَ نَوْم" (مجموع فتاوي: ۱۲ ۱۵۳)

(٤):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَشْرَ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ وَقَصُّ الْأَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الْإِبِطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ) يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ - قَالَ الرَّاوِي: ونسيت الْعَاشِرَة إِلَّا أَن تكون الْمَضْمَضَة. رَوَاهُ مُسلم وَفِي رِوَايَةٍ «الْخِتَانُ» بَدَلَ «إِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ» لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي «الصَّحِيحَيْنِ» وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَكِنْ ذَكَرَهَا صَاحِبُ «الْجَامِعِ» وَكَذَا الْخَطابِيّ فِي «معالم السّنَن»عَن أَبِي دَاوُد بِرِوَايَة عمار بن يَاسر"

ترجمه:عائشه ؓ فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي چه لس څيزونه دَ فطرة نه دي (۱): بريت واړه کول (۲): ږيره اوږدول (۳) مسواک کول (٤): پوزه کښ اوبه اوچول (٥): نوکونه کټ کول (٦): دَ جوړونو ځائے وينځل (۷): دَ ترخ نه ويښته اوباسل (۸): دَ نامه لاندے ويښته خرئيل (۹): استنجاء کول په اوبو سره (۱۰): راوي وائي چه لسم څيز زما نه هير شو خو کيدے شي چه هغه خوله کنګالول وي ،او روايت کښ دَ ږيرے اوږدولو په ځائے ختنه يعني سنت کول راغلے دي خو صاحب مشکوة وائي ما دَ روايت نه په صحيحينو کښ او نه په کتاب دَ حميدي موندلے دے ليکن صاحب دَ الجامع الاصول ذکر کړے دے او دغه شان علامه خطابي ذکر کړے دے په معالم السنن کښ»

تشريح : علامه طيبي ليکي : عشر خصال من السنة دا لس دَ پخوانو هغه پيغمبرانو طريقے دي چه مونږ ته دَ هغوي دَ اقتدا حکم راکړے شوے دے اګر چه دَ بعض په وجوب کښ اختلاف دے ؛لکه ختنه ، مضمضه ، استنشاق شو او که واجب دَ غير واجب سره برغ راځي حرج نشته ، سورة الانعام :۱٤۱ کښ

دي "كُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ" "اتياء" واجب او "اكل" مباح عمل دے او دواړه آيت كښې برغ ذكر دي انتهي

او دے لسو كښې حصر څكه نشته چه بعض رواياتو كښې "من الفطرة" هم راغلے دے لكه مسلم كښې شته

(٢) مفهوم العدد ليس بحجة

(٣): كوم ځائے چه ددے ذكر ته حاجت وو نو هلته ئے هغه اومره بيان اوكړو

(٤): دا حصر ادّعائي دے لكه "الدين النصيحه"

او دَ فطرة اكثر علماء دَ علامه خطابي په قول دلته دَ سنت معني كوي او بعضې ئے دا مطلب ذكر كوي چه دا كارونه كول دَ انساني فطرت دَ باقي ساتلو دپاره ضروري دي كه په دے عمل اونشي نو انسان به بيا غير فطري ، نااشنا شكل باندے ښكاري ، ملا علي قاري ليكلي دي : چه دا دَ دين توابع دي ليكن دَ سنة الانبياء معني راجحه ده ، التقرير الرفيع كښې شيخ الحديث مولانا محمدذكريا معني كوي "من سنة الانبياء او السنة التي فطر عليها ابراهيم او فطرالناس عليها وركب في عقولهم" په دے عمل دَ فطرت سليمه عقلي تقاضا ده ، او قرآن فطرت دين ته هم وئيلے دے "فطرة الله التي فطرالناس عليها"

(١):قص الشارب: بريت اغستل علامه هيثمي په فتح الاله كښې ليكي : چه دومره ئے واخلے چه بره سرا شونډه ښكاره شي او دَ ويخه به ئے ختل نه لر كوے په دے مسئله كښې دَ قص ، جز او احفاء الفاظ راغلے دي او دَ نسائي روايت كښې دَ حلق لفظ هم راغلے دے قص دَ مقص نه دے دَ قينچئ په معني راځي غټ غټ اغستل او احفاء په معني كښې مبالغه كول او حلق په چاړه خرئيل ، بعض وائي چه په احفاء كښې دَ مبالغه كولو نه تعبير په حلق شوے دے راجح عمل دَ امام ابوحنيفه او دَ امام احمد په نزد احفاء يعني مبالغه في القص امام طحاوي ذكر كړے ده او اثرم وائي چه ما امام احمد ليدلے دے چه مبالغے سره به ئے احفاء كوله ، امام شافعي او امام مالك راجح "قص" ته وائي او دَ امام مالك نه دا نقل كيږي چه احفاء ته مثله وائي او وائي چه احفاء والا وهل پكار دي يعني ادب وركول پكار دي يو قول دَ حلق باره كښې دَ هغوي دَ بدعت والے هم دے او در مختار كښې دي حلق بدعت دے او څوک ورته سنت وائي ، لمعات التنقيح كښې دَ امام صاحب يو قول مشهور نقل كړے دے چه بريت داسے اغستلے شي چه دَ رُوزے غونډے برابر شي ، او شيخ عبدالحق ليكلي دي : چه دَ جنگ په موقع غازي دَ دشمن دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

پرولو دپاره چي بريت اوږده او زيات پرېږدي ، بعض احناف ئے مستحب ګڼړي او بريت کنده کول طرفين دَ شارب کښې لا بأس به عمل دے دَ سيدنا عمرؓ نه نقل دي ځکه چه دا خُله نه پټوي او نه پکښې دَ خوراک څه نښې باقي پاتيږي ، دغسے مظاهرحق کښې شته ، او نفخات التنقيح کښې شيخ الحديث مولانا سليم الله خان ليکلے دي چه دَ پاکئ او دَ صفائي دا تقاضا ده چه بريت به ډير زيات نه اوګد وي ځکه ئے دَ کمولو حکم ورکړے دے چه کله خُلے ته رارسي دَ خوراک څکاک څيزونه ورته لګي او دَ پوزے نه چه کوم رطوبت اوځي ددے لا ر هم دغه ده انتهي

او التقريرالرفيع کښې شيخ الحديث مولانا محمد ذکرياؒ ليکلے دي وترک السبيلتين جائز والاولي قصهما" کتاب المجموع :۱: ۱۵۹ باندے امام نووي دَ امام غزالي قول نقل کړے دے "قال الغزالي ولا بأس بترک سباليه وهما طرفا الشارب فعل ذلك عمر رضي الله عنه وغيره: قلت ولا بأس أيضا بتقصيره روى ذلك البيهقي عن ابن عمر رضي الله عنهما" ګويا دَ پلار او دَ ځوي دواړو انداز جدا وو که څوک دَ بل چا په وساطت بريت برابروي پروا نه کوي دَ مروت خلاف عمل نه دے ، شرحبيل بن مسلم الخولاني فرمائي : چه ما پنځه صحابه دَ بريتو په قص ليدلے دي چه يو پکښې مقدام بن معديکرب هم دے او نووي دلته ۱۵۹: باندے حديث نقل کړے دے "من لم يأخذ من شاربه فليس منا" رواه الترمذي في کتاب الاستيذان من جامعه وقال حديث حسن صحيح شاه ولي اللهؒ حجة الله البالغه کښې : ۱: ۱۸۲ باندے ليکي : چي اوږده بريتونو کښې دَ خوراک څکاک اخختلو سره ګند جمع کيږي "وهو من سنة المجوس" دا دَ مجوسيانو طريقه ده ،

امام نووي په شرح دَ مسلم کښې : ۱۲۹ دَ ډيرو سلفو په حواله ليکلے دي چه استيصال او حلق به ئے کولو ځکه حکم راغلے دے "احفوا ، وانهکوا" او وائي چه داسے کوفيان وائي ليکن ډير "حلق" او استيصال منع کوي او علامه طيبي کاشف کښې ليکي : چه دَ "احفوا الشوارب" مطلب دادے چه دَ شوندو پورے چه اوږده شي هغه اخلي والله اعلم ، ليکن دَ شاه انور عرف الشذي کښې دي چه لفظ دَ حلق نه دے ثابت ، او علامه عراقي ليکي : چه د؟ قص اطلاق په خلاف ظاهر دے ځکه چه بعض روايات کښې دَ قصر لفظ راغلے دے چه دَ هغے نه دَ "قص" وضاحت کيږي ، حافظ ابن حجر فتح الباري کښې ليکلي دي : وکان ابو حنيفة واصحابه يقولون الاحفاء افضل من التقصير"

دَ بريتو سره متعلق څه بحث اول جلد کښې هم ذکرشوے دے

(۱): اعفاء اللحيه : کیره پریخودل دَ مسلم باب خصال الفطرة کښې دي "افروا اللحي خالفوا المجوس" فتح الباري : ۱۰ : ۲۸٦ عبدالله بن عمر حديث نقل کوي مجوس بریت اوږدوي او گیرے خروي ، په دے وجه ابن همام فتح القدير کښې کتاب الصوم :۲: ۳٤۸ باندے لیکلے دي "وما الأخذ منها وهي دون ذالک کما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه احد" دَ موټي نه کیره کمول لکه چه بعض مغربیان او هیجراکان ئے کوي چا هم ددے دَ اباحت قول نه دے کړے شامي ردالمحتار کښې او علامه ابن نجیم په بحرالرايق کښې هم دغسے لیکلے دي ، او نصاري او مشرکین عرب به رواجاً کیره پریخودله صرف مشرکانو يعني دَ ايران مجوسیانو به گیرے خریلے ،

که دَ ښځے گیره راوخیژي څه حکم دے؟

سورة النساء :۲۰ نمبر آیت کښې "ولآمرنهم فليغيرن خلق الله" ددے په وضاحت کښې تفسير قرطبي کښې دي "وَكَذَا لَا يَجُوز لَهَا حَلْق لِحْيَةٍ أَوْ شَارِب أَوْ عَنْفَقَة إِنْ نَبَتَتْ لَهَا ; لِأَنَّ كُلّ ذَلِكَ تَغْيِير خَلْق الله" چه که دَ ښځے گیره بریت راوتوکیکي نو حلق ئے ناجائز څکه دے چه دا دَ الله پیدائشي بدلول دي لیکن نور محققین علماء دا جائز گڼړي ،

(۱): فتاوي محموديه کښې دي : "إِذَا نَبَتَ لِلْمَرْأَةِ لِحْيَةٌ أَوْ شَوَارِبُ فَلَا تَحْرُمُ إِزَالَتُهُ بَلْ تُسْتَحَبُّ" (شامي کتاب الحظر والاباحة ، مرقاة : باب السواک ، فتاوي محموديه : ۲۷: ۵۰۰)

معلومه شوه چه ښځه گیره کټ کولے شي او شامي کښې دا جلد:٦: ۳۷۳ طبع ایچ ایم سعید دَ تبيين المحارم په حواله لیکلے شوے ده ، او عمدة القاري کتاب التفسير باب "وماآتاکم الرسول فخذوه" لاندے دغسے لیکلے دي ،

(۲): "أما المرأة إذا نبتت لها لحية فيستحب حلقها صرح به القاضي حسين وغيره وكذا الشارب والعنفقة لها هذا مذهبنا وقال محمد بن جرير لا يجوز لها حلق شئ من ذلك: ولا تغيير شئ من خلقتها بزيادة ولا نقص" (کتاب المجموع: ۱: ۱٦۰)

(۳): مظاهرحق کښې دي "اگر عورت کی داڑھی نکل آئے تو اسے صاف کر ڈالنا مستحب ہے"

Maktaba Tul Ishaat.com

په ګیره خریلو دَ نبي علیه السلام غصه

(۱): علامه ابن عبدالبر التمهید:۸: ٤٦۱ باندے لیکي : چه چه یو مجوسي په نبي علیه السلام داسے حال کښ داخل شو چه ګیره ئے خرئیلے وه او بریت ئے پریخودلے وو ورته ئے اوفرمائیل "من امرک بهذا قال امرني ربي قال لکن ربي امرني ان احفي شاربي واعفي لحیتي" چه دا زما دَ رب حکم دے چه ګیره پریږده او بریت اخله اګر چه روایت باندے کلام شته ،

(۲): سیرت نبویه لابن کثیر احیاء التراث :۳: ۵۰۹ باندے دي "وَدَخَلَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ حَلَقَا لِحَاهُمَا وَأَعْفَيَا شَوَارِبَهُمَا" نبي علیه السلام ورته کتل مکروه ګڼړل ورته ئے اوفرمائیل "وَيْلَكُمَا مَنْ أَمَرَكُمَا بِهَذَا" هغوي دَ کسري بادشاه نوم یاد کړو لیکن نبي علیه السلام ورته اوفرمائیل "امرني ربي باعفاء لحیتي وقص شاربي ثم قال ارجعا حتي یأتیاني غدا" زما دَ رب حکم دَ ګیرے پریخودل او دَ بریتونو اغستل دي دواړه ځئ لا ړشئ صبا به راشئ او دا کافران وو لیکن چه کتل ئے ورته بد ګڼړل او سیرة حلبیه کښ هم دا واقعه ده اشعة اللمعات کښ شیخ عبدالحق لیکلے دي : "مشهور قدر یکمشت است چنانکه کمتر ازین نباید واگر زیاده بر آں بگزارد نیز جائز است بشرطیکه از حد اعتدال نگزارد و حلق بردن لحیه حرام است وروش افرنج وہنود جوالقاهست که ایشاں را قلندریه گویند وگزاشن آں بقدر قبضه واجب است ، آنکه اں را سنت گویند بمعنی طریقه مسلاکه در دیں است ، باب السواک" هکذا في المرقات والتعلیق الصبیح واللمعات ومظاهرحق ،

مشهور دَ موټي برابر ګیره ده ددے نه کمه نه ده پکار که دَ موټي نه سوا کیږي په دے شرط جائز دي چه دَ اعتدال دَ حده زیاته نشي ګیره خریل حرام دي او دَ هندوانو ، پیرنګیانو طریقه ده او داسے قلندریه دلے کوي او دَ موټي برابر پریخودل واجب دي او سنت ورته په دے معني وائي چه ددے دین چلنده طریقه ده یا په دے معني چه اثبات ئے په سنت راځي ،

دَ مودودي صاحب او دَ مودودیانو تحقیق

مولانا ګوهرالرحمن تفهیم المسائل :۱: ۳۱۱ باندے لیکي : چه دَ موټي نه ګیره کمه وي خو داسے کمه نه وي چه دَ خریلي برابر په نظر راځي هغه فاسق نه دے او مونځ وریسے بے دَ کراهته جائز دے ، حسن بصري ، ابن سیرین او بعض نور کسان وائي چه دَ ګیرے دَ مقدار حد نشته په دے شرط چه ډیره لنډه نه وي فتح الباري لیکلے دي چه دَ لسو آحادیثو نه (موقوف روایات) ثابت دي چه دَ طول و عرض نه څه

وينبته اغستل او برابرول جائز دي چه درے پکښ موقوف او شپږ مقطوع دي او بيا ئے دَ کفاية المفتي :۹: ۱۷۰ په حواله ليکلے دي چه دَ موټي نه کم پريخودلو ته څوک هم جائز نه وائي ليکن خريلو اوڊَ موټي نه کمه ګيره کښ به فرق وي چه ګيره خروي مواخذه به ترے زياته وي او بيا ئے نومبر ۱۹۳۷ء په حواله دَ موټي نه کم ته حرام وئيلے دي او تارک ئے دَ واجبو تارک دے ځکه فاسق دے،

مسئله : دَ جمهورو او دَ ائمه ثلاثو خودلے شوے مقدار دَ قبضے دے او دَ عمروبن شعيب عن ابيه عن جده حديث "كان يأخذ من اطراف لحيته" ضعيف دے ليکن دَ نبي ګيره پريخودل صرف عادة نه وو دا تشريعي حکم دے اعفاء لحيه ئے دَ فطرت نه شمار کړے دے چه دَ ټولو پيغمبرانو خصوصا دَ سيدنا ابراهيم عليه السلام او اخص الخصوص دَ نبي عليه السلام طريقه ده او دَ مصنف ابن ابي شيبه :۸: ۳۸۵ باندے دَ ابن عمرؓ په روايت کښ دَ حج او دَ عمرے تخصيص نشته بلکه مطلقا دادي چه : كان ابن عمر يأخذ ما فوق القبضة" او ابن حجر فتح الباري کښ په بحث دَ لباس کښ ليکلے دي "كان ابوهريرة يقبض علي لحيته ثم يأخذ ما فضل عن القبضة" او دَ ابن عمر غوندے معمول دَ سيدنا عمرؓ وو دَ پلار او ځوي يو شان معمول وو، ابراهيم نخعي، حسن بصري، ابو هلال، او قاسم باره کښ راځي "يأخذ من جوانها" شرح السنه للبغوي :۱: ۱۰۹ په حواله دَ تفهيم المسائل انتهي،

او دَ اعفاف روايت دَ سيدنا عبدالله بن عمرؓ دے هغوي خپله ده قبضے نه زياته ګيره به کټ کوله،

دَ موټي نه ګيره چه کمه وي دَ هغوي دَ امامت حکم

فتاوي دارالعلوم مدلل ومکمل دَ مفتي عزيزالرحمنؒ جلد: ثالث صفحه:۸۹ باندے دي "ایک قبضہ سے کم داڑھی کو کتروانا یعنی اس قدر کتروانا کہ قبضے سے کم رہ جائے ممنوع ہے ایسے داڑھی منڈانے والے او کتروانے والے پر فسق کا اطلاق صحیح ہے وہ فاسق ہے، مرتد اور کافر کہنا اس کو حرام اور ناجائز ہے او مرتد کہنے میں سخت گناہ کہنے والے کو ہے اور فاسق کی امامت مکروہ ہے نماز اس کے پیچھے بکراہت آدا ہو جاتی ہے" او :۳: ۲۴۰ باندے دي چه کوم مسلمان ګيره خرئ او يا يے دَ موټي نه کموي هغه فاسق دے دۀ پسے مونځ مکروه دے،

دَ ګيرے تعريف

عربي کښ "لحي" هغه هډوکي ته وائي چه په هغے غاښونه راختلے وي او ګيره چه په کوم دغه هډوکي کښ پيدا کيږي دے ته "لحيه" وائي ،واضحه دے وي : چه دَ ننکو وينبته په ګيره کښ شامل نه دي

لیکن علماء لیکي چه پریخودل ئے غوره دي (فیض الباري کتاب اللباس) او هغوي لیکي که چرے دے کښې بلیډ استعمالیږي نو ننکو کښې ځیکوالے پیدا کیږي او په شوکولو سره نظر کمزورے کیږي ،

بعض عجیبه اوګدے ګیرے

(۱): مسلم :۱ : ۱۵۳ باندے نووي لیکلے دي : چه یزیدالرشک ته یزیدالرشک ځکه وائي : لان العقرب دخلت في لحیته فمکثت فیها ثلاثه ایام وهو لا یدري بها لان لحیته کانت طویلة عظیمة جدا" چه لړم ئے په ګیره کښې سه روزه تیره کړے وه او هغه ته پته نه وه ځکه چه دَ هغه ګیره ډیره غټه او اوګده وه ،

(۲): فتاوي اصحاب الحدیث : ۱: ٤۹٦ (مسائل متفرقه) کښې دي: چه دَ امام مالک نه سوال اوشو چه که دَ سړي ګیره ډیره اوګده شي نو څه به کوي؟ هغوي فتوي ورکړه چه په اعتدال سره دَ برابرولو دپاره ئے کټ کولے شي ،

باجي په شرح موطا :۷:۲۳٦ باندے لیکلے دي او ابن حجر فتح الباري :۱۰: ٤۳۰ باندے لیکلے دي چه دَ خلقو دَ خنده شي نو بیا ئے کټ کولے شي ، او روستو دَ فتاوي اصحاب الحدیث مفتي لیکي : هم دغه بحث کښې:۱: ٤۹۷ باندے "ہم نے ایسے بزرگ بھی دیکھے تھے اب وہ دنیا سے رخصت ہو گئے ہیں، جب رکوع کرتے تو ان کی داڑھی زمین پر لگتی" انتهي

قاضي شوکاني نیل الاوطار کښې درے واړه اقوال نقل کړے دي چه بعض سلف حد نه مقرروي چه دَ شهرت حد ته نه رسي خیر دے که پریګدي ئے بیا دے واخلي ، امام مالک ډیره اوګده مکروه ګڼړلے ده او بعض وائي چه دَ موټي نه زیات دے لر کوي او بعض ورته بے دَ حج او دَ عمرے نه مکروه وائي ،

امام نووي شرح دَ مسلم کښې لیکي : چه دَ کلي مشکک درجه کښې درځن خصلتونه ګیره کښې مکروه دي :

درځن مکروهات

(۱): تور رنګ که دَ جهاد په غرض نه وي

(۲): زیړ خضاب چه دَ سنت په نیت نه وي او نیکانو سره مشابهت اختیارول غواړي ،

(۳): په ګوګړ وغیره سپینولو باندے تلوار دے له کول چه مشري او عظمت زما قائم شي ،

(٤): چه اول راخیژي دے له شوکول چه له هلک ښکارم او شکل زما خائسته وي،

(٥): سپن ډکي اوباسل
(٦): دَ څنې دَ لاندے گیرہ دننه باسل او تاوول چه جینکو ته حسین ښکارم
(٧): دَ صدغینو یا دَ بعض ننکو ویښته لر کول او لاندے دَ څنے وړه گیرہ لر کول
(٨): دَ خلقو دَ خودلو دپاره بیا بیا منگزول
(٩): ببَره پریخودل چه خلق راته زاهد وائي او خلق وائي چه ددهٔ دَ خپل ځان متعلق څه پروا نشته،
(١٠): تور والي او سپین والي ته دَ عجب، دَ فخر او دَ ناز په نظر کتل،
(١١): دَ گیرے خرئیل،
(١٢): غوټے ورکول او کمسئ غوندے ترے جوړول، انتهي

قرآن پاک کښې راځي : واذا ابتلي ابراهيم ربه بكلمات" ددے په وضاحت کښې ابن کثیر دَ ابراهیم علیه السلام په اولیاتو کښې نوکونه لر کول او بریت اغستل ذکر کوي لیکلے دي چه : اول ابراهیم علیه السلام گیرہ کښې سپین ویښته اولیدلو "قال ماهذا؟ قال وقار قال یارب زدني وقارا" سپینه گیرہ دَ انسان عزت او وقار کښې اضافه کوي، لمعات التنقیح کښې شیخ عبدالحق دَ ابراهیم نخعي قول نقل کړے دے "المتوسط في كل شئ محمود" درمیانه کیفیت په هر څیز کښې محمود وي، الحق الصریح کښې دَ شیخ الباني رائے نقل کړے ده چه دَ قُبضے نه زیات ویښته اغستل واجب دي، لیکن دَ الباني دَغه وجوب ئې کمزورے کړے دے انتهي،

او ابن حجر هیثمي فتح الاله کښې لیکلے دي "يكره الأخذ منها وان كانت القبضة" كه دَ موټي نې زیاته وي هم ئے اغستل مکروه دي، لیکن غوره داده چه صرف جواز دے " نورو ځایونو کښې مضمضه او استنشاق دواړه ذکر وو او دلته صرف استنشاق ئے ذکر کړے دے، المفاتیح کښې دي دَ راوي مضمضه هیره شوے ده، او امام احمد پوزه سونړول اودس کښې ضروري گڼړي که په هیر یا قصدا ئے دا کار اوکړو مکروه به وي بیا به دَ اودس او مونځ اعاده کوي، ابوعبید او دَ داود هم دغسے صرف دَ پوزے سونړولو کښې قول کوي،(التمهید:١٢٩:٨، ١٣٠)

قص الاظفار : نوکونه کټ کول عقلي حکمت ئے دادے چه پکښې گند بلا جمع نه شي، جصاص احکام القرآن :١: ٩٤ باندے لیکلے دي "مطلب في الحث علي نظافة البدن والثياب" ابو وائل سلیمان فروخ وائي چه زه یو ځل دَ سیدنا ابو ایوب انصاري رضی الله عنه له لاړم مصافحه مے اوکړه "فرأي في اظفاري طولا" زما نوکونه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوګده وو روایت ئے بیان کړو چه یو سړے راغے دَ نبي علیه السلام نه ئے دَ آسمان دَ خبر (وحي) تپوس کولو اوئے فرمائیل : يجيئ احدكم يسأل عن خبر السماء واظفاره كأنها اظفار الطير يجتمع فيها الخيانة والتفث" چه یو سړے به راځي دَ آسمان دَ خبر به داسے حال کښ تپوس کوي ته به وائي چه دا مارغانو نوکونه دي په دے کښ به ګند بلا جمع وي دا روایت دَ جمع الجوامع : ۲، ۲۵۱ رقم الحدیث:۲۸۵۳۳ باندے هم موجود دے،

دَ نوکونو دَ کټ کولو شرعي خاص طریقه نشته

التقرير الرفيع کښ دي المسنون الذي يقوي البصر ان يبدأ بخنصر اليمنى ثم الوسطى الخ ، لیکن دومره سنت دي چه په ښي لاس شروع پکار ده دا کومه خاص کیفیت والا طریقه چه غنية الطالبين کښ شیخ عبدالقادر جیلانيؒ یا امام نووي شرح دَ مسلم کښ په صفحه: ۱۲۹ باندے ذکر کوي ددے التزام مناسب نه دے او نه دا سنت دي او ابن حجر دَ نووي په حواله ددے ذکر کړے دے او بخاري مع فتح الباري : ۱۰: ۲۸٤

لمعات التنقیح کښ دي چه امام غزالي احیاء :۱: ۱٤۱ کښ لیکلے دي چه " لم ار في الكتب خبرا مرويا في ترتيب قلم الاظفار ولكن سمعت أنه صلى الله عليه وسلم يبدأ بمسبحة اليمنى وختم بأبهام اليمنى وابتدأ في اليسرى بالخنصر الخ "

شیخ الحدیث اول دَ ښي لاس ګچه او بیا مینځه ګوته ذکرکوي او امام غزالي دَ ښي لاس مسواکه ګوته دَ نبي علیه السلام طریقه اوریدلے ده ، او شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښ لیکي : چه ابتدا از سبابه دست راست " چه دَ ښي لاس دَ مسواکے ګوتے نه به شروع کوي دغسے معلومیږي چه صحیح هیڅ ثابته طریقه دَ نوکونو دَ پریکولو نشته او دَ خپو دَ نوکانو باره کښ شیخ عبدالحق لیکي: فالاولى عندي وان لم يثبت فيه نقل ،

بذل المجهود کښ دي چه ابن حجر او ابن دقیق العید فرمائي چه دَ نوکونو پریکولو کښ څه خاص کیفیت او ورځ دَ نبي علیه السلام نه نقل نه دے نو دَ دغے خاص طریقے دَ استحباب عقیده ناجائز ده او علامه شامي دَ ابن حجر په حواله لیکي: چه ددے په کیفیت کښ یا دَ ورځے تعیین کښ څه نه دي ثابت ،

او علامه ابن دقيق العيد ددے كيفيت مخصوصه دَ استحباب نه انكار كړے دے چه دَ خځ خپے دَ كچے ګوتے نه به كټ كول شروع كوے ليكن چه كله نقل ثابت نه دے لكه خپله ئے ليكلے دي بيا دَ اوليت څه مطلب شو؟

لطيفه : شيخ عبدالحق اشعة اللمعات كښ ليكلے دي : چه شيخ امام عالم عارف عبدالوهاب متقي دَ شيخ علي تقي نه نقل كړے دي چه دوي سره يوه ګوتئ وه په دے كښ به ئے ويښته او نوكونه او دَ بدن جدا شوے نور څيزونه كيخودل او وصيت ئے كړے وو چه دا زما په كفن كښ ماسره كيږدئ ، كيدے شي چه دوي سره به په دے څه دليل يا استنباط وي ، والله اعلم

ليكن په دے خوبه څه سند يا دليل راوړل ګران وي ، احكام القرآن كښ جصاص دَ "كفاتااحياءً وامواتا" دَ لاندے ليكلے دي "يَدُلُّ عَلَى وُجُوبِ مُوَارَاةِ الْمَيِّتِ وَدَفْنِهِ وَدَفْنِ شَعْرِهِ" دَ ويښتو خخول ثابت دي او تفسير قرطبي كښ دَ نوكونو خخول هم ذكر كړي دي ليكن كفن كښ خخول او عالم برزخ ته ددے وصيت كول دَ دوي تفرد دے رحمه الله "

مسئله : دَ مسلم روايت كښ :١: ١٢٩ دَ بريت ويخته او دَ ترخ ويخته او زير ناف ويخته په دَ څلويښتو ورځو زيات نه پريږدے ،، خه خو دادي چه ددے نه مخكښ دغه صفائي اوشي ، او فتح الباري كښ مع البخاري :١٠: ٢٨٥ باندے چه ابن عمر رض به نوكونه او ويخته دفن كول چه نبي آدمو كښ جادو ګر ورسره لوبے اونه كړي ، ملا علي قاري مرقات كښ "باب الترجل" كښ ليكلے دي "إذا قلم أظافيره أو جز شعره ينبغي أن يدفن" او ليكي كه څوك ئے اوغورځوي لابأس به ليكن غسل خانه او ليټرين كښ ئے غورځول مكروه دي ،

حاصل دادے چه مجموع شرح مهذب : ١: ١٥٢ باندے دَ مسلم روايت كښ وقت لنا ، او اربعين ليلة دے ليكن دَ ابوداود او دَ بيهقي روايت كښ وقت لنا ، او اربعين يوما، دے لكن اسنادها ضعيف والاعتماد علي رواية مسلم ، او دَ اربعين دا تاخير مطلقا اذن ترے نه دے مراد ددے نه آخوا اضافه صحيح نه ده خه ده چه دا كاروائي هفته كښ يو ځل مثلا دَ جمعے په ورځ كيګي طحطاوي كښ دي چه دَ جمعے دَ مانځه نه مخكښ نوكونه لر كول مستحب دي علامه سيوطي په نوراللمعة في الخصائص الجمعه" كښ دَ جمعے ورځ ليكلے ده او دَ بيهقي دَ يو روايت نه هم معلوميږي،دے ګيره ، بريت كښ مونږ خائسته تفصيل استاذي المكرم الشيخ رضاءالحق مدظله په تفصيل سره خپله "فتاوي زكريا" كښ كړے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

غسل البراجم : لمعات کښې دي براجم جمع دَ بُرجمه ده دَ تولو ګوتو بندونو ته وائي دا لږ غټ وي ديته دَ اوبو رسول لږ سخت وي خاص کر هغه کس چه ګوتے ئے سختے او کوتلے وي ، دَ کار کسب کولو دَ وجے يعني بندونه وينځل او پاک ساتل پکار دي دے ځايونو کښې دَ غوږ ، ترخ ، يا دَ نوم غونډے خيرے جمع کيږي او دا خو هسے مستقل داسے سنت دے چه دَ اودس سره خاص نه دےددے خبر اغستل مناسب دي او چه کوم ځائے خيرے او خولے جمع کيږي ددے وينځل پکار دي نو دغسے دَ بندونو او دَ وَتونو وينځل مناسب دي ،

نتف الابط : دَ ترخونو نه ويښته شوکول امام نووي شرح دَ مسلم :۱: ۱۲۹ باندے ليکي : اما نتف الابط فسنة بالاتفاق والافضل فيه النتف لمن قوي عليه " دَ ترخونو ويخته شوکول بالاتفاق سنت دي او غوره دغه شوکول دي هغه چالره چه ددے طاقت لرلے شي او په بال صفا يا په حلق هم دا حاصليږي ، يونس بن عبدالاعلي وائي چه زه په امام شافعي داخل شوم او نائي ورله دَ ترخونو دَ ويختو حلق کولو ، نو امام شافعي اوفرمائيل چه ماته پته ده چه سنت ئے شوکول دي په ګتو ليکن زه ئے دَ درد طاقت نه شم لرلے ، او په خي طرف ترخ شروع کول اول پکار دي انتهي ،

ابن حجر هيثمي فتح الاله کښې وائي چه دا حکم دَ سري او دَ ښځے دَ دواړو دپاره دے او ليکي غوره دادي چه خپله ئے اوکړے ځکه چه دَ مروت تقاضا داده ليکن محکښې دَ امام نووي په حواله دَ امام شافعي نه ثابته شوه چه هغه دَ نائي په وساطت دَ ترخونو ويخته لر کړے وو او ليکي که خور يا ښځه ورله دا اوکړي بعيده نه ده انتهي،

نو امام شافعي دغه کار مزين ته حواله کول صحيح ګڼړي ، عون المعبود کښې جناب شرف الحق عظيم ابادي ليکي :۷: ٤٦ چه علامه ابن دقيق العيد وائي چه څوک دَ حديث لفظ ته ګوري نو په "نتف" به عمل اوکړي او چه څوک ئے په معني نظر لري نو هر څيز کافي دي چه دَ ويښتو ازاله کوي

لمعات کښې دي چه طيبي وائي حلق او نوره کافي کيږي او مجمع البحار کښې دي چه ترخ دے دَ نتف سره خاص شي ځکه چه دا دَ وږم ځائے دے چه دَ خوب وخت کښې چه کله ترخونه جخت وي بخارات پکښې جمع وي او نتف دَ ويښتو جرړے کمزورے کوي او حلق ئے قوي کوي ، او دَ ظاهر حديث نه معلوميږي که په بل ئے کوي صحيح ده ، او چا وئيلے دي چه دَ مروت دَ خاطره او دَ خلقو دَ سترګو نه دَ بچاؤ په اساس خپله غوره دي او بيا ئے دَ امام شافعي او دَ نائي هغه واقعه نقل کړے ده چه امام نووي

ددے محکښ ذکر اوکړو او ملاعلي قاري ليکلے دي چه حلق سنت نه دے ليکن دَ نبي عليه السلام نه دَ
نوره استعمال امام سيوطي خپله رساله کښ نقل کړے دے ليکن په قينچئ لر کولو سره په طريقه دَ
کمال په سنت عمل کونکے نه شو او بعض وئيلے دي لکه مرقات کښ دي چه دَ ښځے شهوت دَ سړي
په نسبت ډير زيات وي دے نتف سره شهوت کمزورے کيږي ځکه ښځے له نتف خه دے او سړي له
حلق مناسب دے ځکه حلق شهوت کښ قوت پيدا کوي انتهي ليکن غوره تولو له نتف دے که
برداشت کولے شي ، اشعة اللمعات کښ دي چه څوک وائي چه دَ نبي عليه السلام په ترخونو کښ
ويښته نه وو "درينجا سخن است" يعني دا کمزورے خبره ده او دا صحيح ده چه خيري او بدبوئي دَ
هغوي په ترخونو مبارکو کښ بالکل نه وو موجود دَ سر نه تر خپو پاک ، صفا او خوشبويه وو .

ز فرق تا به قدم هر کجا که می نگرم کرشمه دامن دل می کشد که جا اینجا است

دَ امام غزالي قول المجموع کښ ۱: ۱۵۹ باندے نقل کړے دے چه څوک عادت شي نتف ورته آسان وي
او دغه مستحب دي ليکن حلق جائز دے ځکه مقصود صفائي ده هغه حلق سره هم کيدے شي او که
ويستل وي نو ډيره خه ده

ضياء الکلام دَ علامه مقدسي کښ دي چه هيڅ صحيح حديث کښ دَ ترخ دَ ويښتو دَ خريلو ذکر نشته
ليکن موجوده دور کښ ډير علماء دَ ايستلو په ځائے حلق کوي کوشش دَ ايستلو پکار دے ،

حلق العانة : دَ نوم دَ لاندے ويښته صفا کول نووي په شرح دَ مسلم کښ ليکي چه : دَ ابوالعباس ابن
سريج نه منقول دي چه دَ "عانة" نه مراد هغه ويښته دي چه دَ دبر دَ حلقے نه گير چاپيره وي ليکن دا
قول غريب دے ، مجموع شرح مهذب: ۱: ۱۶۰ ، او بعض فقهاء ليکي چه دَ زنانه دپاره دَ حلق په ځائے نتف
العانة غوره دي ، علامه عيني عمدة القاري :۱۳ : ۲۱۹ مطبوعه ملتان کښ ليکلے دي "استعمال الحديد
في شعر العانة وهي إزالته بالموسى هذا في حق الرجال وأما النساء فلا يستعملن إلا النورة أو غيرها مما يزيل
الشعر" وکان المراد منه ما يقوم مقام الاستحداد في حقهن " فيض الباري "باب لا يطرق اهله ليلا" يعني
چه دَ سړو په حق کښ په چاړه دَ هغه ويښتو لر کول چه زير ناف دي او دَ ښځو دپاره دَ بال صفا
استعمال دے دا دَ ښځو په حق کښ دَ استحداد قائم مقام دے ، او دلته مرقات کښ دي "ان ازالته قد
تکون بالنورة وقد ثبت انه عليه السلام استعمل النورة علي ما ذکره السيوطي في رسالته" نبي عليه
السلام دَ "نوره" استعمال کړے دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ العانة تعريف

په حاشية الطحطاوي علي المراقي :٥٣٧ باندے "العانه" تعريف داسے کوي "الشعر الذي فوق الذکر وحواليه وحوالي فرجها" چه دَ سړي او دَ ښځے دَ شرمګاهونو دَ پاسه دَ ويښتو لر کول ، او مرقات کښې دَ باب الترجل دَ لاندے دا عبارت دے "الشعر الذي حوالي ذکر الرجل وفرج المرءة" او امام نووي په شرح دَ مسلم کښې : ١٢٨ باندے ليکي "وَالْمُرَادُ بِالْعَانَةِ الشَّعْرُ الَّذِي فَوْقَ ذَکَرِ الرَّجُلِ وَحَوَالَيْهِ وَکَذَاکَ الشَّعْرُ الَّذِي حَوَالَيْ فَرْجِ الْمَرْأَةِ" علامه هيثمي ليکي : وتستحد المغيبة" دَ ښځے باره کښې نص دے ليکن ډيرو دا دَ سړي سره معتبر کړے دے او وئيلے ئے دي چه دَ ښځے دپاره نتف غوره دے ،

فائده : څلور قسم دَ بدن ويښته دي (١): لر کول ئے لازم دي (٢): پريخودل ئے لازم دي(٣): اغستل جائز او پريخودل غوره دي (٤): دواړه کاره جائز دي ، اول کښې مثلا زير ناف ويښته اغستل ، او دوئم قسم کښې ګيره ، روڅے او بانړه راځي ، هر چه درئم قسم دے دَ سړي دپاره دَ سر ويښته پريخودل افضل دي او ويښته لر کول جائز دي ، مجموع فتاوي :١١ (الف) : صفحه:٧٢ باندے دي علامه ابن تيميه فرمائي "ان يحلق رأسه من غير النسک لغير حاجة ولا علي وجه التقرب والتدين" کوډا کول دَ حج نه بغير چه دَ نزديکت او دَ ديندارئ په بنياد نه وي دَ امام احمد دوه روايته دي يو دا چه مکروه دي او دَ امام مالک وغيره دغه مذهب دے "والثاني : أنه مباح، وهو المعروف عند أصحاب أبي حنيفة والشافعي" دا دَ احنافو او دَ شوافعو مسلک دے چه دا مباح کار دے څلورم جائز الامران لکه دَ دبر ويښته اغستل ،

شرح مهذب:١: ١٦٠ باندے دي چه زير ناف ويښته پخپله اغستل ضروري دي او دَ وينځے يا دَ ښځے نه علاوه بل چا له اغستل حرام دي او دا هم غوره نه دي ،

انتقاص الماء : ابن حجر هيثمي ليکي : چه ددے نه واړه بول مراد دي ، او وکيع ددے نه استنجاء مراد اخلي ، ملاعلي قاري دَ وکيع نوم لر په شک اخلي ليکن لمعات کښې دي شيخ عبدالحق او نووي شرح مسلم کښې ترے جزماً استنجاء اخلي او ابوعبيده وغيره وائي دَ بول کموالے چه کله شرمګاه اوينځي ترے مراد واخله او جمهور ددے نه انتضاح اخلي اودس نه پس دَ وسوسو دَ ختمولو دپاره اوبه په خختګ ترمتيا کول ، المفاتيح شرح المصابيح دَ علامه زيدانيؒ المتوفي ٧٢٧هـ کښې دي چه دَ اوبو نه دلته بول مراد

دي ځکه چه اوبو کښې دَ بول دَ قطع تأثير موجود وي دَ بول قطرے ختموي او دَ انتقاص نه ددے ازاله مراد ده ،

تركيب : (انتقاص الماء) دَ "ماء" نه بول مراد دي نو انتقاص مصدر مضاف مفعول ته دے او که هغه اوبه ترے واغستلے شي چه آله تناسل پرے وينځلے شي بيا مصدر مضاف الي الفاعل دے او مفعول مقدر دے چه "البول" دے (حاشيه الشيخ السبكي : ٤٠ مع تبيين الحقائق)

قال الراوي ونسيت العاشرة : لمعات کښې دي چه دَ راوي نه مصعب مراد دے يا هغه څوک چه دَ مصعب نه روايت کوي ،(ونسيت) معلوم مخفف يا مجهول مشدد دے اي لا اظنه ان يكون شيئا من الاشياء الا ان يكون المضمضة" او ملاعلي قاري دَ علامه ابن حجر قول نقل کوي چه "نسي" دَ نفي معني دپاره متضمنه ده ځکه چه دَ ټولو په ضمن کښې ترک موجود دے اي لم اتذكر شيئا تيمم الخصال به عشرة الا ان يكون مضمضة" او ابن مالک وائي چه مضمضه او استنشاق يو ځائے برغ ذکر کيږي ،

وفي رواية الختان : ختنه کول دَ امام شافعي په نزد واجب دي او دَ امام مالک او ډيرو علماؤ په نزد سنت دي ،

اشعة اللمعات کښې دي چه ائمه ثلاثه ابوحنيفه ، مالک ، احمد او دَ اسلام دَ شعائرو نه ده که دَ يو کلي خلق په نه کولو اتفاق اوکړي امام به ورسره جنګ کوي او دَ ختنے وخت څوک وومه لکه دَ عقيقے ذکر کوي بعض ووه(٧) کاله او بعض نو(٩) کاله او څوک وائي هر وخت چه وي ليکن دَ بلوغ نه مخکښې پکار ده او ليکلے دي چه دَ بعض صحابو نه نقل دي چه هغوي دَ بلوغ نه بعد ختنے کولے نو دَ بلوغ نه شرعي بلوغ نه دے مراد لکه لغوي بلوغ چه دَ تميز او دَ قوت عمر دے مراد واخله او دا دَ هغه دليل دے چه ورته واجب وائي انتهي ،

دَ امام مالک مسلک کښې هلکانو له سنت او جينکو له مندوب دے ، او لمعات کښې دي چه دَ شوافعو په نزد هلکانو او جينکو دواړو دپاره دي ،

دَ ختان تعريف

مرقات کښې دي "هو قطع الجلد الزائدة من الذكر" چه دَ ذكر يعني دَ ماشوم دَ پيشئ نه سوائي ټوټه لرې کول او المفاتيح کښې دي سنة الانبياء من زمن ابراهيم الي زماننا" قاضي شوکاني په نيل الاوطار کښې ليکلے دي چه نبي عليه السلام دَ حسن او دَ حسين ؓ په وومه ورځ ختنه کړے ده ، او دا ئے ليکلے دي که دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

چا دوه آله دَ تناسل وي او کار کوي دَ دواړو ختان واجب دے ، انتهي او نووي ليکي چه دَ اصلي آله دَ معرفت په وخت به هغے صرف ختنه کيږي ، او نووي المجموع کښ :١: ١٦٤ باندے ليکي : چه ابراهيم عليه السلام په ټوکا ختنه کړے ده او دَ اتياؤ(٨٠) کالو عمر ئے وو او ليکلے ئے دي چه دا مستحب دي چه ولے په ماشوم والي کښ دَ ماشوم ختنه اوکړي دا ورله آسانه ده او دَ اوومے ورځے دَ ختنے روايت کښ ضعف دے او دَ پيدائش ورځ دَ اکثرو په نزد نه حسابيږي او دا دَ اوومے ورځے نه مخکښ مکروهه دي ، که څوک بغير دَ ختنے وفات شي دَ جمهورو صحيح قول دادے چه ختنه به ئے نه کيږي ،دَ مرګ نه پس مکلف کيدل ختميږي انتهي ، علامه طيبي الکاشف کښ ليکلے دي چه ختنه ددے دين شعار څکه دے چه دا ما بِهٖ الامتياز دَ مسلمان او دَ کافر دے (اګر چه يهوديان ختنه کوي ، امداد) او دَ نه ختنے په وخت کښ بره په ګوټۍ کښ دَ متيازو څاڅکي انخلي نو دَ مانځه دَ صحت دپاره مانع ګرځي ،

نوټ : دَ فقه السنه :١: ٣٦په حاشيه باندے دي چه احاديث الامر بختان المرءة ضعيفة لم يصح منها شيئ ، مسند احمد :٣٤: ٣١٩ باندے دي "الختان سنة للرجل ومكرمة لنساء ، واسناده ضعيف" وهكذا في معجم الكبير : ٤: ٢٢٨ په جاهليت کښ دَ عربو مشاعره کښ دَ ښځو دَ ختنے رواج وو دَ بخاري دوئم جلد کښ يو صحابي چه ميدان جهاد کښ کافر ته مخامخ کيږي او په غضب کښ ئے راولي ورته وائي چه ته دَ هغے ښځے څوئ ئے چه مور به دے دَ جينکو سنتونه کول «يا مقطعة البذور» مالکيان او شوافع ددے روايت نهَ استدلال کولے شي ، اذا التقي الختان وجب الغسل" او يا دا دَ ترمذي روايت ومس الختان الختان وقد وجب الغسل ، صحيح جامع صغير کښ : ٨٨ باندے دي "اذا جاوز الختان الختان فقد وجب الغسل" ارواء کښ ورته صحيح وئيلے دے ،

فائده : تحفة المودود باحكام المولود : ١٠ باندے علامه ابن قيم ليکلے دي چه ابراهيم عليه السلام دوه سوه کاله ژوند کښ (٨٠) کاله بغير دَ ختنے او شپږ شلے کاله په ختنه کښ تير کړے دي او دَ ابي جعفر روايت ئے صفحه: ١٢٥ باندے ليکلے دے چه فاطمه خپل بچے په اوومه ورځ سنت کړے دے او دَ بيهقي کتاب الاشربه :٨: ٣٢٤ باندے دَ حسن او حسين رضوان الله عليهماختنه په اوومه ورځ ذکرکړے ده ، او بحرالرائق :٨: ٥٥٤ دارالمعرفه کښ دي چه امام ابوحنيفه فرمائي ماته ئے وخت نه دے معلوم او دَ صاحبين نه څه نقل دي ، مظاهر حق کښ دي چه سيدنا آدم عليه السلام سنت شوے پيدا شوے دے اودا هم شته چه دَ نبي عليه السلام دَ پيدائش نه بعد ختنه شوے ده ، مرقات : ٢: ٧ کښ هم داسے دي ،

دَ نبي علیه السلام مختون پیدا کیدل

دَ ابن عباسؓ روایت کښې دي چه په اوومه(۷) ورځ ورله عبدالمطلب ختنه کړے ده، او محمد ئې ورله نوم کیخودو او دعوت ئے اوکړو یحیي بن ایوب وائي چه دَ ابن سري نه علاوه چا دغه صراحت نه دے کړے حسن ئے په دغه ورځ مکروه ګنړي (التمهید:۹: ۱۲۳)

دَ حقیقة حقیقة الالحاد: په ۱۰۹ باندے دے عاجز بنده لیکلے دي چه حاکم دَ مستدرک کښې ذکر کړے دي چه رسول الله صلي الله وسلم مختون پیدا شوے دے او لیکلے دي "قد تواتر الاخبار" لیکن امام ذهبي تعاقب کوي او لیکلے دي "ما اعلم صحة ذالک فکیف تواترا" کتاب التاریخ :۲: ۶۰۲ مستدرک)

صفة الصفوة :۲۲:۱ باندے دي "وُلد مختونا"

(۲): فتاوي فریدیه :۱: ٤٦٩ باندے دي : چه راجح داده چه دَ مور نه مختون نه دے پیدا شوے لکه شامي کښې مسائل شتي کتاب الخنثي کښې دي ، په دغسے مختون روایت باندے هیڅ صحیح روایت نشته ، دا روایت چه زما دَ رب انعام دے چه زه مختون پیدا شوے یم ، او زما ستر چا نه دے لیدلے طبراني په صغیر کښې :۹۳٦ نمبر ابن الجوزي علل المتناهیه کښې :٢٦٤ نمبر ذکر کړے دے په دے کښې سفیان متفرد دے ، ابن عدي وائي دَ آحادیثو غلا ئے کوله روایت منکرت دے ،، ابن حبان وائي احتجاج ترے ناجائز دے، (بحواله ضعیف اور منکرت واقعات)

(۳): البدایه والنهایه :۱: ٦٦٨ باندے دي : وقال ابو نعیم بغیر سند ولد رسول الله صلي الله وسلم مختونا" او بیا لیکي : "وقد ادعی بعضهم صحته لما ورد له من الطرق حتی زعم بعضهم أنه متواتر وفي هذا کله نظر" "وقد روی أن جده عبد المطلب ختنه وعمل له دعوة جمع قریشا علیها والله أعلم"

(٤): کان صلی الله علیه و سلم قد ولد مختوناً مقطوع السرة "

لیکن سیراعلام النبلاء:۱: ۲۱ باندے دي: چه عبدالمطلب ورله په اوومه(۷) ورځ ختنه اوکړه او دعوت ئے اوکړو محمد ئے ورله نوم کیخودو،

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ ختنے دَ دعوت حکم

مسند احمد ۱۷۹۰۸ باندے یو روایت دے من طریق محمد بن اسحاق دعي عثمان ابن ابي العاص الي ختان فأبي ان یجیب فقال انا کنا لا نأتي الختان علي عهد رسول الله صلي الله علیه وسلم ولا ندعي له" بعض خلقو ته دا غلط فهمي ده یا دَ هغوي خوش فهمي ، چه صحابؤ دَ ختنے دعوت کښ دَ شرکت نه انکار کړے دے په دے وجه دغه دعوت قبلول ناجائز دي لیکن دَ محمد بن اسحاق دَ طریقے دا روایت ضعیف دے شیخ شعیب الارنووط لیکي اسناده ضعیف محمد بن اسحاق مدلس دے وقد عنعن وسماع الحسن البصري من عثمان مختلف فیه ، محمد بن اسحاق مدلس دلته عنعنه کړے ده او دَ حسن بصري دَ عثمان نه اوریدل هم اختلافي خبره ده (مسند احمد:۲٦: ۲۰۷ نمبر: ۱۷۹۰۸)

او دوئمه وجه داده : چه دا دَ جینکو ختنے ته دعوت وو طبراني په کبیر کښ روایت راوړے دے نمبر:۸۳۸۲ لیکن دے کښ ابوحمزه عطاء مختلف فیه راوي دے او حافظ ابن حجر فتح الباري مع البخاري : ۱۰ : ۲۸۲ باندے لیکلے دي وقد ذکرت في ابواب الولیمة من کتاب النکاح مشروعیة الدعوة في الختان وما اخرجه احمد من طریق الحسن عن عثمان بن ابي العاص انه دعي الي ختان فقال ما کنا نأتي الختان علي عهد رسول الله صلي الله وسلم ولا ندعي له" ددے دعوت نه مراد دَ ابو الشیخ دَ تخریج مطابق دَ جینئ ختنه وه او شیخ ابو عبدالله بن الحاج په مدخل کښ نقل کړے دي غوره دا ده چه دَ ماشوم ختنه کله اوشي دَ هغوي دَ صحت نه بعد دَ شکر آدا کولو دَ وجے دعوت کول صحیح دي ، هکذا تحقیق وانا راضٍ به فقد افاد واجاد،

او صاحب دَ مشکوة وائي : لم اجد هذه الروایة في الصحیحین : دا اعتراض څکه مناسب نه دے چه مقاصدو کښ فرق نشته او ډیرو الفاظو کښ ئے تناسب موجود دے او دغه کافي ده ،

الفصل الثاني

(٥):عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ» . رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَأَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي صَحِيحه بِلَا إِسْنَاد،

ترجمه : دَ عائشهؓ نه روايت دے فرمائي : چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي مسواک کول دَ خُلے پاکوالے دے او رب رضا کونکے دے ،

تشريح : مطهرة بروزن مفعلة مصدر ميمي دے او مصدر فاعل او دَ مفعول په معني کښې استعماليږي او دلته دَ فاعل په معني احتمال لري اي مطهرة للفم " خُلے له پاکونکے دے (مرضاة) جائز ده چه دَ فاعل معني لري يعني دَ الله دَ رضا مندئ سبب دے او يا دَ مفعول معني راځي اي مرضي للرب "(لمعات المفاتيح)

او شيخ عبدالحق لمعات کښې ليکلے دي دواړه مصدر ميمي دي اودَ فاعل په معني اغستل ئے جائز دي "اي مطهرة للقضاء" يا دواړه اسم مکان جوړ کړه يعني ځائے دَ طهارت او دَ رضا دے لکه چه دَ ابن ماجه ٣٦٦٦ نمبر روايت دے "الولد مخبلة مجبنة" بچے دَ بزدلئ او دَ شومتيا ځائے دے يا دا دَ طهارت او دَ رضا سبب دے خو خپل مصدري معني باندے به وي ،

علامه محمدطاهر رحمه الله دَ پټنے په خپل کتاب مجمع البحار :٣: ٤٧٩ باندے ليکلے دي چه دَ ميم په کسره او فتحه دواړه استعماليږي يعني مطهرا و آلة" او دَ رب دَ رضا سبب دے ځکه چه دَ الله دَ سرگوشئ دَ مقدمے بناء په مسواک ده انتهي ، دَ شرعيت دَ حکم په تعميل کښې دَ دنيا او آخرت دَ دواړو فائدے وے دَ خُلے صفائے دَ دنيا فائده ده او دَ رب رضا دَ آخرت مقصود دے "ورضوان من الله اکبر" سيدنا عمرؓ دَ ځنکدن نه مخکښې چه په وينو کښې ککړ وو يو نوجوان ته ئے اوئيل چه دا لنگ دے اوچت کړه چه کتئ ښکاره شي لنگ به دے نه سخا کيږي او رب به رضا شي دَ سورة هود په ابتداء کښې الله دَ شرعي حکم دَ تعميل دوه فائدے ذکرکوي "يمتعکم متاعاحسناالي اجل مسمي ويؤت کل ذي فضل فضله" دنيوي ژوند کښې تر مرگه فائدے او په آخرت کښې درجات حاصلول او ثوابونه او مرقات کښې ملاعلي قاري ليکلے دي چه دَ مبالغے دپاره مطهرة او مرضاة راتلے شي لکه رجل عدل او فضائل دَ مسواک ډير دي دا دوه ډير اهم دي او دا جامع دَ نورو فضائلو دپاره دي ابتغاء دَ وجه رب الاعلي غټ سعادت دے ،

بلااسناد : ليکن بخاري کښې تعليقا شته او احمد ، ابن حبان دَ عبدالرحمن بن عتيق په واسطه موصولا روايت کړے دے حديث صحيح دے (المجموع ، تلخيص الحبير)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ بلا اسناد نه مراد تعليق دےاو امام منذري وائي دَ امام بخاري تعليقات صحيح دي ، امام نووي كتاب المجموع كښ :١: ١٤٨ باندے ليكلے دي چه امام بخاري كتاب الصيام كښ صحيح كښ ددے ذكركړے دے "وقد ذكرت في علوم الحديث ان تعليقات البخاري اذا كانت بصيغة الجزم فصحيحة" چه ذكر دَ قرآن قراءت او مناجات څوک كوي پكار دي چه خُله صفا كړي ، علامه ابن عبدالبر په التمهيد ٤: ٨٨ باندے ليكلے دي چه كوم مسواک چه خُله رنګداره جوړوي دا دَ ښځو دَ زينت دَ مشابهت دَ وجې مكروه دے او هغه مسواک ترے مراد دے چه عربو كښ معروف او دَ نبي عليه السلام په زمانه كښ معمول وو ، فوائدو كښ چه دَ نظر تيزي طبراني په اوسط كښ دَ سيدنا ابن عباس رضي الله عنه په سند زيات كړے دے ددے سند ضعيف دے او جويبر راوي متروک دے (ارواء العليل)

علامه طيبي الكاشف كښ ليكي : چه دا دواړه فائدے په عليت كښ مستقلے دي او علامه ابن حجر هيثمي فتح الاله كښ ليكلے دي چه دا دوه ئے ذكر كړل دَ باب الترقي من السبب الي المسبب نه حساب كړه يا دَ كامل وصف نه اكمل ته انتقال دے او تنوين دواړو كښ دَ عظمت دپاره دے او قطع نظر ددے نه چه دواړو كښ تلازم دے ،

(٦):وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَرْبَعٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِينَ: الْحَيَاءُ وَيُرْوَى الْخِتَانُ وَالتَّعَطُّرُ وَالسِّوَاكُ وَالنِّكَاحُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ"

ترجمه : ابو ايوب فرمائي چه نبي عليه السلام افرمائيل : څلور دَ پيغمبرانو دَ سنتو نه دي (١): حياء ، او يو روايت كښ دَ حياء په ځائے سنتول راغلے دي (٢): خوشبو لګول (٣): مسواک كول (٤): نكاح كول ،

تشريح : مسند احمد:٣٨: ٥٤٥ باندے روايت په تعليق كښ دے چه په دے سند كښ حجاج بن ارطاة ضعيف دے ، علامه الباني ارواء كښ ليكلے دي چه امام ترمذي په سنن كښ دا روايت دَ حفص بن غياث په طريقه موصولا ذكر كړے دے او حجاج دَ تحديث صراحت كړے دے ، اشعة اللمعات كښ دي چه دلته ددے څلورو ذكر دَ مقام او تقاضا په اعتبار سره پكار وو او دغه وحي په دغه مقدار اوس شوے ده دَ بل وخت اضافه كه كوے اعتراض نه راځي ،

حياء : شرم كول چه انسان نفس دَ بدو كولو نه بند اوساتي او دغسې هغه كارونه هم اونه كړي چه دَ مروت نه خلاف وي ورنه در اصل حياء فطري خوئي او عزيزي صفت دے چه دَ انسان په اختيار كښې نه دے او لفظ دَ حياء دے او اربع خصال مضاف اليه محذوف ده (المفاتيح)

مرقات كښې دي : چه سنن المرسلين په طريقې دَ تغليب دے ځكه چه سيدنا عيسي عليه السلام بالفعل نكاح نه دے كړے (دغسې يحيي عليه السلام حصور وو) ليكن پيغمبرانو ترغيب دَ نكاح وركړے دے او حياء دَ نبي عليه السلام دومره لازمي صفت وو چه دَ باكرے جينئ نه ئے زياته حياء كوله او حياء نه شرعي حياء مراد ده بعض صحابؤ دَ نبي عليه السلام معمول ذكركړے دے چه مشك به ئے استعمالول او دَ نكاح فضائل "سلو" نه زيات ابن حجر هيثمي په الافصاح في فضائل النكاح كښې ذكر كړے دي ، واضحه دے وي چه ملا علي قاري خپله په دے موضوع رساله ده "رفع الجناح وخفض الجناح بأربعين حديثا في النكاح" او لمعات كښې دي چه سنة ابراهيم ورته ځكه وائي چه اول ډير اهميت او دعوت ددے ابراهيم عليه السلام وركړے وو او اول ختنه ابراهيم عليه السلام كړے وه علامه ابن حجر هيثمي ليكلے دي نود مرسلين مصداق سيدنا ابراهيم عليه السلام او دَ هغوي نه پس عمومي پيغمبران دي ،

(۷):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلَا نَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ إِلَّا يَتَسَوَّكُ قَبْلَ أَنْ يَتَوَضَّأَ. رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد"

ترجمه : دَ عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه نبي عليه السلام به دَ شپے يا دَ ورځے نه اوده كيدو چه به راويخ شو اودس كولو نه مخكښې مسواك كولو،

تشريح : دَ حديث نه معلومه شوه چه دَ ورځے اوده كيدل يعني قيلوله كول سنت عمل دے دا دَ شپے دَ تهجد دَ پاسيدو دپاره معاون ګرځي (فتح الاله)

(۲): دَ خوب دَ وجے په دے خُله چه كوم وكم غوندے پيدا شي دَ پاسيدو نه پس دَ مسواك په استعمال هغه ختميږي خاص كر چه څوک چا سره خبرے ترے كوي يا ذكر كول غواړي دا مسواک پاسيدو نه پس عادت جوړول مناسب دي او نبي عليه السلام به كله كله ملك سره هم خبرے كولے دَ نبي عليه السلام په اقتداء كښې دغسې معمول كار ثواب دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فیستيقظ : رفع او نصب دواړه صحیح دي (الكاشف)

که مرفوع وي نو دَ نفي دَ لاندے دے چه دَ شپے او دَ ورځے که نبي علیه السلام به دَ خوبه راپاسیدو مسواک به ئے وهلو او یا منصوب دے چه دَ نفي جواب دے لکه "فتطردهم فتكون من الظالمين" (الانعام:۵۲) دا دَ "ما من حسابک علیهم من شيئ" جواب دے ، دلته ګویادا دَ لا یرقد من لیل " جواب دے ځکه چه دَ ویښے نه ځکښې خوب شته یا به ئے دَ اودس نه مخکښې په دغه مسواک اکتفاء کوله یا اودس کښې بیا مستقل مسواک کولو لکه عمومي روایات په دے دلالت کوي کوم سړے چه دَ شپے رابیدار شي او اوچت شو که اراده دَ مونځ لري یا نه لري مسواک ورله مستحب دے ځکه فقهاء عندالقیام من النوم مسواک ته مستحب وائي ، علامه الباني هدایة الرواة:۱: ۲۱۵ کښې لیکلے دي چه: "حديث حسن دون قوله ولانهارفانه ضعيف "

(۸):وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ فَيُعْطِينِي السِّوَاكَ لِأَغْسِلَهُ فَأَبْدَأُ بِهِ فَأَسْتَاكُ ثُمَّ أَغْسِلُهُ وَأَدْفَعُهُ إِلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه : نبي صلي الله علیه وسلم به مسواک کولو نو ماله به ئے مسواک دے له راکړو چه زه ئے اوینځم ما به په دے شروع اوکړه مسواک به مے اوکړو بیا به ما اونځلو او دا به ما نبي علیه السلام ته ورکولو ،

اشعه کښې شیخ عبدالحق لیکلي : دا دَ نبي علیه السلام دَ خُلے مبارکے تبرک حاصلول او دَ انتهائي محبت کرشمه ده ځکه چه دَ نبي علیه السلام مقصد دَ امام المؤمنین ورکولو نه صرف وینځل نه وو بلکه برکت ئے مقصود وو او دَ مینے اظهار وو

میان عاشق و معشوق رمزے است کراماکاتبین راهم خبر نیست

او دَ مرض الموت په ورځو کښې هم مسواک ام المؤمنین له دے له ورکړو چه پخپله خُله کښې په خپلو غاښونو نرم کړي ،لکه چه تیر شوے دي ددے روایته معلومیږي چه کله یو ځل مسواک استعمال شي نو وینځل پکار دي ځکه چه بیا به دغه مسواک کوي ، لمعات کښې دي دلیل دَ تبرک او دَ نبي علیه السلام دَ محبت المفاتیح کښې علامه زیداني لیکلے دي : وهذا دلیل علي ان الاستعمال بمسواک الغیر لا یجوز بغیر اذن مالکه" چه دَ مالک دَ اجازت نه بغیر دَ بل چا مسواک استعمالول جائز نه دي او هیثمي وائي جرم دے ، دغسے مرقات کښې هم دي او دا اضافه ئے کړے ده چه دا ئے ځکه اوکړو چه دَ ښځے او

دَ خاوند مينځ كښې دل لګي پكار ده او دَ "ادفعه اليه" ډير ظاهر مطلب دادے چه بل وخت به ما ورله دغه مسواك وركولو چه كله به هغوي مطالبه كوله علامه هيثمي ليكلے دي چه بغير دَ وينځلو نه مسواك دغسے كيخودلو سره بيماري پيدا كيږي ، كتاب المجموع كښې :١: ١٥٤ باندے علامه نووي ليكلے دي : چه علامه صيمري فرمائي چه په دوئم ځل دَ مسواك كولو وخت كښې مسواك وينځل مستحب دي او دا روايت ئے ورله دليل كښې ذكر كړے دے او ليكلے دي چه حديث حسن دے او ابوداود په جيد سند ذكر كړے دے ،

لأغسله : معلوميږي چه ښځه به دَ خاوند خدمت كوي اګر چه حنفي مسلك كښې دا خدمت ديانة واجب دے اقتضاء نشته ، دَ بخاري روايت كښې واقعه ده چه واده كښې ابو اسيد ساعدي نبي عليه السلام نبي عليه السلام له چه كله دعوت كړے وو "وكانت امرءته خادمهم" ښځه ئے خادمه وه او عائشه فرمائي : اني فتلت قلائدالنبي عليه السلام بيدي"

الفصل الثالث

(٩):عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَاءَنِي رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي: كبر فَدَفَعته إِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا ""

ترجمه : دَ ابن عمر نه روايت دے چه نبي عليه السلام افرمائيل ما خپل ځان خوب كښې اوليدو چه مسواك ما كولو يو مسواك دوه كسان راغلل يو پكښې دَ بل نه لوے وو ما وروكي ته مسواك دے دواړو كښې وركړو راته اوئيلے شو چه مشر ته وركړه نو دواړو كښې مشر ته مي هغه حواله كړو "

تشريح : اشعه كښې دي دَ حديث نه معلومه شوه چه دَ طعام وشراب ، سلام ، څكاك او خوشبوئي وغيره كښې مشر مخكښې كول پكار دي او ميوه وړوكي له وركول پكار دي ، او باب القسامة روايت كښې دي چه نبي عليه السلام دَ ديت دَ مسئلے په وضاحت كښې اوفرمائيل چه مشر له اول نمبر وركړه ، او بهيقي دَ ابن عمرؓ نه دا حديث بے دَ خوب دَ واقعے نه نقل كړے دے په هغے كښې دي چه جبرئيل عليه السلام راته اوئيل چه دَ قوم دَ ټولو نه مشر له دا وركړه ، ابن حجر هيثمي فرمائي : "اراني" ددے معني ده "اريت" يعني ځان وينم" دَ افعال قلوب دا خصوصيت دے چه فاعل او مفعول دواړه ضميرونه يو

Maktaba Tul Ishaat.com

شخص ته راجع کول صحیح دي ، هیثمي ؒ ليکلے دي : ولا اثر للاتحاد هنا مفتقر في باب علمت ومالحق به، او لمعات کښې دي جواز اتحاد ضميري الفاعل والمفعول " "وقد يروى بضم الهمزة فيكون بمعنى أظن، فيكون من أفعال القلوب، و (أتسوك) مرفوع بحذف (أن). وقوله: (بسواك) صرح به اهتمامًا بشأنه كما يدل عليه سياق الحديث.

وقوله: (فناولت) أي: أعطيت، أناله: أعطاه، فتناوله: أخذه، و (الأصغر) مفعول ثان لناولت. وقوله: (كبر) أي: أعط الأكبر، وفيه بيان فضيلة السواك وتقديم الأكبر في حكمه"

او الاکبر ، اعطي الأکبر ، فعل محذوف دے او الاصغر دَ ناولت دوئم مفعول دے نبي علیه السلام چه مسواک اول اصغر یعني کم عمر له ورکړو دا اجتهاد کښې خطا شو لیکن پیغمبر علیه السلام په خطا برقرار الله نه پاتے کوي بلکه الله ورته اول دَ معافئ اعلان کوي ، سورة التوبه : ٤٣ کښې دي "عفاالله عنک" مواهب الرحمن تفسیر کښې دي عفي الله عنک في الاذل قبل وجود العمل ،

فان نطقت جاءت بكل ملاحة :: وان سكتت جاءت لكل جميل

او علامه مهائمي تبصیرالرحمن کښې مثال دَ اساري بدر ورکوي ددے آیت نه معلومیږي چه بعض ځایونو کښې دَ اجتهاد په مقتضي کله کله فیصله کړے ده

دلته سوال دے : التقریرالرفیع کښې شیخ الحدیث نقل کړے دے چه نبي علیه السلام باندې له دَ پیو مسئله کښې ترجیح ورکړے وه ځکه چه هغه ښي طرف باندے وو لیکن جواب دادے چه په دے واقعه کښې دواړه ګس طرف باندے وو یو پکښې ښي طرفته نه وو معلومه شوه چه دَ بخاري روایت کښې صراحة "الایمن فالایمن" ضابطه ثابته ده ، ابن رسلان جواب کوي دا ضابطه هغه وخت کښې ده چه ټول حاضرین په ناسته کښې ترتیب سره برابر وي چه په چا "ایمن" او په چا "ایسر" صادق راځي او غیر مرتب في الجلوس وي یعني ټول یو طرف ته وي لکه دے حدیث نه چه مستفاد کیږي نو دلته به "الاکبر" فالاکبر" قاعده چلیږي

سوال : دا دَ خوب واقعه ده او که دَ ویښے دواړه روایتونو کښې شته ، امام مسلم دا واقعه ابواب الرؤیا کښې ذکر کړے ده او دَ ام المؤمنین عائشه ؓ دَ روایت دَ ظاهر نه بیدارئ واقعه معلومیږي ، ددے دوه جوابه دي

(۱): دا دَ خواب او دَ بیدارئ دَ دواړو واقعه ده اول ئے خوب لیدلے وو چاته ئے ددے ذکر نه وو کړے او بیا بیدارئ کښې چه دا واقعه اوشوه نو خواب ورته رایاد شو نو نبي علیه السلام دَ خوب تذکره اوکړه

ليکن دے جواب باندے به دَ تکرار وحي اشکال راځي چه يوه معامله کښې دوه ځله ولے وحي نازله شوے ده ،

دوئم جواب : دا غوره جواب دے : چه دَ سيدنا ابن عمر په روايت کښې صراحة دَ خوب ذکر دے ليکن دَ ام المؤمنين عائشه په حديث کښې دَ بيدارئ صراحت نشته نو حديث دَ عائشه د هم دَ خوب په قصه حمل شي ، يعني هغه هم واقعه دَ خوب بيانوي او قرينه په دے دَ سيدنا ابن عمر روايت دے چه پکښې دَ خوب دَ واقعے صراحت دے (الدرالمنضود)

(۱۰):وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا جَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ إِلَّا أَمَرَنِي بِالسِّوَاكِ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ"

ترجمه : دَ ابو امامه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : ماله چرته جبريل عليه السلام نه دے راغلے مګر دَ مسواک حکم ئے ماته کړے دے تر دے چه اويريدم چه چرته دَ خُلے دَ مخکنئ حصه شولغ اونه باسم (ويخ ورله اونه بأسم) او ئے نه سولوم،

تشريح : جبريل عليه السلام به کله دَ تعليم السنن دپاره راتلو دَ ګاونډ حقوق بيانولو له به دوي تشريف آوري ديره کوله ، "مازال جبريل يوصيني بالجار حتي ظننت انه سيورثه" دَ جبرئيل دَ وصيت دَ خاطره دومره زياته مسواک باندے مداومت په کثرت کړے دے ،

(۱۱):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيّ"

ترجمه : دَ انس روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : دَ مسواک دَ شان باره کښې ماتاسو ته ډير بيان کړے دے

تشريح : ددے خبر مقصد باره کښې علامه طيبي ليکلے دي چه دَ مسواک دَ شان اهتمام دے او ترغيب دے چه دَ مسواک دَ ملازمت قصد اوکړئ

اکثرت عليکم : ددے مفعول محذوف دے اي اطلت الکلام في السواک (کائنا) عليکم دَ مسواک دَ رعايت اهتمام کولو ته اشاره ده او دے باب کښې سخته مبالغه ده او ملاعلي قاري ليکلے دي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

"اكثرت" دَ معلوم صيغه ده او علامه كرماني فرمائي چه بعض نسخو كښې أكثرتُ دَ مجهول صيغه ده اي بولغت من عندالله "،

(۱۲):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَأُوحِيَ إِلَيْهِ فِي فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ أَعْطِ السِّوَاك أكبرهما. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي چه نبي عليه السلام مسواک وهلو او دده سره دوه كسان وو چه يو پكښې دَ بل نه مشر نه وو نبي عليه السلام ته وحي اوشوه دَ مسواک په فضيلت باره كښې چه په دے دواړو كښې كوم يو مشر دے هغه ته مسواک ورکړه

تشريح : اشعه كښې دي مسواک كولو ته استنان وائي "سن" په كسرے دَ سين غاښونو ته وائي او "سن" بالفتح تيزولو ته وائي ،

(۱۳):وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَفْضُلُ الصَّلَاةُ الَّتِي يُسْتَاكُ لَهَا عَلَى الصَّلَاةِ الَّتِي لَا يُسْتَاكُ لَهَا سَبْعِينَ ضعفا» . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيّ فِي شعب الْإِيمَان"

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي : چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : كوم اودس كښې چه مسواک استعمال شي په هغے مونځ اويا (۷۰) چنده دَ هغې نه غوره ده چه مسواک پكښې نه وي استعمال شوے ،

تشريح : دا نص ددے تقاضا كوي چه دا زياتوالے ځكه دے چه په مسواک دا مونځ ادا شوے دے دلته دا مطلب نه دے چه دا مندوب مسواک دَ اصل مانځه نه غوره دے او ملاعلي قاري فرمائي چه دا يوه درجه دے ډيرو يا اويا درجے نه برابريږي ، لكه سلام كول سنت او جواب ئے واجب دے او صحيح ابن خزيمه كښې دي چه دا خبره ځكه كلام لري چه محمد بن اسحاق دَ زهري نه اوريدل نه دي كړي او حاكم ورته صحيح علي شرط مسلم وائي او دَ محمد بن شهاب تخريج ، مسلم په متابعاتو كښې كړے دے او دَ ابن عباس حديث او دَ جابر په روايت كښې چه ابو نعيم په دوه عمده سندونو ذكركړے دَ دغے شواهدو دَ وجے روايت حسن دے ، او شيخ عبدالحق ليكلي : يا خاص اويا عدد مراد دے حكمت ئے الله تعالي ته

يا كنايه دَ كثرت نه ده او علامه ابن عبدالبر االتمهيد :٤: ٨٨ باندے دَ امام اوزاعي اثر نقل کړے "رکعة علي اثر سواک افضل من سبعين رکعة بغير سواک" چه مسواک دے کړے وي په هغه مونځ بے مسواکه اويا کرته غوره دے ، کتاب المجموع :١: ١٤٨ کښې دَ عائشه ام المؤمنين روايت دے "صلاة السواک خير من سبعين بغير سواک" چه دا دَ بيهقي روايت په ټولو سندونو کمزورے دے او حاکم ورته صحيح علي شرط مسلم وائي ليکن په تصحيح کښې دَ هغوي تساهل معروف دے ددے دارمدار په محمد بن اسحاق دے چه مدلس دے او سماع ئے نه ده ذکر او داسے روايت بالاتفاق قابل احتجاج نه وي او څنګه علي شرط مسلم به شي چه امام مسلم دَ متابعت نه علاوه دَ دوي نه دَ حجت په طور هيڅ روايت نه دے کړے او کله کله مسلم متابعاتو کښې هغه څوک ذکر کوي چه هغه حجت نه دي او نه دَ تقويت کار کولے شي او بيهقي خو دَ حاکم نه په دے فن کښې ډير ماهر دے هغه ورته ضعيف وائي او هداية الرواة کښې علامه الباني په بيهقي ددے حواله ورکړے ده او دَ هغوي ددے باره کښې دَ ضعف قول ذکر شوے امام مزني په خپل کتاب کښې صلاة السواک افضل من خمس وسبعين صلاة بغير سواک صحيح سند سره نقل کړے دے ،

(١٤):وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ» قَالَ فَكَانَ زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ يَشْهَدُ الصَّلَوَاتِ فِي الْمَسْجِدِ وَسِوَاكُهُ عَلَى أُذُنِهِ مَوْضِعَ الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ لَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ إِلَّا اسْتَنَّ ثُمَّ رَدَّهُ إِلَى مَوْضِعِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: «وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ» . وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حسن صَحِيح،

ترجمه : زيد بن خالد جهني فرمائي : ما دَ نبي عليه السلام نه اوريدلے دي که ما ګران نه ګڼړلے په خپل امت باندے نو خامخا ما به حکم کړے وے دوي ته مسواک باندے په وخت دَ هر مانځه کښې او ما به حکم کړے وو په روستو کولو دَ مونځ دَ ماسختن سره تر دريمے حصے شپے ، راوي وائي چه دے نه پس به زيد بن خالد مونځ دپاره راتلو نو مسواک به ئے غوږ باندے يخے وو (غوږ کښې مسواک نښے

Maktaba Tul Ishaat.com

کیخودے لکه الحق الصریح کښې ترجمه ده امداد) لکه چه کاتب دَ غوږ دپاسه قلم کدي ، مانځه ته به نه اودریدو مګر مسواک به ئے کولو او بیا به ئے خپل ځائے باندے واپس کیخودلو ،

تشریح: دَ ابو سلمه ترجمه

مرقات کښې دي چه عبدالله بن عبدالرحمن بن عوف دے او دا طیبي لیکلے دي او مصنف وائي چه دَ دري تره عبدالله بن عمرو بن عوف الزهري قریشي فقهاء سبعه کښې دَ مدینے یو فقیه وو او شیخ عبدالحق لیکلي : دَ عبدالرحمن ځوے دے، بنا بر یو قول او دَ مشهور غټو تابعینو نه ددهٔ شمار دے او احادیث ئے دیر دي دَ عبدالله بن عباس ، ابن عمر او ابوهریره رضوان الله علیهم شاګرد دے او شاګردانو کښې زهري ، یحیي بن کثیر او دَ امام شعبي رحمهم الله غوندے شخصیات دي په ۹۷ هـ کښې دَ دوه اویا کالو په عمر کښې وفات شوے دے او شیخ عبدالحق یو قول ۱۰۴هـ نقل کړے دے او دَ زید ابن خالد کوفه کښې دائره ، عطاء بن یسار ترے روایت کوي، شیخ عبدالحق وائي یا دَ عبدالملک یا دَ سیدنا معاویه په اخري دَ خلافت ورځو کښې وفات شوے ده ،

زید بن خالد چه په غوږ باندے مسواک کیخودلو مرقات کښې دي "انفرد به ولا یصلح حجة" چه دا دَ دري تفرد وو حجت نه دے او مرآة المناجیح کښې احمد یارخان بریلوي صاحب لیکلے دي : "ان کا اجتهاد ہے آپ صلی اللہ علیہ وسلم نے اور کسی صحابی نے عمل نہیں کیا" لیکن دَ دوارو خبره ځکه راجح نه ده چه مصنف ابن ابي شیبه:۲: ۲۱۷ روایت :۱۸۰۵ کښې دي ان عبادة بن الصامت واصحاب رسول الله صلي الله علیه وسلم کانوا یروحون والسواک علي اذانهم " چه دَ عباده رضي الله عنه دَ بعض صحابوٴ معمول وو چه تلل به مسواک به ئے په غوږونو باندے وو لیکن دا وضاحت نشته چه دَ اودس په وخت کښې یا دَ مانځه وخت کښې یا دَ دواړو وختونو کښې به ئے استعمال کولو او بعض وائي خالد بن یوسف السمي ضعیف دے او دَ صالح بن کیسان نه ۲۲۳ باندے نقل دي ،

الحق الصریح کښې دي مسواک به دومره اندازه باندے وي چه په غوږ باندے کیخودلے شي او مرئ ته رسیږي ، واضحه دے وي چه دا عام طور باندے لیشت وي فقهاء فرمائي اول کښې دغه مقدار باندے پکار دے که روستو پکښې کمے راځي را دے شي ، او دَ الحق الصریح دَ عبارت نه معلومه شوه چه په غوږ باندے کیخودل مراد دي نه غوږ کښې لکه ترجمه شوے ده او قرآن کښې چه "یجعلون اصابعهم في اذانهم" دَ مغے نه دَ ګوتو سرونه او بندونه مفسرین اخلي والله اعلم،

باب سنن الوضوء

علامه طيبي ليکلي دي : لکه چه مرقات کښې دي چه دَ سنن نه اقوال ، افعال او تقريرات دَ نبي صلى الله عليه وسلم مراد دي که هغه سنت وي يا فرض ، يعني سنن اصطلاحي نه دے مراد بلکه مطلق طريقې دَ مانځه مراد دي که فرض وي يا واجب يا سنت يا مستحب ، مظاهرحق کښې دي دَ نبي عليه السلام افعال ، اقوال چه کوم دَ اودس سره متعلق راغلي دي که فرائض وي يا سنت يا دَ اوداسه آداب ، او ابن حجر هيثمي وائي چه دَ سنت نه دلته طريقه مراد ده او اشعة اللمعات کښې دي چه سنن جمع دَ سنت ده لغوي معني ئے طريقه ده او شرع کښې په دے معني راځي چه نبي صلى الله عليه وسلم په هغې امر او نهي کړے وي که گفتار وي او که کردار او کله دَ مستحب او دَ مستحسن په معني راځي چه په هغې دَ الله کتاب ، سنت دَ پيغمبر ، اجماع يا قياس دلالت کوي او کله ددے اطلاق کيږي په هغه څيز چه نبي عليه السلام په هغې هميشوالے کړي کله ئے پريخودلے هم وي دا درے اصطلاحات دي او دَ اصوليانو ميځ کښې دريمه اصطلاح ډيره مشهوره ده او دَ سنن وضوء نه دلته مراد افعال او اقوال دَ پيغمبر عليه السلام وي که فرائض وي يا سنن يا آداب چه په اودس کښې دي لکه چه مخکښې ذکر اوشو لمعات التنقيح کښې ليکي : دَ سنت مشهور معني ده "ما واظب النبي صلى الله عليه السلام مع الترک احيانا" او کله دَ نبي عليه السلام هغه کار ته وائي چه دَ عبادت په طريقه ئے کړے وي او دا سنت تقسيم دے سنن الهدي او سنن الزوائد ته ، او سنن الزوائد دَ مندوباتو درجه لري ، او دَ هدايه بعض شروح کښې دي چه مواظبت مطلقا ذکر شي اراده ترے کيدے شي چه کله ئے پريخودلے هم وي لکه چه دا دَ سنت معني ده او چه پريخودل پکښې نه وي دا دَ وجوب علامت وي او مجمع البحار کښې دي شرع کښې سنت هغې ته وائي چه نبي ئے حکم کړے وي يا منع ئے کړے وي يا ئے قولا او فعلا ددے ندب ذکر کړے وي او قرآن کريم کښې نه وي او کله چه واجب نه وي او او پيغمبر عليه السلام پرے مواظبت کړے وي هغه مراد وي دلته افعال او اقوال مراد دي که دَ فرائضو سره تعلق لري يا دَ سنت سره ،

المفاتيح کښې دي چه دے باب کښې سنن او فرائض ټول بيانيږي يعني په اوداسه کښې هغه افعال چه فرض يا سنت دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

اقوال دَ غیر مقلدینو

اول خو زه وائم چه فرق دَ فرض او واجب باندے هیڅ دلیل په سلفو کښې نشته (مونځ په رنړا دَ آحادیثو کښې:۶۰ دَ شیخ عبدالسلام)

(۲): دَ احنافو په نزد چه کوم واجب دي جمهور علماء دا نه مني بلکه وائي چه دین کښې صرف فرض یا سنت دي او دوي واجب په معني دَ فرضو استعمالوي سوا دَ حج نه چه په دے کښې دَ امام احمد په نزد واجب شته ددے نه علاوه باقي مسائلو کښې صرف یا فرض کنړي یا سنت یا نفل وغیره الخ او علامه ابن الهمام فتح القدیر کښې دا ذکر کړے دے چه زمونږ دَ احنافو قول خطا دے په اودس کښې واجب نشته وجه داده چه بسم الله دَ دَ اوداسه په ابتداء کښې وئیل واجب دي کما سیأتي (الحق الصریح)

وضاحت

علامه شامي :۱: ۷۰ مطبوعه احیاء التراث کښې لیکلے دي : اعلم أن المشروعات أربعة أقسام: فرض، وواجب، وسنة، ونفل، فما كان فعله أولى من تركه مع منع الترك إن ثبت بدليل قطعي ففرض، أو بظني فواجب" اوکه نبي علیه السلام او خلفائے راشدین په هغے مواظبت کړے وي نو سنت دي ورنه مندوب دي،

(۲): بعض الناس في دفع الوسواس مقدمه صحیح البخاري: ۲: ۱۵"

الادلة اربعة انواع :

اولها قطعي الثبوت والادلة كالنصوص المتواترة المحكمة"

وثانيها: قطعي الثبوت ، ظني الدلالة كالآيات المؤولة،

وثالثها ظني الثبوت قطعي الدلالة كالأخبار التي مفهومها قطعي ،

ورابعها : ظني الثبوت والدلالة كالاخبار التي مفهومها ظني ،

په اول فرض یا حرام ثابتیږي او په دوئم او درئم وجوب یا کراهت تحریمه ثابتیږي، او په څلورم سنت یا استحباب او کراهت تنزیه ثابتیږي چه دلیل په اندازه حکم ثابت شي انتهی ،

یعني په قطعي الدلالت او قطعي الثبوت سره مأموراتو کښې فرض او نواهي کښې حرمت ثابتیږي ،

(۲): ظني الدلالت او ظني الثبوت سره منهیاتو کښې کراهت تنزیهي او اوامرو کښې استحباب ثابتیږي ،

(۳): ظني الثبوت قطعي الدلالت ،

(٤): قطعي الثبوت ظني الدلالت سره دواړو كښې كه اوامر وي نو وجوب يا سنت او كه منهيات وي نو كراهت تحريميه ثابتيږي ،

(٥): ډاكټر سيد شفيق الرحمن خپل كتاب "نماز نبوي" ص:۱۲ باندے ليكي "شیخ ناصر الدین البانیؒ فرماتے ہیں ہمارے لئے رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم کی مانند نماز ادا کرنا اس وقت ممکن ہے جب ہمیں تفصیل کے ساتھ آپ کی نماز کی کیفیت معلوم ہو اور ہمیں نماز کے واجبات، آداب، ہیئات، اور ادعیہ واذکار کا علم ہو پھر اس کے مطابق نماز ادا کرنے کی کوشش بھی کریں تو ہم امید رکھتے ہیں کہ پھر ہماری نماز بھی اسی نوعیت کی ہو گی"

واجب فرض كښې فرق

كه چرته دلالت قطعي او ثبوت ظني وي يا عكس په دے دا تفريع كيدے شي چه واجب دَ فرض او سنت مينځ كښې مرتبه مستقله ده ، دَ سنت دپاسه او دَ فرض قطعي نه كمه ده دَ ثبوت په حجت سره پكښې دليل ظني وي يا دَ دلالت په حجت سره پكښې ثبوت ظني وي ، لكه سنن دَ فرض دَ استكمال دپاره وي نو واجب له په دغه استكمال كښې دخل ډير كلک دے او ضرورت ورته زيات او سخت دے دَ كمي جبيره او تلافي په دے كيدے شي ، بحرالعلوم علامه لكهنوي دَ رسائل الاركان په صفة الصلاة كښې دغه تنبيه وركړے ده ، او زمونږ عام دَ اصول فقه علماء دا د واجب په صورت كښې پيش كوي نه په حقيقي صورت سره كه دا واجب مستقل داسے حقيقت وي چه بل حقيقت ته نه وي محتاج نو دَ شاه انورؒ په نزد دا "الشيئ الواجب" وي دا اول ډير او دوئم كم دے صرف مانځه او دَ حج په مناسكو كښې موندلے كيږي او معاملاتو كښې دغه واجب ، فرض نه ذكر كوي بلكه هلته ددے نه تعبير په شروطو او اركانو سره كيږي ځكه جمهور ائمه دا مرتبه صراحة نه ذكر كوي او نه ددے قائل دي ليكن شوافع صرف په مناسک الحج كښې ددغے مرتبے قائل دي ليكن حافظ ابن تيميه "المنهاج" كښې بغير دَ شوافعو نه دَ تولو ائمو نه دا قول نقل كوي چه مانځه كښې فرائض او واجبات او سنن شته لكه ځنګه چه احناف ددے ذكر كوي ، او مالكيان واجب دَ سنتو يو قسم ګڼړي او حنابله دا دَ فرض قسم ګڼړي او دَ واجب په اثبات دا دلالت كوي حديث السرقة ،په مانځه كښې ،كه واجب نه وي اصل مونځ موجود دے لكه تعديل او اطمينان في الاركان واجب دے (معارف السنن)

او دَ علامه ابن الهمام په نزد مواظبت چه پريخودل پکښې نه وي دَ وجوب دپاره وي او دَ ابن نجيم په نزد سنتيت دپاره وي » او که اوکتلے شي وجوب او سنتيت يو بل ته نزدے دي او ددے مراتبو مينځ کښې فرق په مرتبه دَ علم کښې دے نه په مرتبه دَ عمل کښې او امام غزالي ليکلے دي چه دَ قطعي فرض او سنت په مينځ کښې درميانه مرتبه ثابتول صحيح دي ،

علامه ابن الهمام چه په اودس کښې دَ بسم الله دَ وجوب قول نقل کوي دا دَ امام احمد مسلک هم دے ، شاه انور کشميري نه په عرف الشذي :۱: ۱۳ باندے نقل دي چه دا دَ ابن همام تفرد دے دَ هغوي بعض نورو مسئلو کښې هم تفرد شته ځکه دَ هغوي شاګرد علامه قاسم ابن قطلوبغا ليکلے دي "لاتقبل تفردات شيخنا" زمونږ دَ شيخ ابن همام تفرد نشي قبليدے،

دَ صاحب الحق الصريح تصريح

قرآن کريم کښې "فان خفتم فرجالا او رکبانا" ددے آيت لاندے تفسير حکمت القرآن کښې دي چه الله فرمائي چه په کوم ځائے کښې بنده دَ تمامو ارکانو ، واجباتو ، سنن او مستحباتو رعايت ساتلو سره مونځ نشي کولے نو په داسے حالت کښې به په روانه يا سورلئ مونځ کوي" انتهي

يا ئے دا مراتب دَ سلفو نه ثابت نه منل او دَ واجباتو ئے انکار کولو ، او يا اوس وائي چه دا الله فرمائي ، ياللعجب

(۱): ابواب الوتر کښې دَ مشکوٰة روايت دے او دے مقام کښې هم الحق الصريح کښې ذکر شوے دے "عن مالک بلغهٔ ان رجلا سأل ابن عمر عن الوتر اواجب هو فقال عبدالله قد اوتر" الخ ددے وضاحت کښې الحق الصريح کښې دي دَ صحابه کرامو په دور کښې دا مسئلے نه وے چه وتر واجب دي او که سنت او که فرض دي دارنګه مانځه کښې فرائض ، سنن ، مستحبات او مکروهات دي بلکه دَ نبي عليه السلام عمل ته ئے کتلے دي لیکن نن صبا مقلدين دا اعتراض کوي چه اوښائے چه په مانځه کښې سبحانک اللّٰهمّ فرض ده که واجب که مستحب يو صحيح صريح مرفوع حديث راوړئ ، مونږ وايو اول خو ته دا ثابته کړه چه دا فرض ، واجب او مستحب معلومول په دين کښې په هره مسئله کښې ضروري وي دا کوم ځائے کښې نبي عليه السلام وئيلے دي چه دا فرض دي که واجب بلکه مونږ له دا خبره کافي ده چه آيا دا الله رسول کړے دي او کنه؟ صرف علماؤ دا درجات په دے وجه معلوموي چه عوامو ته پرے فتوي ورکړي لکه ددے خبرے تفصيل بار بار مخکښې شوے دے انتهي

شیخ صاحب مونږ په رنړا کښې لیکلي وو چه زه وائم چه فرق دَ فرض او واجب باندے هیڅ دلیل په سلفو کښې نشته صفحه:٦٠ ، دوي خو لیکي چه فرائض ، سنن ، مستحابات او مکروهات ټول دَ نبي علیه السلام نه نه دي ثابت ، او مونږ په رنړا کښې : ١٨٨ باندے وعن مالک بلغه روایت په ذیل کښې لیکلي دے "في سنده انقطاع لکن له شاهدبما مر بانه لیس بحتم" او ترجمه ئے پښتو کښې دَ لیس بحتم" نه ده کړے "

او علماء یا مفتیان چه عوامو ته فتوي ورکوي دوي خو وائي څوک به دا نه وائي چه مفتیان او عالمان دَ شرع متین څه وائي مفتي به دَ نبي علیه السلام صحیح صریح مرفوع حدیث راوړي او که دَ دوي نه تپوس اوشي چه آیا سبحانک اللّٰهُمَّ یا بله ثنا مانځه کښې چا په هیره یا دَ قصده او نه وے او فاتحه خلف الامام ئے دغسے او نه وے نو مونځ کیږي یا نه؟ نو دَ ثنا او دَ فاتحه خلف الامام مینځ کښې دَ ترک مسئله کښې به ددے دور دا مجتهد فرق کوي او که نه کوي او ولے فرق کوي؟ وجه څه ده؟

او دوي لیکي : دا معلومول په دین کښې په هره مسئله کښې ضروري دي دا کوم ځائے نبي علیه السلام وئیلے دي "هره مسئله" دا خو سور دَ موجبے کلیے دے ، دوي دَ بعض مسئلو کښې دغه فرق دَ نبي علیه السلام نه فرض ، واجب ، سنت او مستحب وغیره پیش کړي دَ میخے دَ قربانۍ مسئله کښې دغسے دَ حدیث مرفوع متصل مطالبه چه احناف کوي دغه ئے مطلب دے چه صراحة دغه درجه بندي په مسائلو کښې لکه چه دعوي لري ، دَ حدیث مرفوع نه ثابت کړي ، او دَ جنازے دَ فاتحه مسئله کښې یا دَ عامو جرابو دَ مسح په صورت کښې صحیح مرفوع متصل چه هغوي ئے ډیر یادوي پیش دے کړي یا په سینه باندے لاس کیخودلو کښې صحیح مرفوع متصل روایت ، حاصل دا شوه چه سورة الفاتحه لوستل لازم او ضروري دي او دَ هغے نه بغیر مونځ نه کیږي نو دا فرضیت دَ جنازے دَ فاتحے په کوم مرفوع روایت او صراحت دَ نبي علیه السلام سره ثابت دے ،

او په باب السنن وفضائلها کښې دَ الحق الصریح کښې فائده ثانیه کښې دا ولے لیکي؟ کلام اللیل یمحوه النهار باندے عمل کوي چه فرض ، واجب ، سنت فعل ، مندوب او مستحب پیژندل او دَ هغے مستقل تعریفونه کوي که دا په قطعي دلیل ثابت وي دا فرض شو او که په ظني دلیل ثابت وي نو واجب ، او دَ الحق الصریح دے مقام کښې لیکي چه واجب دَ احنافو جوړه اصطلاح ده ، بیا تعریفونه ولے دومره په اعتماد دَ هرے اصطلاح کوي او دَ "مالک بلغه ان رجلا"تشریح الکاشف کښې علامه طیبي کوي چه دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن عمر ؓ دَ خبرے مطلب دادے "لااقطع القول بوجوبه ولا بعدم وجوبه" چې يم زه دواړه حکم نه لګوم "لاني اذا انظر الي رسول الله واصحابه رضوان الله عليهم اجمعين واظبوا عليه ذهبت الي الوجوب واذا فتشت نصا دالا عليه نكصت عنه" ددے نه معلوميږي چه په دے دَ نص دلالت کونکے تفشيش نه ورستو شه چه نص نشته،، ولے دا حکمونه لګئ، او ملاعلي قاري هم دغه دَ وترو بحث کښ ليکلے دي چه دا دَ نبي عليه السلام طريقه نه وه چه اوائي دا عمل فرض، او واجب، يا مستحب دے ليکن دا چه روستو علماء بيانوي په دے وجه چه مشهوره ده چه اختلاف امت رحمت دے دَ باب الوتر اول کښ ليکلے دي چه وترو ته ټول امت سنت وائي او امام ابوحنيفه ؒ ورته واجب وائي او بياعام امت واجب او فرض يو ګڼړي او امام ابوحنيفه ؒ ئے دَ فرضو نه لاندے ګڼړي نو په دے کښ يو خو دَ امت مخالفت دے، دوئم دا چه دا اصطلاح حادثه ده دَ صحابه کرامو او تابعينو وغيره نه دا اصطلاح نه ده نقل انتهي، حالانکه عبدالله ابن مسعود ابو عبيده بن جراح، حزيفه، سعيد بن مسيب، مجاهد او نخعي رحمهم الله چه صحابه او تابعين دي ورته واجب وئيلے دي (معارف السنن) او چه ټول امت ورته سنت وائي نو دَ ابن عمر قول ولے نقل شو چه ابن عمر ورته نه واجب او نه غير واجب وائي سنت خو غير واجب کښ راځي،

دلته الحق الصريح کښ دي : احناف چه واجب مني (لکه خپله ئے هم مني تعريف ئے مستقل کړے دے په فرق دَ فرض سره) نو صرف عملا او عقيده دَ قطعيت او دَ وجوب پرے نه لري بلکه ظني ئے شماري ليکن راجحه داده چه لکه څنګه چه عمل په دے سره واجب ګڼړي نو عقيده هم دَ وجوب پرے پکار ده ځکه چه ظني دليل باندے ظني عمل ثابتيږي ځکه چه عمل دَ عقيدے مطابق کولے شي انتهي او په بسم الله عقيده دَ وجوب ضروري ده ليکن عمل پرے مستحب دے،

په دے مسئله کښ دَ محققينو تصريحات

علامه ابن تيميه ؒ مجموع فتاوي :۱۱ "ب" صفحه:۱۳۸ باندے ليکلے دي ان الاحكام الخمسة الايجاب والاستحباب والتحليل والكراهية والتحريم لا يؤخذ الا عن رسول الله صلي الله عليه وسلم"

او صاحب الحکمت ئے حکمت القرآن کښ دَ الله نه دغه درجه بندي ثابتوي او صاحب الحق الصريح ئے دلته دَ پيغمبر عليه السلامه نه او شيخ ئے دَ سلفو نه هم نه مني،

او مجموع فتاوي :٩ : ١٠ باندے ليکي : والتحقيق ان منه (من التشريع) ما هو محرم ومنه ماهو مكروه ومنه ما هو مباح ومنه ما هو مستحب وقد يكون منه ما هو واجب" کتاب ارشاد الفحول الي تحقيق الحق من علم الاصول: ٢٦٤ باندے قاضي شوکاني ليکلے دي "الاحكام الشرعية الى خمسة اقسام الاول الوجوب كقضاء الدين والثاني التحريم كالظلم والثالث الندب كالإحسان والرابع الكراهة كسوء الاخلاق والخامس الاباحة كتصرف المالك في ملكه"امام نووي مجموع شرح مهذب :١: ٧٧ باندے ليکي : "ان أقسام الحكم الشرعي خمسة الوجوب والندب والتحريم والكراهة والاباحة: وينقسم باعتبار آخر إلى صحيح وفاسد: فالواجب ما يذم تاركه شرعا على بعض الوجوه احترازا من الواجب الموسع والمخير
* وقيل ما يستحق العقاب تاركه"

دَ شاه ولي الله تحقيق

حجة الله البالغه کښې باب انشقاق التكليف من التقدير صفحه:٢٣ باندے ليکي "وتقسمها الي الاقسام الخمسة من الواجب والمندوب اليه والمباح والمكروه والحرام" شاه صاحب هم دغه تقسيم مني او هيڅ قسم رد په دے نه کوي ،

وما كل عين بالجمال قريرة :: ولا كل من يهدي تجلي له السير

الحق الصريح کښې دي کله دَ نبي صلي الله عليه وسلم په طريقه باندے اعمال کوي او په تركت فيكم امرين باندے عمل کوي او په مانځه کښې په "صلوا كما رأيتموني اصلي"باندے عمل کوي هاؤ دَ فرض او واجب او سنت معلومول ورله بهتر دي ،

"دَ تركت فيكم امرين " چه کوم دَ مؤطا دَ امام مالک روايت دے مخکښې په دغه طريقه بحث شوے دے چي دا معضل روايت دے او هر چه دَ "صلواكما رأيتموني" روايت دے ليکن بخاري کښې چه کوم ځائے دا دَ ايوب روايت کښې دا جمله ده په هغے کښې دَ رفع اليدين ذکر نشته غير مقلدين چه ځان ته وائي ددے ځائے نه دَ حديث دا ټکړا راوچته کړي دَ خالد دَ رفع اليدين روايت سره ئے ذکرکوي ، هسے نه چه دا "يحرفون الكلم عن مواضعه" کښې راشي نبي عليه السلام په مانځه چه څنګه سيدنا عبدالله بن عمر چه دَ عمر په اعتبار سره تولو نه وروکے وو ليدلے دے دغسے سيدنا عبدالله بن مسعود چه دَ نبي عليه السلام خادم وو او په حضر،سفر کښې به ورسره وو هغوي هم نبي عليه السلام په مانځه ليدلے دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تحقيق

الحق الصريح كښې دي په دے تحقيق دَ مقلدينو دا اعتراض ختم شو چه اهل حديثو ته وائي چه تاسو هر شي په قرآن وسنت ثابتوئ نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم كوم ځائے فرمائيلے دي چه مانځه كښې الله اكبرفرض دے مونږ وايو چه ددے پيژندل څه فرض هم نه دي الخ ليكن اعتراض چرته ختميږي عامو اهل حديثو باندے اعتراض ختم شو هغوي دے دَ خپلو جديد مجتهدينو تقليد كوي ليكن مفتيانو باندے اعتراض ځكه نه دے ختم چه ليكلے دي چه صرف مفتيانو علماؤ له پكار دي ، نو سوال دَ مفتي عالم بلكه صاحب الحق الصريح غوندے مجتهد نه دے چه هغه نه دے ختم ، او چه امر كله وجوب له وي چه كله قرينه صارفه نه وي او وجوب پكښې درجه بندئ كښې نشته نو دا وئيل آيا څه دَ فرض غوندے قطعي درجه كښې دي؟ اعتراض ئے دا نقل كړے دے چه كوم ځائے نبي عليه السلام فرمائيلے وي چه مانځه كښې الله اكبر فرض دے نو چه دغه مجتهد او مفتي دغه دَ فرض ثابتول دَ نبي صلي الله عليه وسلم نه يو فرض پاتے شو او چه فرض ، واجب يو شو نو دَ نبي صلي الله عليه وسلم نه دَ وجوب اثبات بيا مشكل امر دے ،

الفصل الاول

(١):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ»

ترجمه : ابو هريره ؓ فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي كله چه پاسي په تاسو كښې يو تن دَ خوب خپل نه نو نه دے دننه كوي لاس خپل په لوښي كښې تر دے چه درے ځله ئے اوينځي ځكه دۀ ته پته نشته چه كوم ځائے شپه تيره كړے ده لاس دده،

تشريح : المفاتيح كښې دي فلا يغمسن دا نهي تنزيهي ده كه لاس ئے لوخي كښې دننه كړو او دَ نجاست يقين ئے نه وو اوبه نه پليتيږي بخاري اومسلم كښې لايغمسن دے نون تاكيد نشته او مسند بزار كښې دَ هشام بن حسان روايت كښې فلايغمسن راغلے دے علماء ليكي كه پرتوګ ئے اغوستلے وي يا بلاد

حاره نه وي او دَ ابو استنجاء كولو نه پس اوده شوے وي نو دَ لاسونو وينځلو ضرورت ځکه نشته چه علت نه دے موجود او که يقين وي چه لاس پليت دي اوبو کښې دننه باسل بيا ناجائز دي او که دَ پاکئ يقين وي وينځل ضروري نه دي ليکن خلاف اولي دي چه کله په اوبو دَدهٔ استنجاء نه وي، ليکن فقهاء فرمائي : چه روايت مطلقا راغلے دے هر صورت کښې لاس وينځل مستحب دي اګر چه په اوبو دے استنجاء کړي وي،

فتح القدير کښې دي "وَقِيلَ بِأَنَّهُ سُنَّةٌ مُطْلَقًا لِلْمُسْتَيْقِظِ وَغَيْرِهِ فِي ابْتِدَاءِ الْوُضُوءِ ، وَهُوَ الْأَوْلَى ؛ لِأَنَّ مَنْ حَكَى وُضُوءَهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ قَدَّمَهُ ، وَإِنَّمَا يَحْكِي مَا كَانَ دَأْبُهُ وَعَادَتُهُ لَا خُصُوصَ وُضُوئِهِ الَّذِي هُوَ عَنْ نَوْمٍ ، بَلْ الظَّاهِرُ أَنَّ اطِّلَاعَهُمْ عَلَى وُضُوئِهِ عَنْ غَيْرِ النَّوْمِ ، نَعَمْ مَعَ الِاسْتِيقَاظِ وَتَوَهُّمِ النَّجَاسَةِ السُّنَّةُ آكَدُ" يعني دَ راويخيدو او دَ نجاست دَ وجے په دغه سنت طريقه کښې نور تاکيد راځي او چه کله دَ احتمال دَ وجے دَ ناپاکئ حکم راځي نو دَ حقيقة نجاست لګيدو په وخت کښې دَ لاس وينځل بيا فرض دي،او درمختار کښې دي چه دَ خوب دَ بيدارئ قيد اتفاقي دے ، او صاحب دَ هدايه وغيره دا حديث دَ اوداسه نه مخکښې لاس وينځلو لره دليل جوړوي ، ليکن معارف ترمذي کښې دي چه دا دليل دَ دعوي سره مطابق نه دے ځکه چه دَ اوبو آداب بيانوي نه دَ اودس ليکن چه حکم عام دے نو دواړه خبرے ترے ثابتيدے شي ، دَ اودس نه مخکښې لاس وينځل ددے عمومي حکم دَ لاندے راتلے شي او علامه شامي دَ اودس په اول کښې لاس وينځلو باره کښې درے اقوال ذکر کړے دي

(۱): دَ اودس په ابتداء کښې لاس وينځل سنت دي

(۲): سنت دے مګر دَ فرض قائم مقائم دے چه په دے فرض ادا کيدے شي دا دَ ابن همام قول دے لکه فاتحه واجب ده مګر په دے فرض آدا کيږي ځکه چه مطلق قراءت فرض دے واختاره في الکافي

(۳): او سرخسي وائي چه سنت دي دَ فرض قائم مقام نشي جوړيدے دوباره وينځل ضروري دي دا شمس الائمه وائي علامه شامي وائي چه دَ شمس الائمه مطلب دادے چه دوئم ځل پرے وينځل لازم نه دي او دَ فرض ثواب به هله ورکوي چه دوباره ئے وينځي کني دَ فرض ثواب نه ورکوي بلکه دَ سنت په نيت دَ هغے وينځلو ثواب به ورکوي ددهٔ نيت دَ لاس وينځلو وخت کښې سنت وو او دَ فرض دَ آدا کولو نه ووچه نيت ئے نه وو نو دَ فرض ثواب به ورله نشکه ورکوي ، تيسير الکلام شرح عمدة الاحکام کښې دي چه کوم ځائے لاس وينځل مشروع دي دَ علماؤ اختلاف دے دَ امام شافعي او دَ جمهورو مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com

دادي چه "من نومه" مطلقا راغلے دے که دَ ورځے خوب وي او که دَ شپے دغه حکم ئے دے او امام احمد ، داؤد ظاهري دا دَ شپے خوب سره خاص کوي او وائي چه دلته "بيتوتت" راغلے دے دا دَ شپے خوب سره خاص وي ، او دَ ابن ماجه او ترمذي روايت کښ "اذا استيقظ احدكم من الليل " دَ شپے قيد پکښ راغلے دے، ليکن شرح مهذب کښ دَ داؤد ظاهري دا قول ذکرکړے دے چه دَ شپے خوب کښ به چه لاس غوپه کوي حرام دي او دَ ورځے هغے کښ کراهت تنزيهي ، او امام احمد مشهور مذهب دَ وجوب دے او ظاهر حديث په دے دلالت کوي او جمهور دے وينځلو له دَ مستحب درجه ورکوي او دَ امام احمد روايت دے او اکثر خوب دَ شپے وي ځکه شپه ذکر کوي التعليق الصبيح کښ علامه کاندهلوي دَ شرح السنه په حواله ليکلے دي چه په يو وهمي امر پيغمبر عليه السلام دَ لاسونو وينځل معلق کړے دي او چه په موهوم کوم امر معلق وي واجب نه جوړيږي ځکه ډيرو علماؤ دا حديث په احتياط حمل کړے دے ليکن حسن بصري او امام احمد دَ يو روايت بناء باندے په ظاهر دا حکم دَ وينځلو واجب کوي که بے دَ وينځلو ئے لاس غوپه کړو نو اوبو ته دوي پليتے وائي ، او لمعات کښ دي چه دَ عربو په زمکه کښ اوبه کمے وي نو اکثرو حجازيانو به دغه وخت په کټو استنجاء کوله ، په خوب کښ به دَ استنجاء ځائے کله خوَلَه شو او که به ئے خاص دغه ځائے ته لاس اورسيدو ورته حکم اوشو چه دَ لاس دننه کولو نه مخکښ درے ځله ئے اوينځئ کيدے شي چه نجاست لګيدلے وي دا دَ ندب امر دے او دَ عباداتو په امر کښ احتياط دے او واجب هم ځکه نه دے چه موهوم يا مظنون امر دَ حکم بناء راغلے ده او دَ "في الاناء" نه مراد دَ اوبو لوښے او هر مائع دے او لوښي کښ اوبه کمے وي ، او ثلاثا صرف مسلم کښ دي او روايت متفق عليه په اعتبار دَ اکثر سره دے او چه کوم نجاست په نظر نه راځي هغه ئے په درے ځله مقيد کړے دے ، کتاب المجموع کښ علامه نووي ليکلے دي: که دَ لاس پاکولے يقيني وو نو صحيح وجه داده چه ددۀ خوښه ده که لاس وينځي يا ئے په لوښي کښ ګدي او که اول لوښي کښ لاس ګدي او روستو ئے اوينځي ځکه دَ شک په صورت کښ کومه يره دَ نجاست وه هغه نشته او دا بغوي ، جرجاني ، ابن الصاغ وغيره هم وائي ليکن درئم قول دادے چه لاس وينځل ځکه مستحب دي چه ډير خلقو دَ نجاست اسباب کله پټ پاتے شي او دَ پليتئ صورت کښ وهم دَ پاکوالي اوکړي او کله دَ دوي دغه پليتي هيره شي او دغه وجه ماوردي او امام الحرمين غوره ګنړي او بعض شوافع دا ذکر کوي که اوبه يو غټ لګن او يا غټ بالتي کښ وي او دَ

هغے راکوزول په لاس نه شي کيدے او وړوکے لوښے نه وي نو دَ پاکے کپړے په پليسکي اوبه راواخلي او لاس دے اوينځي ، دا حديث دليل دے که لړے اوبو باندے نجاست اوغورزيګي اګر چه اوبو کښې بدلوالے نه وي راغلے بيا هم پليتے دي او دَ سپي دَ شونډو دننه کولو دَ وجے هم کفايت په درے کرته راځي او دلته لا يدري اين باتت يده دَ ذکر نه معلومه شوه چه مستحب دي چه په داسے مقاماتو کښې دَ کناياتو الفاظ مستعمل شي ، او دَ لا يدري اين باتت يده نه معلومه شوه چه صحابه اولياء دي او ژوندي چه کله وو په خوب کښې دَ خپل لاس نه نۀ خبريږي چه کوم ځائے دا لاس لګيدلے دے ، تهذيب السنة کښې دَ بستان المحدثين نه واقعه نقل کړے ده چه چا "انا ادري" وئيلے وو چه زما خوب مستغرق نه دے ، صباځي چه پاسيدو لاس ئے دبر کښې تر مړونده دننه کړے وو "عقوبة من خالف السنة قصدا" ورته ښکاره شوه شيخ الهند تقرير ترمذي کښې ليکلے دي چه اشارة معلومه شوه که لږ نجاست هم په لږو اوبو کښې اوغورزيدو پليتيږي کني څه وجه ده چه ورته حکم کيږي چه لوښي کښې لاس داخلول منع دي او علامه ابن القيم تهذيب السنن کښې ليکلے دي چه خوب کښې لاس سره شيطان لګيدلے دے نو ځکښې وينځل دَ مفتي خبره نه ده بلکه دا دَ روحاني پاکوالي حکم حسابيږي ليکن دَ شاه انورالعرف الشذي کښې دي : چه دا محض احتمال دے او شيطان لاس نه اچوي حديث کښې خرتم راځي لکه راتلونکي روايت کښې دي او دَ ويخيدو نه روستو دَ لاس وينځلو حکم ځکه دے چه احتمال دَ استثناء شته کيدے شي چه لاس ورته اوسي او دَ مزئ دَ وتلو دَ بعض نه احتمال کيدے شي او چه مزي په لاس اولګي نو وينځل پکار دي ځکه چه لاس ئے پليت شو نو کمزورے احتمال خو راغے او مالکيه وائي چه لږے اوبه هم تر هغے نه پليتيږي چه رنګ ، بوئي ، او مزه ئے بدله نشي دي دغه علت نه مني بلکه وائي چه دا ئے په نظافت باندے بناء دے ،

بحرالرائق کښې دي : که نجاست يقيني وي لاس وينځل واجب دي او دَ اودس په ابتداء کښې سنت دي او په توهم دَ نجاست کښې لکه دلته سنت مؤکده دي معارف کښې دي چه دا تفصيل غوره دے او دَ حديث مدار دَ خوب نه په راويخيدلو نه دے زمونږ په نزد مفهوم مخالف داسے معتبر نه دے چه حجة شرعيه جوړ شي ليکن نکته پکښې وي لکه دَ بلغاؤ کلام کښې دَ نکتے دَ بيان دپاره راځي دَ احنافو په نزد غوره ده چه که په ګټو چا استنجاء اوکړه بيا ئے لاس اوبو کښې دننه باسو اوبه نه فاسيديږي ، امام نووي شرح مسلم کښې :۱۳۶ باندے مسئله ذکرکړے ده چه دَ ګټو په استنجاء پوره من کل الوجوه پاکي نه راځي

Maktaba Tul Ishaat.com

ليکن دغه هومره دَ مانځه په حق کښې معاف دے او داسے علامه طيبي شافعي هم په الکاشف کښې ليکلے دي ، حاصل دا چه امام ابوحينفهؒ دَ لاس وينځلو حکم استحبابي کنړي واجب ئے نه کنړي چه پريځودونکے به ئے آثم وي ، او النکت الطريفه: ص:۱۱۷ باندے سعيد بن منصور دَ سنن په تخريج سره روايت ذکرکړے دے چه سيدنا ابن عمر خپل لاس دَ وينځلو نه مخکښې لوخي کښې دننه کړے وو داسے دَ براء عمل هم وو او دَ امام شعبي قول دے "کان اصحاب رسول الله صلي الله عليه وسلم يدخلون ايديهم الماء قبل ان يغسلوها" چه دا دَ عامو صحابؤ معمول وو او دا هغه وخت کښې چه په لاس باندے يقيني او يا مظنون نجاست نه وي او که وي بيا به لاس وينځي که ويخ وي يا بيدار ،

دَ يو نحوي سوال : اين باتت يده : جمله استفهاميه ده صدارت دَ کلام غواړي او دلته نشته څکه چه دا په ترکيب کښې مفعول به واقع دے ،

جواب به دا وي چه لفظ دَ "اين" دَ مطلق ظرف په معني کښې دے ليکن دَ استفهام نه خالي استعمال شوے دے يعني اوده ته پته نشته دَ بدن دَ هغې حصے او ځائے چه لاس ئے چرته شپه تيره کړے ده ګويا "اين" دَ موضع په معني کښې دے ،

او دوئم جواب دادے چه دلته سوال نه دے بلکه حکايت دَ سوال نه دے که دغه کس چه بيدار شو نپوس که اوشي چه لاس دے کوم ځائے شپه تيره کړے ده جواب به اونه کړے شي دَ عبارت تقدير دے "فانه لايدري" جواب "اين باتت يده"،

دَ صاحب الحق الصريح دَ احنافو ترديد

دَ احنافو دا مذهب دے چه شريعت قدرالدرهم نجاست په مقدار معاف کړے دے نو دَ دوي په نزد په کومه جامه وغيره چه قدر الدرهم نجاست پريوځي او ورته ياد هم وي نو مونځ ورسره کيږي او دا ئے قياس کړے دے په نجاست في المقعد باندے نو ددے نه ئے قاعده کليه جوړه کړے ده نو دا مذهب هم خطا شو انتهي ، په دے مسئله کښې دَ امام شافعي نه دوه روايته دي : بالکل معاف نه دے دوئم دَ کف نه حکم معاف دے او هغه دَ امام احمد مذهب هم دے او دَ مالکيه دوه روايته دي يو مادون الدرهم ، دوئم دَ احنافو غونډے قدرالدرهم روايت دے کذا في هامش الکوکب ، علامه کاساني بدائع الصنائع کښې ص:۸۰ باندے ليکلے دي چه دَ درهم او دَ کف پلنوالے برابر دے او دا دَ سيدنا عمرؓ دَ روايت سره برابر دے چه دا دَ نجاست دَ نوک په مقدار دے او دا ئے دَ مانځه دَ جواز نه مانع نه دے ګرځولے او دَ هغوي نوک

تقریبا زمونږ دَ ورغوي په اندازه وو معلومه شوه چهٔ قدرالدرهم معاف دے او زمونږ دين کښې وسعت دے او فقهاء درهم دَ قليل او کثير مينځ کښې حد فاصل گرځوي او علامه عيني دَ احکامو دَ استنباط په ذيل کښې ليکلے دي "لما ذکره صاحب الاسرار عن علي وابن مسعود انهما قدرا النجاسة بالدرهم وکفي بهما حجة في الاقتداء وروي عن عمر رضي الله عنه ايضا انه قدره يظفره وفي المحيط وقال ظفره قريب من کفنا قدر علي ما ان دون الدرهم لا يمنع الخ

او دارقطني :۲: ۲۵۷ کښې روايت موجود دے "حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ زِيَادٍ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ بُهْلُولٍ حَدَّثَنَا أَسَدُ بْنُ عَمْرٍو عَنْ غُطَيْفٍ الطَّائِفِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ إِذَا كَانَ فِي الثَّوْبِ قَدْرُ الدِّرْهَمِ مِنَ الدَّمِ غُسِلَ الثَّوْبُ وَأُعِيدَتِ الصَّلاَةُ"

ليکن دا روايت لسان الميزان: ۴۴۲۰ کښې دي چه روح بن غطيف متروک دے او په دے راوي باندے کافي کلام دے والله اعلم ،

مجموع رسائل دَ ملاعلي قاري :۹: ۱۹۴ باندے الرساله(۸۲) باندے دي : ان النجاسة اما مغلظة فقدرالدرهم معفو عنها وهو مروي عن عمر و علي و ابن مسعود رضي الله عنهم ووجهه ان القليل عفو اجماعا لأن عمت بليتة سقطت قضيته فقدرناه بالدرهم لأن محل الأستنجاء مقدر به وقد اجمعنا علي ان الاستنجاء بنحو الحجر لا يستأسل النجاسة بالکلية" او دَ ابراهيم نخعي قول دے چه دَ مقعد ذکر مجلس کښې قبيح دے نو دا دَ درهم نه کنايه ده او دوي دَ درهم مقدار باندے دَ جواز قول کړے دے او شعبي وائي چه څو پورے دَ درهم نه زيات نه وي مونځ نه منع کوي ،گويا دادهٔ صحابؤ او دَ تابعينو نه ثابته ده،

(۲):وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَااسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامه فليستنثر ثَلَاثًا فَإِن الشَّيْطَان يبيت على خيشومه"

ترجمه : نبي عليه السلام فرمائي څوک چه تاسو کښې دَ خپل خوب نه بيدار شي او اودس کوي نو درے ځله دے پوزه سونړ کړي ځکه چه شيطان ئے دَ پوزے په تِندوړي کښې شپه تيروي "

تشريح : دَ فقه په کتابونو کښې استنشاق لفظ راځي چه دا جذب الماء بالمنخرين ته وائي ، او چه په سيبمه چه اوبه کله راخکے نو بيا به ئے لر کوے دغه استنشار او څونړکول دي ، دَ استنشاق خپله معني

Maktaba Tul Ishaat.com

پوزے ته اوبه راخكل او استنشار دَ پوزے نه اوبه سونړول ، علامه طيبي الكاشف كښې ليكلے دي چه قاضي عياض فرمائي چه دوه احتماله دي

(۱): حقيقة شپه دلته شيطان تيروي ځكه چه پوزه هغه منفذ دے چه زړه ته ددے لار تلے ده او حديث كښې دي "ان الشيطان لا يفتح غلقا" ځكه دَ شيطان ځلے ته دَ داخليدلو دَ وجے باسئ كولو وخت كښې دَ ځلے دَ پټ والي حكم ذے او اشعه كښې دي په حقيقت حمل كول اسلم او احكم دي ،

فائده : الحق الصريح كښې دي په حديث كښې دَ تثاؤب يعني اسويلي په وخت كښې دَ ځلے په پټولو باندے امر راغلے دے انتهي ،

او نيل المرام كښې مولانا نورستاني :ص: ۱۹۳ باندے ليكي : تثاؤب اسويلي ته وائي ليكن اسويلي او باسئ كښې زمونږ دلته دَ پښتو په اصطلاح كښې دَ زمكے او دَ اسمان نه زيات فرق موجود دے ، كه دَ كونړ او نورستان اصطلاح كښې يو وي "لامشاحة في الاصطلاح" ليكن عربيت كښې ددے دواړو جدا جدا الفاظ دي،

او قاضي عياض دوئم احتمال ليكي : چه دا استعاره ده دَ غبار او رطوبت دلته چه جمع كيږي دے سره كندګي پيدا كيږي دا دَ شيطان سره موافقت لري شيطان ډاكو دے زړه ته دَ الله دَ معرفت لاره بندول غواړي شيطان او نفس اماره عام انسانان دَ كاره اوباسي او دَ خيشوم نه علاوه په اډه دا بدمعاش قبضه كول غواړي خيشوم دَ پوزے هغه بره حصه ده چه دَ بطن مقدم سره جختته ده دَ هغے دماغ سره چه دَ حس مشترك ځائے او دَ خيال مستقر دے چه اوده شي اخلاط پكښې راجمع شي او كنړ پكښې اوچ شي ، حس دروند او فكر مشوش شي ، پراګنده خوبونه ويني او شاه ولي الله حجة الله كښې اسرار او رموز ذكر كوي نو دا عقلي توجيه ئے :۱: ۱۷۵ باندے ليكلے ده، ليكن علامه توربشتي فرمائي دا خو هسے احتمالي طريقه ده دَ پيغمبر كلمات خو دَ ربوبيت دَ رازونو خزانه ده ، ددے حقائقو ته رسيدل حقيقة ګران وي ، المجموع كښې:۱۹۸ باندے نووي ليكلے دي چه پوزه كښې دِ ګوته اوهي چه پوزه كښې كوم اذي موجود وي چه هغه لرے كړي ،

المفاتيح كښې دي : چه انسان كله اوده شي شيطان په دے پوهه دے چه اوس دَۀ ته وسوسه ممكنه نه ده ځكه دے حالت كښې مكلف هم نه دے نو شيطان ئے دَ پوزے تندوري ته ورننوځي كله ورله خوب كښې شيطان راشي او دَ غير شرعي څيز امر ورته كوي او يا ئے دَ شرعي امر نه بندوي او ددے دَ رفع

طريقه اودس ، ذکر او دَ قرآن تلاوت دے دَ الله نوم په اغستلو سره شیطان تختي ، لمعات کښې دي حکم
حديث کښې راځي چه کوم کور دَ الله په نوم بند نه کړي شي او دَ الله نوم پکښې نشي اغستلے شيطان
پکښې شپه تیروي ،

واضحه دے وي : چه استنشار دَ امام احمد او اسحاق بن راهويه په نزد واجب دے او جمهور ورته
مستحب وائي ،

(۳):وَقيل لعبد الله بن زيد: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ؟ فَدَعَا بِوَضُوءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ ردهما حَتَّى يرجع إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ وَلِأَبِي دَاوُدَ نَحْوُهُ ذكره صَاحب الْجَامِع وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ: قِيلَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ: تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِإِنَاءٍ فَأَكْفَأَ مِنْهُ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ ،فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ فَأَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَأَدْبَرَ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا كَانَ وُضُوءُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ،وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ ثُمَّ غَسَلَ رجلَيْهِ، وَفِي رِوَايَةٍ: فَمَضْمض واستنشق واستنثر ثَلَاثًا بِثَلَاث غَرَفَاتٍ مِنْ مَاءٍ، وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفَّةٍ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثًا، وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: فَمَسَحَ رَأْسَهُ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ مَرَّةً وَاحِدَةً ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، وَفِي أُخْرَى لَهُ: فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثَ مَرَّات من غرفَة وَاحِدَة"

ترجمه : عبدالله بن زيد ته اوئیلے شو نبي علیه السلام نه تپوس اوشو چه نبي علیه السلام به څنګه
اودس کولو نو اوبه ئے راوغوختے نو هغه ئے راواچولے په دواړو لاسو باندے نو هغه ئے دوه دوه ځله

Maktaba Tul Ishaat.com

اوينځل او بيا ئے ځله ته اوبه واچولے او بيا ئے پوزه کښې واچولے درے کرته او بيا ئے مخ اوينځو درے کرته بيا ئے دواړه لاسونو اوينځل تر څنګلو پورے بيا ئے مسح اوکړه په لاسونو خپلو په دے طريقه چه دواړه لاسونو ئے دَ مخے طرف نه بوتلل دَروستو طرف ته او بيا ئے دَروستو نه مخے طرف ته راوستل بيا ئے هغه ځائے ته راواپس کړل کوم ځائے نه ئے چه شروع کړے وه بيا ئے دواړه خپے اوينځلے ،

او صحيحينو کښې دا روايت داسے دے عبدالله بن عاصم ته اوئيلے شو مونږ ته اودس اوکړه ، اودس دَ نبي عليه السلام ، نو دَ اوبو لوخے ئے راوغوښتو نو په دواړو لاسو ئے اوبه راواړولے نو درے ځله ئے اوينځل بيا ئے لاس وردننه کړو نو اوبه ئے ترے راويستلے نو مضمضه ئے اوکړه او استنشاق ئے اوکړو دَ يو ورغوي نه او داسے ئے درے ځله اوکړل بيا لاس وردننه کړو اوبه ئے راويستلے مخ ئے پرے اوينځلو درے کرته بيا ئے لاس ورننه کړو اوبه ئے راويستلے نو لاس ئے پرے اوينځل تر څنګلو پورے دوه دوه کرته بيا ئے لاس وردننه کړو اوبه ئے راويستلے نو مسح ئے اوکړه په سر خپل دَ مخے طرف نه روستو طرف ته او دَ روستو نه مخے طرف ته بيا ئے خپے اوينځلے تر ګيټو پورے بيا ئے اوفرمائيل داسے دَ نبي عليه السلام اودس وو ،

او په يو روايت کښې دي : چه دواړه لاسونه دَ مخے نه روستو طرف ته او دَ روستو نه مخے طرف ته بوتلل دَ سر دَ ابتداء نه روستو طرف ته او بيا ئے دواړه هغه ځائے ته راواپس کړل ،

او يو بل روايت کښې راځي : مضمضه ئے اوکړله او استنشاق ئے اوکړو او پوزه ئے څونډ کړله درے ځله په دريو لپو سره ، او يو ځائے راځي مضمضه ئے اوکړله او استنشاق ئے اوکړو دَ يو ورغوي نه او داسے ئے درے کرته اوکړل ،

او دَ بخاري په يو روايت کښې راځي مسح ئے اوکړه په سر خپل باندے دَ سر دَ ابتداء نه شروع اوکړله رستو طرف ته ئے بوتلل يو کرة بيا ئے اوينځلے خپے خپلے تر ګيټو او يو ځائے راځي : مضمضه ئے اوکړله او پوزه ئے څونډ کړله درے کرته دَ يوے لپے نه ،

تشريح : دَ عمروبن يحيي نيکه دَ عبدالله بن زيد نه تپوس اوکړو دَ نيکه رور او دَ پلار تره هم نيکه حسابيږي ځکه "هو جد عمروبن يحيي" هم راغلے دے کني حقيقي نيکه ئے عماره بن ابي حسن دے او دَ نسب سلسله داسے ده عمروبن يحيي بن عماره بن ابي الحسن ، او دغه سرے عمروبن ابي الحسن دے چه هغه دَ عماره بن ابي الحسن رور دے ،

اشعه کښې دي عبدالله غټ صحابي وو په باب دَ اودس کښې دَ دوي حديث حجت دےدَ وحشي بن حرب ملګرتيا کښې په شريکه مسيلمه کذاب مردار کړے وو ، يوم الجرة کښې په ٦٣ هـ کښې وفات دے، دے صاحب الوضوء دے او بل عبدالله بن زيد بن عبدالله صاحب الاذان دے ،

مرقات کښې دي : چه احد ته تلے وو بدر کښې نه وو حاضر" او په تهذيب کښې دي چه وحشي مسيلمه په نيزه اويشتلو او دوي په توره مړ کړو ،

په اوداسه کښې دَ چا نه مدد طلب کول

درے صورتونه دي : (١): دومره مدد چه درله دَ اودس اوبه راوړي دا دَ جمهورو په نزد بالاتفاق جائز دي،

(٢): بل کس اندامونو باندے اوبه اوچوي او اندامونه اودس کونکے کس پخپله مکي او لاس پرے وهي که عذر وي نو دا صورت بالاتفاق جائز دے او که بغير دَ عذر نه دَ خپل شيخ ، پلار او معلم دَ خدمت او دَ ادب په خاطر دغه خدمت کوي غوره نه دي ليکن جائز دي امام بخاري صحيح کښې باب الرجل يوضي صاحبه ، دَ لاندے دَ سيدنا اسامه خپله واقعه ذکر کړے ده، قال اسامة فجعلت اصبت عليه ويتوضأ" ما ورته اوبه اچولے او هغوي اودس کولو عام حالاتو کښې خلاف اولي به وي ليکن دَ نبي عليه السلام خدمت عين سعادت او داسے عظيم سعادت دے چه خلاف اولي ورته نشي وئيلے کيدے،

امام نسائي کتاب الطهارت کښې باب تړلے دے "باب صب الخادم الماء علي الرجل الوضوء" روايت نمبر:٧٨

(٣): په اندامونو اوبه اچوي او اندامونه ورله وينځي اودس کونکي ته هيڅ عذر نشته دے صرف نندارہ کوي دا مکروه دي دَ مشکوة ددے روايت نه معلوميږي فدعي بوضوء چه چا ته دَ اوبو وئيل چه اودس له راوړي جائز دي ، مجمع الزوائد قديم: ١: ٩٢ کښې باب تړلے دے "باب الاستعانة علي الوضوء" او دَ عبدالله بن عباس نه صحيح روايت سره ثابت دي چه سيدنا عمر ته ئے اوبه اچولے دي او کوم روايت کښې چه دَ ابن عمر نه منع راغلے ده په هغے کښې ايقع راوي مجهول دے امام مجاهد به ابن عمر ته دَ خپو وينځلو وخت کښې اوبه اوچولے او دا استعانت سفر او حضر دواړو کښې صحيح دے ابن ماجه کښې په صحيح سند دَ ابن حبان په شرط روايت دے "صبت علي النبي صلي الله عليه وسلم الماء في

Maktaba Tul Ishaat.com

السفر والحضر في الوضوء" ابن ماجه في الطهارة وسننها کښې ددے تخریج کړے دے او دَ "انا لا نستعين علي الوضوء" باره کښې نووي ليکلے دي چه دا حدیث باطل دے عمدة القاري: ٢: ٥١٧ ليکن دا یقیني دي چه خپله بغیر دَ چا دَ استعانت نه اودس کول غوره دي بلکه علامه ابن الهمام شیخ کمال الدين دَ آدابو په ذیل کښې ليکلے دي چه ځانله دے خپله اوبه راوړي او دَ بل مانځه دپاره دے لوټه ډکه کړي ، تبين الحقائق مع حاشيه الامام الشيخ الشبلي مطبوعه مرکز اهل السنة گجرات هند صفحه:٤٤ ، امام بخاري باب تړلے دے ، باب الرجل يؤضي صاحبه فدعي بوضوء" نبي صلي الله عليه وسلم اوبه راوغوښتلے صحابؤ له ئے تعليم دَ اودس عملا دَ پریکټیکل په شکل کښې خودل غوښتل،

فافرغ علي يديه فغسل يديه مرتين مرتين: دَ اودس کيفيت ټول په ټوله يو حديث کښې نه دے ذکر شوے په نورو آحاديثو کښې شته ، او دلته دَ بسم الله ذکر نشته ځکه چه بسم الله وئيل سنت مؤکده نه دي علامه عيني عمدة القاري : کښې دَ امام مالک دا قول نقل کړے دے چه اودس کښې بسم الله بدعت دے او ابن عربي دَ ترمذي شرح کښې ليکلے دي چه دَ امام مالک نه چا تپوس ددے مسئلے اوکړو اوے فرمائيل : اترید ان تذبح " ولے حلاله کول غواړي او دَ امام مالک استاد ربيعه بن عبدالرحمن فرمائي : چه په کومو احاديثو کښې بسم الله ذکر شوے دے سنت ترے مراد دے ليکن صحيح قول دادے چه بسم الله وئيل ثابت دي ليکن واجب يا سنت موکده نه دي په دے وجه امام ترمذي باب التسميه عندالوضوء تړلے دے ،او دَ نسائي روايت کښې يفرغ علي يديه ثلاثا ثم يغسل فرجه ثم يغسل يديه" فقه السنه کښې سيد سابق :٤٢ باندے ليکلے دي په بسم الله کښې ضعيف آحاديث دي مجموعه کښې دومره قوت دے چه ددے دلالت کوي چه ددے اصل شته مشروع في الجمله او دَ ذات په اعتبار سره امر حسن دے ،

فغسل يديه مرتين مرتين : امام بخاري صحيح کښې او ترمذي ، ابوداود دَ يو يو دوه دوه او درے درے وينځلو دپاره درے ابواب مسلسل قائم کړے دي فرض يو ځل اندام وينځل دي او دوه ځله جائز دي او سنت درے ځله وينځل دي امام ترمذي فرمائي : "وافضله ثلاث وليس بعده شيئ" او داسے هم نبي عليه السلام کړے دي چه بعض اندامونه ئے دوه ځله او بعض اندامونه ئے درے ځله وينځلے دي مثلا مخ درے ځله او لاسونه تر څنګلو دوه ځله ليکن عام معمول ئے درے درے ځله وينځل وو او کم

ئے بیان جواز یا دَ اوبو دَ کمي په وجه کړے دي لکه مصنف ابن ابي شیبه کښ دي چه مخ ئے درے ار لاسونه ئے او خپے ئے دوه دوه ځله وینځلے دي ، (۱: ۲۵۷)

او علامه طیبي فرمائي : چه دا دَ امت دَ تعلیم او دَ جواز دپاره وو او ددے دوه مطلبه دي (۱): ټول اودس ئے کله یو یو ځل او دوه دوه یا درے درے کرته کړے دے

(۲): یو اودس کښ بعض اندامونه ذوه دوه او بعض درے درے ځله وینځلے دي ، امام طحاويؒ شروع کښ دَ ثلاثا ثلاثا روایتونه نقل کړے دي او په آخر کښ دَ مرة مرة روایتونه نقل کړے دي ددے نه ښکاره شوه چه نبي علیه السلام چه کوم ثلاثا ثلاثا اودس کړے دے هغه ئے صرف دَ فضیلت دَ حاصلولو دپاره کړے دے فرض باندے عمل له ئے نه دے کړے "هو اصابة الفضل لاالفرض"

نوټ : صحیح بخاري کښ دي توضأ رسول الله صلي الله وسلم مرة مرة ومرتین مرتین وثلاثا ثلاثاً، لیکن دا مطلب ئے نه دے چه نبي علیه السلام دَ اودس اندامونه دوه یا درے مجلسونو کښ وینځي نو دَ طلاق په مسئله کښ الطلاق مرتان کښ دَ دوي دغسے تاویل غیر مناسب دے ،

حکم دَ مضمضه او استنشاق او ددے کیفیت

امام نووي مجموع ۱: ۱۹۷ باندے لیکي : ماوردي وائي چه مضمضه دے ته وائي چه دَ خُلے اوله حصه کښ اوبه وردننه کړے او مبالغه ئے داده چه اوبه ټوله خُله کښ واړوے راواړوے او استنشاق دَ پوزے اول ته اوبه دننه کول دي او مبالغه ئے داده چه اوبه خیشوم ته (دَ پوزے تیندوري ته) اورسوے،

ثم مضمض واستنثر ثلاثا: ملا علي قاري وائي ثلاثاً کښ دواړه فعله تنازع کوي

دَ مضمضه او دَ استنشاق حکم

په دے مسئله کښ اختلاف دے دَ امام مالک او دَ امام شافعي په نزد اودس او غسل دواړو کښ دا دواړه سنت دي او دا مذهب دَ حسن بصري ، زهري دے او مشهور قول دَ امام احمد او دَ عبدالله مبارک او اسحق دَ اوزاعي او دَ لیث دا دے چه دواړه فرض دي او دَ داود ظاهري په نزد استنشاق اودس او غسل دواړو کښ واجب او مضمضه دواړو کښ سنت دے او دا دَ امام احمد یو روایت دے او دوئم روایت دَ امام احمد دَ جمهورو غوندے دے ، احناف او سفیان ثوري اودس او غسل کښ فرق کوي اودس کښ دواړه سنت او غسل کښ دواړه واجب دي او دَ ابن ابي لیلي او دَ حماد بن ابي سلیمان په نزد دواړه په

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړو کښې فرض دي دغسې اسحاق بن راويه هم وائي ، ابوالشور وائي که اودس کښې چا استنشاق او استنثار په هيره يا په قصد پريخودو اودس به بيا کوي ابو عبيد وائي که پوزه سونړ نه کړي اودس به بيا کوي ابن الهمام او صاحب بحر دَ فرق وجه دا بيانوي چه په قرآن کښې دَ اودس او دَ غسل دپاره جدا جدا صيغې ذکر شوي دي اودس کښې فاغسلوا وجوهکم راغلې دے ، لفظ دَ وجه دَ مواجهت نه مشتق دے او مواجهت ظاهري سطح کښې موندلې شي ، خُله کښې نه وي او دَ فاغسلوا صيغه نه تاکيد معلوميږي ، دَ فاطهروا دَ صيغې نه په غسل کښې تاکيد معلوميږي صيغه دَ مبالغې تقاضا کوي چه دننه او باهر ټول دے اوينځلې شي ليکن داسې حصه چه پکښې ضروري وينځل نه دي لازم او چه دَ کوم ځائې وينځل کيدے شي وينځل ئې ضروري دي غوږ کښې اوبه يا سترګو کښې اوبه اچول نقصاني دي بحرالرائق کښې دي چه ابن عباسؓ او ابن عمر رضوان الله عليهما به سترګې وينځلې هغوي ړانده شوے وو او دَ خُلې يا دَ پوزے حصه بغير دَ مشقت نه وينځلې کيدے شي وينځل ئې ضروري دي او اودس کښې داسې حکم نشته ، دا من وجه ظاهري دي که خُلې ته اوبه لاړے شي او دَ مرئ نه تيرے نه شي نو روژه نه ماتيږي او که چرته قې دَ خُلې دننه نه واپس شي نو روژه نه ماتيږي دے کښې ورسره دَ باطن غوندے معامله کوي ، او مبالغه به هله وي چه اوينځلې شي امام شافعي فرمائي چه دَ غسل او اودس يو شان غوندے احکام دي او دا دَ نبي عليه السلام فعل دے مطلق فعل نه وجوب نه راځي اګر چه مضمضه او استنشاق کښې اوامر دي ليکن دَ وجوب دپاره نه دي لکه "مضمِض" امر بلوغ المرام کښې راغلې دے ،

دَ احنافو دَ قرآني استنباط نه علاوه يو دليل دَ ترمذي روايت دے "تحت كل شعرة جنابة دے فاغسلوا الشعر وانقوا البشر" ترمذي دَ باب ماجاء تحت كل شعرة جنابة ذکر کړے دے ليکن روايت نووي وائي ضعيف دے او پوزه کښې ويښته وي نو ځکه دَ جنابت غسل کښې استنشاق فرض دے ځکه خو دَ جنابت په وخت کښې تلاوت دَ جمهورو په نزد ممنوع دے ځکه چه جنابت خُله کښې وي په دے وجه دَ جنابت غسل کښې مضمضه به هم فرض وي (معارف السنن)

او سنن دارقطني :۱: ۱۱۶ باندے دَ ابن عباسؓ روايت دے "يمضمض ويستنشق ويعيد الصلاة" معلوميږي چه دَ جنابت غسل کښې مضمضه او استنشاق فرض دے او دَ ابن سيرين روايت کښې دي "امر رسول الله صلى الله عليه وسلم بالاستنشاق من الجنابة ثلاثا (سنن دارقطني:۱: ۱۱۵ باب ما روي في المضمضة والاستنشاق في غسل الجنابة" (نفحات التنقيح) ليکن دارقطني باب ما روي في المضمضة

والاستنشاق:۱: ۱۲۱ ، ۴۰۳ نمبر باندے دَ سيدنا ابوهريرة ؓ حديث دے "ان النبي صلی الله عليه وسلم جعل المضمضة والاستنشاق للجنب ثلاثا فريضة" معلومه شوه چه دواړه جنابت کښې فرض دي ،
نوټ : هدايه کښې عبارت دے والمراد بما روي حالة الحدث بدليل قوله عليه السلام انهما فرضان في الجنابة سنتان في الوضوء" التقريرالرفيع کښې شيخ الحديث مولانا محمد ذکريا ليکلے دي "والحديث اورده الزيلعي في نصب الراية وقال غريب " ليکن کله کله فقهاء دوه روايتونه برغ ذکر کړي لکه قدوري کښې دَ حذيفه ؓ روايت "اتي سباطة قوم فبال قائما" شته (عرف الشذي)
مسلم کښې باب المسح علي الناصية والعماة کښې تخلف رسول الله صلي الله عليه وسلم وتخلفت معه الخ او ابوداود کښې په باب المسح علي الخفين کښې نمبر:۱۵۰ باندے دغه روايت دلته صاحب هدايه کښې دوه روايتونه جمع کړل يو دَ دارقطني نمبر: ۴۰۳ روايت چه مخکښې ذکر اوشو او دوئم چه اودس کښې سنت دي دَ مسلم "فطرت" روايت دے فطرت دَ وجوب بعض اشياء کښې که مستعمل دے نو فطرت دَ سنت معني باندے هم راځي لکه دلته دَ سنت معني اغستلے شي ،

کيفيت دَ مضمضے او دَ استنشاق

لمعات التنقيح کښې پنځه طريقے شيخ عبدالحق بيان کړے دي امام نووي اونور علماء هم ددے بيان کوي ،
(۱): الوصل بثلاث غرفات : په چونګ کښې اوبه چه راواخلے بعض حصه ددے خُله کښې او بعض پوزه کښې واچوه دغسے درے کرته اوکړه ،
(۲): الوصل بغرفة واحدة : چونګ کښې چه اوبه راواخلے اول ئے خُله کښې او بيا دغه اوبه پوزه کښې واچوه دغه شان په دے پاتے اوبه دوئم ځل او درئم ځل اوکړه ګويا دَ وصل درے صورتونه دي (۱): الفصل بغرفة واحدة په يو چونګ اوبو مخکښې مسلسل درے ځله مضمضه اوکړه او پاتے اوبه درے ځله مسلسل استنشاق اوکړه،
(۲): الفصل بغرفتين اوکړه يعني چونګ اوبو سره اول درے ځله خُله کنګاله کړه بيا په چونګ اوبو درے ځله استنشاق اوکړه،
(۳): الفصل بست غرفات : يعني درے چونګه درے ځله کنګالے له استعمال کړه او بيا درے ځله ئے پوزه کښې واچوه لکه په دے طريقه دَ احنافو عمل دے ليکن امام نووي فرمائي چه دَ شوافعو په نزد

Maktaba Tul Ishaat.com

رومبے صورت چه الوصل بثلاث غرفات غوره دے او دَ احنافو په نزد دَ وصل هغه صورت جائز دے چه پکښ دَ ماء مستعمل استعمال نه لازمیږي او که کوم صورت کښ دَ مستعمل ابو استعمال راځي هغه صورت ناجائز دے مثلا که څوک په يو چونگ مخکښ مضمضه او بيا په دغے پاتے اوبو استنشاق کوي جائز دي ليکن که چونگ کښ اوبه واغستلے په پوزه کښ دَ اچولو نه پس په دغه اوبو استنشاق يا مضمضه کوي نه صحيح کيږي ځکه چه يو ځل دَ استنشاق نه پس په چونگ کښ چه کومے اوبه پاتے شي دا خو ظاهره ده چه مستعملے شوے ، نو دَ احنافو مسلک کښ اول درے ځله اوبه خُله کښ او بيا درے ځله اوبه پوزه کښ واچوه دا دَ فصل صورت دے او دَ وصل نه دے دَ احنافو دليل سنن ابي داود کښ دَسلمه بن شقيق روايت دے چه دَ سيدنا عثمان و علي رضوان الله عليهما خواله دَ اودس ايزده کولو له لاړم نو مضمضه او استنشاق ئے جُدا جدا درے ځله اوکړه او ابوداود کښ باب في الفرق بين المضمضة والاستنشاق دَ لاندے دَ طلحه بن مصرف عن ابيه عن جده روايت صحيح صريح دَ احنافو دليل دے په سند ئے کلام شته ليکن دومره حصه چه افراد المضمضه او افراد الاستنشاق دغه همره صحيح ده ،

شيخ عبدالحق لمعات کښ ليکي : چه اعتراض دادے چه دَ ابوداود روايت کښ دَ طلحه نيکه مجهول دے او دَ پيغمبر سره دَ دوي صحبت نه دے ثابت او په جامع الاصول ١٢: ٥٤٣ باندے دي چه طلحه بن مصرف دَ اوچتو تابعينو نه دے او "ثبت" راوي دي او نيکه ئے مجهول نه دے بلکه کعب بن عمرو يا عمرو بن کعب دے،، او شمني په شرح النقايه کښ او بيهقي په کتاب المعرفة کښ ليکلے دي چه عبدالرحمن بن مهدي به فرمائيل چه دَ دوي نيکه عمرو بن کعب صحبت موندلے دے او سنن بيهقي کښ دَ يحيي بن معين نه نقل دے چه محدثين وائي چه نبي عليه السلام ئے ليدلے دے ليکن خپل خپلوان ئے صحبت نه مني او شيخ ابن الهمام په فتح القدير کښ ليکلے دي چه اوچت خلقو دَ دوي اعتراف کړے دے دا دليل جوړولو نه مانع نشي جوړيدے لکه عبدالرحمن بن مهدي چه دَ امام احمدؒ دَ درجے محدث دے او يحيي بن معين غټ امام دے دوي ئے دَ صحبت قائل دي او که اهل بيت ددے نه خبر نه وي قادح نه جوړيږي او ابن سعد په باب المسح کښ حديث دَ نيکه په دے الفاظو نقل کړے دے "رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم يمسح هذا"

روايت دَ ترمذي : عن ابن مليكة قال رأيت عليا ثم مضمض ثلاثا واستنشق ثلاثا او دَ اصول فقه مسئله ده چه کوم حديث دَ قياس موافق وي هغه مقدم وي او دَ عقل او دَ قياس تقاضا ده چه دوه اندامونه دي

مستقل اوبه ورله پکار دي ، او په دے طريق کښ يو امام هم وجوب ته نه دے تلے لکه شيخ عبدالحق فرمائي او دَ جواز تر حده الامام الاعظم دَ مضمضے او دَ استنشاق په يو چونگ وصل سره قائل دے لکه شمني فتاوي ظهيريه کښ نقل کړے دے او دَ امام شافعي په نزد هم په نوے اوبو فصل جائز دے او امام ترمذي دَ امام شافعي نه نقل کړے دے چه دوي مضمضه او استنشاق په يو چونگ جمع کولو ته جائز وي ، او وئيلے دي نوے اوبه استعمالول زما ډير خوښ دي، فارتفع الاختلاف ، هکذا في اشعة اللمعات ايضا ،

ومضمض واستنشق من كف واحدة : اول جواب دَ ترمذي په صراحت ذکر شو بنا بر جواز ئے امام ابوحنيفهؒ مني

(۲): ملاعلي قاريؒ فرمائي په "من غرفة واحدة" او "من كفة واحدة " کښ دَ مضمض او دَ استنشق دَ دواړو فعلو تنازع دے ، اصل دادے مضمض من كفة ، واستنشق من كفة ، بيا ئے اول من كفة حذف کړو دا مطلب دَ حديثو دے چه په يو چونګ ئے مضمضه او په بل مستقل چونګ ئے استنشاق کړے دے (مرقات)

(۳): علامه ابن همام فرمائي : چه من كفة واحدة" مطلب دادے چه مضمضه او استنشاق لهٔ به داسے لپه نه استعمالوله لکه چه په مخ به ئے اوبه اچولے ،

(٤): نفخات التنقيح کښ دي : چه دَ "من كفة واحدة" مطلب دادے چه مضمضه او استنشاق دواړو له ئے ښے لاس استعمال شو شايد پوزه کښ اوبه اچولو کښ به گس لاس استعمال شوے وي دَ دغے شبهے دَ ازالے دپاره ئے دَ مضمضے او استنشاق دواړو دپاره دَ "يمين" دَ لفظ استعمال اوکړو ، علامه عيني يو جواب دا کړے دے چه قاضي صاحبؒ التعليق الفصيح کښ ص:۵۲ باندے نقل کوي "من كف واحد" کښ علامه عيني وائي احتمال دے "بكف واحد بماء واحد" او دوئم : بكف واحد بمياه" او محتمل حجت نه جوړيږي ،

غَرفة او غُرفة کښ فرق

اشعة اللمعات کښ دي چه په فتح دَ "غين" يو ځل اوبه راغستل مراد دي او په ضم الغين سره چونگ ډکول مراد ده ،

Maktaba Tul Ishaat.com

الي المرفقين :تبين الحقائق كښ دي "مع مرفقيه " او با دَ مصاحبت دپاره ده اشتريت الفرس بسرجه اي مع سرجه" او امام زفرؒ چه فقيه مجتهد دے هغه وائي مرافق نه دي داخل لکه شرح الوقايه کښ هم دي ځکه چه غايه په مغيا کښ نه ده داخله ليکن مغيا دلته اسقاط دے يعني "اسقطوا من المناکب الي المرافق" ځکه دَ ايدي اطلاق تر مناکب کيږي ليکن زفرؒ اجتهاد کښ خطا دے دا هغه فرض قطعي نه دے چه انکار کونکے کافر کيږي ، نزل الابرار :١: ١٢ باندے علامه وحيدالزمان ليکلے دي "الفرض العملي وهو ما تفوت الصحة بفواته لاالفرض القطعي الذي يکفر جاحده لمکان الاختلاف في بعض الفرائض"

ثم مسح رأسه بيده فاقبل بهما وادبر :

حکم دَ مسح

(١): امام مالک فرمائي چه دَ ټول سر مسح فرض ده که چا دَ سر دَ مسح څه حصه پرېخودله لکه مخ وينځلو کښ ترے څه حصه پاتے شوه دواړو صورتونو کښ اودس اونۀ شو او دغه دَ ابن عليه مسلک هم دے ، دوي فرمائي چه لکه څنګه "وليطوفوا بالبيت العتيق" الحج:٢٩ کښ "با" راغلے او اجماع ده چه دَ بعض بيت طواف جائز نه دے دغسے دَ سر مسح هم ده او "با" دَ استيعاب ده "وامسحوا رؤسکم" په معني راځي ،

(٢): دَ امام شافعي مسلک دادے چه دَ بعض سر مسح فرض ده که په يو څو ويښتو اشوه کافي کرځي په مطلق دَ کتاب الله دَ وامسحوا عمل اوشو ،

(٣): احناف وائي : بعض حصه دَ سر باندے چه مسح اوشي کافي کيږي او دَ ټول سر مسح سنت ده او مسح کښ به لاس دَ مخکښ نه شاته بوځے ، الاستذکار :١: ١٧٠ باندے امام نووي په سند سره دَ عمروبن وهب نه نقل کړے دي "کنا عندالمغيرة بن شعبة فقال مسح رسول الله صلي الله عليه وسلم بناصية"

(٤): سيدنا ابن عمرؓ او سلمه بن اکوع وائي چه دَ سر مقدم حصه به مسح کيږي،

دَ مسح طريقه

فقهاء احناف عموما دا طريقه ليکي لکه کفايه ، عنايه او منيه کښ دي چه دَ ټول لاس نه درے ګوتے په سر به کيخودے شي ، غټه او مسواکه ګوته به جدا ساتے او دغه درے ګوتے به تر آخر اورسوے بيا

به ورغوي دَ روستو نه مخکښ راکاږے دَ ګوتو دَ ځایونو نه بغیر او په غته او مسواکه ګوته به دَ غوږونو مسح اوکړے دغسے به استیعاب اوشي دَ غوږونو مسح به په منستعملو اوبو نه کیږي ، لیکن علامه شامي لیکي " فقال في السنة لا اصل له في السنة لان الاستعمال لا یثبت قبل الانفصال والاذنان من الرأس" علامه ابن همام لیکي : دَ داسے طریقے په هیڅ روایت کښ ثبوت نشته ،

دَ غرغشتو باباجي شیخ نصیرالدین ترجیح په حاشیه دَ مشکوة کښ هم دَ علامه شامي غوندے ذکر کړے ده ،، علامه ابن همام لیکي : چه کله غوږونه دَ سر په حکم کښ دي دا دواړه جدا جدا اوامر شو او استعمال دَ یو انداز په لحاظ نه وي لکه چه دَسر مسح څوک کوي نو بیا ګوتے کیخودو سره په اولو ویښتو مستعملے اوګرځولے بیا خو نوره مسح کول به هم دَ دغے قول مطابق مستعمل ګرځي حالانکه ددے استعمال چا اعتبار نه دے کړے بیا خو چه په لاس اوبه ګدے نو مستعملیږي به او دَ هر جزو دپاره هم څوک هم نوے اوبه نه اخلي نو په پاتے لدے حصے دَ غوږونو مسح کیږي ، متبادر دغه ده او نبي علیه السلام زیات دَ سر دَ وړاندے حصے نه شروع کړے ده که آخر دَ سر نه شروع اوشي په جواز به دغه حمل وي لکه امام ترمذي چه باب لګولے دے "باب ماجاء انه یبدأ بمؤخر الرأس" دَ احنافو دلیل دَ مسلم روایت دے "عن عروة بن المغیرة بن شعبة عن ابیه قال تخلف رسول الله صلي الله علیه وسلم وتخلف معه فلما قضي حاجته قال أعندک ماء ـ ـ ـ ـ وغسل ذراعیه ومسح بناصیته وعلي العمامة وخفیه ثم رکب الخ " امام نووي دَ حدیث په تشریح کښ په شرح دَ مسلم کښ لیکي چه دَ بعض سر دَ مسح دَ اکتفا دپاره زمونږ دَ شوافعو دلیل دے او تول سر مسح شرط نه دے که شرط وے نو په پټکي به ئے اکتفاء نه کوله دَ باقي نه ځکه یو اندام کښ دَ اصل او دَ بدل مینځ کښ جمع داسے نه جائز کیږي لکه په یوه موزه څوک مسح کوي او بله خپه اوینځي ، مسلم مع شرح النووي :١٣٤ ، ابوداود باب المسح علي الخفین :٢٣ رقم: ١٥٠ ددے حدیث نه معلومه شوه چه تندي سره نزدے ویښتو باندے مسح کړے ده او دا دَ سر څلورمه حصه ده او ص:١٣٤ باندے دغه صفحه روایت دے، ومقدم رأسه وعلي العمامة، او آیت کریمه دَ "فامسحوا" مولانا عبدالحي لکهنوي السعایه کښ لیکلے دي : چه مطلق نه دے بلکه مجمل دے دا حدیث ددے تفسیر کوي ، دَ قرآن آیت مطلق نه دے ځکه دَ اطلاق و تقیید مسئله په افرادو کښ ده مقادیرو کښ نه وي دلته دَ مقدار بحث دے نو مطلق نه دے او مطلق یوه نښه داده چه مکلف ددے په افرادو کښ کوم فرد غوره کړي مامور به ادا کونکے شو لیکن دَ مطلق مسح یو فرد مسح

Maktaba Tul Ishaat.com

علي الکل ، دوئم فرد مسح علي الثلثین ، مسح علي الثلث ، مسح علي الربع کښې مامور به مع شيئ زوائد ادا کونکے شو نودا دَ مطلق علامت نه دے،

لکه په حج کښې مسئله ده که دَ احرام حالت کښې چا څلورمه حصه ویښته لرې کړل داسے دم په دۀ لازمیږي لکه چه ټول سر ئے خرئیلے وي نو څلورمه حصه دَ ټول سر قائم مقام جوړیدے شي (او قاعده ده چه "ب" حرف جر په آله کله داخل شي نو دَ هغے نه استیعاب مراد وي او که په محل داخل شي نو بیا مقصد استیعاب نه وي مسحت بالارض کښې دَ زمکے استیعاب نه دے مراد بلکه دَ آله استیعاب مراد دے دغسے مستحب بالرأس "ب" په محل داخله ده دَ آلے استیعاب مقصد دے نه دَ محل "ماذ خپل سر مسح اوکړه بکل الید نو وامسحوا برؤسکم کښې مسح بکل الید ده ، ګویا آیت مجمل دے او حدیث ئے بیان او وضاحت دے نو دَ څلورمے حصے نه کمه حصه مسح هډو جائز نه ده،

واضحه دے وي دا دَ فرض خبره ده او سنت دَ ټول سر مسح ده ، او کتاب الام باب مسح الرأس ۱:۱۱۱ رقم: ۳۹۰ باندے امام شافعي لیکلے دي "اذا مسح الرجل بأيّ رأسه ، دَ دغه عبارت اخر کښې دي "باصبع واحدة او بعض اصبع" چه یو ویښته باندے مسح اوشوه کافي کیږي هغوي هم دغه دَ مسلم روایت پیش کوي "ومسح بناصية وعلي العمامة" لیکن دا خبره ښکاره ده چه په تندي او دَ سر په مخکښې حصه دَ مسح کولو دواړو حدیثونه چه یو ځائے شي نو ویښته دوه وینځلو ته مسح نشي وئیلے کیدے او امام مالک دَ استیعاب دلیل بخاري روایت باب مسح رأس کله ګرځوي ص: ۲٦ رقم: ۱۸۵ چه دَ عبدالله بن زید روایت کښې دي "ثم مسح رأسه بیده فاقبل بهما وادبر بدأ بمقدم رأسه حتي ذهب بهما الي قفاه ثم ردهما الي المکان الذي بدأ منه" معلومیږي چه ټول سر مسح ضروري ده ، احناف داسے احادیث په سنتیت حمل کوي که په ټول سر مسح فرض وے نو په تندي به ئے اکتفاء نه کوله،

تعیین دَ مسلک حنبلي

عمدة القاري کښې دي "ونقل عن احمد انه قال یکفي المرأة مسح مقدم رأسها" (۳: ۱۰۰)

او دَ سړي دپاره استیعاب ضروري دے او یو روایت دَ دوي دَ امام مالک سره مطابقت لري،

امام بخاري دَ ټول سر مسح ضروري ګڼړي ، صحیح کښې دوي دَ باب مسح الرأس کلّه" یخے دے،ګویا مالکي مسلک سره ئے موافقت دے او دَ امام احمد قول چه دَ سړي او دَ ښځے دَ فرق بناء بر یو قول ذکر شو امام بخاري دَ هغے تردید دَ ابن المسیب په یوقول نقل کوي المرأة بمنزلة الرجل تمسح علي رأسها"

تبين الحقائق کښې امام زيلعي دَ امام محمد نه ددے کوټو په مقدار دَ وجوب قول نقل کړے دے ،

فأقبل بهما وادبر : لاسونه ئے دواړه مخکښې روستو بوتلل ، "اقبال" دَ روستو نه مخکښې راوړل" او ادبار دَ مخکښې نه روستو راوړل ، ترتيب کښې ادبار مخکښې او اقبال روستو وي ليکن اکثر عرب چه اقبال او ادبار دواړه يو ځائے راشي اګر چه دَ وقوع په اعتبار ادبار مخکښې وي ليکن دَ ذکر په اعتبار سره اقبال مخکښې ذکر کوي ،

(٢): بعض وائي : واو دَ مطلق جمع دپاره ده ،

تنبيه : تقرير بخاري :٢: ٤٩ شيخ الحديث مولانا محمد ذکريا ليکلے دي : زوره ياد ساته چه دَ سر مسح پوره کوه په دے سره دَ امام مخالفت نه لازميږي او حق په دے څلورو مذاهبو کښې دننه دے که دَ پوره سر مسح اونه کړله نو دَ دوؤ امامانو په نزد مونځ نه کيږي ددے دپاره ډير خيال ساتل پکار دي ،

علامه عيني :٢: ٥٣١ باندے ليکلے دي چه بے دَ عمامه نه مسح دَ سر په مخکښې مسح بغير دَ عمامے نه هم ثابته ده دَ عطاء روايت دے " ان رسول الله صلي الله عليه وسلم توضأ فحسر العمامة عن رأسه ومسح مقدم رأسه" اګر چه دا مرسل روايت دے ليکن بله دَ ابوداود موصول طريقه دا مرسل کلکوي اګر چه دغه حديث کښې دَ ابو معقل دَ حال پته نه لګي ، ليکن مرسل او بل موصول ئے مضبوط والے راولي دَ مجموعي صورت نه قوت حاصليدلے شي ليکن دا هغه څوک وئيلے شي چه دَ هغوي په نزد مرسل حجت وي ،

او السنن الکبري :١: ١١٦ باندے دَ عطاء نه روايت ذکر شوے دے ليکلے دي : وقد روينا معناه موصولا في حديث المغيرة بن شعبة" ليکن تفسير احسن الکلام کښې په آية الوضوء کښې دي " چه اکتفاء به ناصيه يا په بعض حصه دَ سر بغير دَ مسح دَ عمامے نه نقل نه دے ، او الحق الصريح کښې دي : احناف په نيم حديث عمل کوي او باقي نيم باندے عمل نه کوي " چه کله مدلول مقدار الناصيه دے دَ ناصيے تعيين دَ ربع الرأس په مقدار وي قرآن کښې سورة اقرأ کښې دَ ناصيے نه راخکل ذکر دي دَ مجرم او سورة رحمن کښې " فيؤخذ بالنواصي والاقدام " راغلے دے او دَ مجرم دَ سر تيکلے دَ ناصيے په مقدار وي چه ربع الرأس دے ،

التعليق الصبيح کښې دي "هو مرسل ولکنه اعتضد لمجيه من وجه آخر موصولا اخرجه ابوداود ،

Maktaba Tul Ishaat.com

که دَ عطاء مرسل احب ګڼړي ، ليکن دا دَ احب السجن الي " غونډے احب نه دے بلکه دَ عطاء هغه کښ نفس أحبيت موجود دے ، او دَ التمهيد:١:١٨ باندے علامه ابن عبدالبر ليکلے دي چه دَ عطاء دَ حسن مراسيل څکه حجت نه دي دوي ئے دَ هر چا نه اخلي ليکن دلته دَ عطاء مرسل باره کښ بيهقي ليکلے دي "وقد روينا معناه موصولا في حديث المغيرة بن شعبة " دَ عطاء مرسل دَ شواهدو دَ وجے قوت موي ، محلي : ٥ : ٢٦٢ باندے دَ عطا قول ذکر کوي "كان بالمدينة ثلاثة معلمين يعلمون الصبيان فكان عمر بن الخطاب يرزق كل واحد معلم خمسة عشر كل شهر"

او آمين الفتاوي :٢٦٠ " عن عطاء بن ابي رباح قال ادركت مئتين " حالانکه په دے کلام مسلم دے او مصنف ابن ابي شيبه :١: ٢٩٣ کښ روايت دے چه يزيد ابن ابي عبيد الاسلمي وائي چه سلمه بن الاکوع رضي الله عنه عمل دا وو "يمسح مقدم رأسه " ابوداود کښ دَ سيدنا انس بن مالک ؓ نه دَ ناصيه مقدار ربع رأس بيان شوے دے "فمسح مقدم رأسه ولم ينقض العمامة " ابوداود په دے سکوت کړے دے نو دَ آيت کريمه مراد ربع الرأس سره متعين کيدے شي ليکن کمال او سنت دادي او اهتمام ددے پکار دے چه پوره سر باندے مسح اوشي او فتح الباري او عمدة القاري کښ دي چه ابن عمر فرمائي څلورمه حصه دَ سر مسح کول کافي دي فرض په دے آدا کيږي او سيدنا ابن عمر ؓ چه به کله دَ سر مسح کوله "رفع القلنسوة ومسح مقدم رأسه" ټوپۍ به ئے اوچته کړه او دَ سر دَ مخکښ حصے باندے مسح به ئے اوکړه ، دار قطني دا روايت کړے دے او التعليق المغني کښ دي سنده صحيح او ابن حزم فرمائي چه دَ دوي په دے عمل هيڅ صحابي انکار نه دے کړے احناف دَ ناصيے نه کله تعبير په مقدم الرأس او کله په ربع کوي او سفيان ثوري ، اوزاعي ، ليث او دَ امام احمد يو روايت ، مزني او بغوي رحمهم الله ئے غوره کوي او ابن جرير:٦: ١٢٤، ١٢٥ باندے په مختلفو طريقو دَ نافع نه په مختلفو الفاظو چه مفاد ئے دادے "انه كان يمسح مقدم رأسه مرة" نقل کړے دے او دا دارقطني : ٤٠ او بيهقي : ١: ٦١ دَ يحيي الانصاري عن نافع عن ابن عمر نه نقل کړے دے په زيادت دَ رفع القلنسوة سره ، او زما شيخ الثقة الامين محمد آمين اورکزي دَ نثرالازهارعلي شرح معاني الاثار :٥٧ "ليکلے دي "المشهور عن الحنفية مقدار الناصية ويعبرون عنه تارة بمقدم الرأس الخ "

دَ څټ مسح کول

بعض علماء دَ څټ مسح باندے بحث کوي اکثر فقهاء دا مندوبات کښې شماري ليکن محدثانه نظرٔ محدثينو څه دے ، مباح يا مستحب او مندوب عمل دے او که دا مستقل په نؤو اوبو اوشي بدعت به وي

مولانا عبدالحي او مسئله دَ مسح رقبه

مولانا عبدالحي لکهنوي په دے موضوع "تحفة الطلبه في تحقيق مسح علي الرقبة" رساله ليکلے ده په ص:٧ ئے دا روايت راوړے دے "من مسح قفاه مع رأسه وقي الغل يوم القيامة" قال العيني في شرح الهداية هذا وان كان موقوفا لكن له حكم الرفع لأنه لا مجال للرأي فيه " ، ص:٧ ليکن دا موقوف غير مدرک بالرأي روايت صرف په دے دلالت کوي چه دَ سر دَ مسح په وخت کښې تبعا څټ ته ګوتے اورسي دا صورت مابه النزاع نه دے مستقل دَ څټ مسح کولو کښې بحث دے او دَ دغے کتاب ص:١٩ علامه لکهنوي ليکي: وفي فتاوي قاضي خان اما مسح الرقبة فليس بأدب ولا سنة وقال بعضهم هو سنة وعند اختلاف الاقاويل كان فعله اولي من تركه انتهي ،

والمذكور في كتب اصحابنا كالنهاية وفتح القدير ومنية غيرها انه يمسح الرقبة بعد مسح الرأس" والاذنين بظهور الاصابع الثلاث ولا ادري اخذوا هذه الكيفية ولعلها مأخوذة من مشايخهم" او دغه لکهنوي صاحب نفع المفتي والسائل ص:٨ باندے ليکلے دي قال ابو جعفر انه سنة كذا في الخلاصة وفي فتاوي قاضي خان انه ليس بسنة وفي الخزانة ان فعله اولي انتهي"

صاحب دَ کنز او علامه زيلعي

کنز الدقائق کښې دي چه دا مستحب عمل دے او صاحب دَ تبين الحقائق ليکلے دي "لانه عليه السلام مسح عليها"

صاحب الاختيار لتعليل المختار کتاب په نصاب کښې داخل وو او مونږ درساً طالب علمئ دوران کښې وئيلے وو په دے کښې ورته سنت يا مستحب وئيلے دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

صاحب دَ الحق الصريح او مسح رقبه

ليکي : دا کار بدعت دے بيا ليکي جمهور علماء مسح رقبه ته بدعت وائي او بيا دَ جمهورو دَ بدعت خلاف فتوي ورکوي ، راجح دا ده چه نشته ګويا مسئله دَ راجح او دَ مرجوح ده او هم دغه تعبير مناسب دے بعض مباح ، څوک سنت ، څوک مستحب او څنے ورته بدعت وائي "

علامه ابن تيميه مجموع فتاوي :۲۱: ۷۳ باندے ليکي لم يصح عن النبي صلي الله عليه وسلم انه مسح علي عنقه في الوضوء بل ولا روي عنه ذالک في حديث صحيح" او دغه سره به خپله خواه مخواه علامه ابن قيم موافقت کوي لکه دا دَ دوي معمول وي زادالمعاد کښ ليکلے دي شوافعو کښ علامه نووي ورته بدعت او شيخ بغوي ورته مستحب وائي" لمعات التنقيح کښ دي "مسح الرقبة لم يرد في الکتاب حديث في مسح الرقبة وقال صاحب سفرالسعادة ص:۲۰ "لم يثبت في مسح الرقبة الخ " او تخريج کښ محقق ليکي : دَ لمعات په تعليق اخرج ابوداود حديث طلحة بن مصرف عن ابيه عن جده قال رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم مرة واحدة حتي بلغ القذال وهذا اول القفا" ليکن مخکښ ذکر اوشو داسے دَ مسح سره کول تبعا مابه النزاع نه ده ، او بذل المجهود :۱: ۵۸۲ کښ دي وفي رواية احمد ومايليه من مقدم العنق بسطه صاحب العناية استدل به صاحب المغني :۱: ۱۵۱ علي مسح الرقبة " او علامه کاساني ليکي: واما مسح الرقبة فقد اختلف المشائخ فيه قال ابو بکر الاعمش انه سنة وقال ابوبکر الاسکاف انه ادب"

او قاضي شوکاني نيل الاوطار :۱۹۳ مطبوعه احياء التراث بيروت باندے دَبحث اخر کښ ليکي "ويجمع هذا نعلم ان قول النووي مسح الرقبة بدعة. وان حديثه موضوع مجازفة" او ليکي : چه امام بغوي دَ ائمة الحديث نه دے او هغه قول دَ استحباب کوي "ولانأخذ الاستحباب الا بخبر او اثر لان هذا لامجال للقياس فيه " انتهي،

التلخيص الحبير باب سنن الوضوء :۱: ۳٤ او شرح دَ احياء العلوم للزبيدي باب کيفية الوضوء ص:۳٦٥ باندے ددے تذکره شته ، علامه هيثمي مجمع الزوائد کښ :۱: ۹٤ (زوړچهاپ) باندے دَ وائل بن حجر رضي الله عنه روايت راوړے دے "حضرتُ رسول الله صلي الله وسلم ثم مسح رقبته" روستو ليکي : مسح ظاهر اذنيه ، مسح رقبته " رواه الطبراني في الکبير والبزار وفيه سعيد بن عبدالجبار وقال النسائي ليس بالقوي وذکره ابن حبان في الثقات ، وفي مسند البزار رواه الطبراني محمدبن حجر وهو ضعيف،

شيخ عبدالسلام "مونځ په رڼړا دَ احاديثو کښې" ص: ۹۸ باندے په دوام دَ رفع اليدين دَ عصمة بن محمد الانصاري روايت ذکر کړے دے وزاد البيهقي "فما زالت تلک صلاته حتي لقي الله" او دَ عصمة بن محمد ثقه کيدل ئے ثابت کړے دي چه ابن حبان ورته ثقه ليکلے دي ليکن دغه راوي کذاب، وضاع دے لکه الفوائد المجموعه في الاحاديث الموضوعة کښې دي ، نو دَ تحت دَ مسح روايات خو هم ابن حبان په ثقاتو کښې ګڼړلے دي ، حالانکه دَ عصمة نه دغه راويان ډير زيات خه او برابر دي،

متفق عليه : که بعض الفاظ هم په صحيح بخاري کښې نه وي مرقات کښې دي دَ متفق عليه اطلاق پرے کيدے شي،

فأكفا منه علي يديه : دَ لوښي نه ئے په دواړو لاسونو باندے اوبه راوا ړولے---- ثم ادخل يده" نو بيا ئے په لوخي کښې لاس داخل کړو،

دَ مستعمل شده اوبو حکم

دَ امام مالک مشهور قول دادے چه پاکے او پاکونکے دي،

(۲): دَ امام شافعي مسلک او دَ امام احمد راجح قول دادے چه پاکے دي او پاکونکے نه دي،

(۳): دَ احنافو درے روايات دي راجح دادے چه پاکے دي او پاکونکے نه دي دا دَ امام صاحب نه دَ امام محمد روايت دے او امام ابو يوسف چه کوم روايت دَ امام ابوحنيفه نه نقل کوي او دغسے حسن بن زياد ، هغوي ورته نجس وائي حسن بن زياد ورته نجاست غليظه وائي او دَ امام ابو يوسف نه قول دَ نجاست خفيفه نقل دے ، که چرته عين نجاست په کپړا باندي وي او په اوبو لر شو دغه اوبه ناپاکے دي ليکن که په نظر نه راځي صرف حدث اکبر يعني جنابت يا حدث اصغر يعني دَ اودس دپاره استعمال شوے وي نو هغه مستعملے اوبه دي يا چرته دَ مخکښې نه دَ اودس اوبه موجودے وے ليکن الله دَ نزديکت دَ حصول په جزبه پرے دوباره اودس اوکړي نو هغه هم مستعملے اوبه دي،

او دَ شيخينو په نزد چه ماء مستعمل چه ناپاک دي وجه داده چه نبي عليه السلام په اولاړه اوبو کښې دَ وړو بولو کولو نه منع کړے ده دَ هغے وجه داده چه دَ جنابت په غسل لرے اوبه پليتيږي چه کله په حقيقي پليتئ ناپاکي راځي نو نجاست حکميه پرے قياس کوي يعني په اودس هم اوبه پليتيږي بخاري کښې حديث دے "باب البول في الماء الدائم" ص:۳۷ حديث:۲۳۹ "لايبولن احدکم في الماء الدائم الذي

Maktaba Tul Ishaat.com

لايجري ثم يغتسل فيه" په حديث كښې په نجاست حقيقيه دَ اوبو ناپاكي ذكر شوے ده نو په نجاست حكميه هم پاكي نه پاتيكيږي ، علامه عيني :۲: ٦٦٩ باندے ليكي : چه دا حديث دَ ماء مستعمل په نجاست دَ امام ابويوسف استدلال دے غسل او بول دواړه جحت ذكر كړے دي او بول نجس دي نو غسل هم دغه حكم لري ، او دَ امام ابويوسف او امام مزني په نزد دَ دوو څيزونو يو ځائے برغ راتلل دلالت دَ حكم په يو والي كوي ، او احناف دليل نيسي چه بول سره اوبه پليتيږي دغه شان اغتسال هم دے او دواړو نه منع بنا بر تحريم راغلے ده نو نجاست دواړو كښې ثابت دے ليكن په دے اعتراض دے چه دغه دلالت قِران ضعيف دے او علامه عيني فرمائي چه دَ شوافعو اكثر علماء دغه مسئله دَ بعض احناف غوندے بيانوي او كه برابري دَ حكم په ايجاب كي سره نه ده لازم ليكن كله كله برابر والے په حكم كښې راځي او بيا ليكي دلته خو دَ نظم كلام نه برابر والے فهم ته نه راځي او شاه ولي الله حجة الله كښې دَ احكام المياه په عنوان ص: ۱۸۳ باندے ددے حديث دَ لايبولن احدكم الخ" په وضاحت كښې دَ منع حكمت ذكر كوي چه دے سره بالفعل اوبو كښې تغيير راځي او يا دے ته مفضي كيږي چه بيا به خلق پسے دغه دَ واړو بولو كولو عمل اختيار كړي چه دا هم لعنت داسے راخكونكے دے لكه چه په لاره يا سوري كښې اودس ماتے كولے شي امام صاحب چه دَا ماء مستعمل ناپاک گنړي دَ هغے منشأ دا وه چه كله به ورته دَ خلقو گناهونه ښكاره كيدل چه كوم اوبو كښې غورځيدل په دے وجه ئے ناپاک گنړل دغه واقعه مقدمه دَ ميزان الكبري كښې امام شعراني ذكر كړے ده او دغے كتاب باره كښې شيخ عبدالسلام په افاداتو كښې په رسالة التنقيد علي من افرط في التقليد ص: ٤٢ باندے ليكلے دي " بل يو مشهور مقلد دے امام شعرانيؒ خو په انصاف ئے ليكلے دے دغه كتاب دے ميزان الكبري دَ شعراني الخ

دَ كشف تذكره

دا كشف دَ كراهت دَ قبيلے نه حسابيږي او عقيدة الواسطيه لابن تيمية كښې دي: "ومن أصول أهل السنة : التصديق بكرامات الأولياء والمكاشفات" او دَ مدارج السالكين :۲: ٤٨٩ باندے ابن قيم دَ ابن تيميه دَ فراست متعلق ليكلے دي چه ۷۰۲ هجرئ كښې چه تاتاريانو دَ شام اراده اوكړه اوئے فرمائيل "والهزيمة عليهم وأن الظفر والنصر للمسلمين وأقسم على ذلك أكثر من سبعين" او مدارج السالكين:۳: ۲۲۸ باندے ليكلے دي "والكشف الروحاني من هذا النوع هو مثل كشف أبي بكر لما قال لعائشة رضي الله عنهما إن امرأته حامل بأنثى وكشف عمر رضي الله عنه لما قال يا سارية الجبل وأضعاف هذا من

كشف أولياء الرحمن" او ازالة الخفاء كښې شاه ولي الله ليکلي دي "روي ان رجلاً دخل علي عثمان وقد نظر امرأةً اجنبيةً" عثمان صاحب ورته اوفرمائيل ستركو كښې دے دَ زنا آثار ښكاري ، او حديث دَ ابوهريره كښې دَ مسلم روايت دے "إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ - أَوِ الْمُؤْمِنُ - فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ" او دَ داسے قسم كشف ښكاره كولو دپاره لسان العرفان لمايهلك الاقران ص:٤ ، ص:٥ دَ نواب صديق خان به دَ فائدے نه خالي نه وي،

دَ مولوي امين الله صاحب كتاب دے دَ حلالو او حرامو پيژندل يا معرفة القواعد في الحلال والحرام صفحه: ٢٣٦ باندے ليکلي دي : كله كله يو سړي ته دَ فراست دَ وجے په خوراک كښې شبه پيدا شي نو خوراک ددهٔ دپاره حرام دے او بل ته نه ښكاري دَ هغه دپاره حلال دے ، مثلا يو سړي دعوت اوكړو او نه راشے او تاته پته اولګي چه دے سړي طعام پوښ كړے دے په غلطه طريقه او تاته پته اونه لګيده چا ته چه پته شته هغه دے نه خوري چا ته چه پته نشته هغه خوړلے شي"

عرض دادے چه ددهٔ فراست له په خوراک كښې اعتماد ورکوے نو دَ امام ابوحنيفه رح دَ فراست نه انكار څنګه كيدے شي،

او دَ نبي عليه السلام ماء مستعمل بالاتفاق پاكے دي ځكه چه په دغه تبرک كښې اختلاف نشته ليكن دَ عامو صالحينو تبرک كښې كلام ځكه كيدے شي چه اثبات ئے په نص سره مشكل دے،

تثليث المسح

درے واړه ائمه دَ سر مسح يو ځل مني او تثليث ته مستحب نه وائي ليكن دَ امام شافعي او دَ عطاء په نزد درے ځله مسح دَ سر مستحب ده او ابن العربي دَ ابن سيرين مذهب نقل كوي چه دوه ځله ده يو ځل فرض او دوئم ځل سنت ده ،

دَ شوافعو دليل

په كومو روايتونو كښې چه راځي "توضأ ثلاثا ثلاثا" ددے نه ظاهر كښې دَ تمام اندامونو عموم معلوميږي او دَ سيدنا عثمان دَ علي رض بعض رواياتو كښې دَ ابوداود دَ صراحة درے ځله دَ مسح ذكر دے او دوي ئے قياس په نورو اندامونو كوي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ جمهورو دليل

دَ مجمل رواياتو په ځائے چه کله مفصل او صحيح رواياتو ته توجه ورکړے شي دَ هغے نه يو کرت معلوميږي او ددے ذکر په متكلم فيه او ضعيف روايات کښې راځي ابوداود کښې صراحة دي چه دَ عثمان صحيح آحاديث دلالت دَ يوځل په مسح کوي او حافظ ابن کثير خپل تفسير کښې دَ عثمانؓ دغه صحيح روايت په آية الوضوء کښې نقل کړے دے دَ عثمان په کومو دوو حديثونو دَ دريے ځله تذکره په ضعيف رواياتو کښې ده دَ يو په سند کښې عبدالرحمن بن وردان دے ، عبدالرحمن بن وردان باره کښې دارقطني وائي ليس بقوي ميزان الاعتدال:٧ : ٥٩٦ رقم الترجمه:٤٩٩٧ او امام بيهقي فرمائي : "وَقَدْ رُوِيَ مِنْ أَوْجُهٍ غَرِيبَةٍ عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ذِكْرُ التَّكْرَارِ فِي مَسْحِ الرَّأْسِ إِلاَّ أَنَّهَا مَعَ خِلَافِ الْحُفَّاظِ الثِّقَاتِ لَيْسَتْ بِحُجَّةٍ عِنْدَ أَهْلِ الْمَعْرِفَةِ وَإِنْ كَانَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا يَحْتَجُّ بِهَا" الهدايه في تخريج احاديث البدايه :١: ١٤١ ، او اية الوضوء دَ لاندے تفسير کښې ابن کثير ليکلے دي "تفرد به ابوداود ، او علامه شوکاني ليکي چه دَ انصاف خبره داده چه تثليث مسح زوايات دَ اعتبار درجے ته نه دے رسيدلے او ابن حجر پرے کلام کړے دے " ولو صح فمحمول علي الاستيعاب لانها مسحات مستقلات" بالفرض که صحيح شي نو ټول روايات دي دريے ځله مستقل مسح نه ده مراد بلکه مقصد پکښې دَ سر استيعاب دے او دَ شوافعو قياس په دريے ځله مسح کښې په اندامونو دا قياس مع الفارق دے ځکه چه دَ مسح بنا په تخفيف ده په خلاف دَ وينځلو نه ، او قياس خو دَ جمهورو تائيد کوي چه تيمم کښې مسح يو ځل کيږي ، په مرهم پټئ مسح يو ځل کيږي نو مسح دے په مسح قياس شي نو دلته هم په مسح کښې تثليث نشته ،

نوټ : تثليث المسح کښې الحق الصريح کښې دليل دَ امام شافعي کښې داسے ليکي : بل روايت دَ حمران مولي عثمان هم دے ، دوئم دليل ليکي چه روايت دَ حمران دے

واضحه دے وي : چه امام بخاري :١: ٢٧ باندے باب الوضوء ثلاثا په سند حمران مولي عثمان راوړے دے ، دے گنهګار تحفة الامداد ص: ٨٥ باندے ليکلے دي چه حمران مولي عثمان ضعيف راوي دے محدثينو پرے کلام کړے دے اګر چه بعض ورته ثقه وائي امام بخاري دَ اودس فضيلت کښې شائد حديث دَ دوي نه راوړے وي دکتور بشار عوار تحرير تقريب التهذيب :١: ١٠٤ باندے ليکلے دي "ومعلوم ان الامام البخاري يترخص في الرواية عمن في حديثه ضعيف في غير الاحكام او دَ حمران بن ابان باره کښې ليکلے دي "وقال ابن سعد: لم أرهم يحتجون بحديثه. وأورده البخاريُّ في الضعفاء. قلت: ويظهر من جماع ترجمته

أن الرجل لم يكن أمينًا الأمانة التي تؤدّي إلى توثيقه توثيقًا مطلقًا"(تحرير تقريب التهذيب: ۱: ۳۲۱ كذا في حاشية تهذيب الكمال: ۷: ۳۰٤)

دَ حنفي دَ درے ځله مسح څه حکم دے

معارف السنن کښې علامه شيخ بنوري ليکلے دي چه محيط او بدائع کښې ورته مکروه او خلاصه کښې ورته بدعت وائي او فتاوي قاضي خان کښې دي مکروه نه دي ليکن سنت او ادب دواړه نه دي او صاحب البحر دَ قاضي خان قول ته أولي وائي ، مصنف ابن أبي شيبه :۱: ۲۸۲ باندے عثمان ، علي ، ابن عمر ، رضوان الله عليهم اجمعين نه يو ځل مسح نقل کړے ده لمعات التنقيح کښې دي چه دا دَ ابوعبيده مبالغه ده چه سلفو کښې چا هم دَ درے ځله دَ مسح استحباب قول نه دے کړے بغير دَ ابراهيم تيمي نه ليکن دا خبره ځکه صحيح نه ده چه ابن ابي شيبه او ابن المنذر دَ عطاء او دَ انس نه دَ دريو قول نقل کړے دے او فتح القدير کښې دي "قَالَ الْبَيْهَقِيُّ : وَقَدْ رُوِيَ مِنْ أَوْجُهٍ غَرِيبَةٍ عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَكْرَارُ الْمَسْحِ ، إِلَّا أَنَّهُ مَعَ خِلَافِ الْحُفَّاظِ لَيْسَ بِحُجَّةٍ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ" انتهي

علامه عيني عمدة القاري کښې :۲: ۵٤۷ باندے دَ امام ابوحنيفه رح دا قول ذکر کړے دے که په يو اوبو درے ځله مسح اوشي نو سنت دي ،

دَ نسائي روايت

دَ نسائي روايت کښې دي "ومسح برأسه مرتين" او دا سفيان بن عيينه نقل کوي ظاهر کښې ددے نه تکرار معلوميږي ليکن دَ مسح عمل يو کرت شوے دے حرکتونه ورله دوه ورکړے شوے دي يو دَ ادبار دوئم دَ اقبال ، دا خو دَ اول مسح تکميل وو ، دَ مسح عمل کښې تعداد نشته هغه يو ځل شوے ده مګر دا دوه حرکتونه شو ، لکه روايت کښې راځي "انفلق القمر في عهد النبي صلي الله عليه وسلم مرتين" حالانکه شق قمر صرف يو ځل شوے دے ليکن تعبير ترے په دوؤ ځکه اوشو چه دوه ټکړے شوے وه داسے مسح هم ده چه ددے دوه حصے داسے جوړے شوے چه دَ ناصيے نه شروع اوشوه او تر ختته لاس بوتلے شو بيا واپس ئے لاس تر ناصيے راؤرسول دا دَ مسح اعاده ده چه راوي ترے مرتين سره تعبير کوي حالانکه دَ اقبال او دَ ادبار دواړه حرکتونه دَ سر دَ مسح استيعاب دپاره دي علامه ابن تيميه

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ امام مالک ،امام ابوحنیفه ، دَ امام احمد او دَ جمهورو مسلک دا ذکر کوي چه پکښې تکرار مستحب نه دے انتهي ،

سلمه بن اکوع او دَ ابن ابي اوفي رضي الله عنهما روایت کښې دَ سر مسح یو ځل راغلے ده ،

دَ خپو وینځل

ثم غسل رجله الي الكعبين : دَ امت په دے اجماع ده چه خپے دَ اودس په اندامونو کښې حسابیږي او دَ جمهورو سلفو او خلفو په نزد ئے په شرط دَ قدرت وینځل فرض دي چه کله موزے نه وي او دَ خپو وینځلو باره کښې متواتر روایات دي کتاب المجموع :١٤٠ : ٣٣١ باندے علامه نووي لیکلے دي "وقالت الشيعة الواجب مسحها وحكي اصحابنا عن محمد بن جرير انه مخير بين غسلها ومسحها" لیکن دا نسبت ابن جریر ته صحیح نه دے حافظ ابن کثیر خپل تفسیر کښې دَ اية الوضوء دَ لاندے لیکلے دي " من اوجب من الشيعة مسحها كما يمسح الخف فقد ضل واضل وكذا من جوز مسحها وجوز غسلهما فقد اخطأ" کوم شیعه ګان چه دَ موزے غوندے مسح په خپو کوي دا ضال و مضل دے او چه څوک وائي دواړه تهیک دي وینځل او مسح کول جائز دي دا هم خطا دے او چه څوک ابن جریر ته دغه نسبت کوي نو دهٔ دَ هغه دَ مذهب تحقیق نه دے کړے دَ هغه دَ خبرے عکرمه دغه مطلب بیانوي چه هغه فرمائي چه دَ اودس دَ نورو اندامونو غوندے دَ خپو معامله نه ده بلکه دَ خپو مکل ضروري ځکه دي چه دا تلې ئے زمکے او ختے وغیره سره لګي که په خپو خه لګیدلے وي هغه لر شي لیکن دَ "دلک" نه په مسح سره تعبیر اوکړو چا چه دَ دوي په کلام کښې سوچ اونه کړو دا مطلب اخلي چه هغه وائي دَ خپو وینځل او په مسح کښې دے جمع والے راولي چا چه حکایت دَ هغه دَ مسلک کړے دے ځکه ئے کړے دے او دغسے اشکال ډیرو فقهاؤ ته راځي او دَ سړي دغه مطلب نه دے والله اعلم ، بیا ماچه کله دهٔ په کلام کښې سوچ اوکړو نو هغه دواړو قراءتونو کښې جمع رواستل غواړي که ارجلِكم" مجرور وي په مسح حمل دے او که منصوب وي حمل ئے په غسل اوکړه په داسے طریقے جمع کول غواړي انتهي ،

حافظ ابن کثیر لیکلے دي چه چا دَ ابن جریرِ دَ آحادیثو دَ وجے وینځل او دَ آیت دَ وجے مسح ذکر کړے دے نو دَ هغه مذهب تحقیق نه دے کړے هغه خو تفسیر کښې خپو وینځلو ته واجب وائي ځکه دا په زمکه او خته باندے لګینو ددے نه تعبیر په مسح سره کوي ، چه کلام کښې دده سوچ نه کوي وائي چه

ددۀ اراده دَ خپو دَ وینځلو دَ وجوب او مسح کښ جمع راوستل دي او دا ډیرفقهاؤته اشکال راولي (جامع البیان :٦: ٨٣ ، ٨٧ ، تفسیر ابن کثیر :٢: ٢٧ ، المحلي لابن حزم:٢: ٥٦)

دلته قرآن کښ دي "وارجلکم الي الکعبین" که چرته مسح کول فرض وي نو بیا دَ الي الکعبین ذکر کولو ضرورت نه وو بلکه رؤوسکم به ئے مطلق ذکر کړے وے ، دَ کعبین قید مطلب دادے چه زر کیتو ئے وینځل فرض دي دَ ارجلکم دَ فتحه دَ قراءت په صورت کښ عطف په وجوهکم باندے دے چه مخ او خپے دواړه دَ وینځلو حکم کښ را دننه کړه او دا دَ نافع ، ابن عامرؒ ، کسائي ، یعقوب او ز امام حفص رحمهم الله قراءت دے او جر قراءت دَ ابن کثیر ، حمزه ، ابو عمر ، عاصم دے او عام نسخو کښ دغه شان فتحه ده او دَ کسرے قراءت مشهور نه دے او امام شافعي فرمائي که په خپو کښ موزے وي بیا دَ مسح حکم دے په دے قراءت دَ موزو دَ مسح ثبوت راځي یا جر جر جوار دے ،

کعبین : دَ کعب تثنیه ده گټئے ، خپه کښ دوه ځایه دا وي یو دَ قدم دپاسه دا صرف یوه وي او دوئمه جوړ سره چه هره خپه کښ دوه دوه وي دلته دا آخري مراد ده ځکه ئے دَ تثنیے صیغه استعمال کړے ده علامه عیني لیکي : چه څوک وائي امام ابوحنیفهؒ دا ظهر قدم ته وائي دا په امام ابوحنیفهؒ دروغ دي او امام محمد هم داسے نه وائي امام محمد دَ محرم حق کښ داسے فرمائیلے دي ،

شاه ولي الله حجة الله کښ :١: ١٧٥ باندے دَ صفة الوضوء په عنوان کښ لیکلے دي "ولا عبرة بقوم تجارت بهم الاهواء فانکروا غسل الرجلین متمسکین بظاهر الایة " دَ خواهش پرستو دَ خپو وینځلو نه انکار دَ ظاهر آیت دَ وجے نه کولو له هیڅ اعتبار نشته دا خبره داسے ده چه دَ غرمے وخت کښ په شین آسمان دَ نوَر نه یا دَ احد او دَ بدر غزا نه څوک انکار اوکړي الخ انتهي ، او دولس کاله پس دَ نبوت آیت الوضوء نازل شوے دے او صحابو دَ خپو وینځلو عمل جاري ساتلے دے گویا دَ شاه ولي الله او دَ شاه انور دغه تحقیق دے چه دا عملئ متواتر نقل دے او ابن ابي لیلي اجماع دَ خپو په وینځلو نقل کوي (فتح الباري)

دَ نبي علیه السلام نه چه دَ اودس صفت کوم صحابه نقل کوي تقریبا دویشت(٢٢) صحابه په دے اتفاق کوي او شیعه دا نه مني او په یو حدیث سره صراحة دَ موزو دَ استعمال نه بغیر مسح علي الرجلین دَ نبي علیه السلام نه نه ده ثابت او دَ هغے نه انکار کوي بلکه شیعه گان علي دے ته هم نه گوري چه طحاوي کښ دي چه عليؓ خپل غلام ته اووے دَ اودس اوبه راوړه اودس کښ درے ځله خپلے ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

خپې وينځلے دي مسح ئے نه ده کړے رقم: ١٥٨ دغه شان دوي دَ عثمانؓ اودس نقل کړے دے "فغسل رجليه ثلاثا" او امام طحاوي ليکي "فهذه الاثار قد تواترت عن رسول الله صلي الله عليه وسلم انه غسل قدميه في وضوءه للصلاة" او نسائي کښې روايت دے رقم: ٩٥ عن الحسين بن علي قال دعاني ابي علي بوضوء --- ثم غسل رجله اليمني الي الكعبين ثم اليسري كذالک " او چه چرته مسح راغے دے په نفي دَ غسل

او علامه عيني عمدة القاري :٢: ٤٦٢ کښې ليکلے دي چه د علي ، ابن عباس ، انس رضي الله عنه رجوع ثابته ده هكذا في تغليق الصبيح

حکم

اشعه کښې شيخ عبدالحق ص:٢٣٧ قديم مطبوع باندے ليکلے دي "وبعض از علمائے ما حکم کرده اند بکفر مخالفت آں اما طریقہ ما سلوک طریقہ احتیاط است وباوجود خلاف وشبہ آں حکم بکفر نتواں کرد واللہ اعلم" اګر چه په دے مسئله کښې بعض عالمان دَ کفر حکم ورکوي ليکن زما طريقه دَ احتياط ده ، ، دَ کفر حکم نه ورکوم ، او مني چه روايات تواتر معنوي ته رسيدلے دي ليکن دے مسئله کښې په مخالف دَ کفر حکم لګولو کښې احتياط کوم ليکن دَ جمهورو احنافو عمومي حکم اصح دادے چه کافر دے ، اکفار الملحدين کښې دي معارف السنن ص؛٨٨ باندے وظاهر ان من يكفر جمهور الصحابة يكفر لا محالة"

دلائل

(١): صحيح حديث کښې راځي "ويل للاعقاب من النار" لکه وړاندے روايت راځي چه صرف ګټيئ اوچه پاتے شي دوي له هلاکت دے نو چه مسح پرے اوکړي نو خپے ئے خواه مخواه اوچے پاتے کيږي دَ دوي دپاره به خواه مخواه هلاکت وي دا دَ جمهورو مضبوط دليل دے ،

(٢): فاذا غسل رجليه خرجت خطايا من رجليه حتي تخرج من تحت اظافر رجليه رواه مالک والنسائي وابن ماجه "

(٣): بخاري باب الوضوء ثلاثا رقم: ١٥٩ دغسے ابوداود باب صفة وضوء النبي صلي الله عليه وسلم ، رقم:١٠٨ کښې دَ درے اندامونو دَ وينځلو ذکر دے او په سر باندے دَ مسح ذکر دے ،

(٤): ابوداود کښې باب تفریق الوضوء :رقم: ۱۷۵ باندې روایت دې چه دَ یو کس په اودس کښې په قدم کښې دَ درهم په اندازه دَ اوچ ځائے پرقا ښکاره شوے ده چه اوبه ورته نه وے رسیدلے "فامره النبي صلي الله علیه وسلم ان یعیدالوضوء والصلاة" لیکن دَ خالد دا روایت سندا ضعیف دے ،

(٥): او مجموع شرح مهذب :١: ٣٣٢ باندے دَ عمرؓ روایت دے "ان رجلا توضأ فترک موضع ظفر علي قدمیه فابصره النبي صلي الله علیه وسلم فقال ارجع فأحسن وضوءک" رواه مسلم ،

(٦): دَ عمرو بن عبسه نه یو روایت په دغه مجموع کښې دے "ثم یغسل قدمیه الي الکعبین کما امره الله تعالي" او امام بیهقي فرمائي دے کښې دلالت دے چه الله دَ خپو دَ وینځلو حکم ورکړے دے انتهي، ددے روایت نه دَ "وارجلکم الي الکعبین" نه دَ خپو دَ وینځلو حکم واضح شو چه دَ آیت هم دغه مطلب دے ، دَ علامه وحیدالزمان دَ هدیة المهدي :١: ٦٨ باندے دا مسئله دَ اهل السنت نه قطعا خلاف ده چه په کومو کارونو کښې دَ علماؤ اختلاف دے په هغے انکار جائز نه دے لکه خپے وینځل او ددے مسح کول ،

(٧): دَ لقیط بن صبره روایت دے "خلل بین الاصابع اخرجه النسائي في الطهارة،

(٨): حدیث دَ المستورد دے چه نبی به اودس کښې کچه کوته باندے دَ خپو ګوتے مګلے (سنن ابي اداود کتاب الطهارت)

(٩): حدیث دَ عبدالله بن زید "وغسل رجلیه حتی أنقاهما" (ابوعوانه في المسند:١: ٢٤٩) ثابته شوه که موزے نه وي اصل وظیفه دَ خپو وینځل دي فقط،

دَ شیعه دَ استدلال جواب

(١): وارجلکم کښې واو په معني دَ مع یعني دَ مفعول معه واو دے لکه "جاء البرد والجبات"او إجمالا چه یو کار کښې په مقارنت دلالت کوي نه دا چه په یو خاص معین یو امر کښې شرکت راولي ،

(٢): دَ مسح نه غسل خفیف مراد دے لکه بعض آحادیثو کښې دَ مسح نه دغهٔ اغستلے دي ، او فتح الاله کښې ابن حجر لیکي : "وحکمته الاشارة الي طلب الاقتصار وترک الاسراف ، وخصت الرجلان بذالک لان اسراف عند غسلهما اکثر" حکمت ئے دادے چه بعض خلق خاص کر خپو وینځلو کښې ډیرے اوبه ضائع کوي ، دَ ولهان تسلط پرے غالب وي اشارهٔ ده لرے اوبو باندے استعمال ځان له کافي ګنړه دَ اسراف حوصله شکني ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳): دا دوه قراءتونه په دوو مختلفو حالاتو مشتمل وي دَ موزو وخت کښې مسح او که موزے نه وي نو وينځل دَ خپو بيا متعين دي ،

(٤): دا حکم اول کښې وو ابن حزم ليکلے دي او امام طحاوي په شرح الاثار :۱: ۲۳ باندے ليکلے دي چه دَ خپو دَ مسح حکم منسوخ دے (التعليق الصبيح)

(٥): مرقات کښې دَ ابن حاجب په حواله ليکلے دي "وَقَالَ ابْنُ حَاجِبٍ: عَطْفُ الْأَرْجُلِ عَلَى الرُّءُوسِ مَعَ إِرَادَةِ كَوْنِهَا مَغْسُولَةً مِنْ بَابِ الِاسْتِغْنَاءِ بِأَحَدِ الْفِعْلَيْنِ الْمُتَنَاسِبَيْنِ عَنِ الْآخَرِ كَقَوْلِهِ

يَا لَيْتَ زَوْجَكِ فِي الوغي : : مُتَقَلِّدًا سَيْفًا وَرُمْحًا"

(جامع البيان، معاني القرآن للفراء:۱: ۱۲۱، البحرالمحيط)

او غشي کښې تقليد نه راځي،

ددے وضاحت دادے چه کله فعل يا شبه فعل قريب المعني جدا جدا متعلق لري نو يو فعل يا شبه فعل حذف کړي او دَ متعلق عطف ئے دَ دوئم فعل يا دَ شبه فعل متعلق باندے اوشي لکه "علفتها ماء باردا" يعني علفتها تبنا وسقيتها ماء باردا" (۲): متقلدا سيفا اي حاملا ورمحا" او شرح ابن عقيل کښې شعر دے :

اذا ماالغانيات برزن يوما : : وزججن الحواجب والعيونا

فالعيون مفعول بفعل محذوف والتقدير وكحلن العيونا ، چه دغه جينکۍ سترګے تورے کړي ،

قرآن کريم کښې دي : "يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ" سورة الحج:۲۰ تفسير قرطبي کښې دي وتحرق الجلود " دَ پښتو ستر شاعر وائي :

زما ميلمه شه چه لږ اوينے خپل عزت او مدار

په تابه اوخوروم شوملے پياز او سُوکړک دَ جوار

نو شُوملے خوړلے کيږي نه څکلے کيږي يعني په تابه اوڅکومه شُوملے،،

الله فرمائي : "وَلَهُ مَا سَكَنَ فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ" سورة الانعام: ۱۳ اي نشر في النهار څکه سورة الفرقان : ٤٨ باندے دي "وجعل النهار نشورا" دغه شان ددے ډير شواهد نظائر او امثال موجود دي او دَ عاجز بنده کتاب الاصول الامدايه لفهم العلوم القرآنيه ص: ٤١٧ باندے ددے وضاحت موجود دے نو دلته فعل حذف دے واغسلوا ارجلکم "

(٦): ډير محدثين او شارحين لکه الکاشف ، مرقات ، لمعات ، نفحات التنقيح او فقيه علامه کاساني صاحب البدائع او الحق الصريح ، او التعليق الصبيح کښې دي چه دا جر جوار دے يعني دَ ګاونډ دَ رعايت دَ وجے منصوب ، مجرور وئيلے کيږي او حقيقت کښې منصوب دے ، لکه عذاب يوم اليم ، اليم "مجرور" دے حالانکه دَ عذاب دَ صفت دَ وجے مرفوع کيدل ئے پکار وو داسے "جحر ضب خرب" خرب مجرور دَ جر جوار دَ وجے په نفس الامر کښې مرفوع دے په ترکيب کښې دَ جحر صفت واقع شوے دے دلته په دے جواب يو اعتراض دے چه جر جوار دَ عطف په صورت کښې نه وي دغه مثالونه دَ عطف نه بغير دي او په آية الوضوء کښې حرف عطف موجود دے ، ليکن جواب دادے چه دَ عربو په کلام کښې جر جوار دَ حرف عطف سره دَ سبعه معلقے يو شعر راغلے دي ،

فظل طهاة اللحم من بين منضج : : صفيف شواء او قدير معجل

ترجمه: دَ ښکار غوښے پخونکے دوه قسمه شو ، څنو ګټو کښې پخونکي وو او چا په ګرمو ګټو باندے غوښه خوره کړه او په تلوار دے له ورتونکي وو دلته دَ قدير عطف په صفيف باندے دے چه منصوب دے حقيقت کښې "قدير" هم منصوب دے ليکن دَ ګاونډ دَ رعايت دَ وجے په قدير جر راغے او دا جر جوار خو په حرف عطف سره دے ليکن نظم کښې دے ،

جر جوار کښې اختلاف

تفسير اضوء البيان کښې دي چه جر جوار بعض دَ لحن نه حسابوي صرف ضرورت شعري کښې راځي او په عطف کښې درست دے او هله صحيح کيږي چه التباس نه راځي "فهو مردود بان ائمة اللغة العربية صرحوا بجوازه" غلطه څکه ده چه دَ لغت عالمانو ئے په جواز تصريح کړے ده لکه اخفش او ابوالبقاء وغيرهما شو او زجاج ترے انکار کوي حالانکه دا دَ عربئ په لغت کښې شته دے او مغني کښې ابن قدامه ددے جزم کړے دے او دليل دَ جر جوار دَ بيهقي باب دے په سنن کبري کښې باب قراءة من قرء "وارجلکم" نصبا ليکي چه مجرور ئے دَ جر جوار دَ وجے وائي او په سند ئے دَ ابن عباس ، علي ، عبدالله بن مسعود رضوان الله عليهم وغيره نه ثابته کړے ده ،

دوئم اعتراض : علامه بنوري معارف السنن کښې ليکلے دي چه په عطف النسق کښې جر جوار نه راځي او دَ شاه انور کشميري دغه تحقيق ئے ذکر کړے دے چه سيراني او ابن جني ددے نه مطلقا انکار کړے دے او ظاهره ده آيت کښې عطف النسق دے نو دَ محققينو په نزد جر جوار نه جوړيږي ، او ابو

اسحاق النحوي وائي چه دَ جر جوار دَ الله په کتاب کښې نه دے جائز او ضرورت شعري کښې راځي او شاه صاحب ليکي : ورکړے شوے مثالونه دَ جر جوار دَ صفت په صورت کښې دَ راتللو دي او دَ عطف په صورت کښې نه دي انتهي، صاوي دَ جلالين شارح وائي "لم يرد الجر بالمحاورة الا في الصفت ومع ذالک ضعيف، په رؤوس ئے عطف دے دَ موزو حالت کښې مسح مراد ده، او لمعات کښې دلته شيخ عبدالحق ليکلے دي "وقد جعل ائمة النحو للعطف علي الجوار بابا وجوزوا الجر للجواز مع العاطف وبدونه واخطأ من جعلها لغة ردئية غير فصيحة" حاصل ئے دادے چه په عطف او بغير دَ عطف نه داوړو صورتونو کښې جر جوار جائز دے ځوک چه غير فصيح او ردي لغت وائي صحيح نه دي انتهي،

ليکن امام طحاوي فرمائي : که قراءت نصب باندے عمل اوشي نو دَ جر قراءت معمول بها جوړيدے شي ځکه چه وينځل متضمن مسح دپاره دي په خلاف دَ جر دَ قراءت نه چه ددے په عمل سره دَ نصب په قراءت عمل نشي کيدے،

موالات

اندام پسے پرله پسے بل اندام وينځل چه په مينځ کښې دے بل کار نه وي کړے او مخکښې اندام اوچ شوے نه وي که لږ تفريق راشي يا دَ عدد دَ وجے جدا والے لږ راشي نو دا لږ جدا والے په اجماع دَ مسلمانانو ضرر نه رسوي مستحب دي چه اندامونه مسلسل اوينځلے شي بعض آحاديثو کښې ددے بيان شته،

په اودس کښې ترتيب

مالکيه ورته واجب وائي او امام بغوي دَ ډيرو علماؤ نه دَ عدم وجوب قول نقل کړے دے او دَ عدم وجوب قول علامه ابن المنذر دَ سيدنا علي ، ابن مسعود رضوان الله عليهم اجمعين او دَ سعيد بن المسيب ، حسن ، عطاء مکحول ، اوزاعي ، مزني او دَ امام ابوحنيفهؒ نه نقل کړے دے ليکن تبين الحقائق کښې علامه زيلعي ليکي چه امام شافعي ورته فرض وائي فرمائي روايت کښې راځي "لا يقبل الله صلاة امرء حتي يضع الطهور مواضعه يغسل يديه ثم يغسل وجهه ثم ذراعيه" حافظ ابن حجر تلخيص :١: ٢١٧ باندے دا روايت ذکر کړے دے ثم دَ ترتيب دپاره دے ، او احناف واو دَ مطلق جمع دپاره مني ، دَ مقامات دَ اولے کرخے عبارت "نحمدک علي ما علمت من البيان والهمت من التبيان" په حاشيه ددے نظائر او

امثال خه کافي ذکر کړے دي چه واو ترتیب له ضروري نه دے دَ سورة النساء آیت : نمبر:١٦٣ کښې دي "واسحاق ویعقوب والاسباط وعیسي وایوب ویونس وهارون وسلمین" حالانکه دَ سیدنا عیسي علیه السلام نه پس بے زمونږ دَ پیغمبر نه یو پیغمبر نه دے راغلے نو واو دَ ترتیب نه شو یا سورة ال عمران: ٤٣ کښې دي "واسجدي وارکعي مع الراکعین" او واو دَ مطلق جمع په راتلو دَ اهل السنت اجماع ده نص علیه السیبویه او "فا" دَ ترتیب دپاره راځي لیکن ترتیب غسل هذه الاعضاء دے زیلعي وائي چه په دے کښې لا ترتیب بعضها علي بعض دے او علامه ابن عبدالبر الاستذکار :١: ١٨٣ باندے لیکلے دي چه سیدنا علي او سیدنا عبدالله بن مسعود به فرمائیل : لا نبالي باي اعضائنا بدأنا في الوضوء اذا اتممت وضوئي وهم اهل اللسان"

او دَ مصنف ابن ابي شیبه :ص:٣٧٠ باندے دَ سیدنا علي رض دغه روایت شته لیکن دَ عبدالله الجملي سماع دَ علي نه نه ده ثابت لیکن دَ سیدنا علي رض روایت چه مصنف کښې ٤٢٣ باندے دے په هغے کښې دي ما ابالي لو بدأت بالشمالي قبل الیمین اذا توضأت" او عن مجاهد قال عبدالله لابأس ان تبدأ برجلک قبل یدیک في الوضوء" او "فا" دَ قرآن په دے آیت کښې مستعمل ده "ومن قتل مؤمنافتحریر رقبة مؤمنة" (سورة النساء) قاتل که هر یو باندے ابتداء کوي جائز دي که چا خپل غلام ته اووے "اذا دخلت السوق فاشتر لحما وخبزا" که هر یو په غوښه او په ډوډئ کښې اخلي صحیح ده او چه روایت کښې ثم یغسل وجهه ، ثم یغسل ذراعیه ، راغلے دے نو دا "ثم" په معني دَ واو دے سورة الاعراف: ١٢ کښې آیت کښې دے "ولقد خلقناکم ثم صورناکم" اي وصورناکم ، سورة البلد کښې راځي "ثم کان من الذین آمنوا وتواصو بالصبر" په حسامئ کښې دَ حروفو بحث دے چه دا ثم په معني دَ واو راغلے دے ، اي وکان من الذین آمنوا وقت الطعام" مشکوة کښې باب مخالطة الجنب کښې روایت دے "توضأ واغسل ذکرک ونم" لیکن داسے خو نه ده چه اول اودس دے او بیا به ددے نه پس آله تناسل وینځے ، چه په دے ترتیب عمل راشي بلکه شرمګاه وینځل اول دي اودس روستو دے علامه الباني ارواء :١٢٦ باندے لیکلے دي "فأنت تري انه لیس في هذه الاحادیث علي ضعفها ذکر الترتیب لا تصریحا ولا تضمینا" او دَ خالد روایت ئے په شواهدو صحیح کړے دے" او دَ "ارجع فاحسن وضوءک" سند ته ئے دَ دوي صحیح وئیلے دے ، پیغمبر علیه السلام همیشه په ترتیب اودس کړے دے لیکن مجرد فعل په وجوب دلالت نه کوي او دَ دوئم دَ وجے دَ سنتیت نه انکار نشته لیکن پکار دي اودس په ترتیب اهتمام اوکړے شي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤):وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً لَمْ يَزِدْ عَلَى هَذَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ،

ترجمه : عبدالله بن عباس ؓ فرمائي : اودس اوکړو نبي علیه السلام یو یو ځله یعني اندامونو ئے یو یو ځل اووینځل ، او په دے باندے زیادت اونه کړو،

تشریح : دا په بعض اوقاتو کښې نبي علیه السلام ذَ بیان جواز دپاره کړي دي دا هم کیدے شي چه دغه وخت کښې ذَ اوبو قلت وو لیکن اکثري او مسنون طریقه درے ځله وینځل دي،

(٥):وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ،

ترجمه : عبدالله بن زید ؓ فرمائي : چه نبي علیه السلام اودس اوکړو دوه دوه ځله یعني اندامونه ئے دوه دوه ځله اووینځل ، دا ذَ بخاري روایت دے ،

تشریح :دا پیغمبر علیه السلام بیان جواز دپاره اودس اوکړو او ابن الملک چه نسبتاً دا اودس هم افضل دے،

(٦):وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ فَقَالَ: أَلَا أُرِيكُمْ وُضُوءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَتَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا. رَوَاهُ مُسلم،

ترجمه : ذَ عثمان ؓ نه روایت دے چه ذَ مقاعد مقام کښې اودس اوکړو اوئے فرمائیل آیا تاسو ته ذَ نبي علیه السلام اودس اوخائم نو اودس ئے اوکړو درے درے ځله اندامونه ئے اووینځل ،

تشریح : اندامونو کښې دلک چه امرار الید سره ذَ اضافة الماء نه دا ذَ مالکیه په نزد ضروزي دے ، دا درے ځله اندامونه وینځل اکمل دي،

فرائض الوضوء

دَ جلالین په حاشیه کښې دَ آیت الوضوء دَ لاندے صاوي لیکلے دي ، ان فرائض الوضوء عندالامام الشافعي ستة ، الاربعة القرآنية والنية والترتيب وعند مالك سبعة ، الاربعة ، والنية والموالاة او تدلیک دے چه په ټلي اندامونه مکمل او حنفي مسلک کښې دغه قرآني څلور منصوصي فرائض دي ،

مقاعد : مرقات کښې دي چه ابن حجر لیکلے دي چه دَ مدینے منورے دَ یو ځائے نوم دے ،

(۲): کوم ځائے چه بازارونه وغیره کښې دَ عوامو ناسته پاسته وي ،

(۳): دَ مسجد نه باهر دَ ناستے ،دَ یو ځائے نوم دے،

(٤): الاستذکار :۱: ۲۳۷ باندے دي دَ سیدنا عثمان دَ کور خواکښے په دے ګټو به خلق کیناستل ،

(٥): اشعة اللمعات کښې دي چه عمرؓ دَ مسجد نه باهر یوه ډپه جوړه کړے وه چه دلته خلق کیني ګپ شپ لګي او شعرونه وائي دے ته به ئے "رحبه" وے

اکمل اودس درے کرته دَ اندامونو وینځل دي او مسح درے ځله ترے نه ده مراد ، ملاعلي قاري لیکي چه دا شاذ داسے روایت کښې دے چه دَ ثقاتو خلاف دے امام بیهقي چه دِ امام شافعي په مذهب ډیر مئین دے هغوي هم دَ سیدنا عثمانؓ دے روایت باره کښې لیکلے دي چه دَ تفصیلي روایاتو نه معلومیږي چه دا تکرار دَ مسح دَ سر نه علاوه نورو اندامونو کښې دے دَ سر مسح خو یو ځل ده انتهي ، او درے ځله لاس په نوے نوے اوبو اغستلو خو غسل جوړیږي ،

دَ اودس عقلي حکمت

دَ لاس وینځلو سره دَ اوبو دَ یخ والي او دَ ګرم والي علم اوشو ، چه کله لاس صفا شو لپه کښې اودس کونکے اوبه واچوي دَ کتلو سره دته دَ صفا والي دَاوبو په رؤیت بصري سره احساس اوشي او په ټلي باندے په نظر غورزولو سره ورته دَ رنګ پوهه راشي چه کنګاله کوي خوله کښې اوبه واچوي دَ اوبو دَ خوند په کیفیت خبر شي په پوزه کښې اوبو اچولو سره درته دَ بوئي احساس اوشي قوت شامه فیصله دَ بوئي دَ ښکلي والي اوکړي چه کله رنګ بوئي او خوند باندے ئے علم راغے او ددهٔ دَ وجود لیبارټري درے واړه صفاتو تصدیق اوکړي بیا ئے په مخ واچوي ، او نن صبا دَ "کرونا" وبائي مرض په دفاع کښې دَ لاسو بیا بیا وینځلو تلقین کښې په عقلي طور دَ اودس اهمیت ، وقعت او عظمت ته واضحه اشاره موجود ده

Maktaba Tul Ishaat.com

،شاه ولي الله البدور البازغه كښې ليکلې دي چه دَ لاس وينځلو نه مخکښې لاس په اوبو کښې اچولو نه منع راغلې ده ځکه په لاس هر قسم کيګې په دے خيرے دي دَ نجس کيدو احتمال ئے هميشه وي او درے ځله وينځلو مقصد خه صفائي حاصلول دي دَ عملي کيفيت دَ خباثت ازاله په اودس کيږي، او دَ عملي هيئت دَ سمولو دپاره ادعيه مأثوره دي،

(٧):وَعَن عبد الله بن عَمْرو قَالَ: رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى إِذا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ تعجل قوم عِنْد الْعَصْر فتوضؤوا وهم عِجَال فَانْتَهينَا إِلَيْهِم وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ من النَّار أَسْبِغُوا الْوُضُوء» . رَوَاهُ مُسلم،

ترجمه : عبدالله بن عمرؓ فرمائي واپس شو مونږ دَ نبي عليه السلام سره دَ مکے نه مدينے ته کله چه وو مونږه دَ اوبو سره په لاره کښې نو تلوار کوله څه خلقو دَ مازيګر په مانځه کښې نو اودسونه ئے اوکړل او هغوي ډير تلوار کونکي وو چه کله مونږ هغوي ته اورسيدو نو دَ هغوي پوندے پرقيدے چه هغے ته اوبه نه وے رسيدلے نو نبي عليه السلام اوفرمائيل هلاکت دے دَ پوندو دپاره دَ اور نه پوره اودس کوئ ،

تشريح : دَ کومو عباداتو چه اسلام حکم ورکول غواړي چه ظاهر او باطن ئے دواړه برابر وي دَ باطن کيفياتو سره ظاهر به ئے په اعلي طريقه وي معمولي اوچ والے که په غلط فهمئ او په تلوار چرته دَ بعضو نه راغلے وي نبي عليه السلام په دغه وخت به دَ زورنے او آدابو سره دَ هغے اهميت ښکاره کړے وي ، اودس کښې چه ګتئ اوچے پاتے شوے ادب دَ کمال ئے اوخودلو او دے نيمګړتيا سره ئے ورته دَ آخرت عذابونه مخے ته کړل نو چه کله شيعه ګان په برښنډه خپه مسح کوي او خپے نه وينځے او دے ته خپل مابه الامتياز شعار وئي دَ هغوي به څه حال وي نو مکمل خپے وينځل لازم او فرض دي ،

بماء بالطريق : اي اذا كنا نازلين بماء كائن في طريق مكة يعني چينه وه ،

عجال : جمع دَ عاجل ده ، تعجيل بمعني استعجل واخله ،

لم يمسها الماء : دا جمله بيان دَ تلوح کوي ،

ویل : علامه آلوسي دَ "فويل للذين يكتبون الكتاب بايديهم" دَ لاندے ليکلے دي چه دا روايت صحيح دے "الويل وادٍ في جهنم" دا دَ جهنم كنده ده ويخ دَ رسيدلو نه مخکښ کافر به دَ څلويښتو کالو مزل کوي او تفسير قرطبي کښ دَ سيدنا عثمان قول "جبل من نار" دَ اور غر دے او امام رازي دَ سعيد بن المسيب په حواله ليکلے دي "وادٍ في جهنم" دغه شان دَ ابن عباس او عطاء رحمهم الله نه آثار نقل دي ملاعلي قاري دَ ابن حبان په حواله دَ ابوسعيد حديث واد في جهنم ته اصح قول وئيلے دے او بيا ليکي : دا داسے کلمه ده چه غم زيلے دَ هر مصيبت په وخت کښ وائي چه اصل ئے هلاکت او عذاب دے يعني غټ هلاکت دے ،

ويل او ويح کښ فرق

ويل استعماليږي چه دَ عذاب مستحق وي او "ويح" چه مستحق نه دے ليکن نزدے دے هلاکت ته، علامه هيثمي ليکي : دَ ويل نه فعل نشته دَ اعقاب نه اصحاب الاعقاب يعني انسان مراد دے حديث کښ پيغام دے چه دَ اودس فرائض او سنن پوره کوئ ملاعلي قاري پکښ واجبات هم ذکر کړے دي عام احناف اودس کښ واجبات نه مني او دَ واجباتو نه فرائض دَ قاري صاحب په عبارت کښ نه شي اغستلے کيدے ، ځکه دوي دَ فرائضو ذکر مخکښ کړے دے ، اشعة اللمعات کښ دي چه بل حديث کښ راځي که دَ نوک په مقدار اوچ ځائے پاتے شي اودس نه کيږي او امام طحاوي دَ عبدالملک بن سليمان روايت کړے دے چه دوي ته عطاء خراساني چه غټ تابعي دے وئيلے دي چه هيڅ صحابي په قدمونو مسح نه ده کړے په دے خپو وينځلو اجماع ده ، امام بخاري فرمائي چه ابن سيرين به کله هم اودس کولو نو دَ ګوتمے دَ لاندے ځائے به ئے وينځلو اهتمام به ئے کولو چه لاندے ځائے ته اوبه اورسي معلومه شوه چه هر ځائے ته دَ اوبو رسول ضروري دي دغه شان ګيټو ته کله اوبه په تلوار سره نه رسي ددے دَ لوندولو اهتمام دے عبدالرحمن بن ابي ليلي فرمائي : "اجمع اصحاب رسول الله صلي الله عليه وسلم علي غسل العقبين" دَ ګيټو په وينځلو دَ صحابؤ اجماع ده (فقه السنة :٤١)

ددے روايت په ذيل کښ مظاهر حق کښ دي چه شيعه په دے مسئله کښ په ګمراهئ کښ مبتلا دي او صاحب مرعاة دَ حديث وضاحت کښ ليکي چه مونږ شيعه ګانو ته مسلمانان نشو وئيلے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۸):وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بن شُعْبَةَ قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ. رَوَاهُ مُسلم،

ترجمه : مغیره بن شعبه فرمائي : نبي علیه السلام اودس اوکړو نو مسح ئے اوکړه په تندي او په پټکي او په دواړو موزو باندے ؛

تشریح :اشعه کښې دي چه دَ خندق په کال مغیره اسلام قبول کړے دے دَ سیدنا معاویه خاص مشر وو،

دَ عمامے مسح

الکاشف کښې دي چه امام ابوحنیفهؒ او امام مالک ددے قائل نه دے لیکن سفیان ثوري ، امام احمد ، او داود صرف په عمامه دَ مسح قائل دي انتهي، دَ امام شافعي مسلک کښې چه کله په قدر دَ واجب دَ سر مسح اوشي نو پاتے مسح که په عمامه اوشي نو دَ استیعاب سنت ادا کیږي ، سیدنا مغیرهؓ دَ ناصیے مسح دَ عمامے سره یو ځائے بیان کړے ده په عمامه باندے باقي مسح اوشوه دغسے علامه خطابي فرمائي اصل کښې دَ امام ابوحنیفهؒ نه څه نقل نشته اکثر احناف مطلقا دَ عمامے مسح نه مني ، البته جصاص احکام القرآن کښې لیکلے دي که په مقدار دَ ناصیے دَ سر مسح اوشوه او په عمامے دَ دے تکمیل اوکړے دَ احنافو په نزد جائز دي لیکن چه دَ سر مسح نه وي شوے صرف دَ عمامے په مسح باندے اکتفاء نه دَ احنافو انکار دے ، امام جصاص لیکي : چه دومره یقیني ده چه نبي علیه السلام په فرض مقدار مسح نه ده پریخودلے نو مقدار دَ ناصیے سنت عمل دے چه کله دَ نبي علیه السلام نه دَ ناصیے دَ مقدار نه کم مسح ثابته نه ده دا عدم ثبوت په دے دلالت کوي چه مقدار دَ ناصیے فرض دے ، بعض وائي چه کیدے شي چه دَ ناصیے مسح دَ عذر په وجه شوے وي یا دَ وضوء علي وضوء صورت کښې شوے دي لیکن احکام القرآن کښې جصاص لیکلے دي که عذر وي نو دَ هغے نقل به موجود وو او دَ مغیره حدیث کښې صراحت دے چه نبي علیه السلام اودس مات کړو بیا ئے اودس کړے دے او په ناصیه باندے ئے مسح کړے ده ددے نه واضح معلومیږي چه دا دَ وضوء علي وضوء صورت نه وو هسے نه چه مسح علي الخفین کښې داسے تاویل اوشي چه وضوء علي وضوء صورت کښې مسح علي الخفین شوے ده یا دَ ضرورت او دَ عذر دَ وجے شوے ده حالانکه څوک هم ددے قائل نه دي چه دَ څلورمے حصے نه کم

دَ مسح روايت نشته نو دَ مغيره روايت دَ "وامسحوا برؤوسكم" دَ اجمال بيان دے او ابوداود كښې فمسح مقدم رأسه ولم ينقض العمامة" روايت دے چه ابوداود په هغے سكوت كړے دے ،

شرائط دَ امام احمدؒ

(۱): پټكے به ئے دَ ځنے دَ لاند كړے وي او تړلے به ئے وي چه هغه نه پرانستلے كيږي ،

(۲): پټكے به دۀ دَ كامل طهارت نه روستو تړلے وي ،

(۳): عمامے به سر داسے پټ كړے وي چه هيڅ برخه به دَ هغے ښكاره نه وي ،

(٤): عمامه به دَۀ په ناجائز طريقه نه وي حاصل كړے ،

جمهور وائي صرف په عمامه مسح عرف كښې دَ سر مسح نه شي شمارلے كيدے دَ عمامے فقط مسح دَ سر مسح ځكه نه ده چه دَ آيت په مفهوم كښې نه ده داخل ، شيخ ابن قتيبه دعوي په تاويل مختلف الحديث كښې كړے ده چه دَ مسح علي العمامه په حديث باندے عمل نشته په دے اجماع ده ص:۳۳۱، المفاتيح كښې علامه زيداني ليكلے دي "المسح علي العمامة يقوم مقام المسح علي الرأس في تكميل لا في قدرالفرض لان مسح الرأس بقدرالفرض سهل" او علامه محمد ادريس كاندهلوي التعليق الصبيح كښې ليكلے دي چه دَ مسح علي العمامه حديث عمرو بن اميه الضمري نقل كوي او سيدنا بلال او مغيره روايت شعبه نقل كوي "كلها معلولة كذا في الاستذكار" ليكن شاه صاحب عرف الشذي كښې وائي "مما اخرج البخاري فيشكل قول التعليل" علامه ابن عبدالبر ورته معلول وائي او فقه السنه كښې سيد سابق ص:٤١ باندے دغه دَ عمروبن اميه او دَ بلالؓ او دَ مغيره بن شعبهؓ روايت نقل كړے دے دَ مسح العمامه روايت ته مولانا عبدالحي لكهنوي التعليق المجد كښې معلول وائي ليكن ابن عربي فرمائي صحيحة لاغبارعليها" التعليق الفصيح :ص: ٦٥ باندے قاضي شمس الدين ليكلے دي چه موطا مالكؒ كښې دي چه دَ جابر بن عبدالله الانصاري نه دَ عمامے دَ مسح تپوس اوشو اوئے فرمائيل چه نه به كوي په اوبو به په ويښتو مسح كوي هكذا في المصنف ، هشام بن عروه فرمائي : چه زما پلار عروه بن الزبير به پټكے لركولو او بيا به دوي مسح كوله او دَ عبدالله بن عمرپي بي به لوپټه لركوله ، اونافع په هغه وخت كښې ووړوكے وو ځكه پردئ ښځے ته ئے كتلے دي ،

مصنف ابن ابي شيبه : كښې دَ شعبي ، مغيره ، ابن عمر، دَ عطاء ، قاسم ، او دَ حسن نه روايات په ص:٤١٦ جلد اول باندے نقل دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

صرف په اکتفاء دَ مسح علي العمامة دَ نه عمل عذرونه

الحق الصریح کښ دي چه احناف وغیره ددے قسم آحادیثو شپاړس جوابونه کوي چه ټول دَ حدیث ورانول دي"

بعض داسے حدیث شته چه غیر مقلد ئے په روانولو راشي دَ هغے نه اتلس(۱۸) جوابونه کوي کله وائي دَ حدیث غورځولو دپاره ئے واقعة حال لا عموم لها" اصل جوړ کړے دے بیا چه کله راګیر شي هم دغه دَ واقعة حال لا عموم لها جواب ورکولو باندے فخر کوي دغسے مطلقا بغیر دَ شرائطو دریواړه امامان او صحابه تابعین شته چه هغوي ددے قائل نه دي مخکښ تیر شو دَ مصنف وغیره په حواله دا هسے احنافو ته اوبه خړول دي

(اول عذر): پټکے ئے برابرولو الحق الصریح کښ دي چه صحابي ګمان اوکړو چه په پټکي ئے مسح کړے ده ، دَ علماؤ دے عذر ته بے هوده او تخطئة الثقات وئیلے دي لیکن دوي دَ ابوبکر بن عربي جواب بغیر دَ هغوي دَ نوم ذکر کړو چه دا دَ صحابؤ تغلیط دے لیکن عرف الشذي کښ فرمائي : اصل تعبیر داسے دے چه په سر باندے اصالة او په عمامه باندے تبعًا مسح اوکړه دے توجیه کښ تغلیط نشته ، اوس به یو بے هوده دے ته بے هوده وائي دغسے جصاص او علامه خطابي وائي چه سیدنا مغیرهؓ دَ عمامے مسح دَ سر سره یوځائے بیان کړے ده نو په عمامه تبعا مسح شوے دے احناف صرف په عمامے دَ مسح نه انکار کوي چه کله فقط په دے اکتفاء اوشي او دَ سر مسح هډو اونه شي ، په سر باندے دَ مسح تکمیل چه کله په عمامه اوشي انکار ترے نشته ، اومام شافعي هم فرمائي چه کله په قدر واجب دَ سر مسح اوشي نو که پاتے په عمامه اوشي دَ استیعاب سنت آدا کیږي ، کتاب کنزالحقائق مِن فقه خیر الحقائق چه دَ علامه وحیدالزمان کتاب دے ص:۱۱ باندے لیکلے دي "او بعضه مع التکمیل علي العمامة اوالعمامة فقط" دَ تکمیل دَ دَ عمامے توجیه وحیدالزمان هم کړے ده ،

دَ غیر مقلد دَ ادب نه ډکه نمونه

چه دَ چا په عبارتونو کښ داسے قسم خبرے وي چه دَ انبیاؤ تنقیص ترے مترشح کیدے شي او دَ حکم نه ئے شعوري غیر شعوري طور باندے غلطے خبرے وتلے وي ، خلفاء راشدینو کښ په سیدنا عمرؓ او سیدنا عثمانؓ دَ زره براس دَ تحقیق په عنوان سره دَ هغوي په خلاف کښ ناترسئ سره اوباسلے

وي دَ ائمه کرامو خصوصا دَ مجتهدینو او دَ هغوي دَ مقلدینو باره کښې غلطې خبرې کړې وي که هغوي دَ اکابرینو باره کښې "بے هوده" لفظ استعمال کړي دا خو دَ اوښ په خُله کښې زیره ده --- کنزالحقائق کښې ص: ۲۳٤ باندې علامه وحیدالزمان وائي "ویستحب الترضي للصحابة غیر ابي سفیان ومعاویه وعمرو بن العاص ومغیرة بن شعبة وسمرة بن جندب ویستحب السکوت عن هؤلاء الخمسة" ددې پنځه صحابؤ نه سکوت مستحب دې معامله ئې الله ته پریږده نه به دَ دوي بدي بیانولې شي او نه ندامت، او ددې خلقو دا عجیبه کار دې چه دا خپله تیزي او بے هودګي صحابؤ ته منسوب کوي، دَ باب الجماعة وفضلها" په آخر کښې روایت کښې راځي "فسبه سبا" الحق الصریح لیکي صحابي څوي ته اوې چه سپیه، غوییه، خنزیره زه تاته حدیث دَ رسول الله وائم ته خپله رائې پیش کوې دلیل دې چه دَ سنت رسول خلاف څوک کوي هغوي ته بد رد وئیل جائز دي، الحق الصریح بیا لیکي: چه سب لعنت دې" بنده وائي چرته څوي ته صحابي سپے، خنزیر، غوییه نه دي وئیلې، زورنه ځان له ده لیکن قبیح الفاظ صحابي دَ خُلې نه نه راوباسي، دَ صحیح مسلم روایت کښې دي "امر معاویه بن ابي سفیان سعدا فقال ما منعک ان تسب ابا التراب" (۲: ۲۷۸) دَ سب معني کنځل نه دي بلکه اختلاف رائې او غلطئ کښې زورنه ورکول دي، چنانچه صحیح مسلم کښې دي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم دَ تبوک دَ غزا په سفر لښې صحابؤ ته هدایت اوکړو چه صبا دَ تبوک چیني سره اورسئ څوک به زما نه مخکښې اوبه نه استعمالوئ لیکن اتفاقا دوه کسان دَ قافلې نه وړاندې اوبو نه مخکښې اورسیدل او اوبه ئې اوڅکلې "فسبها النبي صلي الله علیه وسلم" صحیح مسلم:۲: ۲٤٦ په غلطئ زورنه ورکول مراد دي،

دوئمه نمونه

الماتریدیه دَ شیخ شمس الدین سلفي الماتردیه : ۱۱٤ باندې لیکلې دي، الکذابون، البهاتون المزورون، المتقولون المحرفون المتعبدون الافاکون المقومون المفتکحون فقد رویت انت ایهاالافاک الوضاح الخ (۲): دَ یو شیخ باره کښې لیکي : "لمن اعظم الافاکین واهل الحیل الماکرین من الواقعین في کذب مکشوف معلوم مذموم مع کونه اعلم علماء الفنجفیریه ----ثم یقول مع تلک التاویلات والتحریفات والتعطیلات، (الماتریدیه :۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ دوي مشر علامه الباني دَ بدو ردو كنځلو دپاره مستقل كتاب مطالعه كړئ "قاموس شتائم الالباني" تصنيف دَ حسن بن علي السعاف مطبوعه دارالامام النووي بيروت لبنان" تقليد اعمي ، مذهبي تعصب ، اهمال التحقيق او استلام التقليد ، الزامات خو دَ دوي دَ عدم تعصب ښكاره نښے دي ،

الحق الصريح كښ دي ددے فائده شيعه ګانو ، پرويزيانو ته لاره چه منكر حديث شو،

ليكن كه تحفه اثناعشريه ، منهاج السنه او دَ علامه ابن قيم اغاثة اللهفان اوكتلے شي پته به اولګي چه شيعه ګانو ته څوک لاره همواروي ، لكه مثلا قال الرافضي وسقوط الحد عمن نكح امه واخته ، او بيا ئے شيعه له جواب وركړے دے دغسے دَ هغوي شاګرد دَ اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان ص: ١٤٤ باندے ليكلے دي " هذا من اعظم الكذب والبهت علي الائمة فقد اعاذالله ابا حنيفة واصحابه من ذالک" دَ مسئلے وضاحت دَ "الامدادالرجيح" اول جلد په صفحه:٥٨٨ باندے دے ، مولانا لكهنوي ددے توجيه باره كښ ليكي : چه كومه په فتاوي خالص :٣: ٢٩٦ باندے ده "ومن احسن ماالطلعت عليه في ذالک كلام العلامة اليماني في سبل السلام ، ليكن علامه لكهنوي ليكي : " وان في نفسه من الطائفة الفاضلة يشبه كلام الفرقة الرافضة شبه النبل بالنبل واسفل بالسفل (تذكرة الراشد:٢٩٣)

علامه عبدالرحمن كامليوري چه دَ شيخ عبدالسلام دَ بخاري استاد دے ، معارف ترمذي :١: ٢٨٦ باندے ليكي "جو شخص ان كی (امام محمد) شخصيت اور مرتبه سے واقف ہے وہ اس كو بسر و چشم مقبول كريگا جو ان كی شخصيت نہيں جانتے جيسے غير مقلدين وغيره ان كے نزديک وقعت والانہ ہو گا بڑے پائے كے عالم تھے اور امام اوزاعی كے معاصر تھے" التحقيقات كتاب كښ چه په هغے دَ څلورو وارو غيرمقلدينو تصديقات دي ص: ٢٠٨ باندے ليكلے دي "اصل كښ دَ پرويزيت مذهب په تاسو خه صادقيږي ،

دا صاحب التحقيقات ګستاخ ، متشدد او متعصب دَ توحيد الحاكمية كتاب كښ: ١٣٧ باندے اهل حديث ، ديوبندي ، بريلي ،تنظيم اسلامي ، جماعت اسلامي ، جماعة الدعوة ، جيش محمد فرقة المجاهدين ، البدر او حزب المجاهدين ټولو ته كافر ، مرتد ، زنديق او واجب القتل ګڼړي او بكواس كوي چه دَ اصلي مرتد نه ددےمرتدينو مخكښ كولو پكار دي ، دَ ده غلو او كفر ته نږدے خبرو له هيڅ اعتبار نشته ،، كتاب مونځ په رڼړا دَ آحاديثو كښ شيخ عبدالسلام ليكلے دي غالبا دَ خپل شيخ باره كښ دَ زړه براس اوباسي څكه په دے بهانه (چه دَ راوي اضافه ده) دَ ډيرو آحاديثو نه انكار كول آسانيږي او دَ انكار حديث لار جوړيږي ،

او حقيقة الالحاد :۳ باندے دَ غیر مقلدینو مجتهد لیکلے دي چه حتي الوسع مونږ اهل حدیث دَ دیوبندیانو سرہ دَ تکراو صورت نه پیدا کوو ، قادیانو ، پرویزیانو او مبتدعینو غوندے باطل ډلے پرے کلکیږي لیکن دوي چه کوم کتاب لیکلے دے "شیخ القرآن صاحب پنج پیر اوآحادیث رفع الیدین" په هغے کښ هم دا الزام دے چه دوي برسرے عام دَ متواتر آحادیثو نه انکار کوي ،، برسر عام که چرته غیث السحابه دَ شیخ عبدالسلام په غور اوکتلے شي معلومه به شي چه شیعه ته څوک لار هموارووي او چه څوک وائي چه امام ابوحنیفه ته اولس(۱۷) آحادیث یاد دي ددے په وجه منکرین حدیث ته لار سازیږي چه دغه غټ مجتهد اولس آحادیث منل نو دا په زرګونو آحادیث العیاذ بالله بیا ګپ دے،

(دوئم عذر): دوئم جواب دادے چه دا مسح وه بیا پریخودلے شوے وه ، الحق الصریح کښ دي صرف دَ امام محمد په قول نسخ نه ثابتیږي او هغه دَ نسخ دلیل هم نه دے پیش کړے لیکن امام محمد موطا کښ لیکي : وبهذا نأخذ لایصح لا یمسح علي الخمار ولاالعمامة شیئا ان المسح علي الجماعة کان فترک وهو قول ابي حنیفة والعامة من فقهائنا" (ص:۷۱)

مولانا لکهنوي ددے په حاشیه لیکي : ولم نجد الي الآن ما یدل علي کون مسح العمامة منسوخا لکن ذکرو بلاغات محمد مستندة فلعل عنده وصل باسناده ، "واذا حضر احدکم الموت (بقره) دَ آیت دَ لاندے په یو مسئله دَ بحث آخر کښ لیکي چه ددے نه علاوه بله مسئله ده چه سلف سره به څه دلیل قطعي ضرور وي چه صریح کتاب پریږدي کښي نه به ئے پریخودو اګر چه هغه ناسخ مونږ ته په یو معتبر طریقه نه وي معلوم ،

اوعلامه خطابي معالم السنن کښ او التقریر الرفیع کښ لیکي : "فلایترک الاصل المتیقن وجوبه بالحدیث المحمل" واقعي چه حدیث کښ معتد به احتمالات دي ،

(درئم عذر): ذکر دَ حال (عمامه) او مراد ترے محل (رأس) دے لکه چه "اوجاء احد منکم من الغائط" کښ ذکر ذکر دَ غائط او مراد ترے بول وبراز دي(اسعدالمفاتیح)

(څلورم عذر) مسح علي العمامة حال کونه متعمما " پټکے ئے نه وو کوز کړے په داسے حال کښ ئے مسح کړے ده ، فتح الملهم ۱: ۴۲۴ باندے په حواله دَ روح المعاني موجود دي چه دَ سورة الغاشیه آیت دے " واضله الله علي علم" ددے دَ لاندے علامه آلوسي علي علم دَ فاعل یا دَ مفعول نه حال جوړ

کړے دے "الحال مابیین هیئة الفاعل او المفعول به اوکلیهما" کافیه، نو دلته مراد حال کونه دے لیکن معارف السنن کښې دي چه دے شکلے توجیه ته متبادر ذهن نه ځي ؛

الحق الصریح کښې دي پټکے چه کله دَ سر نه اوتړلے شي نو ددے حکم وي او نبي علیه السلام ورله حکم دَ سر ورکړے دے چه صحیح حدیث کښې دي لیکن وضاحت دادے چه علامه ابن تیمیه دَ یوے مسئلے وضاحت کښې وائي "وانما تنازع الناس فیمن یستظل بالمحمل تلازمه العمامة لکنه منفصل عنه فمن نهي عنه اعتبر ملازمته له ومن رخص فیه اعتبر انفصاله عنه" (مجموع فتاوي:١١: ١١٩) نو پټکے هم دَ سر نه جدا هم ګڼړلے دے ، سر څانله دے او پټکے څانله دے،

(٩):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ: فِي طهوره وَترَجله وتنعله متفق علیه"

ترجمه : عائشه ؓ فرمائي : نبي علیه السلام به ښي لاس باندے کارونه شروع کول خوخول چه څومره به دَ هغه وس وو لکه په طهارت کښې منګز ، او پیزار اچولو کښې ،

تشریح : په هغے امورو کښې چه مکرم دي کوشش دَ نبي علیه السلام به دا وو چه ښي طرف له مخکښې والے ورکړي لکه نوکونه یا دَ ترخ ویخته اغستل ، لاسونه او خپے وینځل ګیره او سر منګز کول ، غسل کښې ښي طرف له ترجیح ورکول پیزار پڼچو کول قمیص ، پرتوګ اغوستل مسجد ته تلل صف کښې اودریدل لکه ددے مخکښې هم ذکر شوے دے ، لیکن هغه امور چه تکریم سره تعلق نه لري په هغے کښې ګس طرف وړاندے کول دَ نبي علیه السلام معمول وو لکه بیت الخلاء ، بازار ، او دَ ګناه ځائے ته تلل ، دَ مسجد نه وتل ، پوزه ، سونړول ، استنجاء کول ، پیزار یا جامه اوباسل ،

في طهوره : دا دَ في شانه نه په اعادے دَ عامل سره بدل جوړیږي او په حدیث کښې طهور دَ هر څه نه مخکښې ځکه ذکر کړو چه دَ ټولو طاعاتو دَ پرانستلو یوه ګنجي ده او دَ "ترجل" تعلق دَ سر سره دے او دَ تنعل دَ خپو سره دے نو ټولو اندامونو ته شاملول دَ حکم ئے مطلوب دے ، پیزار اچول "ترجل" منګز کول خواتینو چه دَ نبي علیه السلام لور زینب ؓ نه غسل ورکولو هدایاتو کښې ورته اوفرمائیل "ابدءن بمیامنها" په ښي طرف شروع اوکړئ نو ژوندو دپاره خو بطریق اولي دغه حکم دے ابوداود کښې په سند صحیح دَ ام المؤمنین عائشه ؓ روایت دے دَ نبي علیه السلام ښے لاس دَ پاکئ او طعام دپاره وو او

ګس لاس دَ استنجاء دپاره او دَ اذي لركولو دپاره وو دَ نبي عليه السلام معمول دا اودهٔ كيدو په خي طرف
وو معلومه شوه چه حديث كښې ددے درے امور ذكر دَ مثال په طور دي ، علماء ليكي چه كوم ملک په
خئ اوګه ناسته ده هغه اوچته ده دَ ګس اوګے دَ ملک نه ، او شيخ عبدالحق ليكي دَ خي طرف ګاونډ په
ګس باندے مقدم دے ،

راستي درهمه جا معتبر است،، الكاشف كښې دي "ماستطاع" كښې دَ خي طرفـٌ په محافظت كښې تاكيد طرف ته
اشاره ده ، لنډه دا چه اسلامي تعليماتو كښې دَ خه كار شروع كښې خي طرف مقدم كول مستحب دي او
دَ انګريز قانون كښې ګس طرف له تقديم دے لكه ټريفک كښې دَ انګريزي قانون مطابق په ګس لاس
ځي كله چه دَ خلقو معمول دَ ګاډو چلولو او دَ پيدل تللو په ګس لاس وي كه لږ كسان په شرعي حكم
عمل كوي او په خي لاس دَ ګاډي چلول شروع كړي ددے نه به دَ حكمت په طور اجتناب ځكه كوے
چه دَ مستحب عمل دپاره ځان هلاكت كښې غورځول نه دي پكار ،
متفق عليه : ميرک شاه محدث ليكلے دي چه دَ مسلم الفاظ لږ بدل دي ،

الفصل الثاني

(١٠):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذا لبستم وَإِذا توضأتم فابدؤوا بأيامنكم» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد"

ترجمه : ابوهريرهؓ فرمائي : چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي : كله چه اچوئ تاسو جامے او يا اودس
كوئ نو دَ خي طرف نه شروع كوئ ،

تشريح : په مخكښې روايت كښې دَ خي طرف مقدم كولو دپاره درے مثالونه ذكر كړل دے حديث كښې
دوه نور مثالونه ذكر كوي ، جامے اوغوستل او اودس كول په خي طرف شروع پكار ده او دا دوه ئے
خاص كړل او "اذا" چه كوم اداة شرط دے دا ئے مكرر دے له راوړل چه په استقلال باندے دلالت
اوكړي او جامه دَ الله تعالي نعمت دے ځكه ددے دَ استعمال په وخت كښې دَ الحمدلله وئيلو حكم
راغلے دے ، الحمدلله الذي كساني ما اواري به عورتي واتجمل بها في حياتي" دوه فائدے دي دَ عورت
پټول او خائست او دَ "ايامنكم" او دَ "ميامنكم" دواړه قسمه الفاظ راغلے دي او "ايامنكم" دَ
ابوداود په باب النعال او شرح السنة كښې دَ مشكوة دغه الفاظ شته او دَ سيدنا ابوهريره په روايت امام

Maktaba Tul Ishaat.com

احمد ددے تخریج په خپل مسند کښ کړے دے ، مامَن جمع دَمیمن او ایامن جمع دَ یمین ده ، که جامه اول کسه طرف نه واچوے یا اودس کښ شروع په کس طرف اوکړے نو جائز دي لیکن داسے ورله نه وو پکار په سنت طریقه ئے عمل اونه کړو ،

امام نووي دَ مسلم شرح کښ لیکي :۳: ۱۶۰ چه دا تقدیم دَ یمین سنت دے "وأجمع العلماء على أن تقديم اليمين على اليسار من اليدين والرجلين فى الوضوء سنة لو خالفها فاته الفضل وصح وضوءه"

(۱۱):وَعَن سعيد بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللّٰه عَلَيْهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْن مَاجه وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ والدارمي عَنْ أَبِي سعيد الْخُدْرِيّ عَنْ أَبِيه وَزَادُوا فِي أَوله لا صلاة لمن لا وضوء له»

ترجمه : سعید بن زید ؓ فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائي نه دے اودس دَ هغه دَ چا چه بسم الله ئے اونه ووے ،

تشریح : سعید بن زید ؓ فرمائي : سعید بن زید بن عمروبن نفیل "هُوَ قُرَشِيٌّ عَدَوِيٌّ مِنَ الْعَشَرَةِ الْمُبَشَّرَةِ. قَالَ الطِّيبِيُّ: وَقَالَ الْمُصَنِّفُ: يُكَنَّى أَبَا الْأَعْوَرِ، أَسْلَمَ قَدِيمًا وَشَهِدَ الْمَشَاهِدَ كُلَّهَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ بَدْرٍ، فَإِنَّهُ كَانَ مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ يَطْلُبَانِ خَبَرَ عِيرِ قُرَيْشٍ، وَضَرَبَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمِ، وَكَانَتْ فَاطِمَةُ أُخْتُ عُمَرَ تَحْتَهُ، وَبِسَبَبِهَا كَانَ إِسْلَامُ عُمَرَ، مَاتَ بِالْبَقِيعِ سَنَةَ إِحْدَى وَخَمْسِينَ، وَلَهُ بِضْعٌ وَخَمْسُونَ سَنَةً" لیکن دار ارقم کښ دَ عمر ؓ دَ اسلام واقعه او دَ الله اکبر نعره او دَ عمر ؓ خور وهل او سترے کیدل او دَ حمزه وئیل که خیالات ئے غلط وي سر به ئے قلم کوم الفاظ ثابت نه دي ،

او دَ سورت طه آیت لوستل دارقطني کښ دَ قاسم بن عثمان په زریعه نقل دي او په دهٔ کلام دے،

مذاهب

په دے مسئله کښ قاضي شوکاني په نیل الاوطار کښ داسے اختلاف ذکر کوي چه دَ اهل بیتو ، ظاهریه اسحاق او دَ امام احمد په یو روایت کښ بسم الله وئیل واجب او فرض دي ، ظاهریه ورته مطلقا فرض

وائي كه بسم الله ئے ياده وي يا هيره ، او اهل بيت ئے هغه چا له فرض مني چه بسم الله ئے يادوي، ز
شوافعو احنافو مالكيو ، او دَ ربيعه يو مسلک کښې سنت ده او البدائع کښې دي چه امام مالک ورته
فرض وائي ليکن که هيرئے شي نو په زره کښې تسميه شته چه دَ ژبے قائم مقام جوړيږي ، تحفة الاحوذي
کښې علامه مبارکپوري يو خوا ليکي : چه دے باب کښې يو روايت قوي نشته او داسے بعض غيرمقلدين
هم ددے اقرار کوي لکه عون المعبود کښې دے بحث کښې دي چه اثرم دَ امام احمد يو روايت نقل کړي
ليس في هذا الباب حديث احكم به وقال ايضا لااعلم في هذا الباب حديثا له اسناد جيد او که يو روايت
ئے ذکر کړے دے خو دَ تاريخ بخاري په حواله ئے ليکلے دے "لا يعرف لسلمة سماع من ابي هريرة" او
ليکلے دي وفي هذا الباب آحاديث ليست اسانيدها مستقيمة" او مسند احمد :٤٥: ١٢٥ باندے دي اسناده
ضعيف " او شوکاني صاحب دَ حافظ ابن حجر قول نقل کوي "والظاهر ان مجموع الاحاديث يحدث منها
قوة تدل علي ان له اصلا" خالانکه دَ حديث دَ مسح په مسئله کښې الحق الصريح :٢: ٢٨٢ باندے دي:
چه په حديث ضعيف سره هيڅ کله استحباب نه ثابتيږي خصوصا کله چه ضعف هم زيات وي لکه دا
خبره علماء المصطلح الحديث بيان کړے ده ، او دلته ص:٣١٧ باندے ليکلے دي اهل ظاهر دا جواب
ورکوي چه ددے ډير اسانيد دي چه بعض په بعضو سره قوي کيږي او ډير ضعف پکښې نشته ، واقعي،
او ص: ٣١٤ باندے ليکلے دي او هر کله چه ضعف سخت وي نو بيا کثرة الطرق دليل دَ قوت نه وي"
(تعصب بده بلا ده)

ليکن دَ غير مقلدينو نه دے مسئله کښې دا اصل هير دے يا دَ قصده ئے هير کړے دے ، او دلته
ص:٣١٤ باندے الحق الصريح کښې دي چه ضعف سخت وي نو ، او په تحفة الاحوذي کښې مبارکپوري
کتونکي ته داسے تحفه ورکوي "قلت لا شک في ان هذا الحديث نص علي ان التسمية رکن للوضوء او
شرط له" تحفة الاحوذي: ١: ٣٨ ، دَ ضعيف حديث نه رکنيت او شرط ثابتول که تعصب نه وي ، او دَ
غرض سندا په سفر خيجول نه وي نو څه به وي او علامه ابن همام هم دا مني ليکن فتح القدير ص:٢٠
باندے ليکلے دي "وَمَا أُعِلَّ بِهِ غَيْرُ قَادِحٍ لِلْمُتَأَمِّلِ فَهِيَ مُعَارِضَةٌ لِخَبَرِ التَّسْمِيَةِ بَعْدَ الْقَوْلِ بِحُسْنِهِ بِنَاءً عَلَى
أَنَّ كَثْرَةَ طُرُقِ الضَّعِيفِ تُرَقِّيهِ إِلَى ذَلِكَ" او ابن همام ليکي کيدے شي لاندے راويانو تسميه نه وه نقل
کړے حالانکه که هغوي مستحبات هم ذکرکوي او دا هم ممکنه ده چه خپله صحابوٌ دا حذف کړے
دي لکه دَ تخليل ذکر نه کوي نو عدم ذکر دَ عدم سنت او دَ عدم وجوب دليل نه جوړيږي فکيف بعد

Maktaba Tul Ishaat.com

الثبوت بوجه آخر (چه هغه وجه قوي ثابته نه ده امداد) او ليکي چه وجوب خو په تولو قسمونو سره ثابتيږي ، په دے وجه علامه شامي دَ بحرالرائق نه نقل کوي "وتعجب صاحب البحر من المحقق ابن الهمام حيث رجع معنا وجوبها ثم ذكر في باب شروط الصلاة ان الحق ما عليه علماءنا من انها مستحبته" (چه ځے ځے نو امازو له به راځے امداد) كيف وقد قال الامام احمد لااعلم فيهاحديثا ثابتا (ردالمحتار:۱۰۲)

ابن الهمام خپله دَ نورو ائمؤ دَ استحبابِ مذهب ته صحيح اووے او وائي چه تسميه واجب نه ده ،

په الحق الصريح ص:۲: ۳۱٤ باندے دي چه دا رائے دَ ابن همام هم ده لکه شاه انور شاه په العرف الشذي کښ وائي وتفرد بالوجوب منا ابن الهمام ،، هغوي ورته تفرد وئيلے دے او دا هم په العرف الشذي کښ شته "تفردات شيخنا لاتقبل" دا دَ قاسم بن قطلو بغا خبرے ئے دَ خپل شيخ باره کښ نقل کړے ده ، او الحق الصريح کښ دَ مبارکپوري صاحب غونډے تحقيق دے معلومه شوه چه تسميه شرط او ضروري ده ، والله اعلم چه په کوم قوي دليل شرطيت والا فتوي ورکولے کيږي دَ شاه ولي الله او علامه عبدالحي په نقل خو شرطيت نه راځي علامه عبدالحي لکهنوي دوه ځايه آخر کښ ليکي : چه وجوب کښ احتياط دے، فياللعجب

شاه ولي الله او تسميه په اودس کښ

شاه ولي الله حجة الله :۱: ص:۱۷۵ باندے ليکلے دي چه دَ اودس دَ اوبو مرجع يو څو امور دي په هغے کښ څلورمه خبره داسے نقل کوي چه دَ زړه دَ بسم الله سره په ژبه وئيل يو ځائےځ کول پکار دي "لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله" شاه ولي الله فرمائي چه ددے حديث په تصحيح اهل معرفت اتفاق نه کوي او که صحيح شي نو دا دَ هغے ځايونو نه دے چه په هغے کښ دَ هغے حاصلول طريقه مختلفه ده دَ نبي عليه السلام دَ اوداسه طريقه هميشه مسلمانان نقل کوي او خلقو ته ئے خائي او دَ تسميه ذکر دوي نه کوي تر دے چه دَ محدثينو زمانه ظاهره شوه او دا حديث نص دے چه تسميه رکن يا شرط دے او دَ دوارو وجوهو جمع او تطبيق داسے ممکن دے چه ددے نه په زړه کښ دَ تسميه ياداشت ساتل مراد دي ځکه چه بے دَ نيت نه عبادت نه قبليږي ليکن بسم الله دَ نورو آدابو غونډے يو ادب دے په ډيرو ځايونو دَ قياس کولو دَ وجے او دَ دے حديث دَ وجے "كل امر ذي بال لم يبدأ باسم الله فهو ابتر" او دا

احتمال هم شته چه اودس ئے کامل نه دے لیکن زه په داسے غوندے تاویل رضا نه یم دا هغه لرے تاویل دے چه دَ لفظ نه خلاف دے ،

الحق الصریح کښې دَ حجة الله عبارت مسلسل نه دے نقل ، مکمل عبارت نقل شو لیکن صاحب الحق الصریح فتاوي خالص کښې شاه صاحب دَ مولوي حمدالله صاحب البصائر سره یو ځائے کوي نو ځنکه دَ هغوي قول تائید کښې پیش کوي ، فتاوي خالص :٤: ٢ باندے لیکي : کما زعم بعض المعاصرین والمقلدین ان الاسلام کله منحصر في المذاهب الاربعة والخارج عنها ضال کما تفوه بذالک الشیخ اعزازعلي في حاشیة نفحة العرب والصاوي في تفسیره والداجوي في بصائره وولي الله الدهلوي في حجة الله البالغة وغیرهم" (:٤: ص:٢).

علامه محمد حسین نیلويؒ ندائے حق :٢: ٢٧٢ باندے لیکي : چه شاه ولي الله محدث دهلوي زمونږ دَ دیوبند دَ عالمانو دَ سر تاج دے په ډیرو مسئلو کښې دَ دوي تحقیق دَ احنافو خلاف هم دے مګر دَ دیوبند عالمان کثرهم الله دَ هغوي تحقیق کتلے دے په هغے مسئلو کښې خپل مسلک دَ احنافو عالمانو برقرار ساتلے دے انتهی،

دَ علامه نیلوي خبره سل په سله صحیح ده دغسے فتاوي دارلعلوم دیوبند مکمل دَ مفتي عزیزالرحمنؒ :٢: ٢٢٨ باندے دي که دَ شاه ولي اللهؒ غوندے محقق که په یو مسئله کښې اختلاف اوکړي نو نورو له دغه کار صحیح نه دے هغوي له دَ خپل امام متبوع تقلید پکار دے خصوصا چه په دلائلو کله دَ امام مذهب قوي وي ، دے بحث کښې یا نورو ځنو ځایونو کښې دَ مولانا عبدالحي لکهنوي دَ حوالے باره کښې دَ ندائے حق :٣: ٣٨٩ باندے علامه نیلويؒ لیکلے دي مولانا عبدالحي صاحب په ډیرو مسئلو کښې دَ امام ابوحنیفهؒ دَ مذهب خلاف دے چه نور خلاف ئے شته یو دے پکښې سماع الموتي وي دَ هغوي قول زمونږ دپاره حجت نشي جوړیدے ، فتاوي محمودیه :٩:٣٦٤ باندے هغوي دَ فقه دَ متونو مسلّمۀ خلاف هم خپل زاتي تحقیق لیکي دَ هغوي یو رساله تحفة النبلاء في جماعة النساء دَ مسلک دَ امام اعظم نه خلاف دَ نصاب زکوة او صدقه فطر کښې هم دَ اکابرو دَ رائے خلاف دے جواهرالفقه دَ کفایت المفتي کښې په دے سلسله کښې ردود موجود دي انتهی، یو دے پکښې دا مسئله دَ ډورو غوندے دَ هغه تحقیق شي لیکن دَ نصاب الفقه دَ اختلاف مسئله کښې معارف السنن کښې دي چه دَ مولانا عبدالحي او دَ جمهورو دَ اختلاف حال یو دے ، علامه ابن حجر هیثمي لیکلے دي "واستفید من تاکد ندب التسمیة

Maktaba Tul Ishaat.com

اول الوضوء واقلها واكملها بسم الله الرحمن الرحيم وليس قبلها التعوذ وبعدها الشهادتين" ، مرقات كښې دي : لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه " چه دا صيغه دَ شئ دَ نفي دپاره راځي حقيقة او مجازا ئې اطلاق په نفي دَ اعتداد كيدے شي او په نفي دَ كمال هم كيدے شي دلته نفي دَ كمال دپاره ئې واخله خلافا لاهل الظاهر ، او كان طهورا لاعضاء وضوءه نه مراد ځكه دَ گناه معافي واخله چه حدث تجزي نه قبلوي ، شيخ عبدالحق لمعات كښې ليكي : وعندالائمة الثلاثة هو لنفي الكمال او دَ احنافو مسلک ئې ذكر كړے دے چه بسم الله سنت يا مستحب دي عن ابي هريرة وابن مسعود من توضأ فذكراسم الله كان طهورا بجميع بدنه ومن توضأ ولم يذكراسم الله كان طهورا لاعضاء وضوءه ددے نه خو معلوميږي چه دَ چاردام اندامونه ئې پاکيږي وبهذا الاصح عندنا انها مستحبة لاسنة ،

الحق الصريح كښې ۳۸ نمبر باندے ص:۳۸۲ باندے دَ مشكوة ددے روايت دَ لاندے ليكي : او دلته ص:۳۱٤ باندے دي ليكن حديث ضعيف جدا دے قابل استدلال نه دے ، حالانكه مانحن فيه روايت هم ضعيف دے ، الحق الصريح كښې ص: ۳۱۷ باندے دي : چه دا حديث التسمية اصح او اقوي او ډير مشهور دے دَ حديث دَ الوضوء بالنبيذ نه نو چه په حديث دَ وضوء بالنبيذ باندے زيادت جائز گنړي نو پكار ده دا خو مشهور دے په دے باندے دے هم زيادت په كتاب الله باندے راشي ځكه چه زيادت دَ كتاب الله په خبر واحد سره خو احناف هم مني ، او دَ وضوء بالنبيذ روايت قدرے دَ بسم الله دَ هغے نه خه دے ځكه چه ابوزيد مولي عمروبن حريث راشد بن كيسان او ابوروق روايت كوي چه دے ئې دَ جهالت دَ حد نه اوباسلے دے او ددے خوارلس متابع موجود دي ، البدائع والصنائع كښې دي چه ابو فزاره دَ مسلم راوي دے طعن پرے نشته او دَ ابوزيد باره كښې صاعد وائي چه دَ زهاد تابعينو نه دے او ابو زيد مولي دَ عمروبن حريث دَ خپل زات په اعتبار سره معروف دے او مولي ئې هم معروف دے ، فالجهل بعدالته لايقدح في رويته " او دا روايت په نورو داسے طريقو نقل دے بے ددے طريقے نه چې پكښې هيڅ طعن نشته ، ليكن واضحه دے وي چه دَ الحق الصريح : ص: ۵۳۸ باندے دي : چه په نبيذ التمر باندے اودس كولو كښې هيڅ دليل نشته او په دے باندے اودس كول جائز نه دي او دے قول الجمهور ته امام ابوحنيفه هم رجوع كړے ده او دا ئې آخرنے قول دے واختاره الطحاوي كذا في البذل والمرعاة ،

چه کله دا دَ امام ابوحنيفهؒ قول نه دے پاتے او رجوع ئے مني نو په دے ددے اودس دَ بسم الله دَ مسئلے قياس مع الفارق دے ، او احناف په خبر واحد سره په کتاب الله دَ زيادت دَ وجوب يا دَ سنتيت په درجه کښ قائل دي او دے روايت ته په اصطلاح دَ محدثينو مشهور وئيل "زورے دارد" دلته ئے سنتيت اغستے دے او خپله دَ مولانا عبدالحي په حواله ئے ليکلے دي "فان حديث (لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه) وان لم يکن مثل حديث (لاصلاة الا بفاتحة الكتاب في الصحة) حالانکه هغه روايت مشهور دے نو دا يقيني مشهور اصطلاحي نه دے که دَ غير مقلد په اصطلاح مشهور وي نو بعيده نه ده ليکن دَ قرونِ ثلاثه بعد مشهور کيدلو له هيڅ اعتبار نشته ، الحاصل چه احناف په درجه دَ شرطيت کښ فرضيت کښ قطعا زيادت نه مني او امام ابوحنيفهؒ ئے دَ سنتيت نه انکار نه کوي او يو روايت ترے دَ استحباب شته ، فقه السنه کښ دي "وهي بعد ذالک امر حسن في نفسه وشروع في الجملة" په دے حديث کښ څنګه چه په نفحات التنقيح کښ دي که "لا" په حقيقت باندے حمل شي بلکه دَ صاحب الحق الصريح رجحان دے بيا هم روايت زمونږ خلاف نه دے بلکه دا دَ قبيلے دَ تنزيل الناقص بمنزلة المعدوم نه دے چه دَ بلغاء په نزد دا عام قاعده ده څکه العرف الشذي کښ دي "وهذا ليس بمجاز څکه چه دا مصداق کښ تبديلي ده نه په دلالت کښ اويا "لا" مشترک بين نفي الجنس ونفي الكمال ده ، يو روايت مبهم او مجمل دے او دَ ابوهريره دَ دار قطني روايت به ورله تفسير شي نو مبهم په مفسر باندے به حمل کړو "لا" به دَ کمال دَ نفي دپاره واخلو لکه "لاصلاة بحضرة الطعام" (صحيح مسلم: ۱: ۲۸۰ کتاب المساجد ومواضع الصلاة) انتهى

مصنف ابن ابي شيبه : نمبر:۱۸ : باب التسمية في الوضوء ، دَ لاندے دَ حسن قول دے "يسمي اذا توضأ فان لم يفعل اجزاه" دَ نفي دَ کمال نظير حديث ابن مسعود او دَ ابوهريره دے ليس المسلم الذي ترده تمرة" او حديث دَ سيدنا ابن عباس دے "ليس المؤمن الذي يبيت شعبان وجاره جائع" قاضي ابوبکر باقلاني ليکلے دي "لاوضوء" مجمل دے په دے حيثيت چه کله دا نفي دَ ذات او دَ صحت دَ نفي دپاره راځي (لکه چه ظاهريه ئے اخلي) او کله دَ نفي دَ کمال دپاره هم راځي او اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال ، امام بيهقي ددے حديث نه استدلال کوي "لاتتم صلاة احدکم حتي يسع الوضوء کما امره الله" نو په دے امره الله کښ آيت الوضوء طرف ته اشاره ده ليکن دَ اودس په آيت کښ ذکر دَ تسميه نشته ،

Maktaba Tul Ishaat.com

امام طحاويؒ دَ عدم وجوب په حکم په هغه حديث استدلال کړے دے چه نبي عليه السلام دَ سلام جواب مهاجربن قنفذ بن عمير التيمي القرشي له بغير دَ اودس نه څکه ورنه کړو چه سلام ذکر دے او پيغمبر عليه السلام دغه ذکر بے اودسه ډير خه نه ګنړل نو دا منل به پکار وي چه کم از کم نبي عليه السلام په دے موقعه باندے بے دَ بسم الله نه اودس کړے دے او چه مواظبت په بسم الله راتلو نو وجوب ضروري نه دے ، کشف المناهج کښ دي چه حديث دَ شواهدو په وجه قوي دے په مجمع الزوائد :۱: ۸۹ دَ باب التسميه عندالوضوء دَ باب دَ لاندے علامه هيثمي ړومبنے روايت دَ سيدنا عائشهؓ راوړے دے "كان رسول الله صلي الله عليه وسلم حين يقوم للوضوء سمي " ليکن دَ دواړو حديثو دارمدار په حارثه بن محمد دے او دے اتفاقي ضعيف دے او دوئم روايت دادے يا اباهريره اذا توضأت فقل بسم الله والحمدلله ، او طبراني په صغير کښ دا روايت ذکر کړے دے ، او علامه هيثمي ليکلے دي چه سند ئے حسن دے ليکن "قل" امر چه کله قرائن موجود وي دَ استحباب دپاره ئے اغستلے شي او لسان الميزان:۱: ۹۵ باندے دي وهو حديث منكر ،تعليق مصنف ابن ابي شيبه :۱: ۲۲۹ ابن قيم زاد المعادکښ پنځه حديثونه حسن لذاته ګنړي ،

الحق الصريح کښ دي چه امام اسحاق وائي چه بسم الله ترے سهوا يا په تاويل پاتے شوه نو اودس ئے جائز دے دا خه قول دے څکه دَ بسم الله آحاديث داسے ډير قوي نه دي "

ليکن که چرته څوک اودس کښ مخ اونه وينځي هير شي يا ترے دَ سر مسح هيره شوه نو بيا خو به خه قول دا وي چه دَ دوباره اودس کولو ضرورت څکه نشته چه هير ئے دي او دغسے خو غير مقلدين نه کوي نو دَ شرطيت او فرضيت قول ضعيف دے او دَ ابوداود دَ باب التسمية علي الوضوء حديث :۱۰۱ ته دوي حسن وائي لکه حافظ منذري وغيره ليکلے دي ليکن سند داسے دے "يعقوب بن سلمه عن ابيه عن ابي بردة" امام بخاري فرمائي چه نه دَ يعقوب بن سلمه سماع دَ خپل پلار نه ثابت ده او نه دَ دوي دَ پلار سماع دَ سيدنا ابو هريره نه ثابت ده (تهذيب الكمال :٤: ٤٢٤ ، :١١: ١١٠، بحواله نماز نبوي مدلل مکمل)

تبين الحقائق کښ دي چه ټول اودس يو څيز دے تجزي نه قبلوي په ابتداء کښ به بسم الله وائي که په مينځ کښ ياد شي او اوائي نو دے مقيم دَ سنت نه دے ليکن خوراک کښ هره نوړئ مستقل عمل دے که چرته مينځ کښ رایاد شي او اوائي نو خير دے ،

دَ بسم الله وئيلو كيفيت

اشعة اللمعات كښې دي چه دَ سلفو نه منقول دي چه سبحان الله العظيم وبحمده ، په اوئي بعض وائي غوره بسم الله الرحمن الرحيم ده څوک وائي بسم الله والحمدلله على دين الاسلام دَ وائي شاه انور كشميري فرمائي چه دَ اودس په شروع كښې پوره بسم الله نه ده نقل صرف دَ بسم الله والحمدلله الفاظ راغلي دي ليكن هيثمي فتح الاله كښې وائيچه اكمله بسم الله الرحمن الرحيم وئيل دي ،

علامه طيبي ليكي لكه چه په التقرير الرفيع كښې دي چه صحيح عبارت داسې دے عن ابي سعيد الخدري عن النبي صلى الله عليه سلم ، دے خپله دَ نبي عليه السلام نه راوي دے پلار ئې نه دے دلته دَ مصنف په عبارت كښې دوه سهوے راغلي دي يو په سند كښې او دوئم سهو داده چه دَ "لا صلاة لمن لا وضوء له". اضافه په دارمي كښې نشته "كما يفهم من قوله" زادوا" فتأمل " "مرقات" نو دا دَ دارمي اضافه ده ،

الحاصل : "ابن" دَ مصنف نه پاتې شوے دے عن ابن ابي سعيد الخدري عن ابيه پكار وو ځكه چه دَ ابوسعيد الخدري پلار مالک بن سنان نه حديث نه دے نقل ، مرقات كښې دي "في سنن الدارمي في باب التسمية على الوضوء هكذا أخبرنا عبد الله بن سعيد قال أخبرنا أبو عامر العقدي قال أخبرنا كثير بن زيد حدثني ربيح بن عبد الرحمن بن أبي سعيد الخدري عن أبيه عن جده عن النبي قال لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه قاله الشيخ عفيف الكازروني فعلم أن في عبارة المصنف سهوين أحدهما في الإسناد والثاني إن زيادة لا صلاة لمن لا وضوء له ليست للدارمي خلاف ما يفهم من قوله وزادوا في أوله تأمل"

لمعات كښې دي : چه ابن همام دے سند ته معلول وائي او ربيح معروف نه دے بعض وائي چه ربيح ته ابوزرعه شيخ او ابن عمار ثقه وائي ،

(۱۲):وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ. قَالَ: «أَسْبِغِ الْوُضُوءَ وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ وَبَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَه والدارمي إِلَى قَوْله: بَين الْأَصَابِع،

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : لقيط بن صبره فرمائي : ما اووے اے نبي عليه السلام ماله دَ اودس باره کښې خبر راکړه نو نبي عليه السلام اوفرمائيل پوره اودس کوه او ګوتو مينځ کښې خلال کوه او استنشاق کښې مبالغه کوه مګر که روژه دے نه وي ،

تشريح : دَ لقيط بن عامر بن صبره کنيت ابو زرين دے دَ خپل ځوي عاصم نه او دَ ابن عمرؓ نه روايت کوي ،

اسباغ الوضوء : اسباغ الوضوءدے ته وائي چه فرائض ، سنن کښې څه مه پرېږده کله کله الحالة الغره کول اود کامل اهتمام چه اسراف او نقصان پکښې نه وي او کله دَ تندي په ويښتو اوبه اچول پکښې هم داخل دي که دَ سړي ګوتمه او يا دَ ښځے بنګړے ډير تنګ وي هغه خوځول چه لاندے اوبه اورسي ضروري دي دَ ګتو خلال دَ امام ابوحنيفهؒ ، امام احمد، شافعي په نزد سنت دے که ګوتے دَ يو بل نه جدا وي او که جختے وي او که اوبه ورته نه رسي بيا واجب عمل دے ،

طريقه : دَ خي لاس تلے به دَ ګس لاس په شا باندے کيدے او دَ خي لاس ګوتے به دَ ګس لاس په ګوتو کښې وردننه کړي او خلال به اوکړي ،

دَ خپو دَ ګوتو دَ خلال طريقه

دا به دَ ګس لاس په کچه ګوته اوکړے چه دا به دَ ښۍ خپے دَ کچے ګوتے دَ لاندے کړے او خلال به شروع کړے او دَ ګسے خپے په کچه ګوته به ئے ختم کړے ، او هيثمي وائي "ويحصل اصل السنة بأي کيفية" او دَ امام احمد په نزد دَ خپو خلال دَ لاسونو په نسبت لږ تاکيدي دے امام ابو حنيفه په قول دَ علامه کاساني دَ لاسونو او خپو دواړو خلال کولو ته سنت وائي دے خلال کښې کچينه ګوته استعمالول علامه ابن همام امر اتفاقي ګڼړي سنت مقصود نه دي ليکن دغه ګوته چونکه نرئ ده او خدمت ورو سره خوند کوي دا ډيره مناسبه ده دَ امام مالک مسلک لمعات کښې ذکر دے چه تخليل صرف دَ خپو دَ ګوتے دے ،

وبالغ في الاستنشاق : فتح الاله کښې دي : چه خيشوم ته به ئے ورخيژوے که روژه دے نه وي ليکن دماغو سره به ئے نه يو ځائے کوے بيا مکروه دي دا خو دَ سعوط بالماء شکل شو ليکن چه دماغو ته ئے

اونه رسي او دا ضرر ناک وي دَ کس لاس کچه ګوته دننه کول او بیا سونړول پکار وي دے باب کښې اوامر دَ وجوب دپاره نه دي ،

علامه شیرازي مهذب کښې ۱: ۱۹۵ باندے لیکي : والمستحب ان یبالغ فیها لقوله علیه السلام للقیط من ضبرة "اسبغ الوضوء وخلل بین الاصابع وبالغ في الاستنشاق الا ان تکون صائما" او دَ روژه دار دپاره په مضمضه او استنشاق دواړو کښې مبالغه مکروه ده ، شرح مهذب ۱: ۱۹۸ او دَ نبي علیه السلام دَ فعل نه وجوب هر ځائے کښې اغستل غلط دي ځکه ورغوي وينځل او په دے کښې تکرار بالاجماع واجب نه دے او دَ سیدتنا عائشه روایت تمضمضوا واستنشقوا کښې چه دَ امر صیغے دي نووي لیکلے دي ددے راویان ضعیف دي او علامه کاساني لیکلے دي چه مبالغه دَ تطهیر دَ تکمیل سره تعلق ساتي بے دَ روژے دَ حالت نه مسنون عمل دے ،

نوټ : خلال کښې ګوته دَ لاندے بره کول اقرب دي او که دَ استنجاء ځائے ته اوبه راغلے تیل دے اولکول یا انجکشن اولګیدو په دے روژه نه ماتیږي،

التقریر الصبیح کښې دي : ظاهره داده چه لاس اوینځے دَ ګوتو خلال اوکړه او چه خپے وینځے نو دَ خپو دَ ګوتو خلال اوکړه ، علامه شامي لیکلے دي چه تخلیل دَ طهارت دَ امورو سره تعلق لري نو په خي لاس باندے کول پکار دي لیکن شریعت ګس لاس ورله منتخب کړے دے شاید که ګوتو دَ لاندے ګندګي وي نو هسے نه چه خے لاس په ګندګئ ککړ شي ،

دَ خلال کولو حکم

صاحب دَ هدایه لیکي : "خللوا اصابعکم" مصنف ابن ابي شیبه په تخلیل الاصابع في الوضوء کښې دَ ابوبکر صدیق اثر نقل کوي لتخللن اصابعکم بالماء او لیخللنها الله بالنار" امر دَ وجوب هله تقاضا کوي چه قرینه صارفه نه وي چه دَ وجوب نه ئے واړوي لکه صدقه فطر او اضحیه شوه ، دَ علاء بن کثیر روایت الحق الصریح کښې دي : چه په وجوب دلیل دَ واثله دے "من لم یخلل اصابعه بالماء خللها الله بالنار یوم القیامة ، اخرجه الطبراني في معجمه عن العلاء بن کثیر عن مکحول عن واثلة ، کذا في نصب الرایة" انتهي

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن دَ علاء بن کثیر اللیثي په ضعف اجماع ده ، په مجمع الزوائد کښې دَ باب التخلیل دَ لاندې په قدیم چهاپ کښې روایت راوړي وعن واثله عن النبي صلي الله علیه وسلم من لم یخلل اصابعه بالماء خللها الله بالنار یوم القیامة رواه الطبراني في الکبیر وفیه العلاء بن کثیر اللیثي وهو مجمع علي ضعفه ،

علامه الباني سلسله ضعیفه :۱۰ : ۱۶۱ باندې دې حدیث ته ضعیف وئیلې دې ،

روایت دَ حذیفه نه دَ وجوب استدلال:خللوا بین الاصابع في الوضوء قبل ان تخللها النار" دوي وائي دا امر دَ وجوب دپاره دې ،

اثر دَ ابن مسعود نه په وجوب استدلال : لینهکن الرجل ما بین اصابعه بالماء او لتنهکنه النار" بیا الحق الصریح کښې دي والأحادیث قد صرحت بوجوب التخلیل الخ" دداسې غوندې روایتونو نه بعض غیر مقلدین چه څنګه په وجوب استدلال کوي دغسې شُبه ابن همام ته راغلې ده چه دَ خلال په پریخودلو وعیدونه دَ اُور راغلې دي پکار دي چه واجب شي ،

زمونږ بعض علماء او فقهاء لیکي: چه کله ګوتې تنګې وي شبه وي چه اوبه به نه وي رسیدلې نو دې وخت کښې ورته واجب وایو ، لیکن بحرالرائق کښې په دې اعتراض دې چه دغه صورت کښې ورته واجب مه وایه بلکه وینځل ئې فرض دي او په تخلیل خو وینځل نه راځي دا خو صرف مسح ده بیا ابن همام او صاحب بحر دواړه جواب کوي چه مفهوم مخالف دلته نشته یعني عدم تخلیل او اور کښې مساوات نشته نو وعید نشته ، بعض اوقاتو کښې اور باوجود دَ تخلیل دَ وجود نه وي او بعض اوقاتو کښې دَ عدم تخلیل په صورت کښې اور نه وي نو چه وعید نشته ، وجوب نشته ، په منحة الخالق علي البحرالرائق :۱: ۲۲ باندې علامه شامي دَ بحر په حاشیه لیکي : چه دَ طبراني روایت کښې دي : من لم یخلل اصابعه خللها الله بالنار یوم القیامة فتدبر" صراحة وعید موجود دې بیا ددې روایتونو څه فائده ده ترهیب بیا نه پاتې کیږي نو بحر :۱: ۲۲ باندې لیکي مع ان حدیث دارقطني ضعیف کما في فتح القدیر ، او دَ امر صیغې له ضروري وجوب نه دې چه کله قرینه صارفه دَ وجوب نه وي موجود بیا وجوب نشته دلته غټه قرینه داده چه مضمضه او استنشاق سره دَ سنت کیدو او دَ ټولو راویانو دَ نقل نه باوجود وجوب جمهور نه مني اګر چه دیته هم صاحب الحق الصریح واجب وائي ، او تخلیل ډیر هغه راویان چه دَ نبي علیه السلام دَ اودس صفت بیانوي نۀ ذکر کوي که واجب وې نو ضرور به نقل ددې راغلې وو ځکه چه کله هغوي دَ سنت ذکر نه دې پریخودلې ، واجب به ئې څنګه نه ذکر کولو او ائمه اربعۀ کښې یو هم ورته

واجب ته وائي يا ئې مستحب کنړي لکه امام شافعي او مالک ؒ يا وائي سنت عمل دے لکه امام ابوحنيفہؒ او امام احمد رحمهم الله ،

روي ابن ماجه والدارمي الي قوله بين الاصابع : او واقعي دلته په دے بحث دَ باب تخليل الاصابع کښې "بين الاصابع" پورے کړے دے دا منافاة دے سره نه لري چه بل ځائے کښې دا ئې پوره تول روايت راوړے دے ،

(۱۳): "عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعِ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ"

ترجمه : عبدالله بن عباس فرمائي: چه نبي عليه السلام فرمائي : کله چه ته اودس کوے نو خلال کوه د لاسونو دَ ګوتو او دَ خپو دَ ګوتو،

تشريح :دے حديث کښې عبدالرحمن بن ابي زياد ته يحيي بن معين ضعيف وائي عمرو بن علي ورته ضعيف وائي عبدالرحمن بن مهدي ددهٔ نه روايت کول پريښودلے دي امام نسائي فرمائي : لايحتج بحديثه، الحق الصريح کښې دَ عبدالرحمن بن ابي زناد نه صرف نظر کړے دے ليکن په هغوي معتد به کلام دے،

(۱٤):وَعَنِ الْمُسْتَوْرِد بن شَدَّاد قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ يُدَلِّكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه" اخرجه احمد في مسنده :٤: ٢٢٩، ابوداود في سننه ، كتاب الطهارت وهكذا ابن ماجه والبيهقي في سنن الكبري: كتاب الطهارت باب كيفيه التخليل :١:٧٦،٧٧)

ترجمه : مسرورد بن شداد فرمائي ما نبي عليه السلام اوليدو کله چه اودس کولو نو په کچينه ګوته به ئې دَ خپلو دواړو خپو خلال کولو،

تشريح : اشعة اللمعات کښې دي چه مستورد دَ اهل کوفه نه شمارلے کيږي دَ نبي عليه السلام دَ وفات وخت کښې وړوکے وو ليکن دَ نبي عليه السلام نه ئې سماع ثابته ده ، المفاتيح کښې دي مستورد بن شداد بن عمر الفهري القرشي دے مرقات کښې دي چه دے او پلار دواړه صحابه دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

یدلک : لفظ دَ یدلک ددے یوه معني ده خلال کول دَ گس لاس په کچه گوته به ئے دَ خپو دَ گوتو مینځ کښ خلال کول او مظاهر حق کښ دي چه ددے تائید دَ امام احمدؒ دَ هغے روایت نه کیږي چه هغے کښ صراحة دَ خلال ذکر دے دلیل دے چه دا خلال کول مستحب دي ،

(۲): پیغمبر علیه السلام دَ خپل گس لاس کچه گوته دَ خپو په گوتو کښ تیروله دلیل به ددے خبر شي چه دَ تمامو اندامونو مګل مستحب دي او دَ امام مالک په نزد واجب دي ،

رواه الترمذي : چه ترمذي وائي : لانعرف الا من حدیث ابن لهیعة" لیکن اګر چه ابن لهیعه باندے کلام دے دغسے دَ تفسیر احسن الکلام په سورة دخان کښ دي لیکن شیخ زین الدین عراقي وائي چه دلته ددهٔ دوه متابع لیث بن سعد او عمروبن الحارث موجود دي (مرقات)

(۱۵) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لحيته وَقَالَ: «هَكَذَا أَمرنِي رَبِّي» رَوَاهُ أَبُو دَاوُد ،

ترجمه : انسؓ فرمائي : کله به چه نبي علیه السلام اودس کولو نو دَ اوبو یو چونک به ئے رواغستلے نو دَ زنے لاندے به ئے کړے نو دَ ګیرے خلال به ئے په هغے سره اوکړو هم داسے ماته خپل رب حکم کړے دے ،

تشریح : دا دوه مستقلے مسئلے دي (۱): ګیرے حکم څه دے؟ وینځل یا په هغے مسح کول او (۲): چه دے حدیث کښ ذکر دے دَ ګیرے خلال کول ، دا دواړه جدا جدا مسئلے دي ،

(۱): لحیه دوه قسمه باندے ده ، (۱): رنګئ او سپکه چه دَ مخ څرمن پکښ په نظر راځي په دے صورت کښ دَ مخ څرمن لوندول ضروري دي صرف ګیره لوندول نه کافي کیږي ،(۲): ګیره ګوره او ډیره ده په اته اقوالو کښ اصح قول دادے چه ټوله ګیره وینځل فرض ده لیکن هغه ګیره ترے مراد ده چه دَ ننکو او دَ زنے خواؤ شاه ده زوړنده حصه پکښ داخله نه ده وینځل او مسح ئے دواړه نه دي ضروري امام نووي دا دَ جمهورو یعني ائمه ثلاثو مسلک ګرځولے دے دا پاتے ووه(۷) قوله مرجوح دي چه مسح الکل ، مسح الثلث ، مسح الربع ، مسح ما یلاقي ، البشرة ، غسل الثلث ، غسل الربع ، عدم الغسل والمسح دي ،

(۲): تخلیل لحیه : دَ امام ابوحنیفه امام شافعي او امام احمد په نزد اودس کښې سنت او دَ جنابت په غسل کښې واجب دي او دَ امام مالک مشهور مسلک کښې په اودس کښې دَ ګیرے خلال مستحب نه دے او غسل کښې دَ امام مالک نه دَ وجوب او دَ سنتیت دواړه روایتونه موجود دي او دَ ابوثور، حسن بن صالح او ظاهریه په نزد اودس او غسل دواړو کښې واجب دي ، یو قول دادے چه تخلیل لحیه اودس کښې دَ امام ابویوسف او دَ جمهورو مسلک دے لیکن طرفین ورته سنت نه وائي مستحب وائي ځکه چه دوي وائي روایات پکښې ضعیف دي امام احمد او ابوحاتم رازي وائي په کتاب العلل کښې چه لیس فیه شيئ صحیح لیکن خبره دَ دواړو ځکه صحیح نه ده چه دَ سیدنا عثمان دَ ترمذي روایت کان تخلیل اللحیة ته امام ترمذي وئیلے دي هذا حدیث حسن صحیح او دا روایت صحیح ابن خزیمه او صحیح ابن حبان کښې موجود دے او علامه زیلعي نصب الرایه کښې څوارلس صحابه ذکر کړے دي وئیلے ئې دي چه په هر سند اعتراض دے او امام ترمذي هم دَ في الباب دَ لاندے دَ متعدد صحابؤ نومونه ذکر کړے دي ، "باب تخلیل اللحیة : نمبر: ۳۱" او دَ عثمان حدیث کښې عامر بن شقیق یحیي بن معین ضعیف ګڼړي لیکن قاضي شوکاني نیل الاوطار کښې لیکي : چه امام بخاري وائي حدیثه حسن او حاکم شواهد ورله ذکر کړے دي او حدیث دَ انس په سند کښې ولید بن زروان مجهول الحال دے او دَ بلے طریقے راویان دَ حافظ په نزد ثقات دي لیکن معلول دي ابن حبان ئې ثقاتو کښې ذکر کوي او حافظ تقریب کښې ورته لین الحدیث وائي ددهٔ نه حجاج او ابو المليح روایت کړے دے ،

طریقه دَ خلال

دَ زنے دَ لاندے ګیره کښې ګوتے ورننه کړے ، دا شرط نه دے چه دَ مسح وخت کښې دَ ګوتو نه دے دَ اوبو څاڅکي راؤغورزیږي ،

اصح قول : مبسوط دَ سرخسي :۱: ۴۴۸ دَ شرح معاني الاثار دَ عبارت دَ نقل نه بعد قول دَ صاحب لمعات لیکي : ان قول ابي حنیفة ومحمد جواز التخلیل والاصح انتهي، قول ابي یوسف او دَ (هکذا امرني ربي) دَ وجے امام مازني وائي چه دا خلال واجب دے ظاهره داده چه دَ ګیرے خلال په مخ دَ لپے اچولو نه پس دے او دا احتمال شته چه آخر کښې دے وي لیکن اشعة اللمعات کښې دي ته وهم وئیلے دے او هکذا امرني ربي نه احناف استحبابي امر اخلي صاحب هدایه ځکه لیکي " لان النبي صلي الله علیه وسلم امره جبریل علیه السلام بذالک" او مصنف ابن ابي شیبه باب في تخلیل اللحیة في الوضوء کښې : ۱۴۴ نمبر

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے دَ سیدنا انس قول نقل کړے دے "اتاني جبريل فقال اذا توضأت فخلل لحيک" امرني ربي نه اسحاق بن راهويه په قول امام ترمذي وجوب اغستلے دے بعض ظواهر دغه اخلي ، علامه هيثمي فتح الاله کښ ليکي چه دَ هکذا امرني ربي نه امام شافعي وغيره دَ ګيرے دَ خلال مؤکد والے ثابتوي او شوکاني نيل کښ دا حکم محمول علي الخصوصيت ګنړي او چه سنت ئے څوک نه ګنړي ددغے مصنف نه استدلال کوي "عن ابن سيرين قال رأيت يغسل لحيته فقلت له من السنة غسل اللحية فقال لا ، او دَ عبدالرحمن نه ابي ليلي روايت کښ دي : ان استطعت ان تبلغ الماء اصول اللحية فافعل" سنن ابن ماجه حديث نمبر: ٤٣٣ کښ دَ سيدنا ابو ايوب انصاري روايت دے "رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم توضأ فخلل لحيته" او حديث ئے دَ عثمان ، عمار بن ياسر ، او دَ انس بن مالک نقل کړے دے ،

تنبيه : محدث العصر علامه بنوري ليکلے دي معارف السنن : ١٧٢ "وقد اخطأ صاحب الکنز والوقاية في القول بفرضية مسح ربع اللحية او کلها وهي رواية مرجوع عنها"

وضاحت : غسل کښ دَ جمهورو په نزد دَ ګيرے وينځل فرض دي بغير دَ امام مالک او دَ مدينے دَ بعض علماؤ نه ،

حکم دَ حديث : ارواء ص:١: ١٣٠ کښ دي قلت رجال اسناده ثقات غير ابن زوران فروي عنه جماعة وذکره ابن حبان في الثقات فمثله حسن الحديث، انتهي،

دَ "کان" دَ استعمال قاعده

الحق الصريح کښ دي دا علماء دَ عثمان دَ حديث نه دا جواب ورکوي چه "کان" هميشه دپاره دَ دوام او استمرار دپاره په آحاديثو کښ کښ نۀ راځي بلکه په احيانا وقوع باندے هم دلالت کوي لکه علامه نووي په شرح دَ مسلم کښ ددے تصريح کړے ده او ددے ډير مثالونه په آحاديثو کښ موجود دي انتهي،

(١٦):وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ والدارمي،

ترجمه : دَ عثمان نه روايت دے چه نبي عليه السلام به دَ خپلے ګيرے خلال کولو،

تشريح : ترمذي دے روايت ته حسن صحيح وائي ،

(۱۷): "وَعَنْ أَبِي حَيَّةَ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ حَتَّى أَنْقَاهُمَا ثُمَّ مَضْمَضَ ثَلَاثًا واستنشق ثَلَاثًا وَغسل وَجهه ثَلَاثًا وذراعيه ثَلَاثًا وَمسح بِرَأْسِهِ مرّة ثمَّ غسل قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَأَخَذَ فَضْلَ طَهُورِهِ فَشَرِبَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ أَحْبَبْتُ أَنْ أريكم كَيفَ كَانَ طَهُورِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه : ابوحیه فرمائي : ما اولیدو عليؓ چه اودس ئے کولو او خپل ورغوي ئے وينځل تر دے چه صفا ئے کړل بيا درے ځله خوله کښې اوبه واچولے او بيا ئے درے ځله پوزه کښې اوبه واچولے او درے ځله ئے خپل مخ اووينځو او درے ځله ئے لیچے اووينځلے او بيا ئے مسح اوکړه په سر باندے یو ځل بيا خپے اووينځلے ترګيټو بيا اودريدو او دَ اوداسه نه پاتے اوبه ئے راوغستے او هغه ئے اوڅښلے بيا ئے اوفرمائيل ما دا خوښه اوګڼړله چه زه تاسو ته اوښايم چه دَ نبي عليه السلام اودس څنګه وو ،

تشريح : دَ ابو دحيه پيژنګلو

اشعه کښې شيخ عبدالحق ليکلے دي چه خپل نوم ئے عمروبن نصر الوداعي دے، تابعي دے دَ سيدنا عليؓ نه روايت کوي او دغسے دَ ابوبکر او عمر رضوان الله عليهم نه هم راويت کوي او دوي په ۱۲۹ کښې وفات شوے دي بعض لږ مخکښې هم ذکر کوي ، ابوحيه الوادعي دَ قيس الوادعي الکوفي ځوے دے، مقبول من الثالثة" (نثر الازهار) کذا في تقريب التهذيب، او نفع قوت المفتدي کښې عامر او عبدالله نوم هم ليکلے دي ،

فغسل کفيه : " دَ لاسونو وينځل " دَ جمهورو په نزد دَ اودس په ابتداء کښې لاس وينځل سنت عمل دے او ظاهريه ورته واجب وائي دَ اودس په ابتداء کښې دَ لاسونو وينځلو ذکر په فعلي مرفوع روايات کښې زيات راغلے دے او په آثار دَ صحابؤ کښې هم شته لکه دا روايت او شاه انور کشميريؒ فرمائي چه په دے مسئله کښې څه قولي حديث ماته نه دے ياد او دَ خوب دَ راويخيدو نه پس دَ لاسونو وينځلو کښې قولي حديث شته ليکن آيا ددے تعلق سنن وضوء سره دے يا نه دے دا اختلافي مسئله ده سيدنا عليؓ تعليم فعلي ورکوي چه دا خه ذهن ته پريوځي دَ تعليم قولي نه ځکه اول پريکټيکل او دوئم نظريه ده او صاحب دَ هدايه ليکي : چه عقلي دليل دے چه لاس آله دَ اندامونو دَ پاکولو ده او ددے صفا کول سنت دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمض ثلاثا واستنشق ثلاثا: ملاعلي قاريؒ ليکي : ددے نه ظاهر کښې فصل معلوميږي لکه چه دَ احنافو مسلک دے دغسے دَ سر يو ځل مسح هم دَ جمهورو دليل دے او هغوي ليکي چه بيان جواز والا توجيه دَ ابن حجر مردود ده (مخکښې دغسے يو توجيه نقل شوے ده) هغه وائي چه شريعت جوړونکے سيدنا عليؓ نه دے (ليکن دَ صحابؤ داسے قول په جواز حمل کول جائز دي) نو داسے تعبير دَ عليؓ دَ عليؓ دَ تثليث مسح نه به بهتر وي چه خلقو ته ددے جواز په شرع کښې خودل غواړي بيا هغه دَ جواز توجيه له قاري صاحب هم راغلے دے،

فشربه وهو قائم: (په اولاړے اوبه ځکل)

علامه هيثمي فتح الاله کښې ليکلے دي : چه دَ شوافعو په نزد دَ اودس پاتے اوبه چه لوخي کښې وي نو خير دے ځکه دا دَ يو عظيم عبادت اثر دے ددے په ځکلو کښې برکت دے چه کله ګيډے ته اورسي ظاهري برکت سره باطني برکت هم دے چه هغے ته طهارت معنويه وئيلے کيږي لکه دَ ظاهر پاکئ ته طهارت حسيه وائي او دا ځکل په اولاړه دَ بيان جواز دپاره دي او عمومي طور باندے دَ اولاړے اوبو ځکلو نه منع راغلے ده ليکن دلته چه څه کراهت او خلاف نشته، ليکن اولي وئيلو کښې بعض علماء کلام کوي،

بعض علماء وائي چه اول کښې په اولاړے دَ اوبو ځکلو نه منع راغلے ده ليکن دَ سيدنا عليؓ روايت چونکه مؤخر دے دا ورله ناسخ جوړيدے شي او دَ تطبيق صورت دادے عامو حالاتو کښې منع په خلاف اولي حمل ده او دلته جواز دے او دا دواړه جواز او خلاف اولي مانعة الجمع نه دي او څوک وائي مامن عام الا وقد خص عنه البعض " نهي وس هم شته ليکن دَ زمزم اوبه او دَ اودس پاتے اوبه ددے عمومي حکم نه مستثني دي،

دا ځکل عملا يو سوال دے لکه چه زما ظاهر پاک شو دا اوبه دننه اورسيدے باطن راله صفا او پاک جوړ کړه،

دَ بريلي احمد يار خان غلطي

دغه موصوف مرآة المفاتيح کښې ليکي : بعض مريدان دَ خپل پير جوته اوبه يا دَ هغه ورکړے شوے تبرک په اولاړه خوري او ځکي ددے اقدام اصل دا آحاديث دي " انتهي، ليکن دا غلطه ده او قياس مع الفارق دے چه دَ بريليانو دغه عقلي خبرے کول عادت جوړ شوے دے،

المفاتيح كښې علامه زيداني ليکلے دي "وعلته انه ما يؤدي فيه عبادة وهي الوضوء فيكون فيه بركة، وما فيه بركة يحسن شربه " په دے اوبو به عبادت کيږي دَ برکت داسے اوبه څکل مستحسن دي او په اولاړه څکلو کښې دا حکمت دے چه خلقو ته دَ اولاړے اوبه څکلو جواز اوښائي چه دا حرام نه دي، علامه شامي هم دَ عدم کراهيت قول کړے دے دَ اودس او دَ زمزم په اوبو په اولاړه څکلو کښې، مشکوٰة ثاني کښې به ددے تفصيلي بحث ان شاء الله راشي که څوک چنړے وغيره چيچي يا چينکم په لاره خوله کښې اړوي راړوي جواز ئے شته او که څوک دَ عذر دَ وجے په اولاړه اوبه څکي هيڅ حرج پکښې نشته ليکن دَ ورع تقاضا داده چه خوراک څکاک په ناسته پکار دے ، "کما تأکل الانعام" دَ تشبيه نه بچ کيدل خه خبره ده څناور شخوند په ناسته کوي ليکن خوراک په اولاړه کوي ، دَ سيدنا ابو هريره روايت دے قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم لايشربن احمدكم قائما فمن نسي فليستقي" (صحيح مسلم:رقم: ٥٣٩٨) ليکن عجيبه ده په سلسله دَ الباني کښې په دے الفاظو سره دي چه دا روايت منکر دے عام حالاتو کښې دَ اولاړے عادت خه نه دے ،

(١٨): "وَعَنْ عَبْدِ خَيْرٍ قَالَ: نَحْنُ جُلُوسٌ نَنْظُرُ إِلَى عَلِيٍّ حِينَ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى فَمَلَأَ فَمَهُ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَنَثَرَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى فَعَلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى طَهُورِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَذَا طَهُورُهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيّ"

ترجمه : عبد خير فرمائي : مونږ ناست وو او علي ؓ ته مو کتل کله چه هغه اودس کولو نو هغه داخل کړو خے لاس خپل لوخي ته او په ډکه خوله ئے مضمضه اوکړه او پوزه کښې ئے اوبه واچولے او پوزه ئے صفا کړه په کس لاس سره او داسے ئے درے څله اوکړل او بيا ئے اوفرمائيل څوک چه دا خوشحاله وي چه اوګوري اودس دَ نبي عليه السلام ته نو دا دَ هغه اودس دے ،

تشريح : دَ عبدخير پيژنګلو

دَ سيدنا علي ؓ په غټو په قابل اعتماد ملګرو کښې دے په کوفه کښې اوسيدو او داسے وائي چه شپږ شلے کاله عمر ئے وو (١٢٠) (مرقات)

Maktaba Tul Ishaat.com

مرأة المفاتيح کښې دي : دَ ابن عبدخير ، ابن يزيد کنيت ، ابو عماره دے دَ شپږوشلو عمر باوجود دَ پيغمبر سره ئے ملاقات نه دے ثابت جليل القدر تابعي دے ،

فمضمض واستنشق : ملاعلي قاري وائي : چه دے کښې به فصل وي نه وصل ، چه دَ لا بشرط شيئ په درجه کښې دے او دا به دَ حافظ ابن حجر وهم وي چه هغه دَ خپل مسلک مطابق ددے نه وصل اخلي دغسے شيخ عبدالحق هم دَ وصل کيفيت ته دلته ظاهر وائي او وائي چه دلته دَ مضمضے او استنشاق کيفيت خائي ،

طهور : په فتح او ضمے دَ طا سره دواړه جائز دي

الي طهور: ددے نه مثل طهوره مراد دے هغه شان په هر لحاظ دغسے پوره اودس څوک هم نشي کولے ،

(۱۹):وَعَن عبد الله بن زيد قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَعَلَ ذَلِك ثَلَاثًا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ

ترجمه: عبدالله بن زيد فرمائي ما اوليدو نبي عليه السلام چه خلے ته ئے اوبه واچولے او پوزے ته ئے اوبه واچولے دَ يو چونګ نه او داسے ئے درے ځله اوکړل،

تشريح : دَ عبدالله بن زيد پيژنګلو

مرقات کښې دَ طيبي په حواله ليکلے دي چه دا زيد بن عبد ربه دے دا عبدالله بيعت عقبه کښې وو بدر او ټولو مشاهدو ورستنو کښې وو دَ هجرت په اول کال دوي دَ آذان باره کښې خوب ليدلے وو دا انصاري خزرجي دے او صاحب دَ مشکوة وائي چه والدين ئے صحابه کښې شماريږي ،

فمضمض واستنشق من کف واحدة : مرقات کښې دي چه دَ وصل او فصل دواړه احتماله لري بعض دا وائي چه دا حديث مخکښې په صحاح کښې ذکر دے دلته ئے حسان کښې ولے راوړے دے ليکن صاحب مرقات وائي چه دَ تأمل نه روستو داسے معلوميږي چه دَ صحاح کوم اول حديث صاحب مصابيح نه دے راوړے بلکه صاحب مشکوة دَ مصابيح دَ روايت دَ صحت په خاطر ددے ذکر کوي او دا دوئم مصابيح کښې په حسان کښې شته او دَ دواړو رواياتو روايت کونکے صحابه چه کله کله جدا جدا دي او مخرج ئے بيل بيل دے نو هيڅ اعتراض نه پاتکيږي ،

درے ځله دَ اندامونو عقلي وجه

المصالح العقلیه للاحکام النقلیه په ص: ۲۵ باندے دا وجه بیان کړے ده چه دا تعلیم دے په موجوده حالات کښ دَ گناه نه اوخه پښیمانه شه او مستقبل کښ دَ گناه دَ پریخودولو عزم بالجزم اوکړه او دوئمه عقلي وجه داده چه درے ځله وینځل ځکه مقرر دي چه دَ دریو نه کم وینځلو کښ په عامو حالاتو کښ په نفس باندے پوره اثر نه پاتے کیږي او دا امر تفریط کښ داخل دے او ددے نه زیات وینځلو کښ افراط او اسراف دے ځکه که دَ وینځلو یو معین حد نه وي نو یو ظني او وهمي انسان به تول ورځ لاس خپو وینځلو کښ تیره کړي او دَ مونځ وخت به ترے تیر شي نو وخت ضائع کول غټ اسراف دے، او دَ سر او دَ غوږونو مسح درے ځله ځکه نشته چه اول کښ درے وه مګر په وجه دَ رفع دوه ځله معاف شوه او یو ځل پاتے شوه، شرح مسند امام اعظمؒ ص: ۲۱۹، ۲۸۰،

او په یځو ځایونو کښ دَ سر او دَ غوږونو دَ سرئ نه دَ بچاو ډیر اهتمام وي نو روزانه په دغه ملکونو کښ پنځه ځله سر اوغوږونه وینځل دَ مرض باعث وو نو بطور احتیاط او دَ حفظ ما تقدم دَ سر او دَ غوږونو مسح یو ځل پاتے شوے ده، او پوزه کښ اوبه اَچول او صفا کول او سونړول دے له په عقلي نظر کتل داسے دي چه دَ یو ځائے بلغمي رطوبت ختمول خه خبره ده او که پوزه دننه اونه وینځے نو دَ یو ځائے منجمد بلغم په مازغو خراب اثر اچوي او دَ اهل عرب په عرف کښ پوزه دَ عزت او دَ لوئے په ځائے باندے استعمالیږي (پښتانه هم وائي پوزه ئے راله پریکړه، امداد) چاته چه دوي خیره کوي وائي "ارغم الله انفه) الله دے پوزه خاورو کښ ککړه کړه، نو دا وینځل کسر نفسي او غرور پریخودلو ته مفضي کیږي،

دَ اودس دَ حکمتونو راز

(۱): ترک غفلت (۲): حفظ ما تقدم (۳): حصول حب الهي "یحب المتطهرین"(٤): غلبه ملکیت بربهیمیت (۵): از دیاد عقل، ځکه چه په طهارت په طبیعت کښ دَ عقل ماده زیاتیږي (٦): نور و سرور "ان امتي یوم القیامة غرا معجلین من اثار الوضوء او تبلغ الحلیة من المؤمن حیث یبلغ الوضوء" لکه چه مخکښ دغه قسم آحادیث ذکر شو (۷): قرب ملائک (۸): په شعائر الله کښ په طهارت دننه

Maktaba Tul Ishaat.com

كيدل ځكه مفتاح الصلاة الطهور (۹): عرض مطلب حال ، دا دَ دربار شاهي آداب وتعظيمات پکار دي چه جامه او اندامونه دے صفا وي دَ ملاقات وخت کښ دغه اندامونه په نظر راځي (ص: ۱۹، ۲۰)

(۲۰):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ: بَاطِنَهُمَا بِالسَّبَّاحَتَيْنِ وَظَاهِرَهُمَا بإبهاميه(رَوَاهُ النَّسَائِيّ)

ترجمه : ابن عباس ؓ فرمائي : چه يقينا نبي عليه السلام مسح اوكړه په خپل سر او دواړو غوږونو باندے او غوږونو کښ دننه مسواکو په گوتو او دَ غوږونو دپاسه ئے په کټو گوتو سره اوكړله ،

تشريح : باطنهما: ددے په نون جر او نصب دواړه جائز دي جر ځکه چه دَ اذنيه دَ لفظ نه بدل راغلے دے او نصب په دے وجه چه دَ محل نه ئے بدل جوړ کړه او دَ باطن نه دننه دَ غوږ حصه مراد ده چه پکښ سوړه ده ،

سباحتين : جاهليت کښ به دے گوتے ته سبابه وئيلے کيده چه چاته به ئے کنځل کول يا التي ميتم او يره به ئے وركوله نو دا گوته به ئے ورته خوځوله اسلام کښ نبي عليه السلام ددے نوم مسبحه اوگرځو چه دا دَ تسبيح دپاره ده دغه قسم اشاراتو له نه ده مرقات کښ دي چه ابن حجر وائي دا کنړي چه مخ سره دے اوينځلے شي او سر سره ددے مسح دے اوكړے شي چه دَ خلاف نه پکښ وتل راشي ليکن په شريعت کښ يو اندام کښ مسح او وينځل دواړه معروف نه دي او بيا دَ وينځلو نه پس ددے مسح كول عبث دي او دَ جمهورو په نزد دَ غوږونو مسح کښ تکرار نشته او امام شافعي فرمائي : شته دے انتهي ،

دَ سر او غوږونو وينځل او په هغے مسح كول ځکه دي چه حرج ختم شي نو په درے کرته كولو کښ بيا حرج لازميږي په دے درے ځله لوند لاس تيرولو سره هغه بيا لونديدو ته څه نزدے غوندے شي ،

دَ غوږونو مسح کښ مذاهب

دَ ائمه اربعه مسلک کښ دَ غوږونو وظيفه مسح ده

(۲): دَ داود ظاهري او دَ امام زهري په نزد وينځل دي ، دواړه طرفونه دَمخ سره،

(۳): امام شعبي او حسن بن صالح په نزد دَ غوږونو حکم وينځل او مسح ما ادبر منهما مع الرأس دی، دا ابن سيرين هم وائي دَ غوږونو حصه چه مخ غاړے ته ده دے ته باطن دَ اذنين وائي ددیے دَ مخ سره وينځل دي او دَ غوږونو روستو حصه دَ غوږونو سره مسح کول پکار دي.

(٤): عندالبعض اسحاق بن راهويه وائي چه حکم ئے خو صرف دَ مسح دے دَ دواړو طرفونو ليکن ما اقبل من الاذنين مسح به دَ مخ وينځلو سره او دَ ما ادبر من الاذنين مسح به دَ سر دَ مسح سره کيږي ليکن مشهور طريقه چه په مشهور رواياتو او ډيرو رواياتو کښې راغلے ده هغه دَ جمهورو ده او شيعه ګان وائي دَ غوږونو مسح مستحب نه ده،

مسئله: که لوندے ګوتے غوږونو کښې دننه شي ددے نه وينځل نه ثابتيږي بلکه مسح ثابتيږي،

حکم: بيا دَ ائمه ثلاثه په نزد دَ غوږونو مسح سنت او دَ امام احمد په نزد واجب ده،

الحاصل: دَ غوږونو مسح دے داسے اوشي چه دَ شهادت ګوتے دَ دواړو غوږونو سوړو کښې وردننه کړي او دپاسه په غټو ګوتو مسح اوکړي دے کښې يو راوي ابن عجلان دے او "نماز نبوي" کښې دي چه حافظ زبير علي زئي مرحوم ورته مدلس وائي (جزء قراءة ١٦٠) لکه دَ ترمذي په باب مسح الاذنين ظاهرهما وباطنهما" کښې ابن عجلان دے علامه الباني وائي سند ځکه حسن دے چه ابن عجلان کمزورے دے ضعيف دے ليکن متابع ئے موجود دے ابوداود دَ روايت تخريج کوي،

تبين الحقائق مع حاشيةالعلامه الشيخ شبلي ص: ٤٠ باندے دي " قَوْلُهُ فِي الْمَتْنِ ثُمَّ يَمْسَحُ أُذُنَيْهِ بِإِصْبَعَيْهِ) قَالَ فِي الْيَنَابِيعِ ثُمَّ يُدْخِلُ السَّبَّابَةَ فِي أُذُنِهِ وَيُدِيرُ إِبْهَامَيْهِ مِنْ وَرَائِهِمَا انْتَهَى قَالَ فِي شَرْحِ مِسْكِينٍ وَإِدْخَالُ الْأَصَابِعِ فِي صِمَاخِ الْأُذُنَيْنِ أَدَبٌ، وَلَيْسَ بِسُنَّةٍ هُوَ الْمَشْهُورُ وَكَذَا فِي الْمُحِيطِ "

که دَ غوږونو مسح اونه شوه

امام نووي کتاب الاستذکارکښې :١: ٢٤٠ باندے ليکي : چه داود ظاهري ورته حسن وائي که اونه شي "فلا شيئ عليه " ليکن جمهور وائي پريخودل ئے مکروه دي او دا کس دَ سنت تارک دے کوم مونځ ئے چه دغسے بے دَ غوږونو دَ مسح کړے دے اعاده پرے واجب نه ده ليکن اسحاق بن راهويه وائي چه عمدا پريخودل ئے ناجائز دي او امام احمد فرمائي که عمدا ئے پريخودله اعاده کول ورله خوخوم ، او بعض مالکيان چه وائي چه مانځه کښې يا اودس کښې که سنت پاتے شي اعاده به کوي دا قول ضعيف دے بيا

Maktaba Tul Ishaat.com

خو دَ فرض او دَ سنت درجه بندي ختميږي دَ جمهورو دليل دادے چه په تواتر سره دَ عثمان ، ابن عباس مقدام ، تميم انصاري ، عبدالله بن زيد ، ابن عمر ، ابي ، امامه او ربيع بنت معوذ رضوان الله عليهم اجمعين نه دَ سر مسح سره دَ غوږونو ثابته ده او عبدالله بن مسعود به ددے حکم ورکولو ،

(۲۱): "وَعَن الرّبيع بنت معوذ: أَنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ قَالَتْ فَمَسَحَ رَأْسَهُ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَاحِدَةً وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ الرِّوَايَةَ الأولى وَأحمد وَابْن مَاجَه الثَّانِيَة"

ترجمه : دَ ربيع بنت معوذ نه روايت دے چه دے اوليدو نبي عليه السلام چه اودس ئے کولو نو دا فرمائي چه نبي عليه السلام مسح اوکړه په سر خپل باندے په مخکنئ حصه او په روستو حصه باندے او په دواړو زيزمو باندےاوپه غوږونو باندے يو ځل ، او په يو روايت کښ دي چه نبي عليه السلام اودس اوکړو او خپلے ګوتے ئے دَ غوږونو په سورو کښ داخل کړے دَ مسح دپاره ،

تشريح : صدغين : سنړو ته وائي چه دَ غوږونو او سترګو مينځ کښ کوم زوړند ويښته وي او ابن الملک وائي هغه ويښته دي چه دَ غوږونو او دَ تندي مينځ کښ دَ سر دواړو طرف ته وي ، څوک ديته زيزمے وائي ،

جحر اذنيه : مرقات کښ دي دَ غوږ مسح کښ دَ خي غوږ مخکښ کول مستحب نه دي ددے دواړو برغ مسح کيدے شي ،

(۲۲) : وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ: أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَأَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَرَوَاهُ مُسلم مَعَ زَوَائِد،

ترجمه : دَ عبدالله بن زيد نه روايت دے چه دَ نبي عليه السلام اوليدو چه اودس ئے کولو نو نبي عليه السلام مسح اوکړه په بے دَ پاتے شوے اوبو دَ لاسونو نه ،

تشريح : دَ صحابي پيژنګلو

دا عبدالله بن زيد بن عاصم المازني الانصاري دے بعض وائي چه دَ مسيلمة الكذاب په قتل کښ شريک وو دَ دوي بدر کښ حاضريدل صحيح نۀ دي ، حرة کښ ۶۲ هـ کښ وژلے شوے دے ، امام نووي هم دغه ږغواړي چه دَ تجديد الماء روايت دَ احنافو خلاف نه دے ددے حديث راوي عبدالله بن زيد بن

عاصم دے او ددے نقل کونکے راوي حبان بن واسع دے او دَ دوي نه روایت کونکے بیا عمروبن الحارث دے او دوئم ابن لهیعه دے ، امام ترمذي دواړه طریقے ذکر کوي او الفاظو کښې دَ دواړو اختلاف دے دَ ابن لهیعه دَ روایت الفاظ دي "غیر فضل یدیه" غیر بمعني بقي دَ ماضي صیغه ده او فضل یدیه دَ ماغیر نه بدل راغلے دے یعني دَ سر مسح ئے په پاتے لوندوالي اوکړه لیکن دا روایت دَ احنافو خلاف ځکه نه دے چه جواز ئے هغوي مني لیکن دَ ابن لهیعه روایت دَ شواهدو خلاف دے نو امام ترمذي فرمائي چه دَ عمروبن الحارث روایت اصح او ابن لهیعه هغه ضعیف دے لیکن دَ ابن لهیعه هغه ددے روایت په معني برابر ابوداود کښې دَ ربیع بن معوذ په حدیث کښې الفاظ دي مسح برأسه فضل ماء کان في یده" دا صریح دلیل دَ احنافو دے او امام بیهقي دَ فضل ماء " دَ روایت توجیه کوي چه نبي علیه السلام دَ سر دَ مسح دپاره لاس کښې اوبه واغستلے بیا ئے اوغورزولے چه کوم لوندوالے په لاسونو پاتے وو په دے ئے دَ سر مسح اوکړه بهر حال دَ احنافو خپل مذهب دادے چه غوږونه په مسح کښې دَ سر تابع دي مصنف ابن ابي شیبه : ۱: ۳۰۷ باندے نمبر: ۲۱۴ روایت دَ ربیع بنت معوذ نقل کړے دے "ومسح رأسه بما بقي من وضوءه" او دَ ابو جعفر مرسل روایت دے چه "انه کان یمسح رأسه فضل وضوءه" او التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث مولانا زکریا دَ ابن قیم دَ زادالمعاد نه دا روایت نقل کوي "کان علیه السلام یمسح الاذنین مع الرأس ولم یثبت انه علیه السلام کان یأخذ لهما ماء جدیدا" دَ شاه انور کشمیريؒ رائے دا ده چه "غیر" صحیح ده دے کښې تصحیف شوے دے بیا هم روایت ځکه دَ احنافو خلاف نه دے چه دَ پاتے اوبو نه پرے دَ لوند لاس دَ مسح دَ جواز قائل یو لیکن نوے اوبه غوره گنړو او هیثمي فتح الاله کښې لیکي : چه شوافع وائي چه دَ سر دَ اوبو نه علاوه اوبه به ځکه راخلي چه دَ سر په اوبو یو ځل ازالة الحدث اوشو په دوئم ځل په دغه اوبو ازالة الحدث نشي کیدے ،

(الایقاظ): دَ احنافو په نزد دَ وینځلو شوے اندامونو نه لوند والے اغستل او مسح کول یا دَ ممسوحه په پاتے اوبو په موزو مسح کول ناجائز دي ، لیکن که په لاسونو لوندوالے وي او استعمال کړے ئے نه وي نو بیا پرے مسح جائز ده ، نو مسح هله جائز ده چه دَ بل اندام نه لوند والے وانۀ خلے لکه دَ څنګل یا دَ مخ وغیره نه کني بیا مسح ناجائز ده (معارف ترمذي)

ورواه مسلم مع الزوائد : علامه طیبي کاشف کښې لیکي : چه ددے روایت تخریج امام مسلم خپل کتاب کښې کړے دے خو ځوان ته پته نشته چه مسلم کښې شته نو دَ ترمذي دَ کتاب حواله ئے ورکړے ده خو

Maktaba Tul Ishaat.com

وائي اعتراض پرے نشته دوارو كتابونو كښې حديث شته او كه صحاح كښې نه دے ذكر كړے نو صرف اولي كار ئے پريخودلے دے ، مرقات كښې ملاعلي قاري ليكلے دي "فالاحسن ان يحمل تركه حديث مسلم في الصحاح علي النسيان ولايقال في حقه ترک الاولي" نو ملاعلي قاري ئے په احسان حمل كوي والله اعلم،

تسامح دَ الحق الصريح

الحق الصريح كښې دي "ماء جديد او مستقلے اوبه به ورله نهٔ راخلے دا قول دَ امام بوحنيفه او امام شافعي دے،

وضاحت : هدايه كښې دي "وهو سنة بماء الرأس خلافا للشافعي" معلومه شوه چه دَ امام شافعي په نزد ماء جديد اغستل پكار دي ، الاستذكار ۱: ۲۴۹ باندے دي "وقال الشافعي كقول مالک يستأنف للاذنين الماء ولا يمسحان مع الرأس، واحتج مالک والشافعي بان عبدالله بن عمر كان يأخذ لاذنيه ماء غيرالماء الذي مسح به رأسه نو دَ امام مالک او امام شافعي په نزد دَ نوے اوبه راغستل پكار دي ، او شرح ابن ناجي التنوخي ۱: ۹۸ كښې په نوے اوبو اغستلو كښې درے اقوالو كښې دَ امام مالک په نزد تجديد الماء ته مستحب يا سنت وئيلے دے يا وائي خوښه ئے ده كه تجديد كوي او كه نه كوي ،

او نفع قوت المغتدي علي الترمذي كښې دي چه نوے اوبه به نه اخلے او دا دَ امام شافعي نه علاوه ائمه ثلاثه دغسے قول كوي او په حاشيه دَ موطا مالک ئے دَ امام ابوحنيفه او امام مالک مسلک يو شان ذكر كړے دے او دَ امام شافعي ، احمد په نزد نوے اوبه ذكر كوي ، او بحرالرائق كښې دي زمونږ په نزد سنت تجديد الماء نه دے او امام مالک ئے دَ امام شافعي سره ذكر كړے دے او وائي چه دا دَ امام احمد يو روايت دے ،

حليه كښې هم په حوالے دَ حاشيه ابن عابدين ۱: ۱۲۱ باندي دي چه دَ امام احمد نه دوه روايته دي او دَ احنافو په نزد تجديد نشته او دَ مالک شافعي په نزد تجديد الماء شته او دَ امام احمد دوه روايته شرح الزركشي علي مختصر الخرقي ۱: ۱۷۵ باندے هم دي او دے كتاب كښې دي چه دَ نبي عليه السلام اودس وصف اكثر دَ عدم تجديد ذكركوي ، مظاهر حق كښې دي چه دَ امام اعظم ابوحنيفه ، امام مالک او دَ امام احمد دَ دريو وارو مسلک دادے چه دَ غوږونو مسح دَ سر په پاتے اوبو كول پكار دي دَ نوے اوبو اغستلو ضرورت نشته او امام شافعي فرمائي چه نوے اوبه به اخلي اواشعة اللمعات كښې دي چه دَ

مالک او شافعي په نزد نوے اوبه پکار دي ، دَ ټولو اقوالو نه معلومه شوه چه دَ امام ابوحنيفه او امام شافعي قول يو شان نه دے بلکه دَ امام شافعي په نزد تجديد الماء دے ، دا خبره صحيح نه ده چه هغه وائي چه نوے اوبه به ورله نه اخلے بلکه دَ هغه مسلک کښ اغستل پکار دي ليکن دَ مسئلة الثامنه په عنوان سره ئے ليکلے دي چه دَ امام شافعيؒ رائے داده چه ددے دپاره به مستقلے اوبه راخلے او جدا اوبه راغستل سنت دي او هم دغه صحيح ده مرقات کښ ابوحنيفه ، مالک ، احمد رحمهم الله يو طرف ته ذکر کړي دي ،

(۲۳): "وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ذَكَرَ وُضُوءَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَكَانَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ وَقَالَ: الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَا: قَالَ حَمَّادٌ: لَا أَدْرِي الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ مِنْ قَوْلِ أَبِي أُمَامَةَ أَمْ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"

ترجمه : دِ ابو امامهؓ نه روايت دے دَ اودس دَ نبي عليه السلام ذکر کوو چه نبي عليه السلام به دَ سترګو کوټونه هم مسح کول اوئے فرمائيل : چه غوږونه په سر کښ داخل دي ›› او ابوداود او ترمذي ذکر کړي دي چه حماد اوئيل : ماته پته نشته چه غوږونه په سر کښ داخل دي ، چه دا دَ ابو امامه خپل قول دے او کنه دا دَ دَ نبي عليه السلام دے ،

تشريح : دَ ابو امامه پيژندګلو

انصاري خزرجي دے او مصنف وائي چه نوم ئے سعد بن حنيف الانصاري اوسي دے په کنيت مشهور دے دَ نبي عليه السلام دَ وفات نه دوه کاله مخکښ وفات شوے دے بعض وائي چه دهٔ له دَ مور دَ غاړے دَ نيکه سعد بن زراره نوم او دَ هغه په کنيت يخے دے او دَ وروکوالي دَ وجے ئے ترے څه اوريدلے نه دي ملاعلي قاري مرقات کښ ليکلے دي چه بعضو دَ دوي تذکره په هغے کسانو کښ کړے ده چه دَ صحابؤ نه پس وو او ابن عبدالبر ئے دَ صحابؤ په زمره کښ داخلوي بيا وائي دا دَ هغے غټو تابعينو نه په مدينه کښ حسابيږي چه ددهٔ پلار اوريدل کړي دي څه کسانو ترے روايت نقل کړے دے ، دَ ۷۲ کاله عمر کښ ۱۰ هجرئ کښ وفات شوے دے حديث ئے دَ مراسيل الصحابه قسم سره تعلق ساتي او اتفاقا مقبول

Maktaba Tul Ishaat.com

دے او دا هم کیدے شي چه دَ ابوامامه نه دلته ابوامامه باهلي مراد دے او دا دَ هغے صحابؤ نه دے چه ډیر روایات ذکرکوي ،

ماق : توربشتي لیکي : دا دَ سترګے هغه کټ دے چه پوزے سره نزدے دے او مشهور لغت پکښ موق دے اشعه کښ دي چه کوم ځائے اوښکے راځاځي دغسے قاموس کښ لیکلے دي ، دا دَ سترګو کټ ته وائي دلته دَ چخي یا دَ ګند موجود کیدو احتمال وي یا څه دَ رانجو آثار لګیدلے وي وینځل ئے پکار دي او دواړه کوټونه له وینځل پکار دي ځکه ئے تثنیه ذکر کړے ده ،

الاذنان من الرأس : احناف فرمائي چه غوږونه دَ مسح حکم کښ دَ سر تابع دي په کومو اوبو چه دَ سر مسح اوشوه په هغے به دَ غوږونو مسح کیږي او دَ حدیث ظاهري الفاظ دَ دغے مطلب تقاضا کوي او دَاحنافو دلیل دے او شوافع وائي چه دَ لفظ مطلب دَ خلقت بیان دے ، او صاحب هدایه داسے جواب کوي چه دا مقصد دَ نبوت او دَ رسالت خلاف ځکه دے چه پیغمبر صلي الله علیه وسلم دَ اندامونو دَ بیان (Parts of Body) له نه وو راغلے او نۀ دَ طب دَ وضاحت دپاره دوي تشریف راوړے وو بلکه دَ احکامو دَ وضاحت دپاره راغلے وو او صاحب دَ عنایه لیکي : چه شوافع کله داسے توجیه کوي چه دَ غوږونو حکم دَ سر دَ حکم غوندے دے لکه سر کښ مسح ده دغسے غوږونو کښ هم ده لیکن صاحب عنایه داسے جواب ورکوي چه دلته دوه څیزونه په یو حکم کښ شریک دي او په داسے موقع کښ عرفاً"من" نۀ استعمالیدے مثلا دَ مخ او دَ لاسونو وظیفه یوه ده لیکن داسے نۀ وئیلے کیدے چه الوجه من الیدین او یا الیدین من الرجلین نو دلته هم دغه معني اغستل نۀ صحیح کیږي بیا خو ظاهر دا مطلب معلومیږي چه غوږونه کالجزء دي ،طلب دا شو چه سر او غوږونو باندے مسح ده غسل نشته دا مطلب نه دے چه دَ سر جزء دے په دے وجه تجدید ماء ته ضرورت نشته قاله ابن عبدالبر في الکافي ، او امام نسائي باب تړلے دے "باب مسح الاذنین مع الرأس وما یستدل به علي انهما من الرأس په دے ذیل کښ حدیث دَ تکفیرالوضوء دَ احنافو دلیل دے دَ نسائي روایت کښ دي" واذا مسح رأسه خرجت خطایا من رأسه حتي من اذنیه"

قال حماد : امام ترمذي دَ جواب کوشش ځکه کوي چه شافعي دے اوله خبره دا کوي چه ددے روایت په رفع او وقف کښ اختلاف دے او دوئم اعتراض دا کوي چه دَ روایت راوي شهر بن حوشب دے "ولیس اسناده بذاک" یعني راوي دومره قوي نه دي چه دَ روایت نه ئے دَ مسئلو استنباط اوکړي شي لیکن که

اوله خبره اومنلے هم شي چه دَ صحابي قول دے بيا هم ځکه حجت دے چه غير مدرک بالرأي مسئ
کښې دَ صحابي قول په حکم دَ مرفوع کښې وي ، امام زيلعي تفصيلي جواب ورکوي چه دَ زيلعي په نوم
دوه شخصيتونه دي يو فخرالدين زيلعي دَ کنز محشي او فقيه دے او دوئم شخصيت جلال الدين زيلعي
دے چه هغوي دَ هدايه دَ آحاديثو تخريج کړےدے غټ محقق مدقق دے ، په کتاب کښې دَ احنافو
تائيد کښې فوائد او حوالے زياتے دي ليکن انسان دے کله خطا شي يو ځائے نصب الرايه کښې ليکي چه
"غير انه امرهما علي اذنيه فمسح عليهما" لم اجده في الامام ولافي معجم طبراني في الاوسط ، (نصب
الرايه ۱ : ۳۰) حالانکه طبراني کښې موجود دے ابن همام فتح القدير ۱: ۲۹ باندے ليکي "وقول الزيلعي
في المعزو الي معجم الطبراني لم اجده فيه سهو عنه او کان ساقطا في نسخته والا فقد وجد في الاوسط بر
مسند ابراهيم البغوي"
زيلعي کله دَ احنافو ترديد هم کوي دَ قراءت خلف الامام مسئله کښې زيلعي دَ سيدنا ابن مسعودؓ
روايت نقل کوي "وقال ابن دقيق العيد في الامام وهذا الحديث معلول بوجهين احدهما الکلام في شهر بن
حوشب والثاني الشک في رفعه ولکن شهر وثقه احمد ويحي ،والعجلي، ويعقوب بن شيبه ،وسنان بن
ربيعه (زيلعي: ۱۸) او دا په بل سند يقيني موجود دے نصب الرايه کښې ص: ۱۹ باندے دي چه دَ الاذنان
من الرأس روايت باره کښې ابن القطان وائي سند ئے صحيح دے متصل دے او راويان ئے ثقه دي انتهي؛
او امام ترمذي چه ورته په دے وجه ضعيف وائي صحيح نه دي او مرفوعا بل روايت کښې حنما دغه
الفاظ نقل دي اصول دي چه زيادت دَ ثقه مقبول دے نو مقبول کنړل پکار دي او ابن ماجه کښې دَ
عبدالله بن زيد او ابوهريرهؓ نه مرفوعا دغه الفاظ نقل دي (دے روايت کښې لږ ضعف شته)"حدثنا
محمد بن يحي . حدثنا عمرو بن الحصين . حدثنا محمد بن عبد الله بن علاثة عن عبد الکريم الجزري
عن سعيد بن المسيب عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم (الأذنان من الرأس)" خو
دَ حتمي رواياتو موجودګئ کښې دَ امام ترمذي دَ اعتراض څه حيثيت نشته ، او که حماد ته پته نه وي دا
مستلزم دے له نه ده چه روايت مرفوع نشي جوړيدے او معارف السنن کښې دي چه څوارلس (۱٤)
متابع ئے موجود دي ، دوئم اعتراض دادے چه شهر بن حوشب ضعيف دے ، مسلم مقدمه : ۱: ۱۳
باندے ليکلے دي " ان شهرا ترکوه " ليکن امام احمد يحي بن معين ئے توثيق کوي او دا دواړه دَ امام
مسلم استاذان دي او بالکل ساقط الحديث ځکه نه دي چه امام مسلم ترے خيله ۲: ۱۸۲ باندے روايت

Maktaba Tul Ishaat.com

راغستے دے "الكماة من المن وماءها شفاء للعين" پکښې شهر بن حوشب دے او حافظ ابن حجر چه کله په حدیث دَ لا تشد الرحال ، باندے کلام لیکلے دے ویؤیده ماروي احمد من طريق شهر بن حوشب ، او آخر کښې لیکي "وشهر حسن الحديث وان كان فيه بعض الضعف" فتح الباري:٣: ٤٣ (معارف ترمذي) علماء دَ اسماء الرجال لیکي : صدوق كثير الاوهام والارسال ، مات ١١٢هـ

علامه الباني ارواء کښې لیکي : فيه سنان بن ربيعه عن شهر بن حوشب وفيها ضعف لايمنع من الاستشهاد بحديثهما ولذالک اوردته في الصحيح سنن ابي داود او په دے کښې عمروبن الحصين راوي متروک دے لیکن دَ حدیث ډیر شواهد دي صحابؤ کښې دَ ابن عباس ، ابن عمر، عائشه ، ابو موسي ، انس او دَ سمرة بن جندب رضوان الله عليهم روايات پکښې شته انتهي ،

او مصنف ابن ابي شيبه کښې دَ سعيد بن مسيب ، شعبي ، ابن سيرين ، سعيد بن جبير ، او دَ ابراهيم رحمهم الله اثار نقل دي ،

دَ سوال جواب : دلته په احنافو اعتراض راځي چه کله سر اوغوږونو دواړو له دَ يو اندام غوندے حکم ورکوئ نو که يو سړے صرف دَ غوږونو مسح اوکړي او دَ سر اونه کړي پکار دي چه اودس ئے اوشي حالانکه احناف وئي اودس ئے اونه شو دَ يو بل په ځائے ولے بيا نه کافي کيږي؟

غوږونو مسح حديث کښې ده قرآن کښې نشته ، فرض نه ده بلکه تابع او مستحب ده نو اصل پريښودل او تابع اختيارول ناجائز دي البته دَ تابع پريښودل او دَ اصل کول گزاره غوندے ده په تابع اکتفاء نه صحيح کيږي که څوک قبلے ته مخ کړي چه اصل دے او حطيم ته مخ کړي او مونځ اوکړي نو مونځ ئے نه کيږي ځکه حطيم تابع او کعبه اصل ده ، اصل پريښودل او تابع اغستل صحيح نه دي دلته هم دَ غوږونو په مسح اکتفا صحيح نه ده (غوږ گټے او سر باڼيلي) (التقرير الصبيح)

اشرف التوضيح کښې دي چه حافظ زيلعي دَ څلورو صحابؤ نه دَ پيغمبرصلي الله عليه سلم فعلي حديث هم نقل کړے دے چه ددے قولي حديث تائيد په هغے راځي دَ نبي عليه السلام فعل ثابت دے چه دَ غوږونو مسح دپاره دوي نوے اوبه نه وے اغستے (١): حديث دَ ابن عباس (٢): حديث دَ ربيع بنت معوذ (٣): حديث دَ صنابحي (٤): حديث دَ علي رض په دے وجه په مرفوع کيدو کښې ددے شک نه دے پکار ،

وقال الاذنان من الرأس : يا ددے عطف په مخکښ قال دے اي قال ابو امامه الاذنان من الرأس ، اوس موقوف شو اي قال الراوي ذكر ابو امامه ، او يا ددے عطف په "كان" دے اي قال الرسول "الاذنان من الرأس" اوس دَ رسول كلام دے ،

سوال : شوافع وائي : چه لکه دَ سر مسح ده دغسے دَ غوږونو مسح ده دا مطلب دے ددے الاذنان من الرأس ،

جواب : اشرف التوضيح کښې دي چه دا توجيه دَ حديث الفاظو سره موافقت نه کوي بيا داسے وئيل پکار وو "الاذنان مثل الرأس" که دوه اندامونه حکم کښې يو بل سره شريک وي نو يو ته دَ بل مثل وئيلے شي ليکن جزء ورته نشي وئيلے لکه دَ خپو او دَ مخ حکم وينځلو کښې شريک دي نو الوجه مثل الرجلين خو وئيلے شي ليکن الوجه من الرجلين نه شي وئيلے کيدے ځکه چه "من" دَ جزئيت دَ خودلو دپاره وي ،

رواه ابن ماجه وابوداود والترمذي وذكرا : دَ ابن ماجه روايت ئے ځکه دَ ابوداود او ترمذي نه مقدم کړو چه دَ "ذکرا" دَ تثنيے ضمير ابوداود او ترمذي دواړو ته راجع شي ،

(٢٤): "وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جده قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوءِ فَأَرَاهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: «هَكَذَا الْوُضُوءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ» . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ مَعْنَاهُ"

ترجمه : عمروبن شعيب دَ پلار په طريقه سره دَ خپل نيکه نه روايت نقل کوي اوئے فرمائيل چه راغے نبي عليه السلام ته يو بانډه چي او تپوسونه ئے کول دَ اودس باره کښې نبي عليه السلام ورته درے درے ځله وينځل اوخودل او ورته ئے اووے اودس داسے وي او چا چه په دے باندے زيادت اوکړو نو بد کار اوکړو او ظلم زياتے ئے اوکړو ،

تشريح : (حجت نيول دَ عمروبن شعيب عن ابيه عن جده دَ روايت نه)

مخکښې اول جلد کښې ددے بحث ذکر شوے دے دلته يوه حواله دَ امام نووي ذکر کوو په مقدمه دَ کتاب المجموع شرح المهذب :١: ١٣٨ باندے بحث نه بعد ليکي : "وذكر اكثر المحدثين الي صحة الاحتجاج وهو الصحيح المختار" او امام احمد ، علي ابن المديني ، حميدي او اسحاق بن راهويه رحمهم الله باره کښې ليکلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چه دوي ټولو به ددغے رایت نه استدلال کولو یو مسلمان ترے احتجاج نه دے پریښودے ، دَ مهذب دَ تصنیف وخت کښې راجح دا ذکر کوي چه استدلال صحیح دے او په دے کښې دَ اصل فن او خاص کر دَ امام بخاري ترجیح کافي ده او ظاهره دا ده چه نیکه ئے مشهور و معروف په راویت دَ عبدالله دے یعني دَ شعیب خپل نیکه عبدالله بن عمرو سره ملاقات ثابت دے ،دَ اودس طریقه بالفعل دے له خائي ملاعلي قاري لیکلے دي دے سره ضبط خه راځي او په زړه اثر کوي ، لیس الخبر کالمعائینه"

اساء : بالتساهل في المبالغه (مرقات)

وتعد : دَ حد بندئ نه ئے زیات اوکړو او ظلم ئے څکه اوکړو چه اوبه ئے ضائع کړے او چه کوم ځائے ته رسول نه وو پکار هلته ئے اورسولے څکه ابن المبارک فرمائي ددے نه زیادت کولو باندے هسے نه چه ګناه ګار شي ، (الکاشف)

او ملاعلي قاري لیکي : چه ددے نه زیات له هیڅ وجه نشته دَ وسوے انتهاء نه وي څکه امام احمد او اسحاق فرمائي دا وسوسے والا کوي او دَ ابن حجر قول ئے نقل کړے دے چه ما داسے وسوسو والا لیدلے دي چه دَ سلو(۱۰۰) نه زیات لاس وینځي لیکن صفراء ئے نه ماتیږي ، امام نووي کتاب المجموع "۱: ۲۴۴ باندے لیکي : اساء في النقص وظلم في الزیادة ، یا د بدئ او ظلم دواړه په نقص او زیادت دواړو صورتونو کښې ابن صلاح غوره کوي دَ ډیرو روایاتو کښې دَ نقص ذکر نشته،

حکم : دَ دریو نه زیات مکروه تنزیهي دي او حرام نه دي ، امام الحرمین فرمائي : څلورم ځل وینځل معصیت نه دے لیکن مکروه دي ، دَ اساء معني ، ترک اولي او دَ تقوي ، مطلب دَ سنة دَ حد نه تجاوز دے ، کتاب الام کښې امام شافعي فرمائي دَ درے نه سوا زیادت نه خوخوم که اوشي نقصان نه کوي یعني ګنهګار نه دے او مالکیان وائي زیادت حرام دے لیکن دا ظاهر مذهب دَ دوي څکه نه دے چه دَ اساء مطلب دا نه دے چه حرام دے وي څکه "اساء" هغه ځائے استعمالیږي چه ګناه پکښې نه وي لیکن غوره هم نه دي، ماوردي فرمائي : اصح داده چه زیادت مکروه دے او دَ امام شافعي دَ قول مطلب هم کراهة تنزیهي اغستل پکار دي چه دَ آحادیثو سره موافق شي او امام بخاري رجحان دے چه زیادت او اسراف علماء مکروه ګڼړي دَ نبي علیه السلام دَ فعل نه تجاوز نه دے پکار که چرته دَ چا دَ دوؤ او یا دریو کښې شک پیدا شي نو یقین باندے دے فیصله اوکړي چه دا دوه ځله دي دریم ځل دے اووینځي او امام جویني فرمائي چه بیا دے زیادت په دے شک صورت کښې څکه نه وي هسے نه چه بدعت

اوکرځي او دَ مونځ کزار مانځه کښې په شک ددے قیاس مع الفارق دے لیکن بعض دَ مونځ غونډے معامله ورسره کول غواړي او بدعت به هله وي چه بغير دَ سبب نه ئے قصدا اوينځي ،او صحيح داده چه بل ځل دے اوينځي ، انتهي ، هدايه کښې دي "فمن زاد علي هذا او نقص فقد تعدي وظلم" دا وعید ځکه دے چه درے ځله سنت نه ګنړي او حال دادے چه زيادت کښې سنت نشته بلکه زيادت، زيادت او ظلم دے ، دَ هيرے معامله يا دَ زړه دَ اطمينان په صورت کښې زيادت کښې ظلم نشته ،

روايت کښې تعدي زيادت ته راجع دے ځکه دَ حد نه تجاوز دے "ومن يتعد حدود الله فقد ظلم نفسه" (طلاق:۱) او ظلم نقصان ته راجع دے الله فرمائي "ولم تظلم منه شيئا" ، اول فرض او دوئم سنت او درئم اکمال دَ سنت دے او په دے وجه ظلم هم دے چه درے ځله دَ سنت اعتقاد نه ساتي ، تبيين الحقائق کښې دي که دَ بل څه ضرورت په بناء زيادت اوکړي دا دَ وضوء علي الوضوء غونډے دے ، ګناه پرے نشته دغسے دَ بل څه حاجت په بناء نقصان هم دے ، نو دا کار خطرناک دے ، چه عقيده ګنړي چه په دريو سنت نه آدا کيږي ،

دَ اشکال جواب : آيا نقص دا لفظ ثابت دے يا نه دے؟

التعليق الصبيح کښې قاضي شمس الدين فرمائي چه دَ نبي عليه السلام نه دَ درے ځله نه کم اودس ثابت دے بعض رواياتو کښې "نقص" لفظ چه راځي دا ضعيف دي دا وهم دَ ابو عوانه دَ طرف نه راغلے دے اګر چه ابوعوانه ثقه دے ليکن دَ وهم نه څوک بچ کيدے نه شي، الا من عصمه الله " دليل دادے چه دَ احمد ، نسائي ، او ابن ماجه رواياتو کښې دَ نقص لفظ نشته ، لمعات التنقيح کښې دي والصحيح عدم ذکر النقصان" او بيهقي نقص په دے حمل کوي چه اندام ټول په وينځلو کښې راګير نه کړي انتهي ،

"هَذَا الْوُضُوءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدَّى وَظَلَمَ" (مسند احمد:۱۱: ۲۲۸)ددے په تعليق کښې ليکلي دي صحيح وهذا اسناد حسن وقد خرجها الدکتور محمد حبيب الله المختار في کشف النقاب،

واضحه دے وي : شيخ محترم محمد حبيب الله المختار، دَ بنده دَ مشکوة ثاني استاد دے فرحمه الله رحمة واسعة،

دوئم تاويل دا کيدے شي چه دلته دوه څيزونه دَ شرط غاړے ته دي چه زاد او نقص دے او دغسے دوه څيزونه جزاء طرف ته دي چه "اساء" او ظلم دے دَ "اساءة" تعلق نقص سره او دَ ظلم تعلق دَ زاد سره دے په دے هم اشکال ختميږي که چرته نقص ثابت شي يعني نقصان ته اساءت او زيادت ته به ظلم

راني یا دلته مجموعه په مجموعه مرتب کیدے شي هر یو ته خان خان له جدا ظلم او اساءت نه دے ونیلے شوے ، او ظلم خو کلي مشکک دے "ظلم دون ظلم" دَ حرام نه تر خلاف اولي پاندے صادق دے اجتهادي مسئلو کښې اطلاق کیدے شي دَ "فتكونا من الظالمين" لاندے تفسير احسن الكلام کښې هم شته ،

دَ حدیث نه معلومه شوه چه شرع کښې کوم مقدار کمًا یا کیفًا بیان کړے شوے دي په هغې زیادت خه نه وي بلکه بد وي هر رنګه چه دي کوشش پکار دے چه په درے خله اکتفاء باندے قناعت اوکړے شي ، المفاتیح کښې دي چه هسے خان سترے کوي او په زیادت ورله ثواب نه ورکوي ،

(۲۵): "وَعَن عبد الله بن الْمُغَفَّل أَنه سمع ابْنه يَقُول: الله إِنِّي أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَمِينِ الْجَنَّةِ قَالَ: أَيْ بُنَيَّ سَلِ اللَّهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُول: «إِنَّه سَيكون فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ"

ترجمه : عبدالله بن مغفل نه روایت دے یقینا دَهٔ واوریدل دَ خپل خوي نه چه دا دعا ئے کوله اے الله زه تانه سپینه بنګله غواړم دَ جنت ښي طرف ته عبدالله بن مغفل ورته اووے اے بچیه سوال کوه دَ الله دَ جنت او پنا غواړه په الله سره دَ اُور نه ځکه یقینا ما اوریدلے دي دَ نبي علیه السلام نه چه فرمائیل ئے چه په دے امت کښې به څه خلق راشي چه په طهارت کښې او په دعا کښې به دَ حد نه تجاوز کوي ،

ترجمه : ددے صحابي مختصر پیژندګلو

عبد بن نهم دے ابو سعید دے یا ابو عبدالرحمن المزني دے هغه صحابي دے چه دَ اونے دَ لاندے بیعت کړے دے او مدینه کښې اوسیدو بصرے ته راغے عمر" دَ تبلیغ دپاره مصر ته لیګلے وو په ۵۷ هجرئ کښې یا ۵۸ هجرئ یا ۵۹ هجرئ کښې وفات شوے دے او دَ دوي نه حسن ، سعید بن جبیر او ابن بریدهٔ روایت کړے دے او دَ تستر فتح وخت کښې ذهبي په کاشف کښې لیکلے دي چه دوي اول داخل شوے وو دَ دوي نه یو حدیث دَ بسم الله په پټه وئیلو کښې په طریقے دَ ابو سفیان عن یزید بن عبدالله بن المغفل نقل دے علامه عیني بنایه کښې لیکلے دي دَ دوي دَ خوي نوم یزید دے عبدالله بن المغفل دَ بدعاتو سره ډیر بغض لرلو په قراءت دَ بسم الله الرحمن الرحيم کښې امام طحاوي لیکلے دي "فما رأیت

رجلا اشد علیه حدثا في الاسلام منه" یزید، زیاد او محمد درے وارہ څامن ترے روایت کوي اګر چه روایت کښې مشهور نه دے لیکن په دوي کښې ذَ یو نه داسے منکر حدیث نه دے نقل چه شاهد او متابع ئے نه وي ذَ محمد نه طبراني روایت نقل کړے دے محمد عن ابیه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من امام بیعت غائبا لرعیته الا حرم الله علیه الجنة" دغسے ذَ زیاد نه هم طبراني یو روایت په طریقے ذَ طریف بن شهاب نقل کړے دے، لکه نصب الرایه: ۱: ۳۳۲ کښې دي.

په پاکئ کښې ذَ حد نه تجاوز

لمعات التنقیح کښې دي چه کله ذَ دریو نه زیادت پاکئ کښې کوي یا اوبه ډیرے تویوي دومره مبالغه کوي چه ذَ وسوسے حد ته رسي (غسل اودس دواړو کښې داسے مبالغه ممدوحه نه ده)

اعتداء في الطهور

التقریر الرفیع کښې دي: ذَ حاجت نه زیات اسراف سره ذَ اوبو استعمال اعتداء ده، ذَ مبالغے او ذَ وسوسے نه به ځان بچ کوے دا بیا ذَ وسوسے حد ته رسي اګر چه ذَ نهر په غاړه اودس ولے نه کوے، امام غزالي احیاء العلوم کښې لیکلے دي چه ابراهیم بن ادهم به فرمائیل اول وسوسے ذَ پاکئ باره کښې راځي مظاهر حق کښې دي چه دعا به په داسے انداز او طریقه غواړے چه ذَ بے ادبئ اظهار ترے نه کیږي ذَ عبودیت ذَ شان نه خلاف نه وي غیر ضروري او نامناسب قیدونه به نه لګوے هغه سوال به نه کوے چه ممتنع او عادة محال وي فتح الاله کښې هم ابن حجر لیکي: چه ذَ محال شرعي یا عقلي دعا به نه کوے ذَ ګناه کولو او ذَ خپلولئ ذَ پریکولو دعا به نه کوے او نه به ذَ هغے اخروي مرتبو غوښتلو سوال کوے چه ذَ شارع اذن نه وي، علامه شامي مطلب في الدعاء المحرم :۱: ۳٦٦ قدیم چهاپ په ذیل کښې لیکلے دي چه سړے به داسے دعا نه کوي چه ما سړے کړه، ځکه دا تحصیل حاصل او بے فائدے سوال دے

لیکن که ذَ صحیح سړیتوب صفت ئے مراد وي بیا خیر دے، امداد،

او داسے سوال به نه کوي چه په کښې تحکم علي الله وي او دلیل ورله دا آیت دے "ادعوا ربکم تضرعا وخفیة انه لایحب المعتدین" او بیا ئے دا روایت ذَ سیدنا عبدالله بن مغفل ذکر کړے دے علامه آلوسي ذَ آیت په ذیل کښې لیکي: د واجب الوقوع او ذَ لا وقوع سوال فضول دے، انتهي، مقصد په تکلف سره سجع کول بند دي حالانکه دا دعا یو فرد جوړیدے شي ذَ بخاري روایت کښې راځي "والنظر السجع

Maktaba Tul Ishaat.com

من الدعاء فاجتنبه" دلته صحابي ځوي ته كاريږي چه دَ جنت ځي طرف كښې وائټ هاوس يعني سپينه مانړئ غواړي معلومه شوه دَ شارع مطلق به دَ شارع په قصد سره مقيد كيدے شي نو تقييد دَ مطلق شرعي په غير شرعي قيد سره اعتداء ده علامه شامي په سند سره دَ امام ابوحنيفه قول نقل كوي چه دعاء كښې به صرف دَ الله دَ اسماء وصفات وسيله پيش كوے ، "ولله الاسماء الحسني فادعوه بها"

واضحه دے وي : په دعا كښې لاس پورته كول بلكه په دے دوام هم جائز دے ، اعتداء نه ده ، علامه ابن تيميه فتاوي ۱۱: ۳۰۴ باندے ليكي "اما رفع النبي يديه في الدعاء فقد جاء فيه آحاديث كثيرة صحيحة" په خپل مقام به ان شاء الله بحث راشي دَ سنتو او دَ جنازے دَ مونځ نه پس دَ جماعت دعاء دَ اعتداء په ذيل كښې راځي دَ فرض نه پس دَ جمع دعاء بلاالتزام اعتداء كښې نه راځي ځكه علماء ورسره دَ التزام قيد لګوي ، لكه دَ شيخ عبدالسلام تفسير احسن الكلام،

الفاتيح كښې دي چه دَ جنت معين مقام به ځكه نه غواړے كيدے شي تقدير كښې دغه مقام بل چا له ليكلے وي مرقات كښې دي دَ پيغمبرانو منازل يا دَ معين خيز سوال ممنوع دے دعا كښې به افراط او تفريط نه كوے انتهي ،دعا كښې جهر بليغ مناسب نه دے ،

بذل المجهود كښې علامه سهارنپوري ليكلے دي چه ددے صحابي ځوي دَ حد نه څه تجاوز دے دعا كښې نه دے كړے ليكن سدا للباب ئے دَ مخكښې نه تنبيه ځوي له دَ پيش بندئ په بنياد وركړے ده ،

اسراف في الوضوء

اول صورت بے ضرورته اوبه بيول ، نبي عليه السلام سعد بن ابي وقاص ته فرمائيلے وو "ماهذا السرف يا سعد" هغوي تپوس كوي "أفي الوضوء سرف يا رسول الله" نبي عليه السلام اوفرمائيل "نعم وان كنت علي نهر جار"

دوئم صورت دَ اسراف في الوضوء دادے : چه دَ قصد په درے ځله زيادت دين كنړے ، دا بالكل ناجائز دے ، دين څه شربت نه دے چه څومره ګوره پكښې اچوے دومره به خوګيږي ، دَ شارع په هداياتو عمل كولو كښې كاميابي ده والله اعلم

ددے روايت باره كښې مرقات كښې دي چه دَ ابن ماجه حواله ئے نه وي وركړے خه به ځكه وے چه په ابن ماجه كښې دَ طهور لفظ نشته ،

(۴۶): "وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ لِلْوُضُوءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ الْوَلَهَانُ فَاتَّقُوا وَسْوَاسَ الْمَاءِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ لِأَنَّا لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ خَارِجَةَ وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا"

ترجمه : دَ ابي ابن كعب نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه بے شكه دَ اوداسه يو شيطان دے چه هغے ته ولهان وائيلے كيږي نو ځان بچ كړي دَ وسوسے دَ اوبو نه ،، امام ترمذي وائي دا حديث غريب دے او سند قوي نه دے دَ محدثينو په نزد باندے ځكه موږ ته نه ده معلومه چه خارجه راوي نه علاوه ددے چا سند بيان كړي وي او قوي نه دے په نزد زموږ دَ اصحابو ،

تشريح : (دَ راوي پيژنګلو)

ابي بن كعب بن قيس المدني دے كنيت ئے ابوالمنذر دے سيدالقراء دے المفاتيح كښ دي چه نيكه ئے قيس بن عمير بن زيد بن معاويه ابن عمرو دے ، عقبه ثانيه او بدر كښ شركت كړے دے سيدنا عمرؓ به ورته سيدالمسلمين وے مسروق فرمائي چه كوم شپږ صحابه په قضاوت كښ مشهور وو يو پكښ دوي وو دَ وحي كاتب وو او دَ قرآن په جمع كښ غټ كردار وو الله نبي عليه السلام ته حكم وركړے وو چه ابي بن كعبؓ ته اوايه چه "سورة لم يكن" اولولي وئيل ئے "آلله سماني لک ؟" او دَ سترګو نه ئے دَ خوشحالئ اوښكے راوخښيدلے (۲۰)هجري كښ يا ددے نه پس مدينه كښ اوفات شوے دے دے هغه لږو كسانو كښ وو چه ټول قرآن ئے دَ نبي عليه السلام موجودګئ كښ ياد كړے وو نبي عليه السلام ورته دَ سيد الانصار خطاب وركړے وو دَ دوي دا يو قيمتي ملفوظ دے چه يو بنده دَ الله تعالي دپاره څه څيز پريږدي الله به ورله دَ هغے نه بهتر په داسے لار يو بل دَ هغے نه غوره څيز وركړي چه ګمان به ئے هم نه وي ، اودس كښ اندام وينځل مطلوب دي دَ غسل تعريف مراقي الفلاح كښ كړے دے په محل داسے اوبه اچول چه كم از كم دَ اصح قول مطابق ترے دوه څاڅكي راوغورزيږي ، نه څاڅكي به اسراف سره اودس دَ شريعت دَ مزاج نه خلاف دے دومره بس دي چه دَ اندام نه يو څو څاڅكي اوغورزيږي ،

ولهان : "اله" دَ بعضو په نزد مأخوذ دے دَ "اله" بمعني تحير، ولهان کښې حيران کيدل پراته دي خلق وائي دَ فلانکي فلانکي سره والهانه محبت دے او دَ الله په معرفت کښې عقول حيرانه دي بيضاوي کښې دي "لان المعقول تتحير في معرفته" دا اودس کونکے دے شيطان حيرانه کړے دے، حق حيران دے دَ اوبو په استعمال کښې وسوسو راګير کړے دے، ابن حجر هيثمي ليکلے دي چه اصل ددے مصدر دے دَ وله يوله ولها ولهانا دَ عقل تلل دا شيطان او دَا وسوسے دے دَ کار نه اوباسي او دے دَ حيرت په دوغل کښې پروت وي ته به وائي چه عقل ئے نشته په يو څيز حکم نشي لګولے دَ هغے دَ قصور نه محرومه دے شيطان وريوړے توقے کوي يا اسم فاعل دے يا خپل مصدري معني باندے واخله لکه رجل عدل، ولهان يو فرد نه دے بلکه دا يو نوع ده،

وسواس : قرآن کښې دي (من شرالوسواس الخناس) زمخشري وائي دا اسم دے چه کله فتح سره وي، مراد ترے شيطان دے او وسواس په معني دَ وسوسة دے لکه زلزال دَ زلزلة په معني دے او مصدر وسواس بالکسر دَ زلزال غوندے راځي دا وسوسے د شيطان بذور يعني زخمونه دي دا هغه وساوس دي چه دَ اودس دَ اوبو استعمال کښې په دَۀ راځي او مونځ کښې په دَۀ خنزب مسلط شي دَ شيطان کوشش دا وي چه دَ اعتدال دَ لارے نه ئے افراط او تفريط په لاره کښې اخته کړي، دَ ايمان، کفر، طلاق او دَ قتل وغيره وسوسوله ولهان نه دے مقرر،

الحق الصريح کښې دي "اکثرو مقلدينو کښې دا مرض زيات دے چه خپل مشران او علماء دَ پيغمبر عليه السلام درجے ته رسوي او په ځان نه پوهيږي دَ تقليد په جذبه کښې وي انتهي،

دغسے بعض غير مقلدين دَ عدم تقليد او اجتهاد لافے کول دَ دوي عادت جوړ شوے دے ځان ته هر يو سره دَ موصوفه مجتهد وائي»

اليواقيت والجوهر:٤٧٦ باندے دي "وناب المجتهدون مناب الرسل عليهم السلام في تفصيل ماجعلوه في کلامهم" دَ تقليد جذبه په شرائطو دَ حدودو دَ لاندے خه جذبه ده، چه تقليد جامد دَ بعض مقلدينو يا دَ غير مقلدينو غوندے نه وي،

المحدث العلامه الشيخ شعيب الارنووط باره کښې دَ هغوي يو شاګرد کتاب ليکلے دے "سيرته في طلب العلم وجهوده في تحقيق التراث" دَ هغے په ٧٢ دَ خپل استاد قول نقل کوي "وقال شعيب انا لست مجتهدا

وانما اقرر مسئلة اجتهد فیها الائمة فانا ناقل لاجتهادهم " دَ هغوي خبره دَ توضیح نه ډکه ده، نن صبا نه څوک محقق شته او نه مجتهد ، ناقل دَ اجتهاد یا دَ تحقیق وي ، الا من شذّ و علمه عندالله،

صاحب الحق الصریح خپل کتاب دَ تقلید حکم او دَ مقلدینو اقسام نومے کتاب: ۲۸۵ باندے لیکلے دي "احنافو کښې وس بیخي عالم نشته او نه پکښې مفتي شته ځکه مفتي خو مجتهد ته وائي او زمونږ دَ اهل السنت والجماعت اهل حدیثو هر یو عالم مجتهد دے ،

احناف وائي نقل دَ فتوي او دَ تحقیق او نقل دَ مجتهد دَ اجتهاد شته لیکن مجتهد في المذهب عنقاء دے، تحقیق بلا ترک تقلید ،

الفوائد في تزکیة النفوس :۳: ۱۹۵ باندے ذکر دے او اصل کښې دَ سلفو دَ دور مفتي صرف مجتهد وي ، تحفة المناظر کښې دَ ابن همام په حواله : ۵۱ باندے دي چه غیر مجتهد دَ مجتهدینو اقوال یاد ساتي بیا دَ هغے حکایت کوي دغسے مفتي هم شو انتهي ، دَ اجتهاد هغه شرطونه چه تحفة المناظر :۱۴۶ کښې دي آیا دَ دوي په هر عالم کښې شته چه دَ احکامو سره متعلق په قرآن وسنت او دَ قیاس په شرائطو پوهیږي دَ کیفیت النظر او علم لغت نه باخبره او دَ ناسخ منسوخ پوهه ورسره وي او دَ راویانو دَ حال نه خبر وي دداسے متبحر عالم ژوندے مجتهد خو زمونږ ارمان دے چه دَ رخ انور زیارت ئے اوشي "ودونه خرط القتاد"

په شرطونو سره عامي غیر مجتهد له هم تقلید جائز دے چه کله اجتهادي شرائط پکښې نه وي اوګوره فتاوي خالص : ۱: ۱۱۱ ، چه کله داسے مجتهد تقلید څوک کوي چه مذهب ئے اصولاً فروعاً مدون وي، هغه مجتهد څه شارع نه ګڼړي او تقلید کښې ددهٔ دَ کتاب وسنت او دَ اجماع امت مخالفت نه وي داسے غیر مجتهد له دَ مجتهد تقلید بالکل جائز دے ،

عالم ته دَ کنځلو عادت باندے دَ علامه الباني نه تر دے وخته دَ برائے نام مجتهدینو ذکر مخکښې شوے دے

نزهة الخواطر (الاعلام بمن في تاریخ الهند من الاعلام) :۷: ۳۳۷ باندے دي الشیخ عبدالله الاله آبادي په حالاتو کښې دي چه دَ په النبراس المنیر کښې لیکلے دي : التراویح وجوه المعاش للاوباش کالمراءي وجوه الاوقات للاناسي" او یعمل بظواهر النصوص ویرمي بالکفر اصحاب المذاهب الاخرین من الحنفیة والشافعیة نعوذ بالله من ذالک"

Maktaba Tul Ishaat.com

الحق الصريح کښ دي تفريط دا هم دے چه څوک يو عالم ته کنځل اوکړي يا يو امام سره دشمني اوکړي نو دا تفريط دے او دَ يو امام خبره په دليل رد کول بے ادبي او تفريط نه دے ،
وضاحت ددے چه علامه عبدالحيي لکهنوي چه غير مقلدين ترے تائيد کښ دَ حوالو ورکولو عادت دي چه دوي کښ دَ غير مقلد مشر ليکلے دي "ان ابا حنيفة لم يكن مجتهدا وان ابا حنيفة كان جهميا معتزلا مرجئا زيديا وكذا من الخرافات" (امام الكلام:٧)
ليکن ددے بے ادبئ رد کښ څه کتاب او نه ليکلے شو چه دا به هم بعينيه دين وي ځکه څو الرفع والتكميل : ١: ٩ باندے علامه لکهنوي ليکي : ومن عاداتهم الخبيثة انهم انهم كلما ناظروا احدا من الافاضل في مسئلة من المسائل توجهوا الي جرحه بافعاله الذاتية وبحثوا عن اعماله العرضية وخلطوا الف كذبات بصدق واه" (ددے امثله ذکر کولو سره خبره اوګديږي امداد)

ومالِلشمس ذنب ان لم يرضوءه الخفاش

وما علي الميت عيب ان تسرق كفنه النباش

(تذكرة الراشد:٦٥)

پکار دي چه دَ بعض غير مقلد دَ غلطو الزامات او افتراءات دے تحريرا په ادب احترام او اکرام سره دَ صاحب الحق الصريح نه دَ تربيت په انداز اوشي،
وسواس الماء : علامه هيثمي فتح الاله کښ ليکلے دي دَ وسواس الماء نه مراد وسواس الولهان دے دَ ولهان په ځائے اوبه دَ شدت ملازمت دَ وجے ذکر شوے دي دَ دوارو مينځ کښ نزدے ربط دے او دے طرف ته توجه ورکول مفضي کيږي دَ دين او عقل فساد ته ،، شکي شي چه اندام ته به اوبه رسيدلے وي يا نه ، يوځل مے اندام اوينځلو يا دوه کرته ،، اوبه پاکے وے يا نه ، که شافعي وي اوبه دَ قلتين نه چرته کمے نه وي ، ولهان خو دَ شيطان نوم شو ليکن لمعات کښ دي چه حقيقت کښ دَ انسان صفت دے چه کله دَ هغه وسوسے دَ وجے په حيرانتيا کښ پريوځي او المفاتيح کښ دي چه دے بيا يو بدعت کښ اوغورځيږي ،

دَ حدیث مقام

قال ابن ابي حاتم في العلل : رقم: ۱۳۰ سئل ابو زرعة عن هذا الحديث فقال رفعه الي النبي صلي الله عليه وسلم ، ومنكر" و في ضعيف ابن ماجه للالباني: ۹٤ وقال ضعيف جدا ، واخرجه الحاكم في المستدرك ۱: ۱۶۲ وعن ابي وله شاهد باسناد صحيح منه ، (النفيس في تخريج احاديث تلبيس ابليس: ٦٠)

امام ترمذي فرمائي : وليس اسناده بالقوي عند اهل الحديث لانا لا نعلم احدا اسنده غير خارجة وهو ليس بالقوي عند اصحابنا"

مرقات کښې دي چه خارجه ته ابن مبارک ضعیف وئیلے دے او حسن بصري فرمائي : لايصح في هذا الباب حديث مرفوع" دغسے کشف المناهج کښې هم دي ، امام ذهبي خارجه بن مصعب بے کاره راوي گنړي او دَ ترمذي سند کښې رشد بن سعد ضعیف دے او ابن یونس وائي دے دین کښې صالح وو، ذهٔ ئه روستو دَ صالحینو غفلت اورسیدو ، حدیث کښې مخلط دے (التقریب:رقم:۱۹۵۷)

لمعات کښې دي چه په تقریب التهذیب کښې دي : خارجه بن مصعب ابو الحجاج سرخسي متروک دے او دَهٔ به دَ غټو دروغژنو نه تدلیس کولو ، ۱۶۸ هجري کښې وفات شوے دے انتهي ،او میزان الاعتدال کښې دي دَ ابن معین قول راغستے دے چه ثقه نه دے او داسے هم وائي چه غټ دروغژن دے ، امام بخاري فرمائي ابن مبارک او وکیع پریخودلے دے ،او دار قطني فرمائي : ضعیف نه دے او تهذیب کښې دَ امام احمد قول نقل کړے دے چه ددهٔ حدیث به نه شي لیکلے ، حاکم وائی متروک دے ،

الحاصل : دا یو مختلف فیه راوي دے ، په حدیث دَ عبدالله بن عمرو بن عاص کښې دَ اوبو دَ اسراف ممانعت دے او حدیث هم سندا ضعیف دے او دَ عبدالله بن مغفل روایت کښې دَ اعتداء في الطهور اصولي مسئله ذکر ده ، او دَ عمروبن شعیب روایت کښې دَ زیادت انکار موجود دے دے آحادیثو کښې دَ ولهان تذکره او دَ وسواس الماء تذکره صراحة هدو شته نه او دَ التزاما نه انکار نشته ،

(۲۷):وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ مسح وَجهه بِطرف ثَوْبه. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ"

ترجمه : معاذ بن جبل نه روایت دے فرمائي : ما اولیدو نبي علیه السلام چه اودس ئے کولو نو وچ ئے کړو مخ خپل په لمنے دَ کپړے سره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح : علامه هيثمي ليکي : که دا روايت صحيح شي بيا په عذر يا بيان جواز حمل دے ځکه چه سيدتنا ميمونه چه کله دَ اوداسه نه روستو پيغمبر عليه السلام له رومال دَ اندامونو دَ اوچولو دپاره راوړو نبي عليه السلام قبول نه کړو او دَ ځان نه ئے په دواړه لاسه اوبه څنړولے نو اوبه ئے په لاسونو لرے کړي سيدتنا ميمونه تقريبا ۵۱ هجرئ کښ وفات ده ،

اندامونونه اوچول يا نهٔ اوچول

ابن حجر فتح الباري کښ دَ نووي په حواله په دے مسئله کښ پنځه اقوالو کښ مشهور قول دا ذکر کړے دے چه مستحب دادي چه مهٔ استعمالوه او دا مشهور قول دے بيا ئے اباحت ، کراهت ، استحباب ، او په ژمي کښ دَ اباحت او گرمئ کښ دَ کراهت قول نقل کړے دے ،

علامه ابن الجوزي ليکلے دي : که مونږ دَ آحاديثو په صحت خبره اوکړو مونږ به ددے وجه داسے ذکر کړو چه دَ اودس نه پس اوبه اچول غوره نه دي ځکه دا دَ عبادت اثر دے او دغسے به نبي عليه السلام کولو او بعض اوقات دوي به اندامونه دَ ډيرو اوبو يا دَ سخت سړځئ يا کيف ماتفق اوچول دلته دَ ناسخ او منسوخ څه وجه نشته دواړه جائز دي (اعلام العالم:۱۰۲، ۱۰۳)

علامه شامي هم مختلف اوقوال ذکر کوي اجازت والا قول ئے نقل کړے دے ليکن اوچولو کښ دے مبالغه ځکه اونه شي چه څه دَ اوبو نښے دَ اوبو په اندامونو پاتے شي نو مسئله کښ وسعت دے او استعمال کښ څه حرج نشته ، ابوداود کتاب کښ : ۳۲ باندے دي "يکرهونه للعادة" عادت نه دي جوړول پکار کله اوچول او کله پريخودل پکار دي ، دَ بخاري تفصيلي روايت کښ ص: ۴۰ باندے دَ غسل واقعه ده " ثم تنحي فغسل قدميه فناولته خرقة فقال بيده هکذا ولم يردها" اشاره ئے اوکړه او واپس ئے نه کړو ، او باب نفض اليدين من الغسل عن الجنابة " د: لاندے صحيح بخاري کښ دي دَ ابو حمزه وغيره روايت کښ "فناولته ثوبا فلم يأخذه فانطلق وهو ينفض يديه" حافظ ابن حجر فرمائي : دَ روايت نه ځکه کراهت نه معلوميږي "لانها واقعة حال يتطرق اليها الاحتمال فيجوز ان يکون عدم الاخذ لامر اخر لا يتعلق بکراهة التنشيف" کيدے شي کپړا خيرنه وه يا ئے تلوار وه يا دَ دغے اوبو برکت پريخودل ئے مطلوب وو او يا دَ تواضع دَ وجے ، يا دَ ريښمو کپړا وه ، ابراهيم نخعي فرمائي توليه استعمالولو کښ حرج نشته دَ عادة جوړول ئے نه وو خوښ ځکه دَ حديث په شرح کښ ليکلے دي چه ميمونے ورله توليه ځکه راوړه چه کله به ئے استعمالوله او ابن دقيق العيد وائي په لاسونو دَ اوبو دَ لر کولو روايت نه

معلومیږي چه اوچول مکروه نه دي ، ځنډول او دَ تولیه استعمال دواړه په اوچولو کښې شان دي (فتح الباري)

په دے مسئله کښې دَ صحابؤ اقوال

(۱): سیدنا انس رضی الله عنه بن مالک رضی الله عنه فرمائي اودس او غسل دواړه کښې نه دي مکروه دغسے امام مالک او ثوري وائي ځکه قیس بن سعد بن عباده فرمائي زمونږ ځائے کښې نبي علیه السلام اولامبل ماورته تولیه ورکړه وائے غسته ما اوبه او "ورس" دَ هغوي په اوګو لیدلے وے (سنن ابن ماجه) او معاذ به په لمن مخ اوچولو (ترمذي، وابن شاهين في ناسخ الحديث ومنسوخه :۱٤٦)

(۲)؛ ابن عمر مکروه ګڼړي او دغسے ابن ابي ليلي هم ورته مکروه وائي او دے ته دَ شوافعو میلان دے او دَ میمونے ظاهر روایت دلیل ګرځوي او وائي چه دا دَ شهید دَ وینے غوندے دي،

(۳): ابن عباس فرمائي دَ اودس نه بعد مکروه او دَ غسل نه پس صحیح دے يو روایت دَ ام سلمه دَ دوي دلیل دے چه غسل کښې تولیه نه ده اغستلے او فرمائیل ئے خوښوم چه دَ اودس آثار پاتے شي (المعلم لفوائد مسلم للقاضي عياض:۱:۳۷۵)

والحديث قريب منه ماأخرجه مسلم في الصحيح وابن ماجه في السنن)

اختلاف : التقریر الرفیع کښې دَ ابن العربي دَ عارضة الاحوذي نه درے اقوال ذکر کړي دي ،

(۱): اودس او غسل دواړو کښې دَ امام مالک او دَ سفیان ثوري په نزد جائز دي ،

(۲): سیدنا ابن عمر رضی الله عنه او ابن ابي ليلي ئے دواړو کښې مکروه ګڼړي ،

(۳): صرف په اودس کښې مکروه دي غسل کښې نه دي سیدنا عبدالله بن عباس فرمائي او صحیح دَ اودس نه پس دَ اندامونو اوچولو جواز دے ،

او مجموع کښې نووي فرمائي که دَ حاجت مثلا دَ سرخئ دَ وجے وي مطلقا کراهت نشته او التعليق الصبيح کښې دي اوچول او پریخودل دواړه ثابت دي او دَ میمونه په دے واقعه کښې نه اغستل په قول دَ ملا علي قاري بیان جواز دَ عذر په بناء دے او دا قول چه دَ اوبو به وزن کیږي مه ئے اچوه ځکه ضعیفه خبره ده چه په وزن او اوچولو کښې مانعة الجمع نشته هسے به هم یو څو منته پس اوچیږي او دوئمه خبره دا ده چه دَ اعمالو دَ ثواب یا دَ عمل نامے یا دَ هغے کس وزن وي دَ اعمالو وزن حسي نه وي دَ امام زهري دَ کراهت وجه بیانول دلیل نشي جوړیدے،

Maktaba Tul Ishaat.com

لم يأخذه : نه اغستل ترک دے او دَ عباداتو په باب کښې دليل وي بل طرف ته نبي عليه السلام خوب کښې عيسي عليه السلام ليدلے وو "كأنه خرج من ديماس" دَ غسل خانے نه چه بهر شو اوبه ترے څڅيدے ،

معارف السنن کښې دَ قاضي خان په حواله ليکلے دي "لابأس به" وهو المعتمد عليه ، ابن نجيم بحرالرائق کښې ليکي : چه صراحة دَ استحباب فتوي دَ غسل نه پس بغير دَ صاحب المنيه نه بل نه ده ورکړے ، او كتاب المجموع: ۱: ۴۵۵ باندے علامه نووي درئم قول ليکلے دے "مباح يستوي فعله وتركه وهذا هو الصحيح وقد اشار اليه صاحب الشامل وغيره لحديث ميمونة" او آخر کښې ليکلے دي ودليل الاباحة حديث ميمونة ولم يثبت في النهي شيئ" او دا خو دَ شيخينو روايت دے او دا روايت دَ معاذ "اذا توضأ ومسح وجهه بطرف ثوبه" دَ ترمذي دے ضعيف دے دَ سند په اعتبار سره ، او دَ عائشه رض روايت چه دَ نبي عليه السلام توليه وه دَ اودس نه بعد به دوي اندامونه اوچول ليکن ترمذي خپله ليکي "وليس اسناده بالقائم" او امام ترمذي ليکلے دي : ولا يصح عن النبي صلى الله عليه وسلم في هذا الباب شيئ" مظاهر حق کښې دي بعض حنفي کتابونو کښې دَ کراهت قول هله دے چه دَ تکبر دَ وجے وي او ليکي چه دَ امام شافعي په نزد اودس ، غسل دواړه کښې اوچول سنت دي ،

واضحه دے وي : چه نفض اليدين ته چا مستحب نه دي وئيلي امام نووي ليکلے دي زمونږ مشهور قول نه کول دي او دغه اولي دي او دَ اباحت قول ئے خوښ کړے دے او مولانا گنګوهي فرمائي هسے لاسونه سست پريخودل چه خپله ترے څاڅکي اوڅاڅي ، دا ښکاره ده چه دَ امام ابوحنيفه رح نه په دے مسئله کښې صراحة هيڅ قول نشته عام دَ احنافو صحيح قول اباحت او جواز دے ، مصنف دَ ابن ابي شيبه : ۱: ۱۵۰ باندے علقمه دَ عبدالله بن الحارث دَ حكيم بن جابر دَ سيدنا عثمان ، سيدنا علي رض ، بشر بن ابي سعيد ، مسروق ، حسن بصري ، ابن سيرين ، ابن عمر ، سلمه بن کهيل ، رحمهم الله اقوال ذکر کړي دي چه دوي به دَ توليه استعمال کولو ليکن بل طرف ته ميمونه ، جابر ، ابن عباس ، ، سعيد بن جبير ، سعيد بن مسيب ، او دَ ابراهيم نخعي رحمهم الله اقوال په کراهت نقل کړي دي ، انتهي راجح دَ اباحت قول دے ،

رواه الترمذي : لمعات التنقيح کښې دي روايت ضعيف دے ځکه چه رشد بن سعد او عبدالرحمن زياد الافريقي دواړه ضعيف دي دَ عبدالرحمن بن زياد القاضي الافريقي حافظه کښې ضعف وو دَ سلوکالو نه دا نيک سړے اوړيدلے وو ۱۵۰ هجرئ کښې وفات شوے دے ،

(۲۸):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِرْقَةٌ يُنَشِّفُ بِهَا أَعْضَاءَهُ بَعْدَ الْوُضُوءِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وابن ابي شيبه في المصنف والسيوطي في الجامع الصغير:۱: ۴۲۷ ، والدار قطني في السنن: ۱: ۱۱۰)

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي چه دَ نبي عليه السلام يوه کپړه وه چه اندامونه به ئے اوچوؤ په هغے سره دَ اودس نه پس ،

تشريح : اندامونه دَ اوداسه اوچول

شيخ عبدالحق هم دَ صاحب مظاهر حق غوندے ليکلے دي چه دَ احنافو کتابونو کښې دي چه دَ تکبر قصد نه وي مکروه نه دي او دَ تکبر په نيت مکروه دي ، او شيخ اشعه کښې ليکي : چه دَ اوداسه اوبه تر هغه وخته تسبيح کوي څو پورے چه اندامونه لوانده وي صاحب دَ مظاهر حق ليکي : چه دَ صحابؤ يو جماعت او دَ تابعينو اودس نه روستو دَ اندامونو دَ اوچولو اجازت ورکړے دے خو دا دَ پيغمبر عليه السلام دَ قول يا دَ فعل نه مستنبط نه دے دا دَ هغوي خپله رائے ده سيدجمال الدين شافعي دغه مضمون نقل کړے دے ليکن احناف علماء دا جواب کوي چه دا دَ صحابؤ وغيرهم ذاتي رأي نه وه او نه دا دَ دوي دَ ذهن پيدا وار وو ځکه چه صحابؤ نه مثلا عثمان ، انس ، حسن بن علي رضوان الله عليهم اجمعين دَ جلالت شان او دَ نبي عليه السلام دَ رشتني تابعدارئ دَ وجے ددے وهم نشي کيدے چه ديني معاملاتو کښې هيڅ څيز دَ هغوي دَ ذهن پيدا وار نه وي دا عمل دَ دوي دليل ددے دے چه دَ حديث اصل ضرور شته ، او حديث ضعيف ولے نه وي په (فضائلو کښې امداد) هغے عمل بهتر وي دَ هغے رائے نه چه دَ صحابؤ نه وي اګر چه مضبوط او قوي رأي وي ليکن دَ صحابؤ رأي ته نشي رسيدے ،

لمعات کښې دي چه ترمذي ابو معاذ راوي ضعيف ګنړي ابن حبان وائي چه سليمان بن ارقم يعني ابو معاذ آحاديث کښې قلب راولي او دَ ثقاتو نه موضوعات نقل کوي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثالث

(۲۹):عَنْ ثَابِتِ بْنِ أَبِي صَفِيَّةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي جَعْفَرٍ هُوَ مُحَمَّدُ الْبَاقِرُ حَدَّثَكَ جَابِرٌ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مرّة مرّة ومرتين مرَّتَيْنِ وَثَلَاثًا ثَلَاثًا. قَالَ: نعم. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَابْنِ مَاجَه،

ترجمه : ثابت بن ابي صفيه فرمائي : ما ابو جعفر ته اووے آیا داسے حدیث دے جابر ته بیان کړے دے چه نبي علیه السلام پکښ یو یو ځل او دوه دوه ځله او درے درے ځله اندامونه ویځلے وي ؟ نو هغه اوئیل آو ،

تشریح : دَ ثابت بن ابي صفیه پیژنګلو

مرقات کښ دي یماني دے دَ ازد قبیلے سره تعلق ساتي دَ محمد بن علي الباقر شاګرد او دَ وکیع ، سفیان ثوري او دَ ابن عیینه استاد دے ، میرک محدث وائي کوفي دے او رافضي دے ، کنیت ئے ابو حمزه دے ۱٤۸ هجرئ کښ وفات شوے دے په خلافت دَ ابو جعفر کښ ، اشعه کښ دي دَ سیدنا انس رض شاګرد دے ائمه ئے ضعیف ګڼړي کثیرالوهم وو حدیث ئے واهي دے او ابن معین فرمائي لیس بشیئ دے ، تهذیب کښ دي چه یزید بن هارون فرمائي چه ددۀ عقیده دَ رجعت ده ، الضعفاء الکبیر دَ عقیلي کښ دي چه دے ابن دینار دے ، تاریخ کبیر دَ امام بخاري رقم الترجمه :۲۰۷۳ کښ دي چه دَ پلار نوم ئے دینار دے ،

دَ محمد بن الباقر پیژنګلو

شیخ عبدالحق لیکي : محمد باقر بن علي زین العابدین سلام الله علیهما وعلي آبائهم الکرام دے ، امام باقر دَ مدینے منورے عظیم فقیه ثقه او کثیر الحدیث راوي دے ، دَ خپل پلار زین العابدین ، ابن عمر او جابر نه روایت کوي دَ بقر لغوي معني خیرے کول چؤل او ارتول دي او محمد بن علي زین العابدین به سم دا علوم چؤل کله چه امام محمد دَ جابر خواله راغے ، جابر ډیر عمر وو او ړوند شوے وو تپوس ئے اوکړو څوک ئے؟ جواب ئے ورکړو محمد بن علي ، جابر اوفرمائیل مرحبا مرحبا یا ابن رسول الله دَ هغه لاس ئے په خپ سینه او ترخونو راکاګو ، او خپل اخلاص عقیدت او دَ اُنس ، محبت اظهار ئے کولو

اے گل ز تو خوشنودم تو بوئے کسے داری وے سرو ز تو نازم قدرت بکسے ماند

اللباب کښې ابن عادل حنبلي په سورة بقرة کښې دَ بقرے په واقعه کښې ليکلے دي: "ومنه الباقر لابي جعفر زين العابدين لانه بقر العلم" لمعات کښې دي : محمد الباقر بن الامام زين العابدين بن الامام الحسين بن علي بن ابي طالب سمع الحديث عن جابر بن عبدالله هو وابوه " دَ مظاهر حق حاشيه کښې دي : چه محمد باقر دَ امام زين العابدين صاحبزاده دے ، ولادت ئې ٥٦ هجرئ کښې او وفات ئې ١١٧ يا ١١٨ هجرئ کښې مدينه منوره کښې شوے دے او جنت البقيع کښې دفن دے ،

نوټ : دَ حديث متن بيا شرح کښې محمد بن الباقر دَ کاتب يا دَ مؤلف غلطي ده اصل کښې دا محمد الباقر دے ،

علامه نواب قطب الدين دهلوي شرح کښې ليکلي چه دَ محدثينو عادت دے چه دَ شيخ نه کله شاګرد روايت کوي او حديث ترے واوري تپوس کوي "حدثک فلان عن فلان " په دغه طريقه شاګرد دَ خپل سند سلسله تر پيغمبر عليه السلام رسوي او استاد په خاموشئ دَ سند دغه سلسله اوري يعني آيا دا حديث ستاسو نه فلان او دَ فلان نه فلان تر پيغمبر عليه السلام اوريدلے دے په جواب کښې شيخ وائي هو دا دَ حديث دَ روايت يوه طريقه ده او دا داسے ده چه دَ استاد دَ شاګرد مخکښې اوائي "حدثني فلان" او شاګرد ناست وي اوري ، دغسے عثمان بن ابي حنيفه دَ خپل استاد امام محمد باقر نه ددے حديث باره کښې تپوس اوکړو چه دا حديث تاسو ته جابر بيان کړے دے ؛ جواب کښې محمد باقر اقرار کړے دے آوماته جابرؓ دا حديث بيان کړے دے دغسے علامه طيبي هم کاشف کښې ذکر کوي ،

(٣٠):وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَقَالَ: هُوَ نُورٌ عَلَى نُورٍ"

ترجمه : عبدالله بن زيد فرمائي : نبي عليه السلام اودس اوکړو دوه دوه ځله او اوئے فرمائيل دا نور علي نور دے ،

تشريح : سلسله نمبر:١١٦ ، تخريج احاديث مشکوة نمبر٥٦ ، "نور علي نور" مخکښې حديث تير شوے دے چه دَ اودس دَ آثارو دَ وجے به ځما دَ امت لاس ، خپے ځليري او پرقيري ، مخکښې عرض شوے دے دا هله چه په دغه زوړ اودس داسے يو عبادت اوکړے چه هغه بے اودسه جائز نه وي دا لکه چه کچرو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ګبين يو ځائے کړے او دا حديث چه الوضوء علي الوضوء نور علي نور ضعيف دے دغسے علامه عسقلاني وائي او عراقي په تخريج الاحياء کښ ليکلے دي چه زه ترے نه يم خبر ، دغسے ملا علي قاري المحترم مرقات کښ ليکلے دي ، تخريض آحاديث المشکوٰة :٥٦ باندے په دے کلام دے علامه هيثمي فرمائي دا سنت بعد الفرض دے ، علامه طيبي او صاحب مرقات دواړه وائي دا هدايت علي هدايت دے ، يهدي الله لنوره من يشاء" او دا اشعه کښ دي په فرضو باندے سنت عملي کول د نور نورانيت سبب دے علامه شامي:١: ١١١ باندے ليکلے دي چه اودس غير مقصودي عبادت دَ خپل ذات په اعتبار سره دے که داسے عمل که شريعت کښ مقصود شي هغه په دے اونه شي لکه مونځ ، دَ تلاوت سجده او مس مصحف ، نو بيا مستقل په دے تقرب مشروع نه دے بلکه مکروه کار دے وهذا اولي ، دَ نبي عليه السلام يو يو ځل اندام وينځل بيان جواز او درے ځله وينځل تام سنت او دَ فضيلت حاصلول دي امام طحاوي ليکي : چه دا لاصابة الفضل دي لاالفرض ،

(٣١):وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَقَالَ: «هٰذَا وُضُوئِي وَوُضُوءُ الْأَنْبِيَاءِ قَبْلِي وَوُضُوءُ إِبْرَاهِيمَ» . رَوَاهُمَا رَزِينٌ وَالنَّوَوِيُّ ضَعَّفَ الثَّانِي فِي شرح مُسلم،

ترجمه : عثمان رض فرمائي نبي عليه السلام اودس اوکړو او درے درے ځله ئے اندامونه اووينځل او بيا ئے اوفرمائيل : دا زما اودس دے او ما نه مخکښ دَ انبياء عليه السلام او دَ ابراهيم عليه السلام اودس دے ، دا دواړه حديثونه رزين روايت کړي دي او امام نووي په شرح دَ مسلم کښ دے دوئم روايت ته ضعيف وئيلے دے ،

تشريح : دَ بخاري روايت مخکښ تير شوے دے چه سيدنا ابراهيم عليه السلام او سيدتنا ساره دواړو اودس اوکړو او مونځ ئے اوکړو ، دغسے دَ جريج مشهوره واقعه ده دے نه معلوميږي چه اودس ددے امت دَ خصائصو نه نه دے ، ابراهيم عليه السلام پيغمبر وو ليکن جريج خو امتي او يو نيک ولي وو ، دا ده چه دَ اودس دَ اندامونو پړقا ددے امت خصوصيت دے ،لکه مخکښ تير شو، شيخ عبدالحق اشعه کښ ليکلے دي چه دَ سيدنا ابراهيم عليه السلام نوم په دے وجه اخلي چه هغوي به خصوصي دَ طهارت رنظافت ډير خيال ساتلو انتهي ،

دَ انبياؤ نه بعد ابراهيم علیه السلام ذکر تخصیص بعد تعمیم دے ، او دَ مصنف ابن ابي شیبه روایت کښې راځي " خیر الملل ملة سیدنا ابراهیم"

رواهما : دَ تثنیے ضمیر عبدالله بن زید او حدیث دَ عثمان ته راجع دے او امام نووي دَ عثمان رض روایت منسوخ ګڼړي ،

(۳۲):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ وَكَانَ أَحَدُنَا يَكْفِيهِ الْوُضُوءُ مَا لَمْ يُحْدِثْ. رَوَاهُ الدَّرَامِي،

ترجمه : انس رض فرمائي چه نبي علیه السلام به دَ هرِ مانځه دپاره اودس کولو او مونږ کښې دَ يو کس دپاره تر هغه وخت پورے يو اودس کافي دے تر کومے پورے چه اودس مات شوے نه وي ،

تشریح : دَ هر مونځ دپاره اودس

دلته دوه قوله محدثین ذکر کوي امام سخاوي فرمائي چه خاص په نبي علیه السلام هر مانځه له اودس واجب وو بیا دَ سیدنا بریدة رض هغه روایت چه مسلم ئے تخریج کړے دے، کتاب الطهارت کښې ابوداود او بیهقي په کتاب الطهارت کښې، چه دَ فتح مکه په ورځ ئے په يو اودس ئے پنځه واړه مونځونه قصدا کړي دي په دي ئے نسخ راغلے ده په دے تقدیر چه دا دَ فتح مکه نه مخکښې دور خبر ده دغسے په دے دَ عبدالله بن حنظله الانصاري روایت دلیل دے چه اول کښې دَ هر مانځه دپاره که دَ چا اودس وي هم حکم ئے ورکړے وو بیا منسوخ شو، او دوئم قول دادے چه وجوب نه وو دا به دوي استحبابا کولو بیا اوپریدل چه خوک پرے دَ وجوب ګمان اونه کړي نو پرے ئے خودلو ، او مرقات کښې دي وهذا اقرب دَ دارمي ددے روایت سند حسن دے او بخاري کښې دَ سیدنا انس رض نه دغسے مضمون والا روایت موجود دے ، او په ترمذي کښې دغه په صحیح سند سره شته ،

(۳۳):"وَعَن مُحَمَّد بن يحيى بن حبَان الْأَنْصَارِيّ ثمَّ الْمَازِنِي مَازِن بني النجار عَن عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قلت لَهُ أَرَأَيْتَ وُضُوءَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ عَمَّنْ أَخَذَهُ؟ فَقَالَ: حَدَّثَتْهُ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي عَامر ابْن الْغَسِيلِ حَدَّثَهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أُمِرَ بِالْوُضُوءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ فَلَمَّا شَقَّ ذَلِكَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَوُضِعَ عَنْهُ الْوُضُوءُ إِلَّا مِنْ حَدَثٍ قَالَ فَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يَرَى أَنَّ بِهِ قُوَّةً عَلَى ذَلِكَ كَانَ يَفْعَله حَتَّى مَاتَ. رَوَاهُ أَحْمد "صحيح ابن خزيمه:١:١٧٥ ، طحاوي في شرح معاني الاثار:، عارضة الاحوذي :١: ٨٠ والضياء المقدسي في الاحاديث المختاره:٩: ٢٠٥)

ترجمه : محمد بن يحيي بن حبان فرمائي ما دَ عبدالله بن عمر خوي عبيدالله ته اوئيل ماته اوښايه اودس دَ عبدالله بن عمر دپاره دَ هر مانځه ، كه هغه په اودس كښې وو يا نه دَ چا نه ئے دا عمل اغستے وو نو عبيدالله اوئيل چه عبدالله بن عمر ته اسماء بنت زيد دا حديث بيان كړو چه عبدالله بن حنظله بن ابي عامر الغسيل هغه ته دا حديث بيان كړے وو چه يقينا نبي عليه السلام ته حكم كړے شوے دے دَ اوداسه دپاره دَ هر مانځه كه نبي عليه السلام په اودس كښې وو يا نه وو كله چه دا ګرانه شوه په نبي عليه السلام باندے نو حكم اوكړے شو په مسواك سره دَ هر مانځه دپاره او دَ اودس حكم ترے لرے شو هر مانځه دپاره اودس واجب پاتے نه شو تر دے چه بے اودسي نه وي راغلے عبيدالله اوفرمائيل چه عبدالله ليدل چه زه طاقت لرم په دے باندے چه هر مانځه دپاره اودس اوكړم نو هغه به داسے كول تر دے چه مرګ ورله راغے ،

تشريح : دَ اسماء بنت زيد بن الخطاب باره كښې وائي چه صحبت ئے وو (الكاشف:٢: ٥٠٢) او تهذيب التهذيب كښې :١٢: ٤٢٦ باندے ترجمه ده،

دَ محمدبن يحيي بن حبان پيژنګلو

تابعي انصاري دے دَ عبدالله بن عمر او سيدنا انس بن مالك شاګرد دے او تره ئے واسع بن حبان دے ، ابو عبدالله الانصاري ئے كنيت دے دا دَ مالك بن انس شيخ دے ، اشعه كښې وفات ١٢١ ذكر كړے دے مدني او ثقه دے دَ "٧٤" كاله عمر كښې وفات دے ،

دَ عبدالله بن حنظله بن ابي عامر الغسيل پيژنگلو

دَ نبي عليه السلام دَ وفات وخت کښې دَ دوي عمر ووه(٧) کاله وو نبي عليه السلام ئې ليدلے دے اوږ دوي نه ئې روايت کړے دے ډير لوے فضيلت والا عالم وو انصارو کښې مخکښې شخصيت وو او په مدينه کښې دَ دوي بيعت دَ يزيد بن معاويه په دست بردارئ شوے وو او په دغه وجه دَ په ورځ وژلے شوے وو ، عبيدالله بن عبدالله بن عمر العدوي ، ابو عبدالرحمن المدني دے دَ خپل پلار وصي وو ثقه دے ١٠٥ کښې وفات دے ، دَ دوي ترجمه سير اعلام النبلاء:٣: ٣٢١ کښې ده۔

عمن أخذه : علامه طيبي ليکي : چه "عمن" دَ أرأيت ،معني سره متعلق دے نه لفظ سره دا خاص هيئت سره اودس ئې دَ چا نه اغستلے دے ،

الغسيل : دَ حنظله صفت دے دوي له ملائکو غسل ورکړے وو ځکه جنابت کښې شهيد شوے وو يوه اوګه ئې وينځلے وه دَ اُحد دَ غزا آواز ئې چه واوريدو روان شو دَ عبدالله بن ابي لور جميله په دهٔ واده وه پلار ابوعامر راهب ئې کافر دَ دنيا نه تلے دے ،

حدثته : دَ هغے معني بيان ئې اوکړو نه دَ لفظ ، ابن عمر ته اسماء حديث بيان کړو دا دَ زيد بن الخطاب لور وه او زيد بن الخطاب دَ عمر بن الخطاب مشر رور وو دَ اولو مهاجرينو نه دے دَ عمرؓ نه مخکښې اسلام قبول کړے وو او دَ ابوبکر خلافت کښې په يوم اليمامه کښې دَ هجرت په دولسم کال شهيد شوے دے ،

حدثها : دَ حدث ضمير عبدالله ته او دَ "ها" ضمير اسماء ته راجع دے ظاهره داده چه حدثني دے، هيثمي وائي چه اسماء عبدالله ته اووے چه ماته دَ حنظله ځوي دا واقعه بيان کړے دے ،

اسماء بنت زيد : دَ عبيدالله بن عمر بي بي ده چه کله ئې خاوند صفين کښې شهيد شو بل واده ئې نه وو کړے دَ ابن عمر نه مخکښې وفات شوے ده او ميراث ئې ترے اوړلے دے ، ابن حبان ابن منده ئې صحابۀ کښې ذکر کوي ،

ددے په سند کښې محمد بن اسحاق عنعنه کړے ده او هغه مدلس دے ،

امر بالسواک : علامه طيبي فرمائي چه حديث کښې دَ مسواک اهميت او فضيلت ته اشاره ده چه دا ئې دَ واجب اودس قائم مقام جوړ کړے دے ،

نوټ : عبيدالله بن عبدالله بن عمر عدوي دے ابو عبدالرحمن المدني ثقه دے ١٠٥ کښې وفات دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(٣٤): "وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ: «مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ» . قَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ سَرَفٌ؟ قَالَ: «نَعَمْ وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ» . رَوَاهُ أَحْمَد وَابْنِ مَاجَه"

ترجمه : دَ عبدالله بن عمروبن العاص نه روايت دے نبي عليه السلام يوځل په سعد رض باندے تير شو چه هغه اودس کولو نبي عليه السلام ورته وے دا څه اسراف دے يا سعد سعد رض ورته اووے آيا په اوداسه کښې هم اسراف شته؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل آو اګر که ته په جاري نهر باندے اودس کوي ،

تشريح : دَ اوبو استعمال کښې اسراف

سيدنا سعد رض چه اوبه زياتے خرچ کولے او پيغمبر عليه السلام تنبيه ورکړه نو هغوي ته په دے تعجب والا کيفيت لاحق شو چه اوبه څه کمے خو نه دي او نه ناياب دي نو اسراف څه معني په دے وجه سوال وجواب دواړه شوے دي چه نهر په غاړه اودس کښې اوبو کښې کمے نه راځي دَ شرع ضرورت نه زيات خرچ کولو کښې دَ حدود نه تجاوز نه دے پکار او هسے به دے دَ وخت قيمتي لمحات او ساعات بربادېږي ، علامه طيبي خپله شرح کښې ليکي : نعم ذالک تبذير واسراف فيما لم يتصور فيه التبذير فکيف بما تفعله ؟ ويحتمل ان يراد بالاسراف الاثم" چه کله اوبو کښې اسراف کيدے شي دِ هغے څيزونو به څه حال وي چه پکښې حقيقة اسراف واقع کيږي نو اودس او غسل کښې زياتے اوبه خرچ کول اسراف دے او دا احتمال هم شته چه دَ اسراف نه ګناه واغستلے شي ځکه علامه وحيدالزمان نزل الابرار:١: ١٦ باندے څه خبره ليکلے ده قول القهستاني نقلا عن الجواهر انه لا بأس بالاسراف في الماء الجاري مردود بقول النبي صلي الله عليه وسلم "وان کنت علي نهر جار" دَ نص مقابله کښې دَ قهستاني خبره کوي چه په روانو اوبو کښې اسراف نه وي چه کله پيغمبر فرمائي چه اسراف دے شک مه کوه دَ اسراف نه ګنګا ، جمنا باندے يا دريائے راوي ،ستلج باندے اودس کوے ځان بچ کړه ، امام مجاهد فرمائي تفسير قرطبي دَ سورة انعام ١٤١ نمبر باندے دَ "ولا تسرفوا" په وضاحت کښې ليکلے دي که چرته دَ ابو قبيس غر په مقدار سره زر چا سره وي او په اخلاص ئے دَ الله په لار کښې خرچ کوي اسراف کونکے نه دے ليکن په ګناه کښې دوه روپۍ خرچ کول اسراف دے ، علامه ابن حجر هيثمي فتح الاله کښې ليکي چه غسل کښې به نبي عليه السلام څلور کلو اوبه استعمالولے او اودس کښې يو کلو تقريبا ،

زمونږ دَ والد ماجد دے الله تعالي مغفرت نصيب کړي يو ځل ئے فرمائيل چه زمونږ شيخ الحديث مولانا عبدالرحمن بهبوديؒ دَبخاري سبق کښې طالبانو ته عملا دَ اودس طريقه خودله دومره اوبه ئے استعمال کړے چه تا به وے چه وړے چيلئ متيازے کړے دے اګر چه حتمي طور باندے اودس يا غسل کښې دَ اوبو دَ کمي ، زيات په اعتبار سره تعيين نشته ، دومره اوبه استعمالول چه تقاطر پکښې اوشي کافي دي ليکن دَ پيغمبر عليه السلام دَ متابعت خيال ساتل دَ متبع سنت دپاره پکار دي البته ابن سفيان مالکي وائي چه دَ حديث مقدار نه کمول جائز نه دي ابن قدامه حنبلي په مغني کښې په دے مسئله کښې دَ احنافو اختلاف ليکلے دے صحيح نه دے ځکه علامه شامي ليکلے دي چه زمونږه ظاهر الرواية دادے دَ غسل دپاره اولي مقدار يو صاع او دَ اودس دپاره يو مُد دے ګويا دا مقدار دَ مسنون ادني درجه ده جائز مقدار ترے نه دے مراد ،

دَ حديث په وضاحت کښې لمعات التنقيح کښې ليکلے دي "ان لم يكن اسراف الماء ولكن اسراف العمر وتضييع الوقت " وخت بربادول خه خبره نه ده اشعه کښې هم دغسے ليکلے دي بيا ئے دا هم ليکلے دي که اوبه نه ضائع کيږي ليکن دَ شرعي تقدير نه تجاوز کولو کښې ګناه دے ، انفاق کښې خيال ساتل پکار دي دَ عبادالرحمن صفت دادے "والذين اذا انفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا وكان بين ذالك قواما" اعتدال په هر څيز کښې ددے امت امتيازي صفت دے ،

تعارف دَ عبدالله بن لهيعه

دے سندکښې دا راوي دے "عبدالله بن لهيعه بن عقبه الحضرمي" ابو عبدالرحمن الفقيه المصري القاضي وائي صدوق دے ، چه بعض کتابونه دَ دوي اوسوزيدل دے بيا دَ رواياتو بيان کښې ګډ وډ کيدو دَ ابن المبارک او دَ ابن وهب روايت دده نه دَ نورو په نسبت ګزاره ده (اندھوں میں کانا راجہ) ليکن الجرح والتعديل رقم الترجمه: ۶۸۲ باندے دي چه دَ ابن لهيعه امر مضطرب دے يكتب حديثه علي الاعتبار " که ابن لهيعه نه ابن مبارک او ابن وهب هم نقل اوکړي قابل احتجاج نه دے ، دے يو ځل دَ خر نه راغورځيدلے وو بيا په دۀ به خلط راتلو تدليس به ئے هم کولو مسلم ورله روايت مقرون بالغير راغستلے دے ۱۷۴ کښې وفات دے علامه الباني ارواء الغليل : ۱: ۳۱۹ باندے ليکلے دي ورجاله ثقات غير ابن لهيعه فانه ضعيف لسوء حفظه " او ۲۹۱ باندے ليکي "ابن لهيعه فانه ضعيف لسوء حفظه وبه اعله الحافظ في الدراية وفيه ابن لهيعه وفيه ضعيف" علامه الباني :۱۴۰ نمبر باندے صفحه: ۱۷۱ جلد اول

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے "افي الوضوء اسراف قال نعم دَ لاندے ليکلے دي ضعيف من طريق ابن لهيعة قلت ابن لهيعه سيئ الحفظ ولذالک جزم الحافظ في التلخيص بضعف اسناده وكذا البوصيري في الزوائد"
ابن لهيعه ته امام ترمذي او يحي بن معين ضعيف وئيلے دے دَ حميدي بيان دے چه يحيي بن سعيد القطان به دے هيڅ څيز نه ګنړو عبدالرحمن بن مهدي فرمائي زه ئے روايت نه اخلم دۀ په دروغه بهانه جوړه کړے وه چه زما کور کښ اور لګيدلے وو او زمامسوّدات سوزيدلے وو اوس رانه روايت کښ هيره راځي ، يحيي بن حکيم وائي اُور ۱۷۰ هجرئ کښ لګيدلے وو ليکن عثمان بن صالح وائي هيڅ اور نه وو لګيدلے ليکن دَ نقل څه حصه سوزيدلے وه اصلي بيماري ددۀ دَ خر نه راغورزيدل وو ، ميزان الاعتدال کښ ددۀ حالات موجود دي،
حافظ ابن حجر فتح الباري مع البخاري : ٤: ١٤٩ باندے ليکلے دي "ابن لهيعه وهو ضعيف" او نيل الاوطار :٢: ١٦٤ باندے ليکلے دي وفيه ابن لهيعه ، او ص: ٢٠٣ فيه يقال مشهور ، دَ آمين الفتاوي :١: ٧٤ باندے دي چه ابن لهيعه ضعيف دے شيخ عبدالسلام په تفسير دَ سورة ذخان کښ دے ضعيف ګرځولے دے ، تفسير احسن الکلام ته رجوع اوکړه دا مخکښ ذکر شوے هم دي ليکن دَ صاحب الحق الصريح دا خبره چه اصح داده چه دا حسن الحديث دے اصح څه چه صحيح هم نه ده چه کله دا خبره مطلقا واغستلے شي ، دَ مخکښ روستو دَ تضعيف بيان کښ څنګه حسن الحديث کيدے شي چه دغه اصح شي دا خو دَ امين الفتاوي دَ امانت دَ فتوي نه خلاف ده او دا خائسته کلام نه دے دا صحيح ده چه دَ حديث معني صحيح ده ،التحقيقات کښ ۳۹ باندے دوئم جواب دے چه ددے حديث په سند کښ عبدالله بن لهيعه دے او دا ضعيف دے او په ۲۹۱ ددے کتاب تصديقات چه دَ غير مقلدينو ائمه اربعه ئے تصديق کړے دے ، ليکلے دي وقد ضعفه يحيي بن معين مطلقا (يعني که ابن وهب يا ابن المبارک نه دے هم ضعيف دے امداد)
دَ اختلاط نه مخکښ که روايت يقيني شي نو بيا ئے روايت حسن دے "قال البوصيري في الزوائد اسناده ضعيف لضعف حي بن عبدالله وابن لهيعه وذکره ابن الالباني في مشکوة المصابيح رقم: ٤٢٧ وقال هذا اسناده ضعيف ، ابن لهيعه سيئ الحفظ"

(٣٥): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ اسْمَ اللَّهِ فَإِنَّهُ يُطَهِّرُ جَسَدَهُ كُلَّهُ وَمَنْ تَوَضَّأَ وَلَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ لم يطهر إِلَّا مَوضِعَ الْوُضُوءِ"

ترجمه : ابو هريره ابن مسعود ابن عمر رضي الله عنهم دَ نبي عليه السلام نه روايت کوي چا چه اودس اوکړو او بسم الله اوے نو هغه ټول بدن پاک کړو او چا چه اودس اوکړو او بسم الله ئے اونه وے نو هغه صرف دَ اوداسه اندامونه پاک کړه ،

تشريح : دَ بسم الله وئيلو مسئله

دَ مسئلے تفصيل مخکښ ذکر شوے دے علامه هيثمي فتح الاله کښ ليکلے دي "الظاهر ان هذا كناية عن البركة في طهور المعنوي" دَ بسم الله برکت دومره زيات شي چه ددهٔ ټول بدن ظاهر او باطن ته اورسي نو زړه ئے منور شي او مونځ ئے کامل شي ، دارقطني باب التسميه علي الوضوء نمبر:٢٢٩ : ١: ٧٦ او بيهقي هم دغه باب کښ ٢٠٠ نمبر: ١: ٧٤ باندے روايت نقل کړے دے ليکن روايات دواړه ضعيف دي او علامه الباني ددے روايت "لم يطهر الا موضع الوضوء" باره کښ هداية الرواة کښ ليکلے دي "فالحديث منكر وموضوع" او سبل السلام شرح بلوغ المرام بتعليق الالباني کښ ليکلے دي "قال احمد لايثبت فيه شيئ" عون المعبود شيخ عظيم آبادي ص: ٧١ باندے دي "وفي هذا الباب آحاديث ليست اسانيدها مستقيمة" خو غير مقلدين دي چه دَ سنتيت او شرطيت نه خکته نه راکوزيږي او دَ رواياتو حال واضح دے ، الحق الصريح کښ ورته واجب وائي ليکي : چه بغير ددے نه اودس نه کيږي قاضي شمس الدين خپل تعليق ليکي : چه يدل علي عدم اشراط التسمية في الوضوء" اودس کښ بسم الله شرط نه ده ،

(٣٦): "وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا تَوَضَّأَ وُضُوءَ الصَّلَاةِ حَرَّكَ خَاتَمَهُ فِي أُصْبُعِه. رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيّ. وروى ابْن مَاجَه الْأَخير"

ترجمه : ابو رافع فرمائي : نبي عليه السلام به چه کله دَ مانځه دپاره اودس کولو نو اوبه ئے خوزوله ګوتمه خپله په ګوته کښ ،

تشريح : دَ ابو رافع پيژنګلو

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دَ نبي عليه السلام غلام وو نوم كښې اختلاف دے چا وئيلے دي دَ سيدنا ابن عباس غلام وو بيا ئے نبي عليه السلام ته هبه كړے وو چه كله ورته دَ عباس دَ اسلام زيرے وركړو دَ خوشحالئ نه ئے آزاد كړو او احد او روستنو غزاګانو كښې شريک شوے دے او دَ سيدنا عليؓ په خلافت كښې مدينه كښې وفات شوے دے،

مسئله : ګوتمه خوزول اودس كښې دَ سنن يا دَ مستحباتو نه دي (اشعة اللمعات)

او علامه ابن الهمام زادالفقير كښې ليكلے دي كه ګوتمه ارته وي سنت عمل دے او كه دومره تنګه وي چه اوبه دننه نه ځي بيا واجب دي ، دغسے حكم دَ زنانه دَ هغے بنګړي او يا دَ ګهړئ دَ چينج او پټے هم دے چه تنګ وي اوبه دننه نه ځي اهتمام پكار دے چه لاندے اوبه اورسي چه اودس كښې څه نقصان پاتے نشي ، دغسے مخكښې هم ذكر شوے دي،

باب الغسل

الفصل الاول :

ربط : اودس كثير الوقوع دے ليكن دَ هغے په نسبت غسل قليل الوقوع دے دَ اودس او دَ نواقضو تفصيلات نه بعد دَ غسل مسائل ، احكام شروع كوي يعني دَ طهارت صغري نه بعد دَ طهارت كبري بيان دے ، التقرير الرفيع كښې دي كه الغسل په ضمه سره وي نو دا فعل مخصوص دے او هيثمي وائي چه اسم دے ، او په فتح سره مصدر دے او په كسرے سره اوبو ته وائي او يا مايغسل به ته وائي ، اشعه لكه صابن (او شيمپو امداد) او غسالة بالضم مصباح كښې دي "ماغسلت به الشيئ ته وائي او ابن مالك وائي كه دَ غسل نه اغتسال مراد وي نو خه داده چه بالضم وي ،

لغوي او شرعي تعريف

فتح الاله كښې علامه هيثمي ليكي : لغت كښې په بدن اوبو تويولو ته وائي او په شرع كښې سيلانه عليه مع التعميم بالسنة ،

(۲): دَ پاكو اوبو تول بدن باندے په يو خاص طريقه استعمالول ،

مراقي الفلاح او مصباح المنيراو كشاف القناع:۱: ۱۳۸ طهارت دَ غسل نه عام دے او تيمم دَ طهارت نه خاص دے،

دَ فرض غُسل صورتونه

(۱): دَ مني وتل (۲): دَ حشفه يعني دَ ګوپۍ ډوبيدل ، (۳): دَ خوب دَ راويخدو نه پس چه نرمے اوبه محسوس كړي او دَ صاحبينو په نزد ئے احتلام نه وي يا خلاف دَ ابو يوسف ، خلف بن ايوب ، او ابوالليث له دے هغوي وائي دا مذي ده (٤): دَ راپاځيدو نه پس به لوندوالے ئے دَ منئ ظن غالب راغے كه چه دَ بے هوشئ او دَ نشے نه په هوش كښې راغے (٥): حيض دَ ختميدو نه پس (٦): دَ نفاس دَ ختميدو نه پس (۷): چه مني اوځي كه دَ بهيمة او دَ ميتة سره العياذبالله مخ تور كړي (زمونږ په دور كښې شاذ او نادر دَ بعض ممسوخ الفطرت افرادونه دا شرمونه وجود ته راځي) (۸): مړي له غسل وركول ضروري دي،(حاشيه علي مراقي الفلاح شرح نورالايضاح)

Maktaba Tul Ishaat.com

په کومو صورتونو کښې غسل نشته

(۱): چه کله مذي اوځي (۲): ودي (۳): احتلام چه لوند والے صدور ته نه وي راغلے (٤): داسے ولادت چه دَ هغے نه پس وينه نه وي دَ صاحبينو دَ قول مطابق او امام ابوحنيفه فرمائي احتياطا په دۀ غسل ځکه لازم دے چه دا ولادت خواه مخواه که لږه هم وي وينه لري (٥): داسے کپړے سره ايلاج چه دَ لذت دَ وجود نه مانع وي ليکن دے صورت کښې احتياطا لزوم الغسل دے (٦): حقنه کول دپاره دَ فضلاتو دَ راوباسلو (۷): که څوک بدبخته ځان کښې ګوته يا څرمن وغيره يو دَ سبيلينو فرج يا دبر کښې ور اومنډي دَ شهوت دَ قصور دَ وجے دَ مختار قول مطابق په دۀ غسل نشته ،

(بعض دے جزئے پورے چه تړلے کوي هغوي دے دَ نزل الابرار هغه جزئيه په نظر کښې ساتي چه دَ پيغمبر دَ فقه په نوم دَ هغے تړلو مسائلو خلقو له ميلمستيا کوي علامه وحيدالزمان ليکي : ولو ادخل ذکره في دبر نفسه لا يلزمه الغسل الابالانزال" (نزل الابرار: ٢٤) قطع لحاظ ددے نه چه داسے به ممکن وي ليکن فقاهت ئے ملاحظه کړئ امداد)

دلته مراقي وغيره کښې دَ ګوتے خبره ده

(۸): که دَ ځناورو يا دَ يوے ښځے سره چه کله مړه وي داسے وطي اوشي چه انزال نه وي شوے نو دَ سبب دَ عدم کمال دَ وجے پرے غسل لازم نه دے ،

(۹): هسے باکرے ته بے دَ انزال نه داسے رسيدل چه بکارت ئے زائل نه شي ځکه چه بکارت دَ التقاء ختانين نه مانع دے ،

دَ جنابت دَ غسل عقلي حکمت

دَ انسان ټول بدن دماغو پورے دَ منئ دَ وتلو په وجه اثر انداز کيږي او حصول دَ ماده منويه کښې اعضائے رئيسه له خاص دخل وي چه سينه ، زړه ، دماغ ، او اينه دي بيا دَ زړه او دَ اينے خصوصي تعلق دَ ترائب او دَ دماغو تعلق دَ حرام مغز په وساطت دَ "صلب" سره ظاهر دے سورة الطارق کښې دي "خلق من ماء دافق يخرج من بين الصلب والترائب" آيت:٦، ٧، تفسير قرطبي کښې دي چه دَ سړي مني دَ دماغو نه شروع کيږي او دَ صلب او دَ ترائب مينځ کښې تيريږي او دَ سړي مني په خصيتين کښې ستهاک کيږي ، المصابيح العقليه للاحکام النقليه :٣٨ باندے دي ددے په وتلو ټول بدن سست شي دَ بدن نه

روانه شي او دَ ملا په لار لاندے راځي او دَ عضو تناسل نه وځي بدن ته کمزورتیا رسي او بول براز صرف دَ خوراک او څکاک رف عمل وي چه په مثانه او په معده کښ جمع کیږي دَ ورو او لویو بولو وخت کښ کمزوري نه راځي او نسبة دَ مني په وتلو ډیره کمزوري راځي دَ جنابت دَ وجے جسم کښ کمزوري ، سستي او غفلت پیدا کیږي او دَ لامبلو سره زړه ته طاقت ، نشاط ، سپکوالے او خوشحالي راځي ، سیدنا ابو ذر رضی الله عنه په فرمائیل چه دَ جنابت دَ غسل نه پس داسے معلومیږي لکه غر پرے پروت وو او لرے شو او هر سلیم الطبع دا خبره مني ،

دوئمه وجه : دَ جنابت دَ وجے مسلمان دَ ملائکو نه لرے شي په غسل هغه لرے والے ختم شي ځکه استحبابي حکم دے چه دَ جنابت نه پس کم از کم اودس زر کول مستحب دي بیا دَ غسل وخت کښ حدث ترے لر شي او طهارت ورته حاصل شي او جنابت کښ پاتے کیدل او غسل نه کول دَ بدن او روح دواړو دپاره نقصاني دي ،

درئمه وجه : دَ مني په وتلو دَ بدن ټول مسامات پرانستلے شي او چه کله خوَلَه راځي په دے دَ دننه حصے دَ بدن نه گنده مواد راوځي او مساموتو سره پاتے شي ، که دا اونه وینځي نو خطرناک مرضونه دَ پیدا کیدو خطرات موجود وي انتهي،

په جنابت کښ بند کارونه

مونځ ، طواف ، قرآن ته لاس وارول او دَ قرآن اوچتول ، قرآن لوستل ، او مسجد کښ پاتے کیدل (فقه السنه)

مسنون غسل

(۱): دَ جمعے دپاره غسل (۲): دَ اختر دَ مونځونو دپاره غسل (۳): دَ حج یا دَ عمرے دپاره غسل (٤): دَ عرفے په ورځ دَ زوال نه روستو دَ وقوف دپاره ،

دَ غسل فرائض

(۱): ټول بدن باندے اوبه اچول (۲): پوزه کښ مبالغے سره په غسل دَ جنابت کښ اوبه اچول (۳): خوله کښ اوبه اچول ، لیکن حاشیه علي مراقي الفلاح شرح نورالایضاح کښ دي چه دا روستني دوه فرض اجتهادي دي ، ځکه چه دَ فرض درے قسمه عملي ، قطعي او اجتهادي درے واړه وي دَ فرض قطعي

Maktaba Tul Ishaat.com

منکر کافر کرځي ، نزل الابرار:۱۲ ، او مالکيه په نزد دَ غسل پنځه فرائض دي (۱): نيت کول (۲): ټول بدن باندے اوبه اچول (۳): بدن مګل (٤): موالاة (٥): دَ ويښتو اوبو سره خلال ، او دَ شوافعو په نزد دوه دي (۱): نيت کول (۲): ټول بدن باندے اوبه بيول ، دَ حنابلو په نزد صرف يو فرض دے په ټول بدن اوبه بيول ،

سنت اعمال دَ عام غسل

(۱): په ژبه بسم الله او زړه کښې نيت (۲): لاسونه تر مړوندونو وينځل (۳): که پيلتي په بدن لګيدلے وي دَ ابو اچولو نه مخکښې دَ هغے لرے کول (٤): شرمګاه وينځل اګر چه په دے نجاست نه وي لګيدلے (٥): مانځه دَ اودس غوندے اودس مخکښې کول ، اصح دادي چه دَ سر مسح هم اوشي (٦): درے ځله داسے اوبه په ځان اچول چه هر ځل استيعاب اوشي که جاري اوبو کښې غوپه اوهله کافي کيږي يا باران ته اودريدو او ټول لوند شو (۷): اول به په سر بيا به په خيځ او بيا په ګسه اوګه اوبه اچول ، داسے شمس الائمه الحلواني فرمائي (۸): اندامونه مګل سنت دي په غسل کښې ليکن دَ امام ابو يوسف روايت کښې دَ لامبلو وخت کښې بدن مګل واجب دي ،

آداب دَ غسل

(۱): دَ غسل وخت کښې قبلے ته مخ نه کول ځکه چه غالبا دَ کشف عورت وخت دے (۲): خبرے نه کول (۳): داسے ځائے کښې لامبل چه څوک دے نه ويني حديث کښې دي "ان الله حي ستير" او دَ ابوداود روايت کښې دي "اذا اغتسل احدکم فليستتر" (٤): اوبه داسے استعمالول چه نه درياب وي او نه کرياب وي ،

(۱): "عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذا جلس بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْل وَإِن لم ينزل"

ترجمه : ابو هريره ؓ نه روايت دے فرمائي : چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي : کله چه تاسو کښې يوتن دَ ښځے دَ څلورو ځانګو تر مينځه کيني او بيا دے خپل خاص کوشش اوکړي که انزال نه وي شوے نو بياهم غسل په دۀ واجب دے ،

(٢): "وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السّنة هَذَا مَنْسُوخٌ"

ترجمه : ابو سعيد فرمائي : چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي چه اوبه دَ اوبو نه دي " امام محي السنه فرمائي : دا منسوخ دے ،

(٣): "وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ فِي الِاحْتِلَامِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ"

ترجمه : او ابن عباس فرمائيلے دي : اوبه دَ اوبو نه دي په احتلام کښې ،

تشريح : مفاتيح کښې دي : شعب دَ شعبة جمع ده دَ اونے څانگے ته وائي ابن حجر هيثمي فتح الاله کښې ليکلے دي دَ "الاربع" مصداق لاسونه او خپے دي ليکن دا هيئت صرف بيا دَ استلقاء هيئت سره خاص پاتے کيږي ، دوئمه داده چه بيا به پيغمبر عليه السلام لاسونه او خپے ذکر کړے وے (٢): راجح داده چه خپے او شفرين مراد دي ځکه ددے په ذکر کښې قباحت دے ځکه ددے نه کنايهٔ ئے په شعب سره اوکړه (٣): التقريرالرفيع کښې پتونونه او خپے ،(٤): کُناتي او پتونونه (٥): دَ شرمگاه حدود اربعه (مرقات)

او قاضي عياض ورله ترجيح ورکوي (٦): خپے او کُناتي ،

جهدها : اي جامعها داسے جماع کول چه حشفه دننه شي دَ سيدتنا عائشه ؓ روايت مسلم : ٣٤٩ باندے دے "اذا جلس بين شعبها الاربع ومس الختان الختان فقد وجب الغسل" او دَ ختان ذکر غالبا دے که داسے ذکر دننه شي چه حشفه نه لري يا دغه عمل دُبزکښې يا بهيمه سره داسے کس اوکړي چه فطرت ئے منع شوے دے هم دغه حکم دے چه کله انزال اوشي اگر که مينځ کښې څه مانع وي ، مرقات کښې دي چه "جهد" دَ نکاح يو نوم دے ليکن په دے معني کښې نه دے مستعمل،

دَ مسئلے پس منظر

امام طحاوي شرح معاني الاثار کښې روايت ذکر کړے دے "حدثنا روح بن الفرج قال ثنا يحيي بن عبد الله بن بكير قال حدثني الليث قال حدثني معمر بن أبي حبيبة عن عبيد الله بن عدي بن الخيار قال:

Maktaba Tul Ishaat.com

تذاکر أصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم عند عمر بن الخطاب الغسل من الجنابة فقال بعضهم إذا جاوز الختان الختان فقد وجب الغسل"اول کښې سيدنا عمرؓ ته يو کس اووے چه زيد بن ثابت مسجد نبوي کښې فتوي ورکوي چه اکسال کښې غسل واجب نه دے ،

ليکي چه دَ سيدنا عمر فاروق دور کښې دا اختلاف جوړ شو چه په التقاء ختانين سره غسل واجبيږي که نه واجبيږي سيدنا عمرؓ صحابه کرام راټول کړل او ددے مسئلے تپوس ئے دَ دوي نه اوکړو نو مختلف رأي صحابؤ چه پيش کړے نو عمرؓ اوفرمائيل چه تاسو کښې دومره اختلاف دے دَ روستنو حال به څه وي؟ نو سيدنا عليؓ مشوره ورکړه چه دَ ازواج مطهرات نه دَ مسئلے نوعيت معلوموول پکار دي نو عمرؓ اول خپلے لور ته قاصد اوليږو دا هم په ازواج مطهراتو کښې وه هغے جواب ورکړو تپوس دَ عائشهؓ نه چه اوشي خه به وي دَ هغے نه چه تپوس اوشو جواب ئے ورکړو چه التقاء ختانين سره غسل واجبيږي او په دے دَ صحابه کرامو اجماع اوشوه او سيدنا عمرؓ تهديدي آرډيننس نافذ کړو که چا ددے خلاف اوکړو سزا به ورکوم بيا دَ چا اختلاف نه دے ثابت او دَ "الماء من الماء" حکم منسوخ شو او صورت دَ جمع او تطبيق پکښې کيدے شي چه دا حديث دَ احتلام باره کښې دے او بے دَ انزال نه احتلام کښې غسل نه واجبيږي ليکن سوال دادے چه دَ ابي بن کعب روايت کښې دَ نسخ قول امام ترمذي ليکلے دے، "عن ابي بن كعب قال انما كان الماء من الماء رخصة في اول الاسلام ثم نهي عنها"

جامع ترمذي مع عارضة الاحوذي :١: ١٦٦ ، او ابوداود كتاب الطهارت ، وصححه النووي في المجموع :٢: ١٣٩ فقال اسناده صحيح)

نو عبدالله بن عباسؓ ئے په احتلام څنګه حمل کوي ليکن جواب دادے چه ابن عباسؓ دَ منسوخ کيدو نه انکار نه کوي بلکه دَ هغوي مقصد دادے چه دَ حديث دَ معمول بها جوړيدو او صورت دا هم کيدے شي څکه چه په اعتبار دَ عموم دَ حکم نه مخکښې هم يو فرد وو ددے په افرادو کښې نو اوس به هم په دغه محل کښې نه منسوخ کيږي عمل به پرے کيدے شي او دا مقصد نه دے چه منسوخ نه دے يا کيدے شي چه دَ نسخ علم ورته نه وي او خپل تفقه او فهم ئے يو محل صحيحه ورله بيان کړے وي په يو اعتبار منسوخ شو او په بل اعتبار نه دے منسوخ ، او اکثر صحابه دا په نسخ حمل کوي،

ابوالحسن القصار يعني علي بن احمد البغدادي فرمائي چه دَ تابعينو او دَ روستنو اجماع ده چه دَ التقاء الختانين دَ وجے غسل لازم دے اګر چه ابتدائي دور کښې په دے کښې دَ بعض صحابؤ اختلاف وو "أن

المسألة متى كانت على وجهين بعد انقراض الصحابة ثم أجمع العصر الثاني من التابعين بعدهم على أحد القولين كان ذلك مسقطا للخلاف قبله، ويصير إجماعا، وإجماع الأعصارِ عندنا - حجة كإجماع الصحابة." (عيون الادله: ٢: ٢٦٢،، اكمال المعلم للقاضي عياض :١: ١٩٦ بحواله منهاج الرسوخ الي علم الناسخ والمنسوخ :٢: ٩٤٦)

او قاضي عياض وريسے صفحه باندے ليکلے دي ليکن دے صرف دَ اعمش او دَ ساود اصفهاني خلاف دے،

دَ امام طحاوي توجيه

ځنګه چه فساد دَ حج په دخول دَ حشفے وي نه په انزال او دَ روژے فساد په نفس دخول سره وي، انزال ورله شرط نه دے، يا خروج ريح يقيني نه وي معلوم استرخاء المفاصل ورله ظاهري سبب دے او په سفر کښې دَ مشقت احساس پوره نه معلوميږي ادراک ئے ګران دے او دَ دۀ دَ سفر قائم مقام جوړيږي دَ مشقت دَ وجود دغسے دلته دَ حشفه سره به غسل لازميږي ځکه چه کله دَ انزال ادراک اونه شي، اګر چه انزال نه وي شوے، لکه چه يو کس دَ يوے ښځے سره زنا اوکړي نو حد به پرے لګي اګر چه انزال شوے وي او که دَ شبهے په بنياد داسے اوکړي حد ترے ساقطيږي او حصر به پرے واجب وي،

صورت مسئوله کښې اختلاف

علامه عيني عمدة القاري کښې ليکي : دَ محلي په حواله ليکلے دي چه صرف په ايلاج که انزال نه وي شوے نو غسل نه لازموي سيدنا، عثمان، علي، زبير، طلحه، سعد بن ابي وقاص، ابن مسعود، رافع بن خديج، ابو سعيد، ابي بن کعب، ابو ايوب، ابن عباس، نعمان بن بشير او زيد بن ثابت رضوان الله عليهم او جمهور انصار او دا دَ عطا بن ابي رباح، ابو سلمه، عبدالرحمن او دَ هشام بن عروه او دَ ظاهريه قول دے انتهي، ليکن دا دَ صحابۆ اجماع چه دَ سيدنا عمر رضی الله عنه په زمانه کښې لا په دے مسئله نه وه شوے دَ هغے وخت خبره ده، دَ اجماع نه بعد اختلاف ختم شوے دے ځکه چه په اجماع لاحق اختلاف سابق ختميږي، التقرير الرفيع کښې دي "قال في الميزان اتفق الائمة الاربعة علي وجوب الغسل منه" بذل المجهود کښې دي "فجعل ذلك رخصة للناس تسهيلًا وترفيقًا بهم لقلة الثياب وشدة البرد" دَ هغوي آسانتيا او دَ نرمۍ په خاطر اول کښې رخصت وو جامے کمے وے او ساړه سخت وو، او عون المعبود

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې خو لا دا ليکلے دي چه په ابتداء کښې ايماني کمزوري وه (داسے تعبير غير مناسب دے) او دَ استقامت کمے وو نو دَ تخفيف حکم وو ، او عظيم آبادي صاحب دا هم ليکي "چه کوم صحابه دَ الماء من الماء قائلين وو دَ هغوي نه رجوع ثابته ده او دا موطا مالک کښې دي چه "عن سعيد بن المسيب ان عمر و عثمان وعائشه اذا مس الختان فقد وجب الغسل" ابي بن کعب فرمائي: دَ ابتدائي زمانے خبره ده "ثم ترک" څکه تعبير کيږي "ثم نسخ" دغه ترک نسخ وي او کله ترے تعبير کيږي رخصة في اول الاسلام ثم نهي عنها" معلومه شوه چه په ترک باندے دَ نسخ اطلاق کيږي بيا هغه منهي عنه جوړيږي په بعض اعتباراتو سره پکښې نسخ دے لکه چه تير شو ، ابن حبان صحيح کښې دَ زهري نه نقل کوي ما دَ زهري نه تپوس اوکړو چه چا جماع اوکړه او انزال اونه شو څه حکم دے؟ اوئے فرمائيل "ثم اغتسل بعد ذالک وامر الناس بعد الغسل" (مسند الشافعي: ۱۵۷ ، الحازمي في الاعتبار:۱: ۱۸۱ -۱۹۰)

دَ امام بخاري نه دفاع

دَ بخاري دَ څلورو تکو نه دَ سوال منشأ جوړه شوے ده صحيح بخاري کښې غسل ته صرف اجود ، (۲):انقي (۳): احوط (٤): اوکد وائي دا سبب دَ اشکال جوړيږي حافظ ابن حجر فتح الباري کښې ليکي ايجاب الغسل اطبق عليه الصحابة ومن بعدهم وما خالف فيه الا داود ولا عبرة بخلافه وانما الامرالصعب مخالفة البخاري وحکمه بان الغسل مستحب وهو احد أئمة الدين وأجلة علماء المسلمين" اوروستو هغوي تاويل کوي چه دَ هغے نه مراد په دين کښې احوطيت دے علامه عيني عمدة القاري کښې داسے تعبير کوي چه دا مسئله دَ دين په اصولو کښې مشهور باب دے وهو الاشبه بامامته وعلمه " واقعي قدردان هم دَ نورو قدر دان وي ،

قدر گل بلبل بداند يابداند غيري قدر جوهر شه بداند يابداند جوهري

الحق الصريح کښې دي "اوګوره دا عمر دے چه دَ صحابؤ په مخامخ خلقو ته دغه حکم بيانوي او هيڅوک پرے انکار نه کوي نو دا اجماع شوه انتهي ،

که دے ته چا کتلے او دا ئے اجماع ګنړله چه کله هغوي مخامخ حکم بيانوي او څوک په دے انکار نه کوي نو دا اختلافات به ولے خوريدل او ولے به امت کښې انتشار وخلفشار وو ،

الماء من الماء : دا کلام دَ استغراق او دَ انحصار دپاره دے لکه چه انصارو دغسے مبهم کړے وه ليکن دليل چه هغه اجماع ده هغه په دے هم دلالت کوي چه زنانه به دَ حيض او دَ نفاس دَ ختميدو نه پس هم

غسل کوي نو معني دا شوه چه دَ منئ سره متعلق هم غسلونه دي دا په دے کښې منحصر دي دَ غير
دپاره نه ثابتيږي که انزال حقيقة وي او که دلالة لکه التقاء الختانين شو دا ئے قائم مقام ځکه جوړ شو
چه يقيني په هغے خبريدل متعذر دي ځکه دا لکه دَ خوب پټ امر دے ، چه تحقيق ئے متعذر کړځي ،

ترجيحي توجيه

علامه عيني ليکي : چه حديث دَ التقاء الختانين په منطوق دلالت کوي چه غسل واجب دے ليکن حديث دَ "الماء من الماء دلالت په نه غسل کوي او دَ مفهوم حجت اختلافي دي که بالفرض ثابت هم شي نو قاعده ده المنطوق اقوي من المفهوم په دے توجيه نسخ ته حاجت نشته اول اوئيلے شو چه په التقاء الختانين صرف غسل واجبيږي يعني خاص التقاء چه انزال پکښې اوشي ، يعني دَ ختنه ځائے چه دَ حشفے نه پس دے په دے غائب کيدو سره غسل واجبيږي ،

تعبير دَ اشعة اللمعات

شيخ عبدالحق ليکي : "وحق آنست ايں حديث مطلق است چه احتلام وغير احتلام" ليکن دا حکم دَ اسلام ابتداء کښې وو بيا منسوخ شو او تقييد دَ مطلق هم دَ متقدمينو په نزد نسخ حسابيږي لکه رواياتو کښې نفس اثبات اوله مرحله کښې دَ رفع اليدين مواضعو متعدده کښې سره دَ رفع بين السجدتين وو علامه الباني صفة الصلاة کښې ليکي : ليکن شيعه ګان ئے مني ليکن عام غير مقلدين ئے نه مني او تقييد دَ مطلق کوي نو دے ته من وجه نسخ وئيلے کيدے شي ، فتح الاله کښې دي چه حديث مسلم کښې دَ ابو سعيد الخدري قول دے چه قبا ته دَ کل په ورځ پيغمبر عليه السلام سره تلے ووم چه دَ بنو سالم محلے ته ارسيدو دَ عتبان په دروازه نبي عليه السلام اودريدو آواز ئے ورته اوکړو دوي تپوس اوکړو که کور والي کښې مني او نه وتله څه حکم به وي پيغمبر عليه السلام اوفرمائيل انما الماء من الماء ، دَ عبدالله بن عباس مطلب دادے چه چه دے مسئله کښې دَ نسخ واقع کيدو نه پس اوس دا حکم صرف احتلام کښې پاتے دے ،

متفق عليه : ان لم ينزل ، بخاري کښې نشته شايد چه دوي په ابن الاثير اعتماد کړے وي ،

لم اجد في الصحيحين : اعتراض په دے ځکه صحيح نه دے چه دَ ابن عباس قول دوي دَ مسلم دَ روايت "انما الماء من الماء" توجيه په سلسله کښې ذکر کړے دا دَ مقاصدو دَ باب سره تعلق نه ساتي که

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیحین کښې نه وي باک ئې نشته ، او اشعه کښې دي "برائے تعارض حدیثین آوردہ است نہ بآں طریق حدیث است از صحاح کہ دریں باب آوردہ" نو دَ صحاح دَ حدیث په حثیت ئې دلته نه دے ذکر کړے ،

(٤): "وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ من غسل إذا احتلمت قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَتِ الْمَاءَ فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا وَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَوَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ قَالَ: «نعم تربت يمينك فَبِمَ يشبهها وَلَدُهَا"

(٥): "وَزَادَ مُسْلِمٌ بِرِوَايَةِ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ مَاءَ الرَّجُلِ غَلِيظٌ أَبْيَضُ وَمَاءَ الْمَرْأَةِ رَقِيقٌ أَصْفَرُ فَمِ أَيِّهِمَا عَلَا أَوْ سَبَقَ يَكُونُ مِنْهُ الشَّبَهُ"

ترجمه : ام سلمه رض فرمائي چه : ام سلیم اوفرمائیل چه اے دَ الله رسوله الله تعالي حیاء نه کوي دَ حق نه نو آیا په ښځه باندے غسل شته چه احتلام پرے واوړي؟ نبي علیه السلام اوفرمائیل آو کله چه اوبه اوویني نو ام سلمه خپل مخ پټ کړو او عرض ئې اوکړو آیا زنانه ته هم احتلام کیږي؟ نبي علیه السلام اوفرمائیل آو ستاخي لاس دے په خاورو کښې ککړ شي نو بیاذ هغې بچے دَ هغې مشابه کیدے څنګه شو ،

مسلم په روایت دَ ام سلیم سره زیادت کړے دے چه یقینا اوبه دَ سړي ټینګے وي او سپینے وي او دَ ښځے اوبه نرمے او زیړے وي نو په دے دواړو کښې چه دکوم یو هغه مني غالبه شي نو مشابهت دَ هغے سره وي ،

تشریح : ام سلیم دَ حیاء دَ وجے نه مخ پټ کړے وو علامه هیثمي فرمائي دا ئې دَ لور زینب چه دَ حدیث راویه ده دَ هغے خبره ده یا دَ ام سلمه کلام په تجرید صفت بناء دےدَ خپل نفس نه ئې بل نفس مجرد کړو او پټ والے ورته منسوب کړو ،

لا یستحیي : دغه رسم الخط سره به لیکلے شي "یا" به نه لر کوے لکه قرآن کښې "ویدعوا الانسان بالشر" سورة بن اسرائیل کښې آیت راغلے دے "یدع" به دَ صرفي قانون مطابق نه لیکے اګر چه جازم نشته لیکن واو به لیکلے شي ،

فبم يشبهها ولدها : بچے کله پلار او کله مور سره يو شان والے لري ښکاره دليل دے چه ښځه کښې منۍ
موجود ده په شکل او کيفيت کښې ورله دخل دے ،
تربت يمينک : التعليق المجد کښې دي : چه اصل اقوي دَ محققينو په نزد دا ده چه خپله معنیٰ يې
"افتقرت" ده ليکن عرب دا په حقيقي او اصلي معني نه مستعملوي دغسے قاتله الله ، ولا ام لک
وثکلته امه ، وويل امه ، وغيره چه کله په يو خيز انکار کوي او زجر مقصود وي ددے استعمال کوي
که دَ سړي مني غالبه او مخکښې شي شايد چه هلک وي يا که عکس وي کيدے شي چه جينۍ وي ، ابن
حجر هيثمي وائي چه دَ ښځے منۍ دَ سړي دَ منۍ سره په درے خاصيتونو کښې يوشان غونډے په امتياز
سره وي دا په ثبوت اوحي قرآن کښې دي "من ماء دافق" او وتلو کښې بنيادم لذت محسوسوي او دَ هغې نه
پس دَ سړي شهوت مات شي او غالبا شهوت ئے ختم يا کم شي او منۍ چه څو پورے لونده وي دَ اوړو
دَ کيلے غونډے بوئ ئے وي ليکن په صفاتو کښې دواړه منۍ کښې فرق دَ ټينګ والي ، نرۍ والي او
سپين والي او زيړ والي په اعتبار سره وي او دغه صفات مکمل اثر انداز څکه نه دي چه دا دَ منۍ نه
علاوه بل خيز کښې نه وي او کله ددے نه هم منتفي شي لکه ودي کښې ټينګ والے او سپين والے موجود
وي او چه کله مني سور رنګے شي دَ ډيرے جماع دَ وجے بيا دغه صفات نه وي ، او زيړ والے يا نرے والے
په مذئ کښې نه وي او دَ ښځے دَ منۍ نه نه هم منتفي کرځي او کله دَ مرض دَ وجے دَ سړي په منۍ کښې
هم منتفي اوګرځي ،
فمن ايهما : دا "من" زائد للتاکيد واخله "او" ظاهرا دَ تقسيم دپاره ده لنډه دا چه مسنون اول استنجاء
کول دي ، بيا که څه کندګي لګيدلے وي هغه لرے کول پکار دي بيا مضمضه او استنشاق پکار دے
بيا اودس اوکړه بيا دَ وجود مړوندونه او ولونه اوينځه ، بيا دَ سر او دَ ګيرے دَ اوبو خلال اوکړه بيا په سر
او ښي او ګس طرف اوبه راواړوه ، حافظ ابن کثير په تفسير دَ "قل من کان عدوا لجبريل" آيت لاندے
ليکلے وي چه دَ نبي عليه السلام نه يهوديان په څلورو تپوسونو کښې دا تپوس اوکړو چه دَ سړي او دَ
ښځے منۍ کيفيت څنګه وي او دا هلک او جنۍ په کوم کيفيت ددے نه الله پيدا کوي ، جواب ئے
ورکړے دے چه سړي مني ټينګه او سپينه او دَ ښځے هغه زيړه او نرمه وي چه کومه غالبه شي نو دَ الله
په اذن دَ بچي مشابهت دَ هغے په وجه وي ، مرقات کښې ملا علي قاري ليکلے دي دَ منۍ دغه صفت په

Maktaba Tul Ishaat.com

بعضو اوقاتو كښې داسې نه وي دا په اعتبار دَ غالب او په قيد دَ سلامت سره وي كله دَ ډير قوت دَ وجې دَ ښځې مني هم سپينه وي ،

نفس الأمري صورت حال

ښځو كښې احتلام نادر وي او دَ امام سيوطي دَ احتلام خبره علامه زرقاني او حافظ عراقي رد كړې ده چه ازواج مطهرات احتلام نه محفوظ دي ځكه الخصائص لا تثبت بالاحتمال" او دا احتلام كله دَ جوړوالي ، مرض يا دَ منئ دَ لوښي دَ ډكيدو دَ وجې راځي ،

دَ مسلم روايت

چه كله دَ سړي مني دَ ښځې په منئ غالبه شي بچې دَ ترونو غوندې وي اوكه دَ ښځې هغه غالبه شي نو بچې ماماګانو ته تلې وي ، التمهيد :٤: ٣١٤ باندې ابن عبدالبر هم ليکلې دي چه دَ ښځې مني غالبه شي بچې مور او ماما ګانو ته ځي او كه دَ سړي هغه غالبه شي پلار ، ترونو او نيکيانو سره مشابهت لري ، او داسې هم دَ مسلم روايت كښې دي چه دَ سړي مني غالبه وي بچې مذكر وي باذن الله او په عكس كښې بچې باذن الله مؤنث وي ،

حافظ ابن حجر او ابراهيم نخعي

حافظ" فتح الباري كښې دَ بعض علماء مثلا دَ ابراهيم نخعي نه دَ ښځې دَ منئ انكار نقل كړې دې اګر چه شرح مهذب كښې ددې قول نسبت ئې ابراهيم نخعي ته بعيد ګڼړلې دې ليکن حافظ خو ليکلې دي چه مصنف ابن ابي شيبه كښې دَ ابراهيم نخعي نه په جيد سند دا خبره نقل شوې ده او په حاشيه دَ بذل كښې دي چه ابن سينا او ارسطو دَ ښځې دَ منئ نه انكار كړې دې ،

روايت كښې دَ تعارض حل

دَ مشكوة روايت كښې دَ ام سلمه نوم راځي دا دَ هشام بن عروه روايت دې او دَ زهري روايت كښې دَ عائشه" نوم راځي او ابوداود دَزهري روايت له ترجيح وركوي او قاضي عياض دَ هشام روايت له ترجيح وركوي چه ام سلمه" ده او امام نووي دَ ترجيح په ځائې دواړه روايتونه جمع كوي ځكه دواړه صحيح دي چه دَام سليم دَ سوال په وخت ام سلمه او عائشه" دواړه موجودې وې او دواړو په ام سليم انكار كړې

دے او دَ نسائي په حاشیه باندے علامه سندهي په تعدد دَ واقعے حمل کړے دے ، دواړه روایتونه په خپل ځائے صحیح دي ،

په ښځو کښې دَ منئ وجود

علامه عیني دَ ابن عبدالبر قول نقل کوي چه ټولو ښځو ته احتلام نه راځي ، چه بعض داسے سړي دي چه احتلام ورته نه کیږي نو بعض ښځے دَ هغے خے لائقے دي لیکن ابن بطال فرمائي چه ټولو ښځو ته احتلام کیږي او په دے کښې دلیل دے چه دَ ښځے کله انزال اوشو په هغے غسل لازم دے او روایت کښې دي "انما النساء شقائق الرجال"

مفسرین دَ سورۃ الدهر په آیت کښې "من نطفة امشاج" تفسیر دَ سیدنا ابن عباس نه نقل کوي چه نافع بن الازرق وائي چه دے نه دَ ښځے او د خاوند ګډے وډے اوبه مراد دي چه کله رحم کښې یو ځائے شي زهیر بن حرام الهزلي وائي :

كَأَنَّ النَّصلَ والفُوقَينِ منه : : خلافَ الصَّدرِ سِيطَ به مشيجُ

او دَ سیط به مشیج معني ده خُلط به الخلط ، دلیل دے چه بچے دَ دواړو نه پیدا کیږي قرآن کښې تعبیر ترے من سلالة من ماء سره شوے دے چه یوه نطفه چه دَ جنین تکون ترے کیږي ددے په ذراتو کښې دَ ښځے سلالة ګډ وډ شي سوائي اجزاء رف عمل او فضله وي عجیبه نظام تکوین دے په وحدانیت او قدرت دَ رب العزت دلالت کوي ،

دَ ام سلیم پیژنګلو

دا دَ انس بن مالک مور ده امام الحرمین او امام غزالي خطا شوي دي چه دَ سیدنا انس نیا ده نبي علیه السلام به دَ دوي او دَ دوي دَ خور ام حرام بنت الملحان ډیر خیال ساتلو، ددے خپله نوم نه دے معلوم خوک وائي دَ ام سلیم نوم سهله یا رمیله یا رمیثه یا رمیصاء وو لیکن ابوداود وائي چه رمیصاء ئے خور کیږي او ابن سعد ئے انیقه نوم ذکر کوي لیکن دَ ابن حبان ترے انکار دے ، دَ ابو طلحه ښځه ده دَ سیدنا عثمان په خلافت کښې وفات شوے ده دَ انس پلار مالک بن نضر په نکاح کښې په جاهلیت کښې وه دَ هغه نه دَ انس ولادت وجود ته راغلے دے بیا دغه خاوند ئے مشرک وژلے شوے دے بیا دے اسلام قبول کړو او ابو طلحه ورته دَ نکاح درخواست اوکړو لیکن ابو طلحه هغه وخت کښې مشرک

Maktaba Tul Ishaat.com

وو چه کله مسلمان شو نکاح ئې ورسره اوکړو دَ ابو طلحه خپل نوم زيد بن سهل بن اسود بن حرام بدري صحابي دے ، مصنف ابن ابي شيبه کښې دي چه ام سليم سره به خنجر وو دَ جهاديانو خدمت به ئې کړو ، علامه قسطلاني ارشاد الساري : ۳: ٦١ باندے دَ ام سليم دَ حوصلے صبر، استقامت واقعه ليکلے ده چه بچے ئې ناجوړه وو او ابو طلحه په سفر کښې وو دَ هغوي دَ راتلو نه لږ مخکښې وفات شو ، خاوند چه کور ته راغے فورا ئې ورته نه دي وئيلے بچے ئې پټ کړو دوي کور والے هم اوکړو بيا ورته وائي يا ابا طلحه لو ان قوما اعاذوا اهل بيت عارية فطلبوا عاريتهم ألهم أن يمنعوا هم قال لا ، قلت فاحتسب ابنک" که څوک خپل امانت دَ هغے کور دَ خلقو نه غواړي چه کوم کور کښې يخے وو امانت به ترے منع کوي خاوند ورته اووے نه ، بيا وائي چه ما ورته اووے چه دَ خپل ځوي دَ وفات دَ وجے دَ ثوابونو اميد لره ، سحر ئې نبي عليه السلام ته واقعه بيان کړه نبي عليه السلام دعا اوکړه "لعل الله ان يبارک لکما في ليلتکما" راوي وائي فرأئتما تسعة اولاد کلهم قد قرءوا القرآن" ددے کارنامے برکت والا الله قرآن خوان او قرآن دان نهه بچي ورکړه ، دَ ام سليم او دَ ابو طلحه دَ ايثار واقعه ابن کثير تفسير کښې ذکر کړے دے چه ميلمه ډوډئ خوړله ډوډئ لږه وه ، دَ ډيوے دَ اصلاح په بهانه ئې ډيوه مړه کړه چه ميلمه تياره کښې خوراک اوکړي دا ادا دَ دوي قابل رشک ده خپله اوکي پاتي شو "ويؤثرون علي انفسهم ولو کان بهم خصاصة"

دَ ام سلمه پيژنګلو

هند بنت ابي اميه حذيفه المخزومية ده مخکښې دَ عبدالله بن عبدالاسد ښځه وه بيا دَ هغه دَ وفات نه پس ورسره نبي عليه السلام نکاح اوکړه حبشے ته ئې هجرت کړے دے دَ پيغمبر سره ئې نکاح دَ هجرت په څلورم کال کړے وو او دَ ۸٤ کاله په عمر کښې په ٥٩ هجرئ کښې وفات شوے ده او په بقيع کښې دفن شوے ده ، دَ حسن بصري خصمانه بلکه رضاعت ددے په وساطت شوے دے،

(٦): "وَعَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعَرِهِ ثم يصب على رَأسه ثَلَاث غرف بيدَيْهِ ثُمَّ

يفِيض المَاء على جلده كُله وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: يَبْدَأُ فَيَغْسِلُ يَدَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهُمَا الْإِنَاءَ ثُمَّ يُفْرِغُ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَاله فَيغسل فرجه ثمَّ يتَوَضَّأُ"

ترجمهٔ عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي عليه السلام به چه کله دَ غسل دَ جنابت اراده اوکړه نو لاس به ئے اوينځل او اودس به ئے اوکړو لکه څنګه چه اودس دَ مانځه وي بيا به ئے ګوتے په اوبو کښ ننباسلے نو خلال به ئے اوکړو په هغے سره دَ خپلو ويښتو په ويخونو کښ بيا به ئے راواچولے په سر خپل باندے درے لپے په لاس سره بيا به ئے په ټول بدن اوبه واچولے ، او په روايت دَ مسلم کښ دي شروع به ئے کوله نو لاسونه به ئے اوينځل مخکښ دَ داخلولو نه لوخي ته بيا به ئے په خي لاس سره په ګس لاس باندے اوبه راچولے او شرمګاه ئے اوينځله، بيا به ئے اودس اوکړو ،

تشريح : الاستذکار:۱: ۳۰۳ باندے نووي ليکلے دي " هذا الحديث في وصف الاغتسال من الجنابة من احسن ماروي في ذالک"

دَ غسل نه مخکښ اودس کښ مسح

بعض وائي کما يتوضأ تشبيه ددے تقاضا کوي چه په اودس کښ مسح ده نو دَ غسل نه مخکښ اودس کښ مسح ده ، ليکن التعليق الفصيح کښ قاضي صاحب ليکلے دي "قلت ولکن مسح الرأس لم يثبت فيما جاء من المفصل من الروايات في وضوء غسل الجنابة" او حافظ ابن حجر فتح الباري کښ ليکلے دي : چه هيڅ حديث کښ دَ غسل جنابت په اودس کښ دَ سر مسح نشته چه تفصيلي رواياتو کښ دا مسح دَ سر نشته ځکه چه هسے هم ټول سر وينځلے کيږي مسح ته څه حاجت نشته انتهي، او تشبيه کښ من کل الوجوه مماثلت نه وي ،

دَ غسل طريقه

بحرالرائق کښ دي "وقد اختلف فيه فقال الحلواني يفيض الماء علي منکبيه الايمن ثلاثا ثم الايسر ثلاثا ثم علي سائر جسده"

يوه طريقه داده چه مخکښ به په خي اوګه بياپه ګسه اوګه اوبه واچوے بيا به په ټول بدن اوبه واچوے ،

دوئمه طريقه : اول په خي بيا په ګس طرف اوبه واچوے بيا به په سر اوبه واچوے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

درئمه طريقه : دَ سر نه به شروع اوکړے اول به په سر بيا به په ټول بدن اوبه واچوے ،
فقهاء ليکي : چه اول به لاس اوينځي بيا به استنجاء اوکړے او که په بدن باندے حقيقي نجاست لګيدلے وي هغه به اوينځي بيا به اودس اوکړے او غسل به اوکړے دَ غسل نه پس اودس کول اسراف کښې داخليږي چه اول دے اودس اوکړو بيا ورته حاجت نشته ، دَ امام شافعي په نزد که چرته مس فرج شوے وي دوباره به اودس ځکه کوي چه اودس ئے مات شو دَ سرې دَ ويختو وينځل ضروري دي نبي عليه السلام درے ځله په خه طريقه په هغے اوبه اچولے دي که دَ غسل نه مخکښې اودس اونه شي جمهور وائي جائز دي ليکن التقرير الرفيع کښې دَ داود قول مطلقا دَ اودس دَ وجوب ذکر کړے دے ليکن دَ مالک ، وشافعي ، او ابو حنيفه رحمهم الله په نزد وجوب نشته بلکه جائز دي که اودس اونه کړي او دَ امام مالک په نزد بدن باندے لاس وهي،

اودس کښې خپے وينځل به روستو وي؟

دَ سيدتنا عائشه رض روايت کښې دي خپے به مخکښې په ترتيب دَ اودس غونډے وينځي او دَ سيدتنا ميمونه په روايت کښې صراحة دي چه روستو به ئے وينځي او امام بخاري باب الوضوء قبل الغسل باب تړلے دے او دواړه قسمه روايات دوي راوړے دي ، امام شافعي ترجيح دے له ورکوي چه پوره سم اودس به اوکړے او خپے به اودس کښې اوينځے دا دَ احنافو هم يو روايت دے او مالکيه وائي که هلته اوبه ډنډ اودريږي نو روستو دے اوينځي کني مخکښې وينځل پکار دي (ابن همام)
او دَ احنافو قول دادے ، ګويا جمع بين الاخبار والا صورت به دَ احوالو په اختلاف باندے بناء وي ، شاه ولي الله ۱۷۸ باندے حجة الله کښې ليکي : "وقيل بالفرق بين ما إذا كان في مستنقع من الأرض وما إذا لم يكن كذلك" او تقرير بخاري کښې شيخ الحديث مولانا ذکريا ليکلے دي چه بعض علماء لکه ماوردي وغيره وائي چه اودس کښې درے درے ځله وينځل دي ليکن غسل کښې دَ سر نه علاوه بدن باندے اوبه اچولو کښې دَ دريو قيد نشته ليکن دَ جمهورو په نزد غسل کښې هم تثليث مستحب دے ، مجمع الزوائد کښې دي : ۱: ۱۱۲ ط: قديم چه ابن عمر به غسل کښې سترګے کولا و ساتلے او په نوم کښې به ئے کوته وردننه کوله ، چه کله يو روايت کښې دَ خپو وينځل روستو دي ددے نه مسئله معلومه شوه که دَ اودس په کارونو کښې يو عمل اوشو مينځ کښې لکه فاصله راغله او بيا بل عمل مکمل شو جائز دي ځکه اول کښې نبي عليه السلام اودس کښې خپے اونه وينځلے او مينځ کښې دَ لامبلو فاصله راغلے ده

او اخر کښې خپې وینځلے دي معلومه شوه چه فاصله راتلو سره اودس کښې فرق نه راځي یعني اودس او غسل کښې موالات فرض نه دي امام مالک او ابراهیم نخعي ، ربیعه عمدا ترک موالات مفسد دَ اودس ګنړي (فتح الباري) امام شافعي او امام ابو حنیفه ورته جائز وائي واجب نه دي امام بخاري باب تړلے دے "باب تفریق الغسل والوضوء" ائمه ثلاثه امام ابوحنیفه امام شافعي او امام احمد ، ثوري اوزاعي وغیرهم فرمائي : که جنب په اوبو کښې غوپه اوهله او ځان ئے اونه مګلو بیا هم جائز دي (الاستذکار ۱/ ۳۰۶)

(۷): "وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَتْ مَيْمُونَةُ: وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ وَصَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَمَسَحَهَا ثُمَّ غَسَلَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ وَأَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحَّى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنفضُ يَدَيْهِ. وَلَفظه لِلْبُخَارِيّ"

ترجمه : ابن عباس رض فرمائي : چه میمونه رض اوفرمائیل ما کیخودلے دَ نبي علیه السلام دپاره اوبه او پټے مے کړے هغے لره په یوه کپړه باندے او اوبه ئے راواچولے په خپلو دواړو لاسو باندے نو لاسونه ئے اوینځل بیا ئے په ښي لاس سره په کس باندے اوبه واچولے نو شرمګاه ئے اوینځو او بیا ئے هم دغه لاس په زمکه اومګلو بیا ئے اوینځو بیا ئے خوله کښې اوبه واچولے ، او پوزه کښې ئے اوبه واچولے او مخ ئے اوینځو او لاسونه ئے اوینځل تر څنګلو بیا ئے په سر اوبه راواچولے او اوئے بیولے په ټول بدن بیا بو طرف ته شو خپے ئے اوینځلے بیا ورله ما یوه کپړه راوړه نو وائے نه غستله روان شو او دَ دواړو لاسونو نه ئے اوبه بیدلے،

تشریح : سیدتنامیمونه رض دَ ابن عباس رض ماسي او دَ نبي علیه السلام بي بي وه ما نبي علیه السلام له کمره کښې په لوښي کښې دَ لامبلو دپاره اوبه کیخودلے ددے دور غونډے مستقلے غسل خانے نه وے زما وړوکوالي کښې په ډیرو کورونو کښې مستقل غسل خانے نه وے دَ ډیران دپاسه به بعض غریبانانو لامبل چه اوبه جذب کړي او تتي او نه کړي یو طرف ته دیوال وو او بل طرف ته ما هغوي په کپړا پټ کړو چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دا نظر پرے او نه لګي لاسونه ئے اوينځل شرمګاه ئے صفا کړو کس لاس ئے په خاوره رخکو ځکه خاوره جراثيم کش ده لکه دَ سپي دَ جوټے لوخي کښ هم دغه حکم دے دا احکام شرعيه دي چه دَ امهاتو په وساطت مونږ ته رارسيدلے دي او ميمونه ورته په غور ځکه کتل چه مسائل ورته معلوم شي ،

وهو ينفض يديه : دَ دواړو لاسونو نه ئے اوبه څنړيدلے ، امام بخاري باب تړلے دے "باب نفض اليدين" دَ شاه ولي الله رائے داده چه دَ امام بخاري غرض دَ ماء مستعمل طهارت ثابتول دي دَ څنډلو سره په کپړا وغيره باندے څاڅکي غورزيږي او ددے وينځل دَ هغوي نه منقول نه دي او دا حديث ضعيف دے "لاتنفضوا ايديکم في الوضوء فانها مراوح الشيطان" او مخکښ ذکر شوے دے چه شيخ ګنګوهي دَ نفض يدين مطلب ذکر کوي لاسونه ئے سست پريخودل چه خپله ترے څاڅکي کيږي ، المفاتيح کښ دي :يحرک يديه في المشي کما هو عادة من له رجولية وقوة" او دا معني نه ده چه لاسونه به ئے څنډل چه مستعمل شوے اوبه اوغوزيږي بيا دا مکروه نه دي ،

(۸): "وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: إِنَّ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنِ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيضِ فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِل قَالَ: «خُذِي فِرْصَةً مِنْ مَسْكٍ فَتَطَهِّرِي بِهَا» قَالَت كَيفَ أتطهر قَالَ «تطهري بهَا» قَالَت كَيف قَالَ «سُبْحَانَ الله تطهري» فاجتبذتها إِلَيِّ فَقلت تتبعي بهَا أثر الدَّم"

ترجمه : عائشه فرمائي : يوه ښځه وه دَ انصارو تپوس ئے اوکړو دَ نبي عليه السلام نه دَ حيض دَ غسل باره کښ نو نبي عليه السلام هغے ته حکم اوکړو چه څنګه غسل کوے ، ورته ئے اووے دَ مشکو يوه ټکره واخله او په هغے باندے پاکي حاصله کړه نو هغے ورته اووے څنګه به په دے پاکي حاصلوم نبي عليه السلام ورته اووے په دے پاکي حاصله کړه هغے بيا اووے څنګه په دے پاکي حاصلوم نبي عليه السلام اوفرمائيل : سبحان الله په دے سره پاکي حاصله کړه عائشه فرمائي ما ځان ته راښکله او ما ورته اووے چه کوم ځائے دَ وينے اثر وي دا کپړا په هغے ځائے اومګه ،

تشريح : خذي فرصة من مسک : دَ مشکو خوشته شوے کپړا واخله پاکي پرے حاصله کړه يا مشک يوه ټکړا رواخله ، يا دَ ميم زبر دے يعني څرمن ، دے زنانه چه داسے قسم تپوس کړے وو دَ انصارو نه وه امام مسلم فرمائي اسماء بنت شکل وه او خطيب جزم په دے کوي چه اسماء بنت يزيد وه ، دے ته به

ئ خطيبة النساء وے او ابوداود کښ صرف اسماء ئے ذکر کړے دے ، کیدے شي چه تعدد دَ واقعے وي ، (عمدة القاري)

مظاهر حق کښ دي چه ددے نه مشک اغستل غوره دي ، امام نووي په شرح دَ مسلم کښ لیکلي دي چه حائضه دے دَ لامبلو نه پس مالوچ او یا په کپړا وغیره چه مشک پکښ خوشته شوے وي په خپل شرمکاه کښ کیدي ددے به دا فائده وي چه هغه ځائے کښ که څه بد بوئي یا وګم وي هغهٔ به ختم شي ، څوک ئے چه دا حکمت بیانوي چه دے سره دَ بچي علوق زر کیږي ضعیفه بلکه باطله خبره ده دا خو بیاصرف هغه وخت کښ پکار ده چه ښځه واده شوے وي او خاوند ئے کور کښ موجود وي لیکن دا حکم خو هرے حائضے له دے که باکره وي یعني چه نه وي واده شوے یا که خاوند ئے موجود وي یا نه وي حیض او نفاس دواړو صورتونو کښ دغه عمل مستحب دے یا بل څه داسے څیز چه بد بوئي ختمولو کښ اثر انداز اوګرځي هغه دے کیږدي که هیڅ نه وي صرف اوبه هم کافي دي لیکن سره دَ قدرت نه دَ خوشبوئي او یا دَ صفائۍ اهتمام دے نه پریږدي امام نووي ورته بیا مکروه وائي،

فرصة : دَ "فا" زیر دے تکړے ته وائي ،

مسک : (۱): مسک مشک دي دا غوره قول دے محققین او فقهاء دے له ترجیح ورکوي (۲): مسک بفتح المیم دَ څرمنے تکړه ده لیکن غوره دَ مشکو قول څکه دے چه بل روایت کښ ورسره "ممسکة" لفظ راغلے دے ،

سبحان الله : دَ تعجب دپاره دے امام بخاري په دے باب تړلے دے یعني چه دا ښکاره خبره ستانه څنګه پته ده ،

واضحه دے وي : بعض عرب که مالي لحاظ سره کمزوري وو خو دے خوشبوئے دَ محبت دَ وجے به ئے زنانو دَ مشکو اهتمام کولو ،

فوائد الحدیث

(۱): وینه لرے کول او صفاخوشبویه ځان ساتل مستحب دي ،

(۲): دَ تعجب وخت کښ سبحان الله راغلے ده ،

(۳): دَ پردے مسئلو کښ کنایات مستحب دي ،

(٤): دَ دین په مسئله کښ دَ تپوس وخت کښ شرم کول نه دي پکار ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵): پوهه کولو دپاره جواب کښې تکرار صحیح دے ،
(٦): دَ يو عالم دَ خبرے تفسير بل څوک کولے شي ، اګر چه فاصل موجود وي ،
(۷): دَ شاګرد سره نرمي پکار ده ،

(۹): "وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشد ضفر رَأْسِي فأنقضه لغسل الْجَنَابَة قَالَ «لَا إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِي عَلَى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : ام سلمه فرمائي ما تپوس اکړو اے دَ الله رسوله زه يو داسے ښځه يم چه دَ خپل سر کمسئ کلکے نړم آيا پس دا به دَ جنابت دَ غسل دَ وجے پرانځم اوئے فرمائيل نه تاله دا کار پوره ده چه ته په خپل سر باندے درے لپے واچوے بيا اوبه ټول بدن باندے واچوے نو پاکه به شے ،

تشريح : دَ حيض وينے ته الله قرآن کښې "اذي" فرمائيلے دے په کومے کندګئ چه بدن بيا بياککړيږي دے سره انساني نفس ناپاک شي او دَ وينے په چلن دا باريکے پټے کمزورے غوندے وي او چه کله زنانه ددے نه پس غسل اوکړي نو ظاهري او باطني پاکئ ورته حاصلے شي او پټهے ئے تازه تازه شي او دغه طاقت پکښې بيا راشي ،

علامه هيثمي ليکي : که اوبه لاندے دَ ويښتو جړوته رسي نو دَ کمسئ ماتول واجب نه دي او که نه رسي بيا ضروري ځکه دي چه روايت کښې دي "تحت کل شعر جنابة" بيهقي :۱: ۱۷۵ او ابن الجوزي په التناهيه کښې :٦٢١ نمبر باندے ليکلے دي : دغه دَ ډيرو اهل علمو مسلک دے خلاف ثابت دے ابراهيم نخعي لره چه مطلقا دَ کمسو پرانستل ضروري دي که اوبه جړو ته رسي يا نه رسي او دَ امام احمد مسلک کښې جنابت کښې پرانستل دَ کمسو ضروري دي او حيض کښې ضروري نه دي ، دغسے تفصيل الکاشف کښې علامه طيبي هم کړے دے او ليکي : انما يکفيک ان تحثي علي رأسک الخ" دليل دے چه غسل کښې دلک واجب نه دے ،

ان تحثي : دا مؤنث ته خطاب دے او نصب ددے دَ نون په حذف سره دے اصل ئے تحثن دے نون ترے دَ "ان" دَ دخول دوجے لرے شو او يا له فتح ورکول صحيح نه دي ، مولانا احسان صاحب مدظله په خپل تقريرکښې ليکلے دي چه مونږه افريقے ته تلے وو هلته ښځے مضبوطے کمسئ تړي او تر مياشتے پورے

ترې بيا ئې پرانځي دوباره ئې خه اوينځي او بيا ئې اوترې چه دَ سر ويخته کلک وي او بيا بيا منګز کولو ته ضرورت را نشي ليکن دَ امام مالک په نزد دَ ويښتو پرانستل فرض دي ، امام ابوحنيفهؒ فرمائي که سرې کمسئ ځان له اوکړي لکه دا بعض زلفو والے سرکار بريليان پيران کوي نو په سړو ئې پرانستل ضروري دي او امام شافعي فرمائي : نه سړو له ضروري دي او نه ښځو له دا حديث دَ امام ابوحنيفه او دَ امام شافعي دليل دے امام صاحب دَ فرق وجه بيانوي دَ زنانو دپاره کمسئ ځکه ضروري وي چه هغوي ويښته لرے کولے نشي شرعا او دَ سړو دپاره اضطراري حالت خو نشته که سړے ئې سنبهالولے نشي لرے دے کړي ،

ثم تفيضين : مبتدا محذوف ده "انت" دا جمله مستأنفه ده ، معطوف نه ده په دے وجه يو اعراب ورله ضروري نه دے ، ابراهيم نخعي دليل دَ عبدالله بن عمر دَ روايت نه پيش کوي "انه يأمر النساء اذا اغتسلن ان ينقضن رؤسهن" ليکن دا په هغه صورت کښ چه خطره وي دَ ويښتو ويخ ته اوبه نه رسي او دا به په صورت دَ استحباب حمل شي کيدے شي چه دَ ابن عمر دغه انفرادي مسلک وي(نووي شرح مسلم)

او مسلم کښ باب حکم ضفائر المغتسلة" لاندے روايت دے چه عائشهؓ ته خبر اورسيدو چه ابن عمرؓ ښځو ته په غسل جنابت کښ دَ ويښتو دَ پرانستلو حکم ورکوي اوئې فرمائيل تعجب دے ښځے په تکليف کښ اچوي دا ورته ولے نه وي چه سرونه کوډاګان کړئ ما به دَ پيغمبر عليه السلام په مخکښ بے دَ ويښتو دَ پرانستلو نه په سر درے لپے نه زيات نه اچول، که چرته دَ زنانه ويښته کمسئ نه وي بلکه پرانستے ويښته ئې وي بيا اوبه رسول ضروري دي ،

او تبين الحقائق کښ : ٦٤ باندے دي : چه فتح القدير کښ دَ صلاة البقالي په حواله ليکلي دي : (ابوالقاسم زين المشايخ برهان الائمه متوفي:٥٦٦) الصحيح انه يجب غسل الزوائب وان جاوزت القدمين" که تر خپو ئې کمسئ رسيدلے وي هم به ئې وينځي ليکن اصح نفي ده ، ځکه دَ ښځے دپاره حرج دے نو صحيح مسلک دے "ينفي وجوب بل ذوائبها" ددے وينځل ښځے له واجب نه دي دغه صحيح دي ، په غسل کښ اصل تثليث دے او دَ عائشهؓ روايت کښ دي "ونحن نفيض علي رؤوسنا خمسا من اجل الضفر" چه موږ به دَ کمسو دَ وجے پنځه ځله اوبه بيا بيا اچولے شايد دَ احتياط دپاره داسے عمل کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

او يا كله كله به ئے داسے كولو، دا دَ هغوي خپل عمل وو ، ليكن دغه روايت ضعيف دے راوي جميع بن عمرمتكلم فيه راوي دے (الدرالمنضود)

حنفي مسلک کښې دَ مسئلے وضاحت

بحرالرائق كښې علامه ابن نجيم ليكي "وَالْحَاصِلُ أَنَّ فِي الْمَسْأَلَةِ ثَلَاثَةَ أَقْوَالٍ الْأَوَّلُ الإكتفاء بِالْوُصُولِ إِلَى الْأُصُولِ مَنْقُوضًا كان أو مَعْقُوصًا وهو ظَاهِرُ الْمَذْهَبِ" صرف دَ ويښتو جرړو ته اوبه رسول او دَ ويښتو خوشتول ضروري دي كه ويښته كمسئ وي يا كه خواره وي او دا ظاهر مذهب دے يعني دَ مسترسل ويښتو وينځل ضروري نه دي دغسے ذخيره كښې دي او په دے باب كښې په دے آحاديث دلالت كوي ،
(۲): كه كمسئ وي نو تر جرړو او ويځونو اوبه رسول ضروري دي او كه پرانستلے وي بيا به اصول او مسترسل دواړوته دَ اوبو رسول ضروري دي دا دَ صاحب المحيط قول دے ، بدائع او كافي كښې هم دغه قول دے ،
(۳): اصول ومسترسل دواړه درے ځله وينځل ضروري دي سره دَ نچوړولو نه څوک وائي هر ځل به ويښته نچوړوي،
ليكن دَ احنافو اول قول مفتي به قول دے او دا دَ امام شافعي او امام مالک مسلک هم دے چه دَ ويښتو ويخ ته اوبه رسول ضروري دي دَ ويښتو پرانستل نه دي ضروري ،
او كتاب الاستذكار: ۱: ۳۱۳ باندے دي چه دَ امام مالک مسلک دَ ښځے دَ حيض او دَ جنابت دَ غسل يو شان دے چه دَ سر دَ ويښتو سپړدل نه دي ضروري ، او امام بخاري او حنابله پكښې فرق كوي چه دَ حيض ، نفاس غسل كښې سپړدل دَ ويښتو ضروري گڼړي او غسل الجنابة كښې ضروري نه گڼړي كه اوبه جرړو ته رسي او دَ حسن بصري او طاوس رحمهماالله دغه مسلک دے "ازالة النِّساء عن تخفيف شعور النِساء"
دَ حديث نه معلومه شوه چه امهاتو به كمسئ ترلے نن صبا اكثر ښځے دَ غير مسلم مشابهت او دَ فيشن دَ محبت دَ وجے "هيپي كټ" ويښته برابرول غواړي ليكن علامه محمد ناصرالدين الباني : "المرءة الملامة" كښې ليكلے دي كه دَ ويښتو كټ كولو مقصد دَ زنانه دَ غير مسلم سره مشابهت نه وي نو دَ حديث په رڼړا كښې جائز دي " او دليل كښې دَ صحيح مسلم دَ ازواج مطهراتو دغسے كولو بنياد جوړ كړے دے دَ مسلم روايت كښې دي "كان ازواج النبي صلي الله عليه وسلم يأخذن من رؤوسهن حتي

تكون كالوفرة (صحيح مسلم) ويښته به دوي كمول تر غوږونو به ئے كټ كول ليكن دَ "يأخذن"
ترجمه كټ كول ضروري نه دي احتمال لري چه دا ئے معني وي چه هغوي به دَ ويښتو داسے خاص انداز
سره هيئت جوړولو چه دَ "وفرة" شكل كښې ښكاره شي دَ طهارت دَ مسائلو سره ددے معني مناسبت شته
زنانه عموما دَ غسل په موقع داسے كوي او امام مسلم دا خپل مناسب محل او مقام كښې نه ذكر كول
زموږ دَ مدعي تائيد كوي صحيح مسلم خو په خائسته ترتيب او سهل المأخذ كيدو كښې معروف دے
دوئمه خبره داده چه ويښتو كښې وفره ، لمه ، جمه تقسيم صرف دَ سړو په ويښتو كښې راغلے دي ښځو له
نه دي دَ امهاتو ويښتو حقيقتا وفره نه وو چه دَ لړے نه به كټل وفره به معلوميدل ، كاف دَ تشبيه دے
"كالوفرة" او كه بالفرض داسے وي دَ نبي عليه السلام دَ وفات نه رستو شوے دي قاضي عياض شارح
مسلم او اضوء البيان كښې شنقيطي دَ امام نووي په تابعدارئ كښې ددے موقف تائيد كړے دے ،
ليكن دَ امام نووي استدلال كمزورے دے په دے كښې دَ تغيير لخلق الله او دَ مشابهت دَ مسئلے
شائيبه موجود ده دَ حج په موقع كښې هم هغوي ته دَ تقصير اجازت نشته عام حالاتو كښې به څنګه
اجازت وركړے شي بيا دَ نورو صحابياتو يا تابعياتو په دے عمل كول نقل نه دي دا عملي تواتر دَ
صحابيات تر دے وخته ورله كافي دليل دے او دَ ښځو دا عمل كه عين مثله نه وے دَ هغے دَ مشابهت په
ضمن كښې راتلے شي دَ مفتي اعظم دَ سعودي عرب شيخ محمد بن ابراهيم فتوي دَ عدم جواز ده (صحيفه
اهل حديث يكم جمادي الثاني ١٤١٩ بمطابق اكتوبر:١٩٩٨)

(١٠): "وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ"

ترجمه : دَ انس رضي الله عنه نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام به په يو مد باندے اودس كولو او غسل به ئے په يو صاع كولو تر پنځو پورے ،

تشريح : (دَ صاع او دَ مُد فرق)

مظاهر حق كښې دي چه نبي عليه السلام به تقريبا په سير اوبو اودس او تقريبا په څلور سيره يعني درې اوبو غسل كولو ليكن مستحب مقدار دے ، زيادت په دے جائز دے ، علامه ابن عبدالبر كتاب الاستذكار: ١: ٣١١ باندے ليكلے دي "وَجُمْلَةُ الْآثَارِ الْمَنْقُولَةِ فِي هَذَا عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَدُلُّ عَلَى أَنْ لَا

Maktaba Tul Ishaat.com

تَوْقِيتَ فِيمَا يَكْفِي مِنَ الْمَاءِ فِي الْغُسْلِ وَالطَّهَارَةِ وَلِذَلِكَ مَا اسْتَحَبَّ السَّلَفُ ذِكْرَ الْمِقْدَارِ مِنْ غَيْرِ كَيْلٍ" او دَ شاه صاحب رائے دا ده دوه قسمه صاع وو ورړوکے او غټ ، اول دَ حجازيانو او دوئم دَ عراقيانو وو په اودس او غسل کښې فکس تحديد دَ اوبو نشته سلف بے دَ تعيين دَ کيل نه مقدار ذکر کوي ليکن عبث اوبو کښې اسراف او تبذير ممنوع دے ، يو سړي سعيد بن المسيب ته اووے چه په دوه مده اوبو زه پوره سونړوم ، سعيد ورله جواب ورکړو "فما تامروني ان کان الشيطان يلعب بک" چه شيطان دربانده لوبے کوي او موسي جهني چه دَ مجاهد قول ذکر کړے دے چه هغه کومه غټه کاسه راوړه نو ما اندازه کړه ، اته ارطاله اوختله او اوئے فرمائيل چه عائشهؓ ام المؤمنين فرمائي "ان رسول الله صلي الله عليه وسلم کان يغتسل بمثل هذا" نو اته ارطاله خواو شا واخله ، څکه مثل راغلے دے باتا ريت والا تحديد نشته ، حجازيان او عراقيان دواړه هررنګه جائز ګنړي "ولا يخالف في ذالک الا ضال مبتدع وبالله التوفيق" (الاستذکار:١: ٣١٢)

دَ صاع او دَ مد تعيين

يو صاع دَ احنافو په نزد دَ اتو رطلو او دَ صاع دَ ربع نوم دے نو بيا يو مد دوه رطله جوړيږي او دا صاع کوفي دے ، صاع کوفي ٢٧٠ مُد وي نو يو صاع به پاځه درے سيره او شپږ چټانګ شو او رطل ٣٤ تولے او يوه نيمه رتئ وي يو صاع ٣١٨٤ ګرام او نيم صاع ١٥٩٢ ګرام جوړيږي او دَ نصف صاع وزن يو کلو ٦٣٣ ګرامه وي (فتاوي محموديه :١٤ : ٣٩١)

حاشيه علي المراقي شرح نور الايضاح : ٢٣٦ باندے دي چه رطل عراقي ١٣٠ درهم دے نو صاع ١٠٤٠ مقدار باندے جوړيږي نيل المرام کښې شيخ نورستاني ليکي صاع ٢٥٠٠ ګرام او مد ٦٢٥ ګرام دے دغسے الحق الصريح کښې هم دي ،

مد په انګريزي حساب يو سير وي ، علامه محمد يوسف بنوريؒ معارف السنن کښې ليکي : صاع ٢٧٠ تولے وي ،

صاع کوفي هست أي مرد فهيم : : ووصد وهفتاد وتوله مستقيم

(العرف الشذي)

صاع درے سيره او شپګ چهټانک وي څکه يو سير دَ (٨٠) توله جوړيږي او يو چهټانګ دَ (٥) تولے سره برابر وي،

معارف السنن کښې شيخ الحديث مولانا محمد يوسف بنوري ليکلے دي چه ابن تيميه فرمائي چه دَ غسل صاع ۸ رطل او دَ سرسايه هغه پنځه رطل او ثلث دے، بل روايت کښې دي نبي عليه السلام فرق سره غسل کړے دے ، امام نووي الاستذکار اول جلد کښې ليکلے دي ص: ۳۱۳ چه جمهور وائي چه دا دَ درو صاعو او سفيان بن عيينه وائي چه دَ دريو صاعو پيمانه ده ، علامه شامي ليکلے دي چه يو مُد ۲۶۰ درهم برابر وي چه په چار کښې ضرب اوخوري ۲۷ تولے وزن دَ صاع راوځي او نصف صاع ۱۳۶ توله او دَ شپږو ماشو جوړيږي (اوزان شرعيه:۳۶)

او دغه معارف السنن کښې هم دي کوم ځائے چه حساب په مثقال شوے دے ۲۷۰ تولے يو صاع دے او کوم ځائے چه په درهم شوے دے نو ۲۷۳ تولے صاع وي پوره صاع کښې صرف درے توله او نصف صاع کښې يوه نيمه توله فرق راوځي په ذريعه دَ مثقال صاع ۲۷۰ توله او په ذريعه دَ درهم ۲۷۳ جوړيږي او ص: ۳۹ باندے مفتي شفيع ليکلے دي چه مولانا لکهنوي وزن دَ صاع يو سير او پنځلس تولے په هيڅ حساب نه صحيح کيږي ، هغوي ليکي : رطل ۳ تولے او يوه نيمه ماشے رائج الوقت حساب سره جوړيږي، صاع او د مثقال په حساب ۲۷۰ توله جوړيږي او نصف صاع دَ مثقال په حساب ۱۳۵ توله او دَ درهم په حساب ۱۳۶ توله او ٦ ماشے جوړيږي ،

مسئله کښې اختلاف

حجازيان وائي چه صاع ۵ رطل او دَ رطل درئمه حصه ده (ایک صحیح ایک بټه تین) ليکن امام احمد پکښې دَ کسر حساب نه کوي ۵ رطل ئے جوړوي ، معارف ترمذي کښې دي چه دَ طرفينو په نزد صاع ۸ رطل عراقي حساب سره دے او دَ امام ابو يوسف په نزد ۵ رطل او دَ رطل درئمه حصه ده ، يعني(پانچ صحیح ایک بټه تین) او دا دَ امام شافعي قول هم دے دليل دَ دوي دادےچه "صاعنا اصغر الصيعان" او وړوکے صاع (پانچ صحیح ایک بټه تین) دے ،

دَ احنافو دليل : (۱): كان يتوضأ بالمد رطلين ويغتسل بالصاع ثمانية ارطال" او دا دَ سيدنا عمرؓ صاع وو اته رطله او دغسے دَ سيدنا ابوبکر صديقؓ هم وو (مصنف ابن ابي شيبه)

او هدايه کښې هم دي چه اته رطله دَ سيدنا عمرؓ صاع وو ، ابن همام فرمائي چه صحيح روايتونو کښې دَ وزن ذکر نشته صرف دومره دي چه دَ صاع په څلورمه حصه اوبو باندے اودس او په يو صاع اوبو به ئے غسل کولو او دَ وزن دَ نوعيت په اعتبار سره پکښې اختلاف دے ، علامه زيلعي او محقق ابن همام

Maktaba Tul Ishaat.com

په دے سلسله کښې دَ درے واړو رواياتو تضعيف کړے دے، زيلعي ليکلے دي "وضعف البيهقي هذه الاسانيد الثلاثة" مدينه منوره کښې دَ صاع ناپ ٥ رطل او ثلث وو، او سلسله دوي تر نبي عليه السلام رسوله امام ابو يوسف چه عراق ته واپس شو نو دَ امام ابو حنيفه دَ قول نه ئے رجوع اوکړه،

دَ ابن همام په واقعه ترديد

ليکي: "لاتقوم به حجة لكونهم نقلوا عن مجهولين" او دوئمه داده چه امام محمد به دَ ابو يوسف دَ قول دَ نقل کولو اهتمام کولو ليکن امام محمد نه چرته هم دَ ابويوسف خلاف دے سلسله کښې نه دے نقل، معلوميږي چه واقعه صحيح نه ده نو احنافو کښې دَ چا هم دا مذهب نه دے چه مد يو رطل او ثلث دے بلکه مد ربع صاع وزن باندے مشتمل وي تقريبا نيم سير وي،

(٢): دَ ابوداود روايت کښې دي "يتوضأ باناء يسع رطلين ويغتسل بالصاع" او په بخاري کښې دي چه په "مُد" به نبي عليه السلام اودس کولو چه دواړه حديثونه جمع کړے نو دوه رطله جوړيږي، او ٤ له چه په ٢ کښې ضرب ورکړے نو ٨ رطله جوړيږي،

(٣): دارقطني کښې دي "انه عليه السلام يتوضأ بالمد رطلين ويغتسل بالصاع ثمانية ارطال" او ابوداود کښې دي "وهو صاع ابن ابي ذئب" مطلب دادے چه دَ نبيؐ عليه السلام دَ صاع په اندازه وسره صاع وو خلقو دَ هغې مطابق څان له صاع جوړکړے وو دا مطلب نه دے چه دَ نبي عليه السلام صاع ورسره وو،

(٤): طحاوي په خپل صحيح سند سره دَ مجاهد نه نقل کړے دے چه کله مونږه دَ سيدتنا عائشهؓ خدمت له لاړو، عائشهؓ او فرمائيل "كان النبي صلي الله عليه وسلم يغتسل بملاء هذا" امام مجاهد فرمائي چه ما اندازه اولګوله تقريبا اته نهه ارطاله به وو په دے سند کښې ابن ابي عمران، احمد بن موسي بن عيسي الفقيه البغدادي مصري ثقه دے، ابن يونس ورته ثقه وائي او محمد بن شجاع البغدادي ابوعبدالله الثلجي متكلم فيه راوي دے ليکن دَهٔ سره ددهٔ شيوخ ملګري دي يو سليمان بن بكار ابوربيع المصري او دوئم احمد بن منصور شيخ دَ ابن ماجه او دَ ابوعوانه الاسفرايايني باره کښې دارقطني ليکي ثقه دے، او دَ موسي بن عبدالله الكوفي نه مسلم، ترمذي، نسائي، ابن ماجه روايت کړے دے او نسائي کښې ٨ رطل ذکر شوے، او دَ خپل عادت مطابق الحق الصريح کښې ليکلے دي چه دَ احنافو سره هيڅ قوي دليل نشته سيوا دَ قول دَ مجاهد نه، او که دَ نسائي روايت کښې نقل راغلے دے مخکښې ذکر اوشوفکس تحديد سره

باتا ريتي نشته چه "لاوكس ولاشطط" تخميني مقدار كافي دے، او دَ امام ابوحنيفه دَ مسلک سره مطابق دَ حجاج بن ارطاة، حکم بن عتيبه او امام احمدؒ يو روايت هم دے،

(۱۱): "وعن معاذة قالت قالت عَائِشَةَ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ بيني وَبَينه وَاحِد فَيُبَادِرُنِي حَتَّى أَقُولَ دَعْ لِي دَعْ لِي قَالَت وهما جنبان"

ترجمه : معاذه وائي چه عائشه افرمائيل ما او نبي عليه السلام به دَ يو لوښي نه لامبل چه زمااو دَ نبي عليه السلام په مينځ کښې پروت وو نبي عليه السلام به دَ په اوبو کښې مانه تلوار کوله تر دے چه ما به دا وے ماله پکښې پريده ماله پکښې پريده ، او معاذه فرمائي چه نبي عليه السلام او عائشهؓ دواړه جنبان وو،

تشريح : (دَ معاذه لږه پيژنګلو)

معاذه دَ ميم ضمه ده اشعه کښې شيخ عبدالحق ليکي چه ثقه ده ، تابعيه او عابده ده ، دَ ام المؤمنين عائشهؓ او سيدنا عليؓ نه روايت کوي ، معاذه بنت عبدالله العدويه ام الصهباء البصريه ده دَ صله بن اشيم ښځه ده ټوله شپه به ئے په عبادت رونړوته به دے وئيل "عجبت لعين تنام وقد علمت طول الرقاد في القبر" تعجب دَ هغے سترګے نه ده کوم چه اوده کيږي او خه ورته پته ده چه اوږد خوب په قبر کيږي ، ۵۸۳ کښې وفات شوے ده ، المفاتيح کښې دي چه دَ پلار نوم ئے عبدالله وو ، مولاة عبدالله بن ابي بن سلول، او مرقات کښې دي چه ددے نه قتادة هم روايت کوي ،

كنت اغتسل ورسول الله صلي الله عليه وسلم : دا واو دَ مفعول معه دے زمونږ دَ دواړو غسل دَ معيت په صفت متصف وو مخکښې روستو به نه وو ما به ورته وے چه ماله اوبه پريږده ، دَ غسل وخت کښې دَ ضرورت مختصره خبره صحيح ده ، امام نووي ليکلے دي "اما تطهير الرجل والمرءة من اناء واحد فهو جائز باجماع المسلمين" ، واما تطهير المرءة بفضل الرجل جائز بالاجماع ايضاء واما تطهير الرجل بفضلها جائز عندنا ومالک وابي حنيفة وجماهير العلماء" برابره خبره ده که تخليه وي يا نه وي ، ليکن دَ اجماع دعوي ځکه نه ده صحيح چه دَ امام احمد او دَ داود ظاهري خلاف پکښې دے ، ځکه حافظ ابن حجر ليکي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ اجماع نقل کول صحیح نه دي ، دَ عبدالله بن سرجس روایت طحاوي کښې شته ، نهي رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یغتسل الرجل بفضل المرءة والمرءة بفضل الرجل ولکن یشرعان جمیعا"

تقریر ترمذي کښې شیخ الهند : واغترفا جمیعا" روایت ذکر کړے دے لیکي چه دا هله مکروه تنزیهي دے چه کله ښځه باشعوره او وینبه نه وي دَ نسائي روایت کښې راځي "کان الرجال والنساء یتوضؤون في زمان رسول الله صلي الله عیه وسلم جمیعا"

التمهید : ٤: ١٧٩ باندے دَ عائشه ؓ ام المؤمنین روایت دے چه ان رسول الله صلي الله علیه وسلم کان یغتسل من اناء هو الفرق من الجنابة" او بیا ئے دا روایت ذکر کړے دے او ددے تقریبي تحدید ئے په درے صاع سره ئے ذکر کړے دے شاه ولي الله لیکلے دي چه دَ بعض عالمانو قول دے چه سړے دَ ښځے سره برغ غسل کوي دا ناجائز دي امام بخاري په دے رد کوي "باب غسل الرجل مع امرءته" دا ترے هم معلومه شوه دَ یو بل دَ پردے اندامونو ته کتل دَ ښځے او دَ خاوندجائز دي ددے خلاف روایاتو کښې ضعف دے ، المفاتیح کښې دي چه حدیث کښې دلالت دے په دے خبره چه جُنب کومو اوبو کښې غسل کوي غُوپه اوهي لاس ئے پاک څاک دے که سړے وي یا ښځه ، مظاهر حق کښې دَ ابن همام نه نقل کوي ، مرقات ، الکاشف ، اشعه وغیره کښې دي که دَ یو بے اودسے یا جنبے یا دَ حائضے لاس پاک وي او په لوخي کښې لاس واچوي او چونکه کښې اوبه راواخلي او لاس باندے واچوي نو اوبه مستعمل یعني ناقابل استعمال نه دي ځکه چه هم ددغے طریقے ورته ضرورت وو لیکن جنبي که پکښې خپے اوغورزوي بیا دَ استعمال قابل نه دي ځکه دے صورت کښې ددۀ څه مجبوري نشته ، او اشعه کښې دا هم دي چه دغسے خبره شمني دَ محیط نه نقل کړے ده ،

التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث لیکلے دي دا حدیث دَ ائمه ثلاثو بغیر دَ امام احمد نه دلیل دے چه دَ یو بل نه پاتے اوبۀ باندے اودس جائز دے ،

مسئله کښې دَ اختلاف نوعیت

کتاب الاستذکار:١: ٣٤٠ باندے امام نووي لیکي : (١): ولید بن مسلم وائي چه دَ امام اوزاعي نه مے اوریدلے دي دَ ښځے په پاتے اوبو په استعمال کښې چه کله حائضه نه وي او جنابت نه وي څه باک نشته ،(٢): امام مالک او امام لیث بن سعد فرمائي چه نورے اوبه نه وے اودس به پرے کوي او تیمم به نه کوي ،

دَ سلفو مسئله کښې پنځه اقوال دي

(۱): يو خو دَ اوزاعي قول شو دا حسن او شعبي هم وائي ،
(۲): دَ يوبل پاتے اوبه استعمالول مکروه دي ، دا حميد بن عبدالرحمن الحميري وائي او دَ سيدنا ابوهريره روايت په منع دلالت کوي ،
(۳): که دَ ښځے په پاتے اوبو اودس کوي مکروه دي او ښځه که دَ سړي په پاتے اوبو اودس کوي اجازت دے ، دا حسن بصري او سعيد بن المسيب فرمائي،
ليکن جمهور سلف او ائمة الفتوي هر حال کښې دَ جواز قول کوي که اجتماعاً وي يا جدا جدا او امام احمد فرمائي چه سړے دَ ښځے په زياتو اوبو اودس نه شي کولے چه کله ئے ځانله جدا لامبلے وي او که سړے دَ سړي په پاتے اوبو او که ښځه دَ سړي يا دَ ښځے په پاتے اوبو او يا دواړه برغ اودس کوي جائز دي ، او ابن عمرؓ چه دَ حائض او دَ جنبب په پاتے اوبو اودس مکروه دے دا اثر مصنف عبدالرزاق کښې شته او قاضي عياض فرمائي چه دا حکم منسوخ دے ، دَ ابن عمر ، ابن عباس جابر ، ميمونه ، اوذ عائشهؓ دَ رواياتو دَ واقعے، (اکمال المعلم: ۱: ۱٦۷) ته رجوع اوکړه،
(٤): که دواړه پاکئ کښې شروع برغ اوکړي باک نشته ليکن ښځه که يواځے والي کښې پاکي حاصله کړي بيا ئے په پاتے اوبو باندے اودس کښې څه خير نشته ، عکرمه او عطاء دغسے فرمائي او دَ امام احمد قول دے ،
(٥): هر يو دَ يو بل بقيه اوبو پاکي مطلقا حاصلولے شي که برغ ئے شروع کړے وي يا په خلوت کښې يو کس طهارت حاصل کړے وي دا دَ جمهورو قول دے او په دے معني متواتر آثار راغلے دي ، ، مصنف ابن ابي شيبه :۱: ۳۳ باندے اثر ذکر دے ، عبدالله ابن عباس فرمائي دواړه طريقے تهيک دي "هي الطف بنانا واطيب ريحاً"
قاضي شوکاني ليکلے دي "وأحسن منه ما جمع به الحافظ في الفتح من حمل النهي على التنزيه بقرينة أحاديث الجواز الآتية"

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثاني

(١٢): "وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا قَالَ «يَغْتَسِلُ» وَعَنِ الرَّجُلِ يَرَى أَنه قد احْتَلَمَ وَلم يَجِدُ بَلَلًا قَالَ: «لَا غُسْلَ عَلَيْهِ» قَالَتْ أم سَلَمَة يَا رَسُول الله هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ تَرَى ذَلِكَ غُسْلٌ قَالَ «نَعَمْ إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَرَوَى الدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ إِلَى قَوْله: «لَا غسل عَلَيْهِ»"

ترجمه : عائشه رض فرمائي تپوس اوکړے شو دَ نبي علیه السلام نه دَ هغے سړي باره کښ چه په کپړا ئے دَ منئ اثرات وي او خوب ورته نه وي ياد نبي علیه السلام اوفرمائيل غسل به کوي او دَ هغے سړي باره کښ هم تپوس اوشو چه دَ خوب نه پاسي او احتلام ورته ياد وي او لوند والي نه دے موندلے نو اوئے فرمائيل چه غسل پرے نشته ، ام سليم اوفرمائيل که ښځه لوند والے اويني نو هم غسل به کوي ، نبي علیه السلام اوفرمائيل آو ښځے هم دَ سړو غونډے دي په دے مسئله کښ ،(ګويا دَ سړو نه خيري کړے دي او راويستلے شوے دي) دَ پيدائش او طبيعت په اعتبار سره ښځے دَ سړو غونډے حسابيږي، او ابن ماجه او دارمي کښ تر دے ځائے دے ، چه لا غسل عليه په هغه غسل نشته،

تشريح : مظاهر حق کښ دي چه اکثر علماء فرمائي چه څو پورے دا نه وي معلومه چه په تهوپ سره مني وتلے ده غسل نه واجبيږي ليکن احتياطا غسل مستحب دے هكذا في الاشعه ، او امام ابوحنيفه نه دا نقل شوي دي چه صرف په لوند والي ليدلو غسل واجب دے اګر چه دَ تهوپ دَ کيفيت خبره يقيني نه وي ، که څوک جريان کښ اخته وي بے دَ هوشه مني اوتله غسل واجب نه دے صرف اودس ئے مات شو او که ښځه خاوند يو ځائے بستره باندے ملاست وي چه ويخ شي بستره باندے لوند والے محسوسوي ليکن يو کس ته دا پته نشته چه دَ چا مني لونده ده نو مني که سپينه ښکاري دَ سړي معلوميږي هغه به غسل کوي او که زيړه ښکاري نو په ښځه غسل واجب دے ليکن دلته هم احتياط دادے چه دواړه دے غسل اوکړي انتهي ،

معارف السنن کښې دَ منذري په حواله ليکلے شوے دي خوب کښې احتلام اوويني چه ويخ شي هيڅ اثر دَ احتلام نه مومي دَ مجتهدينو اتفاق دے چه په دے سړي غسل نه دے واجب ، شاه ولي الله دَ موجبات الغسل په عنوان کښې حجة الله کښې ليکلي دي ۱۷۹ چه حکم په لوند والي باندے دائر دے په خوب نه دے ، ځکه لوندوالے داسے ښکاره څيز دے چه انضباط او قاعده کښې راتلے شي او خوب ليدل ډير کرته هير وي ،

دَ مسئلے وضاحت

معارف السنن کښې دي که څوک لوند والے محسوسوي او احتلام ورته نه وي ياد دَ ابن عباس ، عطاء ، شعبي ، سعيد بن جبير او نخعي رحمهم الله په نزد به لامبي ، او امام احمد ورله غسل مستحب ګڼړي او ډير اهل علم وائي چه څو پورے دا دَ توپ وهونکي اوبو هغه خاص لوند والي باندے علم نه لري غسل واجب نه دے،

شقائق : هيثمي فتح الاله کښې معني ليکي نظائرهم في الخلق والطبع" ځکه بي بي حواء دَ سيدنا آدم دَ کسے پختئ نه پيدا شوه او دَ هغے نه راوتله عربئ کښې شقيق ځکه رور ته وائي چه دَ يو ځائے نه راوتلے وي، بيا دَ يونظيرئے په بل نظير باندے اوکړو ، ځکه دا مسئله ده چه کله دَ ښځو ځان له حکم په آثارو او په دليل خاص نه وي موجود چه مواضع مخصوصه دي نو دَ سړو او دَ ښځو حکم يو دے انتهي ، دغه الکاشف کښې هم دي ،

يا ابن امی ويا شيقيق نفسي : : انت خليتنی الامر شديد

ددے نظير دَ الحاق نه دَ قياس حجت هم معلوم شو علامه طيبي ليکی "وفيه من الفقه اثبات القياس والحاق حکم النظير بالنظير" دغسے مرقات کښې هم دي،

بلل : بله په کسرے او دَ فتحے دَ باء سري راځي ، شرح ابن عقيل کښې دي

واني لتعروني لذكراك هزة : : كما انتفض العصفور بلله القطر

ستا دَ ياد وخت کښې داسے دَ خوشحالئ نه خوزيدل راځي لکه چه چنچړ په باران کښې لوند شي نو خوشحالئ وزرے تيږوي ، معني ئے لوند والے دے ، دَ خوبه چه پاسے او جامه ئے لونده وي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

فقهي وضاحت

صاحب بحر دے مسئله کښې دولس صورتونه ذکر کړے دي او علامه شامي دوه زيات کړے دي ټول څوارلس صورتونه دي په دے کښې بعض صورتونه داسے دي چه بالاتفاق پکښې غسل واجب دے او بعض کښې بالاتفاق واجب نه دے او بعض کښې اختلاف دے دَ طرفينو په نزد واجب او دَ امام ابويوسف په تحقيق کښې نه دے واجب،

ووه (۷) صورتونه چه بالاتفاق پکښې غسل واجب دے

(۱): يقيني خبره ده مذي ده،

(۲): شک ئے دَ منئ دے،

(۳): ودي به وي،

(٤): شک ئے په مذئ يا ودئ کښې دے،

(٥): شک په منئ، مذئ يا ودئ کښې دے، تولو صورتونو کښې احتلام دے،

(٦): يقين دَ منئ دے،

(۷): احتلام ورته ياد دے يا نه دے ياد، په دے، اوو(۷) صورتونو کښې بالاتفاق غسل واجب دے کوم احاديثو کښې چه دَ غسل دَ وجوب حکم دے په دے صورتونو به حمل کيږي،

په څلورو صورتونو کښې بالاتفاق غسل واجب نه دے

(۱): يقين دَ ودئ دے احتلام ئے ياد دے،

(۲): نه دے ياد،

(۳): شک مذئ يا ودئ کښې دے، او احتلام نه دے ياد،

(٤): يقين ئے دَ مذئ دے ليکن احتلام ئے نه دے ياد،

اختلافي صورتونه

په پاتے درے صورتونو کښې دَ طرفينو په نزد غسل واجب دے احتياطا او دَ امام ابو يوسف په نزد نه دے واجب، هغه درے صورتونه دادي،

(۱): شک ئے دے چه مني ده که مذي،

(۲): شک ئے دے مني ده که ودي ،

(۳): شک په منئ ، مذئ یا ودئ کښې دے ، او احتلام ئے یاد نه دے ، (معارف ترمذي از استاد بخاري شیخ عبدالسلام شیخ الحدیث مولانا عبدالرحمن بهبودي رحمه الله رحمة واسعة ص:۲۹۶)

دَ حدیث مقام

قاضي شوکاني نیل الاوطار کښې لیکلے دي چه عبدالله بن عمر العمري مختلف فیه راوي دے امام احمد فرمائي "صالح" دے او روایت ئے ترے کړے دے او فرمائي لابأس به ، او یحیي بن معین فرمائي "یکتب حدیثه" او یعقوب بن شعبه وائي ثقة او صدوق خو دے لیکن حدیث کښې اضطراب دے او ابن مدیني ورته ضعیف وائي چه دَ حسن او دَ صحت دَ درجے لږ کم دے انتهي،

امام ترمذي لیکي : عبدالله ضعفه یحیي بن سعید من قبل حفظه"

(۱۳): "وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ وَجَبَ الْغُسْلُ. فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْتَسَلْنَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه"

ترجمه : دَ عائشه نه روایت دے فرمائي : چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي کله چه دَ سړي دَ ختنے ځائے دَ ښځے دَ سنتولو ځائے نه تجاوز اوکړي غسل واجب شو ما او نبي علیه السلام داسے اوکړل نو مونږ اولامبل ،

تشریح : ددے دور بے دینه ، ملحدین دَ مستشرقینو دَ غلط تقلید دَ وجے داسے قسم خصوصي مباحثو باندے تنقید کوي او دَ دین اسلام دَ جاهلیت دا کمال دَ خپل ناقص رائے په وجه ناقص رنگ کښې پیش کول غواړي ، دَ نبي علیه السلام دَ ډیرو ببیانو یوه داده چه دَ امهاتو او خصوصا ام المؤمنین عائشے په وساطت داسے قسم باریک او ضروري مسائل صنف نازک ته اورسي ، دا عیب نه دے بلکه دَ اسلام دَ جاهلیت او دَ کمال ډیر بهترین تصویر دے ،

دا حدیث په مختلفو الفاظو سره راځي کله فرمائي "اذا جاوز الختان الختان" او ابن ماجه کښې داسے دي ، اذا التقي الختانان وتوارت الخشفة فقد وجب الغسل" دَ نبي علیه السلام قول او عمل ئے ذکر کړے دے روایت کښې دَ اهمیت په طور دواړه ذکر دي ، اوله حصه دَ حدیث مرفوع او دوئمه حصه ئے موقوف ده

Maktaba Tul Ishaat.com

قول ئے مرفوعا او فعل ئے موقوفا ذکر کړے دے ، "جاوز" ئے اوفرمائیل او دَ ابن ماجه په روایت کښې دَ "وتوارت الحشفة" تذکره اوشوه دلیل دے چه مس بلا ایلاج سره غسل بالاجماع نشته په داسے موقع دَ کنایاتو په طور نبي علیه السلام دَ مس ، التقاء او دَ "مجاوزه" دَ ادب الفاظ ذکر کوي او شرح معاني الاثار کښې امام طحاوي داسے روایت راوړي "الزق الختان الختان" عربو کښې دَ زنانو دَ ختنے رواج وو اوس هم قطر او لیبیا کښې پرے عمل کیږي ،

(١٤): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «تحت كل شَعْرَة جَنَابَةٌ فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشْرَةَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَالْحَارِثُ بْنُ وَجِيهِ الرَّاوِي وُهُوَ شيخ لَيْسَ بذلك"

ترجمه : دَ ابو هریره رضی الله عنه روایت دے فرمائي چه نبي علیه السلام اوفرمائیل : دَ هر ویښته لاندے جنابت دے نو اووینځئ ویښتو لره ، او پاک کړئ بدن لره ،

تشریح : پلیتي تعبدي امر دے ددے اثر مرتبه دادے چې ټول بدن راګیر کړي او ناپاک ئے کړي او دَ بدن هرے یوے حصے ته ئے اثر رسي او دَ پلیتئ لرے کولو دپاره شریعت اوبه مقرر کړے دي نو دغه حالت کښې دا اوبه دَ بدن هرے حصے ته رسول ضروري دي که دَ ویښته برابر ځائے اوچ پاتے شو غسل نه کیږي ، مرقات کښې ملاعلي قاري دَ "وانقوا البشرة" په وضاحت کښې لیکلے دي "فلو منع الوسخ یعني کالطین الیابس والعجین والشمع وصول الماء لم یرفع الجنابة" که دَ خیري یا دَ اوچے ختے ، اوړو او دَ شمع دَ وجے اوبه او نه رسیدلے جنابت نه ختمیږي که یو ویښته اوچ پاتے شو نو جنابت باقي دے ، نن صبا بعض زنانه خاص داسے قسم ناخن پالش لګوي چه دَ هغے دَ وجے اوبه نه رسي دے سره هم غسل اونهٔ شو ،دا دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مستدل په دے مسئله کښې دے چه خوله کنګالول په غسل دَ جنابت او مضمضه په غسل دَ جنابت کښې فرض ده ځکه خوله کښې دننه څرمن ده چه وینځل ئے فرض دي او پوزه کښې هم ویښته وي نو غرغره او پوزه کښې مبالغے سره اوبه رسول فرض دي ، قرآن کښې هم فاطهروا ، صیغه دَ مبالغے ده چه کوم ځائے ته دَ اوبو دَ رسولو احتمال کیدے شي که ښځه وي یا سړے اهتمام والتزام ورله ددے پکار دے صرف ښځے له دومره تخفیف دَ ډیرو علماؤ په نزد شته که دَ ویښتو ویخونو ته اوبه رسیدلے او ویښته لوانده شو کافي کړځي ،

علامه عيني ليکلے دي چه مني ذ ټول بدن نه اوځي يو محل سره خاص نه وي اوبه به هم ټول بدن ته رسولے شي ځکه واجب غسل کښې ټول بدن ته اوبه رسول ضروري دي ،

تحت كل شعرة جنابة : علامه طيبي ليکي : وصف ئے په ظرف (تحت) سره معلل کړو او حکم ئے په دې په "فاء" سره مرتب کړو چه "فاغسلوا البشر" ظاهري څرمن اوينځئ او په دے ئے ذ "فأنقوا" عطف اوکړو ، کله ويختو ته اوبه اونه رسي لکه ذ خيرو غونډے مانع اوګرځي ځکه ذ بدن ذ خيرو نه صفا کول پکار دي او اوبه رسول ضروري دي چه ذ مکلف ذمه داري يقيني طور باندے ختمه شي.

هو شيخ ليس بذالک : اشعة اللمعات کښې شيخ ليکلے دي چه په حارث بن وجيه ذ ډير عمر ذ وجې غفلت او هير راتلل ، او ډير قوي په حفظ او ذ روايت په ضبط کښې نه وو انتهى،

علامه هيثمي فتح الاله کښې ليکلے دي : حفظ وضبط وعدالت کښې کامل نه وو غفلت او نسيان پرے غالب وو نو روايت ئے ضعيف دے او دغسے علامه طيبي هم ليکلے دي چه ذ توثيق مقام ته نه دے رسيدلے نو روايت ذ دوي قوي نه دے ، او ملاعلي قاري ليکي : اګر چه "شيخ" ذ تعديل دپاره استعماليږي ليکن "ليس بذالک" چه ئے ورسره جخت اووے دا په دوي جرح ده ، او التقرير الرفيع کښې ذ صاحب مرقات قول نقل کوي چه ثقه له عدالت او ضبط ضروري وي که عدالت وي ضبط نه وي عادل شو ليکن ذ دوئم صفت ذ عدم ضبط ذ وجے پرے جرح کيږي په دے وجه دلته جمع بين المتنافيين نه ده راغلے ، يو په يو اعتبار او دوئم په بل جهت سره ،

کشف المناهج کښې دي حارث بن وجيه منکر وهو ضعيف ،

سنن ابي داود کښې دي "قال ابوداود الحارث بن وجيه حديثه منکر وهو ضعيف"

ذ منکر دوه قسمه دي ،

(۱): راوي پکښې مستور الحال ، سيئ الحفظ او ضعيف وي ، ذ خپلو بعض مشايخو نه په روايت کولو کښې منفرد وي او متابع يا شاهد ئے هم نه وي داسے قسم حديث باندے امام احمد وغيره ذ منکر اطلاق کوي ،

(۲): ددغے ذکر شده امورو نه باوجود ذ ثقاتو مخالف وي دے ته منکر وائي ، دلته منکر په اوله معني دے ځکه چه حارث بن وجيه راوي ضعيف دے او مالک بن دينار ددے حديث په روايت کښې منفرد دے او مالک بن دينار ذ محمد بن سيرين نه په روايت کولو کښې منفرد دے (فتح الودود)

Maktaba Tul Ishaat.com

او قوت المغتذي كښ دي ابو محمد البصري ضعيف من الثامنه ،

(١٥): "وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعَرَةٍ مِنْ جَنَابَةٍ لَمْ يَغْسِلْهَا فعل بها كَذَا وَكَذَا من النَّار» . قَالَ عَلِيٌّ فَمن ثَمَّ عاديت رَأْسِي ثَلَاثًا فَمن ثَمَّ عاديت رَأْسِي ثَلَاثًا فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي ثَلَاثًا(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَأَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يُكَرِّرَا: فَمن ثَمَّ عاديت رَأْسِي)"

ترجمه : دَ عليؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل : چا چه پريخودلو دَ يو ويښته برابر ځائے په غسل کښ چه هغه ئے او نه وينځلو نو هغه ته به داسے داسے عذاب ورکولے شي ، عليؓ اوفرمائيل په دے وجه چه ما خپل سر سره دشمن اوکړه ، درے ځله ئے دغسے اوئيل ،

تشريح : ارواء کښ دَ سيدناعليؓ روايت کښ دي : من ترک موضع الشعرة من جنابة لم يصبها الماء فعل الله به كذا كذا قال عليؓ فمن ثم عاديت شعري رواه ابوداود " ليکن دا ضعيف روايت دے ، څوئے نے عبدالله هم ضعيف دے او زاذان دا روايت مرفوعا دَ سيدنا عليؓ نه نقل کوي بيا خپله خبره کوي ددے سند ضعيف دے ، عطاء بن سائب باره کښ دا پته لګي چه دا روايت دَ هغے وخت دے چه دے کړ وړ شوے وو او که اختلاط نه مخکښ ترے روايت کوي په دے وجه دَ عدم امتياز روايت ضعيف دے او علامه صاحب فرمائي "هذا خلاصة التحقيق في هذه الرواية" المفاتيح کښ دي دَ عليؓ غوندے عمل دَ سيدنا حذيفهؓ هم وو ،

بنده ناچيز وائي :چه تهذيب الاثار :١: ٤٦ کښ دي "خرج حذيفة وقد طم رأسه" دَ سر کوډا کول شرع کښ بغير دَ حج او دَ عمرے نه هم ممنوع نه دي،

علامه هيثمي وائي دَ دشمنئ دَ ډيرے مبالغے ښکاره کولو دَ وجے تشبيه دَ يو دشمن سره ورکړے شوے ده ،سر کوډا کولو کښ دَ اهتمام وجه داده چه هسے نه چه يو ويخته ته اوبه اونه رسي بعض وائي چه ددے عمل نه دَ سر کوډا کولو سنت څکه معلوميږي چه دَ هغے خليفه راشد عمل دے چه مونږ دَ هغوي دَ تابعدارئ او دَ هغوي دَ سنتو په جامو کښ دَ نيولو حکم دے ليکن دے کښ ظاهر کښ نظر څکه په دے خبره کښ دے چه دا دَ پيغمبر عليه السلام مخکښ کول ئے يا دَ هغوي علم نه باوجود نه انکار

ثابت نه دے (ليكن ظاهره داده چه دَ ځومكي دا كاروائي به دَ هغوي نه څنكه پټه پاتے شوے وي، سيدنا عليؓ خو كور كښې پټ ناست نه وو امداد)

بيا ليكي چه په جواز دلالت كوي او په سنتيت نه كوي نو دَ استحباب دَ حلق باندے دلالت نه كوي اودَ نبي عليه السلام نه دَ حج نه بغير دَ سر حلق نه دے ثابت ،

او دوي دَ سر ويختو ساتلو دَ حفاظت عادت نه وو دا به ترے خواره واره كيدل دَ اوبو دَ نه رسيدو پره ورسره وه ځكه ئے داسے كړے دي ، انتهي،

شيخ عبدالحق اشعه كښې ليكلے دي دا دشمني كنايه ده دَ حلق دَ دوام نه ،

علامه طيبي ددے حديث نه دَ سر دَ كوډا كولو په سنتيت دليل نيولے دے "وفيه أن المداومة علي حلق الرأس سنة؛ لأنه صلى الله عليه وسلم قرره علي ذلك، ولأنه رضوان الله عليه من الخلفاء الراشدين المهديين الذين أمرنا بإتباع سنتهم، والعض عليها بالنواجذ" ليكن ابن حجر او ملاعلي قاري دا رد كړے ده ، باقي خلفائے راشدينو عادت دَ پريخودو وو ، او ملاعلي قاري فرمائي چه دَ ډيرے جماع كولو په وجه به ورته دَ جنابت دَ غسل ضرورت زيات راتلو نو سنت علوي به وے ، ابن قدامه ويخته پريخودل غوره گنړي او دَ امام احمد يو روايت كښې سيماهم التحليق دَ وجے هغوي دَ كراهت قول كړے دے ليكن علامه سره ذو العلامه امام نووي فرمائي ضروري نه وي ، علامه ابن تيميه مجموع فتاوي :۱۱: (الف) ص: ۷۲ باندے ليكلے دي "أن يحلق رأسه في غير النسك لغير حاجة، ولا على وجه التقرب والتدين، فهذا فيه قولان للعلماء هما روايتان عن أحمد أحدهما : أنه مكروه، وهو مذهب مالك وغيره . والثاني : أنه مباح، وهو المعروف عند أصحاب أبي حنيفة والشافعي الخ" ليكن ظاهره ده چه دلته سيدنا عليؓ سر كوډا كړے دے دَ حاجت دَ وجے ، شيخ ابن تيميه قيد "لغير حاجة" لګولے دے ،

مظاهرحق كښې دي سر هميشه كوډا كول جائز دي ليكن اولي او سنت طريقه دَ ويختو ساتل دي ځكه چه نبي عليه السلام او خلفائے راشدينو به ويخته پريخودل صرف حج كښې به دوي سر كوډا كولو،

لم يغسلها : مرقات كښې دي (۱): "ها" ضمير دَ مضاف اليه په اعتبار سره دے علامه طيبي داسے وائي او دا احتمال شته چه ضمير مضاف اليه ته راجع شي لكه "اولحم خنزير فانه رجس" دے "ه" خنزير مضاف اليه ته راجع دے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(١٦): "وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَضَّأُ بعد الْغسْلِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ"

ترجمه: دَ عائشه ؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام به اودس نه کولو دَ غسل نه بعد ،

تشريح: دَ غسل نه بعد دَ اودس حکم

دا حديث دَ احنافو دليل دے څکه کله دَ غسل نه پس دَ جامے اچولو وخت کښې لاس "ذکر" سره اولګي ليکن نبي عليه السلام روستو دَ غسل نه چرته اودس نه دے کړے که دَ غسل نه روستو څه مونځ يا بل څه عبادت ئے نه وي کړے ، غسل ثواب ګنړل بدعت دے او دَ شوافعو مسلک دادے که شرمګاه سره دَ غسل نه پس لاس اولګيدو نو بيا به اودس کوي ، صاحب الحق الصريح ورسره دَ شهوت قيد لګوي او بيا روستو اودس ضروري ګنړي او علامه طيبي فرمائي چه دَ غسل نه مخکښې اودس باندے اکتفاء پکار ده ، په غسل کښې دَ هغوي دَ مسلک مطابق چه کله نيت دَ اودس اوکړے نو چه کله حدث اکبر ختم شو نو اصغر خپله ختم شو ، بيا چه څوک اودس کوي دا اسراف دے دَ اوبو استعمال کښې ، په دے اجماع ده چه دَ غسل دَ فراغت نه بعد اودس مستحب نه دے ليکن امام احمد فرمائي چه کوم کس ته حدث اصغر و اکبر دواړه لاحق شي په ده اودس او غسل دواړه واجب دي که دَ غسل نه مخکښې اودس نه وي کړے دَ غسل نه پس به اودس کوي ، او دوئم روايت دَ امام احمد دادے که په غسل کښې دَ جنابت او دَ حدث دواړو نه دَ طهارت نيت اوکړے نو دَ غسل په ضمن کښې اودس هم اوشو ليکن که مستقلا اودس کښې او غسل کښې دَ طهارت عن الحدث نيت نه وي نو بيا په دهٔ اودس واجب دے ،

علامه شامي ليکي: نوح آفندي وئيلے دي چه روستو دغه اودس مکروه دے ، او طبراني في الاوسط کښې دَ سيدنا ابن عباس روايت نقل کړے دے "من توضأ بعد الغسل فليس منا" ليکن علامه محدث العصر بنوري معارف السنن کښې ليکلے دي چه دَ اوسط په سند کښې سليمان بن احمد راوي ته ابن معين دروغژن او ضعيف وائي او عبدان ئے توثيق کوي ، دغه غسل دے دَ روستو اودس نه مستغني جوړوي ،

علامه شامي ليکي : ظاهره داده چه دغه روستو اودس مستحب نه دے که دے دَ غسل نه تر فراغ
اودس کښې وو که مخکښې دَ فراغت نه بے اودسه شو بیا ورله اودس دوباره کول پکار دي او دا خو
واضحه ده که مذي وغیره اوځي نو اودس ضروري کیږي ،

(١٧):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ وَهُوَ جُنُبٌ يَجْتَزِئُ بِذَلِكَ وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي نبي علیه السلام به چه غسل کوو نو خپل سر به ئے په خطمي سره وینځلو چه کله به جنب وو هم په دے به ئے کفایت کولو فقط اوبه به ئے په سر باندے نه اچولے،

تشریح : خطمي څه ته وائي بکسر الخاء او فتح خاء دواړو سره راځي یو خوشبو والا څیز دے دارو کالو کښې استعمالیږی بعض وائي باغي پنیرک ته وائي چه پکښې تورے تورے دانے وی لیکن دا بل د صفائي بوټے معلومیږی چه اوبو کښې واچوی نو اوبه څه لاړے غوندے کوی بیا چه په دے کله ګیر او سر وینځي نو ځرمن څه صفا کیږی او ویخته نرم شي دا تخم ئے هم دغے کار کښې استعمالیږی تخم خطمي ورته وائي فقهاء هم وائي چه د مړی غسل کښې ددے استعمال دِ اوشي خاص کر د سر او د ګیرو ویختو د وینځلو په وخت کښې دے کښې دَ مړی خصوصیت نشته دا به پخوا غسل کښې عام معمول وو اوس خلق صابن او شیمپو استعمالوی

مونږ چه واړه وو بعض خلقو به خوشبویه ګلالئ خټه د صابن غوندِ جوړه کړه اوپه هغے به ئے لامبل معلومه شوه د سر ویخته په خطمي وینځل سنت عمل دے او په دغے خطمي ګډے اوبو باندے به ئے اکتفاء اوکړه بیا به ئے خالصے اوبه نه اچولے (الدرالمنضود)

التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث دوه مطلبه خودلی دی (١) په سر به ئے خطمي چه اولګو دغسے به ئے پریښوده لرګو به ئے نه یخ والے راولی (٢)د خطمي سره ګډے اوبو پسے به ئے بیا خالصے اوبه په ځان واچولے

مظاهر حق کښې دی چه دغه خطمي پدے اوبو پسې به ئے په سر نورے اوبه نه اچولے دا مخکښې اوبه به ئے کافي ګڼړلے لکه عام طور خلق اول سر اوینځي بیا غسل چه اوکړی دوباره په سر اوبه واچوی نبي علیه السلام به داسے نه کول او د خطمي أجزاء به کم وو د اوبو په سیلان کښې به څه قسم فرق نه

Maktaba Tul Ishaat.com

رانلو انتهی دغسے اشعة اللمعات کښې دي غالباً خطمی در آب کتری بود چنانکه تغیر نمی داد آب را از طبیعش که سیلان است بیرون نمی آورد دغسے ملا علي قاري رحمة الله علیه هم لیکلي دي مفاتیح کښې دي چه خطمي به ئے گډه په سر اولګو دوی به جنب وو په نسبت سره پاتے نورو اندامونو ته، نه د سر په اعتبار سره سر به ئے د جنابت نه وتلے وو علامه طیبي لیکي د خلقو معمول دا دے چه اول بدن په اوبو او خطمي صفا کوی بیا بیت د جنابت د لرے کولو اوکړی او په سر اوبه اچوی نبي علیه السلام د دے خطمي د لر کولو دپاره بوے اوبه نه دي استعمال کړے،

مسئله: که د اوبو طبعي میلان او بهیدل باقي وي او د زمکے د جنس نه اوبو کښې داسے پاک څیز واچوی چه سیلان کښې فرق نه راځي د دے په لامبلو اکتفاء جائز ده اوبه حنفي مسلک کښې پاکے وي د احنافو دا حدیث دلیل دے دغسے په داسے اوبو کښې د نبي علیه السلام غسل کول ثابت دي چه د اوړو د سېبن والي اثر پکښې ښکاریدو لکه د نسائي روایت کښې دي او امام نسائي په دے مستقله ترجمه قائم کړے ده لکه د مړي غسل کښې د بیرے د پاڼو استعمال معمول وو دغه هم د حنفي مسلک تائید کوی

د شوافعو جواب

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه لیکي دي چه د مړي غسل تنظیف له وي د تطهیر دپاره نه وي لیکن بذل المجهود کښې دي چه د احنافو په نزد د مړي لامبول غسل تطهیر دے ځکه د مرګ رانلو سره سړے ناپاک شي لکه نور هغه حیوانات چه بهیدونکے وینه پکښې وي مرګ سره ناپاک شي لیکن د مړي خصوصیت دا دے چه د دوی دا عزت دے چه په غسل پاکیږي او ملا علي قاري رحمة الله علیه لیکلي دي چه د دے روایت په سند کښې رجل مجهول دے ګویا ضعیف دے او ابن رسلان د حدیث دا تاویل کوي کیدے شي چه د نبي علیه السلام په سر باندے خطمي به کیخودل بیا به دوی پدے اوبه نه لامبولے لیکن خلاف ظاهر به دا ځکه وي چه د خطمي اوبو د استعمال فائده به هله وي چه څکښې دا اوبو کښې واچوے چه لاړے پیدا کړي اصل کښې دغه لاړے صفائي کښې مقصدي کار ادا کوي دا تاویل هم نه صحیح کیږي چه کیدے شي روستو پیغمبر علیه السلام صفا اوبه پرے بیولے وي ځکه حدیث کښې دي یجتزئ بذلك ولا یصب علیه الماء او دا تاویل هم صحیح نه دے چه خطمي والا اوبو

استعمال د جنابت نه علاوه بل يو مسنون غسل كښ كولو ځكه چه صراحةً حديث كښ وهو جنب الفاظ موجود دی،

(١٨):وَعَن يعلى: أَنَّ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ الله وَأَثْنى عَلَيْهِ وَقَالَ: «إِن الله عز وَجل حيِيّ حيِيّ ستير يحب الْحيَاء والستر فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: «إِنَّ اللّهَ سِتِّيرٌ فَإِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَغْتَسِلَ فَلْيَتَوَارَ بِشَيْءٍ»

ترجمه :يعلي فرمائي چه يقينا نبي عليه السلام يو سړے اوليدو چه غسل ئے كولو په ميدان كښ نو نبي عليه السلام ممبر ته اوختلو او دَ الله حمد ئے بيان كړو او ثناء ئے بيان كړه او بيا ئے اوفرمائيل چه يقينا الله تعالي حياناک دے او پرده اچونكے دے او خوښوي حيا او پردے لره نو كله چه غسل كوي په تاسو كښ يو تن نو ځان دے پټ كړي يعني په پرده كښ دے كوي ، او يو روايت كښ راځي يقينا الله تعالي پرده اچونكے دے هركله چه تاسو كښ څوک دَ لامبلو اراده اوكړي نو ځان دے پټ كړي په څه شي سره ،

تشريح : يعلٰی څوک دی

المفاتيح كښی دی چه دده د پلار نوم اميّه ابن أبي عبيدة بن همام دے دے حليف د قريشيانو دے دۀ په يوم الفتح باندے اسلام قبول كړے دے اخرجه ابن سعد ٤ ـ ١٤ مرقات كښی ملا علی قاری رحمة الله عليه يعلٰی بن مره او يعلٰی بن اميه دواړه ليكلے دی او دواړه صحابه كرام دی اوليكلے ئے دی چه مصنف ئے تذكره اسماء الرجال كښی كړے ده ليكن ددے تقييد ئے نه دِ كړے چه كوم يو دے ليكن ددے سند د سياق سباق نه معلوميږی چه يعلٰی ابن اميه دے او سند كښ د عطاء نه عطاء بن ابی رباح مراد دے

يعلٰی بن امية د سيدنا عثمان رضی الله عنه د طرف نه يمن كښ ګورنر وو او د سيدتنا عائشه او طلحه او زبير رضی الله عنهم اجمعين سره جنګ جمل ته تلے وو د عثمان رضی الله عنه د وينے د بدل اغستلو دپاره. دده نه تقريبًا شل يا نولس حديثونه نقل دی ابن سعد وائی د مكے مكرّمے مفتی وو ډير سخی او

Maktaba Tul Ishaat.com

مالداره وو او د بادشاهانو غونډے به ئے په ملګرو خرچ کولو محمد بن سعد ئے په څلورمه طبقه کښې ذکر کوی دده پلار ، او خور تولو اسلام قبول کړے وو د رور نوم ئی سلمه وو ابو عبیده معمر بن المثنیٰ فرمائی چه د دوی وصیتونه او اقوال زرین دی یو پکښ دا دے چه مزاح رونق ختموی مذمت ددے نه روستو راځی او مروت ختموی

طائف ، حنین او تبوک کښ د نبی علیه السلام سره په جهاد کښ ملګرے وو

دویم شخصیت یعلیٰ بن مرة

دوی په فتح مکه ، حدیبیه او طائف کښ شرکت کړے وو د دوی په شاګردانو کښ عطاء بن سائب دے د نبی علیه السلام معمول دا وو چه په یو عمل به ئے چا له تنبیه ورکوله په ممبر به ئے عمومی مسئله بیان کړه د چا نوم به ئے نه اغستلو کله چه یو کس ئے ښکاره غُسل باندے صحراء کښی اولیدو د پردے ساتلو اهمیت ئے بیان کړو هغه کس ته خپله احساس اوشو نبی علیه السلام به په داسے موقع ما بال اقوامٍ یفعلون فرمائیل (پردے خیال ساتل) نبی علیه السلام یو غسل کولو نولور بی بی فاطمے ترے د کپړے پرده تاؤ کړے وه علامه طیبی الکاشف کښی لیکلے دی که په بربنډه داسے ځائے کښی څوک غُسل کوی چه دَ خلقو د نظره پټ وی او د چا د راتلو امکان نه وی نوجائز دی لیکن غوره نه دی ابن حجر هم لیکلے دی مرقات کښی دی ومن ثم قال ائمتنا یحرم کشف العورة فی الخلوة بغیر حاجة چه بے ضرورته عورت په خلوت کښی ښکاره کول هم حرام دی علامه عینی ۳-۵۷ باندے لیکلے دی چه د ابوداؤد مرسل روایت دے ولا تغتسلو فی الصحراء الا ان تجدوا التواری او علامه ابن تیمه د امام احمد نه روایت نقل کړے دے چه بے د لنګ نه اوبو ته لامبلو له داخلیدل مکروه دی او امام اسحق هم وائی چه ازار افضل دے او سیدنا حسن او حسین به اوبو ته د لنګ اچولو نه بعد داخلیدل دواړو به فرمائیل انَّ للماءِ مکّانًا اوبو کښی هم خپل اوسیدونکی وی د بخاری روایت کښی دی بینا ایوب یغتسل عریانا دغسے په خلوت کښی چه څوک نه وو د سیدنا موسیٰ علیه السلام نه دغسے غُسل ثابت دے اګر چه شرائع من قبلنا دی لیکن زمونږه شریعت کښی ددے تردید دغسے صورت کښی نشته (فحمدالله وأثنی علیه) عطف تفسیری دے انَّ اللهَ حیٌّ ستّیْرٌ چه کله الله حیاء او پرده خوخوی نو تخلقو باخلاق الله داسے وخت کښی ځان په پرده کښی د ساتلو اهتمام پکار دے

فلیتوار : د تواری نه دے پرده کول قرآن کښې دی یتواریٰ من القوم (بشیئ) د تعمیم دپاره دے که کېږ
وی یا په غته کته یا د کورے ونے پرده وی خصوصاً د نوم نه تر ځنګنونو پورے د عورت اهمیت مسلّم
دے انسان له پکار دی چه د بل د پاره دَ حرامو د واقع کیدو د سبب نه اجتناب اوکړی مرقات کښې
ضابطه ده السبب فی الحرام ولو من الغیر حرام چه له د ګناه د واقع کیدلو موقع ورکول نه دی پکار
علامع هیثمی فتح الاله کښې لیکلے دی چه خلوت کښې غوره تستر ځکه دے که څوک نه کوری الله
خو وینی حیاء پکار ده او که څوک کوری وجب علیه التستُّر منه اجماعاً علٰی ما حُکِیَ سورۃ هود کښې
آیت ۵ کښې دی أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ مفسرینو په توجیهاتو کښې یو توجیه کړے ده
حیاءً من الله او د الله نه حیاء کول ډیر ښکلے صفت دے ځنګه چه الحق الصریح کښې دی که جنب د
غسل اراده لری خوهلته خلق موجود وی دلته به دا شخص عورت نه ښکاره کوی لکه ترجیح به زیات
واجب لره وی کوم چه پرده وه او د غسل په ځائے به تیمُّم اووهی انتهٰی احناف وائی چه د استنجاء په
وخت کښې خلق وی او عورت ته د کتلو احتمال وی نو استنجاء دِ نه کوی د عورت حفاظت ضروری
دے په دے اعتراض کول هم بے ځایه دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِث

(۱۹):عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: إِنَّمَا كَانَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةً فِي أَوَّلِ الإِسْلَامِ ثُمَّ نُهِيَ عَنْهَا،،

ترجمه : ابي بن کعب فرمائي : چه یقینا اوبه دَ اوبو نه دي یعني غسل صرف دَ مني په وتلو کښ دے نو
دا حکم دَ اسلام په اول کښ وو بیا دے نه منع اوکړے شوه ،

تشریح : دَ رخصت معنٰی دلته سهولت هم شوے دے ابن حجر هیثمی مطلب بیانوی تخفیفاً علی الناس دا
خلق خالص د جاهلیت نه نوی نوی اسلام کښې داخلٔ شوے وو که په یو ځل د اول ځل نه په دوی
ناساپه دغه مشقتونه راشی هسے نه چه نفرت اوکړی او انکار اوکړی او په دے امت خصوصی رحمتِ
الٰهیه دے چه داسے قسم حرج او مشقت ترے تدریجاً لرے کوی تردے چه عادت شی او د معرفت د
دوی زړونو کښ د غوښے او د وینے سره ګډ شی بیا به عمل په خوشحالئ او اطمینان کوی اوله مرحله

Maktaba Tul Ishaat.com

کبې متعه او شراب حلال وو بیا منسوخ شو اول صرف د توحید په مسئله مکلف وو روستو بیا نمونځ او نور فرائض درجه بدرجه راتلل (ثم نهی عنها) یعنې ددے په مقتضی د عمل نه منع شوه او حکم منسوخ شو د حدیث او د مسئلے وضاحت مخکښې تیر شوے دے

(۲۰): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي اغْتَسَلْتُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَصليت الْفجْر ثمَّ أَصبحت فَرَأَيْتُ قَدْرَ مَوْضِعِ الظُّفُرِ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كُنْتَ مَسَحْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ أَجْزَأَكَ» . رَوَاهُ ابْن مَاجَه»

ترجمه: علي رض فرمائي: راغے یو سړے نبي علیه السلام ته او اوئے فرمائیل وي ما غسل اوکړو دَ جنابت نه او دَ صبا مونځ مي اوکړو بیا مے په خپل بدن کښې دَ نوک برابر ځائے اولیدو چه هغے ته اوبه نه وے رسیدلے نو نبي علیه السلام اوفرمائیل: که تا په هغے باندے لاس راخکلے وي نو دا به ستا دپاره کافي وو،

تشریح: د دغے سړی چه دَ نوک هومره ځائے اوچ پاتے شوے وو که په دغه وخت ئې په دے لوند لاس راښکلے وو کافي وه مظاهر حق کښې دي که د دغه ځائے د اوچ پاتے کیدو احساس ورته څه وخت پس اوشو نو چه هغه ځائے دِ لوند کړے وو بیا به دِ دَ نمونځ قضا راجاروباسلے وو علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکی چه غالبه دا ده چه که لوند لاس پرے دغه وخت راکاږے ځکه کافي کیږی چه د اوبو هغه تتابع بدن باندے پاتے شو نو دغه اوچ ځائے په دغه نیت چه یواځے لوند شي کافي کیږی اگر که لږ وخت پکښې تیر شي او د نمونځ اعاده پرے لازم ده

مسئله ترے معلومه شوه چه دلته غسل کښې موالات ضروری نه دے

که جنابت او بے اودسئ کښې صرف امام نمونځ اوکړی او دَ مقتدیانو طهارت کامل وی نو حنفی مسلک کښې د مقتدیانو نمونځ هم او نه شو ځکه چه الامام ضامن حدیث دے او د مسئلے تفصیل به ان شاءالله په خپل ځائے راشي،خلاف ثابت دے غیر مقلد له،

(۲۱): وَعَن عبد الله بن عمر قَالَ كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سبع مرار وَغسل الْبَوْل من الثَّوْب سبع مرار فَلَمْ يَزَلْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ حَتَّى جعلت الصَّلَاة خمْسا وَالْغسْل من الْجَنَابَة مرّة وَغسل الْبَوْل من الثَّوْب مرّة. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه : دَ عبدالله بن عمر نه روایت دے فرمائي : وو مخکښې پنځوس مونځونه او غسل دَ جنابت نه رو وره (۷) کرته او کپړے دَ ورووبولو نه وینځل ووه کرته وو بیا نبي علیه السلام دعاء غوښتله تر دے چه مونځونه پنځه شو او غسل دَ جنابت نه یو کرت شو او وینځل دَ کپړو دَ ورو بولو نه یو کرت شو،

تشریح : معراج کښې ورله پنځوس نمونځونه ورکړے وو بیا منسوخ شو دیته نسخ قبل از عمل وائی قرآن کریم کښې د سورة المجادله آیت نمبر ۱۲ باندے دی فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً بعض علماء وائی دلته نسخ قبل از عمل راغلے دے لیکن تفسیر مدارک او انوارالقرآن تفسیر کښې دی چه سیدنا علی په دے صرف عمل کړے وو او تفسیر مدارک کښې لس تپوسونه او جوابونه او لس دراهم ذکر شوے دی مرقات کښې دی ولعل هٰذا بأعتبار بعض الامم قاضی شمس الدین التعلیق الفصیح کښې لیکلے دی فرض هذه الأحكام وان لم يجئ نوبة العمل عنها دا پنځه د کمیت او دا پنځوس د کیفیت او د فضیلت په اعتبار سره دی غُسل د جنابت باره کښې مرقات کښې دی فرض یو ځل او سنت درے ځله اوبه اچول دی

مسئله کښې اختلاف

که جامه پلیته شی نو د امام شافعی او د امام مالک په نزد ددے حدیث مطابق یو ځل وینځل کافی دی د امام احمد نه دوه روایته دی اووه (۷) ځله اویو ځل مغنی کښې حنبلی مسلک د شوافع غوندے دے او ابن العربي دَ امام احمد مسلک داسے ذکر کړے دے چه ټول نجاستونه اوه ځله وینځل ضروری دی او احناف غلبه ظن له اعتبار ورکوی او درے ځله وینځل او هر ځل نچوړول دا ظاهرالروایة دے

Maktaba Tul Ishaat.com

تقسیم

(۱) هغه نجاست چه عین لری لکه خشنره دا به وینځې څو پورے چه د هغې دغه عین او تشخص لر نه شی

(۲) شراب،وینه اود بولو یعنی دَ مائعاتو اثر..... درے ځله مستحب دی، یو ځل واجب دی او د امام احمدؒ بو روایت دا دے چه د سپی د شونډ خکته کولو کنبی چه دَ بعضو په نزد اوه ځله وینځلے کیږی دلته دوی وائی چه دغسے اوه ځله به وی

(۳) که په کپړه لکیدلے وی ډیرے اوبه پرے واچوه او د اصح قول مطابق نچوړول شرط نه دے (کتاب المجموع ۳-۴۲۱)

دلیل د احنافو

درے ځله باندے دلیل هغه حدیث دے چه هغے ته حدیث المستیقظ من المنام وئیلے کیږی موهومی نجاست کنبی حتّٰی یغسلها ثلاثاً دے دلته به په دلالت النص سره درے ځله پکار وی او دویم دلیل د ولوغ الکلب روایت دے التقریرالرفیع کنبی دی چه دے مسئله کنبی د دریو تقدیر لازم نه دے ظنِّ غالب او رأی د مبتلی به،، د احنافو مسلک دے لیکن غالب عادت دا دے چه درے ځله کافی کیږی اشعةاللمعات کنبی دی "ومذهب ما در نجاستے که مرئی است سه بار ششتن واحب است" که نجاست په نظر راځی ځما مذهب دا دے چه درے ځله وینځل واجب دی حدیث د تطهیر د باب سره د احنافو په نزد تعلق لری التقریر الرفیع کنبی شیخ الحدیث صاحب لیکلے دی چه حدیث د احنافو خلاف نه دے ځکه هغوی دَ دریو قول نه دے کړے او احناف نچوړول هم شرط نه ګرځوی

د حدیث مقام

هدایة الرواة کنبی علامه البانی لیکلے دی ضعیف دے ، ضعیف ابوداؤد کنبی ذکر کړے دے مرقات کنبی لیکلے دی سنده حسنٌ وان کان فی سنده ایوب بن جابر و قد اختلفوا فیه لیکن مسند کنبی ایوب بن جابر او عبدالله بن عصمه دواړه ضعیف دی، یک نه شد دو شد

(کتاب المجموع ۴۲۱-۲) باندے روایت ذکر کړے دے روستو ئی لیکلے دی "امّا حدیث ابن عمر فرواه ابو داؤد و لم یضعفّه لکن فی اسناده ایوب بن جابر و قد اختلفوا فی تضعیفه" یعنی مختلف فیه راوی

دے او علامه هيثمی رحمة الله عليه فتح الاله كښى ليكلے دى و سنده حسن كما قال بعض الحفاظ، او وجه دا ذكر كوى چه ابوداؤد ئے تضعيف نه دے كړے د هغه په نزد به صالح الاحتجاج وى اګرچه ايوب راوى په تضعيف كښى اختلاف شته

او علامه البانى ارواء صـ۸۷ باندے ليكلے دى "لا اعلم حديثاً مرفوعاً صحيحاً فى الأمر بغسل الجنابة سبعًا" او كتاب الأحكام للقرطبى صـ۷٤ باندے مسئله (۹۰) وقد روى عن ابن عمر قال كانت الصلوٰة خمسين والغسل والجنابة سبع مرار وغسل البول من الثوب سبع مرار قال ابن عبدالبر اسناد هٰذا الحديث عن ابن عمر فيه ضعف ولين وان كان ابوداؤد قد خرّجه ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب مُخَالَطَة الْجُنب وما يباح له

د مخالطت نه مراد دلته ناسته پاسته، خبرے اترے، سلام کلام، خوراک څکاک او ددے غوندے امور دی په احادیثو کښې دے تړلو ته ئې جائز وئیلے دی اشعةاللمعات کښې او المفاتیح کښې دی تلل راتلل، خوراک څکاک او داسے امور چه د معاشرت سره دوړ تنو مینځ کښې جاری کیږی او اشعة کښی شیخ عبد الحق رحمة الله علیه لیکلے دی "جُنُب" بضمتین وئیلے کیږی صاحب جنابت ته وائی او لیکی چه واحد تثنیه جمع ، مذکر اومؤنث تول پکښې برابر دی علامه طیبی رحمة الله علیه الکاشف کښې لیکلی دی چه داسے کس به د مسجد دَ نزدیکت، نه لرے کولے شی چه تر څو پاک شوے نه وی څکه ورته جنب وائی علامه هیثمی ؒ فرمائی چه د جنابت اصلی معنٰی لرے والے دے په حدث اکبر والا کس ئے اطلاق کیږی دے دَ مسجد او د نمونځونو نه لرے وی او کتاب المجموع کښې دي ١٢٤-٢ لانه یجتنب الصلوٰة و المسجد والقرآن ویتباعد عنها،

(١):عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جُنُبٌ فَأَخَذَ بِيَدِي فمشيت مَعَهُ حَتَّى قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَقَالَ: «أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ» فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ: «سُبْحَانَ اللَّهِ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ» . هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَلِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ: فَقُلْتُ لَهُ: لَقَدْ لَقِيتَنِي وَأَنَا جُنُبٌ فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ حَتَّى أَغْتَسِلَ. وَكَذَا الْبُخَارِيِّ فِي رِوَايَة أُخْرَى،

ترجمه : ابو هريره ؓ فرمائي : ما سره نبي علیه السلام په داسے حال کښې میلاو شو چه زه جنب ووم زما لاس ئے اونیولو او زه دَ هغه سره روان شوم تر دے چه هغه کیناستو نو زه غلے غوندے اوکشیدم او خپل کور ته راغلم او غسل مے اوکړو بیا راغلم او هغه لا ناست وو نو نبي علیه السلام اوفرمائیل ته کوم ځائے وے اے ابو هریره؟ نو ما ورته واقعه ذکر کړه نو نبي علیه السلام اوفرمائیل سبحان الله مومن ناپاک نه وي ددے روایت دا الفاظ دَ بخاري دي او مسلم هم ددے غوندے روایت نقل کړي او زیادت کوي دا چه هغه اوئیل زه دَ ناپاکئ حالت کښې ووم نو دا راته خه ښکاره نه شوه چه زه تاسو سره داسے حالت کښې کینم څو پورے چه اونه لامبم،

تشریح : د نجاست قسمونه

یو نجاست حقیقی دے او دویم نجاست حکمی دے حقیقی نجاست په دوه قسمه دے یوچه په نظر راځی او دویم چه په نظر نه راځی اول پاخانه او دویم واړه بول دی بیا نجاست حکمی هغه هم وی چه زړه ئے پلیت دے مشرک دے یو حدثِ اصغر او بل حدث اکبر دے په دے کښې کلام مصافحه هم جائز دی او د هغه د جهوټے استعمال هم جائز دے،

دا جنابت دَ نجاست کوم قسم دے

دا نجاست حکمی دے ، حقیقی نه دے ، په دے وجه دَ جنب خوَله نه وی پلیته ، او که جسم سره خوَله اولګی جسم نه پلیتیږی تلل راتلل پکښې ځکه صحیح دے چه کله کله د نبی صلّی الله علیه وسلّم معمول دا ذکر شوے دے "کانَ یطوف علٰی نسائه" هغوی به د یو کور نه بل کور ته تلو

عبدالله بن عباسؓ فرمائی چه که څوک د جنب سره کینی ده سره ئے که بدن یا جامه اولګی نه پلیتیږی او که یو ځائے کینی هغه زمکے ته د جنابت اثر نه رسی او که جنب خپل لاس اوبو کښې غوپه کړی اوبه نه پلیتیږی دَکافر خُله د امام شافعی رحمة الله علیه په نزد پلیته ده او ابن حزم د مشرک خوله نجس ګنړی "اِنَّمَا الْمُشْرِکُوْنَ نَجَسٌ" او وائی کافر نجس العین دے لیکن دده افعال نجس دی اندامونه نه دی نجس او عقیده کښې نجاست دے لیکن صحیح دا ده چه خوله ئے ځکه پاکه ده که اهل کتاب ښځے سره یو مسلم نکاح اوکړی نو د ښځے خوله به ورسره لګی او د مسلمے او د کتابیے حکم پاکوالی کښې یو شان دے معلومیږی ژوندے سړے نجس العین نه دے او سړی ښځه کښې فرق نشته او وفد د ثقیف نبی علیه السلام مسجد کښې دیره کړی وو او خیمے ئے ورله برابر کړے وے ابن قیم رحمة الله علیه هم لیکلے دی ،

معجم کبیر ۳۹-۵ باندے دي "ان وفد ثقیف لما قدموا علی النبی صلی الله علیه وسلم انزلهم المسجد لیکون ارقّ لقلوبهم الخ" (منذری وائی چه د حسن سماع د عثمان نه اختلافی ده د کافر د بدن په طهارت دلیل دے،

او علامه ابن قیم زاد المعاد:۳: ۳۱ :چه کله دَ مغیره بن شعبه قوم باره کښې مغیره درخوراست اوکړو نبي صلي علیه اوفرمائیل "لَا أَمْنَعُكَ أَنْ تُكْرِمَ قَوْمَكَ، وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ حَيْثُ يَسْمَعُونَ الْقُرْآنَ"

Maktaba Tul Ishaat.com

ومسئلة البير جحط وضاحت

كه يو جنبي كوهي كښې غوپه اواله چه بوقه راؤباسي د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مسلک کښې اوبه او سړے دواړه پليت دى "ج" رمز د نجاست دے

(۲) د امام ابو يوسف رحمة الله عليه په نزد دواړه زَړه په زَړه دى "ح" علامت د دواړه د بقاء ده په خپل حالت

(۳) او د امام محمّد رحمة الله عليه په نزد سړے هم پاک شو او اوبه هم پاکے دى "ط" علامه د طهارت ده امام محمّد رحمة الله عليه فرمائي چه سړے ځکه پاک دے چه اوبه اچول دده په نزد شرط نه دے غوپے سره پاک شو اواوبه ځکه پاکے دى چه دده نيت د قربت، نه وو او دده په نزد نيت د قربت شرط دے او امام ابويوسف رحمة الله عليه فرمائي چه ځکه د سړى نجاست نه دِ ختم شوے چه "صب" نه دے شوے او د هغه په نزد دا شرط دے او اوبه په خپل حال ځکه دى چه د قربت او د ازالة الحدث نيت نشته او امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمائي اوبه پليتے شوے دي ځکه په اول ملاقات د بعض اندام نه ئے فرض ساقط شو يعني سړے ناپاک دے اوبه ورسره متصلے دى ليکن سړے ځکه نجس پاتے دے چه د پاتے اندامونو په اعتبار سره حدث پاتے دے او د روايا‌تو سره اوفق دغه روايت دے چه سړے پاک شو ځکه د انفصال نه مخکښې اوبو له د استعمال حکم نه شي ورکولے کيدے او شرح المعجم کښې دى چه دا روايت صحيح دے هدايه کښې يو قول د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه نه دا ذکر کړے دے "لان الماء لا يعطى له حكم الاستعمال قبل الانفصال وهو اوفق الروايات عنه" يعني امام صاحب سړى ته پاک وائي سړے چه تر څو اوبو کښې دننه وو اوبه نه دى مستعملے پوره بنيادم پاک شو او چه د کوهي نه بهر را اوتلو نو پاک راوتلے دے په دے وجه سړے پاک حسابيږى او د هغه د راوتلو نه پس اوبه مستعملے اوګرځيدلے وروستو ناپاکے شوے او د امام اعظم رحمة الله عليه د جلالت شان سره دغه موافق ده او په دے باندے فتوىٰ ده او دا قياسي مسئله غلطه نه ده مفتىٰ به قول باندے اعتراض نشته،

د جنابت نه پس د نبی علیه السلام معمول

(۱) کله به د جنابت د لاحق کیدو نه پس به ئے غسل کولو اوده کیدو به بلکه کله کله دَ هر بی بی دَ همبستریٔ نه پس ئے هم زر زر جُدا جدا لامبلے دی،

(۲) دَ جنابت نه پس به دوی صرف اودس اوکړو او اوده به شو

(۳) دَ جنابت نه پس به بے اودسه اوده شو کله نبی علیه السلام د شپے اوله حصه کښی جماع کړے ده بیا دوی غسل کړے دے او که د شپے آخر کښی به ئے همبستری اوکړه نو بیان جواز له به دوی فوری غسل پریښودو عام عادت ئے د اودس کولو نه پس د اوده کیدو وو،

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه یو روایت

یو روایت د امام صاحب دا دے چه "غسالة الکافر نجس" بدائع کښی دا روایت ذکر کړے دے ځکه چه دده بدن دَ نجاست حقیقه او حکمیه نه نه خالی کیږی او د مؤمن غساله که ژوندے وی یا مړچه په ده حقیقی نجاست نه وی لګیدلے پاکه ده او تعلیقا امام بخاری د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه یو موقوف روایت ذکر کړے دے "لا تنجسو موتاکم فأن المسلم لا ینجس حیًّا ولامیتا" مسلمان په ژوند اومرګ دواړو کښی نه پلیتیږی دلته سوال دے چه کله مؤمن ژوند او مرګ دواړو کښی پاک دے پلیت نه دے بیا غسل ورله څه دپاره ورکوی ددے جواب دا دے چه دَ استرخاء المفاصل دَ وجے غسل راځی نه دَ نجاست دَ وجے ځکه سرے په مرګ نه پلیتیږی د کرامت د وجے که پلیت ګرځیدو په غسل سره به بیا دَ نورو حیواناتو غوندے نه پاکیدو او عراقیان وائی غسل ځکه واجب دے چه مرګ سره نجاست راغلے دے نه دَ حدث په وجه ځکه چه انسان کښی بهیدونکے وینه په مرګ سره پلیته اُوګرځی ځکه که کوهی کښی څوک مړشي اوبه پلیتیږی

فانسللت : زه غلے غوندے اوکشیدم المفاتیح کښی دی خرجت بتدریج حتیٰ لایشعر استحیاء فیه" اشعه کښی دي "سل" برکشیدن از نیام " او انسلال" بیرون آمدن از میان چیزے" په دمه دَ حیاء دَ وجے غلے را اوتلم چه پته ورته اونه لګی د هغوی نه مِ حیاء کوله دا پټ خویدل دلیل دے چه عقیده مِ ده چه علمِ غیب پیغمبر ته نشته الرّحل : چه کوم ځائے د مسافر سامان وی (انّ المؤمن لاینجس) (ینجس) باب سمع یا کرم دے قوت المغتذی علامه عینی د سیدنا ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه روایت

Maktaba Tul Ishaat.com

نقل کړے دے په جنابت حالت کښې څه نبي علیه السلام اولیدم ماته را نزدے شو ما ورته عرض اوکړو جنابت کښې یم او ئے فرمائیل انَّ المسلم لاینجس معلومه شوه چه دَ مؤمن جوټه او لاړے او پس خورده پاک وی اګرچه مسلمان بے اودسه، جنابت کښې ولے نه وی که مړ وی او که ژوندے دا د احنافو مسلک دے او د امام شافعي رحمة الله علیه دوه قولو کښې هم اصح طهارت دے یعنی مؤمن د نجاست نه ځان بچ کوی کافر دغه شعار او امتیاز نه لری او خطابِ مؤمن سره وو ځکه ئے مؤمن یا مسلم اوفرمائیل د مؤمن تخصیص دَ کافر د مقابلے دَ وجے نه نه دے شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلے دی چه انسانی بدن د جنب په خوله پلیت نه ګرځي جوټه ئے پاکه ده

دَ عبدالله بن عباس رض او د حسن بصری رح د اقوالو مطلب

عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی اعیانهم نجسة کالخنزیر او حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی من صافحهم فلیتوضّأ قوت المغتذی کښې دی په مبالغه حمل دی چه لرے والے نه ترے څه وی چونکه ددے د خباثت د وجے لامبی نه او اودسونه نه کوی (معالم التنزیل)

زمخشری د ابن عباس رضی الله عنه قول نقل کوی چه د سپو او د خنزیرانو غوندِ کښې دی او دا زیدی امام هادی په ظاهر حمل کوی (این کنت) دا کان تامه دے خبر ته ضرورت نشته که کان ناقصه وی تقدیر د عبارت داسے دے قلت له بسبب بیا راوباسه لأغتسال

مسئله : جنابت کښې دومره تاخیر راوستل چه مونځ وخت ترے فوت شی ګناه کبیره دے او زر غسل ځکه پکار دے چه دَ مرګ پته نه لګی معجم طبرانی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه روایت شاه انور شاه رحمة الله علیه عرف الشذی کښې ذکر کړے دے "من مات جنبا بدون طهارة لا تشترک الملائکة فی جنازته"

فوائد الحدیث

(۱) فأخذ بیده د تکیه په طور یا د اِکرام د وجے او یا دَ مانوسیت او دَ مینے دَ وجے که یو استاد او امام دَ شاګرد لاس اونیسی صحیح دی

(۲) مستحب دی چه طالب علم د استاد مجلس کښې په پاک و صاف هیئت سره شرکت کوی

(۳) کوشش دِ کوی چه څه وګم ترے رانشی

(٤) جنب سره مصافحه صحیح ده
(٥) جنابت کښې تلل تهیک دی په دے روایت بخاری باب ترلے دے "باب الجنب یخرج ویمشی فی السوق"
(٦) استاد ته که دَ شاګرد د یو عمل نه څه خدشه واقعه شی پکار دی چه تپوس ترے اوکری چه خبره صفا شی (٧) فوری غسل ضروری نه دے کله چه نمونځ ترے نه فوت کیږی

(٢):عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أنه قَالَ: ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نم»

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائي : عمر فاروق نبي علیه السلام ته اوفرمائیل : ماته دَ شپے جنابت کیږي نو نبي علیه السلام اوفرمائي؛ چه اودس اوکړه او ذکر اوینځه او اوده شه .

تشریح : د اودس کولو فائده
(١) دا د پاکئ او د لذت باعث ګرځی
(٢) دَ جنابت په اثر کښې دے سره څه تخفیف غوندے راځی ما لا یدرک کله لا یترک کله
(٣) د ابن خزیمه روایت کښې دی "انشط للعود" دوباره جماع کولو دپاره اودس نشاط راولی چا ترے صرف لاس ، خُله وینځل یعنی لغوی اودس اغستلے دے کله به ئے شرعی او کله به ئے لغوی اودس کولو د نسائی په روایت کښې لغوی اودس ذکر دے او د ابن عمر رضی الله عنه په روایت کښې چه دی اودس به ئے نه کولو لکه طحاوی او امام مالک رحمة الله علیه لیکلے دی "ولا یغسل رجلیه" شاید دا به ئے یو ځل نیم د عذر د وجے پریښودلے وی جمهور ئے په شرعی اودس حمل کوی

مسئله کښې اختلاف

(١) ائمه اربعه ، امام اوزاعی ، لیث ، ابن راهویه ، ابن مبارک او محمّد رحمة الله تعالٰی علیهم اجمعین فرمائی که جنب په دویم ځل همبستری یا خوراک کول غواړی شرم ګاه دِ اوینځی اودس دِ اوکړی د سیدنا علی او د ابن عمر رضوان الله علیهما نه دغسے نقل شته التمهید کښې ورته مستحب وئیلے دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) سفیان ثوری ، حسن بصری ، حسن بن حی ، ابن المسیب او امام ابویوسف رحمة الله تعالى علیهم فرمائی باک ئے نشته که بے اودسه اوده کیږی

(۳) ابن حبیب او داؤد ظاهری فرمائی چه د اودس وجوب دے بعض وائی ابن حزم ورته واجب نه وائی دَ ابن حزم او د داؤد خپلو کښی دے مسئله کښی اختلاف دے او ابن العربی د امام مالک او د امام شافعی نه عدم جواز نقل دے لیکن دا صحیح په قول د ابن حجر نه دی ځکه چه دا دَ امام مالک او د امام شافعی مذهب نه دے که د عدم جواز دا مطلب وی چه دواړه طرفه برابر نه دی بیا صحیح دی یعنی اودس کول او نه کول برابر نه دی لیکن مطلقا عدم وجود نه صحیح کیږی او ددے دواړو په نزد اودس مستحب دے بعض وائی بے اودسه اوده کیدل کراهت تنزیهی وئ چه خلاف اولٰی وی اګر چه پیغمبر له نه دی

توضأ واغسل ذكرك ثم نم : واؤ ترتیب دپاره نه دے المفاتیح کښی دی واؤ د ترتیب د بیان د قصد دپاره نه دے نبی علیه السلام سیدنا ابن عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل یا ئے عمر رضی الله عنه ته اوے چه ځوی ته دے داسے اوایه، نفس الامر کښ شرمګاه وینځل مخکښ او اودس روستو دے،

(۳)وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُبًا فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ ينام تَوَضَّأَ وضوءه للصَّلَاة

ترجمه : دَ عائشه رض نه روایت دے فرمائي : نبي علیه السلام به چه کله جنب وو او دَ خوراک یا دَ خوب اراده به ئے اوکړه نو اودس به ئے اوکړو پشان دَ اودس دَ مانځه ،

تشریح : علامه عینی لیکلے دی دا معنٰی نه ده چه دَ نمونځ دَ ادا کولو دپاره ئے اودس کړے دے هو دغسے شرعی اودس ئے کړے دے (۲) یتوضأ وضوءه للصلاة ای کما یتوضأ للصلٰوة د دواړو توجیهاتو مطلب یو دے

فأراد أن يأكل : سفیان ثوری د دوډئ نه مخکښی لاس وینځلو ته مکروه وائی او دَ مستحب کیدو نه نص ساکت دے لیکن ضعیف روایات چه جمع کړے شی نو بیا لاس وینځلو کښی یو قسم طاقت پیدا کیږی لیکن دا خبره هغه وخت کښی صحیح کیږی چه کله نفس عمل په یو قوی نص ثابت شی نو بیا فضائل په ضعیف روایت ثابتیدے شی دغسے فتاوی ابن تیمیه ۴۵-۹ باندے دی سفیان ثوری وائی چه

ثبوت ئے قوی دلیل باندے نشته نو فضیلت ئے هم نشته دغسے الكواكب الدرى ۸-۲ باندے دی مدخل ۱۵۸-۱ باندے ابن الحاج لیکلے دی که لاس دِ صفا وی وینځلو کښی تا ته اختیار دے لیکن د وینځلو التزام بدعت دے او امام مالک مخکښی لاس وینځل د خوراک نه زی العجم گنړلے دے.

(٤)وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ فَلْيَتَوَضَّأْ بَينهمَا وضُوءًا . رَوَاهُ مُسلم

ترجمه : دَ ابو سعید الخدري نه روایت دے فرمائي : چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي کله چه په تاسو کښې څوک راتلل اوکړي خپلے بي بي ته ، او بیا ئے دوباره هم دَ راتلو اراده وي نو اودس دے اوکړي په مینځ ددے کښې اودس ،

تشریح : دا یو حکم استحبابي دے لیکن مخکښی تیر شو او کیدے شی چه کله اودس شروع کړی نو داعیه دَ غسل پکښې پیدا شی التعلیق الصحیح کښی د شیخ محمّد ادریس کاندهلوی لیکلے دی چه حافظ ابن قیم د سیدنا ابوالدرداء رضی الله عنه قول نقل کړے دے د مؤمن بنده چه کله روح اوځی د عرش لاندے سجده کول غواړی که پاک وی د سجدے اجازت ورکیږی او که جنابت کښی وی نو نه ورکولے کیږی نبی علیه السلام کله کله اودس پریخودلے دے او کله ئے اودس کړے دے چه ددے نه پس خوب کړی متصل غسل اعلیٰ غسل دے او اودس متوسط دے او خوب بے د غسل او د اودس نه جائز صورت دے د نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم نه دریواړه اعمال نقل دی او اودس سره څه نه څه نشاط مسلّم حقیقت دے موطا د امام محمّد کښی دی امام محمّد رحمة الله علیه رحمة الله علیه فرمائی یصیب من اهله ثمّ ینام ولا یمسّ ماء فأن استیقظ من آخر اللیل عاد واغتسل او امام محمّد رحمة الله علیه فرمائی چه په دے عمل کښی عام خلقو له ډیر آرام او سهولت دے او دَ نسائی په روایت کښی دی تپوس ترے اوشو "اینام احدنا وهو جنب" جنابت کښی خوب څنګه دے او ئے فرمائیل "اذا توضأ" اودس دِ اوکړی استحبابی حکم دے شیخ عبد الحق رحمة الله علیه اشعة کښی لیکلی دی "بے وضو جماع بر جماع نکند" د حاکم روایت کښی علت "انشط للعود" قرینه ده چه امرِ ارشادی دے ابن خزیمه هم داسے وائی او اودس شرعی مراد دے علامه طیبی رحمة الله علیه لیکلے دی (فلیتوضأ بینهما وضوءًا) مفعول مطلق تاکیدی دے له ذکر کوی چه څوک وهم دَ وضو غیر متعارف اوکړی بلکه د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوړئ کښې دغسې وی او دا حدیث ددے نه دَ مخکښې روایت "توضأ وضوءه للصلوة کلکوالے اومضبوطوالے راولی" او علامه کاندهلوی رحمة الله علیه خپل التعلیق الصحیح کښې د ابن ابی شیبه روایت چه رجال ئے ثقات دی ذکر کوی چه شدّاد بن اوس صحابی ورله داسې علت بیانوی "انّه نصف غسل الجنابة" دا د جنابت د غسل نیمائی حسابیږی بهر حال حکم دَ جمهور په نزد استحبابی دے او د شوافعو په نزد استحباب مؤکد او د احنافو په نزد عدم مؤکد دے او لیث رحمه الله فرمائی چه د اهل ظاهر دلے نه بغیر ما څوک نه دی لیدلے چه اودس پرے واجبوی

صنیع د بخاری

امام بخاری رحمة الله علیه ددے ابوابو کښې د یو مفهوم متعدد حدیثونه ذکر کړی دی مشترکه خبره پکښې دا ده که څوک د شپے جُنبی شی اوده کیدل غواړی جنابت کښې د اوده کیدو اجازت شته لیکن قدرِ مشترک دا ده چه اودس دِ مخکښې اوکړی اودس پریښودل د استحباب نه محرومتیا ده

(٥):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يطوف على نِسَائِهِ وَبِغُسْلٍ وَاحِدٍ. رَوَاهُ مُسلم

ترجمه: دَ انس رضی الله عنه نه روایت دے نبیﷺ به ګرځیدو په خپلو بیبیانو په یو غُسل سره صحبت کولو

تشریح : د پیغمبر ﷺ د بیبیانو نومونه

(١) سیدتنا خدیجه رضی الله عنها (٢) حفصه رضی الله عنها (٣) ام حبیبه رضی الله عنها (٤) ام سلمه رضی الله عنها (٥) سوده رضی الله عنها (٦) زینب رضی الله عنها (٧) میمونه رضی الله عنها (٨) زینب رضی الله عنها ام المساکین (٩) جویریه رضی الله عنها اوصفیه رضی الله عنها

په پیغمبر دَ ډیرو نکاحونو د غلط تصور جواب

مستشرقین او ملحدین اعتراض کوی چه د ډیر شهوت د وجے ډیر نکاحونه کړی دی نبی ﷺ د ٢٥ کاله عمر کښې چه کله ئے پخه او مضبوطه زوانی وه او غټو او مالدارو ښځو هغوی د دوی سره دَ نکاح خواهش خپله لرو لیکن هغوی د سیّدتنا خدیجه رضی الله عنها سره نکاح اوکړو چه د دوو خاوندانو نه کونډه پاتے وه او د ورو مور وه نکاح هغے د صفاتو د وجے کړے وو "انّها کانت وکانت" تاریخي روایات دي چه دا ترے ینځلس کاله مشره وه او پنځوس کاله پورے بل واده د هغوی تر ژونده نه وو

کړے او دَ مرګ نه بعد به ئے یادوله بیا د ۵۵ نه ۵۹ کاله پورے نور ودونه د دینی مصالحو او دَ شریعت د
اسرارو وجے کړی دی د ۵۵ کاله عمر نه پس خو د نوجوانئ هغه جذباتو کښی کافی کمے راغلے وی
(۱) صفیه رضی الله عنها دے جنګونو کښی به د یهودیانو سازشونه وو د دغے نکاح نه پس بیا جنګ
له د دوی د شرارتونو دَ وجے نه دِ شوے
(۲) ام حبیبه رضی الله عنها دا د قریشیانو دَ مشر ابوسفیان لور وه دَ جنګ بیراغ او جهنډا به دَ دوی په
کور کښی پرته وه چه جهنډه به ده راواغستله جنګ به تود شو بیا د نکاح نه بعد جنګونه ئے پریښودل
چه کله لور خور چا سره کینی بیا شریف انسان جنګونه نه کوی آخر چه روستو ئے اسلام قبول کړو
کنی غزوه حمراء الاسد اُحد او احزاب کښی دده دَ مشرئ او دَ اختلاف غټ دخل وو د اسلام راوړلو نه
مخکښی فوج کشی پریخودله یهودیانو او دَ مشرکانو خرَندونه ختم شو سیدتنا جویریه رضی الله عنها دَ
مشهور ډاکو لور وه غزوه بنومصطلق دده په اشارو شوے وو لیکن ډاکے او جنګونه ئے بیا پریښودل او
یو متمدن ژوند ئے اختیار کړلو د سیدتنا میمونه رضی الله عنها نکاح کښی حکمت دا وو چه دا د نجد
د هغے سردار لور وه چه اویا قاریان دوی په بے دردئ شهیدان کړی وو لیکن دغه سلسله ختمه شوه
او عائشه ، حفصه رضی الله عنهما دواړو سره نکاح کښی دا حکمت وو چه خانګی امور دَ هغے تعلیم
په خائسته طریقه دا پوهه او قابلے زنانه نورو زنانو ته ورکړی اویوغټ رسم ئے د زینب رضی الله عنها
په نکاح مات کړے وو چه د سیدنا زید رضی الله عنه د ُطلاق نه بعد ئے ورسره د الله په حکم خپله
نکاح اوکړو چه دَ رسم او رواج کتهوئ ماتے کړی سیدتنا خدیجه رضی الله عنها د نبی علیه السلام
ژوند کښی وفات شوے وه او نورے بیبیانے د نبی علیه السلام د وفات نه پس په حق رسیدلی دی

د یو اشکال جواب

په یوه شپه کښی دَ جماع دومره طاقت پکښی څنګه وو داخو د عام بشری طاقت نه خلافه خبره ده
لیکن د پیغمبر ﷺ طاقت که نبی علیه السلام وی یا سیدنا سلیمان علیه السلام د یو کس په خپل
ځان قیاس کول غلط دی هغوی له د څلور زرو کسانو هومره دَ جماع طاقت الله ورکړے وو څکه چه
دوی له ئے دَ څلویښتو جنتیانو غوندِ دغه طاقت ورکړے وو معارف السنن کښی علامه بنوری رحمة
الله علیه لیکلی دی اومرقات کښی دی چه د جماع طاقت او په لوکه دَ صبر طاقت د هغوی مثالی وو ګویا
د دنیا په اعتبار سره ورته د شپاړس زرو بیبیانو د عام انسانانو په انداز طاقت الله ورکړے وو بدنی

Maktaba Tul Ishaat.com

طاقت او د حواسو زور دَ پیغمبرانو دَ عمومی انسانانو نه اوچت وی سیدنا رکانه رضی الله عنه په کُشتئ کښې نبی علیه السلام راغورځولے وو ددے واقعے یو سند قوی دے دَ خندق په غزا کښې چه کله دروند او کلک کټ راوختلو کځئ ، کودالے او آلات فیل شو او سلمان فارسی رضی الله عنه د نبی علیه السلام پام دے کشالے ته راؤګرځونو د سلمان رضی الله عنه نه ئے معول واغستلو اوچه کله ئے په هغے کټ تکرے کړو کړو نو یوه رڼړا ترے اوتله چه په تیاره کښې خه منظر پیش کړو "کبّر و کبّر المسلمون" دا تاریخی مسلّم حقیقت ئے د مټو په زور دلالت کوی مسند ابو یعلٰی صـــ۳۹۹ پنځه حواسو کښې پیغمبران او خاص کر نبی علیه السلام د عامو انسانانو نه کله کله دَ معجزاتو اظهار په وساطت ممتاز وی

(۱) قوت باصره : ماته زمکه راغونډه شوه "فرأیت مشارقها ومغاربها (مسلم فی الفتن) دا ئے معجزه وه د بخاری روایت کښې کتاب الاذان کښې انّی اراکم وراء ظهری کله کله ماته تاسو د روستو نه مانځه کښې ښکاره کولے شئ ځه تاسو وینم دا ئے معجزه وه مشهوره ده چه دَ یمامے (الخراج) زرقاء نومے ښځے به د دریو ورځو په مزل لرے یو څیز لیدلو اللباب کښې مفسّر د سورة آل عمران ددے آیت د لاندے داسے واقعات لیکلے دی اِنَّ اللهَ اصْطَفٰى آدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرَاهِيْمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِيْنَ

(۲) قوت سامعه د ترمذی کتاب الزهد کښې روایت دے اَطَّت السماء وحَقَّ لها ان تئط ما فیها موضع القدم الا وفیه ملک ساجد لله بره د ملائکو هغه دَ چی چی آواز ورته الله ښکاره کړو دا ئے معجزه وه او دَ سلیمان علیه السلام باره کښې سوة النمل کښې دی "فتبسّمَ ضاحکًا من قولِها" د میګی قوم ته اعلان ئے معجزةً واؤرو

(۳) قوتِ ذائقه باب المعجزات کښې محدثین او امام بخاری په هبه کښې ذکر کوی چه زینب یهودنړے کله خوراک کښې زهر ګډ کړے وو اوئے فرمائیل "أَنَّ يَهُودِيَّةً أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ مَسْمُومَةٍ، فَأَكَلَ مِنْهَا، فَجِيءَ بِهَا فَقِيلَ: أَلاَ نَقْتُلُهَا، قَالَ: «لاَ»، فَمَا زِلْتُ أَعْرِفُهَا فِي لَهَوَاتِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"

(۵) قوت لامسه د ابراهیم علیه السلام واقعه کښې راځی "کونی بردًا وسلامًا علٰی ابراهیم" د پیغمبر ﷺ قوت الحفظ ,قوت محرکه ، قوت روحانیه او قوت عقلیه انتهائی اوچت او صفا وی په بعض اوقاتو کښې الله ښکاره کړی نو دغه ګټ ماتولو کښې هیڅ اشکال نشته نو د نبی علیه السلام په قوت باه او دَ جماع

دغه هومره طاقت کښې شک نه دِ پکار هيثمي ليکي چه امور اعتباريه او امور شرعيه دواړو کښې هغوی په دواړه جهانه کامل وو

ولے په پیغمبرعلیه السلام تقسیم دَ شپو واجب نه وو

(۱) علامه طيبي رحمة الله الكاشف کښې د ابوسعيد الأصم آخري قول نقل کړے دے چه په هغوی دغسے تقسيم واجب نه وؤ اشعة اللمعات نه داسے ظاهر کښې په سطحي نظر معلوميږي چه دا ابوسعيد خدري رضی الله عنه دے ليکن دا هغه صحابی نه دے بلکه دا الأصغری ورستنی دے نو اعتراض نه راځي چه څنګه دوئ يوه شپه کښې ټولو ښځو له ورغلے وو سورة الأحزاب ۵۱ نمبر باندے آيت دے تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ تفسير قرطبي کښې دی چه د نمبر باره کښې دوه قوله دی او مفسرين ليکي چه چه کومے ئے د رطي نه ورستو کړے وے ميمونه ، امّ حبيبه ، صفيه ، او سوده رضوان الله عليهنّ وے اوچه کومے ئے يو ځائے کړے وے عائشه ، حفصه ، امّ سلمه او زينب رضی الله عنهنّ اجمعين وے (۲) چه کله دا قول واغستلے شي چه تقسيم بيتوتة کښې ورله ضروری وو نو فتح الاله کښې علامه هيثمیؒ ليکلے دی چه د نورو بيبيانو په اجازت دا عمل شوے دے څکه چه "لوجوب القسم عليه علٰی الأصح" او الأسذكار ۱ ــ ۳۴۴ باندے امام نووی رحمة الله ليکلے دی "وقد روی عن النبي صلی الله عليه وآله وسلم انّه كان يطوف علٰی نسائه فی غسل واحدٍ ، و هٰذا معناه فی حين قدومه من سفرٍ او نحوه فی الوقت ليس لواحدة منهنّ يوم معين معلوم" فجمعن حينئذ" ثم دار بالقسم عليهنّ بعد والله اعلم" آخري مرض کښې د نورو بيبيانو په اجازت ئے ورځے د امّ المؤمنين عائشه رضی الله عنها کره تيرے کړے وے امام نووی ليکلے دی چه د هغوی طريقه بيبيانو کښې دَ عدل وه دا دَ هغه وخت خبره وه چه دَ سفر نه ئے تشريف راوړو او لا پکښې د چا وخت مقرر نه وو او شيخ انور د ابوبكر ابن العربي رحمة الله نه نقل کړے دے چه دا واقعه دَ حجة الوداع وه د احرام نه مخکښې ده د هغے نه پس به ئے د تقسيم رعايت ساتلو او دا دَ فقهاؤ يو جماعت وائي او دغسے د ابن عباس ، عطاء ، عمر بن الخطاب او د عبدالله بن عمر رضی الله عنهم اجمعين نه جنابت کښې نقل دی چه د دويمه جماع نه مخکښې اودس به ئے کولو معلومه شوه چه د يو ځل د سفر دَ واپسي نه پس دا واقعه شوے ده او راوی تعبير به كَانَ سره اوکړو کان هر ځائے د دوام له نه وی او دے باب کښې د ابو رافع روايت کښې دی طاف ذات يوم علٰی نسائه ، يغتسل عند هٰذه و عند هٰذه" داسے عمل ئے بعض اوقاتو کښې کړے دے او امام نووی

رحمۃ اللہ مجموع ۲۔۱۲۵ باندے لیکلے دی احتمال دَ اودس د دوارو مینځ کښې شته" او که اودس ئے نه وی کړے دا به د بیان جواز دپاره وی بیا ئے لیکلے دی "انه کان برضاهن ان قلنا بالأصح ، وقول الأکثرین ان القسم کان واجبا علیه فی الدوام فان القسم لایجوز اقل من لیلة لیلة برضاهن" الحق الصریح کښې دی "فقهاء کښې دا مشهوره ده چه خاوند به د ښځو تر مینځ په حکم د نمبر کښې یوه یوه شپه نمبر کدی" انتهی او هم دغه خبره دلته امام نووی لیکلے ده "فان القسم لایجوز اقل من لیلة لیلة برضاهن"

ابن حزم او د جماع مدّت

المحلٰی ۱۰۔۴۹ باندے لیکلی دی (مسئلة) و فرض علی الرّجل آن یُجامع امرءته التی هی زوجته وادنٰی ذالک مرة فی کل طهران قدر ذالک والا فهو عاص للّه تعالٰی برهان ذالک قول اللہ عزوجل (فأذا تطهّرن فأتوهنّ من حیث امرکم اللہ) یعنی په طهر کښې طاقت که چرته لری یو ځل جماع فرض ده

(٦):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ سَنَذْكُرُهُ فِي كِتَابِ الْأَطْعِمَةِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ

ترجمه: نبی علیه السلام به خپل هر حالت کښې د اللہ ذکر کولو، او دَ ابن عباسؓ حدیث به مونږ ان شاءاللہ په کتاب الاطعمه کښې ذکر کوو،

تشریح: دَ کُلِّ احیانه نه مراد تعمیم دے که دَ طهارت حالت وو یا به بے اودسه وو یو موقع کښې نبی علیه السلام فرمائیلی وو "انّی کرهت" زه ئے بد ګڼړم دا مطلب نه دے چه هر وخت ئے عادت وو چه دا ذکر به ئے مکروهه ګڼړو وقائع جزئیه له عموم نه وی "واقعة حال لا عموم لها" قاعده کله کله استعمالیدے شی دلته ئے "کره" نه دی فرمائیلی ګویا کره فی ذالک الوقت الخاص ځکه ظاهر کښې سوال راځی چه دَ ابوداؤد روایت کښې دی "کرهت ان اذکر اللّٰه الا علٰی طهر" طهر کښې طهارة دے او بل روایت کښې دی کان یذکر اللہ علٰی کلّ احیانه الّا فی الجنابة لیکن علامه عینی رحمه اللہ داسے جواب کوی چه دَ دوارو روایتونو مینځ کښې هم تطبیق کیدے شی اول دَ بیان جواز دَ پاره دے بلکه اصل استحباب باقی دے او دویم روایت په افضل حالت دِ حمل شی او دَ استحباب دَ بقاء صراحت ددے نه معلومیږی چه احناف وائی د اصح قول مطابق به جنابت والا بسم اللہ وغیره نه وائی او دویم تطبیق دا

دے چه یو ذکر قلبي او دویم ذکر لساني دے ذکر قلبي به ئے کولو او د ژبے ذکر به ئے بند کړو بعض علماء وائي احیانه کښې ضمیر ذکر ته راجع دے د ذکر وخت کښې به ئے ذکر کولو

کل احیانه کښې دَ کل تعیین

دلته عرفي کل مراد دے استغراقي نه دے مراد لکه جمع الأمير الصاغة مراد دَوطن زرگران دی سورة الشعراء آیت ۳۷ کښې دی یأتوک بکل سحّارٍ علیم او دغسے سورة اعراف کښې یأتوک بکل ساحر علیم راځی آیت ۱۱۲ دلته د مصر جادوگر مراد دی یعنی عرفي کل مراد دے ځکه چه دَ ټولے دنیا جادوگران راجمع کول د فرعون بس کښې نه وو او نه ورله هغوی راتلل

الْفَصْل الثَّانِي

(۷)عَن ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ فَأَرَادَ رَسُول الله صلی الله عَلَيْهِ وَسلم إِن يَتَوَضَّأَ مِنْهُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فَقَالَ «إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ. وَرَوَى الدَّارِمِيّ نَحوه

ترجمه :د پیغمبر پاکﷺ بعض بیبیانو دَ تغاری (خانک) نه غسل اوکړو نبی علیه السلام اراده دَ هغے نه دَ اودس کولو اوکړه ورته ئے اوئیل یقیناً ځه په جنابت کښې ووم ما ددے نه غسل اوکړو نبي علیه السلام اوفرمائیل اوبه خو نه جنبے کیږي ، او شرح السنه کښې ابن عباس نه او د میمونےؓ پشان الفاظ روایت دي ،

تشریح : التقریر الرفیع کښې دی چه د هغوی دلیل نیول صحیح نه دی چه څوک وائی ماء مستعمل پاکے دی ځکه دلته خو مطلب دا دے چه د خانک نه ئے اوبه راغستلے لکه چه د مصابیح په روایت کښې دی الفاظ ئے دا دی اغتسلت من جفنة وفضّلت منه ماء غرض ئے دا دے چه بعض مالکیه لکه ابن رشد ددے نه بدایة المجتهد کښې استدلال کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مذاهب په مستعمل شده اوبو کښې

(۱) د ماء مستعمل دَ طهارت مسئله کښې درے اقوال دی بعض وائی په دے هیڅ حال کښې طهارت نه حاصلیږی او دا د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب دے

(۲) استعمال دَ مستعمل اوبو مکروهه دے او که دا قسم اوبه وی تیمم جائز نه دے دا د امام مالک رحمه الله او د مالکیانو مذهب دے

(۳) د امام ابو یوسف رحمة الله علیه شاذ قول د پلیتوالی دے څه وایم هدایه کښې دی چه شیخین ئے نجس ګڼړی او د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه نه حسن یو روایت د نجاست غلیظه نقل کړے دے او د امام ابو یوسف روایت کښې خفیف نجاست دے انتهٰی

دلیل : د پاکئ دلیل دا دے چه مستعمل اوبه به دَ صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین په کپړو اودس او غسل کښې لګیدلے لیکن د ماء مستعمل د وجے چا کپړے وینځلے نه دی او چه څوک وائی د پاکولو صلاحیت پکښې نشته دا ئے دلیل دے چه عربیانو ته د اوبو سخت ضرورت وو لیکن چا هم په مستعملو اوبو اودس یا غسل نه دے کړے او نه ئے بل لوخی کښې د اودس کولو یا د لامبلو دپاره یخے دی

ددے حدیث نه معلومه شوه که د زنانه نه اوبه پاتے شوے او سړے په پاتے اوبو اودس کوی جائز دی او دا د جمهورو مذهب دے امام احمد او اسحٰق رحمهما الله د ښځے نه پاتے اوبو سړی له اودس اویا غسل ناجائز ګڼړی او عکس ئے جائز دے لیکن جمهور ابو حنیفه ، شافعی او مالک وائی هر رنګه جائز دے لیکن د پردئ نامحرمے نه اوبه پاتے وی دَ وسوسو دَ راتلو دَ احتمال دَ وجے په دے کښې لږ کراهت دے مسئله مخکښې بل حدیث کښې راروانه ده، او تیره شوے دهم ده،

(۸)وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِي قَبْلَ أَنْ أَغْتَسِلَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وروى التِّرْمِذِيّ نحوه

ترجمه : نبیﷺ د جنابت نه به غسل اوکړو بیا به ئے ماسره د ګرمئ د حاصلولو طلب کولو مخکښې ددے نه چه څه اولامبم،

تشریح : "یَسْتَدْفِئُ" کښې "سین" د طلب دپاره دے "ای طلب الدّفاءة والحرارة" د گرمائش طلب به ئے کول غوختل، مصابیح کښې دی "یضع اعضاء علیٰ اعضائی" ځما په اندامونو به ئے خپل اندامونه لګول که د دوارو په مینځ کښې څه کپړا وغیره حائل وی نو حائل که پاک وی بیا خو هیڅ څه خبره نشته بعض علماء فرمائی چه غرض ئے د جنب د اندامونو د پاکوالی بیان دے او که زمکه پلیته هم وی لیکن مصلّٰی یا جانماز وغیره حائل وی بیا هم نمونځ صحیح دے

شیخ عبد الحق اشعة اللمعات کښې لیکلے دی "در حدیث مسلم آمده است که عائشه حائض می بود آب می خورد" چه عائشے ام المؤمنین چه کله اوبه دَ حیض حالت کښې اوڅکلے نو نبی علیه السلام خپله خوله په دغه ځائے یخے وه او دَ حیض او دَ نجاست حکم یو دے او مرقات کښې دی "الأستدفاء یمکن مع الثوب ایضًا" گرمی حاصلول د کپړو سره هم کیدے شی دا معلومه شوه چه د جنب ځرمن پاکه ده ، امام ترمذی رحمة الله فرمائی ددے حدیث اسناد پرواه نه کوي لیکن قاضی ابوبکر رحمة الله وائی چه د حدیث سند برابر نه دے نو ددے نه څه ثابتیدلے نه شی او ملا علی قاری رحمة الله ورله سند ته حسن وائی هدایة الرواة کښې علامه البانی لیکلے دی اګرچه په دے سند کښې شریک ابن عبد الله قاضی سیئ الحفظ دے لیکن ترمذی کښې دده متابع وکیع موجود دے

(٩)وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ وَلم يكن يَحْجُبُهُ أَوْ يَحْجُزُهُ عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحوه

ترجمه : وو نبی صلی الله علیه وسلّم چه دَ بیت الخلاء نه به را اوتلو نومونږ ته به ئے قرآن خودلو اومونږ سره به ئے غوښه خوړله او دَهٔ له به دَ جنابت نه علاوه بل څیز دَ قرآن وئیلو نه رکاوټ او مانع نه ګرځیدو

تشریح: المفاتیح کښې "یقرءنا" هم ذکر کړے ده او "یعلّمنا" مونږله به ئے تعلیم راکوو

التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوی وجه ذکر کوی چه د پاکئ اهتمام څکه پکار دے چه تعظیم د شعائر الله واجب دے او شعائرو کښې نمونځ ، کعبه او قرآن دے انسان له پکار دی چه په طهارتِ کامله سره قرآن ته نزدے شی

Maktaba Tul Ishaat.com

مظاهرحق کښې دي چه کومه ښځه حائضه وي يا سړے د ناپاکئ حالت کښې وي قرآن دِ بالکل نه لولي تر دے چه دَ يو آيت نه کم دِ دَ قرآن د الفاظو تلاوت نه کوي لکه امام اعظم رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه وائي ليکن د بعض علماؤ په نزد حائضه او جنبي له آيت يا زيات لوستل حرام دي ليکن د آيت نه کم حرام نه دي،

دَ بے اودسه تلاوت

امام طحاوي رحمة الله عليه فرمائي بے اودسه ذکر او دَ قرآن تلاوت جائز دے او جنبي کس صرف دَ قرآن تلاوت نشي کولے

علامه طيبي رحمة الله عليه د "ليس الجنابة" وضاحت کوي چه "ليس" دَ الّا په معنٰی واخله لکه "ماجاءني ليس زيدًا" او ضمير ئے اسم دے اوخبر ددے په وجه منصوب دے يعنی ليس الجاءي زيدًا ، گويا داسے شو لکه جاءني القوم ليس زيدًا

حکمت القرآن کښې د سورة الواقعه آيت ۔۷۹ د لاندے ليکلے دي "لا يمسُّه الّا المطهَّرُون○ چه د امت اجماع ده چه د حدث اکبر والا انسان دپاره قرآن کريم له لاس اوړل جائز نه دي" او تفسير احسن الکلام کښې دي "دَ قرآن د مسه کولو دپاره اودس شرط دے اوکه نه؟ اهل علمو کښې اختلاف دے قرطبي وئيلے دي چه اکثر اهل علم په منع باندے قائل دي دا مذهب د علي ، ابن مسعود او سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنهم دے او دَ سعيد ابن زيد ، عطاء ، زهري ، نخعي ، حکم ، حماد ، مالک او امام شافعي او قول دَ امام ابوحنيفه رحمهم الله دے او دَ دوي دليل حديث د مسلم دے چه قرآن به دَ دُشمن زمکے ته نه اوړی او حديث د موطا امام مالک د ابن حزم کښې دي چه قرآن به نه مسح کوي مگر پاک شخص او دا حديث ابوداؤد هم په مراسيل کښې ذکر کړے دے او په حديث د دار قطني په واقعه د اسلام دَ عمر چه خور ورته اوے پليت ئے نو قرآن ته لاس نشے لگولے ليکن ابن کثيرؒ او ابن حجرؒ په تلخيص الحبير کښې وئيلے دي چه دَ دے به سندونو کښې نظر او مقال دے سوا د حديث د مسلم نه اوهغه هم په دعوی ښکاره نه دے (بے عزتي ئے اونشي) نو دا دلائل قطعي نه دي ليکن احتياط دادے چه دَ قرآن دَ مسح کولو دپاره دِ په اودس کولو اهتمام اوشي (احسن الکلام تحت آيت سورہ الواقعه، انتهٰی الطبقات الکبری د امام شعرانيؒ صـ۳۵۱ باندے ليکلے دي چه کوم کسان د رب د حدودو نه غفلت او تعدي اوکړه د دُشمن زمکے ته ئے قرآن سره سفر اوکړه او دشمنانو په کړو زړونو لوستل نو تحريف ئے

پکښې اوکړو ابن کثیر په تفسیر د سورة الجاثیه کښې ذکر کړے دی چه قرآن مه اخله چه د دشمن ملک ته ئے اوړے،

د تنشیط الأذهان عبارت ص۔۱۳ باندے لیکی "ففی المطهّرون اربعة اقوال" او ړومبے قول دا ذکر کوی "انّهم المطهّرون من الأحداث" او دا دَ جمهورو قول دے نو دا خبره معنوی طور باندے انشاء ده یا نهی ده او تائید ئے د موطا مالک د روایت نه دے عن عبد الله بن ابی بکر بن محمّد بن عمرو بن حزم انّ فی الکتاب الذی کتبه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم لعمر بن حزم ان لا یمسَّ القرآن الّا طاهر قال ابن کثیر فی تفسیره قد روی هٰذا الحدیث موصولا عن کثیر من الصحابة وهو صحیح لمجموع طرقه وکذا یؤید بما روی مسلم فی صحیحه عن ابن عمر انّ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم نهٰی عن الخ

تفسیر احسن الکلام کښې چه کوم روایتونو باندے رد دے دَ هغے د تردید دپاره تنشیط سره ذهن کښې نشاط پاتے کیدے شی، لهٰذا تنشیط الأذهان ته رجوع اوکړه،

سنن دارقطنی تعلیق الشیخ شمس الحق اعظم آبادی دارالمحاسن القاهرة ۱۔۱۲۳ باندے دی باب فی نهی المحدث عن مسّ القرآن په سند سره ئے د انس بن مالک رضی الله تعالٰی عنه په روایت د سیدنا عمر رضی الله تعالٰی عنه د اسلام واقعه ذکر کړے ده "فقالت له اخته انک رجس ولا یمسُّه الّا المطهّرون فقم فاغتسل او توضّأ فقام عمر فتوضّأ ثم اخذ الکتاب فقرء طٰه" القاسم بن عثمان لیس بقوی او بیا عظیم آبادی ئے مسند ابو یعلٰی په حواله ذکر کوی قال المؤلّف تفرّد به القاسم بن عثمان ولیس بالقوی وقال البخاری له احادیث لا یتابع علیها ص۔۱۲۳

فیصله د علامه ابن تیمیه رحؒ

مجموع الفتاوی ۱۱ (الف) ص۔۶۴ باندے دی وأمّا مسُّ المصحف فالصحیح انّه یجب له الوضوء کقول الجمهور

د علامه ابن حزم قول:

وامّا مسُّ المصحف فأنَّ الآثار الّتی احتج بها من لم یجز للجنب مسّه فأنه لایصح منها شیئ اما مرسلة واما ضعیفة لاتسند واما عن مجهول واما عن ضعیف محلٰی ۱۔۷۵ ، دغه شان بے اودسه قرآن له لاس واوړلو ته ظاهری صاحب جائز وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

د شاه انور شاه کشمیری رحمة الله علیه قول:

معارف ترمذی کښې دی چه شاه صاحب ما دون الآیه وئیل جائز کنړی ځکه دا یسیر دے او ما دون الآیة استثناء ځکه کوی چه د قرآن د اعجاز تعلق د یو آیت سره وی او ما دون الآیة سره تعلّق نه ساتی ځکه چه فتبارک الله احسن الخالقین یو ځل قضیه اتفاقیه وه سیدنا عمر رضی الله تعالیٰ عنه وئیلے وو

د حائضه دَ قرآن د هیریدلو دَ احتمال وضاحت

ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی چه حائضے له دِ ځکه جائز شی هسے نه چه ددے نه هیر شی لیکن امام نوویؒ فرمائی چه زړه کښې تصور کښې اړوی راړوی نود نسیان احتمال ختمیدے شی او فتح الاله کښې دی "ویحل له بلا کراهة اجراء القرآن علیٰ قلبه بل والهمس فیه بتحرک شفتیه لٰکن بشرط ان یکون بحیث لایسمع صوت نفسه ، وأن یقرء منسوخ التلاوة والأحادیث القدسیة" او کتاب المجموع ۲ــ۱۲۷ کښې دی "قلنا یحصل المقصود یتفکّرها بقلبها والله اعلم

حائضه معلّمه به څه کوی؟

النهایة کښې دی "ینبغی لها ان تعلم الصبیان کلمة کلمة و تقطع بین الکلمتین علیٰ قول الکرخی وعلیٰ قول الطحاوی ان تعلم نصف آیة" بحر الرائق. وفی العیون لأبی اللیث ولو أنه قرء الفاتحة علیٰ سبیل الدعاء او شیئًا من الآیات الّتی فیها نفی الدعاء ولم یرد به القراءة فلا بأس به" (بحر) بحواله معارف ترمذی

نیل الأوطار کښې قاضی شوکانیؒ لیکلے دی "یجوز له قراءة دون آیة اذ لیس بقرآن" د اعجاز تحدی یو آیت ته شامله ده او د شوکانی دغه قول دلیل دے چه ما دون الآیة حکم د مکمل آیت نه جدا دے هرقل ته که نبی علیه السلام آیت لیکلے دے مقصود آیت نه وو طردًاللباب لیکلے شوے دے لکه چه علامه هیثمیؒ فتح الاله کښ لیکلے دی اودا حکم ئے ورنه کړو چه دَ طهارت دَ محافظت خیال ساته او دارالکفر ته ئے اولیږو "یدل علیٰ ان الأیات فی ضمن غیرهما لایکون لها حکم ما اذا کانت وحدها"

(۱۰):وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: دِ ابن عمرؓ نه روایت دے فرمائي چه نبي علیه السلام اوفرمائیل نه دِ لولی حائضه اوجنب دَ قرآن هیڅ حصه،

تشریح : قاضی شوکانی وائی چه جنب له د قرآن لوستل حرام دی دا قاسم او هادی او امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی آیت او ددے نه سیوا لوستلو کښی فرق نه کوی امام بخاری ، داؤد ظاهری او ابن جریر رحمهم الله هم د جواز قائل دی ځکه چه کان النبي صلَّى الله علیه وسلَّم یذکر الله علٰی احیانه علامه طیبی رحمة الله علیه لیکلے دی چه جنب له قرآن لوستل ناجائز دی او دا د ابن عباس رضی الله عنه قول دے او ابن عطاءؒ وائی چه حائضه دِ قرآن بے د آیت د یوے حصے نه نه لولی او احسن دغه ده چه جنب او حائض د الله د ذکر دپاره ځان پاک کړی که اوبه نه وی تیمم دِ اوکړی او د امام احمدؒ ابن المنذرؒ او دارمی مختار دا دے او د ابن عباس رضی الله عنه نه هم داسے روایت کیدے نشی چه حائضه او جُنب دَ ټول قرآن قراءت کولے شی لیکن التعلیق الصبیح کښی دی دَ جمهورو قول د حرمت دے لیکن د امام احمدؒ نه دوه روایته دی یو د امام شافعیؒ غوندے او دویم د "ما دون الآية" د جواز دے او میزان الکبرٰی کښی دی چه د امام مالک رحمة الله علیه په نزد د یو او د دوو آیتونو د لوستلو گنجائش دے او امام ترمذی باب تړلے دے "باب الجنب والحائض لایقرآن القرآن" چه دواړه دِ قرآن نه لولی او امام مالک رحمة الله علیه فرمائی چه حائضے له مطلقًا جائز ځکه دی چه دَ حیض مده اوګده وی د نسیان خوف دے او جنابت خو وقتی څیز دے ددے لر کول د سړی په اختیار کښی دی لیکن کتاب المجموع ۲ـــ۲۶۸ باندِ دی چه د نسیان خوف نادر دے شپږ یا اوو ورځو کښی غالبًا نه هیریږی او زړه کښی دِ قرآن اړوی اشعة اللمعات کښی شیخ عبد الحقؒ لیکلے دی "وتر د بعض دعائے قنوت خواندن نیز حرام است و باقی ادعیه واذکار لا بأس به است" چه دعائے قنوت لوستل دغه حالت کښی حرام دی او باقی دعاګانو او ذکرونو کښی باک نشته

د لا بأس به قاعده

التعلیق المجّد صـ۴۰ باندِ مولانا عبدالحی لکهنویؒ لیکلے دی. "لابأس نفس الجواز لاغیر وعند المتأخرین مستعمل غالبًا فی المکروہ تنزیهًا" او امام طحاوی رحمة الله علیه لیکلے دی چه د ذکر الله کول او د قرآن تلاوت بے اودسه جائز دی او جُنبی صرف دَ قرآن تلاوت نه شی کولے او کتاب المجموع

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ـ۱۲۷ بانډِ امام نووی ډاسے اختلاف نقل کوی چه مالکیان جنب او حائض له که نیم آیت ولے نه وی د قرآن لوستل حرام گنړی او لیکی چه دغسے ډیر عالمان وائی او دا عمر ، علی او جابر رضوان الله علیهم او حسن ، زهری او نخعی رحمهم الله هم وائی او هغوی امام احمد رحمه الله ته دغه منسوب کړی دی او قتاده ، اسحٰق رحمهما الله دغسے فرمائی

مسلک د سیدنا عمر او د سیدنا علی رضی الله عنهما

امام بیهقی رحمه الله فرمائی چه دَ جُنُب دپاره دَ قرآن لوستل مکروه کیدل په سند سره صحیح روایت کښی ثابت دی او د علی رضی الله عنه نه دا روایت کړے شوے دے چه جُنُب یو حرف د قرآن نه نشی لوستلے او د مالکیه دلیل دَ عبد الله بن رواحه د ښځے او د وینځے مشهوره واقعه ده چه مشهور شعرونه ئے لوستلے دی چه گنے دا ما قرآن اووے او دَ قرآن د لوستلو نه د جنابت په حالت کښی منع راغلے ده او نبی علیه السلام په هغه انکار او نه کړو او اوئے خاندل گویا د قرآن لوستل جنبی له حرام شو دا واقعه اگر چه سړو او ښځو کښی مشهوره ده لیکن ددے سند ضعیف او منقطع دے فتح الاله کښی هیثمی لیکلے دی چه د قرآن په قصدِ جنب او حائض قرآن نشی لوستلے ځکه چه اتفاق دے د خوراک په وخت کښی جُنُب له تسمیه جائز ده او په سورلئ د سوریدو وخت کښی دعا وئیلے شی چه سبحان الذی سخر لنا الخ او علامه هیثمی وائی چه ځمونږ مشائخ یو مکلّف مسلمان جُنُب یا حائض له یا نفاس والا ښځے له په ژبه داسے قراءت کنړی چه خپل ځان ته ئے واوروی یا د قرآن نه هغه آیت وائی چه منسوخ شوے نه وی او دَ قرآن اجلال ، تعظیم او اکرام دغه تقاضا کوی

د نزل الابرار حواله: مس المصحف علی القول المحقق وقیل لا یشترط الطهارة لمسّ المصحف وجزم به الشوکانی وغیره من اصحابنا،

د حدیث مقام

المعجم الکبیر ۵ـ۳۱ "لایمسّ القرآن الّا وآنت ظاهرٌ فیه هشام بن سلیمان وقد ضعّفه جماعة من الأئمة ووثّقه البخاری ، او معجم الکبیر ۲ـ۱۷۳ بانډِ دی "په دے کښی سوید ابو حاتم نسائی او ابن معین په یو روایت کښی ضعیف گرځولے دے او د ابن معین بل روایت دَ توثیق دے ابوزرعه وائی قوی نه دے" او لیکی حدیثه حدیث اهل صدق ورواه الحاکم ووصحه ووافقه الذهبی) تخریج حمیدی عبد الحمید سلفی

التبیان فی آیات القرآن لعلامه ابن قیم صـــ۳۳۹ باندِ دی قال احمد ارجو ان یکون صحیحًا وقال ایضا لا شک ان رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم کتبه ، وقال ابو عمر هو کتاب مشهور عند اهل السیر معروف عند اهل العلم یستغنی بشهرتها عن الأسناد لأنه اشبه التواتر فی مجیئه الخ المحلّٰی دَ احمد شاکر تعلیق ۱ـــ۷۳ باندِ دی هو حدیث الحاکم رواه بطوله فی المستدرک ۳ـــ۵۹۵ طبع الهند من طریق الحکم بن موسٰی بن یحٰی بن صرة بن سلیمان بن داؤد عن الزهری عن ابی بکر بن محمد بن عمرو بن حزم عن ابیه عن جده وروی بعضه بهٰذا الأسناد النّسائی وابن حبّان والدارقطنی والبیهقی وهو اسناد صحیح

او د محلّٰی په تعلیق کښې احمد شاکر لیکلے دی چه روایت مرسل دے ، او لیکلے دی بیّنت صحته بیانا شافیًا والحمد للّٰه فی شرحه علی التحقیق لأبن جوزی ۱ـ۹۷ ، فی المسئلة رقم ۴۲ او صفحه ۷۳

علامه البانی: ارواء کښې لیکی لا یقرء الجنب ولا الحائض ضعیف وقد روی من حدیث ابن عمر و جابر امّا حدیث ابن عمر فله طرق عن موسٰی بن عقبه عن نافع عنه

صاحب مرقات: "وروی ابن ماجه نحوه أي بمعناه وعزاه صاحب تخریج المصابیح إلی الترمذي قال وقال الترمذي حدیث حسن صحیح اه وبعض أهل اللغة یوهنه لأن عبد اللّٰه بن سلمة الراوي عن علي روی هذا الحدیث بعد کبره کذا حرره السید جمال الدین ونقل میرك عن التقریب أن عبد اللّٰه بن سلمة بکسر اللام المرادي الکوفي صدوق تغیر حفظه من الثانیة"

علامه کاندهلوی: التعلیق الصبیح کښې دی "لاتقرء الحائض لٰکن له متابعات کما ذکره ابن الجماعة وغیره ، الأحادیث بمعناه کلها ضعیفة ، په تعداد د طرق سره دومره قوت پکښې پیدا کیږی چه حسن لغیره ته رسی او ابن حجر لیکلے دی چه په احکامو کښې دا حجت وی

صاحب الحق الصریح: حقه خبره دا ده چه دا حدیث دَ قبیلے دَ حسن نه دے قابل احتجاج دے امام احمد رحمة اللّٰه علیه ورته دَ عبداللّٰه بن سلِمه کوفی راوی په وجه ضعیف وائی لیکن مرعاة کښې دی چه راوی صدوق دے او بل متابع موجود دے او هغه جیّد الاسناد دے انتهٰی

کشف المناهج په حاشیه کښې دي "إسماعیل بن عیّاش وهو منکر الحدیث عن أهل الحجاز وأهل العراق"، دغسے نیل الأوطار وغیره کښې دی انتهٰی معرف السنن کښې دیٔ چه دا روایت دَ موسٰی بن عقبه نه صرف اسماعیل بن عیاش نه نقل کوی بلکه مغیره بن عبدالرّحمٰن هم نقل کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

امام زيلعي، امام شافعي رحمة الله فرمائي "ثبت عندهم انه كتاب رسول الله او ابن عبد البر رحمة الله فرمائي ددے شهرت د اسناد نه مستغني كول څكه كوي چه دا د تواتر سره مشابهت لري" تلقي بالقبول والمعرفة ورته حاصله ده ، نصب الرايه ١ـــ١٩٤

صاحب الحق الصريح او امام بخاري رحمة الله عليه دے بحث كښې دوه ځله ليكلے دى

(فائده) : د جنب دپاره د قرآن د لوستلو د كراهت په باره كښې روايتونه صحيح دى ليكن د امام بخاري پرواز اوچت دے دا ئے دوه كرته دے بحث كښې اوليكل انتهى يعنى كله صحيح روايتونه امام بخاري له راوړي د صحت حديث دپاره مستلزم نه ده چه خواه مخواه صحيح بخاري كښې دے وي

(١١):وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجِّهُوا هَذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه: واړوئ دروازے د كورونو د مسجد نبوى نه پس يقينا حلال نه گنړم مسجد ته تلل حائضے او جُنُب كس له،

تشريح : المفاتيح كښې ذكر د اختلاف

ليكي (١) د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب جُنُب له مسجد كښې مرور حرام دے ،

(٢) شافعي او مالك رحمة الله عليهما مرور صحيح دے اومكث نه دِ صحيح،

(٣) مذهب د احمد او مزني رحمة الله عليهما دا دے چه دَ مكث جواز هم شته وهٰكذا في تعليق الصحيح للكاندهلوى

وضاحت

دلته دوه مستقلے مسئلے دى (١) تيروتل مسجد كښې (٢) پاتے كيدل مسجد كښې امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله په نزد جنب او حائض له مطلقًا دخول او مرور په مسجد كښې دواړه مطلقًا جائز دى كه څه خاص ضرورت وي يا نه وي ، كه په اودس كښې وي او كه بے اودسه ليكن دَ حائض دپاره دا شرط دے چه دَ جماعت دَ ككړيدو يره نه وي (٢) دويم مسلك دَ احنافو او مالكيه دے چه دَ جُنُب او حائض دپاره تيريدل په مسجد كښې په آله آسانه نه دى پكار څو پورے چه ډير ضرورت او مجبوري نه وي او دويم څيز مسجد كښې حصاريدل او ناسته پاسته كول نو دَ جمهور او حنفيه ، مالكيه .

شافعیه په نزد ناجائز دی او دَ اسحاق بن راهویه دغسے د حنابله په نزد جائز دی (۳) د داؤد ظاهری او امام مزنی رحمهما الله په نزد جنُب اوحائض دواړو له مرور او مکث مطلقًا جائز دی (النهل المورود) دلته اوس دوه اختلافه دی اول تقابل د احنافو او دَ شوافع او دویم تقابل دَ ائمه ثلاثه او حنابله

د جمهورو دلیل دا حدیث دے چه "انّی لا اُحلّ المسجد لحائض ولا جُنُب" دا حدیث د حنابله او ظاهریه په ظاهر کښ خلاف دے"

د احنافو او دَ شوافع تقابل

د شوافع دَ مرور دَ مسجد دَ جواز دلیل د قرآن آیت دے "لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ" وائی چه دَ صلاة نه دلته موضع الصلوٰة مراد دے یعنی مسجد اودَ "عَابِرِي سَبِيلٍ" نه مراد عبور او مرور دے نو دَ آیت نه معلومه شوه چه دَ جُنُب دپاره مُرور فی المسجد جائز دے لیکن احناف وغیره جواب دا کوی چه آیت په ظاهر پریده چه دَ ظاهر صلوٰة نه دِ صلوٰة واغستے شی نه موضع دَ صلوٰة حقیقت اخله چه کله مجاز ته ضرورت نه وی او د "عابری سبیل" نه مراد مسافر دی او دَ آیت مطلب دا دے چه دَ جنابت په حالت کښ نمونځ ته نزدے کیدل نه دی پکار مگر که سرے مسافر وی او اوبه ئے په لاس نه راځی بیا ورله تیمُّم پکار دے او دَ مسافر قید به تیمُّم کښ ځکه لګی چه عمومی طور سفر کښ دَ اوبو دَ نیشوالی کشا له راځی نو دَ مضاف دَ حذف نه بغیر دَ آیت مطلب بالکل صفا او واضح دے او حذف بلا ضرورته خه نه وی او دلته ئے په دوئم ځل ځکه مسافر ذکر کړے دے چه پته اولګی چه مریض او مسافر دواړه په حکم کښ برابر دی نو مریض دِ دَ تیمُّم په جواز کښ شک نه کوي چه اوبه ئے هیڅ قسم طراره زره کښ نه راولی خه په زړه پوری طریقه دِ تیمُّم کوی

دَ مسجد دَ دخول دَ ممانعت نه استثناء

د ترمذی روایت کښ دی یا علی لا یحلُّ لأحد أن یجنب فی هٰذا المسجد غیری وغیرک نو نبی صلّی الله علیه وسلّم او دَ هغوی زومګے سیدنا علی رضی الله عنه جنابت کښ هم مسجد ته راتلے شی او ددے خصوصیت علامه شامی هم ذکر کړے دے او دَ شیعه ګانو دا قول چه دَ ټولو اهل بیتو دغه حکم دَے،

Maktaba Tul Ishaat.com

تر که کړی دروغ دی. او دَ بخاری دَ کتاب المناقب روایت کښې دَ سیدنا ابوبکر رضی الله عنه دپاره دَ کهړکئ او دَ تنبرئ پریخودلو ذکر راغلے دے "لا تبقینَّ فی المسجد خوخة الّا خوخة ابی بکر" علامه طیبی رحمة الله علیه لیکی هٰذه البیوت کښې اشاره چه دَ مسجد دَ شان د تعظیم په نسبت د دغے کورونو تحقیر دے

دواړو روایتونو کښې دَ تعارض حل

اول کښې پیغمبر علیه السلام ټولو هغه صحابو ته چه دروازے ئے مسجد ته پرینښودلے وے د تحویل ابواب حکم ورکړو سیوا دَ سیدنا علی رضی الله عنه او په هغے عمل اوشو لیکن دوی بیا کورونو کښې مسجد طرف ته کهړکئ پریخودلے. نو دَ هغے دَ بندولو حکم ورته خاتم النبین صلی الله علیه وسلّم اوکړو لیکن دے حَل کښې دَ سیدنا ابوبکر صدّیق رضی الله عنه دَ کهړکئ دَ باقی پاتے کولو استثناء اوکړه چه دا دِ دَ مسجد طرف ته وی نو دا دَ خلیفه اول خصوصیت شو او دَ سیدنا علی رضی الله عنه خصوصیت خو اول کښې ذکر شوے وو چه دَ هغوی اصلی دروازه دِ مسجد غاړے ته باقی پاتے شی او دوی له دَ جنابت حالت کښې مسجد ته تلل راتلل مباح دی او عمومی دغه حکم پاتے شو "وَجِّهُوا هٰذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ" چه د کور دغه دروازے دَ مسجد دَ طرف نه لرِ کړئ او په بل طرف ئے اوباسئ صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین دغه حکم عملی کړو

علامه هیثمی رحمة الله علیه او فتح الاله

هغه لیکی چه مکلف مسلمان حائض او نفساء له مسجد کښې مکث ، تلل راتلل بغیر عذر نه تردے چهت ته ختل صحیح نه دی او دَ مسجد قید ځکه لګوی چه سرائے او مسافر خانه دغسے عید ګاه ترے خارج شی ځکه سلفو دا دَ ماشومانو دَ لوبو نه بنده کړے نه ده او که عارضی پکښې قافلے پاتے کیدے او بیا لیکی چه ځمونږ شوافع وائی چه نشائی د مسجد نه منع کول واجب دی

مسلک دَ امام ابو حنیفه رحمة الله علیه

لکه جنبي او حائضه مسجد کښې دننه نه شی پاتے کیدے دغسے دوی له د مسجد ته تلل هم حرام دی مطلقا منع دی صاحب د مظاهر حق لیکی چه منع مطلقا ده که تیریږی یا پاتے کیږی او الکاشف کښې د ابن حاجب تفریع نقل کړے ده که مسجد کښې د جنابت په حالت کښې جنب تیریږی مشهور قول دا

دے چه منع کولے شی به او اشعة کښې دی حائض او جنب له مرور او مکث دواړه دَ احنافو په نزد بند دی او لیکی اطلاق سره ځما د مذهب تائید کیږی چه حکم دغه مطلقا دے

د حدیث حکم

التقریر الرفیع کښې دی چه حدیث امام بخاری ضعیف او ابن حزم په محلّی کښې باطل ګڼړی وائی چه افلت نه مشهور دے او نه ثقه وائی کښې معروف دے لیکن قاضی شوکانی نیل الاوطار کښې وائی چه د افلت راوي نه توثیق ابن حبان کړے دے او ابو حاتم ورته شیخ وائی او امام احمد رحمة الله علیه ورته لابأس به وائی او ذهبي کاشف کښې ورته صدوق وائی او شوکانی ورته صحیح وائی

(افلت او فلیت دواړه یو دی امداد)

او علامه کاندهلوی رحمة الله علیه خپل التعلیق الصبیح کښې لیکی چه د افلت نه سفیان ثوری او عبدالله بن زیاد روایت نقل کړے دے واضحه دِ وی چه ابن خزیمه ئے تصحیح کوی او ابن القطان او ابن سید الناس ئے تحسین کوی او حافظ ابن حجر رحمة الله علیه هم د تضعیف کونکو تردید کړے دے صحیح دا ده چه راوی مجهول نه دے بلکه ثقه او مشهور دے

ددے بل راوی صبره باره کښې بخاری وائی "انّ عندها عجائب" لیکن ابن قطان وائی دا دَ دے خبر درد دپاره نه کافی کیږی عجلی وائی تابعیة او ثقة ده ،کذا فی نیل الأوطار والمرقاة

(۱۲):وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَا تدخل الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ وَلَا جنب» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ

ترجمه : دَ علي نه روایت دے فرمائي ؛ چه نبي علیه السلام فرمائیلے دي چه نه داخلیږي فرشتے هغے کور ته چه په هغے کښې تصوریر یا سپے یا جنب وي،

تشریح : د ملائکو دَ نه داخلیدو وجه

حجة الله کښې شاه ولی الله رحمة الله علیه صـ۱۸۰ باندے لیکی چه وجه دا ده چه د جنابت هیئة دَ ملائکو دَ هیئت سره منافات لری او که غسل متعذر وی نو دَ طهارتِ صغريِ اهتمام دِ ے اوکړی او ځکه ئے فرمائیلے دی توضأ واغسل ذکرک ونم انتهٰی یعنی ملائکو کښې د تقدس او د بت پرستئ د مقدماتو او د ظاهری او معنوي نجاستونو نه نفرت موجود دے او ضدین یو ځائے نشی جمع کیدے

Maktaba Tul Ishaat.com

الملائکة کښې الف لام عهدی دے علامه طیبی لیکی هغه ملائک مراد دی چه دَ برکت او دَ رحمت د نازلیدو سبب وی د نیکانو بندیگانو ملاقات او ذکر اوریدو دپاره چکر وهی کرامًا کاتبین نه دی مراد دوی دَ مکلّف نه خه او بد حال کښې نه جدا کیږی "مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ (ق ـــ ۱۸)" او حدیث کښې دی "انّ معکم من لایفارقکم" او ملائک مشرّف او مکرّم مخلوق دَ طهارت په اعلٰی مرتبو وی او دَ نور و ظلمت په مینځ کښې څنګه تضاد دے داسے دَ جنب او دَ رحمت دَ ملائکو مینځ کښې هم دے ځوک چه د سپو سره ځان برابروی پکار دی چه دَ هغه د کور نه دِ ملائک نفرت اوکړی او دلته هغه جنب مراد دے چه غسل کښې سستی دومره اوکړی چه دَ مونځ وخت پرِ تیر شی او داسے عادت ئے جوړ کړے وی دے شرع ته سپک ګوری نفس تاخیر خو د پیغمبر نه لږ غوندِ ثابت دے ځنې نرے دَ زنا دَ غلط کار دَ وجے جنب کیدل اخلي او سپی سره یو ځائے کول د خست او دَ سپکوالی دَ وجے دے چه دے لاندِے عالم ته میلان لری او بره عالم ته ځان نه راچوی چه دَ نزدے ملائکو سره مشابهت اختیار کړی،

کوم قسم تصویر مراد دے

مراد د ساه والا څیز تصویر دے که انسان وی یا حیوان لکه دَ سړی تصویر د اس تصویر دا دَ بت پرستو دَ کاروائی سره مشابهت لری ۔

بت پرستی دین احمد میں کبھی آئی نہیں　　　اس لئے تصویر جاناں ہم نے کھینچوائی نہیں

او هغه تصویر چه روح نه لری هغه صحیح دے او که سر دَ حیوان نه کټ شی چه حیات ئے بیا غیر ممکن ګرځی دا هم جائز دے یا هغه تصویر چه خپے په هغے کیخودے شی او په دراهمو تصویر دَ ضرورت د وجے مستثنٰی دے (فتح الالٰه)

په شرح د مسلم کښې نووی دَ مجاهد قول نقل کړے دے چه غیر ذی روح تصویر هم ټهیک نه دے لیکن دا قول مخدوش دے دلته دوه څیزونه دی یو عمل د تصویر او دویم استعمال د تصویر. اول خو د روح والا څیز مطلقًا ناجائز دے او استعمال د تصویر بعض صورتونو کښې حرام او بعض صورتونو کښې مباح دے علامه آلوسی دَ سورة سبا ۱۳ آیت و تماثیل و جفان کالجواب الخ په وضاحت کښې لیکلے دی و لا فرق عندنا أن تكون الصورة ذات ظل او لا تكون كذالک كصورة الفرس المنقوشة علٰی کاغذٍ او

جدار مثلاً او ليکي څمونږ په شريعت کښې دغسې مصورين او فوټوګرافرو باندے لعنت راغلے دے او تفسير قرطبي کښې دي وړے وړے ګوډيانے دَ وړو جينکو جوړول جائز دي،
اعلام الموقعين :٤: ٤٩٧ باندے دي "صور الحيوان سواء كان لها ظل أو لم يكن" ديته ابن قيم ګناه کبيره وائي بے ضرورته اجتناب پکار دے،

سپي ساتل

التعليق الصبيح کښې علامه کاندهلوی رحمة الله عليه ليکي چه د عموم نه ئے هغه سپي مستثنٰى دي چه د فصل يا د څناورو دَ حفاظت او دَ ښوکئ دپاره دي او ښکاری سپي ساتل هم دَ ضرورت دَ وجے جائز دي
(فائده): کوم زړه کښې چه د سپي صفات حرص، لالچ او دَ خپلو خلقو سره دشمني زړونو کښې موجود وي دغسے زړونو ته علم په ګرانه ننوځي
مسئله: د مسلم حديث کښې دي د کټ لاندِ مړ کوترے وو پته کور والو ته نه وه بيا هم جبريل عليه السلام نه دِ راغلے د سپي او دَ کوترې فرق نشته

(١٣)وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ثَلَاثٌ لَا تَقْرَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ جِيفَةُ الْكَافِرِ وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ وَالْجُنُبُ إِلَّا أَنْ يَتَوَضَّأَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه: درے کسان دي چه دوی ته ملائک نه نزدے کيږی ، لاش د کافر او د خلوق په خوشبو ککړونکے خپل ځان له او جنب کس مګر دا چه اودس اوکړی ،
تشريح :د کافر نه ذمي او حربي دواړه علامه هيثمي اخلي او مرداره چه ورته وائي ډير ئے سپک کړو، ولا تقربهم الملائكة مقصد دَ دِ درېو نه نفرت کښې مبالغه کول دی
جيفة الكافر: مرقات کښې دی هغه جسد په منزله دَ مردارے دے
(فائده) الأصابه مع الاستيعاب ٢ـــ٢٤٥ باندِ دی سيدنا عاصم رضی الله عنه قد عاهد الله أن لا يمس مشركا ولا يمسه مشرک" قريشيانو چه کله د هغوی سر پريکول غوختل الله پرِ ډنډارے د حفاظت دپاره مقرر کړے چه دَ مشرک ګوتے ورته راؤ نه رسی چه دَ نجاست د بچ کيدو اهتمام نه کوی که

Maktaba Tul Ishaat.com

ژوندے وی او کہ مړ پلیت دے لکہ شراب ، خنزیر او وینہ شوہ علامہ کاندھلوی رحمۃ اللہ علیہ پہ التعلیق کښې د شاہ ولی اللہ رحمۃ اللہ علیہ د فارسیٔ شرح پہ حوالہ لیکلے دی چہ ډیر غالب دَ "جیفۃ" استعمال پہ مړی کښې استعمال دے او خپل قول نقل کوی قال العبد الضعیف د کافر جسم اغستل بعید نہ دی پہ ژوند او مرګ دواړو کښې پلیت دے

(خلوق) د "خاء" زوَر دے ھغہ خوشبو چہ د زعفران وغیرہ نہ جوړیږی سور والے پرِ دَ زیړ والی پہ نسبت غالب وی او سړو لہ منع راغلے دہ دے کښې تکبر او دَ ښځو سرہ مشابھت دے او علامہ طیبی رحمۃ اللہ علیہ لیکلی دی "فیہ اشعار بأن من خالف السنّۃ وان کان فی الظاھر مزیّنًا مطیبا مکرما عند الناس فھو فی الحقیقۃ نجس اخس من الکلب" علامہ طیبی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی المتضمّخ دومرہ ذیر لګول چہ قطرے ترِ څاسی پہ دے کښې دغہ خونہ دہ چہ دَ سنت کہ څوک مخالفت کوی اګر چہ پہ ظاھر کښې ډولی خوشبویہ او عزتمند خلقو تہ د دے شوشا پہ وجہ ښکاری دے پہ حقیقت کښې پلیت دے او دَ سپي نہ زیات ذلیل دے سورۃ الأعراف ١٦٩ نمبر باندِ آیت دے "وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِثْلُهُ يَأْخُذُوهُ" پہ تشریح کښې د حرامخورو چہ رنګ ئی د مشائخو څان لہ جوړ کړی وی د ھغوی پہ مذمت کښې علامہ آلوسی رحمۃ اللہ علیہ لیکلے دی چہ دغہ پلیتان دعوی کوی "کل منّا بحر والبحر لاینجس" چہ مونږ کښې ھر یو سمندر دے او سمندر نہ پلیتیږی لیکی انہ انجس من الکلب والخنزیر دے د سپي او دَ خنزیر نہ زیات پلیت دے د حدیث نہ معلومیږی چہ اودس سرہ پہ جنابت کښې تخفیف پیدا کیږی امام ابو داؤد رحمۃ اللہ علیہ باب تړلے دے "باب قال الجنب یتوضّأ" لیکن د یحیٰ بن یعمر او دَ عمّار بن یاسر رضی اللہ تعالیٰ عنہ پہ مینځ کښې یو واسطہ دہ چہ پتہ ئے نہ لګی نو روایت منقطع دے ځکہ چہ دَ ابن حجر پہ تھذیب کښې دَ دار قطنی قول نقل کړے دے چہ یحیٰ بن یعمر تہ د عمار بن یاسر رضی اللہ تعالیٰ عنہ لقاء نہ دہ حاصلہ، البانی صاحب ئے سلسلہ الاحادیث الصحیحہ کښې راخلي او بیا ئے دوي پہ ضعیف الجامع الصغیر کښې ذکر کوي،

تعارف دَ عمار بن یاسر رضی اللہ عنہ

کنیت ئے ابوالیقظان دے سابقین فی الاسلام کښې دے د مور نوم ئے سمیّہ دہ دا ھغہ بی بی دہ چہ د اللہ پہ لار کښې ورتہ د ټولو نہ مخکښې د شھادت اعزاز حاصل دے پہ دوی ډیر ظلمونہ شوے وو ھغہ وخت

کښې اسلام قبول کړے دے چه کوم دور کښې به نبي علیه السلام دار ارقم کښې پټ وو دوی او صهیب بن سنان دواړو برغ اسلام قبول کړے دے ربیع الأول ۳۷ هجری کښې دَ ۹٤ کاله عمر کښې جنګ صفین کښې شهید شوے دے او شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلي دي چه دَ دوی مور ابوجهل ملعون ډیره په ظلم شهیده کړے وه په فرج کښې ورله نیزه منډلے وه العیاذ بالله

د روایت متعلق مرقات کښې دي چه حسن د عمار نه څه اوریدل نه دي ثابت پس روایت منقطع دے

(١٤): وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ: أَنَّ فِي الْكِتَابِ الَّذِي كَتَبَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم لِعَمْرِو بن حزم: «أَن لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالدَّارَقُطْنِيِّ

ترجمه : دَ عبدالله بن ابي بکر بن محمد بن عمروبن حزم نه روایت دے فرمائي : چه نبي علیه السلام چه کومه هدایت نامه دَ عمروبن حزم دپاره لیکلے وه په هغے کښې دا وو چه قرآن ته دے پاک خلق لاس واوړي،

تشریح : التعلیق الصبیح کښې دي لایَمَسّ د سین فتحے سره نهي ده او ضمّے سره نفي ده او یا نفي دَ نهي په معنٰي واخله معلومه شوه چه د نبي صلّی الله علیه وسلّم په زمانه کښې د حدیثو کتابت شوے دے

حکم د حدیث

سبل السلام کښې دي چه سند کښې مقال نشته لیکن هیثمي ورله مجمع الزوائد کښې دوه شواهد ذکر کړي دي او لیکلے دي "رجاله موثوقون" دا روایت ئے د مجمع الزوائد په زوړ چاپ باب فی مس القرآن صـ۱۱٤ د لاندې راوړلے دے او دغسے ددے مضمون حدیث تخریج زیلعي په نصب الرایه کښې کړے دے پنځه صحابه ئے ذکر کړي دي (١) عمرو بن حزم (٢) حکیم بن حزام (٣) عثمان بن ابی العاص (٤) ثوبان (٥) ابن عمر رضوان الله علیهم اجمعین او علامه البانی هدایة الرواة کښې لیکلے دي مرسل صحیح الاسناد دے دغسے په یو روایت کښې د دارقطني کښې هم دي چه مرسل دے او رواة ثقه دي لیکن دا حدیث موصول هم راغلے دے او بیا ئے طرق د عمر بن حزم ، حکیم بن حزام ، ابن عمر اود عثمان ابي العاص رضوان الله علیهم اجمعین لیکلے دي فیصله ئے دا ده فهو بمجموع طرقه صحیح وقال الحافظ فی

Maktaba Tul Ishaat.com

بعض طرقه، واسناده لابأس به او علامه هيثمي ليكلي دي چه حاكم وائي على شرط الصحيح دے او ده له شواهد نشته

تعارف دَ عبدالله بن ابي بكر بن محمّد بن عمرو بن حزم

اشعة اللمعات كښې دي دے او ده پلار او نيكه درے واړه تابعين دي او مشر غټ نيكه عمرو بن حزم صحابي دے چه نبي عله السلام هغه دَ يمن گورنر جوړ كړے وو او ده ته ئے خط ليكلے وو دے هغه روايت كوي دغه خط كښې دے صحابي ته دَ فرائض ، سنن ، صدقات او ديات وغيره احكام ليكلے وو او دغه خط د سننو باب كښې مشهور دے انتهٰى

د عمرو بن حزم كنيت ابو ضحاك دے د ټولو نه مخكښې د خندق غزا كښې شريک شوے دے د پيغمبر عليه السلام د يمن طرفونو كښې په اهل نجران عامل جوړ كړے وو عمر ئے دغه وخت كښې صرف وولس (١٧) كاله وو مدينه منوره كښې ٥١ ﻫ يا ٥٤ ﻫ كښې وفات شوے دے

صاحب مرقات دَ مصنّف دَ مشكوٰة نه نقل كوي چه عبدالله بن ابوبكر انصاري مدني تابعي دے د انس بن مالک رضي الله عنه او د عروة بن زبير رضي الله عنه نه روايت كوي او ده نه زهري مالک بن انس او ابن عيينه روايت كوي كثير الحديث رشتنے وو عمر ئے اويا كاله وو او محمد بن عمرو بن حزم د پيغمبر زمانه كښې په نجران كښې په لسم كال پيدا شوے وو او پلار ئے د نبي عليه السلام د طرفه عامل وو

(١٥)وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي حَاجَةٍ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَضَى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ وَكَانَ مِنْ حَدِيثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ فِي سِكَّةٍ مِنَ السِّكَكِ فَلَقِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَتَوَارَى فِي السِّكَّةِ ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرَى فَمَسَحَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ وَقَالَ: «إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلَامَ إِلَّا أَنِّي لَمْ أَكُنْ على طهر» .
رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه: د نافع نه روایت دے وائی څه د تقاضا پوره کولو د وجے ابن عمر سره لاړم نو هغوی خپل اودس ماتے اوکړو او په دغه ورځ ئے دا حدیث ذکر کړو چه وئیل ئے چه یو سړے په یو کوڅه د کوڅو کښې تیریدو نو نبی پاکﷺ سره ئے داسے حالت کښې ملاقات اوشو چه هغوی د ورو بولو اویا دَ غټ اودس ماتی نه راوتلے وو هغه سړی په نبی علیه السلام باندے سلام واچولو نبی علیه السلام جواب ورنه کړو تر دے چه سړے نزدے وه چه په کوڅه کښې پناه شوے وو نبی علیه السلام په دیوال باندے دواړه لاس اوهلو او خپل مخ باندے دواړه لاسونه راخکلو بیا ئے بل ځل دیوال مسح کړو نو مسح ئے په خپلو دواړو څنګلو اوکړه بیا ئے دغه سړی له د سلام جواب ورکړو او اُوئے فرمائیل څه دَ ستا دَ سلام دَ جواب دَ واپس کولونه نه ووم منع کړے مګر صرف په دے وجه چه څه په اودس کښې نه اُوم (ابوداؤد)

تشریح: د نافع لکه پیژندګلو

ابو عبدالله المدنی د ابن عمر مولٰی دے مشهور فقیه قابل اعتماد دے دَ طبقه ثالثه نه دے ۱۱۷ ھ کښې یا لږ روستو وفات شوے دے (تقریب)

ابن حبان دَ دوی تذکره په ثقات تابعینو کښې کوی استاذانو کښې ابن عمر او ابو سعید ئے ابوهریره، رافع بن خدیج، امّ سلمه او عائشه امّ المؤمنین رضوان الله علیهم اجمعین دی ابن جریج اوزاعی مالک او لیث رحمهم الله ئے شاګردان دی امام بخاری مالک عن نافع عن ابن عمر ته د تولو نه خه صحیح سند وائی دیرش کاله دوی د ابن عمر خدمت کړے دے اشعة کښې دی چه اصل ئے دیلمی دے بعض وائی عربی دے او روستو ئے دوی مفت آزاد کړی دی ارشاد الساری کښې ورته نافع بن سرجس وئیلے دے لیکن ابن حبان دَ ثقات نه نقل کوی چه دا غوګ بل شخصیت دے

سکتة: شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښې لیکلے دی چه برابر لارے ته وئیلے کیږی

احناف ددے حدیث نه استدلال کوی چه کومو کارونو له اودس اولٰی وی د ضرورت وخت کښې تیمُّم ورله درست دے لیکن که تیمُّم ورله واجب وی د انتهائی سخت ضرورت نه بغیر تیمُّم صحیح نه دے

قضٰی ابن عمر حاجته: یا ترے انسانی خاص حاجت دَ اودس ماتے یا بل څه حاجة مراد دے دا علامه هیثمی فتح الاله کښې لیکلےدی (حاجته) "ه" ضمیر سیدنا ابن عمر رضی الله عنه ته راجع دے ګوبا حاجت د دوی وو او ددے روایت نه معلومیږی که د سلام کولو نه پس جواب ورکونکے لږ غوندے

سکوت وکړي یا جواب ورکړي باک نه کوي او ډوی د بیع ایجاب و قبول هم په دے قیاس کوي که د ایجاب د ذکر نه بعد قبول کښې معمولي فاصله راشي نو صحیح ده، ضرورت د حاجت، ادنیٰ مرتبه وي،

ضرب رسول الله صلی الله علیه وسلم بیده علی الحائط- علامه طیبي رحمة الله علیه لیکي چه د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد مطلقًا دغسې دیوال باندے تیمُّم جائز دے او د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد چه خوره پرې ښکاره وي او حدیث کښې دلالت په دے مسئله دے چه د اودس ماتي په وخت کښې خبرے مکروه دي او لیکي چه حضر کښې هم د جواب دپاره تیمُّم درست دے د سلام جواب ورکول پکار دي چه ددے نسبت تکبر ته او نه کړي او د عذر د وجې تاخیر علامه هیثمي وائي چه دلالت کوي چه د سلام جواب ورکول واجب دي مرقات کښې ملا علي قاري رحمة الله علیه لیکي چه دا سلام وکلام د فراغ نه بعد دي

له اکن علی طهر: ددے نه بعض شارحین دا مستنبط کوي چه د اودس یا تیمُّم کولو نه بعد د الله ذکر مستحب دے ځکه چه سلام اصل کښې د الله نوم دے او بعض د سلام نه سلامتیا اخلي او شارحین لیکي چه حدیث کښې داسې مسئله کښې د تیمُّم کولو جواز دے چه هغه څیز فوت کیږي چه په کامله طریقه د هغې بیا تلافي نه کیږي لکه جنازه فوت کیږي نو دے بیا د هغې تلافي نه شي کولے ځکه دے غه د میّت ولي نه دے چه انتظار به ورته کولے شي مصنّف ابن ابي شیبه کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے "اذا خفت ان تفوتک الجنازة وانت علی غیر وضوء فتیمم وصلّ" تخریج زیلعي صـ۱/۸۲ او د ابن عمر رضی الله عنه نه نقل دے "اُتی الجنازة وهو علی غیر وضوء فتیمم ثم صلی علیها" رواه البیهقي في المعرفة الجوهر النقي ا۔۵۹ او د جهت جامعه په وجه اختر په جنازے قیاس دے او مولانا عبد الحی رحمة الله علیه د هدایه په حاشیه کښې د ابن عمر رضی الله عنه نه اختر نمونځ فوت کیدو وخت کښې تیمُّم لیکلے دے او د اختر نمونځ په کلي کښې صرف یو ځائے کښې مطلوب او ډیر محمود عمل دے اګر چه د بعض عذرونو د وجې تعدُّد صحیح دے، "علی ان صلاة العیدین في موضعین جائزة بالاتفاق" (فتاوي هندیه۱: ۱۵۰)

او ملا علي قاري رحمة الله علیه لیکي دي چه ما د خپلو علماؤ نه دغسې دلیل ددے نه نیول نه دي لیدلي انتهی د تیمم دپاره ئې دے روایت کښې دوه خبرې استعمال کړې دي او مخ او لاس ئې تر څنګلو مسح کړي دي چه د تیمم باب کښې بحث راروان دے امام طحاوي رحمة الله علیه یو روایت د نافع عن

عبداللہ بن عمر رضی اللہ عنہ نہ نقل کړے دے چہ سیدنا ابن عمر رضی اللہ عنہ د "جرف" د غاړے راغے اوپہ مربد کښې پہ خاورہ تیمم اوکړو فمسح بوجهه ویده الی المرفقین ثم صلیٰ (رواہ ابو داؤد)

د حدیث مقام

امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ د مرفوع روایت انکار اوبیهقی ئے غلے غلے اقرار کوی او علامہ خطابی رحمۃ اللہ علیہ لیکلے دی "لا یصح" ځکہ چہ محمد بن ثابت العبدی ضعیف دے "لا یحتج بہ" ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ چہ د ابن حجر سندہ حسن لیکل غیر مستحسن دے لیکن حسن لغیرہ واغستلے شی صحیح بہ وی

(١٦):وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بن قنفذ: أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى تَوَضَّأَ ثُمَّ اعتذر إِلَيْهِ فَقَالَ: «إِنِّي كرهت أَن أذكر الله عز وَجل إِلَّا على طهر أَو قَالَ على طَهَارَة» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَى النَّسَائِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: حَتَّى تَوَضَّأَ وَقَالَ: فَلَمَّا تَوَضَّأَ رَدَّ عَلَيْهِ

ترجمہ : مهاجر بن قنفذ نہ روایت دے: دے نبی صلّی اللہ علیہ وسلّم لہ داسے حالت کښې راغے چہ هغوی واړہ بول کول نو سلام ئے پرِ اوکړو نو جواب ئے هغے ورنہ کړو چہ اودس یا پاکی ئے نہ وہ حاصلہ کړے بیا ئے ورتہ عذر پیش کړو اوئے فرمائیل یقیناً ما بد گنړل چہ د اللہ یاد بغیر د اوداسہ یا د پاکئ اوکړم،

تشریح : مهاجر بن قنفذ لږہ پیژندګلو

مهاجر بن قنفذ بن عمیر قرشی تمیمی دے او مهاجر ئے لقب وو ځکہ چہ د دوی بارہ کښې راغلی نبی علیہ السلام اوفرمائیلو "هو المهاجر حقًّا" دوی د فتح مکے پہ ورځ اسلام راوړلے وو د هجرت نہ پس استوګنہ ئی بصرہ کښې اختیار کړے وہ هلتہ وفات شوے دی سیدنا عثمان رضی اللہ عنہ پہ پولسو مشر مقرر کړے وو بعض علماء وائی چہ مهاجر او منقذ دواړہ لقبہ دی ځکہ شیخ عبدالحق رحمۃ اللہ علیہ ئے خپل نوم خلف بن عمیر اشعۃ کښې ذکر کړے دے خوک وائی خپل اصلی نوم ئے عمرو وو حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ وغیرہ دَ دوی نہ روایت نقل کړے دے

Maktaba Tul Ishaat.com

توضّأ : اودس یا تیمم مراد دے او

فسلّم علیه : طحاوی رحمة الله علیه لیکلی دی فلمّا فرغ من وضوءه قال انّه لم الخ

انّی کرهت : مطلب مظاهر حق کښې دی دَ مکروه دا مطلب نه دے چه بے اودسه د الله نوم اغستل حرام دی بلکه ددے ارشاد مطلب دا دے چه دا غوره دی چه په اوداسه کښې د الله نوم ذکر کړے او بے اودسه گناه نه دے

علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکلی دی چه ذکر اطلاق په هر مطلوب قولی کیږی او اصل وضع ئے داده چه شارع ئے تلفظ عبادت گرځولے وی چه د الله عظمت او د ثناء سره تعلق ساتی او په سلام باندِ د "ذکر" اطلاق مجاز شرعی دے او دا ئے دَ مشابهت د تشبیه دَتحقق دپاره کړے دے

او التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث رحمة الله علیه لیکلی دی دا او مخکښې حدیث کښې واقعه جدا جدا دی یا د "یتوضّأ" نه مراد پاکی مراد ده اگر چه په تیمم وی دا پاکی،

یو واقعه ده یا دوه؟

دے روایت کښې د وړو بولو حالت کښې د سلام ذکر دے او مخکښې روایت کښې د فراغت نه بعد (۲) مخکښې روایت کښې د "تیمم" او دلته "توضّأ" دے نو جدا معلومیږی او که یوه واقعه حساب شی نو بیا "یبول" حکایة الحال ماضی دے او د اودس نه مطلقا پاکی مراد ده او که اول کښې تاویل نه کوو چه دا الفاظ د تاویل نه مانع معلومیږی نو ظاهری معنٰی باندِ اشکال دے چه ابن ماجه کښې روایت دے چه د جنابت حالت کښې سلام منع دے او رد ئے واجب نه دے بیا ددے تاخیر څه مطلب شو نو که دا په ظاهر باندِ حمل کوو نو دا تاویل به کوو چه دغه سړی ته دغه مسئله معلومه نه وه معذور وو ځکه ورله نبی علیه السلام جواب ورکړو دا د پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم د خپلوملگرو سره د نرمئ ښکاره نښه ده

مسئله: رخصت دے چه بے اودسئ کښې جواب ورکړے شی لیکن عزیمت دا دے چه د اودس حالت کښې دِ جواب ورکړے شی پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم کله د بیانِ جواز دپاره په رخصت عمل کړے دے او کله چه به ئے په عزیمت عمل کولو نو د اودس اهتمام به ئے کړے وو

حکم د حدیث

علامه البانی رحمة الله علیه لیکلی دی چه ابوداؤد په دے روایت سکوت کړے دے او منذری رحمة الله علیه هم سکوت کړے دے او لیکی چه امام نووی رحمة الله علیه ورته په اذکار کښی صحیح وائی او علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکلی دی سند د روایت حسن دے.

(۱۷)عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجْنِبُ ثُمَّ يَنَامُ ثُمَّ يَنْتَبِهُ ثُمَّ يَنَامُ. رَوَاهُ أَحْمد

ترجمه : دَ ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے فرمائي : چه نبي علیه السلام به دَ جنابت په حالت کښی اوده کیدو بیا به راویخیدو بیا به اوده کیدو،

تشریح : د نبی علیه السلام په غسل کولو نه کولو. جنابت کښی پاتے کیدو او نه پاتے کیدو او خوب کولو کښی مختلف طریقے نقل دی دا هم په دغے متنوع طریقو کښی یوه طریقه ده او معلومه شوه چه "کان" هر وختے دوام له نه راځی

علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکی احتمال دے چه اودس به ئے کولو لکه بل روایت کښی دی او دلته دے له نه دِ ذکر چه علم ئے هر چا ته دے او یا دا اودس واجب خو دے او د بیان جواز دپاره ئے اودس کله پریخودلے هم دے استاد المشائخ قاضی شمس الدین رحمة الله علیه التعلیق الفصیح کښی لیکی دا به په دے حمل کولے شی چه اودس به ئے اوکړو بیا به اوده کیدو.

(۱۸)وَعَنْ شُعْبَةَ قَالَ: إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يفرغ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى سَبْعَ مِرَارٍ ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهُ فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ فَسَأَلَنِي كم أفرغت فَقُلْتُ لَا أَدْرِي فَقَالَ لَا أُمَّ لَكَ وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيَ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى جِلْدِهِ الْمَاءُ ثُمَّ يَقُولُ هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَطَهَّر. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د شعبه نه روایت دے چه ابن عباس رضی الله عنه به کله د جنابت غسل اوکړو په ښی لاس سره به ئے په کس لاس اوه (۷) کرته اوبه اچولے بیا به ئے شرم گاه اووینځلو نو یو ځل ئے هیر شو چه څوځله ئې واچولے زمانه ئے تپوس اوکړو ماورته اوئیل ماته پته نشته او اوئے فرمائیل مور دِ مره شه اوځه ځیز تا له دَ یاد ساتلو نه منع کړو؟ بیا ئے داسے اودس اوکړو لکه چه نمانځه له کیږی بیا ئے په خپل ځرمن باندے اوبه راواچولے بیا ئے اوفرمائیل داسے به نبی صلّی الله علیه وسلّم ځان پاکولو۔

تشریح : **د شعبه پیژندګلو**

دا شعبه ابن دینار ابو عبدالله د سیدنا ابن عباس رضی الله عنه مولٰی وو اونسائی ضعیف کړے او نورو قوی کړے دے او مصنف رحمۃ الله علیه ئے تذکره نه کړے (مرقات)

او په تقریب کښې دی صدوق ، سیئ الحفظ او امام احمد رحمۃ الله علیه فرمائی لابأس به دے گزاره حال راوی دے دا مدنی دے مقبول من الرابعه د هشام دَ خلافت وسط کښې وفات شوے دے

دویم بل شعبه بن الحجاج بن الورد بصری دے دلته هغوی نه دی مراد هغوی خو امیر المؤمنین فی الحدیث دے دوی به امام ابو حنیفه رحمۃ الله علیه سره ډیره مینه کوله دوی ۱٦٥ کښې وفات شوی دی

سبع مرار: دا په کمال دلالت کوی او کتاب المجموع ۲ـ٤۲۱ بانډِ دی فلم یزل رسول الله صلّی الله علیه وسلّم یسأل حتّٰی جعلتا یصلّون خمسًا والغسل من الجنابة مرّة وغسل الثوب البول مرّة،

ملا علی قاری رحمۃ الله علیه د ابن حجر رحمۃ الله علیه قول نقل کوی کیدے شی نجاست په لاس وو لس ځله ځکه دا کوی چه نسخ ورته نه دے رسیدلے او امام احمد رحمۃ الله علیه ته هم نه دے رسیدلے نو د هر نجاست د اووه (۷) ځله د وینځلو قائل دے او دویم قول دا دے چه د نسخ خبر رسیدلے دے لیکن دا مذهب ئے دے چه وجوب منسوخ شو نو استحباب ئے باقی دے اگر چه اصح دا دے چه مطلق جواز صرف باقی دے نه خصوص استحباب ځکه هیثمی رحمۃ الله علیه لیکی وکان من مذهبه ما قاله جمع اصولیون انه اذا نسخ الوجوب وبقی الندب او بعض اصولی اصح قول دا نقل کوی چه د وجوب د نسخ نه پس مطلق قیاس پاتے دے نه خاص استحباب،

ثمّ یتوضّأ: هیثمی رحمۃ الله علیه لیکی ثمّ د ترتیب ذکری دپاره دے نو د شرم گاه د وینځلو نه پس ئے مبالغۃً د صفائی دپاره اووه ځله اووینځل

لا ام لک: التقریر الرفیع کښې دی چه مطلب دا دے چه ستا مور ته حاجت نشته په چا اعتماد مه کوه په خپلو خپو اودریږه مرقات کښې دی کله دا په معرض د مذمت او کله د تعجب مقام کښې استعمالیږی

فرق په مینځ د لا اب لک ولا ام لک

علامه طیبی رحمة الله علیه لیکی "لأن الأب إذا فقد دل علي استقلال الابن؛ لأنه هو القائم في أمر ولده ما دام حياً، فإذا مات استقل هو بنفسه، لكن الأم منسوب إليها الرفق والشفقة، ففقدانها ذم له"

چه کله پلار نه وی نودا دلالت کوی چه ځوئے مستقل دَپلار په ځائے ولاړ دے تر څو چه ژوندے وی او د پلار د مرګ نه پس استقلال لری لیکن مور مهربانه او شفقت لرونکی وی او دَ هغې روکیدل مذمّت حسابیږی دلته د مذمت په ځائے استعمال دے هیثمی رحمة الله علیه لیکی د پلار وفات سره ډیر د حال فساد راځی،

ما یمنعک ان تدری: فتح الاله او اشعة اللمعات کښې دی چه شیخ کله یو عمل کوی شاګرد ویخ او بیدار وی غافل دِ نه پاتے کیږی چه د شیخ عمل ورته یاد شی او شیخ له هم پکار دی که طالب غفلت اختیار کړی نوسختی دِ ورسره کوی

د کان استعمال

ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی کان لاتفید الدوام علی التحقیق بلکه دا امر عرفی وی وصفی نه وی دا د عبدالله بن عباس رضی الله عنه عام عادت نه وو او دا مسئله هم معلومیږی چه تابعی دِ د صحابی د فعل اتباع اوکړی

سوال: د حدیث د باب سره څه مناسبت دے،

جواب: ظاهر کښې مناسبت نشته لیکن ددے حدیث بعض احکام د مناسبت سره تعلق لری نو استطرادًا ئے ذکر کړو که باب الغسل کښې ئے ذکر کړے وو ډیره به خه وے (مرقات، فتح الاله)

علی جلده الماء: دا ئے صرف اصل ذکر کړو دا نه لازمیږی چه د سر ویخته به دے غسل کښې نه وینځے او دا ضعیف روایت دے د هغې نورو قوی روایتونو مقابله کښې نه شی اودریدے چه پکښې درے ځله د وینځلو ذکر دے

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۹)وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ يَغْتَسِلُ عِنْدَ هَذِهِ وَعِنْدَ هَذِهِ قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا تَجْعَلُهُ غُسْلًا وَاحِدًا آخِرًا قَالَ: «هٰذا أَزْكَى وَأَطيب وأطهر» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد

ترجمه : د نبی علیه السلام مولی ابو رافع نه روایت دے چه نبی علیه السلام په رنړا ورځ په یو ځل خپلو بیبیانو خصوصی چکر اولګولو، دے بی بی سره او دغے بی بی سره به ئے غسل کولو ابو رافع وائی ما ترِ تپوس اوکړو دا دِ ټول یو غسل ولے نه جوړولو اُوئے فرمائیل دا هر ځل غسل ډیره ذَ پاکیزګئ د خوشبوئی او د ستهرائی کار دے

تشریح : مظاهر حق کښې دی چه ددے باب د پنځم حدیث نه معلومیږی چه نبی علیه السلام په یو شپه کښې چه کله ټولو بیبیانو سره کوروالے اوکړو یو ځل ئے غسل اوکړو دغه عمل ذَ امّت د آسانتیا د شکاره کولو دپاره وو لیکن ددے حدیث خودلے شوے عمل چه ذَ هر جماع نه پس ئے غسل کړے دے دغه افضل او بهتر دے

دے حدیث کښې درے الفاظ استعمال شوے دی (۱) ازکی (۲) اطیب (۳) اطهر علامه طیبی رحمة الله علیه الکاشف کښې لیکلی دی چه تطهّر د ظاهر او ذَ تزکیه سره او تطیّب ذَ باطن سره تعلق لری یعنی تطهیر د بدو اخلاقو ذَ لرکولو دپاره استعمال شو او تزکیه او تطیب د خو خصلتونو د حصول دپاره دے یو ځائے کښې دفع د مضرت ده او بل مقام کښې جلب منفعت دے دا ئے مطلب شو چه دغسے غسل سره خراب اخلاق لکه غصه لرکیږی او ښکلی اخلاق یعنی علم او تقوی حاصلیږی او علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکی چه غسل سره دوباره جماع کولو دپاره هغه نشاط راځی چه په اودس نه راځی،

(۲۰)وَعَن الحكم بن عَمْرو قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طَهُورِ الْمَرْأَةِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالتِّرْمِذِيُّ: وَزَادَ: أَوْ قَالَ: بِسُؤْرِهَا. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح

ترجمه : حکم بن عمرو فرمائي : نبي علیه السلام منع کړے ده چه سړے دے ذَ زنانه نه په پاتے شوے اوبو اودس اوکړي،

تشریح : دحکم بن عمر تعارف

ابن عمر ئے نوم دے د قبیلے د غفار پہ نسبت مشهور دے صحابی دے د نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم د وفات نه پس بصرے ته تلیے وو دده ناڅکه وررور زیاد دے د خراسان حاکم جوړ کړے وو وفات ئے هم د خراسان د مرو په مقام کښں ۵۰ھ کښں د معاویه رضی اللّٰه عنه خلافت کښں شوے دے د پلار نوم ئے اقرع دے ابو داؤد کښں دی عن الحکم بن عمرو هو الأقرع

ددے مسئلے وضاحت مخکښں شوے دے چه امام احمد و اسحق رحمة اللّٰه علیهما وائی چه د ښځے د پاتے اوبو نه سړی له غسل جائز نه دے او دا اهل ظواهر هم وائی او ددے حدیث نه استدلال کوی چه نهی النبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم عن فضل طهور المرءة ،

(۲) حکم بن عمرو الغفاری د موجود روایت نه او دَ آئمه ثلاثه دلیل دَ ابن عباس او دَ عائشے رضوان اللّٰه علیهما روایت دے او عقلی طور هم چه اوبه بغیر د پلیتیٔ د واقع کیدو نه پاکے دی نو په استعمال څنګه پلیتیږی او شاه انور شاه کشمیری رحمة اللّٰه علیه د دفع د وسواس دپاره اولی ګڼړی هغه چا له چه د پردیٔ ښځے په پاتے اوبو ورته غلطے وسوسے او تصورات راځی نو دا باب الفقه سره تعلق ساتی یا بعض ښځے فطرةً پوارے وی او دَ نظافت او دَ سلیقے نه بے خبره وی بیا صرف استعمال مکروه تنزیهی دے واضحه دِے وی هغه اوبه چه نبی علیه السلام استعمال کړے وی هغه خو بالاتفاق د برکت نه ډکے او بالکل پاکے اوبه دی د نبی علیه السلام د اودس باقی اوبه که پرِ جابر رضی اللّٰه عنه ئے بے هوشیٔ کښں اچولے دی یا نبي علیه السلام ګوتے مبارکے پیالے کښں یخے دی معجزة هغه ډیرے شوے دی دا ما به النزاع نه دی او احادیث د نهی بعض سندًا ضعیف دی او علامه خطابی رحمة اللّٰه علیه د "فضل" دریمه معنی کوی هغه اوبه چه د اندامونو نه اوغورځیږی "المتساقط من الاعضاء" یا ابن رسلان وائی په شرح د ابو داؤد کښں چه د حکم د روایت یو عذر دے چه امام بیهقی رحمة اللّٰه په حپل کتاب المعرفت کښں لیکلے دی که روایت صحیح وی نو بیا منسوخ دے

هٰذا حدیث حسن صحیح : التقریر الرفیع کښں دی چه دغسے د مشکوٰة په نسخو کښں دی لیکن ترمذی کښں صرف حسن دے

(٢١)وَعَنْ حُمَيْدِ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ لَقِيتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ سِنِينَ كَمَا صَحِبَهُ أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ أَوْ يَغْتَسِلَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ. زَادَ مُسَدَّدٌ: وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيعًا رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَزَاد أَحْمد فِي أَوله: نهى أَنْ يَمْتَشِطَ أَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ أَوْ يَبُولَ فِي مغتسل وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سرجس

ترجمه: حميد حميرى فرمائى د داسے سړى سره مے ملاقات اوکړو چه د نبى عليه السلام سره څلور کاله ملګرے پاتے شوے وؤ لکه چه سيدنا ابوهريرة رضى الله عنه ورسره ملګرے پاتے شوے وو فرمائيل ئے چه نبى عليه السلام منع کړے ده چه ښځه د سړى اوسړے د ښځے په پاتے اوبو اودس اوکړى مسدد راوى دا تکى زياتى نقل کړى دى دواړه دِ تړ چونکونه ډکوى امام احمد رحمة الله عليه اول کښې زيادت کړے دے چه منع نے کړے ده چه مونږه کښې يو کس هر وخت منګز کوى يا د لامبلو ځائے کښې واړه بول کوى

تشريح : د حميد الحميرى تعارف

د دوى نوم حميد بن عبد الرحمٰن دے تعلق ئے د حمير قبيلے سره وو په هغے نسبت په حميرى سره مشهور دے غټ شان والا تابعى دے د خپل علم وفضل په بنياد د بصرے والو امام ګنړلے کيدو د سيدنا ابوهريرة رضى الله عنه او د ابن عباس رضى الله عنه شاګردانو کښې حسابيږى او شاګردانو کښې ابن سيرين رحمة الله عليه او اهل بصره دى

حمير بن سبا بن شجب بن معرب مشهوره قبيله ده ابن سيرين رحمة الله عليه ورته افقه د بصريانو وائى امام طحاوى رحمة الله عليه شرح معانى الأثار کښې روايت داسے په باب سؤر بنى آدم کښې ذکر کوى حدثنا احمد بن داؤد بن لوسى قال ثنا مسدد قال ثنا ابو عوانه عن داؤد بن عبدالله الأورى عن حميد بن عبدالرحمٰن قال لقيت من صحب النبى صلّى الله عليه وسلّم كما صحبه ابو هريرة اربع سنين الخ سيدنا ابو هريرة رضى الله عنه په غزوه خيبر کښې دَ هجرت اوم کال وو په هغے کال مسلمان شوے وو تقريبًا

څلور کال ئے اسلام کښې تير کړي دي، دغه وخت کښې دَ خيبر غزا ختمه شوے وه او مال غنيمت تقسيم شوے نه وو،

مسدد : ابن سرهد بن سربل الأسدی ، ابوالحسن د بصرے اول هغه ثقه او حافظ دے چه بصره کښې مسند ليکلے وو څوک وائی نوم ئے عبدالملک بن عبدالعزيز دے او مسدد ئے لقب دے او حماد بن زيد او د ابو عوانه شاګرد دے او امام بخاري او امام ابوداؤد رحمة الله عليهما ئے شاګردان دی ابو حاتم وائی د دوی احاديث د قطان عن عبيدالله بن عمر د دنانيرو غوندِ دی ګويا چه ته د پيغمبر نه اورے مرقات کښې دی ۱۲۸ھ کښې وفات شوے دے

د معظم وزن بانډِ دے اشعة کښې دی از کبار اتباع تبع تابعين است درمرتبه احمد بن حنبل رحمة الله عليه

کلّ يوم: د يوم نه وخت مراد دے هر وخت سر کښې منګز وهل او ويخته استری کول د هغه چا عادت دے چه بے زايه زيب وزينت خوښوی

عبدالله بن سرجس

مزنی صحابی دے بصره کښې پاتے کيدو او د نبی صلّی الله عليه وسلّم مُهرِ نبوت ته ئے کتلے دی او دغه مهر ئے ښکل کړے دے او نبی عليه السلام دۀ له بخنه غوښتلے ده او د نبی صلّی الله عليه وسلّم سره دوی غوښه او ډوډۍ خوړلے ده رضی الله عنه. چه څوک وائی سړی له د ښځے په پاتے اوبو او ددے عکس هم ناجائز دے د هغوی دا حديث ابن سرجس دليل دے چه دوی د نبی عليه السلام سره څلور کاله ملګرتيا کښې تير کړی دی او دغسے د هغوی دليل د حکم الغفاری دغسے روايت دے ليکن د جمهورو قول مطلقًا د جواز دے حديث د عائشے ، ام سلمه ، ميمونه او انس رضوان الله عليه وعليهنّ دليل دے کان يغتسل والمرءة من نسائه من اناء واحد، او د ام حبيبه رضی الله عنها حديث دے چه اختلفت يدی و يد رسول الله صلّی الله عليه وسلّم فی الوضوء من اناء واحد او د عقل په نظر دا ځکه صحيح دی چه ټول نجاسات کله اوبو کښې د اودس کولو نه مخکښې او يا اودس کولو سره اوغورځيګی د دواړو حکم يو دے او که سړی د ښځے سره برغ اودس کوی دے سره اوبه نه پليتيږی ، پکار دادي چه په پاتے اوبه د يو بل او يا جوته شوے اوبو دے هم څه حرج پکښې نه وی، او عبد الله بن سرجس

فرمائی "لا بأس ان یغتسل الرجل والمرءة من اناء واحد فأذا خلت به فلا تقر به آه" علامه عینی رحمة الله علیه خپله شرحه کښې لیکی رجال ئے د صحیح غونډې دی بغیر د ابن خزیمه نه او ابن حزم ورته صحیح وائی دارقطنی او بیهقی ورته موقوف وائی او امام بخاری رحمة الله په مرفوع وئیلو کښې خطا شوے دے او ابن القطان ئے تصحیح کښې توقف کړے دے، نشر الأزهار ص۳۶

بَاب احکام المیاه

ربط : مخکښې د جنابت احکامات اومسائل بیان شو، د جنابت لرګول عمومي حالاتو کښې په اوبو سره وی ، نو اوبو سره متعلق دَ احکاماتو دَ وضاحت دپاره ئې دا باب ذکر کړو جوهري صحاح کښې وائي اصل کښې په "موه" کښې دَ واو حرکت دے ځکه چه جمع قلّت ئې امواه او کثرت ئې میاه اوتصغیر ئې مويه دے (میاه) جمع دَ ماء ده اوتصغیر ئې مویه دی بلوغ المرام من ادلة الاحکام لصفی الرّحمٰن مبارکپوری او لمعات التنقیح کښې دی چه جمع ئې ذکر کړه چه انواع دَ اوبو متعدد دی، د سمندر اوبه ـ راکدُ جاری، قلیل ، کثیر، مستعمل ، سؤر الحیوانات ماء الحیاض ، هغه اوبه چه په نمر کرمے شوے وی دے باب کښې د ټولو تذکره ده او ضابطه د اودس دَ جائز کیدلو دا ده چه اوبه به مطلق وی پاکے به وی اوصافو کښې به ددے بدلون نه وی راغلے او د مطلق نه مراد دی ، لکه د لوبیا د چڼړے او دَ ګلابو اوبه شوے چه هیڅ وقت کښې د اضافت په صورت کښې تر دغه نوم نه شي جدا کیدلے او په دے سره احتراز د هغې اوبو نه راغے چه دغه اضافت ورته کیدے شي لکه ماء النهر او ماء البحر ددے اضافت او نه اضافت برابر دے او دواړو اضافتونو کښې فرق دا دے چه په اول کښې د اوبو نفی نه صحیح کیږی او په دویم کښې نفی صحیح کیږی التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوی رحمة الله علیه لیکي چه دلته دوه امره دی یا به اوبو کښې بالفعل بدلون راځي یا به بدلون ته مفضی کیږی ددے دواړو کارونو نه اجتناب پکار دے د ټولو نه اعلیٰ د باران اوبه دی بیا دَ دریابونو ، التقریر الصبیح کښې دی د دریاب اوبه حقیقت کښې د هغې واوره دی چه په غرونو غورځیګی بیا ویلے کیږی دریاب ته راځي دریم قسم هغه اوبه راځي چه د زمکے نه د چینے په شکل کښې راوځي په څلورم نمبر د کوهانو اوبه دی اوس خو تیوب ویل دی الله د اوبو خزانه جوړه کړے ده بنیادم اوبه اوڅکی او خوله راشی ، په زمکه غورځیږی جذب شي بیا ترِ اوبه جوړے شي د زمکے نه رابهر شي الله ډیر عجیبه نظام جوړ کړے دے په سمندر باندے نمر لګی وریځے جوړیږی او آسمان ته ځی بیا ترِ باران جوړیږی او بیا دریابونو او سمندرونو ته رارسیږی نو د کوم ځائے نه چه راغلے دی هلته واپس ځی ګرمۍ کښې اوبه ګرمے او ژمی کښې یخے وی د نمر او سپوږمۍ اثرات پرِ غورځیږی

نورالأیضاح کښې پنځه قسمه اوبه ذکر کړے دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) طاهر مطهر غير مكروه، دا ماء مطلق دی،
(۲) طاهر مطهر مكروه ، دا مكروه تنزيهی دی ،
(۳) طاهر فی نفسه ، غير مطهر للحدث ، چه د رفع حدث او يا قربت دپاره په نيت سره استعمال شی ،
(٤) ماء كښې چه په اولا ړو لړو اوبو كښې نجاست پريوځی (٥) ماء مشكوک په طهوريت كښې شک دے په طهارت كښې نه دے چه خر او يا قچر ترِ اوڅکی

الْفَصْل الأول

(۱):عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي ثُمَّ يغْتَسل فِيهِ»وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: «لَا يَغْتَسِلُ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ» . قَالُوا: كَيْفَ يَفْعَلُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ قَالَ: يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلًا

ترجمه: دَ ابوهريره ؓ نه روايت دے فرمائي : چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي چه په تاسو كښې دے څوک په اولا ړو اوبو كښې چه نه بهيږي واړه بول نه كوي او بيا پكښې غسل هم كوي ، او دَ مسلم په يو روايت كښې راځي غسل دے نه كوي يو تن په تاسو كښې په هغه اوبو كښې چه هغه اولاړے وي او دے جنب وي خلقو اووے اے ابوهريره څنګه لامبل پكار دي دَ هغے نه دے لګے لګے اوبه راخلي او په هغے دے لامبي،

تشريح : يتناوله تناولًا يعني د هغے نه دِ لږے لږے اوبه راخلي په لږو لږو راغستلو سره

مذاهب

امام مالک ، ثوری ، ليث او ظاهريه رحمهم الله عليهم وائی چه څو پورے درے اوصاف د اوبو نه وی بدل شوے (خوند ، رنګ او بوئی) اوبه پاکے دی او دغسے حسن او ابن المسيب رحمهما الله عليهما هم فرمائی

(۲) امام شافعی ، احمد ، اسحاق ، ابوعبید او یو جماعت رحمهم الله وائی چه دوه چاتی اوبه وی نو ترڅو چه پکښ بدلون نه وی راغلے پاکې دی او ددے نه کم به پلیتے وی که بدلون راغلے وی یا نه وی راغلے
(۳) احناف وائی اولاړے لږے اوبه مطلقًا پلیتے دی او چه اوبه جاری یا په حکم دَ جاری کښ وی نو تر هغې پاکے دی چه تر څو بدلے شوے نه وی او دغسے حماد ، ابراهیم او شعبی رحمهم الله فرمائی ، او سیدنا علی ، ابوهریرة ابن عباس او ابن زبیر رضوان الله علیهم نه نقل دی
لا یبولنّ : واړه بول ئے منع کړی دی غټ اودس ماتے خو په دلالت النص سره به منع وی لیکن علامه ابن حزم ۱ـ۱۲۵ بانډِ لیکی دا حکم د بول کونکی دپاره خاص دے بل چا له نه دے کنی د هغے ذکر به ئے کړے وو نه ئے هیر وو نه د ذکر نه عاجز دے انتهٰی ددے عبارت تحقیق او تعلیق کښ احمد شاکر صاحب لیکی په ظاهر ئے څه ډیر نا اشنا دلیل نیولے دے او داسے لار ئے اختیار کړے ده چه د عقل نه خلاف ده او نه ورسره نقل ملګرتیا کوی او امام نووی رحمة الله علیه په مجموع کښ صـ۱ـ۴۲ (دغسے شرح د مسلم کښ امداد) په دے پوره رد کړے دے ، "فی الماء" ابن حزم وائی که په لوښی کښ واړه بول اوکړل بیا ئے اوغورځول په دغه اوبو کښ باک نه لری (دغسے که دَ اوبو خوا کښ بول کوی او خپله ورته بول راغورځیګی بیا منع نشته اودس ترِ کولے شی څکه چه په اوبو کښ بول نه دی کړے) او بیا لیکی "ولو تغوط فی ماء جار جاز ان یتوضأ منه" که په روانو اوبو کښ غټ اودس ماتے اوکړو او بول ئے نه وی کړے اودس کول د دغے اوبو نه جائز دی احمد شاکر صاحب لیکی "وهذا مذهب عجیب وفی غایة الفساد که ددے نسبت ده ته صحیح وی ډیره بدرنګه خبره ده" او دے کښ هغه فساد دے چه په دے دلیل قائمولو ته هم حاجت نشته انتهٰی او دے ته امام نووی رحمة الله علیه په شرح د مسلم کښ په ظاهر د جمود باندے کلکیدلو قبیح ترین شکل وئیلے دے" شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښ لیکلے دی بعض عالمان وائی چه جاری اوبو کښ ډِ هم واړه بول نه کوی ، هسے نه چه دا د خلقو یو عادت جوړ شی،
ابن دقیق العید شرح الاحکام باحادیث الاحکام کښ لیکلے دي چه ابن حزم وائي اولاړے اوبه که لګے وي یا ډیرے وي که انسان پکښ متیازے اوکړي نو دغه واړه بول کونکے خاص طور باندے ددے نه اودس غسل نشي کولے او که نورے اوبه وي نو دغه کس به تیمم کوي لیکن ددغے سري نه علاوه بل

Maktaba Tul Ishaat.com

خوک ترے اودس او غسل دواړه کولے شي او دا اوبه پاکے او پاکونکے دي هغه چا لره چه په دے کښ ئے بول نه وي کړے ، انتهي

او نووی رحمۃ اللہ علیہ کتاب المجموع شرح د مهذب صــ٤٠ بانډ لیکی چه ډیره ظاهره دا ده چه نص کښ مکروه تنزیهی ده او لیکی چه سخت مکروه به وی اوحرام به نه وی" حالانکه مکروه تنزیهی کښ سخت کراهت هډو وی نه او سبب به ئے کرکه وی نه پلیتی دا دومره د تکلف نه کار ځکه اخلی چه د قلّتین په روایت چه د شوافعو استدلال دے په دے قدح رانشی،

فی الماء الدائم : ساکن او اولاړو اوبو ته وائی قاضي شوکانی رحمۃ اللہ علیہ دَ فتح الباری نه نقل کوی "دوّم الطائر تدويمًا" هغه وخت وائی چه بره فضا کښ مارغه وزرو له حرکت نه ورکوی او علامه طیبی رحمۃ اللہ علیہ لیکی "یدوم الطائر" چه هوا کښ وزرو له خوزول پریدی

الذی لا یجری : دا دویم صفت د اول تاکید دے او (ثم یغتسل فیه) ثم د عطف دپاره ده په صله چه "الذی" دے عطف دے او په دے دَ حکم مرتب کول دا خودنه کوی چه د منع وجه دا ده چه پلیتیږی نو لامبل پرِ ناروا دی او دائم ئے اووے چه د جاری حکم دغه نه دے چه تر څو په هغے کښ بدلوالے نه وی راغلے

یا "ثم" د واؤ غوندِ به وی لکه عرب وائی "لا تأکل السمک وتشرب اللبن" یعنی مهی او پئ دواړه مه جمع کوه ځکه هسے اولاړو اوبو کښ فقط چه بول پکښ نه وی شوے غسل کول منع نه دی دریم قول دا دے چه دا "ثمّ" دَ "فاء" معنی واخله لکه طٰهٰ ٨١ کښ آیت دے "وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي" او بیا ئے دا مطلب دے څوک دِ په دغسے اوبو کښ بول نه کوی بیا د عاقل نه ډیره لرے ده چه لامبي پکښ لا هم

یغتسل : هو یغتسل ، مرفوع به وی لیکن نصب ځکه ناجائز دے بیا به دا مطلب وی چه منع هغه وخت کښ ده چه دواړه جمع کوی یواځے کښ به نه وی او دا هیچا نه دی وئیلے بلکه بول دواړو صورتونو کښ منع دی که لامبی او که نه لامبی لیکن علامه طیبی لیکی رحمۃ اللہ علیہ چه د نصب توجیه هم ډیره بده نه ده قرآن کښ دی وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ البقرة ٤٢ دے آیت کښ د تلبیس او دَ کتمان جمع کولو نه هم منع ده او ځان له د تلبیس او فقط د کتمان هر واحد نه منع ده اګر چه دِ لا تأکل السمک و تشرب اللبن کښ داسے نه وی او د علامه طیبی رحمۃ اللہ علیہ خبره ځکه غوره

ده چه حافظ د ابن مالک رحمة الله علیه د الفیه نه رفع جزم دواړه صورتونه ذکر کړے دی نو نصب او جزم دریواړه صورتونه صحیح دی او حدیث کښ دلیل دے علامه طیبی رحمة الله علیه ذکر کوی چه چرته جنب پکښ د اوبو راغستلو دپاره لاس وردننه کړی د اوبو حکم نه بدلیږی اولیکی چه څمونږ د شوافعو په نزد غټ اوس ماتے کول دَ صرف بول نه هم اقبح او بدرنګ دی ، واضحه دِ وی چه طحطاوی په مراق صـ۱۷ باندِ لیکلے دی "واما ما فی کثیر من الکتب من ان الجنب اذا ادخل یده او رجله فی الماءفسد الماء" دا په شاذ روایت بناء ده "وامّا علی المختار للفتوی فلا" مفتٰی به قول د عدم فساد دَ اوبو دے

حدیث د احنافو مستدل دے

امام طحاوی رحمة الله علیه لیکی "لأن النجاسة تداخل الماء الذی لایجری" چه په اولاړو اوبو کښ نجاست وردننه کیږی احناف وائی چه لږے اوبه په پلیتئ سره پلیتیږی او دَ ډیرو اوبو کښ د احنافو په نزد رأی د مبتلٰی به له اعتبار دے علامه هیثمی رحمة الله علیه لیکی که اولاړے اوبه ډیرے هم وی غسل ترِ مکروه وی" مسلم کښ ۲۸۳ نمبر او ابن ماجه کښ ۶۰۵ نمبر روایت دے چه صاحب مشکوٰة ذکر کړے دے او اغتسال دواړو صورتونو کښ منع دے که بول ئے کړے وی یا نه وی او ددے وجه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد زوال طهارت او د امام شافعی رحمة الله علیه دَ جدید قول مطابق زوالِ طهوریت به وي" تیسیرالعلام شرح عمدة الأحکام کښ دی د مالکیه رحمهم الله په نزد کراهت او دَ حنابله او ظاهریه په نزد تحریم دے

الماء الدائم : قاضی شوکانی رحمة الله علیه وائی دائم د حروف اضداد نه دے دَ ساکن او دائم دواړو دپاره دے نو"لا یجری" دَ مشترک دَ یو معنٰی دپاره صفت مختصه دے بعض محدثین وائی چه راکد هغے ته وائی چه نه اوچیږی که جاری دی یا نه او راکد اولاړو اوبو ته وائی ، دائم عام دے دَ راکد نه،

د جنابت د اوبو حکم

التقریر الصبیح کښ دی چه په کومو اوبو د جنابت غسل اوشو امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ورته ناپاک وائی نجس دے په نجاست غلیظه او امام ابویوسف رحمة الله علیه فرمائی نجاست ئے خفیف دے اوامام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه طاهر غیر مطهر دے او امام مالک او احمد رحمة الله علیهما

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی چه قرآن کښې دی وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا طهور، د اوبو صفت دے چه اوبه وی طاهر او مطهر به وی لیکن ځمونږ متاخرین احناف فتویٰ د امام شافعی رحمة الله علیه دَ مسلک مطابق ورکوی چه طاهر دی او مطهر نه دی

د حدیث تعلق د آدابو او احکاماتو دواړو سره دے چه بول سره لړے اوبه پلیتیږی او حکم ئے دا دے چه څکل، ددے نه اودس یا غسل کول ناجائز دی

د احنافو دلیل: د لږو اوبو په نجاست سره پلیتو ګنړلو کښې د احنافو یو دا دلیل دے، ممانعت مطلقًا دے دَ قلتین یا دَ کم زیات حد بندی نشته،

(۲) اذا استیقظ احدکم من منامه فلا یغمسنّ یده فی الأناء حتّٰی یغسله ثلاث مرّات چه په احتمال د نجاست سره نجس ګرځی نو یقینی نجاست سره به هم نجس وی اګر چه وصف ئے نه وی بدل شوے ځکه په وړو بولو یا لاس منډلو سره وصف نه بدلیږی،

(۳) اذا ولغ الکلب فی اناء احدکم فاغسلوه سبع مرّات ځکه چه سپی لوښی کښې شونډ خکته کړو نجس ګرځی په قلتین باندِ ددے دارومدار نه دِ ذکر شوے مطلقًا منع راغلے ده،

(٤) امّ سلمة رضی الله عنها روایت کښې دی چه مشکوٰة ثانی کښې هغه روایت دے "اذا وقعت الفارة فی سمن احدکم فأن کان جامدًا فألقوه وما حولها و ان کان مائعًا فلا تقربوه" او داسے الفاظ راځی "القوها وما حولها" معلومه شوه چه د نجاست په غورځیدو قلیل مائع کښې هم شرعی طور باندِ نجاست اثر انداز ګرځی د قلّت و کثرت دارومدار په رای د مبتلٰی به ګنړلےشی (معارف السنن)

قاضی شمس الدین رحمة الله علیه په التعلیق الفصیح صـ۷۰ باندِ لیکلے دی چه امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه دَ نجاست حکم به هله لګی چه ظن د نجاست د اثر د رسیدو ورته وی بیا امام مالک رحمة الله علیه حس له او امام ابو حنیفه رحمة الله علیه علم له اعتبار ورکوی او ظاهره ده چه په ډیرو نجاستونو کښې اعتبار علم له ورکړے شوے دے انتهٰی او امام احمد رحمة الله علیه فرمائی چه د بول کولو او واقع کیدو سره قلتین هم ناپاک حسابیږی اګرچه د نورو نجاستونو په غورځیدو پاکے حسابیږی بهرحال جمهور په حدیث کښې تأویل کوی او د احنافو دپاره خو دا دلیل دے

(۲)وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الراكد. رَوَاهُ مُسلم

ترجمه: نبي صلّى الله عليه وسلّم په اولاړو اوبو کښې د بول کولونه منع کړې ده

تشريح: وجه دا ده چه اولاړې اوبه یا به د دوو چاټو نه کمې وي بيا خو د شوافعو په نزد پليتې دي اودس او په دې لامبل ناروا دي او که دوه چاټۍ شي نو کيدې شي دَ تغير د وجې نجس وي او که اوبه اولاړې ډيرې وي دَ خلقو دَ عادت دَ نه پيدا کولو دَ وجې اجتناب پکار دې مرقات کښې ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي که چرته اوبه اولاړې ډيرې وي بيا هم استعمال ئې ځکه حرام دې چه پليني راولي نو دَ کراهت نه به خالي نه وي بلکه ورته حرام وئيل څه بعيد نه دي ځکه بالأجماع دا پليت والي ته مُفضي کيږي او د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او د هغوی دَ موافقينو په نزد خو پليتي کرځي

ابن حجر رحمة الله عليه فرمائي دَ شپې مطلقًا اوبو کښې ځکه اودس ماتے کول مکروه دي ځکه چه د پيريانو دَ تکليف ورکولو يره موجود ده ، داسې ځايونه کښې خو دَ شپې دَ پيريانو سنتر وي،

په احاديثو کښې د بولو دَ تخصيص وجه د خلقو د عادت د وجې شوې ده مقصد د ټولو روايتونو دا دې چه دَ اوبو دَ گند ارتاوولو نه حفاظت اوکړې شي او ددې حديث نه معلومه شوه که غسل نه کوي هم دَ ورو بولو ممانعت په دغسې اوبو کښې راغلې دې اوبه خو د انسان د استعمال په بنيادي ضروریاتو کښې يو ضرورت دې،

دَ پيريانو دَ تکليف او انسانانو ته دَ ضرر ورکولو په خاطر اجتناب د داسې عمل نه ضروري دي

لطيفه :بعض پيريانو له الله ډير عمر ورکړې وي دَ صحيح مسلم کتاب الفضائل ۶ــــ۱۹۰ بانډ دَ لا يبقى ممن هو على ظهر الأرض د حديث په وضاحت کښې يو ناآشنا تحقيق کړې دې پته نه لگي چه صحيح به وي يا نه به وي وحيد الزمان صاحب ليکي "برادر معظم مولوی حاجی بدیع الزمان صاحب مرحوم نے ایک حدیث شاہ سکندر سے روایت کی ہے انہوں نے رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم سے سنا اور شاہ ولی اللہ رحمۃ اللہ علیہ سے بھی ویسا منقول ہے" په دې به غټ محققين پوهيږي چه بديع الزمان صاحب تابعي جوړيدې شي يا نه"ــــ بيّنوا تواجرو

واضحه دې وي: چه شريعت کښې نظافت او دَ نجاست دَ توهم نه ځان بچ کول دواړه مطلوب دي په اوبو کښې دننه د ساه اغستلو نه منع دَ نظافت دَ وجې نه ده ، هسې نه چه څه توکانړي ، لاړې يا پوزه

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنې کنړ ورسره یو ځائے شي او لوښي ته لاس وردننه کیدلو نه منع دَ توهم دَ نجاست دَ وجے نه ده ، کله چه تحقیق د نجاست وی هلته خو احتیاط ضروری دے ابن همام فتح القدیر کښې لیکلے دی چه په اولاړو اوبو کښې دِ بول نه منع کیدے شي د کراهت د وجے وی او یا داسے امر وی چه نجاست او کراهت دواړو ته عام وی ولے حدیث د طهور اناء احدکم اذا ولغ الکلبِ الخ یقینًا حجت د احنافو جوړیدے شي او شاه انور خو فرمائي چه دے باب کښې کراهت څه مستقل حکم نه دے بلکه دا د نجاست د آثارو د وجے کراهت راځي چه کله رجع نجاست ته څي نو دا ما نحن فیه روایت او داسے بعض نور د احنافو دلیلونه دی" او صحیح خبره دا ده چه افراط او تفریط خو په هر مسئله کښې ممنوع دے خو دلته خبره د نجاست او دَ عدم نجاست ملحوظ ده او دَ انسان عمومًا طبیعت دغه دے چه داسے اوبو چه بول پکښې کړے شوے وی بدے ګڼړي ، معاومه شوه صاحب هدایه بالکل صحیح لیکلے دی "ولنا حدیث المستیقظ من منامه" حدیث نمبر ۲٤ او مسلم نمبر ٦٤۳. "وقوله علیه السلام لایبولن احدکم فی الماء الدائم" بخاری نمبر ۲۳۹، مسلم نمبر ٦٥٦.

د ماء مستعمل دَ حکم تفصیل

او د باب دا حدیث دلالت کوی چه ماء مستعمل پاکے دی او پاکونکے نه دی ، اوبو دَ سخت ضرورت باوجود د ماء مستعمل استعمال نه کوی نه اودس له ، نه غسل له او نه به هغوی بل لوښي کښې دغه اوبه دَ اودس یا دَ غسل دپاره کیخودلے او دغه خبره چه ماء مستعمل پاکے دی او پاکوونکے نه دی د امام شافعی رحمة الله علیه مسلک هم دے ، موسوعة باب حکم الماء المستعمل ۱ـ٥۲ ، نمبر ۱۹٤ "قال الشافعی "ولو توضّأ بماء توضّأ به رجل لا نجاسة علٰی اجزاءه لم یجزه لأنه ماء قد توضّأ به" ددے نه معلومه شوه چه د دوی په نزدِ هم ماء مستعمل طاهر ، غیر مطهر دی او هدایه کښې دی "قال محمد و هو روایة عن ابی حیفة هو طاهر غیر طهور" دلته په دیکښې د پاکولو په صفت کښې کمے څکه راغے"

چه په دے د الله قربت حاصل کړو او ده حکمي طور باندے پاکي حاصله کړه نو دَ اوبو دَ پاکولو صفت بدل شو پاکول داسے نشي کولے لکه چه د صدقے مال خو مال دے لیکن د زکوٰة دَ نیت کولو نه پس دَ مالدارو دپاره نه حلالیږي د حلّت په صفت کښې کمے راغے دغسے دلته د پاکولو صفت کښې کمے راغے اګرچه په ماء مستعمل کښې د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه درے قسمه رائے دی یو هغه چه دَ امام محمد رحمة الله علیه نه نقل ده پاکے دی او پاکونکي نه دی او فتویٰ په دے ده ، دوئم قول د حسن

دَ نجاست غلیظه دے او دریم قول د امام ابویوسف رحمة الله علیه نه د نجاست خفیفه هم نقل دے" او صحیح قول دا دے چه څنګه د اندام نه جدا شوے فوری مستعملے جوړیږی ځکه چه اوس څه ضرورت باقی پاتے نه شو او په دے دا قاعده بناء ده چه کله جنب کوئی کښ غوپه اواله ترڅو چه اوبو کښ وو تر هغے اوبه نه دی مستعملے ، او سړے دے دوران کښ پاک شو او چه کله دَ کوهی نه بهر راوتلو نو پاک راؤوتلو نو سړے پاک پاتے شو او دَ کوهی دَ باهر کیدو نه بعد اوبه مستعملے شوے نو روستو دغه اوبه ناپاکے شوے او د امام اعظم رحمة الله علیه د جلالت سره موافق ده او په دے فتویٰ ده اثمار الهدایه کښ دغسے تفصیل دے او د "مسئلة البیر جحط" په وضاحت کښ دا خبره واضحه شوے ده

(۳)وَعَن السَّائِب بن يزِيد قَالَ: ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَين كَتفيهِ مثل زر الحجلة

ترجمه : څه ماسی نبی علیه السلام له بوتلے وم ماسی جی ورته اووے اے د الله رسوله ځما دا خورئے مریض او دردمند دے نو پیغمبر صَلّی الله علیه وسلّم ځما په سر لاس راخکلو او د برکت دعا ئے ماته اوکړه بیا ئے اودس اوکړو د هغوی دَ اودس پاتے اوبه ما اوڅکلے بیا څه د هغوی د شاه نه روستو اودریدم نو ما د نبوت مُهر د هغوی دواړو اوګو مینځ کښ اولیدو چه د ډولئ د هغے غټو غټو تنړو په شان وو.

تشریح : پیژندګلو د سائب بن یزید

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه اشعة اللمعات کښ لیکلے دی چه دوی د بنی امیّه یا دَ بنی عبدشمس حلیف وو د هجرت په دویم کال پیدا شوے دے او خپل پلار سره حجة الوداع کښ حاضر شوے وو او دَ وو کالو په لږ عمر کښ د خپل پلارنه روایت کړے دے او ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی یا ازدی یا هذلی او یا کندی دے ، سائب بن یزید بن سعید الکندی دے دے او پلار ئے دواړه صحابه دی ۹۱ ه یا لږ روستو وفات شوے دے په صحابو کښ په مدینه کښ په آخر کښ وفات شوے دے

Maktaba Tul Ishaat.com

وجعٌ: سر کښې مرض دے (بالبرکة) چه الله ورله صحت ورکړی ، نبی صلی الله علیه وسلّم ورله په سر لاس مبارک راخکلو علماء لیکی چه د سر ویښته ئے بیا نه دی سپین شوی او د سلو کالو وو او نه ئے غاخ غورځیدلے وو (مرقات)

فشربت من وضوءه : دلته دوه توجیه علامه طیبی او نور شارحین ذکر کوی (۱) د هغوی د اودس نه پاتے اوبه ئے اوڅکلے او دویمه(۲) توجیه دا ذکر کوی چه د اندامونو نه کومے اوبه د اودس وخت کښې بیلے او راتوے شوے او دا دویمه توجیه بعض دلیل ذکر کوی چه مستعملے اوبه پاکے وی چه تفصیل ئے مخکښې روایت کښې ذکر شوے دے لیکن دا خو د نبی صلّی الله علیه وسلم د اندامونو مبارکو نه جدا شوے اوبه دی چه بالأتفاق پاکے دی قاضی شمس الدین رحمة الله علیه په التعلیق الفصیح کښې لیکلے دی چه د اندامونو نه غورځیدلے اوبه اغستل څما په نزد لرے توجیه ده لیکن بعض علماء د اندامونو نه غورځیدلے اوبه غوره کوی چه دا اوبه څکل دے له دی چه الله ورله شفاء ورکړی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بدن مبارک سره چه څومره نزدیکت زیات وی ، شفا به بیا زیاته وی،

فنظرت الی خاتم النبوة : التقریر الرفیع کښې شیخ الحدیث رحمة الله علیه لیکلی دی چه دَ حافظ برهان الدین حلبی رحمة الله علیه نه تپوس اوشو چه دا مهر نبوت څونړ د پیغمبر خصوصیت وو او که دَ هر پیغمبر وو جواب ئے ورکړو چه ماته په دے کښې څه قطعی خبره نه ده معلوم لیکن ظاهره دغه ده چه د نبی صلّی الله علیه وسلّم خصوصیت وو ځکه یواځے دوی په تخصیص سره د ختم نبوت اودَ خاتم النبیّین په صفت متصف دی او حاکم د وهب بن منبه قول ذکر کړے دے چه د هر نبی به په ښی لاس یوه نښه د نبوت لګیدلے وه او څونړ د پیغمبر هغه د اُوګو په مینځ کښې وه نو دلته دا مهر لګول به ئے خصوصیت وی ، دَ الخصائص الکبریٰ د سیوطی رحمة الله علیه تلخیص دے "انموذنج اللبیب" په هغے کتاب کښې په دے جزم کړے دے،

د امام مسلم رحمة الله علیه روایت کښې دَ کسے اوګے دے کریندی سره دا مهر مبارک لګیدلے وو او دغه صحیح ده،

مثل زر الحجلة : لکه دَ ناوے دَ چهپرکټ بټن او غوټه ، علامه هیثمی رحمة الله علیه فتح الاله کښې لیکی د حجلة مفرد حجال دے د ناوے دپاره کومه څجله عروسی چه جوړیده په هغے کښې به غټے

تنړئ او غوټے وے دے سره به ئے پردے آویزاندولے بعض علماء چه تړِ د زرکی اګئ اخلی نو هیئی لیکلے دی فقد انکر العلماء او ابن الأثیر ئے اول تفسیر د بلاغت نه لرے ګنړی او دلته چه کله استعاره نه شی کیدے ځکه چه طرفین ذکر دی نو صرف تشبیه به وی چه په هغے کښ دَ مشبه او مشبه به په مینځ کښ مشابهت من کل الوجوه ملحوظ نه وی

لیکن علامه طیبی لیکی "زر" "ز" په "ر" مقدم ده ، او "ز" "ر" د اګئ په معنیٰ "لم یوجد فی کلام العرب" او چا وئیلے دی چه دا "رز" بتقدیم الراء دے عرب وائی رزت الجرادة چه کله مولخ خپله لکئ په زمکه کښ او تومبی او اګئ واچوی لیکن دا روایت ورسره ملګرتیا نه کوی لیکن حدیث کښ د غصے تشبیه خه لګی،

مهر نبوت کښ علامه طیبی فرمائی چه دومره کافی ده چه د بدن نه یو څیز لږ باهر وی چه یو قسم ئے تشبیه "زُر الحجلة" سره ورکولے شی قرآن کښ دی "إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ"سورة آل عمران آیت نمبر۵۹" حالانکه آدم علیه السلام دَ خاورے نه حقیقةً بلا واسطه پیدا دے او عیسیٰ علیه السلام دَ خاورے نه په ډیرو وسائطو پیدا شوے دے لکه د ابن المعتز شعر دے

وکأنّ البراق مصحف قار فأنطباقًا مرّةً وانفتاحًا

په دے شعر کښ بے د انقباض او د انبساط د هیئت نه نور اوصاف د مشبه او د مشبّه به ملحوظ نه دی ساتلی انتهیٰ

د مهر نبوت دَ مقدار اندازه

امام مسلم رحمة الله علیه ٦٤٣٤ نمبر باندِ لیکلے دی "كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ"لکه تورے زخے ، او دَ طبرانی روایت کښ دی نمبر ۲۰۲۳ لکه دَ کمترے اګئ ، او د حاکم روایت کښ ٤١٦٣ نمبر باندِ دی لکه ویخته جمع شوی او په شمائل کښ دی لکه اوبره دَ غوښے تکړا نمبر ۲۲. او په صحیح ترمذی کښ دی لکه سیب او ابن ابی عاصم لیکلے دی لکه هغه نقطه چه دَ کمترے مخوکے د لاندِ وی لیکن دا اختلاف ددے وجے نه دے چه چا ته څنګه ښکاره شوے ده هغسے تشبیه ئے ورکړے ده نو دا ددے په اندازه کښ خه حقیقی اختلاف نه دے ، او بیا په دے کښ اختلاف دے چه بعض وائی دَ پیدائش وخت کښ هم دغه مهر نبوت وو او ابو نعیم وائی چه د ولادت وخت کښ دغه مُهر پرِ لګولے شوے وو ، د زرکے اګئ ، چرګے د هغے نه لګه وړه وی قاضی شمس الدین رحمة الله علیه خپل تعلیق کښ د فاضل سهالوی د

Maktaba Tul-Ishaat.com

فوائدو په ذیل کښې لیکلې دی چه دا د غوښې یو وړه داسې ټکړه وه چه انتهائی پرقا به ئې کوله ، دننه پکښې الله وحده لا شریک له او ظاهر کښې ئې "توجّه حیث شئت فأنّک منصور" لیکلی شوی وو (لیکن دا هسې تاریخی روایت دے قطعی مستند نه لری امداد) دلته روایاتو کښې دَ مهر نبوت دَ مقدار اختلاف ، دے له محدثین ذکر کوی چه د علاماتو سره خبره خه واضحه شی دا تقریبی علامات وی او دا هم معلومه شوه چه مهر نبوت حقیقةً لګیدلے وو چه په نظر راتلو او اشعة اللمعات کښې دی چه د پیغمبر صلّی الله علیه وسلم وفات حسرت آیات سره دغه مُهر بیا نه وو (والله اعلم بالصواب)

الحق الصریح کښې دی "دے کښې هیڅ تعارض نشته بلکه دا بناء دی په تخمین او اندازه لګولو باندِ بعض صحابو یو شان اندازه لګولے ده او دَ هغې مثال ئې دَ خپل ذهن مطابق ورکړے دے او بعضو بل شان اندازه لګولے ده نو جدا مثال ئې ورکړے دے په دے کښې هیڅ نقصان نشته" انتهٰی

نو که فقهاؤ د جمعے او دَ اخترونو مسئله کښې د قریه او دَ مصر مختلف علامات ذکر کوی دا هم دغسې دِ اوګنړلے شی څه نقصان هم نشته او تعارض هم نشته لکه بعض خلق ددے دَ اهمیت ختمولو دپاره دَ تعارض پیدا کولو کوشش کوی دا تخمینے او اندازے صرف دے له وی چه په علاماتو خبره معرفت ته نزدے شی الحق الصریح کښې ترِ استدلال کوی درے ځله ئې لیکلے دی چه مستعملے اوبه پاکے دی لیکن عرض دا دے چه دلته دوه توجیه ذکر کیږی یو هم په قطعیت دلیل نه دے او دوئمه دا ده چه دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم مستعملے اوبه بالأتفاق پاکے دی او د هغے نه تبرک هم منصوصی مسئله ده چه دَ بل چا قیاس په دے قیاس مع الفارق دے دا دَ هغوی خصوصیت دے، اګر چه بعض علماء ددے دَ تعمیم قائل دي ،لیکن غوره نه ده،

د حدیث نه معلومیږی چه ماشومان که د نیکانو مجلس ته بوتلے شی چه د مشرانو دعاګانے واخلی خه خبره ده،

الْفَصْل الثَّانِي

(٤):عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْأَرْضِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: «إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ والدارمي وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي أُخْرَى لِأَبِي دَاوُدَ: «فَإِنَّهُ لَا ينجس»

ترجمه: د نبي صلى الله عليه وسلم نه د هغے اوبو باره کښې تپوس اوکړے شو چه په ځنګلونو کښې وی د زمکے نه او هغه چه نمبر وار ورته زنده سر او درنده راځی اوئے فرمائیل چه کله اوبه دوه چاټئ وی پلیتی نه اوچتوی او بل روایت کښې دی نه پلیتیږی،

تشریح: (وما ینوبه) ددے معنٰی ده نمبر په نمبر راتلل مرقات کښې دی "اذا اثر رد الیه مرة بعد اخرٰی"

مذاهب

د ظاهریه مسلک د کوکب په حاشیه کښې دا لیکلے دی که اوبه لږے وی یا زیاتے چه تر څو دَ نجاست اجزاء په اوبو کښې غالب نه وی پاکے دی

(۲) د مالکیانو مسلک ورته نزدے دے چه تر څو د اوبو ددے اوصافو کښې یو وصف نه وی بدل شوے طعم ، ریح او لون اوبه پاکے دی

(۳) جمهور او نور دریواړه امامان په لږو او ډیرو کښې داسے فرق کوی که اوبه لګے وی نو د پلیتئ په غورځیدو به پلیتے وی او ډیرے اوبه به تر هغے پاکے حسابیږی چه تر څو ددے یو وصف کښې بدلون نه وی راغلے

شوافع او حنابله اتفاق کوی چه د قلت او کثرت مقدار هغه په قلتین دے د قلتینو یا ددے نه زیاتے اوبه ډیرے دی او دَ قلتینو نه کمے به کمے حسابیږی او امام نووی رحمة الله علیه لیکلی دی چه د شوافعو په نزد دا مقدار حقیقی دے ، تقریبی نه دے که دوه جدا جدا چاټئ وی پلیتے دی چه دواړه یوځائے شی پاکیږی

د احنافو مسلک

د احنافو په نزد قلت او کثرت کښې درے قوله دی (۱) تحریک (۲) مساحة (۳) رأی د مبتلٰی به له به اعتبار وی د تحریک مطلب دا دے چه دومره غټ حوض دے که یو طرف ته اوبو له ئے حرکت ورکړے

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې نو فورًا بل طرف ته د هغې حرکت اثر اورسی دے ته قلیل وئیلے کیږی او حرکت که فورًا نه رسی نو دے ته کثیر وائی او د حرکت نه چا د اودس او چا دَ غُسل حرکت اغستلے دے د دویم قول یعنی مساحت دا مطلب دے چه پیمائش له اعتبار دے کوم حوض چه عشر فی عشر یعنی ده در ده خوَرے وی کثیر دی او ددے نه کم قلیل دی داسے نور بعض اقوال په مساحت کښې د احنافو شته دے عشر فی عشر قول د ابو سلمان جوزجانی دے چه دَ امام محمد شاګرد دے بعض متاخرین ورله اعتبار ورکوی او دریم قول دا دے چه په دے کښې د مبتلٰی به رائے له اعتبار دے که ګنړی چه ډیرے دی غالب ګمان د اثر نه رسیدو دے هغه کثیر دی ، او که د اثر رسیدلو ګمان وی نو کمے دی،

شیخ الهند رحمة الله علیه په ایضاح الأدله کښې لیکلے دی چه د احنافو اصل مذهب رآی د مبتلٰی به دے او عوامو دپاره وضاحت په تحریک سره بعض فقهاء کوی او د عوامو د سهولت دپاره بعض دَ عشر فی عشر ذکر کوی لیکن بحرالرائق کښې دی چه دَ اشتباه په وخت کښې اصل مذهب رآی مبتلٰی به له به اعتبار وی فتح القدیر کښې ابن همام دغه ذکر کړے دے تفسیر قرطبی ۱ ـــ ۷۶ ، ۷۷ کښې دی ''وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ'' سورة آل عمران آیت نمبر ٦٤ د لاندِ ے دَالکیاطبری په حواله ''قال الكيا الطبري :مثل استحسانات أبي حنيفة في التقديرات التي قدرها دون مستندات بينة''چه لیکلے شوے دی دا دَ امام ابو حنیفه رحمة الله علیه قول نقل کړے دے ورستو دَ بعض فقهاء تعبیرات دی لیکن لمعات کښې دی یو روایت د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه نه امام ابویوسف رحمة الله علیه د تحریک بالأغتسال ذکر کوی او دَ امام محمد رحمة الله علیه نه د تحریک بالوضو اعتبار نقل شوے دے چه دا درمیانی حرکت دے لیکن دَ امام ابوحیفه رحمة الله علیه نه ظاهر الروایة دا دے چه اعتبار غلبة الظن له دے که غالب ظن بل طرف ته دَ نجاست د اثر د رسیدو وی پلیتے دی کنی بیا اوبه پاکے دی اودس ترِ کولے شے او شمس الأئمه رحمة الله علیه لیکلی دی ''المذهب الظاهر التَّحرّى والتفويض الٰى رأى المبتلٰى به من غير حكم بالتقدير ، وهٰذا هو الأصح'' عشر فی عشر قول چه د امام محمد رحمة الله علیه قول بعض حسابوی ، شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لمعات التنقیح کښې لیکلے دی ''وصرّحوا بأنّ محمّدًا رجع عن هٰذا'' امام محمد دغے قول نه رجوع کړے ده ، فرمائیل به ئے لا اوقّت شيئًا،

د عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه اول قول عشر فی عشر وُو بیا ئے رجوع خمسة عشر فی خمسة عشر ته کړے دے او ابو مطیع هم دغسے وائی او شارح الوقایه ددے قول استنباط ددے روایت نه کوی چه

"من حفر بئرا فله حریمها اربعون زراعًا" شیخ عبدالحق رحمة الله علیه "واني :فیه کلام ذکر فی حواشیه او ابن الهمام لیکلے دی چه دا قول د ائمه ثلاثه نه نه دے نقل (لمعات) التعلیق الفصیح کښې قاضی شمس الدین نورالله مرقده لیکلے دی "زمونږ په کتابونو کښې دَ ده در ده کومه خبره ده نو هغه زمونږ د دریو امامانو نه نه ده نقل"

لیکن علامه عبدالحیٔ لکهنوی رحمة الله علیه النافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر صـ۲۲ بانډې لیکلے دی "ألا ترى في مسئلة العشر في العشر في بحث الحياض فإن الفتاوى مملوءة من اعتباره والفتوى عليه مع أنه ليس مذهب صاحب المذهب إنما مذهبه كما صرح به محمد في الموطأ وقدماء أصحابنا هو أنه لو كان الحوض بحيث لا يتحرك أحد جوانبه بتحريك الجانب الآخر لا يتنجس بوقوع النجاسة فيه وإلا يتنجس ومن لم يتقنه وظن أنه مذهب صاحب المذهب تعسر عليه الأمر في تأصيله على أصل شرعي معتمد عليه" او په شرح الوقایه ۱ـ۸۷ بانډې دی قال محی السنة التقدیر لعشر فی عشر لایرجع الی اصل شرعی یعتمد علیه ، او صاحب درمختار هم لیکی چه دا تحدید ثابت نه دے" نګارشات دَ مولانا محمد اسماعیل سلفی صـ۴٦١ (ترک تقلید اور اہل حدیث)

د علم حکمت یوه مسئله

علامه شامی رحمة الله علیه مطلب فی ان التوضیٔ من الحوض افضل د لانډې لیکلے دی چه چا وئیلے دی چه مسئله د حوض په جزء الذی لایتجزء بانډې د اهل السنت په نزد بناء ده" دوی ورته خارج کښې موجود وائی او د نجاست اجزاء هغې جزؤ ته منتقل کیږی چه د هغې بیا تجزئه جائز نه ده نو باقی حوض د پاک وی او معتزله او فلاسفه ورته معدوم وائی نو ټولے اوبه د نجاست سره ګاونډ کښې راغلے د هغوی په نزد حوض پلیت دے وائی چه جزء الذی لا یتجزء دَ جوهر مفرد نه عبارت دے چه انقسام بالکل نه قبلوی

ترجیح د شاه ولی الله رحمة الله علیه

شاه ولی الله رحمة الله علیه تفهیمات الٰهیه دویم جلد کښې داسے قول خه ګڼړی چه ددے دور امامانو امام ابو حنیفه او امام شافعی رحمة الله علیهما د دوارو جمع پرے راتلے شی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ مولانا گنگوهي تطبيق

مولانا يحيىٰ صاحب والد ماجد شيخ الحديث مولانا محمد زكريا رحمة الله عليه كوكب كښې ليكي چه كله ترمذى كښې حديث دَ قلتين راغے نو شيخ گنگوهى رحمة الله عليه په شاگردانو يو ووړكے حوض اوكنستلو چه طول او عرض ئے تقريبا شپږ ليشت وو او د كنستلو نه پس ئے په دے كښې دوه قلتين اوبه واړولے چه يو طرف ته ئے ورله اوخوزوولو نو بل طرف ته د حركت اثر او نه رسيدو او ئے فرمائيل چه حديث القلتين څمونږ خلاف نه دے ليكن د شيخ الحديث رحمة الله عليه ميلان دغسے نه دے لكه چه د كوكب د حاشيے نه معلوميدے شي التقريرالرفيع او اوجزالمسالک كښې هم دوى دغسے بحث كړے دے او شاه صاحب التفهيمات الالٰهية ١ــ٢٤٢ باندِ ليكلے دى ونحن نأخذ فى الفروع ما اتفق عليه العلماء لا سيما هاتان الفرقتان العظيمتان الحنفية و الشافعية خصوصا فى الطهارة والصلوة ، او شيخ الحديث مولانا عبدالرّحمٰن بهبودى په معارف ترمذى ١ــ٢٥٧ باندِ ليكلے دى ددے داسے مثال دے چه د مالكے په كان كښې خر مړ شي او مالكه تړ جوړه شي نو هغه پاک حسابيږى احناف به دغه جواب وركوى چه كله څوک تپوس اوكړى چه ولے چه د شريعت مسئله او حكم دے چه د حقيقت په تبدل سره د يو څيز حكم كښې بدلون راځى او ليكلے دى الغرض مفوض الٰى رآى المبتلٰى به ليكن مبتلٰى به د ذوى الرآى نه به ضرورى وى دَ احمق رائے له اعتبار نه وى ځكه كه مبتلٰى به كه د حالاتو نه خبر نه وى هغه فيصله نه شي كولے د اثر په رسيدو كښې به موسم او د نجاست اوچيدو وغيره خيال هم ساتے سرځئ كښې نجاست لږ ورستو رسى او كه نجاست غليظه وى يا اوچ وى هم ئے اثر ورستو رسى او كه نرم وى يا هوا چليږى ، اثر زر رسى نو انسب حالاتو ته به كتلے شي او رائے به قائمولے شي انتهٰى" واضحه دِ وى چه ظن د مبتلٰى به معيار جوړولو كښې آسانتيا ده" په سفر كښې داسے غټ لوخے سرى سره نه وى هغه په پخوانى دور كښې يقينى معيار جوړول دَ شريعت د آسانتيا وركولو دَ مزاج خلاف هم معلوميږى

واقعه د حبشی او دَ زمزم د کوهی

یو حبشی د زمزم کوهی کښ اوغورځیدلو دَ هغے تولو اوبو د ایستلو کوشش کښ ناکامیدل څکه چه اوبه د ختمیدو نه وے چه غور سره ئے اوکتل نو د حجر اسود د غاړے یوه سمه چینه بهیدله نو عبدالله بن زبیر رضی الله عنه فتویٰ ورکړه چه دا اوبه راویستل درله کافی کیږی"

واقعه مصنف ابن ابی شیبه ۱ـــ۱۶۲ کښ عن هشیمم وغیره به سند سره موجود دده چه رجال ئے د صحیح رجال دی

او دَ طحاوي په شرح کښ نثرالازهار کتاب کښ ۳۳: روایت نقل کوی "حدثنا صالح بن عبدالرحمٰن قال ثنا سعید بن منصور (بن شعبة الخراسانی ابو عثمان المروزي ویقال الطالقاني یقال ولد بجوزجان ونشأ ببلخ وطاف البلاد ومات بمکة ۲۲۷ ثقة حافظ ، صاحب السنن) قال ثنا هُشیم (مصغّر ابن بشیر ابن القاسم السلمی ابومعاویة الواسطی ثقة" ثبت کثیر التدلیس والأرسال الخفی اثنی علیه مالک وشعبة وابن مهدی وابن المبارک وغیرهم مات ۱۸۳ ھ وقد قارب الثمانین) قال ثنا منصور (بن زاذان الثقفی مولاهم ابوالمغیرة الواسطی ثقة ثبت عابد سریع القراءة ذکر الذهبی عنه انه صلی بین المغرب والعشاء فقرء القرآن فی الرکعة الاولی وبلغ فی الثانیة النحل مات۱۲۹)عن عطاء بن ابي رباح اسلم القرشي مولاهم المکي مفتي اهلها ثقة فقیه کثیر الارسال قال ابوحنیفة مالقیت فیمن لقیت افضل من عطاء وقال ابن عباس یاهل مکة تجتمعون علي وعندکم عطاء وروي نحوه عن ابن عمرؓ ادرک مأتین من الصحابة قیل ترکه ابن جریج وقیس بن سعد باخره قال الذهبيؒ لم یعن الترک الاصطلاحي بل هو ثبت رضي حجة امام کبیر الشان وقیل تغیر باخره قال الحافظ ولم یکن ذالک منه توفي ۱۱۴ علي المشهور) ان حبشیا وقع في زمزم فمات فامره ابن الزبیر (عبدالله بن الزبیر بن العوامؓ ابوبکر وابوخبیب الاسدي امه اسماء بنت ابي بکر وهو اول مولود في الاسلام بالمدینة من قریش وکان اول طعام دخل جوفه ریق رسول الله صلي الله علیه وسلم وحنکه بیده الکریمة ودعا له وبرک علیه --- وعداده في فقهاء الصحابة وقتله الحجاج في ایام عبدالملک ۷۳ في الاکثر صابرا محتسبا مقبلا بعد ان خذله عامة اصحابه وکان فارس قریش فصیحا شریفا اطلسؒ وارضاه) فنزح ماءها فجعل الماء لاینقطع فنظر فاذا عین تجري من قبل الحجر الاسود فقال ابن الزبیر حسبکم" (نثرالازهار)

نوټ : دَ عطاء هغه روایت چه وي ما دوه سوه صحابه اوموندل نو په هغے باندے څه کلام شته،

Maktaba Tul Ishaat.com

بدائع الصنائع كښ۷۲ باندے دي : "وَذٰلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِمَا أَحَدٌ فَانْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ مِنَ الصَّحَابَةِ عَلَى مَا قُلْنَا، وَعُرِفَ بِهٰذَا الْإِجْمَاعِ أَنَّ الْمُرَادَ بِمَا رَوَاهُ مَالِكٌ هُوَ الْمَاءُ الْكَثِيرُ الْجَارِي"

او مرقات كښ دي چه ابن عيينه انكار له څكه اعتبار نشته چه دَ امام شافعي او دَ دوي په مينځ كښ ۱۵۰ كاله فاصله ده ، او دا خبر كوفے ته څكه اورسيدو چه عجلي خپل تاريخ كښ ليكلے دي چه كوفه كښ ۱۵۰۰ صحابه وو، او كه دَ حبشي دَ وينے دَ وجے شوافع ناپاك كنړي نو قلتين څنګه ناپاك كرځي،

حديث د قلتين

ددے مقابل كښ دا حديث دَ قلتين دے عجيبه دا ده ، فتح البارى كښ علامه ابن حجر ليكلے دى چه د قلتين دغه روايت اقوى دے "لصحة الحديث فيه وقد اعترف الطحاوى من الحنفية بذالك" ليكن معارف ترمذى كښ صـــ۲۱۳ بانډِ شيخ الاسلام دَ بخارى استاذ ليكلے دى چه ماته نه ده معلوم چه طحاوى دا كوم ځائے ذكر كړے دى دا په معانى الآثار او مشكل الآثار دواړو كښ نيشته ، طحاوى خو دَ صحت باره كښ كلام نه دِ كړے بعض خلق مدار تغير او عدم تغير باندى كنړئ واذا تغير نجس والا فلا وائى چه د اوبو څه خاص مقدار نه دِ مقرر ، او بعض ددے مدار په قليل و كثير كنړى لكه قلتين ددے روايت يو راوى محمد ابن اسحاق بن يسار ابوبكر يا ابوعبدالله المطلبى المدنى نزيل العراق دے" شيخ عبدالسلام په تفسير احسن الكلام كښ په بحث د سماع الموتى كښ ضعيف كنړلے دے ، تفسير احسن الكلام المجلد الرابع بانډِ د سورة روم په آيت كښ ليكى دريم جواب ددے په سند كښ محمد بن اسحاق دے او هغه ته امام مالک او هشام او سليمان تيمى وغيره كذاب وئيلے دے بذل المجهود صـــ۱۲ بانډِ دى "اختلف العلماء في جرحه وتعديله، حتى قال يحي بن كثير وغيره: سمعنا شعبة يقول: ابن إسحاق أمير المؤمنين في الحديث، وقال النسائي وغيره: ليس بالقوي، وقال الدارقطني: لا يحتج به، وقال سليمان التيمي: كذاب، وقال وهيب: سمعت هشام بن عروة يقول: كذاب، قال عبد الرحمن بن مهدي: كان يحي بن سعيد الأنصاري ومالك يجرحان ابن إسحاق، وقال يحي بن آدم: حدثنا ابن إدريس قال: كنت عند مالك فقيل له: إن ابن إسحاق يقول: اعرضوا علي علم مالك فإني بَيْطاره، فقال مالك: انظروا إلى دجالٍ من الدجاجلة، وقال وهيب: سألت مالكًا عن ابن إسحاق فاتهمه، ورُمي بالتشيع والقدر، مات سنة ۱۵۰ھ أو بعدها"

واضحه دِ وی چه ضعف او قوت ډیر کرته د محدثینو په نزد صرف په سند نه دی قرائن خارجیه په وجه صحیح حسن ورته وائی او کله یو روایت دَ سند په اعتبار سره صحیح وی مګر د قرائن خارجیه په وجه ضعیف ورته وائی او کله صحیح روایت وی مګر عمل په هغې نه وی لکه د ترمذی ۱ـــ۱۶۳ روایت چه یو سړی شپږ غلامان مرض الموت کښې آزاد کړے وی او هیڅ نور مال و دولت ورسره نه وؤ چه دا غلامان ئے ثلث جوړ شوے دي روایت صحیح دے عمل پرِ نشته ابن الهمام فرمائی چه ددے روایت د سند په صحت کښې کلام نشته ظاهر ئے خه معلومیږی مګر باطن کښې خلل معلومیږی چه د چا شپږ غلامان وی او هیڅ ورسره نه وی خلاف مشاهده وی ، ابن همام جواب ورکوی دَ امکان عقلی نه انکار نشته مګر شاذ دے چه په شاذ احکام نه جاری کیږی ، سره د صحته په هغې عمل نه وی صاحب بحر او طحاوی فرمائی چه په دے روایت کښې د تغیر قید نشته د حدیث د ظاهر تقاضا ده که نجاست قلتین کښې اوغورځیګی او تغیر پکښې راشی نو ناپاک به نه وی په دے وجه د تغیر نه باوجود بیا دا پاک ګڼړل پکار دی ، شوافع جواب کوی چه بل روایت کښې دغه قید شته چه په تغیر اوبه ناپاکے ګرځی نو دلته دغه قید له دِ اعتبار ورکړے شی امام طحاوی فرمائی چه اول خو د قید روایت منقطع دے ، دویم مونږ هم قید لګولے شو لکه چه دوی د بول فی الماء الراکد او مستیقظ من النوم نه غیر متغیر اخلی داسے مونږه دلته دَ جاری اوبو قید لګوؤ

په سند کښې اضطراب

ابن همام لیکی ددے په سند کښې اضطراب دے چرته پکښې محمد بن جعفر بن زبیر او کله محمد بن عباد بن جعفر دے او دَ مروی عنه باره کښې کله روایت کښې عبیدالله بن عمر او چرته عبدالله بن عمر دے او په رفع ، وقف کښې هم اختلاف دے ابن همام فتح القدیر کښې لیکی "وَإِنْ دُفِعَ بِأَنَّ الْوَلِيدَ رَوَاهُ عَنْ كُلٍّ مِنَ الْمُحَمَّدَيْنِ فَحَدَّثَ مَرَّةً عَنْ أَحَدِهِمَا وَمَرَّةً عَنِ الْآخَرِ ، وَكَذَا دُفِعَ تَغْلِيطُ أَبِي أُسَامَةَ فِي آخِرِ السَّنَدِ إِذْ جَعَلَهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ، وَإِنَّمَا هُوَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بِأَنَّهُمَا ابْنَا عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَوَيَا عَنْهُ" نو بیا ددے متن کښې ډیر اضطراب دے ، او قاضی شمس الدین رحمة الله علیه التعلیق الفصیح کښې لیکی که پکښې ثقه د ثقه نه انتقال کوی بیا د راوی عدم ضبط ته پکښې اشاره موجود ده دَ ضعف باعث ګرځی لکه اصول کښې دی

Maktaba Tul Ishaat.com

د متن اضطراب

بعض خایونو کښې اربعین قُلَّة راځی لکه دارقطنی او ابن عدی او عقیلی ئے نقل کوی او قلتین راځی که ثلاث قلال کله اربعین دلوایا اربعین غربًا" راځی یو روایت کښې لم ینجس او بل روایت کښې "لم یحمل الخبث" راغلے دے ، سبل السلام کښې د متن اضطراب ذکر کړے دے

د معنی په اعتبار سره اختلاف

ابن همام فتح القدیر کښې لیکی "فَالْمُعَوَّلُ عَلَيْهِ فِي كَلَامِ الْمُصَنِّفِ الِاضْطِرَابُ فِي مَعْنَى الْقُلَّةِ فَإِنَّهُ مُشْتَرَكٌ يُقَالُ عَلَى الْجَرَّةِ وَالْقِرْبَةِ وَرَأْسِ الْجَبَلِ" کومه معنی به اغستلے شی؟ عنایة کښې دی "وَالْقُلَّةُ فِي نَفْسِهَا مَجْهُولَةٌ ؛ لِأَنَّهَا تُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهَا قَامَةُ الرَّجُلِ ، وَتُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهَا رَأْسُ الْجَبَلِ ، وَتُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهَا الْجَرَّةُ ، وَالتَّعْيِينُ بِقِلَالِ هَجْرٍ لَا يَثْبُتُ بِقَوْلِ جُرَيْجٍ ؛ لِأَنَّ جُرَيْجًا مِمَّنْ لَا يُقَلَّدُ فَيَبْقَى مُحْتَمَلًا" حافظ ابن حجر لیکلے دی چه احنافو ریښتیا وئیلے دی چه اختلاف دے اگرچه د قلّة معنی نه شی متعین کیدلے لیکن د قلتین معنی صحابه کرامو ته به معلومه وه چه متبادر درمیانی درجه چاټئ به مراد وی ، بیا عجیبه خبره دا کړے ده چه د "متکا" تعیین حدیث کښې نشته ځکه په سلفو کښې اختلاف راغے بلکه د شوافعو پکښې ۱۹ اقوال دی لیکن دا وئیل چه صحابو ته دَ "قُلَّة" معنی معلومه وه صحیح نه معلومیږی ځکه بیا دا نولس (۱۹) اقوال څنګه راغلل او حافظ صاحب دا هم فرمائی چه وړے او غټے هر قسم چاټئ وی لیکن متبادر غټے مراد اغستل پکار دی نو بیا دومره اختلافات ولے دی د حافظ صاحب په کلام کښې تعارض معلومیږی

د روایت مقام

بحرالرائق کښې دی چه حدیث دَ قلّتین ضعیف دے که څوک اوائی چه ابن ماجه ابن خزیمه ، حاکم او د محدیثینو یو جماعت ددے حدیث تصحیح کوی قلت من صححه اعتمد بعض طرقه ولم ینظر الی الفاظه ، ومفهومها ، اذ لیس هٰذا من وظیفة المحدّث والنظر فی ذالک من وظیفة الفقیه اذ غرضه بعد صحّة الثبوت الفتویٰ والعمل بالمدلول وقد بالغ الحافظ عالم العرب ابوالعباس ابن تَيْمِيَّةَ فِي تَضْعِيفِهِ الخ د فقیه او د محدث د دواړو غرض جدا وی تصحیح کونکی په بعض طرقو اعتماد کوی او الفاظو او مفهوم ته نه ګوری ځکه دا دَ محدث وظیفه نه ده فقیه د ثبوت د صحت نه بعد فتوی او د هغے په مدلول

عمل ملحوظ ساتی علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه هم د روایت تضعیف کوی او علامه کاسانی رحمة الله علیه بدائع صنائع ۱ ــــ ۷۲ باندِ لیکی وَبِهِ تَبَيَّنَ أَنَّ ما رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ غَيْرُ ثَابِتٍ لِكَوْنِهِ مُخَالِفًا لِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رضي الله عَنْهُمْ وَخَبَرُ الْوَاحِدِ إِذَا وَرَدَ مُخَالِفًا لِلْإِجْمَاعِ يُرَدُّ يَدُلُّ عليه أَنَّ عَلِيَّ بن الْمَدِينِيِّ قال لَا يَثْبُتُ هذا الْحَدِيثُ عن النبي وَذَكَرَ أبو دَاوُد السِّجِسْتَانِيُّ وقال لَا يَكَادُ يَصِحُّ لِوَاحِدٍ من الْفَرِيقَيْنِ حَدِيثٌ عن النبي صلى الله عليه واله وسلم في تَقْدِيرِ الْمَاءِ الخ

معارف السنن کښې دی چه اسماعیل القاضی ، قاضی ابوبکر ابن العربی ، امام غزالی الرّؤیانی ، ابن دقیق العید ، مزي او ابن قیم رحمهم الله ئے ضعیف ګڼړی لیکن امام شافعی ، احمد ، اسحاق ، ابو عبید ، حاکم او ابن منده رحمهم الله ئے تصحیح کوی ابن معین رحمة الله علیه په اعتبار دَ بعض سندونو روایت حسن ګڼړی امام غزالی رحمة الله علیه په احیاء کښې د طویل بحث نه روستو روایت نه اغستلو له غوره کوی او وائی چه دا م خوخه ده چه د امام شافعی رحمة الله علیه مسلک د امام مالک رحمة الله علیه غوندې وے خه به وے او ابن قیّم رحمة الله علیه په شرح د تهذیب السنن کښې لیکلے دی چه حاصل ئے دا دے که بالفرض که سند ددے صحیح شي نو دَ سند د صحت نه باوجود متن ئے هم صحیح نه دے او ده سند د صحت نه صرف د حدیث صحت تر هغے نه ثابتیږی چه څو پورے شذوذ او علت ترے ختم نه شي چه هغه نشي ختمیدے او دَ امّت دے ته سخت ضرورت څکه دے چه حلال ، حرام ، پاک او پلیت کښې دا فاصل دے او دا صرف ابن عمر رضی الله عنه او دَ هغه نه ئے ددے څوی صرف روایت کوی ، نافع ، سالم ، ایوب او سعید بن جبیر رحمهم الله چرته لاړل د مدینے علماء کوم ځائے دی په دے د مدینے ، بصره او دَ کوفے او دَ شام خلقو عمل نه دِ کړے په مرقات کښې قاری صاحب لیکلے دی پته پناه نه ده چه جرح په تعدیل مقدم وی بلکه په نخبة الفکر کښې دی فلا یدفعه تصحیح بعض المحدثین فمن ذکره ابن حجر وغیره شوافع وائی حدیث کښې اضطراب نشته بلکه دا د ثقه نه بل ثقه ته انتقال دے لیکن که په هر تقدیر وی د راوی عدمِ اتقان سبب دَ ضعف کرځی څکه یو څو امام ترمذی دَ زید بن ارقم دے روایت اللّهمّ انّی اعوذُ بک من الخبث والخبائث کښې اضطراب نقل کړے دے او دے سره ضعیف ګڼړلو ته اشاره کوی التمهید ۱ـــ۲۰۵ وَمِثْلُ هَذَا الِاضْطِرَابِ فِي الْإِسْنَادِ يُوجِبُ التَّوَقُّفَ عَنِ الْقَوْلِ بِهَذَا الْحَدِيثِ إِلَى أَنَّ الْقُلَّتَيْنِ غَيْرُ مَعْرُوفَتَيْنِ ، التمهید:۱ـــ۲۵۸ باندِ دی "لِأَنَّهُ حَدِيثٌ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ جَمَاعَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالنَّقْلِ" ددے وجے واحد لازم جوړول نه دی پکار، او لیکي :(۱۰:

Maktaba Tul Ishaat.com

٨)باندے "وَأَمَّا الْحَدِيثُ الَّذِي ذَهَبَ إِلَيْهِ الشَّافِعِيُّ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثُ الْقُلَّتَيْنِ فَإِنَّهُ حَدِيثٌ يَدُورُ عَلَى مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ وَهُوَ شَيْخٌ لَيْسَ بِحُجَّةٍ فِيمَا انْفَرَدَ بِهِ"

د شاه ولی الله رحمة الله علیه متضاد دوه قوله

او شاه ولی الله الدهلوی رحمة الله علیه "المصفٰی" کښې لیکلي دي چه دا تحدید تقریبي دے اګرچه حجة الله کښې ئے تحقیقي ګڼړې نه تقریبي

امام ابو حنیفه او روایت د قلتین

"وهذا أبو حنيفة رحمه الله في مسائل الآبار ليس معه فيها إلا تقليد من تقدمه من التابعين فيها."

(تفسیر اضوء البیان)

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د قلتین روایت معنٰی امام ابو یوسف رحمة الله علیه ته بیان کړه چه ددے مطلب دا دے چه کله اوبه جاري نو سر ئے ورله ځکل کړو او د ډیرے خوشحالئ نه ئې اوچړل لکه فتح الملهم کښې دي،

امام شافعي او حدیث دَ قلتین

تفسیر قرطبي :١٧ باندے لیکي:" وَقَالَ الشَّافِعِيُّ بِحَدِيثِ الْقُلَّتَيْنِ، وَهُوَ حَدِيثٌ مَطْعُونٌ فِيهِ، اخْتُلِفَ فِي إِسْنَادِهِ وَمَتْنِهِ، أَخْرَجَهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَخَاصَّةً الدَّارَقُطْنِيِّ، فَإِنَّهُ صَدَّرَ بِهِ كِتَابَهُ وَجَمَعَ طُرُقَهُ. قَالَ ابْنُ الْعَرَبِيِّ: وَقَدْ رَامَ الدَّارَقُطْنِيُّ عَلَى إِمَامَتِهِ أَنْ يُصَحِّحَ حَدِيثَ الْقُلَّتَيْنِ فَلَمْ يَقْدِرْ. وَقَالَ أَبُو عُمَرَ بْنُ عَبْدِ الْبَرِّ: وَأَمَّا مَا ذَهَبَ إِلَيْهِ الشَّافِعِيُّ مِنْ حَدِيثِ الْقُلَّتَيْنِ فَمَذْهَبٌ ضَعِيفٌ مِنْ جِهَةِ النَّظَرِ، غَيْرُ ثَابِتٍ فِي الْأَثَرِ، لِأَنَّهُ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ جَمَاعَةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالنَّقْلِ، وَلِأَنَّ الْقُلَّتَيْنِ لَا يُوقَفُ عَلَى حَقِيقَةِ مَبْلَغِهِمَا فِي أَثَرٍ ثَابِتٍ وَلَا إِجْمَاعٍ، فَلَوْ كَانَ ذَلِكَ حَدًّا لَازِمًا لَوَجَبَ عَلَى الْعُلَمَاءِ الْبَحْثُ عَنْهُ لِيَقِفُوا عَلَى حَدِّ مَا حَدَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لِأَنَّهُ مِنْ أَصْلِ دِينِهِمْ وَفَرْضِهِمْ، وَلَوْ كَانَ ذَلِكَ كَذَلِكَ مَا ضَيَّعُوهُ، فَلَقَدْ بَحَثُوا عَمَّا هُوَ أَدْوَنُ مِنْ ذَلِكَ وَأَلْطَفُ. قُلْتُ: وَفِيمَا ذَكَرَ ابْنُ الْمُنْذِرِ فِي الْقُلَّتَيْنِ مِنَ الخلاف يَدُلُّ عَلَى عَدَمِ التَّوْقِيفِ فِيهِمَا وَالتَّحْدِيدِ. وَفِي سُنَنِ الدَّارَقُطْنِيِّ عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ عَاصِمِ بْنِ الْمُنْذِرِ قَالَ: الْقِلَالُ الْخَوَابِي الْعِظَامُ. وَعَاصِمٌ هَذَا هُوَ أَحَدُ رُوَاةِ حَدِيثِ الْقُلَّتَيْنِ. وَيَظْهَرُ مِنْ قَوْلِ الدَّارَقُطْنِيِّ أَنَّهَا مِثْلُ قِلَالِ هَجَرَ، لِسِيَاقِهِ حَدِيثَ الْإِسْرَاءِ"

قاضی شوکانی او حدیث د قلتین

محمد بن علی شوکانی نیل الأوطار کښې لیکلے دی چه د "قلال" تقیید دَ هجر په قلال صرف د مغیرة رضي الله عنه په هغے روایت کښې راغلے دی چه د صقلاب نه ئے نقل کوی ، ځنکه چه ابن عدی وائی او صقلاب منکر الحدیث دے ، نفیلي په دے رد کوی او ابن عدی وائی لا یتابع علی عامة حدیثه او شوافع ځکه دا قوی گنړی چه د عربو په اشعارو کښې استعمال ډیر راغلے دے او دَ معراج په شپه یو تشبیه د دے سره ورکړے ده ارواء کښې علامه البانی ۱ــ۶۰ باندِ لیکلے دی چه د قلال هجر الفاظ چه بعض احادیث کښې راغلے دی لیس بجید ، لانه لم یرد مرفوعا الا من طریق المغیرة بن صقلاب ، بسنده عن ابن عمرقال الحافظ في التلخیص"وهو منكر الحدیث ثم ذكر أن الحدیث غیر صحیح . یعني بهذه الزیادة

الا ما غلب علی ریحه وطعمه روایت

ابن جریر تهذیب الآثار ۲ــ۲۱۵ ، او په مسند د عبدالله بن عباس کښې ۳۵۱۶ نمبر روایت راوړلے دے په سند سره حدثني ابوشرجیل قال حدثنا مروان بن محمد الطاطری قال حدثنا رشد بن سعد قال حدثنا معاویة بن صالح عن راشد بن سعد عن ابی امامة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الماء طهور الا ما غلب علی ریحه وطعمه ابن ماجه ۵۲۱ نمبر او بیهقي په سنن الکبری ۱ــ۲۵۹ ددے تخریج کوی و ضعّفه و قال "الا انا لا نعلم فی نجاسة الماء اذا تغیر بالنجاسة خلافا" تلخیص الحبیر صــ۱۳۲ باندِ دی چه دارقطنی وائی دا حدیث ثابت نه دے او امام نووی رحمة الله علیه وائی د محدثینو اتفاق دے چه ضعیف دے او ابن جوزی وائی لایصح

لم یحمل الخبث : لمعات کښې دی یعنی پلیتی قبلوی نه بلکه دفع کوی او لرے کوی لکه پاکے دی او د ابوداؤد روایت کښې دی "فأنه لا ینجس" چه نه پلیتیږی لکه پاکے دی که دا روایت صحیح شی نو د لم یحمل الخبثا لا یحتمله ولا یطیق حمله لضعفه بل ینجس" لکه بعض احناف دا منع کوی چه بیا هم پلیتیږی نفی صحیح نه ده ، او مرآة المناجیح کښې نعیمی صاحب دغه مطلب لیکی "قلتین میں پانی نجاست کو برداشت نہیں کرتا یعنی نجس ہوتا ہے" "مثل الذین حملو التوراة ثم لم یحملوها" عرف میں کہتا ہے فلاں شخص صدمہ نہیں برداشت کرسکتا دغسے په مرقات کښې هم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

د قلتين د اوبو مقدار

بلوغ المرام من ادلة الأحكام د صفي الرحمن مباركپوری کښې دی چه په دے کښې دوه نیم سوه رطله اوبه راځي نو ددے دوو قلّو مقدار پنځه سوه رطله جوړيږي موجوده پيمانه ۲۲۷ کلوګرام اوبو چه وی نو د نجاست قبلولو نه انکاری وی

دَ علامه کاندهلوی خلاصه

التعليق الصبيح کښې ليکلے دی "فالحاصل ان مسلک الامام الاعظم انه متٰی غلب علٰی الظن وصول النجاسة الٰی الماء وخلوص اثرها اليه تنجس الماء وان لم يتغير احد اوصافه انه يلزمه بأستعمال هٰذا الماء استعمال اجزاء النجاسة وقد قال الله تعالٰی "والرّجز فاهجر" چه غلبه ظن وی چه اوبو ته د نجاست اثر رسيدلے دے اوبه پليتے دی اګر چه يو وصف کښې بدلون نه وی راغلے دا خو هغه اوبو استعمال کرځی چه پکښې د نجاست د أجزاء استعمال راځی

(فائده) شوافع د روايت دَ اضطراب په دفع کولو کښې په اضطراب کښې اخته شو ځوک د جمع او بعض دَ ترجيح طرق غوره کوی ، تشفي ئے نه کيږی او مقصد څمونږه د رواياتو د اختلاف بيان دے او د دواړو ته کيدل ځان له مسئله ده" چه بعض يو شان ، بعض بل شان وائی په عدم ضبط او د سند په ضعف دلالت کوی اګر چه کتاب المجموع ۱۔۳۷ کښې دی چه بيهقی سند ته صحيح وائی او دے کښې اضطراب نشته

د جواباتو حاصل الحاصل

يو مسلک الاضطراب دے ، دويم مسلک التضعيف دے" ابن دقيق العيد په هغے کتاب الامام کښې ټولے طريقے راجمع کړی دی او امام ترمذی دَ خپل عادت نه خلاف په حديث د صحت يا د حسن حکم نه دے لګولے" دوئم حديث کښې اجمال دے يواځے احناف نه دی بلکه علامه طيبي شافعي د حديث وضاحت کښې ليکلے دی "فمن قال بالمفهوم المذکور وجوّز تخصيص المنطوق به کالشافعي" خصص عمومه به فيکون کل واحد من الاثنين مخصصا للاخر، ومن لم يجوز ذالک لم يلتفت اليه واجری الحديث علٰی عمومه کمالک فانه قال لا ينجس الماء الا بالتغير قل او کثر"او د (لم يحمل) دوه احتماله ذکر کوی يحتمل لضعفه لم يحمله، ولقوته لم يقبل "اګرچه ترجيح دويم قول له ورکوی ، ليکن مجرد

احتمال د اول نه انکار نه کوی مسلک المعارضه کښې نور احادیث صحیحه د احنافو په تائید کښې شته او مسلک الألزام کښې وایو چه مرقات ، طیبی او هیثمی وغیرهم د حدیث "وما ینوبه من السباع" نه استدلال کړے دے چه د درندګانو جهوټه ناپاکه ده حالانکه شوافع ورته پاکه وائی د حدیث په یو جزؤ عمل کوی او د بل جزو اهمال لازمیږی

آخر کښې د ابن قیم د التهذیب ۱ــ ۶۰/۵۹ عبارت ذکر کولے شی فرمائی "وَالِاحْتِجَاج بِحَدِيثِ الْقُلَّتَيْنِ مَبْنِيّ عَلَى ثُبُوت عِدَّة مَقَامَات: (الْأَوَّل) صِحَّة سَنَده. (الثَّانِي) ثُبُوت وَصْله، وَأَنَّ إِرْسَاله غَيْر قَادِح فِيهِ. (الثَّالِث) ثُبُوت رَفْعه، وَأَنَّ وَقْف مَنْ وَقَفَهُ لَيْسَ بِعِلَّةٍ. (الرَّابِع) أَنَّ الِاضْطِرَاب الَّذِي وَقَعَ فِي سَنَده لَا يُوهِنهُ. (الْخَامِس) أَنَّ الْقُلَّتَيْنِ مُقَدَّرَتَانِ بِقِلَالِ هَجَرَ. (السَّادِس) أَنَّ قِلَال هَجَرَ مُتَسَاوِيَة الْمِقْدَار لَيْسَ فِيهَا كِبَار وَصِغَار. (السَّابِع) أَنَّ الْقُلَّة مُقَدَّرَة بِقِرْبَتَيْنِ حِجَازِيَّتَيْنِ، وَأَنَّ قِرَب الْحِجَاز لَا تَتَفَاوَت. (الثَّامِن) أَنَّ الْمَفْهُوم حُجَّة. (التَّاسِع) أَنَّهُ مُقَدَّم عَلَى الْعُمُوم. (الْعَاشِر) أَنَّهُ مُقَدَّم عَلَى الْقِيَاس الْجَلِيّ. (الْحَادِي عَشَر) أَنَّ الْمَفْهُوم عَامّ فِي سَائِر صُوَر الْمَسْكُوت عَنْهُ. (الثَّانِي عَشَر) أَنَّ ذِكْر الْعَدَد خَرَجَ مَخْرَج التَّحْدِيد وَالتَّقْيِيد. (الثَّالِث عَشَر) الْجَوَاب عَنْ الْمُعَارِض وَمَنْ جَعَلَهُمَا خَمْسمِائَةِ رِطْل اِحْتَاجَ إِلَى مَقَام. (رَابِع عَشَر) وَهُوَ أَنَّهُ يَجْعَل الشَّيْء نِصْفًا اِحْتِيَاطًا. (وَمَقَام خَامِس عَشَر) أَنَّ مَا وَجَبَ بِهِ الِاحْتِيَاط صَارَ فَرْضًا." انتهٰی

نو یو غیرمتعصب،معتدل که حنفیت نه الرجک نه وی په دے کښې دَ سوچ نه پس به فیصله هغه وائی ان شاء الله چه احناف ئے غوره کوی دَ پاک پلیت مسئله او عموم بلوی او داسے روایت الحق الصریح کښې دَ احنافو قولینو کښې دَ تعارض خبره کښې لیکي : حدیث دَ قلتین رد کوي اومختلفے بهانے د هغه غورځولو دپاره جوړوی چه دا حدیث ضعیف دے او مضطرب دے څوک شته چه ددے کوټلی متعصب نه تپوس اوکړی چه دا بهانے دی او که د یو حدیث عمل او شواهد دی ، یواځے احناف ورته ضعیف نه وائ بلکه د هر مسلک علماء تر ابن قیم په دغه روایت بعض کلام کوی لکه دَ مخکښې نه واضحه شوه کله چه ثابته شوه چه په بعض نجاست بعض اوبه پلیتیږی نو په دے د کوهی بعض مسائل د پاکئ تفریع کیږی،

منږک که کوهی ته اوغورځیګی

بدائع الصنائع کښې صــ۷۵ بانډ دی "أَمَّا الْخَبَرُ فَمَا رَوَى الْقَاضِي أَبُو جَعْفَرٍ الْأُسْرُوشَنِيُّ بِإِسْنَادِهِ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ فِي الْفَأْرَةِ تَمُوتُ فِي الْبِئْرِ: يُنْزَحُ مِنْهَا عِشْرُونَ، وَفِي رِوَايَةٍ يُنْزَحُ ثَلَاثُونَ

Maktaba Tul Ishaat.com

دَلْوًا" دیرش یا شل بوقے به تر اوباسلے شی هر چه اثر دے د علی رضی الله عنه نه دیرش یا شل بوقے دی"

چرګه که اوغورځیګی

ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی چه څلویښت بوقے به تر ایستلے شی" اصل دا دے چه نجس سره کوم شے ګاونډ کښې اولګی شرعًا نجس ځکه دے چه حدیث کښې دی که جامد غوړو کښې منږک مړ شی ګیر چاپیره غوړی به سره دَ منږکه اوغورځولے شی او باقی به استعمالیږی نو دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلّم فیصله ددے دَ نجاست ده ، دلته دغه اندازه أحنافو شل یا دیرش بوقے مقرر کړے ده ددغے د نجاست حکم ئے ورکړو او په چرګه ، پیشو کښې دغه مجاورة د ضخامت دَ وجے ډیر وی د هغے په اندازه د زیاتو بوقو اندازه لګولے شے لیکن که منږک اورژیدلے شی یا اوپړخیږی تولے اوبه پلیتیږی ځکه ددے اجزاء په دغے تولو اوبو کښې دَ درخاوت دَ وجے سرایت کوی نو تولے اوبه را ایستل پکار دی او امام محمد رحمة الله علیه فرمائی که دَ منږک لکئ اوغورځیګی تولے اوبه ځکه را ایستل پکار دی چه دَ کټ کیدو دَ وجے ددغے لوند والی دَ کبله دَ اوبو په اجزاء کښې فساد راځی او دَ امام ابویوسف رحمة الله علیه یو روایت دے که اوچ سارانے په کوهی کښې اوغورځیدو او فورًا رابهر شو کوهے نه پلیتیږی ، او شیخ ابوبکر محمد بن الفضل فرمائی چه لونده او اوچه یو شان دی ځکه فی الجمله ضرورت پکښې متحقق دے

اثر د امام طحاوی

باب الماء یقع فیه النجاسة د لاندِ ۳۵ نمبر روایت کښې دی چه سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی که کوهی کښې منږک پریوځی او مړ شی تولے اوبه به ایستلے شی او ٤٤ نمبر روایت دَ ابراهیم بن قیس النخعی نقل کوی که منږک کوهی کښې اوغورځیګی په اندازه دَ څلویښتو بوقو به تر ایستلے شی

تبین الحقائق مع حاشیه العلامه الشیخ الشبلی چه د الشیخ احمد عز په تحقیق مرکز اهل سنت ګجرات الهند شائع کړے دے د هغے په صـــ۹۸ باندِ منږک کښې شل بوقے لیکلے دی لیکن که منږک زخمی وی تولے اوبه به ایستلے کیږی (کیدے شی د سیدنا علی رضی الله عنه فتویٰ چه امام طحاوی رحمة الله علیه ذکر کوی په دے صورت حمل وی احناف وائی چه پړسیدلے او ریژیدلے وی تولے اوبه به ایستلے

شی اول به منرک راؤباسے بیا به اوبه ایستلے کیږی الحق الصریح کښې دی چه د سیدنا علی رضی اللہ عنه قول د احنافو دَ مذهب خلاف دے معلومه شوه چه دلته دوه صورتونه دی د علی صاحب قول به هغے حمل دے چه پړسیدلے او ریژیدلے وی صاحب د کنز الدقائق لیکلے دی "واربعون بنحو حمامة" چه کمتره که اوغورځیکی څلویښت بوقے به ځکه وی چه چرګه که مړه شی نو سیدنا ابوسعید الخدری رضی اللہ عنه دے صورت کښې څلویښت بوقے مقرر کړی دی" او په مصنّف ابن ابی شیبة ۲ـ۱۹۷ په ۱۷۳۲ نمبر دَ سیدنا علی رضی اللہ عنه فتویٰ موجود ده ماشوم کوهی کښې متیازے کړے وے اوئے فرمائیل ټولے اوبه اوباسئ که چرته چینه دار کوهی وی او ټولے اوبه راوخکل ممکن نه وی نو امام محمد رحمة اللہ علیه فتویٰ ورکړے ده چه ددے نه به بیا دوه سوه بوقے ایستلے شی

دَ کمترے نه وتلے ګنډکی پاکه ده نصب الرایه کښې فصلٌ فی البئر د لاندِ دی چه سیدنا انس ، زید بن ارقم او مغیرة بن شعبة رضوان اللہ علیهم اجمعین د نبی صلّی اللہ علیه وسلّم یو فرمان ئے اوریدلے دے چه په دے کښې څه نشته ، صاحبِ هدایه لیکی چه دَ کوهی په مسئلو کښې آثار شته دے" ومسائل البیر مبنیّة علی الآثار دون القیاس،

(٥):وَعَنْ أَبِي سعيد الْخُدْرِيِّ قَالَ: قِيل يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ وَهِيَ بِئْرٌ يُلْقَى فِيهَا الْحِيَضُ وَلُحُومُ الْكِلَابِ وَالنَّتْنُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ» . رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ

ترجمه : نبی صلّی اللہ علیه وسلّم نه تپوس اوشو آیا مونږ دَ بئر بضاعة نه اودس کولے شو او دا داسے کوهی وو چه په دے کښې به دَ حیض لګیدلے چرړے غورځیدے شوے او د سپو غوښے او بدبویه نور څیزونه ، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه دغه اوبه پاکے دی دا هیڅ څیز نه شی پلیتولے،

تشریح : (بئر بضاعة) لمعات التنقیح کښې دی چه د بعض خلقو د لارے په غاړه دَ درب شامي سره نزدے دَ یو کوهی نوم وو د سیدنا حمزه رضی اللہ عنه ابن عبدالمطلب د مشهد سره په هغه وخت کښې وو ددے برکتی اوبه به دَ ناجوړه خلقو دپاره اوړے شوے ابن اسید ددے کوهی مالک وائی په دے کښې نبی صلّی اللہ علیه وسلّم خپلے لاړے مبارکے توکلے وے دغسے برکت یقینی دے یا دَ کوهی دَ مالک نوم دے لیکن بعض ابن اسید نوم ذکر کوی نو د ځائے نوم دے ، اشعة اللمعات کښې دی چه دا چینه دار

Maktaba Tul Ishaat.com

کوهی وو و گفته آند که این چاه دران وقت جاری بود د سنن دار قطنی دَ عظیم آبادی په تعلیق کښې مطبوع دارالمحاسن القاهره صـ۳۰ بانډې دی "بئر بالمدینة بصق رسول الله صلی الله علیه و سلم وبرك رتوضاً في دلو ورده فيها وكان إذا مرض مريض يقول له اغتسل بمائها فيغتسل فكأنما نشط من عقال" او علامه طیبي لیکی "بضاعة دار بنی ساعده بالمدینة وهم بطن من الخزرج" مرآة المناجیح د نعیمي بریلوی صاحب کښې دی چه دا کوهے په مدینه منوره کښې په محله د بنی ساعده کښې واقع دے چه د خزرج قبیله ده

بضاعة : علامه طیبي لیکی د باء کسره او ضمّه دواړه جائز دی لیکن مرقات کښې دی چه محفوظ ضمّه ده ، دغسې خبره "فاطمة بضعة منّي" کښې هم ده

الحیض : المفاتیح کښې دی جمع دَ کسرّ بکسر الحاء ده" د حیض د وینے په وخت کښې زنانه چه کومه کپړه استعمالوی دا به صحراء او کندو کښې غورځولے دَ خپلو کورونو نه شاته چه دَ باران اوبه به په شکال کښې ډیرے راغلے دا کوهے نشیبي ځائے کښې وو دا به ئے راوړے دے کښې به پریوتلے ځکه چه صحابو کوهی کښې ددے څیزونو دَ غوځولو کاروائي چرته نه ده کړے اوبه هسے هم هلته کمے وے نو صحابو رضی الله عنهم اجمعین څنګه داسے کول ، چه دَ صحیح فطرت خاوندان وو

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه دا اوبه دَ کاریز غونډې ګڼړی په مدفون نهر دا کوهے واقع وو لکه اوس هم په مکه کښې نهر زبیده او مدینه کښې نهر زرقاء بانډې په ظاهر کښې کوهی معلومیږی مګر در حقیقت دا پټ نهرونه وو که دا جاری نه وو او دَ ارټ په ذریعه هم ددے نه اوبه نه راوتلے نو که دا په سوونو قلّو اوبه هم وی دے کښې بدبوئی راځی څمونږ په کوهانو کښې که پیشو هم کوهی کښې ذره ذره او پرسیدلے ډمامه او ریږیدلے وی په اوبو کښې بد بوئی محسوسیږی

انتن: لمعات کښې دی فتح او سکون دواړه صحیح دی سخا شوے او بده ګنړلے شوے بدبوئی

ددے کوهی نه د نبی صلّی الله علیه وسلم اودس کول

نسائی کښې حدیث نمبر ۳۳۵ دے چه عبّاس رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل دوی دَ بیر بضاعة په اوبو اودس کولو ، فقلت أتتوضّأ من بیر بضاعة ، او التمهید:۱ـ۲۵۶ کښې دی چه سهل بن سعد فرمائی ما خپل لاس بانډې نبی صلّی الله علیه وسلّم بانډې ددے کوهی اوبه څکولے دی اوس که درله څه دغه اوبه

راوړم بد به ئے ګنړی یعنی کرکه به کوی علامه خطابی معالم السنن کښې لیکلے دی چه دا کوهے لړ لاندِ ځائے کښې وۀ او دے ته به ئے غدیر وئیلو (التعلیق الحسن للنیموی)

د اصحاب ظواهر او د مالکیانو مسلک کښې فرق

التقریر الترمذی کښې شیخ الهند رحمة الله علیه صــ٦ باندِ لیکلے دی چه اصحاب الظواهر دَ قلیل و کثیر اوصافو په بدلون او نه بدلون کښې فرق نه کوی او امام مالک رحمة الله علیه فرمائی که اوصافِ ثلاثه بدل نه وی اوبه پاکے دی

شاه ولی الله رحمة الله علیه او حجة الله

صــ ١٨٤ باندِ لیکلے دی چه خپله به کله په دے کوهی کښې نجاست بغیر دَ دوی دَ قصد نه اوغورځیدل لکه ځمونږ کویانو کښې مشاهده ئې کوو بیا مونږ دغه نجاستونه راؤباسو د اسلام دَ راتلو نه پس دوی یو زیادتی تپوس دَ طهارتِ شرعیه سره چه کله اوکړو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل "الماء طهور لا ینجسه شئ" او دا تأویل یا حدیث دَ ظاهر نه اړول نه دی بلکه دا دَ عربو کلام دے دغسے استعمال کوی

توجیه نمبر ١ علامه زیلعی او نور محدثین

تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق کښې دی وما رواه محمول علی الماء الجاری لأنه ورد فی بیر بضاعة و ماءها کان جاریا بالبساتین فعلمنا بالأحادیث کلها یعنی دا داسے کاریز وو چه باغونه به پرے اوبه کیدل" (مظاهرحق) د احنافو دَ بعض عالمونو دا خیال دے چه چینه دار کوهی دَ رَوانو اوبو حکم لری

امام طحاوی

شرح معانی الاثار کښې لیکلے دی فَقَالَ قَوْمٌ كَانَتْ طَرِيقًا لِلْمَاءِ إِلَى الْبَسَاتِينِ فَكَانَ الْمَاءُ لَا يَسْتَقِرُّ فِيهَا فَكَانَ حُكْمُ مَائِهَا كَحُكْمِ مَاءِ الْأَنْهَارِ دا د یو لحتی په حکم کښې شوے کنی هسے کوهی کښې ددے نه کم نجاست اوغورځیږی دغه په ځائے اولاړے اوبه بیا پلیتیږی لیکن بعض مشائخ ورته جاری نه وائی لکه ابوداؤد

Maktaba Tul Ishaat.com

د امام ابوداؤد دَ عدم جریان دلیل

امام ابوداؤد رحمة الله علیه فرمائی چه ما دَ بیرِ بضاعة کوهی باره کښې چه کله دَ هغے د نګران نه تپوس اوکړو چه ددے عمق به څومره وی اوئے وئیل چه اوبه کله ډیرے وی تر نومه او چه کمے وی نو دَ عورت نه کمے وی ، او فرمائی چه ما خپل څادر بانډِ دَدے کوهی کله اندازه اولګوله بیا ما څادر په ګزونو کړو شپږ ګزه اوختلو ، او چه کوم کس ما له د باغ دروازه کهولاؤ کړے وه ما له ئے اجازت راکړے وو چه دننه شوم ما تپوس اوکړو ددے په تعمیر کښې څه فرق دَ مخکښې حالت نه راغلے دے ، جواب ئے راکړو چه نه او ما پکښې داسے اوبه اولیدے چه رنګ ئے بدل وو انتهٰی لیکن (جواب د ابوداؤد) دا دے چه د نبی صلی الله علیه وسلم او ددے واقعے په مینځ کښې تقریبًا دوه سوه کاله فاصله ده څنګه بعینه دَ مخکښې غونډِ کیدے شی او دویمه دا ده چه فاتح الباب او اجازة ورکونکی مجهول دی دَ صاحب البیت تعیین نشته قاضی شمس الدین رحمة الله علیه لیکلے دی چه بلازری دا کوهے سبع فی سبع د واقدی نه نقل کوی او د ابوداؤد زمانه کښې شپږ ګزه ددے خلاف ذکر کوی،

دویمه توجیه

فتح الملهم کښې علامه شبیر احمد عثمانی لیکلے دی چه کله ظاهر د حدیث واغستلے شی نو د حیض دغه چړرے ، د سپو غوښے او بد بویه څیزونه چه کله پکښې پریوتل دے سره خو ټول اوصاف بدلیږی (ابوداؤد ئے هم داسے اوبه لیدلے وے چه رنګ ئے اړولےوو) او بیا د عام کوهی د اوبو رقت او سیلان باق نه پاتے کیږی ، تغیر د وصف لازمی دے نو دَ مالکیه دلیل دَ ظاهر روایت نه پاتے نه شو ولے صحابو خاموشه تماشه صرف کوله دغه ګندګئ دغسے کوهی کښې پریخودلے دَ اوبو اجزاء کښې نجاست حتمی سرایت کړے وو نو نورو نصوصو ته که اوکتلے شی دا دَ "ویحرم علیهم الخبائث" په ذیل کښې راځی سوال دا دے چه عظیم آبادی لیکلے دی چه دا د برکت اوبه وے جریان سره برکت ختمیږی صاحب د الحق الصریح لیکی چه کله دا اوبه جاری وے نو دَ تبرک بیا څه معنٰی جوړیږی څکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لارے خو به په اول ځل غورځولو سره سمدست ختمے شوے دا شیخ مبارکپوری وائی

د برکت دَ ختمیدو جواب

د برکت اوبو له دا نه ده ضروری چه هر جزو د اوبو کښې به دوامًا کوهی کښې استقرار وی ، که اوبه راوځی او څه لږ اجزاء پکښې وی نو راتلونکے نوے د زَیَم اوبو کښې هغه برکت پاتے وی ددے دلیل باب المساجد ومواضع الصلوٰة کښې د مشکوٰة د فصل ثانی دویم روایت دے ، صحابو له نبی علیه السلام چه کله د برکت لږے اوبه ورکړے هغوی عرض اوکړو څمونږ وطن لرے دے او موسم دَ گرمئ دے دا به اوچے شی "فدعا بماء فتوضأ وتمضمض ثم صبه في إداوة وأمرنا فقال اخرجوا فإذا أتيتم أرضكم فاكسروا بيعتكم وانضحوا مكانها بهذا الماء واتخذوها مسجدا قلنا إن البلد بعيد والحر شديد والماء ينشف فقال مدوه من الماء فإنه لا يزيده إلا طيبا" چه کله اوبه اوچے شی دغه کمے اوبو کښې چه نورے گډے کړئ ددے هغه برکت او پاکوالی کښې به نوره اضافه اوشی،

د جاری کیدو یعنی د راهټ په شکل کښې د راتلو دلیل

امام بخاری رحمة الله علیه ۲ـــ۹۲۳ باندِ په باب تسلیم الرجال علی النساء کښې ددغے سهل روایت کوی "عن سهل كانت عجوز لنا ترسل الی بضاعة" حاصل دا دے چه کله بعض صحابه دَ جمعے مانځه له تلل هلته ابی به ورله چقندر پخول او دغه دَ چقندرو پتے په بیرِ بضاعة اوبه کیدلو دا دلیل دے چه بعض پټو والا به دغه اوبه دَ اوبه خور په طور استعمالولے ، دلیل دے چه اوبه به ترِ ډیر مقدار کښې اوځکلے شوے

دریمه توجیه

امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه عقلاً دا سوال معقول وو که اوبه ترِ بهر شوے نو کوهی کښې ضرور لوندوالے به وی ، ختمه نه ده راوباسلے شوے او دَ اخراج نجاست نه روستو هم د کوهی دیوالونه نه دی وینځلے شوے نو بیا "انّ الماء لاینجس" څنګه شو" په ناپاکه لوخی کښې اوبه که واچولے شی اوبه ناپاکه وی کیدے شی چه ددغے کوهی حکم دغسے شو لیکن د نبی د ارشاد حاصل دا دے چه لوخی کښې دا امکان وی چه او به وینځلے شی لیکن د کوهی دغسے وینځل ممکن نه دی ځکه ورته وهم راغے ،پیغمبر د وهم ازاله داسے اوکړه پیغمبر اوفرمائیل "انّ الماء طهور" که الف لام جنسی هم شی نو دا

مطلب دے چه اوبه ناپاکے نه شی پاتے کیدے بلکه پاکیزی لکه انّ المؤمن لاینجس یا انّ الأرض لا تنجس یعنی مؤمن او زمکه ناپاکه باقی نه شی پاتے کیدے او د هغوی وسوسه ئے لرے کړه"

شاه انور شاه کشمیری رحمة الله علیه د هغے نظیر دا بیانوی لکه د هغے چینو باره کښ چه دَ مکے او مدینے مینځ کښ وے بعض ته وسوسه راغله چه دَ دے نه درندگان اوبه څکی او مونږ تږ اودس کوو دا څنګه دی چونکه یقینی طور باندِ چا په اوبو څکلو دغه درندگان یقینی لیدلے نه وو نو ورته ئے اوفرمائیل چه چه کله تاسو ته یقینی معلومات نشته دا اوبه پاکے دی ، دے ته وائی جواب بأسلوب الحکیم ، د وهم او د وسوسے ازالے دپاره ئے اوفرمائیل چه دَ اوبو دَ اصل حقیقت دَ وړاندِ دَ داسے اوهامو اعتبار نه وی او دَ وسوسے جرړے ئے اوباسلے

دریم نظیر

دا دے چه څه کسانو ته وسوسه راغله چه دے قصابانو په شاروی کلمه به وئیلے وی یا نه ، نو د وسوسے ختمولو دپاره ئے ورته اوفرمائیل سمّو علیه وکلوه لکه په صحیح کښ باب ذبیحة الاعراب کښ دغه روایت شته

پو بل نظیر

د مشکوة باب تطهیر النجاسات کښ روایت دے چه امّ سلمة رضی الله عنها فرمائی یوے ښځے د دوی نه تپوس اوکړو "أطیل ذیلي وأمشي في المکان القذر قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یطهره ما بعده" د ښځے لمن په نامناسب مکان کښ یقینی طور نه سخا کیده وهم ورته راغلے وو نو د پیغمبر حدیث ئے ورته بیان کړو چه روستو پاکه زمکه به دغه ناپاکه لمن پاکه کړی دے سره دَ هغے دَ وسوسو علاج اوشو دلته د کوهی د پلیت والی د وهم ازاله اوکړه "انّ الماء لا ینجسه شئ" لکه روستو ان شاء الله ددے روایت تشریح رارروانه ده،

او قرآن کښ چه راځی وانزلنا من السماء ماءً طهورًا دا دَ اوبو دَ اصل حقیقت بیان دے دا مطلب نه دے که هر څنګه وی اوبه چرته پلیتیدلے نشی

څلورمه توجیه

مرقات کښې ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلې دی "والتعریف في الماء للعهد الخارجي" او الف لام کښې اصل دَ اهل لسان او دَ اهل الأصول په نزد الف لام عهدی کیدل دی دغسې په تلویح او په نورالأنوار کښې هم دی څو پورې چه داسې قرینه نه وی چه دَ معهودیت نه ئې واړوی الف لام عهدی اصل دے" نود بیر بضاعة دغه اوبه مراد دی ، مطلق اوبه نه دی مراد (طهور) مرقات کښې دی طاهر مطهر لکونه جاریا البساتین

د روایت مقام

تبین الحقائق کښې دی "لِأَنَّ حَدِيثَ بِئْرِ بُضَاعَةَ لم يَثْبُتْ هَكَذَا ذَكَرَهُ الدَّارَقُطْنِيَّ فَلَا يُعَارِضُ الصَّحِيحَ" علامه قرطبی "قَالَ ابْنُ الْعَرَبِيِّ: وَتَعَلَّقَ عُلَمَاؤُنَا بِحَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ فِي بِئْرِ بُضَاعَةَ ، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَغَيْرُهُمْ. وَهُوَ أَيْضًا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ لَا قَدَمَ لَهُ فِي الصِّحَّةِ فَلَا تَعْوِيلَ عَلَيْهِ." ابن منده صحت له ترجیح ورکوی او مدار ئې په صفوان بن سلیم عن سعید بن سلمة دے ،قاضی شوکانی رحمة الله علیه نیل الاوطار کښې لیکلې دی چه یحیٰ بن معین ، ابن حزم اوحاکم دَ روایت تصحیح کوی او د ابو اسامه روایت جیّد گڼړی او ابن جوزی نقل کوی چه دار قطنی وائی دغه حدیث ثابت نه دے او بیا قاضی شوکانی لیکلې دی "وأعله ابن القطان بجهالة راويه عن أبي سعيد" او لیکلې دی چه بخاری ورته صحیح نه وائی او دَبزار بله طریقه کښې لیث بن ابی سلیم ضعیف دے سبل السلام کښې دی چه بلوغ المرام کښې دی چه امام احمد رحمة الله علیه ورته صحیح وائی لیکن حافظ منذری په مختصر السنن کښې لیکلی دی "تکلّم فیه بعضهم لکن قال حکی عن الامام احمد انه قال حدیث بیر بضاعة صحیح" او راوی عبیدالله بن عبدالله بن رافع بن خدیج مجهول راوی دے لیکن صحیح ابوداؤد کښې بعض صحیح طریقې ددے البانی صاحب نقل کړے او "الا ما غلب ریحه وطعمه" علامه نووی رحمة الله علیه لیکلی دی "اتفق المحدثون علی تضعیفه" الحق الصریح کښې دی چه د عبیدالله بن عبدالله روایت په هغې روایاتو راجح دے کوم چه دارقطنی راوړلې دی وجه دا ده چه دَ هغه روایاتو مدار په محمد بن اسحاق دے او په هغه باندې په دے روایاتو کښې اختلاف او اضطراب راغلې دے"

Maktaba Tul Ishaat.com

د داسې قسم روایت نه د اوبو په اهمه مسئله کښې په حقیقت سره دلیل قطعی نه جوړیږی چه الحق الصریح کښې دغسې لیکلې دی "پکار ده چه مذهب حدیث ته کرځولې شی نه دا چه حدیث خپل مذهب ته په تأویلاتو سره راتاؤ کړې شی فتدبر وانصف"

لیکن د انصاف د تدبر نه پس هم دغه خبره ده چه دا تاویلات بارده نه دی بلکه د هر تأویل قرائن شته لکه چه مخکښې تیر شو، چا هم حدیث خپل مذهب ته نه دے راتاؤ کړے او دغسې روایت او په دے دومره ناز، ولکن الأین الأنصاف والتدبر

(٦):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا أفنتوضأ من مَاء الْبَحْرِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ» . رَوَاهُ مَالك وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ وَابْن مَاجَه والدارمي

ترجمه: ابوهریره فرمائي : تپوس اوکړو یو سړي دَ نبي علیه السلام نه موږ په دریاب کښې سفر کوو او اخلو موږ ځان سره اوبه لږې که موږه په هغې اودس اوکړو نو تږی به شو نو آیا موږ اودس کولې شو په اوبو دَ سمندر نو نبي علیه السلام اوفرمائیل : ددے اوبه پاکونکې دي او ددے مرداره حلاله ده،

تشریح : د حدیث اهمیت

بعض عالمان دے ته د اوبو دَ پاکو پلیتو مسئلو کښې نصف العلم وائی ځکه چه توله دنیا دوه حصو ته تقسیم ده ، سمندر او اوچه" په دے حدیث کښې د سمندر د پاکئ او ناپاکئ ټول مسائل راغلل ابن الملقن وائی چه داسې حدیث دے اصل من اصول الطهارة مشتمل علی احکام کثیرة وقواعد مهمة" او حمیدی چه د بخاری استاد او د امام شافعی رحمة الله علیه ملګرے دے هغه ورته نصف علم الطهارة وائی،

دَ قاضی شوکانی عجیبه توجیه

علامه شوکانی رحمة الله علیه په نیل الأوطار کښې لیکلې دی چه د "بضاعة" کوهی اوبه نجس کیدو نه باوجود د ضرورت په وجه د هغې نه اودس جائز کړے شو لیکن غسل او نور طهارت د کپړو وغیره

جائز نه دی ـ سبحان الله یو معلول روایت بچ کوی او دَ طهارت او نظافت دَ تولو اصولو نه صرفِ نظر کوی

دا سوال کونکے څوک دے

سمعانی چه د لغت او حدیث امام دے ، هغه ورله نوم عرکی لیکلے دے چه کشتئ چلونکی ته وائی که چه دا ملاح ته وائی نو دا نوم نه شو دا لقب او وصف دے ، څوک دده نوم عبدالله ، عبد ، عبید ، او بغوی حمید بن صخر نقل کوی څوک وائی عبد ابن زمعه وو څوک وائی د بنومربع وو عبدالله ئے نوم وو او دارقطنی کښ دی چه عبدالمدلجی وو

د سمندری اوبو نه اودس څنګه دی

جمهور ورته صحیح وائی لیکن بعض سلف لکه عبدالله بن عمر او عبدالله بن بن عمرو بن العاص ورته د امام ترمذی د قول مطابق مکروه وائی اوس د ټول امت په جواز اتفاق دے او د عبدالله بن عمرو نه چه دا کراهت نقل دے د هغے منشا مرفوع حدیث دے چه راوی ئی دوی څپله دی او ترمذی کښ دی "وقد کره بعض اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم الوضوء بماء البحر منهم عبدالله ابن عمر و عبدالله بن عمرو"

منشا د اختلاف

التعليق الممجد کښ علامه لکهنوی لیکلے دی فلیس لأمر في طهارته، بل لأن تحت البحر نارا، البحر تسجر انتهٰی او دا د ابوداؤد د کتاب الجهاد روایت دے لا یرکب البحر الا حاج او معتمر او غازٍ فی سبل الله فان تحت البحر نارًا" او مرقات کښ د مشکوة دویم جلد په حدیث کښ ملا علی قاری لیکلے دی "وقد احترقت سفينة في زماننا واحترق جمع كثير من أهلها" چه زما زمانه کښ کشتئ کښ اور لګیدلے وو او ډیر خلق ددغے کشتئ ئے سوزولے وو

د ملا علی قاری رحمة الله علیه فتوی

مرقات کښ دی چه اودس صحیح دے اګرچه رنګ او خوند بدل وی ځکه دا طعم او لون جبلی او فطري دے نه دا چه پکښ تغیر روستو راغلے دے او د ډیر وخت د پاتے کیدو د وجے بدلون ضروری نه وی

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا حدیث اتفاقی ضعیف دے چه "وتحت النار بحر حتّٰی عد سبعة" که صحیح هم بالفرض شو بیا هم د کراهت دلیل نه شی جوړیدے

دحدیث توجیه

دبعض دا رائے ده چه دا کلام په تشبیه حمل دے چه دریابی سفر خطرناک وی

دردریا گر منافع بے شمار است — اگر خواہی سلامت بر کنار است

او بعض ئے حمل په حقیقت کوی ځکه چه د زمکے په آخری ویخ کښ جهنم دے او قرآن کښ دی "واذا البحار فجرت" چه سمندر به په اور لمبه کړے شی په دے اوبو به اور اولګی دا به خپله د جهنم جزو یعنی د جهنّم خشاک جوړ کړے شی

د ابوداؤد د روایت حیثیت

عام علماء ورته ضعیف او ابن جوزی ورته موضوع وائی امام بیهقی فرمائی چه امام بخاری ددے حدیث تخریج ځکه نه دِ کړے چه په دے کښ داسے دوه راویان دی چه په نوم کښ اختلاف دے یو سعید بن مسلمه او دویم مغیره بن ابی برده او علامه ابن دقیق العید په دے کلام کړے دے او معلل ئے ګرځولے دے لیکن د تلقی بالقبول د وجے بعض تصحیح کوی" ابن حجر رحمة الله علیه فرمائی چه بخاری ددے تصحیح کړے ده کما قال الترمذی او امام بخاری رحمة الله علیه که یو حدیث صحیح ګنړی دا نه ده ضروری چه خپل صحیح کښ د دغه روایت راوړی ځکه دَ دغه شان استیعاب مقصد هغوی نه دِ کړے

د قرآن و حدیث نه معلومیږی چه سونامی طوفانونه نه وی په عام حالاتو کښ دَ خپل بعض ضروریاتو دَ پاره که علم وی یا تجارت سفر کول جائز دی

سورة البقرة کښ ١٦٤ نمبر آیت کښ دی "وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ" سمندری سفر کشتئ کښ کول مطلقا جائز دی او امام بخاری رحمة الله علیه باب تړلے دے "باب ما ذکر فی ذهاب موسی صلی الله علیه و سلم في البحر إلى الخضر" علامه عینی د حدیث نه وومه مسئله دا راؤباسله (السابع) فیه الرحلة والسفر لطلب العلم برًّا و بحرًا"

اول سوال

نبی صلی الله علیه وسلم له جوامع الکلم او جوامع الدعاء دواړه ورکولے شوے دی د خالق نه د غوختلو او مخلوق ته د رسولو دواړه کلمات جامع دی ، د سوال جواب کښې صرف "نعم" کافی وو تفصیلی جواب انّ الماء طهور کښې څه حکمت وو

(جواب ـ ۱) بیا به معلومیده چه د سمندر د اوبو نه هغه وخت اودس کیدے شی چه کله درسره خوړے اوبه ډیرے کمے وے ، لیکن دا مسئله نه شوه واضح کیدے چه اودس هر حال کښې جائز دے که خوږے اوبه لږے وی یا ډیرے او په دے دغه اسلوب دلالت کوی"

(جواب ـ ۲) په "نعم" به صرف د اودس د جواز په حکم پوهه شوے وو لیکن ددے حکم علت به فهم ته نه راتلو ، اوس حکم په طهوریت دے سره د علّته معلوم شو او حصر دَ وضو ختم شو چه صرف د اودس جواز نه دے بلکه غسل یا په هغے جامے او لوخی وینځل دا ټول جائز دی،

دویم سوال او دَ هغے جواب

هغوی تپوس صرف دَ اوبو کړے وو او په جواب کښې ورته د سمندر دَ میته یعنی دَ مهی حکم اوخودلو دا ولے؟

جواب: کله به نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ جواب نوعیت دَ ظاهر سوال د جواب نه د حکمتونو د وجے بدلو کله چا تپوس اوکړو چه د احرام حالت کښې به محرم څه قسم جامے استعمالوی ، جواب کښې ورته اوفرمائیل چه دَ کومو څیزونو د استعمال اجازت نشته هغه دا دی ، او ددے نه علاوه د نورو څیزونو استعمال جائز دے. دے مقام کښې چه سوال راتلو د هغے جواب دوی په داسے انداز ورکړو چه دَ مخکښې مضمون تائید تر اوشو او دَ سوال جواب اوشو چه کله سمندر کښې روزانه په منونو څناور مره کیګی اوبه به دے سره پلیتے شوے وی نو بیا دا پاکے او پاکونکے څنګه شوے جواب ئے ورکړو انّ الماء طهور الخ علامه طیبی رحمة الله علیه لیکلی دی چه په کومو اوبو پاکی حاصله شی دا به هله وی چه فی نفسه پاکے او نورو څیزونو له پاکونکے وی د فعول او فعیل وزنونه د معنٰی د زیادت دپاره دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

دویم جواب

د نبی علیه السلام دا خیال وو لکه څنګه چه د اوبو ضرورت دا بو بنیادی ضرورت دے وریسے د خوراک ضرورت هم بنیادی ضرورت دے ذَ هغے جواب ئے اضافی ورکړو پوهه ئے کړل چه "میتة البحر" حلال دے ، د لارے نوخه او خوراک ئے ځان له جوړولے شی او په جواب علی اسلوب الحکیم کښې د سوال د مطابقت نکتے په نسبت دا ملحوظ زیات ساتلے شی چه د غائب حاجت او ضرورت او ذَ مقام رعایت دِ ملحوظ اوساتلے شی

د هو الطهور ماءُه معنٰی او ترکیب

اشعة اللمعات کښې معنٰی کړے ده "دریا پاک کننده است آب وے" د دریاب اوبه پاکونکے دی (پاکے خو خواه مخواه دی)

ترکیب

عون المعبود کښې دی (۱) هو مبتداء اول ، الطهور دویمه مبتداء او ماءه ئے خبر دے بیا ټوله جمله ذَ مبتداء دپاره خبر جوړ کړه (۲) هو مبتداء او الطهور ئے خبر دے او ماءه بدل اشتمال دے (۳) ابن دقیق العید فرمائی هو مبتداء الطهور خبر او ماءه باره کښې لیکلے دی دا فاعل دے۔

په انداز د جواب فائده

د ټول حدیث فائده امام حمیدی چه دَ امام بخاری شیخ ، د امام ابوحنیفه شاګرد او د امام شافعی ملګرے دے داسے ذکر کوی "هٰذا الحدیث نصف علم الطهارة" او دغسے د جواب یوه غټه فائده دا ده "مشروعیة الزیادة فی الجواب علی سوال" او امام بخاری صحیح کښې باب ایخے دے "باب من اجاب السائل بأکثر مما سأله"

هو الطهور ماءه کښې د حصر نوعیت

دے ترکیب کښې مسند او مسند الیه دواړه معرفے دی ، مبتداء په الطهور الف لام سره او ماءه خبر په اضافت سره او تعریف الحاشیتین مفید حصر له وی لکه "العلماء ورثة الأنبیاء" لیکن دلته حصر د مسندالیه په مسند کښې دے یعنی د سمندر اوبه په طهوریت کښې منحصر دی غیر طهور نه دی او

عکس ئے ځکه نه دِ مراد چه بیا به دا لازم شي چه دَ سمندر اوبو نه علاوه نورے اوبه مطهر نه دی او دَ طهوریت انحصار په ماء البحر کښې صحیح نه دے نورے ډیرے اوبه پاکے دی معلومه شوه که اوبه کمے وی او دَ تندے غلبه ظن وی نو دَ ضرورت د وجے تیمم جائز دے

د سوال کولو منشأ

چونکه دَ سمندر دَ اوبو ذائقه او رنګ کښې واضح فرق وی وهم راتلو چه دوه وصفه بدل شي بیا به اوبه پلیتی وی ، جواب ئے ورکړو چه دا حکم د سمندر په اوبو کښې نشته (۲) په زرګونو او په لکهونو ځناور پکښې مره کیږی هسے نه چه اوبه پلیتے شوے وی ، جواب سره دغه وهم ختم شو (۳) لا یرکب البحر الا حاج او معتمر او غاز فی سبیل الله (٤) سائل ته شبهه وه چه دَ سمندر اوبه سختے ترخے وی ، مالګینے او مرئ کښې الختونکی دی نو دا به ځنګه د وانزلنا من السماء ماء طهورًا د لاندِ راشی ، د باران اوبه خوږے او پاکونکے دی او چه د سمندر اُوبه خوږے نه دی پکار ده چه مطهر دِ نه شی بهر حال انّ الماء طهور جمله اسمیه مستقله راوړو کښې ډیر فوائد دی

تحت البحر نار

څوک چه دا وجه ذکر کوی شرح مهذب دَ نووی کښې صـ۹۰ باندِ دی "وَأَمَّا حَدِيثُ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارٌ فَضَعِيفٌ بِاتِّفَاقِ الْمُحَدِّثِينَ الخ"

دَ یو بل نحوی سوال جواب

"والحلُّ میتته" کښې اضافت د استغراق فائده ورکوی چه دَ سمندر ټول په ټوله میتات حلال دی او قرآن کښې راځی "احل لکم صید البحر" د قرآن و سنت نه چه خبره ثابته شی نو بیا ولے نه منلے کیږی (جواب) دا اضافت استغراقی نه دے بلکه عهدی دے خاص مهے ترے مراد دے ، (۲) دَ احل دوه معنٰی راځی (۱) حلال کیدل (۲) نجس نه کیدل بلکه چه پاک وی دا بحث پکښې نه دی چه خوراک ئے حلال دے یا نه ، دلته دویمه معنٰی مراد ده د طاهر کیدو سره حلّت لازم نه دے لکه خاوره پاکه ده لیکن خوراک ئے ټهیک نه دے او دا معنٰی اغستلو سره دَ مخکښې سره ربط او ترون خه واضح کیګی چه سمندر کښې دومره ځناور مره کیږی نو مطهر ځنګه شو جواب ئے ورکړو چه کله په دغه معنٰی میته طاهرے دی نو دَ سمندر اوبه به ناپاکے او پلیتے نه وی،

Maktaba Tul Ishaat.com

د التقریرالرفیع عبارت

نبی علیه السلام پوهه شو چه د اودس علم ورته نشته په دے ئے د ښکار حکم قیاس کړو بیا لیکی چه د "الحل" هغه معنٰی نه ده چه حرام ئے ضد وی بلکه د طاهر معنٰی کښې ده امام بخاری رحمة الله علیه د کتاب البیوع آخر کښې د سیدنا انس رضی الله عنه روایت سره د صفیه بنت حی واقعه نقل کړے ده "حتٰی بلغنا الصهباءحلّت فبنٰی بها الخ" ا ودا دَ خیبر د غزوے واقعه ده د حلّت معنٰی طهرت ده او نصب الرایه کښې د سلمان فارسی رضی الله عنه روایت راوړلے دے "یا سلمان کل طعام و شراب وقعت فیه دابة لیس بها دم فماتت فهو لک حلال اکله وشربه ووضوءه" دلته ئے په حلال باندے خوراک ، څکاک او اودس دریواړه څیزونه مرتب کړو لیکن دَ اودس صورت کښې د حلال معنٰی د هغے معنٰی نه بدله ده په هغے سره د خوراک او څکاک تعلق دے د اکل او شرب صورت کښې حلال د حرام ضد دے او اوداسه په صورت کښې د طاهر په معنٰی راځی اولمعات التنقیح کښې دی الطهور بمعنٰی المطهر ، والحل بالکسر بمعنٰی الحلال (والمیتة) سمک" ومیتة لکونه لم یذبح

د احل لکم صید البحر وضاحت

دلته صید بمعنٰی مصید نه دے بلکه مصدری معنٰی باندِ دے او دغه ئے حقیقی معنٰی ده او صید بمعنٰی مصید مجاز دے او په حالت د احرام کښې د اصطیاد د فعل جواز ثابتیری د خوراک حلت نه ثابتیری او د آیت مقصد صید البر او صید البحر کښې فرق بیانول دی په حالت د احرام کښې اصطیاد فی البحر جائز او په اوچه کښې ناجائز دی مقصد د غوښے د حلت بیان نه دے د آیت د سیاق سباق نه د احناف تائید کیږی

دَ ښکار تعریف

قاموس کښې دی دا هغه حیوان دے چه د اصلی خلقت په لحاظ سره ځنګلی او محفوظ القتل وی که غوخه ئے خوړے شی یا نه ، دغسے تعریف امام ابو حنیفه رحمة الله علیه کړے دے لکه تفسیر مواهب الرحمن کښې دی

د برکت دَ ختمیدو جواب

د برکت اوبو له دا نه ده ضروری چه هر جزو د اوبو کښې به دوامًا کوهی کښې استقرار وی ، که اوبه راؤځی او څه لږ اجزاء پکښې وی نو راتلونکے نوے د زیَم اوبو کښې هغه برکت پاتے وی ددے دلیل باب المساجد ومواضع الصلوٰة کښې د مشکوٰة د فصل ثانی دویم روایت دے ، صحابو له نبی علیه السلام چه کله د برکت لپاره اوبه ورکړے هغوی عرض اوکړو څمونږ وطن لرے دے او موسم دَ گرمئ دے دا به اوچے شی "فدعا بماء فتوضأ وتمضمض ثم صبه في إداوة وأمرنا فقال اخرجوا فإذا أتيتم أرضكم فاكسروا بيعتكم وانضحوا مكانها بهٰذا الماء واتخذوها مسجدا قلنا إن البلد بعيد والحر شديد والماء ينشف فقال مدوه من الماء فإنه لا يزيده إلا طيبا" چه کله اوبه اوچے شی دغه کمے اوبو کښې چه نورے گډے کړئ ددے هغه برکت او پاکوالی کښې به نوره اضافه اوشی،

د جاری کیدو یعنی د راهټ په شکل کښې د راتلو دلیل

امام بخاری رحمة الله علیه ۲۔۹۲۳ باندِ په باب تسلیم الرجال علی النساء کښې ددغے سهل روایت کوی "عن سهل كانت عجوز لنا ترسل الٰی بضاعة" حاصل دا دے چه کله بعض صحابه دَ جمعے مانځه له تلل هلته ابی به ورله چقندر پخول او دغه دَ چقندرو پتے په بیرِ بضاعة اوبه کیدلو دا دلیل دے چه بعض پتو والا به دغه اوبه دَ اوبه خور په طور استعمالولے ، دلیل دے چه اوبه به ترِ ډیر مقدار کښې اوځکلے شوے

دریمه توجیه

امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه عقلاً دا سوال معقول وؤ که اوبه ترِ بهر شوے نو کوهی کښې ضرور لوندوالے به وی ، ختیه نه ده راؤباسلے شوے او دَ اخراج نجاست نه روستو هم د کوهی دیوالونه نه دی وینځلے شوے نو بیا "انّ الماء لاينجس" څنگه شو" په ناپاکه لوخی کښې اوبه که واچولے شی اوبه ناپاکه وی کیدے شی چه ددغے کوهی حکم دغسے شو لیکن د نبی د ارشاد حاصل دا دے چه لوخی کښې دا امکان وی چه او به وینځلے شی لیکن د کوهی دغسے وینځل ممکن نه دی ځکه ورته وهم راغے ،پیغمبر د وهم ازاله داسے اوکړه پیغمبر اوفرمائیل "انّ الماء طهور" که الف لام جنسی هم شی نو دا

د امام شافعي رحمة الله عليه اصح قول

امام نووي رحمة الله عليه ددے روايتونو كښې اصح دا قول نقل كړے دے چه د چندخ نه علاوه نور پانی حلال دی ابوداؤد باتُ فی الأودية المكروهة ٢ـــ١٨٥ باب منعقد كړے دے "عن عبدالرّحمٰن بن عثمان انّ طبيبًا سأل النبی صلّی الله عليه وسلّم من ضفدع يجعلها فی دواء فنهاه النبی عن قتلها سورة الأعراف نمبر ١٣٣ باندِ فأرسلنا عليهم الطوفان والجراد والقمّل والضفادع د لاندِ تفسير قرطبي كښې دی چه چيندخان مه وژنئ د الله تسبيحات كوی او د ابوداؤد روايت كښې دی چه تمساح خبائث كښې داخل دی او حرام دی ، او كوسج دارو والا دی نو حلّت نه مستثنٰی دی

(فائده) د سمندر په حيواناتو كښې د ټولو نه تنګ مسلک د امام ابوحنيفة رحمة الله عليه دے او اوسع مسلک د امام مالک ، د امام شافعي او بيا دَ امام محمد رحمهم الله دے

اهمه مسئله

جهينګا مهے دے خوړل ئے حنفي مسلک كښې پكار دے او يا مهے نه دے اجتناب پكار دے دا په دے تحقيق موقوف دے چه دا د مهی قسم دے يا نه دے كه اول وۀ خوراک ئے صحيح دے كه دويم وو نه دے دَ احكامِ شريعت بالكل اوله مسئله كښې د مولوی احمدرضاخان رجحان حلت ته معلوميږی ليكن د بحث آخر كښې احكام شريعت صـــ١٥ باندِ ليكلي دی بہر حال ایسے شبہ واختلاف سے بے ضرورت بچنا ہی اولی ہے علامه طيبي ليكلي دی وكذالک مايعيش فی الماء والبحر الخ الحوت حلال والضفدع حرام بالأتفاق والسرطان حرام فی اصح القولين

صرف د مهی د حلت دپاره دَ امام ابوحنيفهؒ دليل

د مهی نه علاوه د نبي عليه السلام او دَ صحابو نه د مهی نه علاوه بل سمندری څيز خوراک نه دے ثابت او چه كوم عنبر ئے خوړلے دے هغه دَ مهی قسم دے ، بخاری ٢ـــ٦٢٦ باندِ روايت دے "فألقی البحر حوتا مّيتًا لم نر مثله ، يقال له العنبر" عنبر د مهی نه علاوه بله نوعه نه وه دا تعامل هم دليل دے چه بل څيز د مهی نه علاوه صحابو نه دے خوړلے او كه بالفرض خوړلے ئے وی نو دا به اضطراری حالت حمل دے چه مرداره خوړل پكښې جائز وی

د احنافو بل استدلال

"أُحِلَّت لنا میتتان ودمان ، اما المیتتان فالجراد والحوت و أما الدمان فالطحال والکبد" (ابن ماجه ، احمد)

د حدیث نوعیت او د مولانا عبدالعزیز نورستانی استدلال

نیل المرام چه کوم طبع دے د ریاض مؤسّسة خیریه په خرچه دَ هغے صــ٤٦٢ باندِ لیکلے دی "د عبدالرّحمٰن بن زید بن اسلم دَ وجے ضعیف دے او موقوفًا صحیح دے او کله چه موقوفًا صحیح شو نو دے سره ئے حکم د رفع شو ځکه چه په دے کښ مجال د اجتهاد نشته،

د حافظ ابن حجر تحقیق

تلخیص الحبیر کښ فرمائی چه روایت مرفوع او موقوف دواړه راغلے دے او صحیح موقوف دے او د موقوف تصحیح دارقطنی ، ابوزرعة او ابوحاتم کړے ده او دَ هیڅ صحابی نه د مهی نه علاوه د سمندر د حیواناتو خوراک ثابت نه دے"

د سمک طافی حکم

امام نووی شرح مسلم ٢ــ١١٨ باندِ لیکلے دی "وامّا السمک الطافی وهو الذی یموت فی البحر بلا سبب فمذهبنا اباحته الخ و ابوحنیفة لا یحلّ"

نو طافی هغه مهے دے چه بغیر دَ ظاهری سبب نه مړ شی او دَ اوبو دَ پاسه راشی لیکن که چرته په ظاهری سبب مړ شو مثلًا د دریاب دَ چپو دَ وجے نو حلال دے. دے سره متعلق یو حدیث "ما القاه البحر او جزر عنه فکلوه و ما مات فیه فلا تأکلوه" ته امام نووی ضعیف وئیلے دے لیکن بیا هم احتیاط په دے کښ دے چه او نه خوړلے شی" او شیخ عبدالحق رحمة الله علیه اشعة اللمعات کښ لیکلے دی چه ځما مذهب کښ حلال نه دے"

حتف أنفه چه بغیر دَ خارجی اثر نه مړ شی پکښ اختلاف دے احناف ورته ناجائز او ائمه ثلاثه ورته جائز وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

د ائمه ثلاثو دليل

الحق الصريح کښې دی چه الطافی حلال كذا ذكره البخاری ٢ـــ٨٢٥ معلقا ، و وصله الدارالقطنی وابن ابی شیبة ، دارقطنی کښې دی السمكة الطافية حلال تحفة الأحوذی کښې د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه دغه اثر نقل دے او هغوی دَ لفظی اضطراب نه انکاری دی او تحفة المناظر صـــ٢٩٤ باندِ دَ ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه دغه نظرئے پیش کړے دے

وضاحت

د امام ابوحنیفة غونډِ مذهب د هغوی نه مخکښې دَ سیدنا علی ، ابن عباس او دَ سیدنا جابر رضی الله عنهم اجمعین هم دے (د دارقطنی روایت د ابن عباس نه دے چه حلال دے) او سعید بن المسیب ، طاؤس او زهری رحمهم الله هم دغسې وائی سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه د طافی حلالوالے د عبدالله بن عباس په اثر ثابت دے او د دوی مذهب د طافی د حرمت دے او صاحبِ تحفه دلته دا خپله لیکلے دی چه راوی دَ خپل روایت په معنٰی خه پوهیږی

اضطراب

د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه په دے اثر کښې صاحب دَ معارف السنن د معرفت یوه خبره دا کړے ده چه عجیبه اضطراب ځکه دے چه دارقطنی الفاظ دی السمكة الطافية حلال لمن اراد اكلها، الحق الصريح کښې د طحاوی روایت کښې دی او کله راځی السمک ذکیٌ اکله، او یو طریقه کښې دا قول نه دے بلکه فعل دے او د ټولو یو مخرج دے دا خو لفظی اضطراب دے علامه بنوری رحمة الله علیه لیکلے دی "نعم من كان مداره علٰی نیل الشوکانی و درایة الحافظ او تلخیصه" که هغوی داسے خبرے کوی نو کوی به

دویمه دا ده چه کوم روایت کښې دی او فألقی البحر حوتا مَیتا" که احتمال دے، کیدے شی چه کله سمندر راغورځولے وی او مړ شوے وی" او ده په سطح د سمندر دا مړ لیدلے وی" او چه کله سمندر ئے راغورځوی یا اوبو ترِ آخوا شوے یا اوچے شوے یا د ډیرے سړخئ او ګرمئ د وجے مړ وی دا صورتونه ځمونږ په نزد حلال دی او حرام هغه دی چه په خپل مرګ مړ شی او الټه شی د اوبو دپاسه الوږے چه خیټه ئے بره وی په نظر راځی د هغے خوراک ته حرام وائی

د والحل میتته مطلب

یعنی چه د مرګ نسبت ئې سمندر ته منسوب وی هغه چه بې د څه آفت نه مر شی" علامه آلوسی رحمة الله علیه لیکلی دی د سورة النحل د آیت د "لحمًا طریًّا" په تشریح کښې لیکلےدي که چرته د مهی په خیته کښې بل مهے وی خوړلے به شی "لأن ضیق المکان سبب موتها"د ځائے تنګوالے د مرګ سبب ګرځیدلے دے

د علامه صنعانی تحقیق

محمد بن اسماعیل صنعانی په سبل السلام شرح د بلوغ المرام کښې لیکلے دی او په دے کتاب علامه البانی تعلیق کړے دے "هو الطهور ماءه والحل میتته" باره کښې لیکلے دی چه مصنف او ابن حجر د نهه صحابو نه دا روایت نقل کړے دے چه هره طریقه کښې کلام دے او البانی لیکلے دی چه د ابوهریرة رضی الله عنه نه سند صحیح دے او په اول تلخیص کښې دے ته حافظ میلان کړے دے

د احنافو دلیل

مرفوعًا او موقوفًا دواړه روایت دے د سیدنا جابر رضی الله عنه نه، ابوداؤد حدیث نمبر ۳۸۱۵ "چه کوم خیز سمندر اوغورځوی یا ددے نه د سمندر اوبه یو غاړے ته شی هغه خورئ او چه اوبو سره یو ځائے شی او بیا په بره راشی هغه مه خورئ"

په دے کښې یحیٰ بن سلیم ضعیف راوی دے لیکن بیهقی په متعدد سندونو دا روایت بیان کړے دے او هسے هم د حلت و حرمت د تعارض وخت کښې ترجیح حرمت لره وی او دے روایت ته څکه د بیهقی ضعیف وئیل نه صحیح کیږی چه دے ثقه او حجت دے، بخاری او مسلم تړِ روایت راوړلے دے او د ابن جوزی تضعیف د اسماعیل بن امیه په وجه وهم دے هغه ګمان کړے دے چه دا ابوالصلت دے حالانکه دا ابو امیه القرشی دے او دا رفع د ثقه په زیادت مقبوله ده او دا هم معلومه شوه که د سیدنا جابر رضی الله عنه په نزد دغه سنت ثابت وؤ نو خپل رآی بانډ به دوی طافی نه حرام کولو،

او دَ ابوبکر صدیق رضی الله عنه د روایت نه څکښې عذر پیش شو نو دا روایت د جابر معارض کول صحیح نه دی او دا واقعه د جیش الخبط کښې الحق الصریح کښې د جابر رضی الله عنه خپل الفاظ دی

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی موندره اوکی شو ، دغه خاص سمک طافی په اضطرار حمل دے او د "فمن اضطر فی مخمصة" صورت استثنائی د اباحت دے،

(۷): وَعَنْ أَبِي زَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ: «مَا فِي إِدَاوَتِكَ» قَالَ: قلت: نَبِيذ. فَقَالَ: «تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُورٌ» .رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَزَادَ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ: فَتَوَضَّأَ مِنْهُوَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: أَبُو زيد مَجْهُول وَصَحَّ

ترجمه : ابو زید د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت نقل کوی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ده ته د پیریانو د تبلیغ په شپه اوفرمائیل چه ستا په دے بتک کښې څه دی؟ عبدالله رضی الله عنه فرمائی چه دے کښې کهجورے غوړخولے شوے دی اوئے فرمائیل کهجوره پاکه او اوبه پاکونے دی بیا ئے تر اودس اوکړو او ترمذی ابوزید ته مجهول وائی ،

تشریح : د ابو زید تعارف او د روایت حیثیت

د مصنف ابن ابی شیبه ۱ــ۳۲۵ په تعلیق د وضو بالنبیذ بحث کښې دی چه امام ترمذی ورته مجهول وائی لیکن د داسے مجهول ضعیف حدیث ضعف ډیر سخت وی چه کله تر راوی ثقه وی هلته ضعف کښې تخفیف راځی ځکه چه ابو فزاره راشد بن کیسان یو ثقه دے ابن ابی حاتم دَ جرح و تعدیل ۲ــ۳۶ بانډِ لیکلے دی چه "سألت ابی عن روایة الثقات عن رجل غیر ثقة ویقویه قال اذا کان معروفًا بالضعف لم تقو روایته عنه واذا کان مجهولًا نفعه روایة الثقة عنه" او دلته ئے متابع او شاهد میلاویږی نو حسن لغیره دے اشعة اللمعات کښې دی "ابوزید مخزومی کہ از تابعین است و مولائے عمرو بن حریث است و بخاری اورا تضعیف کرده' بخاری اورا در ضعفاء آورده و حاکم نیز بضعف وی حکم کرده و گفته اند که اورا خبر داین یک حدیث نیست و بعض ابو فزاره رانیز تضعیف نموده اند" چه دا د عمرو بن حریث آزاد شوے غلام تابعی دے بخاری او حاکم ئے ضعیف گنړی او وائی چه دغه یو حدیث تر نقل دے بعض پکښې ابوفزاره ته ضعیف وائی بدائع صنائع کښې دی چه صاعد وائی چه دے زاهد تابعی دے او د ابوزید باره کښې لیکلے دی چه دے او دده مولا دواړه د ذات په اعتبار سره معروف دی" نو دده د عدالت جهالت دده په روایت کښې قدح نه راولی او دا حدیث بے ددے طریقے نه په بله طریقه نقل دے چه په هغے کښې طعن نشته،

معارف السنن کښې علامه بنوری رحمة الله علیه لیکلی دی چه ابوزید د عمرو بن حریث آزاد کړده شو هغه غلام دے چه دده نه راشد بن کیسان او ابوروق عطیه بن حارث روایت کوی نو د جهالت نه وتلے دے او د ترمذی اراده به د مجهول الاسم وی دغسے په شرح ترمذی کښې ابن العربي لیکلی دی او امام بخاری خپل صحیح کښې د عطاء قول نقل کوی "التیمم احب الی من الوضوء بالنبیذ واللبن" دا مسئله د اولیٰ او خلاف اولیٰ ذکر کوی او د ابوزید څوارلس متابع علامه عینی نقل کړے دی او په مسند احمد کښې من طریق عليّ ابن جدعان عن ابی رافع عن ابن مسعود په دے کښې نه ابوفزاره دے او نه ابوزید، او شاه انور د دارقطني سند داسے ذکر کړے دے چه معاویه بن ابی سلام عن زید بن ابی سلام عن ابن غیلان (عند البعض صحابی دے) عن ابن مسعود" او دا سند د شیخینو د شرط سره موافق دے او دارقطني کښې هاشم بن خالد کښې تصحیف دے په اصل کښې هشام بن خالد دے من رجال التهذیب او په تقریب کښې دی صدوق من العاشرة روی عنه ابوداؤد و ابن ماجه وقال ابوحاتم صدوق وذکره ابن حبان فی الثقات وحدیثه عند ابی داؤد فی سننه (باب فی الرجل یموت بسلاحه) من کتاب الجهاد قال حدثنا هشام بن خالد قال حدثنا الولید الخ ابوداؤد کښې معاویه بن ابی سلام دے په اصل کښې سلام بن ابی سلام دے طرق ئے متعدد دی او د علی ، ابن عباس ، عکرمه او حسن د ضعیف اسانیدخبره تعدد طرق سره ده،

(سـوال) د مسند احمد په روایت کښې ابو رافع عن ابن مسعود دے او د ابورافع سماع د سیدنا ابن مسعود نه نه ده ثابته او دا حدیث د مصنفاتو د حماد بن سلمه نه دے لیکن ،

(جـواب) په تعلیق د مصنف ابن ابی شیبه کښې داسے کوی "لا ینبغی ان یفهم منه انه لایمکن ادراکه وسماعه عنه" دا فهم ته راوستل مناسب نه دی چه دده نه ئے ادراک او سماع ممکن نه دے ابو رافع صائغ باره کښې علامه ابن عبدالبر په الأستیعاب کښې لیکلی دی چه دے مشهور تابعی عالم دے او چه نبی صلی الله علیه وسلم ئے لیدلے نه دے نو غټ تابعی دے ، دوی د سیدنا ابوبکر ، عمر او عبدالله بن مسعود رضوان الله علیهم اجمعین نه روایت کړے دے او چه کله د دوی دا مقام دے نو د ټولو صحابو نه دده سماع ممتنع نه ده لیکن د دارقطني په نزد اتصال له شرط د سماع ثبوت دے که یو ځل ولے نه وی

Maktaba Tul Ishaat.com

صاحب د مرقات

ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چه اهل نقل د روایت په ټولو سندونو کښ کلام کوی او الجواهر النقی ١ـــ٩ باندِ دی چه سماع ئے د ابن مسعود نه نه ده ثابته په مذهب د هغه چا چه په اتصال کښ سماع شرط ګنړی او امام مسلم ددے نه انکار کوی او صاحب کمال صراحة لیکلے دی چه سماع ئے ثابته ده لیکن چه په مختلفو سندونو کله حدیث نقل شی چه د مجتهد غالبه ظن ئے د حق کیدلو وی هغے له اعتبار د دیاناتو په اخبار کښ علماء ورکوی کله چه عدول وی

رائے د امام طحاوی

حدیث د ابن مسعود په دوو سندونو سره ذکر کړلو او حدیث ته ضعیف وائی چه استدلال صحیح نه دے او د جمهورو مذهب راجح ګنړی او نظر دا ذکر کوی چه اوسکے سرکه ، وغیره دَ نبیذ تمر د اودس نظائر دی اودس ترِ ناجائز دے او په آخری دلیل کښ اوفرمائیل چه نبیذ تمر سره اودس د تیمم په آیت منسوخ دی او خبره ئے ختمه کړه

رائے د صاحب بذل المجهود

وضو بالنبیذ د اکابرینو مثلًا د ابن مسعود ، ابن عمر او د ابن عباس رضوان الله علیهم مذهب دے او د تلّقی بالقبول په وجه په مشهور سره تخصیص جائز وی

رائے د امام ابویوسف رحمة الله علیه

څکل ئے جائز دی اودس په دے ناجائز دے

علامه عینی رحمة الله علیه څه فرمائی

صـ٦٨٣ باندِ لیکے دی چه د ابن قدامه په مغنی کښ دی چه د سیدنا علی رضی الله عنه نه روایت کړے شوے دے چه هغوی به په نبیذالتمر اودس کولو کښ باک نه ګنړلو او دغسے حسن او اوزاعی او عکرمه وائی چه نورے اوبه نه وی په دے اودس کول جائز دی

علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه

معارف السنن کښې دی چه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د قول غوندِ علامه ابن تیمیه په خپل منهاج کښې خپل قول کلک کړے دے

د ابن عباس رضی الله عنه اثر

النبیذ وضوء لمن لم یجد الماء دارقطنی باب الوضوء بالنبیذ نمبر ۲۳۱ سنن بیهقی باب منع التطهیر بالنبیذ نمبر ۳۱

آیا ابو فزاره مجهول دے؟

لمعات التنقیح کښې دی چه شیخ تقی الدین السبکی لیکلے دی چه د ابو فزاره مجهول کیدو کښې نظر دے ځکه چه دده نه دا حدیث د اهل علم یو جماعت نقل کړے دے لکه سفیان، شریک، جراح بن ملیح او قیس بن ربیع شو او ابن عدی فرمائی چه ابوفزاره د حدیث راوی مشهور دے چه نوم ئے راشد بن کیسان دے دغسے دارقطنی فرمائی، او په الکاشف ۱ــــ۳۳۸ باندِ دی" راشد بن کیسان الحسنی الکوفی عن انس وابن ابی لیلٰی الخ او د بحث آخر کښې د ابن الهمام د عبارت نه پس لیکلے دی چه ظاهر ده چه حق ابوحنیفه رحمة الله علیه سره دے

په مسئله د نبیذالتمر کښې مذاهب

لمعات التنقیح کښې شیخ عبدالحق لیکلے دی چه کله نورے خالصے اوبه نه وی نو د امام ابوحنیفه او سفیان رحمة الله علیهما په نزد اودس کول ترے جائز دی او د نبیذالتمر په موجودګئ کښې تیمم ناجائز دے او چا وئیلے دی چه وضو بالنبیذ کښې د امامِ ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد نیت شرط دے اګرچه دا "قول قیل" سره دے ګویا د خاورے غوندِ د اوبو نه ئے بدل ګنړی" او مسلک د امام شافعی او احمد رحمة الله علیهما دا دے چه اودس ناجائز دے او تیمم واجب دے او دا د امام ابویوسف رحمة الله علیه قول دے او د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه روایت دے او د رجوع حکایت د دوی دے قول ته کیږی او مسلک د امام محمد رحمة الله علیه دا دے چه اودس به اوکړی بیا به تیمم اوکړی لکه د خر جوټه یعنی ماء مشکوک کښې چه څنګه کیږی" او روایت د طحاوی نه داسے جواب کیدے شی که څوک په مکروهه اوبو او نبیذالتمر باندِ قادر وی نو اجماعًا به بیا په الماءالمکروه اودس کوی،

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبيذ تمر نه غسل كول

د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه نه د جواز او د عدم جواز دوه قوله دي تبيين الحقائق كښې دي چه مبسوط كښې اصح قول دَ غسل جواز نقل كړے دے چه خلاف القياس نص كله واغستلے شو نو بل ځيز چه دغه معنیٰ لرى هغه به ورسره ملحق كيږى ليكن مفيد كښې دى چه اصح دا ده چه په دے غسل ناجائز دے ځكه چه جنابت حديثونو كښې اغلظ وى او كه جنابت كښې ضرورت د اودس نه كم دے نو قياس پرِ نه شى كيدے،

د ما به النزاع تعيين

تول ځلور قسمه نبيذ دے (۱) كهجورے چه پكښې واچولے شوے رقّت پكښې دے لرے غوړيدے اويه خوږلوړے شوے مگر نشه پكښې نشته او نه پخے شوے دى او په اندامونو بهيږي دا اختلافى صورت دے ائمه ثلاثه او قاضى ابويوسف رحمة الله عليه پرِ اودس ناجائز گنړى او د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه نه ځلور اقوال نقل دى مجموع شرح مهذب كښې ۱ــ۲۳ باندِ علامه نووى ليكلے دى "الثالث أن المراد بقوله نبيذ أي ماء نبذت فيه تمرات ليعذب ولم يكن متغيرا وهذا تأويل سائغ لان النبي صلى الله عليه وسلم قال تمرة طيبة وماء طهور فوصف النبي صلى الله عليه وسلم شيئين ليس النبيذ واحدا منهما" ځكه چه فقط اوبه او يواځے كهجورے نبيذ نه دى، بلكه چه كله دواړه يو ځائے شى نبيذ جوړيږى او دے وخت كښې حديث د قرآن تشريح كرځى مرقات كښې ملا على قارى رحمة الله عليه ليكلى دى "كان ينبغي لأولئك أن يؤولوا هذا الحديث بتقدير صحته ليوافق الآية على أن تلك التمرة الملقاة في الماء لم تغيره تغيرا ضارا وتسمية ابن مسعود له نبيذا من مجاز الأول" كه حديث صحيح شى د آيت سره موافق تأويل دغه دے چه دومره كهجورے اچولے وى چه نقصانى بدلوالے پكښې نه دِ راوستلے او ابن مسعود رضى الله عنه ورته مجازًا نبيذ وئيلے دى او يا ترِ مراد هغه وضع لغوى ده چه څه داسے ځيز اچول چه بدلون نه راولى بيا داسے نسبت كول چه د آيت پروا خلق نه كوى او دوه اوچتو امامانو ته داسے نسبت كوى دا د دين عدم مبالات دے او په ارباب يقين ډير زړه وركيدل دى چه د چا قدم يا قلم دے كښې خويدلے دے الله دِ ورته معافى اوكړى او هدايه كښې دى "والحديث مشهور عملت به الصحابة رضي الله عنهم وبمثله يزاد على الكتاب" او بدائع صنائع كښې دى " وهؤلاء طعنوا فى حديث

عبدالله بن مسعود من وجوه وتلقته البلاد بالقبول ومثله ماينسخ به الكتاب فكأنه قال "فلم تجدوا ماء ولا نبيذ تمر فتيمّموا الا انه لم ينقص عله ثبوته عادة" او علامه کاسانی لیکلے دی که دا ماء مطلق نه شی ځکه چه په ماء مطلق دَ قدرت لرلو وخت کښې په دے اودس جائز نه دے لیکن د جواز قول په نص سره دے او صرف په نبیذ تمر کښې دغه نص دے ددے نه علاوه به په خپل اصل قیاس پاتے کیږی،

نفحات التنقیح کښې د شیخ سلیم الله خان رح وضاحت

امام صاحب حدیث پریخودلے نه دے بلکه دومره اهتمام ئے کړے دے چه اودس ئے اوکړو او د نبیذ تمر اجازت ئے ورکړو لیکن د نبیذ حنطه وغیره نورو نبیذونو او دَ غسل اجازت ئے نه دِ ورکړے،

د علامه زیلعی رحمة الله علیه وضاحت

تبیین الحقائق ص۔۔۔۱۱٤ باندِ لیکی که څوک وائی چه دا ماء مطلق نه دی، مونږ وایو چه دا شرعی اوبه دی ځکه نبی علیه السلام فرمائیلے دی "ماء طهور ای شرعًا" او د "فلم تجدوا" مطلب دا دے چه حقیقةً او یا شرعًا اوبه او نه موندلے شی

د امام طحاوی رحمة الله علیه یو محمل صحیحه

او امام طحاوی رحمة الله علیه لیکی چه د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه مشهور قول په اختلافی نبیذ کښې هم په سفر کښې چه کله اوبه نه وی بیا اودس کولے شی (یعنی تیمم به نه کوی) دغسے ثوری، اوزاعی، ابوالعالیه، عکرمه او حسن رحمهم الله تعالی فرمائی او دے ته د اسحاق رحمه الله میلان دے او دغه د علی، ابن مسعود، ابن عباس، انس، ابوالعالیه رضی الله تعالی عنهم اجمعین او د ډیرو صحابو نه نقل شته چه هغوی په دے اودس کړے دے او د کراهت قول چه دَ چا نه نقل دے دا کراهت تنزیهی دے او دَ نص د دغه اوبو نه بعض انواع قطعًا خاص دی نو دا عام مخصوص عنه البعض شو او دَ علماؤ اتفاق دے چه ددے تخصیص په قیاس جائز دے

د علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه رائے

فتاوی ۱۰۔۔۔۱٦۸ (۱۹۔۔۔۲۰) اصول الفقه "وَمَنْ ظَنَّ بِأَبِي حَنِيفَةَ أَوْ غَيْرِهِ مِنْ أَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ أَنَّهُمْ يَتَعَمَّدُونَ مُخَالَفَةَ الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ لِقِيَاسِ أَوْ غَيْرِهِ فَقَدْ أَخْطَأَ عَلَيْهِمْ وَتَكَلَّمَ إِمَّا بِظَنٍّ وَإِمَّا بِهَوَى فَهَذَا أَبُو

Maktaba Tul Ishaat.com

حَنِيفَةَ يَعْمَلُ بِحَدِيثِ التوضي بِالنَّبِيذِ فِي السَّفَرِ مُخَالَفَةً لِلْقِيَاسِ وَبِحَدِيثِ الْقَهْقَهَةِ فِي الصَّلَاةِ مَعَ مُخَالَفَتِهِ لِلْقِيَاسِ ؛ لِاعْتِقَادِهِ صِحَّتَهُمَا وَإِنْ كَانَ أَئِمَّةُ الْحَدِيثِ لَمْ يُصَحِّحُوهُمَا"

مسلک د ائمه ثلاثو او د قاضی ابو یوسف رحمة الله علیه

د دوی په نزد اودس ناجائز دے تیمم به کوی او د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه څلور اقوال نقل کیږی اول ظاهری روایت دا دے چه اوبه وی تیمم ناجائز دے او دوئم قول ئے دا دے چه اودس جائز نه دے بلکه تیمم به کوی او نوح بن مریم روایت کوی چه دے ته امام ابوحنیفه رحمة الله علیه رجوع کړے ده

د رجوع حواله

الحق الصریح کښ دَ بحث آخر کښ دی "دے قول الجمهور ته امام ابوحنیفة هم رجوع کړے ده او دا ئے اخیرے قول دے واختاره الطحاوی کذا فی البذل والمرعاة، انتهی په احنافو کښ ابن نجیم ، صاحب د بدائع ، طحاوی او قاضی خان دغه رجوع غوره کوی ، او بحرالرائق کښ دی چه تیمم به کوی اودس به نه کوی وقد رجع الیه وهو الصحیح وبه قال ابویوسف والشافعی ومالک واحمد واکثرالعلماء واختاره الطحاوی او فتح الباری کښ ابن حجر دَ قاضی خان قول د رجوع نقل کړے دے او بدائع صنائع کښ دی روی نوح فی الجامع المروزی عن ابی حنیفة انه رجع عن ذالک وقال لایتوضأ به ولکنه یتمم وهوالذی استقر علیه قوله" او دلیل ئے فلم تجدوا مآءً فتیمموا صعیدًا طیبًا دے نو د ماء مطلق نه حکم خاورے ته او د خاورے نه نبیذ تمر ته او د نبیذ نه خاورے ته منتقل کیدو کښ دَ کتاب مخالفت راځی او مجموع شرح تهذیب ١ــ٢٢ بانډې دی "(والرابعة) أَنَّهُ رَجَعَ عَنْ جَوَازِ الْوُضُوءِ بِهِ وَقَالَ يَتَيَمَّمُ وَهُوَ الَّذِي اسْتَقَرَّ عَلَيْهِ مَذْهَبُهُ كَذَا قَالَهُ الْعَبْدَرِيُّ قَالَ وَرُوِيَ أَنَّهُ قَالَ الْوُضُوءُ بِنَبِيذِ التَّمْرِ مَنْسُوخٌ"

او ارشاد الساري: ١: ٤٣٥ بانډے دي "واليه رجوع ابي حنيفة"

او غوره دغه دی چه د رجوع قول اوکړے شی او په مسئله اشکالات او د هغے جوابات دے له ذکر کیږی چه اول قول ئے خالص بے دلیله او د صریح نص سره دَ مخالفت نه وو منحة الخالق کښ دی "حاشا ثم حاشا ان یبنی شیئا فی دین الله علی ما لا اصل له بل له اصل اصیل عنده" او رجوع ئے

خکه کړے ده چه کله مجتهد په دلیل قوی سره کامیاب شی بیا رجوع کوی ،"أَلَا تَرَی أَنَّ الشَّافِعِيَّ رَحِمَهُ اللهُ رَجَعَ عَنْ مَذْهَبٍ مُسْتَقِلٍّ بَعْدَ تَدْوِينِهِ"

په زوړ مسلک د یو اعتراض جواب

فإن لم تجدوا ماء چه اوبه نه وی تیمم دے او نبیذالتمر کښې اضافت د مطلق خلاف نه جوړیږی داسے خو هیڅ قسم اوبه د اضافت نه خالی نه وی لکه ماء النهر ، ماء السماء او ماء الورد شو، د عربو اکثر اوبه په مالګینے وے او لږے تروے وے د ذائقے او دَ خوند پیدا کولو دپاره به ئے لګے کهجورے اچولے لکه خمونږ د علاقے خلق سخته ګرمئ کښې د اوبو د یخه ولو دپاره واوږه استعمالوی لکه عرق ګلاب اچولو سره دغه اوبه دی دلته هم دغه نوعیت دے

(دوئم قسم اوبه) بالکل پکښې خوږوالے راشی ، ددے قسم استعمال بلا اختلاف دَ ټولو په نزد جائز دے

(دریم قسم) چه نشه راولی ،

(څلورم) په اور پخے شی یا داسے خوږے وی چه په اندامونو نه بهیږی دا آخری دواړه قسمه استعمالول دَ ټولو په نزد بالاتفاق ناجائز دی چه کله خلقو ډیرے کهجورو سره خه تینګکے کړے نو د اودس نه ئے خلق منع کړل او چه کار فساد ته رسیدو رجوع ئے اوکړه طحاوی لیکی اختلافی صورت هغه نبیذالتمر دی چه اوبو کښې رقت او میلان وی ، خوږوالے وی لیکن نشه پکښې نه وی او نه پخے شوے وی

د امام ابو حنیفهؒ د مختلفو جوابونو او مسلکونو وجه

تبیین الحقائق صـ۱۱ یاند لیکی وفی خزانة الأکمل (لأبی یعقوب یوسف بن علی بن محمد الجرجانی الحنفی) انما اختلفت اجوبته لأختلاف اسئلتهم" اول ځل دا تپوس اوشو چه اوبه پرِ غالبے دی اوئے فرمائیل تیمم به کوی اودس به نه کوی ، دریم ځل دا پوښتنه اوشوه پته نه لګی چه کوم یو به غالب وی اوئے فرمائیل اودس او تیمم به دواړه جمع کوی

د پیریانو د تبلیغ متعدد واقعات

(۱) بنی الثقلین اول دَ مکے دور کښې دَ پیریانو سره یوه معامله راغله په دے کښې عبدالله بن مسعود رضی الله نه وو ، مسلم باب الجهر بالقراءة فی الصبح والقراءة علی الجن صـ۱۸٤ ، نمبر ٤٥٥ او په دے کښې دَ نبیذ تمر تذکره نشته ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) مکه مکرمه مقام نخله کښې چه دَ هغې ذکر بخاری باب الجهر بقراءة صلوة الصبح کښې په نمبر ۷۷۳ نه لیکن دلته هم د نبیذ د مسئلې ذکر نشته ،

(۳) مسند احمد نمبر ٤٣٦٨ دے کښې د نبیذ مسئله شته

(۱) د مدینې بقیع الغرقد کښې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وو لیکن د نبیذ تذکره نشته (کتاب دلائل النبوة او نصب الرایة فصل الآثار

(۵) نبی صلی الله علیه وسلم سره ابن العوام وو او مدینه کښې یو ارت بیرت خائے وو لیکن د نبیذ تذکره نشته ، نصب الرایه فصل فی الاثار

قاضی شمس الدینؒ دَ ابن کثیر دَ سورة الأحقاف حواله : ورکړے ده چه ابن کثیر لیکلی دی چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د نبی علیه السلام سره په هغې وخت کښې نه وو چه کله ئې پیریانو سره خطاب کولو" او هغوی ته ئې دعوت کولو دوی تر لرے وو او دَ دوی نه علاوه نبی صلی الله علیه وسلم سره څوک بې د دوی نه نه وو وتلے دا دَبیهقی طریقه ده ، او دا احتمال هم شته چه اول خل ورسره نه ابن مسعود وو نه بل څوک لکه د ظاهر نه معلومیږی د مسلم د روایت نه معلومیږی بیا په بله شپه ورسره وتلے وو (من فوائد الفاضل السهالوی)

د دارقطنی تحقیق

د ابن مسعود رضی الله عنه نه د لیلة الجن تپوس اوکړے شو اوئې فرمائیل چه په مونږ کښې هیڅ څوک ورسره نه وو لیکن دا روایت د مصنف ابن ابی شیبه د روایت سره معارض ښکاری چه دوی ورسره وو او دغسې روایت ابو حفص بن شاهین هم کړے دے دلته اوس دوه طریقې دی یو د تطبیق هغه دا ده ما شهدها منّا احد غیری" څما نه سیوا بل څوک نه وو ابو نعیم الاصفهانی په کتاب دلائل النبوة کښې د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه حدیث په صحیح سند نقل کړے دے لیس معه احد منّا غیری داسې ابن الهمام لیکلی دی او یواځې د ابن مسعود رضی الله عنه د تخصیص ذکر امام ابو محمدبطلیوسی په کتاب التنبیه علی الأسباب الموجبة للخلاف کښې کړے دے آکام المرجان کښې بدرالدین لیکلی دی چه دوی یو خاص مقام کښې وو باهر ئې تر دائره تاؤ کړے وه او الکاشف عن حقائق السنن کښې طیبی لیکلی دی "فخطّ لی خطًّا وادخلنی فیه وقال لا تخرج من هذا فبتُّ فیه حتی اتانی مع السحر" دائره دوی څما نه راښکله څه ئې پکښې دننه کړم چه ددے نه مه راؤځه ما پکښې شپه تیره کړه او ما له بیا نبی علیه

السلام د صبا وخت کښې تشریف راؤړو اشعة اللمعات کښې دی چه د جناتو د مکالمے وخت کښې ورسره نه ووم چه باهر راؤتلو ورسره ملګرے شوم،

د علامه طیبی رحمة الله علیه په نزد قابل اعتماد صورت

دا احتمال شته چه کله د هغه ځائے نه راوتلو نو ورسره نه وو د دعوت نه چه فارغ شو بیا ورسره یو ځائے شو "ثم کان الأمر علی ما ذکر فی احادیثه فی لیلة الجن وهذا الوجه اوثق"

دوئمه طریقه

د تطبیق نه بعد دوئمه طریقه د ترجیح ده ، دلته دوه قسمه روایات دی ، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ورسره وو ، او دوئم قسم کښې دي چه ورسره نه وو په مثبت او نافی کښې داسے غونډِ مقام کښې ترجیح مثبت له ورکولے کیږی

دَ غرض ټکے : په دغه فیصله ده چه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د جمهورو قول ته رجوع کړے ده نهایه شرح الهدایه ۱ـــ۲۸٦ بانډ دی انه یتیم ولا یتوضأ قال قاضی خان وهو الصحیح وهو قوله الأخیر

(۸):وصح عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لَمْ أَكُنْ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او صحیح ثابته ده دَ علقمه نه او هغه دَ عبدالله بن مسعود نه نقل کوي فرمائي چه نه ووم زه په لیلة الجن کښې دَ نبي علیه السلام سره ،

تشریح : د علقمه پیژنګلو

اشعة اللمعات کښې دی چه دا مشهور تابعی دے فقیه کبیر الشان دے او خلق وائی بعض صحابو تر علم ایزده کولو ډیر مشابهت ئے د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه سره وو او د روش په لار کښې ۱۵۲ه کښې وفات دے،

(فائده) مقدمه دَ فتح الباری کښې دی چه عکرمه د ابن عباس غلام وو ډیرو اکابرینو ورته کاذب او خارجی وغیره وئیلے دے لکه عبدالله بن عمر او سعید ابن مسیب ، علی (رضوان الله علیهم اجمعین) ، ابن سیرین ، یحی ، ابن سعید انصاری ، امام مالک ، امام شافعی او قاسم بن معین رحمهم الله نه د داسے

Maktaba Tul Ishaat.com

نسم امورِ قادحه هغوی ته نسبت مروی دے چه عجیبه دی په دے وجه امام مسلم رحمة الله د دوی روایتونه صحیح کښې نه دی داخل کړے او امام احمد ، اسحاق ابن راهویه ، ابوثور ، یحی بن معین او ابوحاتم رحمهم الله د دوی توثیق کوی او په دے وجه امام بخاری د دوی ډیر روایات په خپل صحیح کښې داخل کړی دی داسے خو نشی کیدلے چه امام بخاری خپل ذاتی تحقیق او په خپلو سترګو لیدلو حالاتو سره دَ هغوی توثیق کوی ځکه هغوی تابعی دے او دوی د نهمے طبقے دی ددے نه معلومه شوه چه امام بخاری وغیره د خپلو استاذانو په تقلید د هغوی توثیق کوی حالانکه ابن عمر ورته کذاب ، ابن عباس ورته خبیث او ابن مدینی ورته خارجی وائی او امام مسلم خو ترِ ځکه روایات نه دی اغستلی اودغے تقلید ته څومره رسوخ حاصل دے چه ددے په بنیاد د هغوی احادیث صحیح او واجب العمل جوړیږی دغسے حنفیه په داسے امورو کښې تقلید کوی او فقه د حدیث مطابق او واجب العمل وائی نو حنفیه دَ تقلید باب کښې ولے دَ طعن قابل دی که تقلید مطلقًا حرام شی نو معاذالله بخاری ته صحیح وئیل هم حرام شو ځکه چه دے ته صحیح وئیل هم بناء بر تقلید دی په هیڅ صفت ، حرفت او فن کښې دَ تقلید نه بغیر کار نشی چلیدلے په هر فن کښې محقق او صنعت وفن کښې مهارت ډیرو کمو خلقو کښې وی د ائمه مجتهدینو د عظمت نه انکار نشته لیکن نن صبا برائے نام رسمی علماء چه د وفاق المدارس سلفیه نه هم فارغ نه دی او دوی په کم علم د اجتهاد دعوی کوی ددے مثل دغه بعض نا اهله او کم حیثیته د اجتهاد لافے کونکی داسے ښکاری چه په کټ ختلے نه او په دغه سر" نو څه د أغیږلی په دغه کار کیږی ، دا هغه چا ته نه وایو چه هغوی د اوچت علم خاوندان، محققین اصحاب الترجیح یا مجتهدین یا په څلورو مذاهبو کښې د یو مذهب چه اصولاً او فروعًا مدون دے د هغوی تقلید کوی

د شیخ عبدالحق قول

اشعةاللمعات کښې ددے روایت د لاندِ لیکلے دی "ونزد تحقیق حق ما بأمام ابوحنیفه است وجهالت راویان حدیث مندفع است" او شیخ عبدالحق دلته د دعوت نه باهر کښې ددے روایت ذیل کښې ملګرتیا منی" نو د الحق الصریح دا خبره صریح حق نشی کیدے چه دا هیڅ کله ورسره نه وو حاضر شوے"

بلکه تفسیر احسن الکلام او حکمت القرآن دواړو کښې دَ سورة الجن په ابتداء کښې دي چه دوه ځله ابن مسعود ورسره موجود وو،

(۹):وَعَن كَبْشَة بنت كَعْب بن مَالك وَكَانَتْ تَحْتَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ: أَنَّ أَبَا قَتَادَة دخل فَسَكَبَتْ لَهُ وَضُوءًا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ مِنْهُ فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّهَا لَيست بِنَجس إِنَّهَا من الطوافين عَلَيْكُم والطوافات» . رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه :کبشه روایت کوی دا د ابو قتاده د ځوی ښځه وه چه یو ځل ابو قتاده هغې له راغې پس ما د هغه د اودس اوبه هغوی ته کیخودے نو پیشو راغله چه اوبه ئے تر ځکل شروع کړو نو پیشو ته ئے لوخے کوږ کړو تر دے چه اوبه ئے اوڅکلے سخر اولیدم چه څه ورته گورم نو ماته ئے اوئیل اے وریرے ته په تعجب کښ پریوتلے ما اوئیل هو ما ته ئے اوئیل چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی چه د پیشو جوټه پلیته نه ده ځکه پیشو گانے مذکر او مؤنث په تاسو ډیرے تلونکے راتلونکے دی

تشریح : د کبشه مختصر پیژنګلو

اشعة اللمعات کښ شیخ عبدالحق لیکلے دی چه دا کبشه انصاریه رضی الله عنها د سیدنا کعب بن مالک رضی الله عنه انصاری صحابی لور وه چه هغه مشهور صحابی وو او د غزوه تبوک نه د دوی روستو پاتے کیدلو واقعه مشهوره ده او د کعب دا لور د ابوقتاده د ځوی ښځه وه ابو قتاده رضی الله عنه هم مشهور صحابی دے دته دَ نبی صلی الله علیه وسلم شهسوار وئیلے کیږی او ابن حبان لیکلے دی چه کبشه صحابیه ده دغسے تقریب کښ دی انتهی۔

او مرقات کښ دی چه ابن ابی قتاده حارث بن ربعی الأنصاری دے فارس رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ ځوی نوم ئے عبدالله دے او ابن القیم زاد المعاد کښ لیکلے دی که د یو سړی نه عادل امام روایت نقل کړے دے توثیق له به دده اعتبار وی ، کبشه د حمیده ماسی کیږی دده نه صحیحین کښ روایت نشته لیکن سنن اربعه ، صحیح ابن خزیمه او صحیح ابن حبان کښ شته ترمذی ورته حسن صحیح وئیلے دی بخاری او دارقطنی ئے تصحیح کوی لیکن ابن منده ئے روایت معلل ګنړی چه حمیده او کبشه دواړه مجهول دی لیکن کبشه چه کله صحابیه وی جهالت ئے نقصانی نه دے

Maktaba Tul Ishaat.com

او قاضي شوکاني دَ ابن منده دے ته معلل روايت وئيلو د حافظ ابن حجر نه نقل کړے دے چه د حميده
بل روايت تشميت العاطش کښې شته او د کبشه باره کښې وئيلے کيږي چه صحابيه ده
فسكبت له وضوءًا: معلومه شوه که انګور د سخر خدمت کوي اګر چه ضروري نه ده ليکن غوره
دي؛

د اختلاف نوعيت

درېواړه امامان ، امام اوزاعي ، ثوري ، اسحاق او صاحبين وائي چه د پيشو جوټه استعمالول لابأس به دي او دغسے د ابوقتاده ،عائشه ، ابن عباس او ابووائل رضوان الله عليهم اجمعين او د ابراهيم ، محمد الباقر او يو جماعت نه نقل شوي دي او التمهيد ١ـــ٢٥١ باندِ ابن عبدالبر وائي چه عباس ، عطاء حسن حسين علقمه رحمهم الله هم داسے وائي او امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د کراهت قول کړے دے او دغسے امام محمد رحمة الله عليه وائي لکه د مؤطا محمد کلام پرِ دلالت کوي او ابن ابي ليلى ، يحيٰ الأنصاري ، ابن المسيب ، قتاده ، حسين ، ابن سيرين او طاؤس رحمهم الله هم وائي او مصنّف عبدالرزاق کښې د باب سورالدواب آخر کښې د ابن عمر قول دَ کراهت په سورالحمار ، سپي او پيشو باره کښې نقل دے چه دَ دے په جهوټه او پاتے اوبو استعمال کښې کراهت دے ليکن تعليق دَ مصنف ابن ابي شيبه کښې دي چه مغوي فرمائي انّما هي من اهل البيت

د امام محمد دَمسلک تعيين کښې اختلاف

امام طحاوي ، امام محمد دَ امام ابويوسف سره نقل کړے دے دا دَ هدائے دَ قول خلاف جوړيږي کيدے شي ځنګه چه معارف ترمذي کښې دي چه دَ امام محمد نه دوه قوله دي يو د ابو يوسف او دويم د ابو حنيفة سره رحمهما الله يا که ترجيح ورکوے نو د امام طحاوي قول به معتبر وي ځکه چه طحاوي اعلم الناس بالمذاهب دے

د امام طحاوي تحقيق

امام طحاوي شرح معاني الأثار کښې امام محمد د امام ابويوسف سره ملګرے کړے دے او مشکل الأثار کښې د امام صاحب سره ئے ذکر کړے دے او دا ځکه صحيح ده چه مشکل الأثار د دوي ورستنے تاليف دے ددے نقل زيات صحيح دے

علامه خلیل احمد څه فرمائی؟

بذل المجهود کښې لیکلے دی چه بعض روایات مثلاً د کبشه دلالت په طهارت دے او د بعض په نجاست لکه چه د بعض تابعین د عطاء او طاؤس مسلک دے لیکن دَ طهارت روایات اقویٰ وو د هغې روایات نه چه په نجاست دلالت کوی نو دَ نجاست دَ قول نه مونږ دَ کراهت قول ته راکوز شو نه مونږه د مطلق کراهت قائل یو او نه دَ مطلق نجاست ، بلکه مینځ تر مینځه دَ طهارت مع الکراهت قول مو کړے دے احوط طریقه چه دَ دواړو طرفو پکښې رعایت وی دَ کراهت قول دے

کراهت کوم قسم دے

علامه ابن همام فتح القدیر کښې لیکلے دی سره ددے چه نجاست ساقط دے خو پشو په نجاساتو کښې شوندې ورمنډی په دے وجه دَ مکروهِ تنزیهی قائل یو او کراهتِ تنزیهی ته اصح وایو لکه ماشوم چه اوبو کښې ګوته ورخکته کړی چونکه بچے احتیاط نشی کولے نو استعمال ئے مناسب نه دے" امام طحاوی رحمة الله علیه ورته مکروه وائی لیکن که څوک پرِ اودس اوکړی جائز ئے ګنړی

د الجوهرالنقی مصنف څه وائی

هغوی لیکی چه د حدیث سند کښې اضطراب دے او پکښې دوه مجهوله ښځے دی او ابن منده وائی چه دا حدیث ثابت نه دے دغسے بزار وائی درمختار کښې دی چه دَ ضرورت په مقام کښې طاهر دی لیکن مکروهِ تنزیهی دی

د علامه زیلعی تحقیق

امام کرخی رحمة الله علیه فرمائی چه د کراهت وجه دا ده چه د نجاست نه ځان نه بچ کوی دا دلالت کوی چه کراهت تنزیهی اصح قول دے او دَ حدیث موافقت سره نزدے دے نبی علیه السلام فرمائیلی دی "انّها لیست بنجسة انها من الطوافین علیکم والطوافات" نو مونږ ئے د خادمانو غوندې ګنړو چه تلو راتلو کښې د اجازت غوختل ګران دی نو دَ طواف دَ علت دَ وجے استئذان ساقط دے دغسے پیشو کښې هم دغه علت موجود دے نو په دواړو کښې حرج مدفوع دے بلکه پیشو هر هغه ځائے ته نشی تلے چه منږک ورته تلے شي او په تعلیق دَ مسنداعظم تنسیق النظام کښې علامه محمد حسن سنبلی لیکلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

"عند ابی حنیفة سورها مکروہ تنزیها" او دا خبره په دے بناء ده چه حدیث دلالت کوی چه دا جواز ضرورةً دے او په حرج کښں د واقعه کیدو د وجے دے نو بناء ئے په مسامحت ده

العرف الشذی کښں دی "اقول قد صرّح محمد فی المؤطا و کتاب الآثار والمبسوط بالکراهة تنزیهًا وهو المشهور فی الکتب" او شیخ الهند تقریر ترمذی کښں لیکلے دی والحق فی اختلافهم ان سورها مکروہ تنزیها

(فائده) ددے حدیث نه هغه قاعده معلومیږی چه الاشباه والنظائر وغیره کښں شته "المشقة تجلب تیسیرًا، یا الحرج مدفوع"

مظاهرحق کښں دی چه پیشو آرام کښں مدد کوی ځکه چه منږکان مړه کوی

دوه موضوع روایتونه

مرقات کښں دی خلقو کښں مشهوره ده چه په کوم لمن پیشو آرام کړے وو هغه لمن ئے کټ کړے وه، لا اصل له او دوئم حدیث "حبّ الهرة من الأیمان" ملا علی قاری لیکلے دی چه موضوع روایت دے قاله جماعة کالصنعانی

د شاه انور دا یوه اهمه قاعده

معارف السنن کښں دی چه شیخ رحمة الله علیه فرمائی چه په دے مرفوع حدیث استدلال تام نه کرځی چه کله کله دَ بیان جواز دَپاره د نبی صلی الله علیه وسلم نه په کراهت تنزیهی عمل ثابت دے

مسئله: تبیین الحقائق کښں دی چه پیشو څنګه منږک اوخری فورًا اوبه اوڅکی جوته ئے داسے پلیته ده لکه شراب څکونکے چه فوری اوبه اوسکی" او که لږ حصاره شوه بیا لږ روستو اوبه اوسکی د امام ابوحنیفه په نزد نه پلیتیږی دغه اوبه ددے په لعاب او دَ امام محمد په نزد پلیتیږی ځکه چه د امام محمد په نزد صرف په الماء المطلق به نجاست لرکولے شی

فشرب منه: ترکیب کښں حال یا صفت دے مرقات، یعنی اراده ئے د څکلو اوکړه

انها من الطوافین :علامه طیبی رحمة الله علیه لیکلے دی دغسے قاموس کښں دی کما فی المراق دا هغه خادم ته وائی چه په نرمئ او په خوشحالئ خدمت کوی او کیدے شی چه دا خبره ئے دَ بیان په طریقه کړے وی،

انّها لیست بنجسة: یعنی په کورونو کښې پیشوګان په تاسو ګرځي راګرځي ستاسو لاسونو او بدنونو سره به لګی که پلیت وی بیا به ددے نه د ځان بچ کولو حکم وو او د کورونو د خالی کیدو به نے ددے نه حکم ورکړے وو چه په دے کښې به ګرانه راپیخیدله

(فـائـده۱) الاستذکار ۱ــ۲۵۳ بانډِ دی د حدیث نه معلومه شوه چه دَ پیشو ساتل مباح دی

(فـائـده۲) حدیث کښې دی فی کل ذی کبد رطبة اجر" که چا د پیشو تنده ماته کړه د اجر سبب دے

(سـوال) مظاهرحق کښې دی چه ابو قتاده کښینه ته وریره ولے وائی؟

(جـواب) د عربو رواج دے چه که سړے مخاطب کوے او عمر کښې وړوکے وی وراره ورته وائی او که جینئ وړه وی نو وریره ورته وائی لکه د بخاری په اول کښې محترمه خدیجه رضی الله عنها ورقه ته وائی "اسمع من ابن اخیک" دا د اسلامی اخوت رشته ده مظاهرحق کښې دی چه مکروه وئیلو کښې څه حرج نشته او امام صاحب وائی چه د سواکن البیوت په حکم کښې دي لکه منږک جهوټه ئے مکروه ده په کراهت تنزیهی سره

د احنافو دلائل

(۱) طهور الأناء اذا ولغ فیه الهرّان یغسل مرّة او یرش " قرةً شک کوی او قره ئے مرفوع نقل کوی او قرة ثقة ثبت لیکن ددہ نه علاوه نورو دلته خلاف کړے دے او امام طحاوی د ولوع الهرة نه یو ځل یا دوه ځله لوخے وینځلو ته حدیث مرفوع ، قوی او متصل سند وئیلے دے او معارف السنن کښې بأسناد قوی عن عطاء عن ابی هریرة روایت دے "فی الأناء یلغ فیه الکلب او الهرة قال یغسل ثلاث مرار" او معارف السنن کښې دی چه سند ئے قوی دے

(۲) الهرة سبع مستدرک حاکم او مسند احمد لیکن سند کښې عیسٰی بن المسیب ضعیف دے لیکن عیسٰی د ابوزرعه نه تفرد کړے دے لیکن دے صدوق دے جرح پرِ نشته او حافظ په ترجمه دَ عیسٰی کښې ۸۳۹ نمبر بانډِ لیکلے دی چه د حافظے په اعتبار سره کمزورے دے او د وکیع په طریقه عقیلی ۱۴۳۶ نمبر بانډِ ذکر کړے دے او ابن ابی حاتم وائی چه ددے موقوف کیدل اصح دی او په سنن البیهقی باب سورالهرة روایت ۱۱۷۶ کښې السنّور سبع الفاظ راغلے دی داسے دارقطنی کښې ۲۱۷ نمبر بانډِ باب سورالهرة کښې دغه الفاظ دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) محمد بن سیرین د سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت نقل کوی چه نبی علیه السلام د پیشو جهوټه کری لوښی باره کښ درے ځله وینځلو حکم کړے دے او محمد بن سیرین د ابوهریره رضی الله عنه نه دا روایت کله موقوف او کله مرفوع نقل کوی او په دے د یحیٰ بن عیسیٰ خبره دلالت کوی فرمائی چه محمد بن سیرین دَ ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کوی نو د هغوی نه تپوس اوشو چه دا تاسو د نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت کویٔ اوئے فرمائیل د هغوی خبره د نبی صلی الله علیه وسلم نه روایت شوے وی نو د حدیث اتصال ثابت شو او د ابوهریرة نه دا روایت موقوف هم نقل دے۔

صاحب د بدائع الصنائع دَ حدیث الباب باره کښ څه وائی

صـ٦٥ بانډِ لیکی چه د کوم حدیث روایت کیدے شی احتمال لری چه د هغه وخت خبره وی چه کله د دړندګانو د جهوټے د تحریم حکم نه وؤ بیا روستو د نسخ حکم راغلے دے دغسے امام طحاوی وائی او یا نبی صلی الله علیه وسلم ته وحی شوے وه چه د دغے پیشو په خُله نجاست نشته دا کرخی وائی او دا هم احتمال دے چه دا کار ئے بیان جواز له کړے وی

لیکن مسند د امام اعظم صـ٢٣ بانډِ روایت دے د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په سند چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه یو ورځ نبی صلی الله علیه وسلم اودس اوکړو پیشو راغله د لوښی نه ئے اوبه اوڅکلے نو نبی علیه السلام ترِ اودس اوکړو او پاتے اوبه ئے ترمتیا کړے" دا د بیان جواز توجیه له غوره والے ورکوی او نبی صلی الله علیه وسلم کله د بیان جواز دپاره مکروه تنزیهی کوی هغوی له بکښ هیڅ قسم کراهت نه وی دغسے توجیه امام کرخی رحمة الله علیه وسلم ذکر کوی او طحاوی ورته مکروه تحریمی وائی۔

د امام طحاوی نظر

عقلي دلیل دا ذکر کوی چه غوښه څلور قسمه ده (۱) اول قسم چه غوښه ئے خوړلے شی لکه د بیزے غوښه ددے غوښه او جهوټه دواړه ئے پاکے دی (۲) نه شی خوړلے کیدے لکه د انسان غوښه جهوټه ئے پاکه ده (۳) جهوټه ئے حرام ده لکه خنزیر او د سپی د غوښے غونډِ دَ جهوټے استعمال ئے حرام او ممنوع دے (٤) چه کوم ځناور شلول کویٖ او خوراک کوی لکه پیشو وغیره چه غوښه ئے حرامه ده نو جهوټه ئے هم حرامه ده دا خاص د امام طحاوی نظر دے د جمهورو نه دے"ځکه چه د ضرورت د وجے تخفیف

پکښې دے چه طحاوی ئے مکروه او کرخی بلکه جمهور احناف پکښې د کراهت تنزیهی قول غوره کوی هسے خو امام مالک د سپی د جهوټې متعلق هم یو قول داسے ذکر کوی چه جهوټه ئے دَ هغوی په نزد پاکه ده او وائی چه دَ وینځلو حکم کراهت له مستلزم نه دے بلکه هغه تعبدا وی یا د نظافت د وجې نه وی لکه الحق الصریح کښې دغسے د پیشو د جهوټې باره کښې ذکر دی ځکه چه د ابوداؤد د روایت موقوفا او مرفوعا صحیح ګڼړی چه په هغے کښې یو ځل د وینځلو حکم راغلے دے"

او التعلیق الصبیح کښې دی چه طهورالاناء اذا ولغ فیه الهران یغتسل مرة او مرتین دارقطنی ورته صحیح وائی او د ظاهر روایت په نجاست دلالت کوی

(انّها من الطوافین علیکم او الطوافات) دا علت د حکم دپاره دے او اکثر احکام جمهور معلول بعلة ګڼړی لکه په هغے کښې یو دا مقام دے،

(۱۰):وَعَنْ دَاوُد بن صَالح بن دِينَار التمار عَنْ أُمِّهِ أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ قَالَتْ: فَوَجَدْتُهَا تُصَلِّي فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيهَا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنْهَا فَلَمَّا انْصَرَفَتْ عَائِشَةُ مِنْ صَلَاتِهَا أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ فَقَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّهَا لَيست بِنَجس إِنَّمَا هِيَ من الطوافين عَلَيْكُم». وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتَوَضَّأُ بفضلها. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه: داؤد بن صالح د خپلے مور نه روایت نقل کوی چه د هغے آزادونکے مالکے هغے له د عائشے رضی الله عنها طرف ته په یو قسم حلوا (دلیا) سره اولیګله وائی ما هغه داسے حال کښې اوموندله چه نمونځ ئے کولو ماته ئے اشاره اوکړه دا چه کیږدئے ده نو په دیګښې پیشو راغله او د هغے نه ئے خوراک شروع کړو کله چه دے د نمانځه سلام جارباسلو د هغے ځائے نه ئے خوراک شروع کړو چه کوم ځائے پیشو خوراک کړے وو او اوئے فرمائیل نبی صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی چه دا ځکه پلیت نه دی چه په تاسو ډیر ګرځیدونکی راګرځیدونکی دی او ما نبی علیه السلام اولیدو چه د پیشو په پاتے اوبو ئے اودس اوکړو،

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح: داؤد بن ابی صالح ابن دینار التمار مولیٰ دے ، د انصارو مولیٰ دے علماء لیکی صدوق من الخامسة

د روایت مقام

ابن حجر ورته حسن وائی لیکن مرقات کښې دی وفیه نظر لأنه قال الدارقطني تفرد به عبد العزیز بن محمد الدلاوردي عن داود بن صالح عن أمه عن عائشة بهذا اللفظ بذل المجهود کښې دی چه ام داؤد مجهوله وه یا بیان جواز باندې به حمل وی بعض علماء وائی چه داؤد بن صالح او دَ دوی مور دواړه مجهول دی

هریسة : د غنم دانے او قیمه چه گډه وړه پخه کړے هغے ته وائی

(فأشارت) صرف په اشاره مانځه کښې فساد نه راځی څو پورے چه خبره او نه کړی یا تر مانځه کښې عمل کثیر صدور ته راشی

(فائـده) د انس رضی الله عنه روایت دے چه "انّ الهرّ من متاع البیت لن یقذر شیئا ولن ینجسه" امام طبرانی فرمائی چه دا دَ عمر بن حفص تفرد دے

انّها من الطوافین: د پیشو تشبیه د کور دَ خادمانو سره ورکړے شوے ده چه خدمت له څی راځی علامه آلوسی رحمة الله علیه روح المعانی کښې د سورة نور د آیت په تشریح کښې لیکلے دی چه د حکم شرعی دپاره تعلیل صحیح وی لکه په "طوافون علیکم الخ" کښې چه علت ذکر شوے دے

(فائـده) شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لمعات کښې لیکلے دی چه دَ هریسه باره کښې د فضیلت حدیث موضوعی دے

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه خپله خبره

امام محمد رحمة الله علیه کتاب الأثار کښې لیکلے دی ، التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوی رحمة الله علیه نقل کړے دی غیره احب الی منه ، ان توضأ منه اجزاه وان شربه فلا بأس به ، ددے نه علاوه نورے اوبه ځما خه خوښے دی لیکن په دے کښې چا اودس اوکړو جائز دے او که څکی ئے باک نه کوی

(۱۱):وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ؟ قَالَ: «نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّة

ترجمہ: د سیدنا جابر رضی اللہ عنہ نہ روایت دے چہ د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم نہ تپوس اوکرے شو آیا مونږہ پہ هغے اوبو اودس کولے شو چہ خرو جوټہ کړے وی اوئے فرمائیل هو او چہ ټولو درندگانو جوټہ کړے وی پہ هغے اودس کول هم جائز دی

د جهوټو اقسام

حاشیہ مراقی الفلاح شرح نورالأیضاح کښې مختلف قسمونہ ذکر کړے دی

(۱) طاهر ومطهر بالأتفاق دی هیڅ قسم کراهت پکښې د استعمال پہ اعتبار سرہ نشتہ کلہ یو بنیادم چہ څکاک اوکړی او پہ خلہ ئے هیڅ قسم نجات نہ وی څکہ چہ عائشے رضی اللہ عنها چہ د حیض حالت کښې کلہ د لوخی نہ څہ اوسکل نو نبی علیہ السلام د هغے نہ پاتے اوبہ اوڅکلے او "فیضع فاه علٰی موضع فیّ" څما د خُلے لګولو پہ ځائے بہ ئے خپلہ خُلہ مبارکہ کیخودلہ" پہ دے حکم کښې د وړوکی ، غټ ، مسلم ، کافر او د حائض یا جنب څہ فرق نشتہ" لیکن کہ پہ خُلہ ئے پلیتی وی نو بیا بہ نجس وی ، د اس جهوټہ بالکل پاکہ دہ او ددے نہ علاوہ دَ هغہ څاروي دَ جهوټے حکم دَ پاکوالي دے، د هغہ څاروی هم دا حکم دَ پاکوالی دے چہ غوښہ ئے خوړلے شی لیکن کہ څاروے نجاست خوری بیا پکښې کراهت دے

(۲) حکم ئے د نجاست وی ، غلیظہ یا خفیفہ او څکل یا تطهیر د هغے صحیح نہ ګرځی لیکن کہ یو کس لاچارہ او سخت مجبورہ شی هغہ خیر دے لیکن کہ د خنزیر وی او د سپی وی دا بہ پلیت وی یا سباع البهائم ترِ څکاک اوکړی دا پلیت ګرځی او کوم درندہ حیوان چہ حملہ کونکے وی لکہ پړانګ او یا شادو وی چونکہ ددی لاړے د غوخے نہ پیدا کیږی او غوخہ پلیتہ وی نو جهوټہ ئے پلیتہ دہ

(۳) مکروہ پہ کراهت تنزیهی سرہ بہ هغہ وی چہ نورے اوبہ موجود وی ، لیکن کہ نورے اوبہ نہ وی نو بیا کراهت نشتہ لکہ پیشو یا د چرګے جوټہ ، لیکن د کوڅہ ګشتے چرګے جوټہ مکروہ دہ

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) سور سباع الطیر لکه تپس او شاهین یا کارغه شو دے کښې کراهت دے ځکه چه دے مردار دے او نجاست سره ئے خلط راځی یا په کورونو کښې پاتے کیدونکی هغه ځیزونه چه پکښې بهیدونکے وینه نه وی لکه کربوړے او مار شو دے کښې کراهت دے

(۵) حکم ئے د مشکوک دے ، اگر چه ابو طاهر دبوسی لیکلے دی چه احکاماتو کښې مشکوک نه وی لیکن د مشکوک مطلب توقف کول دی ددے د طهوریت په حکم کښې چه جزماً به په دے طهارت حکم نه لګوے او طهوریت به ترِ هم نه نفی کوی لکه خر او قچر شو ، او د شک وجه دا ذکر کوی چه ددے په باره کښې متعارض خبرونه راغلے دی او که نورے اوبه نه وی نو اودس او تیمم به دواړه کوی ، غوره به دا وی چه اول اودس اوکړی او احمد بن محمّد بن اسماعیل الطحاوی الحنفی رحمة الله علیه د شیخ الأسلام د خواهر زاده رحمة الله علیه نه نقل کوی "الأصح انّ دلیل الأشکال هو التردد فی الضرورة والبلویٰ" وجه دا ده چه کورونو کښې خر ترلے شی او د استعمال شده لوخو نه هغه اوبه څکی او خلق پرِ خوریګی نو د پشو سره ئے مشابهت دے لیکن پیشو کښې ډیر ضرورت دے او دلته کم دے او څوک وائی چه ددے د جهوټے د طهوریت شک د احتیاط د وجے وی او ډیر حرج پکښې نشته ځکه چه په قدر د امکان په دواړو دلیلونو چه عمل راشی دا د اهمال نه د مرجَع دَ نیشتوالی په وخت کښې خه وی او دَ خولوَیا لاړو دَ غاړے شک ددے ذات سره تعلق ساتی چه دَ طهارت سره ددے تعلق وی او د جهوټے په حیثیت ئے صرف د طهوریت سره تعلق دے او طهارت کښې شک نشته انتهیٰ د امام شافعی رحمة الله علیه قول په بدائع صنائع کښې دے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم به په خر سورلی کوله او د حجاز مقدس ګرمی مشهوره ده د خر خوله به د هغوی جامو مبارکو سره لګیدله او په هغے کښې به ئے نمونځ کولو او لیکی چه "توقف فی الحکم د ادله د تعارض په وخت کښې واجب وی ځکه ورته مشکوک وایو" او د احتیاط د وجے اودس او تیمم دواړه جمع کوو الحق الصریح کښې مشکوک والے خبرے ته خطا وئیل خطا دی ځکه دَ مشکوک مطلب فقهاء توقف اخلی او دلیل دا دے چه بخاری کښې د عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت دے ۷ــــ۸۴۹ باب لحوم الحمر الأنسیه چه ابوثعلبه فرمائی حرم رسول الله لحوم الحمر الأهلیة لحوم الحمر الأنسیة کښې دَ حرمت قول دے او ابوداؤد کښې باب فی اکل لحوم الحمر الأهلیة دَ لانډِ روایت دے چه غالب رضی الله عنه ته ئے فرمائیلے وو اطعم اهلک من سمین حمرک لیکن حقه دا ده چه د خر غوښه یقینی حرامه ده او د اباحت و تحریم د دواړو نصوصو وخت کښې ترجیح حرمت له

وی او چه لحم حرام نو لعاب هم نجس وی او خوک وائی چه د صحابه اختلاف د شک بنیاد جوړول صحیح نه دی کله چه عادل سړے د اوبو د پاکوالی او بل ئے د نجاست خبره اوکړه نو اوبه مشکوک نه وی بلکه ناپاکے وی غوره دا ده چه ددے مدار د ضرورت په تحقیق دے د ضرورت وخت کښ تخفیف او پاکوالے دے ورنه د نجاست حکم به ورله ورکولے شی او ضرورت من وجه شته او من وجه نشته د اوبو اصل دَ پاکئ دی او دَ خر دَ لعاب اصل دَ نجاست دے حکم لګولو کښ د پاکوالی او نه پاکوالی په اعتبار سره مشکل هغے ته راځی دا مطلب نه دے چه د ابو حنیفه رحمة الله علیه شک وو نو الی یوم القیامة ددے باره کښ شک شو

مسئله کښ د اختلاف نوعیت

اشعة اللمعات کښ شیخ عبدالحق لیکلے دی نزد ما سوا سباع نیز نجس است ځکه چه غوخه ئے پلیته ده او د امام احمد رحمة الله علیه دوه قوله دی دغسے اوجز المسالک کښ هم دی لیکن الحق الصریح صــ۵۱۱ باندِ دی قول ثانی د احنافو دے وهو قول احمد ایضا بیا خو دوه امامان په یو خوا دی او دوه بلے غاړے ته دی معامله ډرا او برابر ده نو بیا صــ۵٤۳ ددے لیکلو څه مطلب دے چه د جمهورو مذهب کښ دَ سباع البهائم جوټه پاکه ده دا جمهور څنګه شو او د احنافو مسلک کښ پلیته ده د مالکیه او دَ شوافع په نزد پاک حسابیږی دا حدیث د امام مالک او د امام شافعی رحمة الله علیهما دلیل دے امام شافعی رحمة الله علیه او الحق الصریح د سپی او د خنزیر استثناء کوی بدائع الصنائع کښ د امام شافعی رحمة الله علیه مسلک کښ دغسے دی

مصنف ابن ابی شیبه

مصنف ابن ابي شیبه حواله الحق الصریح کښ شته چه دے کښ اوګوره د کتو نه پس معلومه شوه چه هغوی دوه عنوانه لګولے دی اول عنوان د من قال لا بأس بسور الحمار ددے په ذیل کښ د عطاء ، جابر بن زید او دَ زهری اقوال په لا بأس سره ذکر کړی دی او دا ډیر تورزن الفاظو باندِ دلالت نه کوی ، او خپله د جابر په روایت الحق الصریح کښ کلام کړے دے لیکی "د حدیث په یو سند کښ ابراهیم بن محمد متروک او په دوئم کښ ابراهیم بن اسماعیل ضعیف دے او دارقطنی د دواړو سندونو په وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

ضعيف کړے دے ، او د بیهقی په سند کښ داؤد بن الحصین ئے ضعیف کړے دے وائی معنی صحیح ده دَ شواهدو او د صحابو د آثارو دَ وجے لیکن

(دوئم عنوان)

دَ مصنف ابن ابی شیبه نمبر ۱۳۰۶ــــ۳۳۹ بانډ دَ من کرهه دے او دَ ابن عمر د حسن او دَ ابن سیرین اقوالو صفا د کراهت حکم لګولے شوے دے او لیکلے دی چه ابراهیم به په سورالحمار اودس نه کولو" او که په دے اودس شوے وی وسعت کښ حکم رحمه الله فتوی د عدم اعادے او حماد د اعادے دَ نسوئخ فتوی ورکړے ده

عذر دَ شیخ عبدالحق رحمة الله علیه

حدیث د جابر رضی الله عنه نه عذر پیش کوی دور احادیثے کہ در طہارت آں آمدہ در صحت آں سخن است '

یعني دَ پاکئ دَ آحادیثو په صحت کښ کلام دے ،

عذر د غورغوشتو باباجی علیه الرحمة

والجواب عن حدیث جابر انه ضعیف او دَ نووی قول نقل کوی چه حدیث د محدیثینو په نزد قابل احتجاج نه دے او حافظ ابن حجر ورته په درایه کښ ضعیف وئیلے دے

د لمعات التنقیح حواله

والأحادیث التی تدل علی طهارتها تتکلّم فیها

د حدیث جابر رضی الله عنه نه دویم عذر

(۱) لمعات کښ دی که اومنلے شی چه ددے نه غټ غټ ډنډونه مراد دی څکه چه دغه سپی هم جهوټه کوی ، او امام شافعی رحمة الله علیه ئے پلیت ګنړی

دَ علامه محمد ادریس کاندهلوی رحمة الله علیه جواب

والجواب ان هذا الحدیث محمول علی الماء فی الغدران او شیخ عبدالحق اشعة کښ لیکلے دی چه دا د بیابان غټ ډنډونه دی که عموم اومنلے شی هغے ته سپی هم راتلل چه دَ امام شافعی رحمة الله علیه په نزد ئے هم جهوټه پاکه ده او ابن همام لیکی چه دا په ډیرو اوبو حمل دے

د احنافو الزامی دلیل

غورغوشتو باباجی رحمة الله علیه لیکلی دی من الحجج الألزامیة حدیث القلتین او وائی چه شوافع ورته نجس نه وائی نو بیا دَ قلتین حد فاصل د کمو او زیاتو اوبو په مینځ کښ دَ جوړولو څه ضرورت دے، نو دا الزامی جواب احناف ورکوی چه د قلتین قید فائده شوافع بیا څه له بیانوی دغسے تبیین الحقائق کښ دی فتلزمه بما یعتقد صـ۱۵ طبع مرکز اہل السنت برکاتِ رضا گجرات الہند مرقات صـ۶۴ دوئم جلد کښ دی اذا کان الماء قلتین حجة الزامیة علی الشافعیة دا د احنافو تعارض نه دے لکه الحق الصریح کښ صـ۵۱۲ باندِ دَ تعارض عنوان ورکړے دے په دے مقام کښ د احنافو په قولینو کښ تعارض دے، ددے نه استدلال کوی او سه ئے قوی ګڼړی انتهٰی که تحقیقی دلیل احنافو ذکر کړے وو تعارض وو الزامی دلیل سره مقابل ملزم جوړیږی، مشکوک والا خبرے ته خطا وئیل خطا دی لکه څنګه چه دَ مشکوک وضاحت مخکښ اوکړے شو

د یو حق پرست د بهادرئی واقعه

ابو نعیم په حلیة الأولیاء ۱ـ۳۲۴ باندِ لیکلے دی چه بنان حمّال د څلورمے صدئ بزرګ تیر شوے دے ابن طولون بادشاه سره د دوی اختلاف د یو وعظ دَ وجے راغے، امزریان پرِ خوشے کړل لیکن د هغوی دَ حق پرستئ د وجے دا کرامت ښکاره شو چه هیڅ ئے ورته او نه وے چا ترے روستو تپوس اوکړو دغه وخت کښ ستاسو څه کیفیت وؤ جواب ئے ورکړو چه د درنده د جهوټے سره متعلق د علماؤ اختلاف کښ ما سوچ کولو څکه چه امزرو ورله جامے جوئیلے وے، د الله رحمت دِ وی په داسے بهادرانو، او صفة الصفوه ۱: ۵۳۶ باندے دي "فجعل السبع يشمه ولا يضره فلما أخرج من بين يدي السبع قيل له مالذي كان في قلبك حين شمك السبع قال كنت أتفكر في سؤر السباع ولعابها"

یوه باریکه جزئیه

لمعات کښ د المحیط البرهانی نه، اشعة کښ شیخ عبدالحق او داسے نور علماء یو جزئیه نقل کوی که یو سپے د انسان جامه یا اندام اونیسی که دا ئے د غصے وخت کښ وی نه پلیتیږی څکه چه سپے صرف غاښونه اړموی او په دے کښ رطوبت نه وی او که د مزاح او د لوبو په وخت کښ وی بیا پلیتیږی څکه دے وخت کښ لاړے او رطوبت راؤباسی او هغه پلیتے وی

Maktaba Tul Ishaat.com

ضعیف دی چه مدّ مقابل په پاکوالی دَ سباع البهائم دلیل د داؤد بن صالح د روایت نه نیول قوی نه دے ، ام داؤد پکښ مجهوله ده مرقات کښ دی ضعّفه ابن حبان ولکن روی عنه مالک او د جابر ما نحن فیه مسئله کښ د استدلال په نوعیت کلام اوشو،

(۱۲):وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ: اغْتَسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَمَيْمُونَةُ فِي قَصْعَةٍ فِيهَا أَثَرُ الْعَجِينِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: د ام هانی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم او میمونے رضی الله عنها د غټے کاسے نه چه د اغګلی شوی اوړو آثار پکښ وو غسل اوکړو

تشریح: د امّ هانی مختصر پیژندګلو

مظاهر حق کښ دی چه د ابوطالب لور او د سیّدنا علی رضی الله عنه سکه خور وه نوم ئے فاخته وو مرقات کښ ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلے دی چه جاهلیت کښ هبیره ابن ابی وهب غوختلے وه نو ابوطالب ورله ورکړه او نکاح ئی ورسره اوشو او اسلام ئے قبول کړو نو اسلام ددے او هبیره مینځ کښ جدائی راوستله بیا ورته نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ نکاح پیغام اولیکلو او جواب ئے ورکړو چه څما خویه جاهلیت کښ تا سره مینه وه اسلام کښ هغه مینه نوره زیاته شوه لیکن څه بچو والا ښځه یم نو پیغمبر علیه السلام بیا خاموش پاتے شو ډیر مخلوق ترِ روایت کوی چه خپل وررور علی او ابن عباس رضوان الله علیهما داخل دی او اشعة اللمعات کښ دی چه د پنځو سو کلونو پس هم ژوندئ وه دَ معاویه رضی الله عنه تر دوره. د فتح مکه په ورځ ئے اسلام قول کړے وو انتهٰی مرآة المناجیح کښی دی چه د فاخته یا عاتکه د کورنه دَ نبی معراج شوے وو

دَ میمونه پیژندګلو

میمونه بنت الحارث الهلالیة العامریة د دوی نوم مخکښ برّه وو نبی صلّی الله علیه وسلّم ورله نوم میمونه کیخودو دا په جاهلیت کښ دَ مسعود بن عمرو الثقفی ښځه وه بیا ترِ هغه جدائی اختیار کړه نو د ابو درهم سره ددے نکاح اوشو او چه کله هغه وفات شو نو پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم ورسره عمرة القضاء په موقع اوم کال بانډِ په سرف ځائے کښ چه د مګے نه لس میله لرے دے نکاح اوکړو او تقدیری معامله وه چه کوم ځائے کښ نکاح شوے هلته وفات شوه دا ٦١ هجری وه او سیدنا عباس

رضی اللہ عنہ ددے جنازہ اوکڑہ او د عبّاس رضی اللہ عنہ ڈ ښځے امّ الفضل خور وہ او دا ڈ پیغمبر صلّ اللہ علیہ وسلّم آخری بی بی وہ یو جماعت چہ پکښ ابن عبّاس هم دے ددے نہ روایت کوی

(قصعة) شیخ عبدالحق رحمة اللہ علیہ اشعة اللمعات کښ معنیٰ کوی "کاسہ کلان" غټه کاسه علامہ آلوسی رحمة اللہ علیہ تفسیر کښ د سورة سبا د آیت "وجفان کالجواب" د لاندِ لیکے دی چہ قصعه هغه غټے کاسے تہ وائی چہ د لسو تنو پینډہ پہ هغے مړیږی او ددے پہ نیمہ "صحفه" دہ پہ دے پنځه تنه مړیږی

(العجین) هغه اوړہ چہ واغګلے شی ، علامہ طیبی رحمة اللہ علیہ لیکی ظاهرہ دا دہ چہ دغه کاسه کښ د اوړو اثر ډیر نہ وو چہ اوبو کښ بدلوالے راوستلے وو

دا روایت نسائی کښ حدیث نمبر ۲۴۳ باندِ باب تړلے دے "باب ذکر الأغتسال فی القصعة" او دا روایت دوی راوړلے دے "اغتسل هو ومیمونة من اناء واحد من جفنة فیها اثر العجین" او تبین الحقائق کښ د ام هانی روایت ذکر کړے دے "انّها دخلت علی النبی صلّی اللہ علیہ وسلّم یوم فتح مکة وهو یغتسل من قصعة فیها اثر العجین" او دا روایت هم شتہ چہ مقیس بن عاصم تہ حکم اوکړے شو چہ پہ داسے اوبو غسل اوکړہ چہ د بیرے پاڼړے پکښ وی امام ترمذی جمعہ کښ دا روایت او نسائی پہ طهارت کښ دا روایت ذکر کړے دے او دا د مسند احمد ۱۲۰۸۸ نمبر روایت دے کہ دا اوبہ پاکے نہ وے نبی صلّی اللہ علیہ وسلّم بہ د مړی د غسل دغسے حکم بیا ولے ورکولو ځکہ چہ دے لہ د اودس غونډِ اوبہ پکار دی او بیا ولے بہ نبی صلّی اللہ علیہ وسلّم پہ داسے اوبو غُسل کوو چہ د اړو نښه نښانه پکښ وہ او د مسئلے وضاحت د "کان یغتسل ویغتسل رأسه بالخطمی وهو جنب ویجتزئ بذالک ولایصیب علیہ الماء" ڈ لاندِ ذکر شوے دے دلتہ هم لګ وضاحت کولے شی،

د شوافعو او د احنافو اختلاف

مظاهر حق کښ دی چہ د شوافعو مسلک دا دے کہ اوبو کښ هر قسم بدلون راشی کہ د پاک څیز د وجے وی یا د ناپاک څیز د وجے د اودس او ڈ غسل ڈ استعمال قابلے نہ پاتے کیږی هغوی تأویل کوی چہ دا دومرہ زیات اوړہ نہ وو چہ اوبہ پرِ بدلیږی لیکن د احنافو پہ نزد دا مسئلہ دہ کہ اوبہ پہ پاک څیز بدلے شوے پہ دے شرط چہ اوبہ ټینګے نہ وی اودس او غسل ترِ صحیح دے اوحدیث کښ د

Maktaba Tul Ishaat.com

تأویل هیڅ ضرورت نشته او التقریر الرفیع کښې دی چه ائمه ثلاثه یو بل شرط لګوی که هغه څیز د جنس الأرض نه وی (چه په اور ویلے کیږی د جنس الأرض نه نه وی) بیا استعمال جائز دے او که دَ جنس الأرض سره تعلق نه ساتی بیا استعمال ناجائز دے انتهٰی

د صاحب هدایه ضابطه

که اوبو کښې لږ پاک څیز خلط کیدو سره که اودس جائز نه وی نو ګرانه ځکه ده چه ددے نه بچاؤ نشی کیدے کله د زمکے د اجزاء نه بچ کیدل ناممکن وی "لأنّ الخلط القلیل لا یعتبر به لعدم امکان الأحتراز عنه کما فی أجزاء الأرض فیعتبر الغالب" که پاک څیز کم او مغلوب وی اودس جائز دے. لیکن په پیو اودس کول ناجائز دی ځکه چه یو سړی د ابن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوکړو "لانجد الماء فتوضّأ اللبن؟ قال علیکم بالتیمّم مصنف ابن ابی شیبه دا روایت په "الوضوء باللبن" دَ لاندِ راوړلے دے حاصل دا دے چه د پاک څیز په اوبو کښې مخالطت که د اوبو په طبعیت او سیلان کښې فرق نه راولی نو اوبه د استعمال نه نه اوځی الحق الصریح کښې دلته د شوافعو قول ته کمزورے وئیلے دے"

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

(۱۳):عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ بن الْخطاب خَرَجَ فِي رَكْبٍ فِيهِمْ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ حَتَّى وَرَدُوا حَوْضًا فَقَالَ عَمْرُو: يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ هَلْ تَرِدُ حَوْضَكَ السِّبَاعُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ لَا تُخْبِرْنَا فَإِنَّا نَرِدُ عَلَى السِّبَاعِ وَتَرِدُ عَلَيْنَا. رَوَاهُ مَالك . وَزَاد رزين قَالَ: زَاد بعض الروَاةِ فِي قَول عمر: وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَهَا مَا أَخَذَتْ فِي بُطُونِهَا وَمَا بَقِي فَهُوَ لنا طهُور وشراب»

ترجمه: د یحیٰ بن عبدالرّحمٰن نه روایت دے فرمائی چه سیدنا عمر رضی الله عنه په یوه ډله کښې چه پکښې عمرو (رضی الله عنه) بن العاص وو اوتلو تر دے چه یو حوض ته راغلل نو عمرو اووے اے د

حوض مالکه آیا ستا دے حوض ته درندګان راځي؟ نو عمر بن الخطاب رضي الله عنه اوفرمائیل اے د حوض مالکه موږ له خبر مه راکوه کله موږ په درندګانو او کله درندګان په موږ مخکښ کیږي د مالک روایت دے او رزین په دے کښ اضافه کوي چه بعض راویانو د عمر رضي الله عنه په قول کښ زیادت کړے دے چه ما د نبي صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمائیل ئي: درندګانو له هغه دي چه خیټو کښ واچولے او چه کومے پاتے وي موږ له پاکے او د څکاک دي

تشریح: د یحیي بن عبدالرّحمٰن پیژندګلو

مرقات کښ د علامه طیبي قول نقل دے چه مدني دے د خپل پلار، ابن الزبیر او ابن عمر نه ئي اوریدل کړے دي او عبدالرّحمٰن بن حاطب، مصنف وئیلي دي چه دا یحیي بن عبدالرّحمٰن ابن حاطب بن ابي بلتعه دے د صحابو جماعت د دوی نه او دوی ذ صحابو ذیو جماعت نه اوریدل کړي دي، شعة اللمعات کښ دي چه یحیي بن عبدالرحمن د تابعینو نه دے، ثقه اوچت شان والا او ډیرو حدیثونو والا دے ذ مشهور صحابي حاطب په نوسو کښ راځي او ۱۰۴ هجري کښ وفات دے امام مسلم او سنن اربعه کښ زرقاني وائي چه ذ دوی روایت دے

مولانا عبدالحي لکهنوي رحمة الله علیه په نقل سره "التعلیق الممجد" کښ لیکلي دي چه دا داسے وړوکے حوض وؤ چه د پلیتئ په یو ځائے کیدو پلیتیدو ورنه تپوس به ئے نه وؤ کړے او موږ نه خبر مه راکوه اګر که تا ته پته وي چه دے ته درندګان راځي لیکن موږ ته دغه پوښتنه نشته نو دا اوبه خموږ په نزد پاکے دي او که موږه ددے استعمال کوو نو د پاکو اوبو استعمال به کوو دغه شان د عبدالغني نابلسي په الحدیقة الندیه کښ دي او د برکلي شرح طریقه محمدیه کښ هم دي او ډیره ظاهره دا ده چه دے په ارادے د نه پلیت والي حمل شي ځکه چه اوبه په خپل اصل طهارت پاتے دي او به دے د صحابو تپوس دلالت کوي ورنه بیا د سوال څه فائده نشته او د "فأنا" دے تعلیل کښ اشاره ده چه په سفر کښ اوبه بنیادي ضرورت دے او موږه دے کښ د تحقیق مکلف نه یو داسے کولو سره به موږه په غټ مشقت کښ بیا اخته کیږو دغسے مرقات کښ هم دي مظاهرحق کښ دي چه دا حکم د هغے اوبو باره کښ دے چه په غټو غټو تالابونو او حوضونو کښ جمع کیږي او صرف د احتمال د وجے تحقیق کول مناسب نه وؤ" ده په دے وجه هغه دوی ذ جواب ورکولو نه منع کړو لیکن د عمرو بن العاص ذهن تردید دوی نه دے کړے بلکه دا من وجه تائید دے که چرته سیدنا عمر رضي الله عنه سوال ...

Maktaba Tul Ishaat.com

پاکے گنړلے نو بیا به ئے فرمائیلی وو که د سباع څُله کښې د اچولو تحقیق هم اوشو بیا به اودس هم کوو ځکه چه پاکے دی په دے اوبو کښې درندګانو د څُلے اچولو احتمال او وهم دے
نفحات التنقیح کښې دی چه دا تپوس د عمروبن العاص رضی الله عنه واضح ددے خبرے دلیل دے چه سورالسباع پلیت وی ورنه تپوس ته څه حاجت وو لیکن عمر رضی الله عنه د حوض مالک د جواب ورکولو نه منع کړو چه صرف دَ احتمال په بنیاد به اوبه پلیتے نه حسابیږی

د ائمه ثلاثه استدلال

دوی استدلال کوی چه عمروبن العاص رضی الله عنه تپوس ددے ولے کړے دے دَ چنچړے باره کښې خو تپوس ئے او نه کړو او دَ سیدنا عمر رضی الله عنه دَ فرمان دا جواب دے چه دا ډیرے اوبه وے دا پاکے دی که جهوټا پاکه وه نو عمر رضی الله عنه به فرمائیلے وو مونږ ته څکه مه وایه که ته خبر را هم کړے نو بیا به طبعی طور نه خوښوے چه اوس ترِ درندګانو اوڅکلے او بیا ترِ مونږه هم څکو انتهی
ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی وهی الاحتمال لا یصح الاستدلال دا خو احتمال ناشئ من غیر دلیل دے او د حوض دلالت په ډیرو اوبو وی ، او الحق الصریح کښې دلته په احتمال سماع ثابته کړے ده،
لها ما اخذت : ډیرے اوبه مراد دی نو حدیث د احنافو دلیل دے ، امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه حدیث د مطلق اوبو یا د لږو اوبو باره کښې دے لیکن د راتلونکی حدیث سره څکه ئے منافات دے چه هلته د څُرو راتلو ذکر دے او د څُرو جوته د شوافعو په نزد هم پلیته ده،

د امام نووی تحقیق

کتاب الاستذکار ۱ــــ۲۵۸ بانډِ دی چه د حدیث دلالت په دے دے چه اوبو کښې کله پلیتی ښکاره نه شی پاکے دی ، او په دے دلالت کوی چه غیر ضروری تپوس بانډِ انکار کیدے شی،
(فائـده) ابن الحاج مدخل ۲ــــ۲۳۷ بانډِ لیکلے دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه په خپلی تهیلئ د اوسپنے ژرنده لګولے وه چه ماته پته وی چه څه خورم (یعنی د خوراک د حلال و حرام مسئله کښې احتیاط کولو) لیکن د طهارت یا د نمونځ مسئلو کښې دا حال دے چه اوئے فرمائیل مونږ له خبر مه راکوه دومره احتیاط ته حاجت نشته ګرانه به شی او لږ غونډِ وهم د مذئ سره به هغوی نمونځ کښې

انقطاع نه راؤستله صحابه کرامو کښې په بعض خپے ابلے تلل بیا به دوی خپے نه وینځلے او نمونځونه به دوی کول لیکن لوند نجاست که په خپو باندِ لګیدلے وو نو بیا به دوی خپے وینځلے

(١٤):وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِي بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ تَرِدُهَا السباع وَالْكلاب والحمر وَعَنِ الطُّهْرِ مِنْهَا فَقَالَ: لَهَا مَا حَمَلَتْ فِي بُطُونِهَا وَلَنَا مَا غَبَرَ طَهُورٌ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه: د ابو سعید خدری رضی الله عنه روایت دے چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه د مکے او د مدینے په مینځ کښې د حوضونو د اوبو باره کښې تپوس اوکړے شو چه هغے ته درندګان ، سپي او خره راځی اودس کول ترِ څنګه دی اوئے فرمائیل دوی له هغه دی چه په خیټو کښې ئے واچولے او مونږ له هغه پاکونکے دی چه باقی پاتے شی

تشریح: مرقات کښې د طهر نه تطهر پاکی حاصلول اغستلے دی او ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی "بَدَلٌ مِنَ الْحِيَاضِ بِإِعَادَةِ الْعَامِلِ" او مرقات کښې دی چه ابن حجر سند ته حسن وئیلے دے لیکن د مسند احمد په تعلیق ١٧ــ١٩٠ کښې ورته د شواهدو په وجه صحیح وئیلے دے ، او لیکی ددے په سند کښې عبدالرحمن بن زید دے او ابن معین لیکلے دی "لیس حدیثه بشئ ، وضعفه ابن المدینی جدا . قال البعض لا یحتج بأمثاله." انتهی واضحه دِ وی چه دا هغه عبدالرحمن بن زید بن اسلم دے چه د توسل په یو ضعیف روایت کښې امام حاکم مستدرک کښې ذکر کړے دے هدایة الرواة کښې البانی لیکی اخرجه ابن ماجه من حدیث ابی سعید واسناده ضعیف جدا وعبدالرحمن بن زید بن اسلم ابن الجوزی اجمعوا علی ضعفه توسّل آدم بالنبی دده روایت دے نو هیثمی دیته سنده حسن ، غیر حسن وئیلےدے اګرچه ملا علی قاری برقرار ساتلے دے الحق الصریح کښې دی چه تول راجمع کړے شی نو یو صحیح معنی ورکوی چه سؤرالبهائم پاکه ده که لږو اوبو کښې خُله اووهی او که ډیرو اوبو کښې" او د روایت حال د مخکښې نه معلوم شو لیکن دلته صراحةً د خرو ذکر راغلے دے او د شوافعو په نزد هم د خرو جوټه پلیته ده ارومرو به په زیاتو اوبو حمل کیږی او مشاهده وه چه دَ مکے او مدینے په مینځ کښې دغه حوضونو کښې ډیرے اوبه وے نه لږے اوبه"

Maktaba Tul Ishaat.com

(١٥):وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَا تَغْتَسِلُوا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ فَإِنَّهُ يُورِثُ البرص. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيّ

ترجمه : عمر رضی الله عنه فرمائی په هغې اوبو چه په نمر ګرمې شوې وی لامبئ مه ځکه چه دا برګې پیدا کوی

تشریح: امام نووی رحمة الله علیه شرح مهذب ١ــ١٨ بانډِ لیکلې دی امام شافعی رحمة الله علیه دَ طب په حیثیت دے ته مکروه وائی او د ائمه ثلاثو ، داؤد او دَ جمهورو قول کښې هیڅ کراهت نشته

د اختلاف دَ نوعیت وضاحت

امام نووی رحمة الله علیه اوَه (٧) وجوهات ذکر کړی دی ١ـ مطلقًا کراهت نشته ٢ـ که په نمر بانډِ د ګرمولو قصد واراده وی نو په هر کلی او لوخی کښې به کراهت وی او دغسې مشهور قول دَ عراقیانو هم دے ٣ـ مطلقًا کراهت به وی او قصد شرط نه دے او دَ حاوی په نزد دغه غوره ده ٤ـ د خراسان علماء وائی ، چه په ګرمو علاقو کښې په پیتلو وغیره لوخو کښې به کراهت وی او قصد او دَ کوهی پټول شرط نه دے ٥ـ په دغه لوخو د پیتلو کښې یا د سرو او سپینو نه علاوه لوخو کښې مکروه دی چه کله د کوهی سر پټ دی هغوی داسې حکایت نقل کوی او د دوی شیخ قاضی حسین په "تتمه" کښې لیکلې دی ٦ـ که د طبیبانو تحقیق وی چه دے سره برګې لګی مکروه دی ورنه بیا نه دی ٧ـ کپړا وینځل صحیح دی او د بدن وینځل په دے مکروهه دی دا قول ضعیف یا غلط دے او بعض دَ کراهت نه تنزیهی کراهت اخلی

صاحب د نورالأیضاح څه وائی

نورالایضاح کښې دی (ولا یتوضّأ بماء مشمش) او د امام طحاوی ورله دلیل کښې حدیث ذکر کوی چه عائشې رضی الله عنها اوبه په نمر ګرمولې اوئې فرمائیل "لا تفعلي یا حمیراء فأنه یورث البرص" لیکن مجموع شرح مهذب کښې دی صــ١٩ چه دا حدیث ضعیف دے او مظاهرحق کښې دغه روایت ذکر کړے دے لیکن مرقات کښې دی "وأیدوه بخبر ضعیف بل موضوع وهو ما أخرجه الدارقطني وأبو نعیم عن عائشة رضي الله تعالی عنها أنها قالت"

اشعۃاللمعات کښې شیخ عبدالحق لیکلي دي "و درسفر السعادۃ گفتہ کہ در استعمال آب گرم شدہ آفتاب حدیثی صحیح نشد"

د عامو گرمو اوبو ېے د نمر نه چه گرمے وی څه حکم دے

مرقات کښې دي چه د امام شافعي رحمة الله علیه اصح مسلک دا دے چه د نمر په گرمو اوبو استعمال کښې کراهت دے او د متاخرینو شوافعو په نزد کراهت نشته او دغه د دریواړه امامانو مسلک دے، عامے گرمے اوبه بے ددے نه بالاتفاق بغیر د کراهت نه ئے استعمال صحیح دے او د امام مجاهد نه دَ کراهت حکایت کیدے شي او امام احمد رحمة الله علیه فرمائی که په پلیتو اجزاؤ گرمے شوے وی بیا پکښې کراهت دے

د صاحب مظاهر حق تحقیق

لیکی که قصدا چا اوبه گرمیدو له نمر ته یخے وی یا د مخکښې نه یو ځائے اوبه پرتے وی او ورستو په هغے نمر راغے او گرمے شوے یو حکم ئے دے او دَ امام شافعي صحیح قول دا دے چه غسل کول ترې مکروه دي

امام نووی څه فرمائی؟

کتاب المجموع ۱ــــ۱۷ باندے لیکلي دي چه علامه شیرازی لیکلي دي چه قصدا ئے نمر ته یخے وی صرف په دغے اودس کول مکروه دي او قیاس ئے په غټ ډنډ یا نهر ځکه صحیح نه دے چه د هغے نه بچاؤ ناممکن دے ځکه هلته اتفاق عدم کراهت دے

درجة الحدیث

د علامه ابن حزم دَ محلّی ۱ــــ۱۸۷ باندِ تعلیق کښې احمد محمد شاکر لیکلي دي مکتبه المعارف الریاض "لیس فی الماء المشمس خبر صحیح ولاضعیف انظر البیهقی ۱ــــ۷۱۶" او دَ حسان بن ازهر توثیق صرف ابن حبان کوی او د دوی توثیق له ډیر اعتبار ځکه نه وی چه د دوی عادت دے چه د مجهولینو هم توثیق کوی او احمد شاکر لیکی چه دَ عمر رضی الله عنه سند لابأس به دے

Maktaba Tul Ishaat.com

د علامه البانی تحقیق

هدایة الرواة کښې لیکی چه روات ثقات دی

د امام شافعی خپل قول کتاب الأم ۱ـــ۳ باندې لیکی "ولا یکره الماء المشمس الّا من جهة الطب" نو د بعض شوافعو نه تعجب دے چه بے دلیله دے کښې شرعی کراهت مني او بیا ئے دَ احمد شاکر غونډې خبره لیکلې ده چه ډیرو ځایونو کښې د ابن حبان توثیق له اعتبار نشته ځکه دده قاعده دا ده چه دے دَ مجهولینو توثیق کوی،

دَ شیخ محمد زکریا رفیع تقریر

التقریر الرفیع کښې دی "وقد بسط الکلام فی اسناد هذا الحدیث العلامة علاؤالدین الماردینی فی الجوهر النقی واثبت ضعفه وکذا الزیلعی فی نصب الرایة والحافظ فی التلخیص"

شیخ عبدالحق د تنزیه الشریعة په حواله اشعةاللمعات کښې لیکلے دی "دراسانید ایں احادیث کذابان و وضاعان اند کہ مقبول کردہ نمی شود از ایشان حدیث ثابت نشدہ از پیغمبر صلی اللہ علیہ وسلم دریں باب چیزے" د حدیث په سندونو کښې غټ دروغژن او د ځان نه جوړونکی راویان دی چه قبول نه دی او په دے باب کښې هیڅ څیز د پیغمبر نه ثابت نه دے مرقات کښې دی چه میرک شاه محدث حواله ورکړے ده چه روایت ضعیف دے او دَ پیغبر صلی الله علیه وسلم نه په دے سلسله کښې هیڅ حدیث نقل نه دے

د سیدناعمر دَ سند حیثیت

اشعه کښې دی چه د عمر رضی الله عنه اثر ثابت دے او د امام شافعی رحمة الله علیه په سند سره ذکر کړے دے او د ابراهیم نه علاوه باقی رجال ثقات دی او د سیدنا عمر رضی الله عنه دغه قول چه مؤلف ذکر کړے دے غسل سره خاص دے او مظاهرحق کښې دی چه د عمر رضی الله عنه دا قول په بل سند سره امام شافعی رحمة الله علیه ذکر کړے دے چه راویان ددے ثقه او معتمد دی په صحت کښې کلام نشته لیکن مرقات کښې دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه روایت ضعیف دے نو د کراهت څه دلیل نشته او عجیبه ده چه دَ شوافعو یو جماعت دا دَ سیدنا عمر فاروق روایت په حکم دَ مرفوع کښې ګڼړی او لیکی دَ طبیبانو نه دا خبره ثابته نه ده او مظاهرحق کښې دی چه امام شافعی د دوی قول په بل سند ذکر کوی راویان ثقه او قابل اعتماد دی په صحت کښې څه خبره نشته

د عمر رضی الله عنه د اثر نه دویم عذر

اشعه کښې شیخ عبدالحق لیکلي دي چه دا که ثابت شي په هغې تقدیر مطلب دا دے چه ددے عادت جوړول نه دي پکار او دوام خه نه دے او شیخ عبدالحق اشعةاللمعات کښې د عمر رضی الله عنه د اثر مقصد دا ذکر کوی چه داسې اوبو باندې مستقل لامبل نه دي پکار دا عادت مه جوړوه چه د برص غوندې موذی مرض کښې د اخته کیدلو یره ده بنده عرض کوی چه دا حکم شفقةً اغستل غیر مناسب دي لکه چه تمر باندې خملې او سورے پرے راشي نه به خملې ، شفقةً حکم دے برگ چوپړ یعنی تود سوړ نه شي،

....

بَاب تَطْهِيرِ النَّجَاسَات

ربط : لکه چه په اوبو اودس کیږی دغسے په دے نجاسات زائل کیږی ای هذا باب ازالة النجاسات د نجاسات اقسام بحکښې بیان شوے دی طهارت په دوه قسمه دے ظاهری او باطنی یعنی د روح پاکول دا په توحید کیږی مشرک که څرته په اوو (۷) سمندرو غسل اوکړی بیا پلیت دے انّما المشرکون نجس او د باطنی طهارت نه بغیر د اعمالو څه حیثیت نشته دے باب کښې دا بیانیږی چه د پلیتئ لرکولو طریقے دپاره صرف اوبه به استعمالیږی یا د بعض نجاستونو د لرکولو نورے طریقے هم شته کوم څیزونه پلیت دی په سختے پلیتئ سره یا لږ تخفیف دَ نجاست په لرکولو کښې کیدے شی کومو کښې د ائمه مجتهدینو اختلاف دے ، او د کوم قسم څرمنو پاکی به په کومه طریقه حاصلیږی او د څرمنو د استعمال شرعی حکم څه دے او د ماشومانو هلکانو او د جینکو د متیازو څه حکم دے د هغے وضاحت په دے باب کښې موجود دے

الْفَصْل الأول

(۱):عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أحدكُم فليغسله سبع مَرَّات»وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «طَهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُولَاهُنَّ بِالتُّرَابِ»

ترجمه: چه کله ستاسو په یو لوښی کښې سپے شونډ خکته کړی نو دغه لوښے دِ اووه (۷) کرته اوینځی او د مسلم روایت کښې دی په تاسو کښې د یو کس د لوښی پاکوالے به وی چه کله سپے پکښې شونډ خکته کړی وینځل د هغے اووه (۷) ځله دی چه ړومبی ځل به په دے کښې په خاورو سره وی

تشریح: (ولوغ او طس کښې فرق) مائع څیز کښې چه سپے ځُله خکته کړی دے ته ولوغ وائی او که جامد څیز په ژبه څټی دے ته طس وائی

د ولوغ الکلب مسئله کښې اختلاف

امام نووی د کتاب المجموع شرح مهذب شیرازی په ۲ــــ۴۱۳ باندِ مذاهب داسے ذکر کوی چه د مالکیه مسلک دا دے چه شونډ خکته کولو سره هغه څیز پلیت کرځی او ددے لوښی اووه (۷) ځله وینځل

واجب دی چه یو ځل به پکښې خاوره بانډِ د هغے شوره کول دی او ابن المنذر د اوو (۷) کرتو د وجوب قول د ابوهریره ، ابن عباس او عروه بن الزبیر رضوان الله علیهم او د طاؤس ، عمرو بن دینار ، مالک ، اوزاعی ، احمد ، اسحاق ، ابوعبید او دَ ابوثور رحمهم الله نه نقل کوی او ابن المنذر دغسے وائی ۲۔ امام زهری رحمة الله علیه فرمائی درے ځله د لوښی وینځل کافی گرځی هکذا فی الأستذکار ایضا ۱ــ۲۴۸.

۳۔ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی تر هغے وینځل د لوښی واجب وی چه غالب گمان ئی دَ پاکیت رانشی الاستذکار کتاب الطهارة ۱ــ۲۴۹ بانډِ لیکلے دی "وقال الثوري والليث بن سعد في غسل الإناء من ولوغ الكلب كقول أبي حنيفة يغسل حتى يغلب على القلب أن النجاسة قد زالت من غير حد" که دا په یو ځل راځی کافی گرځی (نو د پیشو په جوټه کښې د یو ځل د وینځلو قول خلاف نه راځی ځکه په دے کښې د ضرورت د وجے تخفیف کیږی) دغسے حکم د نورو معینو پلیتو هم دے" او د نجاست حکمیه وینځل درے ځله واجب دی ۳۔ د امام احمد رحمه الله یو روایت د اتو (۸) کرتو دَ وینځلو دَ وجوب دے چه یو ځل پکښې د خاورے د استعمال دے او دغسے روایت د داؤد نه هم دے ۴۔ امام مالک رحمة الله علیه او امام اوزاعی رحمة الله علیه فرمائی چه دغه طعام دَ سپی په شونډ دننه کولو نه پلیتیږی بلکه دَ هغے خوَړنه او ځکاک جائز دے او اودس هم صحیح دے او دواړه وائی چه د لوښی دَ وینځلو حکم تعبدًا دے او دَ امام مالک نه دَ داسے اوبو دَ غسل باره کښې دوه روایته دی

قاضی شوکانی او مسئله د سورالکلب

چه حدیث د اووه (۷) کرته وینځلو احنافو په استحباب حمل کړے دے ، او طحاوی ، دارقطنی د ابو هریره رضی الله عنه موقوف روایت نقل کړے دے چه درے ځله به وینځلے کیږی او دوی د اوو (۷) ځلو روایت کونکے دے نو دا د بعض حنفیه دے اصل سره مناسب دے چه دَ راوی په تأویل عمل واجب وی لیکن د نورو جمهورو دَ اصل سره موافقت نه لری او دا احتمال شته چه ابوهریره رضی الله عنه دغه فتوی ځکه ورکړے وی چه اوه (۷) ځله د هغوی عقیده استحبابًا وه نه دَ وجوب یا خپل روایت به تر ِهیر شوے وی صاحب د سبل السلام شرح د بلوغ المرام کښې لیکی چه عمل روایت له وی د راوی رائے له نه وی،

Maktaba Tul Ishaat.com

د نور الایضاح حواله

رهو ما شرب فیه الکلب او مراقی الفلاح کښ دی سپے عام دے که ښکاری یا د څناورو د حفاظت رغیره دپاره وی څکه چه د دارقطنی روایت د ابوهریره رضی الله عنه دے چه دا به درے یا پنځه یا اوه (۷) کرته وینځلے کیږی او طحاوی وائی "ویندب عندنا التسبیع" اووه (۷) کرته وینځل مستحب دی چه یو ځل پکښ د خاورے استعمال شوے وی ، مرقات کښ ملا علی قاری لیکلے دی چه اول ځل خاوره استعمالول اکمل دی او د احنافو قول دا دے چه خاص تعیین سره د وینځلو تعداد متعین نه دے بلکه حکم ددے د نورو پلیتو غوندِ دے" او امام زهری فرمائی که نورے اوبه نه وی اودس په هغے جائز دے او سفیان فرمائی دا بالکل فقاهت دے" او دارقطنی عن الأعرج عن ابی هریرة روایت په سپی کښ درے یا اوه (۷) یا پنځه کرته نقل کړے دے او دَ ابن عربی نه دغه روایت مرفوعًا نقل دے "اذا ولغ الکلب فی اناء احدهم فلیهرقه ویغسله ثلاث مرات" او دارقطنی کښ په صحیح سند سره دَ عطاء موقوفًا دا روایت د ابوهریره رضی الله عنه نه د درے کرته نقل دے او په اول ځل کښ د سپو باره کښ سختی زیاته وه التمهید ٤ــ٣٥٤ باندِ دی "عن جابر انّ رسول الله صلی الله علیه وسلم امر بقتل الکلاب حتی ان المرءة لتدخل بالکلب فما تخرج حتی یقتل" نو د اوو (۷) روایت د تشدید د وجے په دغه وخت باندِ حمل دے پیغبر علیه السلام دَ سپو دَ وژلو حکم کړے وو نو د اوو قول په ابتداء حمل دے او منسوخ دے اول دَ قتل الکلاب حکم وؤ بیا اوو کرتو د وینځلو چه نفرت د خلقو زړونو کښ د سپو د بے ضرورته ساتلو نه پریوځی او بیا د اوو حکم هم منسوخ شو او د درے حکم پاتے شو، زیلعی ددے نظیر ذکر کوی چه د شرابو مسئله کښ د لوخو د ماتولو او په هغه لوخو کښ د نه استعمال حسما للمادة حکم وؤ بیا دغه سختی ختمه شوه دلته یو (سوال) الحق الصریح کښ د أحنافو په دے خبره کړے دے "دوئم دا چه د منسوخ کیدو خبره سراسر خطاء ده ځکه چه امر د تسبیع په روایت دَ ابوهریره او ابن المفضل سره نقل دے کما فی مسلم او د ابوهریره او ابن المفضل اسلام په اووم کال د هجرت وؤ او امر بقتل الکلاب دا په اوائلو دَ هجرت کښ شوے دے نو د دواړو په مینځ کښ ډیره فاصله ده او متقدم څنګه ناسخ جوړیدے شی دَ متأخر دپاره. الخ

د اشکال جواب

اولا تأخر اسلام سره د روایت په تأخر استدلال صحیح نه دے لکه دغه اشکال دلته حافظ ابن حجر کړے دے لیکن د نسخ په مسئله کښې په شرح نخبة الفکر کښې ددے تردید کړے دے

دوئمه خبره دا ده چه د ابوهریره رضی الله عنه عادت لکه محدثینو کښې مشهوره ده د ارسال وُ یعنی هغوی به د یو قدیم الاسلام صحابی نه حدیث واؤریدو او بلا واسطه به دوی هغه نقل کړو چه ورته مرسل دَصحابی وائی دلته هم دغه احتمال شته چه دوی دا روایت د یو قدیم الاسلام صحابی نه اوریدلی وی او هغه ئے بیان کړے وی او په نفس الأمر کښې دغه روایات د هجرت د ابتدائی زمانے سره تعلق ساتی او تأئید ئے ددے نه کیږی چه الحق الصریح کښې د ابن الفضل د روایت تذکره ده نو ابوداؤد د باب آخر کښې د عبدالله بن مغفل روایت راوړلے دے چه فرمائی چه نبی علیه السلام دَ سپو د وژلو حکم اوکړو "ثمّ قال ما لهم ولها" نو کله چه دوی لیکلے دی چه امر بقتل الکلاب دا په اوائلو دَ هجرت کښې شوے دے" نو عبدالله بن مغفل خو متأخرالاسلام صحابی دے نو بیا هغوی ددے نقل څنګه کوی ظاهره دا ده چه دلته به هم دغه وئیلے شی چه دا د صحابی مرسل دے او د قدیم الاسلام صحابی نه به ئے اوریدلے وی او دا به نقل کوی

د امام طحاوی نظر

سپے که په لوخی کښې واړه او غټ بول اوکړی دلته تسبیع نشته آیا د ولوغ الکلب حکم به دَ دے نه سخت وی چه هلته اوو (۷) ځله ضروری نه دے نو دلته به څنګه ضروری شی؟ او دا قیاس د نص په مقابله کښې نه دے بلکه علامه عینی فرمائیلے دی چه دا استدلال بدلالة النص دے"

ابوداؤد کښې دی "قال ابوداؤد وهکذا قال ابن مغفل" ظاهری مطلب د ابوداؤد دا دے چه عبدالله بن مغفل چه ددے حدیث راوی دے چه په کوم کښې اته کرته راڅی خیله ئے په دغے عمل دے چه په اته ځله پاکیږی لیکن ابوهریره رضی الله عنه د تسبیع راوی دے لیکن په دے هغوی عمل نه کولو

په خاورو مګل څه حکم لری

اشرف التوضیح کښې دی چه امام ابوحنیفه او امام مالک دَ وجوب قائل نه دی او امام شافعی او امام احمد په خاوره شوره کولو ته واجب وائی او بیا د امام شافعی او امام احمد مسلک کښې دا فرق دے چه

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعی تتریب اوه څلو کښې داخلوی او د امام احمد دوه روایتونه دی یو دغه او دویم اوه څله وینځل جدا دی او په خاوره مکل مستقل جدا دی په کومو روایتونو کښې چه دَ اته څله وینځلو حکم راغی هغه سندًا صحیح دی حالانکه دوی صرف اوو (۷) څله وینځلو ته واجب وائی نو دَ دے صحیح حدیث جواب به دَ دوی په ذمه وی ، مونږ خو په استحباب دا حمل کوو نو په ټولو عمل شوے دے ، انتهی

(فائده) (طهور اناء احدکم) تبیین الحقائق کښې دی چه طهور مصدر په معنی د طهارت دے تقاضا ئے دا ده چه ځکښې ورله پلیتی یا بے اودسی ده او دوئمه خبره نشته نو اول امر متعین شو او بله دا ده چه اصل په نصوصو کښې معقولة المعنی کیدل دی کله چه امر دائر شی په مینځ د معقولیت او تعبّد کښې نو معقول المعنی ګرځول اولی وی ځکه چه تعبّد نادر وی او معقول المعنی ګرځول ډیر وی

د حقیقة الالحاد حواله

باباۓ سلفیت خپل کتاب کښې په دے مسئله کښې په احنافو کومے نیوکے کړے وے بنده عاجز حقیقة حقیقة الالحاد کښې د هغے وضاحت کړے دے دلته د هغے لیکل مناسب دی د سورالکلب په مسئله کښې د ابو هریره رضی الله عنه په مرفوع روایت باندِ دَ عبدالوهاب بن ضحاک په وجه ددے مخالفینو جرح دَ ضابطے تر حده تر څه حده به صحیح وی لیکن ضروری نه ده چه حقائق او واقعات زمونږ د جوړولو ضوابطو تابع وی په دے موضوع مبسوط کلام علامه لکهنوی سعایه کښې کړے دے دغسے تفصیل ابکارالمنن کښې او تحفة الأحوذی کښې هم شته چه د دوی شبهات تقریبًا د دغے کتابونو نه اغستلے شوے دی امانی الأحبار کښې مولانا محمد یوسف کاندهلوی رحمة الله علیه اجمالی رد کړے دے دَ محقق ابن الهمام رحمة الله علیه وغیره محققینو دا نظریه یقینی حقه ده چه ډیر کرته اصطلاحًا ضعیف راوی هغه روایت واقعة صحیح کیدے شی او د ثقه هغه ضعیف کیدے شی ونظائره کثیرة

چه کله امام دارقطنی ، امام بیهقی او ابن عدی رحمهم الله وغیرهم دَ امام ابو جعفر طحاوی رحمه الله غوندِ دَ عبدالملک بن ابی سلمان په طریقه په دے حدیث کښې درے څله وینځل مرفوعًا روایت کوی او دا هم وینو چه دَ حدیث راوی ابوهریره رضی الله عنه چه د هغوی دَ حدیث په ظاهر عمل کول او فتوی ورکول مشهور او مسلّم دی او دَ "تثلیث غَسل" فتوی ورکوی او په دے عمل هم کوی د خپل مشهور

روایت خلاف کوی" اګرچه دَ فتوی او د عمل نور توجیهات هم کیدے شی لیکن په قول د علامه منبجیؒ وغیره د مقام صحابیت د تقاضو موافق د ټولو نه غوره دغه توجیه ده چه ابوهریره رضی الله عنه سره دَ تسبیع وغیره غوندِ دَ تثلیث روایات هم مرفوعًا موجود وو او دے ته هم کتل پکار دی چه عبدالوهاب المتوفی ۲۴۵ھ نه ډیره موده مخکښ دَ عطاء بن ابی رباح المکی المتوفی ۱۱۴ھ، محمد بن مسلم بن شهاب الزهری المدنی المتوفی ۱۲۵ ھ او امام ابوحنیفه الکوفی المتوفی ۱۵۰ھ وغیرهم دَ درے کرته د وینځلو مذهب غوره کړے یقینًا دا بے اصل څکه نه دی چه د تسبیع روایات دَ دوی مخے ته دی نو که عبدالوهاب فی نفسه ضعیف هم وی دَ روایت د صحت قوی ګمان پیدا کیږی او دَ عبدالوهاب نه دَ تسبیع دَ روایت خلاف دوی نه ګنړی"

او د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه دویم حدیث په طریقے د عبدالملک باندِ د دوی قابل ذکر اعتراضات درے دی

۱۔ عبدالملک متکلم فیه دے لکه الحق الصریح کښ دی صدوق له اوهام ، وکان یخطئ" وعبدالملک لایقبل منه مایخالف فیه الثقات یعنی

۲۔ هغه دعطاء نه دے روایت کښ متفرد دے دغسے عطاء د ابوهریره رضی الله عنه نه

۳ــ ددے په رفع او وقف کښ بیا دَ وقف په صورت کښ د ابوهریره رضی الله عنه دَ قول یا دَ فعل د اضطراب غوندِ صورت دے

(۱) عبدالملک عرزمی المتوفی ۱۴۵ھ په ثقات . کلکو مشاهیر راؤیانو کښ دے خطیب بغدادی د انس رضی الله عنه نه ددے روایت ذکر دے په دے وجه هغه تابعی کیدے شی د فن ټول آئمه د دوی په ثقاهت اتفاق لری تر دے چه شُعبه ته هم د هغوی دَ حفظ اعتراف دے او د هغوی د وطن او د سفر ملګرے سفیان ثوری (چه امیرالمؤمنین فی الحدیث ورته وئیلے کیږی) هغه عبدالملک ته میزان وائی او مولانا نورستانی صاحب هم دوی میزان ګنړی یعنی دَ نورو دَ روایاتو دَ صحت او دَ ضعف فیصله به دَ دوی روایت مخے ته کیخودے شی او کیږی به دلته دوی ګنګا اَلوړے بیول غواړی او الحق الصریح کښ دی ترکه شعبة بن الحجاج انظر التعلیق المغنی" لیکن جواب دا دے چه د شعبه کلام صرف دا نه چه د فن ائمه ئی نه قبلوی بلکه ابن حبان څه نرم او خطیب بغدادی په ګرمو او سختو الفاظو کښ په دے نکیر شوے دے او دَ ائمه دَ جرح و تعدیل مشر ابن معین خو صفا وئیلے دی "عبدالملک ثقة صادق

Maktaba Tul Ishaat.com

لایردّ علی مثله" او ابن معین د شعبه په حدیث کښې د عطاء نه د عبدالملک د تفرد او په ده باندِ د شعبه وغیره د انکار د ذکر نه پس فیصله کړے ده چه کله د عبدالملک ثقات ، اثبات ائمه حفاظو نه مبرهن کیدل ثابت دی نو د هغوی د تفرد نه د روایت صحت باندِ قطعًا څه اثر نه غورځیږی" او دَ امام بیهقی دا فرمائیل چه د عبدالملک دَا روایت د نورو ثقاتو د روایت خلاف دے دا ځکه نه منلے کیږی چه دا ذکر کل ما لم یذکره الآخر دَ قبیلے نه دے دے ته مخالفت نه وائی لکه فقط د تسبیع روایت دَ تسبیع مع التتریب خلاف نه دی لکه چه تیر شو" بیا عبدالملک د عطاء نه په دے روایت کښې خالص متفرد هم نه دے ځکه چه د عطاء مشهور او مایه ناز شاگرد ابن جریج نه عبدالرّزاق نقل کوی قلت لعطاء کم یغسل الأناء الذی یلغ فیه الکلب؟ قال کل ذالک سمعت سبعًا ، خمسًا ، ثلاث مرت ، المصنف ۱ـــ۹۷ او کتاب الأستذکار ۱ــ۲۴۹ د ثوری او لیث د امام ابوحنیفه غوندِ قول نقل کړے دے او لیکلے دی قال عبدالرزاق عن ابن جریج سألت عطاء کم تغتسل الأناء الذی ولغ فیه الکلب قال سبعًا و خمسًا و ثلاثًا کل ذالک قد سمعت او فقیه الامت امام ابوحنیفه هم د عطاء په ارشد تلامذه کښې حسابیږی اغلب دا ده چه د هغوی مسلک هم په دے مسئله کښې د عطاء په روایت او شاگردئ بِناء دے او دا هر چا ته پته ده چه عبدالملک د عطاء څه عام شاگرد نه دے بلکه د هغوی ممتاز او صاحبِ اختصاص شاگرد دے هغوی د راویه عطاء په لقب یادیږی او دَ کثیر الملازمه ، ذوی الأختصاص شاگردان هم د خپلو مشائخو نه په بعض روایات کښې منفرد کیدل یو طبعی امر دے په دے کښې عقلًا او عرفًا هیڅ قسم لرے والے نشته او د عبدالوهاب په طریقه کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه دَ تثلیث مرفوع روایت کونکے الأعرج المدنی دے نو دَ عبدالملک و عطاء دَ تفرد خبره نیمگړے شوه او دا بحث د تنزل په بناء دے ، اصل خبره خو دا ده چه عبدالملک او عطاء غوندِ جبال و بحور تفرد قطعًا دَ نیوَکے جوگه نه دے او د اضطراب خبره باندِ دَ فن ادنی طالب علم پوهیږی چه اضطراب هغه وخت کښې په صحت کښې خلل راولی چه کله د اضطراب وجوه برابر وی او د تطبیق امکان نه وی الحق الصریح کښې دی اضطراب په دوه قسمه دے یو قسم هغه دے چه تطبیق ممکن نه وی نو دا مضر دے صحت حدیث نه ، دویم هغه دے چه تطبیق پکښې ممکن وی او دلته تطبیق ممکن دے الخ حالانکه دغه د ترجیح صورت ذکر کوی نه ده تطبیق" دلته خو برابر ځکه نه دی چه خصوم ددے اعتراف کوی او نه تطبیق ناممکن دے او دَ سلفو عام معمول دا وی چه یو حکم کله مسند او کله مرفوع او کله موقوف د خپلے فتوی په صورت کښې

ذکر کبری او کله نوبت په هغې د عمل راځی او امام طحاوی د نسخ لفظ معروف و مشهور معنی کښې کم استعمالوی (حقیقة حقیقة الالحاد)

دَ نفع قوت المغتذی حواله

د امام ترمذی په دے حاشیه باندې په دے بحث کښې دی ثم رواه بسند صحیح عن عطاء موقوفا علی ابی هریرة ، او لیکی چه ابوهریره خو دَ تسبیع راوی دے او فتوی په درے ځله وینځلو ورکوی او خبر واحد چه خپله بالذات بغیر د واسطے نه صحابی د پیغمبر نه واوری دے کښې ظنیت نه وی بلکه دغه صورت کښې داسے قطعیت وی چه په هغې دَ کتاب نسخ هم راتلے شی چه کله ئے دلالت قطعی وی په خپله معنی کښې لازمه شوه چه ابوهریره دغه قطعیت پریخے دَ ناسخ د وجے نه دے ځکه قطعی صرف په قطعی پریخودلے شی دَ روایت پریخودل په منزله د روایت د ناسخ بے شکله شو نو بداهةً د اوو (۷) حکم منسوخ دے

یو وضاحت

التقریر الرفیع کښې دی که ابن عدی په حدیث کښې منکر استعمال کړی ضُعف له مستلزم ځکه نه وی چه دوی یا صاحب میزان یا نور متقدمین ددے لفظ اطلاق کله په صحیح حدیث هم کوی او په حسن هم صرف د راوی په تفرد د وجے اگرچه مثبت وی" او متاخرین ددے اطلاق کوی چه کله ضعیف راوی دَ ثقه خلاف اوکړی دغه وضاحت علامه عبدالحی لکهنوی په الرفع والتکمیل کښې کړے دے او دَ ابوهریره روایت "انه یغسله ثلاثا او خمسًا او سبعًا" سند شیخ تقی الدین صحیح کړے دے لکه په نصب الرایه کښې دی ، د استدلال نوعیت دا دے چه د ثلاث نه په زیادت کښې اختیار دے او اختیار د وجوب سره منافات لری نو امر په ندب حمل دے" اوجزالمسالک کښې شیخ محمد زکریا رحمة الله علیه لیکلے دی چه قرائن د احنافو تائید کوی

د فیض الباری حواله

نعم ، التسبیع مستحب کما في الزَّیْلعي شرح الکنز. وصرَّح (الوبری) باستحباب التسبیع عن أبي حنیفة رحمه الله تعالی فیمکن ان یکون استحبابه من باب الخروج عن الخلاف فیض الباری ۱ــــ۲۷۳

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال د صاحب الحق الصريح

اول خو ستاسو خپل مینځ کښې اختلاف او تردد راغلو هغه دا چه کله وائی دا حکم حمل دے په استحباب باندِ او کله وائی چه منسوخ دے"

لیکن جـــواب دا دے چه بعض احناف ئے په استحباب حمل کوی او بعض نور د منسوخ کیدو جهت مختار گنړی دَ هر چا مستقل تحقیق دے،

ـ درتعارض ہشت وحدت شرطوطلاں الخ لکه په مسئله د رفع الیدین کښې فتاوی خالص کښې د استحباب قول دے او ځنے شیخان ورته سنت مؤکده او بعض غالیان ورته واجب وائی او مولانا ثناءالله خپل مذهب داسے ذکر کوی "جیسا کہ ہمارا مذہب ہے رفع الیدین ایک مستحب امر ہے" هغه ورته مستحب وائی او په دغه بنیاد حافظ ابن حجر فتح الباری مع البخاری مطبوع احیاءالتراث العربی ۲ـــ۱۷٤ باندِ لیکی "الاستحباب لاینافی الوجوب" هسے خو استحباب او وجوب کښې منافات دے کله چه اوقات یا افراد بدل وی بیا تعارض نه وی نو د منسوخ کیدو خبرے ته منسوخ وئیل خطا کیدل او دغه الحق الصریح گنړل یقیناً خطاء ده او ځمونږ مشائخ خصوصًا شیخ حسین علی رحمة الله علیه بعض آیاتونو کښې توجیه کوی چه مخکښې د وجوب حکم وؤ اوس پکښې تخفیف راغلے چه د وجوب نه استحباب ته عدول شوے دے لکه "الئن خفّف اللّٰهُ عنکُم" کښې دغه توجیه کوی ، د اوو دَ وجوب حکم استحباب کښې بدل شو او دَ متقدمینو په اصطلاح کښې نسخ بمعنی تخصیص راتلے شی تفسیر قرطبی کښې دَ "وعلی الذین یطیقونه" صـ۱۹۳ د لاندِ لیکی "یحتمل ان یکون النسخ هناک بمعنی التخصیص فکثیرا ما یطلق المتقدمون النسخ بمعناه"

اعلام المؤقعین ۱ـــ۳۵ باندِ دی "مراده ومراد عامة السلف بالناسخ والمنسوخ رفع الحکم بجملته تارة وهو اصطلاح المتأخرین ورفع دلالة العام والمطلق والظاهر وغیرها تارة إما بتخصیص أو تقیید أو حمل مطلق علی مقید وتفسیره وتبیینه حتی إنهم یسمون الاستثناء والشرط والصفة نسخا لتضمن ذلك رفع دلالة الظاهر وبیان المراد"

د صاحب الحق الصریح په احنافو دَ اعتراض جواب

دے بحث کښې الحق الصریح کښې په رنګونو کښې یو رنګ داسے ذکر کوی "دا رنګه احنافو هم په مختلفو ځایونو کښې د راوی رائے د هغه د روایت په مقابله کښې پریښے ده او روایت ئے اغستے دے لکه د عثمان رضی الله عنه او عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه په سفر کښې رکعتین دی او هغوی پخپله عمل په څلورو رکعتونو باندے کولو الخ

الجواب

علامه آلوسی د سورة النساء آیت نمبر ۱۵۲ دَ لاندِ د سفر مسائیلو کښې پنځمه پاره کښې لیکلے دی "وأما ما روي عنها من الإتمام فقد اعتذرت عنه وقالت: أنا أم المؤمنين فحيث حللت فهي داري كما اعتذر عثمان رضي الله تعالى عنه من إتمامه بأنه تأهل بمكة وأزمع الإقامة بها كما روي عن الزهري فلا يرد أنها رضي الله تعالى عنها خالف رأيها روايتها، وإذا خالف الراوي روايته في أمر لا يعمل بروايته فيه" او تاویل د سیدنا عثمان رضی الله عنه او ام المؤمنین که دغه نه وی خوښ بل تأویل دِ اوکړی تأویل ځکه متعین دے چه بخاری کښې دی "تأوّلت كما تأوّل عثمان" په احنافو دغه اعتراض علامه آلوسی دفع کړو

یو بل اعتراض

الحق الصریح کښې دی چه دا قاعده ضعیفه ده چه کله تعارض په مابین د رآی د راوی او دَ روایت راوی کښې راشی نو رائے له به اعتبار وی بلکهٔ صحیح خبره دا ده چه روایت له به اعتبار وی په مقابله د رائے ځکه د رائے په باره کښې دا احتمال کیدے شی چه دا په نسیان د روایت باندے بناء وی الخ
او داسے په الحق الصریح :۱۱ : ٤١٤ باندے هم لیکي "صحیح خبره داده چه دَ راوي روایت اعتبار وي نه دَ هغه رأي لره ځکه چه په رأي کښې احتمال دَ نسیان یا دَ تاویل وغیره کیدے شي"

جواب

دغسے قاعده باندِ رد سبل السلام شرح بلوغ المرام کښې هم شته لیکن فتاوی خالص ۷ــ۱٦٦ باندِ دی "الراوی اذا فعل بخلاف ما روی بیقین سقط العمل به" دلته خو لیکی چه راوی د روایت خلاف کار یقینی طور باندِ اوکړی نو عمل به پرِ ساقط وی او په دغه جلد کښې صــ۳۵۹ باندِ دی "ومن المقرر انّ

Maktaba Tul Ishaat.com

الراوی الحدیث ادری بمعنی ما روی لا سیمًا اذا کان مافیه ماهو الموافق لقواعدالشریعة واصولها" چه کله د حدیث راوی د خپل روایت په معنی ښه پوهیږی نو سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د اوو (۷) قول روایت کړے دے او په حدیث فتوی نه ورکوی بلکه فتوی د دوی درے ځله په وینځلو ده او د نسیان احتمال د راوی روایت کښ هم دے بلکه پیغمبر علیه السلام فرمائی "أنسی کما تنسون" الانسان مرکب من الخطأ والنسیان،

او دَ بخاري دَ راویانو نه هم کله کله غلطي راتلے شي لکه مثلا امام بخاريؒ :۲: ۵۷۸ کښ "باب غزوة احد" دَ لاندے ابن عباسؓ په روایت کښ دا الفاظ راوړے دي "قال النبي صلی الله علیه وسلم یوم احد" او مولانا وحیدالزمان صاحب وائي چه مشهوره داده چه نبي علیه السلام دَ بدر په ورځ دا فرمائیلے دي دَ "احد" لفظ په دے کښ شاید چه دَ راوي غلطي وي (تیسیرالباري:۵: ۳۱۲)

او ابن حجرؒ هم فتح الباري کښ لیکلے دي چه" وهو وهم من وجهین"

یا دوئم مثال : بخاري:۲: ۵۸۵ باندےدَ "باب غزوة الربیع" دَ لاندے دَ روایت الفاظ داسے دي "وأمر علیهم عاصم بن ثابت جد عاصم بن عمر بن الخطاب" لیکن ابن حجرؒ فرمائي چه دا دَ عاصم ماما دے نیکه ئے نه دے ، نو نسیان دَ هر چا نه راتلے شي او دَ راوي دَ غلطئ هم بعض اوقاتو احتمال کیدے شي،

دَ احنافو په تائید کښ دَ نورو غیر مقلدینو حوالے

لکه غیر مقلد مولانا ابراهیم سیالکوتي لیکلے دي : اگر راوی کا عمل اس کی روایت کا خلاف ہو تو اس کی روایت قابل عمل نہ ہوگی (انارۃ المصابیح:129) بحوالہ التوضیح عن رکعات التراویح:179)

دغسے نواب صدیق حسن خان لیکلے دي : "ومخالفت راوي از مروي دلیل است بر آن که راوي علم ناسخ دارد چه حمل آن بر سلامت واجب است(دلیل الطالب:٤٧٤)

مولانا زبیر علي زئي صاحب دَ یو حدیث متعلق لیکلے دي : "یہ روایت شواہد کے ساتھ صحیح ہے لیکن راوی کے فتوی کی وجہ سے منسوخ ہے (نصر الباری:282)

ددے نه دا معلومه شوه چه بعض غیر مقلدینو چه کله دَ راوي عمل دَ روایت خلاف وي نو هغه منسوخ ګڼړي او منسوخ قابل عمل نه وي او دغه شان نصرالباري :۲۸۷ باندے هم لیکلے دي خو بیا لیکي چه

اصول هم مختلف فيه دي ، دَ محدثينو يو جماعت ددے اصولو خلاف دے او وائي چه عبرت په روايت کښې دے په راوي کښې نه دے، (تعداد رکعات قيام رمضان:۱۹۳)

د يو غير مقلد تحقيقي فتوى

د سپي صرف لعاب او خوله نجس دى صـ٤٥ دغسے عبدالقاهر خراساني وائى او بيان د خصوصيت او د نسيان د احتمال ذکر کوى او ليکى "د سپي نور بدن نجاست د خُلے په جوته دا قياسًا دے نه نصًّا اهل حديث دے مسئله کښې يواځے نه دى" او علامه وحيدالزمان غيرمقلد نزل الأبرار کښې ليکلے دى ما يطهر بالدباغة يطهر بالزكوة الا لحم الخنزير فانه رجس" بلکه د خنزير څرمن هغه په ذبح پاک ګڼړى او غوښه ناپاک نزل الأبرار ۱ـــ۲۹/۳۰)

او ليکي : ايما اهاب دبغ فقد طهر ومثله المثانةوالکرش واستثني بعض اصحابنا جلد الخنزير والادمي والصحيح عدم الاستثناء"

بعضوں نے اس حدیث سے کتے کی طہارت پر دلیل لی ہے محققین اہل حدیث کا یہی قول ہے، لغات الحدیث:۲: ۷۹ کتاب "ز")

دَ لغات الحديث دَ وحيدالزمان صاحب طبع قديم :۱:٤ باندے دي "بالہام غیبی یہ حکم ہوا کہ ایک کتاب لغات الحدیث میں بزبان اردو مرتب کرو جہاں تک فریقین یعنی اہل سنت اور امامیہ کی حدیثیں جمع کرنا" يعني دے کښې دَ اماميو حديثونه هم جمع دي،

دَ مولانا عبدالعزيز صاحب وضاحت

شمشير شهنشاء برګردن خان باشاه مولانا عبدالعزيز نورستاني :۵۷ باندے ليکلے دي، "وحید الزمان صاحب پہلے شیعہ تھے پھر حنفی ہوئے پھر اہل حدیث ہوئے لازمی بات ہے کہ اس کے اندر وہ پرانا میل کچیل باقی ہو گا ہم اس کی صفائی پیش کرتے۔"

دَ هدية المهدي دَ تصنيف کولو نه پس عظيم آبادي محترم فقيرالله پنجابي مولانا ثناء الله امرتسري او محمد حسين بټالوي ددے کتاب تصنيف دَ وجے نه ددۀ نه خفه وو بلکه دَ محمد حسين بټالوي صاحب نه اسماعيل سلفي صاحب دَ خفګان اظهار داسے کوي "مولانا محمد حسین بٹالوی کے بعض نظریات جہاد کا مفہوم اور انگریز کے ساتھ تعاون سے جماعت کو شدید اختلاف تھا لیکن اس کے باوجود مخالفت کی نوبت نہیں آئی مولانا بٹالوی اپنے طریق پر کام کرتے رہے باقی علماء اپنے ثواب دید کے مطابق" نګارشات حصه اول: صفحه: ۳۵۱ (ہماری سرگزشت)

Maktaba Tul Ishaat.com

او دَ فضل الباري مقدمه باندے دي صفحه: ۲۳ چه علامه شبراحمد عثماني ته دَ مولانا وحیدالزمان ترجمه خوښه وه ، لیکن عرض دادے چه دَ آحادیثو لفظي ترجمه باندے دَ احنافو څه اعتراض نشته او نه دا دَ وحیدالزمان صاحب دَ حنفیت دَلیل جوړیږي ځکه چه دَ هغه حواشي تشریحات او نظریات سره ، دَ هغ حنفي سره دَ مولانا شبراحمدعثماني اتفاق نشته ،

او په دے ښکلے تبصره په تعلیق دَ جواهر الاصول صفحه: ۳۹ باندے داسے ده "هو وحیدالزمان بن مسیح الزمان بن نور محمد ولد سنة ۱۲٦٦ هـ بکانبور کان حنفي المسلک في البدایة فترجم وشرح الکتاب المشهور "شرح الوقایه" وخرج آحادیث "نورالانوار" وشرح العقائد النسفیة ثم انتقل الي مذهب السلفیة بعد صحبة مولانا بدیع الزمان وترجمة کتب الاحادیث ومع ذالک له خلاف في بعض المسائل مع جمهور اهل الحدیث وله تفردات تدل علي میلانه الي التشیع ایضا توفي سنة ۱۳۳۸ هـ بوقارآباد"

د ابن حزم یوه عجیبه او نادره غلطه حواله

فأن اکل الکلب فی الاناء ولم یلغ فیه او ادخله رجله او ذنبه او وقع بکله فیه لم یلزم غسل الأناء ولاهرق ما فیه البتة وهو حلال اما هو کله کما کان که په لوښی کښې سپی داسے خوراک اوکړو چه شونډ ئے ښکته نه کړو (چه دا به لا ځنګه وی؟ امداد) یا خپه یا لکئ پکښې دننه کړه یا پکښې ټول پریوتلو نه د لوښی وینځل او نه د هغے څیز تویول ضروری طور باندِ شته دا ټول د مخکښې غوندِ حلال دے (ځکه دلته ولوغ نشته) او بیا لیکی که ولوغ وی لیکن د انسان لاس کښې څه وی یا داسے څیز وی چه دَ "اناء" اطلاق په هغے نه کیږی نو په دے د هیڅ څیز وینځل لازم نه دی لیکن ددے په تعلیق کښې احمد محمد شاکر لیکی دا ټوله غلو ده او د ظاهر په راتینګولو کښې مبالغه ده او د شریعت معانی ته نه کوری او د معقول څه لحاظ نه کوی الله چه یو څیز حرام کړے وی هغه ایذاء والا او ګنده وی او مزیدار طبیعتونو والا هغه پلیت ګنړی او د نجاست لرکول معقول المعنی دی او واجب دی عجیبه ده چه ابن حزم خوراک او څکاک دواړو کښې فرق کوی بیا ډیره عجیبه دا ده چه په شونډ خکته کولو او په لوښی کښې د سپی په غورځیدلو ټول په ټوله کښې فرق کوی او دا د طب په نظر سره ثابته ده چه خبیث امراض انسان ته متعدی کیږی چه د هغے نه بچ کیدل ضروری دی ، المحلی ۱ـ٩٦ او ابن حزم هغے اوبو ته چه په هغے لوښے اوینځلے شو پاک وائی چه په نص کښې ددے د اجتناب حکم نشته دغه اوبه څکل حلال دی حرمت به په امر نبوی راځی صـ٩٧ په دے هم احمد شاکر صاحب معاذالله وئیلے دی

چه "طهور اناء احدکم" ددے په پلیتئ دلالت په ظاهری معنی سره کوی چه هیڅ تاویل ته حاجت نشته دا پلیتے او د کرکے ناکاره اوبه دی،

مسئله: که چا کم عقل داسے ځناور یا د سخت ضرورت لکه د استصباح دپاره ذَ شحم ذَ ضرورت ذَ وجے ذبح کړو چه غوښه ئے خوړل حرام وی، په کړاؤ او په ذبح ذَ هغے پلیت رطوبات لرے شو نو د هغے څرمن له به هغه درجه حاصله وی چه کوم د دباغت په وجه حاصلیږی د عائشے رضی الله عنها روایت دے "زکاة المیت دباغها" سنن نسائی ۱ــ۱۶۹ د "زکاة" لفظ د ذبح په معنی کښ استعمالیږی چه مطلب ئے د ځناور پاکوالے دی او د "ایّما اهاب" کښ د "ایّما" ایما اهاب دبغ فقد طهر ، اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه والشافعی واحمد وابن حبان والبزاز واسحاق من حدیث ابن عباس صــ۱۷۰ بانډِ دی واما جلد الکلب المدبوغ فقالت طائفة من العلماء بعموم الحدیث ایما اهاب ولغ فقد طهرایما اهاب کښ ایما عموم هغه ځناورو ته شامل دے چه د هغے غوښه خوړلے کیدے شی او هغه هم پکښ شامل دی چه غوښه خوړل ئے حلال نه دی بلکه حرام دی لکه خر یا سپے شو" ډیر علماء دے طرف ته تلی دی چه د خنزیر استثناء د نورو دلیلونو د وجے ده"

.د احنافو د کتابونو دا جزئیه "ولو ذبح الکلب" په مطلب څوک نه پوهیږی یا ئی مطلب فقهائے احناف بدناموِل او تلبیس کول وی لیکی چه حنفی مسلک کښ ذَ سپی ذبح کول جائز دی ، بعض بدبخته په دے تفریع کوی چه خوراک ئے هم العیاذبالله جائز دے حالانکه غوښه یقینی حرامه ده صرف د څرمنے د پاکوالی خبره ده لیکن حنفی فقه کښ د سپی د ذبح کولو تعلیم یا ترغیب چرته نه دے ورکړے چه ددے د څرمنے حاصلولو دپاره سپے ذبح کوئ دا هسے په فقه حنفی کښ اسراری گر" نومی کتاب کښ په افتراءاتو کښ یو افتراء ده چه دغه ناترسه مؤلف نقل کړے ده او د هغه په تقلید جامد کښ بعض برائے نام غیر مقلد نقل کوی ذَ هغے وجه دا ده چه "لو ذبح" دا قضیه شرطیه ده ، وجود د جزئین نه غواړی صرف صدق د ملازمے غواړی "الاصابه :۱: ۹۴ "ان القضیة الشرطیة لاتستلزم الوقوع" او شیخ عبدالسلام قضیه شرطیه کښ دغسے قانون ذَ تفسیر احسن الکلام "أفان مات او قتل" په وضاحت کښ لیکلے دے،

دا شرعی قاعده ده چه په دغه طریقه ذَ خنزیر نه علاوه ذَ یوے مردارے صرف څرمن پاکیږی ، غوښه نه هغه حرامه او پلیته ده ، قال کثیر من المشائخ انه یطهر جلوده لا لحمه وهو الأصح واختاره الشارحون،

Maktaba Tul Ishaat.com

فتح القدیر ۱ـ۳۹ او مراقی الفلاح طبع حلبی صـ۹۹ باندِ دی "دون لحمه" په وضاحت کښې دی لأن حرمة لحمه لا لکرامته آیة نجاسته واللحم نجس حال الحیاة فکذا بعد الذکاة" دغسې غنیة المستملی صـ۱٤۳ باندِ دی "الصحیح ان اللحم لا یطهر بالزکوة" نو مفتی به قول دادے چه په ذبح سره د غوښے نه نجاست نه ختمیږی او بحرالرائق کښې دی چه نجس دی او معراج کښې دے ته د محققینو قول وئیلے دے او قاضی خان کښې دی دا اکثر مشائخ فرمائی که ددغه سپی بالفرض د ذبح نه بعد غوښه پیشو یا سپی ته داسے څائے کیخودلے شي چه خپله ئے اوینی وریسے لاړ شي اوئے خوري جواز لری او شائد ذبح به په دغه وجه شوے وی او ملا علی قاری مجموع رسائل ۹ـ۱۹٤ باندِ لیکلے دی "مع ان الامام مالکًا قال لطهارة الکلب وطهارة سؤره والأمربغسل الأناء سبعًا مع الترتیب جعله من باب التعبد وحسن التأدیب" وکذا جعل علماءنا سریره کسائرالنجاسات الخ او په دے بحث کښې صـ۱۹٤ باندِ لیکلے دی اذا الکلام انما هو علی فرض وقوعه والا فهذه المسائل کلها من اصلها ضعیفة والمذهب الصحیح خلافه الا ان فیها توسعه للعامة ورحمة للامة انتهی،

او بل طرف ته عرف الجاری صـ۱۰ باندِ دی سپے پاک دے او بدوراهله کښې دی غوخه ، اډوکے ، ویخته او خوله ئے پاکه ده ، او هدیة المهدی کښې دی پیشاب او پاخانه ئے پاکه ده، او تیسیر الباری ج:1،ص:136 کښې ده بخاری د یوحدیث تشریح لیکلی دی چه ددی حدیث نه امام بخاری د سپی په پاکے دلیل نیولی شوے دے

(۲): وَعَنْهُ قَالَ: قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «دَعُوهُ وَهَرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ أَوْ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: د سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه یو باندچے اودریدو نو مسجد کښې واره بول اوکړه نو خلقو هغه راګیر کړو پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دے پریږدئ او دَ ده په بولو یو بوقه اوبه واړوئ تاسو داسے حال کښې لیږلے شوے ئی چه آسانی پیدا کونکی ئی او نه ئے لیږلی شوے چه تنګستیا پیدا کونکی ئی،

تشريح: علامه ابن عبدالبر رحمة الله علیه التمهید ۱ــ۳۵۶ کښې روایت داسې ذکر کوی "انّ اباهریرة اخبره اعرابیًا بال فی المسجد فثار الناس الیه لیفهموه فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوه واهرقوا علی بوله ذنوبا من ماء او قال سجلًا من ماء" او مجمع الزوائد کښې باب فی بول الصبی د لاندې سیدنا حسن یا حسین رضی الله عنهما د هغې بولو ذکر کړې دې چه نبی صلی الله علیه وسلم په خیټه کینولې وو او بول ئې کړې دې"وعن أم سلمة أن الحسن أو الحسين بال على بطن النبي صلى الله عليه وسلم فقال النبي صلى الله عليه وسلم لا تزرموا إبني أو لا تستعجلوه فتركه حتى قضى بوله فدعا بماء فصبه عليه .رواه الطبراني في الاوسط وإسناده حسن إن شاء الله لان في طريقه وجادة"

قام اعرابي: اعراب ته ئې نسبت دې بانډچې ته وائې واحد ئې نیشته بلکه دا لفظ جمع استعمالیږی

عرب او اعراب کښې فرق

عرب خاص قوم دې که بانډه کښې وی او که په کلو کښې وی ، یعرب د اسماعیل علیه السلام بچې ډیره ښکلې عربي ویونکې وو او صحیح دا ده چه عرب عاربه د اسماعیل علیه السلام نه مخکښې وو په دوی کښې عاد ، ثمود ، جرهم او عمالیق وو د عربو حکمت د هغوی د ژبو په فصاحت او دَ الفاظو په حلاوت کښې دې او عبارات ئې ښکلي او خونده ور وی او دوی ته عرب ځکه وائې چه د دوی پلار یعرب بن قحطان اول هغه شخصیت وؤ چه عربي لغت به ئې وئیلو ددې اطلاق صرف په هغه چا کیږی چه صرف په بانډو کښې اوسی او اعرابي ته چه عربي اوائې خوشحالیږی لیکن عربي ته که اعرابي اُوئیلې شی غصه کیږی ځوک چه د عربیت په بنهریا کلو کښې اوسی عرب دی او چه بانډو کښې فقط اوسیږی اعراب دی" او مهاجرین او انصارو ته به اعراب نه وائې دا عرب دی حدیث کښې دی "حبّ العرب من الایمان" اخرجه الحاکم وابونعیم والطبرانی فی الأوسط کما فی المجمع،

د بانډچی مصداق

معارف السنن کښې دَ عبدالله بن نافع قول نقل کړې دې چه دا اقرع بن حابس دې او ابوالحصین بن فارس وائې چه دا عیینه بن حصن دې ، او ذوالخویصره د دوو کسانو لقب دې یو یماني دې چه چا دا وئیلی وو اللّٰهُمَّ ارحمنی وارحم محمّدا او هم د قیامت باره کښې تپوس کړې وؤ چه قیامت به کله وی او په دې کښې معلّی راوی مجهول دې او مسجد کښې واړه بول هم ده کړې دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دشاه انور قول عرف الشذی کښ دے چه دوه ذوالخویصره دی یو تیمی او بل یمانی ، او صاحب المنقبة یمانی دے او د خوارجو مشر تیمی دے او سید علی مالکی رحمة الله علیه نفع قوت المغتدی کښ لیکلے دی" دا ظاهره ده چه ذوالخویصره دَ بدعتیانو خوارجو مشر وؤ دے عاقل وؤ ده مسجد کښ او دَ خلقو مخکښ واړه بول نه دی کړی ، دا دده نه علاوه بل څوک بانډچی دے علامه سیوطی رحمة الله علیه مؤطا کښ لیکلے دی وهو القائل والبائل والسّائل، لیکن مرقات کښ ذوالخویصرة التیمی په نوم دے یا دوی او دغسے په فتح الاله کښ هم دی

د صاحب الحق الصریح استنباط

لیکی "کله ناکله بول قائمًا جواز لری دلیل دا حدیث دے چه دلته نبی صلی الله علیه وسلم په ده باندے رد نه دے کړے چه په ولاړه بول مه کوه نو دا تقریر د نبی دے انتهی،

لیکن نفسِ جواز په کله ناکله" نه دے موقوف ، همیشه جواز لری لیکن سنت نه دی ورنه پوره مسئله خو دا ده چه داسے اُوایه چه مسجد کښ کله کله بول قائمًا جواز لری چه هغه مسجد کښ واړه بول کړی دی" دا په یو اضطراری حالت حمل دے،

د بانډچی عذر

کیدے شی چه دا پته ورته نه وه چه مسجد کښ واړه بول نه دی پکار نوے اسلام ئے راوړلے وو او د پیغمبر د مجلس نه لرے اوسیدو (فتح الاله) ۲ــ چه چا له واړه بول تیزے ورغلے وی او شروع اوکړی نو دا دده بدن ته نقصان رسی که نیمگړے ئے په دۀ بندے کړے یسئلونک عن الشهر الحرام کښ چه کومه مسئله ذوجهتین ذکر کوی نو یو اصل دا دے چه د ډیرے فائدے دپاره لږ نقصان قابلِ برداشت دے پختانه وائی یو خوا ډانګ دے او بل خوا پړانګ دے . ۳ــ دریم حکمت دا دے که صحابو دے منع کولو نو هغه به د مسجد نه بهر وتلو او ځائے په ځائے به ټول مسجد پلیت شوے وؤ نو نسبتًا کم نقصان دے صورت کښ وؤ چه واړه بول دِ اوکړی

د مسجد دَ پاکوالی صورت

بدائع صنائع صــ۷۳ باندِ دی "وکذا الارض اذا اصابتها النجاسة وجفت وذهب اثرها" که زمکه پلیته شی اوچه شی آثار ئے ختم شی بیا ورته اوبه راشی یا منی جامے ته اورسی اوچه شی اوریژیدلے شی بیا

ورته لوند والے اورسی یا د یو مردارے څرمن له حکمی دباغت په خاوره لګولو یا په نمر کښ د کیخودلو په وجه ورکړے شی او بیا ورته اوبه اورسی دے ټولو مسئلو کښ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه دوه روایات دی ، او صــ۸۵ باندِ لیکلے دی "ولو اصابت النجاسة الارض فجفت وذهب اثرها تجوز الصلوة عليها عندنا و عند زفر لاتجوز وبه أخذ الشافعي، ولو تيمم بهذا التراب لا يجوز فی ظاهر الرواية" یعنی که پلیتی زمکے ته اورسیده اوچه شوه آثار ئے ختم شو څمونږ په نزد نمونځ په هغے کول جائز دی او د امام زفر او امام شافعی رحمة الله علیهما په نزد ناجائز دے او که په دے خاوره ئے تیمم اوکړو ظاهر الروایة کښ ناجائز دے لیکن دلته الحق الصریح کښ دی چه احناف ورسره دا فرق کوی چه دغه نجسه زمکه چه په نمر اوچه شوے وی په دے نمونځ کول جائز دی خو تیمم کول پرے ناجائز دی په دے فرق باندِ هیڅ دلیل نشته ، قیاسی خبره ده لیکن خیر المفاتیح کښ وجه د فرق بیان کړے ده چه تیمم دپاره د زمکے طاهر او مطهر کیدل ضروری دی (فتيمّمُوا صعيدًا طَيِّبًا) او چه د پلیتئ نه بعد زمکه اوچه شوه دا صرف طاهره ده ، پاکونکے نه ده

او بیا صــ۸۹ باندِ بدائع صنائع کښ دی که نجاست لوند وی او زمکه نرمه وی اوبه پرِ داسے واچولے شی چه لاندِ ترِ اورسی او هیڅ قسم نجاست پاتے نه شی نو پاکه ده او عدد له اعتبار نشته بلکه په غالب ظن به حکم لګی ، او ظاهرالروایة کښ درے ځله داسے اوبه اچول دی چه هر ځل اوبه لاندِ ترِ اورسی او که زمکه سخته وی او بره وی چه لاندِ د هغے ډوغل کنستلے شی نو درے ځله چه کله په دے اوبه واچولے شی بیا به دغه ډوغل بند کړے شی او که زمکه برابر وی نو بیا چه کله ترِ اوبه لر کیږی نو نورو اوبو اچولو څه فائده نشته او امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه ډیرے اوبه په هغے واچولے شی پاکیږی ، لیکن چه کله پلیتے اوبه حقیقةً باقی وی څنګه به پاکه پاتے شی لیکن پکار دی چه بره خاوره ورته خکته او خکته ورله بره شی چه دَ زمکے په ظاهری سطح پاکه خاوره پاتے شی "وهكذا روی انَّ اعرابيًا بال فی المسجد فأمر رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يحفر موضع بوله انتهى" چه کله باندِچی مسجد کښ بول اوکړه نو پیغمبر د بولو د ځائے د کنستلو حکم ورکړے دے" دلته الحق الصریح کښ دی "کوم روایت کښ چه امر په نقل التراب راغلے دے نو هغه منقطع او مرسل روایت دے او ضعیف دے کما فی نصب الرایه وفتح الباری ، دا رنګه د خاورو نقل کول که ضروری وے نو بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې پرې د اوبو راوړلو تکلیف څله کولو؟ ځکه په دې کښې خو بې فائدې تکلیف دې زمکه خو پرې هسې هم نه پاکیږی ، انتهی

او ابن حجر هیثمی رحمة الله علیه دغسې فتح الاله کښې لیکلې دی "علی انه لایجب نقل ولاحفر خلافًا لما نقل عن ابی حنیفة"

د نقل التراب وضاحت

مجمع الزوائد کښې باب فی الأرض تصیبها النجاسة دَ لاندِ روایت دے "فأمر النبی صلی الله علیه وسلم بمکانه فاحتفر وصبَّ علیه دلو من ماء" بیا ئې سمعان بن مالک باندِ کلام کړے دے او ورستو لیکی چه ابویعلی د سند بازه کښې لیکی چه د سیدنا انس رضی الله عنه نه ددے رجال صحیح نقل دی"

مسئله: دَ نبی صلی الله علیه د دعوت آداب څه عجیبه دی یو انګریز اقرار کوی چه داسې وخت کښې دَ نبی صلی الله علیه وسلم دغسې حوصله د بهترینو اخلاقو دلیل دے لیکن دَ خپل خصوصی صحابی نه چه کله توکانړی مسجد کښې توکلی دی نو د غضب آثار ئې مخ مبارک باندِ ښکاره شوے دی او عملًا ئې خپله هغه توکانړی لر کړے دی نوے کس باندِے به سخت تردید نه کوے او زوړ کس له سخته تنبیه دعوت کښې صحیح ده او دا هم ثابته شوه چه دَ باندېچی خبره دلیل نه دے بعض خلق چه دَ تفسیر مدارک په حواله د "وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا" آیت نمبر ٦٤ د لاندِ استشفاع عند القبر دپاره د اعرابی واقعه نقل کوی علامه ابن الهادی رحمة الله علیه الصارم المنکی کښې لیکلې دی چه د عتبی سند کښې لوډشیډنګ دے ، سند د واقعې ضعیف دے القاعدة الجلیلة کښې دی چه امام بخاری فرمائی د قصې په سند کښې نظر دے هاں دَ قیامت میدان کښې د نبی صلی الله علیه وسلم د شفاعت نه یو مسلمان انکار نه شی کولې صفا صحیح او صریح حدیث کښې راځی ، انا اول من یشفع"

د صاحب الحق الصریح دا خبره چه د اوبو د راوړلو تکلیف ولې اوشو؟ لیکن د بحث آخر کښې دوی خپله لیکلې دی چه کیدے شی دَ مانځه وقت له اوچه نشی نو ځکه ئې اوبو سره پاکی حاصله کړې ده" انتهی یعنی د اوبو اچولو یو حکمت دا دے چه فوری طور بدبوئی ختمه شی او د نمونځ دغه زمکه قابله

شی" او د ابوداؤد روایت کښې دی ثم لم یلبث ان یبال فی ناحیة المسجد، د مسجد یو غاړے ته دوی واړه بول کړی وو

حدیث مرسل دے یا متصل

ابوداؤد کښې مرسل دے او علامه شوکانی لیکلے دی چه حافظ ابن حجر عسقلانی فرمائی رحمة الله علیه چه مرسل روایت که د سند په اعتبار صحیح وی نو دَ نورو روایاتو دَ وجے پکښې قوت راځی لیکن دارمی او دارقطنی کښې ددے متصل سندونه شته او هغه روایت د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه دے چه یو راوی سُمعان بن مالک پکښې د امام ابوزرعه رحمة الله علیه په نزد ضعیف دے دغسے حکم پرِ دے ابوحاتم او امام احمد لګولے دے او دویم حدیث دَ واثله بن اسقع دے چه احمد او طبرانی روایت کړے دے ددے راوی عبیدالله هذلی ته امام بخاری او ابوحاتم رحمة الله علیهما منکر وئیلے دے او علامه شوکانی لیکی چه یو روایت د سیدنا انس رضی الله عنه نه دارقطنی بیان کړے دے او دَ عبدالجبار د تفرّد د وجے ورته معلول وئیلے دے

اهریقوا : علامه طیبی رحمة الله علیه لیکلےِ دی اهریقو" دَ اهراق یهریق سکون الهاء نه دَ امر صیغه ده اصل ئے اراق دے نو همزه په هاء بدله شوه بیا عوض کښې د عین کلمے د حرکت د ختمیدو نه پس راغله داسے شوه لکه چه دَ نفس کلمه نه وی بیا په هغے همزه داخل شوے ده

سجل او ذنوب کښې فرق

علامه طیبی رحمة الله علیه لیکی سجل هغه بوقے ته وائی چه اوبه پکښې وی که لږے وی یا ډیرے او دا مذکر استعمالیږی او "ذنوب" مؤنث استعمالیږی او دا بوقه ده چه د اوبو نه ډکه وی"

دَ امام نووی د نقل حیثیت

د مسلم شرح کښې ۱ــــ۱۳۸ بانډِ لیکلے دی "وفیه ان الأرض یطهر بصب الماء علیها ولایشترط حفرها وهذا مذهبنا ومذهب الجمهور، قال ابوحنیفة رحمه الله لاتطهر الا بحفرها" چه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی صرف د پاکئ طریقه دا ده چه دوغل به ورله کنستل پکار وی لیکن حافظ ابن حجر رحمة الله علیه فتح الباری کښې لیکلے دی چه دَ نووی اطلاق صحیح نه دے حالانکه والمذکور فی کتب الحنفیة التفصیل" که نرمه زمکه وی چه اوبه جذب کړی پاکیږی او که سخت وی نو دا خاوره به

Maktaba Tul Ishaat.com

لرکوے هله به پاکیږی" لیکن معارف ترمذی کښې دی چه څنګه د احنافو مذهب کښې غور نه دِ کړے دغسے حافظ صاحب هم تساهل کړے دے د صاحب بدائع خبره مخکښې ذکر شوه او صاحب د بحر لیکی که زمکه سخته د ډهال غونډِ وی" یعنی خکته ، بره وی نو د طهارت طریقه دا ده چه لاندِ غاړے ته دوغل اُوکنه او اوبه چه په هغے اوبهیږی ، پاکیږی او که سخته زمکه د ډهال غونډِ نه وی نو د هغے خاوره به لرکولے شی لیکن دا صورتونه هغه وخت کښې دی چه فوری د پاکوالی ضرورت وی" لیکن که انتظار اوکړے شی اوچه شی پاکه ده"

د صاحب الحق الصریح صراحت

لیکی "اوبه اوچ والی سره هم پاکیږی چه زمکه اوچه شی نو پاکه شوه او دا صحیح او راجح قول دے دَ احادیثو مطابق دے

د امام غزالی صراحت

ملا علی قاری مرقات کښې لیکلے دی چه ددی منخول کښې صراحةً لیکلے دی چه ددے حدیث نه د شوافعو استدلال صحیح نه دے ځکه چه د فوری پاکوالی دَ وجے دَ مسجد پاکی په اوبو شوے ده ،

د احنافو دلیل

زکوة الارض یبسها دَ محمد بن الحنفیة اثر دے مصنف ابن ابی شیبه ٦٢٩ باندِ سند ذکر کوی حَدَّثَنَا الْمُطَّلِبُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُهَاجِرِ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ زَكَاةُ الأَرْضِ يُبْسُهَا. او دا اثر ئے هم ذکر کړے دے اذا جفت الأرض فقد ذکت"

الحاصل

د اُحنافو په نزد اعلی صورت اوبه اچول دی او که په هوا یا نمر ځائے اوچ شی کافی کرځی لیکن د امام شافعی او مالک په نزد اوبه اچول ضروری دی د ابوداؤد ترجمة الباب دے "طهور الأرض اذا یبست" او دَ ابوداؤد بل روایت کښې شته چه کوم ځائے دوی واره بول کړی وؤ هلته نه خاوره کنستلے شوے وه او ورستو ئے په دے اوبه اچولے دی نو د اوبو اچول صرف دَ بد بو ختمیدو دپاره ده نه د خاص د تطهر دپاره،

د حافظ ابن حجر موقف

تلخیص الحبیر ۱ــ۱۸٤ بانډِ لیکی چه زکوة الأرض یبسها د احنافو دلیل دے او مرفوع کښې ورله اصل نشته او ابن ابی شیبه موقوفًا د ابوجعفر محمد بن علی الباقر نه روایت نقل کړے دے او عبدالرزاق د ابو قلابه نه "جفوف الأرض طهورها" الفاظ نقل کړی دی او ابن حجر لیکلے دی چه ځائے اوکنئ بیا پرِ بوقه واچوئ او لیکی چه ددے مرسل طریقے سند صحیح دے "اذا ضمت الی احادیث الباب اخذت قوة" د باب د حدیثونو د وجے پکښې طاقت راځی او امام طحاوی د ابن عیینه ، عمر او د طاؤس نه ددے نقل کړے دے او دغسے سعید منصور دَ ابن عیینه نه نقل کوی د طحاوی شرح معانی الآثار ۱ــ۱٤

د احنافو اهم دلیل

ابوداؤد کښې روایت دے "کانت الکلاب تقبل وتدبر وتبول فی المسجد فلم یکن یرشون شیئا من ذالک" امام بخاری دا روایت راوړلے دے لیکن په هغے کښې "تبول" ذکر نشته دے روایت کښې دی چه مسجد نبوی کښې به د سپے مسجد کښې بول اوکړل" صحابه کرامو به په هغے اوبه نه اچولے یعنی د هوا د چلیدو د وجے هغه ځائے به اوچ شی او صحابه کرامو به په هغے نمونځ کولو" علامه خطابی معالم السنن کښې لیکلے دی چه سپو به د مسجد نه باهر چه کله بول اوکړل بیا به دننه راتلل" شاه انور کشمیری رحمة الله علیه به فرمائیل خه ده چه داسے نه دی وئیلی چه سپو به استنجاء کوله" الحق الصریح کښې دی سپی که مسجد ته راځی نو مسجد وینځل لازم نه دی او که متیازے اوکړی اوچے شی نو د هغے وینځل لازم نه دی فأنما بعثتم میسّرین الخ" اصالة او بالذات بعثت د نبی علیه السلام شوے دے او صحابو ته دا نسبت مجازًا شوے دے

البدایه والنهایه ط پشاور جلد ٤ــ٤٤ بانډِ واقعه ده چه سیدنا مغیره بن شعبه رستم بادشاه سره مذاکرات کول خپل منشور داسے بیانوی "الله انبعثنا لنخرج من شاء من عبادة العباد الی عبادة الله ومن ضیق الدنیا الی سعتها ومن جور الادیان إلی عدل الاسلام" صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی چه الله مونږه مبعوث کړی یو تبلیغی جماعت والا منشران څکه فرمائی چه دا امت مبعوث دے

حدیث کښې پیغام دے چه داعی به داسے ځایونو کښې مداهنت هم نه کوی لیکن بے ځایه سختی به نه کوی"

Maktaba Tul Ishaat.com

(فوائد) علامه عینی رحمة الله علیه لیکلے دی چه د جمات صفائی ضروری ده ۲۔ نفل نمونځ کور کښې غوره دے ۳۔ عبادت درس وتدریس ، د وعظ اوریدل او د مانځه انتظار کول مسجد کښې مستحب دی ٤۔ امام شافعی رحمة الله علیه کتاب الأم کښې صراحة لیکلے دی چه خوب پکښې جائز دے ، ابن عباس رضی الله عنه فرمائی مسجد به د آرام ځائے نه جوړوے او امام اوزاعی رحمة الله علیه مسجد کښې خوب ته مکروه وائی او امام مالک رحمة الله علیه فرمائی مسافر له صحیح دے او دغسے امام احمد رحمة الله علیه هم وئیلے دی او چه څوک خوب ته مسجد کښې جائز وائی د علی او د عمر رضی الله عنهما او د اهل الصفه او د هار هغه توره ښځه او د ثمامه او د صفوان د واقعاتو نه استدلال کوی ٥۔ په دے کښې د ترغیب اعلم المصلحتین بترک ایسرهما،

(۳):وَعَن أنس قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ مَه قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُزْرِمُوهُ دَعُوهُ» فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ: «إِنَّ هَذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تصلح لشَيْء من هَذَا الْبَوْل وَلَا القذر إِنَّمَا هِيَ لذكر الله عز وَجل وَالصَّلَاةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ» أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأمر رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فسنه عَلَيْهِ

ترجمه: سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه دے مینځ کښې چه مونږه جومات کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چه په دے کښې یو باندچی راغے او په اولاړه ئے په مسجد کښې واړه بول اوکړل صحابو ورته اوئیل مه کوه مه کوه پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل په ده واړه بول مه بندوئ پریدئ دے نو خلقو پریخودلو تر دے چه بول ئے اوکړل بیا نبی علیه السلام دے راؤغوختلو ورته ئے نصیحت اوکړو چه دے عظمت والا جماعتونو سره دَ بولو او کندګئ کول صلاحیت نه لری

یقینًا دا جماتونه د الله د ذکر، نمانځه او د قرآن د لوستلو دپاره دی او دغه شان خبره پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوکړه او یو سړی ته د قوم نه ئے حکم اوکړو هغه یو ډکه بوقه اوبه په بولو واچولے،

تشریح : التعلیق الفصیح قاضی شمس الدین رحمة الله علیه د مولانا رشیداحمد گنگوهی رحمة الله علیه قول نقل کړے دے چه دلته د پاکوالی دواړه طریقے جمع دی او ددے جمع غرض پورا صفائی، ستهرائی او د بدبوئی دَ مادے ختمول دی

(مَهْ) هیثمی رحمة الله علیه فتح الاله کښې لیکی اسم فعل دے معنی ئے ده مه کوه،

(لأنَّ هذه المساجد) دا حکم یواځے دَ مسجد نبوی سره خاص نه دے او اسم اشاره ئے سره د مشارالیه د حضور نه د التباس دَ ختمولو دَپاره اوکړه،

اشعةالمعات کښې دی ددے نه معلومه شوه چه مخکښې روایت کښې د تناول نه مراد په ژبه بندول دی نه په لاسونو او مجمع البحار کښې ٤ـ٨٢٥ باندِ دی ای بألسنتهم لا بأیدیهم او امام بیهقی او امام نسائی رحمة الله علیهما ذکر کوی فصاح الناس" (لمعات التنقیح) . کله چه دواړه واقعے د یو مسئبے سره تعلق سائی، هذه المساجد کښې اشاره تعظیم ته او هذا البول کښې اشاره تحقیر ته ده .

(انما هی) موضوعة شرعًا وعرنا . (فتح الاله)

(او کما قال) داسے او یا داسے قول سره مشابه قول ئے اوفرمائیلو کله چه راوی شک کوی علامه طیبی لیکی چه داسے خبره کوی او دوئم ځل (قال) د راوی کلام دے،

شن او سن کښې فرق

په ییړا او ستیل ئےپرے اوبه واچولے علامه عینی رحمة الله علیه لیکلے دی چه سن پرله پسے اوبه اچول دی او (شن) چه پرله پسے نه وی بلکه انقطاع پکښې لږه راغلے وی

مسئله: که پلیته زمکه اوچه شوه بیا لونده شوه دوه قوله دی صحیح قول دا دے چه ناپاکه نه ده، بحرالرائق کښې دی "وامَّا مسئلة الأرض فقال قاضیخان فی فتاواه الصحیح انها لاتعود نجسة وقال فی المجتبی الصحیح عود عدالنجاسة"

(متفق علیه) دا الفاظ د امام مسلم رحمة الله علیه دی او د امام بخاری رحمة الله علیه معنی ده

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤):وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصّديق أَنَّهَا قَالَتْ: سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّهِ أَرَأَيْتَ إحدانا إِذا أَصَاب ثوبها الدَّم من الْحَيْضَة كَيْفَ تَصَنع فَقَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذا أَصَاب ثوب إحداكن الدَّم مِنَ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ ثُمَّ لتصلي فِيهِ»

ترجمه : د اسماء بنت ابی بکر نه روایت دے چه یوے ښځے د نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو خبر راکړه چه مونږه کښې دَ یو تن کپړے ته دَ حیض وینه اورسیده څه به کوی؟ نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه که تاسو کښې د چا کپړے ته حیض وینه اورسیده نو د ګوتو په سرونو او نوکونو دِ کلک کلک اومږی بیا دِ په هغے اوبه واچوی او بیا دِ په دے کښې نمونځ کوی

تشریح : د حیض وینه بالاتفاق پلیته ده ، امام بخاری رحمة الله علیه صحیح کښې باب ترلے دے (باب غسل الدم) شاه انور شاه کشمیری رحمة الله علیه فیض الباری کښې ۱ــــ۳۱۹ باندِ وضاحت کښې فرمائی چه شوکانی خپله فقه په دررالبهیة کتاب کښې جمع کړے ده او دے کښې بعض داسے مسئلے لیکلے دی کیدے شی چه عمل کونکی ته په هغے معافی او نه کړی چه د حیض او د انسان دَ غټ اودس ماتی او د بول نه علاوه ټول څیزونه پاک دی تر دے چه د خنزیر وازده هم حرامه نه ده" ځکه قرآن د خنزیر غوښه حرام کړے ده او وازده غوښه نه ده ځکه نعوذبالله حرامه نه ده نو د حیض وینے ته شوکانی هم پلیته وائی،

باب غسل الدم فیض الباري:۱: ۳۱۹ "وجمع الشَّوْكَاني فقهه في رسالة سمَّاها «الدُّرر البَهِيَّة»، ووضع فيها مسائل أخشى على العامل بها أن لا يُغْفَر له، منها: طهارة جميع الأشياء سوى دم الحيض، وغائط الإنسان، وبوله. وقال: إنَّ شَحْم الخنزير ليس بحرامٍ، لأن القرآن سمّى لحمه حراماً، والشحم ليس بلحمٍ، فلا يكون حرماً، ونعوذ بالله منه."

حیضة: اشعة اللمعات کښې دی د حاء کسره او فتحه دواړه جائز دی او مرقات کښې دی چه فتح سره حیض ته وائی او په کسرے سره هغه کپړے ته وائی چه د حیض دوران کښې ښځه خصوصی طور استعمالوی او دلته حدیث کښې دواړه احتماله دی او مشهور روایت د کسرے دے" او ابن الملک وائی

چه دَ حاء په کسرے سره کپړے ته وائی او کله کله دَ حیض یو نوعه او نوم ئے هم مصداق جوهری او په قرائنو سره د دواړو مینځ کښ فرق کیدے شی" او په فتحے سره په یو کرت هم دلالت کوی یعنی د حیض څه وینه جامے ته اورسی ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلے دی چه امام نووی رائے عجیبه ده دا روایت بے دلیله ضعیف گرځولے دے او حالانکه اسناد ددے صحیح دے

فلتقرصه: اشعةاللمعات کښ شیخ عبدالحق رحمة الله علیه معنی کوی چه د گوتو په سرونو او نوکونو دِ هغه اومگی ، فتح الاله کښ دی چه د گوتو په سرونو او نوکونو مکلو ته وائی چه بیا پرِ اوبه واچوے چه آثار ئے ختم شی او دَ وینے په پاکولو کښ به مبالغه کوی

د حدیث نه استنباط

اصح قول احناف دا گنړی چه دلته پاکوالی له به اعتبار په غالب گمان سره وی رأی د مبتلی به له اعتبار دے الحق الصریح کښ دی چه په دے کښ دَ قدرالدرهم استثناء نشته حالانکه دَ بعض صحابو نه دغسے استثناء ثابته ده دارقطنی کښ باب قدر النجاسة التی تبطل الصلوة صـ۳۸۵ باندِ ۱۴۸۵نمبر روایت دے او سنن بیهقی کښ باب ما یجب غسله من الدم ۱ـــ۵٦٦ باندِ ۴۰۹۳ نمبر روایت دے "عن ابی هریرة قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کان فی الثوب قدر الدرهم من الدم غسل الثوب واعیدت الصلوة" په دے روایت کښ روح بن غطیف الثقفي دے او په اسماء الرجال کتابونو کښن په دَ باندے ډیر دے،

او علامه شامي هم قدر درهم نجاست باندے اعاده لیکلے ده ،(حاشیه ابن عابدین :۱: ۳۱۷)

او طحطاوی علی المراق صـــ۹۰ باندِ دی "المراد عفی الفساد به وإلا فكراهة التحريم باقية إجماعا إن بلغت الدرهم وتنزيها إن لم تبلغ" فتح الاله کښ علامه هیثمی لیکلے دی چه د کپړے ذکر دلته دَ تقیید دپاره نه دے بلکه قید واقعی دے دا حکم یواځے کپړے سره خاص نه دے بلکه عام دے ابن حجر هیثمی لیکلے دی که رنگ یا بدبوئی په هیڅ څیز هم نه ختمیږی اگرچه رنگ یا ریح کښ یو موجود وی بیا به هم دغه محل پاک گنړلے کیږی ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه کله تپوس اوشو چه اثر که بیا هم باقی وی اوئے فرمائیل "یکفیک ولا یضرک اثره" اگرچه دے کښ ضعف دے لیکن د یو جماعت په خبر ددے قوت راتلے شی" چه بیهقی ۳۹۲۰ او مسند احمد ۸۷۵۲ باندِ روایت دے "سألته

Maktaba Tul Ishaat.com

امرءة عن دم الحیض تغسله فیبقی اثره" جواب ئے دغه ورکړے دے "یکفیک ولایضرک اثر" او چه خومره کیدے شي د معصیت نه دَ وتلو دپاره فوری پاکوالے به خه وی او که دَ مړی نه نجاست راؤځی پاکوالی کښ تلوار کول ځکه واجب دی چه دفن کښ تلوار پکار ده او که مسجد کښ نجاست چا ته په نظر راغے تلوار کول د هغے د لرکولو دپاره لازم دی دا په ده فرضِ عین دی

ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ : دلته مراد اوبه اچول دی د اوبو ترمتیا کول نه دی مراد ځکه خیرالتوضیح کښ دی چه نفح په عربئ ژبه کښ د "هبت الماء" په معنی مستعمل دے د نبی علیه السلام ارشاد دے "انّی لأعرف مدینة ینتضح البحر بجانبها" یعنی د سمندر اوبه ددغے ښهر غاړے سره لګی او دغه د صب معنی ده د حدیث نه معلومه شوه چه د حیض وینه نجاست غلیظه ده ددے په وینځلو کښ مبالغه پکار ده او درئمه مسئله دا معلومه شوه چه پلیته جامه په وینځلو سره پاکیږی اوچول شرط نه دی ، او دریمه مسئله اهم معلومه شوه چه د نضح معنی دلته اوبه ترمتیا کول نه دی بلکه وینځل دی ځکه چه د حیض وینه په ترمتیا کولو د اوبو پاکیږی نه دا حدیث دَ ورورک متیازے دَ پلیتئ باره کښ د امام اعظم دلیل دے لکه مسئله رارروانه ده چه په دغه روایت کښ د نضح نه وینځل مراد نه دی لکه دلته حدیث کښ وینځل مراد دی شیخ الهند رحمة الله علیه تقریر الترمذی کښ لیکلے دی چه امام شافعی رحمة الله علیه د نضح تفسیر په غسل خفیف سره کوی دغه تفسیر امام شافعی رحمة الله علیه له مناسب دے چه د ماشوم دَ بول په باب کښ هم اوکړی

د امام ترمذی تحقیق

که په جامه وینه اولګی نو د وینځلو نه مخکښ ددے حکم کښ اختلاف دے، بعض علماء او تابعین فرمائی چه د درهم په اندازه وینه او نه وینځی او نمونځ ئے پکښ اوکړو د نمونځ اعاده کوی او بعض اهل العلم فرمائی چه د درهم دَ مقدار نه کله زیات وی اعاده به کوی او دا دَ سفیان ثوری او د ابن مبارک قول دے او بعض اهل العلم او تابعین وغیرهم اعاده نه واجبوی اګرچه دَ درهم مقدار نه زیات وی لکه امام احمد واسحاق رحمهما الله لیکن امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی وینځل ئے ضروری دی اګرچه د درهم نه کم وی او امام ترمذی رحمة الله علیه لیکلے دی "وشدّد فی ذالک" دا یو قسم تشدد دے

سوال : دلته یو سـوال دے چه د حیض پلیتی هر چا ته ښکاری نوزو ښځو ددے سوال څنګه اوکړو
جواب : ښځے دا سوچ اوکړو چه دے کښ ابتلاء عامه ده لکه د پیشو په جوټه کښ ، هغے کښ تخفیف دے دلته به هم تخفیف وی نبی علیه السلام اوفرمائیل چه د حیض وینه ترے مستثنی ده ۔ دے ښځے کنړل چه کپړا باندے د حیض وینه اولګی د کټ کیدو د کپړے نه علاوه به بله لار نه وی ، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه دومره سختی بکښ هم نشته

مسئله کښ اختلاف

هدایه کښ دی "قال محمد وزفر والشافعی لا یجوز الا بماء" او دا اسماء بنت ابی بکر روایت دَ دوی دلیل دے چه دلته د اوبو ذکر راغلے دے علامه عینی عمدة القاری کښ لیکلے دی "هذا خرج مخرج الغالب لامخرج الشرط" اکثر خلق ددے لرکول اوبو سره کوی ځکه د اوبو ذکر شوے دے د شرط په درجه کښ نه دے او قید اتفاقی دے لکه قرآن کښ دی "وربائبکم اللتی فی حجورکم" دے آیت کښ قید اتفاقی دے او اوبه اکثر ملاویږی

(دویم جواب) "تخصیص الشیئ بالذکر لایدل علی نفی ما عداه" د اوبو د ذکر نه دا نه لازمیږی چه بغیر د اوبو نه په بل څیز دِ پاکی رانشی

(دریم جواب) دا مفهوم قلب دے څمونږ د امام په نزد حجت نه دے انتهی

د احنافو دلیل

امام بخاری رحمة الله علیه باب تړلے دے "هل تصلی المرءة فی ثوب حاضت فیه" او د ابوداؤد باب دے "باب المرأة تغسل ثوبها الذي تلبسه في حيضها" او د عائشے رضی الله عنها روایت ئے نقل کړے دے "ما كان لإحدانا إلا ثوب واحد تحيض فيه فإذا أصابه شيئ من دم قالت بريقها فقصعته بظفرها" چه مونږ سره به صرف یوه جامه وه او د حیض په وخت کښ به ورسره څه وینه اولګیده نو په توکانړو به ئے په نوکونو هغه منګله" وینه د ټولو په نزد ناپاکه ده او ظاهره دا ده چه توکانړی خو اوبه نه دی معلومه شوی چه د اوبو نه علاوه بل داسے غوندِ څیز سره هغه ناپاک څیز پاکیدے شی" نو د علامه طیبی رحمة الله علیه وغیره دا استدلال دَ روایت نه مخدوش دے "فی الحدیث دلیل علی تعمس الماء فی ازالة النجاسة" دغسے فتح الاله کښ د خپل مذهب د اثبات دپاره علامه هیثمی رحمة الله علیه هم لیکلے دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵):وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ فَقَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِي ثَوْبِهِ ، متفق علیه

ترجمه : سلیمان بن یسار فرمائی د مور ابیٔ نه ما د منیٔ باره کښې ما تپوس اوکړو چه کپړے ته اورسی اوئے فرمائیل ما به منی د نبی علیه السلام دَ جامے نه وینځله هغه به مانځه له وتلو حال دادے چه د وینځلو هغه نخے به د هغوی جامه کښې موجود وے"

تشریح : دَ سلیمان بن یسار مختصر حالات

مرآۃ المناجیح کښې دی چه د دوی کنیت ابو ایوب دے او دا دَمیمونة ام المؤمنین آزاد کړدۀ غلام دے فقیه تابعی دے د عطاء بن یسار رحمة الله علیه ورور دے ۱۰۷ هجریٔ کښې د ۷۳ سال عمر کښې وفات شوے دے اووه (۷) چه کوم مشهور فقهاء وو یو پکښې دوی هم دی ، فاضل ، قابل اعتماد ، عابد او حجت وۀ

د ائمه اختلاف

التعلیق الصبیح کښې د امام مالک رحمة الله علیه قول نقل کړے دے چه منی نجسه ده لیکن امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی که اوچه وی نو فرک یعنی توکل او محل کافی دی او دا د امام احمد رحمة الله علیه نه هم یو روایت دے او د امام مالک رحمة الله علیه په نزد که لونده وی یا اوچه وینځل ئے ضروری دی ، او د امام شافعی او د داؤد او د امام احمد رحمة الله علیهم اصح روایت دَ پاکئ دے مرآۃ المناجیح کښې دی که منی اوچه وی د آسانتیا دپاره ددے مرل او لر کول کافی دی" د غنمو غوبل به چه بغوا کیدو په دے به په غنمو ځناورو واره بول کول ددے نه دا نه لازمیږی چه دغه واره بول یا خشنره دِ پاک وی

کفایه کښې د امام محمد رحمة الله علیه نه نقل دی که منی تینکه وی اوچه شوه په مکلو ، مخلو پاکیږی او که نرمه وی وینځل ئے ضروری دی لیکن درمختار کښې دی چه نرمه او تینکه کښې فرق نشته

حدیث کښې مطلقًا دی چه "فرک" کافی کیږی دغسې د انسان او دَ غیر انسان منئ کښې او د مذکر او مؤنث منئ کښې فرق نشته ټولے یو شان پلیتے دی

د ابن دقیق العید قول

التعلیق الصبیح کښې د قیاس وجوه د دوی نه درے نقل کړے دی

(۱) دا منی په داسے مقر کښې ده چه پکښې پلیت څیز د نورو دغسے فضلاتو غونډِ چه کنده دی جمع کیږی پکار دی چه نجس وی

(۲) کوم احداث چه د طهارت دپاره موجب دی هغه نجس دی او منی هم په هغے احداثو کښې حسابیږی چه د طهارت دپاره موجب گرځی

(۳) دا دَ بول د لارے نه راؤځی نو نجس دی کذا فی احکام الأحکام

مولانا کاندهلوی رحمة الله علیه لیکلے دی چه د اودس او دَ طهارت دپاره موجب د نجاست راوتل دی نو موجب د اغتسال دِ هم د نجس خروج څکه وی چه د شریعت د قواعد نه خلاف رانشی او د پاک څیز راوتل د پاکوالی دپاره موجب گنړل دا خوڅه معنی لري او حافظ ابن عبدالبر رحمة الله علیه لیکلے دی چه صرف دا علت جامعه دَ منئ د نجاست دپاره کافی گرځی چه د بول ، مذی او ودی مخرج یو دے

د مولانا زبیر علی زئی مسلک

توضیح الأحکام صـــ۲۱۰ باندِ لیکلے دی چه زمونږ په نزد راجح دا ده چه منی ناپاکه ، پلیته او نجس ده دَ احنافو دَ تره څامن شوافع ورته پاک وائی لیکن امام شوکانی ،نواب صدیق او گڼړ محققین سلفی علماء ددے دَ نجاست قائل دی نیل الأوطار ۱ـــ۶۷ ، تحفة الأحوذی ۱ـــ۱۱۴ـ۷ المرعاة کتاب الطهارة ۲ـــ۱۹۴ او دے وائی چه زه هم دغه وائم چه منی ناپاکه او نجسه ده دے ته پاک وئیل غلط دی توضیح الأحکام صـــ۲۱۲

دَ منئ دَ پاکئ مطلب دَ دے خوړل نه دی

عام غیر مقلدین ورته پاکه وائی چه کله جامے سره اولگی جامه پاکه ده لیکن فقه محمدیه ۱ـــ۴۶ باندِ لیکلے دی چه منی پاکه ده او یو قول دا دے چه د خوراک اجازت ئے هم شته (ابوالحسن محی الدین غیر مقلد)

Maktaba Tul Ishaat.com

الحق الصريح کښې دَ منئ دَ وينځلو توجيه

ليکې وينځل دَ نظافت دپاره شوے دی لکه خيرې وينځلے کيږي خو نجس نه دی او که نجس وے نو فرک به کافی نه وے بلکه د وينے پشان وينځل به ضروری وۀ او دَ نظافت خبره دوی په تکرار سره دے مقام کښې ذکر کړے ده انتهی

(دَ حافظ ابن حجر تحقيق) وينځل استحبابًا د تنظيف دپاره دی ، نه د وجوب دپاره،

شيخ عبدالحق محدث دهلوی او اشعة اللمعات

ليکې اگر گويند شايد که غسل وفرک از جهت کمال نظافت باشد نه برائے طهارت که څوک اوائی چه وينځل او توکل دا دَ ډيرے صفائی دَ وجے دی نه ده پاکئ دپاره نو هغوی ليکی دا خبره دَ ظاهر خلاف ده او د دليل پوره والے په دے راځی چه د پليتو څيزونو سره ئے منی جمع کړے ده لکه چه هدايه کښې حديث راوړلے دے چه "يغسل الثَّوْب من خمس من الْبَوْل وَالْغَائِط والمني وَالدَّم والقيء "انتهی

د روايت مقام

دا روايت دارقطنی کښې په "باب نجاسة البول والأمر بالتنزه منه" ۱ـــ۳٤ ، روايت نمبر ٤٥٢ کښې ذکر دے ليکن دارقطنی کښې په دے اعتراض دے چه ددے په سند کښې ثابت بن حماد د علی بن زيد نه په روايت کښې متفرد دے

د اعتراض جواب

طبرانی په خپل کبير کښې د ثابت بن حماد متابع حماد بن سلمة ذکر کړے دے او علی بن زيد د مسلم په رجالو کښې دے عجلی ورته لابأس به او امام ترمذی رحمة الله عليه ورته صدوق وائی

د نظافت دَ توجيه دوئم جواب

علامه عينی رحمة الله عليه عمدة القاری ۲ـــ٦٣٥ بانډِ ليکلے دی "وقوله بأن يحمل الغسل على الاستحباب للتنظيف لا على الوجوب كلام واه وهو كلام من لا يدري مراتب الأمر الوارد من الشرع" دَ صفائی استحبابًا توجيه هسے خبره ده دا هغه څوک وائی چه د شرع د امر دَ مراتبو نه خبر نه وی ځکه چه د امر اوچته مرتبه وجوب ده او د ټولو نه کمه اباحت ده او دلته اباحت نشی کيدے چرته دغسے نبی

صلی اللہ علیہ وسلم منی پہ خپلہ کپڑہ بے د فرک یا د غسل نہ نہ دہ پریخودلے او دغسے مواظبت پہ دے دَ صحابو ہم وؤ نو دا بے دَ نزاع نہ دِ پہ وجوب دلالت اوکڑی

توثیق د علامہ ابن حجر

تلخیص الحبیر:صــ۱۷۳ بانڈِ لیکلے دی "أَنَّهَا كَانَتْ تَحُتُّ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي قال ابن ملقن هذا اسناد علی شرط الصحیح کلّ رجاله ثقات"

د مصنف ابن ابی شیبة روایت

۱ــ۵۱۱ نمبر ۹۱۹ بانڈِ د ابن مسعود رضی اللہ عنہ عمل ئے ذکر کڑے دے کان یغسل اثر الأحتلام من ثوبه او دَ ابراھیم او د ابن عمر رضی اللہ عنہ آثار ئے ہم ذکر کڑے دی ،

یو سوال او د هغے جواب

د شاہ انور رحمۃ اللہ علیہ نہ عرف الشذی کښی نقل دی چہ د فرک روایات پہ پاکوالی څکہ دلالت کوی چہ دے سرہ بعض اجزاء د منیٔ باقی پاتے کیږی دا پہ پاکیٔ دلالت کوی

د شاہ انور جواب

کومہ موزہ چہ پلیتہ شی دے کښی ہم دلک کافی گرځی سرہ ددے چہ بعض اجزاء دغسے باقی پاتے وی اَو بلہ دا دہ چہ دَ حیض د وینے بارہ کښی بعض روایاتو کښی فرک راغلے دے د هغے بہ څہ جواب وی؟

د مبارکپوری تحقیق

تحفہ کښی لیکی چہ د منیٔ د توکلو روایت د منیٔ پہ پاکوالی دلالت نہ کوی بلکہ دا خو بخپلہ ددے د پاکوالی یو کیفیت او طریقہ دہ

د حافظ ابن حجر تحقیق

لیکلے دی چہ د نجاست د پاکوالی دپارہ وینځل ضروری نہ دی او چہ پہ فرک اکتفاء اوشوہ نو معلومہ شوہ چہ منی پلیتہ نہ دہ کنی وینځل بہ ضروری نہ وؤ لیکن احناف وائی چہ دا قیاس څکہ صحیح نہ دے چہ د نجاست د پاکوالی دپارہ وینځل نہ دی ضروری د غسل غونڈِ پیغمبر علیہ السلام نور بعض څیزونہ مطہر خودلے دی مثلاً پہ قلب حقیقت سرہ څیز پاکیږی لکہ خر چہ د مالگے کان کښی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوغورځيدو نو پاک شو دغسے په زمکه که نجاست اولګی او زمکه اوچه شی نو پاکه ده ، دغسے که په چاقو وینه اولګی اوچه شی او په مکلو ختمه شی نو چاقو پاک دے

د احنافو د دلیل حاصل

که منی پاکه وے نو یو ځل به بیان جواز له پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل حال په جامه یا بدن دغسے پریخودے وے او منی که دَ شا نه هم راؤځی لیکن رجع ئے هم په دغے لار راوتل دی،

د صاحب الحق الصريح دَ دویم دلیل وضاحت

عن ابن عباس قال : سئل النبي صلى الله عليه و سلم عن المني يصيب الثوب قال إنما هو بمنزلة المخاط والبزاق وإنما يكفيك أن تمسحه بخرقة أو بإذخرة (دارقطنی ، بیهقی ، طحاوی ، نصب الرايه او مجمع الزوايد) څوک ورته موقوف او څوک ورته مرفوع وائی انتهی ، لیکن دا پته او نه لګیده چه دوی ورته څه وائی

قاضی شوکانی څه وائی

نیل الأوطار کښ لیکلے دی "إنما هو بمنزلة المخاط والبزاق والبصاق كما في الحديث السابق وأجيب بأنه موقوف كما قال البيهقي --- ولكنه أفضى الأمر إلى تلفيق حجج واهية" روایت موقوف دے داسے خبرے کمزورو دلیلونو ته رسی نصب الرايه کښ دی چه د ابن عباس دا سند موقوفًا څه دے لیکن دَ تشبیه وجه د طهارت نه ده بلکه ددے د لرکولو دَ طریقے بیان دے

او تنسيق النظام حاشیه د مسند د امام اعظم صـــ۳۸ باندِ دی والمرفوعات كأنها متظافرة حكمها على ما يدل على نجاسته، دا موقوف روایت دے لیکن مرفوعات په نجاست دلالت کوی

د علامه هیثمی په روایت کلام

مجمع الزوائد کښ چه د ابن عباس دا قول انما هو بمنزلة المخاط طبرانی چه په کبیر کښ کوم سند سره ذکر کړے دے "وفيه محمد بن عبيدالله حزرمی وهو مجمع على صنقه" او ددے روایت رجال ثقه دی چه منی به په إذخر یا ورځ مونږ لرے کوله

د علامه عینی جواب

لا نسلم ان القیاس صحیح د کنړ او د پوزے په راوتلو سره هیڅ قسم حدث نه واقع کیږی او منی باعث د خباثت گرځی چه باعث د غټ حدث دپاره جوړیږی (عمدة القاری)

د ابن عبدالبر تحقیق

علامه شرح مهذب ۲ـــ۵۵٤ باندِ لیکلے دی چه څمونږ ملګرو څه قیاسونه او مناسبتونه لیکلے دی چه فائده پکښ نشته څه د هغے په لیکلو وخت ضائع کول نه غواړم

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلے دی واما حدیث ابن عباس که آورده انداز صحت ایں حدیث سخن است واگر صحیح است منسوخ است،یعني حدیث کښ کلام دے او که صحیح شي نو منسوخ دے،

د ابن عباس یو موقوف اثر

تشبیه په لاړجن والی او سلیخ کښ ده او د لړکولو ذکر خو شته اګرچه په اذخر سره ولے نه وی دا مخاط د پاکئ دلیل د منئ دپاره نه شی جوړیدے او معارف ترمذی کښ دی چه دَ مخاط سره تشبیه پاکوالی کښ نه ده گنده کیدو کښ ده او د ابن عباس د روایت دا عذر هم کیدے شی لکه مرقات کښ دی چه دا اثر په اباحت دلالت کوی او نور آثار په حرمت نو داسے وخت کښ به ترجیح حرمت له ورکولے کیدے شی

ده موقوف په ځائے احنافو سره دے مسئله کښ پنځه موقوف روایات دی د سیدنا عمر رضی الله عنه ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها ،ابو هریره جابر او انس رضی الله عنهم اجمعین او د سیدنا عمر رضی الله عنه په اثر حافظ ابن حجر رحمة الله علیه درایه کښ سکوت کړے دے او د عائشے رضی الله عنها اثر امام طحاوی رحمة الله علیه په صحیح سند نقل کړے دے

د صاحب الحق الصریح دَ منئ دَ پاکوالی بل دلیل

دا رنګه منی اصل خلقت د انبیاء او دَ اولیاء صالحینو دے دا خو د عیب خبره ده او دا پښتو کښ یو کنځل دی خلق وائی د بے اصله څویه

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب

لمعات التنقيح کښې شيخ عبدالحق رحمة الله عليه ليکلي دي "واجيب عن قولهم بانه اصل اولياء الله بانه استبعاد في تكون الطاهرين النجس كاللبن من الدم" چه پيغ يعني شوده پاک او ماده ددے وينه پليته ده چه کله د پليت نه پاک راؤځي لکه پيغ د وينے نه" او خلق خو د وينے جم او د غوښے ډ پوټي يعني علقه نه پيدا دي دا بالاتفاق نجس دي او څنګه چه د انبياؤ او صالحينو خلقت ددے نه دے د کافرانو او د الله د دشمنانو خلقت هم ددے نه دے

علامه ابن الهمام رحمة الله عليه ليکلي دي چه د مني ډ وينے نه پيدا کيږي او وينه پليته ده

تکويني او تشريعي امر

واضحه دِ وي چه د انبياء ډ منئ نه پيدا کيدل دا د تکويني امورو سره لګيدلے احکام دي تکويني او تشريعي امور او احکام جدا جدا دي" اصوليان وائي چه کله آحاديثو کښې ظاهري تعارض وي قياس ته به رجوع کيږي او د قياس تقاضا ددے د نجاست ده شيخ عبدالحق رحمة الله عليه اشعة اللمعات کښې ليکلي دي چه کله د اولياؤ او د دشمنانو دواړو دپاره مني اصل ګرځي "پس چه گونه گوئم که آں پاک است" څنګه ورته بيا پاک اووايم لنډه دا چه د منئ نه د پيغمبرانو پيدائش دا مستلزم د طهارت دپاره نه دے ، علامه آلوسي رحمة الله عليه د سورة روم آيت نمبر ۱۸ "يخرج الحي من الميت" د لاندِ ليکلي دي "وفيه اشارة إلى أن الفرع لا يلزم أن يكون كأصله

إنما الورد من الشوك ولا ينبت النرجس إلّا من بصل"

ګلاب ډ ازغي نه راوتے دے لکه نرګس چه ډ پياز نه راتوکيږي،

ہزاروں سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتی ہے
بڑی مشکل سے پیدا ہوتا ہے چمن میں دیدہ ور پیدا

د صفي الرحمن مبارکپوی غيرمقلد تحقيق

بلوغ المرام من ادلة الأحكام کښې ليکلي دي "ان احادیث کی روشنی میں یہ استدلال کیا ہے کہ منی پاک ہے مگر اس میں کوئی ایسی چیز نہیں جو اس پر دلالت کرتی ہو کہ پاک ہے پس صحیح موقوف اور صائب مسلک یہی ہے کہ منی ناپاک ہے مگر علامہ شوکانی نے السیل الجرار' الدرر البہیہ میں منی کو پاک قرار دیا کہ نجاست میں نص نہیں گویا اس بارے میں ان کی رائے مختلف ہے

د احنافو دلیل په اوچه او لمده منئ پاکولو کښې

د فرق دپاره احنافو سره صراحة د ابوعوانه او د طحاوی یو روایت دے چه ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی "کنت افرک المنی من ثوب رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کان یابسًا واغسله اذا کان رطبًا" او دغسے مضمون د دارقطنی روایت کښې موجود دے او دَ فرک روایت دَ احنافو خلاف نه دي بلکه د مالکیانو خلاف دی او الحق الصریح کښې دی چه عمر رضی الله عنه جواب ورکړے دے که لونده وی وینځه او که اوچه وی نو اوئے ګروه کنی چرقاؤ اوکړه" او بیا ئې دَ مصعب بن مسعود روایت دے سلسله کښې ذکر کړے دے" واضحه دِ وی چه منی د نجاست بیان کله قولًا اوکړی او کله ئې د عمل انداز نه یو حکم معلومیږی

دَ فرک نه دَ استدلال نوعیت

ددے نه استدلال په طهارت د منی صحیح نه دے ځکه چه د پاکوالی دا هم یوه طریقه ده ، لکه یو روایت کښې دی "اذا وطیٔ احدکم بنعله الأذی فأن التراب له طهور" لکه چه ددے روایت نه دا معلومیږی چه په خاوره طهارت راځی لیکن دا دلیل د طهارت اذی نه جوړیږی دغسے فرک د روایات نه د منئ پاکوالی باندِ استدلال صحیح نه دے ځکه دواړه ځایه وینځل نشته یو ځائے فرک او بل ځائے په زمکه مګل راغلے دی

د امام طحاوی په کلام د حافظ ابن حجر تنقید

امام طحاوی رحمة الله علیه دَ غسل او دَ فرک روایات کښې تطبیق کړے دے چه د غسل روایات د مانځه په جامو دِ حمل کړے شی" حافظ صاحب نقد کوی چه د مانځه په جامو کښې هم د فرک کول صحیح روایاتو سره ثابت دی لیکن جواب دا دے چه دَ طحاوی دَ پورا کلام لوستلو نه بعد معامله صفا کیږی ځکه هغوی خپله مدعی او مقصد تدریجًا ثابتوی کله د بحث دوران کښې خپل دَ علمی تبحر دَ وجے دیر لرے لاړ شی آخر کښې دَ هغوی د رائے نوعیت بلکه اهمیت معلومیږی په باب مباشرة الحائض کښې هم حافظ صاحب ته دغه مغالطه راغلے ده" طحاوی د امام محمد رحمة الله علیه قول له ترجیح ورکول غواړی لیکن دا د ظاهر نه معلومیږی لیکن د طحاوی د آخر کلام نه معلومیږی چه داسے نه ده ځکه که ټول کلام مطالعه شی معلومیږی چه په آخر کښې هغوی صرف د امام ابوحنیفه رحمة الله

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه قول له ترجیح ورکول غواړی دلته هم اول امام طحاوی د خوب او د نمونځ جامو کښی فرق کړے دے بیا چه مخکښے تلے دے خپله ئے دا واضحه کړے ده چه د بعض روایتونو نه د مانځه په جامو کښی فرک ثابت دے انکار ترِ نه کوی

د طحاوی د کلام خلاصه

دا وئیل غواړی چه چه د منئ طهارت باندِ د فرک نه استدلال صحیح نه دے مشهور صحیح روایاتو کښی فرک د نمونځ په جامو کښی نشته بلکه د خوب جامه کښی دے چه د ناپاک کپړے استعمال خوب کښی جائز دے بیا وائی که اومنو چه د نمونځ جامو کښی دے لکه فی الواقع بعض روایاتو کښی شته نو بیا وایو چه استدلال ځکه صحیح نه دے چه فرک هم د نجاست د لرے کولو یوه طریقه ده او دغسے طرز د ابن بطال مالکی او د قاضی ابن العربی رحمۃ اللہ علیهما هم اختیار کړے ده

د مسلم روایت نه د احنافو استدلال

نبی صلی اللہ علیه وسلم یو ځل خپله منی اوینځله یا د عائشے رضی اللہ عنها وینځل د پیغمبر صلی اللہ علیه وسلم په حکم شوے وؤ نو که پاکه وی نو وینځل اسراف دے نو نجسه ده" لیکن دا ډیر قوی دلیل ځکه نه دے ځکه چه کله یو شیز صرف دے له وینځلے شی چه بد منظر پیش نه کړی لکه پوزه صفا کول یا جامه وینځل

دے مسئله کښی امام طحاوی هم یو قطعی دلیل نه دے پیش کړے ، معارف ترمذی کښی دی چه صرف قیاس ئے کړے دے چه غور پکار دے دَ منئ په وتلو حدث اکبر راځی بیا ددے نه د طهارت په خاطر غسل لازم شوے دے او که واړه بول اوشی نو حدث اصغر راځی او ددے په وجه طهارت اصغر یعنی صرف اودس کافی کیږی لکه چه واړه بول ناپاک دی دغسے منی هم ناپاکه ده"

دَ فرک او د مسح فرق

المفاتیح کښی دی چه فرک ، دلک ته وائی او د مسح مطلب دا دے چه د کپړے نه دوړی او اثر ختم شی

د أحنافو دلیل قرآنی

سورۃ الأنفال کښې دی "وینزل علیکم من السمآء مآء" ددے یو مصداق دا دے چه دَ احتلام په حالت کښې دَ منیٔ چه کوم آثار جسم ته اولګی دَ هغے لرکول ترِ مراد دی نو ددے نه د منیٔ نجاست معلومیږی (التعلیق الصبیح)

او سورۃ المرسلات کښې دی "الم نخلقکم من ماء مهین" دَ منیٔ دَ نجاست دلیل جوړیدے شی او د عائشے رضی الله عنها دَ میلمه واقعه چه کپړا ئے وینځلے وه قاضی صاحب العارضه کښې لیکلے دی وهذا الرجل الذی اصبح یغسل ثوبه لم یکن رای فیه شیئًا انما شک هل احتلم ام لا؟

د منیٔ دَ پاک کنړنکو قرآنی دلیل

سورۃ الفرقان کښې دی "وهو الذی خلق من الماء بشرًا" او د اوبو یو حکم ددے دَ پاکوالی دے نو منی پاکه ده

جواب

د منیٔ نه که تعبیر په ماءً سره شوے دے دا دلالت په پاکوالی نه کوی الله د څناورو د منیٔ نه په سورۃ النور کښې تعبیر په ماءً سره کړے دے الله فرمائی "والله خلق کل دابّة من ماء" لیکن دا د حیوان د منیٔ په طهارت دلیل نه شی جوړیدے

الحاصل

مرفوع أحادیث دی چه پکښې د منیٔ د وینځلو حکم دے د ام المؤمنین عائشے او میمونه او ام حبیبه رضی الله عنهن روایات د سیدنا عمر او ابن عمر رضی الله عنهما روایات

دَ احادیثو نه استدلال

(۱) عائشه رضی الله عنها فرمائی کنت اغسله من ثوب رسول الله صلی الله علیه وسلم واثر الغسل فی ثوبه بقع الماء،

(۲) حدیث د میمونه رضی الله عنها ثم ضرب بشماله الأرض فدلکها دلکًا شدیدًا" معارف السنن کښې علامه بنوری رحمة الله علیه دا دَ منیٔ دَ نجاست قوی علامت جوړوی،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) حدیث د معاویه بن ابی سفیان رضی الله عنهما د خپلے خور ام حبیبه رضی الله عنها نه ئے تپوس کړے دے "هل كان یصلّی فی الثوب الذی یجامعها فیه؟ فقالت علم اذا لم یر منه اذی رواه مالک واسناده صحیح" دَ منیٔ نه تعبیر په اذی سره شوے دے.

(٤) ابوعوانه کښ د عائشے رضی الله عنها روایت "کنت افرک المنی ثوب رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کان یابسًا واغسله اذا کان رطبًا واسناده صحیح" په حدیث کښ دَ اوچے او لمدے منیٔ په حکم کښ فرق واضح دے نومونږ په داسے جامه چه منی پرِ لګیدلے وی حنفی مسلک کښ نمونځ نه کیږی او که بوخاڅکے منی د پیو ګلاس کښ اوغورځیږی پیٔ پلیت دی

دَ منیٔ تعریف

(۱) ماء ابیض ثخین یتدفق فی خروجه ویخرج بشهوة ویتلذذ بخروجه ویستعقبه الفتور وله رائحة کرائحة الطلع یعنی تینړے سپنے اوبه چه وتلو کښ توپ وهی او په شهوت راوځی او وتلو کښ لذت وی او ورستو لړ ناراستیا راځی او د اوړو غوندِ بوئی لری،

(۲) علامه بنوری رحمة الله علیه معارف کښ لیکی "قال الراقم ماء دافق ینفصل من بین الصلبة الرجل وترائب المرءة مشهوة ولذة ویتولد منه الولد" توپ وهونکی داسے اوبه چه راوځی د سړی د ملا او د ښځے د سینے دَ مینځ نه په شهوت سره او ددے نه بچے پیدا کیږی،

د حدیث فوائد

منی نجس ده ځکه ددے دَ وینځلو ضرورت راځی (۲) ښځه به د خاوند خدمت کوی ځکه د ام المؤمنین دَ منیٔ ککړه جامه وینځل د نبی علیه السلام د خاطره وو (۳) پلیته کپړا د وینځلو نه پس پاکیږی (٤) په لوندو کپړو کښ نمونځ کول جائز دی

(٦) وَعَنِ الْأَسود وَهَمَّام عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسلم وَبِرِوَايَةِ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَفِيهِ: ثمَّ يُصَلِّي فِيهِ

ترجمه: وومه ځه چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دَ جامے نه به ما منی توکله

تشریح : د الأسود مختصر پیژندګلو

دا اسود محاربي دے دَ علقمه ابن قیس وراره دے او د ابراهیم نخعي ماماجي دے د نبي صلی الله علیه وسلم زمانه ئے موندلے ده لیکن ملاقات ئے قسمت کښې نه وو دوی اتیا (۸۰) حجونه او عمرے کړے دی ، همیشه به ئے روژه وه او دوه شپو کښې به ئے یو ځل قرآن ختمولو ، د عمر بن معاذ او ابن مسعود رضی الله عنه نه ئے روایت کولو او دَ دوی نه ډیرو خلقو روایت کړے دے ، ۸٤ه کښې وفات شوے دے ، دوی د خلفائے راشدین ملګرو کښې حسابیدل

د همام بن الحارث معرفت

نخعي ، تابعي او کوفي دے ٦٥ ه کښې وفات دے ابن مسعود رضی الله عنه ، عائشه رضی الله عنها او د نورو صحابو نه دوی حدیث اوریدلے دی او د دوی نه ابراهیم نخعي رحمة الله علیه روایت کړے دے او اشعةاللمعات کښې دی چه ثقه راوی دے د کوفے د عابدینو نه حسابیږی"

دَ قرآن آیت دے "وان کنتم جنبا فاطهروا" فاطهروا د مبالغے صیغه ده او ددے تقاضه نجاست وی په تول عمر کښې یو ځل دَ بیان جواز دپاره نبي صلی الله علیه وسلم دَ منئ ککړه جامه دغسے نه ده پریښے یا ئے فرک کړے دے یا وینځل"

(۷):وَعَن أم قيس بنت مُحصن: أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْلَسَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حِجْرِهِ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ فَدَعَا بِمَاء فنضحه وَلم يغسلهُ

ترجمه: ام قیس یو ځل خپل ورکوټے ځوئے چه ډوډئ ئے لا نه شوه خوړلے نبي صلی الله علیه وسلم له راوستلو نو نبي صلی الله علیه وسلم هغه په خپل غیږ کښې کینولو د دوی په جامه ئے واړه بول اوکړل اوبه ئے راوغوختلے اوبه ئے پرِ ترمتیا کړے او کلک ئے او نه وینځلو

تشریح : د ام قیس پیژندګلو

ام قیس مخکښې مکه کښې مسلمانه شوے وه د نبي صلی الله علیه وسلم سره ئے ناسته پاسته کړے وه بیا دے مدینے ته هجرت کړے وو د نیا نوم ئے حرثان وو د عکاشه بنت محصن خور وه د قبیلے بني اسد

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ئے تعلق وؤ تلخیص الحبیر کښې دی چه آمنه ئے نوم وؤ او سهیلی البدرالمنیر کښې لیکلے دی چه جزاله نوم ئے وؤ او دَ هلک نوم ئے نه دِ ذکر کړے التعلیق الممجد کښې علامه لکهنوی لیکلے دی چه دا ماشوم د نبی په زمانه کښې وړوکوالی کښې وفات شوے وؤ علامه عینی لیکلے دی چه ظاهر حدیث دلالت کوی چه دا بچے ئے دَ برکت حاصلولو یا د دعا دپاره راوستلے وؤ علامه طیبی لیکلے دی "وفی الحدیث دلیل الی استحباب حمل الأطفال الی اهل التفضل للتبرک بهم" طحاوی کښې د ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها روایت دے چه نبی علیه السلام له به ماشومان راوستلے شو "فیدعوا لهم" یو ځل یو ماشوم راوستلے شو په هغوی ئے واړه بول اوکړل اوئے فرمائیل په دے اوبه واړوئ په اوبو اړولو سره، (لم یأکل الطعام) علامه عینی رحمة الله علیه لیکلے دی چه پئ مشروب دی او مأکول نه دی او چه د پیدائش نه بعد بچی له د کهجورے بوټی ورکړے وه دا د بچی په اختیار کښې نه وی

مسئله کښې اختلاف

دَ بچی پئ چه خُله کښې اچولے شی پاک دی او دَ ظاهر الروایت په اعتبار سره نجس دی ابن حجر رحمة الله علیه ددے مذاهب ذکر کوی او امام نووی رحمة الله علیه هم لیکلے دی "فقد اختلف العلماء فی کیفیة طهارة بول الصبی والجاریة علی ثلاثة مذاهب"

(۱) د ماشوم او ماشوموالے د دواړو بول دَ نجاست غوندِ ناپاک دی وینځلے به شی دا د احنافو او مالکیانو مسلک دے

(۲) دواړو کښې نضح او رش کافی دے

(۳) دواړو کښې فرق دے غلام کښې نضح کافی دے او جاریه کښې به وینځلے شی، دا قول د امام شافعی او دَ امام احمد رحمة الله علیهما دے دواړه فرق پکښې کوی

(٤) امام اوزاعی رحمة الله علیه فرمائی چه دواړو کښې نضح کافی دے او د فرق قائل علی رضی الله عنه دے او دغسے عطاء بن ابی رباح، حسن بصری او د سلفو، خلفو یو جماعت او محدثین، ابن وهب او مالکیان او داؤد ظاهری رحمة الله علیهم د هلک بول پاک گنړی دغسے د پاکوالی قول ابوثور هم کوی

د قاضی عیاض او د ابن بطال مالکی تردید

قاضی عیاض رحمة الله علیه لیکلے دی چه شافعی او احمد رحمة الله علیهما مذهب کښې چه کوم ماشوم دَ مور پئ څکی د هغه بول پاک دی او دا امام نووی د ابن بطال مالکی رحمة الله علیه نه نقل کړی دی نو نووی وائی چه دا قول باطل دے ، نجس ورته وائی لیکن تخفیف پکښې دے دَ نووی رحمة الله علیه د قول نه دَ نجاست او دَ طحاوی رحمة الله علیه دَ قول نه ئے طهارت معلومیږی او علامه طیبی رحمة الله علیه کاشف کښې لیکلے دی "ومن قال انه طاهر فهو مخطئ" ابوداؤد وائی چه هارون بن تمیم د حسن نه نقل کوی "الأبوال کلها سواء" یعنی ټول ناپاک دی

د امام ابو حنیفه سره په مسئله کښې ملګری

الموسوعة الحدیثیه ۳ـــ۱۲۶ پاندِ دی "لم ینفرد به الأمام ابوحنیفة بل وافقه فی عدم الفرق بین بول الصبی والصبیة ابن المسیب والشعبی ، والحسن بن حی ، والثوری ، واصحب ابی حنیفة والامام مالک حیث یعدون الرش والنضح من احادیث الباب بمعنی الغسل" او الموسوعة ۵ـــ۳۳۲ "باب صب الماء علی البول الصبی" د لاندِ د امام محمد اثر ذکر کړے دے "اذا لم یکن اکل وشرب اجزاک ان صبّت الماء صبًا قال محمد واعجب ذالک ان تغسله غسلا وهو قول ابی حنیفة" او امام محمد مؤطاء کښې لیکلے دی "قد جاءت رخصة في بول الغلام إذا كان لم يأكل الطعام وأمر بغسل بول الجارية وغسلهما جميعا أحب إلينا وهو قول أبي حنيفة" چه ماشوم کله ډوډئ نه خوری د هغه بولو کښې یو قسم سهولت راغلے دے او د ماشومے جینئ بول د وینځلو حکم ئے کړے دے لیکن د دواړو هغه وینځل څمونږ خوښ دی او دا دَ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قول دے او مؤطأ مالک کښې روایت دے "فدعی رسول الله صلی الله علیه وسلم بماء فأتبعه اياه" دا د احنافو دلیل دے او هلک ماشوم په هغے به ترمتیا کولے شی او او مالک اوابوحنیفه دواړو کښې وینځل شرط کوی او الحق الصریح کښې هم دی "البته دَ محدثینو احنافو په نزد د هلک په بولو کښې غسل خفیف دے چه د جینئ بولِ وینځل واجب دی انتهی امام نووی رحمة الله علیه شرح مهذب کښې لیکلے دی چه زمونږ مشهور مذهب دا دے بهرحال دَ ائمه اربعه اتفاق دے چه د ماشومانو بول پلیت دی خو امام شافعی د تطهیر طریقه کښې په رش اکتفاء کوی او علامه هیثمی رحمة

Maktaba Tul Ishaat.com

الله عليه ليکلے دی چه ابو محمد جوینی شافعی رحمة الله علیه سیلان شرط گنړی لیکن د هغوی ځوئے امام الحرمین د پلار دغه خبره کمزورے گنړی

یو وضاحت

حافظ ابن حجر تلخیص الحبیر کښې نقل کړے دے چه (ولم یغسله) لفظ دَ زهریٰ دے ، مرفوع حدیث په "نضحه" ختم شوے دے

د نبی صلی الله علیه وسلم اخلاق

دے ماشوم په نبی صلی الله علیه وسلم بول اوکړل "وفيه الندب الى حسن المعاشرة واللين والرفق والتواضع بالصغار وغيرهم" ددې نه د نبی صلی الله علیه وسلم حسن معاشرت ، نرمی او تواضع وړو او غټو سره معلومیږی

د شیخ الهند تحقیق

التقرير الترمذی کښې لیکلے دی چه د نضح معنی لړے اوبه اچول دی دَ ماشوم د بول لرکولو کښې سخت وینځلو ته حاجت نشته او د جینۍ دَ بول وینځلو کښې سخت وینځل پکار دی"

د نضح معنیٰ دلته وینځل دی

شیخ الهند لیکی روایت کښې راځی "حتيه ثم اقرصيه ثم انضحيه بالماء" دلته نضح بالأتفاق وینځل دی او حدیث کښې راځی چه نضح د سیلان په معنی اغستلے شے "انما لأعرف مدنية ينضح ببحر بجانبها يعنى يسيل بجانبها" یعنی دریاب یو غاړے ته چپے وهی او هغه طرف به وړله سم اوبنځی دریاب خو ترمتیا نه کوی د دریاب په چپو خو زمکه وینځلے کیږی (طحاوی) دغسے مخکښې ذکر شوے دي،

معارف السنن کښې علامه بنوری لیکلے دی چه نضح او رش دَ غسل مترادف دی په دے کښې تضاد نشته" د الحق الصريح د مصنف الزام صحیح نه دے چه احناف أحادیثو کښې تعارض پیدا کوی،

صاحب د عون المعبود څه وائی؟

لیکی چه دَ نضح مختلف معناګانے راځی یو معنیٰ ئے رش او بله غسل او دریمه ازاله او لرکول دی لیکن د رش په معنی اکثر ، اغلب او اشهر راځی چه بله معنی اغستلو کښې به دَ قرینے حاجت وی او

لیکلے دی چه د نضح یا د رش نه غسل خفیف مراد دے او دَ باب المذی د لاندِ شرح مسلم کښ د مسلم د روایت د لاندِ وانضح فرجک" نووی لیکلے دی "فان النضح یکون غسلًا"

د ترمذی روایت

نضح د غسل په معنی باندِ دَ ترمذی روایت کښ مستعمل دے "ثم رشّیه" او رش د غسل په معنی دے او دا تاویل کول نه دی د حدیثو په رنړا کښ دَ دے دَ معنی تعیین دے

الحق الصریح کښ دی: چه احناف تاویل کوی چه نضح او رش غسل ته وائی لیکن دا تاویل خطا دے ځکه چه "لم یغسله" چرکاؤ شوے دے نه وینځل حالانکه نضح د احنافو خلاف نه دے لکه بخاری صـ٤٥ باندِ دَ غسل په معنی راځی " إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنْ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ" او ترمذی صـ١٧ باندِد سهل بن جندب په روایت کښ د مذی باره کښ دَ نضح لفظ راغلے دے او مذی بالأتفاق ناپاکه ده نو د نضح نه غسل مراد دے "يكفيك أن تأخذ كفا من ماء فتنضح به ثوبك" ترمذی او که په احنافو اعتراض دَ رشح په لفظ سره کیږی ، نو د "فصب علیه الماء" لفظ ستاسو خلاف راځی

د علامه خطابی وضاحت

معالم السنن کښ لیکلے دی سره ددے چه شافعی دے چه په بول دَ صبی کښ دَ نضح معنی وینځل دی لیکن بے د مکلو او د مشقت نه او نضح اصل کښ صب ته وائی

علامه کاندهلوی رحمة الله علیه خپل تعلیق کښ لیکلے دی په دے مسئله دَ بول دَ غلام کښ د رش ، نضح ، صب او اتباع الماء الفاظ راغلے دی او د لم یغسل معنی ده ای غسلًا شدیدًا" ځکه چه مفعول مطلق دَ تاکید دپاره دے او ابن عصفور نحوی د سیبویه دَ کتاب په حاشیه لیکلے دی "ان للتاکید انواعًا و منها تاکید الفعل" نو وینځل شوے دی لیکن وینځلو کښ مبالغه او سختی نه ده شوے

(تنبیه) د نبی علیه السلام جولئ او غیر کښ چه کومو ماشومانو بول کړی وؤ شاعر په شعر کښ هغه ماشومان راجمع کړی دی :

قد بال فی حجر النبی اطفال	حسن حسین ابن الزبیربالوا
وکــذا سلیــمان بنی هــاشم	وابن ام قیـس جاء فی الختام

Maktaba Tul Ishaat.com

د یو بریلوی گپ شپ او بے بنیاده خبره

مرآۃ المناجیح کښې دی سنا گیا ہے کہ مجدد سرہندی نے وصیت کی کہ میرے بعد ایک نواسہ (بیٹی کا لڑکا) ہوگا اس بچے سے میری قبر پر پیشاب کرایا جائے پھر قبر دھو دیا جائے کیونکہ ساری سنتوں پر میں نے عمل کیا تو اس سے پیشاب کرا لینے کی سنت ادا نہیں ہوئی یہ سنت میری قبر پر ادا کی جائے سبحان اللہ فتوی عشق کچھ اور ہی ہے

واضحه دِ وی چه کله مجدد صاحب دا بول پلیت گنړی ځکه بیا دَ قبر دَ وینځلو حکم ئے کړے دے نو د مرگ نه پس دغسے ډرامه دا څه عشق نه دے، او نه د هغوی نه دا په صحیح سند ثابته ده

د ماشوم او د ماشومے دَ تطهیر په کیفیت کښې دَ فرق وجوهات

(۱) د زنانه مزاج کښې برودت او رطوبت وی بول ئے ټینګ او دَ ماشوم په نسبت بدبویه وی" ځکه د جینئ دَ بولو په پاکوالی کښې مبالغه زیاته ده

(۲) دے کښې ابتلاء عام ده هلکان اکثر خلق باهر گرځوی او مجالسو کښې موجود وی ځکه چه دے کښې د تخفیف حکم دے، دغسے معمول زیات دَ جینکو باره کښې نه دے،

(۳) امام طحاوی رحمۃ اللہ علیه لیکلے دی چه دا فرق دَ وړو بولو د خوریدو او د نه خوریدو په اعتبار سره دے" جاریه کښې وسعت د مقام او د غلام په بول کښې ضیق مقام دے" چونکه د جینئ بول خوریږی نو مبالغه ده او د غلام بول کښې مبالغه نشته او که کپړا باندِ ترمتیا اوشی یا صرف لونده وِي چه نه نچوړیږی نجاست به نور هم خور شی"

(٤) فتح الاله کښې دی چه د مذکر طبیعت پلار ته تلے دے دا پرِ غالب دے، سلسله ئے په سیدنا آدم علیه السلام ختمیږی او هغوی د خاورے او ختے نه پیدا وؤ او د مؤنث طبیعت خپلے مور بی بی حوا ته رسی او هغه د غوښے او وینے نه پیدا وه هر چا کښې خپل لائق طبیعت اثر کړے دے چه وینه او غوښه کښې کثافت دے په خلاف د هلک کښې" انتهی

د ابن ماجه روایت کښې دی چه د امام شافعی رحمۃ اللہ علیه نه د هغوی شاګرد ابوالیمان المصری رحمۃ اللہ علیه ددے فرق د حکمت تپوس اوکړو نو دغه جواب ئے ورکړو چه کوم علامه هیثمی رحمۃ اللہ علیه نقل کړے دے

(۸):وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسلم يَقُولُ: «إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمہ : عبداللہ بن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چہ ما د نبی صلی اللہ علیہ وسلم نہ اوریدلی دی فرمائیل ئی چہ کلہ څرمن لہ رنگ ورکړے شی نو دا یقینًا پاکہ دہ

تشریح : د دباغت مختلفے طریقے

یوہ طریقہ ئے اوچول دی دغسے مالگہ او دارو لګولو بانډِ دباغت راځی او مقصد د دباغت دا دے چہ پلیت رطوبات تِرِ ختم شی مرقاۃ کښې ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ لیکلے دی پہ خاورو لګولو او ایرو مکلو سرہ دباغت راځی او د صلاح د ښکار کیدو نہ پس ئے چہ کلہ اوچہ شی او فساد یا د بدبوئی ددے ختمہ شی دباغت راځی پہ حاشیہ د مراقی الفلاح شرح د نورالأیضاح کښې دی چہ د انارو پہ پوستکو دباغت راځی او دغسے د کیکر پہ پاڼړو هم راځی او پہ نمر او پہ ګرمئ کښې اچولو سرہ هم راځی علامہ طیبی رحمۃ اللہ علیہ لیکلے دی (د اهاب او د مسک د وئیلو وجہ) چہ اهاب ورتہ څکہ وائی لأنہ اهبۃ الحی" دا د یو ژوندی دپارہ سامان ګرځی لمعات التنقیح کښې دَ قاموس المحیط پہ حوالہ لیکلے دی "الأهاب الجلد او مالم یدبغ" او علامہ شمنی لیکلے دی "الأهاب الجلد قبل الدباغ" د دباغت نہ مخکښې ورتہ اهاب او ورستو ورتہ ادیم وائی او ددے اشتقاق د أهبہ نہ دے ، سامان

(دبغ) دَ باب نصر ، منع او ضرب درے واړہ نہ راځی التعلیق الصبیح کښې علامہ کاندهلوی رحمۃ اللہ علیہ لیکلے دی "الجلد الغیر المذبوح سمّی اهابًا لأنہ اهبۃ الحی کما یقال لہ مسک لأمساکہ" او مسک ورتہ وائی څکہ چہ یمسک ما فیہ من الماء، چہ دا اوبہ تنګوي،

دَ ائمہ مجتهدینو مذاهب

محمد بن علی چہ غیر مقلد ورتہ الشیخ الامام المجتهد وائی نیل الأوطار کښې لیکلے دی چہ پہ دے مسئلہ کښې اووہ (۷) مسلکونہ دی

(۱) د ټولو مردارو څرمنے بے د سپی او خنزیر نہ پہ دباغت پاکیږی او لانډِ بانډِ څرمن ورسرہ پاکہ شی او پہ لمدو او اوچو ټولو څیزونو کښې ددے استعمال اوچ دے او د مأکول اللحم ، او غیر مأکول اللحم

Maktaba Tul Ishaat.com

مینځ کښې فرق نشته او دا د امام شافعي رحمة الله علیه مسلک دے او د خنزیر د استثناء دلیل "فأنه رجس" بیانوی او سپے په خنزیر د نجاست دَ جامعیت دَ وجے قیاس کوی

(۲) دباغت سره هیڅ قسم څرمن نشی پاکیدے او دغسے روایت د عمر او د هغوی د خوی عبدالله او د عائشے (رضوان الله علیهم) نه هم دے او دا د امام احمد رحمة الله علیه مشهور روایت دے او د عبدالله بن عَلیم د حدیث نه استدلال کوی چه "لا تنفعوا من المیتة بأهاب ولا عصب" او د پیغمبر د وفات نه یو میاشت مخکښې دا فرمان د ټولو احادیثو دپاره ناسخ شو

(۳) د مأکول اللحم څرمن صرف پاکیږی او دَ غیر مأکول اللحم هغه نه پاکیږی دا د اوزاعی ، ابن المبارک او د ابوثور رحمة الله علیهم مسلک دے او علامه طیبي لیکلے دی چه د علی او دَ ابن مسعود رضی الله عنهم اجمعین مسلک دے

(٤) د خنزیر نه علاوه ټولے څرمنے پاکیږی (او د انساني څرمن نه علاوه امدآد) او دا د ابو حنیفه رحمة الله علیه مسلک دے

(٥) ټولے څرمنے صرف ظاهرًا پاکیږی او باطنًا نه پاکیږی نو مائع څیزونو کښې دا به استعمال کښې راوستل صحیح نه دی او دا د امام مالک مشهور مسلک دے

(٦) ټولے څرمنے د سپی او خنزیر سره ظاهرًا او باطنًا پاکیږی او دا د داؤد او د اهل الظاهر مسلک دے

(۷) د مردارے څرمنے نه فائده د دباغت نه بغیر هم اغستلے شی او مائعات او اوچو دواړو څیزونو کښې استعمال صحیح دے او دا د زهري مسلک دے دے ته التفات مه کوه

احکام القرآن کښې ۳۵ نمبر مسئله ده چه د خنزیر ویښته د ګنډلو دپاره استعمالولے شے دغسے ابن خویزمنداد ذکر کړے دی ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم او ورستو امامنو انکار په دے نه دِ نقل

د ملا علی قاري وضاحت

سوال راځی چه د سپی څرمن کښې امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د نمونځ دَ جواز قول ولے کړے دے دا په شرع کښې حرام دی"

(جواب) د حنفی شافعي په مینځ کښې دغه اختلاف په هغه صورت کښې دے چه یو کس سره دومره کپړه نه وی چه عورت پرِ پټ کړی صرف د سپی څرمن چه دباغت ورله ورکړے شوے وی اُوموی" آیا

دے به مونږ په بربنده کوی او یا د دغے سپی دباغت والا څرمن بانډِ به عورت پټوی نو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په دے ستر پټول مختار او راجح ګنړی او امام شافعی رحمة الله علیه په بربنده مونږ غوره ګنړی حالانکه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قول د شریعت قانون ته ډیر نزدے دے ځکه چه د سپی دغسے څرمن د مردارے په عامو څرمنو کښ داخلیږی ، ترمذی کښ روایت دے ایما اهاب دُبغ فقد طهُر او صحیح مسلم حیض کښ روایت ذکر کړے دے اذا دبغ الأهاب فقد طهر او امام صاحب د بنیادم او د خنزیر څرمن مستثنی کړے ده قرآن کښ دی "ولقد کرّمنا بنی آدم" او دا آیت دے "فأنه رجس" مجموع المسائل ملا علی قاری (رحمة الله علیه) ۹ـــ۱۹۳

حافظ الپوری رحمة الله علیه فرمائیلے دی ـــ

پوست که د خنزیر خوک په سیحون اوجیحون وینځی

پاک به په مذهب دَ امامانو د دین نه شی

علامه ابن عبدالبر رحمة الله علیه التمهید ٤ـــ۳۸۹ بانډِ لیکلے دی "واَمّا قوله علیه السلام لا تنتفعوا من المیتة بأهاب" فأن معناه حتیٰ یدبغ بدلیل أحادیث الدباغ

المفاتیح کښ دی چه کله څرمن له رنګ ورکړے شی نو د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد دَ سپی څرمن هم پاکیږی او علامه طیبی رحمة الله علیه الکاشف کښ لیکلے دی "في حدیث ابن عباس في الإهاب وفي حدیث سودة دلیل علي أن الجلد یطهر ظاهره وباطنه بالدباغ حتی جوز استعماله في الأشیاء الرطبة وتجوز الصلاة معها"

د ائمه اربعه اتفاق

لمعات کښ دی چه د څلورو وارو مذهبونو په دے اتفاق دے چه د مُردارے هر رنګه څرمن که خوړلے شی یا نه د دباغت نه بعد پاکه ده لیکن د امام احمد رحمة الله علیه مذهب کښ د میتة د څرمنے په طهارت کښ کلام شته بعضو ددے باب د آحادیثو په صحت کښ کلام کړے دے او بعض ددے دَ صحت التزام کوی او شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلے دی چه حقه دا ده چه دَ دباغت احادیث صحیح او مشهور دی په دے کښ په بعضو د الله په کتاب زیادت هم درست دے او یا کتاب مجمل دے عام نه دے او سنت ئے بیان کړے دے او محققین د مسلک حنبلی دَ طهارت قول کوی

Maktaba Tul Ishaat.com

د سلفو او د امام بخاری رائے

سلفو به د هاتهی وغیره په هډکو سرونه منګزول او د تیلو دبو جوړولو کښ به ئے هم باک نه ګڼلو امام بخاری رحمة الله علیه خپله ترجمه کښ دا زهری قول نقل کړے دے "لاباًس بتجارة العاج" او بیهقی سنن کښ ۹۷ نمبر روایت ۱ــ۲٦ باندِ د سیدنا انس رضی الله عنه روایت راوړلے دے چه د کومو هډکو د هاتهی نه به منګز جوړه وه نبی صلی الله علیه وسلم به په هغے سر منګزولو او داسے روایت کیدے شی چه نبی علیه السلام د فاطمے دپاره د هاتهی د هډوکو نه جوړ بنګړی اغستلے وؤ او ځنے محدثین وائی چه عاج د سمندر دَ شمشتیٔ هډوکی ته وائی یا بل سمندری حیوان ته وائی دَ ابوداؤد باب الأنتفاع بالعاج کتاب الترجل کښ علامه وحیدالزمان فائده کښ لیکلے دی چه د حدیث نه معلومه شوه چه د غابښونو استعمال صحیح دے ابوداؤد مترجم جلد سوم صــ۲۹۸ مطبوعه اسلامی اکادمی اردو بازار لاهور،

یو عجیبه فتوی

قاضی شوکانی دربهیة کښ د خنزیر څرمن هم دَ دباغت نه پس پاکه ګڼړی لکه مخکښ تیرشو،

د ذبح حکمت

علامه ابن قیم رحمة الله علیه زادالمعاد دویم جلد کښ لیکلی دی چه "واللحم انما ینجس لأحتقان الرطوبات والفضلات الخبیثة فیه" او د ذبح نه بعد دغه ناپاک رطوبت ختم شی ځکه څرمن پاکه شی"

د امام مالک رحمة الله علیه مسلک

رحمة الأمة مصری صــ۸ باندِ دی چه د خنزیر نه علاوه که درنده یا سپے وی "وجلده طاهر یجوز بیعه والوضوء فیه وان لم یدبغ"

د عائشے رضی الله عنها روایت

طهور کل ادیم دباغة (دارقطنی) وقال اسناده حسن کلهم ثقات لم یعترض له الحافظ ابوالطیب العظیم آبادی)

قاضی شوکانی څه فرمائی

نیل الأوطار کښې لیکی طهور کل ادیم وکذا ایهما اهاب دبغ" دا هغې څرمنو ته شامل دی چه خوراک ئې نشی کیدے لکه سپے او خنزیر وغیرهما شمولاً ظاهرًا لیکن د احناف دَ خنزیر استثناء کوی او په تعلیق المغنی علی الدارقطنی کښې د فتح الباری نه علامه پټنوي صاحب نقل کوی ولم یتثن ابویوسف وداؤد شیئًا اخذالعموم الخبر وهی روایة عن مالک،

د علامه ابوبکر حازمی رحمة الله علیه قول

اکثر اهل علم د دباغت نه بعد د مردارے څرمن ګنړی لکه ابن مسعود، سعید بن مسیب، عطاء بن ابی رباح، حسن بن ابی الحسن، شعبی، سالم بن عبدالله، ابراهیم نخعی، قتاده، ضحاک، سعید بن جبیر، یحی بن سعید الأنصاری، مالک بن انس، لیث، اوزاعی، ثوری، ابوحنیفه او د هغوی ملګری، ابن المبارک، شافعي او د هغوی ملګری او اسحاق رحمهم الله کتاب الأعتبار صـــ٥٦ او قاضی شوکانی د ابوسعید خدری، زید بن خالد، سعد بن الوقاص، معاذ بن جبل (رضی الله عنهم)، رافع بن خدیج او دَ عمر بن عبدالعزیز اسمائے کرامی نومونه ذکر کړی دی او دَ ابن قیمؒ دَ صنیع نه په زادالمعاد او اعلام المؤقعین کښې دغه معلومیږی

دَ الموسوعة الحدیثیه یوه حواله

السباع کلها طاهر الا الکلب والخنزیر باب الماء الرّاکد نمبر ٣٥

او دَ دباغت نه مخکښې دَ طهارت قول صرف د لیث بن سعد دے، امام ابوجعفر طحاوی رحمة الله علیه لیکلی دی چه دَ لیث رحمة الله علیه نه علاوه دا د چا هم مسلک نه دے او التمهید ٢ـــ٣٣٣ بانډِ دی چه اذا ولغ الاهاب فقد طهر حدیث زید بن مسلم نقل کړے دے په دغه جماعت کښې ابن عیینه، هشام بن سعد او سلیمان بن هلال رحمة الله علیهم دی امام مسلم رحمة الله علیه اته روایات په باب کښې نقل کړے دی چه دباغت سره پاکی راځی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۹):وَعَنِ ابْنِ عبَّاس قَالَ: تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُونَةَ بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهِ» فَقَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ: «إِنَّمَا حُرِّمَ أَكلهَا» (متفق علیه)

ترجمه: د سیدنا ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے ، د میمونے رضی الله عنها آزاد کړے شوے وینځے ته صدقه کښې یوه بیزه ورکړے شوه اوئے فرمائیل تاسو ددے څرمن ولے وانه غستله تاسو به دے له رنګ ورکړے وؤ نو تاسو به ددے نه فائدے اغستلے وے (دوی اوئیل چه دا خو مرداره ده نبی علیه السلام اوفرمائیل ددے خوراک صرف یقیناً حرام دے

تشریح : دلته یو سوال دے چه څوک هم څرمن نه خوری د انّما حرّم اکلها ددے څه مطلب دے جواب دا دے بعض علاقو کښې بعض څرمنے خلق خوری چه مثلًا چیلے چه حلال کړی څرمن ترے نه اوباسی دننه تولے کړے کودے ترے اوباسي په دے کښې مصالحے او بعض علاقو کښې ژوړے واچوی بیا ئے اوکنډی بیا دا په څروټکو پخوی اوچه څه خوړین پوخ شی ، هغه مزیدار او خوندور او ترسخون هم وی داسے کاروائی ګلګت ، چترال او د ریاض بعض علاقو کښې عربیان هم کوی علامه طیبی لیکلے دی چه حرّم او حُرِم دواړه وئیلے شی ، بیا لیکی چه حدیث کښې د هغه چا دلیل دے چه د مُردارے کوم اجزاء نه شی خوړلے کیدے د هغے نه فائده اغستل حرام نه دی لکه ویښته ، غاخ او ښکر وغیره شو څکه چه دے کښې ژوند نه وی ، مرآة المناجیح للنعیمی کښې دی معلومه شوه چه دَ مردارے څرمن که څه پخه شی که لونده هم شی ناپاکه به نه وی او که اوبره پخه وی نو چه لونده شی بدبوئی به کوی او ناپاکه به حسابیږی علامه طیبی رحمة الله علیه لیکی چه څرمن کله دباغت سره پاکه شی دپاسه ویخته د څرمنے په تابع کیدو کښې پاکیږی او د مردارے د ویختو په نجاسة کښې د شوافعو دوه قول دی اصح دَ نه پاکئ قول دے او الکاشف کښې دا هم دی "یجوز اکل الجلد مأکول اللحم ولا یجوز غیره" لمعات کښې دی "انما حرّم الخ" د حرّمت علیکم المیتة بیان دے که مجمل وی او که عام وی بیا ورله تخصیص راولی

د صدقے او د هبے مینځ کښې فرق

صدقه کښې د آخرت ثوابونه مقصود وی او هدیه کښې چه چاله هدیه ورکوی دَ هغوی اکرام مقصود وی دغسے علامه عینی رحمة الله علیه فرمائی د مولانا الیاس رحمة الله علیه په ملفوظات کښې دی د فرض زکوٰة ثمره د مال پاکی ده او هدیه اگرچه مستحب ده مګر ثمره د هغے دَ مسلمان زړه ساتل دي او د ثمرے په لحاظ د هدئے اصل مقصد د مسلمان زړه خوشحاله ساتل دی

(۱۰):وَعَنْ سَوْدَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: مَاتَتْ لَنَا شَاةٌ فَدَبَغْنَا مَسْكَهَا ثُمَّ مَا زِلْنَا نَنْبِذُ فِيهِ حَتَّى صَارَ شنا. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

ترجمه : سودة رضی الله عنها چه د نبی صلی الله علیه وسلم بی بی ده فرمائی ځمونږ یوه بیزه مره شوه مونږ د هغے څرمن له رنګ ورکړو بیا همیشه مونږ په دے کښې نبیذ به اوچول تر دے چه پخوانے زوړ بتک تړ جوړ شو

تشریح : د ام المؤمنین سوده تعارف

سوده بنت زمعه بن قیس سره نبی صلی الله علیه وسلم دَ ام المؤمنین خدیجے د وفات نه پس مکه کښې واده اوکړو او د صحیح قول مطابق ۵۵ هجری کښې وفات شوے ده ، کذا فی التقریب ددے نه ابن عباس یحی بن عبدالله الأنصاری روایت کوی کاشف کښې دی چه پخوانئ مسلمانه ده د تره په ځوی اول کښې واده وه کله چه خاوند ددے وفات شو ، نبی صلی الله علیه وسلم ورسره نکاح اوکړو" او دا د خدیجے رضی الله عنها د مرګ نه پس او د عائشے رضی الله عنها دَ نکاح نه مخکښې واقع وه بیا دے مدینے ته هجرت کړے دے کله چه عمر ئے ډیر شو نبی علیه السلام د هغے د طلاق اراده اوکړه ورته ئے اوئیل طلاق مه راکوه او ما خپل نمبر عائشے رضی الله عنها ته اوبخه (چه په آخرت کښې ستاسو بی بی حساب شم دا ډیره ده) مدینه کښې ۵٤ھ کښې د شوال میاشت کښې وفات ده ، ام الأسود ئے کنیت دے او د مور نوم ئے سموس بنت قیس دے او د خپل زوړ خاوند چه ددے د تره ځوئے وو د هغه سکران بن عمر نوم وؤ دده نه ئے یو ځوئے عبدالرحمن پیدا شوئے وؤ او د واده مهر ئے څلور سوه درهم وؤ

(مشک) د میم فتحه او د سین ، سکون ذے (اشعةاللمعات)

Maktaba Tul Ishaat.com

(مولاۃ) عتیقۃ "آزاده شوې" او د زوړ مشک فائده دا ده چه مرقات کښې دی په دې کښې اوبه خې بخیږي ، دا روایت بخاری کښې باب اذا حلف ان لا یشرب نبیذا فشرب طلاءً د لاندې راغستلې دې (شنًّا) علامه طیبي لیکلې دی واحدها شنّ وشنَّه،

اهاب او شن مینځ کښې څه فرق دې

نضر بن شمیل فرمائي اهاب هله وي چه دباغت ئې نه وي ورکړي دَ دباغت نه پس ورته شن او قربة وئیلې کیږي،

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

(۱۱):عَن لبَابَة بنت الْحَارِث قَالَتْ: كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فِي حِجْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم فَبَال عَلَيْهِ فَقُلْتُ الْبَسْ ثَوْبًا وَأَعْطِنِي إِزَارَكَ حَتَّى أَغْسِلَهُ قَالَ: «إِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثَى وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْن مَاجَه وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ وَالنَّسَائِيِّ عَنْ أَبِي السَّمْحِ قَالَ: يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْجَارِيَةِ وَيُرَشُّ من بَوْل الْغُلَام

ترجمه : لبابة بنت الحارث نه روایت دې چه حسین بن علی د نبی علیه السلام په جولئ کښې وؤ نو د هغوی په جامه کښې واړه بول اوکړل ما ورته اووې چه بله جامه واچوه او خپل لنګ دِ ماله راکړه چه اوئې وینځم اوئې فرمائیل د ماشومې متیازې به یقینًا وینځلې شي او د ماشوم په متیازو به چړکاؤ کیدلې شي (یعنې سرسری به بې د مبالغې وینځلې شي)

تشریح : د لبابة مختصر حالات

ام الفضل ددې کنیت وؤ بنو عامر قبیلې سره ئې تعلق دې ، د ابن عباس رضی الله عنه بي بي او دَ میمونې ام المؤمنین خور ده د سیدنا ابن عباس اکثر اولاد ددې نه دې د خدیجې رضی الله عنها نه پس دې د ټولو نه مخکښې ښځو کښې اول اسلام قبول کړې دې،، د عبدالله بن عباس او د فضل بن عباس مور وه

د الحق الصریح صریح دلیل

دا صریح دلیل دے چه د هلک په متیازو به صرف چړکاؤ کولے شی څکه دلته نضح مقابل د غَسل ذکر شوے دے فتدبّر اؤ وروسے روایت کښې دی چه کوم علماء دا فرق نه کوی هغوی قیاس مقدم کړے دے په نص صریح واضح باندے چه هغوی بول الرضیع قیاس کړے دے په بول الشیخ باندے"

د نص صریح واضح حیثیت

دوی د اذا دُبغ الأهاب فقد طهر د لاندِ لیکلے دی دا رنګه خنزیر او کلب د نجاست په وجه مستثنیٰ دے" خپله ئے نجاست د کلب په خنزیر قیاس کړے دے او الفاظ ئے د استثناء ذکر کړی دی بغیر د څهٔ دلیل نه دویمه دا ده د استثناء نه مرقات کښې ملا علی قاری لیکلے دی چه "انما یغسل ای الثوب علی وجه المبالغة" دواړو کښې وینځل دی د جینئ هغے کښې مبالغه ده مګل به پکښې وی او اوبه به پکښې جاری کوی او دغسے کاروائی ماشوم کښې نه ده ضروری او د عائشے رضی الله عنها روایت کښې دی چه یو ماشوم په نبی علیه السلام بول اوکړل اوئے فرمائیل "صبّو علیه الماء صبًّا" واړوئ په دے اوبه په اړولو سره او نچوړولو ته ئے حاجت نشته بیا ئے لیکلے دی "وامّا قول ابن حجر بعد قول المصنف والنسائی وابن ماجه وسنده صحیح والله اعلم بصحته" دلته صرف د قیاس د وجے مسلک احنافو نه دے جوړ کړے بل نص ورسره شته په دغه معنی دغهٔ نص شته لیکن صریح واضح غیر متعارض نه دے"

د ابوداؤد ددے روایت سند

حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ وَالرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ الْمَعْنَى قَالاَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ سِمَاكٍ عَنْ قَابُوسَ عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ رضی الله عنه الخ او مقدمة الموسوعة الحدیثیة ۳ــ۱۲۷ باندِ دی "تفرّد بها سماک عن قابوس ، وقابوس انّما وثقة ابن حبان علی طریقته فی توثیق المجاهیل وهو توثیق لا یعتدّ به لتساهله فی الوثیق" او بیا ئے لیکلے دی چه د باب احادیثو کښې د رش او نضح معنی وینځل دی وهذا هو الأحوط الموافق للعزیمة انتهی

د علامه عینی حواله

دے بحث کښې لیکی "واجابوا عن ذالک بأن النضح هو صبّ الماء لأن العرب تسمی ذالک نضحًا" چه د نضح معنی د عربو په استعمال کښې اوبه اچول دی

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ سید علامه بنوری وضاحت

معارف السنن کښې دی "الا ترى انّ ام الفضل لبابة بنت الحارث قد روى عنها حديثان احدهما فيه النضح ، والثانی فيه الصب ونحمل النضح على الصب وفعا للتضاد وعملًا بالحديثين" چه د لبابه دوه حديثونو کښې يو کښې نضح او بل کښې صب راغلے دے نو مونږ به نضح په صب حمل کوو چه تضاد ختم شی او په دواړو حديثونو عمل اوشی" وجه د قياس مقدم کول په نص صريح غلط دی بلکه مقصد په دواړو حديثونو عمل دے او مجمع الزوائد کښې د حسن يا دَ حسين واړه بولو کښې فرمائيلے دی ثم اتبعه الماء،

ابو السمح څوک دے

علامه عينی ليکلے دی نوم ئے نه دِ معلوم او دغه يو حديث ترِ نقل دے دغسے ابوزرعه الرازی وائی او سبل السلام کښې دی چه اياد دده نوم دی او د نبی عليه السلام خادم وؤ او بيا ئے ليکلے دی فالأكثر انه نجس وانما خفف الشارع فی طهرة چه اکثر علماء ورته نجس وائی او شارع ئے په پاکوالی کښې تخفيف کړے دے او مرآة المناجيح کښې دی چه د نبی عليه السلام آزاد شوے غلام او خادم دے

(١٢):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذَى فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طَهُورٌ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَلِابْنِ مَاجَه مَعْنَاهُ

ترجمه : کله چه تاسو کښې څوک خپل پيزار سره ناصفا ځائے د خپے لاندِ کړئ ، يقيناً خاوره دے له پاکونکے ده

تشريح : مرقات کښې دی چه د موزے او دَ پيزار حکم يو دے ، قاضی شمس الدين رحمة الله عليه ليکلے دی په التعليق الفصيح کښې چه د الأذى نه پليت ځائے نه دِ مراد بلکه هغه ځائے مراد دے چه صفا نه وی او دا مطلب هم نه دے که خپے سره پليتی جُخته اولګی نو دا به په خاوره پاکيږی حاصل د مسئلے دا دے چه په دے خپه نه پلتيږی او که بالفرض پليته هم شی خاوره به دے له پاکونکی وی ځکه داسے قسم نجاسات په داسے قسم پاکولو سره پاکيږی

او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دے چه مونږ به پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره لمونځ کوؤ او که د خپے د لاندې به داسے څه څیز راغے خپے به مو نه وینځلے یعنی کورونو کښې به مونږ اودس اوکړو او بیا به مسجد ته خپے ابلے تلو نو د دغسے قسم تلو د وجے به مونږه خپے نه وینځلے او په خپے ابلے خپو به مونږه پرواه نه کوله په احادیثو کښې د نعل او خف ذکر دے لیکن فقهاء کرام د دواړو حکم کښې هر هغه څیز داخلوی چه هغه صفا مېین وی په هغے کښې مسامات نه وی لکه آئینه او تُوره وغیره شوه

(د أذی مصداق) دے کښې درے اقوال دی

(۱) ابوثور اسحاق بن راهویه ، امام اوزاعی ظاهریه ، یو روایت د امام احمد او د امام شافعی رحمة الله علیهم قدیم قول دا دے چه ددے نه مطلق نجاست مراد دے که اوچ وی یا لوند په هر صورت کښې موزه او پیزار په مکلو سره پاک کرځی وینځلو ته ددے حاجت نشته او د حدیث ظاهر الفاظ ددے تائید کوی او ابن قدامه دَ امام احمد دے روایت له ترجیح ورکوی

(۲) امام مالک فرمائی چه د اذی نه مراد داسے څیز دے چه کرکه تږ کیدے شی او یا ددے نه اوچه پلیتی مراد ده ، لوند نجاست ترے نه دِ مراد ، که لوند نجاست موزے یا پیزار ته اولګی وینځل د هغے ضروری دی صرف په مکلو نه پاکیږی دا د امام احمد رحمة الله علیه دویم روایت هم دے او دریم روایت د امام احمد رحمة الله علیه دا دے که خف یا نعل ته که واړه بول یا غټ بول اولګی نو وینځل ئے ضروری دی او که ددے دوو (۲) نه علاوه بل ناپاک څیز ورته اولګی بیا دلک یعنی مکل کافی دی ، او د شوافعو کتابونو کښې وینځلو ته ضروری وئیلے دی

(۳) احناف رحمة الله علیهم فرمائی ددے نه اوچ نجاست مراد دے او دغسے هغه لوند نجاست چه جسم لری هغه ذی جرم مراد دے رطبة غیر متجسدة په کښې نه دے داخل دے ته مرئیه هم وائی،

د امام ابوحنیفه او د امام ابویوسف اختلاف

د امام صاحب په نزد داسے قسم نجاست ته د اوچیدو او بیا د مکلو په وجه پاکی حاصلیږی د اوچیدو نه مخکښې نه حاصلیږی ځکه چه نجاست اوچ نه وی نو په مکلو سره نور پلیتوالے زیاتیږی،

Maktaba Tul Ishaat.com

او امام ابویوسف د اوچ والي قید نه لګوي بلکه د اوچیدو نه مخکښ په مګلو پاکي راځي درمختار کښې ددے حدیث د اطلاق او د عموم د وجے د امام ابویوسف قول له ترجیح ورکړے ده په دے وجه دا حدیث د امام مالک او د امام شافعي قول جدید چه د هغوی په نزد معتبر دے په ظاهره ددے خلاف معلومیږی نو دوی تاویل کوی چه د اذی نه الشئ المستقذر یعنی هغه څیز چه کرکه ترِ کیګی هغه مراد اخلي یا بیا زیات نه زیات اوچ نجاست بانډِ حمل کوی ، په دے مسئله کښې زیات وسعت د ظاهریه او دَ حنابله په قول راجح کښې دے او د مالکیانو او د شوافعو په نزد پکښې تنګی ده ، د دویٔ په نزد لوند نجاست مطلقًا نه دِ داخل د هغے وینځل ضروری دی او د احنافو مسلک کښې اعتدال دے د نجاست رطبه یو قسم چه جسد لری دغه جُثے والا پکښې داخل دے او دویم قسم یعنی غیر متجسده په کښې نه دِ داخل

د حاشیے مراقي الفلاح علٰی نورالایضاح حواله

دے کتاب کښې دی چه موزه او پیزار په اوبو او په بل مائع او په دلک سره پاکیږی چه په زمکه یا خاوره کښې اومګے دا حکم د هغے د نجاست دے چه جرم ورله وی

د امام نووی تحقیق

کتاب المجموع ۲ـــ۴۲۷ بانډِ دی چه کله لانډِ موزے یا پیزار ته لوند نجاست اولګی او په زمکه ئے اومګی او نجاست ختم شی او اثر ئے باقی وی نو کتلے به شی که اُوئے مګی او لونده وی دا نه کافی کیږی او بالأتفاق په دے کښې نمونځ نه کیږی ځکه نجاست د ظاهر موزے د اجزاؤ د متعین ځائے نه بل ځائے ته خور شولو او که موزه اوچه شوی وی اوئے مګی او اجزاء پکښې د خپل ځائے نه اخوا دیخوا نه وی خواره شوے نو خف بالأتفاق پلیت دے لیکن دے کښې اختلاف دے چه آیا دا نجاست معاف دے چه نمونځ پکښې صحیح کیږی دوو قولونو کښې اصح نوے قول دا دے چه نه صحیح کیږی او دا د امام احمد صحیح روایت دے او قدیم قول او د امام ابوحنیفه قول دا دے چه نمونځ صحیح کیږی

د مسئلے حاصل

که پیزار ته نجاست اولګی دوه صورتونه دی یا به اوچ وی یا به لوند که اوچ وی نو موزه او پیزار د زمکے په مګلو پاکیږی لکه حدیث کښې دی او که لوند نجاست اولګی نو څمونږه ، د امام احمد او د امام ابویوسف رحمهم الله په نزد په خه مګلو سره پاکیږی دا د امام شافعي یو قول دے او یو قول د امام

ابوحنیفه او د امام شافعی دا دے چه په وینځلو پاکیږی او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت کښې چه راځی ولانتوضّأ من المؤطی ای لا نغسل ارجلنا د هغے جواب دا دے چه په گندگئ لگیدو به مونږ اودس نه کولو بلکه صرف خپے به مونږه وینځلے (خیرالتوضیح)

مظاهرحق کښې دی چه فقه حنفی کښې فتوی د امام ابویوسف په قول ده که موزه یا پیزار باندِ که تنه داره نجاست اولگی که اوچه وی یا لونده نو په زمکه خه مکلو سره موزه یا پیزار پاکیږی د علماؤ اختلاف تنے والا نجاست سُوته وغیره کښې دے ځکه که نجاست تنه او جُثه نه لری مثلاً واړه بول یا شراب د ټولو اتفاق دے چه وینځل واجب دی

د امام محمد رحمة الله علیه قول

التقریر الرفیع کښې دی چه صرف په وینځلو به پاکیږی که اوچه وی یا لونده (البدائع) او تبیین الحقائق کښې دی چه امام محمد او امام زفر رحمهما الله فرمائی چه صرف وینځلو سره پاکیږی

دَ جرم او غیر جرم امتیاز

تبیین الحقائق کښې دی چه د اوچیدو نه پس په ظاهره موزه پاتے کیږی لکه وینه او غټ بول وغیره نو دا ذی جرم دے او داسے نه وی نو غیر ذی جرم دے

د شیخ عبدالحق وضاحت

"فأنّ التراب له طهور" ددے نه امام ابوحنیفه اوچ نجاست اخلی مثلاً پیزار په زمکه او خاوره مکلو سره پاکیږی ، لیکن شرط ورله اوچ نجاست دے

(دویم صورت) دا مطلق نجاست باندِ حمل دے که اوچ وی یا لوند او وائی چه دَ اسانتیا دپاره دغه حکم دے او دا د ابویوسف او شافعی قدیم قول دے اکثر په دے قول دی او په نهایه شرح الهدایه کښې دی چه شمنی وائی په دے قول فتویٰ ده او امام محمد فرمائی چه نه پاکیږی او توریشتی د "ان التراب له طهور" تاویل کوی چه پیزار سره گندگی اولگی او په خاورے سره ددے آثار ختم شی نو بیا د مسجد په زمکه خپے کیخودے شے او لاس ورله اوړلے شے او که جامه ورسره اولگی څه خبره نه ده او په دے د طهور استعمال مجازًا د وسعت او د استحباب دپاره دے لیکن اشعةاللمعات او لمعات دواړو کښې شیخ عبدالحق لیکلے دی چه دا لرے تاویل دے او خلاف الظاهر دے

Maktaba Tul Ishaat.com

علامه کاسانی څه فرمائی

بدائع الصنائع کښې دی چه ټول نجاستونه کپړے یا بدن وغیرهما ته اولګی صرف په وینځلو پاکیږی که اوچ نجاست وی یا لوند او که مائع وی یا ورله جرم وی

د صاحب المفاتیح ذَ حدیث وضاحت

لیکی چه امام اوزاعی او ابوثور فرمائی چه پیزار یا شوزه ته لوند نجاست اولګی او په زمکه ئے اومګے چه د هغے آثار ختم شی د نمونځ د جواز قول دے او د امام شافعی په نزد د نجاست د لرکولو طریقه صرف د اوبو استعمال دے او د امام ابوحنیفه قول دا دے چه کله پیزار یا موزے ته نجاست اولګی زمکه باندِ راخکلے د نمونځ جواز دے لیکن که لوند نجاست وی بیا عدم جواز دے

د صاحب د الحق الصریح په احنافو تردید

لیکلے دی ددے حدیث د ظاهر نه احنافو خلاف کړے دے لکه صاحب هدایه په باب الانجاس کښې وائی چه کله څپلئ وغیره پورے ذی جرم نجاست اولګی اوچ شی بیا زمکے پورے مګل کافی دی او که نجاست ذی جرم نه وی بلکه متیازے وی یا ذی جرم وی خو لوند وی بیا په مګلو نه پاکیږی وینځل ئے ضروری دی څکه چه په زمکه راخکلو نور هم پلیتی زیاتیږی حال دا چه دا فرق صحیح نه دے په دے حدیث کښې دا فرق نشته بلکه هر قسم نجاست اوچ وی که لوند، ذی جرم وی که غیر ذی جرم ټولو دپاره په زمکے مګل کافی دی، وینځل ضروری نه دی دا وجه ده چه احنافو دے باب کښې د امام ابوحنیفه مذهب پریخے دے او رجوع ئے کړے ده مذهب د امام ابویوسف ته لکه نهایه، عنایه، فتح القدیر او بحرالرائق کښې وائی "وعلیه الفتویٰ لعموم البلوی ولأطلاق الحدیث" لږ روستو لیکی چه د امام ابوحنیفه او ابویوسف مذهب خلاف دے ذَ ظاهر د حدیث نه چه په ابتداء د فصل ثالث کښې راروان دے او ورستو لیکی چه ثابته شوه حدیث صحیح دے لکه ابن حبان او حاکم خپل کتاب کښې وئیلے دی، "وقال الألبانی فی تعلیق المشکوة فی سنده انقطاع" لیکن دوه شاهدان عائشه او ابوسعید د وجے صحیح دے او صحیح ابوداؤد کښې دی "صحیح بشواهده"

وضاحت

الأستذکار ۱ـــ۲۱۲ بانذِ علامه ابن عبدالبر لیکلی دی "اذا وطیٔ احدکم الخ وهو حدیث مضطرب الاسناد الخ" قول د امام ابویوسفؒ مفتٰی به دے او فقه حنفی د مفتٰی بها مسائلو د ترجیح و ترویج نوم دے په مسند احمد او مسند د ابوسعید الخدری ۳ـــ۵۱۹ حدیث نمبر ۱۱٤٦۷ بانذِ روایت دے او ابوداؤد د بالصلوة فی النعل کښ راغستلے دے "اذا جاء احدکم الی المسجد فلینظر فی نعلیه فأن رأی فیها قذرا او قال اذی فلیمسحها" او بل د ابوهریره حدیث دِے چه هغه حدیث الباب دے د هدائے فتوی ددے دوو حدیثونو مجموعه ده ، او مصنف عبدالرزاق کښ اول باب ابوال الدواب وروثها د لانذِ ۱٤۷٦ نمبر روایت دے معمر فرمائی ما د یو سړی نه تپوس اوکړو که د چا د خپے لانذِ لوند خشنړه راغے څه حکم دے اوئے فرمائیل "ان شاء مسح رجلیه بالأرض" که اوغواړی په زمکه دِ دواړه خپے راخکی په دے اثر کښ دی چه نجاست په مکلو پاکیږی او د "فأن التراب له طهور" نه امام ابوحنیفه اوچ هغه نجاست اخلی چه په زمکه ئے بیا اومکی

(۱۳):وَعَن أم سَلمَة قَالَتْ لَهَا امْرَأَةٌ: إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي وَأَمْشِي فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ» . رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَا: الْمَرْأَة أم ولد لِإِبْرَاهِيم ابْن عبد الرَّحْمَن بن عَوْف

ترجمه : د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه یوے ښځے ورته اووے څه خپله لمن اوګده ساتم او په ناپاکه ځائے څه تیریږم (څه حکم دے د کپړے) ام سلمه (رضی الله عنه) فرمائی چه نبی علیه السلام راته اوفرمائیل دا به ورستو راتلونکے پاکه زمکه پاکه کړی او وائی چه دا ښځه دَ ابراهیم بن عبدالرحمن امّ ولده وه

تشریح : خیر التوضیح کښ دی چه ددے حدیث نه اجماع معلومیږی ځکه د علماؤ اجماع ده که کپړے سره ګندګی اولګی نو د هغے پاکئ طریقه صرف وینځل دی حالانکه ددے حدیث معلومیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

که لمن سره کندکې اولګي که پاکه زمکه بانډې اومکلے شي پليتي لر کيږي ظاهر کښې د حديث او اجماع مينځ کښې تعارض پيدا شو

جوابات

(۱) ددے نه اوچ نجاست مراد دے ، لوند نه دې مراد او دا اوچ د زمکے په مکلو پاکيږي

(۲) دے حديث بانډې کلام دے د صحيح احاديثو معارض نشي جوړيدے

(۳) شاه انور دا توجيه غوره کوي چه د ښځے په کپړا حقيقة پليتي نه لګيده صرف وسوسه ورته راتله د وهم او د وسوسے ازالے دپاره ورته "يطهّره ما بعده" نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل

(٤) شاه صاحب دا توجيه هم کوي چه باران اوشي نو د لارے طرفونو کښې پليتي راشي او بيا دغه لارے اوچے شي داسے لار بانډې د اوچ والي حالت کښې تيريدل ددے نه مراد دي دغه وختونو کښې به په لارے اوبه جمع کيدے ځکه دے ښځے دغه سوال اوکړو قاضي شمس الدين خپل تعليق کښې دا د باب دفع الوساوس والتوهّمات نه مني دا مطلب نه دے چه حقيقي نجاست لمن سره اونخلي او پيوست شي راتلونکے خاوره به دا پاک کړي او د فصل ثالث اول کښې راتلونکے حديث هم په دے حمل دے

دَ علامه تورپشتي تحقيق

دوي اجماع نقل کړے ده که جامه په لوند نجاست ناپاکه شي بالأتفاق د هغے د پاکئ دپاره د هغے وينځل ضروري دي نو د قذر نه پليتي نه ده مراد د لارے ختے يا کرکے والا ځيز توکانړي ، خراشکے او بلغم وغيره ترے مراد دي ، دے وخت کښې کپړا ځکه پاکه ده چه د لارے ختے پاکے دي اشعة اللمعات کښې دي "ودر حديث امّ سلمة البتة حمل قذر يابس بايد کرد" او لمعات کښې دي چه اوچ نجاست مراد دے ځکه چه په لوند کښې اجماع په وينځلو ده او فتح الاله کښې دي "اشارة الى ترک الوسوسة" او علامه شامي ليکلے دي چه "طين الشارع" د امام محمد په قول پاکه ده او په خلاصه کښې دي چه امام حلواني دا خبره نه قبلوي ، ليکن د عام مشائخو قول د پاکوالي دے او التعليق الصبيح کښې دي چه معلوميږي د بخارئ دغه خټه پاکه ده دغسے هر کلي کښې دغه ختے د عموم البلوئ د وجے پاکے دي دغسے بحرالعلوم په رسائل الأرکان کښې ليکلے دي،

او مسوي کښې وجه دا ذکر کړے ده چه ددے نه بچاؤ مشکل دے او هدایه کښې د امام محمد رحمة الله علیه روایت دے چه کله هغوی "رې" نهر کښې ارواث اولیدل فتوی ئے ورکړه چه دا د نمانځه نه مانع نه ګرځی ، معارف ترمذی کښې د "امرءةٌ اطیل ذیلی" د لاندے لیکلے دی که پاکه زمکه وی بیا حرج نشته ، او زمکه ناپاکه وی او یا ئے خپے لوندے وے بیا به ئے وینځی او "المکان القذر" نه هغه لار مراد ده چه څه ښځلے او خل پل غوندے وی خاص نجاست نه دِ مراد

د شاه انور تحقیق

عرف الشذی کښې دی چه د حدیث مطلب دا دے یو کس اودس اوکړو او خپے ابلے مسجد ته روان شو د لارے حال معلوم نه دے او نه د نجاست مشاهده په لاره کښې څوک کولے شی نو نبی علیه السلام داسے مقام کښې هم فرمائیلے دی چه خپے وینځل پرِ نشته نو د وهم ازاله دلته اوشوه داسے دَ ښځے چه کوم وهم ئے په دے ختمه کړه چه ورستو پاک ځائے که بالفرض تا ته ناپاک ښکاری دا به دغه پاک کړی

الحق الصریح کښې دی چه د اوچ نجاست تاویل ددے حدیث خلاف دے لیکن علامه خطابی معالم کښې لیکلے دی "کان الشافعی یقول انما هو فیما مرَّ علی ما کان یابسًا" لیکن چه کله د نجاست مشاهده نه وه او ددے وهم وؤ نو "یطهّره ما بعده" ئے ورته وسوسے د ختمولو دپاره علی اسلوب الحکیم فرمائیلے دی او په نجاست یابسه حمل کول دے دپاره دی چه دا د حدیث دَ اجماع خلاف نشی" او بیا هم چا ته په لوند نجاست اصرار وی نو الدرالمنضود کښې دی چه وئیلے به شی چه حدیث ضعیف دے،

تأویلات

(۱) په اوچ نجاست دِ حمل شی

(۲) ددے نه توکانړی ، کنړ یا بلغم غوندِ دَ کرکے څیزونه مراد دی

(۳) د باران خته چه لاره کښې وی په هغے دِ حمل شی

(٤) د وهم ازالة علی اسلوب الحکیم وه

مسئله : "انّی امرءة اطیل ذیلی" ددے روایت نه معلومه شوه چه د زنانه دپاره دومره اوګد قمیص چه ګیټئ ورله پټے کړی جائز دی ، نارینئو دپاره مؤکد حکم دے چه کم از کم ګیټئ به ښکاره کوی که

Maktaba Tul Ishaat.com

مانځه کښې وی او که بهر" که کیتیځ په لنګ پټې ساتی کراهت پکښې دے په کراهت تنزیهی او تحریمی کښې اختلاف دے، مشکوۃ ثانی کښې به ان شاء الله راشی

(١٤): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بن معدي كرب قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ جُلُودِ السِّبَاعِ وَالرُّكُوبِ عَلَيْهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : د مقدام رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی پاک صلی الله علیه وسلم د درندګانو د څرمنو اغستلو او په هغې باندِ د سوریدلو نه منع فرمائیلے ده

تشریح : د مقدام رضی الله عنه پیژنګلو

مشهور شامی صحابی دے بنی کنده قبیلے سره تعلق لری د شامیانو کوم وفد چه د اسلام قبلولو دپاره راغلے وؤ دوی پکښې وو ٨٧ھ کښې شام کښې وفات دے لمعات التنقیح کښې دی چه د منع حکم د امزری پړانګ وغیره د څرمنو دَ استعمال نه دے لکه دا د هغوی عادت وؤ او د "رکوب" نه مراد ناسته او څورلیځ له کدیځ جوړول دی او ځان ته خورول دی لکه د ابوالملیح حدیث کښې دی دا د متکبرینو، بدمعاشانو او بد مستو طریقه ده نو نفی د تنزیه دپاره ده او څوک چه وائی چه د مردارے ویخته پلیت دی او ویخته په دباغت هم نه پاکیږی او یا دا اووائی چه د مردارے څرمن په دباغت هم نه پاکیږی د هغوی په نزد نهی د تحریم ده علامه طیبی هم د کراهت تحریمی او د تنزیهی دواړه قوله نقل کړے دی التعلیق الصبیح کښې علامه کاندهلوی لیکلے دی چه د لوئی مارو او د بدمستو عادت د نیکانو سره لائق نه دے او دا احتمال هم نشته چه د نجاست د وجے منع راغلے وی،

مقدمه د الموسوعة الحدیثیه ٣ــــ٢٠٦ باندِ دی چه سیّدنا عمر رضی الله عنه شامیانو ته خط لیکلے وؤ چه د درندګانو د څرمنو نه جوړ زین باندِ نه سوریږی او آخر د بحث کښې دغه موسوعة کښې دی چه امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه په دے ناسته لابأس به ده او یو تن د لومبړے د څرمن نه توپیځ جوړه کړے وه نو عمر رضی الله عنه هغه توپیځ ورله دَ سر نه اوغورځوله او اوئے فرمائیل "ومایدریک لعلّه لیس بذکی" معلومه شوه چه د ذکی کراهت شته او امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه بعض صحابه د کراهت وجه دا بیانوی چه ددے مشابهت د عجمیانو د "رکوب" سره راځی،

د الموسوعة الحدیثیه حواله

جلد ۵ــ۳۴۰ باندِ دی "باب من لایری بأسًا لجلودالسباع والنمر ، محمد قال اخبرنا ابوحنیفة عن حماد" چه د ابراهیم په سر دوی دَ لومبړے توپئ اولیدله نو څه ئے اونه فرمائیل امام محمد رحمة الله علیه وائی په دے مونږ عمل کوو او دغه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قول دے او مصنف عبدالرزاق کښ د ابراهیم نه نقل دے "لابأس بجلودالسباع تباع ویرکب علیها وتبسط" د درندګانو څرمنے خرسول په هغے د سورلئ وخت کښ ناسته او هغه خورول "لا بأس به" دے یو ځل ابوسعید الصنعانی د امام ابوحنیفه نه تپوس اوکړو چه د دباغت نه پس د درندګانو د څرمنو استعمال آیا مکروه دے ، جواب ئے ورکړو "ذاک یکره من لا عقل له" (کشف الآثار للحارسی) مرقات کښ دی چه د سخاب څرمن حرامه ده دا د مکے نه غټ ځناوردے ویخته پرِ ډیر وی دا حیوان ذبح کیږی نه بلکه مرغټ ورله تاوی ، فتح الاله کښ علامه هیثمی لیکلے دی چه د دباغت نه پس ددے استعمال حرام دے بیا دوی لیکلے دی چه د ماشوم په سر د عقیقے چیلی وینه لګول جائز دی دا د قیاس نه خارج خبره ده" مقصد ددے قربة د وینے هغه تبرک وی چه ماشوم برکتی شی او د کراهت وجه دغه ده چه د بدمعاش خلقو او د غُنډګانو شعار او روش دغسے دے بهر حال چه کله غیر مذبوح وی یا د تکبر د وجے وی او خپل ظلم خلقو ته ښکاره کول غواړی بیا کراهت دے او بعض علماء فرمائی د دباغت نه مخکښ نهی تحریمی ده او د دباغت نه پس تنزیهی ده د وجے د مشابهت د متکبرینو نه مرقات کښ دی چه سند کښ بقیه دے او په دے کښ مقال دے

(۱۵):وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَى عَنْ جُلُودِ السِّبَاعِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَزَاد التِّرْمِذِيّ والدارمي: أَن تفترش

ترجمه : نبی علیه السلام د درندګانو د څرمنو نه منع کړے ده او یو روایت کښ راځی چه هغه اوغوړولے شی،

تشریح : ابوالملیح تابعی دے او د دوی پلار أسامه رضی الله عنه صحابی دے

قاضی شوکانی دے روایت ته مرسل وائی او دغه اصح ګنړی،

Maktaba Tul Ishaat.com

د جلود السباع نه د پړانګ ، کیدړ وغیره څرمنې مراد دی ، نیل الأوطار کښې قاضي شوکاني رحمة الله علیه لیکلي دي چه پړانګ د امزری نه زړه ور او ډیر پلیت دے ده باندې تور سپین ټاکی وی او څرمن ئے د امزری سره مشابهت خوری لیکن دے د امزری په نسبت وړوکی وی ، او د ځلی نه دده د امزری غونډې بدبوئی نه خیژی ، دده او دَ امزری مینځ کښې دشمنی وی او ډیر لرے پورے تقریبًا څلویښت ګزه ټوپ وهی او ددے د څرمنو نه دَ منع کیدو وجه دا ده چه پکښې ډول مقصود وی او دا دَ لوئی علامت جوړیدے شی،

او الموسوعة الحدیثیه ۵ــ۳٤٠ باندې دی چه یو ځل ابوسعید الصنعانی دَ امام ابوحنیفه نه تپوس اوکړو "هل تکره جلود السباع اذا دبغت" د درندګانو د څرمنو د دباغت نه پس استعمال تاسو بدګنړئ اوئے فرمائیل دا خو بیا یو بے عقله کس به مکروه ګنړی (کشف الآثار ــــ٣٢٣) "

(١٦):وَعَنِ أَبِي الْمَلِيحِ: أَنه ذكره ثمن جُلُود السبَاع. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ فِي اللبَاس من جَامعه وَسَنَده جيد

ترجمه: دَ ابوالملیح نه روایت دے چه دوی د درندګانو د څرمنو قیست مکروهه ګنړی

تشریح: "انّه ذکره" که د "ه" ضمیر ابوالملیح ته راجع وی نو په موښره حجت نه دے او که نبی صلی الله علیه وسلم ته راجع وی نو بیا حجت دے لیکن دا به په غیرمذبوحه حمل کولے شی او د فتاوی قاضی خان جزئیه صاحب د مرقات نقل کړے ده چه د درندګانو د څرمنو قیمت مکروه دے که مذبوح وی یا غیرمذبوح" او ابن حجر ئے درست ګنړی علامه هیثمی فتح الأله کښې لیکلي دي "وکره ثمن جلود السباع" چه ددے استعمال منهی عنه دے او څنګه چه د ملاهی او ټنګ ټکور آلات خرڅول مکروه دی دغسے ددے حکم هم دے د رواه نه بعد خالی ځائے دے او دا ترمذی روایت دے

(١٧):وَعَن عبد الله بن عكيم قَالَ: أَتَانَا كِتَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنْ لَا تَنْتَفِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : د عبدالله بن عُکیم رضی الله عنه روایت دے مونږه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم خط راغلے وو د هغے دا مضمون وو چه تاسو به د کچے څرمنے او دَ پلو پټهو نه فائده نه اخلئ

تشریح : تعارف د عبدالله بن عُکیم

تابعی دے جُهنی قبیلے سره ئے تعلق دے د نبی علیه السلام زمانه ئے موندلے وه لیکن نبی پاک صلی الله علیه وسلم ئے نه دے لیدلے او نه ئے ترِ روایت کړے دے اگرچه بعض ئے صحابه کښې شماری لیکن صحیح دا ده چه تابعی دے د عمر، ابن مسعود او حذیفه رضی الله عنهم شاگرد دے او حدیث ئے کوفیینو کښې حسابیږی (مرقات) او اشعة اللمعات کښې دی " و صحیح آں است که تابعی است" لمعات کښې شیخ عبدالحق لیکلے دی چه د امام احمد بعض ائمه دا مختار گنړی چه د مردارے دَ څرمن دپاره هر حالت کښې نجاست دے که دباغت ئے کړی وی یا نه او دا حدیث دلیل گرځوی ابوداؤد کښې دی چه میاشت مخکښې او ترمذی کښې دی چه دوه میاشتے مخکښې دغه خط راغلے وو لیکن علامه توریشتی کتاب المسیر ۱ـــ۱٦٦ بانډِ د جمهورو قول ددے خلاف نقل کوی چه دا حدیث د مخکښې هغے حدیثو مقابله نشی کولے چه دے باب کښې دباغت نه بعد په طهارت دلالت کوی او امام احمد هم دا حدیث په آخر کښې د سند د اضطراب د وجے پریښودلے دے او امام نووی په الخلاصه کښې په درے وجوهاتو معلل کړے دے یو ددے سند کښې، او دویم ددے متن کښې اضطراب دے او دریم یو روایت کښې درے ورځے، بل روایت کښې دوه میاشتے او بل روایت کښې څلویښت ورځے مخکښې ذکر کوی او دے تابعی مخضرم دے چه د جاهلیت او د اسلام دواړه زمانے ئے موندلے دی

مرآة المناجیح کښې دی چه د مردارے کچه څرمن او پلے پټهے پلیتے دی، ددے نه فائده اغستل او ددے تجارت صحیح نه دے د پخوالی، رنگ ورکولو او د اوچیدو نه پس ئے تجارت حلال دے او نفع اغستل صحیح دی د مردارے خکر او نوک وغیره چه پکښې د ژوند اثر نه وی او د هغے په پریکولو تکلیف ورته نه ملاویږی د هغے نه نفع اغستل مطلقًا جائز ده او دغه د ټولو آئمه مذهب دے

بعض علماء د مردار د پټهو باره کښې دواړه قوله ذکر کوی چه څوک ورته ناپاک وائی دلیل ذکر کوی چه په دے کښې د ژوندون نخه دا ده چه ددے پریکولو سره تکلیف ملاویږی او چه ژوند ورسره متعلق شو نو د مرگ د وجے ناپاک وی نو پټهے ناپاکے دی او چه څوک د پاکوالی قول کوی وائی چه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

یو قسم هډوکے دے او د مردارے په هډوکی چه کله په هغے غوړوالے او غوښه نه وی هغه پاک وی نو پټهے پاکے دی

ددے روایت حیثیت

حافظ ابن حجر تلخیص الحبیر صـــ۲۰۲ باندِ لیکلے دی چه امام بیهقی او خطابی دے خبر ته مرسل وائی او ابن حبان د روایت د تخریج نه بعد وائی دا خبر متصل نه دے او دے وائی چه داسے خلق وائی خو داسے نه ده بلکه عبدالله بن عکیم د پیغمبر خط لیدلئ دے چه کله جُهینه قبیله کښې هغه لوستلے شوے وؤ او د ماوردی دا خبره یو ډیره عجیبه ده چه علی بن المدینی نه نقل کوی چه کله نبی صلی الله علیه وسلم وفات کیدو نو د عبدالله ، عمر یو کال وؤ او صاحب الامام وائی چه ددے رواۃ ثقات دی او ضعف دِ په اضطراب حمل شی دغسے د امام احمد نه نقل دی،

او شوافع جواب کښې وائی روایت مرسل دے عبدالله د نبی علیه السلام نه اوریدل نه دی ثابت او عبدالرحمن بن ابی لیلی د عبدالله بن عکیم نه څه نه دی اوریدلی ، او په سند کښې هم اضطراب دے،

د صاحب د سبل السلام رائے

لیکی د حدیث په سند کښې اضطراب دے او منقطع دے لیکن البانی لیکلے دی چه دا تعلیقات ټول مردود دی" په ټولو روایاتو کښې اضطراب نه دے صرف د عبدالرحمن بن ابی لیلی روایت کښې دے لیکن په روایت د القاسم بن مغیره کښې اضطراب نشته دے،

دَ علامه البانی خپل قول

ارواء صـــ۷٦ کښې ورته صحیح وائی او وائی چه په بله طریقه امام بیهقی ددے تحسین کوی او بیا لیکی "قلت وهذا الاسناد صحیح وموصول عندی ، رجاله کلهم معروفون ثقات من رجال الصحیح" او لیکی دَ جهینه اشیاخ صحابه دی د نوم جهالت نقصان نه کوی لکه چه ظاهره ده ، دواړه روایته صحیح دی اختلاف پکښې نشته ، نو دِ حافظ دے له په ارسال معلل کول لکه تلخیص کښې کړے دی د علمی تنقید په میدان کښې غوره نه دی" ابن عکیم که د پیغمبر نه نه دی اوریدلی نو دغه راغلے خط چه قبیلے ته راغلے وؤ ددے د اوریدلو اعتراف حافظ صاحب هم کړے دے او البانی صاحب اضطراب ته

مرجوح وائی او لیکی چه دا اضطراب د ابن ابی لیلی په طریق کښې دی او د قاسم طریقه کښې نشته او سند ددے هم صحیح دے

صاحب د الحق الصریح څه وائی

صـــ۵۷۷ باندې وائی دے روایت کښې اول خو ضعف دے اضطراب دے لکه ورستو راځی او ورستو لیکی چه سند منقطع دے او سند مضطرب هم دے او متن کښې اضطراب دے او انقطاع داسے ذکر کوی چه عبدالرحمن بن ابی لیلی د عبدالله بن عکیم نه اوریدل نه دی کړے نو قابل حجت او استدلال نه دے او صـــ۵۸۸ باندې د الحق الصریح دی "لیکن شیخ البانی په صحیح ابی داؤد او صحیح الترمذی کښې ورته صحیح وائی او لیکی هم دا خبره صحیح ده په دے باره کښې ډیر زیات روایات په مختلف سندونو راغلے دی کما فی صحیح ابی داؤد

لیکن راجح مسلک د جمهورو دے ځکه چه د دباغت نه پس د مردارے د څرمنے نه فائده اغستلو کښې صحیح او ډیر روایات دی ، او دے ته اشعة اللمعات کښې شیخ عبدالحق صحیح فرمائیلے دی چه "وحدیث عبدالله بن عکیم ضعیف و اضطراب دارد که نقاهت آں آحادیث نمیتواند کرد" دا حدیث د هغے ځکه کښې او راتلونکو قوی احادیثو مقابله نشی کولے او کتاب هم حجت دے لیکن د جواز روایات د سماع سره تعلق ساتی چه هغه ددے نه قوی حجت ګرځی او چه کوم څرمن له دباغت ورکړے شی هغے ته اهاب نه وائی او تعامل هم د جمهورو نو دلیل دے

(۱۸):وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَرَ أَنْ يُسْتَمْتَعَ بِجُلُودِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُد

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه نبی علیه السلام حکم کړے وؤ چه د مُردارے د څرمنو نه چه کوم وخت ورله دباغت ورکړے شی فائده واغستلے شی

تشریح : مرقات کښې ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی يُسْتَمْتَعَ دَ مجهول صیغه ده امام نووی رحمة الله علیه فرمائی ددے سند جید دے او اختلاف الأئمه کښې ظاهر روایت د امام مالک دا نقل دے چه د مُردارے څرمن په دباغت پاکیږی لیکن ددے استعمال به په اوچو څیزونو کښې کیږی ، او په مائعاتو کښې په دے کښې صرف اوبه اچولے شے

Maktaba Tul Ishaat.com

(١٩):وَعَن مَيْمُونَة مر علی النَّبِي الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّونَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا» قَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ والقرظ» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد

ترجمه : ام المؤمنین حضرت میمونه رضی الله تعالی عنها فرمائی چه نبی صلی الله علیه وسلم د قریشو په څه سړو تیریدو داسے حال کښ چه دوی خپله بیزه د خر غوندې راښکله نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل که تاسو ددے څرمن رنګ کړئ دا به ډیره خه وی ، هغوی ورته اوئیل چه دا خو مرداره ده ، نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا به پاکه کړئ اوبه او د بیرے پاڼړے

(تشریح) (قتل الحمار) یعنی د خر غونډې پړسیدلے وۀ یا د خر د راخکلو غونډې

(لو أخذتم اهابها) مظهر وائی د "لو" جواب محذوف دے "لو اخذتموه فدبغتموه لکان حسنًا" یا "حلّ لکم الانتفاع"په مرقات کښ دي دا چه کله "لو" شرطیه شی او که "لو" تمنّائیه وی بیا دا نفی ده کاش چه تاسو ئے څرمن حاصله کړے ده علامه طیبی لیکلے دی چه "لو" شرطیه دے "لو اخذتم اهابها فدبغتموه لکان حسنا"

(یطهر الماء) ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلے دی چه اوبه ورله څکه شرط نه دے چه دا د "باب الأمامة" سره تعلق ساتی او دَ باب الأزالة سره تعلق نه ساتی او حدیث یا په استحباب حمل دے یا په طهارت کامله حمل دے"

مسئله: د امام ابوحنیفه او امام مالک رحمة الله علیهما په نزد په نمر اوچول او د خاورے استعمال ته دباغتِ حکمیه وائی او امام احمد رحمة الله علیه فرمائی په نمر او خاوره څرمن نه پاکوی بلکه په دارو او مالګه وغیره پاکیدے شی ، او امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه په نمر نه پاکیږی او په خاورے مکلو سره پاکیږی امام شافعی رحمة الله علیه دا دلیل ذکر کوی چه دے حدیث کښ د تشمیس ذکر نشته حدیث کښ "ما یتعلق بالأرض" یعنی د کیکر پاڼړے ذکر دی نو په ترتیب پاکی راتلے شی احناف

وائی دا دوه څيزونه چه حديث کښې ذکر دی دا نظير دے حصر نه دے او "اذا دُبغ الأهاب فقد طهر" روايت مطلق دے

(۲۰):وَعَنْ سَلَمَةَ ابْنِ المحبق: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوك أَتَى على بَيْتٍ فَإِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَسَأَلَ الْمَاءَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا مَيْتَةٌ: «فَقَالَ دِبَاغُهَا طهورها» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد

ترجمه : د سلمه نه روايت دے چه نبی عليه السلام د تبوک په غزا کښې يو کورنئ ته راغے ناڅاپه يو بتک زوړند ئے اوليدو نو اوبه ئے اوغوختلے دوی ورته اوئيل يا رسول الله دا بتک د مُردارے نه جوړ دے اوئے فرمائيل دے له رنګ ورکول د ددے پاکی ده رواه احمد و ابوداؤد

تشريح : (طهور) په معنی د مطهّر دے ، مرقات کښې د اشرف په حواله دی چه د دباغت په دوران کښې يا د دباغت نه پس دَ اوبو استعمال واجب نه دے

(طهورها) مطهّرها دے له پاکونکے ، دے حديث کښې د اوچو او لمدو مينځ کښې فرق نه دے بيان شوے د دواړو يو حکم دے،

(تبوک) غير منصرف دے د علميت او د تانيث د وجے ، تانيث په اعتبار دَ "بقعة" دے يا پکښې علميت او وزن فعل دے تبوک د شام او د وادی القری مينځ کښې يو مقام دے ددے حديث نه مسئله معلومه شوه که مسافر د چا نه د څکلو اوبه اوغواړی جائز دی د تقوی او د توکل خلاف نه دی اوبه خو بنيادی ضرورت دے ددے د څکلو دپاره د ورکولو نه منع د "ماعون" په منع کښې راځی

فتح الاله کښې علامه هيثمی ليکلے دی چه "دباغها طهورها الخ" صريح دليل دے چه څرمن په دباغت پاکيږی که څرمن په هغے څُم او چاتو کښې اوغورځيږی چه په هغے کښې رنګ پروت وی او څرمن رنګ شوه نو د مقصود د حصول د وجے پاکه ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

د سلمه بن المحبق پیژنګلو

خیر التوضیح کښې دی چه نوم ئې صخر بن عتبه الهزلی دے دے د شام اوسیدونکے بصری دے الحق الصریح کښې لیکلے دی چه بعض وائی چه دا هغه اصحاب بابا دے چه په پیښور متنئ کښې پروت دے او بعض وائی نوم سنان بن المحبق دے انتهی،

عرض دے چه سنان بن المحبق دلته نه معلومیږی ځکه دے صحابی نه دے جامع التحصیل فی احکام المراسیل کښې دی سنان بن سلمه بن المحبق دده نه په سنن نسائی کښې یو روایت شته لیکن "ولم یسمع منه بل وُلد فی حیات النبی" د نبی صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې پیدا شوے وؤ او پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورله سنان نوم یخے دے قتاده دده شاګرد یادیږی لیکن تهذیب الکمال دَ مزئی کښې دی "قتاده لم یسمع منه ولم یلق" قتاده دده نه څه اوریدلی هم نه دی او نه ملاقات ئې ورسره ثابت دے بعض وائی سنان بن سلمه بن المحبق چغرش علاقه کښې دفن دے د فتح مکه په ورځ پیدا شوے دے ، بعض وائی دے هندوستان کښې کورنر وؤ او د قلات علاقه د دوی په اقتدار کښې راغلے ده کلران ته هم راغلے دے د کوهاټ او د بنوں د فتح نه بعد ۵۳ھ کښې پشاور ته راغے بیا داؤد زئ ته لاړو او په چغرش کښې شهید شو،

د صاحب الحق الصریح د احنافو سره تعصب

احناف دده باره کښې وائی چه دده حدیث راشی او د عقل وقیاس خلاف وی نو قیاس له به ترجیح وی دده په حدیث کښې کما فی الحسامی فی باب السنة دا خبره د دوی غلطه ده"

(جـواب) دغسے عبارت نقل کول په صاحب د حسامی افتراء ده دَ حسامی عبارت داسے دے "وان کان الراوی مجهولًا لایعرف الا بحدیث رواه او بحدیثین مثل وابصة بن محمد وسلمة بن المحبق فأن روی عنه السلف شهدوا بصحبة او سکتو عن الطعن صار حدیثه مثل حدیث المعروف وان اختلف فیه مع نقل الثقات عنه کذالک عندنا"

دے عبارت کښې پنځم قسم له حکم بیانول غواړی نامی شرح کښې لیکی چه کله حدیث معروف بالفقه والعدالة والضبط وی قبلولے به شی "ویقدم علی القیاس" چه د دوی روایت به په قیاس مقدم وی داسے

نه وائی چه دے له به ترجیح وی دده په حدیث بلکه حسامی کښې دی چه حدیث له به دغه وخت کښې ترجیح په قیاس ورکولے شی،

(نوټ) او د سنان بن سلمة د خپل پلار نه نه روایت شته "من کانت له حمولة تأوی الی شبع فلیصم رخصان حیث ادرکه أخرجه احمد ۳ــ۴۷۶" او پلار ئے صحابی دے ځکه مسند احمد کښې ۴۹۳۱ باندِ روایت دے "عن سنان بن سلمة الهذلي عن أبيه سلمة وكان قد صحب النبي صلى الله عليه و سلم عن النبي صلى الله عليه و سلم : انه بعث بدنتين مع رجل وقال ان عرض لهما فانحرهما الخ" او اطعمه کښې او ذبائح ، وغیره کښې تر هم د روایاتو نقل ثابت دے د دوی نه سلفو روایات نقل کړے دی او د صحبت شهادت ورکوی او د دوی روایت صاحب د حسامی هم په قیاس مقدم گنړی،

اَلْفَصْلُ الثَّالِث

(۲۱):وَعَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لَنَا طَرِيقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً فَكَيفَ نَفْعَلُ إِذا مُطِرْنَا قَالَ: «أَلَيْسَ بعْدهَا طَرِيق هِيَ أطيب مِنْهَا قَالَت قلت بلَى قَالَ فَهَذِهِ بِهَذِهِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد

ترجمه : د بنو عبدالأشهل قبیلے یو بی بی اوئیل چه ما تپوس اوکړو اے د الله رسوله ځمونږ لار مسجد ته گنده تلے ده کله چه په مونږه باران اُوشی نو څه به کوو ، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل آیا ددے نه پس داسے لار نشته چه هغه ډیره صفا دَ مخکښې نه وی ما ورته اوئیل چه ولے نه اُوئے فرمائیل چه دا پاکه لاره دَ ناپاکے په بدل کښې شوه

تشریح : مخکښې او دے روایت کښې فرق

اګرچه خطابی دواړه روایات نزدے نزدے گنړی لیکن مرقات کښې ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکی دی چه نزدے نه دی د امّ سلمه روایت "إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي"او دے روایت کښې فرق دے مخکښې دَ جامو سره تعلق ساتی او دلته د جامے ذکر حتمًا نشته لیکن په دے کښې د لوند نجاست تذکره شته" او دلته بی بی صحابیه ده جهالت ئے مضر نه دے او مخکښې روایت کښې بنځه تابعیه ده او هغه امّ ولد دَ ابراهیم بن عبدالرحمن مجهوله ده دَ هغے دَ ثقه کیدو او دَ عدالت حال پوره نه دے معلوم،

Maktaba Tul Ishaat.com

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه اشعةاللمعات کښې لیکلي دي مګر دے حدیث کښې د کپړے او د نعلین ذکر نشته او احتمال د دواړو لري او چه ظاهره قرینه وی په هغې به هغه ظاهر پریخودلے شي چه هغه دلته لوند نجاست اغستل دي او مرقات کښې دي چه دلته روایت د لوند نجاست سره خاص دے التقریرالرفیع کښې دي چه د اوچے تأویل ګرانه ده ، او بعض خلقو د حدیث تأویل په اوچ نجاست کړے دے لیکن دا تاویل د فکیف تفعل اذا مطرنا خلاف دے چه د هغې نه خو لوند نجاست معلومیږي کذا في بذل المجهود

او بعض تاویل کوي چه ددے نه د لارے ختے مراد دي لکه الحق الصریح کښې دي مراد ترِ د باران ختے دي لیکن علامه طیبي لیکلے دي چه دا طین الشارع د "الیس بعدها الخ" سره نه لګي او بعض محدثین لیکي چه کنده لار باندِ چه نجاست اولګي د باران وخت کښې یا لږ ورستو چه زر په هغې خوک ځي او لار پاکه وی نو د هغے نجاست اِثر ختمیږي که په ختِه او اوبو خپے اوینځلے شي او اوچ نجاست باندِ د تلو نه پس که په پاکه اوچه لاره څوک لاړ شي په دے هم صفائي کیږي او شاه انور عرف الشذی کښې لیکي چه دا د وهم او د وسوسے د ازالے صورت علی اسلوب الحکیم دے ، کندګي نه وه صرف ددے وهم وؤ ورته ئے اوفرمائیل چه راتلونکے پاکه لاره باندِ ددے پاکي راغله لکه بعض صحابو رضی الله عنهم ته وسوسه راغله چه څه خلق د ذبح وخت کښې پته نه لګي بسم الله به ئے وئیلے وی او کنه نو د وسوسے د ازالے په طور ئے اوفرمائیل هیڅ نشته بسم الله اوائۍ او خوراک کوئ مظاهر حق کښې دي ددے ارشاد تعلق د هغے نجاست سره دے چه جُثه لري که خوته وغیره پلیتي په پیزار یا موزه اولګي نو په دے طریقے صفا کیږي لیکن که واړه بول وغیره وی په هر حال به د وینځلو نه پس پاکیږي ، دغسے د موزے او پیزار نه علاوه که په جامه یا لوخي نجاست اولګي نو بے وینځلو جامه نه پاکیږي

او امام احمد رحمة الله علیه حدیث حمل کوی چه ظاهری کندګي په لمن اولګي نو پاکه خاوره چه ورستو ددے نه وی دے سره نجاست ختمیږي او دَ امام مالک قول سره دا موافقت موجی چه "انّ الأرض یطهّر بعضها بعضًا" ددے تعلق دَ اوچ نجاست سره دے که نجاست جامے او بدن ته اولګي وینځل ئے ضروری وی" او علامه طیبي هم د امام مالک دا قول نقل کړے دے چه پلیته زمکه باندِ قدم کیګدی بیا په صفا اوچه زمکه قدم کیږدی ، دا پاکوالے راولی لیکن که واړه بول کپړے ته اولګي ددے په وینځلو د امت اجماع ده

(فائده) (د زنانو مسجد ته تلل) زنانه که د خاوند نه اجازت اوغواړي او اجازت ورله ورکړی نو په شرائطو سره مسجد ته تلل صرف جائز دی غوره نه دی . "خواتین کے مخصوص مسائل" چه دَ ډاکټر صالح بن فوزان کتاب دے اردو ترجمه ورله رضاءالله محمد ادریس مبارکپوری کړے ده د علامه ابن تیمیه د مجموع الفتاوی ٦ـــ٤٥٨ په حواله صـــ٩١ بانډې لیکلے دی او کتاب وزارتِ اوقاف سعودی شائع کړے دے ، په دے کښې دی "خواتین کا گھروں کے اندر نماز ادا کرنا جمعه یا جماعت میں شریک ہونے کی نسبت زیادہ بہتر ہے سوائے نماز عید کے" او صاحب د الحق الصریح حکمت القرآن کښې د سورة النور ددے آیت لاندې لیکلے دی "رجال لا تلهیهم تجارة" د زنانو مونځ کور کښې بهتر دے وبیوتهن خیر لهن، عامه خبره دوي کړے ده او زمونږ دور کښې چه څو پورے مکمل دَ پردے مستقل انتظام نه وي نه تلل پکار دي، او غوره بالاتفاق کور کښې مونځ دے،

(طریق) مذکر او مؤنث دواړه د "سبیل" غونډې په عربئ کښې استعمالیدے شي

د حدیث حکم

خطابي وائي چه دا بي بي مجهوله ده ، خبره ئے صحیح نه ده دا صحابیه ده د هغوی جهالت نقصان نه رسوی حدیث صحیح دے او مرقات کښې دی "ومن الغریب قول ابن حجر وزعم أن جهالة تلك المرأة تقتضي رد حدیثها لیس في محله لأنهاصحابیة وجهالة الصحابي لا تضر" چه د ابن حجر حدیث رد کول ددے بي بي جهالت صحیح نه دی دا صحابیه ده او لأن الصحابة کلهم عدول"

زما شیخ دَ جواهر الاصول په تعلیق قناطر الوصول او ورسره غررالنقول په پنځمه جوهره کښې ص:٦٠ بانډے لیکلے دي چه شیخ دکتور سراج الاسلام معاصر په معرفه علوم الحدیث اردو ص:٣١٢ بانډے دَ توجیه النظر په حواله نقل کړے دي چه دَ صحابؤ په زمانه کښې منافقان او مرتد موجود وي نو عن رجل من الصحابة او من صحب رسول الله صلي الله علیه وسلم به تر هغه نه قبلیږي تر څو چه نوم وانخلي او دَ هغوي صحبة فاصله معلوم وي لیکن اکثر محدثین دا دعوي رد کوي ځکه چه منافق معلوم یا مظنون وو دَ دوي نه څنګه حدیث اغستلے شي دوي چرته دَ منافق نه یا دَ مرتد نه روایت نه اخلي ، او حواله دوي دَ الانوارالکاشفه ورکړے ده ، دَ منافق روایت احتمال دَ سر نه جوړیږي او تفصیلا دوي ددغے دعوے تردید کړے دے ، اصل کتاب ته رجوع پکار ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۲): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَتَوَضَّأُ من الموطئ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ

ترجمه: مونږه د نبی صلی الله علیه وسلم سره نمونځ کولو او مونږه به خپې نه وینځلې که مونږه به څه اوچ څیز د خپې د لاندې کړو،

تشریح: (مؤطی) دا اسم مفعول صیغه ده یا مصدر میمی دے که د اسم مفعول صیغه وی نو چه کوم نجاست د خپې لاندې راشي او که مصدر میمی وی نو الف لام دَ مضاف الیه په عوض کښې راغلے دے "وطی النجس" دَ پلیتئ پامال کول،

مظاهر حق کښې دی لار کښې د تلو وخت کښې به کومه دوره په خپو پریوتله نو هغه به مونږه نه وینځله ملا علی قاری لیکی د لانتوضأ مطلب دا دے چه خپې به مو نه وینځلې چه کله به نجاست اوچ وؤ علامه طیبی فرمائی دَ لارے ختے تر مراد دی څکه دے کښې عموم بلوی ده او د لوند نجاست وینځل واجب دی صحابه به مسجد ته تلل په لاره کښې د تلو وخت کښې اوچ نجاست که د خپې لاندې راغے مسجد ته به بے د خپو وینځلو دننه کیدل او که لوند نجاست وؤ شرعی اودس به دوی نه کولو صرف خپې به دوی وینځلې څکه که خپو سره گندگی اولگی اودس نه ماتیږی

فتح الاله کښې علامه هیثمی لیکلے دی چه د اودس نه لغوی اودس یعنی وینځل مراد دی دغسے لمعات کښې دی او ابن حجر هم دغسے فرمائی او مراد اوچ نجاست دے مونږ به ددے صفائی نه کوله" لونده به نه وه اوچه به وه اشاره ده چه وسوسے پریخودل پکار دی بعضے به خپې ابلے تلل او مسجد کښې به دوی خپې نه وینځلې

(۲۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَتِ الْكِلَابُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَكُونُوا يَرُشُّونَ شَيْئًا من ذٰلِك. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

ترجمه: سپی به د نبی صلی الله علیه وسلم جومات ته تلل راتلل په هغه ځائے به ئے بالکل اوبه نه اړولے

تشریح: (یرشّون) مرقات کښې دی چه دلته د "رش" نه مراد اوبه اچول دی لیکن لازمه نه ده چه هر ځائے دِ دَ وینځلو په معنی راشی"

د حدیث تشریح مخکښې ذکر شوے ده د اسلام ابتداء کښې د مسجد دروازه او دیوالونه نه وو ورستو ددے انتظام اوشو ، امام بخاری صحیح بخاری کښې باب تړلے دے "بَاب الْأَبْوَابِ وَالْغَلَقِ لِلْكَعْبَةِ وَالْمَسَاجِدِ" چه خانه کعبه او نورو مسجدونو له دروازے او ځرندے به وے ، ځکه ابن بطال لیکلے دی مسجد له دروازے جوړول واجب دی دا روایت د امام مالک دلیل دے چه د سپی جهوټا پاکه ده او دا روایت د احنافو دلیل په دے مسئله کښې دے چه زمکه چه اوچه شی دا هم دَ پاکئ یوه طریقه ده ، اوبو سره پاکی لازمه نه ده لیکن هغه فوری داسے طریقه ده چه نظافت سره سره بدبوئی ختموی التعلیقات الفصیح کښې قاضی شمس الدین د التحریرات الجنجوهیه په حواله لیکلے دی چه د شیخ حسین علی رحمة الله علیه تقریر دے چه د شیخ گنگوهی رحمة الله علیه شاګرد دے ، لیکی چه دا ذکر پکښې نشته چه دا به هله وو چه باران به نه وو بلکه مطلق ئے پریخے دے نو څمونږ مشائخ دوه ډلو کښې تقسیم دی یوه ډله د جلد دَ نجاست او دوئمه ډله د عدم نجاست قائله ده لیکن تأویل ته حاجت نشته په اوچ والی سره زمکه څمونږ په نزد پاکه ده ، لیکن د امام شافعی به تأویل ته ضرورت راځی چه کله به باران نه وو انتهی

د ابن عمر د خوب واقعه

د صحیح بخاری یو روایت کښې دی چه اول به ابن عمر رضی الله عنه مسجد کښې اوده کیدو یو شپه ئے خوب اولیدو چه دوه ملائکو څه جهنم غاړے ته بوتلم "فاذا هی مطوية كطيّ البئر" دغه ځائے د کوهی د غاړے د بخوالی غونډې پوښ وو په هغے کښې داسے کسان اولیدل چه ما پیژندل اوویریدم "اعوذُ بالله من النار" مے اوے په دے کښې یو ملک په نظر راغله چه مه یریږه ما دا خوب خپلے خور حفصے رضی الله عنها ته او هغے نبی صلی الله علیه وسلم ته بیان کړو ، اوئے فرمائیل "نعم الرجل عبدالله لو كان يصلی من الليل" ډیر خه سرے دے که د شپے ئے تهجد کولے راوی وائی ددے واقعے نه ورستو به ابن عمر د شپے توله شپه په ویښه تیروله عبادت به ئے کولو الّا قلیلًا

(٢٤):وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:: «لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ»وَفِي رِوَايَةِ جَابِرٍ قَالَ: «مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلَا بَأْس ببوله» . رَوَاهُ أَحْمد وَالدَّارَقُطْنِيّ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د براء رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی پاک نشته په متیازو د هغه ځاروؤ چه غوښه ئے نه ښی خوړلے کیدے او د جابر رضی الله عنه یو روایت کښی دی چه غوښه ئے خوړلے شی د هغے بولو کښی باک نشته

تشریح : مذاهب

(۱) امام مالک ، امام احمد ، امام محمد ، امام زفر، سفیان ثوری ، امام شعبی ، عطاء نخعی امام زهری ، ابن سیرین او اصطخری ابن حبان رحمهم الله د پاکوالی قول کوی د زهری په نزد پاک دی قسطلانی ارشادالساری ۱ــــ۵٦۳ باندِ دَ معمر قول نقل کړے دے رَأَيْتُ الزُّهْرِيَّ يَلْبَسُ مِنْ ثِيَابِ الْيَمَنِ مَا صُبِغَ بِالْبَوْلِ ما یوکل لحمه اؤ امام ابوحنیفه شافعی ابویوسف او ابوثور رحمهم الله د نجاست قول کوی الّا ما عفی عنه،

د امام ابویوسف او دَ امام ابوحنیفه د مسلک مینځ کښ فرق

امام ابویوسف رحمة الله علیه ئے تداوی له مطلقًا ځکل جائز ګنړی خواه حالت د اضطرار وی یا نه او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد تداوی له صرف اضطراری حالت کښ جواز دے چه څو پورے داسے طبیب چه انتهائی قابل او د الله نه یره کونکے مسلمان ورته نه وی وئیلے چه دده صرف دغه پلیت څیز استعمال کښ شفاء ممکن ده تر هغے ددے استعمال ناجائز دے الکوکب الدری او علامه عینی د ابوداؤد ابن علیه قول نقل کړے دے یے د انسان نه د هر حیوان اګرچه غوښه ئے نشی خوړلے بول ئے پاک دی اشعةاللمعات کښ شیخ عبدالحق لیکلے دی چه امام مالک امام احمد شوافع او شیخین رحمة الله علیهم اجمعین ورته نجاست خفیفه وائی او لیکلے دی چه د لابأس غالب استعمال هرهغه ځائے کښ کیګی چه کوم ځائے کښ د دغے حکم نقیض اولی وی،

مظاهرحق کښ دی چه د احتیاط تقاضا دا ده چه د کومو ځناورو غوښه خوړلے شی هغے واړه بولو ته به ناپاک وئیلے کیږی.

د الموسوعة الحديثيه حواله

۵ــــ۳۳۳ باندِ (۱٦٤۷) نمبر باندِ دی "وعن ابی حنیفة عن حماد عن ابراهیم انه کان یکره ابوال الابل والبقر ویشتدُّ فیه اذا اصاب ثوب انسان" (الأثار للامام ابی یوسف) د اوښانو او د غوانو بول مکروه دی او

که د انسان جامے ته د هغے نه تئ راشي دا به مکروه وي او د امام محمد قول ئے نقل کړے دے چه امام ابوحنیفه ورته مکروه وائی او فرمائیل به ئے چه دا څاڅکی د اودس په اوبو کښې اوغورځیږی اودس په هغے نه کیږی او جامے ته ډیر مقدار کښې رسیدلے وی او نمونځ ئے پکښې کړے وی د نمونځ اعاده به کوی" او امام محمد رحمة الله علیه فرمائی چه پاک ئے نشته اوبه او اودس نه خرابوی

عرف الشذی کښې د شاه انور نه نقل دے چه امام ابوحنیفه ، امام شافعی او امام ابویوسف رحمهم الله ورته نجس وائی او د کومو ځناورو چه غوښه خوړلے شي د هغے پچے او سوتے د امام محمد بن حسن شاذ روایت کښې پاکے دی او دغه د امام مالک مذهب دے

بدائع الصنائع صـ٦١ باندِ دی "اختلف فی البول مایؤکل لحمه" او دَ شیخین قول د نجاست او د امام محمد دَ طهارت نقل کوی که په لړو اوبو کښې اوغورځیګی

د اوښانو بول څکل څه حکم لرئ

الموسوعة الحدیثیه ۳ــ۱۵۷ باندِ دی وذکر انَّ ابا حنیفة کره شرب ابوال الأبل او امام شافعی ، امام ابویوسف ابوثور او بعض نور آئمه سره ملګرتیا کوی بعض ورته نجس وائی لیکن دارو له ئے څکل مباح ګنړی بعض ورته پاک وائی چه کله د هغے ځناورو غوښه خوړلے شی الحق الصریح کښې د شپاړسو تائیداتو د موجود کیدو خبره کړے ده چه دوه ئے اجمالاً ذکر کړے دی حدیث العرنیین او مرابض الغنم،

د حدیث د عرنیین وضاحت

امام بخاري دیارلس ځایه روایت نقل کوي اول ځل دوي کتاب الوضوء کښې نقل کړے دے ،

قاضی شوکانی نیل الأوطار کښې لیکلے دی "بالتداوي بأبوال الإبل باعتبار حالة الضرورة وإن كان خبيثا حراما" چه د اوښ بول څکل د ضرورت په حالت کښې دارو سره خاص دے اګرچه دا خبیث او حرام دی او دوی د ابن المنذر قول نقل کړے دے چه دغه عکل او عرنیة سره خاص کول صحیح نه دی "اذا الخصائص لایذکر الّا بدلیل" خصوصیات به په دلیل ثابتیږی څکه خو علماء بازارونو کښې د بیرو دَ مچو په خرخولو قول کړے دے لیکن دا د ضرورت دَ حالت دَ وجے حرام نه دی الله رب العزت فرمائی "وقد فصّلَ لکم ما حرَّمَ عَلَیْکم الّا ما اضطررتم الخ" او شاه ولی الله المسوّی صـ٤١١ باندِ لیکلے دی چه د نجس څیز استعمال دارو کښې د علماؤ مینځ کښې اختلافی مسئله ده د دارو دپاره ډیرو ددے د اباحت

Maktaba Tul Ishaat.com

قول کړے دے او درمختار کښې دی چه د امام صاحب په نزد دارو له هم صحیح نه دے او ظاهر مذهب منع دے

علامه عینی رحمة الله علیه لیکلے دی ، اباحت د ضرورت د وجے دے" بے د ضرورت د حالت نه به د اباحت قول نه کوے لکه ریښم قانونًا سړو له حرام دی لیکن جنګ او خارخت کښې صحیح دی

(دویم جواب) علامه عینی رحمة الله علیه عمدة القاری کښې لیکلے دی د عُرنیین باره کښې د شفاء راتلل دا په وحی سره وؤ لکه د مخصوصے حالت کښې د مُردارے پوتے خوړل او یا که انسان مړ کیږی د سختے تندے وخت کښې اضطراری حالت کښې د شراب نه ګوټ کول

شاه انور شاه کشمیری رحمة الله علیه د عرنیین د روایت وضاحت کښې لیکی چه دا د دغے څناورو د بول د طهارت او د اباحت مسئلة نه ده ، بلکه کوم څیز حرام وی د دارو دپاره په شرائطو د ضرورت د وجے د هغے استعمال جائز دے

(دریم جواب) نبی علیه السلام حکم د پیو دَ څکلو او دَ بولو دَ بُویَولو ورکړے وؤ لیکن هغوی د خپل زوړ عادت مطابق متیازے څکل شروع کړل بعض روایات کښې صرف اشربوا من البانها دے د ابوال روایت د بعض راؤیانو اضافه ده او دا د قبیلے دَ عَلَّفتها تِبْنا ومآءً بارِدًا دے اشربوا من ابوالها واستسقوا من ابوالها" او شاه انور فیض الباری کښې د ابن سینا په حواله لیکلے دی چه چه هغه او بعض اطبّاء" وائی چه د استسقاء مرض کښې ددے بویول فائده مند دی

(څلورم جواب) د عرنیین واقعه د هجرت د شپږم کال د او د استنزهو من البول" راوی سیدنا ابوهریره رضی الله عنه اوم کال کښې د واقعے نه کال ورستو اسلام قبول کړے دے اګرچه نسخ نشته لیکن دلته قرائن او دَ نورو روایاتو د وجے د نسخ قرینه پکښې شته څکه دے واقعه کښې هغوی له په اُور عذاب ورکړے دے چه ګرم سلائی ورله په سترګو کښې ګرځولے دی او دِ مُثلے ذکر پکښې دے او دا تعذیب النار او مثله منسوخ دی،

(پنځم جواب) علامه عینی رحمة الله علیه دَ قتاده قول نقل کړے دے "رخص لهم فی شرب البان الابل ولم یذکر الأبوال" چه دِ بول ذکر پکښې نشته او د نسائی روایت کښې ۲ـــ۱۶۷ باندِ شته "فَبَعَثَ بِهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى لِقَاحٍ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا" او سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه د

سکرات باره کښې فرمائيلے دي "ان الله لم يجعل شفاءكم فيما حرّم عليكم" بخاري "باب شرب الطلاء والعسل" صـ٩٩٥ نمبر ٥٦١٤ فتح الاله کښې دي،

فتاوي ثنائيه او دَ اوښ متيازے

حدیث میں بطور دوائی استعمال کرنا آیا ہے جسکو نفرت ہو وہ نہ پیئے لیکن حلت کا اعتقاد رکھے ایسا ہی گائے بکری کے بول کے متعلق بھی آیا ہے لا باس ببول مایؤکل لحمہ ایضا" (فتاوي ثنائيه:٢:٧ باب هفتم مسائل متفرقه، مطبوعه كتب اصحاب الحديث)

د علامه ابن حزم ترجيح

المحلّى ١ـــ١٥٣ باندِ دي "قال ابو محمد فافترض رسول الله صلى الله عليه وسلّم على الناس اجتناب البول جملة" دَ ټولو بولو دَ اجتناب حكم دے تخصيص دَ يو قسم بول جائز نه دے او واړه بول او غټ دواړه ته ئے اخبثان وئيلے دي (ولا هو يدافع الأخبثان) او الله فرمائيلے دي "ويحرّم عليهم الخبائث" نو د هر خبيث استعمال حرام دے انتهى

دغه د امام ابوحنيفه او د امام شافعي رحمة الله عليهما دليل دے چه د خبيث نه طبع سليم نفرت كوي او دواړه دليل دا هم ذكر كوي "نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُونِهِ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ"(سورة النحل آيت نمبر٦٦) معلومه شوه چه د پيو نه علاوه د لنكو د خيټو نه چه كوم څيز خارجيږي هغه حرام دي

د مرابض الغنم وضاحت

د بيزو جاره کښې نمونځ د جواز نه دا نه لازميږي چه واړه بول او پچے پاكے دي ، د عربو عادت وؤ جاړے سره ځائے به ئے صفا ساتلو هلته به ئے نمونځ كولو ځكه هغه خوا کښې ځائے به صفا او هموار وؤ علامه عيني د ابوموسى اشعري رضى الله عنه په دارالبريد کښې دمونځ باره کښې ليكي "يمكن ان يكون صلّى على ثوب بسطة فيه او في مكان يابس لاتعلق به نجاسة وقد قال عامة الفقهاء ان من بسط على موضع نجس بساطا وصلى فيه انّ صلوته جائزة" چه كيدے شي چه دغلته ئے جانماز يا كپړا غوړولے وي او يا خوا کښې داسے اوچ ځائے وي چه نجاست پكښې نه وي عام فقهاء وائي كه په پليت ځائے باندې څوک مصلّى خوره كړي او نمونځ اوكړي نمونځ جائز دے عمدة القاري ٢ـــ٦٤٤ او دا ئے هم ليكلے دي چه دليل په "استنزهوا من البول" په عموم بول اولى دي هر رنګه بول ته په ظاهر کښې دا حكم شامل

دے او روایت کښې راځي "انّ الله لم يجعل شفاءکم فی حرام" چه الله تاسو له په حرامو کښې شفاء نه ده کړځولې او ابن حزم وائي ددے په سند کښې سلیمان دے دا د هغوی وهم دے دا سلیمان دے چه یو ثقه راوی دے او د مستدرک حاکم په کتاب الطهارة ۱ـــ۲۹۳ روایت دے نمبر ٦٥٤ "عامة عذاب القبر من البول" بول مطلقًا ذکر دے او امام بخاری من "بوله" یعنی د انسان بول ذکر کړے دے او د امام بخاری ترجیح هم طهارت له ورکړے ده

(یوه قاعده) چه د حلت او حرمت دواړه قسم روایات راشي ترجیح حرمت له ورکولے کیږی په دے کښې احتیاط زیات دے،

عقلی دلیل

غذا د خپل اصلی حالت نه بدله شوه بل حالت ئې اختیار کړو او دغه علت د ما یوکل لحمه په بولو کښې موجود دے نو دا دِ ناپاکه شي

د مذکوره روایت سندی حیثیت

الحق الصریح کښې دی "دا حدیث ضعیف جدًّا" قابل د استدلال نه دے اګرچه معنی ئې صحیح ده دَ نورو روایاتو په وجه (د هغے روایاتو حالت مخکښې ذکر شوے دے) او بیا ئې لیکلے دی چه دا حدیث دارقطنی راغستلے دے په دے کښې سوار بن معصب متروک الحدیث راوی دے او ورستو روایت دَ جابر کښې عمرو بن حصین عن یحی العلاء دے او دا دواړه متروک راویان دی "ای ذاهب الحدیث کذا قال الحافظ فی التلخیص ۱ـــ٤٣" اسناد کلا الحدیثین ضعیف جداً" بیا وائی چه تائید دپاره شپاړس روایات دی ، هغے کښې یو روایت صریح صحیح په خپله دعوی دلیل ګرځول مشکل دی ، او د حدیث العرنیین او مرابض الغنم ذکر اوشو انتهی

واضحه دِ وی چه عمر بن الحصین او یحی العلاء دواړو باندِ سخته جرحه ده ، عمر بن الحصین باره کښې ابو حاتم لیکی ذاهب الحدیث ، لیس بشئ ، ابوزرعه ورته واهی الحدیث او ازدی ورته ضعیف جدًّا وائی او دارقطنی ورته متروک وائی تهذیب التهذیب" او نفحات التنقیح کښې دی چه یحی ته امام احمد کذاب یضع الحدیث وئیلے دے او غورغوشتو باباجی علیه الرحمة هم په خپله حاشیه دَ مشکوة کښې په دواړو روایتونو کلام کړے دے

قاضی شوکانی نیل الأوطار کښې په روایت کلام کړے دے چه عمرو بن الحصین العقیلی واهٍ جدًّا دے لکه په دے تفصیلی کلام مخکښې ذکر شو،

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الْمَسْح على الْخُفَّيْنِ

الفصل الأول

ربط : مصنف ددے ذکر دَ تیمم نه مخکښ اوکړو ځکه چه تیمم د تمام اودس خلیفه دے او مسح علی الخفین د اودس د یو جزو چه خپے وینځل دی د هغے نه خلیفه دے او جزو د کل نه مقدم وی مسح علی الخفین دَ اوداسه جزو دے او جزو د کل نه مؤخر وی او مسح د اودس نائب ده ، اودس اصل دے اودس اصل ئے په نائب چه د خپو نه صرف نائب دے مسح علی الخفین ، ئے مقدم راؤړو

(١):عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَ: جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ. رَوَاهُ مُسلم

ترجمه : شریح بن هانی نه روایت دے چه ما د علی رضی الله عنه نه د موزو د مسح باره کښ تپوس اوکړو اوئے فرمائیل چه نبی صلی الله علیه وسلم د مسافر دپاره درے ورځے او شپے او د مقیم دپاره یوه ورځ او شپه مدّه مقرر کړے دے"

تشریح : د شریح بن هانی معرفت

اشعة اللمعات کښ دی چه د سیدنا امیر المؤمنین علی رضی الله عنه په اصحابو کښ دے ثقه دے ، د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ د دوی پیدائش شوے وؤ پلار ئے صحابی دے او پیغمبر دوی له ابوشریح کنیت ایخے دے انتهی شریح بن معانی بن یزید الحارثی ابو المقدام کوفی دے مخضرم دے دور د ابوبکر د طرفه په لښکر کښ وؤ چه په ۷۸ھ کښ په سجستان کښ د ابن ابی بکره سره شهید شوے دے امام بخاری تر الادب المفرد کښ او امام مسلم او سنن اربعه کښ د دوی نه روایت موجود دے کذا فی التقریب او د دوی نه د دوی ځوی مقدام او ابن النعمان روایت کړے دے ، کوفیانو کښ شماریږی د سیدنا علی او ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها نه روایت کوی ، ابن معین او نسائی دوی ته ثقه او ابن خراش ورته صدوق وائی د غتو ثقه تابعینو نه دے

اهمیت او مقام د مسح علی الخفین

مرقات کښې ملا علی قاری رحمۃ الله علیه لیکلی دی چه الله په دے امت آسانتیاګانے راوستلے دی پیغمبر پاک صلی الله علیه وسلم فرمائی "بعثت بالملة الحنفیة السمحة" او الله جل شانه فرمائی "وما جعل علیکم فی الدین من حرج" د دغے سهولت نه یو مسح علی الخفین ده۔

فتح الاله کښې دی چه د حفاظو د یو جماعت نه صراحت دے چه مسح علی الخفین په متواتر روایاتو سره ثابت عمل دے ، بعض علماؤ ددے راویان چه کله اوشمارل دوی وائی چه دَ اتیاؤ نه تعداد ئے زیات دے او عشره مبشره پکښې دی او فتح القدیر کښې د حسن بصری قول موجود دے چه د اویا صحابو نه مسح علی الخفین نقل ده او بحرالرائق کښې دی چه کومو صحابو په دے اول قول نه وؤ کړے لکه ابن عباس ، ابوهریره او عائشه رضوان الله علیهم د هغوی نه رجوع ثابت ده دغسے الدرایه صـــ۱۴۲ بالذِ علامه ابن حجر د علامه ابن عبدالبر قول نقل کړے دے چه د هیڅ صحابی نه ددے انکار نه دے نقل او د عبدالله بن عباس او ابوهریره رضی الله عنهم نه په حسان سندونو مسح ثابت ده او عائشے رضی الله عنها ددے علم په علی رضی الله عنه حواله کړے وؤ (او د علی رضی الله عنه نه اثبات شته) حاشیه علی مراقی الفلاح کښې دی "وما روی عن الصحابة کأبن عباس وابی هریرة وعائشة رضی الله عنهم من انکاره فقد صحّ رجوعهم الی جوازه کما فی النهایة" مرقات کښې ملا علی قاری لیکلی دی چه محمد بن مهاجر البغدادی د عائشے نه چه کوم نقل کړے دے چه که ځما خپے په چاړه کټ شی دا به خه وی چه مسح اوکړم ، د حفاظو صراحت دے چه دا نقل باطل دے روافض او خوارج ددے نه انکار کوی ، روافض عجیبه دی ، عامو حالاتو کښې دَ مسح علی الرجلین قول کوی او دَ مسح علی الخفین نه انکار کوی خوارج دا بهانه کوی چه قرآن کښې نشته او روافض وائی چه علی رضی الله عنه ددے نه منع کړے ده حالانکه دَ آیة الوضوء "وارجلکم" کښې یو قراءت د مسح په حالت حمل دے او د علی رضی الله عنه نه سند متصل سره انکار نه دے ثابت البته د اقرار روایات تر شته تنسیق النظام کښې علامه سنبهلی لیکلی دی "قال ابن المبارک یجی الرجل ویسألنی عن المسح فأشک انه من اهل الأهواء" چه زما نه څوک ددے باره کښې تپوس کوی نو ځما شک شی چرته بدعتی نه وی

Maktaba Tul Ishaat.com

د علامه ابن عبدالبر وضاحت

الأستذکار ۱ـــ۲۵۷ بانږ دی "فیه الحکم الجلیل الذی فرق بین اهل السنة واهل البدع وهو المسح علی الخفین لاینکره الا مبتدع خارج عن جماعة المسلمین ، فاهل الفقه والأثر لا خلاف بینهم فی ذالک بالحجاز والعراق والشام وسائر البلدان الّا قومًا ابتدعوا فأنکروا المسح علی الخفین وقالوا انه خلاف القرآن" چه دے کښې هغه واضح حکم دے چه د اهل السنة او د بدعتیانو تر مینځه فرق راولی چه هغه مسح علی الخفین ده ددے نه انکار صرف هغه بدعتی کوی چه د مسلمانانو دَ جماعت نه خارج وی فقهاء او اهل الأثر په دے کښې په حجاز ، عراق ، شام او تولو کلو کښې اختلاف نه کوی لیکن بعض خلقو بدعت کړے دے او انکار ترې کوی چه دا دَ قرآن خلاف عمل دے او معاذالله چرته نبی صلی الله علیه وسلم دَ هغے قرآن خلاف کولے شی چه کوم ئے راوړلے دے

د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اقوال

لمعات التنقیح کښې دی چه امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه ما ته دومره آثار نه وو راغلی لکه د نمر رڼا مابه ددے قول نه دِ کړے،

د صاحب الحق الصریح وضاحت

دا ئے هم فرمائیلے دی چه د اهل السنة والجماعة مسلمانانو علامه دا ده چه د شیخینو (یعنی ابوبکر او عمر رضی الله عنهما) اکرام به وی او د دواړو زومانو (یعنی سیدنا عثمان او سیدنا علی رضی الله عنهما) سره محبت وی او مسح علی الخفین، اوله داده چه ددے واقعے راوي هغه نوح بن ابي مریم دے چه دا خلق په هغوي جرح کوي،

دوئمه داده: چه داسے غوندِ اقوال صاحب الحق الصریح چرته د امام ابوحنیفه پورے په سند تفصیلی نشي رسولے لیکن چه کله په متداولو نسخو کښې یو قول مفتی به بلا تردید وی هغه د هغوی قول حسابیږی

او لیکلے دی چه دا خبره ئے په رد د شیعه ګانو کښې کړے ده کوفه کښې شیعه ګان ډیر وو او غلطے عقیدے ئے لرلے ، دا وجه ده چه امام ابوحنیفه به ډیر احادیث د هر چا نه نه نقل کول دپاره د احتیاط

هسے نه چه د شیعه نه نقل کړی دا ښکاره او ریښتیا یو حقیقت دوی ښکاره کړو چه امام صاحب نه د ډیرو روایاتو د عدم نقل وجوهاتو کښې دا یو اهم وجه ده

د علامه کاسانی حواله

بدائع صنائع کښې دی کرخی وائی چه څه په هغه چا دَ کفر یره کوم چه مسح علی الخفین نه منی

د خف تعریف

عرف الشذی کښې د شاه انور نه نقل دی چه بے د څه امداد نه خپه قدم سره پیوسته او جخته نشی او اوبه پکښې سرایت نه کوی اوکیتو پورے وی او په عربو کښې به خف د څپلۍ په ځائے استعمالیدو

ودویة قــفــر تمشی نعــامــها　　کمشی النصاری فی خفاف الأرندج

ترجمه: د ځنګلو هغه نا هواره او شاړے زمکے چه د دغه ځائے شترمرغ پکښې ګرځی لکه نصاریٰ چه داسے موزو کښې ګرځی چه تورے او پیړے وی،

او الحق الصریح کښې د محلّی په حواله په تعریف کښې لیکلے دی "او دا د څپلو، چپړو په ځائے استعمالیږی مزل به پکښې کیدو" دے کتاب کښې د ابن حزم په تقلید کښې لیکلے دی "برابره خبره ده چه اوبه جذب کوی او کنه" لیکن شاه انور لیکلے دی "ولا یسری فیه الماء"

بدائع صنائع کښې دی "أَنْ يَكُونَ خُفًّا يَسْتُرُ الْكَعْبَيْنِ" چه موزه به ګیټۍ پټوی

دَ مسح علی الخفین شرعی مصداق

اصابة البلّة للخف الشرعی علی وجه مخصوص چه شرعی موزے ته په خاص طریقه لوندوالے رسول وي (الدرایة ۱ــــ۱۲٦ او په وجه مخصوص کښې کیفیت، شرائط مدت او د سنت طریقے ملحوظ ساتلو ته اشاره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

مسح غوره ده او که خپے وینځل

اشعة اللمعات کښ دی چه کوم ځائے بدعتیان روافض او خوارج وی هلته په دے حیثیت مسح غوره ده او شرح العقائد کښ دی چه کوم ځائے روافض وی مسح غوَره ده
علامه تفتازانی رحمة الله علیه شرح العقائد کښ دا مسئله دَ عقائدو په ذیل کښ دے له راوړلے ده چه مسح جائز گنړل د اهل السنت شعار دے او د روافضو تردید کوی که حنبلی ، شافعی یا مجتهد او یا صاحب ترجیح رفع الیدین کوی ، غصه کیږے به نه ، خپله که ورله ترجیح نه ورکړی لیکن د نورو مسلکونو لکه شوافع او حنابله رحمة الله علیهم عمل ته به سپک نه گورے ، هغوی د الله د رضا په بنیاد د خپلو ائمؤ په تقلید او د حدیث په اتباع کښ دا عمل کوی او دَ سعودی اکثر عوام حنابله دی لکه دا خبره په رسالة ترجمان السنة مدیر اعلیٰ مولانا ابتسام الهی ظهیر شماره ۱۱ نومبر ۱۹۹۳ء ص۱۰ باندې لیکلے دی "حالانکہ سعودیہ کے لوگ اہل حدیث نہیں بلکہ حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ کے مقلد ہیں جیسے حنفی (دیوبندی اور بریلوی) حضرت امام ابوحنیفہ رحمۃ اللہ علیہ کے مقلد ہیں" مراقی کښ دی که عقیده ئے د جواز وی او مشقت برداشت کړی او خپے اووینځی ددے عزیمت زیات ثواب دے او ابن قدامه د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه نه نقل کوی چه مسح افضل ده او تبیین الحقائق کښ دی ثم المسح علی الخفین رخصة ولو اتی بالعزیمة بعد ما رآی جواز المسح کان اولیٰ لأنه اشق" ابن المنذر لیکلے دی چه د منکرین مسح دَ تردید دپاره مسح افضل ده او امام نووی غسل ته افضل په دے شرط وائی چه د مشروعیت عقیده به ساتی لمعات کښ دی مسح رخصت دے او د عزیمت دلیل دی او صاحب د سفر السعاده لیکلے دی "لم یکن لرسول الله صلّی الله علیه وسلم تکلف فی المسح ولا فی الغسل"

د موزے دَ مسح شرائط

(۱) گیټئے به مکمل پټوی
(۲) دغه طهارت به په تیمّم نه وی حاصل
(۳) الا من جنابة د وجے دا شرط دے چه مسح کونکے به جنابت کښ نه وی
(٤) دومره مضبوطے به وی چه بے د څپلو نه به په دے کښ څه مزل کیدے شی
(٥) بے د چړے وغیره د تړلو نه به په خپل ځان خپے سره قوام لری

(٦) دومره غټوالے به لری چه خپے ته به اوبه نه پریږدی ډَ وسپنے ، شیشے یا د لرګی یا د هاتهی د غابښونو نه جوړو موزو باندِ مسح نه کیږی

(٧) دومره به نه وی شلیدلے چه د مسح نه مانع ګرځی

د معمر نه د خرق باره کښِ تپوس اوکړے شو او ئے فرمائیل "اذا خرج من مواضع الوضوء بشئ فلا تسمع علیه اخلع (السنن للبیهقی باب الخف الذی مسح علیه رسول الله (صلی الله علیه وسلّم)" نو که موزه دومره شلیدلے وی چه خپه ترے باهر راوتلے وی بیا دِ مسح نه کوی او موزه دِ اوباسی او خپے دِ اوینځی،

(٨) درے ګوتو سره به مسح کوی ، تبیین الحقائق کښِ دی "ولو مسح بأصبع واحدة ثلاث مرات واخذ لکلّ مرّة ماء جدیدا جاز لوجود المقصود" که چا په یوه ګوته درے ځله داسے مسح اوکړه چه هر ځل ئے نوے اوبه راواغستلے د مطلب د حاصلیدو د وجے جائز دی ، که په یوه خپه ئے په مقدار د دوو ګوتو او په بله په اندازه د پنځو ګوتو مسح اوکړه ناجائز دی او اعتبار د لاس ګوتو له دے ځکه چه دا د مسح آله ده او درے ځکه یادو چه دا د کل قائمقام ګرځی

د ډیر خیری والی د وجے د عدم جواز مسح نکته

بیا په دے کښِ د تللو هغه همیشګیری فوت کیږی دغسے تبیین الحقائق کښِ دی

مسئله : که چا صرف خپے اوینځلے او موزے ئے واچولے او نور اندامونه ئے ورستو اوینځل جائز دی ، ځکه چه حدیث کښِ دی "فأنّی ادخلتها طاهرتین فمسح علیها" بخاری باب اذا دخل رجلیه وهما طاهرتان. او مصنف عبدالرزاق او مصنف ابن ابی شیبه کښِ دی چه د سعد بن ابی وقاص اثر دے "اذا دخلت القدمین الخفین وهما طاهرتان فامسح علیهما ولاتخلعهما الا لجنابة

جمهور رحمهم الله وائی چه طهارت کامله عند اللبس شرط دے او د احنافو په نزد د موزے اچولو وخت کښِ د قدمینو طهارت په دے شرط کافی دے چه د حدث لاحق کیدو نه مخکښِ د اودس تکمیل اوکړی دغسے که یو سړے د مسنون ترتیب سره موافق اودس کوی او چه یوه خپه اوینځی بیا موزه واچوی او چه بله اوینځی هغے ته بیا موزه واچوی نو د سفیان ثوری ، مزنی او د احنافو په نزد دا صورت هم جائز دے

Maktaba Tul Ishaat.com

خومره موزه چه شلیدلے وی دَ مسح نه مانع گرځی

الموسوعة الحدیثه کښې ٥ـ١٥٩ باندِ دی "عن ابی حنیفة اذا کان الخرق اکثر من ثلاثة اصابع فی الخفین لا یجزی أن یمسح علیهما" چه دواړو موزو کښې د درے گوتو نه زیات څیرے والے وی مسح په هغے ناجائز ده او سفیان وائی چه څو پورے ورته موزه وئیلے شی مسح په هغے کوه انتهٰی او که څوک بغیر د څه عذر نه یوه خپه اوینځی او په بله مسح کوی جائز نه دی امام مالک رحمة الله علیه او د دوی اصحاب وائی که کم څیرے والے وی چه قدم نه ښکاری مسح د کوی ورنه نه دِ کوی دا جزئیه الموسوعة الحدیثیه کښې ضـ٢٦٣ باندِ ده" او د امام مالک غوندِ سفیان ثوری او امام لیث رحمهم الله هم وائی ځکه د صحابه او تابعین رضی الله عنهم اجمعین موزو کښې څه لږ شلیدلے حصه به وه. احکام القرآن کښې د قرطبی دی چه که لږے شلیدلے وی امام مالک رحمة الله علیه په هغے مسح جائز نه گنړی ، ابن خویز منداد وائی چه پکښې تللے شی مولوی صاحب الحق الصریح کښې لیکلے دی چه صحابه فقیران وؤ موزے به ئے شلیدلے هم وے او نرئ به هم وے" لیکن په نرئ کښې د خپلو غوندِ مزل څنگه کیدو؟ او چه ډیرے شلیدلے وی هغے کښې مزل گران وی

د کوم وخت نه تر کوم وخت به مسح کوی

یو قول دا دے چه کله ئے موزه استعمال کړه ددے نه به ٢٤ یا ٧٢ گهنټے حسابیږی (٢) محدثین وائی د مسح د وقت نه به حساب کوے (٣) احناف او شوافع رحمهم الله وائی د حدث نه پس به حساب شروع کیږی او دا قول راجح دے عام علماء دغسے وائی

د موزو اقسام

(١) څخنین مجلّد : پیړه موزه چه ورته ئے څرمن اچولے وی لاندِ باندِ بالاتفاق په دے مسح جائز ده

(٢) څخنین منعّل : چه ورته ئے څرمن صرف لاندِ اچولے وی بالأتفاق مسح جائز ده

(٣) څخنین ساده : هغه ډبله موزه چه لاند باند په هغے څرمن نه وی لیکن د مسح ټول شرائط پکښې وی بالأتفاق مسح جائز ده

(٤) رقیق مجلد : هغه باریکه موزه چه څرمن په هغے ختلے وی بالأتفاق مسح جائز ده

(٥) رقیق اسفل : باریکه موزه چه ورته لاند صرف څرمن ختلے وی پکښې اختلاف دے بعض صحیح او بعض ناجائز ورته وائی
(٦) رقیق ساده : چه بالکل باریکه موزه وی څرمن په هغے نه وی ختلے بالأتفاق مسح ناجائز ده.
نظام الفتاوی کښې دی چه د مسح لوند والے به لاندِ خصے ته نه رسی
د شریح بن هانی حدیث باره کښې الاستذکار ١ــ٢٦٢ باند دی "وهو حدیث ثابت صحیح نقله ائمة الحفاظ" دا حدیث بخاری نه دے ذکر کړے
(عن المسح) مرقات کښې دی "ای عن مدته" دا تپوس د جواز او د عدم جواز نه وؤ بلکه د مدة دَ تعیین باره کښې وؤ.
(جَعَلَ) ایَ تقرَرَ
ملاعلی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی دا حدیث د امام مالک رحمة الله علیه خلاف حجت دے چه مقیم له مسح جائز نه ګنړی او د مسافر دپاره د مدت تعینَ نه منی لیکن مؤطا د امام مالک کښې د مغیره بن شعبه او د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه د مسح علی الخفین روایات موجود دی

د توقیت او د عدم توقیت مسئله

جمهور د توقیت قائل دی او امام مالک او احکام القرآن کښې جصاص د حسن بصری نه د عدم توقیت نقل کړے دی خو ک وائی چه د حسن بصری رحمة الله علیه عدم توقیت د قلت په طرف کښې دے ، د مدت زیادت ترِ نه دے مراد او لیث بن سعد رحمة الله علیه د عدم توقیت قائل دے الموسوعة الحدیثیه ٥ــ٩٨ باندِ باب فی قصّة عبدالله بن عمر فی انکاره المسح علی المسح" موجود دے ددے د لاند دی چه عبدالله بن عمر رضی الله عنه عراق ته د جلولاء دَ غزوه دپاره تلے وؤ هلته ئے سعد بن ابی وقاص اولیدو چه موزو باند ئے مسح اوکړه تپوس ئے تر اوکړو "ما هٰذا یا سعد" جواب کښې ورته اوفرمائیل چه کله د امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه سره دِ ملاقات اوشی تپوس تر اوکړه ، چه کله پلار سره ملاقات اوکړو د سعد رضی الله عنه خبره ئے ورته اوکړه ، سیدنا عمر رضی الله عنه اوفرمائیل "صدق سعدٌ رأینا رسول الله صلّی الله علیه وسلّم یصنعه فصنعناه" مونږه په دے نبی علیه السلام لیدلے دے مونږه ئے هم کوؤ

Maktaba Tul Ishaat.com

الآثار للأمام محمد د توقیت فی المسح روایات د اتلس صحابو نه نقل دی

د عدم توقیت والو عقلی دلیل

دوی دا د سر په مسح قیاس کوی او د سر مسح کښې توقیت نشته لیکن جواب دا دے چه نظر او صرف عقلی دلیل د دومره صحیح روایاتو مقابله نه شی کولے (۲) دا قیاس مع الفارق ځکه دے چه د سر مسح بالذات فرض ده ، د چا هم بدل نه ده او مسح علی الخفین د خپو وینځلو داسے بدل دے چه ددے ادائیگی هم ممکنه ده او ددے قیاس په مسح علی الجبیره نه صحیح کیږی ځکه په پټئ مسح دَ ضرورت وخت کښې جائز دی اومسح علی الخفین بغیر دَ ضرورت نه هم صحیح ده۔

د امام مالک رحمة الله علیه دلیل

(۱) د اُبی بن عماره روایت دے چه "ولو استزدناه لزدنا" که مونږه زیادت چرته طلب کړے وؤ اضافه د مدت به ئے راله کړے وه

جواب: المجموع کښې نووی وائی دا روایت ضعیف دے بالاتفاق . ابوداؤد کښې دی لیس هو بالقوی او دارقطنی کښې دی "هٰذا الاسناد لا یثبت ، وقد اختلف فیه علی یحیٰ بن ایوب اختلافا کثیرا" او الاستذکار کښې دی لیس له اسناد قائم

درایه کښې صــ۱۴۲ بانډې دی "واشهر طرق هٰذا الحدیث روایة حماد والحاکم عن ابراهیم النخعی عن الجدلی من خزیمة ولیس فیه هٰذه الزیادة"

ددے حدیث د خزیمه ولو استزدناه لزادنا حقیقت

ابن حبان ، ابن معین ، ابن دقیق العید د روایت مطلقًا تصحیح کوی او امام بخاری بیهقی او علامه نووی ددے مطلقًا تضعیف کوی او نووی په ضعف د اتفاق قول نقل کوی او ابن حجر لیکلے دی چه د اتفاق قول صحیح نه دے او امام ترمذی ددے روایت به دوه طریقے سره کوی ، دَ نخعی دَ طریقے تضعیف او دَ تیمی دَ طریقے تصحیح کوی ، لیکن د ابراهیم نخعی په طریقه کښې انقطاع ده او د ابراهیم تیمی طریقه د انقطاع نه محفوظ ده په دے وجه ترمذی ئے تصحیح کړے ده لیکن امام بخاری د هرے طریقے که د تیمی ده یا د نخعی ، تضعیف کوی ځکه د امام بخاری په نزد د جدلی سماع د خذیمه نه ثابته نه ده او دا دواړو طریقه کښې شته او دَ طریقِ تیمی دغه زیادت ابوداؤد کښې شته لیکن سنن

ترمذی کښې نشته هلته د دواړو روایاتو الفاظ یو دی نو ثبوت کښې تردد موجود دے تلخیص الحبیر صـ۴۲۰ باند دی "قال الترمذی قال البخاری لایصح عندی لأنه لایعرف للجدلی سماع من خذیمه وذکر عن یحی بن معین انه قال صحیح"

دَ خزیمه رضؓ دَ روایت جواب دوم

دا د راوی ظن دے او دا په طریقے د حسبان او تخمین غیر معتبر دی د صحیح روایاتو مقابله نه شی کولے

دریم جواب

"لَوْ" دَ نفی دَ پاره وی "لو جئتنی لأکرمتک" کښې راتلل او معالم السنن کښې ذی چه دا د راوی گمان حجت نه جوړیږی حکم هغه دے چه د نبی صلّی الله علیه وآله وسلّم د قول او د عمل نه ثابت وِی او اکرام سراسر نشته دلته هم دغه حساب دے ، زیادت نشته قضیه شرطیه وقوع نه غواړی "لو، لأنتفاء الثانی بسبب انتفاء الأول لکه چه "لَوْ کَانَ فِیهِمَآ آلِهَةٌ إِلاَّ اللّٰهُ لَفَسَدَتَا" دلته نه د زیادت سوال شوے دے او نه اجازت ورکړے شوے دے

څلورم جواب

علامه شبیر احمد عثمانی فتح الملهم کښې لیکلی دی چه د نبی علیه السلام عادت مشوره وه دلته اول ئے مشوره اوکړه اول کښې شرعی تحدید نه وؤ ورستو چه کله مده مقرر شوه نو مخالفت ددے قطعًا ناجائز دے

د حدیث د أُبی بن عماره او د هغے نه عذر

دا د امام مالک رحمة الله علیه دویم دلیل دے دا هغه شخصیت دے چه دوو قبلو ته ئے نمونځ کړے دے ، دے روایت کښې دی نعم ما شئت"

جواب: ابوداؤد ورته لیس بالقوی وائی تلخیص الحبیر صـ۳۲۱ ، امام بخاری ئے ضعیف گڼړی او د لایصحّ قول ئے کړے دے او ابوداؤد وائی سند کښې اختلاف دے او قوی نه دے ، ابوزرعه د متقی د امام

Maktaba Tul Ishaat.com

احمد نه نقل کوی رجال ئے نه دی معلوم او ابوالفتح الأزدی وائی هو حدیث لیس بالقائم" او ابن حبان وائی چه په دے حدیث څما اعتماد نشته دارقطنی وائی ثابت نه دے او یحیٰ بن ایوب کښ ډیر اختلاف دے او علامه ابن عبدالبر فرمائی چه ثابت نه دے ، سند نه شی اودریدے" ابن حجر فرمائی چه راوی جوزجانی او ابن جوزی په موضوعاتو کښ ذکر کوی ، په سند کښ عبدالرحمٰن عن زرین مجهول دے" او دده شیخ محمّد بن یزید او شیخ الشیخ ایوب بن قطن ټول مجاهیل دی او التعلیق الممجّد کښ علامه عبدالحیٔ لکهنوی دغسے جروح نقل کړے دی او آخر کښ لیکلے دی قال ابن عبدالبر لایثبت ولیس اسناده قائم کذا ذکره الحافظ ابن حجر فی تخریج أحادیث شرح الوجیز للرافعی،

دویم جواب

که صحیح شی دا مطلب دے چه همیشه ددے سهولت نه فائده اغستلے شے ، خو که مسافر دے درے ورځے پس او که مقیم دے نو ۲٤ گهنټه پس ئے اوباسه خپے وینځه او بیا موزے اچوه لکه چه روایت کښ راځی "الصعید الطیب وضوء المسلم ولو الٰی عشر سنین" چه مسلمان لس کالو پورے چه اوبو باندِ قادر نه وی تیمّم کولے شی دا مطلب نه دے چه یو تیمّم لسو کالو پورے کافی کیږی ، بلکه د شرائطو د وجود په وخت کښ عمر کښ چه کله دغسے د اوبو د نه وجود یا نه قدرت د استعمال حالت وی ، نو د تیمّم نه فائده اغستلے شے نصب الرایه کښ دی چه د عدم توقیت ټول روایات ضعیف دی" او د امام طحاوی خبره ډیره خوندوره ده چه د ابی بن عماره روایت د غټو صحابو دَ متواتر روایاتو مقابله کښ قابل استدلال نه دے او کوم روایت کښ چه راځی دَ جُمعے نه تر جمعے سیدنا عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه اے عقبه "اصبت السنة"

ددے جواب امام طحاوی رحمة الله علیه کړے دے چه عقبه په کومه لار راتلو هلته اوبه نه وے دَ تیمّم حکم وؤ "لأنه (عمر) علم انّ طریق عقبة الذی جاء فیه طریق لا ماء فیه فکان حکمه ان یتیمّم" چه عمر رضی الله عنه ته د دغے لارے علم وؤ چه دے کښ اوبه نشته

او د اصبت السنة دا مطلب اغستلے شے چه دا دَنفس مسح تصویب دے د عدم توقیت تصویب نه دے ، او اصبت السنة روایت صحیح دے

د مسح طریقه او دَ أئمه اربعه اقوال

ملاعلی قاری رحمۃ الله علیه مرقات کښې لیکلي دي چه درې ګوتې ورله کافي دي او امام شافعي رحمۃ الله علیه فرمائي چه په کوم د مسح نوم واقع کیدے شي او امام احمد رحمۃ الله علیه مسح الأکثر منې او امام مالک رحمۃ الله علیه د استیعاب قول کړے دے (اوجزالمسالک)

او بدائع کښې د علي رضي الله عنه قول نقل کړے دے "رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلّم مسح علی ظاهر خفیه خطوطًا بالأصابع" اصابع اسم جمع ده او اقل جمع درې وي نو درې ګوتې کافي کیږي او ابن ماجه کښې دي ، مغیره رضي الله عنه فرمائي "حتّٰی انظر الٰی اصابع رسول الله صلی الله علیه وسلّم علی الخفین" او ابن ماجه د جابر رضي الله عنه نه روایت هم نقل کوي

(فائده) تنسیق النظام کښې سنبهلي صاحب لیکلي دي "ونقل ابن عمر امّا لم یبلغه خبر المسح" یا ورته د مسح خبر نه وؤ اول کښې رسیدلے او یا د دوی هیر وؤ یا سفر کښې ورته بیا دَ مسح خبر رسیدلے وؤ کنې سیدنا ابن عمر به مسح علی الخفین کوله لکه وړاندې ذکر شو

بدائع صنائع کښې د ابوداؤد ، زید بن ثابت او د سعید نه غیر مؤقت قول نقل کړے دے لیکن ددے به مخکښې غوندې تاویل کولے شي

مسئله: مسافر له درې ورځې د مسح دَ اجازت نه احنافو استدلال کړے دے چه د درې ورځو په مزل به یو کس مسافر جوړیږي

معارف السنن کښې دي چه علامه ابن تیمیه رحمۃ الله علیه فرمائي چه سفر به هغه وي چه عرف کښې ورته سفر وائي او د امام مالک ، شافعي ، احمد رحمهم الله په نزد ۴۸ میل د سفر مزل دے او امام ابوحنیفه رحمۃ الله علبه فرمائي چه د درې ورځو په اندازه په درمیانه رفتار سره به ددے تحقیق کولے شي".

(سفرًا) د مسافر دپاره اسم جمع ده او خطابي وغیره وائي چه د مسافر جمع ده لکه رکب و راکب،"

(۲):وَعَنْ عُرْوَةَ بنِ الْمُغِيرَةِ بنِ شُعْبَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ. قَالَ الْمُغِيرَةُ: فَتَبَرَّزَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْغَائِط فَحملت مَعَه إداوة قَبلَ الْفَجْرِ فَلَمَّا رَجعَ أَخَذْتُ أُهَرِيقُ عَلَى يَدَيْهِ من الإداوة فَغسل كفيه وَوَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ ذَهَبَ يَحْسِرُ عَن ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كم الْجُبَّة فَأَخْرج يَده مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ وَأَلْقَى الْجُبَّةَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ وَغسل ذِرَاعَيْهِ وَمسح بناصيته وعَلَى الْعِمَامَة وعَلى خفيه ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ وَقَدْ قَامُوا فِي الصَّلَاة يُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم ذهب يتَأَخَّر فَأَوْمأَ إِلَيْهِ فصلى بهم فَلَمَّا سلم قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ فَرَكَعْنَا الرَّكْعَة الَّتِي سبقتنا. رَوَاهُ مُسلم

ترجمه : د مغيره رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے چه دوی د نبی صلّی الله عليه وآله وسلّم په ملګرتيا کښې د تبوک غزا کړے ده د اودس ماتی دپاره نبی صلی الله عليه وسلّم بهر وتلے وؤ د سحر د مانځه نه مخکښې ما ورسره لوټه اغستلے وه کله چه راواپس شو شروع شوم چه د هغوی په لاسونو ما د لوټے نه ورته اوبه اچولے دوی خپل لاسونه او خپل مخ اوينځلو او دوی د وړئ جُبّه اچولے وه شروع شو چه متے ئے وهلے يعنی د ليچو نه کپړا بيرته کول غوختل نو د جُبّے لستوڼړی تنګ وؤ نو د ترخونو د لاندِ نه ئے دواړه لاسونه راؤباسل په اوګو باندِ او خپل لاس ئے اوينځل بيا ئے په څلورمه حصے او پټکی مسح اوکړه بيا هغوی سواره شو او څه هم سور شوم مونږه قوم له اورسيدو او حال دا دے چه دوی مانځه ته اولاړ وؤ او دوی له عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه امامتی ورکوله او دوی يو رکعت کړے وؤ کله چه عبدالرحمٰن رضی الله عنه ته د نبی صلّی الله عليه وسلّم احساس اوشو شروع شو چه ورستو کيدل ئے غوښتل ورته ئے اشاره اوکړه (مه ورستو کيږه) نبی عليه السلام د امام سره يو رکعت لاندِ کړو کله چه سلام ئے اوګرځولو نبی صلّی الله عليه وسلّم پاسيدو او څه ورسره هم پاسيدم مونږه هغه رکعت راؤجارباسه چه زمونږ نه مخکښې شوے وؤ"

تشريح : دے واقعه کښې د مسح علی الخفين ذکر دے او دا واقعه د تبوک د غزوے ده چه د هجرت په نهم کال شوے وه او د سورة المائده آية الوضوء کښې چه دَ خپو د وينځلو حکم دے ددے نزول ددے نه دير مخکښې په غزوه دَ بنو المصطلق کښې د هجرت په څلورم يا پنځم کال شوے وو معلومه شوه چه نبی

صلّی اللّٰه علیه وسلّم مسح علی الخفین د آیة الوضوء د نزول نه پس کړے ده علامه البانی ارواء کښې لیکلے دی "غزوة آخر غزوة هٰذا من أجود حدیث في شهر رجب سنة تسع ومثله بل وأجود منه حدیث جریر أنه رأی النبي صلي الله علیه وسلم مسح علي الخفین بعد نزول سورة المائدة وهی آخر سورة نزلت"

ثم مسح بناصیته وعلی العمامة

عرف الشذی کښې شاه انور فرمائیلے دی چه جمهور سلف دِ پټکی دَ مسح قول نه نقل کوی او بعض سلفو ته جواز منسوب دے (غالبًا بعض سلف امام اوزاعی او امام اسحٰق رحمهما اللّٰه دی) چا وئیلے دی چه چه مسح ئے په سر کوله او پټکے ئے برابرو راوی دا ګمان اوکړو چه مسح ئے اوکړه بیا په دے توجیه سوال نقل کولے شي ویلزم هٰذا تغلیط الصحابی وهم من اذکیاء الأمة المرحومة؟ دا خو صحابی ته د تغلیط نسبت دے او صحابه ډیر پاک وړ ددے امت مرحومه نه ابوبکر بن العربی جواب کوی چه اصل کښې مستقل، اصالةً نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم په سر مسح اوکړه او په پټکی باندے تبعًا مسح اوشوه داسے صحابی اوګنړله دے کښې د صحابی تغلیط ځکه نه راځی چه نقل کونکی د اودس مراد ته اونه رسیدل، (دویم جواب) او علّامه ابن عبدالبر التمهید کښې لیکلے دی چه د پټکی د مسح احادیث ټول معلول دی فتوحات کښې د شیخ اکبر نه دغه نقل دی

مسند احمد ۴۹ــــ۱۵۴ باندِ روایت دے "انّ رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم یمسح علی الخفین والعمامة" سند ئے د شیخینو په شرط دے لیکن د عمامے په ذکر امام اوزاعی داسے تفرد کړے دے چه "خالفه عما ذالک" جمع ډیرو ددے نه خلاف کړے دے تفسیر احسن الکلام کښې د آیة الوضوء د لاند نقل دی چه اکتفا په ناصیه یا په بعض حصه د سر بغیر د مسح د عمامه نه نقل نه دے انتهٰی لیکن السنن الکبریٰ ۱ــ۱۶ باندِ د عطاء روایت دے "انّ رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم توضّأ فحسرالعمامة ومسح مقدم رأسه او قال ناصیته وهذا مرسل وقد رویناه معناه موصولاً فی حدیث المغیرة بن شیبة"

چه نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم اودس اوکړو عمامه ئے لر کړه او د سر مخکنی حصه یا په ځلورمه حصه دوی مسح اوکړه او دا مرسل روایت دے او ددے معنی مخکښې مونږ موصولاً د مغیره بن شعبه په حدیث کښې نقل کړے ده

Maktaba Tul Ishaat.com

او مولانا زبیر علی زئی مقالات ۲ـ۱۴۴ باندِ لیکلے دی "ان احادیث صحیحہ سے ثابت ہوا کہ صرف عمامہ پر (بشرطیکہ وضو کے بعد باندھا ہو) مسح کرنا سنت ہے جبکہ پیشانی اور پگڑی دونوں پر مسح کرنا بھی صحیح اور جائز ہے"

ددی عمامه مسح کښې شرط لګوی چه اودس به ئے کړی وی او پټکے به ئے تړلے وی او کتاب الأم ۱ـ۲۶ کښې روایت دے "قال الشافعی اخبرنا مسلم عن ابن جریج عن عطاء انّ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم توضأ فحسر العمامة عن رأسه ومسح مقدم رأسه او قال ناصیته بالماء"

د سیدنا ابن عمر رضی الله عنه روایت

كان اذا امسح رأسه رفع القلنسوة ومسح مقدم رأسه دارقطنی ۱ـ۱۰۷ وفی التعلیق المغنی سنده صحیح

دَ جابر بن عبدالله الانصاری روایت

د مسح علی العمامه تپوس چه تر کله اوشو او ئے فرمائیل چه نه "حتّی یمسح الشعر بالماء" مؤطاء امام مالک ـ۲۳ ترخو چه ئے ویخته په اوبو لوانده کړے نه وی او مؤطاء د امام مالک کښې د عروة بن زبیر عمل داسے نقل شوے دے "کان ینزع العمامة ویمسح رأسه بالماء" چه دوی به پټکے لرکولو بیا به ئے په سر په اوبو سره مسح کوله" او خپله د مسئلے تپوس د امام مالک نه اوشو چه په عمامه او خمار مسح به څنګه وی اوئے فرمائیل "لاینبغی ان یمسح الرجل ولاالمرءة علی العمامة ولا خمار" چه نه دی پکار شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لمعات التنقیح کښې لیکلے دی "مسح بناصیته وعلی العمامة ای تکمیلًا وتتمیمًا لسنة المسح" چه مسح کښې به د سنت تکمیل دوی په پټکی مسح باند کولو

د حافظ زیلعی جواب

چه کوم ځائے کښې د مسح علی العمامه ذکر دے هغه محتمل التأویل دے لکه دلته اختصار دے ، اصل "مسح علی ناصیته وعمامته" وو او مختصر شکل ئے صرف "علی عمامته" جوړ شو دا مطلب نه دے چه صرف په عمامه دوی مسح اوکړه بلکه د سر په فرض مقدار ئے مسح اوکړه او بیا ئے لاس په پټکی راخکلو او دا د بیان جواز یو شکل وو څکه په دے هم فرض مسح ادا کیدے شی لکه په بعض روایاتو کښې دغه صراحت راغلے دے چه "مسح علی ناصیته وعمامته"

د مؤطا امام محمد تصریح

امام محمد رحمة الله علیه فرمائی "بلغنا ان المسح علی العمامة کان فترک" لکه مخکښ تیر شوے دي چه مونږ ته دا خبر رارسیدلے دے اول کښې دغسے مسح وه ورستو منسوخ شوے ده او مولانا عبدالحی لکهنوی رحمة الله علیه لیکلی دی چه د امام محمد رحمة الله علیه بلاغات مستند دی انعام الباری کښې دی که دا خبره صحیح وی خبره بالکل صفا شوه او مولانا لکهنوی لیکلے دی چه د مسح عمامه احادیث چه کوم د عمرو بن امیه ضمری ، مغیره بن شعبه او انس رضوان الله علیهم اجمعین نه نقل دی ټول معلول دی تحفة الأحوذی ۱ـ۲۹۵ باند دی "قَالَ صَاحِبُ التَّعْلِيقِ الْمُمَجَّدِ لَمْ نَجِدْ إِلَى الْآنِ مَا يَدُلُّ عَلَى كَوْنِ الْمَسْحِ عَلَى الْعِمَامَةِ مَنْسُوخًا لَكِنْ ذَكَرُوا أَنَّ بَلَاغَاتِ مُحَمَّدٍ مُسْنَدَةٌ فَلَعَلَّ عِنْدَهُ وَصْلٌ بِإِسْنَادِهِ" او عمدة القاری کښې د ابن بطال قول نقل دے چه اصیلی فرمائی په دے حدیث کښې د عمامه ذکر د اوزاعی خطا ده او امام ترمذی د بعض صحابو باره کښې لیکلے دی چه څو پورے په سر مسح او نه کړی صرف په پټکی مسح ناجائز ده امام بخاری رحمة الله علیه دَ مسح علی العمامه روایت تخریج کړے دے لیکن په دے ئے مستقله ترجمه نه ده کیخودلے معلومیږی چه هغوی هم په مسح علی العمامه ارلګ د زړه د اخلاصه نه راځی ګویا دوی ته هم په جواز کښې تردد شته

یو بل جواب

د عمامه نه مراد ما تحت العمامه به وی ، د حال نه محل مراد دے" دا د قبیلے د اطلاق د اسم الحال علی المحل نه دے لکه د سیدنا انس رضی الله عنه روایت کښې دی "فأدخل یده تحت العمامة" پټکے ئے په سر وو لاند دوی لاس وردننه کړو او د سر مسح دوی اوکړه او د مسح علی العمامه اثبات په اخبار آحاد سره دے او د سر د مسح د سر ثبوت قطعی خبره ده په داسے اخبار آحاد ئے نه شو پریښودلے چه مختلف احتمالات پکښې دی ، د قرآن آیت قطعی الدلالت او قطعی الثبوت دے عمامے ته څوک سر نه وائی

د حنابلو په نزد شرطونه

(اول شرط) دادے چه "لبس به علی طهارة" وی اودس به ئے کړے وی بیا به ئے پټکے تړلے وی (دویم شرط) پټکے به داسے وی چه ټول سر له به پټونکے وی (دریم شرط) عمامه به محتکه وی یا شمله داره به وی

(فائده) شاه انور عرف الشذی کښې لیکلے دی چه په عرفی کښې سره د اکثر د پیغمبر پټکے درے (۳) گزه وو او د پنځو نمونځونو کښې پټکے اوو (۷) او اختر ، جمعه له به دولس گزه

(فحملت معه اداوۃً قبل الفجر)

اودس کښې د بل چا نه تعاون طلب کول

(اول صورت) دا دے چه صرف دومره مدد اوکړی چه د اودس اوبه راوړی دا د جمهورو په نزد بالأتفاق جائز دی ، او دے صورت کښې دا غټ سعادت دے چه خپله د پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم منشاء ورته معلومه وه او لوټه ئے ورسره واغستله فتح الاله کښې دی "انّما يندب ذالک فی التلميذ حتیٰ يعلمه ويهذب نفسه" او

(دويم صورت) بل څوک ورته اوبه اچوی او خپله اندامونه مړی که دا د عذر د وجے وی اتفاقی د جوازِ صورت دے او د نبی دپاره اولی ثورت او سعادت دے او د خپل مشر یا شیخ دَ خدمت دَ خاطره بالکل صحیح دے لیکن دویم صورت دا دے چه مددِ کوونکے صرف اوبه ناچوی او خپے ورله مګی او هیڅ عذر نه وی دا صورت مکروه دے د بخاری باب دے "باب الرجل یوضّئ صاحبه" ددے باب د لاندے واقعه نقل کوی نبی صلّی الله علیه وسلّم چه کله راکوزیدو د عرفات نه مزدلفے ته دوی تشریف راوړو او نبی صلّی الله علیه وسلّم واړه بول ,ددے نه یو دره کښې اوکړل نو اسامه رضی الله عنه فرمائی فجعلت اصب علیه ویتوضّأ دوی ورته اوبه اچولے او پیغمبر علیه السلام اودس کولو ددے روایت د لاند مرقات کښې دی دلالة علی جواز الأستعانة فی الطهارة سیما اذا ارید بها الأفادة والأستفادة او ددے څه بحث مخکښې تیر شوے دے،

قبل الفجر: مرقات کښې ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلے دی چه د عبادت د ادا کولو په صورت کښې د وخت د داخلیدو نه مخکښې تیاری کول مستحب عمل دے

فضاق کم الجبّة: ملا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی چه هغے بعض فقهاؤ باندِ رد دے چه څوک وائی د خپلے علاقے او دَ ملک نه بغیر ته کپړے استعمالوے دے سره مروت ساقطیږی لیکن که دغه جامه په بے پرواه کیدو او د حیاء په کموالی او دَ شرعی قواعدو خلاف وی بیا به مروت ساقط کړځی بعض روایاتو کښې روم او بعض کښې شام دے تنسيق النظام علامه کښې علامه سنبهلی لیکلے دی چه

ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چہ شام دغه وخت کښې د روم د بادشاه د لاند وو او یا کیدے شی چه ماده ئے د یو ملک وه او کنډل ئے د بل ملک وؤ

فغسل یدیه و وجهه: علامه هیثمی رحمۃ اللہ علیہ لیکی دلیل دے چه مضمضه او استنشاق واجب نه دی کنی مغیره رضی اللہ عنه به ذکر کړے وے او دا احتمال چه کړے دی لیکن ذکر ئے نه دے کړے عند قابل اعتماد لرے خبره ده"

ویصلی بهم عبدالرحمن: دلیل دے که فاضل مفضول پسے نیت اوتړی صحیح دی او التعلیق المجد صـ۶۹ باندِ دی چه عبد الرحمن رضی اللہ عنه پسے نمونځ ئے اوکړو او ئے فرمائیل "ما قبض نبیٌ قط حتی یصلّی خلف رجل صالح من امته" د عبد الرحمن بن عوف او د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنهما په صنیع کښې د فرق وجه دا ده چه نبی صلّی اللہ علیه وآله وسلّم کله تشریف راوړو دَ مصلّی نه ورستو شولو اوئے فرمائیل "ما کان لأبن أبی قحافة ان تقدم بین یدی رسول اللہ صلّی اللہ علیه وسلّم" ابوبکر رضی اللہ عنه فنا فی المحبوب وؤ هغوی دغه توان نشو لرلے چه څه دِ اوس په مصلّی اودریږم او عبدالرحمن بن عوف رضی اللہ عنه ضبط کولے شو هلته اولا ر پاتے شو،

(دوئمه توجیه) عبدالرحمن رضی اللہ عنه امتثال او حکم منلو ته ترجیح ورکړه او صدیق رضی اللہ عنه د ادب لا ر اختیار کړه معلومه شوه الأمر فوق الأدب څه اتفاقی قاعده نه ده بلکه دلته جدا جدا مختلف جهتونه دی ، ملا علی قاری رحمۃ اللہ علیه فرمائی چه د ادب لا ره ډیره اوچته ده

(دریمه توجیه) علامه طیبی رحمۃ اللہ علیه کاشف کښې لیکلے دی چه د فرق وجه دا ده چه د عبدالرحمن رضی اللہ عنه په واقعه کښې یو رکعت د نبی علیه السلام نه شوے وؤ نو پیغمبر صلّی اللہ علیه وسلّم په دے وجه وړاندِ کیدل پریخودل چه د قوم نمونځ په ترتیب کښې خلل رانشی بخلاف د واقعے د سیدنا ابوبکر رضی اللہ عنه نه چه دلته اول کښې پیغمبر صلّی اللہ علیه وسلّم تشریف راوړو او رکعت تیرِ نه وؤ تلے،

د احنافو او د شوافعو اختلاف

فرکعنا الرکعة التی سبقنا: التعلیق الفصیح کښې قاضی شمس الدین رحمۃ اللہ علیه لیکلے دی چه شوافع وائی چه مسبوق پاتے نمونځ له پوره کونکے دے چه کوم نمونځ د امام د سلام دَ اړولو نه پس ادا

Maktaba Tul Ishaat.com

کوي لیکن احناف وائي چه دده نه کوم نمونځ فوت شوے دے د هغے قضا کونکے دے د امام د فراغت نه پس ، او معلومه شوه چه مسبوق به هله اودریږي چه امام سلام اوګرځوی دَ فرق وجه دا ده چه د احنافو په نزد د امام او د مقتدی مینځ کښ تعلق قوی دے چه کله مسبوق د امام نمانځه کښ داخل شی نو د امام سره چه کوم نمونځ کوی د امام د تابعدارئ د وجے دا د ده آخر نمونځ جوړیږي ځکه چه دا د امام دَ نمونځ آخری برخه ده او چه د امام د سلام جارباسلو نه پس کوم نمونځ کوی دا د ده اول نمونځ به حسابیږی او چه دَامام سره کومه برخه دده نه فوت شوے وه دے د هغے قضا کونکے دے،
او د شوافعو په نزد د امام او د مقتدی مینځ کښ دغه مضبوط تعلق نشته بلکه دے کښ لږه کمزورتیا ده چه مسبوق کوم نمونځ کښ داخل شو اګرچه دا دده د امام آخری نمونځ دے لیکن دده اول نمونځ حسابیږی چه د امام دَ فراغت نه ورستو دے کوم نمونځ کوی دا دده دَ نمونځ آخری حصه ده او دے دَ پاتے نمونځ پوره والے کونکے دے نه ده چه دے قضا د هغے کوی چه دده نه فوت شوے دے او دا حدیث باب "فرکعنا الرکعة التی الخ" څمونږ دَ احنافو دپاره دلیل جوړیږی چه دا آخری نمونځ دے چه امام سلام اوګرځوی نو مقتدی به ثناء هم وائي که یو رکعت تړے شوے وی نو وړومبی دوه رکعته به ډک او آخری به تش اوکړی،

الْفَصْلُ الثَّانِي

(٣):عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهِنَّ وَلِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَمْسَحَ عَلَيْهِمَا. رَوَاهُ الْأَثْرَمُ فِي سُنَنِهِ وَابْنُ خُزَيْمَةَ وَالدَّارَقُطْنِيِّ وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ: هُوَ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ هَكَذَا فِي الْمُنْتَقَى

ترجمه : ابو بکره رضی الله عنه د نبی اکرم صلّی الله علیه وسلّم روایت نقل کوی چه دوی مسافر له درے ورځے او شپے او کور کلی کښ پاتے کیدونکے له یوه ورځ او شپه رخصت ورکړے دے کله چه پاکی ئے حاصله کړه بیا ئے موزے واچولے او په دے ئے مسح اوکړه

تشریح : د ابوبکرة پیژنګلو

د بکره خپله معنی هغه لرګے چه بوقه کښې اچولے شي او په هغے بوقه چلیږي دوی د طائف په ورځ ددے په مدد توپ وهلو نبی صلّی الله علیه وسلّم ورته ابوبکره اوفرمائیل دوی د حارث بن کلده ثقفی غلام وؤ بیا هغه دے د کور په خلقو کښې شامل کړو او د ځوی غونډِ جوړ کړو انتقال ئے ٤٩ هجری کښې شوے دے مرقالت کښې ملا علی قاری رحمة الله علیه نُفیع بن الحارث بن کلده د طائف په ورځ رازوړند شوے وؤ ، او ورستو ئے آزاد کړے دے دَ دوی د غلامانو نه وؤ او بصره کښې دیره وؤ ډیرو خلقو دده نه روایتونه اوریدلے دی چا وئیلے دی نوم ئے مسروح وؤ

رخص: رخصت د هغه چا دلیل دے چه څوک وائی عزیمة خپے وینځل او رخصت مسح ده فتح الباری کښې دی چه دَ امام مالک نه صراحةً ددے مطلقًا جواز نقل دے او چا وئیلے دی چه ګلی کور کښې د خپل ځان دپاره امام مالک رحمة الله علیه توقف کړے دے او فتویٰ د دوی د جواز وه او دغسے د ابوایوب صحابی رضی الله عنه نه نقل دی (لمعات التنقیح)

وأن یمسح: د رخص دپاره مفعول دے او ثلاثة ایام ورله ظرف دے

المنتقٰی: دا د شوکانی د نیل الأوطار د شرح متن دے ،

دویم منتقی د ابن جارود دے او دریم ذهبی د علامه ابن تیمیه د منهاج السنة تلخیص کړے دے الحق الصریح کښې دی "په سفر کښې قصر کول په مانځه کښې ضروری دی" څه وائم دغه قول د احنافو هم دے لیکن دے مؤلف په باب صلٰوة السفر کښې لیکلے دی چه د وجوب دلائل ډیر قوی دی لیکن دَ صحابه کرامو اعمال او فتویٰ قرینه ده چه قصر واجب نه دے سنت مؤکده دے انتهیٰ،

د ضروری مطلب دا وی وجوب دے چه قوی دلائل دی لیکن بیا قرائینو سره ورته سنت مؤکده وائی فیاحبذا التحقیق فهو أجدر بهٰکذا التدقیق وهو الیق به وحقیق ، نسأل منه السداد والتوفیق

(٤):وَعَن صَفْوَان بن عَسَّال قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفَرًا أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ وَلَكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د صفوان مرادی رضی الله عنه نه روایت دے چه وو نبی صلّی الله علیه وسلّم چه مونږ ته ئے اجازت راکړے وۀ چه کله مونږه مسافر یو چه مونږه به خپلے موزے درے ورځے او شپے نه اوباسو لیکن د جنابت د وجے به ئے اوباسو ، لیکن د ورو بولو ، غټ اودس ماتی او د خوب د وجے به ئے نه اوباسو

تشریح : علامه طیبی لیکلے دی دا حدیث ډیر ځائسته هغه روایت دے چه په توقیت کښې روایت شوے دے او دا مکمل قوی دلیل په هغے کړے ولے رد دے چه مسح د موزے نه منی ځکه په دے کښې د صحابی فرمان دے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم به مونږ ته ددے حکم راکولو ، د امر لفظ دا زبردست دلیل دے چه دا واضح او حق دلیل دے چه مسح علی الخفین یو حقیقت دے

الّا من جنابة ولٰکن الخ: د لٰکن په لفظ کښې دا قاعده ده چه دلته به د هغے فعل تقدیر راؤباسے چه د مخکښې ضد وی او ترجمه کښې د هغے رعایت شوے دے او صرف په دے درے امورو کښې حصر نه دے بلکه ددے نه مطلقًا ټول اودس له ماتونکی امور مراد دی ، مرقات کښې دی چه استثناء مفرغه ده "لا تنزع خفافنا من حدث من الاحداث الا من جنابة" سنن نسائی کښې واضح دلیل دے "کان رسول الله صلّی الله علیه وسلّم یأمرنا اذا کنّا مسافرین ان نمسح علٰی خفافنا ولا ننزعها ثلاثة ایام الا من غائط وبول ونوم الّا من جنابة" د اودس ماتی او د خوب نه پس مونږ صرف اودس کوؤ ارواء کښې البانی صاحب لیکلے دی "ادّعیٰ ابن تیمیة ان لفظة نوم مدرجة فی هٰذا الحدیث وهی دعویٰ مردودة فهی ثابتة عند الجمیع" د علامه ابن تیمیه دا دعویٰ ده چه د خوب لفظ دے حدیث کښې مدرج دے دا دعویٰ مردود ځکه ده چه ټولو په نزد دا لفظ ثابت دے

مسئله: دَ موزے په پوره اوباسلو سره به خپه وینځی المفاتیح کښې دی چه مسح علی الخف رخصت دپاره د مشقت دَ ختمیدو دے

(۵):وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا

حَدِيثٌ مَعْلُولٌ وَسَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ وَمُحَمَّدًا يَعْنَى الْبُخَارِيَّ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَقَالَا: لَيْسَ بِصَحِيحٍ. وَكَذَا ضعفه أَبُو دَاوُد

ترجمه : مغیرة بن شعبة (رضی الله عنه) فرمائی چه ما نبی صلی الله علیه وسلّم ته د اودس اوبه اچولے د تبوک غزاء کښې نو د موزے په بره او لاندې دواړه باندې مسح اوکړه

تشريح : مرقات کښې ملّا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چه د امام شافعی او د امام مالک رحمة الله علیهما مسلک کښې د موزے په اعلیٰ حصه مسح واجب او په لاندې سنّت عمل دے او اختلاف الأئمه کښې دی چه سنّت طریقه د ائمه ثلاثه په نزد د لاندې باندې مسح کول دی او امام احمد رحمة الله علیه فرمائی چه سنّت په اعلیٰ حصّه صرف مسح کول دی او په اعلیٰ باندې اکتفاء بالاتفاق جائز دی لیکن په لاندې اکتفاء اوکړه بالاجماع ناجائز دی لیکن د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مشهور قول د امام احمد رحمة الله علیه دَ مذهب غوندې دے او راجحه دغه ده چه صرف په بره طرف دِ مسح اوشی تفصیل راتلونکے حدیث کښې دے

د روایت حیثیت

ملا علی قاری رحمة الله فرمائی چه دا ثور بن یزید صرف د ولید بن مسلم نه روایت کړے دے انتهٰی

(۱) دوی دا حدیث د رجاء بن حیوه نه دِ اوریدلے نو روایت منقطع شو (۲) کاتب مغیره دا مرسل روایت کوی

(۳) کاتب مغیره مجهول دے

(٤) ولید مدلس راوی دَ ثور نه روایت په عنعنه نقل کوی

(٥) رجاء بن حیوة دَ کاتب مغیره سره ملاقات نه دِ شوے

معلول روایت څه ته وائی

ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چه په هغے کښې داسے یو پټ سبب وی چه تقاضا ئے رد کول وی وقیل ما وهم فیه ثقة برفع او تغییر اسناد او زیادة او نقص یغیّر المعنٰی چا وئیلے دی معلول هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت دے چه ثقه په هغے کښې په رفع یا د سند په بدلولو او یا کمی ، زیادت سره په داسے وهم کښې اخته وی چه معنی کښې بدلوالے راولی او ابوداؤد د ضعف علت ارسال خودلے دے

تلخیص الحبیر کښې د مسح اعلی الخف واسفله په وضاحت کښې لیکلے دی چه اثرم وائی چه امام احمد رحمة الله علیه به دا حدیث ضعیف گنړو او ابن ابی حاتم په علل کښې د خپل پلار او د ابو زرعه نه نقل کړے دے چه د ولید حدیث محفوظ نه دے او موسٰی بن هارون د ابوداؤد فرمائی ثور د رجاء نه اوریدل نه دی کړی قاسم بن اصبغ د هغه نه دغسے حکایت کړے دے

(٦):وَعنهُ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يمسح على الْخُفَّيْنِ على ظاهرهما. رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد

ترجمه : د مغیرة رضی الله عنه نه روایت دے چه ما نبی صلّی الله علیه وسلّم لیدلے دے چه د موزو په ظاهر به ئے مسح کوله

المفاتیح کښې دی هٰذا مرسل" سوال راځی مرسل هغه حدیث ته وائی چه تابعی د پیغمبر نه داسے ذکر کړی چه صحابی نه ذکر کوی لیکن دلته بعض مغیره ذکر کوی او هغه صحابی د حدیث راوی دے ځنگه مرسل شو جواب دا دے چه اصل حدیث دا دے چه رجاء بن حیوٰة دا د وارد کاتب المغیره نه نقل کوی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم مسح اعلی الخف نو په دے طریق ځکه مرسل دے چه روّاد دا حدیث د پیغمبر نه بالذات نقل کوی او د مغیره ذکر ئے پریخودلو" روّاد خو تابعی دے،

تشریح : ملا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی د فرض د محل د ظاهر نه د خپے مخکښې حصّه ده او د دے طریقه دا ده چه د ښی لاس گوتے د ښی طرف د موزے په مخکښې حصه کیږدے او د گس لاس گوتے د گسے موزے په مخکښې حصّه کیږدے او پنډئ غاړے ته د کیتو د پاسه داسے حال کښې په بره راکاږے چه گوتے یو ځائے نه وی بلکه مسنون طریقه دا ده چه گوتے به لږ ارتوالے لری دا مسنون طریقه او د ظاهر د موزو نه بره غاړه مراد ده لکه راتلونکے د سیدنا علی رضی الله عنه روایت په دے دلالت کوی ،

مذاهب

(١) صرف په لاندے موزه مسح اتفاقًا نه کیږی

(۲) صرف په اعلیٰ حصّه به اتفاقًا کیږي ، امام مالک رحمة الله علیه ددے د وجوب او امام شافعي رحمة الله علیه د لاند موزے په مسنونیت او د بره حصّے د وجوب قائل دے

(۳) امام ابوحنیفه امام احمد او صاحبین رحمة الله علیهم فرمائی چه په اعلیٰ حصّه فرض ده او په لاندِ نه فرض ده نه واجب او نه سنّت

د امام شافعي او امام مالک رحمة الله علیهما دلیل

وړومبے دلیل د هغوی دا حدیث دے (۲) امام شافعي رحمة الله علیه مسح په وینځلو قیاس کوی چه خپه لاند باند وینځلے شی (۳) په لاند موزے د کندګئ د احتمال امکان زیات دے چه په بره حصّه مسح ده نو په لاند به هم وی

جوابات

(۱) د اعلیٰ نه مراد دَ پنډئ غاړه او د اسفل نه مراد د ګیټو طرف دے

(۲) د مغیره رضی الله عنه حدیث په شپیتو طریقو روایت دے صرف په یوه طریقه کښې د اسفل ذکر دے لهٰذا حجت نشي جوړیدے

(۳) نبي صلّی الله علیه وسلّم بل لاس هسے د خپے د لاند حصّے سره لګولے وؤ راوی د هغے تعبیر په مسح سره اوکړو

(٤) روایت باند کلام مسلم دے چه ترمذی ورته معلول او ابوزرعه او امام بخاری رحمة الله علیهم ورته غیر صحیح او ابوداؤد رحمة الله علیه ورته ضعیف او منقطع وائی

په غَسل باند د قیاس جواب

داقیاس مع الفارق ځکه دے چه وینځلوکښې لګه ګرانتیا اومسح کښې آسانتیا ده

د دریم دلیل جواب

که د موزے د لاندے دَ کندګئ اعتبار له ترجیح ورکولے شی بیا خو د خپے وینځل پکار دی ځکه مسح به پوره پاکوالے را نه ولی وینځل ئے ضروری دی

د امام ابوحنیفه او د امام احمد رحمة الله علیهما دلیل

فصل ثالث کښې د سیدنا علی رضی الله عنه روایت دے لَوْ کَانَ الدِّیْنُ بِالرَّأْيِ لَکَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ (۲) دَ فصل ثانی څلورم نمبر حدیث یَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّیْنِ عَلَى ظَاهِرِهِمَا په دے کښې د اسفل الخفین مسح نشته بلکه د برے حصّے ده،

د علّامه کاسانی رحمة الله علیه تحقیق

دوی د سیدنا عمر رضی الله عنه او د سیدنا علی رضی الله عنه اقوال نقل کړی دی چه د خف د ظاهر دلیل جوړیږی نه ده باطن علّامه کاسانی رحمة الله علیه لیکلے دی حَتّٰی لو خَاضَ الْمَاءَ أو أَصَابَهُ الْمَطَرُ جَازَ عن الْمَسْحِ وَلَوْ مَرَّ بِحَشِيشٍ مُبْتَلٍّ فَأَصَابَ الْبَلَلُ ظَاهِرَ خُفَّيْهِ إنْ كان بَلَلَ الْمَاءِ أو الْمَطَرِ جَازَ وَإِنْ كان بَلَلَ الطَّلِّ قِيلَ لَا يَجُوزُ لِأَنَّ الطَّلَّ ليس بِمَاءٍ که څوک اوبو کښې غوپه شو او یا د باران اوبه ورته اورسیدے مسح جائز ده او که چرته په لوندو گیاگانو کښې تیریږی او ظاهر موزو ته لوندوالے اورسی که د اوبو یا د باران لوندوالے وی مسح جائز ده او که د پشم لوندوالے وی څکه ناجائز ده چه پشم اوبه نه دی معلومه شوه چه د سر د مسح غوند د موزو په مسح کښې نیت نه دے ضروری ،

د علّامه شامی رحمة الله علیه فرمان

د مسح حدیث چه اعلٰی ، اسفل باند امام شافعی رحمة الله علیه چه ذکر کړے دے دا شاذ دے دَ دے حدیث مقابله نشی کولے

د علّامه زیلعی رحمة الله علیه قول

نصب الرایه کښې دی چه د اعلٰی نه ساق او دَ اسفل نه د گوتو حصّه مراد ده

ازالة الغین و الرّین عن افق مسئلة المسح علی الجوربین

(۷):وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بنِ شُعْبَةَ قَالَ: تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةْ

ترجمه : د مغيرة رضی الله عنه نه روايت دے چه فرمائيلے دی نبی صلّی الله عليه وسلّم اودس اوکړو او په جرابو او پيزار ئے مسح اوکړه

تشريح : مقدمه الموسوعة الحديثيه ۳ــ۱۹۵ بانډِ دی "قلت لم يرو عن النبی صلّی الله عليه وسلّم قوله "امسحوا علی الجوربين حتّی نستدل بعمومه علی جواز النسخ علی كل انواع الجوارب والمشهور انّ اباحنيفة لا يبيح المسح علی الجوربين الّا اذا كانا منعّلين او مجلّدين حملًا للمطلق علی فرده الأكمل احتياطًا فی دين الله" څه وائم د نبی عليه السلام نه داسے روايت نشته چه جرابو بانډِ مسح اوکړئ چه مونږ اوايو چه هر قسم جرابو بانډِ مسح ددے عموم د وجے ثابته ده او مشهور قول د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه دے چه په جرابو باند به مسح هله جائز وی چه کله دا منعّل يا مجلّد وی مطلق به په دين کښ د احتياط د وجے په فرد اکمل حمل کوو دے سره جُراب دَ خف معنٰی حاصلوی "فلا يكون للمتساهلين فی المسئلة دليل واضح" د سهولت پسندو دپاره دے مسئله کښ هيڅ واضح دليل نشته دے او اعلاء السنن ۱ــ۳۶۷ بانډِ دی "واعلم انّ المشهور عن قول الامام رحمة الله عليه انّه لايقول بمسح الجورب الّا اذا كانا مجلّدا او منعّلًا" او مصنّف ابن ابی شيبة کښ ۱۹۷۶ نمبر روايت بانډِ دَ سعيد بن المسيب او دَ حسن بصری نه نقل دی دواړو به فرمائيل چه څو پورے صفيقين نه دی مسح به په هغے نه کيږی

په الحق الصريح کښ تصريح

عام احاديث په مسح د خفين کښ راغلے دی او هغه دَ څرمنے نه جوړے دی نو جُرابه د خُفين مماثله شوه نو مسح به جائز وی او که چرے د خفين سره مماثل نه شوه نو مسح بيا جائز نه ده څکه دے باب کښ صحيح حديث نه دے ثابت" او د خفين پشان کنړ احاديث پکښ هم نشته لهذا ددے مسح به مشروط وی په شرط د تجليد يا تنعيل بانډے

Maktaba Tul Ishaat.com

الجواب

اول ئې اوے په دے باب کښې صحیح حدیث نه دے ثابت او بیا ځُخت لیکی "د خفین پشان کنړ احادیث هم پکښې نشته" کنړ څه کوے بلکه یو حدیث صحیح صریح غیر معارض د موجوده جرابو باره کښې نشته، او دوی څلور روایات چه کوم نقل کړی دی دَ هغے حقیقت به قاری ته معلوم شی، او دا قول د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه صحیح دے چه مشروط د تجلید یا دَ تنعیل په شرط او عام غیر مقلد دغه شرط نه منی".

اشکال

صاحب د الحق الصریح لیکلے دی"دویم روایت د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اباحت مطلقًا دے او رجوع ئې کړیده قول د صاحبینو ته او رجوع ئې دلالت کوی په عدم اشتراط التجلید والتنعیل باندے"

الجواب

اوله خبره: دا ده چه شاه انور عرف الشذی صــ ۳۰ باندِ د صاحبینو قول نقل کړے دے چه کله ثخینین وی مسح جائز ده او بیا ئې لیکلے دی چه امام صاحب د وفات نه دړے ورځے مخکښې دَ صاحبینو قول ته رجوع کړے ده نو دا رجوع ثخینین تهِ شوے ده بالفرض که ثابت شی نو بیا څمونږ دریواړه امامانو په نزد د مسح په هغه جرابو ده چه ثخینین وی مطلقًا جرابو ته رجوع نشته

الحق الصریح کښې دی دا خبره غلطه او بے دلیله ده څکه ترمذی کښې دی "وعلیه جوربان" نو قید د ثخانت په کښې نشته دغسې تحقیقات صــ۷۴۰ باندِ دی وعلیه جوربان

لیکن حقیقت دا دے چه ترمذی کښې "وعلیه جوربان" هډو شته دے نه بیلکه د سفیان ثوری، ابن المبارک، امام شافعی، امام احمد او امام اسحق رحمهم الله علیهم مسلک ئې دا نقل کړے دے قالوا یمسح علی الجوربین وان لم یکونا منعلین اذا کانا ثخینین نو ترمذی کښې قید د ثخانت شته" دے مقام کښې دوه کرته په "التحقیقات" حواله ورکړے ده" چه د علماؤ اقوال تحقیقات کښې اوګوره،

عرض دا دے چه غیرمقلد دِ اوّل دَ صاحب التحقیقات یو کتاب اوګوری نوم ئې دے توحید الحاکمیة لعبد القاهر په صــ ۱۳۷ باندِ لیکلے دی دغه د بلعام زامن که دَ هری دلی او تنظیم سره تعلق لری او ددی کفارو او مرتدینو په ارتداد ساکت دی دوی ددے مرتدینو نه زیات کفار او واجب القتل دی

اکرچه څانته اهل حدیث ، دیوبندی ، بریلی ، تنظیم اسلامی ، جماعت اسلامی ، اسلامی جهادی تنظیم
لکه جماعة الدعوة ، جیش محمد ، حرکت المجاهدین ، البدر او حزب المجاهدین وائی یا د پاکستان په ضد
جهاد دهشت گردی گنړی ، داسے عقیدے والا بیا مرتد ، زندیقان ، واجب القتل دی
زمونږ څه کار دے چه د داسے گستاخ ، بے ادبه او د غلط فکر والا انسان کتاب ته رجوع کوؤ
دوی خپله په التحقیقات تقریظ هم کړے دے په دغه کتاب کښی ص۔۔۔٤٤٧ بانډ (خلاصه) د مسئلے
راؤباسی تارک الصلوة کافر دے نو هغه څوک چه په سستیا سره نمونځ پریږدی نو د دغه مذکور علمائ
او صحابه کرامو په مذهب کافر دے نو لا هغه څوک چه ښه روغ موټ وی او قصدًا بغیر د څه عذر بیا
هم نمونځ نه کوی نو آیا دے به مسلمان پاتے شی؟
او اوس حکمة القرآن کښی د سورة ابراهیم د ٢٤ نمبر آیت "کَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ" په تشریح کښی
لیکلے دی چه کله کله نمونځ کوی کافر نه دے ، د دوی خپله تقریظ د "کلام اللیل یمحوه النهار"
مصداق دے لیکی ددے حدیث دا مطلب نه دے چه تارک الصلوة یقینی کافر دے دا په محاوره بناء ده
راجح قول دا دے چه څوک همیشه دپاره نمونځ پریږدی بیا به یقینی کافر کیږی او چه کله کله ئے
پریږدی کافر نه دے"
صاحب د الحق الصریح لیکی (د ثخانت تعریف) شرح الوقایه کښی دی چه بغیر د تړلو په خپه پورے
تینګیږی دا خبره بعینه په دے نن صبا مروجه جرابو کښی ګنے نشته څه لږ فکر اوکړه"
غرض دا دے چه بے د فکره دا معلومیږی چه د ثخانت دا تعریف غلط دے دا د نیلون جرابے په چره
تړلے کیږی ، دا خبره بعینه څه کوے چه بغیره نن صبا مروجه جرابو کښی شته
اوتبیین الحقائق ص۔۔۔۱۵۳ باند دی "امّا الثخینین فالمذکور قولهما وحده ان یتمسّک علی الساق من غیر
ربط وان لا یری ما تحته"
دوه قیده زیلعی لکولے دی
(۱) بے د څه تړلو په خپل ثخن اودریږی
(۲) لاندِ دَ خپے حصّه تر نه ښکاری" د لیلام یا مروجه جرابے بے دَ تړلو یعنی دَ چرے نه بغیر نه
اودریږی دا بدیهی خبره ده سوچ هم نه غواړی

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) امام طحاوی قید لګولے دے چه د هغه نه اوبه قدم ته تجاوز نه کوی او که اوبه پرے واچوے نو خپو ته ئے اثر نه رسی

(٤) مظاهرحق کښ دی "ثخینین جسکو پہن کر فرسخ چلا جائے بغیر باندھے پنڈلی پر رُکا رہے" نیز اسکے اندر کا کوئی حصہ نہ دکھلائی دے اور نہ اسکے اندر پانی چھن سکتا ہو"

او مجموع فتاوی ۱۱ــ۱۲۳ باند علامه ابن تیمیه رحمة الله علیه لیکلے دی "نعم یجوز المسح علی الجوربین اذا کان یمشی بینهما سواء کانت مجلّدة او لم تکن فی اصح قولی العلماء ففی السنن ان النبی صلّی الله علیه وسلّم مسح علی جوربیه ونعلیه وهٰذا الحدیث اذا لم یثبت فالقیاس یقتضی ذالک"

التحقیقات صــ۷٤۱ باندِ په ابن تیمیه رحمة الله علیه رد کړے دے "بل نثبت کما تقدّم" حالانکه د حدیث صحیح ثابتول زورے دارد ده،

الأستذکار کښ امام مالک رحمة الله علیه آخری قول دا دے که مجلّدین وی بیا مسح صحیح نه ده "وان کانا مجلّدین" او تفسیر قرطبی کښ دی "الرابعة والعشرون عند ابی حنیفة والشافعی الّا ان یکونا مجلّدین" او دا د امام مالک رحمة الله علیه یو قول دے او دویم قول دا دے که مجلّد وی بیا هم ناجائز ده،

او شرح مهذب ۱ــ۲۸۳ باندِ دی "لایمسح علی الجوربین الّا ان یکونا مجلّد القدمین"

او الأستذکار کښ د امام ابوحنیفه مسلک نقل کړے دے "آلّا ان یکونا مجلّدین"

او شرح معانی الآثار صــ۷۲ باندِ دی: "لأنا لا نری بأسا بالمسح علی الجوربین إذا کانا صفیقین قد قال ذلك أبو یوسف ومحمد وأما أبو حنیفة رحمه الله تعالی فإنه کان لا یری ذلك حتی یکونا صفیقین ویکونا مجلدین فیکونان کالخفین"

او بدائع صنائع کښ ۱ــ۱۰ باندِ دی چه مجلّدین، منعلین وی صحیح ده مسح اوکه داسے نرمے وی چه اوبه چوړی مسح جائز نه ده "وروی عن ابی حنیفة انّه رجع" دَ مجهول دَ ضعف په صیغه ئے د رجوع قول ذکر کړے دے

شرح السنّة ۱ــ۳۱۲ باندِ دی "فأجازه جماعة اذا کانا ثخینین" او دا د سفیان ثوری، ابن المبارک او د امام شافعی مسلک دے او امام مالک، امام اوزاعی رحمة الله علیهم اجمعین فرمائی که لاندِ باندِ څرمن وی بیا هم مسح په جوربین ناجائز ده

ابن قدامه رحمة الله علیه مغنی ۱ــ۴۲۶ باندِ د امام احمد رحمة الله علیه مسلک له دوه شرطه نقل کړې دی

(۱)"ان یکون صفیقًا" چه پیړې او داسې غټې وی چه قدم نه ښکاری

(۲) پې در پې پکښې تلل کیدې شی"

د جورب تعریف

فتاوی الشیخ ابن جبرین ۱ــ۱۱ باندِ داسې تعریف کوی " أما الجورب، فهو في الأصل ما ینسج من الصوف الغلیظ ویفصل علی قدر القدم إلی الساق، ویثبت بنفسه ولا ینعطف ولا ینکسر لمتانته وغلظه، فهو إذا لبس وقف علی الساق ولم ینکسر. والعادة أنه لا یخرقه الماء لقوة نسجه، ویشبه بیوت الشعر التي تنصب للسکنی ولا یخرقها المطر، فکذلك الجوارب في ذلك الوقت" یعنی دا په اصل کښې د مضبوطې وړئ نه جوړې وی او په قدم تر پنډئ پخپله مستقل تینګیږی ځاځکې تر نه راځی او د ډیر پیړوالی او سخت والی دَ وجې نه ماتیږی چه کله ئې واچوی پخپله خپه باند اوډریږی او نه ماتیږی او عادت داسې دې چه اوبه ئې نه شی ځیرې کوې او د ډیر مضبوط والی دَ وجې د سفر کور یعنی هغه تامبوانو سره مشابهت لری چه سفر کښې اودرولې شی او د باران اوبه ئې نه شی ځیرې کولې په دُغه وخت کښې دغسې جرابې وې" انتهی سورة النحل کښې ترې داسې تعبیر دې" "وبیوتًا تستخفونها یوم ظعنکم" گلستان کښې بابا سعدی فرمائیلې دی

منعم به کوه ودشت بیابان غریب نیست
ہر جا کہ رود خیمہ زند' بارگاہ ساخت

عون المعبود صــ۱۳۷ باند عظیم آبادی صاحب لیکلې دی "ومن المعلوم انّ هذه الرخصة بهذه العموم لا تثبت الا بعد ان یثبت عن النبی اذا کانا من صوف ولم یثبت هذا قط" چه داسې عموم سره به رخصت هله ثابتیږی چه دا ثابته شی چه نبی دَ وړئ په موزو مسح کړې ده او دا چرته هم نه ده ثابته" نو په غیرمجلّد جورب باندِ به مسح څنګه جائز شی نو "انّ المسح متیقن علی الجوربین المنعلین لاغیرهما" چه څمره ورته لګیدلې په دې مسح جائز ده په نورو نه ده جائز او دغسې شرطونه مولانا نذیرحسین دهلوی مولانا ثناءالله ،او علامه مبارکپوری غیرمقلّدینو لکولې دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي رحمة الله عليه شرط لګوی "النتف فی الفتاوی ۱ـــ۱۹ المتوفی ٤٦١ ه "واَمّا المسح علی الجوربین فلا یجوز عند الشافعی ان لا یکونا مجلّدین" که مجلّدین نه وی نو بیا مسح د امام شافعی رحمة الله علیه مسلک کښ ناجائز دی او الأستذکار کښ امام ابوحنیفة او امام شافعی رحمة الله علیهما دواړه دغه قید سره ذکر کوی او د تحقیق المسح علی الجوربین صـــ۱۳ بانډ قاسمی لیکلے دی معنی الخف اعم من ان یکون من الجلد وحده وانه یشتمل کل ما یستر القدم ویمنع وصول الماء الیها اذ انّ الخفاف کانت فی الأغلب من الجلد" چه خف عام دے که څرمن وی یا نه وی او حد ئے دا دے چه قدم پټوی او د اوبو د رسیدلو نه مانع وی ځکه اکثر به موزے دغه قسم د څرمنے نه وے" دوی هم قید اولګولو

مولانا زبیرعلی زئ مقالات ۲ـــ۱۲۷ بانډ لیکلے دی "اہل حدیث کے نزدیک دو (۲) شرطوں کے ساتھ جرابوں پر مسح جائز ہے (۱) ټخینړ چه جرابے غټے وی (ددے په نوعیت مخکښ بحث شوے دے امدادؔ) (۲) لایشفیان چه په دے جرابو کښ خپه په نظر نه راځی بیا لیکی یہ شرائط قرآن و حدیث میں نہیں ہے (حدیث صحیح مرفوع متصل کښ چرته د مسح دَ جورب ذکر نشته امدادؔ) بلکہ بعض سلفِ صالحین سے ثابت ہے اور ہم قرآن و سنّت کو سلفِ صالحین کے فہم ہی سے سمجھتے ہیں

حاصل هغه تدقیق دے چه علامه بنوری معارف السنن کښ کړے دے که محدّثانه طریقه اخلے نو یو صحیح صریح حدیث نشته او که د فقهاؤ طرز خپلول غواړے نو هغوی شرائط لګولے دی د هغے لحاظ اوکړه

بحث د رجوع د امام ابو حنیفه

الحق الصریح:۲: ٦١٥ کښ دی سنن ترمذی نسخه د احمد شاکر کښ او نسخه د البانی کښ هم دی ۱ـــ۳۱ "سمعت ابا مقاتل السمرقندی یقول دخلت علی ابی حنیفة مرضه الذی مات فیه فدعا بماء فتوضّأ وعلیه جوربان فمسح علیها الخ"

او د بدائع صنائع عبارت کښ دی "رُوِيَ عن أبي حَنِيفَةَ أَنَّهُ رَجَعَ إلَى قَوْلِهِمَا في آخِرِ عُمُرِهِ" مولوی صاحب لیکی وفی البدائع الصنائع ۱ـــ۲ "فَعَلْتُ ما كُنْت أَمْنَعُ منعت عنه" لیکن د بدائع عبارت کښ دی "فَعَلْتُ ما كُنْت أَمْنَعُ الناس عنه فَاسْتَدَلُّوا بِهِ علی رُجُوعِهِ" الخ صـــ۱۰

د رجوع حقیقت

الحق الصریح کښ دَ علامه البانی او علامه احمد شاکر په تقلید کښ د سنن ترمذی د محقق نسخه سند داسې دے "قال ابوعیسی سمعت صالح بن محمد الترمذی قال سمعت ابا مقاتل السمرقندی یقول دخلت علی ابی حنیفةالخ"

د صالح بن محمد تضعیف

امام ذهبی تاریخ الاسلام ٦ـــ٢٤٨ بانډې د ابن حبان قول نقل کوی چه "كان جَهْمِيًّا داعيةً يبيعُ الْخَمْرَ وَيُبِيحُ شُرْبَهُ، رشا لَهم حتى ولّوه القضاء بترمذ، فكان يؤذي من يقول: الإيمان قولٌ وعملٌ. حتّى أنّه أخذ مُحدِّثًا صالِحًا، فجعل في عُنقه حبلًا، وطوف به. وكان الْحُمَيْدِيّ بِمكّة يقنت عليه. وكان إسحاق بْن رَاهَوَيْه إذا ذكره بَكَى من تجرُّئه على الله. (هكذا المجروحين لابو حاتم البستي :١: ٣٧٠)" ده د شراب د څکلو د اباحت قول کړے دے او د شرابو د خرڅ داعی وو هغه چا له به ئے تکلیف ورکولو چه چا به وئیل "الایمان قول و عمل" او مکه کښ امام حمیدی ورته غصه وو او اسحاق بن راهویه چه به کله دده ذکر کولو اوبه ئے جړل چه په الله ئے ډیره غټه زړه ورتیا کړے ده

(٢) سیر اعلام ٨ـــ٣٥٦ نمبر ١٩٥٥ بانډ دده ترجمه ده ، دغه محکنی ریمارکس ئے ورکړے دی "فَمِنْ أَقْرَانِهِ، وَلِيَ قَضَاءَ تِرْمِذَ. قَالَ ابْنُ حِبَّانَ: كَانَ جَهْمِيّاً يَبِيْعُ الخَمْرَ.
كَانَ ابْنُ رَاهَوَيْه يَبْكِي مِنْ تَجَرُّئِهِ عَلَى اللهِ."

(٣) لسان المیزان کښ ابن حجر ٣ـــ٢٠٦ ترجمه نمبر ٤٢٢٩ بانډ دی چه "متهم ساقط. فمن بلاياه قال: حدثنا مقاتل بن الفضل عن مجاهد، عَنِ ابن عباس رضي الله عنهما بحديث متنه: من أكل الطين حشى الله بطنه نارا.

قال ابن حبان في تاريخ الثقات: صالح بن عبد الله الترمذي صاحب سنة وفضل ليس بصالح بن محمد الترمذي ذاك مرجيء دجال من الدجاجلة.

وقال ابن حبان في الضعفاء: لا يحل كتب حديثه كان مرجئا جهميا داعية يبيع الخمر ويبيح شربه. رشاهم فولوه قضاء ترمذ فكان يؤدب ممن يقول الإيمان قول وعمل حتى إنه أخذ رجلا من الصالحين من أصحاب الحديث فجعل الحبل في عنقه وطوف به.

Maktaba Tul Ishaat.com

وكان الحميدي يقنت ويدعو عليه بمكة، وإذا ذكره إسحاق بن راهويه بكى من تجرئه على الله.
وقال السليماني: هو منكر الحديث يقول بخلق القرآن.
"متهم او غورځيدلے راوی دے "فمن بلاياه قال حدّثنا مقاتل بن الفضل عن مجاهد" ده ته ئے دجال من الدّجاجله وئيلے دے" او ابن حبّان په ضعفاء كښې ليكلے دی چه دده حديث ليكل صحيح نه دی دے مرجئ، جهمی او د شرابو دَ خرڅ شوقين وؤ، (هكذا المجروحين لابن حبان: ١: ٣٦٠)
(٤) ميزان الاعتدال كښې امام ذهبی ٣ــ٤١٢ ترجمه (٣٨٣٠) باند ليكلے دی "قال ابن حبان فی تاريخ الثقات صالح بن عبدالله الترمذی صاحب سنة او فضيلت وؤ ليكن مرجئ او دجال وؤ او دده حديث ليكل ناروا دی" او بعض ئے د وضّاعين په فهرست كښې داخلوی، واهی دے، ابن مهدی وائی دے دروغ وائی،
(٥): ديوان الضعفاء: ١: ١٩٢ رقم الترجمه: ١٩٣٢ "صالح بن محمد الترمذي: قال ابن حبان: لا يحل كتب حديثه."هكذا في الموضوعات لابن جوزي: ٣: ٣٤، المغني في الضعفاء للذهبي :١: ٢٩٩، الضعفاء والمتروكين لابن جوزي: ٢: ٤٩ رقم:١٦٦٩)
(٦):تنزيه الشريعة المرفوعه عن الاحاديث الشنيعة المرفوعة: ١: ٧٠ رقم الترجمه:٨)
(٧): الفوائد المجموعه للشوكاني: ١: ٢٥٠: "صالح بن محمد الترمذي، دجال"
(٨): الكشف الحثيث عمن رمي بوضع الحديث: ١: ٥٢ "صالح بن محمد الترمذي متهم ساقط فمن بلاياه فذكر الذهبي حديثا متنه من أكل الطين حشي الله بطنه نارا فقوله فمن بلاياه كناية عن الوضع مع قوله متهم ساقط"
(٩): تحفة اللبيب بمن تكلم فيهم الحافظ ابن حجر من الرواة في غير التقريب:٢: ٣٢٤ رقم الترجمه: ٥٦١ "صالح بن محمد الترمذي: "مثل السدي أو أشد ضعفًا"
(١٠):لسان الميزان ٢ــ٢٦٨ باندِ هغه واقعه نقل كړے ده چه قتيبه بن سعيد فرمائی ما د ابو حنيفه خوا كښې نمونځ كولو ما به مانځه كښې رفع اليدين كول چه سلام ئے اوجارباسلو اوئے فرمائيل اے ابومقاتل شائد ته هم هغه ببوزو والا كښې ئے، ابواسحاق الجوزجانی وائی ماته دا بيان شوے دے چه ده به خبرے له كوره يو خائسته رنګ وركولو او خبره به ده خائسته جوړه كړه، وكيع وائی دروغژن دے او دارقطنی هم فرمائی چه واهی دے،

الحق الصریح کښې دی "دارنګه مقصد او علّت دَ مسح د جورابو په شریعت کښې آسانی پیدا کول دی په امت باند او که موږ دا قیدونه د ثخانت او تجلید او تنعیل اولګوو نو په دے کښې به په امت باند حرج جوړیږی چه دا د مسح د مقصود نه خلاف دے دا وجه ده چه علامه شیخ الاسلام ابن تیمیه په مجموع الفتاوی ۲۱ـــ۲۱۳ کښې فرمائی څرمن ضروري ګڼړل دا علت مؤثره نه دے" انتهی

د آسانتیا وضاحت

چه صرف د یو حدیث صریح صحیح نه دغهٔ موقف ثابت شی ورستو په قیدونو رد کوه، دلته دے مسئله کښې دَ ویخه حدیث صحیح صریح نشته

فتاوی دین خالص ۳ـــ۵۳۸ باند لیکلے دی چه د ابن تیمیه نه د هغه سړی باره کښې تپوس اوشو چه د ورور ښځې او د تره او د ماسی لوڼړو باند ځی راځی دا ورله حلال دی یا نه دی جواب کښې فرمائی چه خلوت به نه کوی او که خلوت نه وی دا جائز دی بیا صـــ۵۳۹ باند لیکی "ومن الأدلة علی جواز ذالک اضطرار اکثر الناس الی هذا فأن الناس الأخوة منهم یساکن بعضهم بعضا وتغطیة الوجه والکفین عند ذالک متعسر والشریعة المطهرة علی الیسر والسهولة وعلی قوله فمن اضطر الخ هذا قول المحقیقن من العلماء" فتاوی خالص ۳ـــ۵۳۹

آخر کښې دا مجتهد په خپل زعم کښې ترجیح داسے ورکوی "والراجح عندی والله اعلم ان لا تنکشف الوجه فی الأسواق فأنه لاضرورة بخلاف الأقارب فتدبر ولاتعجل فأنّها من المسائل المهمة ۳ـــ۵۳۹

دے عبارت کښې د ځانه جوړ شوے، ضرورت، اضطرار او د حرج اصطلاحات ئے د خپل دعوی دپاره د دلائلو صریحو په ذیل کښې راوړے دی" دلته دے یُسر او سهولة مخترعه له اعتبار نشته" قرآن کښې دی "یُرید الله بکم الیسر" او حدیث کښې دی "انّ الدین یسرٌ" د هغے آسانتیا او د سهولت په بناء د "اَلْحَمْو الموت" اہل، صفا او محکم حکم دَ پیغمبرٔ دے" دا څنګه پریخودے شي،

دلته د جرابو مسئله کښې د حدیث صریح صحیح نه کنګال دے او بیا لیکی په شریعت کښې آسانی پیدا کول دی په امت باندے" داسے جعلی آسانتیا شیعه ګان د دوی نه خه راولی چه په بربنده خپه مسح کښې روایات دی امت حرج کښې مه اخته کوئ، په شریعت کښې آسانتیا ده خو چه دَ شریعت نه اول ثابت شي،

او چه نوم د علامه ابن تیمیه اخلی نو هغه هم دومره سهولت نه ورکوی

Maktaba Tul Ishaat.com

مجموع فتاوی ۱۱ــــ۱۲۳ په حواله مخکښې تیر شو چه د "اذا کان یمشی فیهما" قید لګوی

(نوټ) د میډیا یو داسې چالاک محقق دے چه دوئمه درجه ئے هم نه ده وئیلے هغه وائی چه په جرابو کښې تر مردانه انسان تللے شی" شائد چه هغه د سوال ، پرَدے پجیرو کښې تلل یادوی د دین نه لوبے جوړے شوے دی

د الحق الصریح څلور أحادیث او د هغے حقیقت

څلورم حدیث ئے د سیدنا انس رضی الله عنه روایت ذکر کړے دے چه په هغے کښې تقریب تام نه دے لږ روستو به ان شاءالله راشی

اول دلیل

"بعث رسول الله صلى الله عليه و سلم سرية فأصابهم البرد فلما قدموا على النبي صلى الله عليه و سلم شكو اليه ما اصابهم فأمرهم النبى أن يمسحوا على العصائب و التساخين" مسند احمد ، ابوداؤد ، مستدرک لیکی چه نبی صلی الله علیه وسلّم ورته حکم ورکړو چه په پټکو او جرابو باند مسح کوئ،

بیا لیکي چه په دے روایت باندے اعتراض دے چه: دا منقطع دے په مابین د راشد بن سعد او ثوبان کښې کله دا خبر امام احمد کړیده چه راشد دَ ثوبان نه سماع نه ده کړے کما فی جامع التحصیل للعلائی

جواب نمبرا : امام بخاری په التاریخ الکبیر کښې فرمائی د راشد سماع دَ ثوبان نه ثابت ده نو امام بخاری رحمة الله علیه عارف دے په سماع باندے،

د اول جواب ، جواب الجواب

(۱): علامه ابن حجرؒ په "الدرايه في تخريج احاديث الهدايه: ۱:۱۳۳ باندے ددے حدیث باره کښې لیکي "الْحَادِي عشر عَن ثَوْبَان قَالَ بعث رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سَرِيَّة فَأَصَابَهُمْ الْبرد فَأمرهمْ أَن يمسحوا عَلَى العصائب والتساخين أخرجه أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَالْحَاكِم وَإِسْنَاده مُنْقَطع وَضَعفه الْبَيْهَقِيّ وَقَالَ البُخَارِيّ حَدِيث لَا يَصح"

(۲): علامه ابن حجر الدرایه فی تخریج آحادیث الهدایه کښې :۱: ۷۲ باندے دَ امام بخاري قول نقل کړے دے ، لیکي "عَن ثَوْبَان قَالَ بعث رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سَرِيَّة فَأَصَابَهُمْ الْبرد فَأمرهمْ أَن يمسحوا

عَلَى العصائب والتساخين أخرجه أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَالْحَاكِم وَإِسْنَاده مُنْقَطع وَضَعفه البيهقي وَقَالَ البُخَارِيّ حَدِيث لَا يَصح وَلَفظ أَحْمد أَن النَّبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم تَوَضَّأ وَمسح عَلَى خفيه وَعَلَى الْخمار والعمامة"

(۳): ابوداؤد دا روایت د "باب المسح علی الجوربین" د لاند نه دِ راوړے بلکه "باب المسح علی العمامة" د لاند ئے ذکر کړے دے"

(٤): محلیٰ ۲ـــ٦٦ باند دی "فان قیل فقد جاء أنه علیه السلام أمرهم یمسحوا علی العصائب والتساخین قلنا: هذا لا یصح من طریق الاسناد"

(٥): او نصب الرایه ۱ـــ۲۲۲ باند دی ومنها حدیث ثوبان اخرجه ابوداؤد عن راشد بن سعد عن ثوبان وقال علی شرط مسلم وفـــیـــه نـــظـــر دا مسلم نه دِ ذکر کړے صرف بخاری دا راوی ذکر کړے دے امام احمد رحمة الله علیه فرمائی چه راشد څکه د ثوبان نه اوریدل نه دی کړی چه هغه پخوانے وفات دے

(٦): او تحفة الأحوذی کښې دی "قلت هذا الحدیث لایصح للأستدلال فأنه منقطع فأن راشد من سعد لم یسمع من ثوبان"

(۷): او کتاب المراسیل صـــ۲۲ باندے د امام احمد رحمة الله علیه قول هم دے

(۸): او حافظ ابن حجر په تهذیب التهذیب کښې لیکلے دی چه ابو حاتم او حربی وائی چه د ثوبان نه ئے سماع ثابته نه ده او دَ امکان نه ئے بالفعل لقاء څکه نه ثابتیږی چه قطبی کښې دی "لأن الممکن لا یجب ان یکون واقعًا" نیل الاوطار کښې د انقطاع قول کړے دے

(۹): او دارقطنی او ابن حزم راشد بن سعد ته ضعیف وائی نو دے متکلم فیه راوی دے،

(۱۰): موسوعه اقوال الامام احمد:۲: ۳٦۹ "قال عبد الله بن أحمد : سمعته أبي يقول : راشد بن سعد , لم يسمع من ثوبان. وقال الأثرم : سمعت أبا عبد الله , يعني أحمد بن حنبل يقول : راشد بن سعد , لا بأس به. "الجرح والتعديل

وقال الخلال , عن أحمد : لا ينبغي أن يكون سمع من ثوبان. "تهذيب التذهيب"

(۱۱): میزان الاعتدال :۲: ۸۳ "قال الدارقطني حمصي منكر لم يسمع من ثوبان"

(۱۲): تحفه الحصیل في ذكر رواه المراسيل: "راشد بن سعد الحمصي قال احمد بن حنبل لم يسمع من ثوبان" (هكذا في تهذيب الكمال ، جامع التحصيل في احكام المراسيل : ۱: ۱۷٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

او دویم جواب د الحق الصريح

امام مسلم مقدمه کښې فرمائی چه په صحت د حدیث کښې معاصرت ضروری دے د ملاقات او سماع قید لګول صحیح نه دی او معاصرت شته نو امکان د لقاء شته راشد د معاویه رضی الله عنه جنګ صفین کښې ۳۲ ه شریک وو څوک وائی شریک نه وو او د ثوبان وفات په ٥٤ ه کښې شوے وو معلومه شوه چه حدیث مذکور متصل دے،

وضاحت

سلسلة الضعيفه کښې ۱۲ــ٦٣ باند دَ ٥٥٤٢ نمبر د لاند روایت دے الا يقطع صلوة المسلم شيئ دا روایت د راشد بن سعد عن عائشه دے او البانی صاحب لیکلے دی چه دا اسناد ضعیف څکه دے چه د راشد سماع دَ عائشے رضی الله عنها نه ثابت نه دے دَ ثوبان وفات ٥٤ ه کښې دے او د راشد وفات ۱۰۸ یا ۱۱۳ هجری کښې دے چه کله د راشد عمر زیات دے او سماع د راشد نه ده ثابته دلته به څنګه ثابته شي" وهذا غير معروف عنه والاصل عدمه؛

او د ابودرداء وفات ۳۵ ه کښې دے او صفین ۳٦ هجرئ کښې دے فهو لم يسمع منه جزمًا" دغه قول راجح دے چه د راشد بن سعد ثوبان سره معاصرت او سماع نه ده ثابته، تلخيص الحبير :۱:۲۸۱ باندے دي "قَالَ أَبُو عُبَيْدٍ : الْعَصَائِبُ الْعَمَائِمُ ، أَخْرَجَهُ أَبُو دَاوُد مِنْ طَرِيقِ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ ، عَنْ ثَوْبَانَ ، وَهُوَ مُنْقَطِعٌ"

او ددے کتاب په تحقيق وتعليق کښې دي : قلت وفيه انقطاع بين راشدبن سعد وثوبان قال العلائي في جامع التحصيل:٧٤ قال احمدبن حنبل لم يسمع من ثوبان" او دَا ثوبان بن يزيد دَ تقدير نه منكر او بدعتي دے، (تهذيب)

او راشد بن سعد دَ ابن حزم په نزد ضعیف دے (میزان :۳:۳۵) ۔

د محقق د اعتراض جواب

تساخين صرف موزو ته وائی نه جورابو ته کما فی النهاية ولسان العرب جواب کښې وائی چه عون المعبود او بلوغ الأمانی کښې ابن رسلان فرمائی "اصل ذالک کل ما یسخن به القدم من خف او جورب او نحوهما" نو تساخين موزو او جرابو دواړو ته وائی عام دے"

الجواب بتوفیق الملک الوهاب

(۱): نصب الرایہ کښې صــ۲۲۳ باندې "والتساخین الخفاف"

(۲): محلّی ابن حزم ۲ــ۶۷ "هی الخفاف"

(۳): سیر اعلام النبلاء صــ۱۹۲ نمبر ۵۵۴ والتساخین الخفاف جمع لاواحد له من لفظه

(٤): مسند امام احمد کښې شعیب ارنووط د ابوعبید قول نقل کوی "التساخین الخفاف"

(۵): اصول سرخسی کښې ددې حدیث د لاندې "التساخین الخفاف"

مجموعة الفتاوی کښې ۱۱ــ۹۷ د "باب المسح علی الخفین" د لاندې دا روایت ذکر کړې دې "وهی الخفان" ئې وئیلې دی

(۶): بلوغ المرام کښې "باب المسح علی الخفین" د لاند "والتساخین الخفاف" موجود دې،

(۷): النهایة صــ۱۷۳ "باب التاء مع السّین" د لاند دې "امرهم ان یمسحوا علی (۹): العصائب والتساخین هی الخفاف" او صــ۵۷۰ باند دی "الخفاف لا واحد لها من لفظها" وقال صاحب المنتقی "التساخین الخفاف"

(۱۰): لسان العرب صــ۱۷۸۰ باند دی "التساخین الخفاف"

(۱۱): شرح ابوداود للعیني : ۱: ۳٤۵ "التساخین الخفاف"

(۱۲): شرح السنه للبغوي : ۱: ٤۵۰ "قال ابوعبید التساخین الخفاف"

(۱۳): غریب الحدیث لابن جوزي: ۱: ٤۶۹ " التساخین الخفاف"

(۱٤): غریب الحدیث لابن السلام: ۱: ۱۸۷ " التساخین الخفاف"

(۱۵): غریب الحدیث للحربي : ۳: ۱۰۳٤ " التساخین الواحد تسخان وهي الخفاف في اللغه"

(۱۶): قطعه من خطوط سنن الاثرم : ۱: ۳ علي العصائب والتساخین یعني الخفاف"

(۱۷): الفائق في غریب الحدیث :۲: ۲۶۶ " التساخین الخفاف"

(۱۹): مقرقاة الصعود الي سنن ابي داود :: ۱۳۸ " التساخین الخفاف"

(۲۰): جامع الاصول في احادیث الرسول : ۷: ۱۷۰ (شرح الغریب)"التساخین الخفاف لا واحدلها"

(۲۱): فتح الغفارالجامع لاحکام سنه نبینا المختار:۱: ۹۸ "التساخین الخفاف"

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲۲): الاحكام الوسطي للشيخ عبدالحق بن عبدالرحمن الاندلسي المعروف بابن الخراط المتوفي : ۵۸۱ "التساخين هي الخفاف"

(۱۳): مجموع الفتاوي: ۱: ۳۱۱ التساخين هي الخفاف"

(۱٤): غريب الحديث لابي عبيد: ۱: ۱۸۷ "التساخين الخفاف"

كتب اللغه

(۱۵): تهذيب اللغه : ۱: ٤٤٤ "قال ابوعبيد التساخين الخفاف"

(۱٦): العين للخليل بن احمد: ۱: ۳۳۹ "التساخين الخفاف"

(۱۷): كتاب العين للفراهيدي: ۲: ۲۰۳ "التساخين الخفاف"

(۱۸): المحيط في اللغه: ۱: ۱۵۲ التساخين الخفاف الواحد تسخان"

(۱۹): شمس العلوم ودواء كلام العرب من الكلوم:۵: ۳۰۲۲ "التساخين الخفاف"

(۲۰): اساس البلاغه:۱: ٤٤٤ "التساخين الخفاف"

(۲۱): مجمع بحار الانوار: ۱: ۲٦۲ "التساخين هي الخفاف"

(۲۲): التعريفات الفقهيه: ۱: ۵٦ "التساخين الخفاف"

(۲۳): الغريبين في القرآن والحديث للشيخ عبيد احمدبن محمد الهروي المتوفي:٤٠١ "التساخين الخفاف"

(۲٤): المعجم العربي لاسماء الملابس: ۱: ۲۲۹ "التساخين بفتح التاء والسين الخفاف"

(۲۵): مختار الصحاح:۱: ۱٤٤ "التساخين الخفاف"

حكمتي ، صراحةً حق بيانونكي او خالص دين والا وائی چه عون المعبود کښې دی "اصل ذالک کل ما يسخن به القدم" چه قدم گرموی (د نیلام جرابے خو نه گرموی امداد)

لیکن واضحه دِ وی چه عون المعبود کښې د باب المسح على العمامه د لاند دی "قال الجوهری هی الخفاف لا واحد لها من لفظها" او د مولانا صاحب دا قول ئې په "يقال" سره ذکر کړے دے" د ما وے، تا وے پخائے د جوهری دَ ملغلرے غوندِ قول نه اخلی ، واقعی د باغ خاوند همیشه یا کله کله چینجن ختکے خوری د ابن رسلان قول په "يقال" سره دے او خطابی دا تعبير په يقال او قال بعضهم سره ذکر کړے دے "کل ما يسخن به القدم" معالم السنن ۱ــ۵۲ او امام بغوی شرح السنة کښې قيل سره ذکر کړے دے ۱ــ۲۵٤ او عبدالرحمن مبارکپوری تحفة په ۱ــ۲۸۷ بائد لیکی "فَلَمَّا ثَبَتَ أَنَّ التَّسَاخِينَ عِنْدَ

أَهْلِ اللُّغَةِ وَالْغَرِيبِ هِيَ الْخِفَافُ فَالِاسْتِدْلَالُ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَلَى جَوَازِ الْمَسْحِ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ مُطْلَقًا ثَخِينَيْنِ كَانَا أَوْ رَقِيقَيْنِ" دا استدلال صحيح نه دے بلکه صــ۲۸٤ بانډ صفا ليکلے دی "والحاصل انّه ليس فى باب المسح على الجوربين حديث مرفوع صحيح خال عن الكلام هذا ما عندى" او مغنى صــ۱۸۵ "لم يرو فيه حديث اجمع على صحته وما ورد فيه فقط عرفت ما فيه من المقال" دغسے فتاوى نذيريه کښې شيخ الکل او فتاوى ثنائيه کښې هم دى د لغت عالمان خليل بن احمد ، ابوعبيد قاسم بن سلام ، يا محققين لکه ابن حجر ، امام احمد ابن الفارس ، ابن تيميه ، ابن قتيبه ، ابن دريد او امام نووى رحمهم الله د جمهورو معنى او قول او فتوى له ترجيح ورکوى او دا د لغت خلاف نه دى بلکه د لغت عالمانو لکه ابوعبيد او خليل وغيرهما په دے تصريح کړے ده او دغه الحق الصريح کښې دي" الدراية ۱ـــ۱۳۳ باند دى،

د الحق الصريح دويم دليل

ابوداؤد ، ترمذى ، ابن ماجه او سنن الکبرى کښې روايت دے چه امام ترمذى فرمائى دا حديث حسن صحيح دے "عن هزيل بن شرحبيل عن المغيرة بن شعبة قال انّ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم توضّأ ومسح على الجوربين والنعلين" په دے حديث کښې هم مسح د جوربين شوے ده ددے روايت ټول رجال ثقات دى کما فى فتاوى الدين الخالص په تهذيب السنن کښې علامه عبدالقادر فرمائى "سنده صحيح ورجاله ثقات و قد صححه ابن حزم وابن دقيق العيد وقد اعل الحديث جماعة من الحفاظ بما لا يقدح" فأنه حديث مستقل لا ينافى حديث المسح على الخفين ولايخالفه كما قد توهمه مَنْ ضعفه" او شيخ البانى فرمائى دا صحيح حديث دے هيڅ عيب پکښې نشته سنن الترمذى،

والجواب بفضل الملهم بالصواب

دَ دوي دَ صنيع مطابق الزاماً ورته وئيلے شي چه چه بخاري او مسلم دغه روايات نه دي راغستلے، آيا دا حديث صريح حق کيدے شى؟ ابن المدينى فرمائى "حديث المغيرة رواه عن المغيرة اهل المدينة واهل الكوفة واهل البصرة ورواه هزيل بن شرحبيل الّا انّه قال "مسح على الجوربين" وخالف الناس" السنن الکبري ۱ـــ۲۸٤

(۲) يحى بن معين فرمائى "الناس کلّهم يردونه على الخفين غير ابى قيس" (السنن الکبرى)

Maktaba Tul Ishaat.com

(٣) قال ابو محمد یحی بن منفر المتوفی ٣٥١ ھ رأیت مسلم بن الحجاج ضعف ھذا الخبر، وقال النسائی ما نعلم انّ احدا تابع ابا قیس علی ھذه الروایة والصحیح عن المغیرة ان النبی مسح علی الخفین"

(٤) وقال ابن المبارک عرضت ھذا الحدیث یعنی حدیث المغیرة من الروایة أبی قیس علی الثوری فقال لم یجیٔ به غیره (التمھید)

(٥) وقال المبارکفوری اکثر الأئمة من اھل السنّة حکموا علی ھذا الحدیث بأنّه ضعیف (تحفة الأحوذی١ـــ٣٢١)

(٦) قال ابوداؤد وکان عبدالرحمن بن مھدی لایحدث بھذا الحدیث" او وئیلے دی چه دا نه متصل دے او نه قوی دے

(٧) عون المعبود کښې عظیم آبادی فرمائی (ولیس بمتصل) لأن الضحاک بن عبدالرحمن لم یثبت سماعه وعیسی بن سنان ضعیف لایحتج به

(٨) اعلاء السنن صـــ٣٦٧ باند دی "قلت وغسل الرجلین قطعی" چه د خپو وینځل قطعی دی او دَ خفین مسح په تواتر ثابت ده نو د جرابو مسح تر ھغې وخته ددے بدل نه شی جوړیدے چه دا جراب د موزے غوند نه شی

(٩) تحفة الاشراف ٨ـــ٤٩٣ باند ١١٥٣٤ نمبر روایت دے حدیث المسح علی الجوربین دا منعلین فی الطھارة الکبری عن اسحق بن ابراھیم عن وکیع به وقال لانعلم انّ احدا تابع اباقیس علی ھذه الروایة والصحیح مسح علی الخفین ذکره المزی فی "اللحق" ....او په صـــ٤٩٤ باند دی حسن صحیح وقال لا نعلم احدا تابع اباقیس علی ھذه الروایة والصحیح عن المغیرة ان النبی صلّی الله علیه وسلّم مسح علی الخفین، والله اعلم

(١٠): صیانة الانسان کښې بشیرالدین قنوجی صـــ١٠١ باند لیکلے دی "منھا حدیث ابی قیس عن ھزیل بن شرحبیل عن المغیرة بن شعبة قال توضأ النبی صلّی الله علیه وسلّم ومسح علی الجوربین والنعلین" رواه الترمذی فرمائی چه راوی عبدالرحمن بن شروان یا خو قیس الأوری دے سره ددے نه چه دده توثیق ابن معین وغیره کړے دے او دے د صحیح بخاری د رجالو نه دے او ثقه ددے حدیث په روایت کښې دے لیکن دا روایت شاذ دے (دا روایت په قول د صاحب صیانة الانسان غیر مقلّد ھم شاذ دے، سھسواني صاحب کوتلے خبره ښکه کړے ده چه معرفة علوم الحدیث :١١٩ تدریب الراوي :١: ١٩٣ باندے دي چه

شاذ داسے حدیث ته هم وائی چه پکښں ثقه راوي دَ ثقه راویانو مخالفت کوي داسے شاذ ضعیف او مردود وي) او ورستو ئے درے طریقے ذکر کړے دی وائی "ولیس فی روایة هؤلاء الثقات اثبات المسح علی الجوربین ومن اجل ذالک ضعّفه الائمة" ددے ثقه ثبات راویانو کښں چا هم مسح علی الجوربین نه ده ذکر کړے په دے وجه ائمه دا ضعیف ګنړی او صـ۱۱۳ باند د دے کتاب دی چه ابوبکر بیهقی دَ مغیرہ دا حدیث ذکر کړے دے او فرمائیلے دی چه دا منکر حدیث سفیان ثوری ، عبدالرحمن بن مهدی او احمد بن حنبلی ، یحی بن معین ، علی بن المدینی ، مسلم بن الحجاج ، ابوقیس الأودی چه نوم ئے عبدالرحمن بن مروان الأودی دے اګرچه بخاری تر دلیل نیولے دے لیکن امام احمد رحمة الله علیه فرمائی دده حدیث قابل احتجاج نه دے او د ابوحاتم الرازی نه چه تپوس شوے دے هغه وئیلے دی قوی نه دے او قلیل الحدیث دے او حافظ نه دے چه تپوس ترِ اوشو چه حدیث ئے څنګه دے اوئے وئیل صالح دے خو لین الحدیث دے مقدمه الموسوعة الحدیثیه ۳ـــ۱۹٤ باندِ دی چه د بیهقی روایت د مغیره رضی الله عنه حدیث منکر دے ، ثوری ، ابن مهدی ، احمد ، ابن معین ، ابن المدینی ورته ضعیف وائی او معروف د مغیره نه المسح علی الخفین ده او د حفاظو دده په تضعیف اتفاق کړے دے

د امام نووی صراحت

شرح مهذب ۱ــ۴۸۹ باند دی "والجواب من حدیث مغیرة من اوجه احدها انه ضعیف ضعفه الحفاظ وقد ضعفه البیهقی ونقل تضعیفه عن سفیان الخ"

د شیخ علامه بنوری صراحت

معارف السنن ۱ـــ٤۱۲ باند دی لنډه دا چه عقلی احتمالات داسے غونډے ځایونه نه سرے څربوی او نه دَ لوړے نه فائده ورکوی "هذا ما نسخ لی والله اعلم" او دا هم ده چه د مغیره دا روایت په شپیتو طریقو راغلے دے او بے ددے یو طریقے نه ددے حدیث الفاظ چه کله نشته نو زړه به په دے څنګه مطمئن شی الخ

د شاه انور تحقیق

فیض الباری کښں دَ "باب مسح الرجلین فی النعلین" د لاند ۱ـــ۲٦۹ باند دی والله "اعلم انّ المسح علی الجوربین لم یثبت عندی" چه د جرابو مسح ځما په نزد ثابته نه ده اګر چه د فقهاؤ هغه شرائطو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

جائز ده ځکه امام ترمذی اګرچه دَ مغیره رضی الله عنه حدیث صحیح کړے دے په جرابو کښې لکته معلول عندی قطعًا لأنّ حدیث المغیرة واقعة واحدة دا قطعًا ښما په نزد ځکه معلول دے چه دَ مغیره حدیث یوه واقعه ده

او ص۔۳۰۳ باند شاه صاحب لیکلے دی "واعلم انه لا ذکر فی حدیث المغیرة للجوربین والنعلین اصلًا وهو وهم قطعًا فأنِ هذه الواقعة قد رویت فی سبعین طرقا ولا یذکر احد ان النبی مسح علی الجوربین والنعلین"

مسند احمد ۳۰۔۱۴۴ باند دی "هذا حدیث ضعّفه الائمة علته عندهم تفرد ابی قیس وهو عبدالرحمن بن ثروان" اګرچه ثقه دے ابن معین او دارقطنی دده توثیق کوی دغسے ابن نمیر، نسائی او عجلی هم توثیق کوی او "ثبت" اضافه هم کوی لیکن دارقطنی ۷۔۱۱۲ باند علل کښې لیکلے دی چه دا صرف ابوقیس روایت کوی لیکن په ده کښې چل دے ځکه چه محفوظ دَ مغیره نه مسح علی الخفین راغلے ده او عبدالله بن احمد د عقیلی دَ نقل مطابق فرمائی چه ما د پلار نه تپوس اوکړو اوئے فرمائیل چه ده د نورو راؤیانو نه اختلاف کړے دے"

دارقطنی ۷۔۱۱۲ باند صفا دی ولم یرو غیر ابی قیس او سنن الکبری ۱۔۲۳ حدیث نمبر ۱۲۹ د لاند دی "قال ابو عبدالرحمن ما نعلم احد تابع ابا قیس فی هذه الروایة"

د الحق الصریح عجیبه تصریح

علامه احمد شاکر په شرح د ترمذی کښې فرمائی چه د مغیره بن شعبه ډیر شاګردان دی بعض مسح علی الخفین نقل کوی او هغه جدا حدیث دے او بعض شاګردان لکه هزیل بن شرحبیل مسح علی الجوربین ذکر کوی او دا جدا حدیث دے یو د بل منافی نه دے مخالفت نشته او شذوذ هله راځی چه کله یو راوی نفی کولے او بل اثبات"

مولانا صاحب چه دَ احمد شاکر تقلید کښې څه اولیکل د هغے جواب دا دے چه دا بعید یو تکلف دوی کړے دے که چرته دا دوه واقعے وے دا به جم غفیر د مغیرة رضی الله عنه نه نقل کړے وُ لکه چه مسح علی الخفین ئے نقل کړے ده او د ابوقیس روایت کښې قوی جزم دا دے چه دا معلل دے او ابوقیس متفرد دے چه دا مرفوعًا په داسے احادیثو چه مسح علی الخفین کښې راغلے دی . نه د راغلے دا خو د ابوموسی ثوبان او دَ بلال په روایت کښې دی "وفی کل واحد منهما مقال" او د بلال روایت ځکه د سر نه

الحق الصریح کښې نشته دا د تنوع العبادات ډ قبیلے نه نه جوړیږی دلته د اسماعیلی واقعه چه کله عبدالرحمن بن مهدی ته بیان شوه نو حدیث ئے د ابوقیس په تفرد معلّل کړو که واقعه ثابته او قصه صحیحه وه دغسے تنقید به دوی په ابوقیس نه کولو شاه انور لیکلے دی لکه مخکښې تیر شو".و واقعة واحدة" او بله دا هم ده چه د مغیره رضی الله عنه نه روایت فضاله بن عمرو کوی چه ابن عمیر او ابن عبید ورته وئیلے کیږی ما څوک نه دے لیدلے چه توثیق ئے دده کړے دے لیکن ابن حبان دده تذکره ثقات کښې ۵ــ۲۹۶ باند کړے ده او بخاری تاریخ کبیر کښې او ابن ابی حاتم په جرح او تعدیل کښې دواړو دده جرح او تعدیل دواړه نه دی ذکر کړی د چا دغسے حال وی دَ مجهولین په شمار کښې راځی" ضوابط الجرح والتعدیل : ۱: ٦٦ "لا یُعتبر سکوت البخاري، وابن أبي حاتم عن توثیق الراوي وتضعیفه توثیقاً له ولا جرحاً فیه"

وضاحت

یواځے د ابن حبان توثیق له اعتبار نشته دا خبره په صیانة الانسان کښې په کرات مرات سره ذکر وه صــ۱۲٦ ، صــ۱۲۹ ، صــ۲۵۷ ، صــ۳۰۱ او فتاوی الدین الخالص کښې دی ۲ــ۳۰۲ "انّ ابن حبان یوثق المجاهیل" هغه د مجهولو توثیق کوی مقدمه الموسوعة الحدیثیه ۳ــ۱۲۷ باند دی "انّما وثقه ابن حبان علی طریقته فی توثیق المجاهیل وهو توثیق لا یعتدبه لتساهله فی التوثیق"

سلسلة الضعیفه ۱۲ــ۷۸۰ نمبر ۵۸۵۹ باند "بعث عیسی بن مریم فی قومه اربعین سنة" ضعیف اخرجه البخاری فی التاریخ الکبیر او د بخاری ولم یذکر فیه جرحا ولا تعدیلا وکذالک ترجمة ابن ابی حاتم فهو مجهول وان وثقه ابن حبان" او په دغه سلسله کښې په ۱۲ــ۲۱ نمبر (۵۵۱۵) باند د یو سند باره کښې لیکی وهذا اسناد ضعیف مظلم" ربیعه بن یورا بخاری په تاریخ کښې دے روایت سره ذکر کړے دے او جرح و تعدیل ئے نه دے ذکر کړے "فهو من عداد المجهولین" جرح به ئے نه وی کړے او مجهول ضعیف ورته وائی او ۸ــ۱۱۸ باند البانی صاحب لیکلے دی څه وایم کثیر بن عمر دده توثیق ابن حبان فقط کړے دے ثقات کښې راوړلے دے،

(فائده) مولانا عبدالعزیز نورستانی بابائے سلفیت نیل المرام صــ۳۳۵ باند د سفر بحث کښې لیکلے دی "امام ابن قیم وائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه چرے دا نه دی ثابت چه په سفر کښې پوره

Maktaba Tul Ishaat.com

څلور رکعته نمونځ کړے وی ، امام ابن قیم وائی چه کوم حدیث چه سفر کښ د اتمام باره کښ راځی د هغه باره کښ امام ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمائی چه هغه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے دروغ دی او دَ عائشے رضی الله عنها خپل فعل نه د قصر او اتمام ثابت دے" دا د هغے رأی ده چه په بل ځا حجت نه ده وجه د علت دا ده چه پکښ علاء بن زهیر اګر چه ثقه دے مګر دده تفرد په مقابله د نورو ثقاتو کښ صحیح نه دے نو آیا دلته به د ابوقیس تفرد په جوربینو کښ اګرچه ثقه دے د شپیتو روایاتو مقابله کښ صحیح شی ، "یا للعجب ولضیعة الأدب" او دے مسئله کښ بابائے سلفیت د نیل المرام صـــ۸۳ باند لیکلے دی حقه خبره دا ده چه په پټکی او په جرابو مسح جائز ده (اګر چه صحیح صریح حدیث یو هم نشته) بغیر د شرط او د قید نه الحق الصریح کښ دی "شیخ البانی فرمائی دا علت قادحه نه دے ځکه چه دا زیادت د ثقه دے او زیادت د ثقه مقبول دے او دا جدا واقعه ده

د البانی صاحب د دلیل حالت

چه په کوم روایت باق ټول راویان اتفاق لری هغے ته معروف وائی او شاذ روایت د معروف مقابله کښ متروک وی او ضعیف وی ، شرح ابن ماجه لمغلطائي:۱ـــ۶۶۲ باند دی "قال عبد الله بن مبارك عرضت هذا الحديث يعنى حديث المغيرةُ من رواية ابى قيس على الثورى لم يجئ به غيره عسى ان يكون وهما" او صـــ۶۶۲ باند ورته منکر وئیلے دی او علامه ابن قیم رحمة الله علیه لیکلے دی "لا نعتمد على حديث ابى قيس ، تهذيب سنن ابى داؤد"

د ترمذی دَ حسن صحیح وئیلو وجه

دوی روایاتو ته کتلے دی چه راویان عادل ضابط ثقه او دَ سند اتصال دی لیکن چه کله متن کښ د شذوذ یا ضعیف علت خفیفه وی نو که سند صحیح هم وی دغه حدیث د متن په اعتبار سره ضعیف وی قوی دلیل نه شماریږی ، او دا مسلمه قاعده ده "لا يلزم من كون الرجال السند ثقات صحة الحديث"

مبارکپوري لیکي "وَقَدْ تَقَرَّرَ أَنَّهُ لَا يَلْزَمُ مِنْ كَوْنِ رِجَالِ السَّنَدِ ثِقَاتٍ صِحَّةُ الْحَدِيثِ" او جلد:۲: ۹۳ باندے لیکي : "أن صحة السند لا تستلزم صحة المتن"(هكذا في بذل الاحسان بتقريب سنن النسائي : ۲: ۴۲، المطالب العاليه: ۸: ۳۳۷)

تفسیر حکمة القرآن کښې دَ قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ آیت وضاحت کښې صـــ٦٢٦ باند دی صحت د سند مستلزم نه دے صحت د متن لره

امام ترمذی ورته حسن صحیح وائی علامه البانی ورته نه وائی د هغے یو څو نمونے

ارواء ٦ـــ٢١٠ حدیث نمبر ١٨٠٦ امام ترمذی وائی حسن صحیح او البانی وائی ضعیف" ارواء ٥ـــ٣٠٨ باند ١٤٨٩ نمبر باند دی قلت وهذا الحدیث مع اخراج البخاری، لیکن زړه نه مطمئن کیږی چه صحیح ورته اوائی او نسائی فی الضعفاء والمتروکین کښې یحیي بن مسلم ذکر کړے دے" او لیکلے دی صـــ٢١٢ نمبر ٧٦١ قول عبدالله بن عباس (رضی الله عنه) لعن الله زوارات القبور" ترمذی ئے تحسین کوی البانی وائی ترمذی "من المتساهلین فی التوثیق والتضعیف" او صـــ٢٩٦ باند د ابن عباس حدیث ته ترمذی حسن صحیح وائی او البانی د دغے راوی باره کښې لیکی ضعیف لسوء حفظه"

د البانی دے ته زیادت دَ ثقه وئیل صحیح نه دی دغسے خبره د تحقیق المسح علی الجوربین په مقدمه کښې صـــ١٠ باند ده، او دواړه وائی چه شاذ وئیل صحیح نه دی

واضحه د وی چه کله ټول ثقات وغیرهم دا د جوربین سره نه نقل کوی دا زیادت منکر دے تحفة الأحوذی صـــ٣٦٤ باند دی "فَإِذَا عَرَفْتَ هَذَا كُلَّهُ ظَهَرَ لَكَ أَنَّ أَكْثَرَ الْأَئِمَّةِ مِنْ أَهْلِ الْحَدِيثِ حَكَمُوا عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ بِأَنَّهُ ضَعِيفٌ مَعَ أَنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا غَافِلِينَ عَنْ مَسْأَلَةِ زِيَادَةِ الثِّقَةِ فَحُكْمُهُمْ عِنْدِي وَاللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ مُقَدَّمٌ عَلَى حُكْمِ التِّرْمِذِيِّ بِأَنَّهُ حَسَنٌ صَحِيحٌ" دے جهابزه محدثینو ته د زیادت د ثقه مسئله معلومه وه دَ هغے نه غافل نه دی په ترمذی دَ دغے ائمو قول مقدم دے

دریم دلیل

الحق الصریح کښې دی حدیث د ابو موسی الاشعری رضی الله عنه "عن ضحاک بن عبدالرحمن بن شورب عن ابی موسی الأشعری رضی الله عنه انّ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم توضّأ ومسح علی الجوربین والنعلین" اخرجه ابن ماجه ددے رواة ټول ثقات دی سیوا د عیسی بن سنان الحنفی الفلسیطی نه چه ده ته امام احمد او ابن معین ضعیف وئیلے دے ابن حجر ورته لین الحدیث وائی او ابن حبان ورته ثقه وائی نو ددے راوی ضعف محتمل دے علامه احمد شاکر لیکلے دی دا قسم ضعف احتمالی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

حديث حسن ته ډير نزدے دے که د امام بخاری په نزد ضعيف دے نو ضرور به ئے بيان کړے وو عيسى راوى ابن معين ثقه ګنړلے دے په روايت د يعقوب ابن ابى شيبه شيخ البانى صحيح ابن ماجه او صحيح ابى داؤد کښ ورته صحيح وئيلے دى"

د روايت مقام

تحفة الأحوذى کښ دى چه ابن معين ورته لين الحديث وائى او صـ٣٤٨ باند دى قلت و لضعف هذا الحديث علّة ثالثة وهى انَّ عيسى بن سنان مخلّط" عون المعبود کښ دى "لأنّ الضحاک بن عبدالرحمن لم يثبت سماعه عن ابى موسى وعيسى بن سنان ضعيف لايحتج به قاله البيهقى" او متصل هغه روايت وى چه سند کښ د راوى د غورځيدو به اول ، مينځ او آخر کښ سالم وى چه ټول په ټوله ئے رجال صحيح وى

سنن کبرى ١ـــ٤٢٨ باند دى "قال الضحاک بن عبدالرحمن لم يثبت سماعه من ابى موسى وعيسى بن سنان ضعيف لايحتج به" او عباس بن محمد وائى چه ما د يحيى بن معين نه اوريدلے دى چه عيسى بن سنان ضعيف دے ، او ابن حبان توثيق له اعتبار نشته لکه مخکښ بحث کښ ذکر شو"

د علامه البانى تصريح

سلسلة الضعيفة ١٢ـــ٣٧٩ ، حديث نمبر ٥٦٦٣ باند دى "قلت وهذا اسناد ضعيف علته ابو سنان واسمه عيسى بن سنان ، لين الحديث کما فى التقريب" مولانا صاحب د هغوى تقليد کښ د ابن حجر نه لين الحديث اوليکلو او الاسراء والمعراج ١ـــ١٠٦ باند علامه ليکى "قلت وهذا اسناد ضعيف" حقه دا ده چه د جمهور محدثينو په نزد د حفظ په جهت ضعيف راوى دے

مسند احمد ١ـــ٣٧٠ باند دى حديث نمبر ٢٦٢ شعيب الأرنوؤط وائى سند ځکه ضعيف دے چه ابو سنان عيسى بن سنان ضعيف دے

او ١ـــ٥١٥ ، نمبر ٥٧٥ ذ لاند ليکلے دى "وهذا اسناد ضعيف ، ابو سنان واسمه عيسى بن سنان" او مسند احمد ١٤ـــ٧٢ نمبر ٨٣٢٦ باند اسناد ضعيف شته" دغسے مسند احمد ٣ـــ٥٠١ باند ١٩٧٢٥ نمبر حديث د لاند ورته ضعيف وئيلے دے "ضعّفه احمد والنسائى والعقيلى" "واقعی ڈوبتے کو تنکے کا سہارا" او که بالفرض اتصال ثابت شى نو مبارکپورى وائى چه دا يو علت کافى دے چه ابو سنان پکښ دے،

او سیر اعلام ۲ـ ٤٤٦ باند دی چه د ابو موسی وفات ٤٤ ھ کښ او تهذیب التهذیب کښ دی چه د ضحاک وفات ۱۰۵ هجری کښ شوے دے معاصرت او سماع دواړه نشته او ابن حجر چه لین وئیلے نو هغه دا هم وئیلے دی "اطراف المسند لابن حجر ۷ـ ۹٤ چه د ضحاک سماع د ابو موسی نه نشته الجرح والتعدیل ٤ـ ٤٢٩ باند ۷۱٤٦ باند ترجمه کښ لیکلے دی چه د ضحاک روایت مرسل دے ، دغسے ۳۲ ، ٥٠١ حدیث ١٩٧٢٥ باند دی" او اتحاف المهرة ١ـ ٣٢ ، او الحراف المسند ۷ـ ۹٤ باند دی لم یسمع منه ومع ذالک حسنه الترمذی" او شعیب ارنوؤط هم د ارسال قول کوی حاشیه د ابن قیم سنن ابی داؤد کښ دی چه د ضحاک سماع د ابوموسی نه ثابته نه ده"

او قاضی شوکانی نیل الأوطار ١ـ ٢٢٨ باند د ابوداؤد قول ذکر کړے دے چه د ضحاک سماع د ابو موسی نه نه ده ثابته مولانا صاحب وائی چه بخاری سکوت کړے دے دا دلیل دے چه دا حدیث دده په نزد مقبول او صحیح دے ، دد‌ے بحث مخکښ تیر شو صرف د بخاری په سکوت مورچه نه سر کیږی

الدرایه کښ دی صـ ١٤٨ "وحدیث ابی موسی الذی اشار الیه" ابوداؤد اخرجه ابن ماجه وفی اسناده ضعف وانقطاع کما قال ابوداؤد او صـ ١٤٨ باند د ابن عباس نه نقل کوی "وتوضأ مرة المسح علی نعلیه" دد‌ے په سند کښ رواد بن الجراح ضعیف دے "وذکره من طریق زید الحباب لمتابعة وهی متابعة قویة لکنها شاذه لمخالفة الأثبات" او د بخاری حدیث کښ راځی چه خپے ئے وینځلے دی "وهما فی النعل"

دد‌ے عاجز دا درخواست دے چه د تعصب مذهبی او د جامد تقلید نه راوتل پکار دی په داسے اهمه مسئله کښ چه د اودس ذ فرائضو سره تعلق ساتی د خلقو د مونځونو د خرابولو ذریعه دِ څوک جوړ نشی چه په مروجه جرابو مسح کوی او امامتئ ته په خشوع خضوع مخکښ شی کم از کم لږ سوچ اوکړئ احتیاط خو خواه مخواه پکار دے ، او د النعلین وضاحت کښ مظاهرحق کښ دی عربو کښ به دغه وخت داسے څپلئ استعمالیدلے په هغے به تسمه لګیدلے وه د هغے د استعمال نه پس به د خپے بره حصّه ښکاره وه چه د هغے د وجے په موزو باند د مسح کولو وخت کښ څه رکاوټ نه وؤ الحق الصریح کښ دی (تنبیه) بعض مقلدینو په دے حدیث الباب کښ دا تاویل کړے دے چه دلته رسول الله صلی الله علیه وسلّم مسح کړے ده په جوربین منعلین باند څکه دواړه ذکر دی لیکن دا خبره ډیره خطا ده څکه په ټولو احادیثو کښ جوربین جدا ذکر کیږی او نعلین جدا ذکر کیږی واؤ عاطفه په مینځ کښ

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر دے په دے مقام کښ تقاضا د مغائرت کوی نو جوربین باند جدا مسح ده او نعالو باند جدا مسح ده

التنبیه فی التنبیه

د ایمان ابتدائی مباحثو کښ دی په الحق الصریح کښ دی چه عطف همیشه تقاضا دَ مغائرت نه کوی بلکه په عطف کښ اقسام دی

"همیشه" په دے عبارت کښ او ما نحن فیه کښ" په دے مقام" کښ عجیبه حکمت لری چه ځنګه ئے زړه غواړی هغه شان ئے جوړوی جمهورو چه کوم ځائے مغائرت له اخلی دوی ئے نه اخلی او چه هغوی قول په عدم مغائرت کوی نو دوی په مغائرت قول کوی

وحشت میں ہر اک نقشہ الٹا نظر آتا ہے
مجنوں نظر آتی ہے لیلیٰ نظر آتا ہے

مجمع الزوائد زوړ چهاپ ص۱۰۵ باند د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت دے "انّه کان یمسح علی الجوربین والنعلین" رواه الطبرانی فی الکبیر ورجاله موثقون دا د موقوف روایت خبره ده دے حدیث کښ ډیر علماء تاویل کوی لمعات التنقیح کښ دی "وامّا المسح علی النعلین فممنوع کذا فی سنن دارمی ۲۳۷۔" فتح الاله کښ دی "ای الملبوسین فوق الجوربین کما قاله الخطابی ونقل المزنی انه لایمسح علی الجوربین الا ان یکونا المجلدین القدمین فقال القاضی ابو الطیب لا یجوز المسح علی الجورب الا ان یکون ساتر المحل الفرض ویمکن متابعة المشی علیه وما نقله المزنی من قوله "الا ان یکونا مجلدین القدمین لیس بشرط وانما ذکره الشافعی لان الغالب ان الجورب لا یمکن متابعة المشی علیه الا اذا کان مجلد القدمین هذا کلام القاضی ابی طیب والصحیح بل الصواب ما ذکره القاضی ابو الطیب انفصال وجماعة من المحققین ولا یجوز المسح علی الجوزبین عن ابی حنیفة والشافعی الا ان یکونا المجلدین" التمهید ۷۔۳۴۳

مسح علی النعلین

دا کار د اودس د پاسه د اودس په صورت کښ دے لکه چه الدرایة ص۱۴۹ باند دی که روایت صحیح شی د ابن خزیمه نه دا جواب نقل دے ایا قصدا مسح په موزه وه او د پیزار تینګولو دپاره ئے لاند نه خپه

نیولے وه ددے نه تعبیر په مسح علی النعلین سره اوشو یا دلته واؤ عطف تفسیری دے ، جوربین ئے منعلین وے بیهقی کښ استاد ابوالولید نه دا نقل دی او د حذیث مقام د مخکښ بحث نه ښکاره شوے دے چه نه متصل دے او نه قوی معجم الأوسط ۲ــ۲٤ ۱۱۰۸ نمبر باند دی "تفرد بن عیسی بن سنان" الحق الصریح کښ دی چه صالح العثیمین په فتاوی ٤ــ١٦٨ کښ فرمائی مسح په نعل نه ده جائز بلکه دَ نعل ویستل په وخت د اوداسه کښ ضروری دی او قدم وینځل واجب دی ، امام بخاری هم باب تړلے دے "باب غسل الرجلین فی النعلین ولا یمسح علی النعلین" یا اشاره کوی چه په دے باره کښ أحادیث ضعیف دی دَ هغه په نزد (او د دوی نیز د امام بخاری نه جدا دے" امداد)

دوی د ابن خزیمه او قاسمی نه نقل کړے دے چه محمول په نفلی اوداسه دی او دَ امام زیلعی نه او د امام طحاوی نه دا جواب نقل کوی چه اصالة مسح په جرابو باند شوے ده او تبعًا مسح په نعلین شوے ده.دا خبره علامه ابن قیم ، علامه خطابی او امام قرطبی رحمة الله علیهم اجمعین کړے ده

فیصله

احتیاط په دے کښ دے چه په چپړو او څپلو باند مسح او نه کړے شی مګر کله چه د خفین یا جوربین پشان شی چه قدم پټوی او ویستلو کښ ئے حرج دے

(جواب) تحقیقات کښ صــ۷٤۷ نه تر صــ۷۵۰ اوو روایات ذکر دی او پنځه احادیث په فتاوی الدین الخالص کښ دی ، او محلّی کښ ۲ــ۵۰ احمد شاکر غیر مقلد لیکلے دی چه په دواړو قراءتونو عطف په "رؤس" دے "امّا علی اللفظ و امّا علی الموضع" او د معطوف ، معطوف علیه په مینځ کښ فصل او حائل مه راوله او بیا لیکی "قد قال ما یمسح علی الرجلین جماعة من السلف منهم علی بن ابی طالب وابن عباس والحسن وعکرمه والشعبی وجماعة غیرهم وهو قول الطبری ورویت فی ذالک اثار" او د رفاعه بن رافع روایت دے چه "ویمسح رأسه ورجلیه الی الکعبین" او علی رضی الله عنه نه ثابت دی "اری باطن القدمین احق بالمسح حتی رأیت رسول الله صلّی الله علیه وسلّم یمسح ظاهرهما" او محقق احمد شاکر ورته کوری او تماشا کوی هیڅ رد نه کوی او البانی ابن ماجه صحیح او نسائی صحیح کښ دا راوړی او .ارنوؤط ورستو جوابات ورکوی او دَ جمال الدین د رسالے تحقیق البانی صاحب کړے دے صــ٤٣ باند د

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوداؤد د اوس بن ابی اوفی الثقفی روایت نقل کړے دے "انّ النبی صلّی الله علیه وسلّم توضّأ ومسح علی خفیه ونعلیه"

او هغه کتاب چه تاسو په هغے تقریظ کړے دے او د هغے طرف ته د رجوع حوالے ورکوی او هغه کتاب کښې د تقلید د مسئلے دپاره د خراسانی صاحب ستاسو حواله ورکوی ، خراسانی لیکلے دی صــ٤٤٨ "قد صحّ عنه المسح علی النعلین استقلالًا دون ذکر الجوربین من حدیث علی بن ابی طالب و اوس و ابن عمر او اتمام المنة حواله ده فهذه الأحادیث تدل علی جواز النعلین ایضًا او صاحب التحقیقات د البانی صاحب نه روایات نقل کړے دی او بل طرف ته هدیة المهدی کښې صــ٦٨ باند دی علامه وحیدالزمان لیکلے دی "ولا یجوز الانکار علی امور مختلفة فیما بین العلماء کغسل الرجل ومسحه" خپله ئے که هدو نه کوی وائی چه انکار به په هغه چا نه کوے چه څوک خپے باند مسح کوی او بل کتاب "حدیث اور اہل تقلید" کښې دی "یجوز الانکار بالیسر والسهولة بأن یقرء الحدیث علی فاعلها ولا یعنف" چه په نرمئ به په ده رد کوے او سختی به نه کوے"

او جمال الدین قاسمی صــ٧٣ باند لیکی "واذا عرفت هذا فلا تجوز التردد فی قول هذه الرخصة بعد ثبوت الحدیث" چه حدیث ثابت دے تردد مه کوه او اتمام المنة کښې څوارلسمه قاعده بیان کړے ده صــ٤٠ "وجوب المحمل بالحدیث الصحیح وان لم یعمل به احدًا" څکه چه حدیث بنفسه ثابت وی دے ته نه دے محتاج چه بل څوک په هغے عمل کوی یا نه کوی ،

د صاحب الحق الصریح نه سوال دا دے چه تاسو اولیکل احتیاط په دے کښې دے چه په چپړو او څپلو دِ مسح نه کوی الخ اول دغه احتیاط تاسو ته د جرابو مسح کښې ولے نه دِ یاد چه په هغے کښې تاسو سره یو صحیح مرفوع متصل روایت نشته او په زوره او په راخکلو دا مسئله ثابتوے ، هلته به دِ د احتیاط نه کار اغستلے وؤ ،

دویم دا ده چه تاسو له کوم د تنوع العبادات چل درځی دلته هم بعض د هغے ذکر کوی ، ولے تاسو دا په تنوع العبادات نه حمل کوے او تاسو هم اولیکل چه بد ورته کتل نه دی پکار که چا اوکړه ، نو احتیاط خو په دغے ستاسو په نیز د صحیح احادیثو په عمل کښې دے،واقعي تعصب مسلکي سرے انصاف ته نه پریږدي،

الحق الصریح کښې دی "شیخ البانی مجتهد دے نو په خپل اجتهاد ئې عمل کړے دے" غرض دے چه تاسو خو هم د اجتهاد دعوی کړے ده بلکه خپل کتاب "د تقلید حکم او د مقلدینو اقسام" صـ۸۹ باندې مو لیکلی دی "زمونږ د اهل السنت والجماعت اهل حدیثو هر یو عالم مجتهد دے" عرض دا دے چه بیا د استاد او د نالائقه شاګرد چه بعض درے کرخې د عربئ عبارت د ګرائمر دَ قواعدو مطابق چه د هغې وجوهات ورته معلوم وی نه شي وئیلے نو دا خودل غواړی چه تاسو کښې صرف عامی خلق ستاسو مقلدین دی او مجتهد هر یو دے ځکه خو ستاسو که چرته د احنافو یو بل سره تحقیق خلاف شي هغې ته تعارض او تناقض وایئ او د ستاسو بے شماره تعارضات دا دِ تحقیقاتِ مختلفه ، متنوعه اوګرځی،

بهر حال خپله ترجیح الحق الصریح کښې داسے ذکر کوی چه زمونږ په نزد مسح په څپلو او چپړو غوره نه ده" دا هم غنیمت دے "اندھوں میں کانا راجہ" الله دِ ورله د پوره احتیاط کولو لکه دلته دِ کړے دے په جرابو کښې هم توفیق ورکړی خه ورته پته ده چه دے مسئله کښې سودم ته شین دے او بیا د تعصبَ وجے لیکی مقلدین بیا هم د صحابو خبره ارتوی او د خپل امامانو بلکه د متاخرینو خبره اخلی او بیا دعوی کوی چه مونږ د صحابو تعظیم کوو دا خبره داسے ده چه یو حدیث صحیح صریح نه لرئ او بیا هم د اهل الحدیث کیدلو دعوی کوے او د صحابو د خبرے دَ منلو حقیقت دنیا ته ستاسو واضح دے

څلورم دلیل د صاحب الحق الصریح

امام دولابی په الاسماء والکنی کښې فرمائی "حدثنا الارزق بن قیس قال رأیت انس بن مالک احدث فغسل وجهه ویدیه ومسح علی جوربین من صوف فقلت اتمسح علیهما ! فقال انّهما خفان ولکنّهما من صوف ای لحکمهما" یعنی انس رضی الله عنه په جرابو مسح کړے ده

بیا لیکی انس صحابی دے اهل لغت دے دَ جوهری او خلیل او زهري نه مقدم دے په لغت کښې (غلے غلے منی چه ددے دریوارو قول ځما خلاف دے امداد) او دوه کرته ئې لیکلے دی چه هر قسم جورابو باندے مسح کولو باره کښې د شپاړس (١٦) صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین نه عمل موجود دے

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت او تردید

ارزق بن قیس تابعی دے او تپوس کوی "اتمسح علیهما" ته په دے باند مسح کوے ده ته دا ناشنا ښکاره شو ځکه چه نور صحابه او تابعین ئے په دے عمل نه وؤ لیدلے نو هغوی ورله جواب ورکړو چه دا موزے دی لیکن د ورېځ دی نو د دواړو یو حکم شو"

دلته د انس رضی الله عنه جواب کښې دا نشته چه یحدث عن رسول الله صلی الله علیه وسلم یا هکذا کان یفعل رسول الله" وغیره لیکن امام بیهقی دا سند نقل کوی بیا پکښې داسے دی "رأیت أنس بن مالک دخل الخلاء وعلیه جوربان اسفلهما جلودًا واعلاهما خز مسح علیهما" د انس رضی الله عنه دے جرابو ته د لاند څرمن لګیدلے وه ، او مجلد یا منعل باند کلام نشته او د دوی نه ورستو د ائمه ثلاثه امام ابوحنیفه ، امام شافعی ، امام احمد او د صاحبینو رحمة الله علیهم په مسلک کښې په جوربینو مسح جائز ده "ان کانا مجلدین او منعلین او ثخینین" او بعض د امام مالک رحمة الله علیه مسلک دا نقل کوی "ان کانا مجلدین فقط" او دا د بیهقی روایت د راشد بن نجیح نه دے السنن للبیهقی "باب ما ورد فی الجوربین والنعلین" ١ـــ٤٤٨ نمبر ١٣٧٥ او تاریخ بغداد ٣ـــ٣٠٦ باند چه د انس رضی الله عنه کوم روایت دے "فیه موسی بن عبدالله الطویل قال ابن عباس روی عن انس اشیاء موضوعة"

اثر د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه

مصنف عبدالرزاق ١ـــ٢٠٠ "کان یمسح علی خفیه ویمسح علی جوربیه" دے کښې "من شعر" نشته دا د ابراهیم نخعی د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل کوی ابن مسعود رضی الله عنه ٣٢ ھ کښې وفات شوے دے او د ابراهیم نخعی ولادت ٥٠ ھ کښې شوے دے ابراهیم نخعی مدلس دے سماع ئے نشته او مولانا زبیر علی زئ نورالعینین صـــ٢١٦ باند لیکلے دی "وامّا المدلسون الذین هم ثقات وعدول فأنا لانحتج به" خو پورے چه سماع نه وی ثابت مونږ د هغے نه دلیل نه نیسو

او د جمال الدین قاسمی د کتاب مقدمه احمد شاکر لیکلے ده صـــ١٣ باند دی چه انس اوفرمائیل "انهما خفان ولکنهما من صوف فهو یبین انما معنی الخف اعم من ان یکون من الجلد ونحوه یستر القدم ویمنع وصول الماء الیها" دا ئے فرمائیلے دی چه د اوبو رسیدلو نه به مانع وی بازاری جرابے داسے نه وی

اثر د علی رضی الله عنه

مصنف ابن ابي شيبه کښې شته ،دَ ابوداود په تحقيق کښې علامه الباني :۱: ۲۷۸ باندے ليکلے دي "قلت واما اثر علي فوصله عبدالرزاق في مصنفه كما في نصب الرايه او بيا ئے دا روايت نقل کړے دے دَ کعب بن عبدالله ، نو لاندے ليکي "فقلب اسم كعب بن عبدالله فقال عبدالله بن كعب والصواب الاول ، وقد بحثت عن ترجمته كثيرا فلم اجد من ذكره،

تاريخ کبير،رقم الترجمه: ۹۶۳ "كعب بن عبد الله (العبدى يعد في الكوفيين سمع حذيفة قال أبو نعيم نا سفيان عن الزبرقان عن كعب بن عبد الله قال رايت عليا يمسح على جوربيه (ونعليه وقال أبو داود وكان شعبة لقول عبد الله بن كعب وهم فيه"

اثر دَ ابوامامه رضي الله عنه

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي غَالِبٍ، قَالَ: «رَأَيْتُ أَبَا أُمَامَةَ، يَمْسَحُ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ» (مصنف ابن ابي شيبه :۱: ۱۷۲ رقم الحديث: ۱۹۷۹)

په دے کښې ابو غالب زاوي دے صاحب دَ ابوامامه ، جرح تعديل کتابونو کښې په دَ باندے کلام دے، تهذيب الكمال :۸۲۹۸ کښې علامه مذي ليکي : أبو غالب البصرى ، و يقال : الأصبهانی صاحب أبي أمامة . اختلف فى اسمه ، فقيل : اسمه حزور و قيل : سعيد بن الحزور ، و قيل : نافع

ذكره محمد بن سعد فى الطبقة الثالثة من أهل البصرة ، و قال : منكر الحديث

و قال أبو حاتم : ليس بالقوى

و قال النسائي : ضعيف (هكذا في تاريخ للذهبي:۳: ۵۷۶، الضعفاء والمتروكين للنسائي:۱: ۱۱۵،

او علامه ابن حجر تهذيب التهذيب :۱۲: ۱۹۷ کښې ليکي : و قال ابن حبان : لا يجوز الاحتجاج به إلا فيما وافق الثقات .

و قال ابن سعد : كان ضعيفا

اثر دَ سهل بن سعد رضي الله

په دے روايت کښې هشام بن سعد دے په دَ باندے کلام دے

Maktaba Tul Ishaat.com

تهذيب الكمال کښې مذي ليکي : "و قال عباس الدورى عن يحي بن معين : هشام بن سعد ضعيف و قال معاوية بن صالح ، عن يحي بن معين : ليس بذاك القوى .

و قال أحمد بن سعد بن أبي مريم عن يحي بن معين : ليس بشيء ، كان يحي بن سعيد لا يحدث عنه و قال أبو حاتم : يكتب حديثه ، و لا يحتج به و قال النسائى : ضعيف الحديث و قال فى موضع آخر : ليس بالقوى

علامه ابن حجر ليکي : و قال ابن سعد : كان كثير الحديث يستضعف ، و كان متشيعا و ذكره يعقوب بن سفيان فى " الضعفاء(تهذيب التهذيب:١١:٤)

اثر د ابو مسعود رضى الله عنه

سفيان ثورى او اعمش دواړه تدليس کونکے دى دغسے ابراهيم نخعى هم تدليس کوى التحقيقات کتاب کښې صـــ٣٩٢ باند دى سفيان ثورى مدلس دے ليکن زيات نه دے ، معلومه شوه چه سفيان مدلس دے او صـــ٩٧ باند دى "المدلس اذا عنعن او عيناه لايجوز بالاتفاق" او صـــ١٠١ باند د التحقيقات دى "لا حجة فى قول احد دون الرسول ، او صـــ٣٧٤ باند دى لأن الحجة فى قول الرسول او فعله دون غيره" او مولانا زبيرعلي زئي دَ نور العينين :١٦٤ باندے ليکلے دي : چه ددے اثر سند کښې ابراهيم نخعي مدلس راوي دے ، دَ عدم رفع په اثبات کښې،

اثر د عمر رضى الله عنه .

مسح برقيقين او مصنف ابن ابى شيبه ١ـــ٢١٦ باند دى څلورم د حديث سند حدثنا وكيع عن ابى خباب عن ابيه عن جلاس بن عمرو انّ عمر توضا يوم الجمعة ومسح على جوربيه ونعليه

جواب

په تهذيب الكمال ٧٤٥١ نمبر باند دى "قال ابو موسى محمد بن المثنى ماسمعت يحى ولا عبدالرحمن يحدثان عن سفيان عن ابى خباب شيئًا قط" او على بن المدينى او يحي القطان به په ابو خباب او د هغه پلار کښې خبرے کولے

او امام طحاوى فرمائى يحى بن قطان به دے ضعيف کنړو او ابو حاتم وائى چه يحيى القطان به ابو خباب الكلبي ضعيف کنړلو او دا مدلس راوى عن سره روايت کوى ، امام احمد فرمائى "احاديثه احاديث

مناکیر" عجلی ورته ضعیف وائی او ابن ابی حاتم فرمائیلے دی نه ابو جناب الکلبی او نه یحیي البکاء کښ یو هم زما محبوب نه دے

او میزان الاعتدال ۷ــ۱۷۰ نمبر ۹۴۹۹ باند دی چه یحیي القطان وائی دده نه روایت کول حلال نه گنړم

او د جلاس بن عمرو باره کښ الکامل فی ضعفاء الرجال ۲ــ۴۴۲ باند دی قال البخاری جلاس بن عمرو عن ابن عمر روی عنه ابو جناب لایصح حدیثه

او الأنباری وائی "لایصح حدیثه"

او لسان المیزان کښ ۲ــ۱۶۴ ، ۲۱۰۹ عن ابن عمر وعنه ابوجناب ویقال جلاس بن محمد قال البخاری لایصح حدیثه

او عون المعبود صــ۱۳۸ باند دی ابوامامة ، سهل بن سعد او د عمرو بن حریث دریواړو دَ روایاتو په سند نه یم خبر او د ابن عباس او د سیدنا عمر په روایاتو هم خبردارے نه لرم

الحق الصریح کښ دی دا په منزله دَ اجماع امت ده شرح زاد المنتقع ۱۰ــ۱۴ باند دی "الجوارب الخفیفة هذه لم تکن موجودة علی عهد النبی صلی الله علیه وسلّم انما کانوا یلبسون الجوارب ، ویمشون بها ولذالک کانوا یلقون الخراق علی اقدامهم"

(جواب) الحق الصریح کښ د "لا یجمع امتی علی الضلالة" د لاند صــ۵۱۶ باند لیکلے دی د علمائے امت د اجماع دعوی څوک نه شی کولے ځکه څوک داسے نشته چه قول علمائے امت باند به گرځیدلے وی او التحقیقات صــ۱۹۳ باند دی د امام احمد نه په تواتر سره نقل دے "من ادّعی الإجماع فقد کذب"

بنده گنهکار د "الامداد الرجیح" په شرح کښ ددے حدیث دَ لاند ددے عباراتو وضاحت او غرض مقصد بیان کړے دے او په طلاق ثلاثو دَ صحابو اجماع ته سکوتی وائی او هغه رد کوی حالانکه هغه د صحابو مضبوطه اجماع په ورستنو یو څو کسانو نه شی ختمیدے او دلته یو روایت صحیح صریح نشته او اجماع غوند حالت ورله جوړوی او د صحابو په آثارو کښ په بعض کلام دے مولانا عبدالجبار غزنوی لیکی "جرابوں پر مسح کرنا حدیث صحیح سے ثابت نہیں ہاں اگر جرابیں اون اور سوت کی ایسی سخت ہو کہ سختی میں چمڑے کی برابری کریں پس وہ چمڑے کا حکم رکھتی ہیں اور ان پر مسح جائز ہے واللہ اعلم بالصواب (فتاوی علمائے حدیث ۱ــ۹۹)

آخر کښ درخواست دے چه په دوه سوه روپۍ موزے واخلئ او ژمي کښ دَ هغے استعمال کوئ چه خبره دَ شکه کم از کم اوځي ځکه څه حدیث صحیح مرفوع متصل خو یو هم نشته ،

Maktaba Tul Ishaat.com

نوټ:په دې مسئله خه موړ مفصل، مکمل او مدلل بحث زما کشر رور مولانا انوار الحق صاحب کړے دے

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

(٨): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بنِ شُعْبَةَ قَالَ: مَسَحَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ نسيت؟ قَالَ: بلِ أَنْت نسيت بِهَذَا أَمرنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ

ترجمه : د مغيرة رضی الله عنه نه روايت دے چه نبی صلّی الله عليه وسلّم په موزو مسح اوکړه ما تپوس اوکړو يا رسول الله صلّی الله عليه وسلّم ستاسو هير شو؟ (خپے مو او نه وينځلے) او ئے فرمائيل بلکه ستاسو هير شو په دے ماته خپل رب عزوجل حکم کړے دے

تشريح : نبی عليه السلام دَ ځان نه نسيان نفی نه کړو ځکه هيره په پيغمبر عليه الصلوة والسلام او نورو پيغمبرانو عليهم السلام راتلے شی اگر که دے خصوص مسئله کښ ورته هيره نه وه راغلے په شارع يعنی پيغمبر نسيان راتلے شی (لمعات)

او فتح الاله کښ علّامه هيثمی رحمة الله عليه ليکلے دی "فيه جواز النسيان علی الأنبياء وفعله فی غير ما امروا بتبليغه اما هٰذا نعم معصومون من النسيان عنه" د کوم کار د تبليغ حکم چه ورته کړے شوے دے په هغے کښ پرِ نسيان نه راځی او ځه مسح د شريعت دَ خودلو دپاره کوم تا ځما د شارع حيثيت ولے هير کړو ته حقيقت ته او نه رسيدلے ما ته دِ ځکه د نسيان نسبت اوکړو (دوئمه توجيه) د نسيان معنٰی دلته خطا ده او دا مشاکلةً خبره ده ځه خطا نه يم ته خطا شوے تا په دے واقعه کښ دَ هيرے نسبت ما ته کړے دے او جزمًا دهيرے نسبت ما ته کول د ادب نه خلاف دی ، ترکت الأدب چه ما ته وائے خپے دِ او نه وينځلے (دريمه توجيه) ما پوره په طهارت دا موزے اچولے دی تا هغه خبره هيره کړے ده الحق الصريح کښ دی چه علّامه البانی فرمائی چه د قاضی شوکانی نه دے حديث کښ وهم فاحش راغلے دے چه دے سند ته ئے صحيح وئيلے دے دا البانی صاحب په ضعيف ابوداؤد کښ راغستلے دے

(۹):وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَوْ كَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ على ظاهر خفيه رَوَاهُ أَبُو دَاوُد للدارمي مَعْنَاهُ

ترجمہ : د سیدنا علی رضی اللہ عنہ نه روایت دے فرمائیلے دی که چرته د دین دارومدار په رآی بانډِ وی خواه مخواه د موزے په لاندِ تل بانډِ مسح د برے طرف نه به غوره وه او یقینًا ما رسول اللہ صلّی اللہ علیه وسلّم لیدلے دے چه مسح ئے د موزو په بره طرف کوله

تشریح : په دے روایت کښې د باطن الخفین مراد دی یعنی هغه حصّه چه زمکے سره جخته لګی او د ابن همام خبره چه د باطن الخفین نه دننه حصّه چه جسم سره جخته ده هغه مراد ده نو ظاهر دا ده چه دَ موزو دَ ایستلو بغیر به د دننه حصّے مسح څنګه اوکړے شی؟ اګرچه فی نفسه د ابن الهمام رائے په باریکئ د نظر بناء ده او په یو لحاظ معقولی خبره ده ځکه چه د اودس او د مسح خفین نه مقصد د حدث ازاله ده نه د نجاست ازاله ، او د دورے وغیره او د حدث تعلق دَ بدن سره وی په دے وجه دَ موزو کومه حصّه چه د بدن سره لګیدلے ده هغه زیاته د مسح مستحق ده ، لیکن جمهور د باطن نه لاندِ حصّه اخلی چه زمکے سره لګیدلے ده ، دا بله که په دے حیثیت عقل ته نزدے ده لیکن په بل حیثیت لرے ده د حدث نه دِ څوک د قیاس په نفی دلیل ځکه نه نیسی چه هغوی خاوند د رآی صحیح رو دلته هغه رآی مراد ده چه داسے علت ورته نه وی چه منسوب سنّت ته وی ځکه چه د سنّت مقابل رآی مردود ده معلومه شوه چه څمونږ د شریعت ټول احکامات د عقل سلیم او فطرت سره بالکل صحیح مطابقت لری د دین هیڅ مسئله ما وراء العقل نه ده هاں د یو تن د عقل نه خلاف کیدے شی لیکن دا یقینی ده چه د شریعت د احکامو دارومدار په عقل بانډِ نه دے ددے وجے فقهاء او اصولی علماء ډیرو احکامو ته غیر مدرک بالرآی وائی چه هغے ته څمونږ د عقل پوره رسائی نه شی کیدے او احکام شریعه کښې عقلی اسرار ، رموز او حکمتونه شته چه عالمانو په هغے مستقل کتابونه لیکلے دی،

مرقات کښې ملّا علی قاری رحمة اللہ علیه او تفسیر کښې علامه آلوسی رحمة اللہ علیه لیکلے دی: چه امام ابوحنیفهؒ به فرمائیل : که چرته ما فیصله صرف د رائے په وجه دَ نصوصو په موجودګئ کښې کوله ما به وئیلی وو چه په منئ وتلو غسل نه لازمیږی ځکه دلته د ائمه اختلاف موجود دے او دَ ورو بولو

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو نه پس دِ ے غسل اوشی چه بالاتفاق پلیتے دی دوئمه دا ده چه ما به وئیلے وو چه د لور حصّه دِ د ځوی د حصّے نه زیاته وے ځکه سړے څه کار کسب کولے شی او زنانه کسب نشی کولے ، لیکن د للذّکر مثل حظّ الأنثیین د وجے د عقل و رأی نه خلاف د شریعت خودلے شوے مسئلے ته تسلیم یم او الموسوعة الحدیثیه ۱ــ۷ بانډ وکیع فرمائی چه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نه م اوریدلے دی البول فی المسجد احسن من بعض القیاس ،

یو څو نواقض المسح دَ بحث په آخر کښ

(۱) په کومو څیزونو چه اودس ماتیږی په هغے مسح ختمیږی،

(۲) چه موزے ته اوبه لاړے شی یا د حنفی مسلک مطابق د درے وړے ګوتو په مقدار شلیدلے وی نو مسح ماتیږی،

(۳) که یوه موزه یا ددے اکثره حصّه دَ خپے نه اوتله او خپه ښکاره شوه،

(٤) دَ مسح مدّه چه کله ختم شی د اوباسلو نه بعد به نوے اودس کوی او بیا به نوے سر نه په هغے مسح کوی،

بَاب التَّيَمُّم

ربط : مخکښې د نجاست د ازالې په طهارت کامله حاصلولو سره تفصیلاً ذکر شو چه اودس دے ، اوس د طهارت حکمی چه تیمّم دے ، ذکر شروع کوی

عناصرو کښې په دے دنیا کښې دوه داسے عنصر دی چه په هغے کښې د احیاء ماده ده

(۱) اوبه : قرآن کریم کښې دی "فسقناه الٰی بلد میّت فاحیینا به بلدة میتة"

(۲) خاوره : چه کله خاوره کښې څه تخم واچولے شی نو هغه شین بوټے راوخیژی او شنے ونے ترِ لګی

مٹا دو اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہو

کہ دانہ خاک میں مل کر گلِ گلزار ہوتا ہے

اوبه او خاوره دواړه داسے څیزونه دی چه موندل ئے هم آسان او بے قیمته دی اکثر په دے وجه شارع اوبه اوّل ذکر کړے چه اصلی مطهر دی او دوئمه درجه کښې خاوره یعنی تیمّم کول کیخودل"

مرقات ، تلخیص الحبیر او تبیین الحقائق او دغسے نور کتابونو کښې دی چه دا ددے امت خصوصیت دے اجماعًا په نورو امتونو کښې تیمّم نه وو

د تیمّم لغوی معنٰی : قصد او اراده کولو ته وائی ، بدائع صنائع کښې دی

وما أَدْرِي إِذَا تَيَمَّمْتُ أَرْضًا :: أُرِيدُ الْخَيْرَ أَيُّهُمَا يَلِينِي

(خزانة الأدب ۱۱ــ۸۰)

دا د مثبت العبدی په دیوان کښې صـــ۲۱۲ باندِ شته شاعر وائی ما ته پته نشته چه کله د یو زمکے قصد اوکړم ، د خیر اراده لرم چه دا خیر چه ئے غواړم ما ته نزدے دے یا هغه شر چه ما طلب کوی

شرح ابن عقیل او تلخیص الحبیر کښې دی صـــ۳۸۹

تیممتُها من أذرعات وأهلها بیثرب :: أدنٰی دارهـــا نـــظـــر عـــالي

Maktaba Tul Ishaat.com

شرعی تعریف

علّامه عینی لیکی "قصد الصعید الطاهر واستعماله بصفة مخصوصة وهو مسح الیدین والوجه لاستباحة الصلوة وامتثال الأوامر" د پاکے خاورے د استعمال قصد په یو خاص صفت سره د مانځه د مباح والی او دَ حکم د منلو دپاره کول چه دواړو لاسونو او مخ باند لاس راکاږے ،

(۲) بدائع صنائع کښ داسے تعبیر دے "استعمال الصعید فی عضوین مخصوصین علی قصد التطهیر بشرائط مخصوصة"

د ائمه اربعو تعریفات

(۱) تلخیص الحبیر صــ۳۸۹ باند دی چه احناف داسے تعریف کوی "قصد الصعید الطاهر واستعماله بصفة مخصوصة لأقامة القربة"

(۲) امام شافعی رحمة الله علیه داسے وائی "ایصال التراب الی الوجه والیدین بشرائط مخصوصة علی وجه مخصوص"

(۳) مالکیه رحمهم الله فرمائی "طهارة ترابیة تشتمل علی مسح الوجه والیدین بنیّة"

(٤) حنابله رحمهم الله تعریف کوی "عبارة عن قصد شیئ مخصوص علی وجه مخصوص"

د تیمّم ابتدائی شانِ ورود

د نسائی روایت کښ دی عائشه صدیقه رضی الله عنها روایت کوی چه یو ځل مونږ دَ نبی علیه السلام سره په یو سفر کښ اوتلو چه کله "بیداء" نومے ځائے ته اورسیدو ځما د غاړے هار مات شو اوغورځیدو نبی علیه السلام دَ هغے دَ تلاشئ دپاره اودریدو او صحابه رضی الله عنهم ورسره هم پاتے شو هلته اوبه نه وے او نه خلقو سره اوبه موجود وے خلق د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه خدمت کښ حاضر شو او ورته ئے اوئیل چه د عائشے رضی الله عنها دَ وجے دے ځائے کښ نبی او صحابه اتاله شوے دی چا سره اوبه نیشته او دے ځائے کښ د اوبو درک نه لګی دا خبره چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه واؤریده تشریف ئے راؤړو ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی چه دغه وخت کښ ځما په پتون نبی علیه السلام سر یخے وو اوده شوے وؤ او ئے وئیل داسے ځائے کښ د نبی او صحابه اودرولے دی چه اوبه نشته ، او ابوبکر رضی الله عنه خفه شو او ځما ملا له ئے څه لرګے غوند

41 B

راؤبغولو ، څه د ځائے نه ددے وجے نه رقیدم چه نبی علیه السلام آرام کوی چه کله بیدار شو د صبا وخت وؤ اوبه نه وے بعض صحابو بغیر د اوداسه نه نمونځ اوکړو دغه وخت کښې د تیمم آیت راغے اسید بن حفیر رضی الله عنه اوفرمائیل چه دا د ستاسو ورمبنے برکت نه دے اے د صدیق اکبر د کور خلقو څما هار د اوښ د لاند پروت وؤ انتهی (خلق وائی د ډیوے د ګُتے لاندے تیاره وی) دا سفر دَ علامه کاسانی مطابق د غزوه ذات الرقاع دے او تلخیص الحبیر کښې دی دا غزوه مریسع وه دغسے دینه غزا د بنی المصطلق هم وائی د شعبان پنځم کال د هجرتِ کښې شوے وه شیعه ګان تیمم نه منی وائی چه مونږ عائشه العیاذبالله نه منو نو دغه سلسله کښې چه تیمم دے څه به ئے اومنو عام اهل السنت د بے اودسئ او د جنابت دواړو دپاره دا تیمم منی او وائی ۔ تیمم نیست گنج خدا است " د علی رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله علیهما دغه رائے ده سیدنا عمر او سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما ورته ناجائز وئیل لیکن بدائع صنائع کښې دی چه ضحاک وائی عبدالله بن مسعود رجوع کړے ده امام بخاری رحمة الله علیه ۱ـــ۵۰ باند د هغے بحث تذکره کړے ده چه ابو موسی اشعری یو ځل د ابن مسعود نه ددے دَ اصل حقیقت تپوس اوکړو ورته ئے اوفرمائیل "لو رخصت لهم فی هذا کان اذا وجد احدهم البرد وهکذا یعنی تیمّم وصلّ" ګویا سدّاللباب هغوی دوی له منع کوله چه د معمولی سړځی په بهانه خلق سره ذدے چه په اوبو قادر دی ، اودس نه کوی او تیمم طرف ته ځی ددے به دوي ممانعت کولو بدائع صنائع کښې دی که مسافر اوبه نه مومی بیا هم خپلے ښځے سره همبستری کولے شی ، (یعنی تیمم به کوی) او امام مالک رحمة الله علیه دا مکروه ګڼړی لیکن نبی صلّی الله علیه وسلم ابو مالک الغفاری رضی الله تعالی عنه ته د سوال په جواب کښې اوفرمائیل تپوس ئے اوکړو "أأجامع امرءتی وانا لا اجد الماء فقال جامع امرءتک وان کنت لا تجد الماء الی عشر حجج فأن التراب یکفیک" (بدائع صنائع) او کتاب المجموع للنودی ۲ـــ۱۶۷ باند د ابوذر نه نقل دے چه دے به د اوښانو سره وؤ او جنابت به ورته کیدو نبی عیله السلام له ئے خبر ورکړو فقال الصعید الطیب چه کله اوبه نه وی، دَ دغے خاورے نه کار واخله،

شاه ولي الله البدورالبازغه کښې لیکلے دي : چه دَ تیمم مقصد دا دے چه دَ مونځونو دپاره دَ طهارت یو صورت دے له باقي پاتے شي چه نفس دَ طهارت پرېښودلو سره عادت نشي، او زمکے له لاس واوړل پکار دي ځکه چه دا یو قسم په بعض څیزونو کښې او بعض اوقات کښې دَ طهارت کار ورکوي،مثلا توره ،

شیشه، کته او موزے چه په خاوره اومګلے شي پاکیږي ، دَ زمکے دا مسح ځکه دَ طهارت قائم مقام جوړه شوے ده ،

د تیمم اسرار او حکمتونه

تلخیص الحبیر کښ او د الدرایة په تعلیق کښ حامد عبدالله لیکلے دی

(۱) اول حکمت دے چه نفس اماره ناراستیٔ او د طاعت و عبادت پریښودو ته میلان کول غواړی تیمم ددے مقصد دپاره دے چه د عبادت د پریښودلو عادت جوړ نه کړے

(۲) تذلل ، عاجزی ، زړه ماتے ژوند ، د نفس تهذیب او خضوع دا ښکلے صفات دی مسلمان له پیدا کول په ځان کښ پکار دی چه کله د ټولو نه قیمتی د بدن حصه چه مخ دے ، د الله په حکم د ټولو نه په لاند ځیز چه خاوره ده ککړ وی دا ده کښ د عاجزیٔ ماده پیدا کوی

(۳) "ما یرید الله لیجعل علیکم من حرج" دا آیت په تقاضا تخفیف او ترخیص بعض حالاتو کښ خودل غواړی چه تنګسیا او حرج کښ انسان اخته نه شی ددے دپاره دغه تیمم دے او غالبًا اول بنیادم مخ د خاورے نه بچ کوی دے عمل سره په ده کښ انکسار او ذلت راځی ، لیکن په سر خاورے اچول عادةً مکروه دی او د جاهلیت طریقه مصیبت کښ په سر خاورے اچول وؤ نو سر ئے پکښ شامل نه کړو او خپے ځکه نه دی شاملے چه هغه هسے هم اکثر په خاورو کښ دوړ منډے وی نو لاس او دَ مخ دَ مسح حکم صرف اوشو

د تیمّم د جواز شرائط

مظاهرحق کښ څلور شرطونه ذکر کوی

(۱) د اوبو د استعمال نه حقیقةً یا حکمًا عاجز وی

(۲) په کوم ځیز چه تیمّم کول غواړی د هغے پاکوالے شرط دے

(۳) استیعاب : ټول ځایونه داسے راګیرول چه هیڅ ځائے د مسح نه پاتے نه شی

(٤) نیت کول

دَ تيمم اركانو كښې دَ ائمه اختلاف

مالکيه وائي چه پنځه ارکان دي (۱):نيت (۲): يوځل لاس وهل (۳): مخ او دواړه لاسونه مسح کول (٤): او پاکه خاوره (٥): او پے در پے عمل کول،

احناف وائي : دوه رکنه دي (۱): دوه ضرب (۲): او نيت ،

شوافع وائي : پنځه رکنه دي (۱): خاوره مستقل (۲): دَ مونځ دَ مباح کولو نيت (۳): مخ مسح کول (٤): دواړه څنګلے مسح کول (٥): او مخ او دواړه لاسونو کښې ترتيب،

حنابله وائي : څلور رکنه دي : (۱): دَ ټول مخ مسح (۲): دَ دواړو لاسونو تر مروندونو مسح کول (۳): ترتيب (٤): او دَ حدث اکبر نه علاوه کښې پے در پے والے کول ، (حاشيه ابن عابدين ، الشرح الصغير، مغني المحتاج ،کشاف القناع)

متيمّم پسے اقتداء صحيح ده؟

امام بخاري رحمة الله عليه د عبد الله بن عباس رضی الله عنه اثر راوړلے دے چه "وامّ ابن عباس وهو متيمّم"اوعماربن ياسر خلاف کوي ،امامتی د امام ابويوسف په نزد کولے شی بدائع صنائع کښې دی چه متيمّم کله اودس کونکو له امامتی ورکوی جائز دی چه کله اوبه نه مومی دا شيخين وائی او که اوبه وی بيا امامتی صحيح نه ده ليکن امام محمد رحمة الله عليه فرمائی چه ده پسی اقتداء په هر صورت ناجائز ده که اوبه مومی يا نه مومی او امام زفر رحمة الله عليه فرمائی جائز دی که اوبه ورسره وی يا نه وی

د امام ابوحنيفه او امام شافعی رحمة الله عليهما اختلاف

چه کله تيمّم اوشی په دغه ټول وخت کښې فرائض او نوافل تر هغے کولے شی چه څو پورے اوبه او نه مومی او يا بے اودسه نه شی" او امام شافعی رحمة الله عليه فرمائی چه "لا يجوز له ان يؤدّی به فرضًا آخر" په دغے صرف هغه نمونځ کولے شی چه د کوم په اراده ئے تيمّم کړے دے بل فرض په هغے نه شی کولے او نوافل څکه کولے شی چه دا د فرائضو تابع حسابيږی ، بدائع صنائع

محدث فيروزآبادی شافعی په سفر السعادة کښې ليکلے دی "ولم نجد فی حديث صحيح انّه تيمّم لکلّ فريضه تيمّما جديدا بل امر به مطلقًا واقامه مقام الوضوء" چه مونږ په يو صحيح حديث کښې نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

موندلی چه نبی علیه السلام هر فرض له نوے تیمّم کرے وی بلکه مطلقًا ددے حکم ئے ورکرے دے او د اودس قائم مقام دے"

تیمّم بدل مطلق دے یا بدل ضروری

علامه کاسانی فرمائی چه تیمّم بدل مطلق دے او بدل ضروری نه دے او مطلب ئے دا دے چه د تیمّم د وجے حدث پورته کیږی چه څو پورے اوبهٔ نه موی چه نمونځ پر ادا کړی لیکن دا به سره دحدث نه دده دپاره به نمونځ د اباحت حکم وی لیکن امام شافعی رحمة الله علیه فرمائی چه تیمّم ضروری بدل دے او مقصد ئے دا دے چه ده له دَ نمونځ اباحت سره د حدث د موجود کیدو حقیقة دَ ضرورت د وجے شته لکه دَ مستحاضه طهارت چه څنګه دے ، او د احنافو دلیل هغه حدیث دے چه په هغے کښ دی "التیمم وضوء المسلم ولو الی عشر حجج ما لم یجد الماء او یحدث" دوئمه دا ده چه تیمم کونکی له ئے د اودس حکم ورکړے دے او اودس ، حدث له لرکونکے دے او دریمه دا ده چه حدیث راروان دے "جعلت لی الارض مسجدا وطهورا" او طهور دَ مطهّر نوم دے دا دلالت په دے کوی چه حدث په تیمم زائل کیږی لیکن دا وقتی زوال د اوبو تر موندلو به وی کله چه اوبه اوموی زوړ حدث به بیا راواپس شی لیکن دا دَ مستقبل په اعتبار سره او نه دَ ماضی په اعتبار سره

د استیعاب د شرط وضاحت

امام کرخی رحمة الله علیه وائی که لږ یا زیات ځائے دَ تیمم د ځایونو نه پاتے شی ناجائز دی ، او حسن د ابوحنیفه روایت نقل کوی چه په اکثر حصّه تیمّم اوشی هم جائز کیږی ، حسن صاحب وائی چه دا مسح ده دَ سر دَ مسح غوندے پکښ استیعاب نشته لیکن تیمم کښ د مسح متعلق هغه اندامونه دی چه مخ او لاسونه ورته وئیلے کیږی او دا ټول محل ته شامل دے څکه چه تیمم څو د اودس بدل دے او استیعاب دَ تمام رکن په اصل کښ چه کله ضروری دے نو بدل کښ هم ضروری دے د ظاهر روایت مطابق د ګوتو خلال او دَ ګوتمے اوخکل لازم دی" او که ګوتمه پریږدی ناجائز دی او د حسن د روایت مطابق د ګوتمے اوخکل لازم نه دی؛

د اوبو دَ نه موندلو مطلب

هدایه کښې شلور صورتونه ذکر کوی (۱) مسافر وی او اوبه ورسره نه وی (۲) د کلی او د بهر نه باهر دے چه د اوبو نه یو میل لرے دے (۳) دومره ناجوړتیا وی چه اوبه ورله نقصانی وی (٤) جُنبي یریږی که په اوبو اولامبم د ډیر یخوالی نه به ناجوړه شم،

د امام ترمذی د قول وضاحت

د ابن عباس رضی الله عنه قول دوی ذکر کړے دے چه اودس کښې الی المرافق غایه خودلے شوے ده او تیمم کښې دغه غایه نشته او "السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما" کښې هم غایه نشته چه دلته کفین مراد دی نو تیمم کښې دِ هم کفین مراد شی

او حکمت القرآن کښې حکمتی مولانا صاحب تفسیر کښې "وایدیکم منه" د لاندې لیکلی دی چه امام ترمذی د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړے دی چه ایدی په قرآن کښې د ورغوو په معنی استعمال دے لکه "والسارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما" نو دلته د تیمم په طریقه کښې تر مړوندونو پورے راغلی دی انتهی،

(جواب) چه کله دے مقام کښې مرفوع یا موقوف قوی احادیث راغلی دی او قیاس کول غواړے نو د عبادت قیاس په عبادت اوکړه شاه صاحب فرمائی دوی عبادت په عقوبت قیاس کوی حالانکه په عبادت قیاس پکار دے او اودس کښې مرفقین شته نو تیمم کښې دِ ملحوظ شی ،

امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه تیمم کښې کوم اعضاء ساقط شو هغه ټول ساقطیږی لکه مخ او لاسونه چه کله نه وی ساقط اودس کښې تر څنګلو وینځلے کیږی دلته به مسح تر څنګلو وی د مخ ټول په ټوله استیعاب اودس او تیمم دواړو کښې دے ، داسے خو نه وی چه نیم دِ ساقط شی او په نیم باندې تیمم دِ اوکړے شی او قرآن کښې "ایدی" ټول لاس کښې هم استعمال دے لکه الله تعالی فرمائی "یبسطوا الیکم ایدیهم والسنتهم بالسوء" یا الله تعالی فرمائی "غُلّت ایدیهم" دا خبره هم واضحه ده چه د تیمم مسئله د طهارت سره تعلق ساتی اکثر اغستل پکښې احوط دی او سرقه د حدودو سره تعلق ساتی اخذ بالأقل احوط دی

الْفَصْلُ الأول

(۱):عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كلها مَسْجِدا وَجعلت تربَتهَا لنا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : د سيدنا حذيفه رضي الله عنه نه روايت دے چه پيغمبر عليه السلام فرمائيلي دي موږ له خکنو تولو امتونو باندِ په درے څيزونو غوره والے راکړے شوے دے (۱) څموږ صفونه د ملائکو د صفونو غوندِ جوړ کړے شوے دی ، او (۲) موږ له ټول په ټوله زمکه مسجد ګرځولے شوے دے (۳) او موږ له د زمکے خاوره پاکونکے ګرځولے شوے ده کله چه موږ اوبه نه مومو (مسلم)

تشريح : ددے امت صرف دا درے خصوصيات نه دی دا بطور مثال دی عدد اقل د اکثر نفی نه کوی او مفهوم العدد نه وی معتبر يا به ورته اول کښ ددغے وحی شوے وه د مشکوٰة بالکل آخری باب "ثواب هٰذه الأمة" کښ بعض ذکر دی علامه عينی عمدة القاری کښ ليکلے دی چه د سوچ نه بعد به واقعه معلومه شی چه دا خصائل تقريبًا درځن يعنی دولس دی او که خه ډونګے لټون اوکړے دا به ډير وی ، او ابوسعيد نيشاپوری خپل کتاب شرف المصطفٰى کښ ليکلے دی چه د نبی صلّی الله عليه وسلّم شپيته (٦٠) خصوصيات دی په دے مقام سره مناسب دا درے خصوصيات ئے ذکر کړل مثلًا نبی عليه السلام فرمائی "اعطيت جوامع الكلم ، وختم لی النبوة او اعطيت الشفاعة"

څموږ صف بندی د ملائکو غوندِ ده الله قرآن کښ ملائک چه کله شهادت يا قسم کښ ذکر کوی فرمائی وَالصَّافَّاتِ صَفًّا او دغسے د سورة صافات آخر کښ دی وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ جهاد او نمونځ دواړو کښ د صف بندئ اهميت دے نبی عليه السلام اوفرمائيل "الاّ تصفون كما تصف الملائكة عند ربهم؟ قلنا وكيف تصف الملائكة عند ربهم قال يتمّمون الصفوف المقدمة ويتراصون فی الصف" صفونه پوره کول او جخت اودريدل مطلوب دی (اللباب فی اوائل سورة الصافات، او المحرر الوجيز تفسير کښ دی قتال ، نمونځ او طاعاتو تولو ته عام دے مشکوٰة کښ ورستو "باب تسوية الصف" به راشی ان شاءالله

د پنځه خبرو خیال ساتل

(۱) داسے برابرول لکه چه غشے نیغ وی

(۲) داسے جخت اودریدل چه شیطان له خالی ځایونه پرېنږودل پکښې اونشی

(۳) د امام داسے اودریدل چه د څی او ګس طرف ته مقتدیانو په مینځ کښې وی (٤) څو پورے چه اول صف نه وی ډک دویم به نه شروع کیږی ،

(٥):د یو صف او د بل صف مینځ کښې دَ سجدے د مقدار نه زیات به فاصله نه وی (التعلیق الفصیح صـ١٦ـ٢)

الحق الصریح کښې دی یو بل ته جخت او نزدے اودریدل ورته د وهابیانو عمل ښکاری که چا ته خپه نزدے کړے هغه به ورته بد اوګوری چه دا خو وهابی دے د اتفاق مسئلے نه ورله شیطان سترګے پټے کړے دی

ددے الزام حقیقت

امام بخاری صحیح کښې باب قائم کړے دے "باب الصاق المنکب القدم بالقدم فی الصف" چه صف کښې به اوګه او قدم د یو بل سره یو ځائے کوئ امام بخاری دا نه دی وئیلے چه د خپو ګوتے به د بل دَ ګوتو سره یو ځائے کوے اوس که څوک مانځه کښې خپے د حد نه ارتے کړی او کچه ګوته د بل کچے ګوتے سره یو ځائے کړی دے وخت کښې آیا اوګه د اوګے سره میلاویدے شی؟ آزمائش شرط دے، دغه معهود وهابیان د خپے وړه ګوته یا نورے ګوتے یو ځائے کوی اودریږی لیکن پورا قدم چه یو ځائے کړی او اودریږی داسے نه کوی قدم خو وائی د خپے لاندَ حصے ته او د نعمان بن بشیر رضی الله عنه مشاهده دا وه چه کله به خلق په صف کښې اودریدل نو خواه کښې نمونځ ګزار به د مونځ ګزار د ګیټئ سره ګیټئ یو ځائے کوله ، ګیټئ هغے هډوکی ته وائی چه دَ پوندے دَ پاسه او دَ پنډئ د لاند نه راېره شوے وی یو نمونځ ګزار د دوی داسے نه اودریږی چه خواه کښې ملګری سره ګیټئ یو ځائے کړی اودریږی دوی خو خپے خے ارتے کړی او وړه ګوته یو ځائے کوی او اودریږی

او د حدیث مطلب د صف اهتمام له ترغیب ورکول دی ظاهر د حدیث باند هر څوک عمل نشی کولے که یو چیت د یو دنګ شیخ سره اودریږی اوګے خو دے صورت کښې قطعًا نه میلاویږی مقصد دَ صف

بندئ او د جخت اودریدو اهتمام دے او حدیث کښې راځي "کان احدنا یلزق منکبیه بمنکب صاحبه" دا به بالکل په ظاهر هغه صورت کښې حمل کړے شي چه یو قد والا یو بل سره اولاړ وي
عبدالله بن عمر رضی الله عنه غوند متبع سنت باره کښې مصنف عبدالرزاق کښې صــــ۲٦٤ باند روایت دے چه هغوی به دومره خپے نه ارتولے چه کله به مانځه ته اودریدو دوی وائي چه نبي علیه السلام به خپلئ د دوارو خپو مینځ کښې کیخودے دومره فاصله باند به اودریدو او دوی داسے اودریږي چه دَ غریب چمیار دَ تول دُکان برابر وي او ځان له نمونځ کونکے یا امام هم دغسے ارت اولاړ وي
احناف دَ صف بندئ د اهتمام ویناکانے کوي تبلیغي مراکزو او پنج پیري اجتماعاتو کښې ددے اهتمام ښکاره دے لیکن دغسے کوره طریقه دے له اهمیت نه ورکوي احادیثو کښې ښودلے شوے اهمیت کافي دے او په هغے د احنافو عمل دے ځکه چه د صفونو اختلال سره اختلاف پیدا کیږي
(۲) قوله زمکه ځمونږ دپاره جماعت ده" دَ مسجد نه لغوي مسجد مراد دے علامه محمد ادریس کاندهلوی رحمة الله علیه په التعلیق الصبیح کښې لیکلے دي "ځمکه ئے خاص کوي ځکه دا دده نه روکیدے نه شي په دے کښې آسانتیا زیاته ده او زمکه یعني خاوره بعض څیزونو یعني موزے او تورے له پاکي راوستونکي ده د اوبو د وینځلو غوند کار کوي اشعة اللمعات کښې چه د مخکنو امتونو نمونځ بے د صومعے او ګرجے نه صحیح نه وؤ د پخوانو امتونو عبادت د هغوی په معابدو کښې صرف جائز وؤ د عیسی علیه السلام د پاره چه راځي قوله زمکه مسجد او طهور وؤ نو دا به د هغوی خصوصیت وي د امت ئے دا خصوصیت نه دے
(۳) خاوره پاکي راوستونکي ده مونږ لره

تیمم په څه کیږي

اشعة اللمعات کښې دي چه د امام ابوحنیفه ، امام مالک ، امام محمّد او د امام احمد رحمة الله علیهم یو روایت دے چه کوم څیز د زمکے دَ جنس سره تعلق ساتي او په اور نه ویلے کیږي او نه نرمیږي او په سوزولو نه هیره کیږي په هغے تیمم کیږي
ابن قدامه په مغني کښې لیکلے دي چه صرف په پاکه دوړمنه خاوره باند تیمم کیږي ، ځکه قرآن کښې دي "فتیمّموا صعیدًا طیّبًا" او امام نووی په شرح د مهذب کښې لیکلے دي چه ځمونږ مذهب کښې صرف په خاوره کیږي "دا ځمونږ هغه معروف مذهب دے چه شوافع په دے فیصله کوي او هدایه کښې دي

چه تیمم جائز دے دَ امام ابوحنیفه او محمد رحمهما الله په نزد چه دَ زمکے دَ جنس سره تعلق ساتی لکه خاوره گټه، چونه، رانجه او هرتال وغیره شو او د امام ابویوسف رحمة الله علیه په نزد صرف په خاوره او شګه کیږی او د مالک او د مالکیانو رحمة الله علیهم مسلک کښې تیمم په هر هغه څیز کیږی چه د زمکے د اجزاء نه د زمکے په سطح پراته دی لکه کانړی او خاوره شوه د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی چه د زمکے د اجزاء نه پیدا وی لکه گټه، خټه، او هرتال وغیره په دے تولو کیږی، د غرونو په مالګے په دے شرط تیمم صحیح دے چه لوند والے پکښې نه وی او دریابی مالګه کښې لوند والی وی تیمم په هغے صحیح نه دے او گټه د زمکے د جنس نه ده که صفا هم وی تیمم هم په دے کیږی لیکن اوسپنه، سره، او سپینو باندے تیمم درست نه دے او په شګه کښې د امام ابویوسف رحمة الله علیه دوه روایته شته آخری قول د امام ابویوسف رحمة الله علیه چه قدوری ذکر کړے دے او دغه د امام شافعی رحمة الله علیه قول دے چه صرف خاوره باند کیږی،

تبیین الحقائق کښې امام زیلعی لیکلے دی چه کومے ملغلرے اوتکولے شی په هغے تیمم څکه ناجائز دے چه دا د حیوان نه پیدا دی او د زمکے د اجزاء سره تعلق نه ساتی او په پاره څکه تیمم نه کیږی چه دَ زمکے دَ اجزاء سره تعلق نه لری په څادر کښې که دوړه وی تیمم صحیح دے لیکن که صفا څادر وی یا صفا لرګے وی تیمم نه کیږی څکه څادر او لرګے په اور سوزی

صعید څه ته وائی

د زمکے مخ ته مطلقًا وائی او خاوره ددے فردِ کامل دے، دا نفی دَ ما عدا نه کوی امام ابوحنیفه او امام محمد رحمة الله علیهما ئے وجه الأرض ته وائی او امام ابویوسف ئے هغے خاورے ته وائی چه زرغونه کونکی وی او مصباح کښې دی "چه صعید د زمکے سطح او مخ ته وائی که خاوره وی یا نه وی" نیل الأوطار کښې شوکانی صاحب وائی چه د "ادرکتم" صیغه عامه ده که خاوره وی یا د زمکے بل جزؤ (نیل الأوطار)

التعلیق الفصیح کښې قاضی صاحب رحمة الله علیه د حافظ ابن القیم په حواله لیکلے دی په "فیما ادرکت رجلًا من امتی الصلوة فعنده مسجده وطهوره" دا صریح نص دے که ریګستان کښې وی شګه هم ورله پاکیت راولی" او چه کله نبی او صحابو دَ تبوک غزا کښې په شګو کښې مزل کولو او اوبه ډیرے کمے وے او دوی خو څان سره خاوره نه وه اغستلے او نه پیغمبر ددے حکم کړے وؤ او دَ حجاز

Maktaba Tul Ishaat.com

زمکه ډیره شکلوړے ده ، که څوک د سوچ نه کار واخلی نو په شکو به دوی تیمم کړے وی والله اعلم او دغه د جمهورو قول دے (زاد المعاد) او ددے قسم عموم دلیل دا دے چه د سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه د ځنګلو څه خلق نبی علیه السلام له راغلل او غرض ئے اوکړو چه مونږ درے درے میاشتے په شکو کښې ډیره یو او مونږ کښې جنب او نفاس و حیض والا زنانه وی او اوبه هلته نه وی څه به کوؤ نبی علیه السلام اوفرمائیل علیکم بالأرض بیا ئے دوه کرته زمکے له ګزار ورکړو او تر ، ځنګلو ئے په لاسونو مسح اوکړه ددے تخریج امام احمد رحمة الله علیه کړے دے او قاضی صاحب لیکلے دی چه "صعید طیّب" ذکر دے او خطاب هغه چا ته دے چه هغوی "بوادِ غیر ذی زرع" کښې اوسی" دے کښې اشاره ده چه داسے خاوره ضروری نه ده چه خواه مخواه به هغه راتوکونکی هم وی

(۲):وَعَن عمرَان بن حُصَيْن الْخُزَاعِيّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رأى رجلا مُعْتَزِلا لم يصل فِي الْقَوْم فَقَالَ: «يَا فلَان مَا مَنعك أَن تصلي فِي الْقَوْم فَقَالَ يَا رَسُول الله أَصَابَتْنِي جَنَابَةٌ وَلَا مَاءَ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ فَإِنَّهُ يَكْفِيك»

ترجمه : د عمران رضی الله عنه نه روایت دے چه په یو سفر کښې مونږ د نبی صلّی الله علیه وسلّم سره وؤ خلقو له ئے نمونځ ورکړو کله چه د نمانځه نه مخ واړولو ناساپه ئے یو سړے بیل اولیدو چه د قوم سره ده نمونځ نه وؤ کړے تپوس ئے اوکړو اے فلان څه څیز ته منع کړے چه قوم سره دِ نمونځ په جمع کړے وے اوئے وئیل ما ته جنابة رارسیدلے دے او اوبه نشته نبی علیه السلام اوفرمائیل پاکه خاوره لازم اونیسه ځکه دا ستا دپاره کافی کیږی

تشریح : (انفتل) علامه طیبی معنٰی کوی عرب وائی فتل وجهه عنّی ای صرفه څما نه ئے مخ واړو د حدیث نه دِ امامتئ د نمانځه اهمیت او دَ تفرّد د اختیارولو ممانعت معلومیږی دَ جنب دپاره دَ تیمم کولو دَ ضرورت او دَ شرائطو مطابق اجازت دے لکه دلته اوبه نه وے علماء احناف فرمائی که چا نمونځ کړے وی او د ماسپخین او ماسخوتن نمونځ ته حاضر شو د نفلو نیت دِ امام پسے اوتړی تفرّد او تجرّد دِ نه اختیاروی

حدیث دلیل دے چه تیمّم طهارت مطلقه دے لکه مخکښې بحث اوشو ، دغه د احنافو او د امام بخاری رائے هم ده ، امام بخاری ، خپل صحیح کښې "علیک بالصعید" سره د تیمّم بحث ختموی ، اشاره ده دے ته چه یو ځل به ته هم خاورو ته اوسپارلے شے مرګ مه هیروه"

(٣):وَعَن عمار قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ: إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ فَقَالَ عمار بن يَاسر لعمر بن الْخطاب أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ وَأَمَّا أَنَا فتمعكت فَصليت فَذكرت للنَّبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلم بكفيه الأَرْض وَنفخ فيهمَا ثمَّ مسح بهما وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ وَفِيهِ قَالَ: إِنَّمَا يَكْفِيكَ أَنْ تَضْرِبَ بِيَدَيْكَ الْأَرْضَ ثمَّ تنفخ ثمَّ تمسح بهما وَجهك وكفيك

ترجمه : د سیّدنا عمّار رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے عمر بن الخطاب رضی الله عنه له راغلے او ئے وئیل څه جنب شوے یم پس اوبه م او نه موندلے عمّار رضی الله عنه ورته وائی تا له کافی وه دغسے نو نبی علیه السلام زمکے له دواړه ورغوی راؤبغول او پوکے ئے دواړو له ورکړو بیا ئے په دے مخ او خپل ورغوی مسح کړل او مسلم کښې دی چه اوئے فرمائیل ، پس تا له دا کافی ده چه دواړه لاسه دِ زمکے له راخلاص کړے وے بیا په دے پوکے کړو بیا به دِ په دے خپل مخ او ورغوی مسح کړے وے

تشریح : قرآن کښې دی "فلم تجدوا ماءً" ددے دوه مطلبه دی یو دا چه د سر نه اوبه نه وی او دویم اوبه وی خو دے د هغے په استعمال قادر نه وی ، لکه چه سیّدنا معاذ رضی الله عنه ته نبی صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے وؤ "بمَ تقض یا معاذ" هغه ورته اوفرمائیل چه د الله په کتاب ، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل "فأن لم تجد" ددے دوه مطلبه دی یو دا چه د الله کتاب کښې نشته ، دویم دا چه شته لیکن ستاسو ذهن ورته او نه رسی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دے کښې هغه صورت هم د اوبو د نیشتوالی صورت دے چه کله دومره لږے اوبه وی که اودس له ئے استعمال کړے نو دے یا ملګری به د تندے نه مړه شی هغه وخت کښې به په دے اودس نه کوی خپل ځان او دَ ملګری ژوند به بچ کوی

فتح الاله کښې علامه هیثمی لیکلی دی "ویقع لکثیر من الجهلة انهم یتطهرون ویستنجون بالماء ومعهم فی قافلتهم عطشی انّ ذالک حرام شدید التحریم لأنّ للماء بدلًا والنفوس لا بدل بها" یعنی ډیر جاهلان اودسونه او استنجاګانے په اوبو کوی او دوی سره قافله کښې تږی وی (هغوی له ئے نه ورکوی) دا سخت حرام دی ځکه د اوبو بدل تیمّم دے او د قیمتی انسان بیا بدل نشته

مذاهب

دتیمّم طریقه : (د احنافو مسلک)

دوه ګزاره دی او دَ مخ مسح دپاره او دوئم د لاسونو دَ مسح دپاره تر څنګلو او دا د امام شافعی رحمة الله علیه یو قول دے او د دوی دریم قول چه هغه

(۲) د امام مالک رحمة الله علیه قول دے یو ګزار د مخ د مسحے دے او دویم لاسونو دَ مسح تر مړوندونو دے

(۳) امام زهری فرمائی ، یو ګزار دَ مخ دَ مسح دپاره دے او بل ګزار دے له دے چه تر ترخونو په دواړه لاسه مسح اوکړی

(٤) ابن ابی لیلی فرمائی دوه ګزاره دی په هر یو به مخ او دواړه لاسه مسح کوی (٥) ابن سیرین فرمائی درے ګزاره دی ، یو د مخ د مسح دپاره دی او دویم ګزار د لاسونو دپاره وو او دریم ګزار ئے دواړو دَ مسح دپاره دے او بعض وائی چه دا یو ګزار دے چه مخ او دواړو لاسونو له کافی دے ،

او د دوی دلیل ظاهر دا آیت دے "فَلَمْ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيداً طَيِّباً فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِّنْهُ" آیت کښې د مخ او د لاسونو مسح په خاوره مطلقًا ذکر شوے دے دَ یو او د دوو ګزارونو قید نیشته نو په خپل اطلاق به پریخودلے شی" او دا د زهری دلیل دے چه د "ید" اطلاق د ګوتو د سرونو نه ترخونو پورے کیږی" او د غایة ذکر (الی المرفقین) اودس کښې شته ، تیمّم کښې ددے ذکر نشته" او امام

مالک او امام شافعی دَ عمار بن یاسر د روایت نه دلیل نیسی چه کله جنب شو خاوره کښې اورغښتلو، نبي علیه السلام اوفرمائیل تا ته پته نیشته تا له په مخ او په ورغوو باند مسح کافی ده

د احنافو استدلال

د قرآن کریم آیت دے چه "فَتَيَمَّمُواْ صَعِيداً طَيِّباً فَامْسَحُواْ بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ" آیت په امام مالک او امام شافعی څکه حجت دے چه الله د لاس دَ مسح حکم ورکړے دے نو ددے تقیید په مروند په دلیل کبری او قرآنی دلیل کښې اوداسه کښې تقیید په څنګل سره شوے دے چه "مرفق" ئے د وینځلو دَ حکم دپاره اودس کښې غایة جوړه کړه او تیمم خو د اودس نه بدل دے او بدل دَ خپل مبدل عنه خلاف نه وی دا غایه د دلته تیمم کښې د اودس غوند ملحوظ شی او دا چه څوک وائی آیت څمونږ څکه دلیل دے په دے خبره چه تیمم کښې یو ځل ضرب کافی دے څکه چه نص تکرار نه دے ذکر کړے، لیکن د هغے جواب دا دے اګرچه نص کښې تکرار ته تعرض نشته صراحة لیکن دلالةً ورته څکه تعرض کوی چه تیمم د اوداسه خلیفه دے او یو ځل اوبه اودس کښې په دوو اندامونو استعمالول ناجائز دی نو یو خوره هم په تیمم کښې په دوو اندامونو استعمالول دِ څکه ناجائز شی چه خلیفه د اصلی نه مخالف نه وی" او آیت په ابن ابی لیلی او ابن سیرین هم حجت دے څکه چه الله د مخ او د لاسونو دَ مسح حکم ورکړے دے نو ددے تقاضا دا ده چه دَ مسح منل دِ دواړو له یو ځل یو ځل اوشی څکه چه امر مطلق د تکرار تقاضا نه کوی او دا ابن لیلی او ابن سیرین څه چه وائی په هغے کښې تکرار راځی نو په کتاب به زیادت په هغے دلیل سره کیدے شی چه د زیادت صالحیت لرلے شی (بدائع صنائع)

الحق الصریح د کتاب افتراء

خرافین چه دا خبره کوی چه د مجتهدینو هره خبره حقه ده دا غلطه ده دَ مجتهدینو هره خبره حقه نه وی (الجواب) وقد خاب من افتری مجتهد لا څه کوے چه پیغمبر هم په اجتهاد کښې خطا کیدے شی لیکن شاه ولی الله رحمة الله علیه په حجة الله کښې فرمائی چه عام مجتهدین کله په خطا اجتهادی پاتے شی او پته ورته او نه لګی او دَ پیغمبر اجتهاد چونکه قطعی وی نو په اجتهادی خطا ورله تنبیه ورکولے شی هغه پیغمبر چرته په خطا نه شی پاتے کیدے د بدر د قیدیانو فدیه ددے دلیل دے، دغسے "فلا تکن للخائنین خصیمًا" او دا آیت چه "عفی الله عنک لم اذنت لهم"

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا د ټولو وظیفه ده چه "المجتهد یخطئ ویصیب" او دغه منهج د احنافو او د نورو عامو اهل السنت والجماعت دے

د صاحب د الحق الصریح تعصب

لیکی "امام ابوحنیفه ، امام مالک ، امام شافعی یعنی ائمه ثلاثه ، سفیان ثوری ، شعبی ، سالم ، حسن بصری رحمة الله علیهم او حضرت علی رضی الله عنه مذهب دا دے چه تیمم دوه ضربه دی یو ضربه مخ دپاره او دوئمه ضربه د لاسونو دپاره تر مرفقینو ، دلیل ددے قول والاؤ سره صحیح مرفوع حدیث نشته او کوم مرفوع روایت د جابر چه حاکم ، دارقطنی او نصب الرایه کښې دے هغے کښې عثمان بن محمد بن الانماطی راوی دے حافظ ذهبی فرمائی شیخ فیه لین او عسقلانی فرمائی چه مقبول لین عند المتابعة دوئمه وجه دا ده چه په دے کښې ابو زبیر محمد بن مسلم صدوق الا انه یدلّس دے او مدلس چه عنعنه اوکړی قابلِ مقبول نه وی دریم دا چه روایت شاذ هم دے ، والصواب انه موقوف کما فی التلخیص" او مرفوع روایت د عائشه رضی الله عنها کښې ضعف دے رواه البزار په هغے کښې الحریش بن الخریت ضعیف دے او مرفوع روایت د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه ضعیف جدًا دے ټول سندونه ئے ضعیف دی البته صحیح موقوف روایات په دے طریقه کښې ثابت دی (موطا مالک) دا موقوف صحیح دے لکه په تلخیص الحبیر کښې دی

التصریح لرد حقّه الصریح

دے باب کښې مرفوع روایات شته او موقوف خو خپله صحیح منی آیا دا روایات د جُرابو د مسح د روایات نه زیات ضعیف دی؟ د ائمه ثلاثه ، او د نورو سلفو مسلک په ضعیف روایاتو بِناء کیدے شی

د امام نووی تصریحات

مجموع ۲ـــ۱۶۹ باند دی "المشهور عن مذهبنا انه صح الی المرفقین ورواه جابر عن النبی صلی الله علیه وسلم "التیمم ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین" او صـــ۱۷۰ وقال البیهقی "وقد صح عن ابن عمر عن قوله وفعله التیمم ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین" ۱ـــ۲۰۷

(۲) و اما ما روی مرفوعًا فی التیمم الی المرفقین عن ابن عبدالهادی عن نافع عن ابن عمر انّ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم تیمّم الی المرفقین ، (التمهید کما فی المؤطا من المعانی ولأسانید ۷ـــ۳۹۷ ط دارالفکر

قال ابو عمر کله چه آثار د تیمم په کیفیت کښې مختلف شو او تعارض راغے په دے کښې ظاهر کتاب ته رجوع ضروری ده او دا دلالت په دوه ضربه باند کوی یو مخ او بل لاسونو له تر څنګلو او التمهید ۸ــ۳۹۷ باند دی عن ابن عمر ان رسول الله صلی الله علیه وسلم تیمم الی المرفقین، او په دغه صفحه دي :" قال أبو عمر: لما اختلفت الآثار في كيفية التيمم وتعارضت كان الواجب في ذلك الرجوع إلى ظاهر الكتاب وهذا يدل على ضربتين للوجه ضربة ولليدين أخرى إلى المرفقين قياسا على الوضوء وإتباعا لفعل ابن عمر رحمه الله".

(۳) الدرايه صــ۲۳ "وعن عمار بن ياسر قال كنت فى القوم حين نزلت الرخصة فأمرنا فضربنا واحدةً للوجه ثم ضربةً اخرى لليدين الى المرفقين" اخرجه البزار بأسناد حسن وقال الحافظ فى الدرايه بأسناد حسن ولكن اخرجه ابوداؤد فقال الى المناكب وذكر ابوداؤد علته والاختلاف فيه

(٤) عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ حِينَ تَيَمَّمُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ الْمُسْلِمِينَ فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ التُّرَابَ وَلَمْ يَقْبِضُوا مِنَ التُّرَابِ شَيْئًا فَمَسَحُوا بِوُجُوهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً ثُمَّ عَادُوا فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ مَرَّةً أُخْرَى فَمَسَحُوا بِأَيْدِيهِمْ" ابن ماجه باب فى التيمم ضربتين صــ۸۱ ، نمبر ۵۷۱ ، ابوداؤد باب التيمم صــ۵۱ دا د عمار رضی الله عنه روایت دے ، چه روستو ئے بله طریقه راروانه ده او ابن عمر رضی الله عنه فرمائی "التيمم ضربتان الخ" دارقطنی ۱ــ۱۸۸ نمبر ۶۷٤ باب كيف التيمم او دارقطنی او مستدرک کښې د جابر مرفوع حدیث دے "التيمم ضربة للوجه وضربة للزراعين الى المرفقين نصب الرايه ۱ــ۱۵٤، امام حاکم د حدیث تصحیح کړے ده التمهيد ٥ــ۵۳ باند د ایوب روایت کښې دی چه ما د سالم نه اوریدلے دی د هغوی نه د کیفیت تپوس اوشو او ئے فرمائیل ضربة للوجه وضربة لليدين الى المرفقين

مصنف عبدالرزاق ۲ــ۲۱۲ ۸۱۷ نمبر : عن ابن عمر أنه كان إذا تيمم ضرب بيديه ضربة على التراب ثم مسح وجهه ثم ضرب ضربة أخرى ثم مسح بهما يديه إلى المرفقين ولا ينفض يديه من التراب قال عبد الرزاق وبه نأخذ ــ او د حسن روایت ۸۴۰ نمبر باند داسے نقل کوی مرة للوجه ومرة لليدين

عرف الجادی صــ۱۲ باند غیرمقلد لیکلے دی حدیث جابر ، قال الحافظ اسناده حسن او الاصابة مع الاستيعاب ۱۱ــ۵۸ باند دی "ضربة للوجه وضربة لليدين الى المرفقين"

ارشادي الساري :۱: ۳۶ باندے قسطلاني روايت کړے دے "التيمم ضربة للوجه وضربة للذراعين إلى المرفقين" وأخرجه البيهقي أيضًا والحاكم وقال: هذا

Maktaba Tul Ishaat.com

إسناد صحيح، وقال الذهبي أيضًا: إسناده صحيح ولا يلتفت إلى قول من يمنع ضعفه."

د امام ابوحنیفة رحمة الله علیه نه تصریح

الموسوعة الحدیثیة ٥ـــ٣١٢ ، روایت نمبر ١٥٨٩ یوسف عن ابیه عن ابی حنیفة عن حماد عن ابراهیم انه قال فی التیمم یضرب بیدیه الصعید ثم ینفضهما ثم یمسح وجهه ثم یضرب الثانیة ثم ینفضهما فیمسح ذراعیه الی المرفقین" (کتاب الآثار ـــ٨١) چه په خاوره به یو ځل گزار ورکړے دواړه لاسه به اوسنډے او په لاسونو به تر څنګلو مسح اوکړے دغسے عبدالرزاق ٨٢٢ باند دَ ثوری نه ددے تخریج کړے دے او صـــ٣١٣ مسند کښې ابوحنیفة عن عبدالعزیز بن ابی رواد عن نافع عن ابن عمر قال کان تیمّم رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ضربتین ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین (مسند) محمد بن المظفر کما فی جامع المسانید

او د جابر رضی الله عنه روایت دارقطنی ، حاکم او بیهقی د علی بن ظبیان په وساطت مرفوعًا چه نقل کوی دارقطنی وائی یحی القطان ئے موقوف نقل کوی او دغسے هیثم هم دے وعندهما وهو الصواب" دارقطنی ١ـــ١٨١ ، حدیث نمبر ١٣٢ حاکم ١ـــ١٨٠ او بیهقی ١ـــ٢٠٧ باند د جابر رضی الله عنه روایت نقل کوی دارقطنی وائی رجال ئے ثقات دی او صواب موقوف دے او امام حاکم خاموش پاتے شوے دے او ورستو امام ذهبی ئے تصحیح کړے ده او بیهقی وائی اسناده صحیح صـــ٤٠٤

کتاب المجموع ٢٤ـــ١٦٩ باند دی چه ابن المنذر د دوو ضربو وجوب د علی ، ابن عمر ، رضوان الله علیهما د حسن بصری ، سالم بن عبدالله ، مالک ، لیث ، ثوری ، اصحاب الرآی او د عبدالعزیز عن ابی سلمه نه نقل کړے دی

د جابر رضی الله عنه روایت "قال جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال أصابني جنابة واني تمعكت في التراب فقال أضرب هكذا وضرب بيديه الأرض فمسح وجهه ثم ضرب بيديه فمسح بهما إلى المرفقين" رواه الحاکم والدارقطنی والطحاوی ، مستدرک حاکم ١ـــ١٨٠ ، یا ١ـــ١٧٤ شرح معانی الآثار ١ـــ٨٧

دعائشے رضی الله عنها روایت "انّ النبی صلّی الله علیه وسلّم قال فی التیمم ضربتان ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین او تخریج ئے بزار کړے دے نصب الرایة ١ـــ١٥١ ،

په دے کښې حُریش بن حریث ضعیف راوی دے لیکن مولانا سهارنپوری لیکلے دی چه د ابن حجر د بیان مطابق یحی بن معین او بخاری ورله اعتبار ورکوی او د ابن عمر د حریث مضمون د عائشے رضی الله عنها د روایت غوند دے تخریج ئے حاکم کړے دے سنن دارقطنی او کامل د ابن عدی کښې موجود دے او ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین جامع المسانید ۱ـــ۲۳۴ ، بیهقی ۱ــ۲۰۶ ، مصنف ابن ابی شیبة ۱ـــ۱۵۸ الحق الصریح کښې د مجمع الزوائد روایت ذکر کړے دے لیکن مجمع الزوائد صـــ۱۰۷ باند د ابن عمر روایت التیمم ضربتان ضربة للوجه وضربة للیدین الی المرفقین رواه الطبرانی فی الکبیر وفیه علی بن ظبیان ضعّفه یحی بن معین وجماعة لیکن ورستو ئے لیکلے دی وقال النیسابوری لا بأس به او دارقطنی ۱ـــ۱۸۱باند دا روایت دے علامه عینی لیکلے دی چه د جابر رضی الله عنه اسناد صحیح دے او ذهبی ورته صحیح وائی "ولایلتفتک الی قول من یمنع صحته"څوک چه ددے صحت نه منی هغه طرف ته التفات مه کوه" او امام طحاوی او ابن ابی شیبه موقوف ذکر کوی بیا لیکی "قلت قال الطحاوي وغیره إن حدیث عمار لا یصلح حجة في کون التیمم إلی الکفین أو الکوعین أو المرفقین أو المنکبین أو الإبطین کما ذهبت إلی کل واحد طائفة من أهل العلم وذلك لاضطرابه کما قد رأیت فلذلك قال الترمذي وقد ضعف بعض أهل العلم حدیث عمار في التیمم للوجه والکفین لما روی عنه حدیث المناکب والأباط" انتهی ما فی العینی

د صاحب د الحق الصریح دویم کیفیت ته ترجیح ورکول

دا ډیر صحیح او راجح کیفت دے (صحیح دے لیکن صریح نه دے) امام بخاری ، امام احمد ، امام اسحق ، امام اوزاعی ، عطاء ، مکحول ، ابن المنذر ، او شعبی بعض اهل ظاهر او عام اهل الحدیث مذهب دے نووی ۱ـــ۱۴۰ ، فضرب النبی بکفیه الارض ونفخ فیهما ثم مسح بهما وجهه وکفیه ، دا حدیث صریح دے (وانّی ذالک؟) او دا مقام د بیان دے

وضاحت او عذر دَ حدیث د عمار نه

روایت د عمار دَ مخکښې روایاتو سره مخالفت نه لری ځکه چه د اودس دپاره چه اوبه نه وی تیمم کولو کیفیت هغوی ته معلوم وو لیکن د غسل دپاره د تیمم کیفیت ورته نه وو معلوم لکه حدیث کښې دی چه فاروق او عمار بن یاسر رضوان الله علیهما دواړه سفر کښې وو او احتلام ورته شوے وو نبی علیه

Maktaba Tul Ishaat.com

السلام اختصارًا ورته اشاره اوفرمائیله عمار ته ئے اوفرمائیل "یکفیک هذا" چه د اودس دپاره تیمم تا ته مخکښې معلوم وو نو په خاؤرو کښې ارغختلو ته ضرورت نه وو دواړه قسمه د اودس او د غسل په تیمم کښې صرف نیت سره فرق راځی ، نبی علیه السلام د اودس د تیمم هغه کیفیت ته اختصارا او د عجلت د وجے اشاره اوکړه نو د نبی علیه السلام لاس نصف زراع ته د ورغوی د بره حصے اورسیدو چا چه اوکتل چه نبی علیه السلام نصف زراع پورے مسح اوکړه دغه ئے روایت کړو او چا چه اولیدل چه دوی مسح ظهر الید باند فقط اوکړه دغه ئے روایت کړو د خپل خپل کتلو موافق او حقیقت کښې هیڅ تعارض نشته چه د تیمم کیفیت چه ورته د مخکښې معلوم وو هغے طرف ته دوی اختصارًا اشاره اوکړه (تقریر ترمذی لشیخ الهند رحمة الله علیه) معارف السنن کښې علامه بنوری رحمة الله علیه لیکلے دی چه حافظ ابن عبدالبر رحمة الله علیه فرمائی "کل ما یروی فی هذا عن عمار فمضطرب مختلف فیه ولکنّ الأکثرین علی وجوب دخول المرفقین فی التیمم" هر څوک د سیدنا عمار رضی الله عنه نه مختلف روایات کوی چه د اضطرب باعث دے لیکن ډیر وائی چه څنګلے په تیمم کښې راغلے دی ځکه خو تبیین الحقائق کښې دی "ولنا حدیث عمار انه علیه السلام مسح وجهه ویدیه الی المرفقین مسند احمد نمبر ١٧٨٦٨"

بدائع صنائع کښې دی "وَأَمَّا حَدِيثُ عَمَّارٍ فَفِيهِ تَعَارُضٌ لِأَنَّهُ رُوِيَ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى أَنَّ النبي صلى اللّٰهُ عليه وسلم قال يَكْفِيك ضَرْبَتَانِ ضَرْبَةٌ لِلْوَجْهِ وَضَرْبَةٌ لِلْيَدَيْنِ إلَى الْمِرْفَقَيْنِ وَالْمُتَعَارِضُ لَا يَصْلُحُ حُجَّةً" امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه د عمار رضی الله عنه روایت قابل استدلال نه دے ترمذی لیکلے دی دد اختلاف په وجه اهل علم ئے تضعیف کوی" لیکن بخاری او مسلم صرف هغه طریقه واغستله چه پکښې د یو ضرب او د کفین ذکر دے" در اصل حدیث د عمار دوه قسمه دے یو هغه چه پکښې د تیمم ابتداء او د مشروعیت ذکر دے فرمائی مونږ د نزول تیمم نه بعد نبی صلی الله علیه وسلم سره تیمم اوکړو او دویم د عمار هغه حدیث دے چه د سیدنا عمر رضی الله عنه مخکښې بحث کښې ذکر کیږی چه د جنب د تیمم په سلسله کښې راغلے دے ، زیات اختلاف د عمار اول قسم حدیث کښې دے هغه شیخینو نه راغستلے دے" او دا څو د بخاری ټولو طریقو کښې ضربة واحدة راغلے دے ځکه بخاری راغستلے دے البته د لاسونو د تعداد باره کښې فی الجمله اختلاف دلته هم شته بعض کښې الی الکفین دے چه شیخینو راغستلے دے او بعضو کښې ددے خلاف هم شته ، الی المرفقین او الی المناکب والآباط

پهکښې نشته او امام ترمذی د اسحاق بن راهویه دغه خبره نقل کړے ده چه د عمار دوه قسمه حدیثونه دی او دا اختلاف واضطراب په دے کښې صرف یو کښې دے"

روایت کښې راځی "یا عمار اتّق الله" عمار عرض اوکړو چه که تاسو غواړئ خلقو ته به دا حدیث نه ذکر کوم چه کومه سفر کښې د جنابت واقع ده سیدنا عمر رضی الله عنه اوفرمائیل دا نه غواړم لیکن "لنُولّینّک من ذالک ما تولیت" ته په خپله ذمه دارئ خپله دا حدیث بیانوه دا هغه دویم قسم د عمار حدیث دے چه شیخینو صحیحین کښې اغستلے دے،

دَ صحیحینو دَ وجود نه مخکښې بعض دَ صحیحینو په روایت نه امام ابوحنیفهؒ او نه امام شافعيؒ قول کړے دے مثلا حدیث چه تیمم له یوه ضربه ده وجه او کفین له ذراعین پکښې نه دي داخل او بعض امام احمد نه قبلوي لکه "لو ان الناس اعتزلوهم" روایت دَ امام احمد په نزد دَ هغه دا روایت مردود دے او صحیحینو کښې موجود دے ،

او دغسې امام احمد :من مات وعلیه صوم صام عنه ولیه" دَ صحیحینو روایت باندے عمل نه کوي ، انظر سیر اعلام النبلاء"

لیکن مسلم کښې د عمار بن یاسر رضی الله عنه نه مروی د جنابت حدیث نه د عمر رضی الله عنه انکار د قرائینو خلاف معلومیږی ځکه چه قرآن کښې د جنابت د تیمم سره متعلق احکامات نازل شوے وو سیدنا عمر رضی الله عنه څنګه به د دغے احکاماتو نه چه یو دا دے چه د جنب دپاره تیمم شته غافل اوکنړلے شی

د حدیث د کفین جواب

امام نووی رحمة الله علیه فرمائی "انّ المراد بنا صورة الضرب بتعلیم ولیس المراد بیان جمیع ما یحصل به التعلیم" چه دا پریکټیکل او د عملی تعلیم یو صورت مقصود کول وؤ او ددے نه تول هغه بیان نه دِ مراد چه په هغے تیمم حاصلیږی"

Maktaba Tul Ishaat.com

الحق الصریح او د شیخ نووی په توجیه رد

د دغې توجیه باره کښې لیکی دا خبره خطا ده چه نبی صلی الله علیه وسلم ورته پوره طریقه ولے نه خودله؟ (ځکه هغه ورته معلومه وه لیکن د جنابت د تیمم او د بے اودسۍ دَ تیمم فرق ورته نه وؤ معلوم) پوره کیفیت زده کولو ته ځکه محتاج نه دے چه توضیح د واضحاتو ته حاجت نه وی او تول کیفیت ته پکښې اشاره راغله "انّما یکفیک" سره پوره طریقه ذهن کښې منقوش کولو ته اشاره ده مولانا صاحب د حافظ ابن حجر رحمة الله علیه په تقلید کښې امام نووی رحمة الله علیه ته غلط اوئیلو او هغوی دغه لیکلے دی چه دَ سیاق نه معلومیږی چه د عمل صورت مقصود نه دے لیکن د عمار رضی الله عنه د جنابت د لرې کولو د پاره د ټول بدن تیمم کړے وؤ نو نبی علیه السلام ورته صرف طریقه اوخودله چه دغسې کول کافی دی او ټول بدن دوړمند کولو ته ضرورت نشته نو د عمل صورت پریکټیکل ئے ورته ښودل مقصود وی چه صورت د عمل واضح شی اشعة اللمعات کښې شیخ عبدالحق رحمة الله علیه لیکلے دی "مقصود بیان تیمم بتمامہ نیست پس اقتصار کردن برآں از جہت کفایت کردن در تعلیم ضرب بدلیل ذکر زراعین تا مرفقین در احادیث دیگر در جائے کہ مقصود ذکر تیمم بتمامہ بود، بعض مے گویند کہ مراد از کفین از ایشما یدین است" مقصد ټوله طریقه بیانول نه وؤ نو په دے جهت ئے اکتفاء اوکړه ځکه نورو احادیثو کښې تر څنګلو دَ مسح کولو تذکره راغلے ده، بعض وائی چه د کفین نه دلته لاسونه مراد دی لکه چه کله د "ید" نه "کف" مراد وی لکه "والسّارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما" آخر کښې لیکی "قول بضربتین ارجح واقوی است" راجح او قوی دلیل دَ دوو ضربو دے، دلته مظاهرحق کښې هم دی چه د کفین نه زراعین یعنی تر څنګلو لاس مراد دے

الحاصل د عمار بن یاسر رضی الله عنه نه مختلف سندونو سره مختلف الفاظ نقل دی یو ضرب سره چه په مخ او تلو باند لاس راکاږے بخاری ۱ـــ۴۸، مسلم ۱ـــ۱۱۶" او په دوه ضرب یو مخ له او دویم لاسونه له تر څنګلو (بزار نصب الرایه ۱ـــ۱۵۴) او الدرایه کښې حافظ ابن حجر ورله سند ته حسن وائی)

امام طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه سیدنا اسلع هغې سفر کښې وؤ چه په کوم کښې د تیمم آیت نازل شوے دے ورته ئے اوفرمائیل "قم فتیمم صعیدًا طیّبًا ضربتین، ضربة لوجهک وضربة لذراعیک ظاهرهما وباطنهما" طحاوی صـــ۸۲

او سیدنا ابوهریرة رضی الله عنه دَ څنګل اوسیدونکو ته دغه طریقه اوخودله بیهقی ۱ـــ۲۰۶

او مصنف ۱ـــ۱۵۸ ، او مسند د امام زید صـــ۷۷ باند عن علیؓ : ضربة للوجه وضربة للذراعين الى المرفقين"

کتاب الأحکام للقرطبی صـــ۹٤ د علامه بن عبدالبر په حواله لیکی "قال ابو عمر لما اختلف الاثار فی کیفیة التیمم وتعارضت" نو داسے وخت کښں ظاهر د کتاب ته رجوع کول پکار دی اودس کښں مخ له مستقله لپه وه او لاسونه تر څنګلو مستقل وینځل وو تیمم کښں به داسے کیږی قیاسًا علی الوضوء و اتباعًا لفعل ابن عمر

(امّا انت فلم تصلّ) مرقات کښں دی چه امید ئے دا وو چه د وخت د وتلو نه مخکښں به اوبو ته اورسم (۲) عقیده ئے دا وه چه تیمم صرف د حدث اصغر د وجے وی او دا اظهر دے (۳) ده ته حکم نه وو معلوم او دغه وخت کښں تپوس دَ حکم ورته آسان نه وو

(٤):وَعَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ قَالَ: مَرَرْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتَّى قَامَ إِلَى جِدَارٍ فَحَتَّهُ بِعَصًى كَانَتْ مَعَهُ ثُمَّ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيَّ. وَلَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيحَيْنِ وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَكِنْ ذَكَرَهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حسن،

ترجمه : د ابو الجهیم نه روایت دے چه په نبی علیه السلام داسے حال کښی تیریدم چه واړه بول ئے کولو خوما په هغوی سلام اوکړو جواب ئے را نه کړو تر دے چه دیوال سره اودریدو او په همسا ئے لرِ اوتوګلو بیا ئے دواړه لاسه په دیوال کیخودل او په مخ او دواړو لاسونو ئے مسح اوکړه بیا ئے د سلام جواب راکړو او ما دا روایت په صحیحینو او کتاب حمیدی کښں نه دے موندلے لیکن دا ئے په شرح السنّة کښں ذکر کړے دے او دا حدیث حسن دے

تشریح : تعارف د ابوالجهیم

Maktaba Tul Ishaat.com

المفاتیح کښې دي دده نوم حارث بن الصمة بکسر الصاد او د میم په تخفیف سره دے انصاری دے ، اشعة اللمعات کښې دي "صحابی مشهور خواهرزاده ابی بن کعب ، باقی ماند تا وفات معاویه ، دا مشهور صحابی دے او د ابی بن کعب خورئے کیږی او د معاویه تر وفات ژوندے وو

واضحه دِ وی چه ابو جهیم درے ځایه راغلے دے یو دلته تیمم کښې او دویم ابواب السترة او دریم ابواب اللباس کښې ، کوم حدیث کښې چه ابواب اللباس کښې راځي "وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جهم فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلَاتِ" ما له د ابو الجهم شرئ راوړئ ، محققین لیکی دلته به بکسر وئیلے کیږی یعنی ابوالجهم او ابواب السترة او تیمم دواړو کښې متفرد دے یعنی ابوجهیم داسے اختلاف دے چه د تیمم او د سترے د بابونو ابو جهیم یو دی یا دوه جدا شخصیتونه دی دَ اصحاب الرجال دے کښې دواړه قوله دی دغسے دا اختلاف دے چه دا الحارث دے یا ابن الحارث ، دواړه قوله شته دلته "الحارث" ذکر شوے دے ارواء کښې علامه البانی ص۱۴۳ باند لیکلے دی "انّ النبی تیمّم فرد السلام صحیح وله شاهد من حدیث ابن عمر اخرجه ابوداؤد ، والدارقطنی واسناده صحیح ص۱۸۰

(فحتّه بعصًا) نبی علیه السلام به ځان سره عصا گرځوله سنت طریقه ده مرقات کښې دی دا توکل یا دے له وو که څه قاذورات پرِ وی چه لرے شی ښخوا به خلقو کچه دیوالونو له د ختے هغه خاړه ورکوله چه سوتے به ئے پکښې کړے کړے وے او یا اشاره ده افضل طریقے ته،

(ردَّ عليَّ) ملا علی قاری لیکلے دی چه د سلام جواب ورکول واجب دی

دده حدیث الفاظ که بعینه نشته لیکن مضمون دده موجود دے او دا حدیث ضعیف دے ، مسندالشافعی کښې د امام شافعی شیخ ابراهیم عن ابی الحویرث دی او دواړه ضعیف دی او امام مالک رحمة الله علیه فرمائی چه دے کښې انقطاع ده ځکه جهیم د خپل مروی عنه نه چه اعرج دے ملاقات نه دے ثابت" او دَ لفظ "حت" زیادت د غیر ثقة نه دے او دغه د استدلال محور دے او د امام محمد رحمة الله علیه مذهب دا دے چه احتیاط او استحباب په لصوق کښې دے سلام فی حالة البول نه اجتناب پکار دے دوی ته به مسئله نه وه معلومه.

الفصل الثاني

(٥): "عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الصَّعِيدَ الطَّيِّبَ وَضُوءُ الْمُسلم وَإِن لم يجد لاماء عشر سِنِين فغذا وجد الْمَاء فليمسه بشره فَإِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ إِلَى قَوْلِهِ: عَشْرَ سِنِين"

ترجمه : سيدنا ابوذر رضي الله عنه فرمائي چه نبي عليه السلام ارشاد فرمائيلے دے يقينا پاكه خاوره دَ مسلمان دَ اودس غونډے ده اګر چه اوبه نه مومي تر لسو كالو ، كله چه ئے اوبه اوموندلے دے په هغے خپل بدن اوبنځي دا ددۀ دپاره ضروري دي،

تشريح : پاكه خاوره اكثر ائمه فرمائي دَ زمكے دپاسه ټولے سطح ته وئيلے شي، علامه خطابي فرمائي : دَ احنافو استدلال دے چه تيمم دَ اودس حكم لري او دليل دے چه تيمم طهارت مطلقه دے ځكه طهور ئے ذكر كړے دے ، دے مسئله كښې امام بخاري رحمه الله دَ كوفيين او دَ جمهورو ملګرے دے علامه طيبي ليكلے دي چه په كلام كښې تشبيه ده "يعني تشبيه بليغ" پاكه خاوره پاكئ كښې دَ اوبو غونډے ده او يا طهور په معني دَ مطهر ده يعني خاوره مسلمان لره پاكونكے ده ،

خير : خير دلته تفضيل له نه دے بلكه كله كله دا لفظ دَ وجوب او دَ فرضيت په ځائے كښې استعماليږي لكه قرآن كښې دي "وان تصوموا خيرلكم"

فاذا وجد الماء : چه اوبه مومي او په استعمال ئے قادر وي ، او "اذا" يا شرطيه دے يا ظرفيه دے ،

او دَ لسو كالو تحديد نه دے مراد بلكه كثرت مراد دے هر څومره دير وخت وي ، احناف چه "ميل" ذكر كوي چه اوبه به ګوري دا تحديد شرعي نه دے بلكه تخميني اندازه دغه وي چي بيا ملګري او قافله لاندے كولے شي ، لكه هدايه كښې دي "ثم يطلب مقدار الغلوة ولا يبلغ ميلا كيلا ينقطع عن رفقته وان كان مع رفيقه" "غلوه" ١٥٠ ګز ده،

(٦): "وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: خَرَجْنَا فِي سَفَرٍ فَأَصَابَ رجلا منا حجر فَشَجَّهُ فِي رَأسه ثمَّ احْتَلَمَ فَسَأَلَ أَصْحَابه فَقَالَ هَل تَجِدُونَ لي رخصَة فِي التَّيَمُّم فَقَالُوا مَا نجد لَك

Maktaba Tul Ishaat.com

رخصة وَأَنت تقدر على الْماءِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أخبر بذلك فَقَالَ قَتَلُوهُ قتلهمْ الله أَلا سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَن يَتَيَمَّم ويعصر أَو يعصب شكّ مُوسَى عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا وَيَغْسِلَ سَائِر جسده. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه : جابر رض فرمائي مونږ يو سفر كښې اووتلو مونږ كښې يو كس په ګټه اولګيدو په سر ئے زخم راغے ، احتلام ورته اوشو دَ خپلو ملګرو نه ئے تپوس اوكړو چه تاسو ماله دَ تيمم كولو رخصت مومئ دوي ورته اوئيل چه مونږ تاله دغه رخصت نه ګنړو حالانكه ته دَ اوبو په استعمال طاقت لرے پس اوئے لامبل نو مړ شو كله چه مونږ نبي عليه السلام له راغلو ددغے واقعے خبر ورله وركړے شو اوئے فرمائيل دوي هغه وژلے دے الله دے دوي اوژني چه كوم وخت كښې نه پوهيدل تپوس ئے ولے اونه كړو دَ ناپوهئ علاج تپوس كول دي دهٔ له دا كافي وه چه تيمم ئے كړے وے بيا به ئے په دے مسح كړے وه او نور ټول بدن به ئے وينځلے وو دَ ابوداود روايت دے او ابن ماجه دَ عطا بن ابي رباح نه او هغه دَ ابن عباس نه ددے روايت كړے دے ،

تشريح : (دَ عطاء بن ابي رباح مختصره تذكره)

دَ دوي نوم اسلم القرشي وو غلام وو ثقه او فقيه او فاضل شخصيت وو دَ دريمے طبقے دے ، كثيرالارسال دے دَ سنت اتباع كښې مشهور دے ابن حبان ئے په ثقاتو كښې ذكر كوي تابعي دے دَ ابو هيثم الفهري غلام وو ليكن الطبقات الكبري ص:٥٩ باندے دي چه دَ ابو ميسره الفهري غلام وو روستو آزاد شوے دے ، ابو محمد ئے كنيت دے ، دَ يمن ، جنبد نومے ځائے كښې ٢٧ هجرئ كښې پيدا شوے وو او مكه كښې لوے شوے دے ، تک تور كانړه ، ګوډ او شل وو په آخر دَ عمر كښې ړوند شوے وو دَ دوي استوګنه تر مرګه مسجد حرام كښې وه كاشف كښې دي چه علوم ئے دَ عائشه رض ، ابوهريره رض او دَ دير مخلوقات نه حاصل كړے وو ، او شاګردانو كښې امام اوزاعي ، ابن جريج ، امام ابوحنيفه او ليث رحمهم الله راځي ، امام ابوحنيفه رح فرمائي ما دَ دوي نه غوره نه ليدلے او مسندامام اعظم كښې دَ عطاء نه تقريبا ٢٥ آحاديث دَ دوي په طريقه راغستے دي دَ امام ابو حنيفه رح زيات روايت دَ دوي نه او دَ حماد بن ابي سليمان نه دي دَ دوي وفات دَ مشهور قول مطابق ١١٤ هجري ده او څوک ١١٥ هم يادوي ، امام نووي

كتاب المجموع ۲: ۲۸۰ باندے ليکلے دي "وعطاء من كبار ائمة التابعين في الفقه والزهد والورع وغير ذلك وهو أحد شيوخنا في سلسلة التفقه فهو شيخ ابن جريج الذى هو شيخ مسلم بن خالد الزنجي شيخ الشافعي"

(العي) : چه ضبط او بيان نه شي کولے ، الکاشف کښې علامه طيبي ليکلے دي او وائي چه په دے کښې مطابقت معنوي دے ځکه چه دَ عي تقابل دلته دَ عدم علم سره دے او مقابل حقيقي دَ جهل ، علم دے مسئله داده چه کله جنب دَ يخ نه ظن غالب دَ سخت مرض لري تيمم ورله کول پکار دي ،عبدالرحمن بن جبير دَ عمروبن العاص نه داسے روايت کوي ، عبدالرحمن بن جبير دَ خارجه ازاد شوے غلام وو،

(فشجه في رأسه) : نه معلوميږي چه په سر ئے زخم دَ کاڼړي دَ لګيدو دَ وجے راغلے وو او زخمي وو دلته مراد هغه مرض دے چه دَ اوبو استعمال ورله نقصاني دے ، که دَ اوبو استعمال نقصاني نه وي ، نو بيا به غسل کوي او داسے هم روايت کښې راځي چه يو صحابي جنب وو او په دهٔ ډيرے ننکيځ وے دَ غسل باره کښې دَ ملګرو نه تپوس اوکړو چه غسل ئے دَ هغوي دَ جواب مطابق اوکړو وفات شو دَ مرض زيادت دَ مرګ سبب دے او دَ مرګ يره اباحت دَ تيمم راولي دغسے دَ مرګ دَ سبب يره هم ده ځکه دا هم په واسطے دَ مرګ يره جوړيږي مسئله داده که ډيره يخه شپه کښې چاته جنابت لاحق شو که لامبي دَ هلاکت ظن غالب ئے دے او دَ اوبو ګرمولو يا حمام کښې په مصر کښې دَ غسل کولو قدرت نه لري دَ امام ابوحنيفه ؒ قول دادے چه دهٔ له تيمم جائز دے ،

مخکښې واقعه کښې نبي عليه السلام عمار ؓ ته څه سرزنش اونه کړو ځکه هغوي اجتهادي طاقت لرو او دلته دَ دوي ملګرو اجتهادي طاقت نه لرلو پکار وو چه خپله تحقيق ته نه شي رسيدلے نو تپوس دے اوکړي په تپوس خلق تر هندوستان رسي نو نبي عليه السلام قهر شوے دے چه تاسو ددهٔ دَ مرګ سبب جوړ شوے ئے ، بذل المجهود کښې دي ددے حديث نه معلومه شوه که دَ مفتي دَ فتوي دَ ورکولو دَ وجے څوک هلاک شو نو قصاص يا ديت نشته ،

شيخ دَ بذل په حاشيه کښې دَ ابن الصلاح محدث نه دا نقل کړے دے که مفتي دَ چا فتوي باندے يو څيز هلاک کړي او دَ فتوي خطا کيدل ورته معلوم شو نو په مفتي به ضمان راځي په دے شرط چه دَ افتاء اهل وي ورنه ضمان به نه راځي او ابن رسلان وائي چه کوم سړے دَ افتاء منصب باندے قائم دے او په دے کښې شهرت او مقبوليت موندلے دے نو بيا دَ مستفتي څه تقصير نشته ، دے حديث کښې يوه

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله ده چه چا تیمم اوکړو او دَ بدن صحتمنده حصه ئے په اوبو اوینځله نو امام شافعي ، احمد فرمائي :خه ئے اوکړل زخمي حصه به نه وینځي بلکه په هغے کښ به دَ تیمم نیت اوکړي او صحیح حصه به په اوبو اوینځي ۰.

دَ احنافو او دَ مالکیانو مذهب

دے کښ اعتبار دَ بدن زیاتے حصے له دے که اکثر زخمي وي صرف تیمم به اوکړي او که اکثر صحیح وي نو هغه به اوینځي او دَ باقي به مسح اوکړي ، لیکن غسل او تیمم به دواړه نه جمع کوي او که دواړه برابر وي بیا دوه روایتونه دي یو دا چه صرف تیمم به اوکړي ، او دوئم دا چه دَ صحیح حصے غسل او دَ زخمي حصے به مسح وي ،

دے حدیث نه معلومه شوه چه پکار دي چه دَ جماعت ملګري خپل امیر ته خپلے کمزورئ ذکر کړي،

دَ حدیث نه عذر

ددے روایت اګر چه ابن السکن تصحیح کړے ده لیکن دارقطني او بیهقي ددے تضعیف کوي ، امام بیهقي ددے تخریج کوي او بیا ئے تضعیف ددے کړے دے او امام نووي خو لیکلے دي "اتفقوا علي ضعفه" اصل دَ حدیث په متن کښ دَ راویانو اختلاف اضطراب وي بعض راویانو په دے کښ دَ غسل او تیمم جمع ذکر کړے ده او څنو صرف غسل ذکر کړے دے چنانچه دَ زبیر بن خریق روایت کښ چه کله دَ عطاء نه نقل کوي نو جمع بین الغسل والتیمم ذکر کوي لیکن اول خوزبیر بن خریق ضعیف دے ، دوئم دَ عطاء نورو شاګردانو ئے مخالفت کړے دے چنانچه اوزاعي دا حدیث دَ عطاء نه بلاغا روایت کړے دے او په هغے کښ صرف دَ غسل ذکر دے دَ تیمم نشته ،

دوئمه توجیه داده چه ان یتیمم ویعصب علي جرحه ، کښ واو بمعني "او" دے تیمم او مرهم پټئ کښ به مذکوره حالت ته ګوري ، او بدل مبدل منه کښ به جمع نه راولي ،

دلته دا هم ملحوظ ساتل پکار دي چه دَ ابن ماجه په طریقه کښ دا جمع نشته هلته داسے دي "قال عطاء وبلغنا ان رسول الله صلي الله علیه وسلم قال لو غسل جسده وترک حیث اصابه الجراح ، انتهي،

مسئله دَ تقليد

الحق الصريح کښې دي "الّا سألوا اذا لم يعلموا" نه مقلدين په تقليد استدلال کوي چه سوال تقليد دے ،او ليکي چه په دے حديث کښې رد دے په تقليد باندے لکه دغه صحابي دَ نورو ملګرو تقليد اوکړو نو ځکه مړ هم شو، نبي په دوي رد ځکه اوکړو چه دوي ورته "مانجد لک" اووے آيت او حديث ئے ورته بيان نه کړو،

جواب الجواب

سبيل الرشاد :۲۳ باندے مولانا رشيد احمد ګنګوهي ليکلے دي : چه هر عامي ته ظاهر حديث باندے فقط ترجمه کتل او عمل کول به څنګه صحيح شي بالضرور داسے جاهل مفتي دَ "قتلهم الله" مصداق دے،

الحاصل : هر محل کښې هر عامي له ظاهر دَ حديث باندے عمل صحيح نه دے البته چه کوم دَ اجتهاد ځايونه نه دي هلته خير دے چه حکم هلته صفا وي ددے دعوے کونکو دَ اتباع سنت زعم ددے حديث نه خپله باطل شو، عام صحابه رضي الله عنهم دَ نن صبا دَ اجتهاد دَ دعوي کونکو نه په سوونو درجه زيات عالمان وو او ظاهر قرآن او حديث باندے فتوي وزکړه فتوي دَ دوي مردود شوه او حکم دَ مسئلے دَ تحقيق علماؤ ته حواله شو، او ددے جاهلانو غوندے دَ دوي تصويب اونه کړو،

دا يو ګردان دے چه زما دَ زمانے جعلي دوئم نمبر مجتهدينو ډير خه ياد کړے دے دَ سورة ال عمران په ابتداء کښې دَ "واخر متشابهات" دَ لاندے تفسير احسن الکلام او دغسے حکمت القرآن کښې دغه تفصيل شته،

دَ فروع او دَ اعتقادياتو په تقليد کښې فرق

صاحب دَ مفتاح السعادة ليکي : لکن ينبغي لمن يقلد مذهبا في الفروع ان يحکم بان مذهبه صواب ويحتمل الخطا ومذهب المخالف خطأ تحمل الصواب وذالک لوازم الظنية"

دا دَ ظنيت لوازم دي چه فروعو کښې څوک دَ مذهب معين تقليد کوي وائي به چه زما مذهب صواب دے او دَ خطا احتمال پکښې دے او دَ مخالف مذهب خطا دے او دَ صواب احتمال لري، ، بخلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

الاعتقاديات التي يطلب فيها اليقين لكون دلائلها عقلية يقينية حيث هو يحكم فيها بأن مذهبه حق جزما ومذهب المخالف خطأ قطعا لانه من اللوازم القطعية ، انتهي،
او دَ اعتقادياتو صورت کښې يقين طلب كيږي او دلائل ئے عقلي او يقيني وي دلته به وائي زما مذهب جزما حق او دَ مخالف هغه حتمي خطا دے ځکه دا خو دَ لوازم قطعيه نه دي ،
كشف الظنون عن اسامي الكتب والفنون :۲: ۱۲۸۱ او ددے دَ فرق وضاحت او دَ امثله تطبيق امام غزالي احياء العلوم کښې په بحث دَ امر بالمعروف او نهي عن المنكر کښې تفصيلا مدلل کړے دے ،

دَ امام ابو يوسف فتوي

كفايه : ۲: ۲۹٤ باندے دي العامي اذا سمع حديثا ليس له ان يأخذه بظاهره لجواز ان يكون مصروفا عن ظاهره او منسوخا بخلاف الفتوي ،
غير مجتهد که حديث واوري په ظاهر ئے ځکه نشي اغستلے کيدے شي دَ خپل ظاهر نه اړولے شوے يا منسوخ وي او فتوي غير منسوخ او دَ ظاهر سره مطابق وي ، او احياء العلوم :۱ : ۷۸ باندے ذي چه دَ صحابؤ دَ مجتهدينو تقليد ځکه دے "ان نعلم يدل علي سماعهم من رسول الله اذا قلد صاحب الشرع ، چه دَ دوي فعل دَ هغوي دَ پيغمبر نه په اوريدو دلالت کوي کله چه دَ صاحب الشرع تقليد کوي ، او فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت للعلامه بحرالعلوم المتوفي :۱۲۳۵ هجري په صفحه : ٦٢٩ باندے دي "(وعليه ابتنى ابن الصلاح منع تقليد غير) الأئمة (الأربعة) الإمام الهمام إمام الأئمة امامنا أبي حنيفة الكوفي والإمام مالك والإمام الشافعي والإمام أحمد رحمهم الله تعالى وجزاهم عنا أحسن الجزاء (لان ذلك المذكور (لم يدر في غيرهم وفيه ما فيه) في الحاشية قال العراقي انعقد الاجماع على أن من أسلم فله أن يقلد من شاء من العلماء من غير حجر"
ابن الصلاح دا وائي اصح الكتب بعد كتاب الله الباري الكتاب البخاري دے او دے قول ته درجه دَ محبوبيت رسيدلے ده ، نو دغه ابن الصلاح په دے بناء وئيلے دي چه دَ څلورو امامانو نه علاوه تقليد به نه كيږي ځکه ددے نورو تفصيلي مذاهب دَ عدم تدوين دَ وجے نه شي معلوميدے ،
او صراط مستقيم فارسي : ٦٩ باندے سيد احمد شهيد دهلوي ليکي : "در اعمال اتباع مذاهب اربعه که رائج در تمام اہل اسلام است خوب است" علماء په لکھونو دي ليکن چه مذاهب ئے مدون او محرر دي دغه څلور دي

تمام مسلمانان دَ دغے تابعداري چه کوي خه کوي په زرګونو کښې دغه څلور پاتے شوے دي او منزل دَ تولو یو دے خو دَ رسیدو لارے جدا جدا دي ، مجتهد مکمل تحقیق کوي او محدث صرف جزوي تحقیق کوي چه راوي ثقه دے یا نه دے بلکه صرف دَ حدیث دَ یو کتاب نه اګر چه اصح او معیاري دے کله تولو مسئله دَ هغے نه راوباسل ګران کار دے، مثلا دَ بخاري شریف دَ کتاب الاذان او دَ بخاري دَ کتاب الجنائز نه تول اذان او دَ جنازے ترتیب وار مکمل طریقه محدث راوباسي،نشي کیدے،

او دَ مجتهد ظن قابل اعتماد نه وي بلکه دَ دوي فتوي قابل اعتماد وي او دَ مقلد ظن خو قابل اعتماد دَ سر نه نه ګرځي ځکه مسلم الثبوت کښې دي "لاظنه ولاظنه" او که څوک یوه مسئله کښې دَ یو امام او بله کښې دَ بل امام تقلید اوکړي او بیا به هم په هر صورت کښې لکهونو عالمان پریږدي تقلید خو دَ دغے یو اوشو په یو مسئله کښې دَ متعدد خلقو تقلید نه کیږي چه دَ کوم امام تقلید شوے دے هغه شخصي تقلید دے او که ماشام ئے دَ بل نه تپوس اوکړو نو دے چونکه غیر مجتهد دے صرف دَ دغے یو امام نظریه دهٔ منلے ده ،

وائي دَ هر جید عالم نه تپوس کولے شے (الحق الصریح)

لیکن تر دے وخته زما نه یو غیر مقلد داسے تپوس نه دے کړے چه بیا پرے عمل هم کوي صرف دَ خپلو معلوماتو خودلو یا دَ اختلاف پیدا کولو دپاره تپوس کوي ، واضحه دے وي : چه دَ اصح الکتب دَ مصنف دَ باب او دَ رائے نه اختلاف او دَ بخاري دَ حدیث نه اختلاف جدا جدا حقیقتونه دي ځکه اصح الکتب سندا دے مجموعي لحاظ سره نه فهما نه ، فقها او نه درایة،

الحق الصریح

دا کوم عقل دے چي دین یو عالم پورے خاص کړي شي او په لکهونو علماء پریخودلے شي ،

دَ شبهے وضاحت

احناف خو دَ یو مذهب تقلید کوي خاص دَ یو شخص معین تقلید نه کوي لیکن دَ یو شخص دغسے منل او دَ وخت تول علماء پریخودل دا دَ هغے علامه ابن قیم کار دے چه دَ تقلید رد نه ئے بدے وهلے وے ،

Maktaba Tul Ishaat.com

درے حوالے بطور مثال دَ نواب صاحب دَ کتاب نه

(۱): التاج المکلل کښې نواب صديق حسن خان صاحب نمبر: ۴۸۳ باندے صفحه:۴۱۱ باندے ليکلے دي "وقال العلامه الشوکاني في البدر الطالع "وغلب عليه حب ابن تيمية؛ حتى كان لا يخرج عن شيء من أقواله، بل ينتصر له في جميع ذلك، وهو الذي نشر علمه"
علامه شوکاني په بدر الطالع کښې ليکلے دي چه ابن قيم باندے دَ ابن تيميه محبت غالب شوے وو (هغه موافقت كيف ماااتفق نه يادوي) تر دے چه دَ دوي دَ اقوالو نه به هيڅ قول کښې نه وتلو بلکه دَ هغه مدد به ئے په ټولو دغه اقوالو کښې کولو او دے ابن قيم دَ هغه علم خور کړے دے ،
عبارت کښې سوچ پکار دے دَ "شيئ" غوندے نکره په سياق دَ نفي کښې راغلے ده او "بل" دَ ترقئ پکښې نوره ترقي راولي ، دا وس کوم عقل دے او دا خبره دوه مجتهدين قاضي شوکاني صاحب او نواب صاحب نقل کوي دَ يو اجر به مستحق وي او که دَ دوو، مثلا دَ جهنم دَ فناکيدلو علامه ابن تيمه قائل دے نو علامه ابن قيم وريسے روان دے،
(۲): عبدالله بن محمد احمد الهروي شيخ الاسلام ابو اسماعيل حالات په صفحه:۱۷۵ باندے دغه تاج کښې ذکر کوي او غير مقلد پرے دغه قيمتي تاج خائسته کوي ، دَ دوي باره کښې ددے کتاب ص:۲۶۹ باندے دَ ذهبي په حواله نقل کوي چه دَ سنت ښکاره کونکے او داعي دے فلسفيانو او ملحدينو باندے رد کونکے دے او دَ ملامتکر دَ ملامتيا نه دوي يره ترخه نه کوله دَ حديثو حافظ او دَ لغت ماهر وو دا هغه شخصيت دے چه منازل السائرين ئے ليکلے دي او دَ کتاب ص: ۱۷۷ باندے دي چه دَ شيخ الاسلام ابن تيميه په "الاجوبة المصريه" کښې ليکلے دي : شيخ الاسلام وو مشهور او دَ خلقو په نزد معظم شخصيت وو حديث ، فقه ، تصوف ، لغت او تفسير کښې امام وو او په فقه کښې دَ محدثينو په مذهب وو او اتباع الحديث په دوي غالب وو په طريقے دَ عبدالله ابن المبارک وغيره باندے،
دغه موصوف په هراة کښې دَ خپل مجلس په ورځ په ممبر کيناستلو اوئے فرمائيل : انا حنبلي ما حييت وان امت : : فوصيتي للناس أن يتحنبلوا
چه تر څو ژوندے يم حنبلي به يم او که مر شوم زما خلقو ته دا وصيت دے چه حنبليان به پاتے کيږي (ولے دَ امام احمد نه بغير بل څوک نه وو)

او په صفحه: ۱۷۵ باندے نواب صاحب وائي "عرضت على السيف خمس مرات، لا يقال لي: ارجع عن مذهبك، لكن يقال لي: اسكت عمن خالفك، فأقول: لا أسكت." ما باندے پنځه ځله توره راوچته شوه دا ئے راته نه وے چه مذهب پریږده لیکن ماته ئے وئیل دَ خپل مخالف نه چپ شه ما به وئیل دَ غلے کیدو نه یم او دا مقابله دَ فلسفیانو او دَ ملحدینو سره نه ده بلکه وړپسے لیکي : "واجتمع أئمة الفريقين من أصحاب الشافعي وأصحاب أبي حنيفة، وطلبوا المناظرة معًا، فقال: أناظر على ما في كمي، فقالوا: وما في كمك؟ قال: كتاب الله وأشار إلى كمه اليمين وسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم وأشار إلى كمه اليسار وكان فيه الصحيحان،" چه احناف او شوافع دواړو ډلو امامان راجمع شو ما سره ئے مناظره کول غوښتل ماورته اووے زما په لستونړي کښ چه څه دي دَ هغے په مدد به مناظره کوم تپوس ئے اوکړو څه دي؟ اوئے فرمائیل دواړه لستونړو کښ دَ الله کتاب او بخاري او مسلم دي ، هغه تحقیق کړے وو چه حنبلي مسلک ددے قرآن او دَ بخاري او دَ مسلم آحادیثو سره برابر دے ځکه په دے قائم وو او وصیت ئے په ممبر کړے وو او دا وصیت دَ ارواء الغليل مقدمه کښ هم شته، بينوا توجروا ولا تخافوا لومة لائم،

(۳): دَ تاج په صفحه:۱۷ باندے لیکي : ابوبکراحمد بن الحسين بن علي البيهقي الفقيه الشافعي ، الحافظ الكبير المشهور " دَ دوي باره کښ امام الحرمين وئیلے دي چه هر شافعي دَ امام شافعي دَ احسان دَ لاندے دے ، لیکن بیهقي نه دے دَ احسان دَ لاندے "إلا أحمد البيهقي، فإن له على الشافعي منة، وكان من أكثر الناس نصرًا لمذهب الشافعي،" امام بیهقي دَ امام شافعي دَ مذهب دَ تأیید و نصرت دَ ټولو نه زیات کړے دے انتهي ،

نن هم دَ امام بیهقي جمع کړي شوي روایات دلیل کښ په ډیره مینه پیش کیږي، او مونږه کم علم والا دَ هغے جهابذه دَ علومو دَ خپو دوړے ته نه رسو ، هغوي تقلید کړے دے څه زمونږ پشان به نه وي ، ددے دور عالمان چه عربي دَ کتاب بعض عبارات غلط وائي هغوي دے دَ اجتهاد مقام ته اورسي؟ ، او خپل ټول کوشش دے دهٔ دغے امامانو په خلاف کښ خرج کړي ځکه که تقلید بدي ده نو دَ امام احمد تقلید کونکي حنبلیان دَ سعودي هم بد دي ، هلته سعودي کښ دَ هغوي په خلاف یو کیسټ دوه ډک کړئ ، چه پته ئے اولګي او که دَ سعودیانو حاکمانو په هغے ښکاره غلطو مسئلو داسے رد مو شروع کړو لکه دَ احنافو تردید چه کوئ "نو بیا خو راشه که تودیګے"

تقليد چه سرے په شرائطو کوي خه پرے ښکاره کېږي لکه توره چه دَ سرو او هار دَ ښځو دپاره زينت وي (معني لغوي مراد ده)

"عن أبي هريرة قال قلد جبريل رسول الله صلى الله عليه وسلم سيفا يوم بدر ثم قال يا محمد نعم التقليد لأمتك فإذا كانت الفتنة فالتقليد به فتنة" (الكامل في ضعفاء الرجال : ٥: ٣١٨) څنګه چه دَ تورے استعمال دوه قسمه دے دغسے تقليد محمود او مذموم دے،

علامه الباني صاحب خپل کتاب الحديث حجة بنفسه في العقائد والاحكام ص:٤٥ باندے ليکلے دي "ولا الأئمة الأربعة الذين يقلدهم جماهير المسلمين في كل العصر الحاضر" چه جمهور مسلمانان په دے زمانه کښ دَ څلورو امامانو تقليد کوي ،

مولانا صاحب الحق الصريح کښ ليکلے دي : (انصافي خبره) دا هيڅ دَ انصاف خبره نه ده ،

الجواب : شاه ولي الله دَ مولانا صاحب هم په استاذانو کښ راځي دَ هغوي دَ کتاب نوم دے "الانصاف في بيان سبب اختلاف" مع اردو ترجمه ، ناشر ډاکټر محمد عبدالرحمن غضنفر ، ددے کتاب انصافي خبره ص: ٦٩ باندے دَ اوګد بحث نه روستو نقل کوي "فاذا كان إنسان جاهل في بلاد الهند أو في بلاد ما وراء النهر وليس هناك عالم شافعي ولا مالكي ولا حنبلي ولا كتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه أن يقلد لمذهب أبي حنيفة ويحرم عليه أن يخرج من مذهبه"

ترجمه : که يو انسان په هند پاکستان او ما وراء النهر کښ جاهل وي او بل څوک عالم شافعي ، مالکي ، او حنبلي او يا ددے مذاهبو کتاب نه وي دَ باندے دَ امام ابوحنيفه تقليد واجب دے او په دَهٔ دَ خپل مذهب نه وتل حرام دي کني دَ شريعت رسۍ به دَ غټه اوباسي او هسے شاړ بے فائدے به جوړ شي ليکن حرمينو کښ دَ ټولو مذاهبو معرفت آسان دے الخ

معلومه شوه که چا کتابونه دَ نورو امامانو دَ فقے په يو عجيبه طريقه پيدا کړے هم وي ، شاه صاحب به څلورو مذهبونو کښ په پوره مذهب دَ پاتے کيدو خبره کوي ليکن عوام يا برائے نام غير مجتهد، غير ترجيح والا عالمان به دَ امام ابوحنيفه تقليد نه پريږدي څکه خو شاه صاحب اول وخت کښ نه بلکه چه کله حرمينو ته ئے تشريف وړے دے ، فيوض الحرمين کښ په درے خبرو کښ يوه خبره روستني دور کښ دا ليکلے ده (ثانيها)الوصاة بالتقليد بهذه المذاهب الاربعة" او دَ ملاعلي قاري عبارت بعض خلق نيمګړے راځي پوره عبارت دَ شرح عين العلم ص: ٥٤ باندے داسے دے "ولا يجب على هذه الامة

ان يكون حنفيا او شافعيا او مالكيابل يجب علي احاد الناس اذا لم يكن مجتهدا ان يقلد واحد من هؤلاء الاعلام لقوله تعالي : فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون"

ترجمه : ددے امت هيڅ مجتهد علي الاطلاق باندے دا ضروري نه ده چه هغه دے حنفي ، شافعي ، مالكي جوړ شي بلكه چه كله عام افراد مجتهدين نه دي دوي به دَ دغے مشرانو دَ يو تن تقليد ځكه كوي چه: فاسئلوا الذكر ان كنتم لاتعلمون"

الحق الصريح كښې دي : اذا لم يعلموا " كله چه خپله قرآن وسنت باندے پوهيدلے نو تپوس ته ضرورت نشته نو دا تپوس به ضرور دَ ژوندي نه كيږي،

الجواب : الامداد الرجيح اول جلد كښې موړ بحث شوے دے چه تپوس به آيا صرف دَ ژوندي نه كيږي او كه دَ وفات شده عالم كتابونو ته به هم رجوع كيږي بيا دَ هغے اعاده نه كوؤ ليكن دے عبارت كښې ملاعلي قاري صفا اوليكل چه غير مجتهد به هم ددغے څلورو مشرانو نه تپوس كوي ځكه دوي كښې اهليت نشته ، النافع الكبير ص: ۸ باندے علامه عبدالحيي ليكلے دي : والمراد بالاهلية ان يكون عارفا الخ " دَ اهليت دا مطلب دے چه دے به دَ ټولو اقاويلو نه خبر وي او طاقت به ورسره وي چه بعض له په بعض ترجيح وركړي يعني دَ اصحاب الترجيح نه به وي هله به دے ترجيح وركوي ،

كه غير مجتهد او يا چه دَ ترجيح اهل نه وي دعوي اوكړي چه څلور واړه مذهبونو كښې چه دَ چا مسئله قرآن وحديث ته زياته نزدے وي هغے له به ترجيح وركوم ، دا غلطه خبره ده يو مذهب كښې ترجيح وركولو له دومره علم كافي نه دے چه مثلاً بخاري وفاق كښې په اَللّٰهُمَّ پاس كړي بلكه ډير جور علم به ئے وي او بيا چه څلور واړه مذهبونه بلكه دوي وائي چه ډير نور هم مذاهب دي چه هغے كښې ترجيح وركول دوي كولے شي دَ رفع اليدين ، قراءت خلف الامام ، آمين بالجهر مسائلو كښې څه گزاره اوكړي ، ليكن عمومي لحاظ سره داسے غلطه ده لكه مريض چه وائي دَ داكټرانو نسخے به گورم چه كوم دَ علم طب اصولو سره نزدے وي هغه به استعمالوم يا عام ملزم وائي چه دَ ټولے دنيا دَ ججونو فيصله به دا شخصيت كوي چه قانون ته كومه يوه نزدے فيصله ده ، مولانا ليكلے دي سوال تحقيق دے ، كه تقليد شخصي حرام وي نو تحقيق شخصي به څنگه جائز وي ، كه مجتهد معصوم نه دے دَ حديث راويان هم معصوم نه دي ، غير مقلد دَ بخاري تعليقات حجت گڼري او دَ تابعينو مرسل روايات او بلاغات محمد حجت نه گڼري ،

Maktaba Tul Ishaat.com

اعلام الموقعين : ۸: ۲۴ باندے دَ فقهائے مصر په ذیل کښ دي "وابن القاسم على غلبة تقليده لمالك إلا في الأقل" عموما ابن القاسم (چه حکمت القرآن کښ دي تقریبا شل کاله (کم زیات) دَ امام مالک سره پاتے شو) هغوي به تقلید دَ امام مالک یے دَ یو نحو مسئلو نه کولو بیا هم دَ علامه ابن قیم نه خه وو هغه تولو مسئلو کښ دَ امام ابن تیمیه پسے روان وو دوي ورته موافقت کیف ماتفق وائي باقي دا خبره چه سوال تقلید نه دے بلکه تحقیق دے دا دواړه مانعة الجمع نه دي کله به یو غیرمقلد نیمچه عالم یے دَ تحقیقه دَ خپل ژوندي چه مراعات ئے ورسره وابسته وي تقلید کوي او کله یو ښکلے خائسته حنفي عالم به تقلید تحقیقا کوي مثلا سیراعلام النبلاء :۸: ۹۱ باندے دَ وکیع بن جراح باره کښ لیکلے دي چه "ويفتي بقول اپي حنيفة حالانکه دَ وکیع وفات : ۱۹۷ هجري کښ دَ دوئمے صدئ په آخر کښ دے ،

دَ ابوبکر رض او دَ عمر رض دَ مذهب تقلید ولے نه کیږي

"فمن ظهر له وجوب اتباع مذهب الشافعي لم يكن له أن يؤثر مذهب أبي بكر على مذهبه وهذا متفق عليه إذ لولا ذلك لتعين تقديم مذهب أبي بكر في كل مسألة نقل مذهبه فيها ثم مذهب عمر ثم هكذا على حسب ترتيبهم في المناقب والمراتب" (المؤلف: عبد الملك بن عبد الله بن يوسف بن محمد الجويني، أبو المعالي، ركن الدين، الملقب بإمام الحرمين: ۱: ۲۹۷)(غياث الأمم في التياث الظلم لامام الحريمين المتوفي ٤٧٨ هـ)

المغني : ۲: ۹۲ باندے دي "لان فرض العامي سوال العلماء وتقليدهم لقوله تعالى: فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لاتعلمون".

دَ امام ذهبي خوندور تحقیق

سيراعلام النبلاء:۷: ٤١١ باندے دي "وَلَمْ يَبْقَ اليَوْمَ إِلاَّ هَذِهِ المَذَاهِبُ الأَرْبَعَةُ، وَقَلَّ مَنْ يَنهَضُ بِمَعْرِفَتِهَا كَمَا يَنْبَغِي، فَضْلاً عَنْ أَنْ يَكُوْنَ مُجْتَهِداً." هغه دَ خپلے زمانے خبره کوي پاتے شوه ددے دور خبره ،زما په زمانه کښ صرف څلور مذاهب پاتے دي دیر کم ددے معرفت نه کما حقه خبر دي ، دا ئے لا سه کوے چه مجتهد دے جوړ شي ، دَ سوال په اوبو جرندے نه چلیږي،

الاحكام في اصول الاحكام :٤: ٢٣٤ باندے دي چه عام خلق چه پکښ دَ اجتهاد صلاحیت نه وي هغوي باندے لازم دي چه دَ مجتهدینو دَ اقوالو تابعداري به کوي خواه که ورته بعض هغه علوم حاصل وي چه

په اجتهاد کښې معتبر دي علامه آمدي ليکي : چه دَ قرآن نص صريح ، اجماع او عقلي دلائل په دے باندے شته نص صريح "فاسئلوا" دے واجبه ده چه دا هغه سوال ته عام کړه چه مخاطب ته ئې علم نه وي او په دے اجماع ده چه دَ صحابؤ او دَ تابعينو دَ زمانے دَ تقليد دَ مخالفين دَ ښکاره کيدو نه مخکښې عوامو به دَ مجتهدينو نه فتوي طلب کوله ، زمونږ په دے حديث الباب کښې جواب ورکونکي مجتهدين نه وو ، ځکه نبي عليه السلام غصه شوے دے صحابه کرام ټول په يو مرتبه نه وو ځنے مجتهدين وو او ډير نه وو ،

دَ صاحب الحق الصريح دَ تقليد تعريف

دَ يو څو رنګونو نه پس څلورم نمبر کښې ليکلے دي "تقليد دَ يو سړي رائے پسے روانيدلو ته وائي"
الجواب : زه که دَ ستاسو دا بے حوالے تعريف دَ تقليد اومنم غلطه به کوم ،حواله دَ يو محقق عالم پکار ده ابن خويز منداد چه ابن قيم او ابن عبدالبر دَ هغه قول نقل کوي دواړه خپله مقلدين دي ابن خويز منداد دَ امام مالک مقلد دے او ابن قيم خو دَ علامه ابن تيميه دَ هيڅ قول نه باهر نه راوځي لکه مخکښې تير شو داسے وئيل پکار دي چه بغير دَ حجت او دليل نه دَ غير قول قبلول تقليد دے او دَ حجت نه کتاب ، سنت ، اجماع او قياس مراد دي ورنه دَ مجتهد قول دَ مقلد دليل دے لکه عام سړے چه دَ فقهے او دَ مجتهد نه مسئله معلوموي (فواتح الرحموت: ۲: ۴۰۰ للعلامه بحرالعلوم عبدالعلي بن نظام الدين متوفي:۱۲۲۵)

او اصطلاحي معني دَ تقليد علامه سيد علي بن محمد جرجاني المتوفي : ۸۱۶ هجري معني کوي "انسان دَ غير په هغے قول و فعل اتباع اوکړي په دے اعتقاد چه دا به حق وي په دليل کښې دَ غور فکر نه بغير ګويا تابعداري کونکے دَ قول و فعل قلاده خپلے غاړے ته زوړنده کړي او بے دليله دَ غير قول قبلولو ته تقليد وائي (التعريفات:۴۸ ط دار الفکر بيروت)

معلومه شوه مجتهد سره دليل وي او بے دَ مطالبے دَ دليل دَ هغه منل تقليد دے دے کښې عقيدت او انقياد له دخل دے ، که ثابته شي چه هيڅ دليل نه لري نودغه تقليد مذموم قابل رد دے ليکن غير مقلد دَ ځناورو سره متعلق لغوي معني اخلي ، دَ تقليد نسبت چه انسان ته اوشي نو دَ هغے قلادے نه دے چه په معني دَ هار دے او پټه والا معني هله وي چه ځناورو ته واچولے شي،

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ فقهاؤ دشمن دَ تعصب مظاهره داسے کوي چه دَ تقلید مسائل ټول خرافات او دجل او شیطاني وسوسے دي، ددے موسوس دَ وسوسے :

حقیقت

مولانا صاحب دلته سور دَ موجبے کلیے ذکر کړے دے ټول خرافات دَ دوي صدیق رضا مخکښ وخت کښ اقرار کړے دے چه دَ علامه وحیدالزمان کتابونه زمونږ فقه ده دَ بدور الاهله نوم ئے پکښ اغستلے دے لیکن چه دوي ته دَ وحیدالزمان ، نواب صاحب او دَ شوکاني دَ فقهے بعض غلط عبارات ذکر اوکړے فورا انکار اوکړو چه دا زمونږ مشران نه دي ، مشرکان به میدان قیامت کښ انکاري شي "وتقطعت بهم الاسباب" دوي سره په دنیا کښ داسے چل اوشو ، یو وائي چه صلاة التسبیح شته دَ حدیث نه ثابته ده او بل ورته بدعت وائي ، دَ محب الله راشدي تحقیق دادے چه جنازه په پټه راجح ده او بدیع الدین راشدي صاحب او مولانا نورستاني ترجیح جهر له ورکوي یو پکښ وائي دَ رکوع نه پس دَ رفع الیدین نه بعد لاس تړل مسنون دي او بل وائي بدعت دے او ناجائز دي ، مولانا بدیع الدین مستقله رساله لیکلے ده نشاط العبد لجهر ربنا ولک الحمد چه مقالات راشدیه حصه دوم کښ دَ ۱۸۷-نه شروع کیږي په زوره دَ ربنا لک الحمد وئیلو ته سنت وائي او مولوي صاحب دا نه مني او بدعت ئے ګنړي،لیکن خوک دے یو مفتي به قول دَ احنافو غیر مدلل ثابت کړي ، تاسو خو تقلید نه کوے بیا ولے قرآن وحدیث باندے عمل کولو ته رکاوټ ګرځیدلے ئے ، او هر یو وائي دا زما تحقیق دے لیکن دلته ټول زمونږه فقه ته خرافات وئیلے کیږي :

کس نه گوید در من ترش است!

آخري خبره

احنافو چرته په دیوالونو نه دي لیکلے او نه ئے ستیکرے چهاپ کړے دي چه دَ امام ابوحنیفه رح تقلید کوئ په کتابونو کښ بحث ځانله دے ،

لیکن څه وخت مخکښ زمونږ دَ علاقے ټول دیوالونو باندے لیکلے شوے وو او ستیکرے چهاپ شوے وے او اشتهارات زوړند وو چه :

"سني قوم کا محبوب امام الخ)

ولې تولہ دینا کښې دغه یو دَ سني قوم امام وو په لکهونو امامانو کښې دَ دوي انتخاب کوم مقصد له شوے وو ، دیته وائي تعصب ، ډیره بده بلا ده،

مسح علي الخفين او مسح جبيره كښې فرق

دَ زخم پټئ پرانستل گران دي او په دے کښې حرج دے په دے دَ ضرورت وخت کښې مسح جائز ده اګر چه دَ حدث په حالت کښې تا دغه پټئ تړلے ده ، او دَ ابوداود دَ حدیث یوه حصه ده دَ روایت نمبر: ۳۳۶ چه : ثم یمسح علیها ویغسل سائر جسده" معلومه شوه چه په زخم پټئ تړل او په هغےمسح کول صحیح دي او ابن ماجه کښې باب المسح علي الجبائر کښې ۶۵۷ نمبر روایت دے چه علي تہ نبي علیه السلام حکم اوکړو چه مسح علي الجبيره اوکړه ، او سنن دَ بیهقي کښې باب المسح علي العصائب والجبائر: نمبر: ۱۰۸۲ باندے شته ، او سیدنا ابن عمر فرمائي "ان النبي صلي الله علیه وسلم کان یمسح علي الجبائر" دارقطني باب ما في المسح علي الخفين من غير توقيت "نمبر:۷۴۷ دے کښې دَ موزے پرانستلو نه زیات حرج وي نو په درجه اولي په دے مسح جائز ده ، او هدایه کښې دي "ولا یتوقف لعدم التوقیف بالتوقیت" دے له وخت نه دے متعین او مسح علي الخفين له وخت مقرر دے او چه کوم ځائے پټئ ده په دے کښې که اکثر باندے مسح اوشوه نو کافي کیږي لیکن که دَ نیمے یا دَ نیمے نه کم وي نه کافي کیږي حسن دا فرمائیلے دي ځکه دَ تکلیف دَ وجے پوره پټئ باندے کله کله مسح گرانه وي ، او که چا اودس اوکړو پټئ باندے مسح اوکړه او مینځ کښې زخم نه دے تهیک شوے او پټئ خپله اوغورزیده بیامسح کولو ته حاجت نشته په اوله هم کار چلیږي او که زخم تهیک شو نو مجبوري ختمه شوه مسح به باطلیږي ځکه عذر ختم شو اوس به ددے وینځل پکار وي دغسے دَ مونځ کولو وخت کښې زخم تهیک شو او پټئ اوغورزیدله اودس به کوي مونځ به دوباره کوي دَ مجبورئ وخت کښې په فرع عمل کیدے شي او چه مجبوري ختمه شوه بیا اصل باندے عمل کول ضروري دي ،

زخم دَ بدن هره حصه باندے راتلے شي پټئ هم دَ بدن هره حصه باندے کیخودلے شي لیکن مسح علي الخفين به په طهارت اچوے او صرف خپو سره خاص ځکه ده چه دَ خپو وینځلو بدل دے ،

(۷): "وَعَنْ أَبِي سعيد الْخُدْرِيِّ قَالَ: خَرَجَ رَجُلَانِ فِي سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيدًا طَيِّبًا فَصَلَّيَا ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا

Maktaba Tul Ishaat.com

الصَّلَاةَ وَالْوُضُوءِ وَلَمْ يعدِ الْآخَرُ ثُمَّ أَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فذكرا ذَلِك لَهُ فَقَالَ لِلَّذِي لَمْ يُعِدْ: «أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ» وَقَالَ لِلَّذِي تَوَضَّأَ وَأَعَادَ: «لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحوه"

ترجمه : دَ ابوسعيد الخدري ؓ نه روايت دے فرمائي : دوه سړي سفر له اوتل نو دَ مانځه وخت راغے او داړو سره اوبه نه وے دواړه په پاکه خاوره تيمم اوکړو بيا په وخت کښې دننه دواړو اوبه اوموندلے يو اودس اوکړو اوخپل مونځ ئے دوباره اوکړو او دوئم اعاده اونه کړه بيا نبي عليه السلام له راغلل دواړو دغه خبره ذکر کړه نبي عليه السلام هغه چاته اوفرمائيل چه اعاده دَۀ نه وه کړے ته سنت ته اورسيدے او ستا مونځ جائز شو او چا چه اودس کړے وو او مونځ ئے دوباره کړے وو ستا دپاره دوه اجره دي ، ابوداود ، دارمي ، او دغسے نسائي کښې دي او امام نسائي ابوداود دَ عطاء بن يسار نه مرسلا نقل کړے دے ،

تشريح : دَ عطاء بن يسار الهلالي پيژنګلو

ابو محمد المدني دَ ميمونے ام المؤمنين غلام وو ثقه او فاضل وو وعظ و عبادت کښې مشهور وو په ۹٤ هجرئ کښې يا ددے نه پس وفات دے (التقريب) دے هم دَ مکښې عطاء غونډے دَ سنت علامت وو او دَ ٨٤ کاله عمر کښې وفات دے دَ عبدالله بن مسعود دَ زيد او دَ ابن عمر ؓ شاګرد دے ، امام ابوحنيفه ؒ ، زيد بن اسلم او داسے نور دَ دوي شاګردان دي ، دَ دوي توثيق ابن معين ، ابوزرعه او نسائي وغيره کړے دے ملاعلي قاري فرمائي چه دے دَ سليمان بن يسار رور دے دَ مدينے مشهور تابعينو کښې دے زيات روايات دَ دوي دَ ابن عباس ؓ نه دي ، ابن حبان ئے په ثقاتو تابعينو کښې شماري او ۱۹ هجري دَ دوي ولادت دے اسکندريه کښې وفات دے او بيع الولاء او هبه کښې ترے امام ابوحنيفه روايت نقل کړے دے په طريقے دَ ابن عمر، او دَ صف په يو څائے کولو کښې دَ ابو سعيد ؓ په طريقه، دے حديث کښې يوه مسئله ده چه دَ تيمم نه پس که اوبه اوموندلے شوے اوس به اودس بيا کوي او دَ مونځ اعاده به کوي او که نه به کوي،

درے صورتونه دي

(۱): تیمم ئے اوکړو او مونځ ئے لا شروع کړے نه وو چه اوبه ئے اوموندلے دا اتفاقي صورت دے چه اودس به کوي او تیمم دَ دهٔ ختم شو ،

(۲): چه دَ مانځه نه فارغ شو دَ هغے نه پس دَهٔ اوبه اوموندلے ، په دے کښې دَ ځلورو واړو امامانو اتفاق دے چه دَ اعادے ضرورت نشته او دے حدیث کښې ددے صورت بیان دے ،

(۳): مونځ ئے شروع کړے وو او دَ مانځه مینځ کښې ورته اوبه ښکاره شوے او په استعمال ئے قادر دے نو دَ احنافو او دَ امام احمد په نزد مونځ باطل شو اودس به اوکړي او مستقل به دَ نوے سر نه مونځ بیا ادا کړي او دَ امام مالک او امام شافعي په نزد تیمم سره دے دَ خپل مونځ پوره کړي او امام احمد روستو رجوع کړے ده چه اودس دے اوکړي او مونځ دے اوکړي ، حدیث کښې دي "ان الصعید الطیب وضوء المسلم" چه دَ مسلمان دپاره پاکه خاوره دَ اودس غوندے ده ، او دغه ضرورت دَ اوبو تر موندلو دے ، دغسے دَ فصل اول رومبے حدیث دلیل دے چه "جعلت تربتها لنا طهورا اذا لم یجد الماء" کله چه دَ مانځه په مینځ کښې اوبه میلاو شي نو تیمم ختم شو په دے وجه ددهٔ مونځ باطل شو ،

دے حدیث کښې دي چه دواړو کله وخت کښې اوبه اوموندلے یو اودس اوکړو او دَ مونځ اعاده ئے اوکړه او بل اعاده اونه کړه نو نبي علیه السلام هغه کس ته اوفرمائیل چه اودس اوکړه او اعاده ئے اوکړه چه تاله دوه کرته اجر دے لیکن قاضي شمس الدینؒ په التعلیق الفصیح کښې لیکلے دي که نن صبا دے دور کښې چا دغه اعاده اوکړه دهٔ له دوه کرته اجر نه میلاویږي ځکه دا دَ هغه وخت خبره ده چه دَ نبي علیه السلام په بیان سره اسلام کښې دَ سنت علم دوي ته لا نه وو راغلے کله چه نبي علیه السلام بیان اوکړو او ددے وضاحت ئے اوکړو چه سنت اعاده نه کول دي نو په خلاف سنت ورله دوه اجر نه ورکوي ، ملاعلي قاري لیکلے دي چه دوي اجماع کړے ده چه دَ مانځه دَ فراغ نه پس چا اوبه اوموندلے اعاده په دهٔ نشته اګر چه وخت باقي دے لیکن علامه عیني لیکلے دي په قول دَ التقریر الرفیع چه دا دَ ځلورو واړو امامانو او دَ سفیان او دَ اسحاق مسلک دے او عطاء ، طاوس ، ابن سیرین ، مکحول ، زهري فرمائي دَ مونځ به اعاده کوي او امام اوزاعي فرمائي اعاده ورله مستحب ده او واجب نه ده ،

نو دَ ملاعلي قاري دَ اجماع قول زیات وقعت نه لري ، (لیکن دَ ائمه اربعه اجماع واغستلے شي صحیح ده)

Maktaba Tul Ishaat.com

ملاعلي قاري فرمائي : چه تيمم ئے اوکړو او دَ مانځه دَ داخليدو نه مخکښ اوبه اوموندلے نو دَ تيمم په بطلان اجماع ده ، او علامه کاساني بدائع کښ ليکلے دي که اوبه ئے دَ مونځ دَ شروع کيدو نه مخکښ موندلے وي نو دَ عام علماؤ په نزد ددهٔ تيمم مات شو ، ليکن ابوسلمه بن عبدالرحمن فرمائيلے دي چه تيمم ئے دَ اوبو په موجودګئ سره نه ختميږي،

او ملاعلي قاري فرمائي چه دا صورت اختلافي دے چه کله ئے اوبه دَ مانځه دَ داخليدو نه پس اوموندلے نو دَ جمهورو په نزد به مونځ نه ماتوي مونځ صحيح دے او امام ابوحنيفه او دَ امام احمد يو روايت کښ دي چه تيمم ددهٔ باطل شو،

صاحب هدايه ليکلے دي که تيمم کونکي دَ تشهد په اندازه دَ ناستے نه بعد اوبه اوليدے نو دَ امام ابوحنيفه په نزد ددهٔ مونځ باطل شو او دَ صاحبينو په نزد ددهٔ مونځ پوره شو ،

امام ابوحيفه فرمائي: چه دَ تشهد په اندازه دَ ناستے نه پس په اوبو قادر دے فرائض اګر چه پوره شوے دي ليکن درے کاره پاتے دي ، درود ، دعا ، او سلام ګويا مونځ باقي دے ځکه دَ مانځه مينځ کښ دَ خليفه په ځائے اصل باندے قادر شو او اصل بناء کمزورے باندے نه شي کيدے مونځ ئے باطل شو او دَ شروع نه مونځ کوي وقال ابن سيرين حتي يسلم فان صلاته لم تتم ، (مصنف عبدالرزاق:باب الامام يحدث في صلاته ، نمبر:٣٦٧٩)

او صاحبين فرمائي پوره شو صرف واجب يا سنن پاتے دي او ابوداود کښ باب الامام يحدث بعد ما يرفع رأسه ، باندے ٦١٧ نمبر روايت دے ، دغسے ترمذي او دارقطني کښ هم عبدالله بن عمر فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي چه کله امام مونځ ختم کړي او کيناستو دَ خبرو نه مخکښ بے اودسه شو نو مونځ ئے تام دے او مونځ ئے سره دَ نقص نه اوکړو دوباره مونځ کولو ته ضرورت نشته ،

نوټ : عام طور مشهوره ده چه دَ امام ابوحنيفه په نزد دَ خروج بصنع المصلي هم فرض دے يعني مونځ ګزار خپله دَ قصده په يو کار سره ځان دَ مانځه نه خارج کړي ، ليکن امام ابن الهمام صراحت کړے دے چه دا روايت دَ امام ابوحنيفه نه نه دے راغلے او دَ حنفي فقهاؤ دے مسئله کښ اختلاف نشته چه خروج بصنع المصلي فرض نه ده،

(٨): "عَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: أَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ"

ترجمه : ابوالجهیم انصاري نه روایت دے چه نبي علیه السلام دَ هغے کوهي دَ غاړے راغے چه کوم ته اوښ غورزخیدلے وو یو سړے ورسره میلاو شو او سلام ئے ورته اوکړو خو نبي علیه السلام ورله جواب ورنه کړو تردے چه دیوال ته ئے مخ کړو لاس ئے په خپل مخ او دواړو لاسونو راکاږو بیا ئے علیه وعلیکم السلام اوفرمائیل ؛ بخاري ، مسلم ،

تشریح : حتي اقبل علي الجدار : کیدے شي دا او دَ فصل ثاني نه مخکښ واقعه یوه وي احناف وائي چه اصل اولي دَ اختر مانځه کښ جبانة کښ کول دي که دَ اختر مونځ اولاړ وي او یو کس یریږي چه بل ځائے دَ اختر مونځ به لاندے نه کړے شم نو دے صورت کښ چونکه بدل ئے نشته، دے له تیمم کولے شي،

دغسے که جنازه شروع کیږي او یو کس دَ مړي ولي نه دے یریږي که اودس کوم جنازه زما نه کیږي دے ورله تیمم کولے شي ځکه ددے بدل نشته ؛ او تبیین الحقائق کښ لیکلے دي که ولي ته څوک انتظار نه کوي هغه له تیمم درست دے دلته لګ روستو نبي علیه السلام دغه سړي له دَ تیمم نه پس جواب ورکړو ، لکه روایت کښ راځي چه سړے کله دَ کوڅے نه پناه کیدو نو تیمم ئے اوکړو او دَ سلام جواب ئے ورکړو ،

دَ احنافو دلیل

بدائع صنائع کښ دي : ولنا ما روی عن ابن عمر رضی الله عنهما انه قال إذا فجأتك جنازة تخشی فوتها وأنت علی غیر وضوء فتیمم لها" که ناڅاپه جنازه راشي یریږي چه بے اودسه یم ، تیمم ورله اوکړه دغسے روایت دَ ابن عباسؓ نه هم دے ځکه اصل کښ تیمم مشروع ځکه دے چه یو ادا رانه فوت نشي او دلته دغه صورت بلکه ددے نه بهتر موجود دے،

ځکه دے صورت کښ صرف دَ ادا فضیلت به صرف فوت شي لیکن په قضاء سره دَهغے تلافي ممکن ده او دلته خو دَ سر نه جنازه فوت کیږي که دَ مړي ولے بے اودسه وي جمهور وائي انتظار دے ورته اوشي،

Maktaba Tul Ishaat.com

او مصنف ابن ابي شيبه كښې روايت دے "حدثنا حميد بن عبد الرحمن عن أبيه عن جعفر بن نجيح عن عبد الرحمن بن القاسم في الرجل يحدث في العيد ويخاف الفوت قال يتيمم ويصلي إذا خاف" او دغسې په ٥٨٦٨ نمبر باندے امام زيلعي نصب الرايه: ١: ١٥٨ كښې دَ ابن عباس روايت ذكر كړے دے او دغسې ابن عدي په كامل كښې :٧: ٨٢ كښې وئيلے دي چه مرفوع غير محفوظ دے او حديث دَ ابن عباس نه موقوف راغلے دے ، الدرايه : ١٢٥ باندے دَ ابن عمر روايت دے چه جنازه راغله ئے اودسه وو تيمم ئے اوكړو او جنازه ئے ورله اوكړه ، دارقطني ددے تخريج كړے دے ، نو مسئله معلومه شوه چه هر هغه عبادت چه فوت كيږي او خليفه ئے نه وي لكه جنازه او اخترونه حنفي مسلک كښې ورله تيمم صحيح دے،

مسئله : كه سخته دَ ژمي دَ سړخۍ شپه كښې جنب يريږي چه هلاک به شم كه لامبم او دَ اوبو په كرمولو هم نه وي قادر او نه حمام ته تلے شي چه پيسے وركړي او اولامبي دَ امام ابوحنيفه قول كښې ورله تيمم جائز دے (بدائع الصنائع)

(٩):وَعَن عمار بن يَاسر: أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّهُمْ تَمَسَّحُوا وَهُمْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّعِيدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ ثُمَّ مَسَحُوا وُجُوههم مَسْحَةً وَاحِدَةً ثُمَّ عَادُوا فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ مَرَّةً أُخْرَى فَمَسَحُوا بِأَيْدِيهِمْ كُلَّهَا إِلَى الْمَنَاكِبِ وَالْآبَاطِ مِنْ بُطُونِ أَيْدِيهِمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ"

ترجمه : دَ عمار بن ياسر ؓ نه روايت دے چه دۀ به دا خبره كوله چه دے نبي عليه السلام سره وو او صحابۀ په پاكه خاوره مسح دَ سحر مانځه دپاره اوكړه پس دوي خپل لاسونه په خاوره اوهل بيا ئے په مخونو خپلو يوه مسح اوكړه بيا ئے په دوئم ځل دغسے خپل لاسونه په پاكه خاوره په دوئم ځل اوهل بيا دوي لاسونه خپل تول تر اوكو او تر ترخونو مسح كړل دَ لاسونو دننه نه ،

تشريح : مولانا احسان مدظله شرح كښې ليكلے دي چه دَ لاسونو دَ روستو طرف نه ئے شروع كړے وه دا هم كيدے شي چه لاس او خپے بطون يعني تلي والا طرف باندے راكاږلے وي ليكن دا حكم دَ اسلام په ابتداء كښې وو اوس بالاتفاق دا دَ ټولو ائمه په نزد منسوخ عمل دے ، او الحق الصريح كښې دي

چه زمونږ دَ مشائخو شاه محمد اسحاق محدث دهلوي دغسے وئيلے دي شاه اسحاق په شريکه زمونږ مشائخو کښې دے نور اقوال هم دَ مشائخومنل پکار دي ،

مسحة واجدة : دا ددے دليل نه دے چه تيمم کښې عدم تثليث مسنون دے او اودس نه به جدا وي (فتح الاله)

قاضي صاحب رح التعليق الفصيح کښې ليکلے دي چه دا کار دوي دَ نبي عليه السلام دَ حکم دَ وجے نه وو کړے دا ئے خپل اجتهاد سره کړے دے نو دَ مرفوعاتو مقابله کښې حجت نه کرځي،

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الغسل المسنون

ربط : طهارت صغري اودس او طهارت كبري غسل دے ددے دواړو او ددے نائب چه تيمم دے دَ هغے دَ فراغت نه پس دَ مسنون طهارت بيان دے ځکه چه دَ سنت درجه دَ فرض نه پس وي ، مرقات کښ دي چه غسل بالفتح مصدر او بالكسر مايغسل به ته وائي او په ضم سره خاص غسل ته وائي چه دلته مراد دے؛

اشعة اللمعات کښ شيخ عبدالحق ليکلے دي : بدانکه مؤلف درين باب چهار غسل ذکر کرد" په دے پوهه شه چه دے باب کښ مؤلف څلور غسله ذکر کړے دي

(۱):دَ جمعے غسل

(۲): دَ مړي دَ لامبولو نه پس غسل

(۳): دَ ښکر لګولو نه پس

(٤): چه کله اسلام راوړي ، او دَ اخترونو غسل ئے ذکر نه کړوځکه دَ محدثينو په نزد يو حديث په دے کښ صحت ته نه وو سيدلے او مؤلف دَ اخترونو دَ غسل دپاره هم ځکه حديث رانهٔ وړو ، جامع الاصول او کتب سته کښ په دے باب کښ حديث نه دے موندلے او نه نورو کتابونو کښ شته مګر په حديث دَ فاکهة بن سعد کښ او يو دَ زياد يعني دَ عياض روايت او دواړه حديثه ضعيف دي او دَ عبدالله بن عمر نه دَ وړوکي اختر دَ ورځے غسل ثابت دے او دوي په اتباع کښ سخت مشهور دي ددے تقاضا داده چه دے باب کښ دے صحيح حديث وي او مؤلف دَ عرفے دَ ورځے غسل ذکر نه کړو او دَ حديثو کتابونو کښ هم نشي موندلے کيدے او فقهاء ددے ذکر کوي او دَ احرام دپاره غسل په اتفاق سنت دي او دے کښ صحيح آحاديث شته او دَ جمعے غسل ئے هم باب الجمعه کښ ذکر کړے دے او دلته ئے هم ذکر کړے دے انتهي؛

دَ اخترونو غسل دَ ابن ماجه : ۱۳۱۵ نمبر روايت کښ شته "كان رسول الله صلي الله عليه وسلم يغتسل يوم الفطر ويوم الاضحي" ليکن ارواء الغليل: ۱۷۵ باندے دي حديث ابن عباس والفاكه بن سعد ان النبي صلي الله عليه وسلم كان يغتسل يوم الفطر والاضحي (ابن ماجه) ضعيف ولايثبت" من وجه دَ ابن ماجه حديث بيهقي کښ هم شته ليکن دَ حجاج دَوجے معلل دے قوي نه دے ، ابن عدي فرمائي دَ دوي روايت برابر خه دے او ترکماني ئے په دے قول تعاقب کړے دے چه دَ جباره نه خاموش پاتے

شوے دے او دَ هغه حال دَ حجاج دَ حال نه اشد دے ، امام بخاري فرمائي چه ددهٔ روايت مضطرب الحديث دے او نسائي ورته ضعيف وائي او ابن معين وائي دے كذاب دے ،

او حديث دَ فاكهه ابن ماجه هم تخريج كړے دے او عبدالله بن احمد په زوائد المسند كښ او دولابي په كني او اسماء كښ په طريقے دَ يوسف بن خالد الخ ذكر كړے دے "ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يغتسل يوم الجمعة ويوم العرفة ومن الفطر ويوم النحر" او فاكهه بن سعد به خپل كور والو ته په دے ورځو كښ دَ غسل حكم وركولو ، قلت وهذا الاسناد موضوع آفته الستمي " زه وائم دا سند موضوع دے او دے كښ آفت دَ ستمي نه راغلے دے دے كذاب دے خبيث دے لكه چه ابن معين وئيلے دي او ابن حبان وائي حديثونه به ئے دَ ځان نه جوړول او دواړه حديثونه حافظ ابن حجر په تلخيص او درايه كښ ذكر كړے دي او وئيلے دي چه دَ دواړو سندونه ضعيف دي او ښه دليل چه دَ اختر غسل دپاره دَ هغے نه استدلال كيدے شي هغه طريقه دَ امام شافعي ده دَ ذاذان نه ده چه يو تن عليؓ ته اوئيل چه دا غسل اوكړم نو ورته ئے اوفرمائيل چه كوم غسلونه راغلے دي دَ جمعے ، دَ عرفے په ورځ ، دَ لوے اختر او دَ وړوكي اختر په ورځ راغلے دي وسنده صحيح " انتهي ليكن ذاذان باره كښ اختلاف مخكښ په بحث دَ عذاب القبر كښ تير شوے دے ،

نماز نبوي كښ ډاكټر شفيق الرحمن ليكلے دي چه نافع وائي چه سيدنا ابن عمر دَ وړوكي اختر په ورځ به دَ عيدگاه دَ تلو نه مخكښ غسل كولو (موطامالک)

او ليكي چه دَ اخترونو په ورځ دَ غسل دَ تولو نه ښه دليل دے او امام نووي فرمائي چه دے مسئله كښ اعتماد دَ سيدنا عبدالله بن عمر په اثر كښ دے او ددے بنياد دَ جمعے په غسل سره قياسا دے ، ليكن نماز نبوي مدلل مفصل كښ ليكلے دي چه دلته دَ ابن عمر اثر اصح الاسانيد دے ليكن دَ عبدالله بن عمر دَ موطا مالک روايت دَ قراءت خلف الامام دَ منع باره كښ چه روايت كښ موجود دے او دَ عبدالله بن عمر دَ كيرے دَ اغستلو عمل ته دَ صحابي فعل وائي او رد كوي ئے او دلته دَ ابن عمر قول او عمل دليل جوړ شوے دے دا څنگه او ولے؟ انتهي

موطا محمد كښ حديث نمبر:٦٩ دے "اخبرنا مالک حدثنا نافع ان ابن عمر كان يغتسل قبل ان يغدو الي العيد "او حديث نمبر: ٧٠ اخبرنا مالک اخبرنا نافع عن ابن عمر انه كان يغتسل يوم الفطر قبل ان يغدو

Maktaba Tul Ishaat.com

" قال محمد الغسل يوم العيد حسن وليس بواجب وهو قول ابي حنيفة رحمه الله" چه دَ اختر دَ ورځے غسل خه دے او واجب نه دے او دَ امام ابوحنيفهؒ قول دے ،
سوال دے چه مخکښ هم باب الغسل وو او اس باب الغسل المسنون دے دا خو تکرار دے ،
جواب دادے تکرار ځکه نشته مخکښ غسل کښ هغه احکامات وو چه دَ هغے تعلق فرض او واجب سره وو او دلته دَ غسل هغه احکامات ذکر کيږي چه يا واجب يا سنت دي،

الفصل الاول

(۱):عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ"

ترجمه : ابن عمر نه روايت دے چه نبي عليه السلام فرمائيلے دي کله چه تاسو کښ يو تن دَ جمعے دَ مونځ دَ راتلو اراده کوي نو غسل دے اوکړي،
تشريح : علامه طيبي ليکلے دي "الظاهر ان الجمعة فاعل" ظاهره داده چه جمعه فاعل دے لکه دا قول دَ الله تعالي "فاذا جاءتهم الحسنة" (الاعراف:۱۳۱) يا دا آيت "ان يأتي احدكم الموت" (المنافقون:۱۰) اووائي حکم دَ استحباب دے ، او مرقات کښ دي "الجمعة "منصوبة علي المفعولية اي اذا اراد احدكم ان يأتي الجمعة" جمعه دَ ميم ضم ده ځکه چه قرآن کښ دي (۲): دَ جيم سکون دے ځکه قاعده ده چه هر ځائے کښ چه دوه ضمے وي نو دوئم پکښ ساکن وئيلے شي او درئم قول دادے دے بفتح الميم "
فتح الاله کښ علامه هيثمي ليکلے دي چه يو روايت کښ دي "من اتي الجمعة من الرجال والنساء فليغتسل ومن لم يأتها فليس عليها غسل من الرجال والنساء" بيهقي نمبر: ۵۸۶۹ او سند ئے صحيح دے ابن خزيمه : ۱۶۵۶ نمبر، دا غسل سړو او ښځو دواړو له دے ،

اختلاف

دَ اهل ظواهر په نزد دَ جمعه په ورځ غسل واجب دے دا دَ امام مالک او دَ امام احمد نه هم يو روايت دے ليکن ددے دواړو راجح قول دَ عدم وجوب دے ،
التعليق المجد کښ دَ ابن حزم ظاهري قول نقل کړے دے چه غسل که دَ مانځه نه مخکښ يا روستو اوکړو ليکن دا دَ آحاديثو خلاف ده په دے کښ دَ حنابله درے روايات دي ،

اول : ترجيح وجوب له ورکوي ، دوئم قول ئے دَ عدم وجوب دے ، او درئم قول دادے که بدن يا جامه باندے رائحه كريهه وي واجب ورنه سنت به وي، او احناف ، شوافع ورته سنت وائي دَ امام مالک مشهور قول دَ سنتيت دے شيخ عبدالحق ليکلے دي اشعة اللمعات کښې چه ټول ائمه په سنتيت يا په استحباب اتفاق لري ، او بداية المجتهد کښې دي چه دَ امام احمد يو روايت دَ وجوب شته او التقرير الرفيع کښې شيخ الحديث ليکلے دي چه هدايه ، بدائع اومرقات وغيرها کښې دي چه امام مالک ورته واجب وائي دا غلطه ده بے دَ اهل ظواهرو نه چا دَ وجوب قول نه دے کړے،

تمام المنه :ص:۱۲۰ باندے علامه الباني ليکلے دي "قد ذهب جماعة من العلماء في القول بوجوب الغسل للجمعة قلت وهو الحق الذي لاينبغي العدول عنه" چه دَ علماؤ يو ډلے دَ جمعے دپاره دَ غسل دَ وجوب قول کړے دے زه وائم دا هغه حق دے چه ددے نه اوړيدل مناسب نه دي،

ابوداود کښې باب دے باب في الغسل للجمعة قال ابوداود اذا اغتسل الرجل بعد طلوع الفجر" دَ صاحب کتاب مقصد دادے که څوک دَ جمعے په ورځ دَ طلوع فجر نه پس غسل اوکړي په دے غسل به ورته دَ جمعے دَ غسل هغه فضيلت حاصل شي اگر چه غسل به دَ جنابت وي گويا دَ جمعے غسل او دَ جنابت غسل دواړه متداخل شو او علامه ابن المنذر وائي چه دَ اکثر اهل علم دغه محفوظه خبره راغلے ده چه دَ جنابت او دَ جمعے دپاره يو غسل کافي دے او علامه شعراني ميزان الکبري کښې دَ ائمه ثلاثه مسلک نقل کړے دے چه غسل جنابت دَ غسل جمعه دپاره کافي کيږي اگر چه دَ امام مالک خلاف ئے نقل کړے دے ليکن دَ امام مالک په نزد په دے شرط کافي دے چه دَ دواړو نيت اوکړي لکه مدونه کښې تصريح ده او علامه عيني دَ احنافو مذهب نقل کوي چه کافي کيږي چه دَ غسل دَ جمعے نيت کوي يا نه کوي، دَ ظاهريه استدلال دَ ابن عمر وغيره دَ حديث نه دے چه ظاهر ئے وجوب دے او جمهور ددے درے جوابونه ورکوي ،

(۱): وجوب مخکښې وو بيا منسوخ شو،

(۲): دا دَ قبيلے دَ انتهاء حکم نه اوګڼړه په انتهاء دَ علت سره دَ اسلام په شروع کښې اکثر خلق غريبانان او مزدور کار وو لکه څنګه چه آخري روايت کښې دي بيا دَ فتوحاتو نه بعد وسعت دَ مال راغے او مسجد وسيع شو نو وجوب ختم شو او استحباب باقي دے،

(۳): دَ امر بالوجوب نه ثبوت شرعا استحبابي طريقے سره واخله (البحرالرائق)

Maktaba Tul Ishaat.com

الدرايه:۹۰ باندے "وَعَن عَائِشَة كَانَ النَّاس ينتابون الْجُمُعَة من مَنَازِلهمْ والعوالي فَيَأْتُونَ فِي الْغُبَار فَتخرج مِنْهَا الرَّائِحَة فَقَالَ النَّبِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم لَو أَنكُمْ اغتسلتم مُتَّفق عَلَيْهِ" او چه كله علت لاړو نو حكم ختم شو،

دوئم اختلاف دَ جمعه مانځه له غسل دے يا دغے ورځے له

امام محمد حسنؒ بن زياد او داود ظاهري وائي چه دَ جمعے دَ ورځے دپاره دے دَ حديث الفاظ هم يوم الجمعه راغلے دي او دَ جمعے ورځ سيدالايام دے او امام ابوحنيفهؒ ، مالكؒ ، شافعيؒ او ابو يوسف جمهور وائي چه دَ جمعے دَ مانځه دپاره دے هغه آحاديث دَ دوي دليل دي چه هغے كښ دَ صلاة لفظ راغلے دے ددے باب ددے ړومبي حديث ظاهر هم دغه دے چه غسل دَ جمعے دَ مانځه دپاره دے كه چا سحر وختي غسل اوكړو او مونځ ئے آدا نه كړو سنت ئے آدا نه شو او كه چا دَ جمعے دَ مانځه نه پس غسل اوكړو دَ چا په نزد ئے هم سنت آدا نه شو او څوک چه دَ جمعے مونځ يادوي وجه ذكر كوي چه دا په دا شرائطو آدا كيږي چه دَ بل مانځه دپاره نشته نو دا فضيلت به ددے نه بهر نه وي، كذا في البدائع والهدايه" اشعة اللمعات كښ دي بعض وائي چه دَ غسل وجه دَ جمعے دَ ورځے عزت او كرامت دے ،
شيخ الحديث صاحب ليكلے دي هسے هم هفته كښ يو ځل غسل كول دَ بدن حق دے او دَ جمعے په ورځ دَ مانځه دپاره دَ فضيلت حكم شته او كه څوک همبستري اوكړي او دَ دريواړو يو نيت اوكړي دا غسل دريواړو له كافي گرځي،

دَ اهل ظواهرو دليل

په كومو آحاديثو كښ چه دَ امر يا دَ واجب او "حق" لفظ راغلے دے لكه دَ ابن عمرؓ حديث كښ دَ امر او دَ ابوسعيدؓ حديث كښ "واجب" او دَ ابوهريرهؓ حديث كښ "حق" لفظ راغلے دے دا تول په وجوب دلالت كوي،

دَ جمهورو دليل

(۱): ومن اغتسل فالغسل افضل " (ابوداود ، ترمذي)
(۲): دَ سيدنا ابوهريرهؓ روايت: من توضأ فأحسن الوضوء ثم اتي الجمعة"دے حديث كښ صرف دَ وضوء ذكر راغلے دے،

44 B

(۳): دَ بخاري روايت كښې راځي چه سيدنا عمرؓ خطبه وركوله او سيدنا عثمانؓ راغے او تپوس ئے ترے اوكړو، ولے حصار شوے ، هغوي دَ ضروري كار دَ عذر نه پس اوفرمائيل چه څنګه مي اذان واوريدو راغلم اودس مے اوكړو خطبے ته حاضر شوم ، دے كښې هم صرف دَ اودس ذكر دے ، دَ عمرؓ دا فرمان چه صرف اودس لرہ اهميت باندے دلالت كوي ليكن واپس ئے نه كړو چه غسل اوكړه بيا راشه ، معلومه شوه چه واجب عمل نه دے كني سيدنا عمرؓ او نورو صحابؤ به ورته څه وئيلے وو؛

(٤): من توضأ يوم الجمعة فبها ونعمت ومن اغتسل فالغسل افضل ، (ابن ماجه:١٠٩١ ، طبراني في الاوسط: ٨٢٧٢) او دَ مسلم روايت دے : حدثنا أبو معاوية عن الاعمش عن ابى صالح عن ابى هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من توضأ فاحسن الوضوء ثم اتى الجمعة فاستمع وانصت غفر له ما بينه وبين الجمعة وزيادة ثلاثة ايام"

دَ اهل ظواهر جواب

امر دَ استحباب دپاره دے دلته قرائن دي چه وجوب له به ئے نه اخلے ، او دَ حق يا واجب معني ثابت دے ، يا اول دَ وجوب حكم وو بيا ختم شو،

دَ عثمانؓ دَ واقعے نه دوارہ قسمه استدلال

امام نووي فرمائي معلومه شوه چه واجب نه دے ورنه دَ غسل حكم به ورته شوے وو او وجوب والا دليل پيش كوي چه دَ سيدنا عمرؓ علي رؤوس الاشهاد په يو جليل القدر صحابي داسے نكير دَ خطبے مينځ كښې صرف په ترك دَ مستحب نه شي راتلے ؛

(۲):"وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ"

ترجمه : دَ ابوسعيد خدريؓ نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل دَ جمعے په ورځ لامبل په هر بالغ باندے واجب دي،

تشريح : دا مسئله چه غسل دَ جمعے دَ ورځے مانځه له دے او يا ورځ له مخكښې تيره شوه شيخ عبدالحق اشعة اللمعات كښې ليكلے دي چه جمهور علماء وائي چه دَ وجوب نه تاكيد او مبالغه په استحباب كښې برابر ده ځكه چه نور آحاديث شته چه دَ هغے نه معلوميږي چه صرف اودس كافي دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

يوم الجمعة :" من باب إضافة المظروف إلى الظرف كمكر الليل" او اضافت ئے ورځ ته اوکړو او وخت ته نه ځکه وخت داخليږي دغے ورځے په فجر وخت سره ، نو ددے نه مخکښ جواز نه لري خلاف ثابت دے امام اوزاعي او بعض زمونږ فقهاؤ له انتهي،

محتلم : بالغ ځکه مراد دے چه په هيڅ وروکي هيڅ خبره نه واجبيږي،

علامه طيبي په کاشف کښ ليکلے دي : چه دَ وجوب نه واجب غوندے واخله دَ تمثيل او دَ تشبيه په طريقه او دا وجوب الاختيار به وي ، وجوب حتمي نه دے مراد لکه يو تن خپل ملګري ته اوائي چه ستا حق په ما واجب دے او ددے نه هغه لزوم نه دے مراد چه پريخودل ئے ګني نشته ، بحرحال دَ وجوب نه ثبوت او تاکيد مراد دے ، او دَ محتلم نه لازمي معني دَ بالغ مراد ده ،

التعليق المجد کښ دي : واجب اي متأكد،

(٣):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا يَغْسِلُ فِيهِ رَأسه وَجَسَده»"

ترجمه : دَ ابوهريره ؓ روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل: په هر مسلمان باندے غسل کول په هفته کښ يوه ورځ شته چه دے پکښ خپل سر او بدن اوينځي،

تشريح : دَ انسان بدن ددهٔ خپل نه دے ځکه دے دَ خپل يو اندام دَ ورکولو وصيت نه شي کولے دے داسے نه شي وئيلے چه "خپل بدن خپل اختيار" که لامبم يا نه لامبم بلکه هفته کښ يو ځل لامبل وَرله پکار دي يو کس دَ چا نه تپوس اوکړو چه څومره وخت کښ لامبے ورته ئے اوئيل چه هفته کښ يو ځل لامبم دَهٔ ورته اوئيل ته خو سم دَ اوبو مهے ئے ، وي زه خو اول چه پيدا شوم لامبولے ئے يم او بيا چه مړ شم په تخته به مے لامبوي،

يغسل فيه رأسه : شيخ عبدالحق اشعة اللمعات کښ ليکلے دي : چه دے کلام کښ اشاره ده دَ جمعے دَ ورځے دَ غسل وجوب ته سر او بدن ئے حديث کښ ځکه خاص کړو چه دا ډير خيرن شي او بد بوئي ترے پيدا کيږي،

مرقات کښ دي : ښي طرف نه شروع کول اودس مخکښ کول مستحب دي او مضمضه او استنشاق غسل جنابت کښ زمونږ په نزد فرض دي،

الفصل الثاني

(٤): "عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ والدارمي"

ترجمه : دَ سمره بن جندب پیژنګلو

شیخ عبدالحق اشعه کښې لیکلي دي چه دَ انصارو مشهور صحابي دے دَ انصارو حلیف وو استوګنه ئے بصره یا کوفه کښې وه بصریانو کښې شمار دے هلته والي وو او ډیر خلق ترے روایت کوي لکه حسن بصري ، ابن سیرین ، شعبي بصره کښې ۵۹ هجري کښې وفات دے ، ددے روایت سند حسن دے ابن خزیمه ورته صحیح وائي او حسن بصري دَ سماع تصریح کړے ده،

سمره بن جندب رض فرمائي : چه نبي علیه السلام اوفرمائیل چا چه دَ جمعے په ورځ اودس اوکړو او خه کار ئے اوکړو او خه خبره ده او چا چه غسل اوکړو غسل غوره دے،

تشریح : مشکوة دَ مولانا زبیرعلي زئي کښې دي "سنده حسن وصححه ابن خزیمه"

علماء دَ نحو لیکي : چه "تا" دَ فعل علامت دے الفیه دَ ابن مالک کښې دي :

بتا فعلت واتت ویا افعلی : : ونون اقبلن فعل ینجلی

او دَ الفیه شارحین دَ "اتت" مثال کښې دا حدیث ذکر کوي "ونعمت" نعم فعل دے دَ "تا" دَ قبولیت صلاحیت پکښې شته،

دا دلیل دَ هغه چا دے څوک چه غسل ته افضل وائي علامه طیبي لیکلي دي "فبها" دا "با" متعلق دے دَ فعل مضمر سره اي فبهذه الخصلة" یعني دا ډیر خه خصلت دے ، دَ حدیث دا مطلب نه دے چه اودس دَ غسل نه افضل دے بلکه دَ جمهورو دلیل دے په استحباب او سنتیت،

(٥): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

وَزَادَ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ: «وَمَنْ حمله فَلْيَتَوَضَّأْ"

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: دَ ابوهريره‌ؓ نه روايت دے چه نبي عليه السلام اوفرمائيل: چا چه مړے اولامبو هغه دے اولامبي او چا چه دَ مړي لاش اوچت کړو هغه دے اودس اوکړي،

تشريح: دَ مړي دَ غسل دَ وجے ابن المسيب، ابن سيرين، او زهري فرمائي دغسے دَ جرجاني او يو روايت دَامام مالک چه مړي څوک اولامبوي غسل په دَهٔ واجب دے، او امام ابوحنيفهؒ دَ امام مالک مشهور روايت، امام شافعي، امام احمد فرمائي: چه واجب نه دي او مستحب دي (فتح القدير)

قاضي شوکاني ليکلے دي نيل الاوطار کښ چه ليث، ابوحنيفه او ددهٔ اصحاب وائي نه واجب دي او نه مستحب اه،

شيخ الحديث مولانا زکرياؒ په التقرير الرفيع کښ ليکلے دي چه دا دَ احنافو کتابونو کښ ما نه دي ليدلے دي او معالم السنن کښ دي چه امام احمد فرمائي دَ مړي دَ غسل دَ وجے غسل کونکي له غسل ورکولو کښ حديث نشته، امام حاکم مستدرک کښ ابن عباس مرفوعا روايت نقل کوي "ليس عليكم في غسل ميتكم غسل اذا اغتسلتموه فان ميتكم ليس بنجس فحسبكم ان تغسلوا ايدكم" وصححه الحاكم علي شرط البخاري ووافقه الذهبي" تاسو باندے دَ مړي دَ غسل کولو دَ وجے څکه غسل نشته چه ستاسو مړي څه پليت نه دي صرف لاسونه وينځل ورله کافي دي او موطا مالک کښ جنائز کښ روايت دے چه اسماء بنت عميس سيدنا ابوبکر چه کله هغوئ وفات شو غسل ورکړو بيا رابهر شو هلته ئے دَ بعض مهاجرينو نه تپوس اوکړو چه زما روژه ده او نن يخ دير زيات دے آيا ماباندے غسل شته هغوي ورته اوئيل چه نشته ددے نه معلوميږي چه دا غسل واجب نه دے،

ددے حديث نه عذرونه

(۱): دَ ابوهريرهؓ دَ روايت نه يو عذر دادے چه دا دَ ابوهريرهؓ تفرد دے او عموم بلوي کښ دَ خبريدو په قبوليت کښ کلام دے ليکن دا جواب علامه لکهنوي رد کړے دے،

(۲): بعض محدثين صراحة دَ روايت تضعيف کوي بلکه بعض وائي چه په دے باب کښ هيڅ خيز ثابت نه دے،

(۳): ابوداود حتماً وئيلے دي چه دا حکم منسوخ دے او دا ئے دَ امام احمد نه نقل کړي دي علامه لکهنوي دَ تفصيل نه بعد التعليق الممجد کښ خلاصه راوباسلے ده چه دَ ابوهريرهؓ حديث نه شي رد کيدے ددے طرق او شواهد زيات دي بلکه غوره داده چه دا استحبابي حکم دے، او تلخيص الحبير

کښې دي مختلف آحاديث جمع کول پکار دي ، امر دَ استحباب دپاره دے او دَ غسل نه مراد دَ لاسونو وينځل دي او دا خائسته جمع ده، او علامه خطابي معالم السنن کښې ليکلے دي : که تني چا ته ورغلے وي يا دَ مړي په بدن پليتي وي غسل دے اوکړي چه دَ جنازے مانځه ته بر وقت تيار وي ، او څوک وائي چه اودس دے احتياطا څکه نوے کړي کيدے شي دَ ډير وحشت دَ وجے ددهٔ نه هوا خارجه شوے وي بيا آخر کښې ليکي بهرصورت حکم استحبابي دے او ملاعلي قاري ليکلے دي چې ميرک شاه وائي : چه دا نه دي نقل چه نبي عليه السلام چرته خپله مړي لامبولے وي ، او په دے دَ احمد روايت دليل دے او کوم حديث کښې چه راځي مړے اولامبولو بيا ئے غسل اوکړو په ډيرو وجوهو سره اثرم دا حديث معلل گرځولے دے يو دا چه مصعب راوي امام احمد ضعيف گڼړي دوئم دا چه الفاظ کښې اختلاف دے يو روايت کښې دي "کان يغتسل" او بل روايت کښې يغتسل راغلے دے او بل روايت کښې "الغسل من اربع" راځي دا حجت دَ مړي په لامبولو نبي عليه السلام نه جوړيږي، نو ظاهر عدم اثبات دے دے ته ميلان دَ ملاعلي قاري معلوميږي "وهو باصله غير موجود في الاخبار والآثار" چه دَ اصل په اعتبار سره په اخبارو او آثارو کښې ددے ذکر نشته، او مسند احمد :۱: ۱۸۶ باندے دي "کان علي اذا اغتسل الميت اغتسل" دا روايت ضعيف دے چه دَ مړي دَ غسل کولو نه پس به سيدنا علي غسل کولو بهرحال دَ تتو رارسيدو يقين وي دَ نظافت دپاره دے غسل اوکړي ، نبي عليه السلام مړي له غسل نه دے ورکړے او صاحب حاوي دَ امام شافعي نه حکايت نقل کړے دے چه مړي له ئے غسل ورکړے دے ، دغه شان اختلاف دَ نبي صلي الله عليه وسلم خپله اذان کولو کښې هم دے،

ومن حمله فليتوضأ : اشعة اللمعات کښې يو قول دا ذکر دے چه ددے نه مراد مړي له لاس لگول دي او دا وجه مناسب ده چه دَ اوچتولو وخت کښې دے اودس ده کړے وي او څوک وائي دَ مړي لاش اوچتول قربت دے دے له طهارت اولي دے بهر صورت ددے دَ وجے غسل نه راځي او دَ ډيرو علماؤ مختار دادي چه غسل واجب نه دے،که مړي له غسل ورکړے شو نو عبدالله بن مبارک فرمائي نه په دهٔ اودس شته او نه غسل او څنے دَ اودس په نسبت غسل ته صحت له ترجيح ورکوي،

کوم حديث کښې چه راځي چه نبي عليه السلام غسل ورکړو مطلب دادے بل کس ته ئے حکم اوکړو چه غسل ورکړه اسناد مجازي دے دَ قطع الاميراللص غوندے لکه چه نبي عليه السلام آذان خپله نه دے کړے او بل ته ئے چه حکم ورکړو "الدال علي الخير کفاعله" داسے حديث کښې دي "ارجم

Maktaba Tul Ishaat.com

ماعز" بمعني ماعز دَ رجم حكم ئے ورکړو او هیثمي فتح الاله کښې لیکلے دي چه زمونږ په نزد هم دَ اکثرو علماؤ په نزد امر دَ استحباب دے او دَ وجوب نه دے،او دَ احنافو په نزد اصالة مستحب هم نه دے البته دَ خلاف نه دَ وتلو په وجه دَ استحباب قول کوي او روافضو کښې یوه فرقه ده دَ وجوب قائل دي؛

(٦): "وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَربع: من الْجَنَابَة وَمن يَوْم الْجُمُعَة وَمن الْحجام وَمن غسل الْمَيِّت. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه : عائشه رض فرمائي : چه نبي علیه السلام به دَ لامبلو حکم دَ څلورو وجوهاتو دَ وجے کولو (١): دَ جنابت نه دَ ځان راوباسل (٢): دَ جمعے دپاره (٣):په ښکرو چه کله وینه راوخي (٤): او دَ مړي دَ لامبلو دپاره؛

تشريح : دَ حدیث دا مطلب نه دے چه دَ جنابت نه غسل کول ، دَ مړي غسل ، دَ جمعے دَ ورځے غسل او ښکرو لړولو نه پس غسل کول یو حکم لري او دا نور کارونه هم دَ جنابت غوندے په یو کس فرض او ضروري دي ، فتح الاله کښې علامه هیثمي لیکلے دي : "لا دلیل في عطف مابعده علیه علي ان واجب مثله لأن دلالة الاقتران غير حجة" په جنابت ئے چه دا روستني عطف کړي دي چه دا یو شان واجب دي څکه دَ یو ځائے دَ راتلو دلالت حجت نه دے الله فرمائي "كلوا من ثمره اذا اثمر واتوا حقه يوم حصاده" حالانکه میوه خوړل جائز دي او دَ الله حق په دے دَ "لو" په ورځ اجماعا واجب دے اګر چه عطف شوے دے لیکن حکم یو نه دے انتهي؛

دَ انس رض روایت دارقطني کښې دے چه نبي علیه السلام ښکرے اولګولے مونځ ئے اوکړو او اودس ئے اونه کړو چه کوم محاجم وو دَ هغے نه زیات ئے نه دي وینځلي، معالم السنن کښې علامه خطابي لیکلے دي چه دا عقلي خبره ده چه دَ حجامة نه پس دَ هغے ځایونو وینځل دا دَ اماطة الاذي سره تعلق ساتي او محجم دَ وینو دَ تتو نه په امن نه وي نو دَ پاکئ او صفائي ستهرائي دپاره دا مستحب دي ، علامه طیبي لیکلے دي : چه "من اربع" کښې دا "من" ابتداء الغايه" او دَ جنابت نه غسل کول بالاتفاق واجب دي او دَ جمعه په ورځ غسل کول او دَ ښکرو لګولو نه پس غسل کول دا مستحب دي او دَ ښکرو لګولو نه پس دا حکم دَ اماطت الاذي دپاره نظافت دے؛

(۷): "وَعَن قيس بن عَاصِم: أَنَّهُ أَسْلَمَ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ"

ترجمه : دَ قيس بن عاصم نه روايت دے چه دَهٔ اسلام راوړو نو نبي عليه السلام ورته حکم اوکړو چه اودے لامبي په اوبو او دَ بيرو په پانړو سره،

تشريح : دَ قيس بن عاصم پيژنګلو

اشعة اللمعات کښ شيخ عبدالحق ليکلے دي دا صحابي دے دَ تميم په وفد کښ نبي عليه السلام له راغلے وو او اسلام ئے قبول کړو دا دَ هجرت نهم کال وو نبي عليه السلام ديدار ورته کله نصيب شو اوئے فرمائيل "هذا سيد اهل الوبر" دا دَ بانډچيانو سيد دے ډير عاقل او برد بار او شريف وو بصريانو کښ شمار کړے شوے دے او ددهٔ نه حسن بصري روايت کوي انتهي،

علامه ابن عبدالبر ليکلے دي : چه ددهٔ کنيت ابوعلي تميمي دے ، المفاتيح کښ دي چه دَ نيکه نوم ئے سنان بن خالد دے، چاورله مرثيه کښ اشعار وئيلے دي :

عليک سلام الله قيس بن عاصم : : ورحمته ما شاء ان يترحما
وما کان قيس هلکه هلک واحد : : ولکنه بنيان قوم تهدما

(حماسه)

دَ اسلام راوړلو وخت کښ دَ غسل حکم

دَ امام احمد په نزد مطلقاواجب دي او ائمه ثلاثه چه احناف پکښ هم دي فرمائي که دَ اسلام راوړلو وخت کښ يو سړے جنب وي په دهٔ غسل واجب دے کني صرف مستحب دے ليکن په دے کښ اختلاف دے چه دَ اسلام راوړلو نه مخکښ ددهٔ دَ جنابت حالت وو او غسل ئے اوکړو بيا ئے اسلام قبول کړو نو دَ احنافو په نزد دَ کفر په حالت کښ ددهٔ غسل کول معتبر دي او دَ جمهورو په نزد نه دي معتبر ځکه دَ دوي په نزد دَ غسل دَ صحت دپاره نيت کول شرط دے او دَ کافر نيت له اعتبار نشته او تبين الحقائق کښ علامه زيلعي ليکلے دي "اذا اسلم الکافر جنبا ففيه روايتان" که چرته جنب اسلام قبول کړي دوه روايته دي يو روايت کښ واجب نه دے ځکه دے دَ شرع مخاطب نه دے دَ کافر غوندے دے او دوئم روايت کښ واجب دے، ځکه دَ مانځه په اراده دَ غسل دَ واجب کولو مخاطب جوړيدے

شي دا دَ اودس غونډے وو او قيس بن عاصم چه کله اسلام قبول کړو نو دَ مندوب غسل حکم ورته شوے دے علامه طيبي ليکلے دي چه دا غسل به دَ شهادتين نه مخکښ کوي يا روستو نو اصح قول دادے چه اول به دَۀ ته دَ شهادتينو دَ وئيلو حکم ورکړے شي بيا به غسل کوي او امام مالک او احمد دے غسل ته واجب وائي ،المفاتيح کښ دي اصح داده چه دَ کلمتين دَ شهادت پورے به غسل روستو کولے شي اول به شهادتين وائي او بيا به غسل کوي ،

کتاب المجموع : ۲: ۱۲۱ باندے علامه نووي داسے ليکلے دي چه کله کافر جنابت کښ اسلام قبول کړو او دَ لامبلو نه مخکښ ئے اسلام قبول کړے دے په دۀ غسل لازم دے امام شافعي دَ هغے صراحة کړے دے او ابو سعيد اصطخري فرمائي چه نه دے لازم غسل او دغه مذهب دَ امام ابوحنيفهؒ دے الله فرمائي "قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ" (الانفال:۳۸) او دَ سيدنا عمروبن العاص روايت دے الاسلام يهدم ماكان قبله رواه مسلم او ډيرو خلقو اسلام قبول کړے دَ هغوي ښځے او بچي وو او دَ غسل حکم ئے دوي له وجوبا نه دے ورکړے او نور مجتهدين وائي دَ آيت او دَ مسلم حديث نه مراد دَ ګناهونو بخنه ده دوي اجماع کړے ده که چرته په ذمي قرضه او يا قصاص وي دَ اسلام دَ وجے هغه نه ختميږي ، نورالايضاح کښ دي چه کافر مسلمان شي غسل ورله مستحب دے علامه سهارنپوري بذل المجهود کښ ليکلے دي چه چا به اسلام قبول کړو نو هر يو کس ته حتما نبي عليه السلام دَ غسل حکم نه دے کړے دا قرينه ددے ده چه امر استحباب دپاره دے،

الفصل الثالث

(۸): "عَنْ عِكْرِمَةَ: إِنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوا فَقَالُوا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا قَالَ لَا وَلَكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ. وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ: كَانَ النَّاسُ مَجْهُودِينَ يَلْبَسُونَ الصُّوفَ وَيَعْمَلُونَ عَلَى ظُهُورِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ إِنَّمَا هُوَ عَرِيشٌ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ حَارٍّ وَعَرِقَ النَّاسُ فِي ذَلِكَ الصُّوفِ حَتَّى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ آذَى بِذَلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا. فَلَمَّا وَجَدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيح قَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ إِذَا كَانَ هَذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيبِهِ» . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: ثُمَّ جَاءَ اللَّهُ بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوا غَيْرَ الصُّوفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِي كَانَ يُؤْذِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ"

ترجمه : دَ عکرمه نه روایت دے چه بعض عراقیان راغلل دوي اوئیل اے ابن عباس آیا ته دا گنړے چه دَ جمعے په ورځ غسل واجب دے؟ اوئیل نه لیکن دا خه پاکي راولي او چا چه اولامبل خه ئے اوکړل اوچا چه اونه لامبل نو دَهٔ باندے لامبل څه واجب نه دي او ضرور به تاله خبر درکړم چه دا لامبل په کم کیفیت شروع شو اکثر خلق تکلیف او کړاو کښ به وو دَ وړیٔ جامے به ئے اغوستلے او په شاګانو به دوي بوجهـ پورته کولو او دَ دوي مسجد تنګ وو او چهت ئے چیت او نزدے وو دا یو سپر وو په یوه سخته ګرمه ورځ کښ دَ نبي علیه السلام راوتلو او دغه خلق په دغه وړیٔ کښ خولے شوے وو تردے چه دَ دوي ورم او لړه بد بوئي خوره شوے وه ددے په وجه بعض ، بعضو له تکلیف ورکولو ، کله چه نبي علیه السلام دغه بدبوئي محسوس کړه اوے فرمائیل اے خلقو چه کله داسے قسم ګرمه ورځ وي اولامبئ او پکار دي چه په تاسو کښ یو تن غوره دَ خپلو تیلو او خوشبوئے نه اولګوي ، ابن عباس فرمائي بیا الله مال او فراخي راوستله او بے دَ وړیٔ نه نورے جامے دوي واچولے او دَ عمل نه بند کړے شو (خادمان ورله الله ورکړل) او مسجد کښ فراخي راوستلے شوه او هغه بعض څیز چه خوَله ده بعض له بعض به تکلیف ورکولو هغه خبره ختمه شوه ،

تشریح : دَ عکرمه پیژنګلو

مقدمه دَ فتح الباري کښ دي چه دَ ابن عباس رض غلام وو ډیرو اکابرینو ورته کاذب او خارجي وغیرهٔ وئیلے دے چنانچه دَ عبدالله بن عمر رض ، سعید بن المسیب، ابن سیرین ، یحیي بن سعید انصاري ، امام مالک ، امام شافعي او دَ قاسم بن معن نه داسے غوندے امور قادحه دَ هغوي په نسبت روایت شوے دي، صحیح مسلم کښ ددهٔ نه روایت نشته لیکن امام احمد ، امام اسحاق ، ابوثور ، یحیي بن معین او ابوحاتم دَ دوي توثیق کوي څکه امام بخاري رح دَ دوي نه ډیر روایات اغستلے دي امام بخاري دے ته

کتلے دي چه زما استاذانو دَ دوي توثیق کړے دے هغوي ئے توثیق کوي او هغه دَ بخاري روایتونو ته امت صحیح او واجب العمل وائي او بخاري اصح الکتب بعد کتاب الله الباري ګڼړي،
او تنسیق النظام کښې علامه سنبهلي لیکلے دے چه عکرمه بن عبدالله بربري دي ثقه او ثبت دے دَ تفسیر پوهه عالم دے دَ ابن عمر نه تکذیب دَ دهٔ نه دے ثابت (لکه مقدمه دَ فتح الباري کښې دي) هیڅ بدعت ددهٔ نه ثابت نه دے (خارجي څنګه شو؟) ۱۰۷ هجري کښې دَ ۸٤ کاله عمر کښې وفات دے او ابن سعد دَ دوي تذکره ثقات تابعین کښې کوي او علامه عیني عنایه کښې په بحث دَ غسل الجمعه کښې لیکلے دي چه امام بخاري فرمائي زمونږ ټول ملګري دے حجت ګڼړي او بعض توثیق کوونکي دي لکه عجلي فرمائي دَ خلقو اعتراض چه دَ حروریه نه وو غلط دي نو دَ ابن حزم تضعیف ته التفات مه کوه چه دهٔ دَ خپل مذهب ترویج کولو، دَ دوه ولادت ۸۳ هجري کښې شوے دے دَ سعد بن جبیر نه چا تپوس اوکړو چه ستا نه خه پوهه څوک شته ، جواب ئے ورکړو عکرمه دے دوي دَمکے فقهاؤ کښې حسابیږي

من اهل العراق : دَ عراق طول دَ هاران نه تر موصل دے او عرض ئے دَ قادسیه نه تر حلوان دے ،
یا ابن عباس : دا ئے دَ عربو په عرف او عادت وئیلے دي ، علامه هیثمي لیکلے دي چه دوي دَ اکابرینو سره دَ خطاب وخت کښې دَ ډیرو ادابو رعایت نه کوو ددے واقعے نه معلومه شوه چه ابتدائي وخت کښې د ډیرو صحابؤ مالي حیثیت دنیوي لحاظ سره کمزورے وو دَ فتوحاتو نه روستو الله وسعت پیدا کړو په دے وجه دَ مسجد تعمیر ئے ساده اوکچه وو مضبوط چهت دَ دوي دَ مسجد نه وو او چهت یو چوپال او سَپر غوندے وو وسعت ، مضبوط تعمیر او خائسته پورته چهت برابر نه وو ،
من دهنه وطیبه : دَ عام عطف په خاص شوے دے ددے نه مراد خوشبو والا تیل دي او صحیح حدیث کښې دي چه دَ جمعه دَ مانځه نه به مخکښې نبي علیه السلام خپل نوکونه اغستل او بریت به ئے اغستل (بیهقي في شعب الایمان:رقم الحدیث:۲٦٤٥)
او دیلمي دَ یو روایت تخریج کړے دے "ماطابت رائحة عبد قط الا قل همه" لړ ئے مال غم ئے کم وي (ذکره الشوکاني في الفوائد المجوعه:۱۹۳:۱) دَ خوشبو استعمال سره به غم کمیږي،
ثم جاء الله بالخیر : (۱): دَ خیر نه مال مراد دے قرآن کښې دي "وانه لحب الخیر لشدید" دا انسان دَ مال په مینه کښې ډیر سخت دے آخري عمر کښې فتوحاتو ته اشاره ده ،

(۲): فتح الاله کښې دي علامه هيثمي ليکلے دي چه دَ خير نه مراد ظهورالاسلام دے چه هغه دَ مال راتلوله مستلزم دے دے روايت کښې دي چه کړاو ختم شو او دَ وړئ جامے به بيا نه وے غلامان ورله الله ورکړل او دَ ډيرو غريبي ختمه شوه معلومه شوه چه (کان يؤذي) علت دے چه دَ غسل په اهتمام سره دَ کولو علت هغه کثرة الايذاء" دَ بدبوئي دَ وجے بيا چه راحت راغے دغه موکد حکم دَ غسل ختم شو ، اشعة اللمعات کښې شيخ عبدالحق ليکلے دي چونکه علت منتهي شد حکم منتهي شد ، چه علت ختم شو حکم ختم شو انتهاء ته اورسيدو دے ته وائي عدم الشيئ بسبب عدم غايته لکه دَ مؤلفة القلوب دَ زکوة علت ختم شوے دے نن صبا ئے حکم ختم دے بعض وائي نسخ ځکه بعيد لګي چه دَ تاريخ پته نشته ليکن دَ واقعے نه خپله دَ تاريخ پته دَ مخکښې او دَ روستني حالت خپله معلوميږي لکه ثم جاء الله ، ثم دَ تراخي في الزمان دپاره هم راځي او بعض علماء وائي چه غسل مخکښې هم واجب نه وو بلکه استحباب ډير مؤکد وو اوس اصل استحباب پاتے دے او دَ استحباب تاکيد ختم شو شيخ عبدالحق فرمائي چه اوله (عدم الشيئ بسبب عدم غايته) وجه ده او بعض شارحين دغه وجه اخلي،

Maktaba Tul Ishaat.com

باب الحيض

ربط او مناسبت : مرقات کښې ملا علي قاري ليکلے دي چه کله دَ مسنون غسل نه مصنف فارغ شو وس دَ هغې غسل ذکر کوي چه فرض غسل ضروري کوي دَ حيض ختميدل دا هم دَ غسل دَ وجوب دپاره سبب دے دَ مسنون غسل تعلق نارينه او زنانه دواړو سره وي او دا قسم دَ حيض نه بعد غسل دَ بعض مؤنث سره خاص دے ،

حيض لغة

لغت کښې حيض سيلان او بهيدلو ته وائي ، او حاض الوادي، کنده اوبهيدله ، حاضت الشجرة ، دَ ونے نه خپل چيړ رابهر شو،

اصطلاحي تعريف

تبيين الحقائق کښې عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: ۷۴۳ ھ په حواله داسے تعريف ذکر دے "هو دَمٌ يَنْفُضُهُ رَحِمُ امْرَأَةٍ سَلِيمَةٍ عن دَاءٍ وَصِغَرٍ" دا هغه وينه ده چه دداسے ښځے رحم ئے غورځوي چه بيمارئ او وړوکولي نه بچ ده - "رحم امرأة" سره هغه وينه خارجه شوه چه پوزه ئے ماته شي يا دَ زخم نه وينه راوځي او دَ مستحاضے وينه ترے خارج ده ځکه دا اکثر دَ رګ نه راوځي دَ رحم نه نه راوځي او چه کله قيد اولګيدو "سليمة عن داء" دَ نفاس وينے ته نه ده شامل ځکه دا دَ ناجوړتيا حکم لري ځکه خو ددے تبرعات دَ ثلث او دَ درئمے حصے نه به حسابيږي ،

ينفضه : دَ باطن فرج نه به ظاهر ته راوتلے وي حيض ، نفاس او استحاضه هم په دغه شان په ظاهر روايت کښې ثابتيږي ، دَ حيض او نفاس په صورت کښې چه کله دَ وينے دَ راوتلو احساس اوشي اګر چه نه وي رابهر شوے او ښکاره شوے دا حيض او نفاس ثابتيږي،

من موضع مخصوص : مراد ددے نه هغه قُبل دے چه دَ ولادت ځائے دے او دا په يو خاص وخت کښې به وي (تبيين الحقائق)

او اشعة اللمعات کښې دي "خونے کہ از رحم آيد بے علت وولادت وانچه بعلت گويد آں را استحاضه گويند"

دَ شافعي مسلک سره موافق تعريف

الدم الخارج سن الحيض وهو تسع سنين قمرية فاكثر من فرج المرءة علي سبيل الصحة" دا هغه وينه ده چه دَ حيض دَ راتلو په عمر يعني نهه کاله دَ سپوږمئ په اعتبار سره چه پوره شي بيا راوځي يا ددے نه زيات عمر کښې دَ ښځے دَ شرمګاه په طريقه دَ صحت سره ، دے تعريف کښې نهه کاله ليکلے دي چه ددے نه ابتدا کيدے شي او په بدائع صنائع کښې دي "وَأَمَّا وَقْتُهُ فَوَقْتُهُ حِينَ تَبْلُغُ الْمَرْأَةُ تِسْعَ سِنِينَ فَصَاعِدًا عَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ"

دَ مالکيه تعريف

"دم أو صفرة أو كدرة خرج بنفسه من قبل من تحمل عادة " (ارشاد السالک : ۱:۴۲) زيړه او خړه غونډے داسے وينه چه دَ محکښې حصے نه خپله راوځي دَ عادت سره موافق ،

دَ حنابله تعريف

"وفي اصطلاح الفقهاء: دم جبلة، يخرج من رحم المرأة مع الصحة، من غير سبب ولادة أو، في أوقات معلومة." (فقه العبادات علي المذهب الحنبلي: ۱: ۱۱۹، تعليق دَ تلخيص الحبير: ۴۲۳)

هغه فطري وينه چه دَ بالغے ښځے په خاص اوقاتو کښې راوځي ،

دَ حيض نومونه

ددے په عربيت کښې تقريبا لس نومونه دي (۱): حيض (۲): طمث (۳):ضحک ، (٤): اکبار(٥): عصار (٦):دراس (٧): عراک (٨): فراک (٩): طمس (١٠): نفاس

او دليل الفالحين لطرق رياض الصالحين کښې دَ حيض نومونه په اشعارو کښې زکر کړے دي :

أسماء الحيض العشرة التي نظمتها في قولي:

للحيض عشرة أسماء لنا وردت : طمس وطمث وإعصار وإكبار
ضحك دراس عراك بعد ذاك أتى : حيض نفاس فراك هم يا جار

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ حيض كمه او زياته موده

(۱): امام نووي المجموع :۲: ۲۸۲ باندے ليکلے دي چه زمونږ دَ شوافعو مشهور مذهب دادے چه دَ حيض کمه موده يوه ورځ يوه شپه ده او ډيره موده ددے پنځلس ورځے ده

(۲):امام احمد فرمائي چه اکثر موده چه مونږ اوريدلے ده دا وولس(۱۷) ورځے ده،

(۳):سفيان ثوري ، امام ابوحنيفهؒ ، امام ابويوسف، او امام احمد فرمائي : چه دَ حيض کمه موده درے ورځے او ډيره لس ورځے ده ،

(٤):ابن المنذر او بعض علماء وائي چه دَ کمے او زياتے دواړو مودے له دَ ورځو په اعتبار سره تحديد نشته ،

(٥):دَ امام ابويوسف نه روايت دے چه دَ حيض کمه موده دوه ورځے او دَ دريمے ورځے ډيره حصه ده ،

(٦): او دَ ام مالک يو روايت دادے چه دَ کمے مودے حد نشته هغه يوه گهنته هم کيدے شي ، او دَ حيض په ډيره موده کښ دَ امام مالک نه مختلف روايات دي ، پنځلس ورځے ، اوولس ورځے ، او غير محدود ،

(٧):او الاستذکار:۱:۳٦۳ باندے نووي ليکلے دي چه ابن الماجشون وائي چه اقل حيض او طهر دواړه پنځه ورځے دي ،

(٨): ابن ابي عمران وائي چه يحيي بن اکثم کم نه کم طهر پنځلس ورځے گنړي،

الموسوعة الحديثية :٥: ۲۷٦ باندے دي : قال ابو عبيد سمعت ابا يوسف يحدث عن ابي حنيفة قال ادناه ثلاث واقصاه عشرة" چه کمه موده درے او زياته به لس ورځے وي او دغسے دَ ابو يوسف او دَ سفيان قول هم دے،

او مجموع رسائل دَ ملاعلي قاري :۹: ٥٤ باندے (الرساله:۸۱) مناقب الامام الاعظم واصحابه " "چه اول کښ امام صاحب فرمائيل چه اکثر حيض پنځلس(۱۵) ورځے دے کله چه دَ انسؓ قول ورته اورسيدو "الحيض ثلاثة ايام الي العشرة والزائد استحاضة" ددغے قول نه ئے رجوع اوکړه آخري قول دَ دوي لس ورځے دے"

ابو زيد بستاني قول دے "المرأة اذا حاضت طهرت بثلاثة ايام واكثره بعشرة" (صفة الصفوة :۲: ۳۰۷)

دَ امام ابو یوسف مختلف اقوال دي

کشف الاثار للحارثي:۱:۴۲۲ او دَ امام ابو حنیفه روایت دے چه ښځه پنځوس نه واخله شپیته کالو ته اورسي، حیض ئے ختمیږي،

دَ نفاس مدّت

او امام ابوحنیفهؒ دَ حماد نه او هغوي دَ امام نخعي نه نقل کوي چه دَ نفاس عدة څلویښت ورځے دي، الموسوعة:۵: ۲۹۰)

بلکه دا څلویښت ورځے دَ نفاس اکثره موده دَ ائمه ثلاثه مسلک دے او دَ امام شافعي په نزد شپیته (۶۰) ورځے دے،

علامه الباني ارواء الغليل کښ: ۲۰۱ نمبر باندے ج: ۱: ص: ۲۲۲ باندے لیکلے دي : چه "وقالت أم سلمة : " کانت المرأة من نساء النبي (صلى الله عليه وسلم تقعدفي النفاس أربعين ليلة" چه امهات به څلویښت ورځے دَ نفاس کیناستلے انتهي،

ترمذي ص:۵۴ او مسلم ، ابوداود کښ هم شته دا ډیره موده ده او ددے ورځو دَ مونځ قضاء به هغوي نه کولو، دَ ام سلمه روایت اګر چه غریب دے یواځے ابوسهل ددے روایت کوي لیکن في نفسه صحیح دے او دَ مسّه ازدیه په جهالت په حدیث څکه اعتراض نشته،

او امام نووي مجموع کښ لیکلے دي چه دا حدیث سندا صحیح دے او امام ورسره په دے کښ موافقت کړے دے او زما په نزد ذا حسن روایت دے او رجال ئے ټول ثقات دي معروف دي بے دَ حمنه نه، حافظ تلخیص کښ ورته مجهول الحال وائي لیکن اخر کښ لیکي حدیث حسن زما په نزد راجح دے او صحیح ابوداود کښ ما ددے وضاحت کړے دے انتهي،چه دَ صحابؤ نه روایت کونکي دَ تابعینو دَ اولے طبقے احوال که پټ هم دي دوي له څکه اعتبار نشته چه په دغه زمانه کښ دَ راویانو دَ ریکارډ تیارولو سلسله نه وه شروع ، البته که دَ یوے طبقے یو راوي صراحة ضعف ثابت شي دَ هغے اعتبار وي، لکه حارث اعور وغیره هغه ضعیف دے دَ تحفة المعي دے بحث کښ قاضي شوکاني لیکلے دي چه دَ سیدنا علي ، عمر ، عثمان ، او عائشه ، او ام سلمه دغسے جمهور وائي چه دا څلویښت ورځے دے او المغني :۱:۴۲۰ باندے لیکلے دي چه دغسے امام احمد او ابوحنیفهؒ وائي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

عن انس ؓ قال وقت النفساء اربعون يوما الا ان تري الطهر قبل ذالک، (مسند ابي يعلي: ۷۱۸)
الاستذکار:۱: ۳۶۳ باندے دي :"لِأَنَّ إِجْمَاعَ الصَّحَابَةِ حُجَّةٌ عَلَى مَنْ بَعْدَهُمْ، وَالنَّفْسُ تَسْكُنُ إِلَيْهِمْ. فَأَيْنَ الْمَهْرَبُ عَنْهُمْ دُونَ سُنَّةٍ وَلَا أَصْلٍ ؟ وَبِاللَّهِ التَّوْفِيقُ" کویا په دے ددۀ زړه مطمئن دے ، علامه زیلعي تبیین الحقائق کښې لیکلے دي چه اکثر نفاس څلویښت ورځے دے او زیات ته استحاضه وائي او امام شافعي فرمائیلے دي چه اکثر مدت شپیته ورځے دي ځکه چه امام اوزاعي فرمائیلے دي چه مونږ سره یوه ښځه وه دَ هغے دوه میاشتے نفاس وو او ددے نه شرح مهذب کښې امام نووي دلیل نیولے دے حالانکه امام ترمذي فرمائي چه دَ عالمانو صحابۇ او دَ روستنو خلقو اجماع ده چه نفاس والا ښځه به څلویښت ورځے مونځ پریږدي مګر ددے نه مخکښې پاکه شي بیا هغه وخت نه پاکه حسابیږي او امام طحاوي فرمائي چه صحابۇ کښې یو صحابي هم دَ شپیتو ورځو قول نه دے کړے ،

دَ امام اوزاعي جواب

ددغے ښځے نفاس څلویښت ورځے وو او زیاته به استحاضه حسابیږي او دَ هغه هیڅ دلیل نشته چه دومره موده به دا ښځه مونځ او روژه نه آدا کوي او خاوند باندے ددے وطي کول به حرام وي په یو شرعي دلیل دَ کتاب و سنت یا قیاس ، صرف دغه دلیل نه جوړیږي چه امام اوزاعي دَ یو مجهولے ښځے واقعه ذکر کړے ده او چه کله دَ دوي په نزد دَ صحابي قول حجت نه دے نو بیا څنګه دَ اوزاعي قول حجت دے ، (کتاب المجموع:۲: ۲۸۲)
اکثر ښځے دَ شلو او دریشو مینځ کښې پاکیږي پوره څلویښت ضروري نه دي او دَ څلویښتو نه چه زیات شي استحاضه ده دغسے سفیان ثوري وائي؛

دَ څلویښتو ورځو عقلي وجه

البحرالرائق کښې دي : چه بچي ته دَ مور په خیټه کښې تر څلویښت ورځو روح نشي اچیدلے دَ حمل دَ قرار سره فورا دَ رحم خُله بنده شي او دا دَ حیض وینه دَ ماشوم خوراک جوړیږي ، هره میاشت کښې دَ لسو ورځو په حساب تر څلورو میاشتو دَ مور رحم کښې وینه جمع کیږي چه کله پکښې روح واچوي هغه دَ غذا قابل جوړ شي تر پنځه میاشتو دَ حیض دَ وینے اصلي اجزاء ئے خوراک وي په دے اعتبار دَ څلور میاشتو دَ حیض وینه هره میاشت کښې دَ لس ورځو په حساب څلویښت ورځے جوړیږي او داسے

طريقے سره دَ جمع كيدو موده څلويښت ورځے جوړيږي دغسے ددے دَ خارج كيدو په صورت كښې څلويښت ورځو له اعتبار وي،

دَ احنافو دليل دَ حيض كمے او زياتے مدت دپاره

(۱): اقل الحيض ثلاثة ايام واكثره عشرة ايام رواه الدارقطني،

(۲): عن ابي امامة عن النبي صلي الله عليه وسلم لايكون الحيض اكثر من عشرة ايام ولا اقل من ثلاثة ايام"

(۳): وعن انس قال الحيض ثلاث ، اربع ، ترلسو پورے ذكر كوي او سيدنا انس داسے خبره توقيفاً كوي ليكن روستو نووي ليكلے دي چه دا ټول دلائل واهي او ضعيف دي او دوي سره په دے هيڅ حديث او داسے اثر نشته چه تاويل حجت اوګنړلے شي انتهي،

علامه ابن قيم ليكلے دي "أَكْثَرُ الحيضِ عَشَرَةُ أيام وهو ضعيف باتفاقهم على محض القياس" (اعلام الموقعين:٤: ٣٢)

او صفة الصفوة:۲: ۳۰۷ باندے دي: ابو يزيد بسطامي به فرمائيل "يا مأوى كل سوء، المرأة إذا حاضت طهرت بثلاثة أيام أو أكثره بعشرة، أنت يا نفس قاعدة منذ عشرين وثلاثين سنة بعد ما طهرت فمتى تطهرين؟"

واضحه دے وي چه دے باب كښې هيڅا سره صحيح ، صريح ، مرفوع متصل حديث نشته ، معارف السنن كښې علامه بنوري ليكلے دي : واحسن حالا من الادلة الحنفية اثر انس بن مالک موقوفا قرء المرءة ثلاثا ، اربع، خمس ، ست ، سبع ، ثمان ، تسع ، عشر ، او ددے په سند كښې جلد بن ايوب دوي ضعيف ګنړي اه ،

الجوهر النقي كښې دي : چه دا حديث دَ "جلد" نه يو جماعت د ائمه ذكر كوي چه وي كښې سفيان ثوري ، اسماعيل بن عليه ، حمادين ، زيد ، هشام ، ابن حبان ، او سعيد بن ابي عروبه ، وغيرهم دي ، او ابن عدي فرمائي چه ما دَ "جلد" هيڅ حديث بالكل منكر نه دے موندلے او ددے روايت متابعات او شواهد شته يو دَ دارقطني دَ ربيع بن صبيح روايت چه دوي دَ سيدنا انس نه اوريدلے دے چه حيض دَ لسو ورځو نه زيات نه وي او دے ربيع باره كښې ابن معين فرمائي چه دا ثقه دے او ابن حنبل فرمائي "لابأس به" او دا نيک سړے دے او شعبه فرمائي چه دَ مسلمانانو دَ مشرانو نه دے او ابن عدي فرمائي

Maktaba Tul Ishaat.com

ددۀ احاديث صالح او برابر دي اميد لرم چه دے کښې څه نشته دغسې دارقطني کښې دَ عثمان روايت دے چه ابوالعاص فرمائي که په حائضې دَ لسو نه زياتې ورځې تيرے شي دا به دَ مستحاضې غوندے وي اوبه لامبي او مونځ به کوي او امام بيهقي فرمائي چه ددے اثر په سند کښې څه خبره نشته انتهي، او مقدرات شرعيه په رأي نشي معلوميدے په دے کښې موقوف روايت لکه دَ مرفوع دے دغسې ابن الهمام فرمائي،

زمونږ دَ احنافو مستدلات دَ شوافعو په نسبت قوي دي اګر چه ضعيف دي ليکن حال ئے بيا دَ هغوي دَ مستدل نه مضبوط دے، امام شافعي او احمد په نزد دَ کمې مودے له هيڅ حد نشته،

نوټ : قاضي شوکاني صاحب شيخينو ته چه کوم نسبت کړے دے چه دَ دوي په نزد کمه موده يؤلس ورځې ده دا دَ احنافو کتابونو کښې نشته بلکه بدائع صنائع کښې دي "واما الكلام في مقداره فأقله غير مقدار بلاخلاف"

دَ امام شافعي دليل

تمکث احداکن شطر عمرها لاتصلي او "شطر" پنځلس ورځې دي چه دَ مياشتې نيمه ده ليکن علامه بنوري معارف السنن کښې ليکلے دي "حديث لايعرف" دغسې په تحقيق کښې ابن جوزي ليکلے دي او په تنقيح کښې ورسره موافقت کړے دے او دَ امام بيهقي اعتراف دے چه ما دا روايت نه دے موندلے او امام نووي مجموع کښې ليکلے دي "حديث باطل لا يعرف"

دَ علماؤ دَ قول نه امام شافعي دليل نيسي چه دَ حيض زياته موده پنځلس ورځې ده او کم نه کم يوه ده ، دارقطني او سنن بيهقي

يوه اهمه مسئله

که څوک داسې دارو استعمال کړي چه دَ ښځې حيض که دَ هغې وجې نه بند شي که صحت له نقصاني نه وي دَ هغې استعمال کښې څه نقصان او شرعي بنديز بيا نشته،

دَ علامه ابن تيميه رح حواله

مجموع فتاوي ۱۷ : ۱۹ باندے دي "أنها لو شربت دواء قطع الحيض أو باعد بينه، كان ذلك طهراً" که په دارو پاکه اوګرځيدله پاکه به حسابيږي ،

او دے خبرو کښې صفحه : ۱۰ باندے لیکلے دي :" و القرء عند أكثر الصحابة؛ كعثمان، وعلي، وابن مسعود، وأبي موسى، وغيرهم : الحيض"چه ډیر صحابه ددے نه حیض اخلي،

او دَ احنافو دا خبره راجحه ده لکه الحق الصريح کښې هم دي جلد:۱۱: ۵۷۲ باندے لیکي "دوئم قول دادے چه دَ قروء نه مراد حیضونه دي او دا دَ لسو صحابو قول دے چه په دوي کښې عمر ، علي او عثمان هم داخل دي او دا دَ تابعینو دَ یو جماعت لکه دَ ابن مسعود ؓ ملګري علقمه ، اسود ، ابراهیم او دا دَ شعبي ، حسن ، قتاده او دَ ابن عباس دَ ملګرو سعید بن جبیر ، طاووس قول دے او دا دَ سعید بن المسیب قول دے دا رنګه دا دَ احنافو ، اسحاق بن راهویه امام احمد قول دے،

او په صفحه : ۵۷٤ باندے لیکي "راجح قول دا دئم دے کوم چه دَ لسو صحابه کرامو په قول سره مؤید دے ، امام احمد فرماني دا دَ رسول صلي الله علیه وسلم دَ مشرانو صحابه قول دے او نظر هم ددے تائید کوي، انتهي،

مسئله : علامه ابن تیمیه لیکلے دي که دَ یو ښځے بچے پیدا شي او ددے وینه دَ څلویښتو ورځو نه کم کښې بنده شي اوبه لامبي او مونځ به کوي،

حیض څناورو کښې کوم څناور له راځي

دَ ترمذي کتاب الاطعمه کښې "الكوكب الدري" کښې دي چه خوئیے (ارنب) له حیض راځي او دا ئے عجیبه خبره لیکلے ده چه دا یو کال مذکر او بل کال مؤنث وي او دَ "ضبع" مؤنث ضبعان راځي کفن کخ او کفتار " دا هم دَ خرګوش غوندے یو کال مذکر او بل کال مؤنث وي ، دغسے اوښے ، نولي ، او خاپیرک له هم حیض راځي ، سپۍ ، دَ نولي مؤنث او دَ مار ، دغسے مهے پکښې بعض شماري چه ددے نه وینه دغسے راوځي ،

امام طحطاوی دے سلسله کښې اشعار نقل کړي دي لیکي : وجمع بعضهم من يحيض من الحيوانات وهي عشرة بقوله :

الحيض يأتي للنساء وتسعة : وهي النياق وضبعها والأرنب
والوزغ الخفاش حجرة كلبة : والعرس والحيات منها تحسب
والبعض زاد سميكة رعاشة : فاحفظ ففي حفظ النظائر يرغب

Maktaba Tul Ishaat.com

اعجوبة او عجيبة

جعلي پيغمبر او مرتد چه دَ دروغو دَ پيغمبرئ دعوي ئے کړے ده غلام احمد قادياني هغه وائي دا زما معجزه ده چه ماله حيض راځي دَ حماقت هم يو حد وي،

دَ الحق الصريح په حواله دَ هغوي نادره فائده

ص: ٦٨٧ باندے ليکلے دي : په دے اختلاف باندے بله نادره مرتبه شوه هغه دا چه يو سړے حالت دَ حيض کښې دَ سفر نه راشي نو دا چه قضاء حاجت کوي نو څه به کوي نو اصح قول دادے چه ددے سړي دپاره انزال کول په بل ځائے کښې جواز لري دا حديث پرے دليل دے ليکن دا دَ افضل خلاف ده انتهي،

يو دا خبره ده چه قول اصح دے او حديث په هغے دليل دي او بيا دَ افضل خلاف دے ددۀ په قول معلوميږي چه حديث پرے دليل وي او قول اصح وي بيا هم دَ افضل خلاف دي؟ عجيبه ده؟

دوئمه فائده : واقعي نادره ده څکه دوي خو دا وئيل غواړي چه خاوند دَ سفر نه کور ته راوړسي او دَ ښځے زمانه دَ حيض وي نو څه به کوي دے چونکه ځان مجتهد او دَ صاحب ترجيح مرتبه کښې ګڼړي نو اصح قول ئے ذکر کړو،

ليکن داسے ليکي : چه يو سړے حالت دَ حيض کښې دَ سفر نه راشي"

حالانکه سړے که حضر کښې وي يا سفر کښې ددۀ حالت دَ حيض نه وي ځکه چه سړي له حيض نه راځي ، اګر چه مقصد ئے دا معلوميږي چه يو سړے دَ ښځے دَ حيض حالت کښې دَ سفر نه راشي، عبارت مبهم دے،

واضح په خپل مقصد بے تأويله نه دے والله اعلم ،

دَ حيض ابتداء دَ چا نه او څنګه شوے ده

مصنف عبدالرزاق کښې په صحيح سند سره دَ عبدالله بن مسعود او عائشه رض نه روايت دے او امام بخاري په قول دَ صاحب انعام الباري هغے ته اشاره هم کړے ده "كان أول ما أرسل الحيض على بني إسرائيل وحديث النبي صلى الله عليه و سلم أكثر (بعضهم) هو قول عبد الله بن مسعود وعائشة رضي

الله عنهم . (وحديث النبي صلى الله عليه و سلم أكثر) أي كلام النبي صلى الله عليه و سلم أكثر قوة وآكد ثبوتا وأقرب إلى العقل قبولا وقد قال (كتبه الله على بنات آدم) وهو يدل على أنه جبلة للمرأة منذ خلقها الله تعالى]" معلوميږي چه شروع دَ بني اسرائيلو نه شوے ده دَ بني اسرائيلو نه مخکښ نورو ښځو کښې دَ حيض تصور نه وو ليکن امام بخاري په باب كيف كان بدء الحيض کښې ددے ترديد کوي "كتبه الله علي بنات آدم" حيض داسے څيز دے چه الله دَ آدم عليه السلام په لونړو ليکلے دے ګويا دَ آدم عليه السلام دَ وخت نه په زنانؤ کښې حيض دغه سلسله جاري وه دَ بني اسرائيلو دَ ښځو نه ددے شروع دَ مرفوع روايت نه خلاف دے، مرفوع روايت به په اوليت حقيقي او قال بعضهم روايت به په اوليت اضافي حمل کړے شي ،

تطبيق

علامه عينيؒ ليکلے دے چه کيدے شي چه دَ حيض ابتداء دَ آدم عليه السلام دَ زمانے ښځو شروع شوه ليکن دَ بني اسرائيلو په ښځو دَ څه وجے حيض بندکړے شو بيا دَ بنديز نه پس په روميي ځل ئے دا حيض دَ بني اسرائيلو په ښځو راپريخودو دَ "ارسل" مطلب دادے چه يو څيز اول بند وو بيا پريخودلے شي دا مطلب دَ روايت نه دے چه دَ بني اسرائيلو دَ ښځو نه مخکښ هيڅ ښځے له حيض نه راتللو (عمدة القاري)

بعض شارحين ليکي : چه دَ بني اسرائيلو ښځے به مسجد ته مانځه له راتللے مانځه کښې به دوي آخوا ديخوا کتل دَ سزا په طور په دغه خاص کيفيت والا حيض کښې دوي مبتلا شو ،

تطبيق دَ شيخ عبدالحق

اشعة اللمعات کښې دي : "بنات آدم که در حديث واقع شده است منافات لنسائے بني اسرائيل ندارد" فرمائي حديث کښې چه بنات آدم راغلے دي دَ بني اسرائيل دَ ښځو دَ واقعے سره منافات نه لري ، حاکم وغيره دَ ابن عباس نه روايت نقل کړے دے چه ابتدا ددےپه حواء بي بي راغلے ده، دغه بالذات او بلا واسطه وو دَ بني اسرائيلو خبره روستو په يو جهت ده ،

صاحب دَ مرقات "قيل" سره يو ضعيف قول نقل کوي چه زمونږ مور "حواء" چه کله دغه اونے نه غنم راؤشوکول الله په هغے دغه وينه مسلط کړه او الله ورته اوفرمائيل لکه چه تا دا زخمي کړه په تا به دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

حيض ابتلاء راولم او دغسې ستا په ټولو لونړو تر قيامته دا سلسله جاري وي دا دَ ابن رفعه قول دے،اګرچه اسرائيلي روايت معلوميږي،

دَ شيخ الحديث مولانامحمدزکريا فرمان

التقرير الرفيع کښې ليکلې دي چه اول دَ بني اسرائيلو په دور کښې په ښځو حيض راغلے وو دَ مصنف عبد الرزاق روايت دَ ابن مسعود نه دليل نيسي چه سړو ښځو دَ بني اسرائيلو به په جمع مونځ کولو نو ځنې زنانئ به کنړاوے دے له اچولے چه دَ بلے ملګرے نه په قد کښې دنګه ښکاري الله په هغوي حيض مسلط کړو او دَ عائشه نه روايت دے چه دَ بني اسرائيلو ښځو به کنړاوے جوړے کړے دي او مسجد کښې به دوي سړو ته ننداره کولے الله دَ مسجد نه معدوم کړل او حيض ئے په دوي راوليږلو ليکن امام بخاري فرمائي "کتبه الله علي بنات آدم" دومره عام دے چه بني اسرائيلو ښځو ته هم شامل دے او حاکم دغسې ابنِ المنذر دَ ابن عباسؓ نه نقل کوي چه کله آدم عليه السلام دَ هغے اونے نه چه ترے بند شوے وو خوراک اوکړو الله ترے تپوس اوکړو دا ولے؟ جواب ئے ورکړو ربه حواء راته دغه خبره ښکلے ښکاره کړه ، الله اوفرمائيل چه دَ حمل او دَ بچي دَ پيدائش وخت کښې به دا مشقت برداشت کوي ليکن دا خو دَ الله حکمت وو حيض سبب دَ نسل دَ موجود کولو دپاره ګرځي او دا اول حيض وو په نسبت دَ مودے دَ انقطاع ، نو اطلاق دَ اوليت په دے اعتبارشوے ده ، ځکه اوليت دَ امور نسبيه نه دے

دَ بني اسرائيلو دَ بعض ښځو دَ تکبر بيان

امام مسلم ۲: ۲۳۹ مطبوع قديمي کتب خانه باندے دا روايت دے "كَانَتِ امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، قَصِيرَةٌ تَمْشِي مَعَ امْرَأَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ، فَاتَّخَذَتْ رِجْلَيْنِ مِنْ خَشَبٍ، وَخَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ مُغْلَقٌ مُطْبَقٌ الخ " په بني اسرائيلو کښې چه به کومه ښځه چيته وه او دا به دَ دوو دنګو ښځو مينځ کښې تلله دے له ښځے کنړاوے جوړے کړے او دَ سرو زرو ګوتمه به دے اچولے وه او ښکلے خوشبوئي دَ مشکو به دے لګولے وه نو دَ دوو ښځو مينځ کښې به روانه وه خلقو اونه پيژندله هغے به لاس له ځنډ ورکړو او شعبه دغسے ښپل لاس له ځنډ ورکړو چه کني دے سره خوشبوئي خوره شي ،

مسند احمد: ١٧ : ٤٥٩ باندے روایت دے "كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ امْرَأَةٌ قَصِيرَةٌ، فَصَنَعَتْ رِجْلَيْنِ مِنْ خَشَبٍ، فَكَانَتْ تَسِيرُ بَيْنَ امْرَأَتَيْنِ قَصِيرَتَيْنِ" اسناده صحيح او علامه سندهي وائي حديث كښې دَ ښځو دَ غټ مكر بيان دے،

مسائل او احكامات دَ حيض

دَ عبدالله بن عمر حديث كښې دي چه حائضه او جنبي به قرآن نه وائي امام ترمذي دَ حديث په وضاحت كښې فرمائي چه دغه دَ صحابؤ تابعين او تبع تابعين كښې دَ ډيرو عالمانو قول دے لكه سفيان ثوري، ابن مبارك، امام شافعي، امام اسحاق او امام احمد چه دَ حائضه او دَ جنبي دپاره دَ يو آيت دَ ټكړے يا حرف وغيره نه زيات دَ لوستلو ممانعت دے او دَ اسماعيل بن عياش باره كښې فرمائي دا بهتر دے او څنگه چه حائضه او جنبي له دَ قرآن لوستل حرام دي دغسے دے له لاس لگول هم حرام دي دَ څلورو وارو امامانو دغه مسلك دے او دَ بخاري او داود ظاهري مسلك كښې لاس لگول ورله هم جائز دي، امام زيلعي تبيين الحقائق كښې ليكلے دي "ولا فرق بين الآية وما دونهافي رواية الكرخي" دَ كرخي روايت كښې نه آيت وئيلے شي او نه هم آيت، او دَ امام طحاوي روايت كښې دَ آيت نه كم مباح دے او شرح الوقايه كښې دي چه غوره قول دَ كرخي دے او حائض اوجنب له دَ تورات، انجيل او زبور لوستل هم مكروه تحريمي دي څكه چه دَ تحريف نه بغير نور ټول دَ الله كلام دے او دے مسئله كښې دَ امام ابن سماعه دَ امام ابوحنيفه نه دَ طحاوي غوندے روايت نقل كړے دے دا هغه وخت كښې چه دَ تلاوت په قصد قراءت كوي ليكن كه دَ ذكر او ثناء قصد اوكړي لكه په دے نيت بسم الله الرحمن الرحيم يا الحمدلله رب العالمين وائي او يا قرآن ځا ته حرف، حرف ښائي نو دَ عذر دَ وجے دَ ټولو اتفاق دے چه جائز دي او امام حلواني دَ امام ابوحنيفه" نه يو روايت نقل كوي كه څوك دَ دعا په نيت فاتحه لولي او جنب وي "لابأس به" ليكن هندواني وائي زه په دے ذكر كولو فتوي نه وركوم او دا تمرتاشي هم وئيلے دي او دے دوارو له دَ تفسير، فقه او دَ سنن كتابونه لوستل هم مكروه دي څكه دے ټولو كښې دَ قرآن آيات موجود وي او په لستوڼي دَ قرآن نيول پاك نه كوي او چه كومه جامه ئے اغوستلے وي دَ هغے په لستوڼي يا لمن به قرآن نه مس كوي څكه دا دَ بدن غوندے دي او په محيط كښې دي چه دَ حائض دپاره بعض مشائخ مصحف له مس كول په لستوڼي مكروه گڼړي ليكن عام مشائخ ورته مكروه نه وائي څكه "مس" حرام دے او دا بغير دَ حائل نه لاس بالذات لگولو ته وائي او دے لستوڼے

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمالوي، او زمونږ بعض فقهاء قرآن او هغه تختۍ چه په هغے کښ قرآن ليکلے شوے دے ماشومانو له ورکول مکروه ګنړي ليکن صحيح دادي چه جائز دي، ماشومان په اودس مکلف کول حرج لري او که تر بلوغ ددے په وئيلو پابندي لګو نو دَ قرآن تعليم او حفظ کښ کموالے راځي ځکه دَ ضرورت دَ وجے دا جائز دي،

(۱):يو کتاب دے دَ هغے نوم دے "خواتين کے مخصوص مسائل" تاليف دَ ډاکټر صالح بن فوزان دے او اردو ترجمه ددے ډاکټر رضاءالله محمد ادريس مبارکپوري کړے ده دغه کتاب کښ دي چه دَ حيض حالت کښ دَ ښځے دَ قرآن مس کول بغير دَ حائل نه حرام دي الله فرمائي : لايمسه الاالمطهرون" او عمروبن حزم ته نبي عليه السلام چه کوم خط ليکلے وو په هغے کښ دي "لايمس المصحف الا طاهر" چونکه دے حديث ته تولو خلقو دَ قبوليت درجه ورکړے ده په دے وجه دا حديث دَ متواتر غوندے دے ، انتهي،

(۲): مظاهرحق کښ دي که يوه ښځه دَ خوب نه پاسي وينه اويني ددے حيض به دهٔ بيدارۍ دَ وخت نه حسابيږي،

(۳): دَ خاوند دغه ورځو کښ ښځے ته قربان حرام دے ، ملاعلي قاري ليکلے دي که دا حج کوي نو طواف زيارت به کوي ځکه دا رکن دے او روستو به ددے اعاده کوي ليکن طواف صدر ورته په داسے حالت کښ معاف دے،

(٤): مسجد ته دغه حالت کښ ددے تلل ممنوع دي،

دَ پاکۍ نه بعد او دَ غسل نه مخکښ دَ وطي حکم

(۱): امام مالک او ډير مدينے والا وائي چه وينه ختمه شي تر څو چه دے لامبلے نه وي وطي صحيح نه ده او دغسے امام شافعي ، طبري او محمدبن سلمه فرمائي

(۲): امام ابوحنيفه ؒ فرمائي ، ابويوسف او محمد ؒ فرمائي که دَ لس ورځو نه پس ئے وينه بنده شي بيا ورله وطي جائز ده ، او که وينه دَ لسو ورځو نه مخکښ بنده شوه تر هغے وطي جائز نه ده چه تر څو ئے لامبلے نه وي او يا په دے دَ مانځه وخت داخل شي تر هغے دَ وطي بنديز دے ، (التمهيد لابن عبدالبر :۲: ۱٦٤ الاستذکار: ۱: ۳٦۳)

مسئله : دَ مونځ قضاء په دے نشته او دَ روژے شته ، صحيح مسلم کښې روايت دے ، معاذه نومے ښځے دعائشه ﷺ نه تپوس اوکړو چه څه وجه ده چه حائضه ښځه دَ روژو قضا راجارباسي او دَ مونځ نه ورته ئے اوئيل چه دَ پيغمبر زمانه کښې به چه مونږ له حيض راتلو نو دَ روژے دَ قضا حکم شوے وو او دَ مونځ نه وو شوے دَ ځان نه حروريه دَ خوارجو دَ عقيدے ښځه مه جوړوه،

او حکمت دادے چه مونځونه ډير دي که دَ ښځے حيض لس ورځے وي نو په هره مياشت کښې پنځوس مونځونو کښې ډير مشقت دے او ټول کال کښې لس ورځے روژے قضا راجارباسل گرانه خبره نه ده ،

الاستذکار: ۱: ۳۶۳ باندے دَ زهري قول نقل کړے دے هغه ددے سوال جواب ورکړو "اجتمع الناس عليه وليس في کل شيئ تجد الاسناد" په دے ټول خلق راجمع دي او هر څيز کښې سند نه وي ، او بيا ئے اوفرمائيل چه حذيفه ﷺ فرمائيل ددے امت په آخر کښې به داسے خلق راشي چه هغوي به په محکنو لعنت ليکي او وائي به چه شراب څکلو کښې کوړے ورکول دَ الله کتاب کښې نشته ، رجم دَ الله کتاب کښې نشه ، او دَ حائضے دَ مانځه نه منع دَ الله کتاب کښې نشته ،

(دا اودس دَ منکرينو دَحديث په شکل کښې موجود دي امداد)

ارواء کښې الباني صاحب ۲۲۱ باندے ليکلے دي چه ابن عبدالبر ليکلے دي چه دَ خوارج يوه ډله حائضے ته دَ مونځ دَ قضا حکم ورکوي "وقد يقلدهم في هذه . الضلالة بعض المعاصرين ممن يدعى الإصلاح ا فقد سمعت أحدهم يقول أنه أمر إحدى المعلمات بأن تصلي وهي حائض" دے گمراهئ کښې دَ خوراج تقليد زما دَ زمانے عالمان چه دَ اصلاح دعوي کوي ، کړے دے ما په دوي کښې دَ يو تن نه اوريدلے دي چه معلمے ته دا وئيل چه دَ حيض په حالت کښې مونځ کوه آخر کښې ليکي "فالى الله المشتكى من فساد الزمان وطغيان الجهل بأسم العلم (وإذا قيل لهم لا تفسدوا في الأرض قالوا إنما نحن مصلحون . ألا إنهم هم المفسسدون ولکن لا يشعرون)"انتهي ،

کيله کوم چه دَ زمانے خلق فاسد دي او جهل ډير رابرسيره دے ،

علامه عيني ليکلے دي په سلفو کښې بعض داسے وو چه حائض ته به ئے حکم کولو چه دَ مانځه وخت شي اودس کوه او قبلے ته مخ کړه او ذکر کوه داسے روايت دَ عقبه بن عامر او دَ مکحول نه شوے دے ،

الفصل الاول

(١): "عَنْ أَنسٍ: إِنَّ الْيَهُودَ كَانُوا إِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى (ويسألونك عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ) الْآيَة. فَبَلَغَ ذَلِكَ الْيَهُودَ. فَقَالُوا: مَا يُرِيدُ هَذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حَضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ فَقَالَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْيَهُودَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا أَفَلَا نُجَامِعُهُنَّ؟ فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا. فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فعرفا أَن لم يجد عَلَيْهِمَا. رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ انس رضی الله عنه نه روايت دے فرمائي چه يهوديانو کښې به کوم وخت کښې ښځے له حيض راغے خوراک څکاک به ئے ورسره نه کولو بلکه ورسره به کورونو کښې يو ځائے نه پاتے کيدل صحابه فرمائي الله دا آيت نازل کړو چه دا خلق ستاسه دَ حيض په حالت کښې دَ نزديکت تپوس کوي الخ نو نبي عليه السلام اوفرمائيل تاسو خپلو ښځو سره بے دَ صحبت نه چه څه غواړئ کوئ دا خبره يهوديانو ته اورسيده دوي اوئيل دا سړے (يعني نبي عليه السلام) اراده نه لري چه زمونږ دَ ديني امر نه څه پريږدي مګر دوي مونږ سره په هغے کښې خلاف کوي نو اُسيد بن حضير او عباد بن بشر راغلل دواړو اوئيل اے دَ الله رسوله : يهوديان خو داسے وائي آيا مونږ دوي سره کور والے نه کوو دَ نبي عليه السلام مخ مبارک بدل شو او زمونږ دا ګمان راغے چه نبي عليه السلام دَ دواړو نه سخت خفه شوے دے دواړه بهر اووتل دَ دوي دَ تللو سره دَ دواړو مخے ته دَ پيو هديه نبي عليه السلام له راغلله دَ دوي په نښو نښانو پسے قاصد اوليږلو دواړو باندے نبي عليه السلام پئ اوڅکول نو دواړه په دے پوهه شو چه نبي عليه السلام دَ دواړو نه خفه نه دے ،

تشريح : (دَ دواړو راويانو مختصر حالات)

(١): دَ أُسید بن حضیر پیژنګلو

بذل المجهود کښې دي : دَا اسیدبن حضیر ابن سماک دے کنیت ددهٔ ابویحیي دے په رومبنو اسلام راوړونکو کښې وو بدري کیدو کښې اختلاف دے ددهٔ او زید ابن حارثه مینځ کښې مواخات وو، احد کښې په دهٔ (٧) زخمونه راغلي وو انتهي،
انصاري ، صاحب کرامت شخصیت دے دَ اوس قبیلے دَ هغے ملګرو نه دے چه دَ عقبه ثانیه په موقع موجود وو دَ عقبه په شپه دَ نبي علیه السلام دَ احکاموتو خلقو ته دَ رسولو ذمه داري دَ دوي وه ، او دَ دواړو عقبو په مینځ کښې یو کال فاصله وه ، دَ بدر په غزا کښې بنا بر اختلاف او ددے نه پس نورو غزواتو کښې حاضر وو دَ دوي نه دَ صحابؤ یو جماعت روایت کړے دے مدینه کښې دَ هجرت په شلم (٢٠) کال دَ دوي انتقال شوے دے او بقیع کښې دفن دے،

(٢): دَ عباد بن بشر پیژنګلو

دے هم انصاري دے سعد بن معاذ دوي دَ مصعب په لاس اسلام قبول کړے وو غزوه بدر، احد او تولو غزواتو کښې شریک شوے دے کومو خلقو چه کعب بن اشرف یهودي وژلے وو دے په هغوي کښې داخل وو مشرانو صحابؤ کښې دے دَ دوي نه انس رض او عبدالرحمن بن ثابت رض روایت کوي،
"و قتل یوم الیمامة شهیدا . و کان له یومئذ بلاء و غناء ، و استشهد یومئذ و هو ابن خمس و أربعین سنة"
یوم یمامه کښې شهید شوے دے عمر ئے ٤٥ کاله وو عباد په "زبر" دَ "عین" او دَ "باء مؤحده" په شد وئیلو سره اداکیکي (خیر التوضیح)

دَ ائمه مجتهدینو اختلاف

اول مسلک : ابن عباس ، شریح ، ابن جبیر ، امام مالک ، امام ابوحنیفه رح ، اوامام ابویوسف فرمائي دَ نوم نه تر ځنګونه پوره پرهیز ضروري دے ، دَ لنګ دپاسه اجازت دے او دے باب کښې دَ عائشه رض ، میمونه ، او ام سلمه رض آثار شته،
دوئم قول : عائشه رض ، شعبي ، عکرمه ، مجاهد ، امام محمد داود ظاهري رح فرمائي صرف دَ خاص شرمګاه نه سرې له ځان ساتل واجب دي او دغسے قول دَ امام شافعي دے او دَ ابن عباس رض نه دا هم نقل دے چه دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځے دَ بسترے دَ تللو نه سرې له پرهيز پکار دے او دغه قول دَ عبيده سلماني هم دے مگر دا يو شاذ قول دے او دَ امام محمد او ثوري دليل حديث دَ عائشه رضي الله عنها دے "ان حيضتک ليست في بدنک"
التمهيد :۲: ١٦٤ باندے دي چه دَ حيض نه مخکښ او روستو يو شان حال دے صرف دَ شرمگاه نه به پراځے ځان بچ کوے او داسے طحاوي هم فرمائي

دَ علامه طيبي قول

الکاشف کښې ليکلے دي چه دا حديث دَدے آيت تفسير او بيان دے چه "فاعتزلوا النساء في المحيض" دا اعتزال ناستے پاستے او خوراک څکاک، مصاحبت او جماع ته شامل دے ليکن قول مقيد دے "فاتوهن من حيث امرکم الله" نو معلوميږي چه مجامعت ترے مراد دے يعني هر کار که وي بغير دَ جماع نه، دَ سبب دَ اسم اطلاق په مسبب شوے دے ځکه چه دَ نکاح عقد دَ جماع دپاره سبب دے،
اشرف التوضيح کښې دي (افلانجامعهن) ددے نه دا مراد واخله چه کورونو کښې په دغه ورځو پاتے کيدل به پريږدو ځکه چه عباد او اسيد رضوان الله عليهما وئيل چه دَ استوگنے او دَ خوراک صرف اباحت او اجازت دے څه واجب خو نه دي،
دوئم قول : ددے نه وطي مراد ده مونږ دَ هغوي دَ ضده په دغه ورځو کښې جماع اونه کړو يعني که اجازت وي چه صحبت ورسره کوو چه دَ يهوديانو پوره مخالفت اوشي او دَ مسلم روايت کښې دي "افلانجامعهن" او ددے وضاحت مرقات کښې ملاعلي قاري او شيخ عبدالحق لمعات کښې په دے سره کړے دے که اجازت وي چه ناسته پاسته ورسره پريږدو چه څه نا څه دَ يهوديانو سره موافقت وي او دَ هغوي دَ طعن نه ځان بچ کړے شو، او دَ شيخ خليل احمد سهارنپوري صاحب دَ قول نه معلوميږي چه استوگنه او کور کښې پاتے کيدل نه دي مراد بلکه وطي مراد ده او الکوکب الدري کښې دَ علامه گنگوهي نه دواړه احتماله نقل شوے دي، واضحه دے وي چه يهود قبيله دَ خپل نيکه په نوم ده،
المفاتيح کښې دي دَ "کل شيئ" دَ جماع نه علاوه ددے مصداق ملاسته خوراک او ناسته پاسته ده بغير دَ جماع نه اغستے شوے ده نو دَ امام ابوحنيفه رحمه الله، شافعي رحمه الله او مالک په نزد دَ نوم او دَ ځنگون مينځ له گوتے اوړل حرام دي ليکن طرفين او بعض شوافع وائي چه صرف جماع حرام ده ددے حديث دَ وجے،

دَ مولانا قاضي شمس الدين توجيه

"افلانجامعهن" يعني وطي ورسره اونه كړو چه دَ يهودو كلك مخالفت اوشي او دا اراده دَ دوي نه وه چه دَ موافقت دَ مقصد دَ وجې خوراك څكاك دے ورسره پريږدو لكهِ دا توجيه شيخ او ملاعلي قاري كړے ده ځكه چه سياق ددے تفسير نه انكار كوي او ابوداود كښې دلته "افلانجامعهن" الفاظ راغلے دي ،

ددے روايت په ذيل كښې صاحب دَ الحق الصريح اجتهاد

اذا حاضت المرءة : ابن سيرين وائي "اذا حاضت المرءة" وئيل مكروه دي دے سره په هغوي رد اوشو ،

يوه نادره فائده : ليكي : دَ مقلدينو سره په مخالفت كښې امامانو ته رد بد او كنځل كول دا ټول حرام دي الخ"

دغسے دوي حكمت القرآن كښې دَ سورة انعام دَ آيت "ولاتسبوالذين يدعون من دون الله" دَ لاندے ليكلے دي آيت:۱۰۸ مثلا يو تن بل ته دَ فقه حنفي يا بلے فقهے كمزورے او بے دليله مسئلے ورښائي نو داسے به ورته نه وائي چه "دَ فقه كندگي اوگوره" بلكه داسے وئيل به مناسب وي چه راشه دَ فقه كمزورے او بے دليله مسئله اوگوره،

وس ئے عمل په قرآن وحديث مشاهده كړئ

(۱): ليكي : ابوحنيفه ستاسو پيغمبر دے (تحفة المناظر:۱۳٤)

(۲): او دغه كتاب كښې دي دَ خرافاتو ډكه هدايه (صفحه:۱۳٦)

(۳): او ليكي محترمو دَ ځان نه مو ولے دَ مجتهدينو ښځے جوړے كړے دي (دَ تقليدحقيقت:۲۱۱)

(٤): الحق الصريح كښې دي : چه دارنگ مشرانو سره په مخالفت كښې داسے خبره كول چه دَ هغوي باباگانو ته كنځل شروع كړي الخ"

دَ دوي دَ خائسته دعوت نمونه

الرد الوافرعلي الاثيم الفاجر كښې ص:۱۵ باندے ليكلے دي "څوك چه رسول صلي الله عليه وسلم ته چغے وهي پس دَ هغے نه چه هغه دَ دنيا نه لاړو او وفات شو دا بے عقله دي غوئے او يا خر دے ، نو څوك چه دَ "يامحمد" او يارسول الله چغه وهي غويان او خره دي بلكه دَ هغوي نه پسے آخوا ته دي،

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت

اول خو دا عرض کوم چه دغسے چغے وهل چه دنیا کښې حیات دے هم دَ بے عقلئ علامت دے ، لیکن غویان او خره دوي کنړل دا دَ دعوت نبویه نمونه نه پیش کوي انتهي، که داسے ئے وئیلے وے چه دَ غوګانو اوخرو غوندے دي ، ګنجائش به ددے وو،

دا واقعي خبره ده : چه دَ فقه دَ یو کتاب دَ فضائلو باره کښې غلو کوي لکه چه مشهوره ده چه دَ قدوري تلاوت دَ طاعون دَ وبا دَ ختمولو دپاره فائده منده ده ، داسے هم وائي چه څوک دَ استاد نه قدوري سبقاً سبقاً اوائي دومره دراهم به ورته ملاؤ شي مفتاح السعادة لطاش کبري زاده، که تجربه وي ځانله خبره ده لیکن شرع قطعا نه ده،

او دَ مولانا مناظر ګیلاني دَ تدوین فقه حاشیه : ۵۹ ددے روایت نه معلومه شوه چه دَ ضرورت په وخت کښې کله کله محترم امیر صاحب خپل کشر ته غصه کیدے شي ددے نه به دَ اوښ فتنه نه جوړوے امیر به مأمور خوشحاله کوي لکه پیغمبر علیه السلام دَ هدیے دغه پئ دوو صحابؤ له ورکړو چه دَ کومو نه ئے خفکان ښکاره شوے امیر صاحب به مأمورین ته زړه صفا ساتي،

(۲): "وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَكِلَانَا جُنُبٌ وَكَانَ يَأْمُرُنِي فَأَتَّزِرُ فَيُبَاشِرُنِي وَأَنَا حَائِضٌ وَكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ"

ترجمه : عائشه رض فرمائي : ما او نبي علیه السلام دواړو به دَ جنابت په حالت کښې دَ یو لوښي نه لامبل او زمونږه به جنابت وو نو ماته به ئے په مضبوطیا سره دَ لنګ دَ تړلو حکم راکولو چه مابه لنګ اوتړلو ما سره به سملاستلو او خپل سر به ئے بهر راوباسلو نو ما به دَ حیض په حالت کښې دَ هغوي سر اوینځلو او نبي علیه السلام به اعتکاف کونکے وو، نو مابه ورسره دَ سر ویخته وینځل داسے حال کښې چه زما به حیض وو،

تشریح : دَ حدیث دوه مطلبه دي : (۱): دَ حیض په وخت کښې به دَ ام المؤمنین بدله جامه وه نو دَ فرمان نبوي دغه مطلب وو چه دَ پاکئ دَ زمانے جامے بدلے کړه او دَ حیض دَ وخت جامے واچوه،

(۲): چه کوم لنګ دے اچولے دے دا خه ټیټ او مضبوط کړه او دا دَ سخت احتیاط نه کنایه ده ،

دَ حديث نه دا فائده تر لاسه شوه چه حائضه ښځه دَ حيض په حالت کښې دَ خاوند عمومي خدمت کولے شي او دوئمه داده که اعتکاف کونکے دَ مسجد نه سر بهر کړي په دے اعتکاف نه ماتيږي،
اغتسل انا والنبي : مرفوع هم صحيح دے او دَ فصل دپاره عطف اوشو او که منصوب وي دا مفعول معه دے،
علامه الباني هداية الرواة کښې ليکلي دي : (وکلانا جنب) فيه اشارة لطيفة الي جواز نظر الزوج الي عورة زوجه بل صرح بذالک ابن حبان في صحيحه لهذا الحديث وهو الذي يقتضيه نظر الصحيح وکل ما روي في النهي عن ذالک او کراهته لايصح منه شيئ"
په دے کښې يو باريکه اشاره ده چه خاوند دَ ښځے عورت ته کتلے شي بلکه ابن حبان خپل صحيح کښې ددے حديث په روايت کښې ددے صراحت کړے دے او دَ صحيح نظر هم دغه تقاضا ده او ددے په نهي يا کراهت کښې رواياتو کښې يو هم صحيح نشته انتهي،
وکلانا جنب : ملاعلي قاري مرقات کښې ليکلي دي چه مفرد ئے دَ "کلا" دَ لفظ په اعتبار سره ذکر کړو او دا افصح دے دَ معنوي تثنيے په اعتبار سره او کرماني وائي "فأتزر" چه کله عائشه استعمال کړو دا فصيح لفظ دے ځوک چه دے خطا وائي خپله خطا کوي ، ابن الملک فرمائي دا په سماع بند دے روايت دليل دے چه دَ لنګ نه بره فائده اغستل صحيح دي او دَ لنګ دَ لاندے نه دي صحيح او دغه مسلک دَ امام ابوحنيفه او شافعي او مالک دے او امام شافعي دا جديد قول دے،
شائد چه قول دَ نبي عليه السلام په رخصت او فعل دَ دوي په عزيمت حمل شي دَ امت دَ تعليم دپاره دغه ځکه احوط به وي چه فمن يرتع حول الحمي يوشک ان يقع فيه" ځوک چه دَ شپول نه ګير چاپيره ځاروے څروي نزدے ده چه ورشوګانو دَ باچا ته ځاروي اودانګي،
الاستذکار: ۱: ۳۶۳ باندے امام نووي دَ روايت لاندے ليکلي دي چه دَ حائض په طهارت داسے دليل دے چه ددے نه هيڅ حصه بے دَ حيض دَ ځائے نه نجسه نه ده"
شيخ عبدالحق اشعة اللمعات کښې ليکلي دي : "وگفته اند که گويا در آخر امر توسعه و ترخيص کرده اند و جز وطی هر چه باشد تجويز نموده اند، اما شک نيست که احتياط و احتراس در قول ابی حنيفه است،" يعني داسے وئيلے دي ګويا اخر کښې په دے کښې دَ فراخئ او دَ رخصت نه کار اغستلے شوے دے او دَ وطي نه علاوه نور هر څه دوي جائز خودلے دي او په دے کښې شک نيشته چه احتياط او حفاظت دَ امام ابوحنيفه" په قول کښې دے،

او كرماني وائي دَ امام شافعي دے مسلک کښ درے روايات دي: (۱): اصح دادے چه حرام دي ،(۲): مکروه تنزيهي دي ، (۳): که ځان باندے ځوک کنټرول کولے شي او اعتماد ددهٔ په ځان وي دهٔ له جائز دي او که شهوت ئے ضعيف وي يا طاقت ، ضبط لري جائز دي کني ناجائز دي (اشعة اللمعات)

او قاضي شمس الدين التقرير الفصيح کښ ليکلے دي : چه حرمت دَ سوال کونکي دَ سوال په جواب کښ ذکر شوے دے چه دَ حيض حالت کښ څومره فائده دَ خپلے بي بي نه اغستلے شے دا په حکم دَ منطوق کښ حساب کړه گويا دغه جواب دے چه دَ لنگ نه پورته جائز او لاندے حلال نه دي ،

او مسلم کښ کفايت دے دَ نهي عما تحت الازار نه (عرف الشذي)

فأغسله وانا حائض : داسے صورت کښ خپو له اعتبار دے دغسے حکم دَ حرم ښکار کښ دے چه خپے ئے دَ حرم نه بهر وي ښکار جائز دے او که خپے ئے حرم کښ او سر ئے بهر وي دا ښکار کول ناجائز دي دے حالت کښ ښکار سره به په دهٔ "جزاء" لازميږي،

الحق الصريح کښ دي دَ عائشه رضي الله عنها حجره مسجد سره بالکل لگيدلے وه تر دے چه دَ هغے دروازه هم مسجد طرفته کهلاو وه نو نبي عليه السلام چه کله به اعتکاف کښ وو خپل سر مبارک ئے ددغے دروازے نه حجرے طرفته رابهر کړو الخ ،

وضاحت

مولانا مودودي صاحب دَ تفهيم احکام القرآن څلورم جلد کښ ليکلے دي چه دَ ازواج مطهرات اعتکاف به مسجد نبوي کښ نه وو بلکه خپلو کمرو کښ به کيدو دَ ټولو بيبيانو کمرے دَ مسجد نبوي سره سره لگيدلے وے او دَ هر يو دروازه به دَ مسجد دننه کهلاويدله ، بيبيانو کښ به چه دَ دوي قيام کومے لارے سره وو دَ هغه ځائے نه به نبي عليه السلام مسجد ته دننه تشريف اوړلو،

التعليق الفصيح کښ دي چه دَ مسلمان او دَ کافر جهوټه پاکه ده که پاک يا جنب وي يا حائض وي يا نفاس کښ وي ددے حديث نه لکه څنگه چه مرقات کښ دي معلومه شوه چه دَ حائض سره خوراک او څکاک کول دواړه جائز دي او دوئمه مسئله ملاعلي قاري ذکر کوي چه دَ زنانه اندامونه لاس او خُله وغيره پليت نه دي ، درئمه خبره داداه چه دَ ددے نه دَ نبي عليه السلام دَ مور بي بي سره دَ مينے انتهائي درجه معلومه شوه او ورسره دے کښ دَ يهودو دَ انتهائي مخالفت بيان هم دے ددے حديث نه معلومه

شوه چه امام ابویوسف ته چه دا خبره منسوبه ده چه دَ حائضے بدن نجس دے دا نسبت صحیح نه دے ،
او حدیث کښې دَ نبي علیه السلام دَ کمال تواضع بیان دے ،
فائده : منکرین حدیث داسے غونډے آحادیث نه مني حالانکه قرآن کښې حیض او حرث صفا موجود دي داسے قسم آحادیثو نه دَ نبي علیه السلام معاشرتي خدو خال دَ قوم دپاره نمونه به جوړیږي ،

حامله چه وینه اویني څه حکم لري

داسے تفصیل کوي (۱): یحیي بن سعید او ربیعه فرمائي چه حامله وینه اویني دا به حیض وي مونځ به نه کوي او دا دَ امام مالک ، لیث او یو قول دَ امام شافعي او دَ اسحاق بن راهویه دے او دَ ابن عباس نه یو روایت داسے شوے دے چه حاملے له حیض راتللے شي ،
(۲): سفیان ثوري ، امام ابوحنیفه او امام اوزاعي فرمائي حامله چه وینه ویني یا زیړ والے دا به حیض نه وي او دا به استحاضه وي مونځ به کوي او دا دَ داود بن علي دَ مکحول ، حسن بصري ، عکرمه ، عطاء او دَ شعبي قول دے او دغسے امام احمد ، ابوعبیده او ابوثور فرمائي ،
(۳): "وَعَنْهَا قَالَتْ: كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم فَيَضَع فَاه على مَوضِع فِي. رَوَاهُ مُسلم"
ترجمه : عائشه رض فرمائي : ما به اوبه اوڅکلے په داسے وخت کښې چه زه به حائضه وم او بیا به مے هغه لوښے نبي علیه السلام ته ورکړو نو نبي علیه السلام به خپله خُله په هغه ځائے کیخودله په کوم ځائے چه به ما ښځے وه او اوبه به ئے اوڅکلے او ما دَ هډوکو نه غوښه شوکوله او بیا به مے نبي علیه السلام ته ورکوله او زه به حائضه وم او هغوي به خپله خله زما دَ خُلے په ځائے کیخودله ،
تشریح : اعرق : هغه هډوکے چه په هغے څه حصه دَ غوښے وي ابوعبید وائي دَ غوښے پوټي ته وائي او خلیل وائي چه کوم هډوکي سره غوښه نه وي هغے ته وائي او ددے جمع عراق راځي عرب وائي عرقت العظم چه کله غوښه دَ هډوکي نه په غاښونو اوشوکوے لیکن رومبے قول غوره دے ،
Maktaba Tul Ishaat.com

دا حديث دليل دي چه دَ حائضے سره خوراک کول او ناسته پاسته صحيح ده او ددے دَ خُلے او لاس رغيره اندامونه پليت نه دي او امام ابويوسف ته چه ددے دَ بدن باره کښې نجاست منسوب دے صحيح نه دي،

دے کښې دَ نبي عليه السلام پوره تواضع او عاجزئ ته اشاره ده او کور کښې دَ نبي عليه السلام اعلي معاشرت ددے حديث نه معلوميږي،

التعليق الفصيح کښې دي : چه دَ مسلمان او دَ کافر جهوټا پاکه ده که پاک وي يا جنب او ښځه که حائضه وي يا نفاس کښې ، انتهي،

(٤): "وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتكئ على حجري وَأَنا حَائِض ثمَّ يقْرَأ الْقُرْآن"(متفق عليه)

ترجمه : دَ عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه زما به حيض وو او پيغمبر عليه السلام به زما په غيږه کښې تکيه لګولے وه (سر به دوي ايخے وو)او قرآن کريم به ئے لوستلو،

تشريح : ددے نه هم دَ مخکښې حديث غوندے معلومه شوه چه دَ حائضے بدن پاک دے کني داسے به ئے نه کول او داسے غوندے کارونه پيغمبر عليه السلام دَ يهودو دَ مخالفت دپاره به کول، دَ حديث نه معلومه شوه چه په يادو تلاوت دَ تکيه وهلو حالت کښې بے ادبي نه ده ځنکه چه عائشه رضي الله عنها سره ئے مينه وه ددے نه زيات دَ قرآن سره نبي عليه السلام مينه لرله داسے حال کښې قرآن به دوي لوستلو، دَ داسے قسم رواياتو نه دَ اسلام خوبي او هره مسئله کښې اعتدال خپله معلوميږي ځکه چه يهودو به دَ حيض حالت کښې ورسره خوراک او کور کښې استوګنه نه کوله ،

(٥). "وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ» فَقُلْتُ:إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ: «إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يدك» . رَوَاهُ مُسلم"

ترجمه : دَ عائشه رضي الله عنها نه روايت دے فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه ماله پوزکئے دَ مسجد نه راواخله ما ورته اوئيل چه زما حيض دے اوے فرمائيل چه ستا حيض ستا لاس کښې نه دے،

تشريح : خمرة : دے ته خمره ځکه وائي هداية الرواة کښې علامه البالي ليکلے دي "لانها تختمر وجه المصلي عن الارض اي تستره" دَ مونځ ګزار مخ دَ زمکے نه بچ ساتي،

شيخنا المحترم علامه جاجرويؒ اسعد المفاتيح كښې ليكلي دي چه حائضه او جنابت والا كس چه دَ مسجد نه بهر وي او مسجد ته لاس اوگد كړي يو څيز راوچتولے شي او دا دَ نبي عليه السلام دَ ملكيت پوزے وو دَ مسجد وقف پوزے نه وو ، وقف څيز كور ته راوړل او په هغے مونځ كول ممنوع دي او قرينه داده چه "الخمرة" باندے الف لام عهدي دے كه دَ مسجد وقف پوزے وو بيا به ئے فرمائيل "خمرة المسجد"

ناوليني الخمرة من المسجد : (۱): دَ من المسجد اعرابي حالت دادے چه دا دَ رسول الله نه حال واقع شوے دے او معني داده چه عائشهؓ فرمائي چه پيغمبر عليه السلام ماته اووے او خپله پيغمبر عليه السلام مسجد كښې وو چه ماله پوځے راكړه په دے صورت كښې نبي عليه السلام مسجد كښې به وي او پوځے به دَ مسجد نه بهر وي ،

(۲):"من المسجد" تركيب كښې دَ "الخمره" نه حال واقع دے نبي عليه السلام اوفرمائيل چه پوځے كوم مسجد كښې پروت دے هغه راوچت كړه او ماله ئے راكړه په دے صورت كښې به نبي عليه السلام دَ مسجد نه بهر وي او پوځے به مسجد كښې وي او صاحب دَ مجمع البحار فرمائي : چه "من المسجد" يا "ناوليني" سره متعلق دے يا دَ "قال" سره متعلق دے ، او دا دوئمه توجيه دَ امام نووي دَ قول مطابق قاضي عياض نه مني قاضي عياض وائي دَ "من المسجد" تعلق دَ "قال" سره دے يعني قال من المسجد دَ مسجد نه آواز اوكړو چه دَ كور نه يو پوځكے راوړه ځكه چه مسجد كښې نبي عليه السلام دَ اعتكاف حالت كښې وو ، مسلم كښې :۱: ۱۴۳ باندے دي "عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ " يَا عَائِشَةُ: نَاوِلِينِي الثَّوْبَ" او نووي په شرح دَ مسلم كښې دا راجح گڼړي او كه ددے تعلق دَ "ناوليني" سره وي دَ نسائي دَ ميمونے روايت ددے تائيد كوي "وَتَقُومُ إِحْدَانَا بِخُمْرَتِهِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَتَبْسُطُهَا وَهِيَ حَائِضٌ»"

اول صورت كښې ترجمه ده پوځے دَ مسجد نه راوچت كړه ماله ئے راوړه او

دوئم صورت كښې ترجمه ده : نبي عليه السلام ورته دَ مسجد نه اوفرمائيل چه دا يواځے ماله راوچت كړه ، بهرحال دواړه صورتونو كښې دَ حائض مسجد ته به لاس دننه كول راځي ددے نه معلومه شوه چه حائض مسجد ته كه لاس اوگد كړي يو څيز بل لره وركولے شي ځكه ممانعت دَ دخول نه دے دَ ادخال يد نه ممانعت نشته او عرف كښې ادخال يد ته دخول نشي وئيلے كيدے.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده : دَ تقليد تعريف علماء كوي "تسليم قول الغير بلا دليل" دلته هم دغسے اختلاف دے چه دا بلا دليل جار مجرور تسليم سره متعلق دے او كه "قول" سره هم دغه صحيح ده چه دَ تسليم سره دے متعلق شي منل دَ مطالبے دَ دليل نه بغير دي او دَ "غير" مصداق مجتهد دے او مجتهد سره دليل وي دَ مجتهد هغه بادليله قول بغير دَ مطالبے دَ دليل نه په اعتماد او انقياد سره منل ،

دَ علامه طيبي توجيه

الكاشف كښ ليكلے دي "يجوز ان يتعلق بقوله "ناوليني" وهو الظاهر وان يتعلق بقولها قال النبي صلي الله عليه وسلم"

دَ علامه سهارنپوري رائے

بذل المجهود كښ ليكلي : چه دَ "من المسجد" لفظ "الخمرة" نه حال دے په دے حال كښ چه پوځكے مسجد كښ وو ،

دَ قاضي شمس الدين ترجيح

دَ "من" لفظ دَ "قال" سره متعلق دے اي قال النبي صلي الله عليه وسلم من المسجد" چه كله نبي عليه السلام مسجد كښ وي ، او مور آبئ دَ مسجد نه بهر وي ،

دَ مرقات او شيخ الحديث مولانازكريا توجيه

"من المسجد" حال دے "من الخمرة" نه پوزے مسجد كښ پروت وو او نبي عليه السلام كمره كښ وو او دا ظاهره ده او دوئمه توجيه داده چه دا حال دے دَ "من النبي" نه نبي مسجد كښ وو او پوزے په كمره كښ وو كذا في المرقات

دَ امام نووي ترجيح

ليكي په شرح دَ مسلم كښ چه قاضي عياض فرمائي معني ئے داده چه دَ مسجد نه عائشه ؓ ته نبي عليه السلام دغه اووے چه بهر كوم پوزے پروت دے ما له ئے راكره ، نبي عليه السلام مسجد كښ اعتكاف كولو او عائشه كمره كښ دَ حيض حالت كښ وه او علامه ابوالحسن سندهي دَ حديث توضيح كښ ليكلے دي چه نبي عليه السلام كپړا پوزے مختلف اوقاتو كښ غوښتلے دي ، اول ئے ورته نبي عليه

السلامْ دَ مسجد نه اوئيل چه دا كپړا راكړه او دَ سيدنا ابوهريرهؓ روايت كښې دي او په دوئم ځل نبي عليه السلام كور كښې وو چه دَ مسجد نه پوځكے راواخله دا پوزے دَ عائشهؓ نه دروازے سره نزدے پروت وو چه دَ كمرے نه ورته ددے لاس رسيدلے شو نوعائشهؓ خيال اوكړو چه دا دوئمه خبره دَ اول نه سخته ځكه معلوميږي چه زما خو حيض دے بيا دَ "من" كلمه دَ "ناوليني" فعل سره لكه چه ظاهره ده تعلق لري ،

ان حيضتک ليست في يدک : حيضة بكسرالحاء يا بفتح الحاء ده علامه خطابي بكسرالحا وائي هغه حالت چه حائضے ته دَ حيض دَ وجے عارض كيږي لكه چه جنات سړي ته دَ منئ په وتلو عارض كيږي ،

دوئم قول حيضة بالفتح دا دَ حيض وينے ته وائي علامه خطابي په هغے محدثينو باندے رد كړے دے چه څوک دا بالفتح وائي او بيا قاضي عياض دَ علامه خطابي رد كړے دے او وائي چه دَ محدثينو خبره صحيح ده يعني بالفتح ، او دَ نبي عليه السلام دَ ارشاد مطلب دادے چه دَ حيض وينه چه دَ كوم نه مسجد بچ ساتل ضروري دي هغه خو په لاس كښې نشته علامه خليل احمد سهارنپوريؒ بذل المجهود كښې دے رائے له ترجيح وركوي ، دغسے اختلاف دَ علامه خطابي دَ جمهورو سره په اَللّٰهُمَّ اني اعوذبک من الخبث والخبائث" كښې هم دے چه خُبث په سكونِ سره سے او كه په ضمه سره ،

امام مسلم او ابوعوانه روايت كوي چه كله ئے ورته اوفرمائيل چه حيض دے لاس كښې نشته "فناولته" ما ورله راواغستله ورمے كړو ، او صاحب المفاتيح ليكلے دي چه ستا اختيار كښې حيض نه دے نو ناسته پاسته او خوراک كښې او څه څيز لاس كښې راغستلو كښې حرج نشته،

دَ صاحب الحق الصريح مسئله

دَ فتاوي الدين الخالص په حواله دلته ليكي دَ ضرورت په بناء باندے په جانماز ، څادر وغيره باندے مونځ كول جائز دے او بغير دَ ضرورت نه په دے څيزونو باندے مونځ كول نه دي پكار او ليكي چه امام مالک ورته بدعت وائي ليكن نور علماء وائي جائز دي افضليت كښې اختلاف دے الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت

علامه عيني ليکلي دي که پوخې وروکې با غت وي مونځ په هغې تواضع عاجزي نه بردې دې ددې نيمې جانمازونه چه مختلف رنګونه ئې دي دې کښې لوئي سکاره کيږي ډير غوره نه دي .

يوه اهمه واقعه

حطيب بغدادي الفقيه والمتفقه کښې ۶۳ه باندې په ۸۷۶ نمبر باندې په سند سره واقعه نقل کوي چه يو، سخه داسې مجلس کښې اودربدله چه پکښې يحيي بن معين ، ابوخيثمه ، خلف بن سالم او نور ملګري وو ددۀ د احاديثو مذاکره کوله دې ښځې د محدثينو نه د مسئلې تپوس اوکړو چه حائضه مرو له د حيض په حالت کښې غسل ورکولے شي څکه دې ښځې په زنانو له د هغوي د مرګ نه پس غسل ورکولو يو تن ورله جواب ور نه کړو او تولو يو بل نه کتل دې کښې ابونور راروان وو دوي دغې ښځې نه اونيل چه ددۀ نه تپوس اوکړه دې ښځې ورته التفات اوکړو او ورنزدې شوه تپوس ئې چه اوکړو ابونور ورته اوفرمائيل آو مړې لامبولے شي څکه حديث کښې "اما ان حيضتک ليست في يدک" او دا حديث ئے ورته بيان کړو چه ما به نبي عليه السلام له سر کښې د حيض حالت کښې نيغه لار اوباسله نو ابونور ورته واتي چه د ژوندي سر کښې لار اوباسلے شي نو مړي هم لامبولے شي دے محدثينو چه ورستو ددې روايت په طرقو کښې بحث نه ورننوتل دې ښځې ورته اووے "اين کنتم الي الآن" تر اوسه تاسو کوم ځائے وئ (معلومه شوه روايت سره درايت کښې مهارت هم ضروري وي) دا واقعه تاريخ بغداد ٦: ٦٧ باندې هم ده) کله الفاظ د حديث يادوي ليکن استنباط ته ذهن لاړ نشي، دغسې مهارت الله فقهاء له ورکړې وي،

(٦): "وَعَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي مِرْطٍ بَعْضُهُ عَلَيَّ وَبَعْضُهُ عَلَيْهِ وَأَنَا حَائِضٌ"

ترجمه : ميمونه ام المؤمنين فرمائي چه نبي عليه السلام به داسې يو څادر کښې مونځ کولو چه د هغې بعض حصه به په ما او څنې حصه به په نبي عليه السلام پرته وه داسې حال کښې چه زما به حيض وو ،

تشريح : د حديث نه معلوميږي چه نبي عليه السلام به د سرځي موسم کښې چه کله نفل مونځ په ناسته کولو د څادر بعض حصه به په پيغمبر عليه السلام او بعض په ميمونه" وه ، معلوميږي چه د حائضه

نجاست حکمي دے او حقیقي نه دے که حقیقي نجاست وي مانځه کښې بعض حصه دَ څادر به بیا په نجاست پرته وه،

مرط : ملاعلي قاري لیکلي دي چه مرط دَ وړئ څادر ته وائي چه لنګ ترے وهلے شي او علامه طیبي لیکلي دي چه حدیث کښې دلالت دے چه بغیر دَ شرمګاه نه دَ حائض ټول اندامونه پاک دي،

دے روایت ته صاحب مشکوٰة متفق علیه لیکلے دي ، لیکن ملاعلي قاري لیکلي چه سیدجمال الدین وائي زما تحفظات دي ځکه صاحب التخریج فرمائي ما په صحیحینو کښې یا یواځے بخاري یا یواځے مسلم کښې او یا مسند احمد کښې په دے لفظ نه دے موندلے لیکن الفاظ نه دي موجود لیکن معني مفهوم او مطلب ئے موجود دي،

الفصل الثاني

(۷): "وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَتَى حَائِضًا أَوِ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا أَوْ كَاهِنًا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَفِي رِوَايَتِهِمَا: «فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ» وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا من حَدِيث حَكِيم الْأَثْرَم عَن أبي تَمِيمَة عَن أبي هُرَيْرَة"

ترجمه : دَ ابوهریره رضی الله عنه فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي کوم سړے چه حائضے ښځے له دَ جماع دپاره راغے یا یوے ښځے ته دَ شا دَ غاړے یا یو ترویټي له راغے نو انکار دَ هغے دین نه اوکړو چه په نبي علیه السلام نازل شوے وو ترمذي ، ابن ماجه ، او دَ دارمي روایت کښې دا لفاظ هم دي چه دَ ترویټي وینا ده ریښتني اوګڼړله نو دهٔ کفر اوکړو او امام ترمذي فرمائیلي دي دا حدیث مونږ ته صرف دَ حکیم الاثرم عن ابي تمیمة عن ابي هریره په سند معلوم شوے دے،

تشریح : دَ ابو تمیمه لنډه پیژنګلو

اشعة اللمعات کښې شیخ عبدالحق لیکلي دي چه ددهٔ نوم طریف بن مجالد وو او تقریب کښې دي لږ "لین" په دهٔ کښې شته دَ شپږمے طبقے دے او میزان الاعتدال کښې دي "لیس به بأس" او کاشف کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ددۀ توثیق کړے دے او تهذیب کښې دي چه یحیي بن معین ورته ثقه وائي او عجلي وئیلے دي ان شاءالله تعالي

مرقات کښې دي چه سید جمال الدین فرمائیلے دي چه دَ سند دَ طرفه امام بخاري ضعیف ګرځولے دے،

دَ اشکال جواب

ظاهر کښې دا سوال دے چه دَ "اصنعوا کل شیئ الاالنکاح" نه صرف دَ جماع حرمت په حصر سره معلومیږي او دلته ورسره "امرءة في دبرها" قیدهم دے ظاهرا تعارض معلومیږي

ددے دا جواب دے دَ مخکښې حدیث ددے حصر نه دا شبهه راتلله چه دَ حصر او دَ عموم نه وطي في الدبر معلومیږي په دے حدیث دغه عموم ختم شو چه مخکښې او روستو دواړه یعني فرج او دبر کښې استمتاع بالکل ناجائز ده یا مخکښې حدیث کښې چه کوم اجمال وو دلته دَ هغے وضاحت دے،

ملاعلي قاري لیکلے دي چه دبر ته مطلقا ممانعت دے که حیض ئے وي یا نه وي،

فقد کفر : اشعه کښې دي چه کله ورته حلال وي بیا په ظاهر حمل دے کني دَ کفر نه ناشکري مراد ده او مقصد حکم کښې سختي خودل دي نو په تحریم ئے اجماع نشته او دَ کافرانو غوندے کار ئے اوکړو نو دَ دین دَ ضروریاتو نه به نه وي او په استحلال صحیح کفر بیا هم ځکه نه راځي چه دا حدیث کمزورے دے لکه چه وائي ، او پردۍ ښځے سره دغسے کول ډیر زیات شنیع دي او ډیر سخت منکر حسابیږي او هلکانو سره دغسے بد فعلي کول دَ شناعت انتهاء ده چه ددے حلال ګڼړل بے شک دَ کفر باعث دے او ددے دپاسه دَ شناعت تصور نشي کیدے،

عرف الشذي کښې دي دَ امرءة في دبرها" وضاحت کوي چه دَ سیدنا ابن عمرؓ ته دَ حلال والي نسبت غلط دے داسے نسبت خو کلي ورانوي ، او صحیح بخاري کتاب التفسیر کښې دي "یأیتها في ۔۔۔۔ دلته دَ "في" کلمه مدخول نه دے ذکر شوے چه هغوي فرمائیلےدي چه په مخکښې طرف کښې صرف دَ "شا" دَ غاړے عمل اوشي او په نسبت کښې ابن عمرؓ ته انتهائي احتیاط مناسب دے،

نزل الابرار :٤٦ باندے دي "اما مستحل وطي النساء في الدبر لیس بکافر ولافاسق لاختلاف الصحابة فیه ۔۔۔ الخ دَ وحید صاحب مسئله غلطه ده کافر خو نه دے لیکن فاسق دے او دَ صحابوُ پکښې هډو اختلاف نشته،

ليكن بدورالأهله دي : چه بعض غير مقلدينو مناظره كښې اقرار كړے دے چه دے كښې زمونږ فقه ده دغسے په ۱۷٦ باندے دي : *دبر میں صحبت کرنا جائز ہے کوئی شک نہیں بلکہ یہ سنت مؤکدہ ہے*" (العياذبالله " امداد)
او هدية المهدي په اول جلد كښې دي چه دَ وينځو غير فطري مقام په استعمال انكار جائز نه دے، (استغفرالله " امداد)

او محمد بن حلف وائي چه دَ حسن بصري نه تپوس اوشو "عمن اتي بهيمة فقال ان الله ذكر الزني ولم يذكر البهائم ، وما كان ربك نسيا" نمبر:۲۸۱٦،تهذيب الاثار:جلد:۲) ليكن كه ځناور وي ، سړے يا خپله يا پردئ ښځه وي وطي في الدبر قطعا حرامه ده،

كاهن څوک دے

علامه طيبي كاشف كښې ليكلے دي چه كوم كس دَ راتلونكو زمانے دَ حالاتو خبر په ستورو او ددے غونډے وامورو سره وركوي هغه ته كاهن او تروپتي وائي دَ پيريانو خودلے شوے دروغ او دَ ملائكو نه څه خبر غلا كړے شوے ددے خلقو مراد فاسده دي ،

دَ كاهن او عراف فرق

اول فرق :دواړو كښې ترادف دے يا كاهن دَ مستقبل دَ امورو خبر وركوي او عراف دَ غلا ځائے او ورک شوے څيز ځائے (اګرچه نفس الامر كښې غلط دي)
دوئم فرق : كاهن خاص او عراف عام دے ، كاهن دَ غيب خبر وركوي او عراف څه مقدمات يوځائے كړي دَ نتيجو خبر وركوي او دَ كاهن كار هم كوي ، هر عراف كاهن دے ولاعكس، نسبت دَ عموم خصوص مطلق دے ،

درئم فرق : كاهن دَ مستقبل دَ كارونو خبر وركوي او عراف هغه ته وائي چه لاس يا دَ مخ دَ كتلونه حالات خائي، دواړه غلط دي ،

مرقات كښې ملاعلي قاري ليكلے دي او كاهنا، دے نه مخكښې فعل حذف دے او صدق كاهنا " دا دَ قبيلے دَ علفتها تبنا وماء باردا" نه دے يا تقدير دَ عبارت داسے دے "من اتي حائضا وامرءة بالجماع او كاهنا بالتصديق، صدق څكه ئے اوفرمائيل كه تصديق نه كړي او ګپ شپ له اولاړ دے اګر چه دومره سخت وعيد نشته ليكن بيا هم تماشے ته اودريدل نه دي پكار ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بما انزل علي محمد : كله چه ددے دَ حلال والي عقيده وي كني فاسق دے او كفر دون كفر كلي مشكك دے اوليت ، اولويت ، اشديت او اضعفيت پكښ شته يا كفران نعمت ترے مراد دے يا كار ئے دَ كافر غوندے اوكړو څكه نافرماني ئے دَ الله اوكړه علامه طيبي ليكلے دي چه دغه هيئات كوي نو دَ دين محمد صلي الله عليه وسلم نه بري دے ، او ملاعلي قاري ليكلے دي چه حديث ضعيف دے كه څوک دَ توقے كولو يا ددهٔ دروغ ښكاره كولو دپاره راغلے وي دغه حكم ئے نه دے،

(٨): "وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُول الله مَا تحل لِي مِنِ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ؟ قَالَ: «مَا فَوْقَ الْإِزَارِ وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذَلِكَ أَفْضَلُ» . رَوَاهُ رَزِينٌ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِقَوِيٍّ"

ترجمه : معاذ بن جبل روايت كوي ما تپوس اوكړو اے دَ الله رسوله ماله دَ خپلے ښځے نه څه حلال دي داسے حال كښ چه دَ هغے حيض وي اوئے فرمائيل دَ لنگ دَ پاسه حصه حلاله ده او ځان پوره ددے نه ساتل ډير غوره دي رزين ئے روايت كوي او محي السنه فرمائي سند مضبوط نه دے،

تشريح : دے حديث كښ مافوق الازار مباشرت نه ځان بچ كولو غوره اوئيلے شو ليكن دَ "يامرني فأتزر فيباشرني" دَ الفاظ نه جواز معلوميږي ليكن تطبيق دادے عام انسانان خپل جزبات نشي كنټرول كولے داسے خلقو له ممانعت دے ليكن نبي عليه السلام مكمل قدرت او كنټرول په ځان لرلو نو هغوي له جواز دے ، بله دا چه زير بحث حديث دَ اصنعوا كل شيئ الاالنكاح په نسبت ضعيف دے ترجيح به هغه روايت له وي دے له به نه وي،

(٩): "وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهِ وَهِيَ حَائِضٌ فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِينَارٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد النَّسَائِيّ والدارمي وَابْن مَاجَه"

ترجمه : عبدالله بن عباس نه روايت دے نبي عليه السلام فرمائيلے دي چه كله يو سړے دَ حيض ورځو كښ خپلے بي بي سره صحبت اوكړي دهٔ له پكار دي چه نيم دينار صدقه وركړي ،

تشريح : الاستذكار :۱: ٣٦٣ باندے اختلاف داسے دے مسئله کښ ذکر دے چه کوم کس دَ خپلے ښځے دَ حیض حالت کښ دَ ښځے سره جماع اوکړي ،

اول مسلک : دَ امام مالک ، شافعي اوابوحنیفه ؒ ، استغفار دے اوکړي بیا دے چرته داسے غلط کار نه کوي نو په دهٔ څه نشته دا دَ ربیعه یحیي بن سعید او دَ داود ظاهري قول هم دے ،

دوئم مسلک : امام محمد فرمائي : چه نیم دینار صدقه به ورکوي دغسے دَ ابن عباس په روایت کښ دي،

درئم مسلک : امام احمد فرمائي : ددهٔ خوښه ده که دینار صدقه کوي یا نیم دینار،

څلورم مسلک : طبري فرمائي چه دینار یا نیم دینار صدقه کول دهٔ له مستحب دي که صدقه ئے ورنه کړه هیڅ پرے نشته او دَغسے امام شافعي بغداد کښ فرمائیلے دي بیا ئے ددے نه مصر کښ رجوع کړے ده ،

پنځم مسلک : ځنے محدثین وائي که دَ حیض دوران کښ وطي ده کړے وي نو دینار په دهٔ راځي او که دَ وینے ختمیدو کښ وطي کړے وي، نو نیم دینار به په دهٔ راځي او امام ابن عبدالبر دَ بحث آخر کښ الاستذکار کښ لیکلے دي څوک داسے دي چه بے دَ استغفار او دَ توبے نه په داسے کس نور څه نه واجبوي او دغسے بحث التمهید:۲ : ١٦٤ باندے دے وائي چه دے حدیث کښ اضطراب دے او دَ ابن عباس نه مرسل روایت دے انتهي،

علامه خطابي او ډیر علماء وائي چه دا روایت موقوف دے متصل مرفوع نه دے هکذا في المرقات ،

او دَ حائضے سره وطي عمدا په اتفاق حرام کار دے ، علامه ابن همام فرمائي که حلال ئے ګنړي کفر دے او که دَ خرابوالي نه خبر وي بیا دغه ګنده کار اوکړي ګناه کبیره دے او منذري هم فرمائي حدیث کښ دَ متن او سند دواړو په اعتبار سره اضطراب دے دغسے اختلاف په دے کښ رفعا ، وقفا ، ارسالا، او اغضالاً هم شته دے دَ علامه انور شاه کشمیري نه په عرف الشذي کښ نقل دے چه نیم دینار ورکول مستحب دي او حدیث منقطع دے ،

دَ دینار وجه تسمیه

علامه آلوسي دَ سورة البقره آیت : ٧٥ وضاحت کښ لیکلے دي چه مالک بن دینار فرمائي چه دے ته دینار ځکه وائي چه دا چا له دین او چا له نار ګرځي که په شرعي طریقه واخلي دین دے او که په ناحقه

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې واخلې نار دے او دَ اور سبب دے ، او مولانا عبدالعزیز نورستاني صاحب نیل المرام کښې لیکلې دي چه دا پاؤبانده څلور گرامه وي او خیر التوضیح کښې دي دینار څلورنیمې ماشې دَ سرو مقدار دے علماء لیکي چه اونیمې تولې سرو نه شل دیناره جوړیږي، بعض علماء فرمائي یو دینار ۳۷٤ ، ٤ گرامه موجوده حساب سره جوړیږي،

(۱۰): "وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ فَدِينَارٌ وَإِذَا كَانَ دَمًا أَصْفَرَ فَنِصْفُ دِينَارٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ"

ترجمه : دَ ابن عباس ؓ نه روایت دے چه نبي علیه السلام فرمائیلې دي که دَ حیض وینه سره وي نو یو دینار دے او که زیړه وي نو نیم دینار صدقه ده،

تشریح : ملاعلي قاري فرمائي : چه اقرب قول دادے چه کله دَ حیض اول کښې دۀ جماع اوکړه نو دے ځکه ډیر معذوره نه دے چه ښځه نوے پاکه شوے ده او دَۀ دَ دجماع مدت نزدے دے ځکه به دینار راځي او په آخر کښې چه کله وینه وي تخفیف پکښې اوشو نیم دینار دے ورکړي، دۀ څه ورځې دَ پابندئ خو تیرے کړي دي،

او مرقات کښې دي : چه حسن سند سره روایت دے دَ سیدنا عمر ؓ یوه ښځه داسې وه چه جماع ئې نه خوښوله او چه کله به ددے اراده عمر ؓ کوله نو عذر به ئې ورته دَ حیض پیش کولو، دَ دوي گمان وو چه دا ښځه دروغ وائي نو چه کله قربان ئې ورسره اوکړو نو ریشتونې ئې اوموندله دَ نبي علیه السلام نه ئې تپوس اوکړو ورته ئې اوئیل ته دَ دینار پنځمه حصه ورکړه ، ملاعلي قاري لیکلې دي چه دا صورت دَ سوروالي او دَ بیاض مینځ مینځ کښې دے که سپین والي له ترجیح ورکړے هیڅ په دۀ واجب نه دي او که سور والي وي نو نیم دینار به وي لیکن ډیره ظاهره دا خبره ده چه دا تقیید محض دے عقل له په دے کښې هیڅ دخل نشته،

شاه انور کشمیري عرف الشذي کښې لیکلې دي : "اذا کان دما احمر فدینار" ددے په سند کښې عبدالکریم ابن ابي المخارق ضعیف راوي دے،

الفصل الثالث

(١١): "عَن زید بن أسلم قَالَ: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا يَحِلُّ لِي مِنَ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَشُدُّ عَلَيْهَا إِزَارَهَا ثُمَّ شَأْنُكَ بِأَعْلَاهَا» . رَوَاهُ مَالِكٌ وَالدَّارِمِيُّ مُرْسلا"

ترجمه : زیدبن اسلم فرمائي چه یو کس دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو ماله دَ خپلے ښځے نه دَ حیض وخت کښې څه حلال دي نبي علیه السلام اوفرمائیل په هغے لنګ مضبوط اوتړه بیا ستا کار دَ لنګ نه پورته حصه کښې به وي،

تشریح : دَ زید بن اسلم پیژندګلو

دے عدوي دے ددهٔ نه سفیان ثوري ، ایوب سختیاني ،مالک او ابن عیینه روایت نقل کوي دَ عمر ؓ غلام وو ابوعبدالله او ابو اسامه المدني ورته هم وائي ، مشهور ثقه فقیه او بارُعبه شخصیت وو او ارسال به ئے کولو یو ځل ئے حدیث بیان کړو یو سړي ورته اوئیل چه دَ چا نه دا روایت کوے ورته ئے اوئیل وراره مونږه چرته بے وقوفو سره ناسته پاسته نه ده کړے ، ١٣٦ هجرئ کښې وفات دے ، اشعه کښې دي چه امام زین العابدین به دَ عزت په ځائے کینولو او سماع دَ حدیث به ئے کوله ، ملاعلي قاري لیکلے دي دَ اکابرو تابعینو نه دے،

ما یحل لي : اي موضع یباح لي ، یعني کوم ځائے کښې فائده اغستل راله مباح دي،

من امرءتي : دغسے حکم دَ وینځے هم دے ،

ثم شأنک : علامه طیبي لیکلے دي چه دا دَ فعل په اضمار سره منصوب دے او دا هم کیدے شي چه مرفوع بناء بر ابتدائیت وي او خبر ئے محذوف دے اي شأنک مباح یا جائز"

ملاعلي قاري فرمائي : چه ارسال دَ تابعي صحابي حذف کولو ته وائي زمونږ په نزد مطلقا حجت دے یو روایت کښې دَ درے ورځو نه پس دَ مباشرت ذکر دے ظاهره داده چه پکښې اشاره وي چه دَ حیض کمه موده درے ورځے ده»

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۴): "وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ على الْحَصِيرِ فَلم نقرب رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ ندن مِنْهُ حَتَّى نطهر. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد"

ترجمه : دَ عائشه رض روايت دے چه کله به زما حيض راغے نو دَ بسترے نه به پوځي ته راکوزه شوم مونږ به نبي عليه السلام خواته نزدے تر هغے نه ورتلو چه پاکے شووے به نه وو،

تشريح : ددے روايت دَ مخکښ حديث "يأمرني فأتزر فيباشرني" سره ظاهري تعارض دے مخکښ تير شو چه عائشه رض به ورسره خوراک څکاک کولو او سر به ئے نبي عليه السلام په هغه حالت کښ وينځلے وو چه عائشه رض به حائضه وه او دے حديث کښ دي چه دَ حيض ورځو کښ به مونږ نزدے هم نه ورتلو، ددے اول جواب دے دَ "قرب" نه خصوصي قرب جماع مراد واخله دَ جماع په غرض به نه نزدے کيدو، دوئم جواب دادے : چه امهات فرمائي : چه مونږ به خپله هسے نزدے نه تلو ليکن که پيغمبر عليه السلام به دعوت راکړو نو بيا به حکم مونږ منلو او خواله به تلو نو کله به ورتلو او کله به نه ورتلو، علامه طيبي ليکي : دَ مثال معني ده بستره " دغسے ملاعلي قاري ليکلے دي ، او يو واقعه ملاعلي قاري ذکر کوي چه امام بيهقي دَ عبدالله بن عباس نه روايت کړے دے چه داسے وخت کښ به دوي دَ ښځے نه ځان ودے ته ساتلو ، ددهٔ ماسي ميمونے رض ام المؤمنين ته پته اولګيده پيغام ئے ورته اوليګلو ته آيا دَ نبي عليه السلام نه اعراض کوي قسم په الله حائضے سره اوده کيدو او لږ غوندے حائل به دوي پريخودو،

دَ حيض دَ پاکئ نه روستو دَ غسل دَ وجوب حکمت

المصالح العقليه للاحکام النقليه کښ دي چه دَ حيض وينے ته الله تعالي قرآن کښ "اذي" يعني گندگي فرمائيلے ده نو په کومه گندگئ چه بيا بيا جسم آلوده شي په هغے دَ انسان نفس ناپاک کرځي ، دوئمه داده چه دَ وينې په چلن دے لطيف پتو ته کمزوري رارسي او چه کله اولامبي نو ظاهري او باطني پاکي حاصليږي او دا پهتے تروتازه شي او په هغے کښ بيا هغه تازگي رواپس شي،

جنابت او حيض کښ دَ قرآن نه لوستلو حکمت

دا دواړه داسے حالتونه دي چه ددے دَ الله دَ نزديکت سره منافات دي او ددے دَ نجاست سره اختلاط دے او مونځ کول او قرآن لوستل دَ الله سره دَ خبرو کولو غوندے مرتبه ده او په دے به انسان هغه

وخت کښې مشرف کيدے شي چه دَ هر قسم پليتو نه پاک وي ځکه الله پاک دے او دَ ناپاکئ نه کرکه ده ،او ماهران طبيبان ليکي چه دَ جماع نه پس غسل کول دَ بدن تحليل شده طاقت او کمزوري راواپس کوي او دَ بدن دَ روحانيت دپاره ډير فائده مند دے او په جنابت کښې بے دَ غسل نه پاتے کيدل سخت نقصاني وي ددے غسل په خه والي عقل وفطرت سليمه گواه دي او په جنابت جسم کښې چه کومه کمزورتيا راغلے وه غسل زړه کښې طاقت ، خوشحالي او بدن کښې سپکوالے پيدا کړي او تر تازه شي،

Maktaba Tul Ishaat.com

باب المستحاضة

باب استفعال کښې دَ سين او دَ "تا" زيادت دے ددے په مختلفو خواصو کښې دلته دا زيادت دَ مبالغے دپاره دے يعني ډير رابهيدل او دوئمه داده چه دَ وينے دغه نوع په بل نوع بدل شوه دَ تحول صفت پکښې دے او دَ حيض او دَ استحاضے جدا جدا احکامات دي نو دَ حيض نه بعد ئے دَ هغے ذکر اوکړو دے ته نن صبا ليکوريا وائي دَ مشهورِ رائے مطابق دا وينه دَ رحم نه ده بلکه دَ رګ ده او دَ شاه ولي الله دَ مصفي دَ عبارت نه معلوميږي چه دا هم دَ رحم نه راوځي دوه فرق دي چه کومه وينه دَ عادت سره مطابق او طبعي وي هغه حيض دے او چه معتاد او طبعي نه وي بلکه دَ مزاج دَ فساد دَ وجے وي استحاضه ده او دواړه دَ رحم نه راوځي دا دَ طبيبانو رائے هم ده او په حديث کښې دي "انما ذالک عرق" ددے مطلب دادے چه کله دا وينه دَ يو رګ نه هم راوځي دا ئے هم سبب دے او نور اسباب ئے کيدے شي،

علامه بنوري معارف السنن کښې ليکلے دي چه دَ صاحب المصفي په تحقيق زما زړه کښې څه تحفظات دي مسند احمد يو روايت کښې دَ فاطمه بن ابي جحش کښې دي چه دا خو دَ شيطان پونده وهل دي ليکي کيدے شي چه دَ رګ دَ ماتوالي دَ وجے وي او يا دَ بيمارئ دَ وجے نه وي دواړه استحاضه جوړيږي او دواړو صورتونو کښې دَ شيطان پونده وهل پکښې راتلے شي او مطلب ئے دادے چه دے دَ دين په باب او پاکوالي او مانځه کښې تلبيس راولي عازل ددغے رګ نوم نه دے لکه چه ظاهراً فهم ته راځي چه دَ انساني اعضاء په کارکردګئ دَ ماهرين علماؤ نه تپوس اوشي او دَ عرب کلام کښې ددے تلاش کيګي چه ددے وجود شته يا نشته بلکه رګ ئے په عازل سره موصوف کړو چه دا دَ عزل او دَ "لوم" دپاره سبب ګرځي يا دَ مفعول په معني راځي او يائے مطلب دے اقام به العزل"

دَ استحاضے تعريف

اهل السنت استحاضه ديته وائي چه دَ حيض دَ ورځو نه لس ورځے پس هم دَ يوے ښځے دَ شرمګاه نه وينه جاري وي او دَ حيض په ورځو کښې په آخر کښې دَ سپينو اوبو نه علاوه ټول رنګونه دَ حيض دي ، بدائع صنائع کښې دي : اما الکدرة في آخر ايام الحيض بلاخلاف بين اصحابنا وکذا في اول الايام عند ابي حنيفة ومحمد وقال ابو يوسف لايکون" دَ حيض په آخري ورځو کښې خړ والے چه په نظر راځي زمونږ دَ احنافو اتفاق دے چه دا حيض دے او دغسے چه په رومبو ورځو کښې وي او دا دَ ابوحنيفه او محمد

مسلک دے او علامه کاساني لیکلے دي چه دَ استحاضے حکم دَ پاکو ښځو غوندے دے بے ددے نه چه دا به هر مانځه له اودس کوي،

فائده : دے کښ اختلاف دے چه ام المؤمنین زینب[رض] بنت جحش ته دَ استحاضے تکلیف وو یا نه وو ، ابن جوزي ددے نه مطلقا انکار کړے دے دغسے دَ عارضة الاحوذي دَ مطالعے نه هم معلومیږي ، شارح ابن رسلان هم ددے نه انکار کړے دے او وائي چه صحیح خبره داده چه مستحاضه دَ زینب خور ام حبیبه[رض] وه لیکن حافظ ابن عبدالبر لیکلے دي چه دے مرض کښ دواړه ببیانے مبتلا وے،

نوټ : دَ حیض و استحاضے فرق ، احکام دَ متحیره ، او تعریفات ، تفصیلات باندے امام محمد بن الحسن مستقل کتاب لیکلے دے او ابوالفرج دارمي چه دَ شوافعو په اکابرینو کښ دے دَ متحیرے مسئله په یو ضخیم جلد کښ لیکلے ده او امام نووي په المجموع کښ ددے تفصیلا بحث کړے دے او امام الحرمین نهایه کښ په باب الحیض کښ په دے نیم جلد لیکلے دے،

دَ الحق الصریح دَمصنف دَ شیخ خلیل احمد سهارنپوري پورے پچموزے اوتوقے

لیکي : وقال خلیل احمد السهارنپوري في بذل المجهود کنت لااعرف هذه المسائل فقلت لعلها تفتح علي عند شرحي لابي داود فلما کتبت الشرح لم یزدني الا حیرة" وکذالک التقلید یفعل باهله" انتهي،

وضاحت او جواب

شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا[رح] تقریر البخاري ۲: ۹۸ باندے لیکلے دي چه زما حضرت نورالله مرقده به فرمائیل چه څلویښت کاله ما بخاري شریف اوخودله او تر وسه په دے باب پوهه نه شوم ، فرمائیل به دوي ما کنړله چه دَ بذل دَ لیکلو وخت کښ به ددے پوهه راشي بیا هم رانغله ، ددے خبرو مطلب دادے چه مستحاضه ښځے چه دَ هغوي ذکر په ابواب الاستحاضه کښ راځي چه په کښ دومره اختلاف دے چه پوره داسے تعیین نه شي کیدے چه مونږ دَ یوے مسئلے قطعي حکم اولګو چه مثلا دا معتاده یا متحیره ده او چا چه ددے خلاف لیکلے وي دَ هغے تردید اوکړو انتهي،

معلومه شوه چه هغوي دَ معتاده یا متحیره دَ حکم لګولو په قطعیت سره دَ حکم لګولو او دَ نورو تردید په قطعي طور سره کولو نفي کوي او دے وائي چه دادهٔ تقلید دَ وجے دغسے کیږي او په وخت دَ

عدم صلاحيت دَ اجتهاد كښې عدم تقليد داسے په يو كس اثر كوي چه ليكلے دي : چه يو سړے په حالت دَ حيض كښې دَ سفر نه راشي" دَ عبارت ظاهر يے دَ تاويل نه قطعا غلط ځكه دے چه دَ سړي مدو دَ حيض حالت وي نه " او دوي خو په عباراتو كښې دَ مجاز قول هم نه كوي ، ددے باب ځلورم روايت ۷۱۸ باندے ليكلے دي : او مجاز او تقدير راويستل خلاف الاصل والقياس دي بلا دليله هغے ته عدول نشي كيدلے"

نو عدم تقليد ورسره څه اوكړل يا دے هسے دَ اجتهاد په خانګو كښې خانګل غواړي ،

مولانا وحيد الزمان غير مقلد وو نزل الابرار:۲: ۳٤ باندے ليكلے دي : چه دَ متعے اباحت قطعي دے په دے اجماع ده او حرمت دَ متعے ظني دے او آخر كښې ليكلے دي "اعلم ان الآيتين المذكورتين لا تدلان علي تحريم المتعة ولو فرضنا فتكون آحاديث التحليل مثبتة لامر زائد والزيادة علي الكتاب بالخبر المشهور جائزة وبالجملة القول بتحريم المتعة لا يخلو عن اشكال"

دا عدم تقليد كله كله انسان دَ شيعه ګانو دروازه باندے دننه كيدو ته نزدے كړي ،

الخطط المقريزيه دَ شيخ عبدالعزيز نورستاني خوښ كتاب دے لكه چه دَ حقيقة الالحاد نه معلوميږي په دے كتاب كښې :۲: ۳٤٤ بيروت چهاپ باندے ليكلے دي "وافتي فقهاء هذه الاحصار في طول هذه المدة بوجوب اثبات هذه المذاهب وتحريم ماعداها والعمل علي هذا الي اليوم" ليكن حقيقة الالحاد صفحه: ۲ باندے دي "جس زمانے اور جس طرح بھی روئے زمین پر تقلید رونما ہوئی اس کو صرف حقارت کی نگاہ سے دیکھا گیا بلکہ اس کو شرعا شجرہ ممنوعہ قرار دے کر فاعلین کو مشرکین کی فہرست میں شمار کیا تھا"

مطلقا دَ تقليد باره كښې دغسے زياتے دَ عدم تقليد دَ جرياتو دَ وجے كيږي، يا كيدے شي چه دَ ځواني هغه تيزي وي،

ترجيح بين المسالك او ترجيح في المسلك دواړه دَ اجتهاد زمره كښې راځي يو مطلق اجتهاد دے او دوئم اضافي اجتهاد دے او ترجيح في المسلك دَ پنځمے طبقے دَ فقهاؤ كار دے لكه صاحب دَ قدوري او صاحب دَ هدايه"

جتنا تڑپو گے جال کے اندر جال گھسے گا کھال کے اندر

الحق الصريح کښې دَ احنافو دَ تردید دپاره حواله

دَ منهاج السنه :٤: ١١٥ په حواله لیکي :کومو آحادیثو کښې چه دا بیان شوي دي چه دَ حیض اقله موده درے ورځے او اکثره موده لس ورځے ده نو تول اهل العلم بالحدیث متفق دي په دے خبره چه دا به نبي علیه السلام باندے دروغ دي او دا آحادیث موضوعي دي انتهي،

الجواب

په دے مسئله کښې مخکښې عرض شوے دے چه چا سره هم صحیح مرفوع متصل بلا کلام روایت نشته او دَ احنافو روایات دَ نورو په نسبت زیات قابل استدلال جوړیدے شي لکه خپل ځائے کښې ددے مخکښې ذکر شوے دے

علامه ابن تیمیه په دغه صفحه دا هم لیکلے دي چه دا روایات چه نبي علیه السلام سفر کښې اتمام او قصر دواړه کولو دے ته هم موضوعي وئیلے دي لکه منهاج السنه کښې :٤: ١١٦ باندے لیکلے دي چه صلاة التسبیح کښې دوه قوله دي "و اظهر القولین إنها کذب و إن کان قد اعتقد صدقها طائفة من أهل العلم و لهذا لم یأخذها أحد من أئمة المسلمین بل احمد بن حنبل و أئمة الصحابة کرهوها و طعنوا في حدیثها" لیکن ددے نه باوجود ته هغه دَ مسلمانانو امام ئے چه دَ صلاة التسبیح روایات منے او آحادیثو کښې ددے طعن نه کوے حالانکه دغه ځائے ابن تیمیه وائي چه دا یو مسلمان امام ځکه نه دي اغستلے چه ډیر ظاهر قول دادے چه دا دروغ دي، او دے کښې آثار شته،

دَ مستحاضے اقسام

(۱): مبتدءه داسے ښځه چه دَ بالغ کیدو سره دَ استحاضے مرض کښې مبتلا شي او دَ استحاضے نه مخکښې ددے دَ حیض دَ وینے عادت متعین وو دا مبتدءة ده نو که د داسے ښځه وینه همیشه دغسے جاري وي او نه ختمیږي ددے حکم دادے چه دَ حیض لس ورځے به ورله اوباسو او دا به شل ورځے پاکه ګڼړلے شي

(۲): معتاده : چه یو ځل کښې اول کښې صحیح وینه او صحیح طهر لیدلے وي او دَ هغے نه پس ددے وینه استمرار سره بهیږي نو دۀ استحاضے نه مخکښې ددے یو عادت متعین دے ددے حکم هم دادے چه دَ خپل عادت موافق به پاکه حسابیږي او بیا به حائضه وي،

(۳): متحیره هغه ښځې ته وائي چه یوځل ئې صحیح وینه او صحیح طهر لیدلے وي لیکن ددے هیر وي دے ته نه یادیږي ، داسے ښځے ته ضاله او مضله هم وائي ځکه دے ته دَ حیض ورځے او تاریخ نه دے یاد بیا ددے درے قسمونه نور دي،(۱): متحیره بالزمان ، (۲): متحیره بالمکان، (۳): دَ زمان او دَ مکان دَ دواړو په اعتبار سره متحیره ،

(۱): متحیره بالزمان هغه ده چه دا ورته یاد وي چه یا دَ میاشتے اول یا آخر وو، لیکن تعداد ورته یاد نه دے ،

(۲): متحیره بالمکان چه تعداد یاد لري دا ورته نه دي یاد چه دَ میاشتے اول وو یا آخر،

(۳): متحیرہ بهما : دواړه ورته نه دي یاد ، متحیره له پکار دي چه تحري دے اوکړي که رأي ددے په خاصو ورځو اودریده نو خه ده او که یوه رأي ددے نه برابریږي او متحیره وي چه زما حیض دے که پاکه وي نو هر مونځ له به اودس کوي ، او مونځ به کوي او که بیا هم ددے شک او تردد وي چه حیض زما شته یا ختم دے نو دَ هر مانځه دپاره به غسل کوي ګویا حنفي مسلک کښې هم دا یو صورت دَ بعض په نزد شته چه په هغے کښې هر مونځ له غسل راغلے دے هغه به په دے صورت حمل کیږي یو روایت کښې دي چه دواړو مونځونو له به غسل اوکړي یو مونځ به ورستو او بل به مخکښې کړي او صورتاً به دواړه مونځونه جمع کړي ، بعض قسمونو کښې ممیزه هم یادوي داسے ښځه چه دَ حیض او دَ استحاضے وینے کښې امتیاز کولے شي ،

دَ مستحاضے متخلله تعریف او حکم

داسے ښځه چه وینه ددے مسلسل جاري نه وي لګ وخت جاري او لګ وخت بنده وي او دَ حیض مدت ددے متعین نه وي دَ داسے ښځے وینه چه کله بنده شي نو هغه وخت کښې دے دا غسل اوکړي او چه ترځو وینه دوباره نه وي جاري چه څومره مونځونه ادا کول غواړي اداکولے شي ،

دَ نبي علیه السلام زمانه کښې څومره ښځے په دے مرض کښې مبتلا وے

حافظ ابن حجر دَ هغے لس صحابیاتو ذکر شعر کښې کړے دے چه آحادیثو کښې دَ هغوي تذکره شته ، بنات جحش ، سهله ، ماریه ، هند ، اسماء ، سودة ، فاطمه ، بنت مرثد ، یعني دَ جحش دواړه لونړے وے،

دَ مستحاضه او معذورينو حكم

(۱): دَ احنافو مسلک دادے چه دَ هر مونځ دَ وخت دپاره اودس كول ورله لازمي دي او په وخت كښې دننه چه څومره مونځونه كول غواړي صحيح دي كه فرض كوي يا واجب يا نفل ،

(۲): دَ شوافعو ، حنابلو مسلک دادے چه هر مونځ له به جدا جدا اودس كوي حديث كښې دي "فتوضأ لكل صلاة "

جواب : دَ شوافعو په دليل كښې لكل صلاة كښې دا لام دَ ظرفيت دے وقت كل صلاة" علامه خليل احمد سهارنپوري ليكلے دي چه دَ شوافعو مستدل فتوضأ لكل صلاة نه مراد دَ پنځه مونځونو وخت كښې اودس كول مراد دي دا مطلب نه دے چه دَ فرض مونځ دپاره اودس اوكړي او كه بيا سنن او نوافل او وتر كول غواړي نو دے له دے جدا اودس كوي بلكه په يو اودس فرض ، نفل ، وتر ، سنت وخت كښې دننه كولے شي ،او دَ مالكيانو مسلک دادے چه هر مانځه له اودس كول به ورله مستحب وي دوي ورته واجب ځكه نه وائي چه دَ دوي په نزد وينه پاكه ده دغسے اماني الاحبار كښې علامه محمد يوسف كاندهلوي ليكلے دي او ائمه ثلاثه وائي چه دَ استحاضے وينے سره اودس ماتيږي او بيا دوي كښې خپلو كښې دا اختلاف دے شوافع دَ هر مونځ دپاره دَ اودس وائي ليكن كه په يو وخت كښې متعدد فرض ادا كول غواړي هغه هومره اودسونه به كوي ، او حنفيه ، حنابله وائي چه دَ مانځه وخت دپاره به يو اودس اوكړي په دغه وخت كښې په دغه اودس چه څومره مونځونه كول غواړي هغه به آدا كولے شي ،

دَ حديث الفاظ درے قسمه دي

(۱): تتوضأ لكل صلاة (۲): عند كل صلاة (۳): تتوضأ لوقت كل صلاة" دَ ړومبي قسم رواياتو كښې دوه احتماله دي (۱): لام په خپله اصلي معنې دے (۲): لام دَ توقيت دپاره دے ، شوافع اول احتمال اخلي او وائي چه هر مانځه له اودس كول واجب دي او دوئم يا دريم قسم روايات صريح دي چه دَ هر وخت مونځ دپاره اودس ضروري نه دے ،احناف په اول قسم رواياتو كښې لام دَ توقيت وائي قرآن كښې دي "اقم الصلاة لدلوک الشمس" اي وقت دلوک الشمس " او دوئم يا دريم قسم روايات احناف دَ تفسير دپاره مني چه دا دَ اول قسم رواياتو وضاحت كوي ځكه كه لام په توقيت حمل نشي نو دوئم يا دريم قسم

Maktaba Tul Ishaat.com

روايات به پريښودلے شي او که دا په توقيت حمل شي نو په هر قسم روايات عمل کيدے شي (اشرف التوضيح)

الفصل الاول

(١): "عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلَا أطهر أفأدع الصَّلَاة فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِحَيْضٍ فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّم ثمَّ صلي»"

ترجمه : دَ عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه فاطمه بنت ابي جحش نبي عليه السلام له راغله عرض ئے اوکړو اے دَ الله رسوله زه داسے ښځه يم چه مسلسل وينه راځي زه په هيڅ وخت کښ پاکه نه شم پاتے کيدے نو آيا مونځ پريږدم نبي عليه السلام اوفرمائي چه نه دا خو دَ رګ وينه ده دَ حيض وينه نه ده چه کله تاله حيض راشي نو مونځ پريږده او چه کله حيض ختم شي نو دَ بدن ء وينه اوينځه او بيا مونځ کوه ،

تشريح : فدعي الصلاة : دا معتاده وه چه کله ستا دَ عادت هغه ورځے راشي مونځ مه کوه او دغه ورځے چه تيرے شي نو وينه دَ ځان نه اوينځه ، مظاهرحق کښ دي چه دا فاطمه معتاده وه ،

مسئله کښ مذاهب

امام ابوحنيفه او احمد رحمهم الله وجوبا دَ هر مانځه دَ وخت دپاره اودس دے له وائي چه په دغه وخت کښ په دے فرائض او نوافل کولے شي،

(٢): امام شافعي هر مانځه له به اودس کوي په دے صرف يو فرض کولے شي،

(٣): مالک او ربيعه او داود هر مانځه له پاکي مستحب ده او واجب ځکه نه ده چه دَ استحاضے وينه حدث نه وه ،

(٤): سفيان ثوري او ابو ثور فرمائي هر مانځه له به اودس کوي او په دے اودس دَ يو فرض نه زيات صحيح نه دي ، ليکن معارف السنن کښ محدث العصر شيخ بنوري ليکلے دي چه دَ "فن" دَ ماهرينو دَ کلام نه معلوميږي چه دَ نورو مذاهبو په نسبت حنفي مذهب ډير قوي دے چه مستحاضه به اودس

كوي اثر او نظر دواړه سره حنفي مسلک قوي دے او دا دَ ابو يوسف ،محمد ، زفر ، او امام احمد هم فرمائي پته نه لګي چه فتح الباري کښې ابن حجر څنګه اوليکل چه دَ امام شافعي مذهب دا دَ جمهورو مذهب دے او مخکښې ذکر اوشو چه امام احمد او ابوحنيفه دَ هر مونځ دَ وخت دپاره دَ اودس حکم کوي او امام مالک هم دا واجب نه ګڼړي، بلکه مستحب ورته وائي او دغه مذهب دَ عروه بن الزبير ، عکرمه ، ربيعه او داود ظاهري دے (معارف السنن)

انما ذالک عرق : المفاتيح کښې دي چه دا رګ دَ حيض دَ رګ نه علاوه دے څکه چه دَ امام شافعي په نزد دَ حيض اکثر مدت پنځلس(۱۵) ورځے دے او امام ابوحنيفه په نزد لس ورځے دي او چا هم نه دي وئيلے چه دا ئمي وينه دے حيض شي چه کله حيض نه دے نو دَ مونځ آدا کول په دے واجب دي ليکن دا به هر فرض مانځه له په قول دَ صاحب المفاتيح غسل کوي انتهي،

دَ مستحاضے دپاره دَ غسل حکم

(۱): جمهور او احناف وائي چه آخر کښې به يو ځل غسل اوکړي هر مانځه له غسل نشته بلکه اودس دے او شوافع وائي چه مونځ له غسل مستحب دے او اودس واجب دے (بذل المجهود)

(۲): ظاهريه اماميه وائي چه مستحاضه به هر مانځه له غسل کوي دغسے ابن عمر ، ابن الزبير ، او سيدنا علي فرمائي (اماني الاحبار)

جـوابـات

امام طحاوي ليکلے دي چه ام حبيبه ته چه دَ غسل لکل صلاة حکم چه ورکړے شوے وو هغه منسوخ دے دَ سهله په روايت دے ته هر مانځه له دَ غسل حکم وو ليکن چه دا ورته ګرانه وه نو بيا دا حکم منسوخ شو او دَ جمع بين الصلاتين حکم ئے صورتاً ورکړو ،

دوئم جواب : دَ غسل لکل صلاة حکم دَ احکامو سره تعلق نه ساتي بلکه دا يو قسم علاج دے په غسل کولو دَ رحم دننه حصه راغونډه شي چه دَ وينے بهيدل ورسره لږ بند شي او علي ، ابن عباس ، دَ خپلے فتوي نه رجوع کړے ده او ورستو ئے فتوي دَ جمع بين الصلاتين ورکړے ده روستنئ فتوي راجح ده، (اماني الاحبار)

Maktaba Tul Ishaat.com

درئم جواب : شيخ الحديث محمد زكريا ليکلے دي چه دَ غسل لکل صلاة ټول روايات ضعيف دي داسے ابن عبدالبر فرمائيلے دي ، ددے وضاحت دَ باب آخر کښې راځي ،

اوجزالمسالک کښې ليکلے دي : چه دَ څلورو واړو امامانو اتفاق دے چه غسل صرف يو دے هر يو مانځه له نه دے او څوک غسل هر مانځه له مستحب ګڼړي،

اقبال الحيض نه مراد دَ عادت دَ ورځو راتلل او ادبرت نه مراد ددے تلل دے چه کله ددے معني احتمال شته نو ددے نه دَ تميز باللون استدلال څنګه کيږي؟ بلکه دا راجحه معني ده دَ نجاست دغسے يو روايت کښې داسے الفاظ دي "اذا اقبلت حيضتک فاترکي الصلاة" او بيا ئے اوفرمائيل "اذا ذهب قدرها ماغسلي عنک الدم" دلته دَ "ادبار" په ځائے اذا ذهب قدرها راغلے دے او چه ادبار دَ حيض دَ عادت ورځے ختميدل دي توقفا بلکه دَ اقبلت معني دَ حيض دَ ورځو راتلل دي،

بل مذهب

دَ ابراهيم نخعي او دَ عبدالله بن شداد دے چه دا به درے غسل روزانه کوي يو باندے به دَ ماسپخين او مازيګر دواړه مونځونه اوکړي او ماښام ، ماسختن له به بل غسل او دَ سحر مانځه له مستقل بل غسل ځکه چه دَ زينب بنت جحش ، عائشه او دَ اسماء درے واړه رواياتو کښې دَ درے ځله غسل حکم دے ،

جوابات

دَ جمع بين الصلاتين رواياتو مدار په عبدالرحمن بن قاسم دے او دَ دوي دَ څلورو واړه شاګردانو خپلو کښې اختلاف دے ،

دوئم جواب : دَ جمع بين الصلاتين رواياتو کښې پنځه اضطرابه دي ،

سفيان ثوري ورته مسند زينب او شعبه ورته مسند عائشه وائي ،

دَ احنافو بلکه دَ جمهورو دليل

(۱): فاطمه بنت ابي جحش ته ئے اوفرمائيل چه دَ حيض ورځو کښې مونځ ، ورځے پريږده بيا چه پاکه شے اولامبه بيا بل مونځ له دَ غسل ضرورت نشته بلکه هر مونځ له اودس کوه اګر چه وينه په پوځي راوغورځيکي ،

(۲): دَ عدي بن ثابت روايت کښې دي چه مستحاضه به هر مانځه له اودس کوي،

(۳): امام طحاوي دَ عائشه رض نه درے قسم روايات نقل کړے دي (۱): غسل لکل صلاة، (۲): جمع بين الصلاتين، (۳): وضوء لکل صلاة، ليکن آخري فتوي دَ وضوء لکل صلاة ده ، او دَ فقهاؤ اصول دي که راوي دَ خپل روايت خلاف فتوي وکړي نو روايت به منسوخ ګنړلي شي کني بيا دَ راوي روايت اعتبار نه پاتے کيږي،

(٤): امام زيلعي دَ احنافو او دَ جمهورو مستدل له پنځه آحاديث راوړے دي ،

سوال جواب

دلته سوال دے چه حديث کښې صرف دَ وينے دَ وينځلو حکم دے حالانکه مانځه له غسل فرض دے ،

جواب : دَ غسل کولو هر چا ته علم وو توضيح دَ واضحاتو ته ضرورت نشته ،

(۲): نورو رواياتو کښې دَ غسل کولو ذکر شته،

دَ امام مالک دَ دليل جواب

امام مالک فرمائي چه "فاغسلي عنک الدم" دَ وينے دَ ونځلو نه پس دَ مونځ حکم دے دَ اودس ذکر نشته نو معلومه شوه چه دے سره اودس نه ماتيږي ليکن جواب دادے چه دا روايت مجمل دے په نورو رواياتو کښې تفصيل کښې دَ اودس تذکره شته،

واضحه دے وي : لکه څنګه ملاعلي قاري ليکلے دي چه دَ حيض وينه دَ خالق په اذن دَ بچي دَ پيدائش دَ توليد ذريعه ده دا دَ هغے رګ نه راوځي چه دَ رحم په آخر کښې وي بيا په دے کښې جمع کيږي بيا دَ خيتے دَ ماشوم خوراکه شي څه وينه بيا نه راوځي ددے حديث دَ تشريح په آخر کښې الحق الصريح کښې ليکلے دي "او که تاخير ئے اوکړو او ديته په مقدار دَ غسل او يو رکعت وقت ملاويدلو نو ددے مونځ به قضاء راوړي ، کما في الحديث من ادرک رکعة من الصلاة فقد ادرک الصلاة" انتهي،

معلومه شوه چه وړاندے "من ادرک الصلاة من الصلاة چه راځي ددے يو مصداق دغه مخکښې صورت دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

چه حائضه دَ يو ركعت آدا كولو وخت پاكيږ كښې اومې دے مونځ لاندے كړو دا دَ حديث هغه توجيه ده چه دلته ئے ددے اقرار كړے دے اګر چه دَ دغه حديث دوران ئے دے توجيه ته طبيعت برابر نه وے،

الفصل الثاني

(٢): "عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ: أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ دم الْحيض فَإِنَّهُ دم أسود يعرف فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيّ"

ترجمه : عروه بن الزبير دَ فاطمه بنت ابي جحش نه روايت كوي چه هغے له دَ استحاضے وينه راتلله پيغمبر عليه السلام هغے ته اوفرمائيل چه كله حيض وينه راشي چه دا توره وينه پيژندلے شي چه كله دغه وي دَ مانځه نه بنده شه او كله چه دَ استحاضے وينه راځي اودس اوكړه مونځ كوه ځكه چه دادهٔ يو رګ وينه ده،

تشريح : دَ عروه بن الزبير پيژنګلو

اشعة اللمعات كښې دي غټ تابعي دے دَ عبدالله بن زبير رور او دَ اسماء ځوے دے او دَ مدينے اوو(٧) فقهاؤ كښې يو دے ،

التقرير الرفيع كښې دي چه دَ تور رنګ ذكر دَ اغلب په اعتبار سره دے كله دا وينے وغيره سره هم كيدے شي ،

او دوئم جواب دادے چه دا حديث ضعيف دے ، ابوحاتم ، ابن القطان ، ابوداود ، او امام طحاوي وغيرهم دے دے روايت ته كمزورے وائي ، مرقات كښې دي بالفرض كه حديث صحيح شي دا حمل په هغه صورت دے چه تميز دَ عادت سره موافقت كوي ،

اذا كان دم الحيض : دا "كان" تامه ده په خپل اسم تام كيږي ،

فتوضئي : دَ غسل نه پس بيا هر فرض مونځ له اودس كوه ،

دَ احنافو دلیل

علامه زیلعي تبیین الحقائق کښې لیکلې دي چه عائشه رض ته به چه کله بعض زنانؤ ډبې اولیږو چه موږ پاکې یو یا نه یو هغې به ورته فرمائیل تلوار مه کوئ څوپورې چه تاسو دَ چونې غوندې سپین رنګ نه وي لیدلې ګویا دې کښې به زیړ رنګ وغیره نه وي خلط ، ومثله لا یعرف الاسماعا" دا غیر مدرک بالرائ قول دَ مرفوع حکمي په ذیل کښې راځي او امام رازي لیکلې دي چه شین رنګ دَ جمهورو په نزد چه کله ښځې له حیض راځي دا به حیض وي او دا به دَ خوراک په فساد حمل کیدې شي ځکه چه دَ ښځې یو فرج داخل او بل فرج خارج دې ،دا خارج دَ دبر غوندې چه کله دَ مالوچو پومبه فرج خارج کښې کیدي او دَ هغې دَ وجې فرج داخل لاندې شي دا حدث ، حیض او نفاس وي اګر چه خارج ته نۀ وي راوتلې ځکه ددې ظهورو موجود دې،

قاضي شمس الدین رح لیکلې دي چه دا ښځه معتاده وه دَ حیض معهود ورځو کښې مونځ پریږده چه دغه ورځې تیرې شي بیا وینه دَ ځان نه اوینځه ، دغسې حکم ښځې ته دغه وخت کښې دې

دَ احنافو او دَ شوافعو رنګ کښې اختلاف

شوافع وائي چه دَ مستحاضې یو قسم ممیزه ده دا په رنګ حیض او استحاضه کښې فرق کولې شي دا حدیث حجت ګنړي ، او احناف وائي دا دَ مستحاضې مستقل قسم دې او رنګونو له اعتبار نه ورکوي ، او "فانه دم اسود یعرف" دا مدرج من الراوي دې او نسائي کښې دي چه ډیرو حدیث کښې تاویل کړې دې او چه ابن عدي څه ذکر کړې دي ددې هیچا ملګرتیا نه ده کړې او علل کښې دي چه دَ محمد بن عمرو په دې روایت کښې چا ملګرتیا نه ده کړې او هغه منکر راوي دې ،

نو الحق الصریح کښې دَ ابن القیم په حواله محمد بن ابي عدي حافظ او متیقن کیدل، دا خبره اتفاقي نه ده ،

فائده : دَ عائشه رض ددغې روایت نه معلومیږي چه هغه وخت کښې به هم زنانو دَ کرسف استعمال کولو دا مالوچو ته وائي او دې زمانه کښې دَ طبي کیئر مذي (Care Free) استعمال هم ممکن دې ،

فانه دم اسود وضاحت په حواله دَ مظاهرحق

دا حدیث په دوو طرقو نقل دے یو مرسل او بل مضطرب دے او عجیبه خبره داده چه دَ وینے رنګ کښ دَ امتیاز خبره صرف دَ عروه په روایت کښ ذکر ده نو په دے حدیث دَ یو مسلک بنیاد کیخودل ګویا دغه مسلک کمزورے کول دي،

دوئم : احناف دَ حدیث وضاحت دَ صحت منلو په وخت کښ داسے کوي چه دا په هغه صورت حمل دے چه دا تمیز دَ عادت سره موافقت لري یعني چه کومے ښځے ته استحاضه راغلے وي او په حیض کښ دَ وینے رنګ کله تور وي نو دا به دَ حیض وینه ګڼړلے کیږي نو چه کله ددے عادت ورځے تیرے شي او دغه ورځو کښ دَ وینے رنګ تور وي چه سور رنګ ته میلان لري نو ددے نه پس به دَ حیض وینه نۀ شي شمارلے کیدے ځکه ددے دَ عادت سره موافق دَ وینے رنګ تور پاتے نه شو،

مولانا زبیر علي زئي خېل مشکوة کښ لیکي : فانه دم اسود "سنده ضعیف" ځکه چه زهري مدلس دے او عنعنه کوي،

(۳): "وَعَن أم سَلمَة: إِنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهْرَاقُ الدَّمَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أم سَلمَة رَسُولِ الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَقَالَ: «لِتَنْظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِي وَالْأَيَّامِ الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيبَهَا الَّذِي أَصَابَهَا فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذَلِكَ مِنَ الشَّهْرِ فَإِذَا خلفت ذَلِك فلتغتسل ثمَّ لتستثفر بِثَوْب ثمَّ لتصل» . رَوَاهُ مَالك وَأَبُو دَاوُد والدارمي وروى النَّسَائِيّ مَعْنَاهُ"

ترجمه : ام سلمه نه روایت دے یوے زنانه به دَ نبي علیه السلام زمانه کښ دَ استحاضے وینه ویستله ام سلمه هغے دپاره دَ نبي علیه السلام نه تپوس اوکړو ورته ئے اوفرمائیل دے له انتظار پکار دے دَ هغے ورځو او دَ شپو دَ شمار چه دے له به میاشت کښ دَ هغے په اندازه په میاشت کښ حیض راتللو مخکښ ددے نه چه ورته دغه مصیبت اورسي ، چه ورته اورسیدو او کله چه دغه ورځے تیرے شي نو اودے لامبي او لاندے دے جامه اوتړي بیا دے مونځ اوکړي،

تشريح : دلته سوال دے چه ددے حديث نه معلوميږي چه يوے مبهمے زنانه تپوس دَ ام سلمه په وساطت کړے دے او ددے نه وړاندے روايت کښې "عن عائشه" کښې صراحة خپله تپوس کول ذکر شوي دي دا په ظاهر کښې دواړو روايتونو کښې تعارض ښکاري؟

ليکن اول جواب دادے چه هيڅ تعارض نشته اول ئے تپوس دَ ام سلمه په وساطت اوکړو او بيا دَ زياتے تسلئ دپاره خپله نبي عليه السلام له تلے ده ،

دوئم جواب : دادے چه دا حديث کمزورے دے ددے نه دليل نيول صحيح نه دي ،

ثم لتستثفر : ددے دا معني ده چه دَ کوم ځائے نه وينه راوځي يوه مضبوطه پټه او پتئ دے لنګوټ غوندے اوکړي ، دا بطور علاج يو صورت خودلے شوے دے دَ ابو داود روايت کښې دي " استحيضت امرءة علي عهد رسول الله صلي الله عليه وسلم" ددے مصداق ابن رسلان حمنه او سهله بنت سهيل ده ،

بعض رواياتو کښې راځي : "فاتخذي ثوبا" لاندے جنګے دَ مبالغے دپاره وي چه دَ وينے وتلو کښې احتياط عملي کړے شي دَ سياق دَ کلام نه متبادر دغه معلوميږي، او چا دا مطلب بيان کړے دے چه دَ مانځه دپاره ځانله جدا پرتوګ يا لنګ ساته او بعض دے مطلب له ترجيح ورکوي ،

عدد الليالي والايام : بعض علماء وائي چه ايام جمع قلت دے دَ افعال وزن دَ جمع قلت دَ اوزانو نه دے جمع قلت دَ درے نه شروع کيږي او په لسو ختميږي بعض ددے نه استنباط کوي چه دَ حيض کمه موده درے ورځے او زياته لس ورځے ده دغسے راتلونکي روايت کښې دي "تدع الصلاة ايام اقرائها" اقراء بروزن افعال جمع قلت،

(٤): "وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ - قَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: جَدُّ عَدِيٍّ اسْمُهُ دِينَارٌ - عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ: «تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ فِيهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَتَصُومُ وَتُصَلِّي» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد"

ترجمه : عدي بن ثابت دَ خپل پلار او دَ نيکه په وساطت نقل کوي چه يحيي بن معين فرمائي دَ عدي نوم دينار دے دَ نبي عليه السلام نه روايت کوي چه دَ مستحاضے باره کښې اوفرمائيل مونځ به دَ حيض په

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې ورځو کښې پریږدي چه دے له به پکښې حیض راتللو بیا به اولامبي او هر مانځه له دے اودس اوکړي او روژه دے نیسي او مونځ دے کوي ، دَ ترمذي او بوداود روایت دے ،

تشریح: دَ عدي بن ثابت پیژنګلو

انصاري کوفي او ریشتنے دے وفات ئے ۱۱۴ هجري دے امام ترمذي ددهٔ روایت په باب العطاس کښې ذکرکړے دے ، ترمذي فرمائي چه ما دَ امام بخاري نه تپوس اوکړو چه دَ عدي بن ثابت نیکه څوک دے اوے فرمائیل ته ئے نوم نهٔ پیژنے لیکن یحیي بن معین فرمائي چه دَ هغه نوم دینار دے ، او مرقات کښې چه عدي بن ثابت الانصاري الکوفي ثقه وو خو دَ شیعه الزام په دهٔ وو ،

یحیي بن معین څوک دے؟

دوي به دَ امام ابوحنیفهؒ دَ مسلک مطابق فتوي ورکوله ۱۵۸ کښې وفات او ۲۳۲ هجریٔ کښې مدینه کښې وفات دے ،

او معرفة علوم الحدیث للحاکم کښې دي : چه یحیي بن معین وفات دے سنة ثلاث وثلاثین ومائتین یعني ۲۳۳ هجري کښې ،

شرح نخفة الفکر په امعان النظر نوم سره چه علامه اکرم سندهي کړے ده په هغے کښې دي چه کومه تخته باندے نبي علیه السلام له غسل ورکړے وو په هغے دوي ته دَ غسل سعادت حاصل دے او دلته الحق الصریح کښې دي چه دَ نبي علیه السلام په هغے کټ کښې مقبرے ته اوړلے شوے دے ، او دا ئے هم لیکلے دي چه کوم حدیث دے نه پیژني هغه به حدیث نه وي ، لیکن دَ حدیثو دے ماهر دَ فتوي ورکولو دپاره به ترجیح دَ امام ابوحنیفه رائے اومسلک له ورکوله ،

یحیي بن معین جرح و تعدیل کښې ماهر وو او تنقید په دَ دوي مشهور وو ، دوي امام شافعي نه دے پریخودلے او داسے صراحت ئے دَ دوي په باره کښې کړے دے چه اهل علم ئے نه قبلوي ، قیل له والشافعي کان یکذب قال ما احب حدیثه ولا ذکره" جامع بیان العلم وفضلهٔ :۲: ۱۴۹ ، او اردو ترجمه العلم والعلماء :۳۹ ، او تذکره ئے دَ امام شافعي چه هغه دنیا منلے دے نه خوښوله لیکن دَ امام ابوحنیفهؒ باره کښې دَ هغوي ریمارکس دادي "صدوق"

تذكرة الحفاظ : ۲: ۹۸ باندے دي دوي به فرمائيل "اذا رأيت الرجل يخرج من منزله بلا محبرة ولا قلم يطلب الحديث فقد عزم علي الكذب" كه يو طالب علم دَ علم طلب له بے دَ قلم او دَ دوات نه اوځي نو دهٔ دَ دروغو عزم او مقصد کړے دے،

اسمه دينار : دَ دينار تعارف

اشعة اللمعات کښ دي چه دا دَ عدي نيکه دے او عدي بن ثابت ثقه تابعي دے ابن حبان ئے په ثقات کښ ذکر کوي دَ شيعه کانو دَ مسجد امام وو او دَ هغوي واعظ وو ، ابن معين وائي چه سخت شيعه وو او دارقطني وائي چه غالي رافضي وو ليکن ثقه او صدوق وو ۱۱٦ هجرئ کښ وفات شوے دے،

وتتوضأ عند كل صلاة : يو روايت کښ لوقت كل صلاة راځي لکه دَ مسئلے وضاحت تفصيلا مخکښ ذکر شوے دے او دَ "عند كل صلاة" دَ تتوضأ سره تعلق دے او دَ "تغتسل" سره ددے هيڅ تعلق نشته ددے روايت باره کښ مرقات کښ دي ضعيف لايصح" او امام ترمذي فرمائي مادَ امام بخاري نه تپوس اوکړو هغه صرف په دے سند پيژندلو ليکن ترمذي وائي حسن صحيح ، او ملاعلي قاري ليکلے دي ابوداود ورته صحيح وائي او دے روايت کښ دَ غسل ذکر نشته نو غسل واجب نه دے ليکن که مستحب شي مناسبه ځکه ده چه دَ خلاف نه اوځي دغسے ابن حجر ذکر کړي دي ،او مظاهرحق کښ دي حديث ضعيف دے ،

فائده : نيل الاوطار :۳۰٤ باندے دي چه دَ مستحاضے دهٔ غسل حديث دَ هغے سند دادے " محمد بن اسحاق عن عبدالرحمن بن القاسم عن ابيه عن عائشه ؓ ، او ابن اسحاق ليس بحجة لاسيما اذا عنعن الحق الصريح کښ دي چه مونږ په شريعت کښ داسے طهارت هيچرے نه دے موندلے چه هغه په خروج الوقت سره ماتيږي ، ليکن هغه طهارت مسح علي الخفين دے چه طهارت په خروج الوقت سره ختميږي او دغه دَ حديث نه معلوميږي ،

(٥): "وَعَنْ حَمْنَةَ بنت جحش قَالَتْ: كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَفْتِيهِ وَأُخْبِرُهُ فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِ أُخْتِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَمَا تَأْمُرُنِي فِيهَا؟ قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَالصِّيَامَ. قَالَ: «أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ» . قَالَتْ: هُوَ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: «فَتَلَجَّمِي» قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: «فَاتَّخِذِي ثَوْبًا» قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ أَيَّهُمَا صَنَعْتِ أَجْزَأَ عَنْكِ مِنَ الْآخَرِ وَإِنْ قَوِيتِ عَلَيْهِمَا فَأَنْت أَعلم» فَقَالَ لَهَا: " إِنَّمَا هَذِهِ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ فتحيضي سِتَّةَ أَيَّام أَو سَبْعَة أَيَّام فِي عِلْمِ اللَّهِ ثُمَّ اغْتَسِلِي حَتَّى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّي ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً أَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَأَيَّامَهَا وصومي وَصلي فَإِن ذَلِك يجزئك وَكَذَلِكَ فافعلي كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ وَكَمَا يَطْهُرْنَ مِيقَاتُ حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِينَ الظُّهْرَ وتعجليين الْعَصْر فتغتسلين وتجمعين الصَّلَاتَيْنِ: الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَتُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ ثُمَّ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فَافْعَلِي وَتَغْتَسِلِينَ مَعَ الْفَجْرِ فَافْعَلِي وَصُومِي إِنْ قَدَرْتِ عَلَى ذَلِكَ ". فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَهَذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ». رَوَاهُ أَحْمَدَ وَأَبُو دَاوُد وَالتِّرْمِذِيّ"

ترجمه : دَ حمنه بنت جحش نه روایت دے ماته به دَ استحاضے ډیره او سخته وینه راتلله نو زه پیغمبر علیه السلام له لاړمه ددے تپوس ما ترے کولو او هغه له ما خبر ورکړو، ما دَ خپلے خور زینب بنت جحش کور کښې اوموندو ما ورته اوئیل چه اے دَ الله رسوله چه ماله دَ استحاضے دغه وینه ډیره او سخته راځي تاسو ما ته په دے کښې څه حکم راکوئ زه دے مرض دَ مونځ او دَ روژے نه منع کړے یم اوئے فرمائیل زه ستا دپاره دَ مالوچو پهه تجویز کوم څکه دا وینه اودروي دے ورته اوئیل وینه ددے نه زیاته ده اوئے فرمائیل ، جنګے کلک اچوه دے ورته اوئیل ددغے نه زیاته ده زه په شر ډیره بهیګم په شر بهیدلو سره نبي علیه السلام اوفرمائیل زه تاته دوه حکمونه کوم یو دے چه پکښې اوکړو دَ بل نه به درله کافي کیږي او که په دواړو دے وس رسي نو ته خه پوهیږي دے ته ئے اوفرمائیل چه دَ استحاضے دغه وینه دَ شیطان دَ لتو نه یوه لته ده تر دے چه ځان اوینے چه خه پاکه شوے او صفا شوے ئے نو مونځ دریشت یا څلیریشت شپے او ورځے اوکړه او روژے نیسه یقینا دغه به ستا دپاره کافي کرځي او دغسے

ته هره مباشت کښې کوه لکه څنګه چه نورو ښځو له حیض راځي او چه څنګه دغه ښځې دَ خپلو تاکلې شوې حیض او طهر کښې پاکیږي او پلیتې شي او که ددې طاقت لرې چه دَ ماسپخین مونځ ورته روستو او دَ مازیګر مونځ ورته وړاندې کړې بیا اولامبې او دواړه مونځونه ماسپخین او مازیګر جمع کړې دغسې کوه او دَ ماښام مونځ روستو او دَ ماسختن هغه مخکښې کړې بیا اولامبې او دواړه مونځونه جمع کړې دغسې کوه او دَ سحر مانځه له اولامبه دغسې کوه او روژې نیسه که دَ دغې وس لرې او رسول الله صلي الله وسلم اوفرمائیل او دا کار په دواړو کښې ماته ډیر خوښ یا آسان ښکاري ،

تشریح : حمنه دَ بني اسد قبیلې سره تعلق ساتي دا دَ زینب ؓ ام المؤمنین خور وه او دَ مصعب بن عمیر ښځه وه بیا چه کله مصعب بن عمیر غزوه احد کښې شهید شو دَ هغې نه پس ددې نکاح دَ طلحه بن عبیدالله سره شوې دې (خیر التوضیح)

کنت استحاض حیضة : مرقات کښې ملاعلي قاري لیکلې دي چه صرف بکسرالحاء به وئیلې شي لیکن تورپشتي وائي چه دا بفتح الحاء وئیلې شي چه په یو ځل دلالت کوي ،

کثیرة : دا ددې هغه کمیت او مقدار دې ،

شدیدة : دَ کیفیت سره تعلق ساتي او په دې کښې دَ حیض اطلاق دَ استحاضې په وینه تغلیبا شوې دې ،

واخبره : کښې دا "واو" دَ مطلق جمع دپاره راځي دا چه وائي چه دَ مونځ او روژې نه دې استحاضې اوباسلې یم دا ددې خپل ګمان دې او نفس الامر حقیقت نه دې ،

انما اثج ثجا : المفاتیح کښې دي : چه خطابي وئیلې دي اصح داده چه دا منتدءة ده ددې لازمي معني داده چه زه بهیږم بهیدل او که متعدي شي بیا ئې دا معني ده زه بیوم وینه په بیولو دې صورت کښې به دما محذوف وي ،

سأمرک بأمرین : چه دَ حیض ورځې دې ختم شي اولامبه بیا هر مانځه له اودس اوکړه او دوئم عمل نه مراد هر مانځه له غسل دې ، او دا دَ ابوداود ترجمة الباب دې "ان المستحاضة تغتسل لکل صلاة" لکه دا معلومیږي دَ لاندې کلام دَ ابوداود نه ، او احناف فرمائي چه اول امر وضوء لکل صلاة" یعني هر مانځه له اودس دې لکه دَ طحاوي تصریح ده اصلا حکم دادې چه هر مانځه له اودس اوکړه او که جمع بین الصلاتین بغسل واحد کوې نو دا هم خه ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال : دلته نبي علیه السلام دَ "امر اسهل" مقابله کښې امر اصعب ولې خوښ کړو حالانکه دوي به امت له همیشه آسانه خوښوله ،

جواب : امر هر مانځله لامبل په ظاهره گرانه ځکه ده چه پکښې سترړے او کړاو زیات دے لیکن دا هم یو حقیقت دے چه پکښې صفائي ، ستهرائي هم زیاته ده ددے نه علاوه دغسے یخ ورکول علاج هم دے ددے فائدے او ترجیح په نسبت ددے دَگران کیدو دا وزن کمزورے کیږي، (حقائق السنن للشیخ عبدالحق اکوړوي")

دوئم قول : دواړه مونځونه جمع کړه اولامبه او بیا هر مانځه دپاره جدا جدا اودس کوه ،

دَ نفحات التنقیح په حواله دَ کوکب دَ حاشیے نه نقل دے شیخ محمد زکریا" لیکلے دي چه دَ حمنه بنت جحش په واقعه کښې دَ غور نه معلومیږي چه دَ امرین مراد په اول امر کښې درے خبرے دي ، شپږ (٦) یا اووه(٧) ورځے تحري کول او دۀ غلبه ظن نه پس چي کله شپږ یا اووه ورځے تیرے شي نو په دوئم نمبر دَ حیض نه دَ طهارت غسل اوکړه او په درئم نمبر باندے شل یا څلویښت شپے او ورځے هر مانځه دپاره اودس کوه دا درے چه راجع شي دا امر اول دے ،

او دوئم امر : جمع بین الصلاتین په یو غسل سره دے امر اول کښې تحري او غلبه ظن بنیاد دے او دوئم امر کښې په یقین بنیاد کیخودلے شوے دے ،

معارف ترمذي کښې دي یو غسل دَ حیض دَ ختمیدو نه پس دے او بیا هر مونځ له اودس کول دَ خپل عادت سره موافق دي او دوئم دواړو مونځونو له یو غسل کول دي ،

التعلیق الفصیح کښې دي اول امر پنځه مونځونو له درے ځله غسل کول دي او ابوداود ص:٤١ باندے اشاره ده چه دا پنځه مونځونه له پنځه ځله لامبل دي لکه چه عرف الشذي کښې دي ،

په تعلیق دَ مسند احمد ٤٥ : ٤٦٩ باندے دي "الظاهر ان الامر الاول اذا کان هناک علامة بمعرفة الحیض من الاستحاضة" چه امر اول ظاهر دادے چه دَ حیض او دَ استحاضے مینځ کښې پیژنکلو له کیدے شي ،

دَ علامه بنوري تحقیق

معارف السنن کښې لیکلے دي چه امام شافعي په "ام" کښې لیکلے دي چه امر اول دَ صفا کیدو نه بعد یو ځل غسل دے بیا هر مانځه له اودس دے او دوئم امر په یو غسل سره دَ ماسپخین او دَ مازیگر دواړه

مونځونه جمع کول دي او دَ ماښام او ماسختن له يو ځل لامبل دي او بيا دَ سحر مانځه له غسل کول دي او ډير شارحين دغسې وائي ،

او دوئمه توجيه هغوي ذکر کوي : اول امر هر مانځه له غسل دے او دَ ابوداود کلام په سنن کښې دغے ته اشاره کوي او مرقات او لمعات کښې دا توجيه غوره کړے ده او دَ ابن قدامه "مغني" کښې دے طرف ته اشاره موجود ده او دغسې امام طحاوي مشکل الاثار کښې ليکلے دي ،

بهرحال هر مانځه له غسل په دے روايت کښې صراحة راغلے دي ،

أجزء عنک من الآخر : ملاعلي قاري ليکلے دي چه "من" دَ بدل دپاره واخله قرآن کښې دي "لن تغني عنهم اموالهم ولا اولادهم من الله شيئا" دے آيت کښې "من" دَ بدل دے " دوئم آيت : "ارضيتم بالحيوة الدنيا من الآخرة" دلته "من" دَ بدل دے او شرح ابن عقيل کښې دي :

جاريه لم تأکل المرققا : : ولم تذق من البقول الفستقا

أي بدل البقول ومن استعمال الباء بمعنى بدل ما ورد في الحديث ما يسرني بها حمر النعم أي بدلها"

دَ شعر ترجمه :"داسے جينئ ده چه چپاتي نه خوري او دَ ترکارئ بدل کښې صرف پستے خوري"

او حديث کښې دي "ولا ينفع ذا الجد منک الجد" دا "من" دلته دَ بدل په معني دے ،

انما هذه رکضة : ملاعلي قاري ليکلے دي : ددے نه دَ مونځ په دغه موده کښې پريښودل مراد دي ،

چه کله يو تن دَ دين په کار کښې کډ وډ شي شيطان په هغے خوشحاليږي، "وليلبسوا عليهم دينهم" دَ شيطان او دَ شيطانانو ايجنډا ده چه کله ددے زنانه پاکي او پليتي ، مونځ او روژه کښې شکونه راځي او هيره ددے راځي شيطان دَ خوشحالئ نه "مَن ، مَن" غټيږي، شيطان ورته خائسته کړي چه حيض او استحاضه يو څيز دے ،

فتحيضي ستة ايام او سبعة ايام في علم الله : "او" کوم قسم دے

امام نووي فرمائي : چه "او" دَ تقسيم دپاره دے که عادت ددے شپږ ورځے دي ځان به دا شپږ ورځے حائضه شمار کړي او که عادت ددے اووه(۷) ورځے وو ځان دے اوو(۷) ورځے حائضه شمار کړي،

دوئمه توجيه : "او" دَ تنويع دے چه ددے حائضے ښځے سره په عمر او مزاج کښې کومے ښځے مشابهت لري ددغے ښځو په حالاتو به دا خپل ځان قياس کړي چه هغے ښځو له څومره حيض راځي دغه ورځے به حيض شماري،

Maktaba Tul Ishaat.com

درئمه توجیه : "او" دَ شک دپاره دے ددے ښځے پکښې شک دے،
وان قويت علي ان توخرين الظهر : خیر التوضیح کښې دي دا دوئم امر دے چه دواړه مونځونو له یو غسل اوکړه لکه حدیث کښې دي دَ دواړو مونځونو مینځ کښې داسے وخت کښې غسل اوکړه چه دَ یو مونځ آخري او دَ بل مونځ ابتدائي وخت وي بیا روستو دواړه مونځونه برغ اوکړه ، لکه صوري جمع بين الصلاتين چه کیږي،

دوه احتماله

اول احتمال : دَ تاخیر دا مطلب کیدے شي چه دَ وخت ختمیدو نه پس دے مونځ اوکړي مثلاً ماسپخین او مازیګر دَ دواړو وختونو مونځ دے دَ مازیګري وخت کښې اوکړي دغسے دَ ماښام او دَ ماسختن مونځ به دَ ماسختن وخت کښې اوکړي او دا مسلک دَ امام شافعي دے چه مسافر دغسے دوه مونځونه جمع کولے شي،
دوئم احتمال : دَ ماسپخین مونځ دے بالکل آخري وخت کښې اوکړي او دَ مازیګر هغه دے اول وخت کښې اوکړي دغسے به دَ ماښام او دَ ماسختن مونځونو کښې وي لکه حنفي مسلک کښې چه مسافر جمع صوري کوي ددے دوئم حکم حاصل دادے چه روزانه غسل به ماسپخین او مازیګر له اوکړي او بل غسل به ماښام او ماسختن له اوکړي او درئم غسل به صبا له اوکړي او دغسے دوه مونځونو له غسل دَ "ان قويت علي ان توخرين" نه اشارة معلومیږي ځکه ددے عبارت نه دا معلومیږي چه دغه ښځه دَ مونځ دپاره دَ غسل نه عاجزه ده او دغه مسلک دَ سیدنا علي ، ابن مسعود او دَ ابن زبیر دے او دَ ابن عباس مسلک دادے چه دواړه مونځونه به په یو غسل سره برغ اوکړي او نبي علیه السلام په "اعجب الامرين" کښې دے طرفته اشاره کړے ده چه دواړو مونځونو له غسل کول ماته دَ هر مانځه دَ غسل نه زیات خوښ دے او وجه ددے دا ده چه نبي علیه السلام عادت وو چه امت له به دوي هغه کار خوخولو چه عمل به په هغے آسان وو ، او احناف دے ته منسوخ وائي یا ئے په علاج حمل کوي چه دَ وینے کثرت او شدت ختم شي یا په دے کښې کمے راشي ،
او دَ هر مونځ دپاره مستقل غسل بعض امر اول ګڼړي او دوئم دَ جمع په صورت کښې دواړو مونځونو له یو غسل کول دي لکه قاسم په خپل حدیث کښې ددے ذکر کړے دے او دا قول دَ سعید بن جبیر ، او سیدنا علي او سیدنا ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کړے شوے دے ،

دَ شیخ الهند توجیه

التقریرالترمذي کښې دي : امر اول هر مونځ له اودس کول دي او دوئم حدیث کښې نشته او هغه هر مانځه له غسل دے یا دوه مونځونو له ، دے سره به نظافت او طهارت سره سره في الحال وینه کمه شي او په قول دَ امام طحاوي دَ نفس تزکیه به اوشي لیکن هر مانځه له غسل احب او اطهر دے یا دَ یخو اوبو په زریعه علاج دے او یا دَ نبي علیه السلام مخے ته دواړه امره وو،

او شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښې لیکلے دي : "وایں مذهب امیر المومنین علی وعبدالله بن مسعود وابن زبیر وجماعت از تابعین است" علامه طیبي ورته اشبه دَ فقه سره او الیق وئیلے دے او دَ ابن عباس مذهب دادے چه دواړه مونځونه په یو غسل جمع کړے او دا مذهب حدیث سره ډیر مشابهت لري په دے کښې آسانتیا ده په نسبت ددے چه هر مونځ له غسل کوي او "اعجب الامرین" دَ تسهیل و تیسیر په معني واخله "مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَمْرَيْنِ قَطُّ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا" (مالک:۱۶۰۳ ، بخاري: ۳۳۶ ، مسلم:۲۳۲۷)

کمزورے توجیه

دَ ابن الملک قول مرقات کښې ذکر دے چه دَ دے نه سفر او استحاضه مراد دي جمع بین الصلاتین بغسل دَ استحاضے وجے زما په نزد اولي دے په نسبت دَ جمع بین الصلاة دَ سفر دَ وجے او ظاهره داده چه آخري امر کښې اشاره په یو غسل دوه مونځونه جمع کولو ته ده دے کښې آسانتیا ده ، اول امر هغه مانځه له غسل کول دي ، او دَ اعجب معني احب او اسهل واخله ،

اسعد المفاتیح کښې شیخنا جاجروي لیکلے دي دَ "اعجب" اسم تفضیل مفضل علیه ملاعلي قاري غسل لکل صلاة اخلي او جمع بین الصلاتین بغسل زما په نزد دَ هر مانځه دَ غسل نه بهتر دے نو اعجب په معني دَ اسهل دے ،

(۲): دَ تحري نه پس پوره مباشت کښې صرف یو وار غسل دَ جمع بین الصلاتین دَ غسل نه زیات محتاط دے ،

بهرحال دَ جمهورو مذهب دادے چه دَ حیض دَ ختمیدو نه پس صرف یو غسل واجب دے ددے نه پس هر مانځه له اودس یا دَ هر مانځه دَ وخت دپاره اودس دے دَ جمهورو دلیل "فاذا اقبلت حیضتک فدعي

Maktaba Tul Ishaat.com

الصلاة واذا ادبرت فاغتسلي عنک الدم ثم صلي" يعني هر مانځه له غسل نه دے ضروري او دَ هر مانځه دَ غسل او يا دَ دوو مونځونو دَ غسل دَ رواياتو نه جمهور دا عذر پيش کوي چه يا منسوخ دي يا مستحب دي يا علاج او تداوي له دي خو حکم شرعي نه دي حکم شرعي دَ حيض دَ ختميدو نه پس صرف دَ يو غسل ضروري کيدل راغلے دي،

الفصل الثالث

(٦): "عَنْ أَسْمَاء بنت عُمَيْس قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ اسْتُحِيضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ تُصَلِّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سُبْحَانَ اللَّهِ إِنَّ هَذَا مِنَ الشَّيْطَانِ لِتَجْلِسَ فِي مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْفَجْرِ غُسْلًا وَاحِدًا وَتَوَضَّأُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَقَالَ:" "رَوَى مُجَاهِدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ"

ترجمه : دَ اسماء بنت عميس نه روايت دے فرمائي چه ما دَ نبي عليه السلام نه تپوس اوکړو چه فاطمه بنت ابي حبيش مستحاضه ده دَ دومره مودے نه او مونځ نه کوي نو نبي عليه السلام دَ تعجب په طور اوفرمائيل "سبحان الله" دا دَ شيطان دَ طرف نه دے په يو خانک کښې دے کيني کوم وخت کښې چه دَ اوبو دَ پاسه زيړ والے اويني نو ماسپخين او مازيګر له دے يو غسل او ماښام او ماسختن له دے بل غسل اوکړي او دَ صبائي مونځ دپاره دے يو غسل اوکړي او ددے مينځ کښې دے اودس کوي او مجاهد دَ ابن عباس نه روايت نقل کوي چه کله په هغے دا لامبل ګران شو دے ته ئے حکم ورکړو چه دوه مونځونه په يو غسل جمع کوه،

تشريح : (دَ اسماء بنت عميس حالات)

دے خپل خاوند جعفر بن ابي طالب سره حبشے ته هجرت کړے وو هلته ددے بچے محمد عبدالله او بل بچے عون پيدا شو بيا دے مدينے ته هجرت اوکړو او ددهٔ نه محمد خوږے پيدا شو بيا ئے دَ ابوبکر نه بعد

چه کله مینځ کښې عدت تیر شو څه وخت پس دے دَ علي بن ابي طالب سره نکاح اوکړو او یحیي ترے پیدا شو ددے نه ډیرو غټو صحابؤ روایت کړے دے دے ته خشعمیه وائي دَ سیدنا عليؓ نه پس وفات شوے ده او شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښې کښې لیکلے دي "وبود از خادمان محبان و مخلص فاطمه زهرا و اهل بیت نبوت روایت کرده اند جمعے از صحابه مثل عمر بن الخطاب وعبد الله بن عباس وابو موسی اشعری" انتهی

دا دَ فاطمة الزهراء مخلصه محبه او خادمه وه دَ اهل بیت سره مینه لرونکے وه او ددے نه دَ صحابؤ یو جماعت چه پکښې عمرؓ او عبدالله بن عباس او ابوموسي اشعري رضوان الله علیهم اجمعین دي روایت کړے دے،

کذا کذا : محدثین وائي چه اووه(۷) کاله ئے دا بیماري وه،

سبحان الله : امام بخاري باب تړلے دے چه سبحان الله دَ تعجب دپاره راځي دلته نبي علیه السلام سبحان الله تعجب په طور اوفرمائیل،

صفارة فوق الماء : علامه طیبي لیکلے دي چه کوم وخت کښې دَ نُوَر زوال اوشي او مازیګرے نزدے شي ته به دَ اوبو دپاسه دَ نمر هغه پلوشے دَ زیړ رنګ پشان څکه وینے چه دغه وخت کښې دا شعاع بدلیږي او کمیږي نو زیړوالي ته ددے میلان ګرځي او دَ مازیګر دَ مونځ باره کښې چه راځي چه دا آدا کوئ چه زیړ والے تر څو نه وي راغلے دَ هغے مکلف دے چه تر څو کامل او پوره زیړ والے نه وي راغلے او دغسے مظاهرحق کښې دي چه دَ ماسپخین دَ مونځ وخت چه بالکل آخر ته راؤرسي په نمر باندے لګ زیړوالے راځي بلکه دَ زوال نه پس بدلوالے پکښې شروع شي او نبي علیه السلام په تب او خانګ کښې دَ کتلو څکه اوفرمائیل چه دغه زیړ والے دَ اوبو دَ پاسه په آسانتیا معلومیږي دا زیړ والے زیاتیږي تر دے چه دَ نمر دَ ډوبیدو وخت کښې پوره شي دغه وخت کښې مونځ کول مکروه دي لیکن چه نبي علیه السلام دَ کوم زیړ والي متعلق فرمائیلے دي چه دا دَ هغے زیړ والي نه علاوه دے چه دَ مازیګر دَ مانځه نه پس راځي او دا دَ مونځ دپاره دَ کراهت وخت دے،

ملاعلي قاري لیکلے دي چه ددے مقصود دَ وخت معرفت دے او دَ زیړ والي نه دَ نمر زیړوالے مراد دے، نه زیړ والے دَ وینے څکه چه دے ښځے له دَ ماسپخین آخري وخت کښې داسے وخت کښې لامبل پکار دي چه څنګه غسل اوکړي او دَ ماسپخین مونځ اوکړي نو دَ مازیګر وخت شروع شي نو دا دَ غسل

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت خودلے شوے دے چه داسے وخت کښې دے غسل اوکړي، دَ صفارة یعني زیړ رنګ لیدلو مطلب دے چه غسل دَ ماسپخین آخري وخت کښې اوکړي ،
دوئم : دا کنایه ده چه ډیر وخت په خانک کښې ناسته ددے دپاره کوي چه دَ یخ والي دَ اثر دَ وجے بیمارئ کښې کمے راشي ،
وتوضأ فیما بین ذالک : داسے ښځه به ماسپخین او مازیګر له یو غسل کوي لیکن چه کله دَ ماسپخین وخت اوځي نو بیا به ددے غسل دَ وخت په وتلو مات شي نو دَ مازیګر دپاره به جدا اودس کوي دَ معذور کیدو په وجه به دوباره غسل نه کوي دغسے ماښام او ماسختن کښې به کوي (خیر التوضیح)
او دغه نظیر دے ددے صورت چه وخت وتلو سره حدث راځي
شیخ عبدالحق اشعة اللمعات کښې لیکلے دي چه شیخ ابن حجر شرح کښې او حواشي کښې لیکلے دي چه نوافل مراد دي په هغه وختونو کښې چه ددے مونځ مینځ کښې وي ، که غواړي نفل دے اوکړي اودس دے اوکړي،
التعلیق الفصیح کښې دي:دا دَ مالکیه حجت دے وائي چه دَ معذور اودس په هغه حدث نه ماتیږي چه کوم کښې مبتلا دے او احناف وائي چه دَ وخت په وتلو ماتیږي او حدیث دَ دوي حجت دے، نو کله دَ وخت وتلو سره اودس ماتیږي لکه دا دَ معذور صورت دے کښې څه تعجب دے څکه بعض خلقو ته لاحق دے،
په دے سره دوئم جلد پائے ته اورسیدو الله تعالي دے دَ درئم جلد دَ لیکلو توفیق په آسانه او په خه طریقه او په اخلاص سره بنده عاجز ته نصیب کړي ،
وما ذالک علي الله بعزیز
اللّٰهُمَّ لاتواخذني فیما اخطأت وما اسررت وما اعلنت واغفرلي مالا یعلمون واجعلني خیرا مما یظنون واعطني قلبا خالصا من الشقاق والنفاق واجنبني من صحبة الاشرار واعطني صحبة مع الأخیار والأبرار ، اللّٰهُمَّ اذهب عني الهم والحزن،
اللّٰهُمَّ بحمدک تتم الصالحات والصلاة والسلام علي زبدة الکائنات وعلي آله واصحابه السادات المؤمنین منهم والمؤمنات رَب اوصلني الي غایة السعادات ،

۲۱-۲-۲۲۰۱





Maktaba Tul Ishaat.com